په اول حل په پښتو ژبه کښې دکال دهرې مياشت په مناسبت
دعلماؤ، خطيباتو اوهغه ريښو لپاره مستند علمي ذخيره

پښتو

غوره او مستند تقريرونه

مؤلف

حضرت مولانا حافظ مشتاق احمد صاحب

فاضل جامعه دارالعلوم اسلاميه بنوري ټاون کراچي

تقريظونه

شيخ الحديث مولانا عبدالقيوم حقاني
شيخ الحديث جامعه ابو هريره خالق اباد نوشهره

شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ادريس صاحب
شيخ الحديث دار العلوم نعمانيه اتمانزئي

جديد مکتبه رشيديه

جاده ميوند سر چوک مارکيت مرحوم حاجي حسين گل کابل

0782690850 | 0775681606

کتابت کتب خانه قبلی گرام چینل

https://t.me/kafayat2395

حنفی

بسم اللہ الرحمن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

شافعی

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551

+923247442395

مالکی

حنبلی

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل

https://t.me/kafayat2395

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ټول حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم: غوره او مستند تقریرونه یام

مولف: حضرت مولانا حافظ مشتاق احمد صاحب دامت برکاتہم

مترجم: مولانا برهان الدين صديقي

مصحح: مفتي احسان الله

صفحات: ۶۸۸

د چاپ اول ځل: ۲۰۱۷ء

ناشر
جدید مکتبہ رشیدیہ
محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور
091-2580074

د کتاب تر لاسه کولو خایونه

پشاور	کندوز	بغلان
اکوړه خټک	غزني	لوګر
کوټه	جلال اباد	خوست
پروان	قندهار	

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فهرست

مضمون	صفحه
د محرم الحرام د میاشتې دویمه خطبه	
د هجرت او سنه هجري د اهمیت بیان	۳۱
د هجرت فضیلت	۳۱
د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان	۳۱
هجرت او توکل	۳۴
د قمري تقویم فوائد	۳۵
د مسلمانانو حبشې ته هجرت او د حضرت جعفر بن ابي طالب حق ګویي	۳۲
سنه هجري او د هغه اهمیت	۳۸
حقیقي مهاجر	۳۸
حقیقي توبه	۳۹
د حقیقي توبې ثبوت	۴۰
د محرم الحرام د میاشتې دویمه خطبه	
د حضرت حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت	۴۰
د حضرت حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضیلت	۴۰
حسن او حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ما ګلان دي	۴۱
حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره صلحه	۴۲
د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حکومت دامن دور و	۴۳
د اهل سنت موقف	۴۴
د ابوخالد یزید بن معاویه ولي عهد	۴۵
د حضرت حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موقف	۴۲
د اهل کوفي اصرار	۴۲
د اهل سنت مسلک	۴۷
سبایي سازش	۴۹
فرزدق سره ملاقات	۴۹

کفایت کتب خانه ثیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
دحربن یزید راتګ	۵۰
مقام بیضه باندې دحضرت حسین رضی الله عنه تاریخي خطبه	۵۰
دزهیر جواب	۵۱
دځلورو کوفیانو راتګ	۵۱
دطرماح بن عدي مشوره	۵۱
خوب	۵۱
کربلا ته راتګ	۵۲
دحضرت امیر معاویه رضی الله عنه یزید ته اخري وصیت	۵۳
داهل کوفې بې وفایي	۵۳
دابن سعد دحضرت حسین رضی الله عنه سره مذاکرات	۵۳
دابن زیاد حکم چې کارروایي سمدلاسه وکړئ	۵۴
اوبه بې بندې کړې	۵۵
دحضرت حسین رضی الله عنه شهادت	۵۷
دعبیدالله بن زیاد حشر اومایوسي	۵۸
دکوفې درافضیانو باره کې دحضرت ابن زبیر رضی الله عنه رایه	۵۹
دحضرت زینب رضی الله عنها بې چېني او صبر	۵۹
توله شپه بې دالله په عبادت تیره کړه	۲۰
دحضرت حسین رضی الله عنه سرمبارکه دابن زیاد مخې ته	۲۰
یزید په ژړا شو	۲۰
دیزید تاثر	۲۰
اهل بیت دمشق کې	۲۱
دیزید دتلافي کوښښ	۲۱
یزید ته کافر ویل	۲۱
خمکې او زمانې ته بد ویل	۲۲
دمحرم الحرام دمیاشتې دریمه خطبه	۲۲
دحضور اکرم صلی الله علیه وسلم پیغام اوهدایت	۲۳
دحضور صلی الله علیه وسلم دتوحید پیغام سره دنیا کې انقلاب	۲۵
دجناتو په خپل مینځ کې مکالمه	۲۷

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
واحد په میدان کې د حق او باطل فرق (توپیر)	۲۸
حضرت زید بن حارثه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره غیبي امداد	۲۹
د الله تعالی عظیم شان	۷۰
خیر البریات خلاصه کائنات فاتح ابواب الخیرات حضرت رسول مقبول علیه افضل التحیات والصلوت والسلام دعوت کلمه توحید و	۷۰

د محرم الحرام دمیاشتې ځلورمه خطبه

دنیا پریښودل	۷۴
دنیا څه ته وایي	۷۵
د حضرت داود عَلَیْهِ السَّلَام زهد	۷۲
د حضرت ابراهیم بن ادهم رَحِمَهُ اللّٰهُ زهد	۷۸
د دنیا بې ثباتي	۸۰
د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ ترک دنیا	۸۱
حکایت	۸۳
یو خوب	۸۳

د محرم الحرم دمیاشتې پنځمه خطبه

د جهاد بیان	۸۴
د جهاد فرضیت	۸۴
حکایت	۸۷
د کافر او مومن فرق (توپیر)	۸۸
قرآن کریم کې د حضرت طالوت ایماني قوت سره په جالوت بادشاه باندې غالب کیدل	۸۹
حکایت	۹۲
لطیفه	۹۲

د صفر المظفر دمیاشتې اوله خطبه

د فال او توهم پرستي مذمت	۹۵
د صفر دمیاشتې اړوند توهمات	۹۲
متعدي هرض اعتراض	۱۰۰
په الله تعالی توکل	۱۰۲
د حضرت ابراهیم بن ادهم رَحِمَهُ اللّٰهُ توکل	۱۰۳

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صفحه | مضمون

دصفرالمظفر دمیاشتې دویمه خطبه

دهجرت بیان ۱۰۴
دهجرت راز اونکتې ۱۰۴
د هجرت واقعه ۱۰۷
دمشرکینو تدبیرونه له خاورو سره خاري شول ۱۰۸
دحضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دجلالت شان ۱۱۰
دحضرت اسماء، بنت ابي بکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا وفاداري او جانثاري ۱۱۱
ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته دمار تک رچیچل ۱۱۲
دحضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دنیولولو پاره دابوجهل لعین اعلان ۱۱۳
په غار باندې دخدای حفاظتي انتظامات ۱۱۴
اشارات اونکات ۱۱۴
غار نه دسفر دویمه مرحله دمدینې لورې ته تګ ۱۱۴
داسماء بنت ابوبکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قرباني اوذهانت ۱۱۵
دحضرت اسماء بنت ابوبکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا دویمه جانثاري و ذهانت ۱۱۵
دتلو په وخت کې دحضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ غم ۱۱۵
دسراقه تعاقب او دالله تعالی گرفت ۱۱۶
له ټولو نه اول قبا ته تشریف وړې ۱۱۷
خیر مجسم ۱۱۹

دصفرالمظفر دمیاشتې دریمه خطبه

دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ مناقب ۱۲۰
دابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شان اوفضیلت ۱۲۳
دحضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شان ۱۲۴
دحضرت معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فضائل ۱۲۲
دحضرت معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حوصله ۱۲۷
دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ داختلاف باره کې داهل سنت مسلک ۱۲۸

دصفرالمظفر دمیاشتې څلورمه خطبه

دتوکل بیان ۱۳۱
دحضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ توکل ۱۳۳

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
دغیب نه دروزي بند وبست	۱۳۲
حکایت	۱۳۷
جنت حاصلولو له پاره دښځو شیانو پابندی	۱۴۲
دصفرالمظفر دمیاشتې پنځمه خطبه	
دمسلمانانو دعروج اوزوال اسباب	۱۴۳
توحید	۱۴۲
له الله تعالی ویره (دار)	۱۴۷
دژندګي اصول	۱۴۸
دنیا اسباب.	۱۴۹
سود خور ته سزا	۱۵۰
دحضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله نصیحتونه	۱۵۰
دعا ولې نه قبلیږي	۱۵۱
دانصاف برکت	۱۵۲
د ربیع الاول دمیاشتې اوله خطبه	
محسن انسانیت صلی الله علیه وسلم	۱۵۳
درسول الله صلی الله علیه وسلم نه مخکې دعربو حالت	۱۵۳
دعالم اصلاح	۱۵۴
پیدایښې اوماشوم والی	۱۵۹
له نبوت نه مخکې	۱۵۹
دحجر اسود تصفیه	۱۵۹
نبوت	۱۵۹
تبلیغ	۱۲۰
دامن اوسلامتي مذهب	۱۲۱
دحجة الوداع خطبه	۱۲۱
نبولین وایي	۱۲۲
برنارډشا وایي	۱۲۲

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د ربیع الاول دمیاشتې دویمه خطبه	
دحضور ﷺ دمشوم والي بیان	۱۶۴
نکته	۱۶۶
دکسرا دمحل برجونه پریوتل اودالش پرسو اور مړ شو	۱۶۷
اشارات	۱۶۷
درضاعت مبارک بیان	۱۶۸
د دایاګانو مکي ته رانګ	۱۶۹
بي بي حلیمې یتیمه ملغلره ځان سره روانول	۱۷۱
دربیع الاول دمیاشتې دریمه خطبه	
دمسجدونو اهمیت	۱۷۳
دمسجدونو احترام	۱۷۳
دمسجد متعلق داکابرو اقوال	۱۷۵
دجنت دحورو مهر	۱۷۶
پنځلس خیري دمسجد په احترام کې داخلي دي	۱۷۷
په مسجد کې ددنیا خبري کول	۱۷۸
په جمعې دلمونځ کولو اعزازاودمسجدونو سفارش	۱۷۸
د مسجد جوړلو فضیلت	۱۷۸
صدقات جاریه	۱۷۹
د مسجدونو ابادونکي	۱۸۳
دربیع الاول دمیاشتې څلورمه خطبه	
ختم نبوت	۱۸۴
صفت خاتم الانبیاء	۱۸۴
دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله فتوا	۱۸۲
دحضرت صدیق اکبر رضی الله عنه دمدعیان نبوت اودهغوی منلو والا خلکو خلاف جهاد	۱۸۷
مسئله ختم نبوت تکمیل اسلام اودانسانیت دلیل دی	۱۸۷
دحضرت عیسی علیه السلام زباني بشارت	۱۸۷
دویم دلیل دختم نبوت له پاره دقران کریم نه	۱۸۸
مرزا قادیاني په خپله ژبه کافر	۱۹۱

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د نبوت دعوه	۱۹۱
د ختمِ نبوت مثال	۱۹۲
د وجه نکته	۱۹۲
د روپ قیامت نه د حضور ﷺ د نبوت ثبوت	۱۹۳
غلبه د دین محمدي ﷺ نه د ختم نبوت ثبوت	۱۹۳
۶ نعمي نبي ﷺ	۱۹۴
۶ نعمي نذیر	۱۹۴
د نبوت محل	۱۹۵
اخري نبي ﷺ او اخري امت	۱۹۵
د حضرت آدم علیه السلام پیدایښ نه مخکې تاج ختم نبوت	۱۹۵
قتله انبیاء	۱۹۲
ختمِ نبوت د الله تعالی رحمت تامه دی	۱۹۲
تریک ترین فتنه	۱۹۸

دربیع الاول دمیاشتې پنځمه خطبه

د جُمعې د لمانځه فضیلت	۱۹۸
سید الایام	۱۹۹
د جُمعې د لمانځه فضیلت	۲۰۰
د جُمعې د ورځې فضیلت	۲۰۱
د جُمعې په ورځ د قبولیت وخت	۲۰۱
د جُمعې په ورځ دوفات شوي مومن له پاره زیری	۲۰۳
د جُمعه د مسلمانانو له پاره داختر ورځ ده	۲۰۳
د جُمعې د فرض کیدو بیان	۲۰۴
د جُمعې د لمونځ په پریښودو وعید	۲۰۴
د هغه خلک چې په هغوی باندې جُمعه واجب نه ده	۲۰۴
د جُمعې د لمونځ پریښودونکي له پاره وعید	۲۰۵
د جُمعې په ورځ د اشیان سنت دي	۲۰۲
د جُمعې په ورځ د اول راتلونکي کس فضیلت	۲۰۲
خطبې په دوران کې خاموشي اختیارول	۲۰۷

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
په څټونو داونښتو وعيد	۲۰۷
دجُمعې دلمانځه متعلق حکايات	۲۰۷
دحلاوت ايمان پنځه علامې	۲۱۰

دربيع الثاني دمياشتې اوله خطبه

نبوي اخلاق	۲۱۱
دقيامت په ورځ دحضور ﷺ سرداري	۲۱۲
له ټولو نه لويه معجزه قرآن کريم	۲۱۲
دحضرت حمزه رضی الله عنه اسلام راوړل	۲۱۵
دابوجهل انتهايي عداوت	۲۱۵
جنګ احد کې دحضور (ﷺ) زخمي کيدل اود هدايت دعا غوښتل	۲۱۶
دخوب حالت کې ديو کافر په حضور ﷺ باندې حمله	۲۱۷
دزهرو دحضرصلی الله عليه وسلم سره خبري کول	۲۱۷
دحضور (ﷺ) جاودوګران معاف کول	۲۱۸
مشهور منافق سره دحضور (ﷺ) حسن سلوک	۲۱۹

دربيع الثاني دمياشتې دويمه خطبه

دسنتو اتباع	۲۲۲
په دين کې نوې خبرې پيدا کول	۲۲۴
يوه عبرت ناکه واقعه	۲۲۴
دحضور ﷺ رقت آميزه وعظ	۲۲۵
دشرک مذمت	۲۲۷
دبدعتونو، بدو رسمونو اوبدو خبرو بيان	۲۲۸
بعض غټ ګناهونه چې په هغو ډېر سخت وعيد راغلی دی	۲۲۸
دګناه له وجې دځينې دنيوي نقصاناتو بيان	۲۲۹
دعبادت دځينې دنيوي ګټو بيان	۲۲۹
حضرت محبوب سبحاني سيد عبدالقادر جيلاني	۲۲۹
دنومورې يو څو ملفوظات	۲۳۱

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه

د ربیع الثانی دمیاشتې دریمه خطبه

عدل و احسان ۲۳۲
غلام او ماتحت سره دښه سلوک حکم ۲۳۴
د غلام او ماتحت خوراک بندول گناه ده ۲۳۵
غلام له پاره دوچند اجر ۲۳۵
د امارت او قضاء بیان ۲۳۲
د حضرت محمد ﷺ عدل ،انصاف او مساوات ۲۳۷
د نرمي او معافي حکایت ۲۳۸
بدترین خلک ۲۳۸
د جلد بازي او صبر نتیجه ۲۳۹
عادل. سخي او بهادر حاکم ۲۴۰
د حضرت صدیق اکبر(رضی الله عنه) د خدمت جذبه ۲۴۱
عدالت ۲۴۲

د ربیع الثانی دمیاشتې څلورمه خطبه

د حضرت معاویه رضی الله عنه فضائل ۲۴۳
د سیدنا معاویه رضی الله عنه فضائل ۲۴۵
په قسطنطنیه حمله ۲۴۶
د حضرت معاویه رضی الله عنه باره کې داکابر اُمت رایه ۲۴۷
د رئیس المفسرین حضرت ابن عباس رضی الله عنهما رایه ۲۴۸
د سیدنا معاویه رضی الله عنه لمونځ ۲۴۸
د روم پاچا ته د سیدنا معاویه رضی الله عنه اختار ۲۴۸
د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه مختصر خدمات ۲۵۰
امام حسن رضی الله عنه ته د حضرت علي رضی الله عنه وصیت ۲۵۲
د صحابهٔ کرامو(رضوان الله عنهم) مقام ۲۵۳

د ربیع الثانی دمیاشتې پنځمه خطبه

د حدیثو مقام ۲۵۴
اطاعت رسول یعني اطاعت حدیث ثبوت د قرآن پاک نه ۲۵۴
باطلې فرقې ۲۵۵

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صفحه

مضمون

دقرآن پاک نه د اطاعت رسول ﷺ حکم ۲۵۷
درسول الله ﷺ احادیث ۲۵۸
محکمات ۲۵۹
دمسلمانانو بې حسي ۲۵۹
دقرآن او حدیث دحفاظت غیبي انتظامات ۲۶۰
په دین کې دستو مقام ۲۲۲
دمنکرین حدیث باره کې دحضور ﷺ پیش ګویي ۲۲۲
دحدیث باره کې محنت او احتیاط ۲۲۴

د جمادی الاولی دمیاشتې اوله خطبه

دعلم فضائل ۲۲۵
علم دین لوستل صدقه جاریه ده ۲۲۷
لومړی صدقه جاریه ۲۲۸
دویم علم نافع ۲۲۸
دریم صالح اولاد ۲۲۸
دعلم حاصلولو برکتونه ۲۲۹
دقاسم العلوم والخیرات حضرت مولانا قاسم نانوتوي ؒ مختصر حالات ۲۷۳
اتباع سنت ۲۷۳
کرامت ۲۷۳
په نرمي سره نصیحت ۲۷۴
اهل الله ته دنیا په عزت ملاویږي ۲۷۴
دزوی اصلاح ۲۷۵
علم نور دی ۲۷۵

د جمادی الاولی دمیاشتې دویمه خطبه

دصحابه کرامو ؓ جانثاري ۲۷۲
دالله په لاره کې دجهاد کولو فضیلت ۲۷۷
ټول مخلوق دخپل جوړښت په اعتبار سره ښائسته کېدل ۲۷۸
جنګ موته ۲۷۹
داسلامي فوج دري کمانډران ۲۷۹

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
حضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ د سپه سالار په حیثیت :	۲۸۱
حضرت خالد بن ولید ته د سیف الله تمغه او میدال	۲۸۲
په دي جهاد کي یو خو درسه دي	۲۸۲
بني آدم باندي شیطاني حمله	۲۸۳
انساني سعادت	۲۸۲
اهل سعادت به په جنت کي وي	۲۸۸
حضرت زین العابدین : رحمہ اللہ	۲۸۹
دحضرت زین العابدین نصیحت	۲۹۲
دحضرت زین العابدین په زوی باندي دخوف الهي اثر	۲۹۲
د جمادی الاولی دمیاشتې دریمه خطبه	
انساني سعادت	۲۹۳
پل صراط	۲۹۴
انبیاء کرام علیهم السلام	۲۹۵
د جمادی الاولی دمیاشتې څلورمه خطبه	
دانسان بدبختي	۲۹۷
زکات نه ورکول بدبختي ده	۲۹۸
دبدبختي نور عملونه	۲۹۸
حیرانونکي واقعه	۲۹۹
دحرامي ګټې زکات ورکولو هیڅ فائده نشته	۳۰۲
دالله په لاره کي دښهٔ اوعمده شي خرچ کول پکار دي	۳۰۲
اهل علم باندي خرچ کول زیات بهتر دي	۳۰۳
دبدبختي لوی سبب مال دی	۳۰۳
اصلي شی نیک عمل اوذکر دی	۳۰۴
د جمادی الاولی دمیاشتې پنځمه خطبه	
فضائل ومناقب	۳۰۵
دحضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ د اسلام مثل	۳۰۷
دمرتدینو خلاف جهاد	۳۰۸
جنګ ذات السلاسل	۳۰۸

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه

جنګ لیس ۳۰۹
فتح حیره ۳۱۰
دحضرت خالد رضی اللہ عنہ پیغام ۳۱۰
د انبار فتح یا جنګ ذات العیون ۳۱۰
بالائي عراق ۳۱۱
دیرموک جنګ ۳۱۱

د جمادی الثانی دمیاشتې اوله خطبه

اخلاص اوعبادت ۳۱۵
عمل اوعبادت کې اخلاص ۳۱۲
دحضرت امام شافعي رحمہ اللہ د هرعبادت ۳۱۲
دحضرت امام شافعي رحمہ اللہ احتیاط ۳۱۷
دحضرت امام شافعي رحمہ اللہ سخاوت ۳۱۸
زیات خوف ۳۱۸
په خوب کې دحضور صلی اللہ علیہ وسلم زیارت ۳۱۹
ادب واحترم ۳۲۰
دکامل ایمان والا به جنت ته بې حسابه ځي ۳۲۲
داهل جنت اوصاف دادي ۳۲۳
رحمت خداوندي ۳۲۴

د جمادی الثانی دمیاشتې دویمه خطبه

سلامتي اوکامیابي ۳۲۲
دحضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ فضیلت ۳۲۷
جنت ته داخلونکي عملونه ۳۲۹
ایمان، اخلاص اوصالح نیت ۳۳۰
الله تعالی سره نیک ګمان ۳۳۱
اتباع سنت ۳۳۱
تعلیم وتعلم ۳۳۱
اودس اودهغه متعلقات ۳۳۲
په اودس کې پاتې کیدل اودتحیة المسجد نفل کول دجنت دداخلیدو موجب دي ۳۳۲

کفایت کتب خانه تبلیغی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
سید الاستغفار	۳۳۴
نبو اخلاقو سره اصلاح	۳۳۴
درسول الله ﷺ لارښونې	۳۳۷
د جمادی الثانی دمیاشتې دریمه خطبه	
صداقت اسلام	۳۳۷
ارشاد رب العزت دی	۳۳۷
خدایي عقیده	۳۳۸
رسالت	۳۴۰
اخرت	۳۴۲
عبادت	۳۴۴
حضرت شقیق بلخي : رحمۃ اللہ علیہ	۳۴۵
حضرت جنید : رحمۃ اللہ علیہ	۳۴۵
طهارت	۳۴۵
لمونځ	۳۴۷
دالله تعالي په لاره کې خرچ کول	۳۴۷
د جمادی الثانی دمیاشتې څلورمه خطبه	
عشق او حب رسول ﷺ	۳۴۸
فراست صدیقي	۳۵۰
حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ اُمت ته په ډېر نازک حالت کې سهاره ورکړه	۳۵۲
په قرآن کې د صدیق اکبر رضی اللہ عنہ دفضیلت بیان	۳۵۳
لوی پرهیزګار	۳۵۴
دحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ فضیلت	۳۵۲
دمحمد ﷺ په غلامانوکې به تولو نه اول حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ جنت ته داخلیږي	۳۵۸
دخلافت لومړنی خطبه	۳۵۹
د جمادی الثانی دمیاشتې پنځمه خطبه	
حضرت عمر رضی اللہ عنہ او داسلام شان اوشوکت	۳۶۰
دفاروق اعظم رضی اللہ عنہ ویناوې	۳۶۲

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صفحه | مضمون

۳۲۲ داحادیثو به رنا کي فضیلت فاروقي
۳۲۳ دنبوت په خوبونو کي دفاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضیلت
۳۲۴ عظمت فاروقي
۳۲۴ دغیر مسلمو خراج عقیدت
۳۲۵ دایات قیامت اثرات
۳۲۶ داخرت له وبري بي هوشه شو
۳۲۶ داخرت فکر
۳۲۷ ذاتي کردار
۳۲۸ دحضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتباع
۳۲۹ مراد مصطفی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
۳۲۹ فاروقي ارشادات
۳۷۰ اخري دعا اوتمنا

درجب المرجب دمیاشتي اوله خطبه

۳۷۲ فضائل. صبر و تحمل اوشان دحضرت علي کرم الله وجهه بیان
۳۷۳ حضرت علي کرم الله وجهه
۳۷۴ دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضائل
۳۷۵ دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قضا یا فیصلي
۳۷۶ دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زړه کي دحضرت ابوبکر اوحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا محبت
۳۷۷ دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اقوال حکمیه
۳۸۰ دشهادت سهار
۳۸۰ دقاتل اومقتول مینځ کي خبري
۳۸۲ دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دقبر پته نشته
۳۸۲ دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عدل
۳۸۴ حاضر جوابي
۳۸۴ خصوصي امتیازات

درجب المرجب دمیاشتي دویمه خطبه

۳۸۵ درجب (نذر) اودشرک مذمت
۳۸۷ غیرالله نه دسوال کولو سبب

کفایت کتب خانه قبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
په احادیثو کې د شرک مذمت	۳۸۹
د غیبو علم الله سره دی	۳۹۰
په قبرونو باندې سجده کول منع دي	۳۹۱
خیرخواهي	۳۹۱
د شریعت مطابق د فاتحې طریقه	۳۹۲
حضرت بو علي قلندر رحمۃ اللہ علیہ او احترام شریعت	۳۹۲
د غیب خبر معلومول	۳۹۳
یو څو مشرکانه رسومات	۳۹۳
د نذر تعریف	۳۹۴
سجده کول یوازې الله له پاره دي	۳۹۴
د هدایت نسخه	۳۹۵
اهل سنت والجماعت	۳۹۵

د رجب المرجب د میاشتې دریمه خطبه

د معراج شریف بیان	۳۹۶
انبیاء علیهم السلام او سیر ملکوت	۳۹۶
حضرت ابراهیم علیہ السلام او سیر ملکوتي	۳۹۷
معراج نبوي (صلی اللہ علیہ وسلم)	۳۹۷
آیت سبحن الذي وضاحت	۳۹۷
صاحب قصیده برده او معراج شریف	۳۹۸
د معراج واقعه	۳۹۹
واقعه معراج باندې نوي اوزاړه اعتراضات	۳۹۹
د مدینې منورې په خای مکه معظمه کې د واقعه معراج پیش کیدو حکمت	۴۰۱
بخاري شریف او خصائل کبرٰی مطابق د واقعې تفصیل	۴۰۲
د الله تعالی په لاره کې د خرچ کوونکي بدله	۴۰۲
د بې نمازه خلکو انجام	۴۰۲
د زکات نه ورکوونکو خلکو سزا	۴۰۳
د بدکارو انجام	۴۰۳
د خائن سزا	۴۰۳

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
دبې عمله واعظ. مقرر او لیدر سزا	۴۰۳
د سود خورو سزا	۴۰۴
د دنیا دوکه	۴۰۴
بیت المقدس ته راتلک او امامت	۴۰۲
په اسمانونو باندې عروج	۴۰۲
دویم اسمان طرف ته عروج	۴۰۷
اسماني کعبه بیت المعمور	۴۰۸
سدرة المنتهی	۴۰۸
دانعامات الهیه باران	۴۰۹
په امت باندې دانعامات خداوندي باران	۴۰۹
دجنت خوبصورتي اوشان	۴۱۰
واقعه معراج نه دقریشو اومشرکینو انکار. دحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ تصدیق	۴۱۱
دعبدیت انعام	۴۱۲
دمعراج تحفې	۴۱۲

درجب المرجب د میاشتې څلورمه خطبه

معراج او لمونځ	۴۱۳
دحضرت فاروق اعظم رضی اللہ عنہ فلسطین ته سفر	۴۱۳
دحضرت عمر رضی اللہ عنہ دحق گویې وصف	۴۱۵
حضرت عمربن عبدالعزیز رحمہ اللہ	۴۱۵
سلطان صلاح الدین ایوبي رحمہ اللہ	۴۱۲
دصلاح الدین ایوبي قیادت	۴۱۲
دلمونځ بیان	۴۱۸
دلمونځ فضیلت	۴۱۹
لمونځ سره اساني	۴۲۰
دلمونځ پریښودو وبال	۴۲۰

درجب المرجب د میاشتې پنځمه خطبه

دلمانځه فضیلت او حقیقت	۴۲۲
دلمانځه فرضیت	۴۲۲

کفایت کتب خانه قیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
واوداسه فضائل	۴۲۳
دمسواک فضیلت	۴۲۴
داذان اقامت اواولني صف فضیلت	۴۲۴
دمسجدونو فضیلت	۴۲۵
دلمانځه فضائل	۴۲۲
دسنتو اونوافلو فضیلت	۴۲۷
حکایات	۴۲۹
دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ توله شپه لمونځ کول	۴۳۰
دحضرت ابوبکر. حضرت ابن زبیراوحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دلمونځونو حالات	۴۳۰
دلمونځ فلسفه	۴۳۲

د شعبان المعظم د میاشتې اوله خطبه

حضرت امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ اودهغه دیني خدمات	۴۳۳
دشعبان میاشتې فضیلت	۴۳۳
لوی فقیه امام اعظم ابوحنیفه : رَحِمَهُ اللهُ	۴۳۴
تواضع وانکساري	۴۳۲
حنفي مذهب زیات دسنتو مطابق دی	۴۳۷
دابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ عظمت	۴۳۷
تقلید اودهغه ضرورت	۴۳۸
دحضرت امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ وصیتونه	۴۳۹
دحضرت امام اعظم زهد اوریاضت	۴۴۰
دامام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ تقوی اودمجوسي اسلام	۴۴۱
مشاجرات صحابه رضوان الله عنهم، او د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ مسلک	۴۴۱
دغیبت نه ځان ساتنه	۴۴۱
سقوط العالم. سقوط العالم	۴۴۲
دکفر فتوی ورکولو کې احتیاط	۴۴۲
مدعي نبوت نه دلیل غوښتل کفر دی	۴۴۲

کتب خانه ثیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صفحه | مضمون

د شعبان المعظم د میاشتې دویمه خطبه

دشب براءت فضیلت ۴۴۳
محروم خلک ۴۴۵
دشب براءت وجه تسمیه ۴۴۵
دشعبان دمیاشتي رسومات ۴۴۵
شب براءت باره کې دحدیث الفاظ ۴۴۸
ضروري خبره ۴۴۸
حکایات ۴۴۹

د شعبان المعظم د میاشتې دریمه خطبه

دزکات فضائل او ګټې ۴۵۳
د زکات فرضیت ۴۵۳
دزکات نه ورکولو نقصان ۴۵۵
دصحابه کرامو رضی الله عنهم ایثار ۴۵۵
دزکات معنا ۴۵۸
دخرچ کولو فضیلت ۴۵۸
سخي له پاره دفرښتو دعا ۴۲۰
دسخاوت حکم ۴۲۰
دالله په لاره کې دمال خرچ کولو برکت ۴۲۰
د زکات نه ادا کوونکو خلکو سزا ۴۲۱
دسود مذمت ۴۲۱

د شعبان المعظم د میاشتې څلورمه خطبه

توحید باري تعالی ۴۲۳
د الله تعالی ننبي ۴۲۵
د مسلمانانو ایجادات ۴۲۸
مصنوعي سپوږمی ۴۲۹
عجیب مشین ۴۲۹
د الله تعالی توحید ۴۷۰
حیرت انګیز قدرت ۴۷۱

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او توحید	۴۷۱
عجب انجنیر	۴۷۲
هوایي داګي	۴۷۲
د شعبان المعظم د میاشتې پنځمه خطبه	
د هجرت مظاهر	۴۷۳
انساني فضیلت	۴۷۴
انساني ماحول او آسمان او زمکه	۴۷۷
د شهدو مچۍ	۴۷۸
نظام شمسی	۴۸۰
ځړوی او سورلۍ	۴۸۰
عقل او پوهه	۴۸۰
د ایتمی ذراتو تقسیم	۴۸۱
د رمضان المبارک د میاشتې اوله خطبه	
د رحمت میاشت	۴۸۳
د روژې فرضیت	۴۸۴
د رمضان د میاشتي فضیلت	۴۸۴
رمضان یې د روژې سره ولې خاص کړ	۴۸۲
د عباداتو عالمي موسم او اعمال صالحه جشن عام	۴۸۷
رمضان المبارک د الله میاشت ده	۴۸۸
د حضرت حسن بصري رحمه الله دري نصیحتونه	۴۸۹
د روژې انفرادي خصوصیت	۴۹۰
روژه د بدن زکات دی	۴۹۰
د تراویح فضیلت	۴۹۱
د روژې افطار کولو فضیلت	۴۹۱
د اعتکاف ثواب	۴۹۱
د اختر د ورځې فضیلت	۴۹۲
د شب قدر	۴۹۲
د قیامت په ورځ باندې روژه دارو باندې خصوصي رحمت	۴۹۲

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د رمضان المبارک د میاشتې دویمه خطبه	
د روزې فضائل او برکات	۴۹۳
د روزې ثواب	۴۹۳
د روزې بې انتها فضیلت ولې دی	۴۹۴
د روزې خصوصیت	۴۹۵
د روزې اداب	۴۹۷
د روزې مقصد	۴۹۸
د روزې درجې	۴۹۹
د سحري پیشمني فضیلت	۵۰۱
اوں حکایت	۵۰۱
د رمضان المبارک د میاشتې دریمه خطبه	
روژه او تقوا	۵۰۳
رمضان میاشتې سره دتقوا تعلق	۵۰۴
د رمضان په میاشت کې د شیطانانو قید کیدل	۵۰۲
دلیلة القدر فضیلت	۵۰۲
انعامات او درحمت باران	۵۰۷
دشب قدر نشانۍ	۵۰۷
روح روژه	۵۰۹
د روزې فائدې	۵۰۹
صحابه کرام او روژې	۵۱۰
د رمضان معمولات	۵۱۱
ددوزخ بیان	۵۱۲
دجنت اودهغه دنعمتونوبیان	۵۱۳
دجنت وسعت	۵۱۳
د رمضان المبارک د میاشتې څلورمه خطبه	
درمضان میاشت اودقرآن پاک سره تعلق	۵۱۴
قرآن پاک څه شی دی	۵۱۴
دتلاوت اداب	۵۱۵

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د قرآن پاک فضیلت	۵۱۷
د قرآن بی ادبی مه کوئ	۵۱۸
د قرآن کریم خپلونکو ترقي	۵۱۹
د مسغولیت قرآن برکات	۵۱۹
قرآن سره زړه پاکیږي	۵۲۰
نوافلو باندې د قرآن فضیلت	۵۲۰
دفتنو نه دبچ کیدو ذریعه قرآن دی	۵۲۱
رمضان میاشت کې دبدر جنګ	۵۲۱
محمد بن قاسم	۵۲۳
د مکي مکرمي فتحه	۵۲۵
حضرت خدیجه رضی الله عنها	۵۲۵
حضرت فاطمة الزهرئ	۵۲۵

د رمضان المبارک د میاشتې پنځمه خطبه

د جمعة الوداع او عیدالفطر فضائل	۵۲۲
داعتکاف فضائل	۵۲۲
اعتکاف سراسرنیکي ده	۵۲۷
د اعتکاف فوائد و برکات	۵۲۷
د جمعة الوداع فضائل	۵۲۷
دجمعې د ورځې اوراد او وظائف	۵۲۹
د جمعې په ورځ باندې د مخصوص درود شریف فضیلت	۵۲۹
دجمعې پرینبودو وعید	۵۳۰
د جمعې وجه تسمیه	۵۳۰
دجمعې پرینبودونکي لپاره وعید	۵۳۱
د عیدالفطر وجه تسمیه	۵۳۱
دعید یوه بله وجه تسمیه	۵۳۲
صدقه فطر	۵۳۳
د اخترونو د شپو فضیلت	۵۳۴
د اختر د ورځې فضیلت	۵۳۴

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د اختر مسنون شیان	۵۳۴
د اختر د لمونځ طریقه	۵۳۵
د صدقه فطر نصاب	۵۳۵
د صدقه فطر مقصد	۵۳۷
د یوې ګناه لس نقصانات	۵۳۷
حقیقي اختر د چا دی؟	۵۳۷
د اختر فلسفه او مقصد	۵۳۷
اختر عبادت او دعا ده	۵۳۸
صدقة الفطر (سرسایه)	۵۴۰
د صدقې وخیرات فضائل	۵۴۰
په پته او اخلاص د صدقې کولو فضیلت	۵۴۰
د اختر په ورځ د الله د عظمت اظهار	۵۴۱
اختر او لهولعب	۵۴۱
دعقل مند اختر	۵۴۲
اختر جامع العبادت دی	۵۴۲
د الله دیاد برکت	۵۴۴
دکمزورو مرسته	۵۴۴
اختر یوم محاسبه	۵۴۴

د شوال المکرم د میاشتې اوله خطبه

د عائشه صدیقه رضی الله عنها سیرت	۵۴۵
د شوال المکرم د روژو فضیلت	۵۴۵
د نفلي روژو ثواب	۵۴۶
حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها	۵۴۶
عائشه رضی الله عنها باندې د روح الامین سلام	۵۴۷
حضور صلی الله علیه وسلم په خوب کې عائشه صدیقه کتل	۵۴۷
د عائشه صدیقه سخاوت	۵۴۸
د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نعتیه کلام	۵۵۰
حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته خراج عقیدت	۵۵۰

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فضیلت	۵۵۱
خصوصي امتیازات	۵۵۲
گناهگاري زنانه	۵۵۳
د شوال المکرم د میاشتې دویمه خطبه	
غزوه احد	۵۵۵
د شهادت فضیلت	۵۵۶
د غزوه احد د صحابه کرامو جذبات	۵۵۷
د حضرت سعد بن ربیع بهادري	۵۵۷
د حضرت طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بهادري	۵۵۸
د حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت	۵۵۹
د جنګ روخ بدل شو	۵۶۰
د شمع رسالت پتنګان	۵۶۱
د حضور صلّی الله علیه وسلم استقامت	۵۶۱
دیوې صحابیه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بهادري	۵۶۲
د جنګ احد نتائج	۵۶۳
د شوال المکرم د میاشتې دریمه خطبه	
دعوت و تبلیغ	۵۶۴
په دعوت کې کوتاهي	۵۶۵
د تبلیغ اهمیت	۵۶۵
ټولې دنیا ته ددین د رسیدو پیشګویي	۵۶۹
د مسلمانانو د غلبې شرطونه	۵۷۰
د هر امتي په بل اُمتي باندې حق دی	۵۷۱
د دعوت و تبلیغ فوائد	۵۷۳
د شوال المکرم د میاشتې څلورمه خطبه	
د نکاح فضائل وفوائد او د نبځو حقونه	۵۷۴
د نکاح اهمیت	۵۷۴
د نکاح فوائد	۵۷۵
د نکاح حکمونه	۵۷۵

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د نکاح فرض کیدل	۵۷۲
نکاح واجب کیدل	۵۷۲
سنت موکده نکاح	۵۷۲
مکروه نکاح	۵۷۲
نیک بخته ښځه بهترین متاع دی	۵۷۲
د نکاح فضیلت	۵۷۲
جلیس الصالحین کې د نکاح اووه فائدې ذکر شوي دي	۵۷۷
د خاوند په ښځې حقونه	۵۷۸
د ښځې په خاوند حقونه	۵۷۹
کومې ښځې نکاح سره وکړل شي	۵۷۹
کومه نکاح با برکته ده	۵۸۰
د واده رسومات و بدعات	۵۸۰
د ښځو حقونه	۵۸۱
راتلونکې زمانه	۵۸۳
د پردې اهمیت	۵۸۳

د شوال المکرم د میاشتې پنځمه خطبه

د سود حرمت او د اسلام معاشي نظام	۵۸۴
سود څه ته وایي	۵۸۵
د سود رواج	۵۸۲
سود د الله سره جنګ دی	۵۸۲
الله تعالی سود ختموي	۵۸۷
صدقاتو کې برکات	۵۸۷
د اسلام معاشي نظام	۵۸۸
د اسلام د معاشي نظام طریقه کار	۵۸۹
د معاشي ترقی بندیزونه	۵۹۰
د معاشي ترقی بندیزنو معامله کې د ظلم، عدل وانصاف لحاظ ساتل	۵۹۰
معاش کې برکت	۵۹۱
روزي کې د برکت شپږ اصول	۵۹۱

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
د ذوالقعدې د میاشتې اوله خطبه	
د صبر. شکر او ذکر بیان	۵۹۳
ذوالقعده میاشت	۵۹۳
د صبر فضیلت	۵۹۴
صابرینو باندې خدایي انعامونه	۵۹۵
صابرینو له پاره بې حسابه اجر	۵۹۵
د شکر بیان	۵۹۲
په شکر باندې مختلف انعامات وي	۵۹۸
د الله د ذکر بیان	۲۰۰
اسم اعظم	۲۰۱
د شیطان شکارګاه او اسلحه	۲۰۱
د الله د وېرې برکت	۲۰۲
د ذوالقعدې د میاشتې دویمه خطبه	
د شرک. تکبر او ظلم بیان	۲۰۳
د مشرک ښښه نه کیږي	۲۰۳
د انسان دري حالتونه	۲۰۴
عالم ارواح کې ټولو د وحدانیت اقرار وکړ	۲۰۵
د شرک اقسام	۲۰۲
د شرک نجام	۲۰۷
قبرونوکې عرس کول	۲۰۸
د اسلام معنا	۲۰۸
خداوندي صفات	۲۰۸
د توحید وقدرت دلائل	۲۰۹
د تکبر مذمت	۲۱۱
د ظلم مذمت	۲۱۲
د ذوالقعده د میاشتې دریمه خطبه	
د سیدنا حضرت ابراهیم علیه السلام د سیرت بیان	۲۱۳
د دنیا څلور لوی بادشاهان	۲۱۳

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحه
له ماشوم والي د توحيد دعوت	۲۱۵
هدايت ورکول د الله په قبضه کې دي	۲۱۶
په باطلو معبودانو د توحيد وارونه	۲۱۷
د مشرکينو ببرته راتګ او د بُتانو تباهي	۲۱۹
د مشرکينو له لوري حق سره جنګ	۲۱۹

د ذوالقعدې د میاشتې څلورمه خطبه

دحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام له پاره داور ګلزار کيدل	۲۲۲
د شام لور ته هجرت	۲۲۳
دابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام فلسطين کې استوګنه او د برکتونو ظهور	۲۲۳
د بيت المقدس ودانول	۲۲۴
د نمرود شرمناک شکست	۲۲۵
دآب زم زم جاري کيدل	۲۲۶
د څلوېښتي اهميت	۲۲۸

د ذوالقعدې د میاشتې پنځمه خطبه

حج، فضائل اوفوائد يې	۲۳۱
دحج ترغيب	۲۳۱
د حج مقصد به الهي رضا وي	۲۳۲
د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له لوري د يوې ډلې د نبت دصفايي تصديق	۲۳۲
د مبرور حج بدله	۲۳۲
د عرفې د ورځې فضيلت	۲۳۳
دري حجونو واله به اور نه سيزي په شرط ددې چې اخلاص وي	۲۳۳
د عرفې په ورځ د شيطان رسوايي	۲۳۴
د حج فوائد وفضائل	۲۳۴
د اخلاص اوصفا نيت واله حج قبول وي	۲۳۷
د حاجي په سفارش باندې دخلورسوه کسانو بښنه	۲۳۷
دسفر پرمهال د حاجي مرګ د حج وعمرې ثواب	۲۳۷
دحج په سفر کې د خرچ کولو ثواب او بدله	۲۳۷
د شتمني او طاقت باوجود دحج نه کولو سزا	۲۳۸

تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مضمون	صفحہ
د ذوالحجې د میاشتې لومړی خطبه	
د قربانی د فضیلت بیان	۲۳۹
د قربانی فضیلت	۲۴۰
د اول حدیث وضاحت او تشریح	۲۴۰
د دویم حدیث تشریح	۲۴۰
د قربانی فوائد	۲۴۳
عجیبه خوب	۲۴۵
د ذبح کولو تیاری	۲۴۲
اخري شیطاني حربه	۲۴۷
د ذبح منظر	۲۴۷
د ذوالحجه دمیاشتې دویمه خطبه	
د مدیني زیارت او فضائل	۲۴۹
د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دبښنې وجه	۲۵۲
د مدیني منورې په شان کې د حضرت امام غزالی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ عقیدت واحترام	۲۵۳
یو بانډیچي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په روضه باندې	۲۵۴
حضرت اویس قرني د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په روضه باندې	۲۵۴
حضرت حاتم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په روضه باندې	۲۵۴
شیخ ابوالخیر اقطع د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ میلمه	۲۵۵
د سید احمد رفاعي قیصه	۲۵۵
د مولانا جامی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ د دوارو جهانو سردار ته حیرانوونکی عقیدت	۲۵۲
د ذوالحجه د میاشتې دریمه خطبه	
د حضرت عثمان بن غفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت	۲۵۷
د عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب	۲۵۸
بیعت رضوان	۲۵۸
د محبت ښودنه	۲۵۸
د حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فیاضي او سخاوت	۲۵۹
د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضائل	۲۲۴
د عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خاص کارنامې	۲۲۴

کتب خانه قبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صفحه | مضمون

د ذوالحجه د میاشتې څلورمه خطبه

عالي اخلاق ۲۲۵
اتفاق او اتحاد ۲۲۵
ټول مسلمانان دیو وجود پشان دي ۲۲۲
بې اتفاقۍ بې برکتي ۲۲۲
اسلام او اجتماعیت ۲۲۷
د حضور ﷺ عظیم اخلاق ۲۲۸
د حضرت عثمان غني رضي الله عنه ثابت قدمي ۲۲۹
شرم و حیاء ۲۷۰

د ذوالحجې د میاشتې پنځمه خطبه

د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه شهادت ۲۷۴
د شهادت فضیلت اومقام ۲۷۴
د آیت مفهوم ۲۷۵
د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه شهادت ۲۷۲
د فاروق اعظم رضي الله عنه لوړ شان ۲۷۷
د حضرت عمر رضي الله عنه خوب ۲۷۷
یوعجیبه سازش ۲۷۷
د حضرت عمر رضي الله عنه عظیم مقام ۲۷۸
اخیر وخت کې د اتباع سنت جذبه ۲۷۹
آخري تمنا ۲۷۹
د ټول ژوند پشان په آخر وخت کې هم الله ته رجوع ۲۸۰

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تقريظ

بقية السلف يادگار اسلاف فخر المحدثين شيخ القرآن والحديث

حضرت مولانا محمد ادريس صاحب مدظله

شيخ الحديث جامعه دارالعلوم نعمانيه اتمانزئي چارسده

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ هُدَاةِ الدِّيْنِ

وبعد... زيرنظر كتاب "غوره اومستند تقريرونه" يوخوخايه مې په عجلت سره مطالعه كړو محترم مولانامشتاق احمدصاحب دتعارف كولومحتاج ندې،ددوي داكتاب داهل علمو. واعظانو اوخطيبانو لپاره دعلم اوحكمت يوه عظيمه سرمايه ده .هر تقرير ټې ډير په ښه انداز سره ليكلې دي دالله نه مې دعاده چې ددوي داكتاب دعوامو او خواصو لپاره باعث دفايدې وگرخوي اومؤلف لپاره دي د دواړو جهانونو دثواب باعث وگرخوي

گدا درويش غفرله

تقريظ

خطيب العصر شيخ الحديث حضرت مولانا عبدالقيوم حقاني صاحب مدظله

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى

امابعد.....دحضرت مولانامشتاق احمدصاحب حفظه الله كتاب په نوم دغوره اومستند تقريرونه يوخوخايه مطالعه كړو اوبل دكتاب دفهرست نه ماته ددې كتاب دجامعيت اندازه ولگيدله بفضله تعالىٰ محترم حضرت مولانامشتاق احمدصاحب حفظه الله ډير په امانتدارئ او ديانتدارئ سره داكتاب مستند او معتمد حوالوسره دخطيبانو او واعظانو لپاره

كفايت كتب خانه تيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

تیارکړي. د خطیبانو لپاره د جمې دورځې تقریر دموقعې په مناسبت سره دا ډیر لوئې امتحان وي هغه خطیبان چې هغوي سره د علم دولت اوکتابونه ورسره موجود دي لیکن بعضې وخت هغوي لپاره هم دیوموضوع انتخاب کول دامشکل وي اوکه چېرته وخت ورسره نه وي نوبیایوه موضوع برابرول اودهغې مواد برابرول دواړه مشکل وي

پاتې شول هغه خطیبان چې هغوي سره علم نشته یادغربت دوجې نه ورسره کتابونه نشته نو دوي لپاره موضوع او مواد متعین کول دواړه اهم دي نوغوره او مستند تقریرونه نوي کتاب دامشکل آسان کړي،چې داسلامي میاشتو په مناسبت سره **اول**..... دهرې میاشتې پنځه تقریرونه مفصل مرتب کړي دي **دویم**.....هروعظ سره قرآني آیت ، احادیث،بنیادي عقائد ، اعمال حسنه،تاریخي واقعات او مناسب اشعارلیکلې شوي دي

دریم.....په یو وخت کې دا ټول شیان پیداکیدل دا یو عظیم نعمت دي ددې کتاب انداز ساده او عام فهم دي چې هرخطیب تري نه فائده اخستلې شي

څلورم.....دکتاب په تالیف کې مستندمأخذونه پوره طریقې سره راخستلې شوي دي .

کوم خطیب سره چې داکتاب وي نوهغه لپاره د ډیروکتابونوکتلو ضرورت نه پیښیږي ځکه چې په دي کتاب کې بهترین مواد راجمع کړي شوي دي نوالله تعالیٰ نه مې دعاده چې دمؤلف داکوشش په خپل درګاه کې قبول کړي او مؤلف لپاره دي د دواړو جهانونو دثواب باعث وګرځوي (آمین)

عبدالقیوم حقانی

مهتمم جامعه ابوهریره خالق آباد نوښار

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خطيبا نو ، واعظا نو او مقررينو لپاره يوځو اهمي مشورې

اوله مشوره: خطيب چې کله وعظ او تقرير شروع کوي نو هغه ته پکاردي چې اول دي دوه رکعته نفل وکړي دنفلونه پس دي دعا وکړي،که چيرته دنفلو وخت ورسره نه وي نو بيا دي صرف دعاوکړي اوخپل تقرير دي شروع کړي.

دويمه مشوره: خطيب ته پکاردي چې کله تقرير کوي نو په دې غرض دي کوي چې اول دي زه پخپله پرې عمل وکړم يعني دده دا تقرير کول دعمل کولو لپاره وي.

دريمه مشوره: خطيب ته پکاردي چې تقرير دي په داسې انداز کې وکړي چې هرسړي پرې پوهيږي او هر سړي تري نه فائده واخلي

څلورمه مشوره: خطيب ته پکاردي چې کله تقريرکوي نو تقرير لپاره دي پوره تياري کوي چې هره خبره دموقعې اوحال سره مناسبه وي مثلاً روژه کې دروژې مسائل بيانول د حج په موقع کې د حج مسائل بيانول،د زکوة په وخت کې د زکاة مسائل بيانول.

پنځمه مشوره: خطيب ته پکاردي چې دشريعت هره خبره په مصلحت اوحکمت سره بيان کړي چاطرف ته اشاره کول ياڅوک شرمول يادمتنفرکولو په خاې دهغه اصلاح کول اودهغه عقيده برابرول داسې تقرير کول پکاردي.

شپږمه مشوره: خطيب ته پکاردي چې سامعينو لپاره دي په زړه کې دعاکوي چې يالله کومه خبره ځما صحيح وي سامعينو ته په هغې باندې دعمل کولو توفيق ورکړي او دشيطان د شر نه ې محفوظ کړي.

اووه مشوره: خطيب ته پکاردي چې خپله وضع قطع دي برابره ساتي او په تقرير کې دي داستعارواوکناياتو نه دي خان ساتي بلکې عام ساده الفاظ دي استعالوي اوهره خبره دي په دليل سره ثابتوي

خطيب باندې دشيطان درې حملې

پوځل زه دمولانامحمدعلي جالندهري ؒ يوتقرير ته ناست ووم نودوي وفرمايل چې کله خطيب يامقرر دتقرير کولو لپاره راڅي نو شيطان دري خله ښه په سختئ سره حمله پرې کوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اوله حمله.....په هغه وخت کوي چې کله خطيب دتقريرکولولپاره راڅي اوخلق دده په انتظار کې وي يادده په حق کې نعري کوي نو شيطان خطيب ته وائي ګوره ته څومره غټ خطيب ئې ، خلق ستاپه انتظار کې دي اونعري کوي اوخلق ستاطرف ته متوجه دي.

دويمه حمله.....په هغه وخت کې کوي چې کله خطيب لهمل تقرير شروع کوي اوڅه خاص نکته وائي يادوعيدخبره شروع کړي اوخلق په ژړا شي يابل څه داسې خبره وکړي چې خلق ورته واه واه وکړي نو شيطان په دغه وخت کې پرې حمله کوي اوخطيب ته وائي چې ګوره ستاتقرير په خلقو باندې څومره اثر کوي اوخلق ئې څومره خوښوي.

وګوره ستادتقرير دوچې نه خلق څومره ژاړي نو داهم دشيطان په خطيب باندې زبردسته حمله ده ځکه په دغه وخت کې خطيب کې عجب،او لوئي راڅي خلقو ته اګر چې فائده رسيږي ليکن خطيب صاحب نقصان رسيږي ځکه عجب،تکبر اولوئي دا ډيره خطرناکه روحاني بيماري ده دا بيماري انسان تباه کوي.

دريمه حمله.....په هغه وخت کې کوي چې کله تقرير ختميږي اوخطيب په تلو شي. يا کيني او خلق دده تعريفونه شروع کړي چې خطيب صاحب څومره خائسته او بهترين تقرير وکړو دتقريرئې څومره خائسته انداز دي،اوڅومره خائسته علميت لري يابه هغه وخت حمله کوي چې کله خلق دسره مصافحه کول شروع کړي او دده لپاره دزنده باد نعره شروع کړي نو شيطان په دغه وخت کې دريمه حمله کوي او دا ډيره خطرناکه حمله وي په دغه وخت کې شيطان خطيب صاحب ته وائي ګوره ستاتقرير خلقو باندې څومره اثر وکړو.اوګوره خلق ورسره څنګه مصافحه کوي اوستالهاره دزنده باد نعري لګوي واقعي چې ته ډير لوي خطيب ئې،چې کله شيطان داخبره دده په زړه کې واچوي نوده کې تکبراولوئي پيداشي نو دده دا ټول محنت ضائع شو او دآخرت په اعتبار سره ئې هيڅ ګټه ونکړه.الله تبارک وتعالى دې مونږه اوتاسوشيطان دشرنه په خپل حفظ او امان کې وساتي. (آمين)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د محرم الحرام د مياشتې اوله خطبه

دهجرت اوسنه هجري د اهميت بيان

دسنه هجري شروع دنبي كريم ﷺ له مكې معظمې نه مدينې منورې لورې ته دهجرت په مناسبت وشوه اوبه اسلامي تاريخ كې لومړنۍ مياشت دمحرم الحرام ده. مسلمانانو ته پكار دي چې په ټولو معاملاتو لكه خط،كتابت، دفترونو، رجسټرونو او تنخواګانو كې سنه هجري وليكي په دې مناسبت دسنه هجري اودهجرت داهميت له وجې دا خطبه نام داره شوه.

د هجرت فضيلت:

اَلَّذِيْنَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ وَأُولٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُوْنَ (۲۰) يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُقِيْمٌ(۲۱) خَالِدِيْنَ فِيْهَا أَبَدًا(۲۲)(سورة التوبه)

ترجمه: هغه كسان چې ايمان يې راوړى. هجرت اوجهاديې كړى دالله تعالى په لار كې ،ددين دترڅې له پاره، په خپلو مالونو اوبه خپلوځانونوسره. ډېرې لوې دي درجې ددوى الله تعالى ته اوهمدغه كسان كاميابان دي او زيرى كوي په دوى رب ددوى په رحمت اورضامندي سره له خپله لورې اوددوى له پاره جنتونه دي، داسې جنتونه چې وي به په دې كې هميشه نعمتونه ،دائم بلا انقطاع، اوحال دا چې هميشه به وي دوى په دې جنتونوكې.

درسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان:

وعن اميرالمؤمنين ابي حفص عمر بن الخطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: انما الاعمال بالنيات وانما لكل امرئ ما نوى فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله فهجرته إلى الله ورسوله ومن كانت هجرته إلى دنيا يصيبها أو إلى امرأة ينكحها فهجرته إلى ما هاجر إليه. (متفق عليه)

ترجمه: اميرالمؤمنين ابوحفص حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت كوي چې ما درسول ﷺ نه واوريدل چې دعملونو بنسټ ،دارومدار، په نيت ولاړ وي اوهركس ته به هغه وركول كيږي دكوم چې هغه نيت كړى وي، كه له هجرت نه مقصد دده الله تعالى اورسول ﷺ ته رسيدل وي: نو دده هجرت دالله اودرسول په لوري دي ،يعني الله به اجرورکوي، اوكه يوكس

كفايت كتب خانه ټيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

دوښاړ. يا دبوي ښځې سره د نکاح په خاطر هجرت کړی وي! نو دده هجرت هغه طرفه دی چې دکومو له پاره يې نيت کړی دی

دی حدیث مبارک پس منظر(شالید) يوه خاص واقعه ده چې د نبي کريم ﷺ په دور کې رامغله. علامه طبراني رحمه الله د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حواله سره بيان کړې ده چې، يو کس دام قيس په نوم ښځې پسې دمکې معظمې نه دواړه پيغام ورولېږلو دي ښځې د نکاح دا پيغام قبول کړ، خو يو شرط يې ولګاو، چې دی به له مکې نه مدينې ته هجرت کوي، ده هجرت وکړاو نکاح وشوه، له دې واقعې وروسته نورو صحابه کرامو دی په مهاجرام قيس لقب ياد کړو. يعني هغه کس دالله او درسول له پاره هجرت ونه کړ. بلکې دام قيس له خاطره يې هجرت وکړ. کله چې نبي کريم ﷺ ته ددې واقعې خبرورسيد؛ نو په دغه وخت يې پورتنې الفاظ وفرمايل، مطلب دا چې داخلاص والا عمل دالله په حضور کې مقبول دی دنيکو اعمالو نه غرض دالله تعالى راضي کول وي، ګڼې ګوره دهجرت په څير عظيم عمل هم ضائع شي، سنه هجري دنبي کريم ﷺ دحياتو طيبه داهم ترينو واقعاتونه يوه اهمه واقعه ده. داواقعه دمکې مکرمې نه مدينې منورې لورې ته دهجرت ياد تازه کوي، اسلامي کال کې محرم الحرام لومړنی مياشت ده دهجرت واقعه د تاريخ اسلام يوه عظيمه واقعه ده دا قدم نبي کريم ﷺ دوحې هدايت له وجې پورته کړی و، کوم ځای کې چې په مسلمانانو باندې زندګي تنګه شي اودوی ته په ازادۍ دخپل عبادت اداکولو اجازه نه ورکول کيږي؛ نو بيا په مسلمانانو باندې لازمه ده چې يو داسې ځای ته هجرت وکړي چې هلته هغوی په ازادۍ سره دالهي په احکامو باندې عمل کولی شي، الله رب العزت پخپله نبي کريم ﷺ ته حکم کړی و چې کله نامناسبه حالات وي ددين په کار کې موانع(روکاوټونه) وي؛ نو دهجرت دعا فرمايي:

[وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا]

(سورة بني اسرائيل: ۸۰)

ترجمه: او ووايه (اې زما ربه!) ما (مدينې ته) په ښه شان داخل کړه اوله مکې نه) ماپه عزت سره وباسه اوماته وګرخوه له خپله لوري يوقوت مدد کوونکی (له اسلام سره په کفرباندې).

له هجرت وروسته داسلام مرکز مدينه منوره جوړه وه، داهل مکې دناقدريې له وجې الله تعالى اهل مدينې ته دا عزت ورکړ چې مدينه منوره دحضور ﷺ دجسد اطهرله پاره داستوګنې ځای جوړ شي، اوس موږ مسلمانان پنځلسمې پيړۍ ته داخل شوي يود مسلمانانو تاريخ دخوشالی باعث هم دی اودافسوس هم، تابناک او دخوشالی باعث له دې وجې چې مسلمانانود انساني تهذيب وتمدن ډيوه روښانه اودترقي رفتار تيزولو له پاره عظيمې کارنامې وکړې اودژوندګي په هره شعبه کې نمايانه کردار ادا کړی دی اوافسوسناک او د خفګان باعث له دې وجې چې مسلمان ددنيا رهبر و رهنمايو اوس وروسته پاتې شو او د

کفايت کتب خانه تيلی گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

افغانو په ټولو کې اوس فخر محسوسوی. د حضور ﷺ له وفات نه سل کاله وروسته د مسلمانانو قوت وحشمت او حکمراني د اسپانیا (اندلس) د حدود دونه واخله تر درياب سنده پورې خوره شوی و. د دې پراخه فتوحاتو نه پرته علوم وفنون او ایجادات واصلاحات کې حیرت انګیزه برقي شوې وه. له دې وروسته د علم وحکمت ریاد د اسلامي دنیا دیو ګوټ نه بل ګوټ نه خوره شوې وه. تردې چې له یورپ نه به طلباء راتلل او اوعلم به یې حاصلاوه. یو مستشرق لیکي چې «یورپ د مالکو نه به طلباء د علم حاصلولو له پاره اوپړه اوپړه سفرونه وسپنځه نه مکې ته او د مراکش نه بغداد ته کول» مجله ۸۰، د دې حیرت انګیز کامیابیو وروسته به مسلمانانو باندې زوال راغی اوبه ۱۸، او ۱۹، پیړۍ کې یورپ مسلمان یواځې په تهذیب و تمدن کې وروسته پاتې نه کړ. بلکې سیاسي اقتدار نه یې هم محرومه کړ او اقتدار یې د دوی په علاقو باندې قائم کړ

زموږ نظریه دین اسلام او دې بنیاد علاقیت، طفیت، نسل پرستي، یاژبه نه ده. بلکې زموږ دین اسلام یواځې مذهب نه، بلکې ضابطه حیات دی. د هر یو قوم یو نه یو کیلنډر (جنتري) یې شوی دی د یهودیانو کیلنډر د سنه (۳۷۰۰) ق.م نه شروع کیږي. عیسوي کیلنډر د حضرت عیسی علیه السلام د پیدایښ نه شروع کیږي همدغه رنګ بکرمي سنه واقعه د دې یادګار دی کله چې مهاراجه بکر ماجیت په ساکها قوم غلبه حاصله کړه اوسنه هجري د نبي مکرم حضرت مصطفی ﷺ د هجرت یاد تازه کوي. هجرت یو لوی عمل دی حضرت نوح علیه السلام خپل قوم واخیست اوپه کشتی کې یې د هجرت له پاره سواره کړل، حضرت ابراهیم علیه السلام ملک شام طرفته هجرت وکړ. حضرت موسی علیه السلام دبني اسرائیلوسره هجرت وکړ. مسلمانانو مدیني هجرت نه مخکې له مکې نه حبشې لورې ته هجرت وکړ. له مکې معظمې نه مدیني منورې ته دا سفر په (۸، ربیع الاول) وشوچې د عیسوي کیلنډر مطابق (۲۰ ستمبر ۶۲۲) واقعه ده. له دې ځای نه اسلامي کال شروع شو. چې دا فاروق اعظم رضي الله عنه نافذ کړ اوددې کال په اول محرم الحرام باندې د اسلامي کیلنډر ابتداء وشوه، د اسي شو چې د اسلامي لومړۍ پیړۍ اغاز په (۱۲ جولای ۶۲۲) باندې وشو (مجله ۸۰، دا د اسلامي تاریخ یو اهم مور و مدینه د اسلام مرکز جوړ او له دې ځای نه د اسلام دعوت په ټوله دنیا کې خور شو. حضور ﷺ په مکه مکرمه کې (۵۳) کاله تیر کړل. خلکو به ده ته صادق اوامین ویل. مګر عموما دده د اسلام دعوت یې قبول نه کړ. خو مدینه منوره د اسلام دغه اجماعي نظام قائم شو. چې سیاست، معیشت، معاشرت اواخلاق په ټولو خاپونو باندې حاوي شو. د صحابه کرامو یو موټي خلکو په دنیا باندې د اسلام سکه رائج کړه. دې وخت د روس اوامریکه په څیر سپرپاور د هغه دور روم وفارس په شاهي محلاتو کې زلزلې راغلې، د دې دور روس او امریکه به هم ناکامه شي. خو په دې شرط چې مور مسلمانان د خپل ځان

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اصلاح وکړو. منافقنه زندګي پريږدو او حقيقي اسلامي زندګي اختيار کړو. مولانا حالي څه ښه فرمايلي دي:

مس خام کو جس نے کندن بنايا — کھرا اور کھوٹا الگ کر دکھايا
عرب جس پہ قرنوں سے تھا جہل چھايا — پلٹ دی بس اک آن میں ان کی کايا

رها ډر نه بيړے کو موج بلا کا
ادهر سے اُدهر پهر گيا رخ هوا کا

دهجرت فضيلت:

حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې دقيامت په ورځ به زما دامت ځينې خلک داسې حالت کې پورته کيږي چې دهغوی نور به دلمر دنور په څير وي، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ! دابه کوم خلک وي؟ وېې فرمايل فقراء او مساکين دچا له وجې چې مصيبتونو نه حفاظت وشو اوخپلو ارمانونه اوتمناګاني په خپل زړونو کې وړي او له دنيا نه خي. داخلک به ددنيا دمختلفو ځايونو نه پورته کيږي.

په يو بل حديث کې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي، چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: زمادامت فقراء او مهاجرين به دټولو نه مخکې جنت ته داخليږي، کله چې دوی دجنت دروازې خلاصول غواړي؛ نو دجنت دربان فرښتې به ورته وايي: ايا ستاسو حساب شوی دی؟ نو هغه کسان به ورته ووايي زمونږ به څه حساب کيږي. مونږ تورې په خپلو څټونو باندې کينښودې اوالله په لاره کې مو خپل ځان ورکړو رضوان به دجنت دروازې خلاصې کړي. داخلک به دعامو خلکو څخه څلويښت کاله مخکې جنت ته داخليږي. دغزوه خندق په ورځ کله چې مهاجرينو او انصارو خندق کنستو سترې وو او دلوړې اوتندې نه بې حاله وو؛ نو نبي کريم ﷺ دتسلي په ډول ارشاد وفرمايه: «اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ اِلَّا عَيْشُ الْآخِرَة» اې الله ژوند خو داخرت دی. يعني تسلي يې ورکوله چې مهاجرينو او انصارو فکر مه کوئ. ددې تکليفونو په بدل کې به الله تعالى اخرت درکړي اوخوشاله به مو کړي.

هجرت اوتوکل:

مهاجر هجرت دالله تعالى له پاره کوي. ځکه چې دده په الله تعالى باندې يقين وي اوبه الله باندې اعتماد وکړي اوهجرت کوي. نبي کريم ﷺ کله چې غارثور اولنې منزل ته هجرت وکړ. مشرکينو پلټنه پيل کړه اودغه ځای ته راورسيدل. حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل يارسول الله! که مشرکين لږ هم ټيټ شو: نو مونږ به وويني: نوقربان شم درسول الله ﷺ په توکل باندې چې وېې فرمايل: اې ابوبکر! ستا څه خيال دی دهغو دوؤکسانو باره کې

کفایت کتب خانه قبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې هغوی سره دریم الله وي، داسلام عظیم باب لیکلو له پاره کوم خای چې سړیو کارنامې کړي دي او لویې لویې قربانۍ یې ورکړې دي، هلته ښځو هم لویې لویې کارنامې کړي دي. داسلام نه مخکې ښځې ته په ډېر سپک نظر کتل کیدل مګر ارشاد نبي ﷺ دی «ښځو په معامله کې دالله نه وویریږئ» (جنت دمور د پښو لاندې دی)، دنبي ﷺ دهجرت په واقعه کې که چېرته ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ، دهغه زوی او حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قرباني ورکړې. هلته دحضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دلور دحضرت اسماء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا کردار هم ډېر عظیم دی. کله چې صحابه کرامو رِضْوَانُ اللّٰہِ عَلَیْہِمْ اَجْمَعِیْن هجرت کړی وو اوحضور ﷺ دالله تعالی دحکم منتظر اوکله چې دوی ته هم دهجرت حکم وشو؛ نو دخپل جانثار دوست حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کور ته یې تشریف یوړو او په تیزۍ سره یې دسفر سامان تیار کړ. حضرت اسماء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا خپل کمربند کټ کړ اودستوانو دتیلی(خلتي) خوله یې بنده کړه خکه دغه وخت دتیلی ترلو له پاره څه رسی نه وه، حضور ﷺ چې کله دا حاضر دماغي او قرباني وکته؛ نوبطور خوشالي یې وفرمایل: ذات النطاقین.

له دې وروسته کله چې دمکې قریشو دحضور ﷺ پلټنه پیل کړه؛ نودحضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کور ته راغلل دروازه یې وټکوله، اسماء بنت ابي بکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا بهر راووته ابوجهل تري پوښتنه وکړه چې اې اینجلی ستا پلار چېرته دی؟ دې ورته وویل ماته معلوم نه دی، ابوجهل دې ماشومې ته په مخ داسې څپیړه ورکړه چې لنبستی تري پریوته .خودې ماشومې دحضور ﷺ اودابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پته ونه بنوده.

کی محمد سے وفا تو نے تو ہم تیرے ہیں — یہ جہاں چیز ہے کیا لوح و قلم تیرے ہیں
محمد کی محبت دین حق کی شرط اول ہے — اسی میں ہواگرخای توسب کچھ نامکمل ہے

(اقبال رحمۃ اللہ علیہ)

دقمري تقويم فوائد:

۱:که چېرته مورِ دسنه هجري دنورو مروجو سنو سره تقابل وکړو: نو دا سنه به تاسو ته دنورو سنو نه ممتاز اوجدا په نظر راشي. دسنه هجري بنیاد سپوږمۍ وګرځول شوه اوداسلامي میاشتو تعلق دسپوږمۍ سره جوړ شو، دا کیلنډر(جنتري) دخالق دجوړ شوي شي سپوږمۍ سره تعلق ساتي په دې کې دڅه پیوندکاري ضرورت نه شته، اسلام اسان اوساده مذهب دی لهذا دسپوږمۍ په ذریعه هري علاقي والا خلک چې که دهغوی تعلق دغرونو، یاځنګلونو . یا په جزیرو کې اوسیږي. دوی له پاره دا اسان دي چې دسپوږمۍ په ذریعه باندې دخپل حساب معاملات کوي په دې کې څه مشکل اوپیچیدګي نه وي خوانده(باسواده)، اوناخوانده دواړه په اسانتیا سره حساب کولی شي، ددې برعکس نورکیلنډر اوتاریخونه انسان په

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اساتنیا سره نه شي معلومولی، دسپورمی هر خای کې طلوع کیږي اوپه اساني سره کتل کیدای شي دځه اورد حساب کتاب ضرورت نه شته. مګر نورو تاریخونو کې داخبرې نه شته.

۲ اسلام دین فطرت او دین عدل وانصاف دی په دې کې مساوات وهمه ګیري ده الله تعالی دا خوښ کړي دي چې اسلامي میاشتې په بدلو بدلو موسمونو کې راځي. لهذا قمري کیلنډر یې بنیاد جوړ کړ.

که چیرته اسلام دنورو قومونو طریقې خوښې کړې وی (یعنې شمسي کیلنډر یې قبول کړی وی)؛ نو درمضان میاشت (ماه صیام) به همیشه په یو موسم کې راتله چې ددې لازمي نتیجه به داوه چې دنیمې دنیا مسلمانان چې کوم خای موسم یخ وي او ورځې وړې وي همیشه له پاره به په اساني کې و. دروژې پرته دسفر حج همدغه حال دی، لهذا دمساوات وجهانګیرې تقاضاداوه چې دمیاشتې اوکال حساب دې قمري کیلنډر باندې مبني وي. ددنیا مروجو تاریخونو اغاز یا دیوبادشاه دپیدایښ سره متعلق وي یا وفات یا زلزله اویا څه حادثه، خو مسلمانانوله پاره دسنه اغاز دهجرت نبوي ﷺ نه وشو، اشاره دې خبرې ته ده چې مسلمانانو داسلام له خاطره دلویې نه لویې قربانی نه به هم مخ نه اړولو. اسلامي تقویم (کیلنډر) کې دمیاشتې لومړی ورځ دجمعې مقرر شوه، اول محرم ۱ هجري باندې هم جمعه وه. جمعه په اجتماعي ډول دالله تعالی دعبادت اودذکرکولو ورځ مقرر شوه، مسلمانانوته پکار دي چې هغوی قمري تاریخ خپل کړي اودې ته رواج ورکړي، دفترونو اوحساب کتاب کې اسلامي تاریخ باندې عمل وکړي، هجرت نبوي ﷺ په نتیجه کې په دنیا کې یو مکمل اوکامل ضابطه حیات راغی اوپه انسانانو کې صداقت، شرافت، امانت، احتساب، حق پسندي، ضبط نفس، ایثاروقرباني، فرض شناسي، صبرواستقامت، شجاعت وبهادري. فرمانبرداري اودقانون داتباع صفتونه په دنیا کې را ظاهر شو. نن هم که چیرته مسلمان په ربښتیادنیا کې امن، عزت اوکامیابي غواړي؛ نو دوی ته به دحضور ﷺ داسوه حسنه باندې عمل کول وي. الله دې دعمل توفیق نصیب کړي. آمین!

دمسلمانانو خبشي ته هجرت اودحضرت جعفر بن ابي طالب حق کوپې:

مسلمانان او دمسلمانانو سردار فخردوعالم ﷺ دتنګولوچې کله کافرانو انتهاء وکړه؛ نو حضور ﷺ خینې صحابه کرامو (رضی الله عنهم) ته دهجرت اجازه ورکړه، ډېرو کسانو حبشې لوري ته هجرت وکړ، دحبشې بادشاه اګر چې نصراني و، خو ډېر زړه سوانده و، په دې هجرت کوونکو کسانو کې (۸۳) سړي او (۱۸) ښځې وې، دحبشې بادشاه ددوی ډېر زیات عزت وکړ دلته چې کله مشرکینو ته پته ولګیده چې مسلمانان په حبشه کې مزو سره دي؛ نودوی هلته هم ورغلل اوخان سره ډېر بیش قیمته تحفې تحایف یوړل اوهلته یې پادریانو اودبادشاه

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مصاحب اوکار حاص کسانو نه ورکړي اودهغوی په ذریعه بادشاه نه وړسیدل او وېې ویل چې زموږ خه بې وقوفه نوجوانانو دخپلو پلرونو دین پریښی دی اوسو نوی دین سی خپل کړی دی چې هغه نوی دین نه تاسو ته معلوم دی او نه موږ ته، موږ دهغې شریفانو راپیلې سو چې وغه کسان وایس راولیږئ تاسو دا کسان موږ نه حواله کړئ. بادشاه وویل اول به هغوی راوغواړو اوتحقیق به وکړو. له هغه وروسته که چیرته مونږ تاسو خبره صحیح وه، نو تاسو نه به یې حواله کړو. کنې نه شي کیدای. مسلمانانو ته هم پته ولګیده خپلو منځ کې یې مشوره وکړه اودافیصله وشوه چې صفا خبره به دحق کوو، بادشاه سره خبرو له پاره دجعفر بن ابي طالب انتخاب وشو، کله چې د بادشاه ته مخې ته لاړل؛ نوبوازې سلام یې وکړ. چا چې غراض وکړ چې بادشاه مخې ته دې اداب شاهي مطابق سجده ولې نه کړه؟ دوی وفرمایل چې زموږ نبي ﷺ فرمایلي دي چې له الله تعالی پرته به بل چا ته سجده نه کوئ. سبحان الله په دې سختوحالاتو کې یې هم دحق ګوییې او دین مصطفوي ﷺ لمن پرې نه ښوده اویل خو موږ مسلمانان چې ددنیا دلږ شان مفادو له پاره خپل دین پریږدو، بهرحال بادشاه ددوی دحال پوښته وکړه؛ نو دوی وفرمایل چې: بادشاه سلامت! موږ خلک جاهل و. مرداري به مو خوړل. غلط کار به مو کاو، خپلوي به مو ماتولې، موږ کې به طاقت والاوو کمزورې وژل. موږ په دې حال کې ووچې الله تعالی موږ کې رسول راولیږه، چې دهغه نسب، راښت، امانت دیانت، تقوا پرهیزګاري موږ ډېر ښه پیژنو ،هغه موږ دیو الله وحده لا شریک عبادت لوړې ته راوغوښتو اودبوتانواوکانو دعبادت نه یې منع کړو، هغه موږ ته دریښتیا ویلو حکم وکړ. دلمونځ، روژه. صدقه اوخیرات ورکولو حکم یې وکړ اودښو اخلاقو تعلیم یې راکړ. دژنا، تهمت. دروغ اودیتیم دمال خوړلو نه یې منع کړو، موږ ته یې دقران تعلیم راکړ اوموږ پرې ایمان راوړو اودهغه دفرمان تعلیم مو وکړ چې په هغه و زموږ قوم زموږ دښمنان شول اوموږ ته یې هر قسم تکلیفونه راکړل، موږ مجبور شو اودخپل نبي ﷺ په حکم باندې ستاسو پناه ته راغلو. بادشاه وویل چې: ستاسو نبي ﷺ باندې کوم کلام رانازل شوی دی هغه ما ته واورو. حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دسورة مریم اولني ایتونه تلاوت کړل چې دهغه په اوریدو بادشاه هم وژړل او دهغوی پادریانو هم چې دېر زیات موجود وو. تولو دومره وژړل چې زیري یې لمدي شوي . له دې وروسته بادشاه وویل په خدای مې دا کلام او دحضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَام کلام دیو نورنه راوتي دي اوخلکو ته یې صفا انکار وکړ چې زه دا مسلمانان تاسو نه نه شم حواله کولی. مشرکین مکه ډېر زیات پریشانه شو اوډېر ذلت یې په نصیب شو. خپل مینځ کې یې مشوره وکړه چې سبا ته زه داسې تدبیر وکړم چې بادشاه به ددې کسانو جړې اوباسي. ملګرو ورته وویل داسې مه کوئ دوی زموږ خپلوان دي اګر چې مسلمانان دي، خو بیا هم هغه منع نه شو او په سبا یې بادشاه ته وویل چې: دا مسلمانان د حضرت

کفایتاً کتب خانه تیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عیسی علیه السلام په حق کې ګستاخي کوي، حضرت عیسی علیه السلام دالله زوی نه منې، بادشاه بیا مسلمانان راوغوښتل، صحابه (رضی الله عنهم) وایي چې په دویمه ورځ غوښتو سره مونږ ته ډېره پریشاني شوه، خوبهرحال مونږ لاړو بادشاه وویل چې: دحضرت عیسی علیه السلام متعلق ستاسو څه عقیده ده؟ حضرت جعفر (رضی الله عنه) وفرمایل: هغه به وایو چې کوم زمونږ نبي ﷺ باندې رانازل شوي دي. چې هغه دالله بنده او رسول دی. دهغه روح اوکلمه ده او الله تعالی ډېرغلي اوپاکې مریم په جولی کې واچوو. بادشاه وویل چې: حضرت عیسی علیه السلام هم ددې نه زیات څه نه دي ویلي، پادریانو په خپل مینځ کې پس پس شروع کړل بادشاه وي چې څه ستاسو رایه وي وایي، له دې وروسته یې مشرکینو ته تحفې واپس کړې او مسلمانانو ته یې وویل: تاسو امن سره اوسیږئ کوم سړی چې تاسو تنګوي هغوی به تاوان وکوي، (خیبې له دې وجې دمسلمانانو عزت نور هم زیات شو اودا وفد په ذلت سره واپس شو. مسلمانانو په الله تعالی باندې توکل وکړ اوهجرت یې وکړ اوالله تعالی خصوصي مدد وکړ اودبادشاه په مخکې یې حق ګوییې وکړه، الله تعالی یې مدد هم وکړ، مونږ ته هم پکار دي چې ددین له خاطره خپل خواهشات قربان کړو او اوحق ګوییې اختیار کړو، ددروغو نه ځان وساتو؛ نو مونږ سره به هم الله تعالی مدد وکړي، یا الله! په دې دعمل کولو توفیق راکړې!

سنه هجري او دهغه اهمیت

حقیقي مهاجر:

درسول اکریم ﷺ فرمان دی چې: (مومن هغه دی چې دهغه دلاس له ضرر نه دخلکو جان مال محفوظ وي او مسلمان هغه دی چې دهغه دلاس اوژبې نه مسلمان محفوظ وي او مجاهد هغه دی چې دالله په لاره کې وجنګیږي اومهاجر هغه دی چې خطاګاني او ګناهونه پریږدي) (مصابیح بحواله مجالس الابرار)

تشریح: دهجرت عمل به تر قیامته جاري وي ایمان والا به دخپل ایمان بچ کولو له پاره مال. ملک اووطن پریږدي، کامل مهاجر هغه دی چې دټولوګناهونه چې ممنوعات خداوندي دي ترک کړي اود الله تعالی په احکاماتو عمل کوي، په دویم حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایې چې: (کامل مهاجر هغه کس دی چې دالله منع شوي کارونو نه ځان منع کړي، اوهم په دې حدیث کې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې هجرت دټولو فحش کارونو اوممنوعاتو پریښودو او دعبادت اوبندګي کولو نوم دی، له دې وجې هر مسلمان باندې واجب دي چې فورا دګناهونو نه توبه وکړي ځکه چې دګناهونو نه که وار ه وي اوکه لوی فورا توبه کول واجب دي. په یو حدیث رسول الله ﷺ فرمایې چې: (تباه شو تاخیر کوونکي خلک، تاخیر کوونکي هغه خلک دي چې وایې اوس توبه کوو. اوس توبه کوو، په یو حدیث مبارک کې رسول الله ﷺ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فرمايي چې «ټول بني آدم ډېر ګناهګار دي. خو په ټولو کې بهترين ګناهګار هغه دی چې توبه وکړي، توبه دزړه نه دګناه پرېښودو نوم دی. خالي په ژبه باندې توبه کول څه فائده نه ورکوي

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي چې دهغه زمانې به څه وايي چې په هغه کې انسان په ظلم باندې اخته وي اودده حريص وي اوله هغه نه واپس کيږي نه اوتسبيح به يې لاس کې نيولې وي اودا ګڼي چې زه دالله تعالى نه مغفرت طلب کوم، حالانکې دايوازي يو مسخره او نخره ده څکه چې رسول الله ﷺ فرمايي چې يوازي په ژبه باندې توبه کوونکی انسان اوپه اندامونو باندې ګناه کوونکی انسان داسې دی لکه چې دالله تعالى سره مسخره کوي.

حقيقي توبه:

حقيقي توبه هغه ده چې په ژبه مغفرت وغواړي اوپه زړه کې نيت وکړي چې اينده به کله ګناه نه کوم. داسې توبه چې کله څوک کوي؛ نو الله تعالى دده ګناهونه معاف کوي، که څه هم ډېر غټ وي. څکه چې يوه ګناه هم دکفر نه لويه نه ده اوبخپله دکافرانو متعلق الله تعالى فرمايي «کوم خلک چې کافران شوي دي هغوی ته ووايه چې که چېرته تاسو دکفر نه واپس اسلام ته راغلئ؛ نو الله تعالى به ستاسو مخکينې ټول ګناهونه معاف کړي»؛ نو اندازه وکړئ چې ددې نه کمه ګناه به الله تعالى ولې نه معاف کوي

په يو روايت کې دي رسول الله ﷺ وفرمايل: «که چېرته تاسو کې يو کس دومره ګناه وکړي چې دځمکې نه آسمان پورې خلاء ډک کړي اوبيا توبه وکړي؛ نو الله تعالى به يې توبه قبوله کړي، خو ياد ساتل پکار دي چې دتوبې وروسته کوم لمونځونه اوروژې پاتې شوي دي دهغو به قضاء راوړي اوحقوق العباد به ادا کوي يا دې په هغوی معاف کړي که اهل حق پېدانه شول. صدقه دي وکړي اوخوک چې تنګدسته وي؛ نو کثرت سره دې نيک اعمال کوي مسلمانانو له پاره دې دعا مغفرت کوي په چا چې يې ظلم کړی وي، دخداى تعالى نه دا اميد دی چې هغه به خپل مدعيان په خپل لطف وکرم سره دقيامت په ورځ راضي کړي، جهاد، حج، زکاة، لمونځ، هجرت داټول نيک اعمال دي، خواخلاص ورسره ضروري دی، که داخلاص کمښت وي؛ نو بيا دې هم اعمال خير نه پرېږدي اودا خلاص دعا دې کوي، الله تعالى به يې په خپل فضل سره قبول کړي، الله تعالى دې مورږ له په احکاماتو دعمل کولو توفيق راکړي.

آمين يا رب العٰلمين!

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحقیقي توبې ثبوت:

دحقیقي توبې ثبوت دانسان خاتمه ده که خاتمه په ایمان سره شوه؛ نوداکس کامیاب اوکامران شواوکه خاتمه په کفر شوه؛ نوداکس ناکام شو. حضرت تهانوي ﷺ فرمایي چې حسن خاتمه له پاره درې عمله مجرب دي

۱ په موجوده ایمان دي شکر کوي

۲ دهر فرض لمانځه وروسته دعا استقامت علي الایمان غواړي چې الله دي په هدایت باندي قائم اودائم ولري

۳ داهل الله اوبزرګان دین په خدمت کې دي حاضري کوي، انشاء الله حسن خاتمه به ورته نصیب شي

روز رابګزار و زاری رابګیر رحم سوئے زاری آید ای فقیر (رومي ﷺ)

د محرم الحرام دمیاشتې دویمه خطبه

دحضرت حسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ شهادت:

یوه ضروري خبره. عام دا ویل کیږي (حضرت امام حسین عَلَيْهِ السَّلَام) یاد ساتی داډیره غټه غلطي ده حضرت حسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابي و، له دې وجې ده ته رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویل پکار دي، عَلَيْهِ السَّلَام اصطلاح دانبیاووکرامو له پاره خاص ده، حضرت حسین عَلَيْهِ السَّلَام روافض او سبائي وائي ددوی دا اوریدل شوي الفاظ اهل سنت هم وایي، دشیعه ګانو په نزد عقیده دامامت ده او هغوی امامت له نبوت نه افضل ګڼي. له دې وجې هغوی حضرت امام حسین عَلَيْهِ السَّلَام وایي. سنیانو ته دشیعه ګانولە تقلید نه پرهیز کول پکار دي، لکه څنګه چې دپلار اصطلاح خاص ده او دزوی اصطلاح خاص ده. پلار ته زوی نه ویل کیږي او زوی ته پلارنه ویل کیږي، همدغه راز چې کومه اصطلاح دانبیاء کرام علیهم السلام له پاره خاص ده هغه دبل چا له پاره استعمالول غلط دي

دحضرت حسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فضیلت:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وسلم الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. (ترمذي، مشکاة)

له حضرت ابوسعیدخدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې: حسن اوحسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا دجنت دنوجوانانو سرداران دي. ددې مطلب دادی چې حسن اوحسین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

رضي الله عنهما دتول اهل اسلام نه افضل دي دالله په لاره کې دخوانې په حال وفات شوي. دويم مطلب دشباب نه جوان العمر نه دی. بلکې فتوت يعنې خوانمرد، سخي اوکريم په معنادی په دې صورت کې مطلب به داشې چې دا دواړه د خوانمردو سرداران دي پرته دانبياوو اوخلفاء راشدينو نه

حسن او حسين رضي الله عنهما کلان دي:

وعن ابن عمر أن رسول الله: إن الحسن والحسين هما ريحاني من الدنيا. (مشكوة)

له حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل. حقيقت دادی چې حسن اوحسين رضي الله عنهما زما ددنيا گلان دي. يعنې څنګه چې گلان ښکلي او خوشبودار وي انسان وسره محبت وي. همدغه رنګه زما دحسن اوحسين رضي الله عنهما سره محبت دی

وعن سلمى قالت : دخلت على أم سلمة وهي تبكي فقلت : ما يبكيك ؟ قالت : رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم تعني في المنام وعلى رأسه ولحيته التراب فقلت : ما لك يا رسول الله ؟ قال : " شهدت قتل الحسين آنفاً". (مشكاة)

حضرت سلمه (دحضرت ابو رافع ښځه ده) بيانوي چې يوه ورځ زه دام المؤمنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها په خدمت کې حاضره شوم څه گورم چې هغه ژاړي، ماترې پوښتنه وکړه چې ولې ژاړې؟ هغې جواب راکړ چې: ما رسول الله ﷺ په خوب کې وليد، چې دهغه (ﷺ) سراو ږيره مبارکه گرد وهلي و. ما ترې پوښتنه وکړه يارسول الله ﷺ! تاسو سراو ږيره ولي گرد وهلي دي: نو هغه ﷺ جواب راکړ چې: زه اوس دحضرت حسين رضي الله عنه په قتل گاه کې ولاړ وم او کتل مې چې زما دخيګر ټکړه ظالمانو په څومره بې دردی سره شهيد کړ.

فائده:: حضرت ام سلمه رضي الله عنها ته په خوب حضرت حسين رضي الله عنه دشهادت سانحې راښيښيد و نه مخکې په خوب کې دهغه خای وښودل شو.

وعن علي رضي الله عنه قال : الحسن أشبه رسول الله صلى الله عليه وسلم ما بين الصدر إلى الرأس والحسين أشبه النبي صلى الله عليه وسلم ماكان أسفل من ذلك. (ترمذي، مشكاة)

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چې حسن رضي الله عنه دپر زيات مشابه و له رسول الله ﷺ سره، له سر نه واخله تر سينې پوري اوحضرت حسين رضي الله عنه دپرزيات مشابه و له رسول الله ﷺ سره له سينې نه واخله تر باقي وجود پوري.

دواړه صاحبزادګان دحضور ﷺ ته دپر زيات ورته وو.

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره صلحه:

درسول الله ﷺ پیشن ګویي وه چې زما لمسی حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د دوو ډلو په مینځ کې صلح کوي. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وصیت کړی و چې زما له وفات وروسته حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره سمدلاسه صلح وکړه اودهغه دامیرالمؤمنین جوړیدو نه کراهیت مه اختیاروه. ځکه که چېرته تا هغه هم خطا کړه؛ نو په امت کې به ډېر لوی انتشار راشي. دشیعه ګانو مخکې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې: ما خلافت له پاره خپل زوی حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقرر کړ، ځکه چې هغه ته پته وه چې زما داصلح کونکی زوی به په هیڅ صورت امت کې جګړه مناسبه ونه ګڼي اودرسول الله ﷺ دارشاد مطابق به دمسلمانانو مینځ کې دصلح سبب جوړیږي، حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخپل والد بزرګوار دتدفین وروسته که هغه په هر ځای کې وي. له دې وروسته ابن ملجم یې ختم او خپلو شیعه ګانو ته یې وفرمایل چې زه به ستاسو بیعت په دې شرط قبلوم چې تاسو به په صلح اوجنګ کې زما متابعت کوئ. بیا یې وفرمایل چې: زما پلار حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمایل چې: دمعاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دامیرالمؤمنین جوړیدو نه به کراهت نه محسوسوي، که تا امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خطا کړه؛ نو وبه ګوري چې سرونه به په تورو باندې کټ کیږي او لاندې به راپریوځي (جلد نمبر۳: شرح نهج البلاغه ابن الحدید و ازالة الخفاء جلد۲ ص۳۸۳، البدایه والنهایه ج۸ ص۱۳۱ بحواله تذکره،رساله عجاله نافعه حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ،دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له شهادت وروسته کوفه کې دحضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس باندې دخلافت بیعت وشو. اوس معلومه شوه چې دیو لوري دجګړې نوبت راتلو واله و، دیخوا حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له کوفي نه ځلوینښت زره فوجیان بیایي، بل لوري ته امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دمشق نه یو لوی فوج روانوي. دمدائن خواوشا کې ددواړو فوجونو مینځ کې جنګ کیږي، دحضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دفوج دسته مخکې مخکې روانه وه، ددوی متعلق دا افواه خوره شوه چې حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته شکست وشو دا افواه چا خوره کړه له دې نه الله تعالی ښه واقف دی، نتیجه دا راووته چې حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره کوم کوفي کسان وو هغوی دبد تمیزیې یو طوفان راوست. چې دا له بیان نه بهر دي، بغاوت یې وکړ اوخیمې یې ویستې، جناب حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې یې لاس پورته کړ اوجامې یې تري وشلولې، له دې کوفي باغیانو نه چې کله ورته خطره محسوسه شوه؛ نو دکسرا په محل کې یې پناه واخیسته، ددې نتیجه دا راووته چې حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته پخپله ددې کوفیانو دمزاج تجربه وشوه، حالانکې ده له دغه ځایه حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دصلح وړاندیز وکړ. معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سمدلاسه قبول اوله خپل لوري یې یو ساده کاغذ باندې خپل مهر ولګاو اوحضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې دا پیغام ولیږه چې چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کوم شرطونه تاسو غواړئ ولیکئ ماته منظور دي، هغه ته موږ بلینک چیک،خالي چیک، وایو. صلحه وشوه اودحسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ټول شرطونه ومنل شول اوالحمد لله دپنځو کلونو له پاره دانتشار. اختلاف. افتراق اوخپل مینځ کې دجنګونو دروازه بنده شوه. اوس پوره عالم اسلام په یو اتفاق جوړ شو. داخبره دې بنکاره وې چې له دې وروسته معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دبیعت سلسله شروع کړه. له دې صلح وروسته حضرت حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په دې الفاظو تبصره وکړه چې که چیرته خلافت ددوی یعنې امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حق و؛ نو هغه ته خپل حق ورسید اوکه زما حق و؛ نو ماهغه ته وسپاره، خوسبایې سازشي کسان په دې خبره خوشاله نه و. هغوی په حضرت حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې سپک الفاظ شروع کړل دده یې په مختلفو طریقو باندې یې عزتي کوله اوده ته یې "عارالمؤمنین" وویل یعنې داهل ایمان په حق کې دعار اوشرم والا انسان یا "مذل المؤمنین" یعنې مسلمان ذلیل کوونکی انسان. داتوهین آمیز اوسپک الفاظ به یې ده ته ویل اوپه بنکاره دا کسان ددوی حامیان و، په بنکاره به یې ویل چې اې حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تا زموږ پوزه کټ کړه اواهل ایمان له پاره تا هیڅ دعزت مقام پرې نه ښود. خوالله تعالی دې حضرت حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ابدالابد جزایې خیر ورکړي چې دهغه له وجې دا ناچاقي ختمه اوهغه چوندې یې بند کړ کوم چې په عالم اسلام کې جوړ شوی و. پوره شل کاله عالم اسلام متحد اومتفق و دحضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دا شل کاله دامن کلونه و، خپل مینځ کې خانه جنګي ختمه شوه.

ہوتا ہے جادہ پیما پھر کارواں ہمارا

ددې کیفیت پیدا شو او ددعوت، تبلیغ، جهاد او قتال عمل ژوندی شو، له نوي سر نه کولاووالی شروع شو. دفتوحاتو سلسله شروع شوه، شل کاله دور دخلافت راشده وروسته چې څومره هم دورونه تیر شوي دي په هغو کې دټولونه بهتر دور و، دحضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په دور خلافت کې چې څومره جګړې شوي دي اودمسلمانانو په خپل مینځ کې خانه جنګي وه(کلا وحاشا) چې دهغه الزام په هغوی راشي، معاذالله! په دې کې ددوی څه قصور اوکوتاهي نه وه. داخو داغیارو سازش و چې هغوی دفتنې اور دومره راوچت کړ چې بیا چا مړ کولی نه شو. (سانحه کربلا)

دحضرت معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حکومت دامن دورو:

دحضرت معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شل کاله حکومت دامن دور و، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم هلته و اوحضرت حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم لس کاله ژوندی و، په سنه ۴۱ هجري کې دا صلحه وشوه اوپه سنه ۵۱ هجري حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وفات شوی دی دهغه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وفات دزهرو په اثر باندې و، زهر چا ورکړل؟ولې یې ورکړل؟ دې تعلق دمعاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره ترڅو دقیاس نه دې پرې لرې خبره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ده هغه ته ضرورت څه و، چې حضرت حسن رضي الله عنه ته يې زهر ورکول ځکه چې دصلحې وروسته ددواړو قريبي او دوستانه تعلقات و. زهر ورکولونکي يوازې هغه سبايي ډله کيداى شي. چاچې حضرت حسن رضي الله عنه ته "عار المؤمنين" او "مذل المؤمنين" په څير اهانت اميز خطابات ورکړي و اوده ته يې مختلف اذيتونه او تکليفونه ورکړي و، ښکاره ده چې زهر ورکړل شوي و؛ نوهم دې ډلې به ورکړي وي (سانحه کربلا)

له دې وروسته راځي دامير يزيد دولې عهد په حيثيت نامزدګي اوبيا ددوى په دورحکومت کې راځي سانحه کربلا چې دردناکه هم ده او افسوس ناکه هم، چې هغه په تاريخ اسلام باندې ډېر ناخوشګواره اثرات پرېښې دي. (سانحه کربلا)

په تاريخ اسلام کې حضرت حسين عليه وعلى آبائه وأجداده الصّلوة والسّلام شخصيت چې کوم اثر لري هغه ډيبان محتاج نه دى. دخلفاوو راشدينو دعهد وروسته کومې واقعې چې داسلام ديني او سياسي اجتماعي تاريخ باندې دټولو نه زيات اثر پرېښى دى هغه دده دشهادت عظيمه واقعه ده. له څه مبالغې پرته ويل کيداى شي چې ددنيا په يوه المناکه او دردناکه واقعه باندې نسل انساني دومره اوښکې نه وې بيولې څومره چې په دې بهيدلي دي، په ١۴ سوه کاله کې ١۴ سوه محرمه تير شول اوهر محرم ددې حادثې ياد تازه کوي، حضرت حسين رضي الله عنه دوجود مبارکه نه چې څومره وينه په کربلاميدان کې تويه شوې وه دهغودپوې پوې قطرې په بدله کې دنيا دماتم او درد يو سمندر وبيا دانسانيت دمرګ په دروازې باندې معصوميت خاصه نبوت دى نبوت ختم شو؛ نو معصوميت هم ختم شوله نبوت وروسته د اجتهاد دروازه خلاصه ده دوحي اونبوت دروازه بنده ده اوترقيامته پورې به بنده وي.

تاريخ انساني باقي ټول دور داجتهاد دى اجتهاد کې مجتهد دخپل حد امکان پورې کوشش کوي چې دده رايه دقرآن اوسنت نه ماخوذ او مستنبط وي، خو هغه معصوم عن الخطاء نه دى په دې اجتهاد کې خطا هم کيداى شي. خوکه چېرته نيک نيتي سره خطا وي؛ نو زمور عقيده ده چې خطاکارمجتهد ته به هم الله تعالى ددې اجر اوثواب ورکوي اوکه چېرته يو مجتهد مصيب وي. يعني صحيح رايې ته ورسيد؛ نوده ته به دوچند اجر وروکول کيږي، حالانکې دشيعه مکتب فکر عقيده امامت دمعصوم ده هغوى خپل ائمه معصوم ګڼي اوهره عقيده معلوموي هغه کې دوى نه خطا ممکن نه ده، زمور په اعتبار سره خو داسې قسم امامت نبوت جوړ شي اوهر قسم نبوت مور په محمد ﷺ باندې ختم ګڼو.

داهل سنت موقف:

داهل سنت موقف دادى چې دخطا احتمال او امکان دهر صحابي نه کيداى شي، خو مور به دا خطا اجتهادي وګڼو. داپه نيک نيتي باندې محمول کړو، داخبره دهر صحابي متعلق ويل

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کیدای شي. داخبره او دا رایه نه یوازې دامیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ متعلق، بلکې دحضرت عمربن العاص. حضرت مغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې هم ویل کیدای شي اودحضرت علي. حضرت حسنین رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په باره کې تردې چې دحضرات شیخین اودحضرت عثمان ذوالنورین رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ په باره کې هم ویل کیدای شي

دابوخالد یزید بن معاویه ولي عهد:

دیزید دولي عهد باره کې دوه رایې ممکنې دي. حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته داخبره حضرت مغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ښودلې وه چې هغه یو انتهایي ذهین اوفهیم مدبر اوژور نظر ساتونکی صحابي ګڼل کیږي چې ګوره "چې دمسلمانانو خپل مینځ کې چې کومه وینه تویې شوه او پنځه کاله چې کوم جنګونو تیر شول داسې نه چې په دویم ځل بیاهمداسې حالات جوړ شي. لهذا دخپل جانشین داسلسله په خپله زندګي کې پوره کړه" حضرت مغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا رایه دځه لالچ یا چاپلوسي په خیال نه وه ورکړې، حضرت مغیره بن شعبه ضي الله عنه هغو صحابه وو کې شامل دی چا چې په حدیبیه کې دنبي اکرم ﷺ په لاس مبارکه باندې بیعت کړی و. هغه ته بیعت رضوان ویل کیږي اوپه دې بیعت باندې الله تعالی په سورة فتح کې خپله رضامندي ښکاره کړې ده دا صحابي داصحاب شجره نه دی، بیا دعلي کرم الله وجهه په دور کې دهغه حامیانو (Supporters) کې و اوپه هره مرحله کې یې دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرسته کړې ده. خو هغه دامت حالاتو ته کتل او ددوی خپل مینځ کې دخانه جنګي دوی ته ترځه او دردناکه تجربه شوې ده. لهذا په دې وخت کې دمغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ذهن کې دامت له پاره خبره راغله چې امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې خپل جانشین منتخب کړي

په دې وخت کې حقیقتا دامت مجموعي حالت دجمهوري او شورایي مزاج (Characte Republician) متحمل نه و، کوم چې محمد ﷺ پیدا کړی و، لهذا دحالاتو په کتوکې یو پوړی لاندې راکوزیدل پکار دي او فیصله کول پکار دي، مغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دلائلو سره امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې زور راوړو چې خپل جانشین منتخب کړاوهغه دي بیعت ولي عهد واخیستل شي او همده یزید نوم جانشین له پاره تجویز کړ، دلته داخبره ښې طریقې سره په ذهن کې اچول پکار دي چې ځوک هم په حضرت مغیره بن شعبهاو امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې دبدنیتي شک کوي دهغوی معامله به داهل سنت نه جدا شي. داهل سنت عقیده داده چې "اَلصَّحَابَةُ كُلُّهُم عدولٌ" دبدنیتي نسبت دوی ته مورِ نه شو کولی. کوم بنده چې دبدنیتي نسبت درسول الله صحابي ته کوي هغه چې هر ځوک وي، بهر حال هغه به داهل سنت والجماعته ځخه نه شمیرل کیږي، اوس دتصویر دویم روخ وګورئ، یعني دچا نیک نیتي چې دهري شعبي نه بالاتر ده هغوی دا محسوس کړل چې دا عمل داسلام

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دمزاج سره مناسبت نه لري په دي کې پنځه نومونه ډېر مشهور دي، حضرت عبدالله بن زبير، حضرت عبدالله بن عمر. عبدالله بن عباس. حضرت حسين او حضرت عبدالرحمن بن ابي بکر رَضِيَ اللهُ عَنهُمْ اَجْمَعِين دي پنځو کسانو دېزيد دولي عهد نه انکار وکړ له دي پنځو پرته دامت عظيم ترين اکثريت بيعت کړی دی. چې په هغوکې په ډېرشمير سره صحابه کرام هم شامل دي. کوم صحابه کرام چې هم دغه وخت کې موجود وو په هغوکې چې چا په ولي عهد باندې بيعت وکړ اوچاچې تري انکار وکړ ټول په نيک نيتي باندې وو. دټولو پيش نظر دامت مصلحت او خيرخواهي وه. حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنهُ چې کومه قرباني کړې وه هغه خو تر قيام قيامت په امت باندې يو عظيم احسان دی

داخبره هم پيش نظر ساتل پکار دي چې کوم نور مکتب فکر والا خلک دي هغوی حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنهُ هم امام معصوم ګڼي، لهذا دهغوی طرز عمل دخپلې عقيدې مطابق سل فيصده صحيح دی

دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنهُ موقف:

داهل سنت په دي معامله کې دا رايه ساتي چې پوره نيک نيتي سره حسين رَضِيَ اللهُ عَنهُ داګڼله چې داسلام شورايي او اسلامي، مزاج بدليږي که دحالاتو رخ مور تبديل نه کړو: نو هغه خالص اسلام کوم چې نبي کريم ﷺ راوړی و اوهغه کامل نظام کوم چې نبي کريم ﷺ قائم کړی و. په هغه کې به کوږوالی پيدا شي. لهذا دا په هر صورت کې بندول پکار دي، دا دده رايه وه او پوره نيک نيتي سره وه.

داهل کوفې اصرار:

دکوفې خلکو به مسلسل دده په لاس باندې بيعت کولو له پاره پيغامات راليږل اودکوفيانو دخطونو نه حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنهُ سره بوجې (بوری) ډکې شوې وې، داهم ذهن کې ساتئ چې کوفه يوازې يو ښار نه دی، بلکې ددې دسياسي اوفوجي حيثيت ډېر لوی اهميت و، لهذا ددوی دا سوچ و چې اهل کوفه په تعاون دوی دحالاتو مخ بل لوري ته اړولی شي چې په دي رايې کې عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ هم شامل و، چې دولي عهد چې کوم رسم شوی دی هغه داسلام دمزاج سره مطابقت نه لري، خوهغوی مخکې لاړ شي؛ نو اختلاف کوي دهغوی اختلاف داوو چې دکاميابي په احکاماتو کې هغوی کوفي والا بالکل بې اعتباره ګڼي، ښکاره خبره ده چې له يو کار نه مخکې خلک پوره جائزه اخلي چې دې اقدام له پاره چې کوم وسائل وذرائع ضروي وي هغه موجود دي اوکه نه، نبي کريم ﷺ اواهل ايمانو باندې قتال په مکه معظمه کې نه وو فرض شوی، بلکې په مدينه منوره کې شوی و، بلکې کله چې داسې حالات جوړ شول او دومره قوت پيدا شو چې دهغه له وجې دقتال ښه نتيجه راوخې؛ نو بيا

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فرض شو. دحضرت عباس رضی اللہ عنہ رایه مخلصانه وه چې کامیاب اقدام له پاره چې کوم اسباب پکار وي هغه په هغه وخت موجود نه دي، لهذا هغه حضرت حسین رضی اللہ عنہ کوفي والاوو دعوت قبلولونه اوهلته تلو نه په اسراراو سوال زاریو باندې منع کاو. خودحضرت حسین رضی اللہ عنہ رایه داوه چې دکوفي والا دعوت قبلول پکار دي ځکه که چیرته کوفي والا عظیم اکثریت دده مرسته وکړي؛ نو کومه تبدیلي چې په نظام کې راوستل کیږي دهغه ازاله کیدای شي. ځکه چې کوفه په دې اهم مقام باندې واقع ده دلته نه دهغه لارو کنټرول کیدای شي کومې چې ایران اوشام ته تللې دي. خو له دې رایې سره درې واړه عبادله: عبدالله بن زبیر، عبدالله بن عباس اوعبدالله بن عمر رضی اللہ عنہم اختلاف کاوو، دا اختلاف هم په بد نیتي باندې نه و. دوی درې واړو لاکه بار پوه کړل چې په کوفه والاوو باندې هیڅ کله اعتبار ر مه کوئ. داخلک کله هم داعتماد قابل نه دي هغوی چې څه ستاسو والد بزګوارسره څه کول هغه یاد کړه څه چې دوی دستاسو له ورور سره کړي و هغه پیش نظر ساته، داعین ممکن ده چې ددوی زړونه دستاسو سره وي، خو دهغوی توري په ستاسو په حمایت کې نه اوچتیږي، بلکه دلږ ویرې او دباو له وجې به ستاسو خلاف شي، خوحضرت حسین رضی اللہ عنہ یوه فیصله چې په هغه دوی کمال استقامت باندې ټینګ ولاړ و هغه هغه په دې معامله کې فرمان خداوندي" فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ " یعنې اول ښه غور وکړه. سوچ ته دامکاناتو جائزه واخله اوبیا په الله باندې یقین اوبیا اقدام کوه.

داهل سنت مسلک:

دحضرت حسین رضی اللہ عنہ اقدام اومشاورات صحابه وو رضی اللہ عنہم په ضمن کې په یو صحابي رسول ﷺ باندې بدنیتي اونفسانیت حکم لګولو باندې په ایمان کې خلل واقع کیدای شي، پرته له څه تخصیص نه ټول صحابه کرام ري الله عنهم عادلان دي، حضرت حسین رضی اللہ عنہ عزیمت اختیار کړ. دحضرت معاویه رضی اللہ عنہ داختیار وروسته کله چې دیزید دولي عهد مسئله په مدینه منوره کې راغله؛ نو حضرت عبدالله بن زبیر رضی اللہ عنہ له هغه ځایه مکې معظمې ته لاړ حضرت حسین رضی اللہ عنہ هم داسي وکړل، دځینو افرادو دا رایه وه چې مکه معظمه (Stronghold)، اواصل (Base) جوړول پکار دي اوددې ولي عهد خلاف رایه عامه هوارول پکار دي. په دې دوران کوفي والاوو حضرت حسین رضی اللہ عنہ ته خطونه راولیږل اوده ته یې دخپلې وفاداریې یقین ورکاو، حضرت حسین رضی اللہ عنہ دتحقیق حال له پاره دخپل تره زوی مسلم بن عقیل کوفي ته ولیږلو دهغه له طرفه هم حوصله افزاء اطلاعات راغلل. حضرت عبدالله بن عباس او حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہم دواړو دهر زیات پوه کړ چې دمکې معظمې نه مه وځه اوبیا دواړه حضرات ورته په ژړا شول هسې نه چې ځنګه

کفایت کتب خانه قبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

امیرالمؤمنین حضرت عثمان غني رضي الله عنه دخپل کور والاوو دسترګو مخکې ذبح کړل شو، داسې نه چې تاسو هم دستاسو دکور والاوو په مخکې ذبح کړي، ددې له پاسه حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ورته وفرمایل چې که خامخا ځي! نو خپل اهل اوعیال له ځان سره مه بیایه، خو نه! دویم لوري ته دعزیمت او دشجاعت یو لوی مثال دی، سرنه واخله تر پښو پورې استقامت په نیک نیتي سره یې چې کومه فیصله کړې ده په هغه باندې ټینګ ولاړ و، له دې وروسته کله چې په لاره کې دمسلم بن عقیل دشهادت خبرراغی اودکوفې والاوو دغدارۍ پته ولګیده اوحکومت وقت سره یې دوفاداریې عهد وکړ؛ نو حضرت حسین رضي الله عنه دسفر جاري ساتلو یا دواپس کیدو باره کې سوچ کاو چې دحضرت مسلم بن عقیل خاندان والا راپورته شول چې دوینې بدله وینه ده مونږ به ضرور بدله اخلو، حضرت حسین رضي الله عنه هم وفا وکړه اوورسره دتلو اراده یې وکړه، په دې وخت دحضرت جعفرین طیار رضي الله عنه زوی حضرت عون اوحضرت محمددهغوی پیغام راوړو چې "دخدای له پاره اخوا مه ځئ" حتی چې قافله دشت کربلا ته ورسیده، دلته له کوفې نه دګورنر ابن زیاد لښکر زرو افرادو باندې مشتمل راغی اودوی ته یوازې یو حکم و، چې حضرت حسین رضي الله عنه مخې ته دوه صورتونه وړاندې کړئ چې تاسو نه کوفې ته تلای شئ اونه مکې معظمې یا مدینې منورې لوري، ددې دوو اطرافو نه پرته کوم خوا چې غواړی تلا شئ، دادریمه لاره ددمشق وه حضرت حسین رضي الله عنه ددې اختیارولو نه انکار وکړ، اوس مزید خلور زره لښکر دعمروبن سعد په قیادت کې کوفې ته راورسید، داعمروبن سعد چې دهغه نوم سره کنځل ترل شوي دي، دا دفاتح ایران حضرت سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه چې دعشره مبشره له ډلې دی دهغه زوی دی چې هغه دحضرت حسین رضي الله عنه سره نزدې قرابت داري هم وه هغه به هم دمصالحت ډېر زیات کوشش کاو، اوس دحضرت حسین رضي الله عنه له لوري دري صورتونه وړاندې شول:

۱. یا دي ما مکې معظمې ته واپس پریږدي.

۲. یا دي ما اسلامي سرحداتو طرفته پریږدي.

۳. یا دي زما لاره پریږدي زه خپله دمشق کې دیزید سره معاهده کول غواړم، خواوس ګیره تنګه شوې ده اوصورت حال مکمل بدل شوی دی ددې اصل وجه څه ده؟ حضرت حسین رضي الله عنه په میدان کربلا کې دابن زیاد رالیږل شوي لښکر مخې ته چې کوم خطبات وویل په هغه کې دوی راز ښکاره کړ چې ما سره دکوفیانو خطونه دي دهغوی نومونه یې واخیستل چې دا ستاسو خطونه دي، خوهغوی سره دا ویره وه چې دمصالحت له وجې حکومت وقت له ددوی دغدارۍ پته ونه لګیږي، لهذا دوی عمربن سعد مجبوره کړ چې هغوی جنګ وکړي اوبه وسله باندې جنګ وشواوددوی جانثارو دخپلو خانونو نظراني وړاندې کړي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جان دی دی هوئی اسی کی تھی حق تو یه هے که حق ادا نه هوا

په بنکاره خو حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته شکست وشو. مگر فتح وشوه دحقیقت په اعتبار سره اوخپل مراد ته ورسیده

سبایي سازش:

وَر په چالاکي سره سازشیانو دا اختلاف شروع کړ هم دې دلي حضرت عمراو حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دخپلو سازشونو لاندې کړل، په هر یو صحابي رسول ﷺ باندې چې تنقید وي. که هغه حضرت علي، حضرت عمر، حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وي دوی ته به خوشالي حاصلیده. حالانکې تولو صحابه وو دحدیث په رنا کې ستوري، عادلان اوجانثار رسول ﷺ دي هیڅ بد نیتي په حضرت عثمان ، حضرت علي، حضرت معاویه، حضرت مغیره بن شعبه. حضرت عمروبن العاص، حضرت ابوموسی اشعري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِیْن کې نه وه اوحضرت حسین بن علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم مخلص و حضرت عبدالله بن عباس اوحضرت عبدالله بن عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم مخلصان وو، هوا سبایانوهره موقعه کې دمصالحت امکانات ختم کړل اومنافقانه وفادار جوړ شول او دوی یې وجنګول، په جنګ جمل کې هم دې سبایانو حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا اوحضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خپل مینځ کې وجنګول، خوله جنګ وروسته حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دحضرت عائشې صدیقې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره هغه سلوک شروع کړ کوم چې یو فرمانبردار زوی دخپلې مور سره کوي، همدې سبایانو رافضیانو دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره دمنافقانه وفادارۍ چال وچلاو اوکوفې ته یې وغوښت اوبیا یې دمصالحت ټول امکانات ختم اوخپل سازشونه یې وچلول اوبیا یې خپل انجام هم خراب او اخر یې هم برباد کړ، ترننه پورې چې څومره اختلاف راروان دی په دې باندې د شیطان دلي ته خوشالي پیدا شوي ده چا شمر پسې کنځل جوړ کړي دي څوک یزید او ابن زیاد اوعمروبن سعد ته په بد نظر ګوري اوځینې بدزبانه دامیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پسې بدرد ویلو باندې هم نه ځرمیږي مگر یو ګروه سازشي ده چې په بنکاره ژاړي، مگر په حقیقت کې خوشالیږي تقیه یې بهانه کړې ده.

فرزدق سره ملاقات:

دسفر په دوران دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دفرزدق شاعر سره په "صفا" مقام کې ملاقات وشو ده تري پوښتنه وکړه "ستا نه شا ته دخلکو څه حال دی؟" فرزدق جواب ورکړ "دهغوی زړونه ستاسو سره دي. مگر توري دښو امیه وو سره" په لاره کې حالات خراب شول، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره راتلونکي باندیچهانو چې دا واوریدل چې مسلم بن عقیل، هاني بن

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عروه او عبدالله بن بقطر شهید ان شول؛ نو دوی له لاري واپس شول چاچې دا ګنله چې هلته لاړ شو: نو مزې به وي دحلوا مجنونان وو دوينې ورکولو مجنونان نه وو، له دې وجې وتښتيدل.

دحربن يزيد راتګ:

د ابن زياد له لوري حربن يزيد زر فوجيان بوتلل او ګيره يې واچوله، ددوی شاته سره له فوجيانو يې لمونځ هم وکړ د دوی خطبات يې هم واوريدل دکوفې والاوو خطونه يې هم وکتل چې په هغه کې يې حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوفې ته غوښتی و، حر بن يزيد د حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دادب د هر زيات خيال وساته اوده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره يې له جنګه ځان وساته.

مقام بيضه باندې دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تاريخي خطبه:

اې خلکو! رسول الله ﷺ فرمايلي دي څوک چې داسې حاکم وګوري چې ظلم کوي، دالله تعالى قائم شوي حدود ماتوي، عهدالهي ماتوي، دسنت نبوي ﷺ مخالفت کوي، دالله په بنده ګانو باندې دګناه اوسرکشي حکومت کوي او په دې کتو باندې نه په عمل مخالفت کوي اونه دې قول؛ نو الله به داسې کس ته ښه ځای نه ورکوي، ګورئ داخلک دشيطان پيروکار جوړ شوي دي اود رحمن سرکشه شوي دي، فساد ظاهر دی، دالله تعالى حدود معطل دي، په مال غنيمت باندې ناجائزه قبضه ده، دالله حرام يې حلال او حلال يې حرام ګرځولي دي، زه ددوی داسرکشي په حق اوعدل باندې دبدلولو دتولو نه زيات حقداريم داستاسو خطونه اوقاصدان ماته پيغام بيعت راوړی او راغلي دي تاسو ماسره وعده کړې ده چې تاسو به ما سره بې وفايي نه کوئ. که تاسو په دې خپل بيعت باندې قائم ئ؛ نو دا تاسو له پاره دهدايت لاره ده، ځکه زه حسين بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وابن فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اودرسول الله ﷺ لمسی يم، زما ځان دستاسو ځان دی. زما بال بچ ستاسو بال بچ دي ماخپله نمونه جوړه کړئ اوله ما مخ مه اړوئ، خوکه تاسو داسي ونه کړئ، بلکې خپله وعده ماته کړئ اودخپل بيعت نه ځان وباسئ؛ نو داهم ستاسو نه لرې نه ده تاسو زما دپلار، ورور اودتره زوی مسلم سره داسې کړې و، هغوی دوکه خوړلې ده چاچې په تاسو يقين کړی دی، خوياد ساتئ تاسو به خپل نقصان وکړئ، تاسوخپله برخه ببيلوده، خپل قسمت يې برباد کړ چاچې وعده خلافي وکړه هغوی دخپل ځان خلاف بدعهدي کوي، څه دتعجب خبره نه ده الله تعالى به عنقريب ما ستاسو نه يې نيازه کړي دمعاملې چې کوم صورت جوړ شوی دی تاسويې خپله ګورئ، دنيا خپل رنګ بدل کړ اومخ يې واړوه. دنيکې نه خالي شوه لږ ذره اثر باقي دی سپکه زندګي پاتې شوه ويرې احاطه کړې ده افسوس ګورئ نه چې حق يې شاته غورځولی دی په باطل باندې کل عام عمل کيږي څوک هم نه شته چې دهغوی لاس ونيسي اوس وخت راغې چې مومن په حق لاره کې درضا الهي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خواهش وکړي خوزه دشهادت مرګ غواړم، ظالمانو سره ژوندی پاتې کیدل جرم دی په ځای ددي "انسانیت دمرګ په دروازې باندې"

دزهیر جواب:

زهیر بن القین چې واوریدل؛ نو دتعاون یقین یې ورکړ د حر دهمکې یې چې واوریده؛ نو حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ جواب ورکړ چې زه له مرګه نه ویریږم اودیو صحابي شعر یې ورته واوراو

سَأَمضِی وَمَا بِالمَوتِ عَارٌ عَلی الفَتیٰ إِذَا مَا نَوی حَقّاً وَجَاهدَ مُسلِماً

زه روانیږم اودبهادر له پاره مرګ ذلت نه دی کله چې دهغه نیت نیک وي اوهغه داسلام په لاره کې جهاد کوونکی وي

دځلورو کوفیا نوراتګ:

عذیب الهجانات نومي مقام باندې ځلور کوفیان ددوی دحمایت اشعار یې ویل او په اسونو باندې سواره راغلل راتلونکوکسانو نه دوی دخلکو دحالاتو باره کې پوښتنې وکړې هغوی جواب ورکړ دښار سردارانو ته رشوتونه ورکړل اوراوغوښتل شو دعوامو زړونه ستاسو سره دي. خودهغوی تورې به سبا ته ستاسو خلاف راوځي، داعوام ځوک وو هغه کوفیان ژوکوم چې اهل بیت نعري لګوونکي وو دلته ده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته دخپل قاصد متین بن مسهر دقتل خبراغی: نو ویې فرمایل: " فَمِنْهُمْ مَنْ قَضٰی نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَنْ یَّنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِیْلًا " (سورة احزاب: ۲۳).

ترجمه: ځینې په دوی کې چې مړه شوي دي اوځینې دمرګ انتظار کوي، مګر په حق باندې ثابت قدم دي. په دې کې یې هیڅ تبدیلي ونه کړه.

دطرماح بن عدي مشوره:

طرماح دحالاتو نزاکت وکوت اوده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته یې مشوره ورکړه چې کوفې ته لاړنه شي ما سره په "آجا" غر باندې لاړ شه هلته به دقبیله طی لس زره بهادر ستاسو مرسته وکړي، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په شکریه سره مشوره رد کړه

خوب:

قصر بني مقاتل نومي مقام باندې ده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته پرکالي راغله او خوب یې ولید، علي اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته یې وویل دپلار زویه! ماخوب وکوت چې یو سوارلي باندې سور انسان راروان وي اوداوایي خلک ځي اومرګ له هغوی سره ځي، علي اکبر وویل: مونږ په حق نه یو؟ ویې فرمایل:

کفایت کتب خانه ثیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

"بې شکه موږ په حق یو په دې یې بې اختیاره چغه کړه" که چیرته موږ په حق یو! نو بیا دمرګ څه پرواه نه ښته سهار دابن زیاد قاصد دحر په نوم باندې خط راوړو چې حضرت حسین رضی اللہ عنہ په شنه خمکه درنه کوز نه شي، زهیر ورته مشوره ورکړه چې دفرات په کناره مخامخ والا قلعه کې بندول پکار دي، دوی تري پوښتنه وکړه چې دهغه نوم څه دی؟ "زهیر ورته وویل "عقر" دعقر معناده بې میوې کیدل کښ کیدل" وې فرمایل: دعقر نه دالله پناه.

کربلا ته راتګ:

اخر یو ویران میدان ته راکوز شو اوپوښتنه یې وکړه چې ددې خمکې څه نوم دی! نو معلومه شوه چې (کربلا) وې فرمایل: دا کرب وبلا (درد وتکلیف) دی دامقام ددریاب نه لرې و داوقعه د ۲محرم الحرام ۶۱هجري ده په دویمه ورځ دعمرو بن سعد خلور زره لښکر راوست اوراغلل اودمعاملې یې دختمولو کوشش وکړ اوخبره یې څه حده پورې جوړه هم کړه، خو یزیدي لښکر تري دانا مسئله جوړه کړه اوسبایي و داهل بیتو دمحبت اواز اوچتونکي خلکو غداري وکړه اوپه عین موقعه باندې فرار شودبې وفایې دا عالم دی چې هغه دولس زره کوفیان کوم چې به دمسلم بن عقیل رضی اللہ عنہ سره هر وخت وو، دشپې تولو مسلم بن عقیل رضی اللہ عنہ تن تنهاء پریښودو او وتښتیدل. حضرت حسین رضی اللہ عنہ دابن زیاد دلښکرو ته تول راز ښکاره کړ اودکوفیانو او سبائیانو راز ښکاره شو چې دغه خلکو زه راوغوښتم اوددوی په وینا باندې زه راغلم، خواوس داتول غداراو بې وفا ثابت شول دوی حکومت وخت سره ملاو شوددې مطلب دا چې ددوی مقصد هم دا وو چې په مسلمانانو کې انتشار پیدا کړل شي اوجنګ شروع شي. نن یزید پسې بد رد ویل کیږي او دهغه ملګرو پسې هم بدرد ویل کیږي. مګر اصل سبائي شیعه سازش کارو ته څوک څه هم نه وایي، چې هغوی دیو لوی سازش اومنصوبې لاندې ده رضی اللہ عنہ راوغوښتل اومقام حرب کې یې اور ولګاو او خپله وتښتیدل؛ نو چیرته چې قتل حسین رضی اللہ عنہ اوقتل اصحاب حسین رضی اللہ عنہم کې یزید اوده فوج شامل دي هلته له دوی نه زیات په کې سبائي اوشیعه شامل دي، چاچې خپله هم دوکه ورکړه اوبې وفایې یې وکړه اوبیا دمصلحت تول صورتونه یې هم ختم کړل او اوس دمکر اوچالاکي ژړا هم دوی کوي خومره مکار و دوکه باز دښمن دی، دشاعر په قول:

کی مرے قتل کے بعد اس نے جفا سے توبہ	ہائے اس زود پشیماں کا پشیماں ہونا
وفادار بن کر تم اپنے منہ سے مجھے	یاد ہیں سب جفائیں تمہاری
الفت پہ جس کی ناز تھا وہ بے وفا ہوا	کیا اپنے دل میں سمجھے تھے ہم ہائے کیا ہوا

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یزید ته اخري وصیت:

دحضرت معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله اخري وخت راغی؛ نو هغه چې یزید ته کوم وصیتونه کړي وو هغوکې یو داهم و "بچیه حسین بن علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به اهل عراق ضرور ستا مقابلې ته راوباسي که تا پرې فتح ومونده؛ نو هغه هیڅ کله قتل نه کړې اودخپلوي ضرور خیال وساته" له دې وصیت نه ښکاره معلومه شوه که چېرته حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ له کوفې نه سمدلاسه دمشق نه تللی وای؛ نو دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ او دیزید معاملات به په ښه انداز اختتام ته رسیدلي و. هو! یزید ابن زیاد او ابن سعد ته هیڅ کله دقتل حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حکم نه وکړی، مګر سازشیانو وکتل چې حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله دمشق ته لاړ شي؛ نو زموږ سازش به ناکام شي. لهذا له دې وجې دوی داسې حالات جوړ کړل چې دمسلمانانو په مینځ کې جنګ وشو یهودي اوعیسایي کوشش کامیاب شواوددې سازش اله کار کوفي والا وو. کومو خلکو چې په ښکاره داهل بیتو دمحبت دعوداري کوله هغه په حقیقت کې دوکه بازان وو، حضرت معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دحضور ﷺ کاتب وحي و، دهغه دوست او اوښی و. یعنې دحضرت ام حبیبه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا ورور و اودنبي کریم ﷺ صحابي و، دده لمن بالکل پاکه اوصافه ده په هغه باندې لعن او سپکې خبرې کول دخپل ایمان بربادي ده.

داهل کوفې بې وفایي:

حضرت حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله وفات کیده؛ نو حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته یې وصیت کړی و چې "ته به هیڅ کله کوفي والا په فریب، چل کې نه راځې" حضرت حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ له مخکې دکوفي والاو سره واسطه راغلې وه هغه ددې خلکو په مکراوفریب باندې ښه پوه و، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ. خودا خیال وچې شاید داخل دوی بې وفایي ونه کړي اواعتماد یې پرې وکړ.

لئے وعدے ہزاروں ان سے ہم نے اس تمنا پر
کہ صدھا جھوٹ میں اک آدھا سچا ہو ہی جاتا ہے
مزے سے اپنے گھر بیٹھے ہوئے باتیں بناتے ہیں
قیامت ان کے وعدے ہیں نہ آتے ہیں نہ جاتے ہیں

دابن سعد دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره مذاکرات:

ابن سعد دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره له مذاکراتو وروسته دا وویل: "بې شکه تاسو دیزید په مقابله کې دخلافت زیات مستحق یئ، خوالله تعالی ته دامنظوره نه وه چې ستاسو په خاندان کې خلافت راشي، دحضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت حسن رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حالات ستاسو مخې ته تیر شوي دي، که چېرته تاسو دسلطنت اوخلافت خیال پریږدئ؛ نودهره اسانتیا باندې

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ازادیدای شئ. که داسې نه وې؛ نو تاسو ته خطره ده اومو خلک ستاسو په گرفتاریې باندې مامور یو " ددې په جواب حضرت حسین رضی الله عنه دې خبرې وړاندې کړې:

١ یا ما واپس مکې معظمې ته پریږدئ

٢ یا ما اسلامي سرحد طرفته پریږدئ

٣ یا مې یزید ته دمشق ته پریږدئ.

عمروبن سعد چې دا خبرې واوریدې؛ نو دا ټولې خبرې یې عبیدالله بن زیاد ته ولیکلې او وروپې لیږلې. ابن زیاد هم خوشاله شو چې له دې سره دفتني دروازه بندیدای شي، مګر شمرذي الجوشن مخالفت وکړ، ابن زیاد ورته بیا وویل چې حضرت حسین رضی الله عنه به اول دیزید بیعت نیابتا زما په لاس وکړي بیا به یې یزید ته پریږدو، ابن سعد دابن زیاد داخبره حضرت حسین رضی الله عنه ته وکړه. حضرت حسین رضی الله عنه وفرمایل چې له دې نه خو مرګ بهتر دی چې زه دابن زیاد په لاس باندې بیعت وکړم. دابن سعد پوره پوره کوشش و چې صلح وشي اومعامله حل شي. دوینې تویولو نوبت هم رانشي، په دې مذاکراتو کې یوه هفته ولګیده دواړه فوجونه یوې هفتې پورې میدان کربلا کې وو. دحضرت حسین رضی الله عنه ملګرو به دابن سعد لښکروسره لمونځ کاوو حضرت حسین رضی الله عنه به پخپله صفونه سیده کول.

بدسلوکی میں مزہ کیا ہے مزہ ہے اس میں که همارا تمهیں پاس تمهارا هم کو

ابن زیاد ته فکر دخپل حکومت دعهدې هغه دابن سعد په کوششونو سره خوشاله نه شوکه چیرته هغه راضي هم شو؛ نو شمر ذي الجوشن ابن زیاد ته غلطه مشوره ورکړه، حالانکې شمر ذي الجوشن هم دحضرت حسین رضی الله عنه خپلوان و، دشمر ذي الجوشن خورام البنین بنت حرام دحضرت علي رضی الله عنه ښځه وه چې له هغې نه دحضرت علي رضی الله عنه خلور زامن عبیدالله. جعفر. عثمان، عباس پیدا شوي وو، که چیرته شیعه ګانو دحضرت علي رضی الله عنه سره وفاداري کوله؛ نو ابن زیاد به هم په صلح باندې مجبوره شوی و اوهغه ته به هم دحضرت حسین رضی الله عنه سره دجنګیدو موقعه په لاس نه ورتله.

دابن زیاد حکم چې کارروایې سمدلاسه وکړئ:

ابن زیاد شمر ته حکم وکړ چې کارروایې سمدلاسه وکړي، حضرت حسین رضی الله عنه شمر ته وویل چې ایا تاسو دشپې دا جنګ تر سبا پورې خنډولی نه شئ؟ شمر چې دا واوریدل؛ نو فوج یې واپس کړ اودسبا کیدو یې انتظار وکړ دواړه لښکرې خپلو خپلو خیمو ته لاړل، ابن زیاد.ابن سعد اوشمر دریواړو په خپله خپله موقعه باندې دجنګ ختمولو کوشش وکړ معلومیږي داسې چې یو فریق داسې و چې مضبوطه فتنه وه اوداسې حالات یې پیدا کول چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جنګ دې ضرور وشي: نو دواړو طرفو ته دیزید ډله اوهغه ډله چې یقینا سبائي اوشیعه وو دواړه مجرمان او ملزمان دي اودواړه دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په قتل کې برابر شریک دي

اوبه يې بندې کړې:

ډشپې دابن زیاد له لوري حکم وشو چې په اوبو قبضه وکړئ اوحضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او په ملګرو يې اوبه بندې کړئ، ابن سعد عمروبن الحجاج ته يې پنځه سوه سواره فوجیان ورکړل اوپه ساحل فرات يې متعین کړ، اتفاقا حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په دې وخ اوبه نه وې ډکې کړې دشپې چې کله اوبو پسې لاړل؛ نو پته ولګیده چې دښمن په اوبو قبضه کړې، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپل درور عباس بن علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پنځوس کسان سړې اوبو پسې ولیږل، چې په زور اوبه راوړي. مګر هغو ظالمانو اوبه ورنه کړې اوتندې نوره هم زیاتیده. دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وړوکی زوی علي بن حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نارو غ اوپه خیمه کې پروت و.

سوز جگر کو دیده پرنم دیکھئے ان آفتوں کو دیکھئے اور هم کو دیکھئے
تاب وطاقت صبر وراحت جان ایمان عقل وهوش
هائے کیا کهئے که دل کے ساته کیا کیاجائے هے

ام کلثوم بنت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې کله دخپل درور حال اوددښمنانو ګیراو چې وکوت اوپه دې چې پوهه شوه چې دلته کوم افراد موجود دي سبا ته به دا ټول شهیدان وي؛ نو په دې دواړو په ډژړا شوه. حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خیمې ته لاړ اوويې ویل چې: دښمن نزدې دی هغوی به ډژړا اواز واوري او خوشاله به شي، له دې وجې تاسو ته صبر کول پکار دي اوبهر ته راغلی او ويې فرمایل چې: په رښتیا دا ډېره غټه غلطي وشوه چې ماشومان اوښځې مو له خان سره راوستي. په رښتیا ابن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سهې خبره کړې وه چې ماشومان او ښځې له خان سره مه بیایئ. له دې وروسته حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپل ټول ملګري راوغوښتل او ورته يې وفرمایل چې: دښمن یوازې زما وژل غواړي، که تاسو بیرته تګ غواړئ؛ نوټللئ شئ، ټولوملګرو ورته وویل چې: موږ تاسو هیڅ کله یواځې نه شو پریښودی، موږ ټول به په تاسو قربان شو. په دې شپه طرماح بن عدي راغلی اوحضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته يې وویل چې: تاسو یواځې ما سره لاړ شئ زه به تاسو په داسې لاره بوځم چې هیڅا ته به يې درک ونه لګیږي اوخپلې قبلې بني طی ته به دې بوځم او پنځه زره فوج به ستاسو خدمت کې وراندې کړم، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمایل چې: زه هیڅ کله خپل ملګري نه شم پریښودی، زه یواځې نه شم تلی. ملګرو ورته وویل چې: دښمن یوازې تاسو نه پریږدي تاسو لاړ شئ. مګر حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمایل چې: ملګرو او خپلوانو نه پرته'یو شی هم ښه نه لګیږي، لهذا دا کس يې په شکریه رخصت کړ، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره دخینو روایاتو مطابق(۷۲)، کسان وو او

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دخینو روایاتو مطابق (۱۴۰)، وو او دخینو روایاتو مطابق (۲۴۰)، وو، بهرحال (۱۰) محرّم باندې شمر ذي الجوشن او ابن سعد هغې خپلې لښکرې مخامخ راوستې. حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم خپل لښکر ترتیب کې کړ دزرګونو لښکر جرار مخې ته یو موتي خلکو به څه حیثیت لرلو

هو رهے هیں ظلم هفت افلاک کے امتحان هیں ایک مشت خاک کے

حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خپل ملګري په مناسب مقاماتو باندې اودرول او ضروري وصیتونه یې ورته وکړل او په خپل اوښ باندې سور اوکوفیانو ته یې خطبه وویله اوددوی ددوکې ذکر یې وکړ. دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خطبه ډېره زیاته پردرده وه، خوپه دوی یې هیڅ اثر ونه کړ، ده دیویو کوفي نوم واخیست او اواز یې وکړ چې اي ثبت بن ربیع، اي حجاج بن الحسن، اي قیس بن الاشعث. اي حر بن یزید تمیمي، اي فلانی وفلانیه تاسو ماته خطونه نه وو لیکلي اوزه مو په ډېر زور دلته نه وم راغونښتی، کله چې زه راغلم؛ نو اوس مې وژنئ ډېر افسوس په دې خبره چې کوفي ته مې راغونښتونکي خلک. اوس دیزید دفوج له لوري جنګیږي په دې کې دیو څو کسانو نومونه ده واخیستل. له دې صفا بنکاري کیږي چې قاتلین حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کې دیزید فوجیان او دکوفي غدار رافضیان دواړه شامل وو، دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خبرې چې یې واوریدې؛ نو دغوکسانو انکار وکړ چې ته خو موږ نه یې راغونښتی، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پوځو خطونه راواخیستل او مخې ته یې راوړل اوجدا جدا یې ولوستل، هغوی وویل که دا خطونه زموږ وي اوکه نه، خو اوس موږ دبیزاري اعلان کوو، دایې چې واوریدل؛ نوحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ مجبورا جنګ ته تیاراچانک دمخالف لښکر نه یو کس راوت او دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په لښکر کې شامل شو، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تري پوښتنه وکړه ته څوک یې هغه وویل: حربن یزید تمیمي به اوس ستاسو له لوري جنګیږي، ځکه چې اوسه پوري به ما ستاسو لاره بندوله دهغې تلافي کول غواړم ما له پاره دمغفرت دعا کوی. حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خوشاله شو اودعا یې وکړه.

ایں سعادت بزور بازو نیست تا نه بخشد خدائے بخشنده

شمر ذي الجوشن ابن سعد ته وویل چې: ناوخته کوه مه لومړی غشی ابن سعد وویشت لږ وخت دمبارزې یعنې یو په یو جګړه وه په دې کې زیاتر کوفیان مړه شول، بیا حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ له لوري ابي طالب تر اوسه پورې له میدان ته نه و راویستل شوي تر څو چې یو په یو قربان نه شو، بیا دمسلم بن عقیل زوی میدان ته راووت، بیا دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ زوی علي اکبر میدان ته راووت اوهغه هم شهید شو، بیا دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ زوی محمد قاسم میدان ته راغلی ډېر دښمنان یې مړه کړل اوهغه هم شهید شو، حضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خپلو سترګو خپل ملګري شهیدان کیدل ولیدل، دحضرت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خویندو او

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لونږ هم دا دردناک منظر وکوت. اخر حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بوازي پاتې شو په خيمو کې بوازي بنځې او وړوکی ماشوم زين العابدين پاتې شو

دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت:

حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يوازې پاتې کيدو وروسته چې کومه دبهادري اوجرات مظاهره وکړه، هغه بې مثاله ده. وايې چې پخپله شعر ذي الجوشن وابن سعد هم دا ويل چې مونږ تر نه پورې داسې بهادر اوجراتي انسان نه دی ليدلی. دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وجود باندې پنځه څلوېښت زخمونه و دازخمونه دغشو و. دیو روايت مطابق ۳۳، زخمونه دغشوو او ۴۳، زخمونه د تورو و. مګر دهغه باوجود حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ برابر مقابله کوله. په اوله په اس سوراوجنګيده. مګر کله چې اس شهيد شو؛ نو بيا پياده جنګيده. په مقابله کې هر سړي نږدې کوله هسې نه چې حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زمونږ له لاسه شهيد شي. اخر دشمر ذي الجوشن بدبختي وه چې شېږ کسان يې خان سره او حمله يې وکړه په دوی کې يو کس داسې وار وکړ چې دحضرت لاس کټ شو، حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم بيرته او وار يې کاو. خو نبي لاس کې يې زخم و، توره يې نه شوه پورته کولی. دشاله لوری سنان بن انس نخعي ظالم دنيزې وار وکړ چې هغه تري يو خوا بل خوا ووته، کله چې يې نيزه تري بيرته راښکله؛ نو له هغه سره يې روح هم داجل داعي ته لبيک وويايه إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ له دې وروسته يو کم بخت دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر مبارکه له وجود نه بيل کړ. دځينو تاريخونو باوجود دوی په لاشونو باندې اسونه وګرځول شول، يوظالم ماشوم حضرت زين العابدين هم شهيدکول غوښتل، مګر ابن سعد منع کړ، داهل بيتو او دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر مبارک ابن زياد ته دکوفې دربار ته وليږل شو، په کوفه کې يې تشهير وکړ

تيرے نثارم مشق ستم میں کمی نه کر اتنے تو داغ ہو که گلستان کہیں جسے

ابن زياد دربار چوړ اوپه يو مجمعه کې يې دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر مبارک کينږودو دربارياتو وکوت او دوی ګستاخانه کلمات وويل. بيا په دريمه ورځ يې شمر ذي الجوشن ته فوجيان ورکړل اودوی په نګراني کې يې دا قيديان او سر دمشق ته يزيد ته روان کړ، علي بن حسين يعني زين العابدين اوتولې بنځې داهل بيتو چې کله يزيد ته ورسيدې اودحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر يې وکوت؛ نو په دربار کې په ژړا شو اوعبيد الله بن زياد ته يې کنځل شروع کړل او ويې ويل چې دسميه زوی ته ما کله حکم ورکړی و چې حسين بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهيدکړه بيا يې شمر ذي الجوشن او دربارياتو ته مخ ورواړ او ويې ويل چې: زه خو ستاسو نه هسې هم خوشاله وم تاسو حسين بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولې شهيدکړ شمر ذي الجوشن او ملګري يې په دې طمع وو چې يزيد به مونږ ته انعام راکړي اوزمونږ عزت به زيات شي، مګر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

يزيد هيڅ انعام ورنه کړ اوده خپلې ناراضګي او خفګان اظهار يې وکړ اوتول يې واپس کړل بيا يې دربارياني ته مخ ورواړ او ويې ويل چې دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مور يې بي زما دمور نه بهتره وه ددوی نيکه رسول الله ﷺ دتولو رسولانو نه بهتر اوداولاد ادم سردار دی، خوده، دپلار علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او زما دپلار په مينځ کې جګړه وشوه حضرت علي او حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ويل چې دچا پلار نيکه بهتر وي هغه دخلافت حقدار دي، خودقرآن کريم په دې ايت دوی غور نه وکړئ قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ. (سورة ال عمران: ۲۶)

اخرکار تولو ته معلومه شوه چې الله تعالی زموږ په حق کې فيصله ليکلې وه که دوی په حق کې. له دې وروسته يې اسيران آزاد کړل او دمعزز ميلمنو په ډول يې خپل محل کې وساتل، بنځې دننه بنځو لوري ته لاړې؛ نو دوی وکتل چې ديزيد په محل سرا کې هم غوغا او ژړا ده خه رنګه چې دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خور په خپل ورور ژاړي همدغه راز ديزيد دوی بنځو هم ژړل يو خو ورځې دا ميلمانه شاهي مهمان خانه کې وو، له دې وروسته مدينې منورې ته راستانه شول. يزيد له دوی سره هر قسم مالي مدد وکړ اوعلي بن حسين زين العابدين سره يې دهر قسمه مدد وعده وکړه چې کله ته خه هم وليکې؛ نو ستاسو دحکم تعميل به کيږي (تاريخ اسلام مولانا اکبر شاه خان نجيب ابادي)

دعبيدالله بن زياد حشر اومايوسي:

دابن زياد دا اميد و چې زما به دېره زياته قدرداني وشي، انعامات او اکرامات به راکړل شي، مګر يزيد دانعام په ځای التــه يې بسه کړ اومسلم بن زياد يې دخراسان حاکم مقرر کړ اودايران هغه صوبې چې تعلق يې دبصرې سره ساته دمسلم ماتحت يې کړې او يو خط يې ابن زياد په نوم وليکه چې له تا سره دعراق کوم فوج دی يه هغوکې کوم شپږ زره(۶۰۰۰) فوج چې مسلم غواړي ده ته يې وسپاره، ابن زياد مايوسه او پريشانه شو او دحسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شهادت يې افسوس شروع کړ. که چېرته حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ژوندی وای؛ نو يزيد به زما قدر کاو، اوس خو هغه يې فکره شو. مسلم دلښکر دسردارانونه پوښتنه وکړه چې څوک څوک ما سره خې؟ نو هر يو دمسلم سره دتلو اراده وکړه ابن زياد نور هم پريشانه شو او ويې ويل چې: تاسو مسلم ته په ما باندې ترجيح ورکوئ؛ نو فوج ورته جواب ورکړ چې ستا دقومندې لاندې خوزمورږ لاسونه داهل بيتو په وينو باندې رنګ شول او مسلم سره تلو کې به مورږ دترکو اومغلو خلاف دجهاد موقعه پيدا کيږي په بله ورځ مسلم شپږ زره فوج روان کړو او له کوفې نه خراسان لوري ته لاړو او ابن زياد ته دواقعه کربلا وروسته افسوس اوخفګان نه پرته هيڅ په لاس نه ورتلل، داحشر دکوفيانو او شيعان علي هم شو چې همېشه له پاره ژړا او خان وهل دهغوی مقدر شو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ک میرے قتل کے بعد اس نے جفا سے توبه هائے اس زود پشیمان کا پیشمان هونا
هر آنکه تخم بدی کشت و چشم نیکی داشت دماغ بیهوده، پخت و خیال باطل بست

دکوفي درافضیا نوباره کې د حضرت ابن زبیر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رایه:

کله چې د حضرت حسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دشهادت خبر حضرت عبدالله بن زبیر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه مکې معظمې ته ورسیده؛ نو هغه تقریر وکړ. اې خلکو! دعراق له خلکو نه به بدترین خلک تاسو ته پیدا نه شي اوبیا عراقیانو کې له ټولو نه بدتره کوفیان دي چې هغوی بار بار حضرت حسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته خطونه راولیږل اوپه زور یې مجبور کړ اور ویې غوښت اوهغوی دخلافت له پاره بیعت وکړ. خوکله چې ابن زیاد کوفې ته راغی؛ نوددې نه راتاو شو اوامام حضرت حسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې لمونځ کوونکی، روژه دار او قرآن خوان و او په هر صورت دخلافت حقدار و، شهید یې کړ اولږ یې هم دالله تعالی ویره ونه کړه. (تاریخ اسلام نجیب ابادي)

تم انسان کو قتل کر آئے هو مجھ سے ٹوٹا هوا پته بھی نه دیکھا

دحضرت زینب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بې چینې او صبر:

دحضرت زین العابدین نه روایت دی چې دکومې شپې په سبا زما والد صاحب شهید شو زه ناست وم زما ترور زما تیمار داري کوله، اچانک زما پلار خیمه کې خپل ملګري راوغوښتل په دغه خیمه کې دحضرت ابوذر غفاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ غلام زوز توره صفا کوله اوزما پلار دغم اشعار وویل زما زړه راډک شو، اوښکې مې راغلې، خوما خپلې اوښکې بندې کړې. زه پوه شوم چې دا مصیبت ختمیدو والا نه دی، زما ترور راغله اوهغه هم په ژړا شوه، حضرت حسین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې وکتل؛ نو ویې فرمایل "اې خور دا څه حالت دی هسې نه چې نفس شیطان اوبې صبري زمونږ ایمان واستقامت باندې غالب راشي" هغې په ژړا کې وویل چې ولې به نه ژاړم چې تاسو به شهیدان کیږئ، ویې فرمایل دا خو دالله رضا وه دالله نه ویریږه اوصبر وکړه. مرګ به هر انسان ته راځي اسمان والا به هم همیشه له پاره نه وي هرشی فنا کیدونکی دی. بیا له مرګ نه دومره ویره ولې دومره خفګان او بې قراري ولې، دحضور ﷺ زندګي زمونږ له پاره نمونه ده چې کله هغه دنیا کې پاتې نه شو؛ نو څوک به پاتې شي، دهغه اسوه حسنه هر وخت مونږ ته دصبر، ثبات، توکل او رضا تعلیم راکوي مونږ ته پکار دي چې په هیڅ حال کې له هغه نه انحراف ونه کړو.

گذرے تو ہنستے شہر کو نمناک کر گئے
جھونکے ھوائے شب کے بڑے درد مند تھے
کسی انجمن میں قرار دل نہ کسی چمن میں بہار دل
کہوں کس سے حال زار دل کہ ہر جگہ پہ اداس ہے

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

توله شپه يې دالله په عبادت تيره کړه:

حضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ اوده جانثار ملګرو توله شپه په عبادت او دعاګانو کې تيره کړه.

پهنچا هے مجھ کو بھی اس بے نشان تک پته لوګ جس کا دئيے جارهے هيں

دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ سر مبارکه دابن زياد مخې ته:

دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ سر مبارک چې کله ابن زياد ته کوفه کې مخې ته کيښودل شو، دابن زياد په لاس کې کونتی (لکړه) وه، په هغې يې دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ شوندې ووهلې. هلته موجود صحابي حضرت زيد ابن ارقم رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ په چغه شو "ددې شوندو نه کونتی لیرې کړه په خدای مې دې قسم وي چې ما رسول الله ﷺ ليدلی و چې داشوندې به يې ښکلولې" دابې وويل او په چغو چغو يې وژړل، ابن زياد خفه شو او ويې ويل: که چېرته بوډا نه وای؛ نو اوس به مې ستا سر قلم کړی و، حضرت زيد ابن ارقم رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ دمجلس نه پورته اودابې وويل: اې دعربو خلکو! تاسو غلامان شوئ، تاسو ابن فاطمه رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ شهيد کړ، ابن مرجانه (عبيدالله) مو حاکم جوړ کړ، چې ستاسو نيکان خلک شهيدانوي اوشرير خلک درنه غلامان کوي. تاسو ذلت خوښ کړ، الله دې هغوی و وهي څوک چې ذلت خوښوي.

يزيد په ژړا شو:

کله چې يزيد ته دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ سر مبارک ورسيد؛ نو په ژړا شو چې دحسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ دشهادت نه پرته هم زه ستاسو نه خوشالیدای شوم، ابن سميه (ابن زياد) باندې دې دالله لعنت وي. په الله مې دې قسم وي، که زه هلته وای؛ نو ما به دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ ته معافي کړې وه. الله دې حضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ وبښي! قاصد ته يزيد هيڅ انعام ورنه کړ.

ديزيد تاثر:

ديزيد غلام قاسم بن عبدالرحمٰن راوي دی چې دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ اوداهل بيتوسرونه چې کله ديزيد مخې ته کيښودل شول؛ نو هغه يو شعر ووايه اوويې ويل:

والله! اې حسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ که هلته موجود وای؛ نو ما به هيڅ کله نه وې شهيد کړی "محضر بن ثعلبه او شمر ذي الجوشن يې سېک کړل او ويې ويل: چې دمحضر دمور نه زيات چا دومره کمينه بچی نه دی پيدا کړی.

دم آخر میری باليں پہ آؤگے میاں صاحب جو در آنسو بہاؤ گے کیا

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اهل بيت دمشق كې:

دال رسول او جانثارو وړه قافله چې کله دمشق ته راورسيده دهغوی هيئت خرابيدو، پريشان حاله وو. يزيد وکتل او خفه شو او ويې ويل چې: الله دې دابن مرجانه بد وکړي که چېرته تاسو کې دهغه څه خپلوي وای؛ نو بيا به يې داسې نه کول، دحضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اوديزيد په مينځ کې مکالمه وشوه حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ښه حق واوراو، يزيد دخپلو مشرانو سره مشوره وکړه چې څه وکړو چا ويل سختي پکار ده او چا څه ويل. خونعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل "له دوی سره هغه څه وکړه کوم چې دې حال کې رسول الله ﷺ کتلي وي او کړي يې وي" حضرت فاطمه بنت حسين وويل چې: "اې يزيد (درسُول الله ﷺ لونه دي)" ديزيد مشيرانو چې دا واوريدل؛ نو په ژړا شو ديزيد ښځې بهر سر راووېست او ويې ويل چې: دحسين بنت رسول سر راغلی دی يزيد وويل هو "ته پرې ښه ژړا وکړه، درسول الله ﷺ په لمسيو دقريش په اصيلو خلکو ښه ماتم وکړه، ابن زياد ډېره جلدي وکړه چې الله دې دوی هم قتل کړي. له دې وروسته يزيد وويل چې: حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا سوچ کړی و چې زما پلار ديزيد له پلار نه بهتر دی او زما نيکه ديزيد له نيکه نه بهتر دی، زما مور ديزيد دمور نه بهتره ده. له دې وجې خلافت او حکومت زموږه حق دی حالانکې الله تعالى فرمايي:

اللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ ... دپاچاهانو پاچا چې چا ته وغواړي حکومت ورکوي

ديزيد دتلافي کوشش:

کله چې يزيد کور ته راغی؛ نوفاطمه بنت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترې پوښتنه وکړه چې: اې يزيد! ايا درسول الله ﷺ لونه وينځې شوې؟ يزيد جواب ورکړ " اې زما دوورور لور داسې ولې وشول" فاطمه جواب ورکړ په الله قسم چې زموږ غوږونو کې يوه والی هم نه ده پرېښودل شوې، يزيد وويل "ستاسو خلکو چې څومره تاوان وشو له هغونه به زيات زه درکړم" لهذا يزيد په ډېر عزت او احترام سره اهل بيت ميلمانه کړل اوتحفې تحائف يې هم ورکړل اومدينې منورې ته يې راستانه کړل. مدينې ته چې کله دا قافله ورسيده؛ نو يوه غوغا جوړه شوه، يزيد به بيا وروسته ويل څه به شوي و که ما لږ تکليف کړی و اوحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وای شهيد شوی. اگر چې زما په قوت کې به لږ کمی راغلی و، خو درسول الله ﷺ خپلوي حق به ادا شوی و. لعنت دې وي په ابن زياد باندې چې حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې جنګ باندې مجبوره کړ. دحسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شهادت باندې يې زه په مسلمانانو کې مبغوضه کړم، که زه هلته موجود وم؛ نو هر ممکن کوشش به مې کړی و او دوی به مې بچ کړي وو. که زما دخپل زوی سر په کې ولې نه تلو، حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ولې تلو کله يو ناشکره انسان ديزيد نه

کفایت گنجینه رحمانیه به ویل شوی
https://t.me/kafayat2395

زيات ښه سلوک کولو والا نه دی ليدلی" يو شاعر دغم حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې څه ښه ويلې دي

مَا ذَا تَقُولُونَ اَن قَالَ النَّبِی لَکُم مَا ذَا فَعَلتُم وَاَنتُم آخِرُ الاُمَم

څه به وايي چې نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړي چې تاسو څه وکړل له تولو نه اخري امته

بِعُترَتِی وَ بِاَهلِی بَعدَ مُنقَلِبِی مِنهم اُسَارَیٰ وَمِنهم ضُرِّجُوا بِدَمِ

تاسو زما داولاد اوخاندان سره زما نه وروسته څه وکړل چې په دې کې ځينې اسيران دي اوځينې په وينو کې لت پت پراته.

اَلَم تَرَ اَنَّ الاَرضَ اَصبَحَت مَرِیضَة بِقَتلِ حُسینٍ وَالبِلَادُ اِقشَعَرَّت

ايا تاسو نه گورئ چې څمکه غم حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې ناروغه ده اودنيا ويريږي.

وَقَد اَصحَبَت تبکی السَّمآء مَفقِدُه وَاَنجُمَها نَاحَت عَلَیه وسلمت

اسمان هم ددوی په جدايي باندې ژاړي، ستورې پرې هم ماتم کوي اوسلامونه راليږي.

بنا کردند خوش رسمے بخاک وخون غلطیدن خدا رحمت کند ایں عاشقان پاک طینت را

الله دې ددين حق له خاطره مورِ ته توفيق راکړي، آمين برحمتک يا ارحم الراحمين!

يزيد ته کافر ويل:

يزيد ته کافر ويل غلط دي. يو مسلمان ته کافر ويل سهي نه دي، يزيد مؤمن و دقتل له وجې فاسق شو دکفر حال يې معلوم نه دی کافر ويل ورته جائز نه دي، ځکه دهغه عقيده په زړه باندې انحصار ساتي (فتاوا رشيديه)

په يو بل ځای کې فرمايي په حديث کې دي چې کله يو بنده په بل باندې لعنت وايي، که دغه بنده دلعنت قابل وي؛ نو لعنت دهغه له پاسه راپريوځي، ګڼي لعنت ويونکي باندې بيرته راځي. لهذا تر څو چې دچا په کفر باندې مرګ ثابت نه شي په هغه باندې لعنت نه دي کول پکار ځکه چې په خپل ځان دبيرته راتګ کيدو خطره ده، مورِ مقلدينو ته احتياط په خاموشي کې دی. ځکه که لعنت جائز وي؛ نو لعنت کولو کې څه حرج نه شته، لعنت کول نه فرض، نه سنت اونه مستحب دي. بلکې محض مباح دي اوکله چې دهغه له پاره محل نه وي؛ نو بيا خپله په ګناه کې اخته کيدل ښه نه دي. (فتاوا رشيديه)

ځمکې اوزما نې ته بدويل:

ځينې مرثيه ويوونکي دحضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دشهادت بيانولو په وخت داسې اشعار وايي چې په هغه کې يې ويلي وي چې په زمانه کې اسمان داسې ظلم وکړ، ځمکې ولې

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ونه کړل. یاد ساتل پکار دي چې خمکې او زماني ته بد ویل غلط دي، خکه چې خمکه اسمان او زمانه خه کولی شی چې حوادثات مور دوی لوري ته منسوب کوو، څه هم چې کیږي دالله تعالی له لوري کیږي، خمکه، اسمان اوزماني ته دالله تعالی به کارونو کې هیڅ مداخلت نه شته. خمکه و اسمان ته بد ویل ګمراهي ده، الله تعالی دي مور ته دشریعت مطابق د عقائدو سهي ساتلو توفیق راکړي!

د محرم الحرام دمیاشتې دریمه خطبه

دحضوراکرم ﷺ پیغام اوهدایت:

۱۵ محرم الحرام باندې جناب رسول کریم ﷺ فتح خیبرته روان شو اوله دې وروسته یې دمدینې منورې نه ددنیا مختلفو بادشاهانو ته خطونه ولیږل، په دې بادشاهانو کې د روم، فارس، مصر اوداسې نور..... بادشاهان شامل وو، نبي کریم ﷺ تولې دنیاته ترقیامت پورې پیغمبر دی. کومو خلکو چې دده په پیغام، هدایت باندې لبیک ووایه هغه کسان کامیاب دي. چاچې انکار وکړ هغوی تباه اوبربادشول، ددې مناسبت له وجې دا مضمون (پیغام اوهدایت) په عنوان باندې دی، دحضور ﷺ پیغام عالمي پیغام دی، خکه چې دی عالمي پیغمبر دی. لکه څنګه چې په دې ایت کې دخدای اعلان دی:

قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ. (سورة اعراف: ۱۵۸)

ترجمه: ووایه چې اي خلکو! زه دخدای رسول یم، تاسوټولوته رالیږل شوی یم، دهغه خدای چې داسمانونو اوځمکې مالک دی، له هغه پرته بل معبودنه شته، هم هغه ژوندي کول اومړه کول کوي: نوتاسوټول ایمان راوړئ په الله اودهغه په رسول، چې نبي امي دی، داسې نبي چې په الله اودهغه په کلام باندې ایمان لري، دهغه تابعداري وکړئ، تاسو به سمه لار ومومئ.

اتر کر حرا سے سوئے قوم آیا اور اک نسخہ کیمیا ساتھ لایا

چے غم دیوار امت را کہ دارد چون تو پشق ہاں

چے باک ازموج بحر آں راکہ باشد نوح کشتی باں (شیخ سعدي)

حضور اکرم ﷺ عالمي نبي دی، ده دنیا ته دهدایت لاره وښوده، له هلاکت نه یې بچ کړل، ناکامي نه یې بچ کړل. دده دنیا ته راتلو نه مخکې دنیا هلاکت ته رسیدلې وه، پورته ذکر وي ایت کې دنبي اکرم ﷺ دعالمي نبوت دالله تعالی له لوري اعلان دی، په نبي اکرم ﷺ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دالله تعالى دېر لوى انعامات دي، په دې انعاماتو کې يو لوى انعام داهم دى چې دختم نبوت تاج يې دده په سر مبارک باندې کېښود

په اتقان سيوطي کې دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حواله دي

ان جبريل نزل على ادم اثنى عشرة و على ادريس اربع مرات و على نوح خمسين مرة و على ابراهيم اثنين واربعين مرة و على موسى اربع مائة و على عيسى ثلاث عشر مرة و على النبي صلى الله عليه وسلم اربعة وعشرين الف مرة. (اتقان للسيوطي)

حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام باندې جبريل امين دولس خله رانازل شو، حضرت ادريس عَلَيْهِ السَّلَام نه خلور خله راغى. حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام نه دوه خلوېښت خله راغى، حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام نه خلور خله راغى. حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام نه دياړلس خله راغى اوحضور ﷺ نه خلېرېشت زره ٢٤٠٠٠، خلې راغى. سبحان الله څه شان دى دنبي کريم ﷺ، خوافسوس زمونږ په دې حال چې دداسې نبي امتيان يو اوبيا هم دهغه ﷺ نافرماني کوو، اصل زمونږ په زړونو کې دالله تعالى عظمت او محبت نه شته، که په سهي معنا سره عظمت او محبت و؛ نو دهغه دنبي فداء امي وابي به هم عظمت او محبت و. دالله تعالى دعظمت او محبت اندازه دحضرت ايوب عَلَيْهِ السَّلَام ذات نه ولګوى چې ده دالله تعالى سره څومره محبت و. معالم التنزيل کې دي:

رَوَى ابنِ شَهَابٍ عَن اَنَسٍ عَنِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم اَنَّ اَيوبَ لَبِثَ فِي بَلَاءِ ثُمَّ ثَمَانِي عَشَرَ سَنَة (معالم التنزيل)

ترجمه: حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راويت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: حضرت ايوب عَلَيْهِ السَّلَام اتلس کاله مصبت کې و چې په وجود کې يې چينجي وشو، حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ٧ کاله دبني اسرائيلو دنجاست په ځاى باندې پروت و،

خويو وخت هم دالله تعالى له ذکر غافله نه و اوداسې زور سره به يې ذکر کاو چې فرښتې به تعجب کې شوې کله چې اتلس کاله وروسته مکمل تندرست شو؛ نو الله تعالى دمخکې نه زيات مال، دولت، اهل اوعيال ورکړل.

وَوَهَبْنَا لَهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ رَحْمَةً مِنَّا وَذِكْرَى لِأُولِي الْأَلْبَابِ (سورة ص: ٤٣)

اومونږ حضرت ايوب عَلَيْهِ السَّلَام ته مال اولاد دوچند ورکړ په خپل رحمت سره ددې له پاره چې عقلمند نصيحت حاصل کړي، حضرت ايوب عَلَيْهِ السَّلَام له تندرستي (جوړښت) وروسته خپله تيره شوې ناروغي يادوله اوژړل يه يې، چا ترې پوښتنه وکړه چې تاسو هغه ناروغي يادوئ! نو ولې ژاړئ؟ وې فرمايل: هغه داسې ناروغي وه چې په هغه زر صحتياوې قربان کړل شې، خکه چې په هغه وخت کې به روزانه الله تعالى زما ناروغ پرسي کوله او فرمايل به يې: ايوب ستا څه حال دى، اې خلکو! په دې ياد کې دومره مزه وه چې دناروغي تکليف به هير و، مګر

کفايت کتب خانه ټيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

افسوس چې کله صحتمند شوی یم، اوس دالله تعالی هغه سلام نه راځي، کاش! هغه نارغې به دویم خل راشي.

افسر وختن و سوختن وجامه دریدن پرواز زمن شمع زمن گل زمن آموخت (روي)

ن مورِ مسلمانان یو معمولي نارغې او نقصان نه پریشانه شو په خای ددې چې الله تعالی ته نزدې شو مورِ نور هم غافله شو، کله چې مورِ درسول الله ﷺ راوړل شوي پیغام باندې عمل وکړو: نو دنیاوي ترقي به هم وي اواخروي کامیابي به هم وي، دحضور ﷺ په راوړل شوي دین کې ددنیا و اخرت فلاح اوکامیابیاني موجودي دي.

هم تو مائل به کرم هیں کوئی سائل ہی نہیں راہ دکھلائیں گے کوئی رہرو منزل ہی نہیں

دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دتوحید پیغام سره دنیا کې انقلاب:

دوستانو بزرګانو! حضورپرنور، سورکونین ﷺ کله چې دتوحید دعوت ورکړ؛ نو نه یوازې ددنیا په ایوانونو کې زلزله راغله، بلکې خفیه مخلوق جناتو کې هم غوغا راغله، په تاریخ الخمیس کې دعبدالله ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په حواله دي:

عن ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قال: لمابعث الله محمدا صلى الله عليه وسلم زجرالشياطين ورموا بالكواكب وكانوا قبل يستمعون لكل قبيلة من الجن مقعدبستمعون فيه وقال ابليس هذا امرحدث في الارض ائتوني من كل ارض بتربة فكان تُؤتى بالتربة فيشمهاويلقهاحتى بتربة تهامة نشمهاوقال هناالحدث. (تاریخ الخمیس بروایت ابن عباس رضي الله عنه)

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي کله چې: نبي کریم ﷺ ته نبوت ورکړل شو اود توحید دعوت یې ورکړ؛ نو شیطانانو اوجناتو ته رټنه (سپکه) وشوه اودواړو په شغلو وویشتل شول، هغوی اسمان ته نزدې تګ نه منع شول، له ددې مخکې شیطانانو او جناتو خپل خایونه جوړ کړي وو. هلته به لاړل اواسمان کې به یې دفرښتو خبرې اوریدې اوبیا به یې له دې خبرو سره دېرې خبرې له خانه شاملې کړې، کاهنانو او نجومیانو ته به یې راوړې، هغه خبرې به کاهنانو نورو خلکو ته کولې. له دې وجې دځینې غیبو خبرو چرچې به په خمکه وشوې، کله چې نبي مکرم ﷺ مبعوث شو؛ نو شیاطین اوجنات په اسمان بند شول، بیا خه مجال چې دوی بره تللې وای اوکه څوک به لاړل؛ نو له اسمان نه پرې داور ګولی وورول شوې، یوه ورځ ټول شیطانان اوجنات لوی شیطان ابلیس ته راټول شول اوپوښتنه یې تري وکړه چې دا خه وجه ده چې اوس مورِ داسمان طرفته نه شو تللی، ابلیس وویل خامخا خه نوې حادثه په خمکه شوې ده له دې وجې تاسو داسمان نه منع شوي یئ، تاسو دخمکه دیو یو کلي او بنار نه یو موتی خاوره راټوله کړئ اوما ته یې راوړئ دې له یاره وجې زه تاسو ته ووایم چې کوم خای کې نوي

کفایت المفتی خادم تبلیغ کرام چینل
https://t.me/kafayat2395

واقعه شوې ده. دا يې چې واوريدل؛ نو ټولو جناتو او شياطانانو خاوره راجمع کول شروع کړل. هغه به دهر ځای خاوره بويولـه او غورځوله به يې تردې پورې چې هغوی دتهامه يوني دمکې معظمې خاوره وراندې کړه، هغه يې چې بوی کړه، ويې ويل: بس په دې خاوره څه شوې دي، لاړ شئ اوس يې معلوم کړئ چې څه پېښه شوې ده، دا تحقيقي تيم دمکې معظمې قريب بازار عکاظ ته راغی چېرته چې دکجورو ونې وې؛ نو ويې کتل چې يو نوراني کس لمونځ کوي اوقرآن وايي. دانوراني شخصيت حضورنبي کريم ﷺ و، جنات ورته نزدې راغلل اوويې ويل چې دا هغه څوی شی دی چې دهغه له وجې تاسو په اسمانونو باندې بند شوي ياست، مسلمانانو، کله چې قرآن کريم رانازل شو اوحضورنبي کريم ﷺ دتوحيد دعوت شروع کړ؛ نوکفر اوګمراهي بنده شوه،دکفر اوضلالت داعيان پريشانه او ناکامه شول، همدغه رازدتوحيد دعوت به نن هم عام ورکول کيږي. خوکه پخپله مو عمل وکړ، انشاء الله دا کفر او ګمراهي به خود بخود ختميږي اودحق اوازونه به وي، افسوس! مورږ مسلمانان ټول کارونه کوو. خو يو کار نه کوو اوهغه دډعوت کار نه کوو؛ نو له دې وجې مورږ مغلوبه شو او دکفر دعوت مو قبول کړی دی، بهر حال جناتو چې کله قرآن کريم واوريد؛ نو هم هلته مسلمانان شول اودخپل قوم لوري ته ددين داعيان جوړ شول اولاړل، اصل دين ددعوت نوم دی، په سورة جن کې يې دجناتو حالات دهر ښکاره بيان کړي دي ارشاد رب العزت دی:

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا (١) يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ.
(سورة الجن: ٢-١)

ترجمه: ووايه اې محمده! ماته وحي شوې ده، چې دجناتوپوې ډلې قرآن واورید؛ نوهغوی وويل چې مورږعجبه قرآن واورېده، داسې قرآن چې سمې لارې ته بلنه کوي اومورږ پرې ايمان راوړ.

نکته:

جنات تحقيق له پاره راغلي وو، دکفر اوشرک په اشاعت کې اخته وو، مګر هدايت يې له خانه سره يوړو. حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام اور پسې تللی و او پيغمبري يې له خانه سره راوړه.

حکومت ہوئی اس کو حاصل جہاں کی ہوا جو کوئی حکم بردا ر تیرا

(حاجي امدادالله مهاجر مکي)

جناتو ته دحضور ﷺ وراثت اونيابت ورکړل شو، يعني ددعوت کار، داد الله تعالی فضل دی چا ته چې يې هغه ورکول غواړي. ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ.

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دجناتو په خپل مينځ کې مکالمه:

دجناتو تحقيقي وفد دحجاز ځيدان عکاظ بازار ته نزدې دکجورو ونو لاندې راورسيد، جناتو خپل مينځ کې خبرې شروع کړې، يو په کې وويل دا کوم کلام چې ويل کيږي ددې له وجې موږ اسمان ته نه شو تلای. نبي کريم ﷺ په دې وخت کې دسهار لمونځ کاو، دسهار نوراني وخت او قرآن کريم دحضور ﷺ له خولې مبارکې نه اوريدل ددې تاثير په څه نظاره وه!

نُورٌ عَلَىٰ نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَنْ يَشَاءُ.

جناتو کله چې واوريدل: نوسمدلاسه فدا او مسلمانان شول.

تيرا نام هے شيرين حلاوت هے دل کی هر اک بات سے خوش هے تکرار تيرا

(حاجي صاحب ﷺ)

کله چې دوی بيرته ته تلل: نو رسول الله ﷺ دوی هم ددين داعيان اومبلغين وليږل، معالم التنزيل کې دي:

اَمَرَهم رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَن يُنذِروا الجنَّ وَيدعُوهم إلى الله تعالى وَيقرَئَ القُرآنَ عَلَيهم... (معالم التنزيل)

ترجمه: نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: خپل قوم ته داخرت ويره وښايئ اوداالله تعالى داطاعت دعوت ورکړئ اودوی ته دقرآن کريم قرائت وکړئ.

جنات چې کله لاړل، هغوی خپل قوم ته خټکه دعوت ورکړ، د(خيرالبشر بخير البشر) مؤلف امام عبدالله مکي ﷺ ليکي: (دجاهليت په زمانه کې به جناتو او شياطانانو دبتانو دننه خبرې کولې اوجاهلانو به داګڼله چې دا زموږ خدايان خبرې کوي اودغو خلکو به سجدې کولې، کله چې دا جنات مسلمانان شول؛ نو دبتانو دننه به چې کومو جناتو خبرې کولې دهغوی خلاف يې مزاحمت وکړ اودوی يې دخبرو نه بند کړل، (هر زيات بت پرست دخپلې عقيدې شرک نه واپس شو، مسلمانانو ! داد قرآن پاک اودنبي کريم ﷺ دتعليم اثر دی چې باطل قوت په پخپله توټې توټې کيږي.

ان کی صورت دیکھ کر آنے لگی یاد خدا نور رخ ان کا چراغ راہ عرفان ہوگیا

دعرب قوم ګمراهي او ضلالت کې انتهاء ته رسيدلی و، بياهمدغه عرب ددنيا امامان جوړ شو. دا برکت اوفيض و، جناب رسول الله ﷺ دهدايت پيغام خو هغه وخت کې شرابي، ډاکو، قاتل، وحشي هرانسان به هدايت يافته کيده؛ نو ايا نن سبا دورکې داسې خلک نه شي ميسر کيدای؟ دهغه وخت دخوف اوخطري والا معاشره دامن، اخوت والا معاشره بدليدای شي؛ نونن ترقي يافته معاشره دامن ګډه راه ولې نه شي جوړيدای؟ ددنيا نه دخوف اوخطري

https://t.me/kafayat2395

والا وريځي ختميدای شي. مگر ضرورت ددې خبرې دی چې دقرآن حاملين بيداره شي اوپه دې باندې عمل کوونکي شي

دعربو دجهالت انتهاء داوه په مسند دارمي کې دي:

كَانَ الرَّجُلُ فِي الجَاهِلِيَةِ إِذَا سَافَرَ مَعَهُ أَرْبَعَةُ أَحْجَارٍ لُثَّةٍ يَقْدِرِ بِهَا وَالرَّابِعُ يَعْبُدُهُ. (مسند دارمي)

ترجمه: د جاهليت زمانه کې دعربو دا حال و چې يو کس به په سفر کې له خان سره خلور کانې وړل په دريو به يې استنجاء کوله اودبو به يې سجده کوله، يعنې يو به يې خدای ګڼه، هغه دااستنجاء لوټې او هغه معبود، په روح البيان کې دي چې د جاهليت زمانه کې دېمن اوسيدونکی سړی اساف اونبځه نائله چې ددواړو په مينځ کې ناجائزه تعلقات و، دجاهليت زمانې درسم مطابق حج ته لاړل اوپه عين خانه کعبه کې دواړو بدبختو زنا وکړه، الله تعالى مسخ کړل او کانې يې ترې جوړ کړل، اهل مکه دا د خانه کعبې نه راواويستل يو يې دکعبې د دروازې په يو طرف کې اوبل يې په بل طرف کې کينودل، خو ورځې وروسته دې ملعونه خلکو دوی ته عبادت شروع کړ اوخدايان يې ترې جوړ کړل.

تهې دستان قسمت راچې سود از رهبر کامل که خضرا از آب حيوان تشنه می آرد سکندر را

دنبي کريم ﷺ په دور کې هم دوی ته عبادت کيده، بيا يې راوغورځول او ختم يې کړل، نن سبا دبت پرستي په خای باندې ماده پرستي کيږي، ددنيا او دايجاداتو عبادت کيږي له دې وجې ددې بتانو غورځولو هم سخت ضرورت دی.

کچه کام نه آوے گا تيرے يه لعل زمرد و سيم و زر
جب پوجا پاٹ مين بکھرے گی آن بنے گی جان اوپر

داحد په ميدان کې دحق اوباطل فرق (توپير):

دجنګ احد په ورځ ابوسفيان چې د کافرانو کمانډر انچيف و، لږ کاميابي يې چې وليده؛ نو دبتانو په نوم يې اواز وکړ او ويې ويل" لَنَا الْعُزّٰى وَلَا عُزّٰى لَكُمْ " هغه مسلمانان راوغږول چې زمونږ له پاره زمونږ بت (عُزّٰى) دی ستاسو مددګار کوم خای دی، حضور ﷺ وفرمايل داسې جواب ورکړئ:

" لَنَا الْمَوْلٰى وَلَا مَوْلٰى لَكُمْ" مونږ له پاره زمونږ مولى دی اوستاسو مولى نه شته، يعنې ستاسو بتان کمزوری دي، هماغه وشو چې تولې دنيا وکتل چې دلات اوعزى عبادت کوونکي ناکامه اوذليل شول، دمحمد ﷺ غلامان کامياب شول، داد دسرکار مدينه ﷺ دتربيت اثر و چې کانې پرست الله پرست شول، قاتل اوخونخوار محافظ اوپه زړه نرم شول، لاره شکوونکي او غله امانت دار او مسافر نواز جوړ شول، جاهلان عالمان جوړشول، فقير اوګدا بادشاه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اوخلیفة الله جوړشول. زناکار او بدکاره اوشراب خوره متقي اوپرهیزګار جوړشول، دالله دښمنان دالله دوستان جوړشول، کوم چې دلعنت په بندونو کې بند و، هغوی دالله محبوب جوړشول. بدو او شپونکي ددنیا امام و مقتداء جوړشول، پخپله وړې پاتې کیدونکي خلک نورو ته خوراک ورکونکي جوړشول، ظالمان انصاف داره جوړ شول، شوکمار محافظ جوړ شول. داتول دپیغام نبوت قبلولو برکت و، اې خلکو! دحضور ﷺ خبره ومنئ، په دنیا او اخرت کې به کامیاب شئ. هغه خلک چې کله دنبي کریم ﷺ په پیغام نبوت باندې لبیک ویونکي جوړ شول، ددنیا اواخرت مالکان جوړ شول، دوی عزتمند جوړ شول، ددې اړوند(متعلق) یو څو واقعات په لاندې ډول دي

حضرت زید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره غیبي امداد:

په تاریخ خمیس کې دي حضرت زید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو خچر په کرایه باندې اخیستی و، وظائف نه مدیني ته تلل و. مګر دخچر مالک باندیچې دا شرط ولګاو چې په لاره کې کوم ځای ماته ضرورت پیښ شو په ارام به ځم، حضرت زید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راضي شو. هغه باندیچې دی په یو داسې لاره وروست، چې بالکل ویرانه وه ورته یې وویل چې: کوز شه هغه چې وکتل: نو هر طرفته هډوکي او لاشونه پراته وو داتول دې ظالم باندیچې په دهوکې سره دمال اواسباب له پاره مړه کړي وو، ده دحضرت زید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دمرګ تیاری هم شروع کړ. حضرت زید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وویل چې: مرګ خو هسې هم دی، خو یو دوه رکعته نفل کولو اجازه راکړه، باندیچې وویل: زر کوه دا لمونځ تا له مرګه نه شي خلاصولی،

بهر حال حضرت زید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سجده کې وویل: ((یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِین)) باندیچې دحملې له پاره تیار ولاړ و، په دویم ځل یې دا الفاظ واوریدل په دریم ځل یې بیا واوریدل په دې کې یواس باندې سور انسان تیزي سره راغی اوپه لاس کې یې برچه دبرېښنا په څیر پرقیده هغه په راتلو. سره برچه دباندیچې په سینه کې خنبه کړه او شا لوري ته تري ووته، باندیچې هم هلته پریوت اومردار شو. سپور کس وویل چې: زه دالله تعالی فرښته یم کله چې تاپه اول ځل ((یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِین)) وویل؛ نو زه په اووم اسمان کې وم، کله چې دې په دویم ځل ((یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِین)) ووایه؛ نو زه په شپږم اسمان کې وم اوکله چې دې په دریم ځل ((یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِین)) ووایه؛ نوزه دښمن ته رارسیدلی وم، دلته له خولې دعا ووته هلته عرش ته ورسیده.

اجابت از درحق بهر استقبال کآید خانه بیرس کزام آه مظلومان هنگام که دعا کردن

https://t.me/kafayat2395

داتول برکت داسلام او درسول الله ﷺ دپیغام قبلولو و چې دکائنات هرشی ددوی په خدمت کې لګیدلي دي داد روس و امریکه جرمني،دفرانس اینټم بم، هائیډروجن بم هر یو مهلک اسلحه دالله تعالی دقوت مخې ته څه حیثیت لري، مګر افسوس چې موږ ددې اسلحې نه ویره کوو اوددوی په طاقت مو یقین دی. خودالله تعالی په قوت مو یقین نه دی حالانکې دیوې فرښتې طاقت د ټولې دنیا نه زیات دی

دالله تعالی عظیم شان:

د دوربین په ایجاد سره مختلف اکائي مثلاً کلونو، میاشتواودورځو تعین وشو، بې انتها اوږدې فاصلې په نوري کلونو باندې ناپ کیږي، دنوري کلونو نه مراد هغه فاصله ده چې رڼا بې په یو کال کې پوره کوي، درڼا رفتار یو لاکه شپږ اتیا زره(۱۸۶۰۰۰) في سیکنډ یا دیرش کروړه (۳۰۰۰۰۰۰۰) میټر في سیکنډ دی، جدید علم فلکیات موږ ته وایي چې کائنات وسیع دی اوزموږ پوره نظام شمسي کائنات ته دومره حیثیت هم نه لري، لکه څومره چې سمندر کې یوه قطره. (جنرل سائنس)

خیرالبریات خلاصه کائنات فاتح ابواب الخیرات حضرت رسول مقبول علیه افضل التحیات والصلوت والسلام دعوت کلمه توحید و:

کلمه طیبه. کلمه توحید دا یوازې دالفاظو اقرار نه دی، بلکې د لوست مطلب دادی چې دا قسم او معاهده کوم چې اوس به زه دخپلې خوښې او خواهشاتو زندګي نه تیروم، بلکې دالله رب العزت دحکم مطابق به زندګي تیروم او دا خالي کلمه لوی فضیلت اوشان والا ده ددې اندازه له دې ولګوئ دابو یعلی مسند کې انس بن مالک نه روایت دی، نبي کریم ﷺ وفرمایل

ما قال عبد : لا إله إلا الله في ساعة من ليل أو نهار إلا طمست ما في صحيفته من السيئات حتى يسكن إلى مثلها من الحسنات. (رواه العنذري)

کوم بنده چې دورځې یا دشپې ((لاإله إلّاالله)) وایي دده په عمل نامه کې ټول ګناهونه معاف کړل شي. څومره ګناهونه چې و هغومره ورته نیکي ولیکل شي (داکثر علماوو په نزد ددې ګناهونو نه مراد صغیره ګناوي دي؛ خکه چې کبیره ګناهونه له توبې پرته نه معاف کیږي)

کرم بین و لطف خداوند کردگار گنه بنده کرده است او شرمسار

دویم مطلب ددې حدیث دادی چې په ربښتوني زړه اویقین سره دا کلمه ووایي؛ نو دده به ټول ګناهونه معاف شي. که هغه داسې وي چې دالله تعالی پرته دټول جهان معبودانو نه یقین لیږي کړي اوټول باطل یقین فنا کړي، کله چې باطل یقین ختم شي؛ نوسهې یقین به زړه کې راشي؛

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لکه څنګه چې یو خای ته خوشبي راشي؛ نو بدبویي ختمه شي، اوبه چې راشي، اور ختم شي، خلک له دوزخ نه بچ اوجنت ته لاړ شي

حضور ﷺ دټولو جهان له پاره رحمت رالیږل شوی دی، دحضور ﷺ لوی فکر دا و چې ټول په روح البیان کې دي چې یو کس د دحیه په نوم کافر اودقوم سردار و، دحضور ﷺ تمنا وه چې دا مسلمانان شي، حضور ﷺ به دده له پاره دعاګانې هم کولې، یوه ورځ ددحیه په زړه کې درسول الله ﷺ دملاقات شوق راغی، حضرت جبرایل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغی اوزیری یې ورکړ چې دحیه نن مسلمانیدو ته راروان دی،کله چې دحیه کلبي حاضر شو؛ نوحضور ﷺ دهغه له پاره ډاډه خور کړ، ځکه چې دحضور ﷺ ارشاد دی:

"إِذَا جَاءَ كَرِيمُ قَوْمٍ فَأَكْرِمُوهُ" کله چې دیو قوم معزز راشي؛ نو دهغه اکرام کول پکار دي.

دحضور ﷺ اخلاق کریمه چې ده وکتل، په ژړا شوبیا یې دده ډاډه پورته کړ اونبکل یې کړ، سترګو سره یې ولګاو اوپه سر یې کیښود اوپه عاجزي یې درخواست وکړ چې حضور ﷺ! ماته کلمه ووایه، حضور ﷺ ده ته دکلمې تعلیم وکړ اوداسلام احکامات یې وروښودل، دحیه کلبي په چغو چغو یه ژړا شو حضور ﷺ تري پوښتنه وکړه، دحیه ولې ژاړې؟ ویې وویل: حضور ﷺ! ما خو لوی لوی ګناهونه کړي دي، زما به څه حال وي که ما قتل کړی اوبیا مې وښتې؛ نو هم ماته قبوله ده، بس په څه طریقې سره زما ګناهونه معاف کیدل پکار دي، حضور ﷺ تري پوښتنه وکړه، دحیه! څه غټ غټ ګناهونه دي کړي و؟ ویې وویل چې: زه دخپل قوم سردار یم ما دشرم اوعار له دوجې اویا(۷۰) اینجلي ژوندی دفن کړي دي، زما ګناهونه به څنګه معاف شي، حضور ﷺ چې کله ددحیه کلبي خبرې واوریدې، حیران شو اوتعجب واخیست اوانتظارې کاو چې الله کریم دده متعلق څه حکم فرمایي، دحیه مسلسل ژړل په لږ وخت کې جبرائیل امین وحي راوړه اوراغی ویې فرمایل:

"يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ عَلَيْكَ وَقُلْ لِدَحْيَةَ إِنِّي غَفَرْتُ لَهُ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ كُفْرَ سِتِّينَ سَنَةً وَسَيِّئَاتِ سِتِّينَ سَنَةً وَقَتْلَ سَبْعِينَ بَنَاتٍ"

ترجمه: اې نبي ﷺ! الله تعالی تاسو ته سلام وایي اوفرمایي چې تاسو دحیه کلبي ته ووایئ چې ما تا ته په کلمې ویلو شپیته کاله کفر، دشپیتو کالونو ګناهونه اوداویا معصومو نجونو قتل معاف کړ

او ویې فرمایل

إِنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ. داسلام راوړلو وروسته ټول ګناهونه ختمیږي

دازیری چې یې واوریدو؛ نو نبي کریم ﷺ اوټول موجود صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ دخوشالی نه په ژړا شول

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نیم جان بستاند وصد جان دهد آن چے درو همت نیاید آن دهد (رومیؒ)

حضرت دحیه کلبي رضی اللہ عنہ په ژړا ژړا کې بې هوشه شو، په دې حال کې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې په دې کلمې سره دټول عمر بت پرستي اوکفر معاف کیدای شي؛ نوکوم مسلمان بې چې ټول عمر په اخلاص سره وایي دهغه به څنګه بخښش وي، حیوة القلوب کې دي چې یووار نبي کریم ﷺ ته خبر ورکړل شو چې فلاني صحابي دزنکدن حالت کې دی. حضور ﷺ سمدلاسه هلته لاړ، چې وې کتل؛ نو دزنکدن حالت و، ویې فرمایل: ووایه ((لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ)) ځکه چې دحضور ﷺ ارشاد دی:

"مَنْ كَانَ اٰخِرُ كَلَامِهٖ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ" "یعنې چې دکوم بنده اخري کلمه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وي هغه به جنت ته داخلیږي. اخري وخت کې کلمه ویل داد خاتمه بالخیر ښیه ده، اللّٰه تعالی دې مور هم دبدې خاتمې نه وساتي او خاتمه بالخیر دې زمونږ نصیب کړي آمین!، بهر حال دهغه صحابي په ژبه باندې کلمه ادا نه کړای شوه، خوپه ګوتې یې اشاره وکړه اوپه ژبه یې وړو واز سره څه وویل. حضور ﷺ دخوشالی اظهار وکړ، صحابه کرامو (رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِیْنَ) ترې دخوشالی پوښتنه وکړه، ویې فرمایل چې: ده په ژبه باندې نزدې څوک ګواهان نه کړل داسمان لوري ته یې اشاره وکړه او اسمان والا یې خپل ګواه جوړ کړ، دیخوا ده اسمان طرفته نظر پورته کړ. هلته الله رب العزت فرښتو ته وویل: اې فرښتو! کله چې زما دې بنده ته په ژبه باندې دکلمې توفیق ورنه کړل شو؛ نو په اشاري سره یې زه ګواه جوړ کړم اواقرار یې وکړ، تاسو ټول ګواه اوسیږئ ماددده مغفرت وکړ

سینکڑوں کو تو کرے گا جنتی ایک نا اہل بھی ان میں سہی

تفسیرابن کثیر تذکره قرطبي کې دي په حواله احسن المواعظ مولانا ابراهیم دهلوي ﷺ حضور ﷺ فرمایې چې: کله دانسان دمرګ وخت راځي؛ نو په دې وخت کې شیطان دده مور وپلار په شکل کې راځي اول دپلار په شکل کې راشي چې اول زه په ظاهره مسلمان وم بیا یهودي مړ شوم اویهودي دین سهي دی ته هم یهودي شه، همدغه راز دده مور هم راشي او ورته ووایي چې زه په عیسایي دین باندې مړه شوم، دغه دین سهي دی ته هم عیسایي شه، دواړه ورته خپل خپل احسانات وایي، بنده پریشانه شي چې اوس څه وکړم، سمدلاسه دالله تعالی رحمت ته متوجې شي، ملک الموت راشي اودوی دواړو شیطانانو ته لغتې ورکړي او ویې شړي بیا وفات کیدونکي انسان ته وایي چې دا ستا مور پلار نه وو، بلکې شیطانان وو،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

الله تعالی په تا باندې رحم وکړ اوستا حفاظت یې وکړ. اوس ته کلمه ((لاإله إلّا الله)) ووایه ددې له پاره چې ستا روح قبض کړم. دې باره کې دالله تعالی فرمایي:

يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ. (سورة ابراهيم: ۲۷)

ترجمه: مضبوطوي الله تعالی هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی. په خبره ثابته سره په ژوندون د دنیا په وخت دفتنې او مرګ، کې اوپه اخرت (په قبر) کې.

الغرض: شیطان دانسان دمرګ په وخت سخته حمله کوي، څه رنګه چې هغه دیهودیت او نصرانیت ددین لوري دعوت درکوي، دغه نورو ادیانو او مذاهبو ته هم دعوت ورکوي. مګر کوم خلک چې په ژوند په ایمان او اعمال صالحه باندې قائم او مضبوطه پاتي وي؛ نو اخر وخت کې هم الله تعالی مدد کوي، بهرحال دحضور ﷺ د هدایت پیغام دی په دې کې سکون دی. ددنیا او اخرت کامیابي ده، الله تعالی دې موږ ته دایمان مضبوط جوړولو اواسلام باندې دفخر کولو توفیق نصیب کړي. (آمین)

فایده:

داضروري نه ده چې شیطان هر انسان ته دمرګ په وخت راشي، بلکې کله کله دزنکدن حالت کې چې وي شیطان پرې حمله کوي، ځینې وختونه، خو ځینې ګنهګارو ته دتوبې توفیق هم نه پیداکیږي. بلکې آنا فانا کې وفات شي. لکه دایکسیډنټ حادثات یا دهماکه اوداسې نور...

بهر حال حضور ﷺ فرمایې چې: "إِنَّمَا الْعِبرَةُ بِالْخَوَاتِيم" (الحديث) یعنې دانسان دخاتمې اعتبار دی. په کوم حال چې مري په هغه حال به پورته کیږي، که په ایمان ورته مرګ راغی؛ نو مسلمان به پورته کیږي اوکه په کفر باندې مرګ راشي؛ نو دقبر نه به دقیامت په ورځ کافرپورته کیږي. ځینې ګناهونه داسې وي چې دهغه دنخوست له وجې په کفر خاتمه کیږي، لکه نشه افیون چرس، پوډر، شراب، دمور وپلار نافرنانې بزرګانو سره دښمنې اوداسې نور...

الله تعالی دې موږ ټول دبدې خاتمې نه وساتي، ددې نه به بله غټه بدنصیبي څه وي اوخاتمه بالایمان دې راکړي چې دې پر لوی سعادت دی.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين

کفایت اللہ قاسمی
https://t.me/kafayat2395

د محرم الحرام دمیاشتې څلورمه خطبه

دنیا پریښودل:

دمحرم الحرام دمیاشتې په شروع کې دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په لومړي محرم الحرام باندې شهید شوی، په (۱۰) محرم الحرام باندې حضرت حسین رضی الله عنه شهید شوی. (۲۰) محرم الحرام باندې حضرت بلال رضی الله عنه وفات شوی، په محرم کې حضرت زین العابدین رحمه الله وفات شوی، (۲۹) محرم الحرام کې شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله وفات شوی. ددې مناسبت له وجې ددې خطبې موضوع " دنیا پریښودل" ده، دنیا به هر انسان پریږدي. خوش نصیبه هغه انسان دی چې هغه په خپل اختیار اوخوشالي دنیا پریږدي اوداخرت زندګي غوره کړي، ګنې مجبورا به یې هر انسان پریږدي، ددې نعمتونه هم فناکیدونکي دي. اخرت همیشه پاتې کیدونکی دی، ددې نعمتونه او راحتونه هم همیشه دي. داخرت کامیابي اصل کامیابي ده. ارشاد رباني دی:

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِمَنِ اتَّقَىٰ. (سورة النساء:۷۷)

ترجمه: ووایه (اې محمده! دغو ویریدونکوته، فایده ددې دنیاډېره لږ ده او اخرت ډېر غوردی، هغه چاته چې ویریږي (له الله نه).

یعني دنیا اوددې فائدې مختصر اوزائل کیدونکي دي.

یه عالم عیش وعشرت کا یه حالت کیف ومستی کی

بلند اپنا تخیل کر یه سب باتیں هیں پستی کی (مجذوب رحمه الله)

اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ. (سورة حدید: ۲۰)

ترجمه: پوه شئ بیشکه ددنیا زندګي دلوبو (مستي) یو ظاهري زینت (ښایست) اوخپل مینځ کې یو بل باندې فخر کول دي، مال اواولاد دیو بل نه زیات ښودل دي، لکه چې باران ددې پیداوار زمینداړو ته ښه معلومیږي، بیا هغه اوچ شي کله چې دا زیر شي بیا یې ریزه ریزه کړي اوداخرت کیفیت هم داسې وي، په دې کې عذاب سخت دی اود الله له لوري مغفرت اورضامندي ده اوددنیا زندګي محض دډوکې اسباب دي.

ددنیا زندګي لوبې اوتوکي دي، لکه څنګه چې فټ بال، هاکي اوداسې نور.... هره یوه لوبه لږ وخت له پاره وي، بیا ختمه شي، خوددې لږ وخت والا لوبه کې ډېر خوند وي بنده په دې کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مستغرق وي. همدغه راز يې وفرمايل دنيا مختصر ده مګر دې کې خلک مستغرق وي اواصل اخرت نړۍ هيرې وي، مګر عقلمند(پوه) خلک په دې کې وخت نه لګوي. بلکې خپل اصل مقصد او منزل لوري ته متوجه وي. که دنيا کې زر دوه زره کاله هم پاتې شي. بيا هم واخرت زندګي چې وګوري؛ نو دا سوچ، فکر به وکړي چې دا خو لوبې اوتوکې وي، دويم مطلب يې دادی څه رنګه چې لوبو. تولو کې لکه تهيتر سينما اوداسې نورو کې وخت ضائع کيږي اوروپې هم بربادیږي. همدغه راز دنيا خپل اصل مقصد جوړولووالا خپل هر څه بربادوي. مګر دالله تعالی مخلص بنده ګانو په دنيا کې خپل مال اوخپل ځان دالله دحکم مطابق خرچ کړ. ددې خلکو له پاره ددنيا او اخرت کامیابي ده

تباهی کی حدیں عشرت پرستی سے نکلتی ہیں
شرابوں پر شباب آیا تو قوموں پر عذاب آیا (عارف)

دنيا څه ته وايي:

مولانا رومي رحمه الله فرمايي چې: دنيا دالله تعالی نه دغفلت نوم دی:

جے ست دنیا از خدا غافل بودن نے قماش و نقره و فرزند و زن (روی رحمه الله)

دنيا دالله تعالی نه دغفلت نوم دی دمال، دولت، سرواو سپينو زرو نوم نه دی. هو؛ که دا شيان دي دالله نه غافل کوي؛ نو بيا دا دنيا ده، غرض دا چې يو عالم، حاجي، سخي اومجاهد وي اوبيا هم له الله تعالی غافله وي اوددې مقدس کارونو نه هم مقصد دنيا ګټل وي؛ نو بيا دا دنيا ده په اخرت کې به ددې هيڅ بدله نه وي. جناب سيد المرسلين ﷺ فرمايي: "نِعمَةَ الدُّنيا مَعَلِيَة الآخِرَة" يعنې هغه دنيا چې له هغه نه اخرت حاصليږي هغه بهتره ده، يعنې انسان هر کار. بچي دالله په حکم پالي، په اخرت کې به ده ته ددې اجر ورکول کيږي، همدغه راز تجارت. زراعت. ملازمت، هر شی دالله تعالی او درسول دفرمان مطابق جوړوي؛ نو دا په دنيا کې شمار نه دی. بلکې اخرت کې شمار دی. هغه دنيا چې له خدايه دې غافله کوي، دهغه اړوند(متعلق، رسول الله ﷺ فرمايي: " اَلدُّنيا مَلعُونَة وَمَلعُونٌ مَافِيهَا اِلَّا" دنيا ملعونه ده اوددې طلبګار سپي دي. په دويم حديث کې حضور ﷺ فرمايي چې: دنيا مردار ده اوددې طلبګار سپي دي. يعنې خنګه چې سپي په مردار راتوليږي اودهر يو سپي دا خواهش وي چې توله مردار زه خان ته وخورم، همداسې داهل دنيا هم دا خواهش وي چې توله دنيا دې له ما سره وي اودسپيو په څير په يو بل باندې غوريږي، سپي دبل مردار سپي غوښه هم خوري، همدغه دنيا دار دبل ورور مړی ددنيا له پاره کټ کوي، بيا دا چې يو سپي ته دبل سپي په مړ کيدو هيڅ عبرت نه حاصليږي، همداسې اهل دنيا هم په زرګونو دنيا دار په بد انجام وګوري،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خو عبرت ترې نه حاصلوي، بيا سپی په مرداري شپه ورځ پروت وي، خو مړيږي نه، همداسې داهل دنيا خپله هم نه مړيږي، شپه ورځ ددې په فکر کې وي، بيا سپی د مرداري غوښې خوړلو وروسته دهغه هډوکي هم وخوري، همداسې دنيا دار دغريبو غوښې وخوري او بيا هډوکي هم وچوپي، يو سودخور انسان دقرض په بدله کې ديو انسان جايداد ټول واخلي او بيا يې لوښې پورې صفا کړي اوده ته ذره برابر هم ويره نه وي، همداسې دنيا دار انتهايي بې عقله دی چې تياري ته رڼا وايي، غم اوخفګان ته خوشالي وايي، مردار اوبدبودار ته خوشبو دار وايي، فاني ته باقي وايي، ويرې ته امن وايي، مرګ ته حيات وايي، نيستي ته هستي او دهوب ته سيوری وايي. سيوري ته دهوپ او اصل ته نقل او نقل ته اصل وايي العياذ بالله رسول الله ﷺ دنيادارو ته دسپي سره تشبيه ورکړې ده، حالانکې کارغه هم دسپي په څير مردار خور دی. مګر په سپي او کارغه کې فرق شته، کله چې يو کارغه مرداره خوري؛ نو بل کارغه پرې دسپي په څيرنه غوريږي، کله چې يو کارغه مرداره وګوري؛ نو نور هم مثل کارغان راوغواړي. په خلاف دسپي چې هغه شپه ورځ مرداري شوکوي اوکارغه داسې نه کوي. بيا داچې کارغه خپل مردار ورور وګوري؛ نو نه خوشاليږي ، بلکې پريشانه اوخفه کيږي، په خلاف دسپي چې هغه خپل مردار ورور وګوري؛ نو خوشاليږي.

دحضرت داود عَلَيْهِ السَّلَامُ زهد:

ابوربيع وايي چې زه يو وار د حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَامُ کور ته راغلم، دده مخې ته خوراک راغې چې په هغه کې يوازې د وچې ډوډۍ يو څو ټوټې وې، په دغه وخت زه ترې وښه شوم، زه داوبو څښلو له پاره پورته شوم، ومې کتل چې يو منګي کې ګرمې اوبه پرتې دي، عرض مې وکړ الله دې په تاسو رحم وکړي، کاش! چې دې منګي کې دې يخې اوبه ساتلې وای، حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَامُ په خواب کې وويل: ورورو که مونږ هميشه يخې اوبه څښو او ګرمه ترکاري خورو مزې کوو اونبه لباس اغوندو؛ نو بيا ته ووايه چې داخرت له پاره مو څه پريښودل، ګوره داسې شوه چې په دنيا کې مونږ دجنت ټولې مزې ختمې کړې، مسلمانانو! داحالت زمونږ داخر الزمان حضرت محمد مصطفی ﷺ و، چې دخوراک څښاک اهتمام نه و اکثر به يې داوربشو وچې ټوټې په اوبو کې خوشتې کړې او دحلق مبارک نه به يې تيرولې، پيرې او ساده لباس به يې اچاوه. اندازه ولګوئ چې مونږ خلک په خوراک، څښاک،لباس، استوګنه کې څومره ارام سره يو، بيا هم ناشکرې کوو چې مونږ سره خو هيڅ نه شته ، افسوس صد افسوس چې دکوم نبي دمحبت مونږ نوم اخلو دهغه څومره اتباع کوو.

يوه ورځ حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَامُ ته خپلې خادمې وويل چې: تاسو ته دغوښې پښه ترکاري تياره وم او راوړم يې؟ ويې فرمايل چې: زما هم زړه غواړي، لاړه شه او پښه بهترينه ترکاري تياره کړه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اورا يې وړه. خادمې بهترينه ترکاري تياره کړه. کله چې يې د حضرت په مخکې وړاندې کړه، خادمې ته يې وويل چې لږ وګوره چې دفلاني هغه يتيم ماشومان کوم خای دي؟ خادمې ورته عرض وکړ دلته دي. ويې فرمايل چې. داتوله غوښه هغوی ته ورکړه، خادمې ورته وويل: تاسوهم تري وخورې، خکه تاسوهم له ډېرمودې غوښه نه ده خوړلې، حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل واوره! که دا غوښه ما خوړلې واى؛ نو لږ وخت وروسته به دا قضاحاجت جوړ شوى واوډېران ته به تللى و اوکه دايتيمانو وخوړه؛ نو نيغه به عرش ته ورسيږي (يعني اجراوثواب به راکړل شي) اوس ته پخپله فيصله وکړه چې دا خوراک ګند ته تګ بهتر دى او که عرش الهي ته. سبحان الله څه عجيبه همدردي او خيرخواهي ده، شايدنن به يو لوى نه لوى بزرګ هم دا نه کوي

يوه ورځ ورته خادمې عرض وکړ چې همېشه تاسو وچه ډوډۍ اوبو کې نرموى اوخورى يې، يوه ورځ خوچېرته ګرمه ډوډۍ هم وخورى. حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمايل: چې اې خادمې! ډوډۍ چېچلو اوبيا پرې اوبه خښلو باندې دپنځوس ايتونو تلاوت کولوهومره وخت لګيږي ولې زه دوقتې مزو له پاره يادالهي پريږدم اود فاني دنيا مزې خوښې کړم

يعني دالله تعالى له يادِ پرته دواړه جهانه بيکاره دي اوددې دذکر پرته پاتې کيدل کم عقل توب دى. دالله تعالى ياد دايمان سرمايه ده. ددې په ياد سره،فقير هم بادشاه کيږي. امام قشيري رَحِمَهُ اللهُ ليکلي دي چې په کومه شپه دى وفات شو: نو يو بزرګ په خوب کې وليدو چې مندې وهي، پوښتنه يې تري وکړه، چې ولې مندې وهې؟ ويې فرمايل چې: نن دقيدخانې نه خلاص شوم. يعني دنيا قيدخانه وه له سخت نه سخت مصيبت کور و، نن الله تعالى ددې قيدخانې نه خلاصى راکړ. له دې وجې مندې وهم. چې چېرته بيا اسير نه کړل شم، لږ وخت وروسته معلومه شوه چې دى وفات شوى دى. سبحان الله! موږ دنيا څومره محبوبه ګڼو اودا دالله‌تعالى نيکان بنده ګان چې دنيا ورته قيدخانه ښکاري، اصلا کې موږ رانده اودالله والا بينا دي.

په رساله قشيريه کې دي: قِيلَ لِإِبْرَاهِيمَ بْنِ أَدْهَمَ إِنَّ اللَّحْمَ قَدْ غَلَا فَقَالَ أَرْخَصُوهُ وَلَا تَشْكُرُوهُ

(رساله قشيريه)

حضرت ابراهيم بن ادهم رَحِمَهُ اللهُ ته چا ووېل چې: غوښه قيمته شوې ده، ده ورته وفرمايل: ته دا مه اخله. کله چې نه اخيستل کيږي؛ نو ارزانه به شي، اګرکه يو مالدار دالله تعالى عبادت هم کوي. دحلال اوحرام خيال هم ساتي اوښه خوراک، څښاک هم کوي؛ نوده ته به په اخرت کې هم عيش اوعشرت وي. داخلک دتقوا په اعلى درجه کې دي او داد دوى برخه وه که موږ خلک خان دګناهونو نه وساتو اوغټ غټ فرائض ادا کړو؛ نو موږ له پاره داهم غنيمت دى.

کفایت کتب خانه نیلی گڑام چیئل
https://t.me/kafayat2395

یوه ورځ حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه روژه نیولې وه، کله چې دروژه ماتې په وخت یې خوراک مخې ته کیښودل شو؛ نوخوراک ته یې وکتل او ویې فرمایل: افسوس صد افسوس! حضرت حمزه رضي الله عنه چې درسول الله ﷺ تره و په جنګ احد کې شهید شو، کله چې ورته کفن راوړل شو؛ نوهغه وروکی و. که سربه پټ کړا نو پښې به یې ښکاره شوې، که پښې به یې پټې کړې؛ نو سر به یې ښکاره شو. حضور ﷺ وفرمایل چې سر یې پټ کړی اوبه پښو ورته وانیسه (سرګړې، واچوئ. بیا له هغه وروسته وویل. دنیا په موږ دومره فراخه شوه چې بیانولی یې نه شم. دایې وفرمایل اودومره یې وژړل چې ډوډی یې ونه خوړه اوهمداسې پرې نبوده.

مسلمانانو! سوچ او فکر وکړئ چې دبادشاه دوجهان تره شهید کیږي، هندبنت عتبه اوکافرانو دهغه رضي الله عنه سینه څیرې کړه، زړه یې تري راویست. غوګونه اوپوزه یې تري پرې کړل. دهغه خفګان حضور ﷺ ته دېر زیات و. ټول عمر به یې داخفګان یادوه اوژړل به یې. دهغه رضي الله عنه دنیا سره نه دتلو په وخت کې پوره کفن هم نه و. موږ له پاره دعبرت خبره ده.

دحضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله زهد:

حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله رئیس اودخپلې سیمې بادشاه و، یوه شپه په خپل شاهي محل کې ویده و. په نیمه شپه یې یوکس په چت ګرځیده. ابراهیم بن ادهم رحمه الله راپورته شو اواوازیې وکړ. څوک یې؟ خواب یې ورکړ. ستا دوست یم، نن مانباښ زما اوښ ورک شوی دی هغه ګورم. حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله وویل چې: دا څه بیوقوفي ده اوښ په څنګل کې ورک شوی اوته یې په شاهي محل کې ګوري. دغه کس ورته ووایې جهان فناه که اوښ په شاهي محل کې کتل خام خیالي ده؛ نو بیا خو په شاهي محل کې الله تعالی تلاش کول هم دعقل خلاف دي. یعني شاهي عیش اوعشرت کې الله تعالی نه پیداکیږي، دایې وویل اوهاتف (غیبي اواز)، والا ورک شو. مګر دحضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله په زړه باندې دې خبرې ډېر لوی اثر وکړ. ابراهیم بن ادهم رحمه الله هم په دې ورځ شاهي محل پریښود اودځنګل لورې تدلاړ، شاهي زندګي یې پریښوده او کوم مقام یې چې حاصل کړ، هغه موږ ټولو ته معلوم دی چې سرتاج اولیا جوړ شو.

یوه ورځ دسمندر په غاړه ناست و اوخپل زوړ بوج یې ګانده یو مالدار سړی پرې تیر شو چې څه وخت کې دده ملازم پاتې شوی و، ابراهیم بن ادهم رحمه الله ته یې وکتل؛ نو حیران شو او ویې ویل: اې ابراهیم! بادشاهي دې پریښوده دا څنګه زندګي دې اختیار کړه خپل بوج پخپله ګنډې. حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله ورته وفرمایل: ددنیا بادشاهي پریښودو سره له دې نه ما ته بنه بادشاهي پیدا شوه، هغه مالدار کس وویل چې: هغه څنګه؟ حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حسن محمد نه واچوله او اواز يې وکړ زما سنن راوړئ دايې وويلې نه و، چې ماهيانو خولې کې دسرو زرو سنګې سنولې وې ابراهيم بن ادهم رحمه الله ورته وويل نه: ما ته خپله سنته راوړئ يو ماهي به کې هغه سنن وراندې کړم. حضرت ابراهيم بن ادهم رحمه الله هغه مالدار سړي ته وويل هغه حکومت بهتر و که دا حکومت؟ مولانا رومي رحمه الله فرمايي

ترک دنيا ملک هفت اقليم را می زند بر دلق سوزن چون گدا
ملک هفت اقليم ضائع می کند چون گدا بر دلق سوزن می زند

کله چې انسان ظاهر دالله تعالى له پاره قربان نه کړي. باطن او روحاني ترقي نه شي حاصلولى. بيا انسان چې کله يوازې او يوازې دالله تعالى مخې ته ټيټيږي؛ نو الله تعالى يې هم له غيبه نه مدد کوي. حقيقت دادى چې دسر ټيټولو حقدار يوازې دالله ذات دى. خکه چې دکائنات هر بولوى وړوکى شى دالله تعالى په حضور کې ټيټ وي. دلمر سپوږمى رنا دالله تعالى په حکم ده. په ګلانو کې خوشبويى الله تعالى پيدا کړې. په ګلانو کې رنګ الله تعالى راچاو. په ميوو کې خوږوالى الله تعالى پيدا کړ. دغلې پخيدل (په کانونو کې دسرو سپينو ناريدل. په غرونو کې دجواهراتو پيدا کيدل) په ځناورو کې ډيوو پيدا کيدل. دشاتو مچى نه دشاتو پيداکيدل داټول زما ديرورد ګار قدرتونه دي. دچا چې نظر په الله تعالى باندې وي دهغه مخې ته ديو شي هم عظمت نه وي. دحضرت امير المؤمنين عمرفاروق رضي الله عنه به حضور کې شاه هرقل جواهرات ولېږل کله چې داهيري جواهرات مدينې منورې ته ورسيدل؛ نوحضرت عمر رضي الله عنه ددې قيمت په جوهريانوباندې ولګاو هغوى وويل چې ددې قيمت خو مورږ نه شو ادا کولى. صحابه کرام رضي الله عنهم ورته وفرمايل چې امير المؤمنين دا تحفه دي. تاسو ته مبارک شي. ويې فرمايل چې دا موتيان ما ته څنګه سهي کيداى شي کله چې ماته دټول جهان اجازه نه وي کړي. بيايې وفرمايل: که چيرته دوى اجازت راهم کړي؛ نو کوم چې لا تر اوسه پيدا نه دي دهغوى اجازه به څنګه وي اوکوم چې دانصارو او مهاجرينو دښځوپه خيټو اودپلارانو په ملاګانوکې دي دهغوى اجازه به څوک کوي، دعمر دومره حيثيت او زورنه شته چې دقيامت په ورځ باندې ددغو ټولو ماشومانودحق تلفي جواب ورکړي. بيا يې حکم وکړ چې دا موتيان دې خرڅ کړل شي اوددې قيمت دې بيت المال کې داخل کړل شي. دنيا انسان ته طبيعتا خوښه ده. خو کله چې دالله درضا له پاره پريښودل شي، الله تعالى هغه ته جنت ورکوي، الله تعالى فرمايي:

وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى (۴۰) فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى (۴۱). (سورة النازعات)

ترجمه: اوهرهغه څوک چې ويريږي له ودريدلو (په مخ) د رب خپل اومنع کړى يې وي نفس خپل له هوا، فاحشاتو، بدوغوښتنو څخه؛ نو بېشکه جنت دده هستوګنځاى دى.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عام مسلمانان ګناهونه پریږدي اونیکیاني کوي، له پاره ددې چې جنت حاصل شي، مګر اهل الله اونیک خلک، خو اعمال دجنت له پاره نه، بلکې دالله تعالی رضا حاصلولو له پاره کوي.

دد نیا بې ثباتي:

ارشاد رباني دی وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ الرِّيَاحُ. (سورۃ کهف: ۴۵)

ترجمه: اوای نبي! ته دوی ته ددنیا دژوندمثال بیان کړه، (هغه داسې دی) لکه چې اوبه کومې چې موږله اسمانه راورولې، بیادهغو له وجې ښه ګورشینکی راووتوکیږي اوبیاهغه زرې زرې شي چې هواګاني (بادونه) یې یوخوا اوبل خوا الوځوي اورا الخوي.

دا حال ددنیا دی چې نن شنه اوتازه په نظر راځي، بیا به دهغه نوم ونشان هم نه وي، مولانا روم رحمه الله فرمایي:

آن مګس بربرګ کاه بول وخر همچون کشتیان هی افراشت (روي رحمه الله)

یعنې مچې چې کله په کبلو(ګیا) یا دخرو په خاشنو باندې کینې؛ نو خپل ځان کشتی بان او په جهاز باندې سپور ګڼي. همدغه راز دنیا دارو ته سهاره کمزوري اومعمولي وي؛ نوهغه ددې نه هم ډېر لوی اومیدونه ترې اخر مرګ تري هر څه پاتې کږي.

مولانا محمد ابراهیم دهلوي رحمه الله دمرګ باره کې عجیبه بیان فرمایي: " کله چې حکم الهي (مرګ) راشي. بیا هغه هیڅ یوې طریقې سره نه لیږي کیږي، کاش! تاسو په دې پوه شئ" دادیو ایت ترجمه ده

زمانه څه عجیبه نظاره ښکاره کوي، هم یو ښار، یوځای، چیرته ډګلاب ګلان، چیرته ډبول ونې، چیرته دواده ولیمه، چیرته دغم ګلان، څوک په انتهایي شوق سره خپله ناوې په ډولی کې په باجو سره وړي، څوک دیوې شپې دناوې جنازه په تو تې تو تې کټ کې قبرستان ته وړي، اتفاقا دجنازې خلک او دواده ورا په یوبازار کې یو ځای شي الله اکبر له یوې خوا خوشالي اوله بلې خوا غم، یولوري ته خانه ابادي اوبل لوري ته خانه بربادي، یو لوري ته دناوې ډولی سره دهغې خویندې اوملګري پان خوري اوخوشالي لمانځي اوبل لوري ته له جنازې سره دمړي وارو وارو وروڼو خویندوډکټ پښې په ورو ورو لاسونو باندې نیولي وي اوژاړي، یولوري ته یوکس دخپل زوی دعقیقې چملې راولي اوغوښه په خپلو خپلوانو تقسیموي او خوري یې پرې او بل لوري ته یوبنده دخپل وجود غوښې په قبر کې دفن کوي اودهغه غوښې په چینجو باندې خوري، څوک دخپل زوم له پاره دوشاله اخلي او څوک دخپل اوښې له پاره کفن اخلي. څوک په چوکې باندې کینوي اوپه وجود سره ابټن لګوي او څوک دغسل په تخته باندې څملوي او دتوتو خیرې لېږي کوي، په چا دسهاګ عطر لګول کیږي او دچا له

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پاره په اوبو کې کافور اچول کیږي. دچاد خلوت له پاره له کټ نه ګیر چاپیره دکمخواب پردې لګول کیږي اودچا دتدفین له پاره دغیر نه ګیرچاپیره پرده کیږي او اخیري خلوت خانه ورته جوړول کیږي.خوک په بخملي بستره باندې پروت وي، خوک دخاورو په ډهري باندې پروت وي. خوک په هاتي اسونو باندې کینې او سپرلی کوي اوخوک معذوره ډکوناتو په اسره باندې ګرځي. دچا په یو اواز په زرګونو جوابونه ورکول کیږي اودچا د زرګونو اوازونو باندې یو جواب هم نه ورکول کیږي، چیرته خره، اسونه، اوښ، په دریابې فرات کې لامبې اودشاطفې محشر لمسې ته یو ګوټ اوبه نه پیداکیږي، دچا بچیو ته په ګرمې کې زهرمهره عرق پیدا مشکو کې ګډ کړل شي اوپرې ځنبل کیږي اوعلي اصغر شیرخوار ماشوم ته دسختې تندې په وخت کې حلق کې غشي منډل کیږي، چا ته دسرواوسپینو زرو په لوښو کې اوبه ورکول کیږي. مګر دعباس علمبردار اولاد رسول چې کله خپل مشک داوبو نه ډکوي: نو مشکیزه ورته په غشي شلول کیږي، دچا په بستره کې دمالوچو غوټه هم نه وي. خکه چې بیا خوب نه ورځي. مګر دکربلا دشهیدانو لاشونه په اسونو باندې ګرځول کیږي. دچا په محل کې په زرګونو کافوري شمعې لګول کیږي، مګر ختم الرسل په بې چراغه ګور کې په تیارو کې وفات شو

مِن وَجهه شَمسُ الضُحیٰ مِن خَدِّه بَدرُالدُّجیٰ

مِن ذَاتِه نُورُ الهدیٰ مِن کَفّه بَحرُ العُمیٰ

زفرق تا بقدم هر جا که می نگرم کرشمه دامن دل می کشد که جا این جا است

دحضرت حسن بصري رحمه الله ترکه دنیا:

تذکرة الاولیاء کې دي چې حضرت حسن بصري رحمه الله په ابتداء کې یو لوی سوداګر و چې دهیري جواهراتو کار به یې کاو، بادشاهانو ته به یې تحفې تحائف وړل او لوبه لوبو بادشاهانو سره به یې ملاقاتونه کیدل. یو ځل یې شاه هرقل ته څه جواهرات یوړل. دوزیر سره ملاقات نه وروسته یې دبادشاه دملاقات وخت واخیست، وزیر ورته وویل چې: سبا خو بادشاه سره بالکل وخت نه شته په کار کې به مصروفه وي چې دکتو سره تعلق ساتي، حضرت حسن بصري رحمه الله ورته وویل چې: ضرور به وګورو، وزیر حسن بصري رحمه الله یوځای ته بوت چې په هغه کې دسرو زرو یوه خیمه وه له هغې ګیر چاپیره دبخملو فرش ودخیمې تنابونه دسرو زرو وو ډاګي یې دسپینوزرو او او میخونه یې دسرو زرو وو نهایت قابل دید منظر و دا خیمه داشاه هرقل دزوی په قبر وه اونن دهغه دعرس ورځ وه، بادشاه درسم تعزیت له پاره راغلی و، حضرت حسن بصري رحمه الله وکتل چې اول یوه مقدسه ډله خلک د عیسایانو خیمې ته رادننه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شو. لږ ساعت ولاړ وو. وې ژړل اوبیا له خپلې وتل. له دې وروسته یوډله ډاکټرانو او طبیبانو اوداسې مندو راغلل لږ ساعت دوی هم سرتوربرسر قبر ته ولاړوو وبې ژړل او بیا دوی هم لاړل. بیابوډله دفوجیانو راغله خلاصې توري پې لاس کې وې سلامي پې وکړه اوبیا لاړل. له فوجیانو وروسته یوډله ډنډکلو چینکو راغله. سرتوربرسر وې په لاس کې ډهیرو او جواهراتونه ډکې دسروزرو مجمعې وې. دغو ښځودقبر طواف وکړ ډېر زیات پې وژړل اولاړلې. له دې ټولو وروسته بادشاه پخپله خیمې ته راډنته شواوقبر ته ودریدواوویې ویل اې زوبه! په دنیا کې ته ماته له ټولو نه زیات عزیز اومحبوب وې. کاش! که ماته معلومه وای چې خوک ستا روح قبض کوي. که هغه دراهبانو. عابدانو سفارش سره ستا زندګي واپس کوي؛ نو راهبان او عابدان حاضر دي، که ستا روح ډاکټران او حکیمان واپس کولی شي؛ نو دادې حاضر دي. که ستا روح په قوت او زور سره واپس کیدای شي؛ نو یو جرار فوج موجود دی. که ډنډکلو چینکو په لالچ ستا روح واپس کیدای شي؛ نو دادډنډکلو چینکو جماعت موجود دی. خوستا په معامله کې حکیم. ډاکټر. فوج. عابد. راهب ټول عاجز دي چې تاته واپس ژندګي درکړي. معلومه شوه چې هغه الله زبردست دی، چې دچا مخې ته دا ټول پې بسه دي. نه هلته طاقت پکار راځي، نه مال او دولت، نه حسن اوجمال، نه حکمت اوطب ټول دالله تعالی مخې ته پې بسه اوعاجز دي

په حیوة الحیوان کې دي چې سکندر بادشاه کله فتوحات کول اودچین لورې ته ورسید؛ نو چین ته داخلې نه مخکې دحالاتو معلومولو له پاره فقیرانه لباس کې ملک ته وردننه شو دچین شهزادګي وپیژانده اوګرفتار پې کړ. خوراک ځښاک پې پرې بند کړ، کله چې سکندر ته پېره زیاته لږوه ولګیده؛ نو شهزادګي وویل چې ډهیرو جواهراتو یو تال پې مخې ته کیږدي اووروته ووایې چې دا وخوري. کله چې پې هیرې جواهرات مخې ته کیښودل؛ نو دسختې لوږې باوجود پې ونه خوړل بیا پې ورته داوربشو ساده ووډې کیښوده؛ نو زرزر پې وخوړه. شهزادګي سکندر ته وویل چې ددنیا وقعت څه دی چې دهغه له پاره ته ملک له پاسه ملک فتح کوي. خوراک له پاره خو هغه اوربشه، جوار پکار راغلل هیرې جواهرات خو د خوراک وخت کې پکار رانغلل ولې دالله تعالی مخلوق تنګوي، بادشاه چې کله دشهزادګي خبره واوریده؛ نو ډېر لوی اهمیت پې ورکړ اودفتح اراده پې ختمه کړه فوج ته پې وویل چې واپس شئ. تفسیر روح المعاني بحواله اکرام المواعظ، ریښتیا دي چې دنیا په انسان پریږدي او دالله تعالی په حضور کې به وراندې کیږي. نن چې دکومې دنیا له پاره ته ظلم کوئ. سبا به دا دنیا تا له پاره قبر کې وبال وي

وائے نادانی کہ وقت مرگ یہ ثابت ہوا — خواب تھا جوکچھ کہ دیکھا جوسنا افسانہ تھا (درد)
ملک را بگذار و مالک رابگیر — تا کہ صدھا ملک باقی اے فقیر (اختر)

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حکایت:

یوکس چې عیال دارو. دهغه ماشوم ژړل اوماشوم ته خوب نه ورته، پلار تري پوښتنه وکړه زویه ولې نه ویده کیږې، څه تکلیف دی، ماشوم ورته وویل چې اباجانه هیڅ درد او تکلیف رانه شته. خویوازې دومره ده چې زما استاد به سبا له مانه دټولې هفتې سبق اوري، که مانه یاد نه و زما به وهل وي، پلار چې یې دا واوریدل؛ نو خفه شو چې زماله زوی سره دیوې هفتې دسبق دومره فکر دی، دالله تعالی په حضور کې به زمونږ څه حال وي. کله چې دپوره زندګي حساب کتاب اودټول اعمالو به حساب کتاب کیږي.

یوخوب:

یوکس دشپې خوب ولید چې زه په یو لوی میدان کې یم. ناڅاپه ما ولیدل چې یو ببرشیر ما پسې راروان دی اوزه تري منډې وهم. ناڅاپه زما نظر په یو کوهي پریوت، له پاسه پرې یوه ونه وه چې دهغې جړې کوهي ته کوزې شوې وې. زه په دغو جړو کوهي ته کوز شوم پورته ببرشیر غورارې کاوو اولاندې چې مې نظر شو: نو په کوهي کې اژدها خله وازه کړې وه، زه دېر زیات پریشانه شوم لږ ساعت وروسته مې د ونې جړو ته نظر شو: نو هغې ته دوه غټې غټې سپینې او توري مړې لګیا دي او کټ کوي یې، پریشاني مې نوره هم زیاته شوه. زما دهلاکت پوره یقین و ''نه جائے رفتن نه پائے ماندن'' دا له پاره (وېرې) ډک خوب مې یو بزرګ ته بیان کړ. بزرګ دخوب تعبیر داسې وایې چې دا زمری دمرګ فرښته ده چې هر وخت په انسان باندې مسلط وي. یعنې ددې نه تښتیدل نه وي اوکوهي قبر دی هر انسان به دې ته ځي اوهغه سپینه او توره مړه چې جړې یې کټ کولې هغه دژوند شپې او ورځې دي چې دانسان زندګي ختموي. بیا بزرګ وویل چې: دا خوب یو حقیقت دی چې له دې سره به دهر انسان واسطه راځي

هر حال میں رہا جو تیرا آسرا مجھے مایوس کر سکا نہ ہجوم بلا مجھے

اله العالمینه! زمونږ زړونو کې له دنیا نه نفرت او داخرت محبت نصیب کړه. (امین)

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دمحرم الحرم دمياشتې پنځمه خطبه

دجهاد بيان:

په محرم الحرام مياشت کې حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهيد شو، داسلامي کال اغاز د محرم الحرام له مياشتې وشو، دخوارزم فتح وشوه، داسې وه چې په مسلمانانو باندې يو زوال راغی هرلورې ته دماتم رسم شروع شو. دعيد غدير هم ابتداء وشوه دا هم دشيعه ګانو رسم دی. دحضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رَحِمَهُ اللهُ وفات هم دمحرم الحرام مياشت کې و (۱۵) محرم باندې نبي کريم ﷺ خيبر فتح کولو ته لاړ، دحضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفات هم په محرم کې و. دحضرت زيد العابدين وفات هم په محرم کې و، رسول الله ﷺ دخيبر فتح کولو ته تللی و داجهاد و، ددې مناسبت له دوجې ددې خطبې موضوع فضيلت جهاد فوائد اوضروريات بيان شوي دي دتولو نه اول دجهاد فضيلت او اهميت، بيا دمجاهد شان اواعزاز خداوندي به بيانيږي.

دجهاد فرضيت:

ارشاد رباني دی:

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ. (سورة الحج: ۷۸)

ترجمه: اودالله په لاره کې جهاد وکړئ، خنګه چې دجهاد کولو حق دی، هغه تاسو ته په نوروامتونو باندې فضيلت درکړ اوپه دين کې تاسو له پاره هيڅ تنګي نه شته. تاسو دپلار ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په دين باندې قائم اوسيږئ، دې رب ستاسو لقب مسلمان اينبی دی.

په بل ځای کې ارشاد باري تعالی دی:

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ (۱۶۹) فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (۱۷۰) (سورة آل عمران)

ترجمه: اوله سره ګمان مه کوئ! پرهغوکسانو چې دالله تعالي په لار کې شهيدان شول، هغوی ته مړه مه وايئ، بلکې هغوی ژوندي دي، دالله په حضورکې دوی ته رزق ورکول کيږي له جنتي ماکولاتو اومشروباتو څخه،، هغوی خوشاله دي، له هغه شي نه کوم چې الله تعالی په خپل فضل باندې ورکړي دي اوکوم کسان چې دوی ته ونه رسيدل اوله دوی وروسته پاتي دي،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ددوی په دې حالت باندې خوشالیږي چې په دوی هیڅ خوف راتلو والا نه دی اونه دوی غمجن دي. له وجې دالله تعالی دانعاماتو او له دې وجې چې الله تعالی دمؤمنانو اجر نه ضائع کوي.
دپورته ذکرشویو ایاتو له وجې دا معلومیږي چې په مسلمان باندې جهاد فرض دی اوجهاد هم داسې وشي چې حق یې ادا شي. په ځمکه دالله، اوازونه (صداګانې) وي فتنه اوکفر ختم شي. دویم داکه یو مجاهد دالله تعالی په لاره کې وژل شي؛ نو ویې فرمایل چې: هغه مړنه شهید اوژوندی دی. خودهغه زندګي دستاسو دپوهې اوادراک نه لیرې ده، دالله تعالی په حضور کې دې شهیدانو ته خصوصي رزق ورکول کیږي اومجاهدین دخپلې سودا او عمل نه خوشاله وي. همدغه راز الله تعالی جهاد ته بهترین تجارت وویاید، ارشاد باري تعالی دی:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (۱۰) تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۱۱) يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (۱۲) وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ (۱۳). (سورة صف)

ترجمه: اې مؤمنانو! ایاپوداسې تجارت اوسودا ګري در ونه ښایم چې تاسو له دردناک عذاب بچ کړي. تاسو په الله او رسول باندې ایمان راوړئ اودهغه په لاره کې په نفسونو اومالونو سره جهاد وکړئ؛ نو دا تاسو له پاره ډېره بهتره ده، که تاسو پوهیږئ (ددې په بدله کې) به الله تعالی تاسو ته ګناهونه معاف کړي اوتاسو به داسې جنت ته داخل کړي چې دهغه لاندې به نهرونه بهیږي اوښکلو. پاکیزه ځایونوته چې په تل سمسور باغونوکې ابادوي داډېره لویه کامیابي ده اویو بل انعام دادی کوم چې تاسو خوښوئ، یعنې دالله له لوري نصرت اوزر فتح ده اوزیری دی مؤمنانوته.

په دې ایت کې له ایمان وروسته جهاد ته بهترین تجارت ویل شوي دي. ګویا له ایمان وروسته دجهاد لویه مرتبه ده. جهاد له مال اوتورې سره، بیا به په دنیا کې هم دالله تعالی مدد. نصرت. کامیابي اوغلبه وي. کفر. شرک اونفاق به ختم وي، دکفر اوشرک طاقتونه به مغلوب وي. دا دقرانکریم ایاتونه مسلمانانو ته وایي چې: که چیرته تاسوشان اوشوکت غواړئ؛ نو تاسو دیهودو. نصاراوو. روس. امریکې اواسرائیل مخې ته مه تیټیږئ، بلکې په سهي معنا. دجهاد لاره اختیار کړئ. دجهاد مقصد (اعلاء کلمة الله) ده، دالله ددین سربلندي وي. ملک. حکومت اوځمکه حاصلول مقصد نه وي. انشاء الله هم تاسو به غالب راځئ. دکفر ټولې منصوبې به له خاورو سره خاوري شي اوپه دوی به ستاسو رعب کینې، رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې داحد په ورځ ستاسو وروڼه شهیدان شول؛ نو الله ددوی روحونه د شنو مرغانو په وجودونو کې واچول چې دجنت په نهرونو باندې راکوځیږي، ددې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

میوې خوري اودعرش په سوري کې چې کوم چراغونه خوړند دي په هغو کې اوسيږي کله چې دوی ته ښکلی او پاکيزه خوراک او عمده ارام ګاه پيدا شوه؛ نو هغوی وويل: کاش! چې زمونږ ورونو ته دا معلومه شي. چې الله تعالی مونږ ته کوم کوم نعمتونه راکړل ددې له پاره چې هغوی کې هم دخان قربانولو جذبه راپيدا شي، الله تعالی ورته وفرمايل: زه به ستاسو له لورې دا پيغام ور ورسوم؛ نو الله تعالی په پورته ذکر شوي دويم ايت کې دا وفرمايل.

صحيح مسلم کې دي چې کوم بنده له الله تعالی نه په ربښتيا دشهادت سوال کوي، هغه ته دشهيدانو مرتبه ورکول کيږي، که څه هم هغه پخپله بستره مړ شي (سهل ابن حنيف حدثه عن ابيه عن جده). دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: مجاهد چې کله کلکه اراده دجهاد وکړي؛ نو الله تعالی دی ددوزخ نه دخلاصي پروانه وليکي، بيا چې کله هغه دجهاد له پاره تيارې کوي؛ نو الله تعالی فرښتو مخې ته فخر کوي، بيا چې کله دکور والا نه رخصت کيږي؛ نو ده ته په خپل کور او در و ديوار پرينږودو باندې ژړا راځي؛ نو هغه دګناهونو نه داسې راوخي. لکه څنګه چې مار دخپلې پټې نه اوالله تعالی په هر بنده باندې ځلوينښت زړه فرښتي مقرر کړي چې دښې او ګس لوري ددې انسان حفاظت کوي اوهره نيکي دده دوخند شي اوروزانه دداسې زړو افرادو عبادت ده له پاره ليکل کيږي چې کوم دزرګونو کلونو په عبادت کې مشغول راروان دي. هر کال د ډيرې سوه اوشپيته ورځې وي، دهغې يوه يوه ورځ ددنيا دعمر برابر وي. بيا چې کله دښمن ته خي؛ نو ده ته دومره ثواب ليکل کيږي چې دنيا والا پرې نه پوهيږي، بيا کله چې ددښمن په مقابله کې وي اوپه (توپکو او توره) کې حرکت وي اودتوروو اودغشو کوزارونه کيږي اويو کس په بل کس باندې مخکې کيږي؛ نو فرښتي ده نه ګيره واچوي اوددې له پاره دکاميابي او ثابت قدمي دعا کوي اويو اواز کوونکی اواز کوي چې جنت دتورو لاندې دی. وروسته شهيد ته دتورې يا دتوپک زخم ددې نه هم زيات خوشګوار لګيږي، لکه څنګه چې په سخنه ګرمي کې يخي اوبه اوکله چې شهيد کوزار يا نيزه وخوري او راپريوځي. هغه له خمکې نه هم نه وي راغلی چې حور عين کومه چې دده ښځه جوړيدو والا ده هغه الله تعالی دده لوري ته راوليږي هغه راشي او ده ته ددې نعمتونو بشارت ورکړي، کوم چې الله تعالی دده له پاره تيار کړي دي هغه داسې نعمتونه دي چې نه غوږونو اوريدلي دي او نه سترګو ليدلي دي او نه دچا زړه کې تير شوي دي اوالله تعالی فرمايي چې: زه دده داهل اوعيال خليفه يم، څوک يې چې راضي کوي، هغوی زه راضي کړم اوالله تعالی ددوی روح دمرغانو په وجودونو کې داخل کړي چيرته چې غواړي الوځي راالوځي. ميوې خوري اودسرو زرو په قنديلونو کوم چې په عرش کې خوړند وي په دې کې به يو کس ته دفردوس په بالاخانوکې اويا اويا بالاخانې ورکول کيږي په دې کې به ديوې بالاخانې پراخوالای دصفانه واخله تر شام دفاصلې پورې وي، ددې نور به ديو سر نه واخله تر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بل سر بوری وی. هره یوه بالاخانه کې اویا خسمې وی په هر یو تخت کې به خلوینښت فرشونه وی دهر یو فرش بلنوالې خلوینښت لاسو برابر وي. په هر یو فرش به دده ښځې حور عین ناسې وي اوداسې ښځه چې دخپل خاوند به شیدا اوهم عمره وي ددې به اویا زره خادمان او اویا زره خادمانې ښځې وي په زیوراتو کې به بالکل پوښل شوي وي مخونه به یې سپین وي. دموتیانو تاج به یې په سر وي، په مړې کې به یې رومال ترلې وي په لاسونو کې به یې ابخوری اونمرونه وي. کله چې دقیامت ورځ وي؛ نو قسم په هغه ذات چې دکوم په لاس کې زما روح دی اګر انبیاء که مخې ته راشي؛ نو هغوی به هم بې زړه شي تر دې چې دوی به د جواهرو په دسترخوان باندې راشي اوپه هغه باندې به کینې اوپه دې کې دهر یو کس له وجې به دکورواله او ګاونډیانو اویا زره افرادو شفاعت قبلیږي تر دې چې دوه کسان به جګړه وکړي چې څوک زیات قریبي ګاونډي دي بیا به ما سره او حضرت ابراهیم سره دخلد په دسترخوان باندې کینې اوروزانه به سهار مانښام دالله تعالی دیدار کوي (بحواله نزهة المجالس. باب فضل الجهاد. عن علی رضی الله عنه)

دا روایت اګر چې دفن روایت په اعتبار سره ضعیف دی، مګر اول خو ترغیبات او فضائلو کې دمحدثینو په نزد ضعیف روایت قابل اعتبار وي، دویمه خبره داده چې دمختلفو احادیثوپه اعتبار سره چې داهل جنت حالات اودنعمتونو ذکر دي، په دې اعتبار سره دا فضائل او اکرام دشهدانو له پاره څه نامکنه او محال خبره نه ده

عمر را ضائع مکن در گفتگو جستجو کن جستجو کن جستجو

حکایت:

دغلو یوه ډله یو وار په بت کده باندې وردننه شول اوراهب ته یې وویل چې مونږ مجاهدین او غازیان یو. ددې راهب یو زوی ناروغ او فالج وهلی و. دې راهب ددې ډلې ډېر زیات خاطر مدارت او احترام وکړ. له دوی نه یې اوبه واخیستې او دناروغ زوی یې لاس او پښې پرې مالش کړې. دالله تعالی شان و چې ددې راهب ماشوم صحتمندشو، بیا ددې غلو ډلې دغلا له پاره ووتل بیا واپس چې دې بت کدې ته راغلل ویې کتل؛ نو دراهب ماشوم تندرست و له راهب نه یې پوښتنه وکړه چې دا په څه شې سهې شو. راهب وویل چې ما سناسو نه اوبه واخیستې اودخپل ماشوم لاس پښې مې پرې ووینځل. تاسو غازیان یئ دستاسو په برکت سره ماشوم صحتمند شو. غلو وویل چې مونږ غازیان نه. بلکې غله یو تا ته مو دروغ ویلي و. بهرحال ستا دعقیدت اومحبت دا اثر و چې دې وروسته غله هم توبه ګار شول، دعبرت مقام دی چې غلو خان غازي وښودو اودراهب زوی صحتمند شو؛ نو له دې نه معلومه شوه که ریښتیني

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مجاهدین اوغازیان وي، نو دهغوی له وجې به الله تعالی څومره آفات ختموي موږ ددې اندازه هم نه شو لګولې.

فائده: علائي رحمه الله فرمايي چې قرآن کريم کې چې د (طٰهٰ) سورت دی، دځينو قول دی چې طٰهٰ د مراد دمجاهدينو طبل دی، دنبي کريم ﷺ ارشاد دی چې الله تعالی دير غشي په خاطر دري افراد بښي اودوی جنت ته داخلوي، يو ددې جورونکی، بل ددې چلونکی، دريم غشی راويستونکی او ورکونکی (مراد ترې جهاد دی) همدغه زار په دې کې توب چلول، راکټ چلول، ګولې چلول ددښمن په خلاف، توره هم په کې شامله ده، نبي کريم ﷺ ارشاد فرمايي: کوم کس چې دالله تعالی په لاره کې غشي چلوي ده له په قيامت کې نور وي، عيون المجالس کې په حواله د نزهة البساتين دي چې دتولو نه اول اسلحه چې له اسمان نه راکوزه شوه کمان دی، ځکه چې کله حضرت ادم عليه السلام په خمکه کې فصل کرلو؛ نو کارغان راغلل اودافصل يې راوويست؛ نو حضرت ادم عليه السلام الله تعالی ته شکايت وکړ؛ نو الله تعالی ورته له اسمان نه کمان راوليږه، هغه په کارغانو باندې غشي وورول، ددې فصل محفوظ شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې بوډا شي؛ نو دده داحالت دقيامت په ورځ ده له په پاره نور جوړ شي اوچا چې دالله تعالی په لاره کې غشي ويشتي وي، که دا چا ته لګيدلي وي اوکه نه، ده له پاره به دغلام ازادولو ثواب ليکل کيږي اوخوک چې يو مسلمان غلام ازاد کړي، يو يو اندام په بدله کې ده له پاره دوزخ نه به فديه جوړه شي (دغشي چلولو نه مراد هر هغه شی دی چې مسلمان غازي يې دکافر دښمن پر خلاف وچلوي، که په توپک وي يا په توره يا بم وي اوداسې نور.)

عطا اسلاف جذب دردن کر شريک زمره لا يحزنون کر
خرد کی گتهيان سلجها چکا هوں ميرے مولا مجهے صاحب جنوں کر (اقبال)
عالم هے فقط مومن جانباز کی ميراث مومن نهيں جو صاحب لولاک نهيں (اقبال)

دکافر اومومن فرق (توپير):

(۱): دکافر جنګ ددنيا، دمال اوحکومت له پاره وي.

(۲): کافر داسلحې په بهروسه (اعتماد) باندې جنګيږي، دمؤمن جنګ دالله درضا له پاره وي، دمؤمن توکل په اسلحه باندې نه وي، بلکې دالله تعالی په ذات اوقوت باندې وي.

کافر تو کرتا هے شمشير پہ بهروسه مومن هے تو بے تيغ بهی لڑتا هے سپاهی

مولانا رومي رحمه الله ليکي چې: يو ځل ديوي قلعي فتح کولو له پاره حضرت جعفر رضي الله عنه يوازې حمله وکړه، دهغه مخې ته قلعه داسې وه، لکه داس مخې ته يو ګوټ اوبه، تر دې چې قلعي والا خلکو له ډاره دقلعي دروازې بندې کړې، بادشاه دوزيرانو سره مشوره وکړه چې څه

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وکړو. هغوی ورته وویل دې بهادر کس سره جنګیدو نه دا بهتره ده چې تاسو یوازې تورې او کفن واخلئ اواسلحه ورته وغورځوئ. بادشاه وویل هغه خو یوازې دی بیا دومره دډار څه ضرورت دی. وزیر وویل چې بیشکه یوازې دی، خو ټوله قلعه دهغه مخې ته داسې لړزیږي لکه سمساب پاره اواهل قلعه داسې دی لکه سر نیټ کړي ګډان . دا کس خو یوازې دی. خودې جرات اوبهادریې ته یې وګورە چې یوازې جنګیدو ته راغلی دی. لکه چې دمشرق اومغرب ټول فوجونه له هغه سره وي. هغه داسې دی. لکه یو لاک انسانان داقوت دده نه. بلکې دده شاته یو مضبوط قوت دی، مولانا فرمایې بیشمیره ستوري راوخي. خود سپوږمی رڼا داټول بې حیثیته کړي

۲، که په زرګونو مړې په یوه پیشو حمله وکړي؛ نو دپیشو یو اواز هم ددوی له پاره دمرګ پیغام دی

۳، ګډې چیلې په لاکونو تعداد کې دیو قصاب مخې ته هیڅ حیثیت نه لري اودی نه شي ویرولی. همدغه راز یو مؤمن په زرګونو کافرانو باندې ایماني قوت سره مضبوط دی دده مخې ته ددښمن طاقت حیثیت نه لري

بچل ھوں نظر کوہ بیاباں پہ ھے میری میرے لئے شایاں خس و خاشاک نہیں (اقبال)

قرآن کریم کې د حضرت طالوت ایماني قوت

سره په جالوت بادشاه باندې غالب کیدل:

ارشاد رباني دی

وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ(۲۵۰) (سورة البقرة)

ترجمه: اوکله چې دجالوت او ددە لښکر مقابلې ته راووتل (یعنې مسلمانان او طالوت)؛ نو وې فرمایل: اې زمونږ پروردګاره! مونږ ته استقلال (غیب نه) راکړې اوزمونږ قدمونه مضبوط کړه اومونږ په دې کافر قوم باندې غالب کړه!

په روایت کې دي چې یوه ورځ بني اسرائیلو حضرت شموئیل عَلَيْهِ السَّلَام ته وویل چې: تاسو مونږ له پاره دعا وکړئ چې الله تعالی مونږ ته په دویم ځل سلطنت راکړي اودښمن سره جهاد وکړو اوالله تعالی مونږ ته یو سردار هم راکړي چې دهغه په اقتداء کې مونږ جهاد وکړو. وجه دا وه چې دبني اسرائیلو کار ترڅه وخته پورې ښه و. کله چې ددوی نیت خراب شو؛ نو الله تعالیٰ پرې جالوت بادشاه مسلط کړ. ددوی ښارونه یې قبضه کړل، دوی یې ټول غلامان کړل اوکوم چې تري باقي پاتي شول هغه وتښتیدل او بیت المقدس کې جمع شول، دا وخت هغوی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شموئيل عَلَيْهِ السَّلَام ته درخواست وکړ چې دعا وکړي چې دوی ته الله تعالی داسې سردار ورکړي چې دهغه په مشرۍ کې دوی دښمن خلاف جهاد وکړي، حضرت شموئيل عَلَيْهِ السَّلَام دوی ته دعا وکړه چې: الله تعالی به تاسو ته يو بادشاه درکړي چې دهغه نوم به طالوت وي اوطالوت به بني اسرائيلو کې غريب هلک و دغو خلکو اعتراض وکړ چې دی څنګه بادشاه کړو دی خو غريب دی، موږ خو له ده زيات حقدار يو. الله تعالی وفرمايل چې: هغه په علم او جسم دواړو کې ستاسو نه بهتر دی، له دې وجې مې هغه لوی بنده منتخب کړ اودا دالله تعالی په لاس کې دي چې چا ته سرداري عطا کوي. مګرقوم بني اسرائيل طالوت حقير(سپک) وګانه او مخ يې ترې واړوو اوويا يې وويل

اې نبي! که په ربښتيا دادالله تعالی له لوري وي؛ نو ددې د صداقت څه ننبه ده، دده د صداقت ننبه داده چې تاسو ته به الله تعالی دحضرت موسی او هارون عَلَيْهِمَا السَّلَام دمتبرک اثارو صندوق راشي، کوم چې قوم عمالقه وړی و. خلکو وکتل چې فرښتو په غوا ګاډي کې صندوق راروان کړی دی قوم چې دا ننبه وکته؛ نو حيران پاتې شول. بالاخر حضرت طالوت يې سردار ومانه، وروسته طالوت حکم وکړ چې جالوت باندې خلاف به جهاد کول غواړي داتول خلک تيارشول. حضرت شموئيل عَلَيْهِ السَّلَام حضرت طالوت ته يوه زغره ورکړه وه چې دا زغره دچا په وجود برابر راشي؛ نو هغه به جالوت قتل کوي.

بهر حال ديو روايت مطابق حضرت طالوت اتيا زره فوج واخيست او لاړ. مخبرانو جالوت ته ددې حملې اطلاع ورکړه، هغه هم تيارشو. لښکر چې کله لږ مخکې لاړ؛ نو حضرت طالوت اعلان وکړ، چې اې ملګرو! په لاره کې به په تاسو يو امتحان راځي. يو نهر به راځي چې يو کس به هم له هغه نه اوبه نه څښئ هو! په روانه کې يو ګوټ دوه څښلی شئ، خو منزله مخکې له تګ ورسوته فلسطين مينځ کې هغه نهر راغئ ددې اوبه پاکې صفا بالکل اب حيات و، اکثر فوجيانو په وکه خپته وځښلي، لږو خلکو ونه څښلي اوتږي پاتې شول. کومو خلکو چې وځښلي هغوی دتلو نه پاتې شول. يوازې مخلص خلک مخکې لاړل. ويل شوي دي چې حضرت طالوت سره په اتيازره کې يوازې درې سوه کسان پاتې شول، دحضرت طالوت په فوجيانو کې حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام اودهغه ورور هم شامل و، په لاره کې دري کانو اوازونه کول چې موږ هم ځان سره واخلئ. جالوت به زموږ له وجې مري، داغيبي مدد و، الله په خپل ځان باندې يقين کوونکي خلکو څنګه مدد کوي. دايې چې واوريدل؛ نو حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام دغه کانې راپورته کړل. دحضرت طالوت دفوجيانو هغه ايمان نه و کوم چې دطالوت و. ويې ويل: طالوت موږ خو دېر زيات کم يو ددومره لوی لښکر په څنګه مقابله کوو. خوبه دې کې چې کوم دلوی ايمان والا و هغوی وويل چې: موږ کم يو خو دالله تعالی مدد اونصرت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زمونږ سره دی اوداسې ډېر شوي دي چې وړوکې ډلې ته الله تعالی په غټې ډلې باندې غلبه ورکړې ده

كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ. (سورة البقرة:۲۴۹)

ترجمه: ډېرځلې وړه ډله دالله تعالی په حکم سره په لوېې ډلې باندې غالبه شوې ده اوالله تعالی د صابرینو ملګری دی

یعنې هغوی وویل چې دایمان والاوو جنګ په کم والي یا زیات والي او اسلحه په زورباندې نه وي. بلکې دایمان په قوت باندې وي، اګر چې دقوت وغیره تیاري حکم ضرور دی چې تاسو دخپل وس مناسب اسلحې تیاری وکړئ. مګر اعتماد یوازې اویوازې په الله تعالی باندې پکار دی. جالوت چې کله وکتل چې یوازې درې سوه او دیارلس زمونږ مقابلې ته راغلي دي: نو دهغوی په بهادریې باندې حیران شواوهغه ته شرم راغی چې مونږ په لاکونو او هغوی یوازې درې سوه او دیارلس. هغه حضرت طالوت ته پیغام ولیکه چې ستا دامعمولي لښکر به زمونږ څه مقابله وکړي. بهتره داده چې دا کمزوری سوچ پریږده او زما اطاعت قبول کړه. حضرت طالوت وویل: اې بادشاه! رینبستیا هم ستا لښکر ډېر لوی دی اوزمونږ لښکر انتهايي کم. مګر مونږ په قلت اوکثرت باندې نه. بلکې دایمان په قوت باندې جنګیږو اوداسې هم شوي دي چې کم لښکر په زیات لښکر باندې غالب راغلي دي اوالله تعالی ثابت قدمه خلکو سره دی

نه پوچھو مجھ سے لذت خانماں برباد رهنے کی
نشیمن سینکڑوں میں نے بنا کر پھونک ڈالے هیں

لومړی جالوت راغی چې راځئ زما مقابلې ته څوک راوخي دحضرت طالوت له لښکر نه داود عَلَيْهِ السَّلَام راوت. ځکه چې په هغه باندې زغره برابر راغلې وه هغه چې دلارې نه کوم کانې پورته کړي و په هغو سره یې مقابله وکړه. جالوت په ډېر لوی غرور کې و، مګر هغه هلته مړ شو. ویل شوي دي چې کوم کانې حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام له لارې پورته کړي و داهغه کانې و کوم چې د لوط عَلَيْهِ السَّلَام په قوم باندې عذاب کې وریدلي و، جالوت حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام ته وویل چې: ته په کانو باندې ما سره جنګیږې دا زما توهین دی، حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام ورته وویل چې: ته سپی یې اوسپي خلک په کانو باندې ولي، دا رینبستیا دي چې کوم کافر اومنکر دي هغه دسپیو نه زیات دي، ځکه چې قرآن مجید فرمایي:

أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ. (سورة الاعراف:۱۷۹)

ترجمه: هغوی دخناورو په څیر دي، بلکې له هغوی نه هم زیات بدتردي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جالوت داوسپني په لباس پټ و، مګر دداود عَلَيْهِ السَّلَام دلاس کانې تري يو اوبل خوا ووتل. پ قرآن کريم کې دويمه سپاره کې دا واقعه ډېره تفصيل سره ذکر ده دچا چې زړه غواړي هلته دې وګوري.

حکايت:

نبي کريم ﷺ چې کله قلعه خيبر محاصره کړه؛ نو دده په خدمت اقدس کې يو حبشي غلام راغی اوداسلام قبلولو درخواست يې وکړ، نبي اکرم ﷺ هغه مسلمان کړ، حبشي پوښتنه وکړه، يا رسول الله ﷺ؛ زه ديو يهودي چېلی خروم، اوس زه څه وکړم، نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل. ده ته په خوله کې خاوري واچوئ او ورته ووايئ چې خپل مالک ته به واپس ځې، هغه راغی اوپه خوله يې ورته خاوري واچولې او ورته يې وويل ته به خپل مالک ته واپس ځې، هغه په تيزې سره واپس لاړ اوچېلی يې خپل مالک ته واپس کړې، بيا دا غلام دمسلمانانو سره په جهاد کې شريک شو او شهيد شو. دهغه لاش يې رسول پاک ﷺ ته راوړو؛ نو حضور ﷺ چې ورته وکتل: نو مخ يې تري واړو. خلکوپوښتنه وکړه چې ولې دې مخ مبارک تري واړوه؟ ويې فرمايل چې له ده سره دجنت حور عين ده هغه ورته له مخ نه ګرد پاکوي او وايي چې الله دې دهغه مخ ګردوهلی کړي چا چې ستا مخ په ګردوهلی دی اوالله دې قتل کړي چاچې ته شهيد کړی يې. اندازه ولګوئ چې نوی مسلمان دی. مګر دجهاد له برکته دشهادت مرګ ورته نصيب شو اوجنت ته لاړ.

حکايت:

محمود اوراق رَحِمَهُ اللهُ بيان دی چې موږ سره يو غلام و، ماتري پوښتنه وکړه چې نکاح نه کوې، هغه جواب راکړ چې زما پروردګار به زما نکاح دحورعين سره کوي، له دې وروسته موږ جهاد ته لاړو اوهغه غلام شهيد شو. ما خوب کې وليد چې دهغه سر يو خای او وجود يې بل خای کې ماتري پوښتنه وکړه چې څو حورو سره دې نکاح وکړه. هغه دګوتو په اشاري سره وويل چې: دريو سره. (نزهة البساتين)

لطيفه:

صاحب نزهة البساتين ليکي چې ما دشبلي رَحِمَهُ اللهُ کتاب العرائس کې لوستلي دي چې يو کس به روزانه په شيطان باندې زړ واړي لعنت ويلو، يوه ورځ دغه کس ديو ديوال لاندې ويده و، دغه ديوال راپريوتو والا و، ناڅاپه يو کس راغی اودې يې راپورته کړ، هغه پوزته شو؛ نو سمدلاسه ديوال راپريوت، هغه کس ترې پوښتنه وکړه چې ته خيرخواه ځوک يې چې زه دې بچ کړم، هغه کس ورته ووېل چې: زه شيطان يم، هغه ورته ووېل چې: تا زه ولې پورته کړم، زه خو

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

دوزخي زړ واري په تالعنت وايم اوتا له ما سره دومره غټه خيرخواهي خنګه وکړه. شيطان جواب ورکړ. ددې له پاره چې تاته د شهادت مرګ درنکړل شي. يعنې که ديوال راپريوخي؛ نو ته شهيد شوی وې. ما ته دا مناسبه نښکاره نه شوه. له دې وجې مې پورته کړې. د شيطان په نښکاره خيرخواهي کې هم د ښمنې پټه برته وی

فائده: د شهادت نهه صورتونه دي

۱، کوم کس چې د ديوال لاندې مړ شي

۲، کوم کس چې په سفر کې مړ شي

۳، کوم کس چې د خپل مال په حفاظت کې مړ شي

۴، کوم کس چې د نارغی له وجې مړ شي

۵، کوم چې په طاعون باندې مړ شي

۶، کوم کس چې ډوب شي او مړ شي

۷، څوک چې وسوځي او مړ شي

۸، کومه ښځه چې د اولاد په پيدايښت کې مړه شي

۹، کوم کس چې د الله تعالی په لاره کې مړ شي. دا اصل شهادت دی. د بحري جنګونو لوی فضيلت دی. حضور ﷺ فرمايي د بحري (اوبو) جنګ ثواب دلس بري (وچې) جنګونو برابر دی. حضور ﷺ فرمايي کوم کس چې يو بحري جنګ هم د الله په لاره کې وکړي او الله تعالی ته ښه معلومه ده چې کوم کس د الله تعالی په لاره کې وجنګيد د الله تعالی اطاعت يې وکړ اوجنت يې مکمل طلب کړ اود دوزخ نه په مکمل ډول ليرې شو

هغه شهيد چې د الله په لاره کې کفارو سره مقابله وکړي اومړ شي دهغه باره کې حکم دادی چې ده ته غسل ورنه کړي اونه يې وينه صفا کړي اونه کفن ورکړي. بلکې په دې زخمي حالت کې مجاهدانه لباس کې خپل شهادت والا وينه د الله تعالی په حضور کې ګواه کړي

چين لے مجھ سے اے جلوۂ خوش روئے دوست
میں کوئی محفل نہ دیکھوں اب تیری محفل کے بعد

حکايت:

د نسفي ﷺ په حواله سره يو کس به روزانه د الله تعالی په لاره جهاد کاو. کله به چې فارغ شو. د جامو نه به يې دوړه راجمع کړه. تردې چې د هر زيات ګرد يې راجمع کړ؛ نو هغه ددې ګرد نه خښتې جوړې کړې او وصيت يې وکړ چې د ا خښتې د زما په قبر کې سر ته کيږدول شي، دهغه د وصيت مطابق عمل وشو دهغه په دوستانو کې چا په خوب وليد اودهغه د حالت پوښتنه يې وکړه؛ نو هغه جواب ورکړ چې دهغو خښتو له وجې الله تعالی زه وبښلم.

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

توحید تو یه هے که خدا حشر میں یه کهه دے یه بنده دوعالم سے خفا میرے لئے هے (جوهر)

علائي ﷺ بیان کړي دي چې دشهیدانو روحونه قیامت پورې د عرش لاندې رکوع اوسجدو کې مشغوله وي. شرح مهذب کې دي چې شهید ته شهید له دې وجې ویل کیږي چې الله تعالی اودهغه رسول ﷺ دده له پاره دجنت ګواهي ورکړي ده اوځینو ویلي دي چې دده روح به دارالسلام (دجنت مقام) کې حاضر وي اود هیڅوا روح به قیامت پورې هلته حاضر نه وي (یعني دا دشهید دروح اعزاز دی)

میری افتادگی بھی میرے حق میں اس کی رحمت تھی

که گرتے گرتے بھی میں نے لیا دامن هے تهام اس کا

حضرت حنظله بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې غسیل الملائکه په لقب مشهور شو، دهغه تازه واده شوی و په دغه شپه دجهاد له پاره اعلان وشو. دی پرته له غسل نه دحکم تعمیل له پاره ووت اوشهید شو. حضور ﷺ وکتل چې فرښتې ده ته غسل ورکوي دهغه له ښځې یې پوښتنه وکړه چې په څه حال تللی و، هغې وویل چې: پرته دغسل نه، په هغه باندې غسل واجب و، حضور ﷺ ده ته غسیل الملائکه لقب ورکړ، خو داهغه جانثار صحابي دی چې دحضور ﷺ په اواز باندې لبیک ویونکی دی دغسل ضرورت و؛ نو فرښتې یې غسل ته راغلې. سبحان الله! دهغه صحابه کرامو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين) دایمان څومره لوی مقام و، افسوس! په دغه خلکو چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين باندې لعن طعن کوي اوخپل ایمان ضائع کوي اعاذنا الله تعالی!

جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې حضور ﷺ فرمایې: څوک چې دالله تعالی په لاره یو ورځ دسرحد نګراني وکړي؛ نو الله تعالی دده او ددوزخ په مینځ کې اووه خندقونه حائل کړي. دیو خندق فاصله دځمکې اوآسمان برابره. په یو بل روایت کې حضور ﷺ فرمایې څوک چې یوه شپه داسلامي سرحد حفاظت وکړي، ده ته به دزرو شپو دبیدارۍ ثواب ورکول کیږي (لکه چې په زرګونو شپو ده عبادت وکړي) اود دومره روژو ثواب به هم ورکول کیږي او وې فرمایل چې: دسرحد نګراني کول ثواب جاریه دی اوترقیامت پورې زیاتیږي اودقبر دازمائش نه به په امن وي. الله دې زمونږ دشهادت مرګ نصیب کړي آمین!

شهیدان هم زمونږ په څیر انسانان دي اودهغوی هم ضروریات او خواهشات دي دهغوی هم داولاد اوکور سره محبت وي. مګر کله چې هغوی هر څه دالله په لاره کې قربان کړي؛ نو دوی ته اعلی مقام نصیب شي.

بوستان عاشقان سرسبز باد آفتاب عاشقان تابنده باد (رویﷺ)

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دصفرالمظفر دمیاشتې اوله خطبه

دفال او توهم پرستي مذمت:

وصفر دمیاشتي اړوند (متعلق) دځینو خلکو دا نظریه ده، چې په دې میاشت کې مصیبتونه او ناورینونه نازلیږي. داسلام نه مخکې جاهلیت کې هم دا نظریه وه، حالانکې مرګ او ژوند، عزت اوذلت، نفع اوضرر، هرشی دالله تعالی په قبضه او قدرت کې دي کوم وخت یا زمانه، یوه ورځ، یو مرغه، یوځناور یا یو ځای منحوس اوبدنه وي، بلکې دانسانانو اعمال بدوي، په دوی باندې افات او مصیبتونه رانا زلیږي، که چیرته اعمال ښه وي؛ نو دالله تعالی برکتونه او رحمتونه رانازلیږي، که انسان په الله تعالی باندې کامل ایمان لري دده د احکاماتو تابعداري وکړي؛ نو الله تعالی ددوی رهنمایي اورهبري کوي، که کفر اونافرماني وکړي؛ نو شیطانان دانسي خلک ېې لارې کوي. تباه اوبربادوي ېې. لکه څنګه چې ارشاد باري تعالی دی

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا أَوْلِيَآؤُهُمُ الطَّاغُوْتُ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِنَ النُّوْرِ إِلَى الظُّلُمَاتِ أُولٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ (۲۵۷). (سورة البقرة)

ترجمه: الله تعالی دوست (مرستیال - مددګار) دی دهغوکسانو چې مؤمنان دي، چې باسي دوی له تیارو (دکفراوګمراهي نه) درڼا (ایمان اوهدایت) لوري ته اوهغه کسان چې کافران (منکران) شوي دي دوستان د دوی شیطانان دي چې باسي دوی له رڼا (دفطري ایمان او هدایت نه) تیارو (دکفراوګمراهي) لوري ته دغه کسان چې فطري ایمان ېې په عملي کفرسره بدل کړی دي خاوندان داور (د جهنم) دي هم دوی په دې اورکې تل پاتې کیدونکي دي

فائده: له دې ایت نه ثابته شوه چې ایمان اوعمل صالح په برکت سره بنده په رڼا اوبصیرت سره وي اودکفراونافرماني له وجې انسان په تیارو کې وي، توهمات، وسوسې اوخطرات دده نه ګیر چاپیره وي. بل ځای کې ارشاد باري تعالی دی:

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (۲) (سورة فاطر)

ترجمه: هرهغه شی چې پرانیزي الله تعالی له پاره دخلکوله رحمت خپل (لکه صحت، وسعت)؛ نوښه شته هیڅوک بندوونکی دهغه اوهرهغه شی چې بندکړي (له عطاء خپلې)؛ نوښه شته لیږونکی دهغه هیڅوک وروسته له بندولو دالله تعالی اوهم دی دی بنه غالب قوي په انفاذ (احکامو) بنه حکمت والا (چې هرکار په تدبیراومصلحت سره کوي).

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فال:

له دې ایت نه ثابته شوه چې ټول خیراوشر دالله تعالی په قبضه او قدرت کې دی، ټول قرآن ددې نه ډک دی چې مرګ اوژوند ،عزت اوذلت، خوشالي اوغم، ناروغي اوصحت ټول دالله تعالی په قبضه اوقدرت کې دي. لهذا دالله تعالی لوري ته رجوع وکړئ اودیوې میاشتې بدفالي مه نیسئ. یوه میاشت هم بده نه ده ټولې دالله میاشتې دي.

دصفر دمیاشتې اړوند توهمات:

خُینې خلک دصفرپه میاشت کې واده اونورې خوشالۍ کول ښه نه ګڼي او وایې چې: دصفر واده صِفر وي. یعنې ناکامه وي او عموما په ذهنونو کې هم داوي چې دصفر میاشت نامبارک او منحوسه وي، خلک دصفر دتیریدو انتظار کوي اوبیا دربیع الاول نه بیا دخپلو تقریباتو انتظام کوي اوبیادلول ربیع الاول نه خپل تقریبات شروع کړي، ددې وهم پرستي ددین سره هیڅ اړیکه نه شته دامحض باطل دی، خُینې خلک داول صفر نه تر دیارلسم صفر پورې په خاص ډول منحوس ګڼي او ګهونګهني اوداسې نور پاڅه کړي او تقسیم یې کړي چې ددې نحوست نه حفاظت وشي داهم بالکل بې اصله خبره ده. دصفر میاشتې دنحوست په اړوند چې کوم حدیث وړاندې کیږي ملا علي قاري رحمه الله په خپل کتاب (الموضوعات الکبیر)کې فرمایي چې دا حدیث موضوعي دی، لهذا دموضوعي. له خانه جوړشوي حدیث نه دلیل وړاندې کول سراسر جهالت او ګمراهي ده. هغه روایت دادی چې "مَن بَشَّرَنِي بِخُروجِ صَفَرٍ بَشَّرتُه بِالجَنَّة" یعني حضور ﷺ فرمایي چې کوم کس ما ته دصفر دمیاشتې دختمیدو په اړوند خوشخبري راکړي، زه هغه ته دجنت زیری ورکوم

اول جواب خودادی چې دا حدیث موضوعي اوله خانه جوړشوی دی، دویم جواب دادی چې که بالفرض موږ داحدیث سهي ومنو؛ نودې مطلب دادی چې حضور ﷺ وفات په ربیع الاول میاشت کې کیدو والا و او هغه ته دالله تعالی دملاقات بې حده شوق و، له دې وجې هغه ته دصفر دختمیدو او ربیع الاول دشروع کیدو دخبر انتظار و ددې نه دصفر نحوست هیڅ کله نه ثابتیږي، خاصکر مزدوران په دې کې مزدوري نه کوي دمالک نه دمتایې مطالبه کوي اوهم یو مزدور ته عیدي او متایې ورکول کیږي داهم بې اصله خبره ده اوواجب الترک دي اوخُینې خلک په دې ورځ باندې چوتې داجراوثواب ګڼي اومشهوره ده چې په دې باندې حضور ﷺ دصحت غسل کړی و، ددې په اړوندیو شعر هم جوړشوی دی.

آخری چهار شنبه آیا هے غسل صحت نبی ؐ نے پایا هے

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ددې هم څه اصل نه شته، بلکې په دې ورځ خو نبي کرم ﷺ دمرض الوفات ابتداء شوي وه اودنبي کريم ﷺ په وفات باندې خوشالي څنګه کيدای شي!

خپې خلکو کره که خاورين لوبنې وي؛ نو هغه ماتوي اوپه دې ورځ باندې خپې خلک رجاندې نه تعويذات جوړوي چې دصفر ميا شتي دنحوست نارو غيو اومصيبتونو نه بچ شي دا بلکل وهم پرستي ده اودا پريښودل واجب دي، په زمانه جاهليت کې چې دصفر ميا شتي په اروند کوم نحوست او مصيبتونو او بلاګانو دنازليدو اعتقاد پورته ذکر شو، ددې په بنياد باندې خپې مذهبي خلکو هم دادمصيبتونو او افتونو ميا شت ګڼلې اوبيا له خانه يې دعبادت مختلفې طريقې ښودلې دي چې دهغو کولو سره انسان دهر قسمه مصيبتونو او افاتو نه محفوظ وي داتولې له خانه جوړې شوي خبرې دي. ددې خبرو دقرآن اوحديث نه هيڅ ثبوت نه شته، ځکه چې کله دنياوي اعتبار سره ددې مصيبتونو او نحوستونو څه حقيقت نه شته اودجاهليت د دور باطله نظريه ده؛ نو رسول ﷺ هم دا بې اصله او بې بنياده ګڼلې ده. په دې چې کوم بنياد کيښودل شي هغه به هم بې اصله اوبې بنياده وي. رحمت عالم ﷺ په خپلو اوصافو اواضحه ارشاداتو په ذريعه دزمانې جاهليت دتوهماتو اوترقيامته پورې ډيدا کيدونکو باطله خيالاتو اودصفر ميا شتي متعلق په وجود کې راتلونکو تولو باطلو نظرياتو تردید اونفي وفرمايله او ورسره يې دجاهليت د دوردطريقو نه دکومو نه چې بدفالي اوبدشګوني اخيستل کيده له هغه يې هم مکمل نفي وکړه اومسلمانانو ته يې ددې توهماتو دلپرې کولو تاکيد وفرمايه، هغه ﷺ دا هم وفرمايل چې: ديوې نارو غيې بل ته لګيدل داخيال هم باطل دی. نارو غي دالله دحکم نه پرته بل ته نه لګيږي اوپه يو کور، دوکان. ميدان. ونه، مرغه. ځنار. سپوږمۍ. ستوري کې هيڅ نحوست نه شته، مسلمانانو ته پکار دي چې درسول الله ﷺ په تعليماتو اوارشاداتو باندې عمل وکړي اود جاهليت زړو توهماتو نه ځان وساتي. زمونږ په معاشره کې دبدشګوني او بدفالي مختلف صورتونه رواج دي چې تول غير معتبرې اوددې قابل دي چې سمدلاسه تري توبه وويستل شي (بحواله البلاغ جنوري ۱۹۸۴ء، ۱۹۸۷ء اکتوبر)، همدغه راز فال ويستل. نجومي ته لاس نښودل اودجناتو په خبرو باندې يقين کول دقرآن کريم نه فال ويستل داتول غلط دي، خپله اصلاح وکړئ دالله تعالى په احکاماتواو دنبي کرم ﷺ په سنتو باندې عمل وکړئ، هر قسمه خيراوبرکت به وي، ګني هر قسمه افات اوبليات به رانازليږي. دالله تعالى دروازه چې مونږ پرېنږده؛ نو د در در په دورازو مونږ تندي ولګوو. دالله ويره چې ووته، په زرګونو ويرې زړه ته راغلې، الله نه مو چې غوښتنه پرېښوده. هر چا ته مو لاس ونيوو. بس هر قسمه افت اومصيبت زمونږ دخپل عمل له وجې دی. که چيرته مونږ خوشالي امن، برکت او عافيت غواړو؛ نومونږ به عقيدې دشريعت مطابق جوړوو اواعمال به دسنت مطابق اختيارو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جو تو چاهے میرے مولا! کانٹے خون ٹپکائیں رگیں پھولوں کی پتھر سے زیادہ سخت ہو جائیں

دحضرت جابر رضی اللہ عنہ ارشاد دی چې ما له رسول الله ﷺ نه پخپله اوریدلي دي چې دصفر په میاشت کې هیڅ نحوست، بهوت اوداسې نور..... نزول نه وي. (صحیح مسلم، باب لا عدوی ولا طیرة ولا هامة ولا صفر ولا نوء ولا غول ولا یورد ممرض علی مصح)

هر دم وه هم کو پیش نظر دیکھتے رہے غفلت کے ماتے جاتے سخت ہو جائیں

تیرے جلوے طلسم و کلفت توڑ دیتے ہیں تیرے لطف وکرم نوٹے دلوں کو جوڑ دیتے ہیں

حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ناروغي او نحوست شیطان اثر نه وي؛ نو یو باندیچي وویل دشګلنې ځمکې هغه اوښ چې دهوسۍ په ځیر تیز دی داخاربښتي اوښ چې کله په نورو اوښانو کې وردننه شي؛ نو هغوی کې هم خارښ پیدا کوي دابیا ځه دي؟ویې فرمایل چې: اولني اوښ ته چاخارښ راوست؟ (صحیح البخاري، باب لاهامة)

سدا شرک سے رهو دور و نفور که م سے راضی خدائے غفور

په بخاري شریف کې دي چې صفر میاشت کې ناروغي، بدشګوني، شیطاني، ګرفت او نحوست هیڅ هم نه شته، مسلم شریف کې دي چې ناروغي، شیطاني، ګرفت اودستورو ګردش اونحوست دصفر میاشتې سره هیڅ قسمه تعلق نه شته، دناروغي اثر او بدشګوني هیڅ شی نه دی، الله تعالی چې هر یو حیوان پیدا کړ؛ نو دهر یو له پاره یې رزق او ناروغي لیکلې ده، ابن اثیر په خپل کتاب (النهایه) کې لیکي چې داهل عرب په نزد باندې دصفرمعنا ده دخیټې مار چې انسان ته ولګیږي چیچي اوتنګوي یې اومرض متعدي ورته ویل کیږي، حالانکې اسلام داباطله ګڼلې ده.

خدا کے سوا کوئی قادر نہیں خبردار اسرار و ناظر نہیں

خینې خلک وایې چې: په دې میاشت کې بې انتهاء بلاء او مصیبتونه راځي اوحقیقت دادی چې شریعت اسلامیه ددې دنزول انکار کړی دی

بتائیے کوئی کس کس پہ اب عمل کیجئے زمانہ روز جهنم اک رواج دینے لگا (قیصر افغانی)

دمثال په ډول چې یو کله یو ناروغ انسان دبل نه واوري چې اي موندونکیه! نو داوریدونکي انسان دا ګمان پیدا شي چې ددې ناروغي نه به صحت یاب شم اوورک شوی شی به راته ملاو شي، ددې په حواله سره یې دا حدیث لیکلې دی کوم بنده چې دفال له پاره پیش ګویې وکړي یا جادو وکړي یا په بل وکړي؛ نو داسې کس امت محمدي ﷺ کې نه دی.

پڑا جس کی گردن میں زنار شرک نہیں اس پہ اطلاق اسلام کا

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کور کې نحوست کیدای شي. (ترمذي، باب ما جاء في الشؤم)

یو روایت دی چې صحابه کرام رضي الله عنهم د حضور ﷺ په حضور کې د نحوست تذکره وکړه، ارشاد عالي وشو که نحوست وي؛ نو په اس، ښځې او کورکې به نحوست وي (صحیح البخاري)

ذهن سے یاد کا آسیب نکالا جائے　　اپنے اعصاب سے اک بوجھ اتارا جائے

آں یکے چوں نسبت با اخبار یار　　لا جرم شد پہلوئی فجار جار (مثنوي)

کله چې انسان نیکان خلک پریږدي او دفساق او فجارو صحبت اختیار کړي؛ نو دا انسان په غلطو عقیدو کې راګیر شي

سعد بن مالک د خپل پلار زباني روایت کوي چې رسول الله ﷺ نه مې د فرمایلو په وخت واورید چې عیافه (د مرغه نه فال اخیستل)، بد شګوني او طرق (د کانې نه فال اخیستل، د اټول بت پرستي ده (ابوداود)

قدم رکھ شریعت پہ بے خوف و بیم　　کہ بیشک ہے یہ جادۂ مستقیم

حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې په ښځه، اس او کور کې نحوست کیدای شي د روایت د حضرت عائشې صدیقې رضي الله عنها مخې ته دوه کسانو وړاندې کړ دایې چې واورید: نو انتهایي غوسه شوه او ویې فرمایل چې: حضور ﷺ به فرمایل چې: د جاهلیت زمانې کې به خلکو دا شیان منحوس (سپیره) ګڼل. (ابن جریر)

یو روایت کې دي چې حضرت ابن عباس رضي الله عنه په ډېر زور سره وویل چې رسول الله ﷺ کله هم د نحوست وجود ښځه، کور، یا اس نه دي ښودلی اوزه ابن عباس رضي الله عنه وایم که چیرته ستاسو په زړه کې کله د نحوست شک پیدا شي؛ نو دا شی جدا کړه، خرڅ یې کړه یا یې ازاد کړه (ابن جریر)

تنبیه: معلومه شوه چې بدفالي مرض متعدي، سیپرتوب دستورو اثر هیڅ هم نه نشته پاتې شو هغه حدیث چې "جذامي نه داسې تښته، لکه چې د زمري نه تښتي" (مسند احمد، بخاري)، مطلب دادی چې خپل وهم او کمزوري پرې لیري شي ځکه چې ناروغي داثر له وجې ولګیده. له دې له وجې هغه د دې لپاره اوسیږي، ګني ناروغي خو هم د الله تعالی لوري تقدیر کې لیکل شوې وه، باقي هغه حدیث که نحوست وي؛ نو په اس، ښځه او کور کې به وي بالفرض که نحوست وي. د دې اشیاو کې به وي، حالانکې چې د دې شیانو کې نحوست نه شته په یوشي کې هم نه شته. خینې خلک وایې چې: د نحوست نه مراد دلته هغه ښځه ده چې اولاد یې نه وي د خاوند نافرمانه وي او د خاوند په نظر کې ناخوښه او بدصورته وي، د کور نحوست دادی چې ورکی او تنګ وي، په دې کې خلاص اب اوهوا نه وي، داس نحوست دادی چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سرکشه او قیمتي وي اودمالک دمصلحت موافق نه وي اوداسي نور... بهرحال اصل دادی چې ټول توهمات اواوخرافات دي اودیقین اوتوکل اواعتماد علی الله کې دکمزوریې دلیل دی اودځینو احادیثو مطابق شرک دی. ورسره نحوست مجازي طور باندې مني اودنحوست وجه دراصل هغه ناخوښي ده، چې دشریعت اوطبیعت خلاف ده یعنې کوم چې چې دشریعت او طبیعت خلاف اثر انداز وي، هغه ته نحوست وایي، چې دهغه تاید په "هرح السنة" کې موجود دی رسول الله ﷺ وفرمایل: اګر که دیو کور باشندګان دخپل کور رهائش نه خوښوي یا یو خاوند دخپلې ښځې سره مجامعت (کوروالی) نه خوښوي یا اس دخوښي نه وي؛ نو په دې صورت کې دې کور پریږدي، ښځې ته دې طلاق ورکړي اواس دې خرڅ کړل شي، ددې له پاره چې دنحوست دا وهم له زړه ختم شي، لکه څنګه چې یو کس رسول الله ﷺ ته عرض وکړ یا رسول الله! موږ چې کوم کور کې اوسیدو هلته زموږ تعداد زیات و چې دهغه په جواب کې ارشاد عالي وشو چې دغه کور پریږده په بل کور کې استوګنه اختیار کړه، ځکه چې زړه دې کومه ناخوښي پرته ده چې هغه ختمه شي.

جس نے زندگی دی ہے وہ بھی سوچتا ہوگا
زندگی کے بارے میں اس قدر سوچا نہ کرو (محسن بھوپالی)

متعدي مرض. اعتراض:

څنې خلک اعتراض کوي چې: سایه له نفي وروسته رسول الله ﷺ دا حدیث چې (جذامي نه داسې تښته، لکه زمري نه چې تښتې) " ناروغ اوښ په تندرستو اوښانو کې ونه دریږي" "یو ناروغ دې دروغو(صحتمندو) خلکو لوري ته تګ راتګ نه کوي" "دناروغ اوښ مالک هم ناروغ او دتندرست اوښ مالک هم تندرست وي"

لومړی جواب:

کرماني په شرح بخاري کې " چهوت(سایه) څه شي نه دي" تشریح یې کړې اولیکلي یې دي چې: په لحاظ دطبیعت اوخلقت یوه ناروغي بل ته نه لګیږي اوځه چې هم ظاهریږي دالله تعالی په حکم اومنشاء باندې کیږي اوله دې وجې رسالت مآب ﷺ ناروغ اوښ دتندرست اوښ ته تلو نه منع کړی دی اوارشاد یې وفرمایه چې: جذامي نه لهرې تښتئ، که چیرته ناروغي هم ولګیږي؛ نو داخیال دې نه کوي چې دنزدیکت له وجې شوی دی.

اسی کے نظارے آرہے ہیں جدھر بھی اٹھا کر نظر دیکھتا ہوں

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دویم جواب:

"چهوت سایه، هیڅ شی نه دی" دحدیث نه نفس چهوت باطل کیدل اوناکاره پن مراد نه دي، بلکې جذامي نه ناسي ونښتن، څنګه چې له زمري نه تښتن اوتندست نه دي ناروغ ته تګ رانګې نه کوي ددي دواړو احادیثو نه درسول الله ﷺ مراد دادی چې کمزوری طبیعت چې ددی کار عقیده لری چې امراض یوبل ته لګیږي سایه لازمي ډول اثر انداز کیږي؛ نو هغوی دي خبردار شي چې ددوی د وهم اوګمان حد ننګ دی، ګني اصلیت دادی چې دا سي قسم مرضونه هم د الله تعالی د ارادي تابع وي، هغه چې څه غواړي هغه کیږي اوکوم کار چې نه غواړي هغه کله هم نه شي کیدلی اودي طرف ته درسول الله ﷺ دافرمان وایي چې دا ووایئ چې اول چا ناروغ کړ؟ اودرسول الله ﷺ داحکم چې جذامي نه بښتن اوناروغ دي نه ښندرست لوری نه نه ځي. ګوره دا ناسي ده لکه چې دکوږ دیوال یا دماتې کشتن نه ډیر کمزور شي

گر جہل لذت ایمان سے ہے بے خبر ہوں میں — نہ کہہ کہ رحمت یزداں سے بے خبر ہوں میں
جہاں دیکھتا ہوں جدھر دیکھتا ہوں، خدا ہی کو میں جلوہ گر دیکھتا ہوں
(طالب)

دریم جواب:

جذامي یا ناروغ ته دتلو ممانعت دشفقت په ډول دی. که چیرته دی ناروغ شي یا په اوښتو کې ناروغي خوره شي او خلک دي دا ګمان نه کوي چې دچهوت ناروغي لګیږي اوداحق ده حالانکې چهوت هیڅ شی نه دی اوزموږ ددې بیان تاید له دي نه کیږي چې یو جذامي چې دبیعت په خیال راغلی و حضور ﷺ ورته وفرمایل چې موږ قبول کړ، اوس ته تللی شی. ډیو بل جذامي لاس یې په یو لوښي کې وواهه او ویې فرمایل چې په الله تعالی باندې توکل وکړه اوډا وخوره. په اولني حدیث کې داسباب په ډول دپرهیز حکم دی چې په ناسي صورت کې پرهیز کول پکار دي اوپه دویم حدیث کې داسبابو په موجودیت کې په الله باندې بهروسې اواعتماد ښکاره ثبوت دی اودا سنت نبوي ﷺ دي چې دتولو اسبابو باوجود په الله تعالی اویازي په الله تعالی باندې اعتماد کول پکاردي

اگر تجھ کو حاصل رضا و تسلیم ہے — تو مئی ترے ہاتھ میں سیم ہے (تقویۃ الایمان)

څلورم جواب:

طبیب ﷺ دعمر بن شدید نه روایت کړي دي چې دبنو ثقیف وفد کې چې کوم کس جذامي و هغه ته رسول الله ﷺ خبرورکړ چې موږ ستا بیعت قبول کړ او اې جذامي اوس ته واپس لاړ شه. صحیح مسلم دا حدیث لیکلی چې رسول الله ﷺ اجازه ورکړه دهغو خلکو له پاره کوم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې تر اوسه پوره توکل ته نه و رسیدلي اوددوی اراده هم داوه چې اسباب هم پیش نظر ساتم، ځکه چې موجودات عالم نه الله تعالی یو خاص اثر ورکړی

اگر بوئے ایمان سے کچے کار ہے　　تیرا دل ضلالت سے بیزار ہے
تو پی ساغر توحید کو　　نه کر کور چشمان امید کو (تقویۃ الایمان)

په الله تعالی توکل:

که چېرې دالله تعالی په ذات باندې یقین اواعتماد وي، نو انسان ته یو شی هم نقصان نه شي رسولی. ارشاد باري تعالی دی:

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ. (سورۃ الطلاق: ۳)

ترجمہ: کوم بنده چې دالله تعالی په ذات باندې توکل ساتي، الله هغه له پاره کافي دی

دانسان عقیدې چې کمزوري کیږي؛ نو له هرشی نه ویریږي، خوکله چې یقین پوخ وي اومضبوط وي په الله تعالی وي، نو بیا یې هیڅ فکر نه وي.

گلشن میں پھروں کہ سیر صحرا دیکھوں　　یا معدن وکوہ و دشت و دریا دیکھوں
ہرجا تری قدرت کے ہیں لاکھوں جلوے　　حیران ہوں کہ دو آنکھوں سے کیا دیکھوں
(میر انیس)

جناب سید المرسلین ﷺ وفرمایل چې: الله تعالی زما مخې ته امتونه راوستل ما خپل امت ولید چې کوه بیابان تري ډک وما چې دا ډېروالی ولید، حیران پاتې شوم اوخوشاله شوم، حق تعالی زما نه پوښتنه وکړه، چې خوشاله شوي؟ ما وویل: یا الله! خوشاله شوم، بیا الله تعالی وفرمایل چې: په دې کې اویا زره کسان پرته له حساب کتابه جنت ته داخلیږي، صحابه کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِیْن ووېل: یا رسول الله دغه کوم خلک دي، وېې فرمایل چې: کوم په فقر فال او داغ باندې یقین نه کوي، بلکې له الله تعالی پرته په بل چا باندې یقین نه کوي، دې وخت کې حضرت عکاشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ودریدل اووېې ویل: یا رسول الله ﷺ ما له پاره دعا وکړه چې ما هم الله تعالی په دغه اویا زره کسانو کې شامل کړي، حضور ﷺ دعا وکړه چې یاالله! دی هم په دې خلکو کې شامل کړي، یو بل صحابي هم پورته شو اوددعا درخواست یې وکړ، رسول الله ﷺ وفرمایل: "سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشه" یعنې عکاشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په دې کې نمبر یوړ، رسول الله ﷺ وفرمایل که چېرې تاسو په الله باندې داسې توکل وکړئ؛ نو تاسو ته به الله تعالی داسې رزق دروررسیږي څنګه چې مرغیو ته وررسیږي چې سهار وږې وي اومابنام په ډکه خیټه واپس شي

وصف او را در گفت چوں آید مرا　　چوں عرق از شرم خود آید مرا (عطار)

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وې فرمایل: څوک چې الله تعالی پناه غواړي، الله تعالی دهغو دټولو کارونو نګران وي اوده له پاره کافي وي اوده اسې ځای نه ورته رزق رسوي له کوم ځای نه چې دده وهم اوګمان هم نه وي اوکوم بنده چې د دنیا پناه غواړي الله تعالی یې په خپل حال باندې پریږدي. ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله کافرانو اور ته اچول وغوښتل؛ نو ده وفرمایل " حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ " کله چې دی هوا کې و؛ نو جبریل عَلَيْهِ السَّلَام ترې پوښتنه وکړه چې څه حاجت شته؛ وې فرمایل نه، څه نه شته، هغه ویلي و دهغه دوفا کولو له پاره جبرایل عَلَيْهِ السَّلَام ته دا وویل دا وجه ده چې الله تعالی په دې عنوان باندې دده تعارف وکړ او وې فرمایل: "وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ"

د حضرت ابراهیم بن ادهم رَحِمَهُ اللهُ توکل:

حضرت ابراهیم بن ادهم رَحِمَهُ اللهُ وفرمایل چې: ما له یو راهب نه دهغه دروزي متعلق پوښتنه وکړه، هغه وویل: ما ته معلومه نه ده د ورکوونکي نه پوښتنه وکړه. خلکو دیو کس نه پوښتنه وکړه چې ته همیشه په عبادت کې یې رزق له کوم ځایه خوري. هغه دخپلو غاښونو لورې ته اشاره وکړه چاچې دا ژرنده جوړه کړې ده هغه رزق هم راکوي

دالله رحمت او دایمان ثمره ده. بنده باید له خپله لوري دجائز اوحلال کوشش وکړي. بیا په الله باندې یقین وکړي اودا سبابو اختیارول هم دالله له لوري وګڼي

تیرا کچھ پتہ بھی جو وہ تمام جہان پر چھا گیا
اس لئے اب نہ کسی سے امید ھے نہ کسی سے خوف و ھراس

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دصفرالمظفر دمیاشتې دویمه خطبه

دهجرت بیان:

دصفرمیاشت په اخر کې دهجرت لومړی مرحله له مکې مکرمې نه غارثور پورې وه. دریو ورځو پورې غارثور کې حضور ﷺ سره ابوبکر صدیق رضی الله عنه و، له دې وروسته دمدینې منورې لورې ته دهجرت مرحله راغله، کفار، مشرکین ناکام شول ارشاد باري تعالی دی:

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ (۳۰) (سورة الانفال)

ترجمه: او(یادکړه ای محمده،) هغه وخت چې مکر، فریب، چل به کاوه له تا سره هغوکسانو چې کافران شوي وو، له پاره ددې چې بندي، یاشهیدا ویا وباسي تا (له مکې نه) اوپټ فریب، چل کوي دوی (له تاسره) اوجزا، بدله دفریب ورکوي الله (دوی ته) اوالله تعالی بهتر دجزا ورکوونکو دمکر دی.

یعنې هغوی دحضور ﷺ دقتل سازش کوي او الله تعالی ددوی دمغلوبه کولو تدبیرونه کوي اوبیا الله تعالی غالب شو اودده حکم نافذ شو اوپه لږه موده کې ټول دښمنان هلاک شول اوحضور ﷺ غالب شو، دا ایت شریف په مدینه منوره کې رانازل شواودهجرت مکه په واقعه کې پیش شو، دومره زمانې وروسته دااحسان اونعمت حضور ﷺ ته له دې وجې یاد کړل شو دې له پاره چې دمدینې منافق او یهودیان پوه شي چې دحضور ﷺ دتکلیفونو له پاره زمونږ تدبیرونه او هلاکتونه او دبریادي باعث به وي.

مستغنی هر عیش و طربے — آزار کش رنج و تعبے
پرسوز گداز و تاب و تنبے — داند نه مقاش بے ادب
جنگ است با و هر بوطبے — ازکی النّسب اعل الحسب
کل العرب فی خدمته — هادی الامم بشریعته (خالد)

دهجرت رازاونکتې:

(۱) نکته: الله تعالی په حضور ﷺ باندې وطن ولې پریښود، دهر یو بنده دخپل وطن اودځای پیدایښ سره انست او محبت زیات وي، مشهوره ده " حُبُّ الوَطَنِ مِنَ الإيمان" حب وطن از ملک سلیمان خوشتر، دخپل وطن کندې دبل ملک دمحلاتو نه خوږې لګیږي اوبیا وطن چې خانه کعبه چې د رب جلیل کوردی؛ نوداسې کور سره دمحبت اندازه څوک کولی شي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دنیا کے بُت کدوں میں پہلا گھر خدا کا هم هیں پاسبان اس کے وہ پاسبان همارا (اقبال)

هغه خانه کعبه چې دهغې جوړونکي ابراهیم خلیل الله او حضرت اسماعیل علیهماالسلام وو. والله دکور سره به دیو مسلمان څومره محبت وي، بیا دخانه کعبې، خو مثال نه شته. بیا دسرورکائنات فخر موجودات حضرت محمد ﷺ دمحبت اندازه څوک کولی شي. دهجرت په وخت چې کله رسول الله ﷺ بیت الله شریف پریښودو، نو بارباریې شاته کتل اوفرمایل په چې "مَآ اَحسَنَ بَیتَکِ رَبِّی" زما درب کور څومره ښکلی دی، که قوم په پریښودو مجبوره کړی نه وه، نو ما به نه وې پریښي. دلته دحضور ﷺ دخانه کعبې سره دومره محبت او بل لوري ته په الله تعالی یوازې دخپل محبت له پاره خاص کوي اودحضور ﷺ په زړه کې دخپل عشق اومحبت نه پرته دبل شي محبت ساتل نه غوښتل. له دې وجې په دحضور ﷺ نه دهغه محبت واخیست اودهجرت حکم یې ورته وکړ. ځکه په یو زړه کې دوه عشقه او دوه محبوبان نه شي ځای کیدای. ارشاد ربانی دی

مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلبَینِ فِی جَوفِهٖ. (سورة الاحزاب: ۴)

ترجمه الله تعالی دیو بنده په وجود کې دوه زړونه نه دي ایښي.

چې په دې کې دوه شیان راشي، بلکې یو زړه یې جوړ کړ چې دیوشي عشق اومحبت په کې کیږدي. ددوو شیانو محبت په یو زړه کې نه شي راتلای، له یولوري میلان دپر وي اوبل لوري نه میلان کم کیدل لازم دي. دیو باقي پاتې کیدل او دبل فنا کیدل لازم دي. له دې وجې فاني محبت یې فنا کړ. دهجرت حکم یې ورکړ، دا راز سرورکونین حضرت محمد مصطفی ﷺ دوفات په وخت کې له خولې مبارکې نه ښکاره کړ ویې فرمایل

"لَو کُنتُ اتَّخَذتُ خَلِیلاً لَا تَّخَذتُ اَبَا بَکرٍ خَلِیلاً" یعنې ما که دالله تعالی پرته بل څوک دوست جوړاوه نو حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُ به مې دوست جوړ کړی و. مګر ما یوازې اویوازې الله تعالی خپل دوست اومحبوب جوړکړ.

په دې حدیث مبارک کې صفا ظاهره کړه چې ستاسو رسول حضرت محمد ﷺ تول محبوبان، تولې علاقې، دټولو دوستانو په مقابله یوازې اویوازې یو محبوب حقیقي جوړ کړ، حضور ﷺ کعبه مبارکه پریښوده اویوازې الله تعالی سره یې تعلق جوړکړ، خلکو! دعشق حقیقي لومړی، دوطن پریښودل. دوستان پریښودل دالله تعالی دمحبت سره دبل چا محبت یوخای کول دا د ضدینو جمع کول دي اوداد عقل مندو خلکو په نزد محال دي "دوبادشاه دریک اقلیم نه ګنجند" والا معامله ده.

(۱) نکته: عزت په دوه قسمه دی، یو عزت دخاندان، ملک، مال، دعهدې له دوجې چې وي دا عارضي اوفاني وي. دویم عزت اصلي، دائمي اوباقي وي داعزت خاص دالله د کیدو له

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دوجي وي. الله رب العزت دخپل محبوب ﷺ عارضي اوفاني عزت ټول اسباب پرېښودل، اصلي عزت يې ورکړ، له دې وجې ملک، وطن، محبوب خانه خدا، برادري قبيله ټول يې پرېښودول او دائمي عزت باندې يې سرفرازه کړ، عارضي او فاني اسري يې تري ليرې کړې، اصلي او دائمي اسري يې دخپل ذات حقيقي ورکړې، دې يې په انتهايي غريبي کورنۍ کې پيدا کړ. دې يې فقيري کې وساته، دمور اوپلار يې په داسې وخت کې وفات وشول، کله چې ده ته ددوی دمدد ضرورت و، قوم يې سخت مخالف و، وطن يې پرې پرېښود، داسې وطن لوري ته يې دهجرت حکم ورکړ چې دهغې آب اوهوا هم موافق نه و، دهغه باوجود يې هم داسې عزت ورکړ چې دهغه خوک اندازه هم نه شي لګولی

وصلّ الله علیٰ نور، کذو شد نورها پیدا زمین در عشق او ساکن فلک درحب او شیدا

(۳) نکته: خنګه چې الله تعالی دحضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام په برکت مکه معظمه کې غیر کاشت او دکانو والا خمکه اباده او شاد کړه اود برکتونو او رحمتونو والا خمکه يې جوړه کړه همدغه رنګه حضوراکرم ﷺ په برکت سره يې دمدينې منورې خمکه سرسبز اوشاداب او برکتونو او رحمتونو والا جوړول غوښتل، له دې وجې يې دهجرت حکم وکړ، ددې له پاره چې دنيا وګوري چې مکه مې دخپل خليل له وجې بابرکته جوړه کړه اومدينه منوره مې دخپل محبوب له وجې بابرکته جوړه کړه. مدينه منوره دحضور ﷺ دراتلو نه مخکې دنارو غيو. پريشانيو او وباګانو کور و، چې دهغې نوم يثرب و، ديثرب معنا هم څه داسې ده، مګر دده په راتګ سره دمکې معظمې په څير متبرکه جوړه شوه، حضور ﷺ دعا غوښتې وه، اې الله! خنګه چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دمکې له پاره دبرکت دعا کړې وه، زه دمدينې دبرکت دعا کوم. الهي ددې د خمکې نه وباء وباسي په دې کې باغات، زراعت ورکړې، ددې علاقې داهل ايمان والو په زړونو کې محبت واچوي. اوس دحضور ﷺ ددعا او قدمونو طفيل دی چې مدينه طيبه په څو خبرو کې په مکې معظمې باندې فوقيت لري، دائمه مجتهدينو په يوه خبره کې اختلاف دی، چې مکه معظمه افضله ده اوکه مدينه منوره، دځينوپه نزد مکه معظمه افضله ده اودځينوپه نزد مدينه منوره. مولانا محمد ابراهيم دهلوي رحمه الله فرمايي چې: دفقير په نزد باندې دعابدانو له پاره مکه افضله ده او عاشقانو له پاره مدينه منوره بهتره او افضله ده، داکثر مجتهدينو اوفقهاء کرامو په دې خبره باندې اتفاق دی چې دقبر شريف هغه مبارکه برخه چې دحضور ﷺ نوراني وجود مبارک سره لګيدلې ده، هغه دخانه کعبې نه، بلکې د عرش نه هم افضله ده.

رسائی روز ہو وقت سحر مدینے میں اگر ملے تو مقدر ملے صبا کی طرح
جگہ اگر تیرے قدموں میں مجھ کو مل جاتی! تو چومتا نعلین نقش پاک کی طرح (سفیر)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دهجرت واقعه:

والله تعالی په فضل اوکرم کله چې دتوحید په رناګانو زړونه منور شول اودتوحید خداوندي نعرې ډغانه کعبې نه شا اوخوا پورته شوې دمکې په ښخو او ماشومانو کې داسلام اثار ښکاره شول؛ نو دمکې کافران پریشانه شول، معاذالله دحضور ﷺ دختمولو کوششونه یې شروع کړل. خوڅوک چې الله ساتي هغوی ته به څوک نقصان ورسوي؟

نور خدا هے کفر کی حرکت پہ خندہ زن پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا

(۴) نکته: کفارو ته چې کله خپلې منصوبې یې کاره په نظر ښکاره شوې؛ نو هغوی مجبوره شول او غټ غټ مشران یې راجمع کړل اودکور دروازې یې بندې کړې او مشورې یې شروع کړې. شیطان هم دا موقعه غنیمت وګڼله اود بزرګ انسان په شکل راغې. خکه مثال مشهور دی"دحق راضي رحمان او دبدیې ملګری شیطان" شیطان راغی دروازه یې وټکوله آو اواز یې وکړ. خلکو دروازه خلاصه کړئ! ابو جهل تري پوښتنه وکړه چې ته څوک او له کومه ځایه راغلی یې اوولې راغلی یې. شیطان لعین ورته وویل: زه یوبوډا تجربه کار یم، دډېر لرې ښار نه راغلی یم اوستاسو په دې مبارک مجلس کې شاملیدو له پاره راغلی یم، یو خو دمکې ټول ګروګان اوبل لوري ته په کې شیطان هم شامل شو، زهر نور هم په خپل زوربلدي سوا شول، کله چې مجلس شروع شو؛ نودې ظالمانو دحضوراقدس ﷺ دقتلولو تدبیرونه کول (معاذ الله) اودلته حضور ﷺ ددوی له پاره دعاګاني کولې.

اې الله! زما قوم ته هدایت نصیب کړې، دوی ما نه پیژني یو کافر ابو البختري په نوم باندې دا مشوره ورکړه چې حضور اکرم ﷺ دې په یو تیاره کور کې بندیوان کړل شي، یوورځې روښنان دې ورته وساتل شي او روزانه دې ورته لږ ډوډۍ ورکول کیږي. یوڅو ورځې وروسته به خودبخود مړشي (معاذ الله)، شیطان دا رایه رد کړه او ویې ویل چې دا رایه انتهایي ناقصه ده، تا ته پته نه شته که حضور ﷺ په اوږه تالو کې بند وساتې؛ نو دهغه ملګري به هغه ډوخشو نه وپیژني اوخپل امام او رهبر به راوباسي، ټول اهل مجلس ابلیس ته شاباش ورکړ چې ډېره ښه خبره وکړه، بیا عمروبن هشام کافراومشرک وویل چې دارایه غلطه ده؛ نو بایدڅه وکړل شي. یو کس وویل چې: حضور ﷺ په یو اوښ باندې مضبوط وترل شي اوملک حجاز نه دې بهر کړل شي، په دې صورت کې به دمکې خلک ډېر په ارام شي اوپه اسانه به تري خلاص شو. شیطان چې دا اووریدل؛ نو ویې ویل: دا رایه دلومړی رایې نه هم زیاته کمزوري ده، خکه چې تاسوته معلومه نه ده چې دمحمد بن عبدالله ژبه انتهایي شیرینه ده داسي اخلاق یې دي چې زړونه مسخر کوي په څو ورځو کې به په زرګونومریدان او معتقدین پیدا کړي او دوی سړی به وي، بیا به په مکه باندې حمله وکړي او ستاسو بچي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بچي به قتل کړي، له دي نه پرته بله څه رایه ورانديږ کړئ دايې چې واوريدل؛ نو ابوجهل وويل چې: دا وخت مکه معظمه کې پنځلس شل خاندانه دي چې دحضرت محمد بن عبدالله ﷺ خفه دي، يوازې بنو هاشم دده طرفدار دي، له دي وجې دبنو هاشمو پرته نور تولو خاندانونو نه يو يو نوجوان سره داسلحې راواخلي اوهغوی تول دي دشپې دحضور ﷺ په کور ورشي او تول دي پرې په يو خل حمله وکړي اومړ دي کړي، سهار چې کله بنو هاشم ته پته ولګيږي؛ نو هغوی به دومره خاندانونو کې له کوم يو نه پوښتنه کوي اوکوم يو سره به جنګ کوي، په اخر کې به مجبورا په سلو اوښانو باندې فيصله وشي، افسوس دوی ته معلومه نه ده چې دحضور ﷺ ديوې يوې قطرې قيمت تول کائنات هم نه شي ادا کولی" چې جائيکه سل اوښان چې نسبت خاک رابعالم پاک" ددين له خاطره کومې کومې قربانی ورکول کيږي ددې اندازه ددې نه وکړئ، دابوجهل دا رایه يې چې واويده؛ نو دتولو خولې خلاصې اوتول خوشاله شو، چې دا تجويز ډېر اعلی او ښه دی.

دمشرکينو تدبيرونه له خاورو سره خارې شول:

دلته جبرايل امين عَلَيْهِ السَّلَام دحضوراقدس ﷺ په خدمت کې حاضر شواودالله تعالی په حکم يې ورته توله کيسه ذکرکړه او دالله تعالی حکم يې ورته وکړ، چې ته خپله بستره باندې مه ځمله، بلکې له دې ځايه هجرت وکړئ اوتاسو سره به ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم هجرت کوي. رسول الله ﷺ کله چې دا واوريدل؛ نو خوشاله شواودحضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور ته لاړ اوتول حالات يې ورته وويل اوهغه په مکمل ډول تلو ته تيار و. ځکه چې دهغه لقب صديق و

پروانے کو چراغ بلبل کا پھول بس صديقؓ کے لئے خدا کا رسولؐ بس

حضرت صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له پخوا نه سامان تيار کړی و، وجه داوه چې صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له ورانديږ يو خوب ليدلی و چې په هغه کې الله تعالی په صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې تول حالات واضحه کړي و.،(تاريخ الخميس) خوب په داسې ډول و:

دځورلسمې سپوږمۍ وه اوالله تعالی له اسمان نه راکوزه کړه او دمکې معظمې تول ميدانونه يې پرې روښانه کړل او بيا دا سپوږمۍ بيرته داسمان لوري ته لاړه اوبيا په دويم خل راکوزه شوه. دمکې معظمې په ځای مدينه منوره وه. ورسره ډېر زيات ستوری هم دمدينې په ميدان باندې راکوز شول. دغه سپوږمۍ ډېرې زياتې رڼا سره دمدينې منورې نه مکې معظمې ته لاړه اوهغه ستوري هم ورسره مکې معظمې ته راغلل. بياهغه سپوږمۍ له مکې نه دمدينې لورې ته راغله اودبې بې عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حجرې ته راداننه شوه، دحجرې ميدان وشلېد او داسپوږمۍ په هغې کې پټه شوه دخوب تعبير پخپله ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وکړ، چې دا

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سپوږمي سید المرسلین ﷺ دی چې دمکې نه به مدینې ته ځي، بیا به له مدینې نه فاتحانه انداز کې مکې معظمې ته راځي او بیرته به مدینه منوره کې اقامت اختیاري، هلته به وفات کیږي اودحضرت عائشې صدیقې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا په حجره کې به دفن کیږي. اسمان ته دسپوږمي نلل دادمعراج شریف خوشخبري دې داخبوب چې څنګه حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ لیدلی. هماغه رنګ ثابت شو. حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خپل فراست ایمان سره دا معلومه کړي وه چې هجرت به ضرور کیږي، له دې وجې حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دوراندي نه سامان تیار کړی و. حضرت جبرایل امین عَلَیْهِ السَّلَام راغی اودکفارو مشرکینو دحملې نه یې خبردار کړ چې تاسو په خپله بستره باندې حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ځملوئ او حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ له ځان سره روان کړئ. دایې چې واوریدل؛ نو حضوراقدس ﷺ سمدلاسه دحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کره لاړ اوحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته یې وفرمایل چې دیو راز خبره ده که بهرنی کس کور کې وي؛ نو هغه ډډې ته کړه. مګر کور کې به سوا دجانثارو اووفادارو څوک و، حضوراقدس ﷺ ورته ټوله خبره ذکرکړه صدیق اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وویل که اجازه وي؛ نو زه به هم ځان تیار کړم. حضور ﷺ وفرمایل چې ستا باره کې خو الله تعالی حکم کړی دی چې یوځای به خو، له دې خبرې سره سم حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دخوشالي نه په ژړا شو

کهان میں اور کهان نکهت گل نسیم صبح یه تیری مهربانی

ډډې وروسته فخرموجودات ﷺ خپل دویم جانثارحضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ورغی اوهغه ته یې هم ټوله کیسه ذکر کړه اویه خپله بستره دخملاستو حکم یې وکړ اوورته یې وفرمایل چې څو پورې ته زما ځادر کې پروت یې؛ نو هیڅوک هم تاته نقصان نه شي رسولی. حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم په خوشالي تیار شو، کله چې شپه ښه پخه شوه؛ نو کافران سره دتورو راغلل اوخپرې یې کولې چې ګوره دا کس یعني حضور ﷺ څنګه درواغ وایي (معاذالله) او وایې اي مکه والاوو تاسو زما اطاعت وکړئ؛ نوخدای تعالی به تاسو دعربو اوعجم بادشاهان جوړ کړي اویه اخرت کې به داسې داسې میوې درکړي چې دهغو دیوې دانې قیمت به ټول کائنات درنه کړي. که زما اطاعت مو ونه کړ؛ نو مسلمانان به نه یئ اویه اخرت کې به عذاب دردناک درکړي اودنیا کې به هم رسوایي وي، حضور ﷺ داخبرې واوریدې اوویې فرمایل کم عقلو زه چې څه وایم دا رینبتا دي. ځکه چې دالله تعالی ارشاد دی: وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى (۳) (سورة النجم) حضور ﷺ به پرته له وحي الهي نه خبرې نه کولې "ژبه زماده خبرې دهغه" حضور ﷺ چې څه هم فرمایلي و دده منونکې په لږ وخت کې دعرب اوعجم حکمرانان جوړشول اونه منونکي ذلیل او رسوا مړه شول، شپه ډېره تیره شوې وه، حکم وشو تاسو لاړ شئ او دا وایئ:

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ (۹) (سورة یسین)

ترجمه اوګرځولی مودی به مخ ددوی کې دیوال اوله وروسته ددوی دیوال اوپتې کړې مودې
دستر ګې ددوی، دوی هیڅ نه وینې

رسول الله ﷺ دا ایت په یو موتې خاوره باندې ده کړ اودکافرانولوري ته یې وویشت. یو موتی خاوره دوی نه ولو ته ورسیده اوتول په غفلت کې واقع شول. حضور ﷺ دتولو مخې نه په دې الفاظو سره "شاهت الوجوه" یعنې مخونه دې مسخ شي راروان و. داد حضور ﷺ معجزه وه چې تیر شو اویو موتی خاوره دتولو مخې ته ووېشته اوتولو ته ورسیده، حالانکې هغوی خلورو واړو اطرافو ته موجود وو اوخاوره نبي اکرم ﷺ یو لوري ته ویشتې وه.

مولانا رومي رحمه الله فرمایي:

بر زند از جان کامل معجزات — بر خمیر جان طلب چون حیات
معجزه از بهر قهر دشمن است — بوئے جنسیت سوئے دل بردنست
از مسبب می رسد هر خیر و شر — نیست اسباب و وسائط را اثر

دانبیاوو کرامو علیهم السلام معجزات دطالبین حق له پاره دآب حیات په مثل دي اودکافرانو له پاره قهر الهي دي. فرمانبرداره مسلمانان دمعجزاتو له وجې انبیاوو علیهم السلام سره محبت کوي اوکافران سوخي. دا معجزات دالله تعالی له لوري دي داسبابو په دې کې هیڅ دخل نه شته. حضور ﷺ ددې کافرانو مخې ته تیر شو. حضرت علي رضي الله عنه ته یې په خپله بستره باندې خپل ځاى ورکړى اوخملی یې و. حضرت علي رضي الله عنه خپل خان دقرباني له پاره وړاندې کړ اودحضور ﷺ په ځاى باندې یې دحضور ﷺ ځاى واچاو او خملاست. حضور ﷺ دکافروانو په مخ باندې خاوري واچولې اوتیر شو اوسیده دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه کورته لاړ.

دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دجلالت شان:

سبحان الله څه شان دی دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه چې دنبوت والا خپله دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه کور ته ځي، څوک دی چې نبوت نه صداقت لري کړي. حضرت محمد ﷺ خپل یار غار ابوبکر رضي الله عنه له خان سره کوي او دبیابان طلوري ته ځي، یو کافر دحضور ﷺ له کور نه چاپیره شویوکافرانو نه پوښتنه وکړه، دلته څه کوئ، حضور ﷺ اوابوبکر صدیق رضي الله عنه خو دواړه ماولیدل چې دابوبکرصدیق رضي الله عنه له کور نه روان وو. خلکو ونه منله، کور ته وردننه شول، وېې لیدل چې دحضور ﷺ په بسترې مبارکې باندې حضرت علي رضي الله عنه موجود و، حضرت علي رضي الله عنه نه یې پوښتنه وکړه حضور ﷺ چیرته دی. هغه جواب ورکړ. ما ته څه پته هغه یو تلونکي کس ځان سره بوتله،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چاره کافران ددوی په پلټنه (تلاش) کې ووتل چې یو خای کې هم پیدا نه شول، نو سُراغ رسان کسان یې راجمع کړل اوددوی تلاش پسې یې ولګیول. شیطان لعین ورته وویل اې ابوجهل مانه پښه ده چې حضور ﷺ ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خان سره کړ او مدینې لاړ. تاسو هلک زر ورښی، ګنې هغوی به وخې. حضور ﷺ او ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دمکې نشیبي لوري نه یو خلور میله لېرې کوه ثور کې یو غار و. چې دغار ثور په نوم باندې مشهور و. په هغه کې پټ شول. دتاریخ کتابونو دا هم لیکلي دي چې کافرانو توله شپه دحضور ﷺ له کور نه ګیر چاپیره نیوه کړه، کله چې حضور ﷺ دلمانځه له پاره له کوره راوخې؛ نو شهید به یې کړو (معاذ الله)، حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ یې درسول الله ﷺ په بستره باندې لیده؛ نو داګمان یې کاو چې حضور ﷺ پروت دی، کله چې حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لمونځ له پاره راپورته شو، دوی تري پوښتنه وکړه. حضور ﷺ کوم خای دی؟ حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ورته وویل ماته څه پته ده، تاسو نه پته پکار ده. ځکه چې تاسو توله شپه پهره کوله. زه خو توله شپه ویده وم. کفارو علي کرم الله وجهه وٹیو او سزا یې ورکړه بیا یې پریښود. حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته حضور ﷺ امانتونه هم ورکړي وو چې داخلکو ته واپس کړه او بیا ته هم مدینې ته راځه. باوجود ددې چې کفار دحضور ﷺ مخالف هم وو، مګر ددې باوجود هم دومره اعتماد و چې امانتونه به یې له ده سره کیښودل. دې کم عقلو دا سوچ نه کاو چې کوم ذات دډنیا په معامله کې دروغژن نه دی؛ نو هغه به داخرت په باره کې څنګه غلط وي. کفارو حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پریښود اودحضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کور ته راغلل

دحضرت اسماء بنت ابي بکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا وفاداري او جا نثاري:

حضرت اسماء بنت ابي بکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا بهرراووته. ابوجهل دي ماشومې ته دومره زور سره څپیړه ورکړه چې دغوږو نه یې لنبتی(والی) پریوتي. خوله یې سره شوه. خو دابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفادار پلار لور راز ښکاره نه کړ. اخردهپرې پلټنې وروسته کفارو اعلان وکړ چې څوک حضور ﷺ ژوندی یا مړ راپیدا کړي، هغه ته به سل اونبان انعام ورکول کیږي. ددنیا وږي، تږي کافران اومشرکان هرلوري ته په منډو شول، صدیق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په لاره کې حضور ﷺ په خپله اوږه کړ. باوجود ددې چې حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کمزوری و. مګر حضور ﷺ سره یې چې کوم محبت و دهغه اندازه څوک کولی شي، دکمزوري باوجودیې په اوږو پورته کړی دی، محبت داسې پکار دی، په محبت کې انسان هر څه وکړي اوددې ته محبت به څه وایي کوم چې حقیقي دي، څنګه چې دصدیق اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دحضور ﷺ سره و.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وهی تو باخبر هے اس جهاں میں که جو عشق نبی میں کهو گئے هیں
نه اپنایا جنهوں نے دین تیرا وه اپنی ره میں کانٹے بو گئے هیں

کله چې غار ثور ته ورسیدل، نو حضور ﷺ يې بهر برېښود او پخپله په توره شپه کې دمارانو او لرمانوغار ته وردننه شو. ځکه يې پاکه کړه خومره غارونه چې و هغه يې خپله کېږه وشلوله په هغه يې بند کړل. بوازې يوه سوړه پاتې شوه، کېږه ختمه شوه. په دې کې ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خپله پوندې کېښوده. حضوراقدس ﷺ يې دننه وغوښت اوعرض يې وکړ چې تاسو زما په پنډيو باندې سرمبارک کېږدئ اوارام وکړئ. ځکه چې حضور ﷺ ټوله شپه ويښ پاتې شوی و او مزل يې کړی و حضور ﷺ دابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په پنډيو باندې سر کېښود او ويده شو

جان تائب فدا اسکے اعزاز پر اس کے اکرام پر ثانی اثنین اول السابقین بالیقین بالیقین(تائب)

ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته دمارتک (چیچل):

په کومه سوړه کې چې ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پونده اينې وه، له هغې سوړې نه يو زهريلا مار ټک ورکړ. حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ډېر زيات تکليف و، ژړل يې، مګر خپلو پنډيو ته يې حرکت ورنه کړ. هسې نه دحضور ﷺ په ارام کې خلل راشي، خپل ځان دې قربان ولي نه شي. مګر اقا دوجهان ته دې په هيڅ صورت کې تکليف ونه رسيږي، دې ته ويل کېږي عشق چې حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته سخت تکليف او اودهغه له سترګو نه اونۍ جاري وې. کله چې اونۍ دحضور ﷺ په رخسارمبارک باندې پريوتې، رسول الله ﷺ له خوبه رابيدار شو اوويې فرمايل: ابوبکر! تاته څه تکليف دی؟ عرض يې وکړ، يارسول الله! يو زهريلا مار مې د دننه نه چېچې، حضور ﷺ دمار دټک ځای باندې خپل لاړې مبارکه ولګولې اودم يې کړ، سمدلاسه الله تعالی شفا ورکړه اوهغه تکليف ختم شو.

جن کے پلکوں سے، سہ کے تلوؤں پر راہ پر خار کو کرے ہموار
سب سے پہلا خلیفہ راشد خواجہ خواجگان باستقرار (خالد)

داد غار واقعات وو. بل لوري ته دمشرکينو او کفارو مجمع درسول الله ﷺ په پلټنې کې ووتل دپښو په نشاناتو باندې غار ثور ته راورسيدل، سراغ رسان کسانو وويل چې بس ددې نه مخکې ديوې پښې نقش دی ددويمې پښې نقش غائب دی، دحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نقش دادی. دحضور ﷺ نقش غائب دی، زمونږ په نزد سوا ددې غار نه بل کوم خوا نه دي تللي، په دې غار کې يې تلاش کړئ، بل کس وويل ته يې وقوفه يې په دې غار کې بنده ځنګه تللی شي. دغار په خولې باندې دبيول وني دي او بيا دجولا دا ژاله ځنګه سالمه پاتې شوه اويا دا وحشي او ځنګلي کوتري ځنګه چې اندې يې اچولي دي او ښې په اطمينان سره

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ناسې دي دابیا دلته خنګه پاتې کیدای شي. دا غلطه خبره ده چې هغوی دلته دي. دا قیل اوقال چې کله ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ او وایي: نو حضور ﷺ ته وایي یا رسول الله ﷺ، که دا مشرکین لږ هم دغار لاندې وګوري؛ نو موږ به وویني. حضور ﷺ وفرمایل "یَا اَبَابَکر مَا ظَنُّکَ بِاثْنَیْنِ اللّٰہُ ثَالِثُھُمَا" یا ابوبکر څه خیال دي دی دهغو دوو کسانو باره کې چې دریم یې الله وي. حضور ﷺ اوابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ دواړه دالله وو. الله تعالی له دوی سره و مدعی لا کله بُرا چاهے تو کیا هوتا هے وهی هوتا هے جو منظور خدا هوتا هے

وچا چې الله محافظ وي دهغه څوک څه کولی شي. هغه په حفاظت کولو راشي؛ نو دجولا یوه ژاله دحفاظت ذریعه جوړه کړي، په کمزوریو کوترو باندې حفاظت کوي. که ګیروِل غواړي؛ نو لوي لوي کلاوي حفاظت نه شي ورکولی، کله چې دا ګیروِل غواړي؛ نو په ابابیل «توتکیو» دابرهه لښکر سره دفیلانو تباه کوي. نمرود په ماشي باندې وژني اودلته دخپل محبوب وحفاظت ذریعه دجولا اودکوترې ژاله جوړوي

دحضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د نیولولو پاره دابوجهل لعین اعلان:

دابوجهل دا اعلان یې چې واوریدل. چې څوک دحضور ﷺ دنیولو پته راکړي؛ نوهغه ته به سل اوښان ورکول کیږي. دې زیات لالچیان مشرک او کفار دحضور ﷺ په پلټنه کې سرګردانه شول. دې ورځو پورې نبي اکرم ﷺ اوحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ په غارثورکې وو، په غار کې دریواړو ورځو له پاره ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ خپل زوی عبدالله بن ابوبکر ته هدایات کړي وو. چې دمشرکینو تول حالات به موږ ته دشپې په وخت رارسوي. همدغه راز خپل غلام عامر بن فهیره ته یې داحکم کړی و، چې توله ورځ ګډې چیلی پر خوا یل خوا څروه اودشپې په وخت غارثور خوا ته دخرنې په بهانه راوله. اسماء بنت ابي بکر رضی اللہ عنہا ته یې دا حکم کړی و. چې دوړی تیاروه او دشپې په وخت یې غار ثور ته رارسوه، قربان شم دحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ نه چې خپله توله کورنۍ یې دحضورقدس ﷺ په قدمت کې لګولې وه. ددې وفاداریې اوجانثاریې څوک اندازه لګولی شي.

پروانے کو چراغ بلبل کا پھول بس صدیقؓ کے لئے خدا کا رسولؐ بس (اقبال)

حضرت عبدالله بن ابوبکر رضی اللہ عنہ او اسماء بنت ابوبکر رضی اللہ عنہا دواړو ورور او خور به خپله خپله دیوتې کوله اووایسې به تلل. دابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ غلام عامر بن فهیره به دګډو پیلو شیدې ولوښلې او دوی ته به یې راوړلې. بیا دشپې به مکې معظمې ته واپس راوهمدغه راز دعبدالله بن ابوبکر رضی اللہ عنہ او اسماء بنت ابوبکر رضی اللہ عنہا دپښو چاپونه د هغې په قدمونو باندې ختم شول. کله چې دا پته ولګیده چې دمکې والاوو جوش اوخروش ښت شو؛ نو عبدالله بن اریقط ته یې خبر ورکړ چې اوښې دغارثور مخې ته راوله. اګر چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عبدالله بن اریقط مسلمان هم نه و، خوددې کس رازداري، ضبط اوتحمل اودوعدې پاسداري چې بنده وګوري؛ نو دعربو حمیت،غیرت اوقومي شرافت ته به انسان بې اختیاره داد ورکړي، عبدالله بن اریقط حسب وعده دخپلې اوښې سره دوه اوښان بوتلل او دغارثور لمنې ته د دربیع الاول په میاشت کې دسپوږمۍ په رڼا کې راورسید ، حضرت عبدالله بن ابوبکراو اسماء بنت ابوبکر هم ستوان تیار کړي او راورسیدل.

په غار باندې دخدای حفاظتي انتظامات:

رسول الله ﷺ چې کله غار ته ورننه شو؛ نو هلته دالله تعالی په حکم باندې دډوپر لېږې نه دبیول ونه راغله اودغار په خولې باندې راغوره شوه، دلته یو جولا هم راغله او دبیول په ونه او دغار په خلې باندې یې ډېر زر ژاله جوړه کړه اولاره یې بنده کړه دغه شپې دشپې څنګلې کوترې ته حکم وشو چې دغار په خولې باندې ژاله جوړه کړي او اندې (هګۍ) واچوي.

اشارات او نکات:

(۱): دغار په خوله باندې دبیول د وني راتګ دکافرانو له پاره دانصیحت مقصود و چې غار والاوو ته یعنې حضور ﷺ اودحضور ﷺ ملګري ته تکلیف ورکول خپل ځان له پاره ازغې کرل اودعذاب سامان پیدا کول دي، هوښیار شئ حضور اوحضور اصحاب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِین باندې کنځل اوتنقید ویلووالا له پاره دکاڼو ډکه لاره ده.

(۲): دجولا ژاله جوړول دا اعلان و، چې مکه والا مشرکانو او کافرانو! ستاسو منصوبې زموږ مخې ته دجولا دژالې نه زیاتې کمزورې دي وګورئ زموږ دجولا ژالهتاسونه شی ماتولی.

(۳): دکوترې هګۍ ورکولو کې دا اعلان و چې تاسو زموږ نبي کریم ﷺ نه شی ختمولی دهغه نسل او دهغه امت او اولاد همیشه او هر ځای ښارونو، ځنګلونو، غرونو کې دمرغیو په ځیربه باقي پاتې شي، ښار اوځنګل به ددوی نه اباد وي دکوترو هګیو ورکولو نه داهم اشاره وه چې حضور ﷺ نسل او امت به باقي پاتې وي.

غار نه دسفر دویمه مرحله دمدینې لوري ته تګ:

رسول ﷺ اوحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ غارثور نه راووتل په یوه اوښه باندې حضور ﷺ سور شو اوددې اوښې نوم و (القصوی) په دویمه باندې حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اودهغه خادم عامر بن فهیره سواره شول. عبدالله بن اریقط چې لاره ښودونکی و په خپل اوښ باندې سور شواودادخلور کسانو مختصره قافله دمدینې لوري ته عامه لاره یې پریښوده او اوروان شول (نن سبا دې لاري ته طریق هجرت وایي) ځکه چې اوسه پورې دتعاقب اندیښنه وه.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

داسماء بنت ابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا قربانی اوذها نت:

دنګ په وخت یوه عجیبه واقعه راپیښه شوه چې حضرت اسماء بنت ابي بکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا چې له کورنه کومه دستوانو تیلا راوړي وه دهغې دزوړندولو تسمه یې هیره شوې وه، کله چې یې دانیلا د کجاوې سره تړل اوخوړندول غوښتل؛ نو په دې وخت ځه تسمه اوتارنه و حضرت اسماء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا سمدلاسه خپل نطاق (دملاتړلو پرې) راخلاص کړ، نیم یې دخپلې ملا پورې وتاړه او نیم یې کټ کړ او دستوانو تیلا یې پرې وتړله اوخوړند یې کړه، حضور ﷺ چې دموقعې مناسبت سره دا تدبیر ولید؛ نو ډېر زیات خوشاله شواودې ته یې (ذات النطاقین) وویل. همدغه وه چې اسماء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا په (ذات النطاقین) لقب باندې مشهوره شوه. همدا اسماء بنت ابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا ده چې دهغې زوی عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ و

د حضرت اسماء بنت ابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دویمه جا نثاري و ذها نت::

دویمه لویه قرباني یې داوه چې حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کله له کوره ووت؛ نو ټول نقدیت، پنځه شپږ زره درهم و له ځان سره یې یوړول. د حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پلار ابوقحافه چې تراوسه پورې حالت کفر باندې و، نابینا و، کور ته راغې اودوارو لمسیانو ته یې وویل چې ابوبکر خپله هم لاړو او ټول نقدیت یې هم ځان سره یوړو. حضرت اسماء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا ورته وویل: دادا جان هغوی مورږ ته پرې روپۍ پریښې دي دایې وویل اوپه لوپټه کې ډېرکانې کښنودل اوهلته یې کښنودل کوم ځای چې به دپیسو تیلې پرته وه دنیکه لاس یې ونیوو اوهلته یې یوړو، هغه پرې سرسري لاس واوهه اوګمان یې وکړو چې روپۍ خو پرتې دي، لمسیانو ته یې وویل چې: اوس مې دابوبکر دټلو غم نه شته.

دټلو په وخت کې دحضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ غم:

رسول الله ﷺ په اوښه باندې دکیناستو په وخت مکې معظمې ته وکتل اوافسوس سره یې وویل "ما أحسَنَ بَیتَ ربِّي" زما درب کور څومره ښکلی دی، مکې! ته ماته له ټولو ښارونو نه زیاته عزیزه یې. مګر ستا اوسیدونکو خلکو زه دلته پرې نه ښودم، حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ووېل چې: اوس ددې خلکو دتباهي وخت نږدې دی دا وړه قافله دشپې په لومړۍ برخه کې روانه شوه او اینده ورځ په اول ربیع الاول ۱۴ه نبوي مادیګر پورې سفر شروع و، دمادیګرپه وخت د اُم معبد خیمې ته راورسیدل دا بوډۍ ښځه دقوم خزاعه وه دې نیکې ښځې پهلاره کې دیره اچولې وه چې دټلونکو او راتلونکو مسافرو خدمت وکړي. دوی له دې ځه ډوراک ځه سامان اخیستل وغوښتل ځکه چې دقحط زمانه وه له دوی سره هیڅ هم نه و، حضور ﷺ ولیدل چې یوه کمزوري چېلۍ په خیمه کې ولاړه وه، حضور ﷺ ورته وفرمایل

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ددې چېلې شیدې رابانديې وخښه، بوډی وویل: داخو ناروغه اوکمزورې ده دې کې خو دشیدو نوم اونښان نه شته اونه دا څرنې ته څې، حضور ﷺ وفرمایل: ماته یې راولې حضور ﷺ ته یې وراندې کړه هغه چې خنګه ورسره لاس مبارک ولګاو؛ نو دچېلې تیونه وڅ شول. شیدو جوش وهل شروع کړل، حضور ﷺ په لوښې کې شیدې لوشل شروع کړل دکور ټول لوښې تري ډک شول. حضور ﷺ وفرمایل: ابوبکرا اول شیدې په ام معبد باندې وخښه، حضرت صدیق اکبر رضی اللہ عنہ اول شیدې په بوډی وخښلې، بیا ټولو ملګرو په اخرکې حضور ﷺ وخښلې، سبحان اللہ! څومره لویه قرباني ده دټولو د څښلو وروسته هم باقي پاتې وې، حضور ﷺ بوډی ته باقي شیدې ورکړې چې اینده به دې په کار راشي، حضور ﷺ اوده، ملګرو دا کور دبرکتونو نه مالامال کړ، روان شول دشپې چې دام معبد خاوند راغې؛ نو هغې ورته دورځې دا ټول حالات واورول، خاوند یې چې دا حالات واوریدل؛ نو زړه کې یې دا خواهش راپورته شو چې دی به ضرور له دوی سره ملاویږي، بالآخر دی بیا حضور ﷺ سره ملاو شو او ایمان یې راوړو داسې شوه چې ددوی دخدمت بدله په دنیا کې خیراوبرکت اوپه آخرت کې دائمي کامیابي حاصله کړه.

قدم قدم کی برکتیں، نفس نفس پہ رحمتیں
جہاں جہاں سے وہ شفیع عاصیاں گذر گیا
جہاں نظر نہیں پڑی وہاں ہے رات آج تک
وہیں وہیں سحر ہوئی جہاں جہاں گذر گیا

دسراقه تعاقب او دالله تعالی کرفت:

دأم معبد له خیمې چې کله حضور ﷺ او حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ مخکې لاړل؛ نو حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ ولیدل چې سراقه دحضور ﷺ په تعاقب کې په تیزې سره راروان دی، کله چې ته حضور ﷺ نزدې راغې؛ نو حضور ﷺ دعاوکړه، دسراقه اس نیم قدم په ځمکه دننه شو. سراقه وډارشو اودحضور ﷺ نه یې دمعافي درخواست وکړ، حضور ﷺ دعا وکړه او اس ځمکې پرېښودو، بیایې په دویم ځل درامخکې کیدو کوشش وکړ، بیا ځښ شو. بیایې دعا وکړه په دریم ځل بیا سراقه دنیولو کوشش وکړ، بیا ځمکې گیر کړ. بالآخر سراقه وویل چې زه خو ستاسو دنیولو له پاره راوتلی وم، مګر اوس خپله گیر شوم، دستاسو منونکی جوړ شوم

شکار کرنے آئے تھے شکار ہو کے چلے

سراقه معافي وغوښته. حضور ﷺ یې معافي قبوله کړه، حضور ﷺ دده په درخواست باندې امان نامه دعامر بن فهیره په لاس باندې ولیکله هغه دا تحریر مکې معظمې ته یوړو په لاره

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کي نور خلک هم چې په دې مهم باندې راروان وو ، سراقه بېول واپس کړل چې په دې لاره کې نه دي. سراقه دفتح مکه په وخ مسلمان شو اوداتحریر هغه سند نامه جوړه کړه. سراقه ته چې کله حضور ﷺ دتعاقب وخت کې معافي ورکړې وه؛ نو دا پېښون ګوټي بې هم کړې وه. اي سراقه! بوه ورخ به داسې هم وي چې ته به دکسرا شاه فارس دلاسونو ښکړې چې دجواهراتو نه جوړ دي اجوړ ي "يَا أَيُّهَا الْمُتَعَالُونَ بِأُمُورِ جَمَالِهِ صَلُّوا عَلَيْهِ وَآلِهِ" همدغه رازدېرکونو باران او دمعجزات ښکاره کولو صورت کې دمکې معظمې نه مدينې منورې ته قافله روانه وه. کله چې مدينې نه ورسېدل؛ نو يو کس بريده په نوم باندې دابوجهل په لاليچ سره داويا کسانو دحضور ﷺ دشهيد کولو په غرض راغې. حضور ﷺ ترې پوښتنه وکړه ستا نوم څه دی. وېې ويل برېده. حضور ﷺ وفرمايل ددې معناده يخ کېدل. حضور ﷺ وفرمايل معامله بخه ده. پوښتنه يې ترې وکړه له کومې قبيلې سره تعلق ساتې؟ وېې ويل قبيله اسلم سره. حضور ﷺ وفرمايل چې اسلم دوه قبيلې دي له کومې سره دي تعلق دی؟ وېې ويل بني هشم سره. حضور ﷺ وفرمايل نيک فال اونيک قرعه راووته مطلب داچې دنوم په ذات کې اثر وي. له دې وجې حضور ﷺ فرمايلي دي چې نوم نيک ږدئ. ځکه ددې اثر به په ذات کې وي. له دې وروسته برېده دحضور ﷺ نه پوښتنه وکړه، چې تاسو څوک يئ؟ وېې فرمايل محمدبن عبدالله بن عبدالمطلب. دالله تعالى رسول يم. برېده چې کوم دقتل په اراده باندې راغلی و. هم هلته يې اسلام قبول کړ اوکلمه "أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللّٰهِ" ووېله. له دې وروسته هغه هم دحضور ﷺ سره لاړ اهل مدينې دحضور ﷺ په بې چېنې سره انتظار کاو له ځو ورځو دانتظارورروسته په لاره کې داسې افراد هم ملاو شو چې هغوی حضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پېژانده، ځکه چې دوی تجارت کاوو، کله چې به هغوی دحضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه پوښتنه وکړه. چې دا څوک دی چې داسې مخکې مخکې روان دی؟ يو ځای کې سخت مخالفينو هم دا پوښتنه وکړه؛ نو حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا جواب ورکړ اودا الفاظ دوفارايي په تاريخ کې يادګار الفاظ دي، که دسرو زرو په اوبو وليکل شي؛ نو هم به حق صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ادا نه شي. وېې فرمايل: "هُوَ رَجُلٌ يَهْدِينِي السَّبِيلَ" داهغه هستي ده چې ما ته لاره ښايي. خلکو دا ځپله چې ظاهري لاره مراد ده. مګر دصديق اکبر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مطلب داو چې دهدايت لاره.

له ټولو نه اول قبا ته تشريف وړي :

حضور ﷺ له ټولو نه اول قبا ته لاړ اوپه دغه وخت کې سخته ګرمي وه. دسختي ګرمي له دوجې دقبا،خلک بيرته تللي وو. يو يهودي چې روزانه به يې مسلمانان په انتظار کولو باندې ليدل اتفاقا په دې وخت هغه دخپل کور په چت باندې ولاړو، هغه حضور ﷺ وليد؛ نو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اواز يې وکړ "يا معشرَ العَرَب يا بَني قَيلَة هٰذا جدُّكُم قد جاءَ" اې اهل عرب! ستاسو مطلوب راغی ټول خلک په منډو راغلل دخوشالی سمندر پورته شو، انصارو ولیدل چې حضور ﷺ دکجورو دیو باغ له لوري راروان دی حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې خیال هسې نه چې خلک دحضور ﷺ په پیژندلو کې خطاشي، چې رسول الله ﷺ کوم یودی، سمدلاسه دحضور ﷺ نه شاته شو اودخادر سوری یې پرې وکړ، له هغه نه څرګندیده چې اقا څوک دی اوخادم څوک په قبا کې دانصارو وړو وړو ماشومانو دا ترانه ویله

طلع البدر علينا من ثنيات الوداع وجب الشكر علينا ما دعا لله داع

دځورلسمې سپوږمۍ په مورِ باندې دثنیات الوداع له غرونو نه راوخته په موږباندې شکر واجب دی

ايها المبعوث فينا جئت بالامر المطاع

اې هغه ذات چې زموږ لوري ته مبعوث شوې داسې امر دی راوړی چې منل یې ضروري او واجب دي

تقریبا یوه هفته په قبا کې و اودلته یې دیومسجد بنیاد کینبودو اودقبا نوم یې پرې کینبود. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مکه معظمه کې امانتونه خلکو ته واپس کړل اومدینې منورې ته راورسید. پیاده راغلی و. له دې وجې دري څلور ورځې وروسته قبا ته راورسید. دجمعې په ورځ حضور ﷺ اهل قبا نه رخصت شواودبنو سالم بن عوف په محله کې دجمعې دلمونځ وخت راغی؛ نو دټولو نه لومړی یې جمعه هلته وکړه، دجمعې دلمانځه وروسته دهر قبیلې خلکو دا خواهش و. چې حضور ﷺ مورِ سره پاتې شي، خوحضور ﷺ وفرمایل: زما اوښه پریږدئ کوم ځای چې دالله تعالی حکم وي هلته به ودریږي.

دا سعادت، دحضرت ابو ایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په تقدیر کې الله تعالی لیکلی و اوښه کیناسته او سر یې کینبود او دلکی خوخول یې شروع کړل، حضور ﷺ لاندې راکوز شو. له دې سره نزدې دحضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور و هغه په خوشالي دنبي کریم ﷺ سامان پورته کړ اوکور ته یې یورو اوهغه سره پاتې شو، دلته یوه خالي توته دځمکې د دوو یتیمانو ماشومانوسهیل اوسهیل وه دوی هغه ځمکه په قیمت واخیسته دمسجد بنیاد یې کینبود، دمسجد قیمت په دغه وخت کې حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نقد ادا کړ، دمسجد بنوي (ﷺ) دتعمیر کار شروع کړل شو، ځضور ﷺ په نفس نفیس دمسجد تعمیر کې کار کاو. دمسجد دیوالونه دکاڼي او خښتې نه جوړ شو، چت دکجورو دپانو نه جوړ شو، حضور ﷺ یوولس میاشتې او یو ځو ورځې دحضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په کور کې مقیم و، کله چې دمسجد نبوي (ﷺ) برابر د دوی کوټه جوړې شوې؛ نو حضور ﷺ

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شریف یورو او هلته یې قیام اختیار کړ، دمسجد څومره اهمیت دی چې حضور ﷺ له ټولو نه اول مسجد تعمیر کړ، له دې وجې مسلمانانو مسجدونه اباد کړئ الله تعالی به تاسو اباد کړی. ګڼې بربادي ده

وه زمانے میں معزز تھے عامل قرآن ہوکر ہم خوار و ذلیل ہوئے تارک قرآن ہو کر (اقبال)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

ہم ایسے رہے یا کہ ویسے رہے وہاں دیکھنا ہے کہ کیسے رہے
حیات دو روز کا کیا عیش و غم مسافر رہے جیسے تیسے رہے
(سید سلیمان ندوی ﷺ)

خیر مجسم:

والله تعالی محبوب سردار دوجهان فخر رسولان حضور اکرم ﷺ پیدا شو: نو دتیارو ډیوې مړې شوې، دهدایت ډیوې روښانه شوې، حبیب خدا دټولو مهربان وانیس دی اوحبیب کائنات دی، دښمنانو په لاره کې ازغې خښ کړل او کانې یې وورول: نو په بدله کې یې ددعاګانو ګلونه وورول، دزهرو په بدله کې یې اب حیات ورکړل، طعنې یې واوریدې او بدله کې یې دعاګانې ورکړې. زخمونه یې وزغمل او مرهم یې ورکړل، دحضور ﷺ شان دادی چې په زرګونو طور جلوې د ده ذکر جمیل مخې ته قربان دي.

بھٹکتے پھرتے تھے جو قافلے راتوں کو راہوں میں
اب ان کے دن پھریں گے رہنما کی آمد آمد ہے
ہمدم کی راہ لو تو کھہ دو فساد و فتنہ و شر سے
یہاں خیر البشر خیر الوراء کی آمد آمد ہے

حضور ﷺ راغې: نو کائنات کې غلغله شوه، ددنیا تیارې یې خپل جمال جهان آراء سره روښانه کړې اودټولې دنیا مخ یې په بل مخ کړ، الله تعالی ټول اعلی صفات اوخوبیاني دده په ذات کې کینبودي. حضور ﷺ دټول کائنات امام دی د ده له وجې دنیا کې رونق دی اودانسان عظمت دی حضور ﷺ خپل ځان سره برکتونه اورحمتونه راوړل اوده دنیا ته علم ایمان او انصاف ورکړ.

بزم توحید سے نافع کارنامہ آیا کوئی پہنے ہوئے قرآن کا جامہ آیا (عزیز لکھنوی)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دصفر المظفر دمیاشتې دریمه خطبه

دصحابه کرامورضي الله عنهم اجمعین مناقب:

دصفرمیاشت خودزمانې جاهلیت خلکو منحوسه (سپیره) ګڼله، اوس هم ځینې خلک دا عقیده لري. دصفر په میاشت کې چې کومې واقعې راپیښې شوې دي. هغه دادي:

(۱): (۲ صفر) باندې هلاکوخان تاتاري په بغداد باندې حمله وکړه.

(۲، په (۱۰ صفر) باندې واقعه صفین یعنې جنګ صفین دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مینځ کې وشو، واقعه تحکیم راپیښه شوه.

(۳، ۲۷ صفر) باندې سلطان صلاح الدین ایوبی رَحِمَهُ اللهُ وفات شوی و.

(۴، ۲۸ صفر) باندې دحضرت مجدد الف ثاني رَحِمَهُ اللهُ دوفات ورځ ده.

(۵، دنبي ﷺ دهجرت واقعه دصفرپه اخره کې واقع شو، له هجرت وروسته حضور ﷺ مسجد قبا اومسجد نبوي تعمیر کړل او لومړی جمعه یې مدینې سره نزدې محله بني سالم کې وکړه.

(۷، دصفر په میاشت کې جلیل القدر صحابه زید، عاصم اوخبیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ شهیدان شول.

(۸، دصفرپه میاشت کې حضور ﷺ حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دلښکر روانیدو حکم وکړ. چې دروم مقابله دې وکړل شي.

(۹، دصفرپه میاشت کې حضور ﷺ ناوړغ شواوحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې دامامت حکم وکړ؛ نو ددې بیان موضوع به مورِ عدل صحابه او مناقب صحابه کیږدو، خکه چې دېرو خلکو جنګ صفین (معامله تحکیم حضرت علي اوحضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په مینځ کې فیصله، خپلې مخې ته کینودو اوپه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې یې اعتراضات اوبدرد وویل اوخینو خلکو حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې تنقید وکړ دارافضیان ګروه شیعاګان دي داهل سنت په نزد باندې واروه صحابه په حق دي اوټول صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ دحدیثو په رڼا کې عادلان دي، دهدایت ستوري دي، ددوی په مینځ کې جنګ داجتهاد په اعتبار سره دی اودحدیث په رڼا کې مجتهد فیصله که سهې وي اوکه غلطه دثواب مستحق دی، دیو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نیت باندې شک کول داخپل ایمان ضائع کول دي، دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ دسیرت دپیژندلو له پاره تاریخ کتل نه، بلکې قرآن حدیث کتل پکار دي چې دصحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ اړوند یې څه ویلي دي، قرآن کریم کله دوی ته حزب الله. یعني دالله تعالی ډله ویلي دي، کله یې ویلي دغه خلک هدایت یافته دي، کله فرمایي دغه خلک کامیاب دي. کله فرمایي دا خلک پاخه (سوچه) مؤمنان دي، همدغه رازحدیث کې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ ته دهدایت ستوري، منتخب اوپسندیده خلک

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ویل شوي دي، له دې وجې یو تاریخ که دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ متعلق راوړند، بل څه وایي؛ نو دا رد اوبې اعتباره دی، ددې هیڅ حیثیت نه شته

فهم و خاطر تیز کردن نیست راه جز شکسته می نگیرد فضل شاه

علم دین فقه است وتفسیر و حدیث ما بقی تلبیس ابلیس شقی(رومي رَحِمَهُ اللّٰهُ)

څنګه چې په انبیاوو علیهِمُ السّلام باندې بدرد ویل په الله تعالی باندې بدرد ویل دي. همدغه راز په صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِین باندې بدرد ویل په نبي کریم ﷺ باندې بدرد ویل دي. دالله تعالی انتخاب هم سهي او دحضور ﷺ تربیت هم سهي دی. ارشاد رباني دی

وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِیْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِیْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خَالِدِیْنَ فِیْهَا اَبَدًا ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ (۱۰۰) . (سورة التوبة)

اوهغه وړاندني، اولني (ایمان لرونکي) له مهاجرینواوانصارو نه اوهغه کسان چې متابعت یې کړی دی دوی د(سابقانو) په احسان (نیکي)سره، راضي شوی دی الله تعالی له دوی نه (په قبول دطاعت سره) اوراضي شوي دي دوی له الله تعالی نه (په اعطاء دنعمت) اوتبارکړي دي (الله تعالی) دوی ته جنتونه چې بهیږي لاندې د(دونو مانیو) ددوی ویالې. چې چې تل به وي دوی په هغوکې، دغه (رضا اوجنت) ډېر لوی بری دی.

په دې ایت کریمه کې دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِین اوتابعینو رَحِمَهُمُ اللّٰه دبخښش اورضا الهي ذکر دی، کومو خلکو نه چې الله تعالی راضي شو دهغوی له پاره دجنت اعلان دی، افسوس چې اوس هم ډېر خلک دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِین نه ناراضه دي اصل کې دغه خلک خپل داوسیدو ځای جهنم کې جوړوي.(اعاذنا الله)

هر آنکه تخم بدی کشت و چشم نیکی داشت دماغ بیهوده بخت و خیال باطل بست

صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِین ته بدرد ویل خپل ایمان ضائع کول دي، نبي کریم ﷺ فرمایي الله تعالی زما له پاره زما صحابه کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ خوښ کړل، په دې کې یې ځینې زما وزیران اوځینې زما سفیران مقرر کړل، کوم خلک چې دوی ته بدرد وایي په هغوی دفرښتو او دټولو خلکو لعنت وي.

عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِي قَالَ قَالَ النَّبِي صلی الله علیه وسلم لَا تَسُبُّوْا اَصْحَابِي فَلَوْ اَنَّ اَحَدَكُمْ اَنْفَقَ مِثْلَ اُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ اَحَدِهِمْ وَلَا نَصِیْفَهُ. (متفق علیه)

ترجمه: حضرت ابو سعید خدري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل زما اصحابه کرامو، ته بدرد مه وایئ، که چیرته تاسو کې یو کس داحد غر برابر سره زر دالله

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تعالی په لاره کې خرچ (مصرف) کړي، نو زما د صحابي یو یا نیم مد ثواب ته نه شي رسیدای (مُد تقریبا یو سیر (کلو)).

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی:

لَا تَسُبُّوا اَصحَابَ مُحَمَّدٍ صلی الله علیه وسلم فَلَمَقَامُ اَحَدِهِم سَاعَةً خَيرٌ مِّن عَمَلِ اَحَدِكُم عُمُرَه.

دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې اصحاب محمد ﷺ ته بدرد مه وایئ د دوی د یو وخت عبادت ستاسو د ټول عمر عبادت نه بهتر دی.

عقیلي رحمه الله په ضعفاء کې نقل کړي دي چې حضور ﷺ وفرمایل:

اِنَّ اللهَ اختَارَنِي وَاختَارَلِي اَصحَاباً وَاَنصَاراً اَوَاَصهَاراً وَسَيَاتِي قَومٌ يَسبُّونَهُم فَلَاتُجَالِسُوهُم وَلَاتُشَارِبُوهُم وَلَا تُوَاكِلُوهُم وَلَاتُنَاكِحُوهُم. (مظاهر حق ص ۶۲۹ جلد ۵)

ترجمه: حضور ﷺ فرمایي چې: بیشکه الله تعالی زه منتخب کړم اوزما له پاره یې زما اصحاب خوښ کړل اوزما په دې اصحابو او انصارو کې یې ما له پاره قرابت دار خوښ کړل، قریبه دې چې داسې خلک به راشي چې زما اصحابو ته به بدرد وایي اوپه دوی کې به نقص راوباسي، تاسو د داسې خلکو سره مه کیناست، دوي سره خوراک څښاک او نکاح ګاني مه کوئ.

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين کامل الایمان دي، ارشاد ربانی دی:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ (۷۴). (سورة الانفال)

اوهغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، هجرت اوجهادیې کړی دی په لاره د الله تعالی کې اوهغه کسان چې ځای یې یې ورکړی دی (مهاجرینوته) او مددګاري یې کړې ده (له رسول الله اومهاجرینو سره)، دهغه موصوف په دغوصفاتوسره هم دوی دي مؤمنان په حقه (رښتیا) سره دوی لره دی مغفرت (بښنه) اورزق (روزي) نیکه (دعزت چې جنت دی).

کوثر کے تقاضے ہیں تسنیم کے وعدے ہیں ہر روز یہی چرچے ہر روز یہی باتیں (جوهر)

دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين ایمان معیاري ایمان دی، ځنګه چې ارشاد ربانې دی:

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا وَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ. (سورة بقرة: ۱۳۷).

ترجمه: نوکه ایمان راوړي دا (یهود او نصارا) لکه چې تاسې ایمان راوړی دی په هغه (مؤمن به شیانوبې له فرقه)، نوبه تحقیق یې وموندله سمه لاره اوکه یې مخ وګرځاوو (له ایمانه) نوبیشکه همدا خبره ده چې دوی (له تاسره) په مخالفت کې ګرډاب (چینل) کې دي.

https://t.me/kafayat2395

په دې ایت کې یهودیانو اونصارااو ته ویل شوي دي، که هغوی دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ نمبنجین په خیر ایمان راوړي، چې پوخ، کامل اوسوچه ایمان دی؛ نو هغوی به هم په هدایت وي، ګني ګمراه به وي

دابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شان اوفضیلت:

نبي کریم ﷺ باندې چې کله مرض زیات شو؛ نو حکم یې وکړچې ابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وواین چې خلکو ته لمونځ ورکړي، حضرت عائشې صدیقې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا وویل یارسول الله! دهغه زړه یې انتها نرم دی، شاید هغه درښځ اوغم نه لمونځ ونه کړای شي. حضور ﷺ وفرمایل نه هغه ته وواین چې لمونځ ورکړي، دا ددې خبرې تصدیق و، چې ددین په احکاماتو کې لمونځ ته اولویت حاصل دی، لهذا کوم کس چې حضور ﷺ پخپله مصلی (جای نماز) باندې ودروي. هغه به خلیفه بلافصل کیدو حقدار هم وي، حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به دیوې کمزورې بودې کور ته تلو اودکور صفایې به یې ورته کوله اودچیلیو شیدې (پې) به یې ورته لوشلې. کله چې ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خلیفه شو؛ نو دبودې لور په ډېر حسرت سره وویل چې اوس به زمونږ چیلې څوک لوشي. ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ واوریدل؛ نو یې فرمایل چې لوړې خلافت ما دخدمت خلک نه نه شي بندولی.

تیرے دیکھنے کی جو آس ہے یہی زندگی کی اساس ہے
میں ہزار تجھ سے بعید ہوں یہ عجب کہ تو میرے پاس ہو

حضور ﷺ ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته دجنتي کیدو زیری ورکړ، بلکې دیو روایت په رنا کې یې ورته داهل جنت سردار وویل او یې فرمایل چې: ابوبکر ته به دجنت دټولو دروازو نه اواز کیږي چې دې ځای نه داخل شه، حضور ﷺ وفرمایل: زما په امت کې به دټولو نه اول ابوبکرصدیق جنت ته داخلیږي.

په حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې به هر وخت ویره خوره وه، کله به یې فرمایل: کاش! چې زه یوه ونه وای چې کټ شوې وای، کله به یې فرمایل: کاش! چې زه وانښه وای چې یو خناور خوړلې وای. کله به یې فرمایل: کاش! چې زه دیو مومن دوجود وینښته وای، یو ځل یو باغ ته لاړو هلته یې یو خناور ولید؛ نو یخه ساه یې واخیسته او ویې ویل چې: ته ځومره مزه کې یې چې خوري او ځښې داونو لاندې ګرځې اوپه اخرت کې په تا باندې څه حساب کتاب نشته. کاش! چې ابوبکر هم ستا په څیر وای.

کل تک یہی گلشن تھا صیاد بھی بھی
دنیا ھی بدل دی ھے تعمیر نشیمن نے
ھر شام شام گور ھے ھر صبح صبح حشر
یا دن دکھائے گردش لیل و نہار نے (اقبال)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان:

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سابقين اولين کې دی. چې اسلام يې راوړ. د اتو کالو په عمر و. کله چې قريش په قحط کې مبتلا شول. ابوطالب دډېر اهل او عيال والا و؛ نوحضور ﷺ خپل تره عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې: دابو طالب بوج کم کړئ. حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ومنله حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تري حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپل کفالت کې واخيست اوحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضور ﷺ خان سره کړ. دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولادت په بيت الله خانه کعبه کې وشو دادډېر لوی عزت دی

اے کف دست وساعد وبازو همه تو ديع يکدگر بکنيد (رومي رَحِمَهُ اللهُ)

دده مبارک ولادت په رجب کې و. دمحب طبري بيان دی چې په يو ورځ حضور ﷺ ته نبوت ورکړل شو او په بله ورځ علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ايمان راوړو. حضور ﷺ وفرمايل: اې علي! ستا مثال دحضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام په څير دی. چې يهودو له ده سره دښمني وکړه او په موريې بې يې تهمتونه ولګول اونصاراوو ورسره محبت کې دومره غلوه وکړه چې دالله زوی يې ورته وويل او هغوی دواړه ګمراه شول. يعني غلو اوله حدودو تجاوز نقصان ده، دې خوارجو دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عداوت (دښمني) وکړ او روافضو يې په محبت کې غلو وکړه اودواړه ګمراه شول. کله چې حضور ﷺ غزوه تبوک ته تشريف يوړ؛ نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې په مدينه کې دپاتې کيدو حکم وکړ، ددې له پاره چې دښځو او ماشومانونګراني وکړي، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل: تاسو ما په ماشومانو اوښځو کې پريږدئ حضور ﷺ وفرمايل: اې علي! ته خوشاله نه يې چې زه دې مدينه کې خپل نائب پريږدم، ځنګه چې حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام خپل ورور هارون عَلَيْهِ السَّلَام پريښی يو. خوزما نه وروسته بل نبي نه شته (صحيح البخاري) يو کس دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه سوال وکړ که چيرته يو کس بالکل يوازې کمره کې بند کړل شي؛ نو هغه ته به روزي ځنګه رسيږي، ده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته جواب ورکړ، ځنګه چې مرګ ورسيږي. يعني ځنګه چې مرګ په هر حال کې رسيږي همدغه راز مقدره روزي هم په خپل وخت رسيږي، شيخ الحديث حضرت زکريا رَحِمَهُ اللهُ ليکي چې: کميل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو کس دی وايي چې زه يو خل حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره تلم، هغه ځنګل ته ورسيد، بيا يوې مقبرې ته متوجې شو او ويې فرمايل: اې دمقبرې والاوو، اې زړيدو والاوو، اې دوخشت والاوو، تنهايې والاوو، څه خبر دی څه حال دی، بيا يې وفرمايل چې: زمونږ خبر خو دادی چې ستاسوروسته مالونه تقسيم شول، بچي مو يتيمان شول، ښځو مو نور خاوندان وکړل دا خو زمونږ حال دی، اوس څه خپل هم ووايئ، له دې وروسته زما لوري ته متوجې شو او ويې فرمايل: اې کميل! که چيرته دې خلکو ته دخبرو کولو اجازه وای اوخبرې يې کولی شوای!

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

نو دې خلکو به ویلې و. چې بهترینه تو نبه تقوا ده دا یې وفرمایل اوپه ژړا شو. وې فرمایل:
اې کمیل! قبر دعمل صندوق دی اودمرګ په وخت کې خبره معلومه شي (کنزالعمال)

اے خنک چشمیکه او گریان اوست وے همایوں دل که او بریان اوست

چونکه غم بینی تو استغفار کن غم بامر خالق آمد کار کن (رومي رحمه الله)

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به اکثرپه مسجد کې و، یوروځ حضور ﷺ حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کور ته تشریف یوړو. وې لیدل چې علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په کور کې نه شته؛ نومعلومه شوه چې مسجد کې دی. دحضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مینځ کې څه خبره وه. حضور ﷺ مسجد ته تشریف یوړو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دیوال ته ډډه وهلې وه. ملا(شا) یې په خاورو کښره وه؛ نورسول الله ﷺ شروع شو هغه خاوري یې له حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ټک وهلې او ورته یې وویل کینه یا ابا تراب! یعني (دخاورو پلاره) دایې دمحبت له وجې ورته ویل (صحیح البخاري رقم الحدیث ۵۷۳۶)

"عَنْ سَعد بن ابي وقاص قَالَ قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلَّم لِعَلِي أَنتَ مِنِّي بِمَنزِلَةِ هارون مِن مُوسىٰ إِلَّا أَنَّه لَا نَبِي بَعدِي" (بخاري، مسلم)

ترجمه: حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دقرابتداریي اخرت، مرتبې اوددین دمددګاریې په اعتبار سره یې ورته وفرمایل چې ته ما له پاره داسې یې، لکه څنګه چې موسی عَلَيْهِ السَّلَام له پاره هارون عَلَيْهِ السَّلَام و، بس فرق دادی چې زما نه وروسته نبي نه شته.

له دې حدیث نه شیعه ګان دا دلیل نیسي چې دحضور ﷺ نه وروسته خلیفه علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی. حالانکې دحدیث دالفاظو نه دا خبره واضحه ده چې حضور ﷺ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خاص په هغو ورځو کې خلیفه مقرر کړی و، په کومو ورځوکې چې رسول الله ﷺ له مدیني منورې نه دغزوه تبوک پرلوري تللی و، کله چې موسی عَلَيْهِ السَّلَام کوه طور ته لاړ؛ دخپل ځای ناستي له پاره یې هارون عَلَيْهِ السَّلَام خلیفه وټاکه، دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل خلیفه جوړولو مقصد یا وصیت کول یا دې طرفته اشاره کول چې ګني زما نه وروسته به حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلیفه وي؛ نو بیا به یې دحضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام سره تشبیه نه ورکوله، ځکه چې حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام دحضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام له وفات وروسته خلیفه نه و، ځکه هغه دحضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام نه ځلوینت کاله مخکې وفات شوی و، له دې پرته حضور ﷺ په مدینه کې دخپلې عدم موجودیت په دوران کې دلمونځونو امامت له پاره یې حضرت ابن ام مکتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یې خلیفه جوړ کړی و، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحضور ﷺ داهل اوعیال دحفاظت فرائض ادا کول اوحضرت ام مکتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به لمونځونه ورکول که خلافت مطلق

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

و؛ نو دلمونځونو امامت به يې يقيناً حضرت علي رضي الله عنه ته سپارلی و، ده له پاره به يې بل بنده نه منتخب کاوو. (مظاهر حق)

د حضرت معاويه رضي الله عنه فضائل:

ددې خطبې موضوع اصل کې د حضرت معاويه او حضرت علي رضي الله عنهما په مينځ کې د جنګ صفين د فيصلې او تحکيم په نسبت د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين فضائل او مناقب بيانول مقصود دي؛ نو د حضرت علي رضي الله عنه له فضائلو وروسته د حضرت معاويه رضي الله عنه فضائل بيانوو، دواړه د رسول ﷺ صحابه دي، له دې دواړو سره محبت دايمان علامه ده، حقيقت دادی چې معاويه رضي الله عنه جليل القدر شخصيت دی، دده په دور کې اسلام بې مثاله ترقي کړې ده.

روم ایران کے علم سب ہو گئے پھر سرنگوں — بر سر میدان جب آئی ان کی تیغ آبدار
ہر گز نمیرند آں کے دلش زندہ شد بہ علم — ثبت است بر جریدہ عالم دوام ما

بنو هاشم او بنو اميه خاندان کې قرابت داري وه، د جنګ صفين او کربلا وروسته يې هم قرابت داري قائم وساتله، مثلاً: حضرت حسين رضي الله عنه دلور فاطمې د حضرت عثمان رضي الله عنه دلمسۍ عبدالله سره نکاح وشوه او د حضرت حسن رضي الله عنه د پنځو لمسيو نکاح وشوه د سيده نضيه نکاح دوليد بن عبدالملک سره، د خديجه بنت حسين رضي الله عنه د اسماعيل بن عبدالملک سره، حماده بنت حسن مثنى نکاح د اسماعيل بن عبدالملک سره. ام قاسم بن حسن مثنى نکاح د مروان بن حضرت عثمان رضي الله عنه سره اوداسې نور..... (رساله عجاله نافعه ص: ۱۰)

د حضور ﷺ بنځه ام حبيبه رضي الله عنها د حضرت معاويه رضي الله عنه خور وه، حضرت معاويه رضي الله عنه هغه شخصيت دی چې د اسلام راوړو نه مخکې يې هم د مسلمانانو خلاف څه کارروايي نه ده کړې اوکه څه لږ ډيريې کړي هم وي؛ نو د اسلام راوړو سره ختم شول، دی رضي الله عنه کاتب وحي و، همدغه راز د اسلام په اشاعت کې يې ډېره لويه برخه واخيسته، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ده ته د شام گورنري وسپارله، شل کاله يې ښه په خير او خوبي سره فرائض پوره کړل.

تبلیغ حق میں کوشاں دن رات وہ رہے یوں — پھیل جہاں میں شہرت حضرت معاویہؓ کی

حضرت معاويه رضي الله عنه کله چې حاکم جوړ شو؛ نو مور ورته يو وصيت کړی و، زويه! اگر چې ستا په څير ازاد تر ننه مور نه دي پيدا کړې، مگر تا ته د عمر فاروق رضي الله عنه د موافقت مطابق کار کول لازم دي، که دهغه حکم په تا ښه ولگيږي اوکه بد، له حضرت معاويه رضي الله عنه نه د حديث په کتابونو کې يو سل درې شپيته (۱۲۳) احاديث روايت دي، حضور ﷺ

کفایت کتب خانہ قبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت معاویه رضی الله عنه ته دعا وکړه «ای الله! معاویه رضی الله عنه هدایت کوونکی او هدایت موندونکی جوړ کړې» کوم کس له پاره چې حضور ﷺ دعا وکړي دهغه هدایت یافته کیدو کې خنګه شبه کیدای شي اویو بله دعا هم حضور ﷺ دمعاویه رضی الله عنه په حق کې کړې وه «یا الله! معاویه رضی الله عنه ته کتاب اوحساب وښایه اوله عذاب نه یې بچ کړې»؛ نو یقیني خبره ده چې دحضور ﷺ په دعا سره دعذاب نه بچ کړای شو. حضرت معاویه رضی الله عنه دحکومت باوجود حلیم الطبع «نرم مزاجه» و دهغه رضی الله عنه حوصله یو مثال جوړشوی و

دحضرت معاویه رضی الله عنه حوصله:

یو خل یو کس حضرت معاویه رضی الله عنه ته وویل چې: ای معاویه! موږ به تا په لږ وخت کې سیده کړو. حضرت معاویه رضی الله عنه یې انتهاله نرمي سره وفرمایل: په خه به مې سیده کړئ. دغه کس یې انتها غوسه کې وویل چې: لرګي سره به دې ووهم او سیده به دې کړم. معاویه رضی الله عنه وفرمایل: بیشکه سیده مې کړه.

ابن ابي الدنیا او ابن عساکر دجبله ابن سحیم نه روایت کړی دی هغه وایي چې: زه یو خل دمعاویه رضی الله عنه دخلافت دور کې دهغه ملاقات ته لاړم ګورم چې په غاړه کې یې رسۍ ده اوبه ماشوم یې رابنکي. زه حیران شوم ما وویل: ای امیر المومنین دا دومره زیاتی تاسو برداشت کوی. هغه وویل: خاموش! ما درسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې چا ته الله زوی ورکړي. هغه ته پکار دي چې دهغه دلجویي وکړي،

کله چې په جنګ یرموک کې دمسلمانانو پښې وښویدې؛ نودحضرت معاویه رضی الله عنه مور یې له نورووښځو سره یوخای شوه او دکفارو خیمې یې په ډانګونو ووهلې اودغیرت الفاظ یې وبل د مسلمانانو دجوش له پاره دهغې فائده دا وشوه چې مسلمانانوته کامیابي او کفارو ته شکست ملاوشو. دحضرت معاویه رضی الله عنه پلار ابوسفیان دفتح مکې په ورځ باندې مسلمان شو داسلام راوړلو وروسته اسلامي جنګونو کې برابر شریک و، غزوه حنین کې هم شریک. دطائف په جنګ کې د ده یوه سترګه وشلیده اوپه جنګ یرموک کې دویمه سترګه هم دصدمې او خفګان له وجې ختمه شوه اومکمل نابینا شو، اخر په مدینه منوره کې په ۳۴ هجري کې وفات اوپه جنت البقیع کې خاورو ته وسپارل شو، بدبخته دی هغه انسان کوم چې په دوی باندې لعن طعن کوي.

این سلسله از طلائے ناب است این خانه تمام آفتاب است (رومي رحمه الله)

داهل عربو مقوله ده زموږ څلورکسان په عقل اوتدبر کې له ټولو نه زیات دي اوخلور کسان په عدل اوانصاف کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هغه خلور کسان کوم چې په عقل او تدبر کې زیات دي

(۱)، حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (۲)، حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

(۳)، مغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (۴)، زیاد بن ابي سفیان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

خلور کسان په قوت، فیصله او انصاف کې زیات دي

(۱)، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (۲)، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

(۳)، حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (۴)، حضرت زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

یوه ورځ یو کس حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې پوښتنه وکړه؛ نو ویې فرمایل (دهغه حلم او حوصله دغوسې له پاره وبال جان و، دهغه سخاوت دژبې له پاره تالەقفل) وه. هغه ته دژرونو جوړول دپر ښه ورتلل اوهمدا وجه دهغه دحکومت داستحکام وه، داخبره دنن سبا دحکمرانانو له پاره هم سبق دی چې دالله تعالی په بندګانو باندې نرمي کوئ، ظلم مه کوئ، سخا کوئ، بخل سره تباهي راځي اوپه ژرونو کې جوړ پیدا کړئ. نه ماتول. خنګه چې دیو انګریز قول دی (وجنګوئ او حکومت وکړئ) ددې نظریې له وجې هغه سل کاله حکومت وکړ دپر لوی جاګیردار اونوابان یې قیمت واخیستل اودرباري مذهبي خلک یې واخیستل. دې درباري ملایانو فتوا داهل حق خلاف ورکړې او خپل مفاد یې حاصل کړل.

خنده زن کفر هے احساس تجھے هے که نهیں

دحضرت علي او حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په کومو ورځو کې جنګ و؛ نو یو عیسایي بادشاه دا موقعه غنیمت وګڼله اوحضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې پیغام ولیږه، چې ما اوریدلي دي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تا سره جنګیږي، که زه ستا مدد له پار فوج درورانه کړم؛ نو ځنګه به وي، حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب کې وفرمایل: اې رومي سپیه! زموږ خپل مینځي جنګ نه تا ته طمع پیدا شوه. یاد ساته مورږ خپل مینځ کې جنګیږو، خوکفر ته ټول یوځای یو، که نن هم حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ستا خلاف دجنګ اعلان وکړې؛ نو ټولو نه اول ستا خلاف جنګیدونکي سپاهي زه یمه.

دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ داختلاف باره کې داهل سنت مسلک :

ټول صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن اهل حق دالله تعالی دجماعت کامیاب او هدایت یافته خلک اودحضور ﷺ شاګردان او جانثار دي، ددوی متعلق دادب خیال به ساتئ، هغوی زموږ مقتدا دي، دهغوی خپل مینځي اختلاف کې هم اخلاص و، دهغوی داختلاف باره کې مورږ ته دفیصلي کولو اجازه نه شته، بلکې دژبې بندولو حکم دی اودهغوی ذکرپه خیر سره وکړو؛ ځکه چې الله تعالی له دوی نه راضي و اوپه قرآن کریم کې یې درضامندي اعلان وکړ، حضرت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په جنګ صفین کې د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره و او حضور ﷺ له مخکې
ښکاره ویلي فرمایلي وه چې طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهید دی (اګر چې هغه په ځمکه باندې ګرځي)؛
نوله دې ښکاره شوه چې دی د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره شاملیدل اودحضرت علي
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلاف جنګیدل که ګناه وي: نو بیا شهید ځنګه شو. همدغه رازکوم صحابه کرام
رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين چې په دې جنګ کې شریک نه شو. دهغوی متعلق هیڅ هم نه دي ویل
پکار. کله چې دځینو علماووکرامو نه دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين دخپل مینځي جنګ
باره کې پوښتنه وشي: نو هغوی فرمایي:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۱۳۴) (سورة البقرة)

ترجمه: دغه یوه ډله وه چې تیره شوې وه. هغوی ته (د جزا) دهغه څه چې کړي یې اوتاسې ته ده
جزا دهغه څه چې کړي دي تاسو اونه به پوښتل کیږي، له هغه څه چې وو دوی چې کول به یې
له یوبزرګ نه چې کله دې باره کې پوښتنه وشوه؛ نوهغه وفرمایل کله چې الله تعالی زمونږ
لاسونه دهغوی له وینو نه محفوظ کړل، بیا ولې خپله ژبه پرې ککړه کړو.

حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ په فرمایل چې: دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين جنګ په داسې
وخت کې و، چې مونږ نه وو. چې په هغوی کې کوم اختلاف و؛ نومونږ ته دخبرو کولو اجازه نه
شته. هو! چې په کومو خبرو یې اتفاق دی دهغو دخبرو کولو مونږ ته حکم دی، باقي اختلاف
کې مونږ ته خاموشي اختیارول پکار دي.

حضور ﷺ فرمایي چې: په ټولو ګناهونو کې سخته ګناه صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين سره
دښمني ساتل دي. دا داسې ګناه ده چې دقیامت په ورځ دهغه معافي هم نه شته.

حضور ﷺ فرمایي زما دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين باره کې دالله تعالی نه وویریږئ
دوی سره چې څوک محبت کوي هغه زما دمحبت له وجې اوکوم خلک چې دوی سره دښمني
کوي. هغه زما دښمني له وجې، چا چې هغوی تنګ کړل هغوی زه تنګ کړم اوچاچې زه تنګ
کړم. هغوی الله تعالی تنګ کړ، چاچې الله تنګ کړ قریبه ده چې الله تعالی یې ګرفت وکړي.
(سنن الترمذي عن عبدالله بن مغفل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، بحواله نزهة البساتين)

دعبدالرحیم بن زید رَحِمَهُ اللهُ بیان دی چې په تابعینو کې شل شیخان ما ته پیدا شو ټولو ما ته
داصحاب رسول ﷺ باره کې درسول الله ﷺ دا ارشاد واورو چې: چاچې زما صحابه
کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين سره محبت وکړ اوهغوی یې دوستان وګڼل دهغوی له پاره یې
استغفار وکړل. الله تعالی به یې دقیامت په ورځ باندې جنت کې ماسره ساتي.

حضور ﷺ فرمایلي دي کوم بنده چې په داسې ځمکه کې وفات شي چې په هغه کې زما
صحابي پروت وي: نو د صحابي نور به دډې بنده رهبر وي. دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شان یې چې واوریدو؛ نو حضرت موسی علیه السلام دا تمنا وکړه، یا الله! ما هم په دې امت کې داخل کړه، څکه چې په امت کې دتولو نه اعلی طبقه دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین وه، داهل سنت عقیده ده چې یو لوی نه لوی ولي، قطب، ابدال، غوث دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین دپښو ګرد ته هم نه شي رسیدای، څکه چې هغه سترګې به له کومه خایه راوړي په کومو سترګو چې رسول الله ﷺ لیدلی دی. هغه غوږونه به له کومه خایه راوړي په کومو غوږونو چې رسول الله ﷺ براه راست اوریدلي وي، صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین پرته له څه واسطې له دې سمندر نه فیض حاصل کړ. دوی ددې لمر اوسپوږمۍ نه براه راست رڼا حاصله کړه، تول صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین پاک، صاف او عادلان دي، زمونږ دتنقید نه بالاتر دي، مونږ ته ددوی ادب کول پکار دي دادب نه به څه حاصل شي، بې ادبي تباهي ده، یا الله مونږ ته دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین ادب نصیب کړي. آمین!

صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین دحضور ﷺ فیضان نظر سراپا هدایت جوړ شول، زړونه یې دنور ایمان نه منوره شول. دعظیمو اخلاقو مالکان جوړ شول، ددنیا نه یې دکفر تیاري لیرې کړې او د نورحق په رڼاګانو یې روښانه کړه، کوم کوم ځای کې چې ددوی قدمونه لاړل، هلته انقلاب راغی اوباطل حکومتونه تباه اوبرباد شول، دهغوی اقتدار او عروج په تولو دنیا خور شو. په نیمه دنیا باندې داسلام جنډه ورپیده په پنځوس کاله دورانیه کې نیمه دنیا باندې داسلام حکومت راغی، داتول دنبي اکرم ﷺ تربیت اوبه قرآن باندې دعمل کولو نتیجه ده، اول چې به په یوه یوه روپۍ باندې سر ورکاوو، لوټ ماري دهغوی پیشه وه، اوس داسلام اوقرآن په برکت ددنیا خزانې دهغوی په پښو کې پرتې دي، کوم داخیستو والا و، دورکولو والا جوړ شو، ددنیا سپکوالی ددوی په زړونو کې راغی، زړونه یې ددنیا نه مستغني شول اوهمدا اثرات په صحابیاتو کې هم موجود وو.

اس کو دین و دنیا کی هر خوشی میسر هوئی — جس نے عشق احمدؐ کو اپنے دل میں پالا هے

ان کی اک نظر سے قبل ان کی اک نظر کے بعد — هر طرف اندهیرا تها ، هر طرف اجالا هے
اک نظر کرم کی هو حال زار کیفی پر — آپؐ نے تو ذروں کوکهکشاں میں ڈهالا هے

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

****

کفایت کتب خانه تبلیغی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دصفر المظفر دمیاشتې څلورمه خطبه

دتوکل بیان:

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ وَكِيلًا. (سورة الاحزاب: ۴۸)

ژباړه: اوبر پاک الله توکل اوعتمادوکړئ! هغه په خپل قدرت اورحمت سرګرد(توله) کارونه جوړوي

وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ. (سورة الطلاق: ۳)

ژباړه: اوهغه څوک چې په الله تعالی توکل وکړي؛ نودغه (الله تعالی) بس اوکافي دی

دصفر په میاشت کې هیڅ نحوست (سپیره والی) نه شته، چاته له چا نه هیڅ ناروغي نه لګیږي، که توکل اواعتماد علی الله وي، هوا په صفر میاشت کې سلطان صلاح الدین ایوبي رحمه الله وکړي، دهجرت آغاز هم دصفر دمیاشتې په اخره کې وشوچې په الله تعالی باندې باعتماد دلیل دی، دصفر په میاشت کې حضرت زید، خبیب اوعاصم رضی الله عنهم شهیدان شول. باهم دالله تعالی په ذات باندې داعتماد اوتوکل نتیجه ده، حضور ﷺ حضرت اسامه رضی الله عنه ته دصفر په میاشت کې دروم خلاف دجهاد دسفرکولو حکم ورکړ.

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ قَالَ مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ هُمُ الَّذِينَ لَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَكْتَوُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (مسند احمد: ۱۹۱۳۳ برقم)

ژباړه: دحضرت عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې: زما دامت به اویا زره کسان پرته له حساب اوکتاب نه جنت ته داخل شي، صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین عرض وکړ، یارسول الله ﷺ! هغه څوک دي؟ وېې فرمایل: کوم چې تعویذ ګنډي نه کوي (شرکیه تعویذ)، داغ نه لګوي اوفال نه وباسي اوپه خپل رب باندې توکل کوي.

په دویم روایت کې دي چې ددوی مخونه به دځوارلسمې سپوږمۍ په څیرروښانه وي (صحیح البخاري: عن سهل بن سعد)

داداویازره تعداد ابتدایي و، له دي وروسته درسول الله ﷺ په دعا سره نورهم زیادت شو

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کې دي رسول الله ﷺ فرمایي چې: ما الله تعالی ته درخواست وکړ چې په دي کې دي زیات والی وکړل شي؛ نو الله تعالی دهر یو زر سره دیل زر زیات والی وکړ (مصنف ابن ابي شیبة)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په ترمذي شريف کې د حضرت ابوامامه رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل "ما سره زما پروردګار وعده وکړه چې زما له امت به اويا زره کسان جنت ته ځي اوهر يو زر سره به زر نور وي، چې په هغوی به نه حساب وي اونه عذاب له دې پرته دالله دلوړ ته به دری لپې نور زيادت وشي، چې دهغه مقدار يوازې الله تعالى ته معلوم دی، سنن الترمذي برقم ۲۳۶۱،

دالله تعالى دلوړ مقدار پې شميره دی، خوجنت ته به پې حساب تلونکي هغه خلک وي کوم چې په الله تعالى باندې کامله عقيده ساتي، مشرکانه او جاهلانه رسومو والا نه وي، ځکه دعقيدې خرابيدل انسان جهنم ته غورځوي، په مصيبتونو او مشکلاتوکې جائز طريقې اختيارول، دوا دارو کول دقرآن واحاديث دعاګانې ويل، صلوة حاجت اونوافل کول، صدقه اوخيرات کول داهغه تدابير دي چې په هغه سره عذاب اوبلاګانې لېرې کيږي، استغفار اوتوبه مصائب و افات لېرې کوي، حضرت شاه ولي الله رحمه الله فرمايي چې دتوکل حقيقت دادی چې دډې خبرې يقين راسخ وي، چې دنفع حصول اودمضراتو دفع کول داتول دسبحانه وتعالى نه ګڼي دې اسباب اوتدبيرونه محض ذريعه وآلات دي، چې کوم اسباب اوتدابيرهم دشريعت په اتباع کې اختيارکړل شي، هغه موثر نه دي ګڼل پکار، داسباب او تدابيرونو باوجود اعتماد اوبهروسه هميشه په حق سبحانه وتعالى باندې وي چې مسبب او موثر حقيقي دي (معارف السنة)

رزق هر چند بيګمان برسد شرط عقل است جستن ازدرها

دحضرت امام حمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه وشوه چې يو کس په خپل کور يا مسجدکې کينې او وايي چې زه به هيڅ کار نه کوم زما رزق به ما ته دلته راځي، امام صاحب رحمه الله ورته وويل داکس ډېر زيات نادانه دی. رسول الله ﷺ فرمايلي چې الله تعالى زما رزق زما دتورې لاندې اينې دی (يعني له جهاد نه حاصل شوی مال غنيمت پې زما ذريعه معاش وګرځاوو، اوپې فرمايل که چيرته تاسو په الله تعالى باندې توکل وکړئ، نو تاسو ته به هم دمرغو په شان رزق درکړي چې سهار دخپلې ژالې نه وړې وخې اومانښام ډکه خيټه واپس راځي؛ نوکله چې يو مرغى درزق دطلب له پاره کوشش کوي؛ نوپيا انسان به څنګه کوشش نه کوي، پيا صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين تولو به دمعاش طلب کاوو. چا به تجارت اوچا به باغباني اوداسې نور کول اوددوی اتباع اواقتداء زمونږ له پاره ضروري ده. له دې وجې جمهور صوفيا فرمايي چې توکل هغه وخت کې کامل وي کوم وخت کې چې دالله په وعده باندې پوره يقين حاصل شي اوپه دې خبره پوره يقين وشي قضا ضرور کيدو والا ده اوطلب رزق او ظاهري کارونو کې دشريعت اوسنت اتباع اوپيروي پرېږدي، البته که اسبابو سره زړه مطمئن نه وي اودايقين لري چې دا اسباب محض اسباب دي، بذاته خپل نفع اونقصان نه شي رسولي، نفع

کفایت کتب خانه ګیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ونقصان ټول دالله تعالی په قدرت اومشیت کې دي، که دا اسباب یې لږ هم موثر وګڼل؛ ورداد توکل نقصان دی

آستان حق په جب اپنی جبین گھستا تھا جومنا تھا نیر اقبال پیشانی تیری (اقبال)

الله پاک چې کله مهرباني وکړي، اسباب هم پیدا کوي اوداسبابولوري ته هم پخپله رهنمایي کوي. انسان ته پکار دي چې دخپلو اعمالو اصلاح وکړي اوهر عمل خپل خای کې یو اثر لري. څه چې کړي هغه به رییې، که بنده دبل دظلم نه خان ساتل غواړي؛ نو په بل دې ظلم نه کوي، په نورو دې رحم کوي، دنیکانو خلکو صحبت دي اختیار کړي، دحال فکر دې وکړي، سبا فکر دې نه کوي

مطلب بن حنطب روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: مانه دي پریښي هغه څه چې الله تعالی ماته حکم کړی ده. بلکې هغه ټول مې تاسوته ورسول، حضرت جبرایل امین زما په زړه کې واچوله چې یو کس به هم تر هغه وخت نه مري تر خویې چې خپله روزي نه وي مکمل کړي. کومه چې دده له پاره لیکل شوې ده، که دیوشي په پیداکیدو کې تاخیر وشي؛ نو په بنې طریقې باندې غوښتل پکار دي. (شعب الایمان للبیهقي، باب التوکل بالله عز وجل)

تاسو دالله تعالی دنبه اطاعت په ذریعه څه حاصلولی شی، دحضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَام دوصیت مفهوم دادی چې دسبا فکر مه کوئ، ګورئ! الله تعالی میږي ته هم رزق ورکوي. که تاسو واښې چې میږی وژوکی دی دهغه خوراک به څه وي؛ نو مرغیو ته وګورئ. که ته وایې چې هغه خو الوځي؛ نو بیا وحشي ځناورو ته وګورئ چې ځینې په کې دځومره جسامت والا دي اوځومره خوراک یې دی. کله چې الله تعالی هغوی ته هم رزق ورکوي؛ نو بیا به تا څنګه هیروي

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک دټولو نه زیات معزز جوړیدل غواړي؛ نو توکل دي وکړي، که څوک دټولو نه زیات قوت والا جوړیدل غواړي؛ نو تقوا دې اختیار کړي اوچې څوک غواړي چې دټولو نه دې زیات غني وي؛ نو دخپلو خزانو نه دې زیات دالله تعالی په خزانو اعتماد وکړي

دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ توکل:

یعلی بن مره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په رفقاوو (ملګرو) کې و، وایي چې موږ خپل مینځ کې مشوره وکړه چې حالات ناسازګاره دي موږ ته دامیرالمومنین حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حفاظت کول پکار دي، هسې نه څوک نقصان ور ورسوي، په دې غرض موږ دهغوی په دروازه باندې پیره شروع کړه، کله چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بهر ته لمانځه ته راووت؛ نو پوښتنه یې وکړه. چې ولې ولاړ یئ؟ موږ ورته وویل: ستاسو د حفاظت له پاره یو، ځکه چې حالات

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خراب دي، حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل: دا راته وايئ چې داسمان والا نه به مې ساتئ که دځمکې والا نه؟ مور جواب ورکړ چې دځمکې والا نه، هغه وفرمايل چې: ځئ دځمکې والا زما هيڅ نه شي کولی، کله چې داسمان والا فيصله ونه کړي اوپه هر يو کس باندې دوه محافظې فرښتې مقرري دي چې حفاظت يې کوي، خوکله چې تقدير نازليږي؛ نوهغه دواړه جدا شي.

عطار هو رومؒ هو رازیؒ هو غزالیؒ هو کچه هاته آتا نهیں بے آہ سحر گاهی (اقبال)

خُينې خلک په هر حال کې دالله تعالی نه راضي وي، درضابقضاءالله په مقام باندې فائز وي. شيخ الحديث حضرت مولانا زکريا ﷺ ليکلي دي: يو بزرګ فرمايې چې: ما يو غلام واخيست کله چې مې راوست؛ نو پوښتنه مې تري وکړه، ستا څه نوم دی؟ ويې ويل چې: کوم نوم اقارابانديې کيښود، ماترې پوښتنه وکړه چې څه به کوې؟ وې ويل چې: څه حکم اقا وکړي، ما تري پوښتنه وکړه څه به خوري (چې زه دهغه بندوبست وکړم)؟ هغه وويل چې: څه اقا راکوي. ماورته وويل: ستا خو به هم څه زړه غواړې؟ ويې ويل: داقا مخې ته دغلام څه خواهش. څه چې داقاخوښ وي، هغه دغلام خواهش وي، دهغه دا جواب چې مې واورید؛ نو ماته ژړا راغله اوخيال راغی چې زما معامله خو هم دالله تعالی سره داسې پکار ده، ما هغه ته وويل چې: تا ما ته دالله په حضورکې ادب کول وښودل، هغه په دې باندې دوه اشعار وويل چې معنا يې داده:

که چرته ستا ديو بنده پوره خدمت مانه ادا شي؛ نو له دې نه زيات ما ته څه نعمت کيدای شي، بس ته په خپل فضل سره زما کوتاهي او ګناهونه معاف کړه، ځکه چې زه تا پر لوی محسن اورحيم ګنم.

په يو حديث کې دي چې چې تا ته ستا درب په طفيل اکثر روزي ملاويږي دخپل ځان نه په غريبو اووړو اوکمزورو باندې رحم کوه، په روزي کې به هم برکت وي اودالله تعالی له لوريې به هم رحم وي.

مٹا دے اپنی ہستی کو اگرکچھ مرتبہ چاہے کہ دانہ خاک میں مل کر گل گلزار ہوتا ہے

عمر را ضائع مکن در گفتگو جستجو کن جستجو کن جستجو

په يو حديث کې دحضور ﷺ ارشاد مبارکه دی چې روزانه کله لمر راخيږي؛ نو ملک الموت اعلان کوي نن چې څومره نيک کارونه کوئ ويې کړئ، ستا په عمر کې به کله هم دا ورځ دوباره نه راځي، له دې وجې کومه نيکي چې ليکل کيدای شي وليکه اودوه فرښتي داسمان نه اعلان کوي په هغوکې يوه وايې يا الله! خرچ کوونکي ته ددې بدله ورکړه اودويمه وايې يااالله! مال ځان سره ساتونکيه انسانه مال تباه کړه، دايمان والاوو صفات الله رب العزت داسې بيان کړي دي:

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ (۲) الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ (۳) أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَّهُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ (۴) (سورة الانفال)

ترجمه: بیشکه خبره هم داده چې حقاني مؤمنان هغه کسان دي، کله چې یادکړل شي(دوی ته نوم د) الله تعالی؛ نو وېریږي زړونه د دوی اوکله چې ولوستل شي پردوی باندې ایتونه (کلام د الله تعالی: نوزیاتوي دغه (ایتونه) ایمان ددوی. اوپرخپل پالونکي رب باندې توکل (اعتماد) کوي، داهغه مؤمنان دي چې قایمومي (سم اداء کوي سره له ټولو حقوقو) لمونځونه او خپې له هغه ماله چې ورکړی دی موږ دوی ته نفقه کوي (لګوي یې په لاره د الله تعالی کې) اوهمدغه کسان په حقه مؤمنان دي، دوی ته درجې دي په نزد درب ددوی اومغفرت (بښنه) او رزق نیک (عزت).

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي: په الله باندې دتوکل مطلب دادی چې دهغه پرته دبل چا نه امید ونه ساتل شي.

حضرت سعید بن جُبیر رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې: په الله باندې توکل کول دایمان مجموعه ده

شیخ الحدیث حضرت زکریا رَحِمَهُ اللَّهُ لیکي: که چیرته قرآن کریم کې یو ایت په الله تعالی داعتماد اویقین نازل وای، بیا به هم کافي و، خوقرآن کریم کې کثرت سره په الله تعالی داعتماد اویواړي دالله تعالی په ذات باندې اعتمادکول او په مصائبو اوحاجاتو کې یواړي الله ته اواز وشي اوله الله تعالی نه مدد غوښتل اوپه ده باندې نظر ساتل وارد شوي دي. نوربه دېر کم مضامین دومره کثرت سره وارد شوي وي، بار بار ددې حکم دی اودنیک اوپسندیده خلکو داحوالو کې ددې ذکر دی ددې ترغیب دی اوپکار هم داسې ده چې په حقیقت کې توکل دتوحید ثمره ده، کوم بنده چې په توحید کې څومره مضبوط وي، هغومره به په توکل کې هم مضبوط وي، توحید داسلام بنیاد دی، دایمان جړه ده، پرته دتوحید نه یوشی هم معتبر نه دی. دټولو مذاهبو اوشریعتونو دارومدار په توحید باندې دی، له دې وجې څومره اهتمام هم چې وارد دی نبکاره دی اوبیا الله جل شانه په قرآن کریم کې دومره لویه پروانه رضا اوتوکل باندې ارشاد فرمایي چې په هغه دمې کیدو قابل دي، دالله پاک ارشاد دی چې الله تعالی توکل کوونکي خلک محبوب ساتي دصفت محبوبیت برابر یو صفت په دنیا کې شته ؟ یو کس دمالک الملک شهنشاه عالم محبوب جوړ شي، له دې نه زیات کوم یو عزت اوافتخار دنیا یا اخرت کې کیدای شي. بیا ددې وعده هم الله تعالی کړې ده، چې کوم کس په الله باندې توکل وکړي: نوالله ده له پاره کافي دی، بیا دداسې بنده دیوکار له پاره دبل چا څه ضرورت، له دې وجې دحضور ﷺ ارشاد دی کوچیرته تاسو خلک په الله تعالی باندې داسې توکل کوی،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

څنګه چې دهغه حق دی؛ نو تاسو ته به داسې روزي درکړي، څنګه چې مرغیو ته ورکوي، په یو بل حدیث کې راغلي دي چې کوم بنده په پوره دول دالله لوري ته متوجې شي؛ نو الله کریم دده دهر مشقت له پاره کافي شي اوداسې رزق ورکوي چې دده ګمان هم نه وي. دتوحید ثمره توکل دی چا ته چې په توحید کې څومره کمال حاصل وي دومره به په الله تعالی باندې توکل وي اودماسوا نه به بې نیازي وي. دامشهوره ده چې کله ابراهیم خلیل الله په اور کې اچول کیده؛ نو حضرت جبرایل عَلَيْهِ السَّلَام راغی او ویې ویل ماته څه خدمت دی. حکم وکړئ، حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام وویل چې نه؛ تاته زما هیڅ حاجت نه شته، دالله په وعده باندې یقین اوددې کوشش وکړل شي یوازې په حق تعالی باندې زمونږ نظر وي، په هغه باندې اعتماد وي. ددغه پاک ذات نه سوال وي، له ده پرته بل چا ته لاس ونه نیول شي، بلکې په زړه کې دبل چا خیال هم رانشي. یوازې اویوازې هغه پاک ذات خپله درسره وي. هغه دنفعې اونقصان مالک دی، زړه پرې مطمئن شي، په ژبه دا ګفتار وي داخو زمونږ عام عادت دی. خواصل شی دادی چې دا خبره زمونږ په زړه کې کیني، ددې ذات نه پرته بل څوک نه نفع رسولی شی اونه نقصان.

کشاده دست کرم جب وہ بے نیاز کرے نیازمند نہ کیوں عاجزی پہ ناز کرے

اسی پر ہمیشہ بھروسہ کرو تم اسی کے سدا عشق کا دم بھرو تم (حالیؒ)

که لږ هم غور، فکر، سوچ وشي؛ نو دټولې دنیا زړونه دالله تعالی په قبضه کې دي، که مونږ لاک ځل یو بنده ته منت. زاري وکړو، خو چې دهغه زړه دبل چا په لاس کې وي؛ نو زمونږ دمنت، زاریو هیڅ فائده نه شته اوکله چې دزړونو مالک څه کول غواړي، خودبخودبې دخلکو زړونو کې واچوي. که مونږ لاک ځل بې نیازي وکړو، خودهغه زړه به دې خبرې ته مجبوریږي بار بار به دهغه زړه ته دا خیال راځي. له دې وجې که دحاجاتو غوښتل محل وي؛ نو یوازې هغه پاک ذات دی. دعاجزیي اودمنت، زاریوکولو ځای دی، یوازې دادربار دی، ټوله دنیا دده دارادې تابع ده دټولې دنیا خزاني دده په ملکیت کې دي (فضائل صدقات)

دغیب نه دروزي بندوبست:

عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من نزلت به فاقة فأنزلها بالناس لم تسد فاقته ومن نزلت به فاقة فأنزلها بالله فيوشك الله له برزق عاجل أو آجل

(ترمذی، حاکم، ابوداود، مشکاة)

عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم بنده ته دفقیرۍ نوبت راشي اوهغه یې دخلکو په مخکې ورانده کړي؛ نو دده فقیري به هیڅ کله ختمه نه شي

کفایت کتب خانۂ تبلیغی کرام جیئل
https://t.me/kafayat2395

اوکوم بنده چې خپله فقیري دالله تعالی په حضور کې وړاندې کړي او ده ته درخواست وکړي؛ نو حق تعالی سمدلاسه هغه ته رزق ورکوي، یا ورته دلږ تاخیر وروسته

فائده: کوم بنده چې خلکو ته سوال کوي دهغه فاقه به بنده نه شي. مطلب داچې احتیاج به یې پوره نه شي، نن که دی دیو ضرورت له وچې سوال وکړي اوهغه دضرورت په اعتبار سره پوره شو؛ نو سبا له هغه نه زیات غټ ضرورت پیښیدای شي اواحتیاج به دی هماغه رنګ پاتې وي اوکه دالله تعالی په حضور کې دی سوال وکړي؛ نو هغه ضرورت خو به دې ضرور پوره کیږي اوبل ضرورت به دې هم نه راځي اوکه راغی؛ نو دهغه بندوبست به هم مالک حقیقي کړی وي. دحضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها روایت دی چې په هغه کې حضور ﷺ په خوښیانو باندې قسم خوړلی دی، په هغوکې یو داهم دی چې کوم بنده دخلکو مخکې دسوال دروازه خلاصه کړي، الله جل شانه په هغه باندې دفقر دروازې خلاصې کړي اوهم دا وجه ده چې در په در سوال کوونکي خلک هیڅ کله هم اسوده کیږي نه. بلکې همیشه تنګدسته او فقیران وي

نه کهیں جہاں میں اماں ملی جو اماں ملی تو کہاں ملی
مرے جرم ہائے سیاہ کو ترے عفو بندہ نواز میں

حکایت:

ذکرد قبیلې یو مشهور ډاکو خپله کیسه کوي، چې زه دخپلو ملګرو سره یو ځل ډاکه باندې تلم په لاره کې یوخای ناست وو، هلته مو ولیدل چې دکجورو یو درې ونې وې په څوباندې ټنه میوه وه اویوه بالکل خالي وه، یوه مرغی به بار بار راتله اودکجورو والا ونې نه به یې کجورې خالي کجورې ته وړلې، ما چې دا ولیدل؛ نو په تعجب کې شوم. ما لس خلّه دامرغی ولیده چې دیوې ونې نه بلې ته تله، ما اراده وکړه چې ونې ته وخیژم او وګورم چې دا مرغی څه کوي. کله چې ونې ته وختم، ومې لیدل چې یو روند مار په ژاله کې دی اوخُله یې خلاصه کړې وه اودامرغی تازه تازه کجورې ددې مار خله کې اچوي، ماچې دا منظر ولید؛ نو بې اختیاره په ژړا شوم او ومې ویل یا الله! دکوم شي دوژلو حکم چې ستا نبي ﷺ کړی دی، کله چې هغه نابینا شو؛ نو تا یې له کومه ځایه دروزي بندوبست وکړ اوزه ستا بنده ستا په توحیدباندې ایمان راوړونکی اوزه دې دخلکو په لوټ کولو باندې ولګولم؟ په دې ویلو سره زما په زړه کې دا واچول شو چې زما دتوبې دروازه اوس هم خلاصه ده ماخپله هغه توره ماتا کړه کومه چې ما دخلکو لوټ کولو له پاره استعمالوله اوپه خپل سر مې ځاورې واچولې او اقالة اقالة (معافي معافي) چغې مې ووهلې دغیبو نه اواز راغی چې موږ معافي وکړه، ز

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خپلو ملګرو ته راغلم، هغوی ماته وایي: په تا څه وشول، ما ورته وویل: اول زه هجور وم اواوس مې صلح وکړه.

له دې وروسته ما ټوله کیسه دوی ته واوروله؛ نو دغوملګرو وویل: موږ هم صلح کوو، ټولو توبه وویسته اوخپلې خپلې توري یې ماتې کړې اولوټ شوی مال مو په ځای پریښودو اواحرامونه مو وتړل اودحج په اراده روان شو، ددریو درځو سفر وروسته موږ یو کلي ته ورسیدو. په دې کلي کې یوه نابینا بوډۍ وه، ما ته یې زما په نوم اواز وکړ. چې تاسو کې کُردي څوک دی؟ ملګرو ورته وویل چې: دادی، هغې ښځې څه جامې راوویستې او ویې ویل: دري ورځې مخکې زما زوی وفات شو، له هغه نه جامې پاتې شوې دي، دري ورځې وشوې چې حضور ﷺ په خوب کې راځي او فرمایي: داجامې فلاني کُردي ته ورکړه. کُردي وایي چې: جامې ما واخیستې اوټولو ملګرو واچولې، اوس په کښه کې دواړه شیان دعبرت دي، درویند مار دالله تعالی له لوري رزق او دحضور ﷺ له لوري دجامو عطیه. (فضائل صدقات)

لګاؤ تولو اس سے اپنی لګاؤ جھکاؤ تو سر اس کے آگے جھکاؤ (حال ﷺ)

کله چې الله جل شانه دچا مدد کول غواړي؛ نودهغه له پاره اسباب څه مشکل دي، ټول اسباب دغنا او فقر هغه پیدا کړي دي اود ریښتینې توبه په برکت دحضور ﷺ دجامو اعزاز خپله یو قابل فخر شی دی.

په یو حدیث مبارک کې دي چې کوم بنده وبړی او محتاج وي اودخلکو نه یې پټ وساتي اودالله جل شانه نه وغواړي؛ نو الله جل شانه دیو کال له پاره حلال رزق دروازه په ده باندې خلاصه کړي.

په یو بل حدیث مبارک کې حضور ﷺ فرمایي: کوم کس چې دالله تعالی نه غنا غواړي، الله تعالی هغه ته غنا ورکوي اوکوم کس چې دالله تعالی عفت غواړي؛ نو الله تعالی عفت ورکوي اواوچت لاس (ورکونکی لاس) بهتر دی دلاندې لاس (اخیستونکي لاس)، نه اویو کس هم داسې نه شته چې دسوال دوازه خلاصه کړي، مګر الله جل شانه په ده باندې دفقر دروازه خلاصه کړي.

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دیو کس اواز واورید، چې دعرفات میدان کې یې له خلکو سوال کاو. هغه په ډُوه وواهه چې په داسې ورځ اوپه داسې ځای کې دالله پرته بل چا نه سوال کوې. دحضرت امام احمد بن حنبل ﷺ دعا ده:

"اَللّٰهُمَّ كَمَا صُنْتَ وَجْهِي عَنْ سُجُوْدٍ لِغَيْرِكَ فَصُنْ وَجْهِي عَنْ مَسْئَلَةِ غَيْرِكَ"

اې الله څنګه چې تا زما سر بل ته دټیټیدو نه محفوظ ساتلی دی، همدغه شان زما ژبه هم دبل نه دسوال کولونه محفوظه وساته. (مرقاة المفاتیح، کتاب الزکاة، باب: باب من لا تحل له المسألة ومن تحل له)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حکایت:

په نزهة المجالسین کې د کتاب الحقائق په حواله دې چې یو عبادت ګذار، یو کس په اس باندې سور د تکبر حالت کې روان ولید. له هغه یې دحال پوښتنه وکړه؛ نو هغه وویل زه د بادشاه غلام یم، عبادت ګذار ورته وویل: بادشاه سره دې څومره نزدیکت دی. هغه وویل: کله چې بادشاه یوازې وي، زه یې ملګرتیا کوم، کله چې وبده کیږي، زه یې پیره دار یم. کله چې وږی وي، زه خوراک ورکوم. کله چې تږی وي، زه اوبه ورکوم اوهغه په ورځ کې دری ځله ما ته نظر خاص کوي. بزرګ ورته وویل: کله چې ته بې پروایي وکړې. بیا درسره څه کوي؟ هغه وویل بیا ما وهي اوچې غلطي وکړې؛ نو بیا درسره څه کوي؟ هغه وویل: سزا راکوي. بزرګ شیخ وویل زه ستا نه زیات دفخر قابل یم. ځکه چې زما مولی ما ته خوراک راکوي. ماته څښاک راکوي. کله چې زه یوازې یم، هغه زما ملګری وي. کله چې زه وبده کیږم. هغه زما حفاظت کوي. کله چې زه ګناه کوم. هغه ما ببښي اوکه ستا مولی تا ته دورځې دری ځله نظر کوي. زما مولی ما ته دورځې دری سوه او شپیته ځله ګوري، هغه کس وویل: تا سهي وویل. زه د داسې مولی خدمت ګذاري نه رجوع کوم. بیا هغه غلام له اس نه راکوزشو اوجامې یې وویستې اودسلطان خدمت یې پریښود اود خدای واحد منان خدمت کې مشغول شو.

تفسیر قرطبي کې یوروایت دنبي کریم ﷺ مذکور دی، چې زراعت په څمکه، نه یوه میوه په ونه. نه یوه دانه دځمکو په تیارو کې داسې ده په هغه باندې یې بسم الله الرحمن الرحیم فلان بن فلان رزق نه وي لیکلي.

حکایت:

په کتاب الحقائق کې دي. دبصرې یو کس و په هغه ډېر زیات قرض و، دهغه قرض خواهانو تري دقرض مطالبه وکړه؛ نوقرض والا ورته هم ملاو نه شو، له دې وجې هغه کوفې ته وتښتید اوهلته جامع مسجد ته داخل شو او ویې ویل: اې زما درب فریښتو! زما کښه الله تعالی ته ورسوي، زه غریب الوطن یم او قرضدار یم، بیا دهغه سترګې ورغلې ویده شو، په دې کې یو کس راغی اوله خوبه یې راپورته کړ. اې دکښې والا پورته شه دا دري زره اشرفي دي، قرض دار تري ددې نسبت پوښتنه وکړه، هغه بنده وویل چې: زه ویده وم ما ولیدل چې یو بنده اواز کوئ چې مسجد کې یو غریب الوطن انسان پروت دی، قرضدار دی، هغه مورې ته فریاد کړی دی. هغه ته ورشه اودري زره اشرفي ورکړه، داپیسې واخله اوچې کله هم خرچ شوې؛ نو راشه زه فلان ابن فلان یم. نوره خرچه به درکړم، قرضدار وویل: زه دالله پناه غواړم کوم ذات چې ته ماته راولیږلې له هغه پرته زه چا ته سوال کولی شم؟ بیا واپس خپل علاقې ته راغی زر اشرفي یې قرضدارو ته ورکړې او په دوه زره یې کاروبار شروع کړ، الله تعالی په دوه زره اشرفیو کې

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دومره برکت واچاوو چې تر مرګه دهغه پکار راغلې هغه ټوله زندګي دالله تعالی دعبادت پرته خان په بل څه کار کې مشغول نه کړ

روضة الریاحین کې دي چې هارون الرشید بادشاه یو متوکل انسان ته سزا ورکوله. خو وریې نه کړای شوه. لهذا دهغه متعلق یې دقید حکم وکړ، له دې وروسته چا ورته وویل: هغه قید خانې نه وتی دی او فلاني باغ کې دی. هغه یې حاضر کړ، پوښتنه ترې وشوه چې ته له قید خانې نه چا راوویستې؟ هغه وویل چا چې داخل کړی وم (یعنې الله تعالی) له دې وروسته یې هارون الرشید حکم وکړ چې دی په یو خاص اس باندې سور کړی اویو بنده دې اواز کوي چې دا هغه بنده دی چې هارون الرشید بادشاه ده ته سزا ورکول غوښتل، خو الله تعالی ده ته حفاظت اوعزت ورکړ اودا اشعار وایه:

إِذَا أَكْرَمَ الرَّحْمٰنُ عَبداً لِغَيْرِه ۔۔۔ فَلَن يقدِرَ لِـمَخلُوقٍ يوماً يهِينُه

وَمَن كَانَ مَولَاه العَزِيزُ اَهانَه ۔۔۔ فَلَا لِاَحَد بِالعِزِّ يوماً يعِينُه ۞

کله چې الله پاک یو بنده ته عزت ورکول غواړي نو هیڅ کلّه مخلوق دهغه بې عزتي نه شي کولی اوکله چې مولی کریم دچا بې عزتي کول غواړي؛ نو بیا څوک یې هم مدد نه شي کولی

شیخ احمد زین رحمه الله فرمایي: ما ولیدل چې یو کس ویده دی اوپه سینه یې مار دی اوخپله خوله یې دده په خوله باندې ایښې ده. ماهغه کس له خوب نه راپورته کړ. هغه کس مار ته وکتل بیا ویده شو تردې چې دخراتو اواز یې شروع شو، شیخ احمد فرمایي: ما غیبي اواز واورید. چې اې خوب کوونکیه! فرښتو ته ستا په توکل تعجب وشو اوله دې وروسته مار لاړ

حضرت سلیمان علیه السلام یو خل سمندر غاړې ته لاړ هلته یې یو میږی ولید چې په خوله کې یې شنه پاڼه وه. کله چې هغه اوبو ته نږدې شو؛ نو یوه چپندخه داوبو نه راووته اومیږی یې په شا سپور کړ اواوبو کې لږ ساعت غوپه شوه اوبیا راووته. حضرت سلیمان علیه السلام ترې دماجري پوښتنه وکړه؛ نو هغه ورته وویل: یا نبي الله! سمندر کې یو لوی کانی دی په هغه کانې کې یو چپنجی دی. الله تعالی زه مقرر کړی یم چې یه ورځ کې دري ځله ده ته خوراک رسوم اوفرښته یې دچپندخي په شکل پیدا کړه هغه ما کانې ته رسوي کانې وچوي اوچپنجی راوخي اوما نه پاڼه واخلي او دا وایي چې پاک دی هغه ذات چا چې زه پیدا کړم اوپه سمندر کې یې راته سکونت راکړ اوزما رزق یې کله هم هیر نه کړ، ای الله! څنګه چې دې زه په رزق کې هیر نه کړم. همدغه رنګ امت محمدي دخپل رحمت نه هیر نه کړې.

نسفي رحمه الله بیان کوي چې حضرت سلیمان علیه السلام له میږي نه پوښتنه وکړه چې په ټول کال کې ستا څومره روزي وي، هغه وویل: یوه دانه. سلیمان علیه السلام هغه میږی په شیشه کې بند کړ؛ یو کال وروسته یې راوویست؛ نو هغه نیمه دانه خوړلې وه اونیمه پاتې وه، پوښتنه یې ترې

کفایت کتب خانه قبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وکړه چې دا ولې، میرې وویل چې: اول زما په الله باندې یقین اوبهروسه وه، اوس مې دا ویره وه چې هسې نه تاسو مې هیر نه کړی، له دې وجې مې نیمه وخوړه اونیمه مې اینده راتلونکې کال له پاره پریښوده (یعنې الله خو مې نه هیروي، خود سلیمان علیه السلام دهیرې ویره مې وه).

عوارف العوارف کې دي چې حضرت ذوالنون مصري رحمه الله فرمایې چې زه درزق پلټنه کې وړنم: نو ماته یوه رنده مرغۍ پیدا شوه، زه حیران شوم چې دې ته یه خنګه رزق ملاویږي، ما ولیدل چې سمدلاسه خمکه څیرې شوه اودخمکې نه یې رزق راووت، هغې تري خپل رزق وخوړ اوخمکه دوباره هموار شوه.

پهنچتا هے هر اک مئے کش کے آگے دور جام اس کا
کسی کو تشنه لب رکهتا نهیں لطف عام اس کا
گواهی دے رهی هے اس کی یکتائی په ذات اس کی
دوئی کے نقش سب جهوٹے هیں سچا ایک نام اس کا

حضرت انس رضی الله عنه فرمایې چې: یو ځل زه دنبي کریم ﷺ سره چیرته روان وم په لاره کې مې ولیدل چې یوه رنده مرغۍ وه په ونه باندې یې مخوکه وهله، حضرت محمد ﷺ وفرمایل: تا نه پته شته چې دا څه وایي، ما وویل: الله اودهغه رسول ښه پوهیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل: دا مرغۍ وایي چې یا الله! ته عادله یې تا خو زه دبینایې نه محرومه کړم. زه وږی ځوپ یم. په دې کې ملخ راغی اودمرغۍ خولې کې پریوت، بیایې مخوکه په ونه باندې وهل شروع کړل. نبي کریم ﷺ وفرمایل: تا نه پته شته دا اوس څه غواړي، ما وویل: اې دالله نبي په ده راته نه شته. نبي اکرم ﷺ وفرمایل: دا وایي چې څوک په الله باندې توکل کوي الله دهغه له پاره کافي کیږي.

هر اک ذره فضا کا داستان اس کی سناتا هے
هر اک جهونکا هوا کا آکے دیتا هے پیام اس کا
میری افتادگی بهی میرے حق میں اس کی رحمت هے
که گرتے گرتے بهی میں نے لیا دامن هے تهام اس کا (ظفرعلی خان)

مالک بن دینار رحمه الله وایي چې: زه یو ځل حج ته لاړم، ما یوه مرغۍ ولیده چې دهغې په خوله کې یوه ډوډۍ وه. زه ورپسې شوم هغه یو بوډا ته ورسیده کوم کس چې پروت و. هغه ته یې درکول شروع کړل. بیا والوته هغه له پاره یې اوبه راوړې اودهغه بوډا په خولې کې یې واچولې، ماتړې پوښتنه وکړه چې ته څوک یې، هغه وویل: زه حاجي یم زه غلو ونیولم اودلته یې وترلم پنځه ورځې مې په ولړ قید کې پاتې کړم چې یوازې ما تلی ذوالجلال "اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ" زه په تکلیف

https://t.me/kafayat2395

کې یم، په ما باندې رحم وکړه، له دې وروسته الله تعالی ماته دا مرغی راولیږله، مالک بن دینار رحمه الله فرمایي چې: ما دا سړی خلاص کړ او موږ لاړو.

رینښتیا خبره ده چې کله بنده په یو غټ مصیبت کې ګرفتار شي او خاص الله ته سوال وکړي: نو الله تعالی یې له غیبو دده مدد کوي چې دانسان عقل حیران شي؛ نو انسان ته پکار دي چې پوره ډول الله تعالی ته متوجې شي بیا دي د الله تعالی مدد وګوري.

جګ میں آکر ادھر اُدھر دیکھا تو ھی نظر آیا جدھر دیکھا

الهي! موږ تولو ته دعمل کولو توفیق راکړه.

جنت حاصلولو له پاره دپنځو شیا نو پابندي:

فقیه ابواللیث سمرقندي رحمه الله فرمایي: کوم بنده چې دجنت نعمتونه حاصلول غواړي هغه له پاره دپنځو شیانو پابندي پکار ده:

(۱): خپل نفس دي دتولو ګناهونو نه محفوظ وساتي. لکه دالله تعالی ارشاد دی:

وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى (۴۰) (سورة النّازعات)

ترجمه: اوهرهغه څوک چې ویریږي له ودریدلو (په مخ د) رب خپل اومنع کړی یې وي نفس خپل له هوا فاحشاتو. بدوغوښتنوڅخه؛ نوبیشکه جنت همدا (جنت د ده) دهستوګنې ځای دی.

(۲): په لږ شي باندې هم راضي کیږي. ځکه چې په حدیث مبارک کې دي چې دجنت قیمت ددنیا پریښودل دي.

(۳): دهر نیک کار خواهش لري اود طاعت کار پرې نږدي معلومه نه ده چې کوم یو طاعت دګناهونو بخښش او دجنت دحصول سبب جوړ شي دالله تعالی ارشاد دی:

وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (۷۲) (سورة الزخرف)

ترجمه: اودغه جنت دی، هغه چې میراث درکړل شوی دی تاسوته په سبب دهغو (نیکوعملونو) چې وئ تاسي چې کول به موبه دنیاکې.

اهل جنت ته به دا انعامات دطاعاتو په بناء باندې ورکول کیږي.

(۴): دنیکانو خلکو سره محبت وساتي اودهغوی صحبت اختیار کړي، ځکه چې په دې دکوم یو بنده بخښش کیږي؛ نو هغه به دخپلو ورونو اواحبابو سفارش کوي، څنګه چې دنبي کریم ﷺ ارشاد دی، په خپل مینځ کې ورورولي پیدا کړئ، ځکه چې په قیامت کې به هر یو ورور ته دسفارش موقعه ملاویږي.

(۵): په کثرت سره دعا کوه اودالله تعالی نه دجنت اوخاتمه بالخیر دهر زیات درخواست کوئ.

(تنبیه الغافلین) وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

کفایت کتب ڈاٹ کام
https://t.me/kafayat2395

دصفرالمظفر دمیاشتې پنځمه خطبه

دمسلمانانو دعروج اوزوال اسباب

دصفر په میاشت کې داسې مختلف واقعات راغلل چې دهغوتعلق دمسلمانانو دعروج او زوال سره دی، مثلا واقعه صفین چې دحضرت علي او دحضرت معاویه رضي الله عنهما په مینځ کې راغله، داپه لسم صفر شوې وه، ۲۷صفر باندې مجاهد اوغازيّ اسلام سلطان صلاح الدین ایوبي وفات شوی و، مورخه ۲ صفر باندې بغداد کې هلاکو خان تاتاري قتل عام وکړ او بغداد سقوط شو. ۲۸ صفر باندې دحضرت مجدد الف ثاني محسن هند وفات شو. هجرت نبوي دصفر میاشتې په اخره کې وشو. دصفر په میاشت کې عظیم اوجلیل القدر صحابه حضرت زید اوحضرت خبیب رضي الله عنهما بې دردي سره شهیدان کړل شول. دصفر په میاشت کې حضور ﷺ دحضرت اسامه بن زید رضي الله عنه په قیادت کې دروم سرحداتو ته اسلامي لښکر ته دروانیدو حکم وکړ. همدغه راز نورهم ډیر اهم واقعات اومعاملات په کې پیښ شول. چې په دمسلمانانو دتاریخ دعروج او زوال سره ډیر نږدې اړیکه لري. کاش! چې مسلمانانو ته په لګیدلې وای چې هغه کوم اسباب وو چې په هغه سره مسلمانانو ته عروج ملاوشو اوهغه کوم اسباب وو چې هغو سره مسلمانانو ته زوال ملاو شو، حضرت علي اوحضرت امیر معاویه رضي الله عنهما عظیم صحابه کرام دي ددواړو په اخلاص اوللهیت کې هیڅ شک نه شته اودواړو باندې بدرد ویلو دقرآن اوحدیث په رڼا کې بالکل اجازه نه شته. دواړه دهدایت ستوري دي. الله تعالى له دوی نه راضي دی اودا اعلان الله تعالى په قرآن کریم کې کړی دی، ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین سره محبت ساتل زمونږ ایمان دی اوپه دې کې دیو سره هم بغض او کدورت ساتل دایمان تاوان دی، سلطان صلاح الدین ایوبي فاتح بیت المقدس اوبه عظیم مرد مومن اواسلامي جرنیل و، داوجه ده چې هغه دعیسایانو نه بیت المقدس آزاد کړ. ځکه چې دالله تعالى نصرت اومدد دهغه شامل حال و، نن هم دیهودیانو نه دبیت المقدس ازادولو یوازې یو صورت دی چې مسلمان خپل ځان کې دننه غیرت اوحمیت ایوبي پیدا کړي

دالله تعالى او درسول الله ﷺ اتباع وکړو، شریعت مطهره خپل شعار جوړ کړو، دیهودو اونصاراوو نقل پریږدو. مسلمانانو چې کله شریعت مطهره پریښود اونافرماني یې شروع کړه؛ نو الله تعالى تري دبغداد شان اسلامي مرکز دتاتاریانو په قبضه کې ورکړ. چې دهغه له دوجې مسلمانانو باندې دکفارو رعب پریوت اودلاکونو مسلمانانو وینه تویه شوه، اسلامي کتب خانې وسوځول شوې اودریابجله دغو اوبو شول. داتباع شریعت اوسنت په برکت سره

https://t.me/kafayat2395

دمجدد الف ثاني ﷺ په خير دبزرګانو په ذريعه زرګونو خلکو ته هدايت ملاو شو اومسلمانان کامياب شول.

خلاصه دډي تقرير اوبيان داده، که چيرې دالله تعالى په احکاماتو اودرسول الله ﷺ دښوونو، تعليماتو مطابق عمل وشي؛ نوکاميابي اوکامراني او عروج به حاصليږي اوکه چيرې دالله جل شانه نافرماني اودحضور ﷺ دښوونو، تعليماتو نه اعراض اوروګرداني کيږي؛ نوکه مسلمانان په تعداد کې زيات وي، جديد اسلحه وي اونوې ټيکنالوجي وي، دفوجيانو کثرت، د مال کثرت هم وي، خوبيا به هم ناکامي اوزوال وي، په اخري خطبه حج کې اقا نامدار حضرت محمد مصطفى ﷺ وفرمايل: «ياد ساتئ! دستاسو تولو رب يو دی اوتاسو تول ديو پلار اولاد يئ، عربي ته په عجمي باندې اوعجمي ته په عربي باندې هيڅ فوقيت نه شته، نه تور ته په سپين باندې نه سپين ته په تور باندې فوقيت شته «دفوقيت شی يوازې تقوا ده که څوک فائق وي» بس متقي په غير متقي باندې اوچت دی «چاته هم دحسب اونسب خبرې نه دي چېرل پکار» هر يو مسلمان دبل مسلمان ورور دی، دمسلمان عزت، ابرو تر قيامت پورې قابل احترام دي، څنګه چې دا مياشت او دا ورځ محترمه ده، زماوروسته ګمراه نه شئ، هسې نه چې يو مسلمان دبل مسلمان مرۍ پرې کړي، تاسو به دالله تعالى په حضورکې ورياندې کيږئ اوتاسوتولو نه به ديو يو عمل پوښتنه کيږي، زه په تاسو کې دالله تعالى کتاب پرېږدم، که تاسو دا په مضبوطيت سره ونيوو؛ نو ګمراه کيږی به نه.

اول به خلکو په قرآن اوسنت باندې عمل کاوو، کله چې به دقرآن کريم تلاوت کيده؛ نو دهغه په سهار بياني سره به رقت خوريدو اوڅټونه به دعقيدت نه تيټ شو؛ دنوي پيدا شوي ماشوم په غوږ کې به ددې الفاظ ويل کيدل، دې له پاره چې په دې جهان کې دتولو نه اول ددې الفاظ دماشوم په غوږ کې پريوځي، ددې په برکت سره هغوی کامياب اوکامران و، له دې وروسته په مسلمانانو باندې سستي راغله، دقرآن تعليمات کم شو او عمل هم کم شو غير اسلامي رسوماتو دوباره سرپورته کړ، دکومو له پاره چې اسلام ختمولو ته راغلی و، ددې تعليمات يې پرېښودل اوداغيارو تعليمات يې خپل کړل اومطمئن په خپل ځای باندې کيناستل.

یہ میری عقیدت کے دعوے قانون پر راضی غیروں کے
یوں بھی مجھے رسوا کرتے ہیں ایسے بھی ستایا جاتا ہوں

دايوازې دغيرو خلکو دقانون نه راضي نه، بلکې المیه داده دقرآني احکاماتو دپيژندګلو باوجود دنورو قانونو رسم او رواج يې خپل کړل، هغه دين چې هغه ګډو چيلو څرولو والا خلک يې دعرب اوعجم حکمرانان جوړ کړل په ورو ورو دا مفقوده اوناپيد شو.

کہیں کیا جو پوچھے کوئی ہم سے میر — جہاں میں تھے کیا کر چلے

اطاعت خداوندي اواتباع سنت نه زندګي پرسکونه جوړيږي، څنګه چې ارشاد خداوندي دی:

کفایت کتب خانہ قبلی گڑھی چیلل
https://t.me/kafayat2395

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (۹۷) (سورة النحل)

ژباړه: هرچاچې نیک عمل وکړ له سړیو، یاله ښځوڅخه، حال دادی چې دی مؤمن وي؛ نو خامخا ژوندن به ورکړو هغه ته ژوندون طیبه (پاکیزه)، اوخامخاجزا به ورکړو دوی ته ډیرښه هغو نیکیو، سره چې دوی به په (دنیاکې) کول.

په بل ځای کې الله تعالی فرمایلي دي:

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ (۱۵) (سورة جاثية)

ژباړه: څوک چې نیک عمل وکړي؛ نو دخپل ځان دنفع له پاره یې وکړ اوڅوک چې بدعمل وکړي، بس وبال اوضرریې پرده دی، بیابه تاسو رب ته بیول کیږئ (په قیامت کې له پاره دجزا یاعمالو)

ښیک او بد عمل بدله به ضرور ورکول کیږي، په حدیث مبارک کې دي:

عن أبي أيوب قال جاء رجل إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال دلني على عمل أعمله يدنيني من الجنة ويباعدني من النار قال تعبد الله لا تشرك به شيئا وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصل ذا رحمك فلما أدبر قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إن تمسك بما أمر به دخل الجنة. (صحيح المسلم)

ژباړه: حضرت ابو ایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې: یو کس دنبي کریم ﷺ په خدمت قدس کې حاضر شو او ویې فرمایل: ماته داسې عمل وښایه، چې زه یې وکړم اوهمدغه عمل ما جنت ته نزدې اوله جهنم نه مې لیرې کړي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه عمل دادی چې دالله تعالی داسې عبادت وکړه چې له هغه سره څوک هم شریک نه کړي، لمونځ قائم کړه، زکات ورکړه اوخپلو خپلوانو سره ښه تعلق ساته، کله دغه کس لاړ؛ نو رسول الله ﷺ وفرمایل که چیرته دا کس په دې خبره عمل وکړي؛ نو ضرور به جنت ته داخلیږي.

تشریح: داسې پوښتنې نوري هم شته چې په هغو سره دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ دجذباتو اوباطني رجحاناتوترڅه حده اندازه کیږي، هغوی ته نه ددنیا درنګینو خواهشاونه د دولت اوشهرت. دهغوی خواهش یوازې داو چې داخرت نعمتونه ملاویدل او دحشر عذابونو نه خلاصیدل. دجنت شوق او دجهنم ویره ددوی دایمي، هیمشه فکر و، ځکه به یې دهغو اعمالو پوښتنه کوله. کوم چې بنده جنت ته رسوي اوله جهنم نه یې بچ کوي، ددې په جواب کې رسول الله ﷺ هغه عمل تلقین کړو چې مختصر کیدو باوجود انتهایي جامع و، دهغه حاصل دادی چې دالله سبحانه وتعالی داسې بندګي اوعبادت وکړل شي، چې څوک غیر په ذې کې شریک نه کړل شي. هریو کار چې دالله تعالی له پاره دهغه دحکم مطابق وي، عین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عبادت اوحقیقي بندګي ده؛ نو مطلب داشوچي پوره زندګي داسي تیره کړي چې هر یو کار دالله تعالی له پاره وي. ډره برابر په کې دغیرالله شمولیت نه وي، داغراضو او خواهشاتو دآمیزش نه مکمل پاک وي، دادبندګي اصل مقام دی، که دالله په عبادت کې بل څه غرض شامل وي اتو دایه عبادت نه وي، له دې وجې دالله په بارګاه کې شرکت په یو صورت کې هم نه دی برداشت " أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ " زه دټول شریکانو نه غني یم. (صحیح مسلم: حدیث قدسی)

الله رب العلمین بې نیازه دی هغه ته دیو مشترک عمل حاجت نه شته، له دې وجې مشترک عمل قابل پذیرایي اولائق باریابي نه شي کیدای، له دې وروسته حقوق الله پابندي او حقوق العبادنګراني کې مصروف شو، ډحقوق الله اهم امور اوفرائض خداوندي اوحقوق العباد کې دټولو نه اهم قرابت دارو سره صله رحمي اوحسن سلوک دي اوداهغه امور دي چې په هغه باندې مستقیم پاتې کیدل دنجات لاره ده. (معارف السنة)

توحید:

حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درسول اکرم ﷺ نه روایت کوي چې: الله تعالی فرمایي: کوم کس چې زما نه پرته بل څوک دخپلو امیدونو مرکز جوړوي؛ نو زه دهغه امید په ناامیدیې بدلوم اودهغه امیدونه ناکامه کوم اوداسې کس دخپل قُرب اووصل نه لیرې کوم، ایا په سختیانو کې زما بنده دبل نه امید ساتي، حالانکې سختي زما په لاس کې ده، زه ژوندي کول کوم اوکریم ذات یم، ایا تاسو زما نه پرته دبل چا نه امید ساتئ، حالانکې دهر قسمه دروازو کُنجیاني (کیلیاني) زما لاس کې دي اوزما دروازه هر وخت خلاصه وي، هغه کس څوک دی چې په لوی نه لوی مصیبت کې زما نه اُمید وساتي اوما دهغه اُمید قطع کړی وي، څوک دی هغه بنده چې په یوه لویه ګناه کې یې ما نه معافي غوښتي وي او ما دهغه اُمید قطع کړی وي، ما دخپلو بندیګانو اُمیدونه خپل ځان ته نزدې وساتل اوکوم قوم چې زما په پاکي بیانولو باندې ستړي کیږي نه، هغه قوم نه ما اسمان ډک کړی، وایي افسوس! په هغو خلکو چې زما نه نا اُمیده دي او وایي بدبختي ده دهغه کس له پاره چې زما نافرماني کوي اوزما دحقوقو رعایت نه کوي. (دیلمي)

دحضرت ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت کې دي الله تعالی فرمایي: زما اودانسانانو اوجناتو عجیبه معامله ده، ماپیدا کړل اوبیا دبل چا عبادت کوي، زه دوی ته رزق ورکوم اودوی شکریه دبل ادا کوي. (جامع صغیر)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت علي رضي الله عنه روايت دی چې: الله تعالی فرمايي: "لا إله إلّا الله" کلمه توحيد زما کلام دی اوزه هغه يم، کوم چاچې دا کلمه وويله زما په قلعه کې داخل شوه هغه زما دېرکر او ګوفت نه محفوظ پاتې شو. (ابن النجار)

ښکاره: مطلب دادی چې توحيد باندې پوخ ايمان او عمل سره تصديق کول انسان له پاره ددنيا او اخرت کې دکاميابي ذريعه ده. که توحيد کې خلل راغی لکه شرک اوداسې نورو کې مبتلاشو: نو ناکامي اونامرادي کې پريوت، نن زمونږ پوره معاشره دشرک، بدعت اونفاق بيکار شوه. که کاميابي مطلوبه وي: نو عقيده توحيد به اختيارول پکار وي

له الله تعالی ويره (ډار):

له الله نه ويره داسې شی دی چې انسان په نيکي باندې راولي اوله ګناهونو نه يې منع کوي، ددنيا حکومتونه که څومره قوانين اومنصوبې جوړې کړي چې انسان دې جرم نه کوي. بيا هم جرائم نه شي بندولی، خکه چې هغوی هر وخت دهر يو سره نه شي پاتې کيدای اوهر وخت دهر انسان نګراني نه شي کولی، خکه د الله تعالی ذات هر وخت هر انسان سره وي. هغه ته دانسان هر حرکت اوعمل معلوم دی، له دې وجې کله چې له الله تعالی نه ويره وي: نو انسان به ګناه اوجرم ارتکاب نه کوي، خکه چې هغه په دې پوه دی چې الله تعالی ما وينې اوددې سزا به دنيا يا اخرت کې ما ته راکول کيږي اوزه الله تعالی دګرفت نه هيڅ کله نه شم بچ کيدای، نن مزمونږ ګناه، قتل، غلا، رشوت اوداسې نور.... ګناهونه له دې وجې کوو، چې زمونږ دنته الله ويره نه شته، که الله تعالی ويره پيدا شي: نو جرمونه به خود بخود ختم شي، لهذا زمونږ ټولو دافريضه ده چې الله په مخلوق کې ويره پيدا کړو اوپوه يې کړو چې ګناه يو زهر دی چې دهغه سزا به انسان ته فطرتا دنيا اوبه آخرت کې ګنهګار ته هم سکون نه ملاويږي اوهغه خپلو کړو سزا زغمي. دخوف خدا له وجې دنيا کې هم کاميابي، راحت اوسکون ملاويږي اوبه آخرت کې هم. داخرت مثال په دې حديث کې بيان شوی دی:

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي چې: ما درسول الله ﷺ نه اوريدلي دي، رسول الله ﷺ فرمايل چې: يو کس په خپل ځان لوی ظلم وکړ، يعنې لويه ګناه يې وکړه، کله چې يې د مرګ وخت راغی: نوهغه خپلو بچيو ته ووېل: کله چې زه مړ شم؛ نو زما وجود وسوځوئ اوايره ايره مې کړئ نيمه ايره دريا ب کې واچوئ اونيمه په هوا کې والوځوئ، دالله په ذات مې دې قسم دی، که زه ورته ګير شوم: نو داسې سزا به راکړي چې په مخلوق کې داسې دردناکه سزا به چا ته هم نه وي ورکړل شوي. داکس له مرګ وروسته دده خپلوانو اومتعلقينو دوصيت مطابق عمل وکړ. الله هغوټولو شيانو ته کوم چې دده دوجود سره يې تعلق ساته، حکم وکړ، چې دبدن ټول ذرات راجمع شی اوحاضری شي، دغه بنده دالله تعالی په حضور کې حاضر شو،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

الله تعالی تري پوښتنه وکړه کوم بو شی چې ته یې په دې کار اماده کړی وې؟ بنده وویل یې الهي! ته ښه پوهیږې چې سنا خوف او ویرې زه په دې کار مجبوره کړم. بس الله تعالی دده بنده بخښنه وکړه (بخاری، مسلم)

تشریح: مطلب داچې دګناهونو له وجې یې دویرې غلبه وشوه، په زړه کې یې خیال راغی چې دخپل وجود اجزاء خواره واره کړه چې راټولو کې تکلیف وي، کله چې اجزاء دجسم راجمع شي؛ نو دوباره راژوندي کول به نه وي، داسې یې دالله تعالی له عذابه بچ شم. الله تعالی هم اور. اوبوته حکم وکړ چې دده دوجود اندامونه راجمع کړي دوباره یې راژوندی کړي اواوپوښتنه یې تري وکړه، اګر چې دده حرکت د هر نامناسبه اوناروا وه. خکه چې دده پوه اوعلم دومره وو، خودالله دویرې داعمل شوی و. له دې وجې الله تعالی مغفرت وکړ

دزندګي اصول:

دحضرت ابوذر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې الله تعالی فرمایي: اې زما بندګانو! ماظلم په خپل ځان باندې حرام کړی دی اوماظلم په تاسو هم حرام کړی دی. تاسو هم په خپل مینځ کې یوبل باندې ظلم مه کوئ. اې زما بندګانو! تاسو ټول ګمراهي لاړې نه ښوبدلې یئ، مګر هغه کس کوم ته چې ما دهدایت لار ښودلې ده، نه زما نه هدایت طلب کړه، زه به تاته لاره وښایم اوستا رهنمایي به وکړم. اې زما بندګانو! تاسو ټول وږي یئ، مګر هغه انسان کوم ته چې رزق ورکړم، ته زما نه روزي طلب کوه، زه به تاته رزق درکوم. اې زما بندګانو! تاسو ټول بربنډ یئ، مګر هغه انسان کوم ته چې زه جامې ورکړم. تاسو ټول زما نه لباس وغواړئ، زه به تاسو ته لباس درکړم. اې زما بندګانو! تاسو شپه وږغ خطاګاني کوئ اوزه ټولې خطاګاني اوګناهونه بښم؛ نو تاسو زما نه بخښنه غواړئ دې له پاره چې زه مو معاف کړم. اې زما بندګانو! تاسو ته دا طاقت حاصل نه دی چې ما ته نفع ورسوئ. اې زما بندګانو! که چیرته ستاسو نه مخکې او وروسته انسانان اوجنات داټول دیو متقي اوپرهیزګاره انسان دزړه په ځیر شي؛ نو زما په حکومت او زما په بادشاهي کې به ذره برابر زیاتی ونه شي. اې زما بندګانو! که چیرته ستاسو نه مخکې او وروسته ټول انسانان اوجنات ټول دیو بدکردار انسان دزړه په ځیر شي؛ نوبیا هم زما په حکومت او بادشاهي کې ذره برابر کمی ونه شي. اې زما بندګانو! که چیرته ستاسو مخکې او وروسته ټول انسانان اوجنات په یو خای باندې راجمع شي اوټول زما نه حاجتونه اومرادونه طلب کوئ؛ نو زما په خزانو کې کومې چې ما سره دي په کې دومره کمي هم نه شي راتلی. لکه سنته چې په سمندر کې ډوبه کړې اوسمندر نه یې راوباسي اوذره برابر کمی هم په سمندر کې نه وي شوی. اې زما بندګانو! ستاسو دټولو اعمال ذه راجمع کوم اوبیا یې محفوظ ساتم اوددې بدله به درکړم، تاسو کې چې څوک دبدلې

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وخت کې خيرمومي؛ نو هغه دې زما تعريف وکړي اوزما خوبي دې بيان کړي اوخوک چې وبدلي وخت کې دخير خلاف بيامونده کړي؛ نو دغه کس دې دخپل نفس اوخان نه پرته بل څوک نه ګرموي (ملامته کوي). (مسلم بحواله خدا کی باتیں)

په دويم روايت کې دي چې "که چيرته ستاسو مخکې او وروسته مړي، ژوندي، طاقتور او کمزوري ټول زما ديو متقي بنده دزړه په ځير شي؛ نو دازما په حکومت اوسلطنت کې ديو ماشي د وزربرابر زياتي هم نه شي کولی اوکه ستاسوټول مړي، ژوندي، کمزوري اوطاقتور ټول ديوبدبخته انسان دزړه په ځير شي؛ نو دا زما په سلطنت اوحکومت کې ديو ماشي دوزر برابر کمی هم نه شي کولی اوکه ستاسو مخکې او وروسته مړي، ژوندي، کمزوري او طاقتورټول يو ځای ته راجمع شي؛ نو اوهر انسان خپلې خپلې آرزوګانې ورانديز کړي اوزه دهر يو سائل خواهش پوره کړم؛ نو زما په سلطنت اوخزانو کې به دومره کمښت رانه شي، ځکه چې يو کس په سمندر کې ستنه ډوبه کړي او هغې باندې ځومره لوندوانی ولګيږي. دا ځکه چې زه دجود اوسخا مالک يم، سخاوت کوونک يم، په خپله خدايې کې يوازې يم اوزما ورکول يوازې زمايو حکم کول وي، کله چې زه ديوشي دموجوديدو اراده کوم؛ نو زه يوازې دومره وايم چې اوشه؛ نو وشي".

تشریح: ددې دواړو روايتونو مقصد دادی چې هرقسمه سلطنت اوحکومت دالله تعالی له پاره دی، دايې چې وفرمايل چې ستاسو انسان اوجنات ددې مطلب دادی چې ټول مخلوق خپل خپل حاجتونه ورانديز کړي؛ نو الله تعالی به دټولو حاجتونه پوره کړي، ديو متقي اوګنهګار انسان په زړه دجمع کيدو دا مقصد دی چې ټول متقيان شی ياټول فاسق اوګنهګار شی، نه به متقي الله ته هيڅ فايده ورسوي اونه فاسق دده حکومت ته هيڅ نقصان ورسوي. په حديث کې دعقائدو اواعمالو اړوند (متعلق) بهترين اصول اوهدايات ورکړل شوي دي. په دې باندې عمل کولو سره ددنيا او اخرت سرفرازي اوترقي ملاويدای شي.

تم شوق سے کالج میں پھلو پارک میں پھولو	جائز ھے غباروں میں اُڑو چرخ پہ جھولو
پاک سخن بندہ عاجز کا رھے یاد	اللہ کو اور اپنی حقیقت کو نہ بھولو

ددنيا اسباب:

ددنيا فتنه. ازمائش اوامتحان دی ځومره چې کمه وي هغومره به سهولت او اسانتيا وي ځومره چې زياته وي هغومره به مصيبت او افتونه زيات وي، يو ځل په بصره کې اور ولګيد مالک بن دينار رحمۃ اللہ علیہ واوريدل؛ نو لاس کې بې چپل او جورابې راخيستې وي اوعبادت خانې چت ته وخت او داور لوري ته يې کتل چې ځوک په اور کې سوځي او ځوک وردانکي خلک بچ کړي اوځوک په دخپل مال بچ کولو کې اخته دي. دايې چې وليدل؛ نوويې وفرمايل: "الٰہی

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

الْمُفْلِحُونَ وَهَلَكَ الْمُبْطِلُونَ'' یعنې دچا چې مال اواسباب کم و، هغوی ته نجات ملاو شو اودچا چې مال زیات و هغه هلاک شول

سود خورته سزا:

حضرت مالک بن دینار رحمه الله یوه ورځ دیو سودخور عیادت ته لاړ، دوی رحمه الله فرمایې کله چې ما ورته غور وکړ، پوه شوم چې دمرګ وخت یې قریب دی؛ نوما دې کس ته هزاربار دکلمې شهادت تلقین وکړ، خو دې کس به هر ځل ''لس یوولس'' ویل، بیا دې کس وویل: اې مالک بن دینا! زما دسترګو مخکې د اور یو غر دی، کله چې زه کلمه شهادت وایم؛ نو دا اور راځي اوغواړي چې ما وسیزي، حضرت شیخ رحمه الله فرمایي چې: ما دده له ورځاوو پوښتنه وکړه، چې دې کس به څه عمل کاو؟ خلکو ویل: ده به سود کاو اوپه ناپ تول کې به یې کمی کاو.

تشریح: څنګه چې په دې واقعه کې دسودخوردذلت اود رسوایې دسزا بیان وشو، همدغه راز د هرې ګناه څه نا څه سزا ضرور وي چې په دنیا یا اخرت کې به ضرور ملاویږي.

دحضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله نصیحتونه:

حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله یو ځل زړې جامې اغوستې وې حمام ته تلو خلکو منع کړ؛ نو په دغه وخت کې دجذبې په حال یې وویل چې: کله مفلس اوبې ماله انسان دبادشاه له کوره منع کیږي؛ نو دالله تعالی کور، یعنې جنت ته به پرته ددین وایمان اوپرته داعمال صالحه څنګه دتګ اجازه ورکړل شي.

یو ځل خلک راغلل او دغوښې دګرانوالي شکایت یې وکړ چې جناب! نن سبا غوښه ډېره ګرانه شوې ده، ددې په جواب کې ده رحمه الله وفرمایل: اخیستل یې پریږدئ خود بخود به ډېره ارزانه شي

یوځل ترې چا پوښتنه وکړه چې ستاسو وخت څنګه تیریږي؟ ده رحمه الله وفرمایل: ځلور سواري ما سره دي چې په هغه باندې هر وخت زه سور روان یم:

(۱): کله چې دالله تعالی له لوري یو نعمت ماته ملاویږي؛ نو دشکر په سواري باندې سوریږم اودالله په حضور کې ځم.

(۲): کله چې زما نه یو نیک عمل صادر شي؛ نو داخلاص په سواري باندې سور شم اودهغه په در کې حاضر شم.

(۳): کله چې په ما باندې یو مصیبت راشي؛ نودصبر په سواري باندې سور شم اودهغه په درګاه کې حاضر شم.

(۴): کله چې ما نه یوه ګناه وشي؛ نو دتوبې او استغفار په سواري باندې سور شم دهغه حضور کې حاضري وکړم.

کفایت کتب خانه نیلی کړام چیرن
https://t.me/kafayat2395

الله کا انعام هے اکرام هے هر دم یا صبر هے یا شکر هے یهی کام هے هر دم

دعا ولې نه قبلیږي:

حضرت ابراهیم بن ادهم رحمه الله یو ځل دبصري په بازار کې روان و، خلک له هرلورې تري راتاو ټول او ویې ویل: اې ابراهیم بن ادهم! موږ ته دیوې اهمې اومشکلې مسئلې خواب راکړی چې دهغه له وجې موږ بې انتها حیران اوپریشان یو، هغه دا چې قرآن مجید، فرقان حمید کې رب کریم جل جلاله فرمایي "اُدْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ" (سورة غافر-المؤمن: ۶۰)

دهغه له ما نه سوال کو، ئې زه به ستاسو دعاګانې قبلوم

موږ دکلونو راهیسې دعاګانې کوو، خو نه قبلیږي؟

ابراهیم بن ادهم رحمه الله وفرمایل چې: یو دوه نه، بلکې دلس خبرو له وجې ستاسو زړونه مړه شوي دي، بیا به خنګه ستاسو دعاګانې قبولې شي، هغه لس خبرې په لاندې ډول دي

۱ خپل معبود حقیقي تاسو وپیژاند، خودهغه دعبادت حق تاسو ادا نه کړ.

۲ کلام الهي دي وویلي، خوپه هغه دي ډره برابر عمل ونه کړ.

۳ درسول الله ﷺ دمحبت تاسو دعویدار یئ، مګر دهغه په سنتو مو هیڅ عمل ونه کړ.

۴ شیطان ته مو همیشه دښمن وویلي، خوهم دهغه په خبره مو عمل وکړ.

۵ خپل خان ته مو اهل جنت وویلي، خو دهغوی په څیر عمل مو ونه کړ.

۶ موت مو برحق وګانه، خودهغه له پاره مو تیاری بالکل ونه کړ.

۷ دوزخ نه مو خپل خان بري وګانه، خوله هغه نه دبچ کیدو کار مو ونه کړ.

۸ دنورو عیبونه مو همیشه لتول، خوخپل عیب باندې مو کله هم نظر وانه چاو.

۹ دخپل پروردګارنعمتونه موشپه ورځ استعمال کړل،مګردهغه شکریه مو کله هم ادا نه کړه.

۱۰ خپل مړي مو همیشه دفن کړل، خوکله موهم تري عبرت وانخیست. (بستان الاولیاء)

دډیرزرینو اصولو په بنیاد باندې مسلمان قومونه عروج ته رسیږي، ددې په پریښودو باندې زوال راغی. الله تعالی دي موږ ته دپوهې او عمل کولو توفیق راکړي

دنیا زندګي دډیرې زیاته مختصره ده که په اسلام باندې قائم پاتې شوي او لږ تکلیف دي برداشت کړ؛ نو له مرګ وروسته به دومره عیش اوخوشالي وویني چې ددې ځای دردونه تکلیفونه به هیر کړي اوکه خدانخواسته دوقتي سهولت او لالچ په بنیاد دي اسلام نه مخ وارواړ؛ نو له مرګ وروسته به ددایمي مصیبتونو اوتکلیفونو ته مخه وکړي چې ددنیا عیش وارام به هیر کړي اوبیا کله هم ددې مصیبت نه خلاصیدل نه شته، چا ته چې لږ هم عقل وي هغه به ددې دنیا دباد شاهي په بدله کې هم اسلام پرې نه ږدي (حیوة المسلمین)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وائے نادانی کہ مرگ وقت پہ ثابت ہوا خواب تھا جو کچھ کہ دیکھا جو سنا افسانہ تھا
چشم رحمت سے ادھر کو بھی نظر کیجئے گا اسی امید پہ آیا یہ گنہگار بھی مے
یا اله العلمین مور تولو تہ خپله اتباع نصیب کړي او دګناهونو نه دبج کیدو توفیق رانصیب کړي امین یا رب العلمین!

دانصاف برکت:

امام الحرمین په خپل کتاب (التعامل) کې لیکي چې: یو ځل په مدینه منوره کې زلزله راغله اوځمکه په جټکو شوه. سیدنا امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په جلال کې راغې اویوه دره یې ځمکه ووهله اوپه لوړ اواز یې غوسې سره وویل: "قري لم اعدل علیک" اې ځمکې! ودریږه ایا ما په تا باندې عدل نه و قائم کړی، دده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ جلالت شان اوریدو وروسته ځمکه سمدلاسه ودریده اوزلزله ختمه شوه. (قصص الاولیاء)

فائده: له دې واقعې نه معلومه شوه چې په ځمکه باندې زلزله، طوفان، ناروغي، ګراني، ډاکې، قتل اوداسې نور..... دګناهونو په سبب راځي.

لب پہ ذکر اللہ کا تکرار ہو دل میں ہر دم حق کا استحضار ہو
اس پہ تو کرلے اگر حاصل دوام پھر تو کچے دن میں یہ بیڑا پار ہو (عارفی)

حضرت ایساروي ﷺ فرمایي چې: الله تعالی دریښتینیي خلکوپه خوله باندې دعلم اوحکمت اجراء کوي، خلکو تري پوښتنه وکړه، تاسو ته رزق له کومه ځایه ملاویږي، ویې فرمایل چې دهغه له لوري چې پرته داستحقاق نه دخپلې خوښې تنګي اوفراخي کوي، ویې فرمایل: دلالچ تیري دمشاهده نور له پاره حجاب اوپرده اره جوړه شی. (تذکرة الاولیاء)

وآخر دعوانا ان الحمد للہ ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دربیع الاول دمیاشتې اوله خطبه

محسن انسانیت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دربیع الاول میاشت په راتلو هر ځای کې دسیرت محفلونه، مجالس، نعت خواني او کانفرنسونه شروع شي. دمیلادالنبي ﷺ مجلسونه جوړیږي، هرلوري ته د محسن انسانیت ﷺ ذکر خیر وي. مګر افسوس! چې له دې وروسته خاموشي شي اوبیا ټول کال تقریبا مسلمانان هیر کړي، په ربیع الاول کې ډېر زیات رسمونه غیرشرعیه کیږي. کاش! چې موږ دمحسن انسانیت په سیرت مقدسه باندې عمل وکړو رسومات پریږدو اوپوره کال ځلیږیشت ژوندي کیږي زندګي دنبي کریم ﷺ په ښوونو باندې عمل وکړو؛ نودا به زموږ له پاره ددواړو جهانو کامیابي ذریعه جوړه شي. رسول الله ﷺ دټول کائنات له پاره محسن جوړ شو او راغی. ځکه چې الله تعالی ارشاد دی:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ (سورة الانبیاء: ۱۰۷)،

ترجمه: او نه مې لیږلی موږ ته (اې محمده)، مګر رحمت له پاره د (ټولو) خلکو

تشریح: دنبي کریم ﷺ بعثت دنیا ته په داسې وخت کې وشو چې په انسانیت باندې دنزع حالت و. دنیا دخپل ټول سازاوسامان سره دهلاکت په ژوره کنده کې پریوتو والا وه. الله تعالی په همدې وخت کې رسول اله ﷺ وحي رسالت سره مبعوث کړ، لکه چې دزنکدن سلګی وهونکې معاشره کې دوباره روح پوک وهي اوخلک دتیارو نه وباسي او د رڼاګانو لوري ته یې راولي، حضور ﷺ انسانیت ته یوازې دیو الله دبندګي دعوت ورکړ اوددنیا دټولو بندګانو اوغلامونه یې ورته نجات ورکړ. دژوند حقیقي نعمتونه کومو نه چې انسان خپل ځان محرومه کړی و، دوباره ورکړل شو اوهغه زنځیرونه یې تري لیرې کړل کوم چې دوی په خپلو ستونو کې اچول شوي وو. دده ﷺ بعثت انسانیت ته:نوي زندګي، نوي رڼا، نوی طاقت، نوی حرارت، نوی ایمان، نوی یقین، نوی نسل، نوی تمدن او نوې معاشره ورکړه، دحضور ﷺ د راتلو سره دنیا ته نوی تاریخ او انسانیت دکارعمرشروع شو چې په خودفراموشي او خودکشي کې چې کومه زمانه تیره شوه هغه داعتبار قابله نه وه بینا اونابینا اوژوند اومرګ په یوه تله کې نه شي کښودی (انسانی زندګی پر مسلمانوں کے عروج وزوال کا اثر)

درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مخکې دعربو حالت:

جهالت په عربو کې دبت پرستي رواج عام کړی و اوبت پرستي دانسان په زړه اودماغ باندې قبضه کړې وه اودوی یې په توهم پرستۍ کې مبتلا کړی وو. دفطرت هر یو شی کاني، ونه،

Maulana Tayyab Tabligi Collection
https://t.me/kafayat2395

سپوږمی، ستوري، غرونه، دریابونه اوداسې نور هغوی خپل معبودان ګڼلي وو اوهمدغې راز هغوی دالله جل شانه دعظمت اوجلال هیرولو سره سره پخپله یې خپل قدراوقیمت هیر کړی و، له دې وجې انساني حقوقو له پاره نه ځه ضابطه وه اونه داسې حقوق سهي لاري باندې راوستو له پاره ځه قانون و، دانسان قتل، لاري وهل، قیداوبند، ناجائزه قبضې، بې جا مداخلت، بنځه دهوکه کول اوتښتول، لونه ژوندی په خاورو کې خښول، ددې ونې میوه وه ،بت پرستي ددوی په نظر کې انسان بې انتها سپک کړی و، دهریان اوملحدان هم په عربو کې اباد وو، هغوی په ژوند اومرګ دوخت اتفاقاتو سره منسوبه کړل اوددنیا هر انقلاب یې د امانې دور سره منسوبه کړ، دالله دهستي اقرار اودجزاء اوسزا تصور، په نیک اوبد افعالو نیک اوبد نتائجو مرتب کول ددوی په نزد باندې قابل تمسخر خیال و، ددې تولو عیبونو نه عرب داسې و چې دتولو باطله مذاهبو اوتخیلاتو دبدو مجموعه وه. (رحمة للعٰلمین)

دعالم اصلاح:

حضور ﷺ داصلاح عالم کار په خوش اخلاقي سره وکړ، له صبر، علم اوتحمل نه یې کار واخیست. بندګان یې الله تعالی ته، قوم یې قوم ته نزدې کړ، دنفرت اوعداوت په ځای یې نصرت او اخوت قائم کړ، دظلم اوجهالت نه یې را ویستل، دصداقت اوعلم په رڼاګانو یې منور کړل. درنګونو اختلاف، دژبو اختلاف، دقومیت تفرقه اوملکي امتیاز هر ځه ختم شو، دحسب اونسب امتیاز ختم شو، دین واحد ټول ملت واحده جوړ کړل په یو تار کې یې وپیرل، هم یوه ولوله په زړونو کې، یو جوش په طبیعتونو کې، هم یو خیال په دماغ کې اوهم یو اواز دتوحید یې په ژبو باندې جاري کړ، دښمنان دوستان جوړ شول هماغه خالد بن ولید چې په جنګ أحد کې یې دبت پرستو کمانډري کوله اودمسلمانانو تباهي یې دخپل ژوند اعلی مقصد ګرځولی و. ځه زمانه وروسته حاضریږي دلات اوعزا مندرونه په خپلو لاسونو باندې غورځوي اوپه اسلامي فتوحاتو کې دګرم جوشه جرنیل درجه بیاموندې، هماغه عمر چې له کوره توره په لاس دحضور ﷺ دسر قلم کولو له پاره راوتی و، دحضور ﷺ دوفات په وخ توره راوباسي او وایي: څوک چې وایي حضور ﷺ وفات شوی دی دهغه سر به قلم کړم، داتولې کرشمې دهغه پاک تعلیم وې، کوم چې په ارام ارام زړونه فتح کول، اکثر انبیاء کرام به معجزې ښکاره کولې امسا، مار، کانې، دریاب، داور ماهیت بدلیدل یا خاصیت ختمیدلو والا نظاره به کتونکو ته په نظر راتله، خونبې کریم ﷺ (فداه ابي وامي) عظیم الشان اوعقل حیرانونکې معجزه وښوده، چې زړونه یې بدل کړل، روح یې پاکیزه کړ، انسان او امسا، انسان اوکانې، انسان او مار کې چې څومره تفاوت دی دومره په دې معجزه اونورو معجزو کې هم دی کاش! مسلمان ددې پاک تعلیم قدر وکړي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کاش! هغوی دنبي پاک ﷺ دیاک مقصد نه خان خبرکړي. کاش! هغوی داسلام حفاظت خپل فرض وګڼي. نبي کریم ﷺ په لږ زمانه کې دخپل صادقانه اوهمدردانه زندګي اثر په ضرورې وګڼي. کاش! هغوی داسلام بقاء دخپل خان بچیو او والدینو اومشرانو دبقاء نه زیات خونخوارو عربو باندې خور کړ او دټولو په زړونو کې خپل خان له پاره عزت اومحبت سره ځای پیدا کړ اوهمدغه راز راست بازوله پاره یې یو ښکلی مثال قائم کړی و. چې څنګه وینګې اوصداقت طاقت دظلم اوجهالت مغلوبه کولی شي. په حضور ﷺ په خیر دجمله انبیاوو په خیر په نظر راځي. دی دمسیح عَلَیْهِ السَّلَام په خیر دروغژن وګڼل شو او وکړول شو. خوصابر اوشاکر ثابت شو. دی دحضرت یحی عَلَیْهِ السَّلَام په خیر په صحراګانو اوکلیو کې دالله تعالی اواز ورساوو. دی دعیسی عَلَیْهِ السَّلَام په خیر دالله تعالی دکور عظمت اوحرمت دوباره زوندی کړ. دی دحضرت ایوب عَلَیْهِ السَّلَام په خیر صبر اوشکر سره دړې کاله دغر لمن کې تیر کړل اوبیا د ده زړه دالله تعالی دثناء نه ډک او ژبه دالله تعالی په تعریفونو لمده وه. حضور ﷺ دحضرت نوح عَلَیْهِ السَّلَام په خیر بدبخته مخلوق ته خفیه بنکاره خلوت جلوت اوپه میلو کې جلسو کې لارو کوځو کې غږونو کې میدانونو کې داسلام تبلیغ وکړ اوخلک یې ددوی بدافعالو نه متنفره کړل. دی دحضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام په خیر دنافرمانه قوم نه علیحدګي اختیار کړه اووطن یې پریښود اوداسلام پاکه ونه لګولو له پاره دیوې پاکې ځمکې په تلاش کې راووت. دی د داود عَلَیْهِ السَّلَام په خیر دهجرت په شپه ددښمنانو دلاس نه وتو کې کامیاب شو. حضور ﷺ دحضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَام په خیر چې هغه دماهي په خیټه کې دړې ورځې تیرې کړې وې. بیا ډیرې کې خپل اواز حق جاري وساته همدغه راز حضور ﷺ په غارثور په خیټه کې دړې ورځې تیرې کړې اوبیا یې مدینه طیبه کې دکلمة الله اواز پورته کړ،

حضور ﷺ دحضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَام په خیر چې هغه بني اسرایل دفرعون دغلامي نه ازاد کړي وو په شمال کې دشاه قسطنطنیه داوچتي بادشاهي اوپه مغرب کې دکسرا ایران دحلقي نه دغلامي اوپه جنوب عرب کې دشاه حبش دغلامي دزنځیر نه ازادي ورکړه، دی دحضرت سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام په خیر په مدینه کې دالله تعالی کور جوړ کړ چې همیشه له پاره دالله تعالی په یاد اودتوحید په رڼا باندې منور و. چې هغه دبخت نصر په خیر سیاه بخت سړی وران نه کړی شو. حضور ﷺ دحضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَام په خیر خپل تکلیف رسونکیو وروڼو له پاره دنجد نه مکي معظمي له پاره په واسطه (شامه بن آثال) غله ورسوله اوبالاخر دفتح په ورځ

"لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ" زیرې یې واورو اود "اَنْتُمُ الطُّلَقَاءُ" په الفاظو یې داحسان اومنت باندې جوړ کړل

په یو وخت کې دحضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَام په څیر صاحب حکمران هم و اودهارون عَلَیْهِ السَّلَام په څیر صاحب امامت هم و. په ذات مبارک کې دحضرت نوح عَلَیْهِ السَّلَام په څیر ګرمي، دابراهیم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عَلَيْهِ السَّلَام په څير فتوحات، د يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام په څير صبر، د سليمان عَلَيْهِ السَّلَام په څير بادشاهي، د عيسى عَلَيْهِ السَّلَام په څير خاكساري، د يحيى عَلَيْهِ السَّلَام په څير زُهد، د داود عَلَيْهِ السَّلَام په څير فتوحات او د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په څير تيز رفتاري ورکړل شوي وه.

اے کہ بر تخت سیادت ز ازل جا داری — آن چے خوباں ہمہ دارد تو تنہا داری

په رسول الله ﷺ کې اګر چې ټول مقدس رنګونه موجود وو، خو د رحمة للعٰلمين هغه نور و چې په خپل ځان کې ټول رنګونه جذب کړل او اودنيا ته يې يو نفيس اوپاکه رنګ ورکړه. (رحمة للعالمين)

وَمَآ اَرْسَلْنَاكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ (سورة الانبياء: ۱۰۷)،

د ارشاد باري تعالىٰ مفهوم دی "او مورږ ته د ټولو جهانونو له پاره رحمت جوړ کړلې او مبعوث مو کړې" نبي کريم ﷺ ترقيامته د ټول انسانيت له پاره رحمت رالېږل شوی دی.

وه ختم رسول مولائے کل جس نے — غبار راہ کو بخشا فروغ وادی سینا

نگاہ عشق و مستی میں وہی اول وہی آخر — وہی قرآں، وہی فرقاں، وہی یٰسین، وہی طٰہٰ

(اقبال)

حضور ﷺ د هادي‌انو هادي اوخاتم النبيين د ټول کائنات سردار، مقصود کونين و، د ده مدحه به څوک څه وکړي. مولانا جامي رحمه الله فرمايي:

هزار بار بشويم دهن بمشک و گلاب — هنوز نام تو گفتن کما بے ادبيست

يعنې هزار بار وارې که زه خوله په مشکو اوګلابو باندې ووينځم؛ نو بيا هم د حضور ﷺ نوم مبارکه کمال بې ادبي ښکاري.

سيد سليمان ندوي رحمه الله څه عجيب کمال کړی دی فرمايي چې: عزم او استقلال، شجاعت، صبر، توکل، رضا بتقدير، دمصيبتونو برداشت، قرباني، ايثار، قناعت، استغنا، جوداوسخا، تواضع خاکساري، مسکنت، نشيب وافراز د ټولو اخلاقي پهلوګانو له پاره چې مختلفو انسانانو ته مختلف حالتونه کې يا هر انسان ته مختلف صورتونو کې راپيښېږي، مونږ ته يې عملي هدايت اودمثال ضرورت دی، مګر هغه به کوم ځای کې پيدا کيدای شي؟ يوازې محمد رسول الله ﷺ سره! حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام سره مورږ ته سرګرم شجاعانه قوتونو خزانه ملاويدي شي، مګر نرم اخلاق نه. حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام سره د نرمو اخلاقو کثرت دی، مګر سرګرم او وينه کې حرکت پيدا کوونکي قوتونو وجود نه، په دنيا کې انسان ته د دې دواړو قوتونو معتدل حالت ضرورت دی اوددې دواړو قوتونو جامع اومعتدل مثال يوازې پيغمبر اسلام ﷺ په زندګي اوسوانحو کې پيداکيږي، غرض يو داسې شخصي زندګي چې هر يو انساني ټولګي اوهر حالت انساني مختلفې مظاهر جاذبه، قسم صحيح جذبات او کامل

https://t.me/kafayat2395

اخلاقو مجموعه یوازې دمحمد ﷺ سیرت مبارکه دی،که دولت مند یئ؛ نو دمکې دمحمدګرو اودبحرین دخزانه دارو تقلید وکړئ، که غریب یئ؛ نو دشعب ابي طالب دقیدیانو اودمدینې دمیلمنو کیفیت واوره، که بادشاه یې؛ نو دسلطان عرب حالات ولوله، که رعایا اودمدینې په محکومانو باندې یو نظر واچوه، که فاتح یې؛ نو دبدر اوحنین په سپه سالار باندې نظر واچوه،که شکست دې خوړلی وي؛ نو معرکه اُحد نه عبرت حاصل کړه، که چیرته استاد یې؛ نو دصفه درسګاه اومعلم قدس ته وګوره، که شاګرد یې؛ نو دروح الامین مخې ته ناست شخصیت باندې نظر واچوه،که واعظ یې؛ نو دمسجد نبوي په منبر باندې ناست شخصیت واوره. که دتنهایې اوبې کسي په عالم کې دحق اواز پورته کول غواړې؛ نو دمکې یې یار و مددګار نبي ﷺ اسوه مبارکه ستا مخې ته ده. که دحق دمدد وروسته اودمخالفینو قوت دې کمزوري کړې وي؛ نو دفاتح مکې نظاره وکړه،که دخپل کاروبار نظم اونسق سهي کول غواړې؛ نو دبني نضیر، خیبر اوفدک دځمکو دملک نظم اونسق وګوره،که یتیم یې؛ نو دامنه اوعبدالله جګر ګوشه هیر نه کړې. که بچی یې؛ نو دحلیمه سعدیه نیازبین بچي ته وګوره، که نوجوان یې؛ نو دمکې دشپونکي سیرت وګوره، که په ځرې کاروبار کې یې؛ نو دبصري دکاروان سالار مثالونه وګوره. که عدالت اوانصاف کتل غواړې؛ نو دکعبې نورافتاب نه مخکې داخلیدونکي ثالث ته وګوره چې حجر اسود دکعبې یو ګوټ ته لګوي اودمدینې کچه مسجد خټو کې کیناستونکي منصف ته وګوره، چې دهغه په نظر کې بادشاه او ګدا دواړه برابر و، که تاسو دښځو خاوندان یئ؛ نو دحضرت خدیجه اوحضرت عائشه رضی الله عنها دمقدس خاوند دپاک ژوند مطالعه وکړئ، که داولاد والا یئ؛ نو دفاطمه رضی الله عنها دپلار اودحضرت حسن اوحسین رضی الله عنهما دنیکه دحال پوښتنه وکړئ، غرض که تاسو هر څوک یئ اوپه کوم یئ حال کې هم یئ؛ نو ستاسو دژوند ګي له پاره نمونه، دسیرت دژوندګي اواصلاح له پاره سامان، ستاسو دظلمت خانې له پاره دهدایت دیوه اودرهنمایې نورډمحمد ﷺ دجامعیت کبرا په خزانه کې هر وخت ملاویږي، الله تعالی دې دسید صاحب ﷺ به قبر باندې بیشمیره رحمتونه رانازل کړي دریاب په کوزه کې بندوي.

نبي کرم ﷺ دلاره نه بنودلي خلک په سهي لاره باندې راوستل ناخوانده کسان یې ددنیا حکمرانان کړل. حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به فرمایل: د اسلام راوړو نه مخکې زما والد صاحب به زه وهلم چې تا ته اوښان څرول هم نه راځي اونن داسلام په برکت سره هغه کس کوم نه چې اوښان څرول هم نه راځي په لاکونو مربع میل باندې بادشاهي کوي، زموږ کامیابي په غټو غټو دعوکې نه، بلکې اسوه حسنه باندې عمل کولو کې ده دعوت "لا إله إلّا الله" باندې رسول الله ﷺ په دنیا کې یو غوغا جوړه کړه اوده شوی مخلوق یې پورته کړ، باطل اوکفر ایوانونو کې یې زلزلې راوستې.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نورخداهے کفر کی حرکت پہ خندہ زن پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائیگا

کوم کوم ځای کې چې دالله تعالی نوم اخیستل کیږي هلته دمحمد ﷺ نوم هم اخیستل کیږي ''وَرَفَعْنَالَكَ ذِكْرَكَ'' شان والا.

درسول الله ﷺ په راتلګ سره ګلونه مسکي شول، دري وپرکېدي، ونو سلامونه وکړل، کانو دشهادت کلمه وویله، دکائنات په خزان باندې بهار راغی، دهغه مقابله نه حسن یوسف وکړه ونه دم عیسی:

حسن یوسف دم عیسٰی ید بیضا داری آنچے خوبان همه دارد توتنها داری

حضرت حسان بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاعر رسول ﷺ څومره په خوبي سره نذرانه عقیدت وراندې کړې:

و أَحسنُ منكَ لم ترَ قطُّ عینی وَ أَجْمَلُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

خلقتَ مبرأً منْ كلّ عیبٍ كأنكَ قدْ خلقتَ كما تشاءُ

له تانه ښکلی کله هم نه دی لیدلی سترګوزما، اوله تانه ښکلی کله هم نه دی زېږولی ښځو پیدا کړل شوی یې ته پاک له هرډول عیبونو، بېشکه ته چې پیدا کړل شوی داسې لکه چې ستا خوښه وي

حضور ﷺ دټول کائنات سره یوازې دالله تعالی له پاره جنګیدل، مولانا جوهرؒ څه ښه انداز کې بیان کړي دي:

توحید تو یه هے خدا بندے سے حشر میں کهه دے یه بنده دوعالم سے خفا میرے لئے هے

کله چې مشرکین مکه دا وړاندیز (پیشکش) وکړ چې:

(۱): که تاسو مال غواړی؛ نو موږ به مال درکړو، تاسو به زموږ نه زیات مالداره یئ.

(۲): که تاسو سرداري غواړی؛ نو موږ به مو خپل سردار کړو.

(۳): که تاسو ښکلی واده کول غواړی؛ نوپه کوم ځای مو چې ګوته کېښوده هم هلته به ستاسو واده وکړو.

قربان شم دنبي مکرم ﷺ نه وبې فرمایل: اې قریشو؛ که تاسو زما په یو لاس کې لمر کېږدی اوپه بل لاس کې سپوږمی؛ نو بیا به هم زه ددین حق دتبلیغ نه وروسته نه شم، اخلاق ددې داسې اعلی و چې دښمن به یې هم اعتراف کاو، یوخل به چې څوک ده سره ملاو شو، بیا به هم ددې شو، حضور ﷺ دژوند په هره پهلو باندې کامل شخصیت و.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پیدایښ اوماشوم والی:

په (۹) ربیع الاول مطابق اپریل (۵۷۱ء) عام الفیل په مکه مکرمه کې پیدا شو. دنیا ته یې تشریف راوړو. نیکه یې (محمد) او مور یې (احمد) نوم پرې کیښود. سبحان الله څومره ښه نوم دی دوالد نوم یې (عبدالله) اودمور نوم یې (امنه) وه. داسې شوه چې دامن په خپته کې یې پرورش وکړ اوحلیمه سعدیه ورته دحلم شیدې (پی) ورکړې. د والد وفات یې درسول الله ﷺ له رانګې نه مخکې و. تاجدار کونین ﷺ دنیا ته یتیم راغی اودډنیا یتیمانو ته یې تسلي ورکړه چې فکر مه کوی دکائنات تاجدار مقصود کونین هم یتیم و. دشپږو کالو په عمر کې و چې والده یې هم وفات شوه، دنهه کلونو په عمر یې دنیکه سایه (سوری) له سره پورته شوه. یواځې دالله تعالی سوری یې په سر پاتې شو. حضور ﷺ ناخوانده و. په مکه معظمه کې څه سکول اوکالج نه و. داسې و چې الله تعالی یې پخپله استاد و اومحمد ﷺ یې شاګرد و. دنیا مکتب کې نه لوستونکي انسان دخپل علم اوحکمت په سره ددنیا کتب خاني وویناللې.

یتیمے که نه کرده قرآن درست کتب خانه چند ملت بشست

له نبوت نه مخکې:

له نبوت نه مخکې دمظلومانو د دادرسي له پاره یې معاهده خلف الفضول وکړه. عفت اوپاکدامني یې وګوری (۲۵) کاله په عمریې (۴۰) کلنه بښځه (خدیجه طاهرې) سره واده وکړه، دګونډو له پاره سهاره جوړشو.

دحجر اسود تصفیه:

کله چې د(۳۵) کلونو شو؛ نو خانه کعبه سیلاب یوړه اوپه دویم ځل تعمیریې وشو، کله چې دحجر اسود دنصب کولو وخت راغی؛ نو جنګ شروع شو، هرې قبیلې والا دا خواهش کاوو چې حجر اسود دې هغوی نصب کړي، حضور ﷺ په عدل سره یو څادر خور کړ حجراسود یې په کې کیښود اوپه ټولو قبیلو یې یو ځای پورته کړ اوداسې دامن قائمونکي په دنیا کې امن قائم کړ اوخلکو ته یې وښوده.

نبوت: دنبوت ورکول کیدو نه مخکې څو څو ورځې به غار حرا ته تلو اودغور، فکر والا عبادت به یې کاوو. څلویښت کلونو په عمر کې دنبوت تاج ور په سر شو، په سریو کې له ټولو نه اول (صدیق اکبر رضی اللہ عنہ) پرې ایمان راوړو، په ښځوکې له ټولو نه اول یې زوجې محترمې (خدیجة الکبرا رضی اللہ عنہا) پرې ایمان راوړو، په ماشومانو کې له ټولو نه اول (حضرت علي کرم الله وجهه) پرې ایمان راوړو اوپه غلامانو کې له ټولو نه اول (حضرت زید بن حارثه رضی اللہ عنہ) ایمان قبول کړ

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تبلیغ: دحضور ﷺ دري کاله خفیه (پټ) تبلیغ په نتیجه (۴۰) کسان مسلمانان شول،
په ځلورم کال دفاران په غر ودریدو اودحق دتبلیغ اعلان یې وکړ، نتیجه یې دا شوه چې ټول قوم یې دښمنان شول،
په ځلورم کال یې دمشورې له پاره دارارقم مرکز جوړ کړ،
په پنځم کال یې مشورې سره یولس صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُمْ اَجْمَعِیْن چې په هغوکې دحضور ﷺ لور مبارکه حضرت رقیه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا چې دعثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ښځه وه، ته دحبشي هجرت کولو حکم ورکړل شو، شاه نجاشي ددوی ډېر احترام وکړ،
په شپږم کال حضرت حمزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مسلمان شو،
په ووم کال کفارو دوی سره دخپل اهل اوعیال په شعب ابي طالب کې محصوره کړل، دري کاله سرکاردوجهان په دې خای کې دومره دردونه اوتکلیفونه برداشت کړل چې له هغو سره دغرونو زړونه ودردیدل، خوپه دې کفارویې هیڅ اثر ونه شو،
په لسم کال باندې وینو دا معاهده وخوړه دمحاصرې نه وتونه څو ورځې مخکې ابوطالب صاحب اوحضرت خدیجة الکبرا وفات شول، دې کال عام الحزن یعني دغم کال وایي، له دې وروسته حضور ﷺ دطائف سفر وکړ، خوخلکو پرې کانې وورول اودې یې په وینو سور کړ.

مانگے یہ دعا الٰہی ان کو چشم بصیرت دے یہی ہے عقل کے اندھے انہیں نور ہدایت دے

سلام اس پر کہ جس نے گالیاں سن کر دعائیں دیں

په یولسم کال له مدیني منورې نه حج ته راتلونکي دقبیلې خزرج شپږو سرپیو ایمان راوړو، په دولسم کال له مدیني منورې نه دولس کسانو اسلام راوړو اوپه وادي عقبه کې بیعت وشو، په دیارلسم کال تقریبا اویا سرپیو اونښځو په اسلام بیعت وکړ، داحالات چې کفارو وکتل؛ نو په دارالندوه کې یې دحضور ﷺ دقتل منصوبه جوړه کړه، مګر څوک چې الله محفوظ ساتي، هغه ته څوک نقصان رسولی شي، اخرنبي کریم ﷺ ددوشنبې په ورځ (۸) ربیع الاول یثرب ته هجرت وکړ، دهجرت یوکال وروسته کفربیا په حرکت راغې، په زر تعداد کې وسلو مسلح نوجوانان داسلام اومسلمان دختمولو له پاره راغلل، داسلام اوکفر لومړنی معرکه میدان چې هغه دبدر په مقام وه، ټوله دنیا یې دجنګ بدر په نوم یادوي په دې کې کفر مغلوبه اوذلیل شو.

نور خدا ہے کفر کی حرکت پہ خندہ زن پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا

همدغه راز جنګ اُحد اوجنګ خندق وشو، خو بیا هم کفر حق ختم نه کړ، په اتمه هجري یعني اته کاله وروسته حضور ﷺ دلس زره جانثارو ملګرو سره دبیت الله شریف نه کفرختمولو له پاره راغې، مکه فتح شوه اومشرک مغلوبه شو، بتان یې مات کړل، دکفر تیټ سر و، داسلام

کفایت کتب خانہ ٹبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خخه اولاره وه. خو حضور ﷺ په دې موقعه هیڅ جشن ونه کړ، نه یې دښمن واوهه اونه یې څه نور نقصان واړوو، بلکې "اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا" یې وفرمایل اوټوله دنیا یې حیرت کې واچوله، له دې وروسته یهودیان یوځای شو اودمسلمانانودخاتمې کوشش یې وکړ. غزوه حنین وشو. خوانجام یې هماغه و

دامن اوسلامتي مذهب:

اسلام مخالفین وایې چې: اسلام دتوري په زور راغلی دی، دا اعتراض بالکل غلط دی، ځکه چې جنګ خو دهریو مذهب والا خلکو دپدې ختمولو له پاره کړی دی. دهغوی نیت دخیر خوړول و، په لاره کې چې کانې پراته وي؛ نوهغه به لیرې کول وي اوبیا چې څومره جنګونه هم نبي کریم ﷺ کړي دي هغه ټول دفاعي جنګونه دي اقدام هیڅ کفر کړی دی. دنبي اکرم ﷺ ددوړجنګونو کې مسلمانان اوکافران ټول چې وژل شوي دي دهغه تعداد (۱۰۱۸) اوس غور وکړي، یوازې دومره انسانیت ختم شو وحشي متمدنه جوړ شول کافراومشرک موحدین جوړ شول، مړي ژوندي جوړشول، ذلیل معززه جوړ شول، لاروهونکي رهبران جوړ شول. غله پاسبان جوړ شول، جاهلان عالمان جوړشول، ظالم اوسنګدله عادله اورحیم جوړ شول. په دنیا کې انصاف راغی. دمظلومانودادرسي وشوه، ویره ختمه شوه امن راغی. له دې وجې نن هم زموږ دمسلمانانوفرض دي چې په دین اسلام باندې امن قائم اوانصاف قائم کړي.

دحجة الوداع خطبه:

په (۱۰) هجري کې نبي کریم ﷺ اخري حج وکړ اوپه میدان عرفات کې یې تاریخي خطبه وفرمایله، داخطبه دعالم دامن له پاره اخري منشور و، په دې خطبه کې حضور ﷺ دازادي، مساوات اواخوت پیغام ورکړ، توکل، صبر، خپل مینځ کې وروروللي اواتحاد اوالله تعالی درضا درس یې ورکړ، سورة "اذا جآء نصرالله" له دې حج وروسته رانازل شو، دخلکو ډلې ډلې په اسلام کې دداخلیدو زیری ورکړل شو، حضور ﷺ (۲۳۰۲) په دې فاني دنیا کې نیږې کړې. اخر د (۲۳) کاله په عمر کې ددوشنبې په ورځ په (۱۲) ربیع الاول په مدینه منوره کې دا افتاب عالمتاب ډوب شو،

دمسلمانانو ماضي چې څومره شاندار ده، دومره دیو قوم هم نه ده، ضرورت یوازې ددې خبرې دی چې موږ درسم نه زیات دحقیقت مسلمانان جوړشو، دروایاتو په ځای په حقیقت باندې عمل وکړو. رسومات پریږدو سنت باندې عمل وکړو، دعاشقان رسول لوې لوې دعوې کولو کې کامیابي نه شته. بلکه په عمل کولو کې کامیابي ده.

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عمل سے زندگی بنځ هے جنت بلی جهنم بلی یه خاګ اپنی فطرت مین نه نوری هے نه ناری هے که مونږ په خپله سینه کې درزیدونکی زړه لرو، نوبیا راځئ دحضور ﷺ اسوه حسنه زمونږ له پاره په هر ځای کې مشعل راه دی.

❖ هغه سید کونین دی محبوب خدا دی
❖ هغه فخرانبیاء دی هغه نورهدا دی

نپولین وایي: محمد ﷺ اصل کې سرداراعظم و، هغه اهل عربو ته د اتحاد درس ورکړ، دهغوی یې خپل مینځي جګړې اوفسادونه ختم کړل، په لږ موده کې دحضور ﷺ اُمت نیمه دنیا فتح کړه، په پنځلس کاله مختصر زندګي کې خلک دبتانو نه توبه تائب شول اودخاوند بُتان یې له خاورو سره خاوري کړل، دا حیرت انګیزه کارنامه خاص درسول الله ﷺ دښوونو اوپه هغه دعمل کولو په سبب خپل انجام ته ورسیده اوهغه هم دپنځلس کاله په مختصر موده کې، حالانکې حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَام اوحضرت عیسی عَلَیْهِ السَّلَام په پنځلس سوه کاله موده کې هم خپل امت په سهي لاره رانه وست. (نپولین بوناپارت)

برنارډشا وایي: زه په دې نتیجه باندې ورسیدم چې محمد ﷺ یوه عظیمه هستي اوپه سهي معنا کې دانسانیت نجات دهنده دی (جارج برنارډشا)

افسوس! چې کافرانو ته دحضور ﷺ په اتباع کې نجات په نظر راځي، مګر مونږ مسلمانانو ته دغیرو په اتباع کولوکې فخردی، دیهودو نصاراوو په لاره تلو کې مونږ ته خوشالي محسوسیږي "ببین تفاوت ره از کجا است تا بکجا" حضور ﷺ داسې کامل شخصیت دی، دده مثال ترننه ورځ پورې دنیا ته رانغی اونه راتلای شي، یو رهبر هم داسې لائحه عمل رانه وړ، څنګه چې اسلام یو مکمل دستورحیات حضور ﷺ راوړو، دحضور ﷺ په سیرت باندې عمل کولو سره اخرت هم بهتر شي اودنیا هم بهتره شي، ددنیا امن اوسکون خاص اوخاص دحضور ﷺ په اسوه حسنه باندې عمل کولو باندې دی، ددنیا چې څومره نظامونه هم راغلل چې ځن هماغه رنګ تازه دی، څنګه چې ځن نه ځورلس سوه کاله وړاندې و، که ځن نه ځورلس سوه کاله وړاندې دعربو بدوان اوباندیچیان جاهل او وحشیان دعمل په اعتبار سره ددنیا بادشاهان جوړیدای شي؛ نو ایا دځن سبا تعلیم یافته معاشره په اسلام باندې عمل وکړي؛ نو دادنیا دامن وسکون توته نه شي جوړولی. یقیناً جوړولي یې شي، مګر خبره ټوله دعمل ده قبرونو ته لاړل اومسلماني په کتابونو کې پاتې شوه، صحابه کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِیْن به دا

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اعلان کاوو، که اسلام ته کتل غواړئ؛ نو مورږ ته وګورئ، مګر نن مورږ وایو که مسلماني کتل غواړئ؛ نو فلاني کتاب وګورئ.

فلسفه ره ګیا تلقین غزالی نه رهی ره ګئی رسم اذاں روح بلالی نه رهی

نن چې دنیا کې څومره مهذب اومتمدن قومونه دي، هغوی مجبور دي په دې خبره منلو، چې ریښتیا محمد ﷺ عظیم رهبر اورهنما و، نن دا ترقي، دانقافت، داتهذیب، داسائنسي تحقیقات ټول دمحسن انسانیت له وجې دي دچا په صدقه چې دا دنیا وجود ته راغله، چې وفاران دغرونو نه دهدایت لمر جوړ شو او په دنیا باندې راوختو، نن هم هغه لمر روښانه اوچمکدار دی، ددې په رڼا کې لار لټول پکار دي، ګني خپل نقصان اوخپله کم نصیبي ده، دحضور ﷺ یو څوارشادات په لاندې ډول دي:

۱. مسلمان هغه دی دچا د لاس له تکلیف نه چې بل مسلمان محفوظ وي.

۲. هغه بنده مومن نه دی کوم چې خپله په ډکه خیټه وخوري اوددې ګاونډیان په لوږه وي.

۳. دمظلوم دښیرو نه ځان وساتئ؛ ځکه چې دده اودالله تعالی په مینځ کې هیڅ پرده نه شته.

۴. دچا پرورش چې دحرامې غذا نه شوی وي، هغه به جنت ته نه ځي.

۵. مسلمان ته کنځل کول کبیره ګناه ده او قتل کول یې کفر دی.

۶. بنه خبره کول صدقه جاریه ده.

یاالله العلمین! مورږ ټولو ته دخپل محبوب ﷺ اتباع رانصیب کړي امین یا رب العلمین!

زمین نازاں، فلک نازاں، بشر نازاں، ملک نازاں
خدائے پاک نازاں اس کی عظمت ناز کرتی ہے
شجر ہو یا ہجر ہو چاند ہو سورج ہو تارے ہوں
تمہاری ذات پر دنیا کی خلقت ناز کرتی ہے (محسن اعظم گڑھی)

مجلس عالم میں وہ جان بہار آھی گیا
بوٹے بوٹے پتہ پتہ پر نکھار آھی گیا (شیروانی)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ربيع الاول د مياشتې دويمه خطبه

دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دماشوم والي بيان:

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

وَالضُّحٰى ۝ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝ وَلَلْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْاُوْلٰى ۝ وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى ۝ اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى ۝ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۝ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى ۝ فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝ وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝ وَاَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝ (سورة الضحى)

ددې مبارک سورة شان نزول دادی چې: دخپنې وجوهاتو له وجې دوحي نازليدل بند شوي و، دمکې کفاروحضور ﷺ ته طعني ورکول شروع کړي و، دابولهب ښځې اُم جميل د حضور اقدس ﷺ سخت توهين اوجبرايل امين پسې بدرد وويل اودايې وويل: اې محمد ﷺ! اوس به په تا باندې ستا هغه شيطان نه رانازليږي، حضور ﷺ کله چې دا واوريدل؛ نو سخت خفه شو، الله تعالى ته دحضور ﷺ خفګان منظورنه و، سمدلاسه دا سورت نازل شو، دحضور ﷺ خفګان په خوشالي باندې بدل شو، داهل مکې اومشرکينو خيالات يې غلط ثابت کړل، وې فرمايل: قسم دې دورځ راختو او دتياري شپې، دورځ راختو نه مراد دحضور ﷺ دنبوت زمانه ده اودتوري شپې نه مراد دنبوت نه مخکې زمانه ده، دحضور ﷺ نبوت ته يې دراختونکې ورځې سره تشبيه ورکړه.

بصد انداز يکتائی بغايت شان زيبائی — مين بن کر امانت آمنه کی گود مين آئی
ز فرق تا بقدم هر کجا که می نگرم — کرشمه دامن دل می کشدکه جا اين جا است

وَاَحْسَنَ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِي — وَ اَجْمَلَ مِنْكَ لَمْ تَلِدُ النِّسَآءُ
خُلِقْتَ مُبَرَّأً مِنْ كُلِّ عَيْبٍ — كَاَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَآءُ

چاند سے تشبيه دينا يه بھی کوئی انصاف هے
اس کے منه پر چھائياں مدنیؐ کا چهره صاف هے

اَلصُّبْحُ بَدَا مِنْ طَلْعَتِهٖ — وَالَّيْلُ دَجٰى مِنْ وَفْرَتِهٖ
يا صاحبَ الجَمَالُ وَيا سَيدَ البَشَر — مِنْ وَجهكَ المُنِير لَقَد نُوِّرَ القَمَر
لَا يمكِنُ الثَّنَاءُ كَمَا كَانَ حَقُّه — بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

آمد آمد کی خبر سن کر حسينان جهان — شرم سے منه چهپاتے که وه آتے هيں
اتر کر حرا سے سوئے قوم آيا — اوراک نسخه کيميا ساتھ لايا

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضور ﷺ نبوت درنه ورځې په ځیر دی کفارواومشرکینو ته یې دښاپیرک سره تشبیه ورکړه، ځکه چې اهل مکه دنبوت نه مخکې حضور ﷺ ته رینبتینی اوامین ویل اومحبوب به ې ګڼله، دنبوت وروسته مخالف اودښمنان جوړ شول؛ نو ددوی مثال دښاپیرک په ځیر شو، ځکه چې هغه هم دلمر ختو نه مخکې په خوشالي خاشالي الوځي، کله چې هم لمر راوخیژي، نو پټیدل شروع کړي اوپریشانه شي؟

دویم تفسیر د ضحیٰ نه مراد دحضور ﷺ مخ مبارکه دی اود لیل نه مراد دحضور ﷺ زلفې مبارکې دي. ځکه چې دابولهب ښځې دحضور ﷺ توهین وکړ، په مخ یې خاورې واچولې، الله تعالی دغه مخ مبارک ته روښانه وویل، ځنګه چې دلمر نه تیارې لیرې کیږي، حضور ﷺ ډکفر تیارې لیرې کړې، دایمان رڼاګانې یې خورې کړې.

یا د ضحیٰ نه مراد ورځ اودلیل نه مراد شپه ده، لکه ځنګه دشپې ورځې دبدلیدو حالت دی. همدغه راز دا حالت به هم بدل شي، دحضور ﷺ په بیکاره چې ځوک یې عزتي کوي، هغوی به خپله یې عزته اوذلیل شي، دحضور ﷺ په عزت کې به مزید اضافه کیږي، ځکه چې موږ تاسو سره یو، نه مو تاسو پریښي یئ اونه تاسو نه ناراضه یو. دادی ددې آیت تفسیر ((وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ)) اودتاسو وروسته ساعتونه دمخکې نه بهتر دي، داولني ساعت نه مراد دنبوت نه مخکې زمانه ده اودروستني ساعت نه مراد دنبوت وروسته زمانه ده. یعني نبوت ملاویدو نه مخکې کفارومشرکین ده سره محبت کاو، دنبوت ملاویدوورسته مخالف شول، خومونږ به داول نه هم زیاته درجه ورکوو، داول نه به یې هم محبوب جوړ کړو یا داولني ساعت نه مراد دمکې معظمې سکونت دی اوداخري ساعت نه مراد دمدیني منورې سکونت دی، په دې کې هم دالله تعالی لوري تسلي ده چې په مکه معظمه کې ځومره تکلیفونه تاسو ته درکړل شوي دي په مدینه منوره کې به دهغه تدارک وشي، په مدینه منوره کې به مو دښمنان دوستان جوړ شي، پردي خلک به جانثار جوړ شي، مکه به فتح شي اوبت خانه به دالله کور جوړ شي.

دنیا کے بُت کدوں میں پھلا وہ گھر خدا کا ہم ہیں پاسباں اس کے وہ ہے پاسباں ہمارا

یا دوروسته ساعت نه مراد اخرت دی اود مخکې ساعت نه مراد دنیا ده، یعني په دنیا کې چې کوم تکالیف ده ته راغلي دي، تاسو غم مه کوئ په اخرت کې به لوې درجې دوې ملاویږي اوتاسو به خوشاله یئ.

((وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ)) اوالبته دربه کړي تاسو ته ستا رب جل جلاله هغه څه چې تاسو به پرې خوشاله یئ. ددې عطیې نه مراد دامت کثرت دی، یا داامت مغفرت اوشفاعت دی،

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې دهغه متعلق نبي کريم ﷺ فرمايي چې ترڅو پورې خپل يو يو امتي ونه ښېنم، هغه پورې به دخپل رب نه راضي نه يم

اَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيْمًا فَاٰوٰى (۶) وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى (۷) وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى (۸) ...الخ"

اې نبي تاسو يتيم وی، الله تعالی تاسو په ارام سره وساتلی اوتاسو ته يې ورکه شوې لاره سمې وښوده، هغه رهنمايي اوفرمايله، تاسو يې غريب بياپيدا کړی اوبيا يې غني کړی، تاسو يتيم ته بدرد مه واين اونه يو سوال کوونکي ته اوداالله تعالی نعمتونه ظاهر کړی اوبيان يې کړی.

نبي کريم ﷺ يتيم و، الله تعالی دبادشاهانو نه هم زيات په ارام سره وساته اودحضور ﷺ په قدمونو کې يې ددنيا خزانې کينبودې اوصحابه کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن خپل ټول مال دده په اشاره باندې قربان کړ. حضرت خديجې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا خپل ټول مال دحضور ﷺ په خدمت کې وراندې کړ، خنګه چې تاسو يتيم اوبې سهاره وی اوالله تعالی سهاره درکړه، همدغه راز تاسو هم يتيم ته سهاره ورکړئ، سوال کوونکی انسان مه رټئ اوداالله تعالی دنعمتونو اظهار کوئ (شواهد النبوت تاريخ الخميس)

قَالَ عَبْدُالْمُطَّلِبِ اِنَّهٗ قَالَ لَيْلَةَ مِيلَادِ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم كُنْتُ فِي الطَّوَافِ فَلَمَّا قَضَيْتُ نَصَفَ اللَّيْلِ رَاَيْتُ الْكَعْبَةَ سَجَدَتْ لِحَوَ مَقَامِ اِبْرَاهِيمَ وَسَمِعْتُ صَوْتَ التَّكْبِيرِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَلْاٰنَ طَهُرتُ مِن اَنْجَاسِ الْمُشْرِكِينَ اِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا. (سورة توبه پ۱۰ آيت ۲۸)

عبدالمطلب دحضور ﷺ دپيدايښ دشپې خبره کوي چې په دې شپه مې دخانه کعبې طواف کاو. ناڅاپه ماوليدل چې خانه کعبه مقام ابراهيم لوري ته تېښته شوه اوسجده يې وکړه، بيا کعبې نه اواز راغی ((اللّٰه اکبر اللّٰه اکبر)) نن زه دمشرکينو دشرک نه پاکه شوم، دري پنځوس کاله وروسته حضور ﷺ باندې دا آيت رانازل شو، بيشکه مشرکين ناپاک (پليت) دي؛ نو نه دي نزدي کيږي دوی مسجد حرام ته وروسته له دي کاله.

ددې کال وروسته خانه کعبه دمشرکينو نه هميشه له پاره پاکه شوه.

نکته:

دحضور ﷺ دپيدايښ په وخت خانه کعبه کې دتنه بتان اودټول جهان بتان په مخه پرېوتل اوټولو په تېښته سلام وکړ، دا ددې خبرې دليل دی چې حضور ﷺ دعوت توحيد راوړی شرک او کفر ختموي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دکسرا دمحل برجونه پریوتل اوداتش پرستو اور مړ شو:

حفاظ قاضي عياض مواهب لدنيه ابونعيم في الدلائل

"عَنْ هَانِئٍ المخزومي وَآتَتْ لَه مِائَةٌ وَّخَمْسُونَ سَنَةً قَالَ لَمَّا كَانَتِ اللَّيْلَةُ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ارتَجَفَ اَيْوَانُ كِسرىٰ وَسَقَطَت مِنه اَربَعَةَ عَشَرَ شُرفاً وَخَمِدَت نَارُ فَارِسٍ وَلَم تَخمُد قَبلَ ذٰلِكَ بِاَلفِ عَامٍ الخ"

ترجمه هاني مخزومي چې دهغې عمر پوره يونيم سل کاله و، بيانوي چې په کومه شپه حضور ﷺ دنيا ته تشريف راوړو: نو دشاه فارس په محل کې زلزله راغله اوددیوا خاص شه نشين وشليدو اوخورالس برجونه يې پريوتل، دشاه فارس په اتش کده کې اور مړ شو. چې له نن نه زر کاله مخکې هيڅ کله دا مړ شوی نه و اويوه چشمه چې دهغې نوم بحيره ساوه و په خمکه ښکته راغله او وچه شوه. يو مجوسي عالم په دغه شپه خوب وليد چې يو سرکشه اوښ. اسونه خان پسې رانښکې اوبيا دجله اوفرات باندې تير شي اوتول ملک فارس کې خواره شي. شاه فارس داتول حالات دعبدالمسيح په نوم يوکس په لاس باندې سطيح تاهن ته وليږل چې دهغانو له وجې به يې دغيبو خبرونه ويل، کله چې عبدالمسيح سطيح ته توله کيسه بيان شوه، سطيح وويل چې اوس به خورالس بادشاهان په ملک فارس باندې تخت نشين کيږي. له دې وروسته به عرب فارس باندې غالب کيږي، شاه فارس چې دا واوريدل: نو يې فکره شو چې کله خورالس په خورالس بادشاهان تيريږي؛ نو بيا به کوم وخت وي.

اشارات:

شاه فارس په محل کې زلزله راتلل، شاهي طاق ماتيدل، دملک فارس دبيخ کنې لوړې ته اشاره وه. په زلزلې سره خورالس برجونه پريوتل، له دې نه مراد خورالس بادشاهانو وروسته دفارس بادشاهي تباه کيدل. په څلورو کالو کې لس بادشاهان ختم شول، باقي بادشاهان دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دورخلافت پوري وو، بيا دټولو خاتمه وشوه اوترنن ورځ پورې دوی نه به دنيا کې بادشاهي ملاو نه شوه، کوم برجونه چې پريوتل، له هغه نه مراد خورالس بادشاهان دي. ددې مطلب داوو چې دفارس به خورالس بادشاهان وي، خوانتهايې پريوتې حالت کې به وي. يعنې تخت نشين بادشاه به دپريوتې برجونو په څير پراته وي، دزړوکالو په بادشاه به بتکده کې اور نه و مړ شوی همېشه له پاره به دې کې مشک، عنبراوصندل سوځيدل. دحضور ﷺ دپيدايښ په شپه يکدم پوره مړ شو، دبحيره ساوه چې نه اوبه راروانې شوې اودځو سوو ميلو فاصله باندې اتش کدې ته راغلې، ددې مطلب داوو چې دنن نيو دا سې مبارکه هستي پيدا شوي ده چې دجهنم په اور کې به اوبه واچوي او اور به سوله کړي

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اوباطله معبودان به تباه کړي، دشاه فارس اتش کده سړولو نه دا مراد دی چې دستاسو
درزړکالو خدای زموږ درسول ﷺ په قدمونو کې قربان اوشئ دا ستاسو به هم له دې وروسته
عنقریب فنا شی. ګني دریښتیني خدای اوریښتیني دین په پناه کې راشی، دعربوبه اوږ
ورانډي شوې، دشاه فارس بنګړي دحضور ﷺ دارشاد مطابق سراقه بن مالک رضی اللہ عنہ
ورکړل شول (في المواهب) وَسُقِطَتِ الْاَصْنَام به مخ دځمکې چې څومره بُتان وو ټول پرمخ
پریوتل (احسن المواعظ)
په یمن کې دعامر په نوم یو کس په خپله بت خانه کې ناست و، دسید المرسلین ﷺ
دپیدایښت په وخت دحضور ﷺ رښاګاني دمشرق نه مغرب، شمال نه جنوب اوځمکې نه اسمان
پورې خورې شوې، الله دعامر مخې نه دباطل پردې لرې کړې، عامر ته داسمان دروازې
خلاصې اوفرښتې راکوزیدل، غرونه اوځنګلونه په سجده په نظر راغلل، دهر حیران و چې دا
څه کیږي. ناڅاپه دعامر بت پر مخ راپریوت اودا کلام یې ویلې: "وُلِدَ النَّبِيُّ الْمُنْتَظَرُ الَّذِي
يخاطِبُهُ الحَجَرُ وَالشَّجَرُ وَيَنشَقُّ له القَمَر "دنیا ته تشریف راوړو هغه نبي دکوم چې دبیړو
(صدیو) نه انتظار و، چا سره به چې ونې اوکانې خبرې کوي دچاپه اشاره چې به سپوږمی دوه
توټې کیږي، دایې چې واوریدل؛ نو عامر خپلې بتخې ته وویل چې: تا هم واوریدل کوم چې ما
واوریدل. بتخې ورته وویل چې: هو! ماهم واوریدل، خودومره پوښتنه تریو وکړه چې کوم
خای کې پیدا دی اونوم یې څه دی"فَقَالَ يَاأَيُّهَاالْهَاتِفُ مَااسمُ هٰذَا الْمَوْلُودِ فَقَالَ إِسْمُهُ مُحَمَّدٌ
مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" اې هاتف غیبي ددې مبارک فرزند څه نوم دی؟ بت وویل چې: ددې نوم
مبارک محمد مصطفی ﷺ دی (احسن المواعظ)

درضاعت مبارک بیان:

ابونعیم رحمہ اللہ، بي بي حلیمه فرمایي چې: په کوم کال حضوراقدس ﷺ پیدا شو دهره ځای
قحط سالي اوخشکي وه، موږ ګذاره داسي وه چې سهار وختي به څنګل ته لاړو اووابنه به مو
راکتې کړل اوخوړل به مو. ډرې ورځې به مو لوږه تیره کړه، په دې تکلیف حالت کې
ماته داولاد کیدو درد، راغی. خو د لوږې تندي دومره درد و، چې ددې درد دهغه مقابله کې
هیڅ نه و. د درد دلاسه به کله بیهوشي شوه اوکله به هوش راغی دلوږې له لاسه کمزورې
داسي وه چې اسمان ته به مي کتل؛ نو کتلی به مي نه شو، یوه شپه په داسي حال کې ویده وم
چې یو خوبصورته اوخوب سیرته بزرګ راغی اوزه یې پورته کړم اونیر ته یې بوتلم چې دهغې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اوبه دشیدو نه زیاتې سپینې اودشاتو نه زیاتې خوږې وي، ویې فرمایل: اې حلیمې! دا وبه وخښه اومکې معظمې ته لاړه شه، یعنې حرم شریف ته هلته الله تعالی دهر لوی دولت تا له پاره پرېښې دی. حضرت حلیمه فرمایې چې دې اوبه څښلو سره زما ټول درد، تکلیف اوکمزورې ختمه شوه دوباره دژوند امید مې پیدا شو، سهار دمخ نه دخوشالي آثار په نظر راتلل، اهل مکه ورته وویل اې حلیمه نن دخوشالي دا اثار دځه له وجې حلیمه بې بې ته په خوب کې بزرګ دخاموشي تاکید کړی و، له دې وجې حلیمه بې بې هیڅ خبره بیان نه کړه (بحوالهٔ معارج النبوة دلائل النبوة)

فائده: دا نهر کوم چې بې بې حلیمه په خوب کې لیدلی و، بیا دهغې اوبه دشاتو نه زیاتې خوږې اودشیدو نه زیاتې سپینې، چې ویې څښلې: نو دوباره دژوند اثار رابشکاره شول. دا دجنت نهر الحیوة و. چې ددې نهر ادنی صفت دسړیو سپینول دي. کله چې شفیع المذنبین حضرت محمد ﷺ دخپل امت ګنهګاران دجهنم نه راوباسي اوجنت ته یې بیایي؛ نو ددوی مخونه به سوځیدلي وي اوچیچې شوي به وي، دحضور ﷺ په سفارش به الله تعالی جنت الحیوة ته حکم وکړي، نهر به سمدلاسه دجنت نه دوزخ لورې ته راشي. هغه مومنان به دې کې واجول شي چې دوزخ کې ول. په لږ وخت کې به دا تور اوسوځیدلي خلک دځورلسمې سپوږمۍ په څیر سپین شي اونهر نه به راوخي اوحضور ﷺ سره سره به جنت ته ځي

نکته:

بې بې حلیمه ته دنهر الحیوة نه اوبه ولي وڅښل شوي، ددې حکمت داوو چې عنقریب به دا ځیدي اوس نبي اکرم ﷺ څښي اوددې څیدو نه به دحضوراقدس ﷺ وجود مبارکه نشوونما کوي. له دې وجې حضور ﷺ ته شیدې ورکونکي بنده ته الله تعالی دنهر الحیوة اوبه وروڅښلې. دې لپاره چې حضور ﷺ کې دمړیو، یعنې دمړیو زړونو ژوندي کولو اثرپیدا شي.

حیات النبیؐ کرکے بھیجا خدا نے کہ مُردہ دلوں کو جِلائے محمدؐ

د دایاګانو نومکې ته راتګ:

«دلائل النبوة» کې ابونعیم رحمه الله لیکي چې: په دویمه ورځ باندې دایاګاني مکې معظمې ته روانې شوې چې ماشومان راوړي، ځکه په عربو کې دا دستور(رواج) و چې دښارخلکو به خپل شیدووالا ماشومان دایاګانو ته سپارل، ددې له پاره چې دوی په کلي کې ښه پرورش وکړي.ترڅو صحت یې هم بهتر وي اوژبه یې هم فصیحه وي، ځکه چې دکلي ژبه خالص وي، د بې بې حلیمه سواري هم کمزوري وه، له ټولو نه وروسته مکې معظمې ته راورسیده، کله چې ټولو دایاګانو دښو ښو کورنو ماشومان واخیستل اوحضور ﷺ یتیم و، یوې دایې هم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وانخیست. ددنیا یتیمانو! فکر مه کوئ دکائنات سردار یتیم راغلی و، دایاګانې بدقسمته وي چې دداسې یتیم هیري نه محرومه پاتې شوې چې په هغه ددنیا سرمایه دار به قربان شي

این سعادت بزور بازو نیست تا نه بخشد خدائے بخشنده

حسن یوسف دم عیسیٰ ید بیضا داری آنچے خوبان همه دارد تونتها داری

بې بي حلیمه هم کور په کور وګرځیده، خوماشوم پیدا نه شو، اخر دعبدالمطلب کور ته راغله اوویې ویل که ماشوم وي؛ نو رابې کړئ. عبدالمطلب ورته وویل: بې بي ماشوم شته. خویتیم دی که منظوره وي نو بو بې خه، شاید الله تعالی ستا نصیب بهتر کړي، بې بي حلیمې ورته وویل: ضرور په خوشالي به ورته شیدې ورکوم داجواب چې یې واوریدو؛ نو دعبدالمطلب مخ دخاشالي له وجې وپرقید، عبدالمطلب له دې مخکې دبني سعد ټولو دایانو ته ماشوم وړاندې کړ. خوچا قبول نه کړ. ځکه چې دغه بنځې ددنیا اودولت په پلټنه کې وې او بې بي حلیمه ددنیا په ظاهر دولت باندې پښه کینوده اولاوزواله دولت یې منظور کړ، الله تعالی دا دنیا دواړو جهانو ددولت نه مالامال کړل، عبدالمطلب دایه حلیمه د بې بي امنه کور ته راوسته او بې بي امنه دحضور ﷺ خوا ته راوسته:

قَالَتْ حَلِيمَةُ وَاَدْخَلَتْنِي فِي الْبَيْتِ الَّذِي فِيهِ مُحَمَّد صلى الله عليه وسلم فَإِذَا هو مُدَجَّجٌ فِي ثَوْبٍ صُوفٍ اَبيضَ تَحتَه حَريرٌ خَضراءَ اَقِدُّ عَلَيها نَفُوحُ مِنه رَاحَةُ المِسكِ فَاَشفَقتُ اَن اُوقِظَه مِن لَوبِه وَلِحُسنِه وَجَمَالِه فَوَضَعتُ يَدِي عَلٰى صَدرِه فَتَبَسَّمَ ضَاحِكاً وَفَتَحَ عَينَه إِلَيَّ فَخَرَجَ مِنهَا نُورٌ حَتّٰي دَخَلَ عِنَانُ السَّمَاءِ وَاَنَا اَنظُرُ فَقَبَّلتُه وَحَمَلتُه.

ترجمه: بې بي حلیمه وایي: بې بي امنه چې هلته بوتلم چیرته چې حضور ﷺ دسپینو مالوچو والا جامه کې اولاندې ریښمې تکیه پرته وه، دوجود مبارکه نه دمشکو خوشبو روانه وه چې ټول کور یې معطر کړی و، حضور ﷺ یکدم پورته شو اوزه ویریدم، خپل لاس مې دحضور ﷺ په سینه کینودوسم دلاسه حضور ﷺ مسکی شو اوسترګې مبارکې یې خلاصې کړې. دسترګو مبارکو نه یې یو نور ووت، چې دحجرې نه اسمان پورې ورسید، داکرامت یې چې ولید؛ نو بې بي حلیمې درسول الله ﷺ تندی مبارک ښکل کړ اوحضور ﷺ یې په غیږ کې پورته کړ اودښي لورې سینې نه یې شیدې حضور ﷺ ته ورکړې، وویې ویل: له دې مخکې زما سینه پوره خالي وه، کله چې مې دحضور ﷺ په خوله مبارکه کې ورکړه؛ نو داسې شوه اوشیدې دسینې نه بهر راوتل شروع شوې، څومره چې حضور ﷺ شیدې څښلې دبې څښلې، له دې وروسته مې چې لورې سینه ورکړه حضور ﷺ مخ مبارک واړوو اوله دې لورې یې ونه څښلې، څینې علماء کرام فرمایې چې: الله تعالی ورته الهام وکړ چې: دا شیدې ستا

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دورور برخه ده. یعنې د بې بي حلیمې دخپل زوی برخه ده، تاسو دا مه ځښئ. بیا کله هم حضور ﷺ دچپ لوري نه شیدې ونه ځښلې

نکته:

کله چې نبي کریم ﷺ دچپ لوري نه شیدې ونه ځښلې دخپل رضاعي ورور حق پریښود واخلګه کیدای شي، که دحضور ﷺ وروسته خلافت بلافصل حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حق و؛ نو حضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې ولې پخپل ځای لمونځ کاوو. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې به بې امامت کړی و. کله چې بې دبې بي حلیمې شیدې دبې بي حلیمې زوی له پاره بلاتکلف پریښودل. همدغه راز اګر خلافت بلافصل حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حق و؛ نو ضرور هغه ته به بې ورکاو

نکته:

پدې کې اشاره وه چې نبي کریم ﷺ په تعلیم باندې خپله عمل کوي اوبیا نورو ته هدایت کوي. مسلمانانو! زمونږ نبي ﷺ چې کله داسې منصف مزاجه و، چې په ماشوموالي کې بې هدبل حق ونه ځښه؛ نوبیا امت باندې څنګه رواوه چې پردې مال په ناحقه وخوري. دنورو خلکو عزت خراب کړي. دنورو وینه تویوي، بیا به په کومه خوله به دقیامت په ورځ دحضور ﷺ ته مخامخ کیږي، که دقیامت په ورځ حضور ﷺ پوښتنه وکړي چې ایا تا ته زما دشیدو ځښلو وخت والا انصاف نه و رسیدلی، بیا تا ځنګه ظلم وکړ، ناحق وینه دې وبیوله، دغه وخت به څه جواب ورکوئ؟ مسلمانانو! دحضور ﷺ پیدایښ اصل خوشالي داده چې دحضور ﷺ اتباع وکړل شي، خالي جلسې اوجلوسونه کانفرنسونه اوچراغان کولو باندې کار نه کیږي. که چلیده؛ نو صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ لَجَمِيعِين به هم دا کړي وو اومطمئن شوي به وو. بې بي آمنې، حلیمې ته وویل چې: زما ددې یتیم دپر زیات خیال وساته، د بې بي حلیمې شیدې په هیڅ ډول هم نه کمیدې، دحضور ﷺ رضاعي ورور به هم په مړه خیټه ځښلې.

بې بي حلیمې یتیمه ملغلره ځان سره روا نول:

د بې بي حلیمې دشیدووالا اوښه بې انتها کمزوري وه، دهغې بچی د لوږې له لاسه مړ شو، دسواري والا خاروی هم کمزوری و، چې به کیناست؛ نوپورته کیدو نوم به یې نه اخیست، کوم وخت چې بې بي حلیمې کرامت ماب ﷺ خیمې ته راوست، کمزوري اوښه صحتمنده شوه. وچو سینو کې شیدې پیداشوې، بې بي حلیمې په یو دوه لوښو کې شیدې دکې کړې، مګر شیدې په سینو کې اوسه پورې موجودې وې، دکومې اوښې په سینه کې چې شیدې نه وې. دهغې په سینه کې په مشکونو شیدې راغلې، دسواری خر هم دتیزې او چالاکې سره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضور ﷺ په خوشالي کې په نوښونو و. د بي بي حليمه خاوند خوشاله و چې څومره دقسمت والا ماشوم پيداشوی دی، بي بي حليمې چې کله حضور ﷺ په سواری شانه کښاوو؛ نو سواری نه تله. مګر کله چې حضور ﷺ يې مخکې کښاو؛ نو سواری تيزې سره روانه شوه. اشاره دې خبرې ته وه چې داد دنيا امام دی، چې مخکې يې ساتي؛ نو کار به روان وي. همدغه راز مسلمانانو؛ دحضور ﷺ دين به په هره معامله کې مخکې ساتئ؛ نو کاميابي به شئ. ګني هرلوري ته ناکامي ده، سواري دومره تيزې سره روانه وه چې دښې سعد نوره دايانو چې دمالداره کورنو ماشومان راخيستي وو. اوس دټولو نه وروسته پاتې شوې، ځ چې بي بي ددې حالت ولید ټول دايانګاني اوقافلې په تعجب سره پوښتنه کوې او ويې ويل ايه هغه سواري ده په کومې چې ته مکې ته راغلې وې، هغې سواری خو يو قدم مخکې نه شو تلای. بي بي حليمې وويل هو؛ دا هغه سواري ده، مګر اوس يې سپور بنده بدل دی دادسواري کمال نه دی. بلکې دسپوربنده کمال دی. ځنګه چې د بي بي حليمې بي جه اونه صحتمنده شوه. همدغه رازدحضور ﷺ په برکت سره بې جانه زړونه جانداره شي. په بې جا اوکمزورو کې اسلام اوايمان په برکت سره روح پيداشي، مسلمانانو؛ ځنګه چې بي بي حليمې ددنيا مال اودولت ته لغته ورکړه اوکاميابه شوه، همدغه راز تاسو هم دحضور ﷺ په اسو حسنه باندې عمل کولو سره ددنيا کفر اوشرک په ظاهري شان اوشوکت باندې پښه رابنکه بيا وګوره چې دنيا ځنګه ذليله کيږي اوستا په پښو کې راپريوځي، کفراوشرک به مغلوبه وي داسلام به غلبه وي. (سيرت نبويه، دلائل نبوت ابونعيم بحواله احسن المواعظ)

يا الله! موږ ته په اسلام باندې دحضوراکرم ﷺ په اسوه مبارکه باندې دعمل کولو توفيق راکړې. امين ثم امين برحمتک يا ارحم الراحمين!

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمين

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دربيع الاول دمياشتې دريمه خطبه

دمسجدونو اهميت:

ـ کريم ﷺ دصفر په مياشت له مکې مکرمې نه غارثور ته له دې وروسته يې مدينې منورې ـه هجرت وکړ. دادهجرت دويمه مرحله وه، دربيع الاول په مياشت کې حضور ﷺ مدينې منورې ته ورسيد. له راتلګ سره سم حضور ﷺ له ټولو نه اول مسجد قبا جوړ کړ اولومړنۍ جمعه يې په دې مسجد کې ادا کړه، په دې مناسبت سره دمسجد په اسلام کې څه شان اهميت دی، هغه به دلته بيانيږي، له دې وروسته به دجمعة المبارک دلمانځه فضيلت اهميت بيانيږي، اسلام کې دمسجد څه اهميت دی ارشاد رباني دی

وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا (۱۸) (سورة الجن)

ـرجمه دا مسجدونه دالله دياد له پاره دي؛ نودالله پرته بل چاته اواز مه کوی

ـسجد دمسجد جمع ده عموما دلمونځونو له پاره کوم ځای چې وقف شي هغه ته مسجد وايي. کله چې مساجد دالله تعالی دياد له پاره شو؛ نومطلب دايت داشو چې په مساجدو کې ـالله تعالی پرته بل چاته مدد له پاره اواز مه کوئ، دچامخې ته مه تيتيږئ. خنګه چې يهودو ـصارا کوي. يعني خپله عقيده اواعمال سهي ساتئ.

دويم مقصد يې دادی چې مساجد دمسجدجمع ده فتح اوزبر سره يعني، يوازې الله ـعالی ته سجده کوه، غيرالله ته سجده مه کوئ.

ـجده په دې خبره اجماع دامت ده، چې غيرالله ته سجده کول حرام دي، دځينو په نزد کفر دی.

دمسجدونو احترام:

مسجدونه دالله تعالی درضا ذريعه ده، حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل تاسو کې چې کوم کس مسجد ته رادننه کيږي؛ نو اول هغه ته دوه رکعته نفل کول پکار دي

ـنبي ﷺ فرمايي داهغه وخت کې دي کوم وخت چې دنفلو وخت وي، که دمادزيګر يا سهار لمانځه وروسته وردداخل شو؛ نو نفل دې نه کوي، ځکه چې په دې وختونو کې نفل کول ممنوع دي. البته په ارام دې کيني او "سُبحان الله لَاإِلٰه إِلَّا الله" تسبيح دې کوي، يا دې درودشريف وايي. له دې سره همدغه فضيلت حاصليږي اوحق به هم ادا شي.

حضرت ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته چې پته ولګيده چې حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو خادم اخيستی دی؛ نو په هغه يې يو سخت خط هغه ته وليکه، په هغه کې دا الفاظ هم وه، اې زما

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

وروره عبادت له پاره هم وخت وباسه. له دې نه مخکې مخکې چې په تا باندې يو داسې بلا او مصيبت راشي چې په هغه کې تاته دعبادت همت پاتې نه شي اودیو مصيبت زده انسان دعا خان له پاره غنيمت وګڼه اوپه يتيم باندې رحم کوه اودهغه په سر باندې لاس رابنکه. دخپل خوراک نه هغه باندې هم خوره ستا زړه به نرم شي اوستا حاجتونه به پوره شي، اې زما روره مسجد ستا کور پکار دی مادحضور ﷺ نه اوريدلی دي چې: مسجد دمتقيانو خلکو کور وي اوالله تعالى داسې خلکو له پاره په پل صراط دتيريدو اودوزخ نه دنجات او مقام رضا تة رسولو ضامن دی، دحضور ﷺ داحال و، کله چې به يو ناګوار صورت راغی، مثلا: لمر تندر نيول يا سپوږمی يا به يو تيز باران راغی؛ نوسمدلاسه به مسجد لوري تة تلو. نوافل اوستغفار به يې کول. يو مور مسلمانان يو چې مساجدو ته مو تالي لګيدلي دي، خکه چې په هغه کې قيمتي سامان پروت دی، حالانکې داټول مساجد خلاف اسلام دي، مساجد به ساده وي دلمونځ ګذارونه به وک وي، دتلاوت اوقرآن دذکر حلقې لګيدلې وي؛ نودابهتره ده اواصل همدا خبره ده، ګڼي خالي خوبصورتي دمسجد هيڅ پکارنه راځي، په ځينو علاقو کې خلک مساجدو ته ځي هم نه، بلکې ازغي پکې راټوکيدلي وي. سپي اوپيشوګان پکې تولە ورځ ګرځي. اوس تاسو دا ووايئ چې دا مساجد به مور ته دعا کوي اوکه نښيرا. له کله چې مور مساجد ابادول پريښي دي. مور خپله ويران شوي يو، دننه نه وو شوي يو. زمور اصل اسلامي شان اوشوکت لاړ. (تنبيه الغافلين)

علامه اقبال خومره ښه ويلي دي:

مسجديں مرثيه خواں ہيں کہ نمازی نہ رہے — يعنی وہ صاحب اوصاف حجازی نہ رہے

فائده: دحضرت حکيم بن عمير ﷺ قول دی چې په دنيا کې دميلمنو په ځير اوسيږه، مسجدونه خپل دوخت تيرولو ځايونه جوړ کړئ. خپل زړونه دتکليف عادي جوړ کړئ. دسوچ. فکر اوژړا کثرت وکړئ. په دې سره خواهشات نفسانيه مغلوبه پاتې شي. يعنې دمسافرو په ځير اوسيږئ. ځنګه چې مسافر ته دخپلې جونګړې اومنزل ته دتلو فکر وي هغه په پرديسي کې زړه نه لګوي. بلکې دده زړه هر وخت دخپل کور ته دتلو له پاره بې قراره وي، همدغه راز دمسلمان اصل کور اومنزل اخرت دی ددې هر وخت فکر وکړئ دزيات ساز اوسامان جمع کولو فکر مه کوئ. حضرت مجذوب ﷺ فرمائي:

تونے منصب بھی کوئی پایا تو کیا — گنج سیم وزر بھی ہاتھ آیا تو کیا
قصر عالشان بھی بنوایا تو کیا — دبدبہ بھی اپنا دکھلایا تو کیا
ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے — کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے

په مسجدونو کې زيات نه زيات وخت تير کړئ دحضور اقدس ﷺ ارشاد دی.

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حافظ شیرازي فرمائي
فردا که پیش گاه حقیقت شود پدید شرمنده رهروے که عمل برمجاز کرد
کله حقیقي عدالت لګیږي، نو هغه لارو به شرمنده وي کوم چې مجازي لاره
سا به چې
اختیار کړي وي
نفاق و زرق نه بخشد صفائے دل حافظ طریق رندے و عشق اختیار خواهم کرد
په نفاق اومکر سره اي حافظه! دزړه صفايي نه حاصليږي، اوس خو به زه دعشق والا لاره
اختیارومه، غور، فکر کوه، له دې نه مراد مراقبه ده، يعني خپله محاسبه کوه ، حديث شريف
کې راغلي چې ستا حساب وشي ته خپل حساب پخپله وکړه چې دنيا ته څه له پاره راغلے
دے نه مخکې چې ستا حساب وشي ته خپل حساب پخپله وکړه چې دنيا ته څه له پاره راغلے
دې، اوڅه دې وکړل اولاړې، دويده کيدو نه مخکې دا حساب کوه چې په نن ورځ کې مې
څومره نيک کارونه اوڅومره بد کارونه وکړل، که نيک کارونه دې زيات کړي وي؛ نو دالله
تعالى شکريه ادا کړه اودالله تعالى نه قبوليت دعا کوه اوکه بد کارونه دې زيات کړي وي؛
نو استغفار کوه. دي ته تدبر اوتفکر وايي دحضرت ابودرداء رضي الله عنه روايت دى چې
حضور ﷺ فرمايي چې ديو ساعت غور، فکر داويا کاله بې ريا عبادت نه بهتر دى. ددې
غور، فکر مطلب دادى چې انسان دالله تعالى پيدا کړى دى داسمان اودځمکې مخلوقاتو
باندې غور وکړئ اودالله تعالى په صفاتو باندې ايمان مضبوط کړئ، دويم مطلب ددې حديث
دادى چې انسان دې مراقبه وکړي، يعني دالله تعالى انعامات اواحسانات دې ياد کړي، سوچ
دې وکړي اوپه خپلو ګناهونو دې معافي وغواړي.

دمسجد متعلق داکابرواقوال:

فقيه ابواللیث سمرقندي رحمه الله فرمايي: دالله تعالى په حضورکې دبنده مرتبه هغه وخت کې وي
کله چې هغه دالله تعالى داحکاماتو تعظيم کوي، هغه دبندګانو اوکوروتو احترام کوي
اومساجد دالله تعالى کورونه دي، لهذا مومن ته پکار دي چې ددې تعظيم وکړي چې په دې
هم دالله تعالى تعظيم دى. ديو زاهد دخولي بيان دى: کله هم ما په مسجد کې ډډه نه ده
لګولې اونه مې پښې خورې کړي دي اونه مې ددنيا خبرې کړي دي اودا يې له دې وجې وکړه
چې خلک به دې باندې عمل وکړي.
حضرت نزال بن سبره رضي الله عنه فرمايي چې: منافق په مسجد کې داسې دى، لکه مرغى په پنجره
کې خلف بن ايوب رحمه الله به مسجد کې ناست و چې دهغه غلام خُه پوښتنې له پاره مسجد ته
راغى. له مسجد نه پورته شو اوبهر ووت اودهغه دخبرې جواب يې ورکړ، چا ترې ډيورته

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کیدو یوښتنه وکړه؛ نو ویې ویل: په ټول عمر کې ما په مسجد کې دنیایې خبره نه ده کړې، لهذا نن هم راته مناسبه ښکاره نه شوه چې دنیاوي خبره وکړم.

دسوچ خبره ده چې مونږ دمساجدو خومره احترام کوو، په مساجدو کې سیاسي تقریر کیږي چې په هغه خپل براس ویستل کیږي، هو! که چیرته ددیني سیاست خبره مقصود وي لکه بادشاه وقت غلط احکامات وقوانین جاري کړي وي؛ نو دهغه خلاف ددین په نسبت سره تقریر کول دا جهاد دی، خکه چې دا کلمه حق ده چې هغه ته جهاد ویل شوي دي.

رسول الله ﷺ اودهغه ملګرو رَضِیَ اللهُ عَنهُم اَجمَعِین به دپنځو شیانو اهتمام کاو، امام اوزاعي رحمه الله فرمایي: هغه پنځه شیان په کومو چې رسول الله ﷺ اودهغه ملګرو رَضِیَ اللهُ عَنهُم اَجمَعِین به اخلاص سره دوام کړی دی هغه دادي:

(۱): دجماعت اهتمام. (۲): اتباع سنت. (۳): دمسجد آبادي.
(۴): دقرآن پاک تلاوت. (۵): جهاد في سبیل الله.

هغه بنده کوم چې دالله تعالی پناه کې دی:

حضرت حسن بن علي رضی الله عنه فرمایي: درې کسان دالله تعالی په پناه کې دي:

(۱): هغه کس کوم چې خاص دالله تعالی درضا له پاره مسجد ته داخل شو، دبیرته تلو پورې دالله تعالی میلمه دی.

(۲): هغه کس کوم چې دمسلمان ورور دملاقات له پاره ځي اومقصدیې یوازې الله تعالی راضي کول دي ترڅو چې واپس شوی نه وي داسې ده لکه چې دالله تعالی زیارت کونکی دی.

(۳): هغه کس کوم چې دحج یا دعمرې له پاره کورنه راوځي اوخاص دالله تعالی درضا له پاره راوځي دادالله تعالی د دربار وفد دی، ترڅو چې کور ته واپس نه وي راغلی.

مشهوره ده چې دومن درې قلعې دي:

(۱): مسجد. (۲): ذکرالله. (۳): تلاوت قرآن مجید.

ترڅو چې انسان په دې درېو کې یوه قلعه کې هم مشغول وي؛ نو دی دشیطان نه محفوظ اوقلعه کې وي، په یو حدیث مبارک کې دي کوم کس چې مسجد ته ځي؛ نو دهغه لاس کې د رحمن جنډه وي اوکوم چې بازار ته خي دهغه لاس کې دشیطان جنډه وي.

دجنت دحورو مهر:

حضرت حسن بصري رحمه الله فرمایي: په مسجد کې جارو وهل اوددې خیال ساتل دجنت دحورو مهر دی.

فایده: حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمایي: کوم کس چې مسجد کې ډیوه بلوي فرښتي او خصوصا دعرش والا فرښتي دده له پاره استغفار وایي، ترڅو چې دی مسجد کې وي،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مسجد کې ډیوه بلولونه مراد لکه څنګه چې دکلسو مسجدنو کې بحلی نه وي. ډیوه بلول
ې بلولی ثواب کار دی. خوډیوه به دخاورې دنسلو نه وي. ځکه چې دې سره بدبویی وي
ږ بلولی مسجد کې خوروړ بې ادبي ده. له دې وجې حکم دی چې کجه پسار اواوګه خوبلو
ږ ډیوه مسجد نه مه خئ. له دې نه مسجد کې فرښتو نه اولمونځ ګذارو نه تکلیف وي.
همدغه راز سګریټ یا حقه لګولو وروسته مسجد نه مه خئ. بلکې سګریټ اوحقه خو داسې
ه مکروه دی. که خوک په دې بد عادت کې مبتلا وي؛ نو ده نه پکار دی چې خوله ښه پاکه
ږي بدبویی دې لرې کړي اوبیا دې مسجد نه خي، همدغه راز پرته له ضرورته مسجدونو کې
ډیوه بلول لکه شب برات کې دمسجد په چت باندې شمعې لګول، همدغه راز په مسجدونو
کې پرته له ضرورته بلبونه لګول ډیوه بلول اسراف اوفضول خرچي ده اوداحرام دي دضرورت
ه وخت بلبونه لګول پکار دي

حضرت عمرین خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي مساجد په خمکه دالله تعالی کورونه دي په دې کې
مونځ کوونکي دالله تعالی زیارت کوونکي دي اودچاچې زیارت کیږي؛ نو په هغه حق دی
چې دخپل زائر زیارت کوونکي؛ اکرام وکړي

پنځلس خبرې دمسجد په احترام کې داخلې دي:

د اللیث رَحِمَهُ اللهُ فرمایي. یوبزرګ وایي چې: پنځلس خبرې دمسجد په احترام کې داخلې دي

۱. کله چې خلک ناست وي؛ نو داخلیدو والا کس به سلام کوي، کله چې خوک په لمونځ کې مشغول نه وي. که خوک هم نه وي اویا په لمانځه کې مصروفه وي؛ نو داکلمات دې ووایي. "اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا مِنْ رَّبِّنَا وَعَلٰى عِبَادِاللهِ الصَّالِحِيْنَ".

۲. مسجد کې کیناستو نه مخکې دې دوه رکعته نفل وکړي (چې کله مکروه وخت نه وي یا جمعه نه وي ولاړه، دحضور ﷺ ارشاد دی چې :دهرې شي یو ادب وي اودمسجد ادب دوه رکعته لمونځ دی

۳. په مسجد کې اخیستل خرڅول منع دي.

۴. په مسجد کې توره دنیام نه نه دي راویستل پکار همدغه راز توپک اوداسې نور.

۵. دخه ورک شوي شي اعلان به نه کوي.

۶. دذکرالله پرته دبل خه به اوچت اواز نه کوي.

۷. هلته به څه دنیوي خبره نه کوي

۸. دچا په اوږو باندې به پښې نه اړوي

۹. په خای به چا سره جګړه نه کوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(۱۰): په صف کې به تنګي نه کوي (يعني په صف کې خو يوخای دريدل پکار دي، بل تنګول نه دي پکار).
(۱۱): دلمونځ ګذار مخې ته به نه تيريږي.
(۱۲): لاړې به نه توکي.
(۱۳): دګوتو نه به ټکونه نه اوباسي.
(۱۴): دغلاظت اولیونو نه به ځان ساتي (شرارت کوونکي ماشومانونه) اوحدلګولو نه (يعني سزا، نه محفوظ ساتل.
(۱۵): په دې کې دې دالله تعالى ذکر زيات کوي لږ غفلت دې هم نه کوي.

په مسجد کې دد نيا خبرې کول:

حضرت حسن بصري رحمه الله روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي: زما په امت باندې يو داسې وخت راروان دی چې په مسجد کې به خالص ددنيا خبرې وي، الله تعالى ته د داسې خلکو هيڅ ضرورت نه شته اوتاسوهم داسې خلکو سره مه کيناست.
حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څلور شيان په دنيا کې اجنبيان دي:
(۱): قرآن پاک دظالم سړي په سينه کې (کوم چې دقرآن قدر نه کوي).
(۲): مسجد چې دبې نمازه خلکو په محله کې وي.
(۳): قرآن پاک په داسې کور کې چې په هغه کې تلاوت نه کيږي.
(۴): نيک بنده دبدو خلکو په صحبت کې.

په جمعې دلمونځ کولواعزازاودمسجدونو سفارش:

حضرت وهب بن منبه رحمه الله فرمايي: دقيامت په ورځ به مساجد دداسې کيشتو په شکل راوړې چې په هغوبه دياقوتو اوموتيانودچت سوري وي، دخپلو اباد کوونکو خلکو سفارش به کوي.
فايده: حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: په خلکو يوه داسې زمانه راروانه ده چې داسلام به يوازې نوم باقي پاتې شي اودقرآن کريم به يوازې نقوش، هغوی به دخپل مساجد ښه جوړوي او سنګار کوي، حالانکې هغه به دذکرالله نه خالي او وران وي، ددې دور بدترين خلک به علما وي ددوی نه به فتنې راپيدا کيږي اوهم ددوی لوري ته به راځي. (تنبيه الغافلين)

د مسجد جوړلو فضيلت:

عَنْ عُثْمَانَ رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ بَنٰى مَسْجِداً يَبْتَغِي بِهٖ وَجْهَ اللهِ بَنَى اللهُ لَهٗ بَيْتاً فِي الْجَنَّةِ.. (رواه البخاري)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ نه روایت دی چې ما درسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې کوم
ده الله تعالی درضا له پاره مسجد جوړ کړي، الله تعالی به دهغه له پاره په جنت کې محل

جوړ کړي
ترجمه حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ نه روایت دی چې درسول الله ﷺ ارشاد دی چا چې د الله تعالی درضا
د پاره دمړ دڼالي برابر مسجد هم جوړ کړ؛ نو الله تعالی به دهغه له پاره په جنت کې عالیشان
ر جوړ کړي (بزار طبراني ابن حبان بحواله الترغیب والترهیب)

مسجد جوړ کړي، الله تعالی به دهغه له پاره په جنت کې شاندار
ترجمه: کوم کس چې د الله تعالی کورجوړ کړي، الله تعالی به دهغه له پاره جنت کې شاندار
محل جوړ کړي اوښکاره ده چې هریو به دخپل شان مطابق جوړوي. بنده به دخپل وس
مناسبت او الله تعالی به دخپل شایان شان، لهذا په دې خبره کې دشک ګنجائش نه شته چې
د هریو نیک عمل اجر به لس چنده وي؛ نو دیو مسجد په بدله کې یې لس مساجد ولي ونه
ویل اومړ دڼالي برابر مثال څکه بیان شوی دی چې ددې نه مبالغه مقصود ده. یعني وړوکي
ه وړوکی مسجد هم جوړ کړي، بیا به هم دی داجراوثواب مستحق وي، خوددې ناچیز دخیال
مطابق ددې مصداق هغه مساجد دي کوم چې ډېرو خلکو په شراکت سره جوړ کړي وي چې په
هغه کې یو غریب بنده په لس شل روپیو سره شرکت کوي، چې دهغه په برخه کې به یو دوه
خښتي په نصیب راځي چې دمړ دڼالي برابر به وي داسې ده چې مقصد ددې نه دادی چې لږ
لږ برخه اخیستونکی بنده به هم داجراوثواب مستحق وي.

د حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ ارشاد دی چې: مساجد دې هغه ځای کې تعمیر کړل شي چې
کوم خایونو کې په ریښتیا ضرورت وي اومسجد اباد پاتې شي، یعني دوه مساجد دې داسې
جوړ نه کړل شي چې دیو نه بل ته نقصان ورسیږي، یعني دویم مسجد چې جوړیږي؛ نو دومره
فاصلې سره دې جوړ کړل شي چې داول مسجد په جماعت سره دویم باندې اثر پرې نوځي

صدقات جاریه:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ وَمُصْحَفًا وَرَّثَهُ أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيلِ بَنَاهُ أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِي صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ يَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ (ابن ماجه وابن خزيمه بحواله الترغيب والترهيب)

ترجمه حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل دکومو نیکو
اعمالو ثواب چې انسان ته له مرګ وروسته هم ملاویږي په هغوکې هغه علم هم دی چې نورو
ته یې زده کړی وي، بل هغه نیک اولاد پریښی وي، یاهغه قرآن کریم چې خپل
خپلوانو ته یا نورو خلکو ته دتلاوت کولو له پاره پریښی وي، یایې دمسجد تعمیر کړی وي،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مسافرولو پاره یې مسافرخانه تعمیر کړې وي، یا یې یو نهر کنستی وي، یاخیرات چې پر خپل ژوند یې دصحت په حالت کې دخپل مال نه ویستی وي، ددې ټولو اعمالو ثواب به ده ته له مرګ وروسته هم ملا ویږي.

صدقه جاریه هغه اعمال دي چې دهغه فائده تر دهر وخته وي اویوې زمانې پورې خلک له هغه نه دیني اودنیاوي فائدې حاصلوي.

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې: یوه سیاه فام (توره) ښځه اُم محجن به په مسجد کې جارو وهله کله چې رسول الله ﷺ یو څو ورځې هغه په مسجد کې ونه لیده؛ نوهغې اړوند یې معلومات وکړل. چا ورته وویل چې: هغه وفات شوې ده، حضور ﷺ وفرمایل چې: تاسو ماته ولې خبرانه کړ، بیا حضور ﷺ ددې قبر ته تشریف یوړو اودهغې دجنازې لمونځ یې وکړ اوهم په دې روایت کې دا هم دي چې حضور ﷺ دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِیْن سره په دې جماعت باندې دجنازې لمونځ اداکړی و.

یو روایت کې دې چې حضور ﷺ ته ددې ښځې دمرګ اطلاع ځکه ورنه کړل شو چې دادښځه وفات شوې وه. «دا ښځه به یا ضعیفه وي اویا دا واقعه دپردې دحکم رانازلیدونه مخکې وه» ګني ښځو ته داحکم نه شته چې مسجد ته لاړه شي اوجارو ووهي چیرته چې بې پردګۍ وي.

حضرت ابوسعید خدري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چاچې مسجد ته یو تکلیف شی لرې کړ، الله تعالی به دده له پاره جنت کې یو محل تیار کړي.

حضرت سَمُرة بن جندب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې: رسول الله ﷺ موږ ته حکم کړی دی چې موږ په خپلو محلو کې مساجد جوړ کړو اوهغه صفا اوستره وساتو، په مسجد کې خوشبو، عطراودسي نور.... لګول مستحب دي.

حضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله کعبه شریفه جوړوله؛ نو په دیوالونو باندې مشک ملاو شوې وو.

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې: کله تاسو دیو کس نه په مسجد کې دورک شوې شي اعلان واورئ؛ نو دا ووایئ چې الله دې ستا شی واپس نه کړي، ځکه چې مساجد ددې شیانو له پاره نه دی جوړ.

مولانا رومي رَحِمَهُ اللّٰهُ یوه عجیبه واقعه لیکلې ده چې دیو مالداره سړي غلام و، دهغه نوم سنتر و، یوه ورځ مالداره سړي خان سره دځه کار له پاره بوتلو په لاره کې دلمانځه وخت راغی، ده غلام وویل: لږ ودریږئ چې زه لمونځ وکړم. مالداره وویل: سهې ده ته لمونځ وکړه، زه به خلک دلمانځه نه فارغ شول اوغلام په لمانځه کې مشغول شو اومالک بهر انتظار کوي، ټول ټول خلک فارغ شول اوته اوسه پورې مصروفه یې غلام اواز وکړ چې ما بهر ته نه پریږدئ!

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مالک وویل: دروغ مه وایه دننه څوک دي چې تا بهر ته نه پریږدي غلام وویل: هغه ذات کوم چې تا دننه راتلو ته نه پریږدي یعني الله...

گفت آنکه بسته استت از برون بسته است ادهم مرا از اندرون

اې امیر څوک چې تا دننه راتلو ته نه پریږدي هغه ذات ما بهر تلو ته نه پریږدي، یعني دي غلام نه دغه وخت کې د الله تعالی خاص قرب حاصلیدو او هغه په مناجاتو اوذکر کې مصروفه و.

ماهیان رابجزنگذارد وبروں خاکیان را بحر نگذارد بدوں

ماهیان داوبو بهرنه پریښودل اوخاکي شیان یې په سمندر کې نه پریښودل.

اصل ماهی زآب وحیوان از گل ست حیله و تدبیرایں جا باطل است

دماهیانو اصل داوبو سره دی اودنورو ځناورو اصل خاکي دی، پس اوبه غیر آبي شی څنګه قبول کړي دلته حیله اوتدبیر باطل دی.

قفل زفت است و کشائیذه خدا دست درتسلیم زن و اندر رضا

دګمراهي تاله مضبوطه ده، خوالله تعالی ماتولو والا دی، له دې وجې دهغه درضا حاصلولو کوشش وکړه.

په ګناهونوسره خپلې لارې مه بندوه، الله تعالی دې ډېر لوی شان اوشوکت والا دی، دده شان دعرش عظیم نه معلوم کړی چې په عرش عظیم باندې اتلس زره بُرجونه دي اوپه هر یو بُرج کې اتلس زره ستني دي اوپه هره ستنه باندې اتلس زره چتي دي اودهرې چتي نه بلې چتي پورې اووه کاله مزل دی اوپه هره چتي باندې اتلس زره قندیلونه دي هریو دومره غټ چې اووه طبقه ځمکه اواسمان اوځه چې په دې کې دي داسې پکې راځي لکه چې یو خانک په یو میدان کې کیښودل شي

حضرت شاه ولي الله ﷺ فرمایي چې: مسجد دشعائرالله نه دی، مسجد دلمانځه ځای دی، دعابدینو داعتکاف ځای دی، دالله تعالی درحمت دنازلیدو ځای دی اویوصورت کې خانه کعبې سره مشابه دی.

حضور ﷺ فرمایي چې: کوم بنده اودس وکړي اودکورنه د لمانځه په نیت راوځي داسې ده لکه چې یو بنده احرام وتړي او حج ته روان شي.

حضور ﷺ فرمایي: کله چې تاسو دجنت باغونو سره تیریږئ؛ نو ښه ځان مړوئ اوتیریږئ، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنهُم اَجمَعِين عرض وکړ، اې دالله نبي! دجنت باغونه څه دي؟ ویې فرمایل: امسجدونه،کوم بنده چې دخپل کار اوکورواله نه وځي اوخالص دالله تعالی دعبادت له پاره مسجد ته ځي: نوهغه دزړه دکومې نه خپل خلوص ثابتوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضور ﷺ ارشاد دی: کله چې یوبنده له کورنه دلمانځه په نیت وځي؛ نودده په یو یو قدم باندې نیکي ملاویږي اوپه هرهرقدم باندې ګناه معاف کیږي اوپه هرهر قدم باندې دده درجات اوچتیږي ترڅو چې هغه لمونځ کوي اوپه جای نماز باندې ناست وي؛ نو فرښتې ده له پاره دعاګانې کوي (اې الله په ده باندې رحم وکړي اوپه ده باندې کرم وکړې) کله چې هغه دلمونځ انتظار کوي، همدغه رازدعاګانې کوي اومسجد جوړول په اصل کې دحق کلمه اوچتول دي داسې مقامات ابادول په اصل کې دشعائرالله تعظیم اودالله کلمه اوچتول دي.

دحضور ﷺ ارشاد دی چې: کوم بنده دخپل ورک شوي شي اعلان په مسجد کې وکړي اوځوک یې واوري؛ نو دادي ووایي چې: الله تعالی دې تاته واپس نه کړي، ځکه چې مساجد ددې خبرې له پاره نه دي جوړ شوي.

دحضور ﷺ فرمان دی چې: مابانديِ دأمت ثوابونه وړاندې شول تردې چې دکجوړي اجر هم چې یو بنده یې دمسجد نه وباسي مکروه اوقابل نفرت شیانو نه مسجد صفا وساتئ.

حضور ﷺ دمساجدو جوړولو اوخوشبوداره ساتلو حکم کړی دی.

دحضور ﷺ فرمان دی "کله چې تاسو هغه کس وګورئ کوم چې مسجد کې اخیستل اوخرڅول کوي؛ نو ورته ووایئ چې: الله دې ستا په تجارت کې برکت وانه چوي" حضور ﷺ په مسجد کې اشعار اوسندرې اوښکار کول اوحدود قائمول منع کړي دي، په مسجد کې دې دورک شوي شي اعلان نه کوي، هوا که څه په مسجد کې ورک شي؛ نو دې داعلان ګنجائش شته، کله چې مسجد ته داخل شي؛ نو دا دې ووایي: "اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ" کله چې دمسجد نه بهر راوځي؛ نودادې ووایي: "اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ" (الحدیث)

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې: تاسو کې څوک نبې طریقې سره اودس وکړي اوتولو ضروري برخو ته اوبه ورسوي اوبیا یوازې دلمانځه له پاره مسجد ته راشي؛ نوالله تعالی ددې بنده نه داسې خوشالیږي، لکه چې یوبنده ډېر لرې تللی وي اودهغه په واپس راتګ دهغه کور والا څومره خوشاله وي. (ابن خزیمه)

بفراغ دل زمانے نظرے بماہ روئے ازاں بہ کہ چتر شاہی ہمہ روز ہائے ہوئے
قطرہ اشک ندامت در سجود همسری خون شهادت می نمود
کچے اور ہی ہے اب میرے دن رات کا عالم
ہر وقت اب ان سے مناجات کا عالم (مجذوب)

یا الله! موږ ته دمسجدونو دابادولو توفیق راکړې. آمین!

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د مسجد و نو اباد و نکی:

وښ لو د الله تعالی دهغو بندګانو ذکر کوو چاچې به مساجد اباد ول، محمد بن سماعه ﷺ یو
زرګی عالم دی چې دامام ابویوسف اودامام محمد ﷺ شاګرد دی، دیوسل دري (۱۰۳) کلونو
به عمر وفات شو. هغه وخت کې به یې دوه سوه رکعاته نفل کول، ویل به یې چې: په خلویښت
کاله کې مسلسل یوازې دیو خل نه پرته مانه تکبیر اولی سره لمونځ نه دی قضاء شوی، یوازې
به هغه ورځ په کومه ورځ چې زما والده وفات شوې وه دهغې دمشغولتیا په سبب زما نه
تکبیر اولی فوت شوی و
سلیمان بن ابي حشمه ﷺ جلیل القدر خلکو کې شامل و دحضور ﷺ په زمانه کې پیدا شو،
خو حضور ﷺ نه یې دروایت اوریدو نوبت دکم عمري دوجې رانغی. حضرت عمر فاروق
رضی اللہ عنہ هغه دبازار نګران جوړ کړی و، یوه ورځ اتفاقا دسهار په لمانځه کې موجود نه و،
حضرت عمر رضی اللہ عنہ دهغه کور لوري ته لاړ اودوالدي نه یې پوښتنه وکړه چې سلیمان ښ
دسهار په لمانځه کې موجود نه و، والدي یې وویل چې: توله شپه یه نفلو کې مشغول و.
بوب دغلبي نه ویده شوی، عمرفاروق رضی اللہ عنہ وفرمایل: زه دسهار په جمعې کې شامل وم
اوداماته له دي نه غوره دي چې توله شپه دې نفل وکړم.

حدیث مبارک کې دي چې حق تعالی شانه به دقیامت په ورځ اواز وکړي چې زما ګاونډیان څه
شو؟ فرښتې به عرض وکړي چې ستاسو ګاونډیان څوک دي؟ ارشاد به وشي چې مساجد
اباد ونکي په یوبل حدیث مبارک کې دي چې الله تعالی ته په ځایونو کې دټولو نه محبوب
ځای مسجد دی اودټولو نه ناخوښه ځای بازار دی.

یو حدیث مبارک کې دي مسجد ونه دجنت باغونه دی.

یوحدیث مبارک کې دي چې حضرت ابوسعیدخدري رضی اللہ عنہ دحضور ﷺ نه روایت کوي
کوم کس چې وګوري چې دمسجد دراتلو عادي دی؛ نو دده دایماندارۍ ګواهي ورکړه، له
دې وروسته "اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ...الخ" دا ایت یې تلاوت کړ، یعنې مسجدونه هغه خلک
اباد وي کوم خلک چې په الله اوقیامت باندې یقین ساتي.

یو حدیث مبارکه کې ارشاد دی چې دقیامت په ورځ کله هر انسان پریشان حاله وي اولمریې
انتها په تیزي سره وي: نو اووه کسان به داسې وي چې الله تعالی دسوري لاندې به وي، په
دې کې به یو کس هغه هم وي دچا زړه چې دمسجد سره معلق وي چې کله دیو ضرورت له پاره
مسجد نه راوخي: نو بیا مسجد ته دتلو خواهشمند وي.

په یو حدیث کې دي کوم کس چې دمسجد سره محبت ساتي الله جل شانه دده سره محبت
ساتي (فضائل اعمال)

* وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین *

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دربیع الاول دمیاشتې څلورمه خطبه

ختم نبوت:

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّیْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْکَرِیْمِ اَمَّا بَعْدُ: فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ مَاکَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِکُمْ وَلٰکِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ وَکَانَ اللّٰهُ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا (۴۰) (سورة الاحزاب)

نه دی محمد ﷺ (حقیقي) پلار دهیڅ یوتن له سړیو ستاسې، بلکې دالله تعالی رسول دی اومهر (تولو) انبیاوو دی (چې وروسته له ده بل نبي نه شته) اوالله تعالی په هرشي ښه پوه دی

په پورتني ایت کې د ختم نبوت مسئله بیان شوې ده.

یعني څنګه چې دموراو پلار له وفات وروسته ددوی زوی ددوی جانشین وي، همدغه رازبادشاه له وفات وروسته دهغه زوی دهغه جانشین اوبادشاه وي، همدغه راز کیدای شو، چې دحضور ﷺ له وفات وروسته دده زوی به دده په ځای باندې نبي جوړیده؛ نوالله تعالی په ماشومواليو کې دده اولاد وفات کړ، چې دا شک اوشبه پوره ختمه شي اودرسول الله ﷺ نه وروسته يې دنبوت دا دروازه همیشه له پاره بنده کړه، حضور ﷺ اخري نبي اورسول دی.

مفتي محمد شفیع ؒ فرمایي: "وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ" هغه خاتم النبیین دی، امام راغب ؒ په مفردات القرآن کې فرمایي: "وَخَاتَمَ النَّبُوَّةِ وَتَمَّمَهَا بِمَجِیْئِهٖ" (مفردات القرآن)

یعني حضور ﷺ ته خاتم نبوت له دي وجي وویل شو، ځکه چې هغه په خپل تشریف راوړلو سره نبوت ختم اوپوره کړ اوپه محکمه ابن سبده کې دي: ((وَخَاتَمَ کُلِّ شَیْءٍ وَخَاتِمَتَهٗ عَالِمَتَهٗ وَاٰخِرَهٗ)) یعني دهر شي خاتم، انجام اواخر ته ویل کیږي، خلاصه معنا په دواړو صورتونو کې دا شوه چې حضور ﷺ ختمونکی دی دانبیاوو دتولو نه اخر او وروسته مبعوث شو.

صفت خاتم الانبیاء:

صفت خاتم الانبیاء یو داسې صفت دی چې په تولو کمالات نبوت اورسالت کې ددې اعلی فضیلت اوخصوصیت ظاهروي، ځکه چې په هر شي کې درجه په درجه ترقي وي اوپه انتهاء باندې ورسیږي اودهغه تکمیل کوي اوکومه چې اخري نتیجه وي هغه اصل مقصد وي قرآن کریم خپله واضحه کړه: اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِیْ، (سورة المائدة: ۳)

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه نن ورځ مکمل(پوره) کړما تاسې ته دين ستاسې (اصولا وفروعا) اوتمام (پوره مې کړ
ترتاسې (اې مؤمنانو) نعمت (دين په اکمال)
پر تاسې انبياوو دينونه هم دخپل وخت په اعتبارسره مکمل وو، خوکمال مطلق دين
دټولوپيو ﷺ ته حاصل شو چې داولين او اخرين له پاره حجت اوترقيامته تلونکی دين دی.
مصطفوي ﷺ په دې خای کې صفت خاتم النبيين په اضافه سره په دې مضمون کې نور هم وضاحت
اوتکميل وشو چې رسول الله ﷺ ته مقطوع النسل ويل جهالت دی اودټول اُمت پلار کيدو په
حيثيت باندې حضور ﷺ باندې متصف دی، ځکه چې خاتم النبيين داهم وښودل چې له ده
وروسته ترقيامته ټول نسلونه اوقومونه دحضور ﷺ په اُمت کې شامل دي. له دې وجې
درسول الله ﷺ دا اُمت تعداد به دنورو اُمتونو نه زيات وي اودرسول الله ﷺ دروحاني اولاد
تعداد به دنورو انبياوو په نسبت زيات وي. صفت خاتم النبيين داهم وښودل چې درسول الله
ﷺ شفقت په خپل روحاني اولاد باندې دټولو امتونو دانبياوو نه زيات و اورسول الله ﷺ
ترقيامته راتلونکوضرورتونو واضحه کولو پوره پوره اهتمام به کوي. ځکه چې له ده وروسته
به بل نبي اوبله کومه وحي دنيا ته راتلو والا نه ده، په خلاف دټيروسويو انبياوو چې هغوی
سره دافکر نه و، ځکه هغوی به پته وه چې کله په امت کې ګمراهي خوريږي؛ نوزموږ وروسته
به نور انبياء راشي اودهغوی به اصلاح وکړي، خو خاتم الرسل ته دافکر و، چې ترقيامته
ځومره هم حالات واقع کيږي ددې ټولو حالاتو متعلق اُمت ته څه هدايات ورکړم اوبيا به خم
چې په هغه درسول الله ﷺ احاديث مبارک ګواه دي، دحضور ﷺ وروسته څومره خلک هم
چې قابل اقتداء راتلل دټولو يې نومونه ښکاره کړي وو، همدغه راز څومره چې دګمراهي
علمبردار وو دهغوی ټولو يې داسې حالات اوپتې واضحې کړي دي چې لږ سوچ کولو سره هم
هيڅ اشتباه نه پاتې کيږي. له دې وجې رسول الله ﷺ وفرمايل چې: ''ماتاسو په يوه داسې
روښانه لاره پريښودئ چې په هغه باندې شپه او ورځ برابر ده هيڅ وخت کې هم دګمراهي
خطره نه شته''، په دې ايت کريمه کې داخبره هم قابل نظر ده چې پورته دحضور ﷺ ذکر په
صفت درسول سره راغلی دی، دې له پاره په ظاهره مناسب داوو چې مخکې دخاتم الرسول يا
خاتم المرسلين لفظ راغلی و، مګر قرآن کريم ددې په خای باندې خاتم النبيين لفظ استعمال
کړ. وجه ددې داده چې دجمهور علماوو په نزد نبي اورسول کې يو فرق دی هغه دا چې نبي خو
هر هغه بنده ته ويل کيږي خوک چې الله تعالی دخلکوداصلاح له پاره مخاطب کړي اوخپله
وحي پرې نازل کړي، که دده له پاره مستقل کتاب يا مستقل شريعت تجويز کړي يا ديو نبي په
کتاب اوشريعت باندې تابع خلکو ته په هدايت باندې مامور کړي، لکه څنګه چې هارون
عليه‌السلام دموسی عليه‌السلام دکتاب په شريعت باندې تابع اومامور وګرځاو اولفظ رسول خاص
دهغه نبي له پاره ويل کيږي چا ته چې مستقل کتاب اوشريعت ورکړل شوی وي، همدغه راز

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په لفظ نبي کې درسول په نسبت عموم زيات دی؛ نو دايت مفهوم داشو د حضور ﷺ دانبياوو ختم کهونکی اودتولو په اخره کې دی، که هغه صاحب شريعت نبي وي يا يوازې دمخکې نبي تابع، له دې نه معلومه شوه چې دنبوت څومره قسمونه دالله په نزد دي هغه په حضور ﷺ باندې ختم شو، دحضور ﷺ وروسته به بل نبي نه مبعوث کيږي.

امام ابن کثير رحمه الله په خپل تفسير کې فرمايي: ''يعني دا ايت صريح دی دعقيدې له پاره دنبي ﷺ نه وروسته بل څوک نبي نه شته اوکله چې نبي نه شته، نو بدرجه اولي رسول هم نه شته، ځکه لفظ دنبي عام اورسول خاص دی اوداهغه عقيده ده په کومې چې احاديث متواتره گواه دي'' چې دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين ديو لوی جماعت نه مورږ ته رارسيدلي دي، دې ايت په لفظي تشريح کې به څه اندازه تفصيل سره بيانيږي، زمورږ په ملک کې مرزا قادياني مدعي نبوت دا ايت کريمه دخپلې لارې يو رکاوټ ګڼلی په دې اعتبار سره يې ددې ايت په تفسير کې په مختلفو طريقو سره تحريفات اواحتمالات پيدا کړي دي، مرزا غلام احمد قادياني دحضرت عيسى عليه السلام اسمان ته ژوندي پورته کيدل اوبيا په اخره زمانه کې دبيرته راتګ چې دقرآن اوسنت دډيرو نصوصو نه ثابت دي، له دې نې انکار وکړ اوخپله يې دمسيح موعود دعوه وکړه اوپه استدلال کې يې وړاندې کړ چې حضرت عيسى بن مريم دبني اسرائيلو اوبيا دنيا ته راتلل ومنل شي؛ نو دا دحضور ﷺ دخاتم النبيين کيدو منافي دي.

جواب بالکل واضحه دی چې خاتم النبيين اواخر النبيين کيدو معنا داده چې درسول الله ﷺ نه وروسته بل بنده عهده نبوت باندې فائز کيدای نه شي، له دې نه داخبره لازمه نه ده چې دحضور ﷺ نه مخکې چې چا ته نبوت ملاو شوی دی دهغه نبوت به سلب شي يا په دې کې څوک بيا دې عالم ته نه شي راتلای، البته حضور ﷺ نه وروسته چې څوک هم دأمت داصلاح له پاره راځي هغه په خپل منصب نبوت باندې قائم به وي اوپه دې أمت کې داصلاح خدمت دحضور ﷺ دښوونو تابع به کوي، ځنګه چې احاديث صحيحه کې واضحه شوي دي.

امام بن کثير رحمه الله ددې ايت په تفسير کې دافرمايلي دي: ''يعني درسول الله ﷺ دخاتم الانبياء کيدو نه مراد دادي چې وصف نبوت دده نه وروسته منقطع شو'' له دې وجې په دې مسئله هيڅ اثر نه پريوځي چې په هغه دأمت اجماع ده اوقرآن په دې تکلم کړی دی اوحديث رسول ﷺ چې درجه تواتر ته رسيدلي دي په دې ګواه دي هغه دا چې عيسى عليه السلام به په اخره زمانه کې رانازليږي، ځکه چې هغه ته نبوت زمورږ دنبي ﷺ نه مخکې ملاو شوی و.

دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فتوا:

حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي: کوم بنده چې دمدعي نبوت والا کس نه دنبوت دليل وغواړي؛ نوکافر شو، يعني مسئله ختم نبوت دومره واضحه ده چې په دې کې مدعي نبوت نه

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دلیل غوښتل هم کفر دی، مدعي نبوت اوپه هغه ایمان راوړونکي خلک یوازې کافر نه، بلکې مرتد دي چې هغوی په اسلامي حکومت کې وروسته دمهلت نه نه منلو په صورت کې قتل کول واجب دي

دحضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مدعیان نبوت او دهغوی منلو والا خلکو خلاف جهاد:

دحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اسوه حسنه دټول امت له پاره بهترینه رهنمایي ده چې هغه د خلافت حلف اوچتولو سره دټولو نه اول دمدعي نبوت مسیلمه کذاب چې دنبوت دعویدار و، خلاف جهاد وکړ، همدغه رازدټولو نه اول دمدعیان نبوت خلاف جهاد کولو والا حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی، ددې فتني دختمولو له پاره نن هم داسلامي ممالکو له پاره هم داطریقه ده، ګني ددې فتني دګرځټ په ځیر مختلف رنګونه بدل کړي دي اوپه مستقبل کې به یې هم بدلوي.

مسئله ختم نبوت تکمیل اسلام اودا نسانیت دلیل دی:

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا. (سورة المائدة: ۳)

ترجمه نن ورځ مکمل(پوره) کړما تاسي ته دین ستاسي (اصولا اوفروعا) اوتمام (پوره مې کړ پر تاسي (اې مؤمینانو!) نعمت (ددین په اکمال) اوغوره کړ ما تاسي ته اسلم له جهت د دین (پرپاکېزه په ټولو ادیانو کې)

دین مکمل شوی دی اودقرآن وروسته بل ظلي بزوري کتاب نه شته، یعني قرآن نه شته دکعبې وروسته بله ظلي بزوري کعبه نه شته چې دهغه طواف وکړل شي، اُمت هم اخري اُمت دی ددې اُمت نه وروسته بل ظلي بزوري اُمت نه راځي، دغه اُمت هم په سرورکائنات ﷺ باندې مکمل شوی دی. دحضور ﷺ نه وروسته بل څوک ظلي بزوري نبي نه شته؛نو کتاب هم اخري. اُمت هم اخري. کعبه هم اخري اورسول اونبي هم اخري.

له دې وروسته که یو بنده بل قرآن وړاندې کړي، کافر.

دکعبې پرته بله کعبه تجویز کړي، کافر.

همدغه رازدنبي اکرم ﷺ نه وروسته بل څوک د نبوت وکړي دعوه، هغه هم کافر.

دحضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ زیا ني بشارت:

سورة صف پاره(۲۸)کې دحضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ بیان دی، ده بني اسرائیلو ته دحضور ﷺ دراتګ زیری ورکړ، قرآن پاک کې دي

کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَّأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ. (سورة الصف: ۶)

ترجمه: حضرت عیسی علیه السلام وفرمایل چې: زه زیری کوونکی یم په هغه رسول چې را به شي وروسته له ماڅخه چې دهغه نوم (احمد) دی

دحضوراکرم ﷺ په اسماوو مبارکو کې حامد نوم هم موجود دی، محمود او احمد هم. پخپله دحضرت محمد ﷺ ارشاد دی چې: زه دعا ابراهیمي او نوید مسیحا یم.

دویم دلیل دختم نبوت له پاره دقران کریم نه:

قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ. (سورة الاعراف ۱۵۸)

ترجمه: ووایه «اې محمده! چې» اې خلکو! بې زه رسول دالله یم تاسې ټولوته، هغه الله چې «خاص»، ده لره دی ملک (پاچاهي) دآسمانونو اودځمکې.

دا ایت ښکاره په ختم نبوت دلالت کوي، یعنې څنګه چې اولنی علاقې، محلې، کلي کلي، ښار له پاره نبي راغلی دی، اوس زه اخري نبي یم، جمیعا لفظ وایي چې: زه کائنات کې همیشه همیشه له پاره نبي او رسول یم.

دریم دلیل:

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ (۴) (سورة البقرة)

ترجمه: اوهغه کسان چې ایمان لري په هغه کتاب چې نازل شوی دی تاته اوپه هغوکتابونو چې نازل شوي دي مخکې له تا.

دا ایت کریمه ښکاره وایي چې: سهي مومن هغه دی کوم چې دنبي ﷺ اودهغه نه مخکې کتابونو باندې ایمان راوړي، که درسول الله ﷺ نه وروسته هم نبي وي اوپه هغه څه نازلیدلو: نو ویل شوي به و: "وَمَا أُنْزِلَ مِن قَبلِكَ وَمَا أُنزِلَ مِن بَعدِك" یعنې مومن هغه دی چې درسول الله ﷺ باندې دهغه نه مخکې اودهغه نه وروسته نازل شوي کتابونو باندې هم ایمان لري. حضور ﷺ اخري نبي و، له دې وجې یې وفرمایل: "وَمَا أُنزِلَ مِن قَبلِكَ ...الخ.. وَمَا أُنزِلَ مِن بَعدِك" یې ونه ویل.

څلورم دلیل:

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا. (سورة المائدة: ۳)

ترجمه: نن ورځ مکمل (پوره) کړما تاسې ته دین ستاسې (اصولا اوفروعا) اوتمام (پوره مې کړ) پر تاسې (اې مؤمنانو!) نعمت (دین په اکمال) اوغوره کړما تاسې ته اسلم له جهت د دین

کفایت کتب خانه قبلی گرام پیبل
https://t.me/kafayat2395

(پورتاکیږه په ټولو ادیانو کې)

یعنې دین په هر اعتبار سره مکمل شوی دی. همدغه راز دین راوړونکی نبي هم کامل اومکمل دی، څنګه چې اسلام نه وروسته بل دین نه شته. همدغه راز سرکار دوعالم نه وروسته هم بل نبي نه شته، فرائض څوک هم نه شي بدلولی، لکه پنځه لمونځونه نه څوک درې کولی شي اونه یې څوک شپږ کولی شي، زکات د خلویښتمې برخې نه څوک نه ښکته کولی شي اونه دیرش. حج دخانه کعبې پرته بل ځای کې څوک نه شي کولی. روژه دورځې په ځای څوک نه شي نیولی؛ نوشریعت تر قیام قیامت پوري مکمل شوی دی. لهذا دې نبي ضرورت نه شته چې هغه نوی شریعت راوړي.

پنځم دلیل:

ارشاد رباني دي:

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ. (سورة النور: ۵۵)

ترجمه الله تعالی وعده کړې ده هغوکسانو سره کومو چې په تاسوکې ایمان راوړی ونیک عملونه یې کړي دي چې هغه (الله) به ضرور دوی په خپله ځمکه کې خلیفه ګان جوړ کړي. څنګه چې یې تاسو نه مخکې خلک خلیفه ګانجوړ کړي وو.

دا ایت دصحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن متعلق رانازل شو. چې سره واخله پنځو پورې اطاعت ګذار وو، دوی ته هم الله تعالی فرمایلی و، چې الله تعالی به تاسو خلیفه ګان جوړوي که نبوت جاري و؛ نو بیابه یې فرمایل چې هغه به تاسو هم نبي جوړ کړي. خودخلافت ذکر کول اودنبوت ذکر نه کول دادلیل دی، ددې خبرې چې دوی او د ددوی نه وروسته نبي کریم ﷺ دنبوت دروازه بنده کړه، اوس به هیڅ نبي نه راځي.

حضرت مولانا دوست محمد قریشي رحمه الله فرمایي: (چې حضور ﷺ نه وروسته خلیفه ګان جوړشول. خونبي جوړ نه شو، تفصیل داچې:

حضرت ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (صدیق) جوړ شو.

حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (فاروق) جوړشو.

حضرت عثمان غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (ذوالنورین) جوړ شو.

حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (حیدرکرار) جوړ شو.

حضرت خالد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (سیف الله) جوړ شو.

حضرت ابوعبیده بن الجراح رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (امین اُمت) جوړ شو.

حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (رئیس الفقهاء) جوړ شو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (حافظ الحدیث) جوړ شو

حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (موذن مسجد نبوي) جوړشو.

مګر د درس نبوت شاګردان دحضور ﷺ په اتباع سره نبي اورسول جوړنه شو ، نه تشریعي نه غیر تشریعي نه ظلي نه بروزي. (مخزن التقاریر ص ۲۸۱)

شپږم دلیل:

ارشاد رباني دی:

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ (۸۳) وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ (۸۴) وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ (۸۵) وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ (۸۶) وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (۸۷) (سورة الانعام)

ترجمه: اودا زمونږ هغه دلیل و چې ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ته مو دقوم په مقابله کې ورکړی و. مونږچې دچاپه حقله وغواړو؛ نومرتبې یې لوړې کړو، بېشکه ستارب دحکمت خاوند اوپه هرڅه پوه دی. اومونږ هغه ته اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام (غوندې زوی) اویعقوب عَلَيْهِ السَّلَام (غوندې لمسی) ورکړل اوهریومو په سمه لار راوان کړ، هغه لاره چې پخوا مو نوح عَلَيْهِ السَّلَام ته بنودلې وه اوبیادهغه په اولاد کې مو داود، سلیمان، ایوب، یوسف، موسی اوهارون علَيْهِمُ السَّلَام ته وښوده اونیکانو ته مونږ داسې بدله ورکوو، اوزکریا، یحیې، عیسی اوالیاس علَيْهِمُ السَّلَام ته موښودلې وه په دوی کې هریو نیک عمله وو، اواسماعیل، الیسع، یونس اولوط علَيْهِمُ السَّلَام هدایت وکړ، اوپه دوی کې هریوته مو (دخپلې زمانې) په نورو خلکوفضلت ورکړ، او دډوی ځینو پلارانو، ځینو اولادونو اوځینو ورنږو ته موفضیلت ورکړ اومونږ دوی غوره کړل اودوی ته مودنیغې لارې هدایت وکړ.

مولانا دوست محمد قریشي رَحِمَهُ اللهُ ددې ایاتو په تفصیل کې فرمایلي: ''ددې ایتونه دروښانه ورځې په ځیر واضحه ده چې دنبوت په درجو باندې یې هغه خلک فائز کړل دچا چې درجې او رتبې لوړې وې، هدایت یافته وو، نیک کار وو، اعلی مرتبو باندې فائز وو، ګناهګار نه وو، دهر چا ټولې خلک وو. عام قسم بازاري خلک نه وو، په صراط مستقیم تلو والا وو، ګمراه نه وو'' ددې مقابله کې مرزا قادیاني ته وګورئ چې اوچته درجه خو یې داچې په سکول کې فیل شوی و، چرګ به جوړیدو بیا پټواري جوړ شو، هدایت یافته خو دومره چې ښځو باندې به یې چاپې کوله، مخالفینو له پاره به یې بازاري ژبه استعمالوله خپلو مخالفینو ته یې دسور

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اودکنجري اولاد وويل: په صراط مستقيم خوداسې چې دانګريز په اشاره يې دعوه نبوت وکړه لو آپ اپنے دامن میں صیاد آگیا

مرزا قادياني په خپله ژبه کافر:

مرزا قادياني د دعوې نبوت نه مخکې پخپله مدعي نبوت والا کافر ملي وو اودخاتم النبيين معنا يې اخري نبي ويلي و، خوبيا وروسته دبرطانيې په اشاره باندې دنبوت دعوه يې وکړه اودخاتم النبيين په معنا کې يې دوګ بوګ وکړ، مرزا وايې چې: حديث "لَا نَبِيَ بَعدِي" دومره مشهور و چې چا ته ددې په صحت کې کلام نه و، کتاب البرميه ص۱۸۴. قرآن مجيد کې ختم نبوت په کمال سره وضاحت شوی دی اودزور يا دنوي نبي تفريق کول شرارت دی نه په حديث کې نه په قرآن کې دا تفريق موجود دی، ايام الصلح ص۱۴۲چې دهغه مطلب دادی چې حضور ﷺ وفرمايل: زما نه وروسته بل نبي نه شته اوالله تعالى ده ته خاتم الانبياء ويلي.تحفهٔ بغداد ص۲۸ سُمِّيَ نَبِيُنَا خَاتَمَ النَّبِيِّين (زمونږ نبي ته خاتم النبيين نوم ورکړل شو، حمامة البشرى ص۳۴طبع اولې ۱۳۱۱ه داکار دمسلمانانو بچې بچې پيژني چې حضور ﷺ نبي اخر الزمان او اوپه ص۱۲۰کې دي ،اګرچې حضور ﷺ دټولو انبياوو نه وروسته راغی، چې دديوال نبوت اخري خښته ده هغه حضرت محمد مصطفى ﷺ دی"ملفوظات احمديه ص۸۲. فَاكَانَ لِي اَن اَدَعِيَ النبوة وَاَخرَجَ مِنَ الإسلام وَالحقُّ بِقَومِ الكُفِرُون (ملفوظات احمديه، ماته هيڅ حق نه شته چې دنبوت دعوه وکړم اوداسلام نه وخم اودکافرو قوم سره ملاو شم. په دې ټولو حوالو کې مرزا قادياني درسول الله ﷺ ختم نبوت تسليم کړی دی ددې نه لږ زمانه وروسته يې دنبوت دعوه وکړه؛ نو په خپله ژبه دپورتني حوالو سره مرزا کافر اومرتد شو اودائرې اسلام نه خارج شو.

د نبوت دعوه:

اول کې مرزا قادياني ختم نبوت تسليم کړ اومنکر ختم نبوت ته يې کافر اومرتد وويل، بيا يې خپله دنبوت دعوه وکړه. لهذا هغه په خپله خوله باندې کافر اومرتدشو، اول دغه حوالې په ګومو چې مرزا قادياني خاتم نبوت حضور ﷺ منلی و، اوس وګورې چې ده د نبوت دعوه څنګه وکړه وايې: "هر يوداسې کس چې موسى عَلَيهِ السَّلَام خو مني، مګر عيسى عَلَيهِ السَّلَام نه مني يا عيسى عَلَيهِ السَّلَام مني. خو نبي اکرم ﷺ نه مني يا نبي اکرم ﷺ مني، خو مسيح موعود «مرزاقادياني» نه مني هغه يوازې کافر نه، بلکې پوخ کافر اودائرې اسلام نه خارج دی "(کلمة

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

الفصل،ص ۱۱۰ مسیح موعود(مرزا قادیاني) خپله محمد رسول دی چې اشاعت اسلام له پاره يې دوباره دنیا ته تشریف راوړی دی" له دې وجې موږ ته دنوي کلمي ضرورت نه شته هو! که محمد رسول الله ﷺ په خای که بل څوک وي؛ نو بیا به ضرورت و. (کلمة الفصل، ص۱۵۸

دختم نبوت مثال:

جناب سرورکونین ﷺ نه مخکې دانبیاوو مثال په اسمان نبوت باندې دستورو اوسپوږمی په څیر دی اودجناب نبي کریم ﷺ مثال دلمر په څیر دی څنګه چې دلمرختونه مخکې ستوري پرقیږي، مګر دلمرختو نه وروسته پټ شي، همدغه راز انبیاکرامو علیهم السلام په خپل خپل تشریف راوړو. مګر کله چې جناب نبي کونین ﷺ تشریف راوړو؛ نو اوس دیو نبي یعني ستوري ضرورت نه شته.

اووم دلیل:

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُمْ مِنْ كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنْصُرُنَّهُ (سورة ال عمران: ۸۱)

ترجمه: اویادکړه اې محمده! چې الله تعالی دانبیاوو کرام علیهم السلام نه وعده اخستې ده. چې اوس ماتاسوته کتاب اوحکمت درکړی دی، بیاچې یوبل رسول راشي چې ستاسو دتعلیم تصدیق کوي؛ نوتاسوبه خامخاپه هغه ایمان راوړی اوخامخابه دهغه امدادکوی

دډې ایت نه هم دختم نبوت تصدیق کیږي چې الله رب العزت دټولوتیروشویو انبیاوو علیهم السلام نه دنبي اکرم ﷺ دنبوت دتاید اونصرت وعده واخیسته، معلومه شوه چې وروسته بل یو نبي هم راتلو والا نه و، که چیرته و؛ نو بیا به دنبي اکرم ﷺ نه هم دهغه دنصرت اوتاید وعده اخیستل کیده، داخبره هم ثابته ده چې هر یو نبي په خپل خپل وخت کې دنبي اکرم ﷺ تصدیق کړی دی اودحضور ﷺ دراتګ زیری يې اورولی دی، تردې چې ځینو نبیانو، لکه حضرت موسی علیه السلام دحضور ﷺ دامتي کیدو ارزو وکړه.

دویمه نکته:

په دې ایت کې داهم وویل شول چې: هغه نبي اخرالزمان به دشریعت دتیروشویو انبیاوو علیهم السلام مصدق تصدیق کوونکی وي، له دې نه معلومه شوه چې تصدیق خو هتله کیږي، کله چې مخکې نه شریعتونه راغلي وي، ګني تصدیق څه معنا لري؛ نو هغه شریعتونه دمخکې نه وو، دهغه تصدیق حضور ﷺ وکړ، دحضور ﷺ دشریعت نه بل شریعت نه شته، بل نبوت هم نه شته. لهذا مدعي دنبوت. که مسیلمه کذاب وي یا مسیلمه پنجاب وي یا بل څوک دروغژن کذاب وي، دجال او د دایرې اسلام نه خارج دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دقرب قیامت نه دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نبوت ثبوت:

ارشاد ربالعزت دی:
اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ. (سورة القمر: ۱)
ترجمه رانزدي شو قیامت او څیرې (دوه ټوټې) شوه سپوږمی
مقصد دادی چې ټول تیرشوي شریعتونه دقیامت دجزاء او سزا له پاره راغلي وو. کله چې نبي اکرم ﷺ داخري نبي اورسول په حیثیت باندې اخري شریعت راوړو؛ نو اوس به قیامت نږدې. دجزاوسزا عمل به شروع کیږي، په مشکاة شریف کې ارشاد نبوی دی
بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ. (مشكاة المصابيح، كتاب الفتن، عن انس بن مالك رضي الله عنه)
ترجمه زه اوقیامت (شهادت اودمینځ ګوته یې یوخای کړه) داسې یو

غلبه دین محمدي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دختم نبوت ثبوت:

ارشاد ربانی دی: هُوَالَّذِي اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ. (سورة صف: ۹)
ترجمه الله تعالی هغه ذات دی چې خپل رسول یې دهدایت اودحق دین سره راولیږه چې دا دین په نورو ټولو دینونو باندې غالب کړي، اګرکه مشریکان دغه غلبه بده ګڼي
په دې ایت کریمه کې الله تعالی دحضور ﷺ دشان اقدس او د دده دشریعت حقه برتري اوعظمت بیان کړی دی، چې الله تعالی به دحضور ﷺ دین ته په ټولودینونو باندې غلبه ورکړي: نو په باقي دینونو باندې غلبه به هتله وي، کله چې هغه دمخکې نه موجود وي. که دمخکې نه موجود نه وي: نو غلبه به په چا باندې وي، معلومه شوه چې دحضور ﷺ نه مخکې شریعتونه حق وو اوهغه هم دحضور ﷺ دراتګ وروسته منسوخ شول. لهذا کوم شریعت اونبوت چې دحضور ﷺ نه وروسته راځي هغه به د په دروغو اوخرافاتو مبني وي، شریعت به نه وي. ددې ایت تشریح یې نبي اکرم ﷺ وفرمایه چې یو وخت به راشي چې اسلام به هر کچه اوپوخ کور ته ورسیږي، ځنګه یې چې وفرمایل:
وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ. (سورة الم نشرح: ۴) ترجمه: مونږ ستا ذکر لوړ کړ.
نن دنیا په ګوټ ګوټ کې دنبي مکرم ﷺ نوم اخیستونکي اُمتیان موجود دي دادی کمال دنبوت اوشریعت

نور خدا هے کفر کی حرکت پہ خندہ زن پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عالمي نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ارشاد رباني دی: وَمَآ أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ (سورة الانبياء: ۱۰۷)،

ترجمه: او نه يې ليږلی موږ ته (اې محمده!)، مگر رحمت له پاره د (ټولو) خلکو.

دا ايت کريمه هم درسول الله ﷺ ختم نبوت ښکاره واضحه کوي، څنګه چې الله تعالی خپل بيان وفرمايل.

رب العلمين دټولو جهانونو رب دی؛ نو په جهانونو کې مکان شامل دی، يعنې هر زمانې اودهر ځای رب دی، همدغه رازنبي کريم ﷺ دټولو جهانونواوهر زماني اوهرمکان له پاره رحمت دی، العالمين مصطفی رحمة للعٰلمين الله نه پرته...بل رب العٰلمين نه شته، مصطفی نه پرته بل رحمة للعٰلمين نه شته.

کافي عالم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ارشاد رب العزت دی: وَمَآ أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ. (سورة سبا: ۲۸)

ترجمه: اونه يې ليږلی موږ ته، مگر دټولو جهانونوله پاره.

يعنې ترقيامته دټولو جهانونو له پاره حضور ﷺ رسول دی په قول دقاسم الخير مولانا نانوتوي رحمه الله چې دحضور ﷺ ختم نبوت زماني او مکاني دی، که مرزا قادياني نعوذبالله نبي وګڼل شي؛ نو ددې مطلب به داوي چې حضور ﷺ دلږ وخت له پاره دلږو خلکو نبي شواودچا نبي نه شو چې دا سراسر تحريف قرآني دی.

عالمي نذير:

تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا. (سورة الفرقان: ۱)

ترجمه: ډېربرکتناک څښتن د ډېر خير اوپورته دی هغه (ذات) چې نازل کړی يې دی قران پر بنده خپل (محمد ﷺ) له پاره ددې چې شي دی خلکوته ويروونکی (له جحيمه).

څنګه چې قرآن عالمي دی، همدغه راز نبي کريم ﷺ هم عالمي دی، قرآن هم اخري..... نبي هم اخري، يو قرآن ناطق دی..... بل قرآن ساکت دی، يو قرآن هغه دی چې په المارو کې کيږودل کيږي اوبل هغه دی چې ګرځي دمکې مدينې اودطائف په کوڅوکې، په غرونو. ريګستانونو کې. دحضرت عائشې صديقې رضی الله عنها نه دحضور ﷺ داخلاقو باره کې پوښتنه وشوه، وې فرمايل: "كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآن" دحضور ﷺ اخلاق قرآن دی، يعنې که دحضور ﷺ اخلاق کتل وي؛ نو قرآن ته وګورئ څه چې په قرآن کې دی، هغه عملا د ده په زندګي کې دي.

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د نبوت محل:

مولانا محمد یوسف لدهیانوي شهید رحمه الله فرمایي: د دوو سوو (۲۰۰) نه زیات احادیث دا سې دي چې په هغه کې نبي کریم ﷺ په مختلفو عنواناتو، مختلفو طریقو، مختلف اسلوبونو، مختلف انداز کې مسئله ختم نبوت بنودلې ده.

د بخاري شریف حدیث دی سرکار دوعالم ﷺ فرمایي:

مَثَلِي وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بُيُوتًا فَأَحْسَنَهَا وَأَجْمَلَهَا إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ مِنْ زَوَايَاهُ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ بِهِ وَيَعْجَبُونَ لَهُ وَيَقُولُونَ هَلَّا وُضِعَتْ هَذِهِ اللَّبِنَةُ قَالَ فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ. (متفق عليه: عن ابي هريرة رضي الله عنه)

ترجمه زما اوانبیاوو مثال دهغه بنده په څیردی چاچې یو کور ډېرښایسته جوړ کړی وي. خوبونه خښته یې نه وي لګولي، خلک ترې تاویږي ګوري ډېر په تعجب کې وي. خوواې چې دابونه خښته هم ولګوی. حضور ﷺ وفرمایل: هغه یوه خښته زه یم اوزه اخري نبي یم.

په دې مثال کې حضور ﷺ نبوت یو بنایسته محل سره تعبیر کړ چې دهغه ابتداء د حضرت ادم علیه السلام نه وشوه. مګر د دې محل په پوره کیدو کې یوه خښته باقي وه، وېې فرمایل هغه یوه خښته زه یم. اوس دا محل پوره شوی دی، اوس زیات ګنجائش نه شته. لهذا دا محل پوره دی. اوس بل نبي نه راځي، غل او ډاکو خو راتلای شي مګر نبي نه.

اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اواخري امت:

د حجة الوداع په اخري خطبه کې حضور ﷺ وفرمایل:

وَأَنَا آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ وَأَنْتُمْ آخِرُ الْأُمَمِ. (سنن ابن ماجه، عن ابي امامة الباهلي)

ترجمه زه اخري نبي یم اوتاسو اخري امت یئ

د حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام پیدایښن نه مخکې تاج ختم نبوت:

محمد ﷺ وفرمایل:

إِنِّي عِنْدَ اللّٰهِ مَكْتُوبٌ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِي طِينَتِهِ. (مشكاة، عن العرباض بن سارية)

ترجمه زه دالله په حضور کې خاتم النبیین په هغه وخت کې لیکل شوی وم، کله چې ادم علیه السلام دخښې په خمیر کې و.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

قائد انبیاء:

په یو بل روایت کې تاجدار دوجهان فخر رسل ﷺ فرمایي:

أَنَا قَائِدُ الْمُرْسَلِينَ وَلَا فَخْرَ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ وَلَا فَخْرَ وَأَنَا أَوَّلُ هَابِطٍ وَمُشَفَّعٍ وَلَا فَخْرَ. (رواه الدارمي، مشكاة عن جابر رضي الله عنه)

ترجمه: زه دټولو انبیاوو قائد یم، په دې فخر نه کوم، زه اخري نبي یم، فخر نه کوم، په قیامت کې اولنی شفاعت کوونکی به یم، فخر نه کوم اوزما شفاعت به دټولو نه مخکې قبلیږي اوپه دې زه فخر نه کوم.

یعني داټول دالله تعالی انعامات دي زما ذاتي څه کمال نه دی.

حضرت امام ابن کثیر رحمه الله فرمایي: ددین پوره کیدل اودنبوت پوره کیدل اوختمیدل دالله تعالی په غټو نعمتونو کې دي فرمایي: هٰذِهِ أَكْبَرُ نعم الله تعالىٰ عَلَىٰ هٰذِهِ الأُمة حيثُ اكملَ تعالىٰ لهم دينهم...الخ (ابن کثیر، ماخوذ ازخطبات قاسمي)

خلاصه داده چې ددین پوره کیدل دالله تعالی په لویو نعمتونو کې دي په امت محمدیه باندې اوس دبل شریعت اونبي ضرورت نه شته دالله رحمت اوسلامتي دې وي په حضور ﷺ باندې، له دې وجې الله تعالی حضور ﷺ دټولو جن و انس نبي جوړ کړ اوراویې لیږه.

همدغه راز سرکاردوعالم ﷺ فرمایي:

أَنَا رَسُولٌ مَنْ أَدْرَكَهُ حياً وَمَنْ يُولَدُ بَعْدِي. (كنز العمال،الطبقات الكبرى لابن سعد: عن حسن البصري مرسلا)

ترجمه: زه دهغو خلکو چې کوم اوس موجود دي نبي یم اودهغو خلکو هم چې زما نه وروسته راتلونکي دي.

حضرت سید نفیس مدظله فرمایي:

تاج هے ختم نبوت کا سر اقدس پر گرد انوار هی انوار نظر آتے هیں
حلق ناموس محمد ﷺ پہ کٹانے والے کچے جو هیں تو یهی احرار نظر آتے هیں

یارَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِماً أَبَداً عَلَىٰ حَبِيبِكَ خَيرِ الخَلقِ كُلِّهِمِ صَلُّوا عَلَيهِ وَآلِهِ

ختم نبوت دالله تعالی رحمت تامه دی:

دحضور ﷺ دراتګ نه مخکې کم وبیش یو لاکه خلیریشت زره انبیاء علیهم السلام نیا ته راغلي وو، خوهغوی محدود وخت، محدود قوم، محدودشریعت راوړي و اومخلوق یې دالله تعالی لوري ته راوغوښت اودالله تعالی په رحمت کې یې شامل کړل، دمخلوق دغلامي یې خلاص اودخالق په غلامي یې باندې یې راوستل، دباطله دینونو نه یې خلاص اوپه حق دین یې گامزن کړل، دمصیبت اودعذاب دزندګي نه یې خلاص چې دسکون اواطمینان اودمغفرت

کفایت کتب گھانہ ٹیلیگرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زندگي ته يې راوستل. سلام دې وي په هغو هستيو باندې چې تکليفونه اودردونه يې برداشت کړل اوپيغام توحيد يې ورساو. په اخر کې جناب نبي کريم ﷺ تشريف راوړو اودغول امت له پاره ترقيامته کامل اومکمل اوترقيامته پورې تولو ضروريات زندګي باندې حاوي شريعت راوړو تر قيامته دحضور ﷺ په دين کې رهبري او رهنمايي موجوده ده. نجات په هم په دې کې وي اوکاميابي به هم په دې کې وي، داسې ده لکه چې دالله درحمت درياب پوره په جوش کې روان دی درنها لمر پوره په زور سره منور اوپرقيږي دسمندر مخې ته واړه واړه حوضونه هيڅ هم نه دي، درحمة للعٰلمين ددين کامله او حقه نه وروسته دبل شريعت او طريقت ضرورت نه شته. ددې لمر ستوري سپوږمۍ په څير شريعت مخې ته مخکيني شريعتونه دستورو په څير پټ شو. بدقسمته دې هغه خلک کوم چې لمر پرېږدي اووږو وړو ټندیلونو پسې ځي، محرومه دې هغه کس چې دذخاردرياب نه فائده اوخته نه کړي. په دې زمانه کې دملکونو اوعلاقو فاصلې ختمې شوې دي پرته تاره ريډيايي چپو زمانه ده داوقتو فاصلې ختمې شوي دي، عقل هم اوفطرت هم دا تقاضا کوي چې يو شريعت وي چې مشکلات رانه شي مثلاً: په نن سبادور کې مختلف شريعتونه ومنل شي؛ نو سهار کې ئې پاکستان کې وي اوماښام په لندن کې وي هلته چې ورسيږي؛ نو پوښتنې به کوي چې جناب په لندن کې کوم يو شريعت دی، ايا دلته لمونځ کيږي، په بله ورځ فرانس ته ورسيږي چې جناب ددې ځای شريعت ځنګه دی دعبادت اومعاملاتو دلته څه احکام دي؛ نو دومره تکليفونه ورکول دا ذعقل اوفطرت دواړو خلاف ده، دختم نبوت نه انکار کول انسان بې په هغه تير شوي محدوديت کې بندول په زمانه وخت اوعلاقو کې محدود کول اودالله تعالى رحمت واسعه محدود کول دانسانيت عروج وزوال يو ځای کول ترقي په موټې کې بندول کله چې ترقياتي فاصلې ختمې شوي مشکلات ختم شو انسان دعالم ګوټ ګوټ ته ورسيدو، انسان دډنيا په يو ګوټ کې ناست وي اودبل ګوټ حالات ګوري او اوري ټيلي ويژن اوريډيو په ذريعه، وائرليس په ذريعه خو دنيا په اعتبار سره مادي اعتبار سره دنيا کټ کول او ورانول. داځه عقلمندي اودانشمندي ده له دې وجې چې دنبي اکرم ﷺ دنبوت اورحمت لمن پرېږدي اووږو وړو برخو کې تقسيم شي هغه محرومه اوبدقسمته دي، الله تعالى دې عقل اوپوهه ورنصيب کړي.

بمصطفٰے برسان خويش را که دين همه اوست　　گر باو نه رسيد ی تمام بو لهبيت

دپنجاب ارباب نبوت شريعت وائي چې "يه مومن پارينه هے کافر" (مولانا ظفرعلي رحمه الله)

آوازہ حق انهتا هے کب اور کدهر سے　　مسکين دلم مانده دريں کشمکش (اقبال)

فتنه ملت بيضا هے امامت اس کی　　جو مسلمان کو سلاطين کا پرستار کرے (اقبال)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تاريک ترين فتنه:

مولانا محمد يوسف لدهيانوي شهيد رحمه الله فرمايي. ددي دوردتولو نه تاريک ترين اوبدترين فتنه قاديانيت دی چې ددي دوه رخه دي. يو اعتقادي اودينياتي اودويمه سياسي. اعتقادي لحاظ سره قاديانيت داسلام متوازي يو دين دی. دنبوت محمديه متوازي يو بل نوی نبوت دی. دقرآن کريم مقابل يوه بله نوي وحي. اسلامي شعائرو مقابل قادياني شعائر. دامت محمديه مقابل امت قادياني. مسلمانانو دمکې مقابل نوي مکة المسيح. دمدينې مقابل کې مدينة المسيح. داسلامي حج په مقابله کې ظلي حج. داسلامي خلافت مقابل قادياني خلافت. دامهات المومنين په مقابله کې قادياني ام المومنين. (ختم نبوت ستمبر ۱۹۸۲ئ)

الله تعالی دې مسلمانان ددې فتنې نه محفوظ وساتي. آمين!

* و آخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمين *

دربيع الاول دمياشتې پنځمه خطبه

دجُمعې دلمانځه فضيلت:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ. (سورة الجمعة: ۹)

ترجمه: اې هغوکسانو چې ايمان مو راوړی دی، کله چې (اول) اذان وشي له پاره دلمانځه په ورځ دجُمعې؛ نوځغلئ منډې وهئ طرف د ذکر دالله ته اوپريږدئ (بيع اوشرا، پلورل اوپيرودل) داتګ لمانځه ته، خير، بهتر دی هرغوره دی تاسې ته، که چيرې تاسې پوهيږئ (په اخروي نفع اونقصان خپل).

حضراتو! داد ربيع الاول مياشت ده دهجرت سفر چې ددې اغاز دصفر المظفر نه شوی و، جناب نبي کريم ﷺ په ربيع الاول کې مدينې منورې ته اورسيدو اودتولو نه اول ددوشنبې په ورځ (۸) ربيع الاول سن (۱) هجري مطابق (۲۳) ستمبر (۲۲۲) باندې قبا ته جلو افروز شو، داسلام دتولو نه لومړی مسجد قبا جوړ شو، ټُبا کې له يو څو ورځو پاتې کيدو وروسته مدينې منورې ته روان شو په لاره کې دبني سالم مسجد کې يې دجُمعې لمونځ وکړ دا دوی لومړی دجُمعې لمونځ اوخطبه وه، ددې مناسبت په اعتبار سره ددې خطبې عنوان دجمعې دلمانځه فضيلت دی، دپورته ذکرشوي ايت په تفسير کې حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمايي:

کفايت کتب خانه ټيلی گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

اې دعوت ایماني قبلولووالا کله چې دجمعې په ورځ باندې دجمعې لمانځه له پاره اذان وشي؛ نوتاسو دالله تعالى دذکر اوياد له پاره بې له خنډه راځئ اودالله تعالى لورې ته راوګرځئ او هغې اواخیستل اوخرڅول بالکل پریږدئ داکاروبار پریښودل اودلمانځه لورې ته تیز راتلل ستاسو له پاره بهتر دي که تاسو پوهیږئ، (ندا) داذان په معنا استعمال شویدي. مطلب دادی چې کله دجُمعې اذان وشي؛ نو کاروبار پریږده اودالله تعالى دذکر لورې ته راځه. دسعي نه مراد په منډه راتلل نه دي. بلکه کاروبار پریښودل او دریدل اوسیده مسجد ته راتلل دي. اذان نه مراد دخطبې اذان دی کله چې امام په منبر باندې کینې او کیږي. ځکه دا دویم اذان په اجماع دصحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِین دحضرت عثمان غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په دور کې شروع شوی دی. خوحرمت دبیعې د اولنې اذان نه وروسته هم ده، ځنګه چې اشتراک علت له وجې په حکم کې هم اشتراک، هوا دامام مخې ته اذان کې دا حکم قطعي اومنصوص دی اوپه اولنې اذان کې دا حکم ظني دي، ((یٰاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا)) کې اګر چې عام خطاب دی. خوپه کومو خلکو چې جمعه فرض نه ده، مثلا: ښځه، مریض، مسافر اوداسې نور ... به عام حکم کې نه وي. حضرت شاه عبدالقادر رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: دیهودو دعبادت ورځ هفته وه تولې ورځ به سودا منع وه له دی وجې یې وفرمایل چې ته دروزې تلاش کوه اوپه دی کې هم دالله یاد مه هیروه. خلاصه داچې دیهودو دهفتې اودنصاراوو دیک شنبې ورځ مقرروه، احادیث مبارکه کې دجُمعې دورځې دپر فضیلت راغلی دی په یو روایت کې راغلي دي خوک چې دجُمعې په ورځ مړ شو. الله تعالى دهغه له پاره دشهید اجر لیکي اودی دقبر دفتنې نه محفوظ ساتي، جُمعې په ورځ یوازې دخطبې اولمونځ له پاره اخیستل اوخرڅول بندیدو حکم دی اودلمانځه نه وروسته دکاروبار کولو اجازه ده، تلاش معاش اودروزې کوشش کول یې خپل فضل فرمایلي. ځنګه چې دقرآن عامه قاعده ده چې رحمت روحاني ترقي له پاره اوفضل مالي ترقي له پاره په عام دول استعمالوي، اګرچې کله کله ددې برعکس هم وي، بیایې تاکید وفرمایه: چې تلاش روزګار یا کاروبار اودتجارت دامطلب نه دی چې دالله تعالى یاد اوذکر نه بالکل غافله شه ځه مشغله هم پکار ده الله تعالى په هر حال کې یاد ساته که ذکر لساني وي یا ذکر قلبي دالله تعالى ذکر حقیقي زندګي ده، ګني غافل کې زندګي کوم ځای. (تفسیر کشف الرحمٰن)

سیدالایام:

دجُمعې ورځې ته (سید الایام) ویل شوي دي، په حدیث مبارک کې دي چې الله تعالى دجُمعې په ورځ شپږ لاکه کسان د دوزخ نه ازادوي

جشمِ رحمت سے ادھر کو بھی نظر کیجئے گا اسی امید پہ آیا یہ گنہگار بھی ہے

جُمعې ته جُمعه ځکه وایي چې په دي ورځ دحضرت ادم عَلَیْهِ السَّلَام تخلیق جمع اوپوره شو

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خینې خلک وایې چې جُمعه ورته ځکه وایې چې په دې ورځ باندې حضرت آدم علیه السلام د جنت نه راکوز کړای شو. په دنیا کې په دې ورځ باندې حضرت حوا علیها السلام سره جمع شوې وه، دځینو حضراتو قول دی چې په دې ورځ باندې ټول خلک دالله تعالی عبادت اولمانځله پاره جمع کیږي له دې وجې دې ته «یوم الجمعه» وایې

جمعه اسلامي نوم دی په زمانه جاهلیت کې به یې دې ورځې ته عروبه ویلې، دجُمعې ورځ د حضور ﷺ دبعثت نه مخکې زمانه جاهلیت کې هم دیو شرف اوعزت والا ورځ ګڼل کیده، مګر دین اسلام دا ورځ ددې دحقیقي عظمت اوشرف پیش نظر،هر دعظمت اودفضیلت والا ورځ مقرر کړه. الله تعالی دلمونځ نه زیات بل عبادت دومره زیات غوره نه دی، همداوجه ده چې په بنده ګانو دالله تعالی دطرفه چې دنعمتونو بې انتهاء باران کیږي، چې دهغه سلسله دانسان دپیدایښې نه تر مرګه پورې ده، بلکې دپیدایښې نه مخکې اوله مرګه وروسته هم انسان دالله تعالی دنعمتونو سره مخ وي. ددې دشکریه ادا کولو له پاره په ورځ کې پنځه وخته دلمونځ کولو حکم دی. بیا داچې څومره غټ جماعت وي هغومره به زیات ثواب وي اوددې پرته به نورهم فائدې ظاهیرې اودا به هغله ممکن وي چې دمحلو خلک راجمع شي اوپه یو ځای باندې لمونځ کوي، هره ورځ په محله کې پنځه وخته راجمع کیدل دپریشانۍ باعث وو له دې وجې په هفته کې یوه ورځ دټولو محلو نه دخلکو راجمع کیدل اوپه یو ځای باندې لمونځ کولو حکم وشو. مخکینې اُمتونو ته هم الله تعالی په دې ورځ دعبادت حکم کړی و. خودې خلکو سرکشي اوتکبر وکړ اوددې نتیجه داشوه چې دډېرلوی سعادت نه محرومه پاتې شول او داسعادت هم دامت مرحومه په جولی کې اله تعالی واچاو،

یهودیانو دهفتې ورځ مقرر کړه، ځکه چې په دې ورځ الله دمخلوق دپیدایښې نه فارغه شو، عیسایانو دیک شنبې ورځ مقرر کړه. په دې خیال چې داد ابتداء والا ورځ ده (مظاهر حق اوس دا دواړه فرقې په دې ورځو دعبادت دپاره زیات اهتمام کوي، خپل ټول کارونه پریږدي اوچرچ اوعبادت خانو ته عبادت له پاره ځي. په عیسایي حکومتونو کې په دې ورځ دسرکاري دفاترو چُوتي وي. خینې اسلامي حکومتونو ته هم ددې خبرې نه رغب حاصل دی چې ددې خالص عیسایي طرز عمل چُوتي کې بدلي رانه وسته اودجُمعې دورځې چُوتي په ځای دیک شنبې په ورځ چُوتي باندې مجبوره دي.

دجُمعې دلمانځه فضیلت:

دجُمعې لمونځ فرض عین دی، قرآن مجید، احادیث اواجماع اُمت نه ثابت دی اودا داسلام په لوی شعار دی، دجُمعې دلمانځه دفرضیت نه انکار کونکی کافر اوپرته له عذر پرینښودونکی فاسق دی، دجُمعې دلمانځه فرضیت رسول الله ﷺ ته په مکه معظمه کې معلوم شوی و، مګر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وکفر دغلبي له وجي دادا کولو موقعه ملاو نه شوه. دهجرت وروسته مدیني منوري ته راتلو سره دجُمعې لمونځ ادا کول شروع ییې کړل (مظاهر حق)

مدیني منوري ته دراتګ نه مخکې حضرت اسعد بن زراره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخپل اجتهاد او کشف صادق له وجي دجُمعې لمونځ ادا کول شرع کړي و. علم الفقه (بحواله مظاهر حق)

دجُمعې دورځې فضیلت:

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ...(رواه مسلم)

ترجمه حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په هغو ورځو کې کومو کې چې لمر راخیژي دټولو نه بهترینه ورځ دجُمعې ده، په دې ورځ ادم عَلَيْهِ السَّلَام پیدا شوییعني د ده تخلیق پوره شو، په دې ورځ دی جنت ته داخل شو اوپه همدې ورځ دی دجنت نه وویستل شو اوپه خمکه راکوز کړای شو، اوقیامت به هم دجُمعې په ورځ وي. (مظاهر حق)

دحضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام دپیدایښن ورځ کیدو له وجي دجُمعې ورځ فضیلت خو ظاهر دی. خوجنت ته وتو له وجي دجُمعې دورځې فضیلت له دې وجي دی چې په اصل کې ادم عَلَيْهِ السَّلَام دجنت نه وتل په خمکه باندې راتلل دانبیاوو او اولیاوو دپیدایښن سبب اود دوی دمقدس زندګو نه بیشمیره حسناتو ظهور باعث جوړشو، همدغه راز حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام مرګ بارګاه رب العزت کې دحاضریې سبب جوړ شو، همدغه راز دقیامت قائمیدل جنت ته د داخلیدو سبب دی. په دې کې به دنیکوکارواوپرهیزګارو سره شوي وعدې ظاهرې شي. دابن مسیب رَحِمَهُ اللهُ قول دی چې الله تعالی ته جمعه دنفل حج نه زیاته محبوبه ده، په جامع الصغیر کې دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت مرفوعا منقول دی چې(جمعه حج المساکین) دی.

دجُمعې په ورځ دقبولیت وخت:

وَعَنْ أَبِي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُول الله صَلَّى الله عليه وسلم إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ فِيهَا خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ. (مسلم)

ترجمه حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې سرتاج دوعالم ﷺ وفرمایل: دجمعې په ورځ یو داسې ساعت راځي که هغه یو بنده ته ملاو شي اوپه دې کې دالله تعالی نه دنیکې سوال وکړي؛ نو الله تعالی به ده ته نیکي ورکوي (یعني په دې ساعت غوښتونکي هره دعا به ضرور قبلیږي)

تشریح: دجمعې په ورځ یو خاص وخت دی چې په هغه کې دبنده له طرفه هر یو درخواست درب کریم په در کې قبلیږي ،مګر هغه ساعت متعین اوظاهرنه دی، بلکې دا پټ ساتل شوی دی،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دایې نه دي ویلې چې دا ساعت کله راځي اوددې پټ ساتلو حکمت هم دادی چې خلک دې
ساعت په امید سره ټوله ورځ مشغوله وي اوکله چې دغه وخت راشي؛ نو دده دعا په خاص
ساعت کې واقع شي. په دې مقبوله وخت کې بنده چې کومه دعا هم کوي؛ نو الله تعالی دده
دعا سمدلاسه قبلوي اودده مقصد په دنیا کې پوره کوي، یا ددعا دقبولیت داصورت وي چې
حق تعالی دغه مصلحت اودبنده دبهتریې له پاره په دنیاکې ددعا غه اجر نه ظاهروي. بلکې
هغه دده له پاره داخرت ذخیره شي، هلته به ددې اجر ده ته ورکول کیږي.

وَعَنْ اَبِي بُرْدَةَ بْنِ اَبِي مُوسٰى قَالَ سَمِعْتُ اَبِي يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وسلم يَقُوْلُ فِي فَضْلِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ مَا بَيْنَ اَنْ يَجْلِسَ الْاِمَامُ اِلٰى اَنْ تُقْضَى الصَّلٰوةُ. (مسلم)

ترجمه: حضرت ابي بُرده بن ابي موسي راوی دی چې ما دخپل والد مکرم نه (حضرت ابوموسی رضی اللہ عنہ) نه اوریدلي دي هغه به فرمایل چې: ما درسول الله ﷺ نه دجمعې دورځې وخت دقبولیت باره کې اوریدلی و. چې هغه ساعت (دجمعې له پاره) دامام په منبر باندې دکیناستو اودلمانځه لوستلو درمیاني وخت دی.

دجُمعې په ورځ ددعادقبولیت وخت منقول دی اوددې په حقیقت کې چا ته هم شک نه شته. خو دعلماوو دلته په دې کې اختلاف دی چې داکوم یو وخت دی چې په هغه کې دقبولیت وخت دی. دځینو قول دادی چې دشب قدردساعت اوداسم اعظم په څیر د جُمعې دورځې وخت هم مبهم، یعنې غیر معلوم دی اودچا په نزد چې وخت معین اومعلوم دی هغه کوم یو وخت دی چې په هغه کې دا عظیم ساعت پټ دی؟ ددې متعلق (۳۵) اقوال منقوله دي داخبره منقوله ده چې حضرت علي اوحضرت فاطمة الزهرا رضوان الله علیهم اجمعین اوټول اهل بیت نبوت به خپل خادمان مقررول چې هغوی د جُمعې دورځ اخري وخت یاد ساتي اوداوخت ټولو ته یادوي چې ټول په دې وخت کې دپروردګار عبادت اوذکر کې مشغوله وي اودعاګاني غواړي،

حضور ﷺ به فرمایل چې: دجمعې په ورځ ما باندې ډېر درود راليږئ، ځکه چې ستاسو درود ماته وراندې کیږي. صحابه کرام رضی اللہ عنہم اجمعین عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! زموږ درود به تاسو ته څنګه وراندې کیږي، ځکه چې (زموږ درود ویلو وخت) کې به ستاسو هډوکي زاړه شوي وي؟ حضور ﷺ وفرمایل: (الله تعالی په ځمکې باندې دانبیاوو علیهم السلام وجود حرام کړی دی) یعنې دانبیاء وجود ځمکه نه شي فنا کولې. (مشکاة شریف بحواله مظاهر حق)

ہر حال میں رہا جو تیرا آسرا مجھے مایوس کر سکا نہ ہجوم بلا مجھے

دجُمعې په ورځ باندې ډډېر زیات درود ویلو حکم حضور ﷺ کړی دی چې درود افضل عبادت دی اودجُمعې په ورځ باندې دهریونیک عمل اجر ملاویږي؛ نو له دي وجې د درود اهتمام زیات پکار دی، دحدیث اخري الفاظ دي چې ځمکه دمریو وجودونو سره څه معامله

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کوي چې څو ورځې وروسته ددوی وجودونه دخاورو خوراک شي اوزاړه شي داسې معامله دانبیاوو علیهمُ السّلام داجسامو سره نه کیږي، نه یې وجودونه ختمیږي اونه خرابیږي، بلکې هغوی همداسې په قبرونو کې وي څنګه چې په دنیا کې وو.

دجُمعې په ورځ دوفات شوي مومن له پاره زیری:

وعَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عُمر قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم مَا مِن مُسلِمٍ يمُوتُ يومَ الجُمعَة أَولَيلَة الجُمعَة إِلَّا وَقَاه اللهُ فِتنَةَ القَبر. (احمد،ترمذي)

ترجمه حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل دا سې یو مسلمان نه شته چې دجمعې په ورځ یا شپه باندې وفات شي اوالله تعالی دی له هرې فتنې یعني قبر دسوال اوعذاب نه بچ نه کړي.

مطلب دادی چې دیو خوش قسمته انسان دجُمعې په ورځ یا په شپه باندې وفات کیدل په حقیقت کې دده سعادتمندي اودا خرت بنیګړه ده.

جُمعه دمسلمانانو له پاره داختر ورځ ده:

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دي چې ده یوه ورځ دا ایت تلاوت کړ "اَلیومَ اَکمَلتُ لَکُم دِینَکُم" (سورة المائدة: ۳) چې دهغه مفهوم دادی چې نن ورځ ما مکمل کړ ستاسو له پاره ستاسودین اوپه تاسو مې خپل ټول نعمتونه پوره کړل اوتاسو له پاره مو دین اسلام منتخب کړ. دا وخت له ده سره یو یهودي ناست و، کله چې یې دا ایت واورید؛ نو ویې ویل دا ایت که په موږ باندې رانازل شوی وای؛ نو په دغه ورځ به موږ اختر کړی و په کومه ورځ چې دا ایت نازل شوي و، حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې: دا ایت داخترونو په ورځ یعني حجة الوداع په موقعه دجُمعې اوعرفې په ورځ رانازل شوی دی، دیهودي مطلب دا و که چیرته دا ایت په موږ رانازل شوی وای؛ نو د دومره عظیم الشان نعمت په خوشالي اوشکرانه کې به موږ لوی اختر لمانخلی و، مګر تعجب خبره داده چې دا ورځ مسلمانانو دلوی اختر ورځ ولې نه ده مقرر کړې؟ نوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته جواب ورکړ، کله چې الله تعالی پخپله دا ایت په داسې ورځ رانازل کړ چې یو نه په دوه اخترونو باندې درونه و؛ نوموږ نه بیا دا ورځ دیادګاري ورځ په ډول لمانخلو(مناولو) څه ضرورت و، ځکه چې حضور ﷺ په کومه ورځ باندې اخري حج ادا کړی و، هغه دجُمعې ورځ وه، یو خو دجُمعې ورځ کیدو له وجې دغه ورځ افضله وه، دویمه عرفه یعني (حج) کیدو له وجې دهر افضله اوشرفه وه اوهم په دې ورځ باندې دا ایت رانازل شواوظاهره ده چې مسلمانانو له پاره ددې ورځې نه زیات فضیلت اوعظمت والا داختر بله کومه ورځ کیدای شي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حضور ﷺ به فرمايل چې: دجُمعې شپه روښانه شپه ده اودجُمعې ورځ پرقيدونکي ورځ ده يعني دجُمعې په ورځ باندې اودجُمعې په شپه باندې نورانيت معنوي يا خو بالذات وي يو خو داچې دجمعې په ورځ او دجُمعې په شپه باندې کوم عبادت کيږي دهغه په برکت اوسبب باندې معنوي نورانيت پيدا کيږي.

یہ بحر بے کراں ہے تاریکیوں سے بھر پور یہاں غوطہ زن وہی ہے جو باکمال ہوگا(جشتی)

دجُمعې دفرض کيدوبيان:

دجُمعې مونځ فرض عين دی، علامه يحی فرمايي چې: دجمعې لمونځ فريضه محکمه دی چې دقرآن کريم، احاديث اواجماع اُمت نه ثابت دی، دجُمعې دلمونځ نه انکار کونکی انسان کافر دی دقرآن کريم کوم آيت نه چې دجُمعې دلمونځ دفرضيت ثبوت دی ددې الفاظ "فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ" کې ذکر نه مراد دجُمعې لمونځ اوددې خطبه ده.

دجُمعې لمونځ په پريښودو وعيد:

عَنِ ابنِ عُمَرَ وَاَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا سَمِعْنَا رَسُوْلَ اللّٰه صلى الله عليه وسلم يَقُوْلُ عَلٰى اَعْوَادِ مِنْبَرِهٖ لَيَنْتَهِيَنَّ اَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ اَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللّٰه عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغٰفِلِيْنَ. (مسلم بحواله مشكاة)

ترجمه: حضرت ابن عمراوحضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دواړه روايت کوي چې موږ سرکاردوعالم ﷺ نه دمنبر په تخت يعني پوړو باندې اوريدلي دي چې: خلک دې دجُمعې لمونځ پريښودو نه ځان وساتي، ګنې الله تعالى به د دوی په زړونو باندې مهر ولګوي اودوی به په غافلو کې شمار شي

هغه خلک چې په هغوی باندې جُمعه واجب نه ده:

حضرت طارق بن شهاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې سرتاج دوعالم ﷺ وفرمايل: جُمعه حق ده اوپه جماعت سره په هر مسلمان باندې واجبه ده، پرته دڅلور کسانو نه:

(۱): هغه غلام چې دچاپه ملک کې وي. (۲): ښځه.

(۳): ماشوم. (۴): ناروغ. (په دوی باندې جمعه واجب نه ده)

۱- غلام پردی ملکيت اوتيوازې کې دی، ځکه په ده باندې جُمعه فرض نه کړل شوه.

۲- ښځې باندې جُمعه ځکه فرض نه ده يوازې دانه چې په ښځې باندې دڅاوند حقوق دومره زيات دي چې په جُمعه کې شرکت نه شي کولی، بلکې دجُمعې لمونځ کې دسړيو دومره روښ وي چې دښځو موجودګي دفتنې اوفساد موجب جوړيدای شي.

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

۲۔ ماشوم غیر مکلف دی له دې وجې په ده باندې جُمعه فرض نه ده
۳۔ مریض. ناروغ باندې دناتواني اوکمزورۍ له وجې جُمعه فرض نه ده. خودناروغ نه مراد هغه ناروغ دی دکوم چې جُمعې لمانځه ته حاضري مشکله وي. همدغه رازمسافر. نابینا اوګونډ باندې هم جُمعه فرض نه ده.

دجُمعې لمونځ پریښودونکي له پاره وعید:

عَنِ ابنِ مَسعُودٍ اَنَّ النَّبِي صل الله عليه وسلم قَالَ لَقَومٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الجُمعَةِ لَقَد هَمَمتُ اَن اٰمُرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ اُحَرِّقُ عَلٰى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الجُمعَةِ بُيُوتَهم...(مسلم بحواله مشكاة).
ترجمه حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راویت کوي چې سرکاردوعالم ﷺ دهغو خلکو متعلق وفرمایل کوم چې دجُمعې لمانځه نه وروسته پاتې کیږي (یعنې جُمعې لمونځ نه کوي، فرمایې چې زه یو کس ته ووایم چې هغه خلکو ته لمونځ وکړي اوبیا زه لاړ شم اوددې خلکو کورونه وسوځوم چې پرته له عذر نه دجُمعې لمونځ پریږدي.
په دې حدیث کې هغو خلکو له پاره سخت وعید دی کوم خلک چې پرته له عذر اومجبوریې نه دجُمعې لمونځ نه کوي داسې خلکو ته پکار دي چې ددې حدیث نه عبرت واخلي اودجُمعې لمونځ نه پریږدي

وَعَنِ ابنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِي صل الله عليه وسلم قَالَ مَن تَرَكَ الجُمعَةَ مِن غَيرِ ضَرُورَةٍ كُتِبَ مُنَافِقاً فِي كِتَابٍ لَا يَمحٰى وَلَا يُبَدَّلُ وَفِي بَعضِ الرِّوَايَاتِ ثَلَاثاً. (مشكاة المصابيح)
ترجمه حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راویت کوي چې سرکاردوعالم ﷺ وفرمایل: "کوم بنده چې پرته له عذر نه دجُمعې لمونځ پریږدي هغه په داسې کتاب کې منافق لیکل کیږي چې نه کله ختمیږي اونه بدلیږي".
اوپه ځینو روایاتو کې راځي چې کوم کس دري جُمعې لمونځ ونه کړي دا وعید دهغوی له پاره دی (شافعي. مشكاة المصابيح)

د مِن غَيرِ ضَرُورَةٍ مطلب دادی چې دترک جماعت کوم عذر دی مثلا: ظالم اوددښمن ویره، اوبه وریدل. واوره پریوتل، یا په لاره کې ختې اوداسې نور.... وي که ددې عذرونو په بنا باندې یو انسان دجُمعې لمونځ ته لاړ نه شي؛ نوهغه به منافق نه لیکل کیږي، بلکه پرته له عذر اومجبوریې نه لمونځ پریښودونکی انسان به منافق لیکل کیږي، فِي كِتَابٍ لَا يَمحٰى وَلَا يُبَدَّلُ نه مراد "عمل نامه" ده، حاصل داچې چې دجُمعې لمونځ پریښودونکی انسان پخپله عمل نامه کې چې نه پکې تنسیخ کیږي اونه تغیراوتبدل، منافق په کې لیکل کیږي، دهغه مطلب دادی چې ده سره دنفاق په څیر ملعونه صفت همیشه له پاره ونښلي، تر دې چې اخرت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کې یاخو الله تعالی دده له وجې عذاب ورکړي یا به یې په خپل فضل اوکرم سره وبښي، دغورا وفکر مقام دی چې دلمونځ پربښودو څومره سخت وعید دی؟ الله تعالی دې مونږ ټول خپل عذاب نه محفوظ وساتي

دجُمعې په ورځ داشیان سنت دي:

(۱). غسل کول. (۲). دشونډو له پاسه بریت کټ کول.
(۳). نوکان کټ کول (۴). دنوم نه لاندې ویښتان کټ کول.
(۵). دترخ(تخرګ)، وینښتان کټ کول.
(۶). پاکې جامې اغوستل (۷). خوشبویې استعمالول.
(۸). جُمعې له پاره وختې تلل. یعنې کوم ځای کې چې دجُمعې لمونځ کیږي هغه ځای په اول وخت کې ځان رسول، امام غزالي رحمه الله دځینو علماء سلف دا معمول نقل کړی چې هغوی به دجُمعې لمونځ له پاره دجذبې له وجې دسهار نه تلل.

دجُمعې فضیلت:

وَعَنْ أَبِي هريرةَ عَنْ رَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم قَالَ مَنِ اغْتَسَلَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلَّى مَا قُدِّرَ لَهُ ثُمَّ انْصَتَ حَتَّى يَفْرُغَ مِن خُطبَتِهِ ثُمَّ يُصَلِّي مَعَهُ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الأُخرىٰ وَفَضلُ ثَلاثَةِ أَيامٍ. (مسلم)

ترجمه: حضرت ابوهریره رضي الله عنه راویت کوي چې سرتاج دوعالم ﷺ وفرمایل: کوم کس چې غسل وکړي بیا جُمعې ته راغی اوخومره چې دده نصیب کې و لمونځ یې وکړ بیا دامام دخطبې دفارغیدو پورې خاموشه و اوبیایې ورسره لمونځ وکړ؛ نو دی جُمعې نه تیرې شوې جُمعې پورې، بلکه ددې نه هم درې ورځې زیاتې دده ګناهونه به وبښل شي.

ددرې ورځو زیاتې دې له پاره دي چې دهرې نیکي ثواب لس چنده دی، لهذا جُمعې نه ترجُمعې پورې خو اووه ورځې وي اودرې ورځې یې پرې نورې اضافه کړې چې لس پوره شي

دجُمعې په ورځ داول راتلونکي کس فضیلت:

حضرت ابو هریره رضي الله عنه راویت کوي چې سرکار دوعالم ﷺ وفرمایل: کله چې دجُمعې ورځ وي؛ نو فرښتې دمسجد په دروازه باندې ولاړې وي، لهذا کوم کس چې اول مسجد ته رادننه شي دهغه نوم لیکي. بیا له هغه وروسته دراتلونکو کسانو نومونه لیکي اوکوم کس چې دټولو نه اول مسجد ته راځي. دهغه مثال داسې دی، لکه چې یو کس مکې معظمې ته اوښې قربانۍ کولو له پاره لیږي (چې دهغه دپر لوی ثواب دی) بیا له دې وروسته چې کوم کس لمانځه ته راځي، دده مثال داسې دی، لکه چې مکې معظمې ته غوا قربانۍ کولو له پاره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې، بیا له دې وروسته چې کوم کس راځي دهغه مثال داسې دی، لکه چې مکې معظمې ته
ته قرباني کولو له پاره لیږي، بیا له دې وروسته چې کوم کس راځي دهغه مثال داسې دی،
که چې دی چرګه مکې ته صدقې له پاره لیږي اوله دې وروسته کس مثال داسې دی لکه چې
یغه انډه (هګۍ) صدقه کوي اوکله چې امام منبر ته خطبې له پاره راځي؛ نو هغه خپل رجسټر
اټول کړي او خطبه اوري. (بخاري، مسلم بحواله مشکاة مظاهرحق)

دخطبې په دوران کې خاموشي اختیارول:

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راویت کوي چې حضور ﷺ فرمایلي دي: دجُمعې په ورځ کله چې
امام خطبه وایې اوخوا کې یوکس خبرې کوي اوته ورته یوازې دومره ووایې چې (چپ شه؛ نو
ا هم لغوه وکړه، دخطبې په وخت کې هر قسمه خبرې اوګفتګواجازه نه شته په داسې وخت
ې که یو کس خبرې کوي: نو هغه دخاموشي ویلو هم ددې حدیث په رنا کې لغوه دي. کله
چې امام خطبه وایې په دې وخت کې خاموش پاتې کیدل داکثر علماوو په نزد باندې واجب دي

په څټونو داوښتو وعید:

حضرت معاذبن انس جهني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخپل والد مکرم نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل
کوم کس چې دجُمعې په ورځ په مسجد کې ځای حاصلولولو پاره دخلکو په څټونو باندې
ورې هغه به دجهنم طرفته پُل جوړوي، یعنې قیامت په ورځ داسې کس ته به دخپل فعل په
شل بدله ملاویږي، یعنې څنګه چې ده دخلکوخټونه باندې پښې اړولې دي، همدغه به دې
جهنم طرف ته دخلکو له پاره پُل جوړ کړل شي اوخلک به پرې اوړي. (ترمذي/باب ما جاء في
کراهیة التخطي یوم الجمعة)

دجُمعې دلمانځه متعلق حکایات:

ډیو سمرقندي کس بیان دی چې زه خپل ځان داوبه خور داهتمام نه غافله ساتم؛ نو ددې سبب
ادي چې یوه ورځ دجُمعې دلمانځه وخت راغی اوزما خر ځنګل ته تښتیدلی و اوپه دغه
وخت کې ماته دخپل باغ دخروب کولو سخت ضرورت و، زما ګاونډي وویل که ته په دې
وخت کې اوبه خور ونه کړې؛ نو بیا به دپوره موده وروسته ستا نمبر راځي اوپه دې وخت کې په
ژرنده کې دانې هم داوړه کولو له پاره پرتې وي، ما ددې ټولو شیانو نه زیاته ترجیح لمانځه ته
ورکړه اوپه لمانځه کې مشغول وم، له دې وروسته ګورم چې چې زما دباغ لوري ته اوبه روانې
دي چې دهغه نه باغ ډبه اوبه کیږي، زماخر پسې لیوان دځنګل نه شوي و هغه هم راورسیدو

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

داورو داکیسه وشوه چې یو کس دانې اوړه کولو ته تللی و، هغه زما اوړه هم وکړل اوکور ته یې راوړل. زما کور والا خپله بوجی وپیژنده او وصول یې کړه، خلاصه داچې هر څه دجُمعې دلمانځه په برکت وشو

حکایت:

مطرف تابعي رحمه الله په شب جُمعه خپل اس باندې جامعه مسجد ته تلو اوددې کورا (لاتې) به روښانه کیده، یوه ورځ ګوري چې په خپلو خپلو قبرونو باندې مړي په نظر راغلل او وایي چې دا مطرف دی دجُمعې لمانځه له پاره جامع مسجد ته روان دی وایي چې: ما تري پوښتنه وکړه چې ایا تاسو جُمعه پیژنئ؟ وییې ویل: هو! اومرغی هم چې په دې ورځ څه وایي مونږ پرې پوهیږو، مطرف ترې پوښتنه وکړه چې مرغی څه وایي، وییې ویل چې: "سَلَامٌ مِّنْ سَلَامٍ مِّنْ يَوْمٍ صَالِحٍ" حضرت نبي ﷺ وفرمایل: کوم کس چې دجُمعې په ورځ په ما باندې (۸۰) ځله درود وایي الله تعالی یې د (۸۰) کلونو ګناهونه معاف کوي، صحابه وو رضوان الله علیهم اجمعین پوښتنه وکړه یارسول الله ﷺ! په تاسو څنګه درود ووایو؟ حضور ﷺ وفرمایل:

((اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَنَبِيِّكَ وَرَسُوْلِكَ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ)).

په نزهة المجالسین کې دي چې دجُمعې په ورځ باندې پګړۍ وهل مستحب دي، ځکه چې حضور ﷺ فرمایې چې: بیشکه الله تعالی اودهغه فرښتې په پګړۍ وهونکي بنده باندې درود وایي (یعني ده له پاره دعا کوي) اودابن عماد (کتاب الذریعه) کې دهغه دلاس لیکل شوی دویم حدیث ما کتلی دی چې دپګړۍ (پټکي) سره لمونځ کول پرته د پګړۍ لمونځ کولو نه پنځه ویشت درجې زیات فضیلت لري او پګړۍ سره لمونځ کول پرته دپګړۍ لمونځ کولو نه اویا برخې زیات فضیلت لري، سیرت ابن هشام کې دي حضرت علي کرم الله وجهه فرمایې چې: پګړۍ دعربو تاج دی اودبدر په ورځ باندې دبدر دفرښتو پګړۍ سپینې وې اودحنین په ورځ سرې وې، دپګړۍ سنت تقریبا ختمیدو والا دی اوکه نه وي؛ نو کم نه کم په لمانځه کې خو دې اهتمام کوئ چې سنت خو څه حده پوري ادا وي کنه.

اپنی ملت کو قیاس قوام مغرب پر نه کر خاص هے ترکیب میں قوم رسول هاشمیؐ

دجُمعې په ورځ باندې سپینې جامې اغوستل ترتولوغوره دي، ځکه چې نبي اکرم ﷺ فرمایې چې: تاسو سپینې جامې اغوندئ، ځکه دا ډېر سُتره اوپاکیزه لباس دی اوپه دې کې خپل مړي دفن کوئ.

یا الله! تولو مسلمانانو ته دجُمعې دلمانځه اهتمام، سره دکولو توفیق ورکړې. آمین!

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نبي اکرم ﷺ نه مروي دي کوم کس چې دجُمعې په ورځ باندې سورة کهف وايي؛ نو کوم ځای کې چې تلاوت کوي دهغه ځای نه واخله تر مکې معظمې پورې ده له پاره نور ورکړل شي اوتردويمې جُمعې پورې دده مغفرت کوي اوده له پاره اويا زره فرښتې درحمت دعا کوي اومرض. ذات الجنب اوبرص جذام اوفتنه دجال نه به په عافيت کې وي اونبي اکرم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې سورة کهف وايي اته ورځې به دهرې فتنې نه محفوظ وي اويه صحيح مسلم کې دي چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر قيامته پورې د دجال نه زياته لويه فتنه الله نه ده پيدا کړې (نزهة المجالس/ نزهة المجالس ومنتخب النفائس)

وځينو سلفو قول دی چې کوم کس دجُمعې په ورځ باندې يو مسکين ته دوډی ورکړي اوبيا وختي جامع مسجد ته لاړ شي، کله چې امام سلام وګرځوي؛ نو "بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ الحَيِّ القَيُّومِ أَسئَلُكَ أَن تَغفِرَلِي وَتَرحَمَنِي وَأَن تُعَافِيَنِي مِنَ النَّار "دي ووايي اوخه چې يې زړه کې وي هغه له پاره دې دعا وکړي ضرور به قبليږي (نزهة المجالس ومنتخب النفائس/ قوت القلوب)

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې دجُمعې لمانځه وروسته سل خله ((سُبحانَ اللهِ العَظِيم)) وايي الله تعالى به دده لاک ګناهونه اوده دوالدينو ځليږيشت زره ګناهونه معاف کړي

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې: حضورانقدس ﷺ وفرمايل: اې عمره! دجُمعې لمونځ په ځان باندې لازم کړه. هغه ګناهونه داسې نړوي، لکه څنګه چې يو سړی خپل کور نړوي ، اې عمره! يو داسې بنده نه شته چې دجُمعې لمونځ له پاره غسل کوي اوبيا هغه دګناهونو نه داسې صفا راو نوځي. لکه چې نن ورځ دمور دخيټې نه پيدا شوی وي،

اې عمره! يو بنده داسې نه شته چې دجُمعې لمانځه له پاره خپل کور نه راوځي اوکاني دهغه له پاره ګواهي ورنه کړي اوټول کاني اوچانکر په کومو چې دی دجُمعې لمانځه له پاره تيريږي ده له پاره استغفار ونه کړي اوداسې يو بنده نه شته کوم چې دجُمعې لمانځه له پاره صفا جامې واغوندي او راوځي اوبيا الله تعالى دده لوري ته نظر ونه کړي اوبيا دده حاجتونه که دنياوي وي يا اخروي هغه الله تعالى قبول نه کړي، همدغه راز دفضائلو لوی حديث دی دچاچې زړه غواړي نزهة البساتين ص۲۵۷ ،ج۱ دي وګوري.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لطيفه:

يوه لطيفه مشهوره ده چې لمونځ کونکي په ځلور قسمه دي: دتهاټ، دکهاټ، د آټهاو دتيرې سو ساتهه، دټاټ هغه لمونځ دی کوم چې پنځه وخته پابندي سره په جماعت باندې لمونځ کوي. دکهاټ نه مراد هغه لمونځ ګذاره دي کوم چې يوازې دجنازې لمونځ کوي اوآټهاونه مراد هغه کسان دي کوم چې يوازې دجُمعې لمونځ کوي اودرې سوه شپيتو نه مراد هغه کسان دي کوم چې يوازې داختر لمونځ کوي، نويوازې دجُمعې لمونځ کول اوبيا چُوتې کول صحيح نه دي . بلکې پنځه واړه لمونځونه په جماعت سره پکار دي، ګني دلمونځ پرينبودو وبال پورته ذکر شوی دی، الله تعالی دې دټولو مسلمانانو ته دټولو لمونځونه په اهتمام اوشوق سره دکولو توفيق ورکړي.آمين يا رب العلمين!

دحلاوت ايمان پنځه علامې:

مرقاة شرح مشکاة کې دحلاوت ايمان پنځه نښې ښودلې دي:

(۱): په عباداتو کې لذت بيامومندل.

(۲): فرمانبرداري اواطاعت ته دګناهونو فاني لذت باندې ترجيح ورکول.

(۳): دالله تعالی په رضا کې هر مشقت اوتکليف برداشت کول.

(۴): په مصيبتونو باندې صبر کول اوتدبير اودعا سره درحمت انتظار کول.

(۵): رضا بالقضاء يعني فيصله خداوندي باندې راضي پاتې کيدل.

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمين

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دربیع الثاني دمیاشتې اوله خطبه

نبوي اخلاق:

الله رب العزت جناب نبي کریم ﷺ ته لوی مقام ورکړی و، ددې داوچتوالي اولوی والي اندازه انسان نه شي کولی، همدغه رازدحضور ﷺ صفات اوعادات اودحضور ﷺ دښوونودخوبي اندازه کول دانسان دوس خبره نه ده، حضور ﷺ داخلاقو په عظیمه مرتبه باندې و، همدغه راز عدل اوانصاف، بهادري، سخاوت اوکرم، عفودرګذري، عبادت او ریاضت په هرهر صفت کې عظیم، بلکې په تولو کې معلم او مربي و، الله تعالی فرمایې: زموږ احسان دی چې دحضور ﷺ په څیر نبي راولیږو چې معلم، مربي اومزکي و ارشاد ربانې دی:

لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (۱۶۴). (سورة ال عمران)

ترجمه: خامخاپه تحقیق احسان کړی دی الله پرمؤمنانو باندې کله چې مبعوث کړ(راولیږه الله تعالی) په دوی کې رسول له نفس (جنس) ددوی نه چې لولي (دغه رسول) پردوی باندې ایاتونه دالله اوپاکوي دوی (په توحید سره له ګناه،کینې اوشرکه) او ښیي دوی ته کتاب (قران اوحکمت (شرعي احکام، ژوري خبرې) اوبیشکه وو دوی (له دې نه) په خوا هرومرو په ګمراهي ښکاره کې.

قدم قدم په برکتیں نفس نفس پر رحمتیں　　جہاں جہاں سے وہ شفیع عاصیاں گذر گیا

دویم ځای کې ارشاد رب العزت دی:

وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ (سورة ن: ۴)

اوبیشکه چې یې ته (اې محمده) داخلاقو په لوړه مرتبه کې یې.

یعني حضور ﷺ په عظیمو اخلاقو باندې دی.

په حدیث کې دي چې خلکو دحضرت عائشې صدیقې رضی اللہ عنہا نه دحضور ﷺ داخلاقو باره کې پوښتنه وکړه؛ نو ویې فرمایل چې: ایا تاسو قرآن نه دی لوستلی؟ دحضور ﷺ اخلاق قرآن دي. یعني څه چې فرمان الهي و، هغه دهغه عمل و. (مسند احمد)

قاضي عیاض په شفاء کې فرمایې چې: حضور ﷺ کله د یو ذات ته غوسه نه ده کړې اونه حضور ﷺ دیو نفس نه بدله اخیستې کله چې هم حضور ﷺ ته غوسه راغله؛ نو دالله دحکم خلاف کارکولو یا شریعت مخالف کار کولو باندې غوسه راغله.

کفایت کتب خانه قیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دقيامت په ورځ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرداري:

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ هَاقِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ (مسلم)

ترجمه: حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دقيامت په ورځ دادم عَلَيْهِ السَّلَام دټولو اولادونو سردار به يم اوله ټولو نه اول به زه دقبر نه راپورته كيږم اودټولو شفاعت به كوم اودټولو نه اول به زما شفاعت قبليږي.

تشريح: مطلب داچې دقيامت په ورځ دټولو انساني كمالاتو، صفاتو اوټولو عظمتونو مظهر به دحضور ﷺ ذات وي، په دې ورځ به مخلوقاتو كې نه دچا درجه له ده نه لوړه وي اونه به له ده پرته بل څوک دسرداري اوسبراهي قابل جوړ شي، داخبره دې واضحه وي چې محمد عربي ﷺ په دواړو جهانونو كې سردار و اقا دى، خودلته يې دقيامت دورځ قيد څكه ولګاو چې په دې ورځ باندې دحضور ﷺ سرداري اواقايي دهرچا داختلاف اوشک نه پرته ده، حالانكې په دې دنيا كې دكفر. شرک اونفاق طاقتونه نه يواځې په ژوند باندې د ده دسرداري اوبرترۍ مخالف وو، بلكې وروسته بغض اوعناد ظاهر اوښكاره شو، ددې حديث دمينځيو الفاظو نه معلومه شوه چې حضور ﷺ په فرښتو باندې هم فضيلت لري اودحضور ﷺ ذات افضل المخلوقات واكمل الموجودات دى.

له ټولو نه لويه معجزه قرآن كريم:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلَّا وَقَدْ أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَيَّ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ترجمه: حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په انبياوو كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام كې هر يو نبي ته په معجزاتو كې يواځې دومره وركړل شو چې په هغه باندې انسان ايمان راوړي اوكومه معجزه چې ما ته راكړل شوه هغه دالله تعالى وحي ده چې هغه ماته راكړه چې هميشه باقي پاتې كيدونكي ده، ددې په بنا باندې ماته يقين دى چې دقيامت په ورځ باندې زما دمنونكي خلكو تعداد(شمير) به دټولو انبياوو عليهم السلام دمنونكونه زيات وي.

تشريح: مطلب داچې انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام دمخلوق مخې ته دالله تعالى دلوري د رسالت اونبوت دعوي كوي، له دې وجې الله تعالى دوى ته څه داسې معجزې وركوي چې هغه دخلكو مخكې دڅه دليل او برهان په ډول وراندې كړي، څومره نبيان اورسولان چې په خمكه راغلي

كفايت كتب خانه ټيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

دي په دوی کې هریو ته دځه نا څه نوعیت داسې معجزه ورکړل شوې ده چې هغه وګوري؛ نو د عقل سلیم لرلو والا انسان به دنبي تصدیق وکړي اوپه هغه به ایمان راوړي، خو د حضور ﷺ نه مخکې کوم نبي ته چې هم معجزه ورکړل شوه دغه معجزه ددې نبي وخت اوژوند پورې خاص اوباقي وه، ددې نبي ددنیانه رخصت کیدو سره دده معجزه هم ختمه شوه، مثلاً د حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَام په دور کې دسحر اوجادو د پورلو زور و، لویو لویو جادوګرانو په دخپل فن کمال ښکاره کاو، خلک به دهغه دفن کمال نه متاثره کیدل، حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَام ته دعصا (کونتی) اوید بیضا (سپین لاس) معجزه ورکړل شوه، دواړو معجزو دټولو جادوګرانو د ویې مړې کړې. نه یوازې دعاموخلک. بلکې جادوګرانو هم دحضرت دموسی عَلَیْهِ السَّلَام د عظمت اعتراف وکړ، همدغه رازدحضرت عیسی عَلَیْهِ السَّلَام په دور کې دحکمت اوطب د پر غټ اثر و په دغه وخت کې دومره ماهره طبیبان اوډاکټران موجود وو چې دمشکل نه مشکل ناروغی به یې چرته ویستله. حضرت عیسی عَلَیْهِ السَّلَام ته داسې معجزه ورکړل شوې وه چې هغه به مړې ژوندي کول، برص مرض والا به صحت موند اونابینا به بینا کیدل، همدغه راز د دوی دا معجزې دزمانې په لویو لویو حکماء اوطبیبانو باندې غالبه اوحاوي راغله، خو نه دموسی عَلَیْهِ السَّلَام معجزې باقي پاتې شوې اونه د عیسی عَلَیْهِ السَّلَام ، د ټولو انبیاوو برخلاف نبي کریم ﷺ ته دقرآن کریم معجزه ورکړل شوه. دې ته دائمي حیثیت ورکړل شو، د حضور ﷺ په زمانه کې دژبې دفصاحت اوبلاغت زور و، عربو به دفصاحت اوبلاغت دعوه کوله اود دوی دفصاحت مخې ته نور خلک ګونګیان وو، نبي کریم ﷺ باندې قرآن کریم رانازل شو چې دهغه مقابله کې دعربو د پورو لویو فصیح اوبلیغ خلکو دقرآن جواب کې یو وړوکی آیت هم وړاندې نه کړای شو اوبیا الله تعالی دا معجزه تر قیامته باقي وساتله چې په هره زمانه اوهره طبقه کې سید المرسلین د نبوت، رسالت اوصداقت باندې پوره حقانیت اوښکاره ګواهي وړاندې کوي اوایندې به هم کوي اوخلک یو شان په دې باندې ایمان راوړي دی اوراوړي به یې. له دې وجې قیامت په ورځ به اکثریت هغه اهل ایمان وي چې زما به نبوت ورسالت اوزما معجزه قرآن باندې یې ایمان وي (مظاهر حق)

د حضور ﷺ معجزه قرآن پاک ده. لهذا د حضور ﷺ اخلاق هم قرآن دی، له دې وجې د ټولې دنیا له پاره دا پیغام هدایت دی کوم خلک چې په دې پیغام هدایت باندې لبیک وایي کامیاب به وي. کوم خلک چې یې مخالفت کوي ناکام به وي، حضور ﷺ به دا د حق پیغام کله دمکې معظمې په بازارونو کې، کله په تنهایي کې، کله په جلسو کې. کله په کورونو کې. کله د ورځې او کله د شپې به دقرآن داپیغام ورکولو چې خلکو د منې کلیمه وایي کامیاب به شي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت حميد بن سلمة السلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضور ﷺ ته خراج عقيدت وړاندې کوي:

إِنَّ الَّذِي سَمَكَ السَّمَاءَ بِقُدْرَةٍ حَتَّى عَلَا فِي مُلْكِهِ فَتَوَحَّدَا

بَعَثَ الَّذِي مَا مِثْلَهُ فِي مَضْيِ يدعُوا لِرَحمَةِ النَّبِي مُحَمَّدَا

دې له پاره دوی ډېرېږي لوبې لوبې قربانی ورکړي. حضور ﷺ به چې کله خلک دالله لوري ته راغوښتل؛ نو دده تره ابولهب به ورپسې شانته شانته تلو اوپه کانو به يې ويشت اوخلکو ته به يې ويل چې ددې لیونې پاګل خبره مه منئ اودخپلو بزرګانو دين مه پريږدئ، حضور ﷺ باندې به کانې وريدل اوشاته به يې هم نه کتل، دحضور ﷺ موزې اوچپل به له وينو ډک شول. يواالله! نبي ﷺ ته دامت خومره فکر و چې په کانو وويشتل شو، په وينو سور شو، خودهغه له پاسه هم امت کاميابي لوري ته راولي اودشپې به الله تعالی ته ودريدو اوپه ژړا ژړا به يې دامت له پاره دعاګانې کولې. دادحضور ﷺ اخلاق عاليه و، يوه ورځ حضور ﷺ کعبې سره خوا کې لمونځ کاو، عقبه بن معيط دحضور ﷺ په مړی مبارکه کې څادر واچاو اودومره زور يې ورکړ چې دنبي اکرم ﷺ ساه بنده شوه اوسترګې مبارکې يې بهر راووتې. حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دغه وخت کې موجود و هغهدا منظوربرداشت نه کړ اوويې ويل: اې ظالمانو! تاسو داسې خيرخواه قتل کوئ کوم چې تاسو دجهنم له اورنه بچ کوي اودالله تعالی لوري ته مو غواړي چې تاسو کامياب شئ، دې ظالمانو حضور ﷺ پريښودو اوحضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې راګير کړ دومره يې وواهه چې دسر ويښتان يې ووتل اوساه يې بنده شوه، دده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور والا دی مړ وګانه او اوچت يې کړ، کله چې څه وخت وروسته کور کې په هوش راغی، ويل يې چې زما اقا اومحبوب څنګه دی؟ خلقو ورته وويل چې: سهي دی ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل: تر څو چې ما پخپله نه وي ليدلی زما يقين نه کيږي کله چې يې دحضور ﷺ زيارت وکړ؛ نو اطمينان يې وشو،

سبحان الله! څه عجيبه محبت او تعلق دی د ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحضور ﷺ سره يو خو ددومره تکليف وخت کې حق خبره کول اوبيا دومره تکليف وروسته دحضور ﷺ دزيارت له پاره بې صبری، يو څل نبي کريم ﷺ خانه کعبې ته مخامخ لمونځ کاو چې کفارو پرې له پاسه داوښ پيټه (ګندګي) واچوله، وينه اوسوتې يې پرې وويشتې، دوزن له وجې حضور ﷺ نه شو پورته کيدای. کافرانوخندل اوخوشالي يې کوله. دا دالله شان و چې خانه کعبه دحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ تعمير و په بت پرستي باندې خوشالي اوکله چې نبي ديو الله عبادت کوي؛ نوګندګي پرې اچوي.

مَا رَأَيتُ وَلَا سَمِعتُ بِمِثلِهِ فِي النَّاسِ كُلِّهِم بِمِثلِ مُحَمَّد

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت حمزه رضي الله عنه اسلام راوړل:

یوه ورځ حضور ﷺ خلکو ته تبلیغ کاو، هلته ابوجهل دهغه دوستان اوغلامان ټول موجود وو حضور ﷺ حسب عادت ابوجهل ته داسلام دعوت ورکړ په جواب کې ابوجهل لعین حضور ﷺ ته بدرد وویل اودحضور ﷺ سر مبارکه یې زخمي کړ اوبیا دحضور ﷺ په څټ مبارکه باندې ودرید اوسخت تکلیف یې ورکړ،حضور ﷺ دېر دخفګان حالت کې کور ته واپس راروان وُ داحالات دحضرت حمزه رضي الله عنه خادمې ولید، هغې دحضرت حمزه رضي الله عنه ښځې ته ټول حالات بیان کړل دحضرت حمزه رضي الله عنه ښځه اودحضور ﷺ چاچې(تیندان) هم په ډېره زیاته خفه شوه.حضرت حمزه رضي الله عنه چې کور ته راغې نو کوروالا ټول خفه وُ.ښځې ورته وویل چې ننۍ ابوجهل زمونږه یتیم وراره محمد بن عبدالله دومره وهلی دي چې دد شمن به پرې هم زړه دردیدلی وي،حضرت حمزه رضي الله عنه چې دا واوریدل نو خوراک څښاک یې پریښود اوسیده خانه کعبې ته لاړ اوابوجهل یې دومره وواهه چې سر یې پرې مات کړ اودا یې ورته وویل چې تا محمد لاوارثه ګڼرلی دی؟ خبردار! حمزه هم دهغه حمایتي دی، حضرت حمزه رضي الله عنه چې کله ابوجهل وواهه نو سیده دحضور ﷺ کور ته راغې او ویې ویل: تاسو خوشحاله شئ ما ستاسو بدل واخیست،داچې حضور ﷺ واوریدل نو ویې فرمایل چې کاکا زه په دې خوشحاله نه یم چې تاسو زما بدل دابوجهل نه واخیست،زه خو به هغه وخت کې خوشحاله شم کله چې تاسو ایمان راوړئ حضرت حمزه رضي الله عنه چې دا واوریدل نو فوراً یې وویل "لاالٰه الّا الله محمد رسول الله" دې نه پس به دحضور ﷺ سره په سفر اوحضر دواړو کې شامل و حتی چې جنګ احد کې شهید شو؛نوحضور ﷺ ورته تمغه ورکړه چې حمزه "سید الشهداء" یعنې دشهیدانو سردار حضرت حمزه رضي الله عنه دی.

دا و دحضورنبي کریم ﷺ اخلاق چې دخپل تکلیف په بدله کې به یې دشمن ته تکلیف ورکول نه خوښول. بلکې ددشمن وجود هم دجهنم داور نه بچ کول ددوی فکر وُ الله تعالی رینیتیا ویلي دي

"وَمَآ اَرسَلنٰکَ اِلّا رَحمَةً للعٰلمین" مونږه نه یې لیږلی تاسو مګر تمام خلکو له پاره قیامته پورې رحمت

دابوجهل انتهایي عداوت:

ابوجهل دحضور ﷺ دښمني کې دېر مخکې لاړ ځکه چې هغه ته خپله سرداري ختمه په نظر راتله. ده دحضور ﷺ دمرګ کوشش هم وکړ، دکور په لاره کې یو کوهی وکنستو اودپاسه یې پرې نري لرګي کیښودل چې بالکل فرش ښکاره کیده اوپه دروغه یې ځان بیمار ښکاره کړ چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اوس خو به حضور ﷺ ضرور زما عیادت ته راځي. کله چې حضور ﷺ ته ابوجهل دبیمارۍ پته ولګیده ،نو دازلي دښمن کیدو باوجود یې عیادت ته راغی، دې ته ویل کیږي لورا خلاق ،په دې باندې شیخ سعدي صاحب فرمایي اګر چې دلته دهغهٔ مراد الله تعالیٰ دی:

دوستان راکجا کنی محروم تو که با دشمنان نظر داری

یعني کله چې حضور ﷺ په دشمنانو دومره خفه کیږي؛ نو دوستانو باندې به ولې نه خفه کیږي،دابوجهل خیال ؤ چې حضور ﷺ به لاره کې په یې خبرې کې به لاره وګڼي او وبه لویږي،مګر حضرت جبرایل امین حضور ﷺ ته ددې سازش اطلاع ورکړه اوحضور ﷺ یې دمخکې تلو نه منع کړ ابوجهل چې دمکروفریب نه یې ځان بیمار کړی ؤ حضور ﷺ چې یې واپس تلو کې ولیدو ،نو وارشو، دوی پسې یې رامنډې کړې چې واپس یې راوغواړي په دې یره کې ده ته کنده یاده نه وه فوراً پخپله کنستل شوې کنده کې پریوت او "چاه کندرا چاه پیش" مقوله پرې صادقه راغله، دابوجهل کور والا رسی راوړې چې کومه رسی به ټې لاندې کوله یا خو به لنډه وه اویا به شلیدله، ابوجهل وویل چې زه ددې کندې نه نه شم دروتلی تر څو چې محمد بن عبدالله ما خپله ونه باسي، خلکو حضور ﷺ ته ټوله قیصه وکړه، لیکن حضور پرنور ﷺ خو سراپارحمت ؤ ،داخلاق عالیه مالک ؤ ،تشریف یې راوړو او آواز یې ورته وکړ که زه تا ددې کندې نه راوباسم نو ته به ایمان راوړې ابوجهل وعده وکړه چې ضرور به ایمان راوړم، مګر کله چې یې راووییست؛ نوویې ویل چې ماته معلومه شوه چې ته د هر غټ جادوګر یې ،معاذالله،کله چې الله تعالیٰ په زړه باندې مهر ولګوي؛ نو بیا به دایمان توفیق نه خټګه ملاؤ شي.

جنګ احد کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زخمي کیدل اود هدایت دعا غوښتل:

په جنګ احد کې چې کله په ظاهره باندې مسلمانانو ته شکست وشو اوکافرانوته وقتي غلبه ملاؤ شوه حضور ﷺ هم زخمي شو، عتبه بن ابي وقاص په غشي باندې د حضور ﷺ مبارک غاښونه زخمي کړل، شوندې مبارکې یې زخمي شوې، عبدالله بن شهاب کافر په غشي باندې د نبي مکرم ﷺ مخ مبارکه زخمي کړ اوپه وینو یې سور کړ ،ابن قمیه کافر سرمبارکه باندې کانړي باندې وویشت چې له وجې یې داوسپنې دوه کړۍ دهغه مبارک سر کې خښې شوې،بیا کافر د حضور ﷺ په نبي لاس باندې دتورې وار وکړ اودې سره لاس زخمي شو ، ابن قمیه کافر آواز وکړ مسلمانانو !تښتئ ستاسو سردار محمد قتل شو (معاذالله) د حضور ﷺ مخ مبارکه نه وینه جاري وه. حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضور ﷺ مخ مبارک نه وینه وچوله خو وینې ددریدو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نوم نۍ اخیست ،بالآخر یې بوری وسیزلې اوپه زخمونو کینبوده چې کله وینه ودریده نو صحابۍ کرامو رضي الله عنهم ورته وویل ای دالله نبي! کومو خلکو چې تاسو زخمي کړئ هغوی ته بددعا وکړئ. مګر قربان شم دحضور ﷺ له لورواخلاقو څخه چې په داسې موقعه باندې هم داسې دعا غواړي "اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِي فَاِنَّهُم لَا يَعْلَمُوْن" ای الله! زما قوم ته هدایت نصیب کړې دوه ما نۍ پیژني څومره لوی فرق دی، کله چې قوم حضرت نوح زخمي کړ؛ نوبد دعا یې وکړه ای الله! دخمکې په مخ یو کافر هم مه پرېږده، مګر دلته هم مجسم رحمت دهدایت دعا کوي اوفرمائي چې زهٔ الله لعنت کوونکي نه یم رالیږلی، بلکې زهٔ خو رحمت رالیږل شوی یم

دخوب حالت کې دیوکافر په حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې حمله:

حضور ﷺ اوددوی ملګري چې کله غزوه ذات الرقاع نه واپس راتلل په لاره کې دماسپښین په وخت کې لښکر دآرام په نیت باندې پراوٍ واچاوٍ صحابهٔ کرام رضي الله عنهم دیوې ونې لاندې وبده شول اونبي اکرم ﷺ دبلې ونې لاندې آرام فرما شو،کفارو دامو قعه غنیمت وګڼله اوغورث بن حارث کافرچې ډېرلوی پهلوان ؤ څه لالچ یې ورکړ چې نبي کریم ﷺ شهید کړه. حضور ﷺ آرام فرما ؤ غورث بن حارث یې سر ته ودرید اوتوره یې راوویسته په دې کې دحضور ﷺ سترګې خلاصې شوې چې دیې کتل کافر توره په لاس سر ته ولاړ دی اودا وایي چې نن به تا څوک زما دتورې نه بچ کوي حضور ﷺ ډېر په سکون اواطمینان سره جواب ورکړ چې الله،دا الفاظ ویل ؤ چې په کافر باندې رچ ولګیدو اوتوره یې له لاسه پریوته،حضور ﷺ پورته شو اوتوره یې راواخیسته چې اوس وایه تا به زمانه څوک بچ کوي؟ کافر وویل چې ما به ستاسو اخلاق اوحسن سلوک بچ کوي،حضور ﷺ دی معاف کړ اوتوره یې هم بېرته ورکړه،غورث چې کله خپل قوم ته واپس تلو نو دحضور ﷺ داخلاق عالي داعي جوړ شو اوقوم ته یې وویل چې ما دحضور ﷺ پشان مهربانه اومشفقه ترنن ورځ پورې نهٔ دی لیدلی

دزهرو دحضور صلی الله علیه وسلم سره خبرې کول:

دخیبر دجنګ دوران کله چې خیبرفتح شو ؛نو یو یهودي زنانه غوښه کې زهر واچول اوحضور ﷺ ته یې دعوت ورکړ، حضور ﷺ ددې زنانه ددلجوبي له پاره دعوت قبول کړ، کله چې لومړی نواله(مړی) خوړله نو دغوښې ټکړې ورته آواز وکړ یارسول الله! ماکې یې زهر اچولي دي. مامه خوره! حضور ﷺ دې زنانه ته ددې ذکر وکړ چې تا داسې حرکت کړې دی زنانه حیرانه شوه چې یا رسول الله تاسو ته څنګه پته ولګیده؟ حضور ﷺ وفرمایل چې دې غوښې ماته خپله وویل، زنانه انتهایي شرمنده شوه، دخپلې غلطې اعتراف یې وکړ اومعافي یې وغوښته. حضور ﷺ ددې اعتراف باوجود معاف کړه اوپوښتنه یې تري وکړه چې دا حرکت تا ولې کړی و؟ یهودنې ورته وویل یوازې له دې وجې که تاسو برحق نبي یئ نو دازهر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

به په تاسو اثر ونه کړي اوکه تاسو برحقه نه ییٔ نو مونږ به درنه په آسانه خلاص شو حضور ﷺ معاف کړه. حالانکې دې یوې لقمې له وجې حضور ﷺ ته تر وفاته پورې به تکلیف ؤ اوحضور ﷺ ته به همیشه په شا کې دښکر لګولو ضرورت پیښیده اودوفات وخت کې یې هم فرمایل چې اوس هغه زهر زما شه رګ خوري لګیا دي

مسلمانانو! دغور اوفکر مقام دی چې مونږه هم ددې عظیم نبي ﷺ اُمتیان یو آیا مونږ هم دخپل دوښمن سره داسې سلوک کو ؤ، دوښمن خو ډېره لري خبره ده ،مونږ خو خپل مسلمان ورور هم په آرام نه پریږدو نن مسلمان دمسلمان وینې تویوي، چېرته دقوم، چېرته دصوبائیت اوچرته دژبې مسئله،نوتاسو ووایئ چې آیا دا وؤ دمسلمان عادات و اطوار آیا مونږ پخپله ځان تباهي طرفته نه اوړو؟ دحضور ﷺ سیرت زمونږه له پاره دلاري ډیوه ده راځئ چې مونږ دنبي پاک ﷺ په اخلاقو باندې عمل وکړو چې ټول غیر قومونه زمونږ اخلاقو ته وګوري اواسلام ته داخل شي، مګر افسوس! مونږه دخپلو بداعمالو په سبب خپله ددولت اسلام نه فائده اوچتوؤ اوورسره نور غیرمسلمه له پاره داسلام په داخلیدو کې مانع(رکاوټ) جوړیږو

خدا در انتظار حمد ما نیست محمد ﷺ چشم برراه ثنا نیست

محمد ﷺ از تو می خواهم خدا را الٰهی از تو حب مصطفٰی را (حضرت مظهرجان جانان)

دحضور(صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) جادوګران معاف کول:

صلح حدیبیه نه چې کله حضور ﷺ تشریف راوړ،نودمدینې یهودیان مشهور جادوګر لبید بن اعصم ته لارل اوویې ویل چې مونږه محمد(ﷺ) ډېر زیات پریشانه کړي یو، ته یو داسې سخت جادو په نبي کریم ﷺ باندې وکړه چې مونږ ترې خلاص شو،جادوګر دحضور ﷺ ګومنځ اودسر وتلي وینښته وغوښتل اویه دې ویښتو کې یې یوځو ګوتې ولګولې اودکجورو په شوړه کې یې دا کیښودل اودیو زور کوهي ببخ کې یې دمضبوط کانې لاندې کیښودل، ددې جادو په حضور ﷺ دا اثر وشو چې دنیاوي کارونو کې به تري هیره کیدله اوتبه به هم ورسره کیدله ځلوینښت ورځو پورې یې مسلسل پُراثره دعاګاني غوښتلې. یوه شپه حضورپرنور ﷺ ویده ؤ په خوب کې ګوري چې دآسمان نه دوه کسان راکوز شو، یو دنبي مکرم ﷺ سر ته ودریدل اوبل یې پښو ته یو دبل نه پوښتنه کوي چې دحضورپرنور ﷺ طبیعت اوس څنګه دی؟ دویم جواب ورکړ چې په دوی ﷺ باندې جادو شوی دی، لومړي پوښتنه وکړه جادو چا کړی دی؟ دویم جواب ورکړ لبید بن اعصم،اولنې پوښتنه وکړه جادو یې په څه شي کړی دی؟ دویم جواب دحضور ﷺ په ویښتو اوزړې ګومنځ اودکجورو په شوړه باندې، بیایې ترې پوښتنه وکړه چې دایې کوم ځای کې اینې دي؟ ویې ویل چې ذي اووان نومې کوهي کې، سهار چې حضورپرنور ﷺ بیدار شو؛ نو عائشه صدیقه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته فرمائي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ﷲ تعالیٰ زما دمرض متعلق خبر راکړ، نبي اکرم ﷺ دیو څو صحابهٔ کرامو سره ولاړ
مساغه کوهي نه يې هغه شوړه راوویسته چې په هغې کې دحضور ﷺ وینښته مبارک و ؤ.
ه زړه ګومنځ وه اودکجورو په شوړه کې یوولس ځوتو سره تړل شوي وه حضور ﷺ هغه
لاصول غونښتل خو نه خلاصیده په دې وخت کې حضرت جبرایل امین رانازل شو
معوذتین (قل اعوذ برب الفلق، قل اعوذ برب الناس) نازل شو. حضور ﷺ آیتونه ویل شروع
ل اوویه یوه غوټه خپله کولاویدل شروع شو. دلته غوټې خلاصیدې اوهلته دحضور ﷺ
اج مبارک کې دصحت آثار راتلل، کله چې حضور ﷺ صحتمندشو؛ نو صحابهٔ
امور رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عرض وکړ چې دې ظالم جادوګرته سزا ورکول پکار دي. مګرحضور ﷺ
اف کړ. آیا مونږ هم دخپل دوښمن سره داسې سلوک کوو؟لږ شان سوچ خبره ده کۀ مونږ
اني وکړو نو صلح اواتحاد به وشي.

مشهور منافق سره دحضور(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) حسن سلوک:

د ﷲ بن ابی چې د منافقانو سردار و چې په هره موقعه باندې دحضور ﷺ اواهل اسلام ته
صان رسولو کوشش کاو ،حضور ﷺ ددې اسې لستونې مار سره هم حسن سلوک وکړ.ددې
ال دنیا کې نه ملاویږي اوپه دې کې مونږه له پاره تعلیم دی چې تاسو هم درسول ﷲ ﷺ په
ۀ حسنه باندې عمل وکړئ نوکامیاب به شئ ګنې تباهي اوبربادي به وي. عبدﷲ بن ابی
سجد تقوي قبا په مقابله کې مسجد جوړ کړ چې هغه ته په قرآن کې مسجد ضرار وتفریق
یل شو .داځو په ظاهره باندې مسجد و ، خو اصل سازشیانوتکانه وه. دې مسجد کې
ضور ﷺ ته دعوت ورکړل شو خو اصل مقصد دحضور ﷺ قتل و ، ﷲ تعالیٰ داټول خفیه
ازش خپل محبوب ته ښکاره کړ، حضور ﷺ دامسجد بالکل ختم کړ، دې منافق سردار څو
. ځله په تیاره کې دحضور ﷺ دقتل منصوبه جوړه کړه،حتی چې دحضور ﷺ په عزت
شه صدیقه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ، یې تهمت ولګولو چې له وجې یې نبي کریم ﷺ ځلویښت وځو
ږي انتهائي غمګین و .ﷲ تعالیٰ په سورت نور کې دحضرت عاشه صدیقه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ،
اکدامني اعلان وکړ اومنافقین په خپل مکر و سازش کې ناکامه شول.څو کسان ساده
یعت والا هم ددې منافق په سازش کې راغلي وو .ددې اسې خطرناک دوښمن سره هم حسن
لوک کول دیو عظیم پیغمبر کارنامه کیدای شي،کله چې دا منافق بیمار شو؛ نو
ضوراقدس ﷺ یې عیادت ته ورغی اوده ته یې ډېر په خلوص سره دمسلمانیدو دعوت
وکړ، نو دۀ جواب ورکړ چې فلانی بنده هم مسلمان شوی ؤ آیا هغه دمرګ نه بچ شو؟داسې وه
له چې دمرګ نه بچ کیدل دایمان صداقت ګڼل کیږي حالانکې مرګ خو دریښتیني ایمان والا
پاره تحفه ده اودنیا دۀ له پاره جیل خانه ده،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کله چې عبدالله بن ابی منافق مړ شو نو دده زوی چې دهغه نوم هم عبدالله و او مخلصه صحیح مسلمان ؤ دحضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو اودمرګ خبریې ورکړ، حضور ﷺ خپله ګرتې ورکړه چې دکفن نه لاندې ورته دا واچوه. الله الله څهٔ عجیبه اخلاق ؤ دحضورالقدس ﷺ وې فرمایل کله چې جنازه تیاره شي نو ماته اطلاع وکړئ کله چې جنازه تیاره شوه نو حضور ﷺ ته اطلاع ورکړې شوه حضور ﷺ پخپله ددې منافق دجنازې له پاره ودریدل، حضرت عمر رضی الله عنه وفرمائیل حضور ﷺ تاسو دداسې منافق جنازه کوئ الله تعالیٰ تاسو منع کړې یئ اوفرمایلي یې دي کهٔ تاسو اویا خله هم داسې منافقانو له پاره استغفار طلب کړئ نوبیا یې هم زهٔ نه بښم. حضور ﷺ وفرمایل ای عمر رضی الله عنه کهٔ داویا خله نه هم زیات ددهٔ په دعائے استغفار باندې بخښش کیږي نو زهٔ هغې ته هم تیار یم، زهٔ به اویا خله ددهٔ له پاره استغفار کوم شاید الله تعالیٰ ئې بخښش وکړي، حضور ﷺ ددې منافق عیادت وکړ بیا یې ګرته ورکړه دې نه پس جنازه یې وکړه اوبیا یې قبر ته خپله وسپارلوداؤ دحضور ﷺ اخلاق عالیه، مړو ددې نبي اُمتیان یو اوددې دپاسه هم نافرماني کوؤ دخپل حضور ﷺ زړه دردؤ دحضور ﷺ ددومره شفقت اومحبت باوجود هم ددې منافق بخښش ونهٔ شو نو دوې خبره ده چې کفر اوشرک څومره نقصان ده شی دی، نن څومره دنوم مسلمانان دي خو کارونه یې دمشرکانو اومنافقانو دي، لږ خو خپل انجام متعلق سوچ وکړئ، حضور ﷺ وفرمایل زما په عباداتو اوتبرکاتو باندې دې منافق ته هیڅ فائده ونهٔ رسیده، هغه ټول تبرکات تري په قبر کې واخیستل شو اوبیا یې قبر کې اور ولګیده، حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې نبي علیه السلام یوپیر ځادر په سر کړې ؤ یو باندیچی راغی اودحضور ﷺ نه یې ځادر راکش کړ چې له وجې یې حضور ﷺ ته سخت تکلیف ملاؤ شو اوبعضې روایاتو کې دي چې په ځمکه راپریوت اودځادر پیڅکې یې په مړې ونښتې، بیا یې بې ادبي سره وویل چې زما دا دواړه اوښان دغلي نه ډک کړئ دا مال غنیمت نهٔ ستا دی اونه ستا دپلار. (العیاذ بالله)

حضور ﷺ وفرمایل چې واقعي دامال نهٔ زما دی اونهٔ زما دپلار، بلکې دامال دالله تعالیٰ دی اوزهٔ دالله بنده یم (چې په دې باندې نګران یم) حضور ﷺ وفرمایل: ای باندیچي ددې بدله زهٔ ستا نه واخلم باندیچي وویل نه! دوی ﷺ وفرمایل چې ولې؟ باندیچي وویل چې ټاسو همیشه دبدې بدله په نیکي سره ورکوئ حضور ﷺ چې دا واوریدل نو مسکی شو اوبیا فرمایل چې: یو اوښ دغلي ډک کړئ اوبل دکجورو، حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي چې ما کله هم نبي اکرم ﷺ نه دې لیدلی چې دخپل ذات له پاره یې بدله (انتقام اخیستی وي (افضل المواعظ). حضور ﷺ سره داخلاقو خزانه وه، اهل مکه دې اوده اهل وعیال تنګول، په صحابهٔ کرامو باندې زیاتې کول، دوطن نه ویستل، دقتل تدبیرونه کول، دوی ﷺ سره یې هغه سلوک وکړو چې دادنی نه ادنی انسان سره یې هم څوک نهٔ کوي،

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مګر کله چې نبي مکرم ﷺ دفاتح مکه په حیث مکې معظمې ته داخل شو ،نو دمکې خلک وویل چې پته نیشته نن به زمونږه څه حشر کیږي اودپریشاني حالت کې یې حضور ﷺ ته عرض وکړو چې نن به تاسو مونږه سره څه معامله کوئ؟ نبي ﷺ ورته وفرمایل چې زه به همغه سره معامله کوم کومه چې حضرت یوسف علیه السلام دخپلو وروڼو سره کړې وه "لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ" نن ما ستاسو قصور معاف کړو او اوس به هیڅ قسمه بدله تاسو څخه نه اخیستل کیږي. مکه والو خو تاسو ټول آزاد یئ!

حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها، دحضور ﷺ تعریف کوي اونذرانهٔ عقیدت پیش کوي

لَنَا شَمسٌ وَ لِلآفاقِ شَمسٌ وَشَمسٌ خَيرُ مِن شَمسِ السَّمآءِ

فَإِنَّ الشَّمسَ تَطلَعُ بَعدَ فَجرٍ وَ شَمسِی طَالِعٌ بَعدَ العِشَآءِ

د العلمین مونږه ته دنبي کریم ﷺ په اسوهٔ حسنه باندې دعمل کولو توفیق راکړي اووه کسان دعرش دسیوري لاندې:

حضرت نبي کریم ﷺ فرمایي چې: دقیامت په ورځ به اووه کسان دعرش دسیوري لاندې وي چې په دغه ورځ به دعرش دسیوري نه سوا بل سیوري نه وي.

(۱) امام عادل (عادل بادشاه)، (۲) هغه خوان چې خپله خوانې په عبادت کې تیره کړې، (۳) هغه کس دکوم چې زړهٔ دمسجد سره معلق وي، (۴) هغه دوه کسان چې دالله تعالیٰ درضا له پاره خپل مینځ کې محبت ساتي، په همدې ملاویږي اوپه دې جدا کیږي، (۵) هغه کس چې هغهٔ ته بنایسته بنځه ووایي چې ماسره زنا وکړه اودې ورته ووایي چې: زهٔ دالله تعالیٰ نه ویریږم (گناه ونه کړي)، (۶) هغه کس چې په نبي لاس باندې صدقه ورکړي اوګس(چپ) لاس ته یې معلومات ونه لري، (۷) هغه کس چې په تنهایي کې الله تعالیٰ یاد کړي اواوښکې یې وبهیږي.

(بخاري شریف)

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ربیع الثاني میاشتې دویمه خطبه

دسنتواتباع

قُل اَطِيعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوا فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِينَ (پ۳ آیت ۳۲)

ترجمه: (اې محمده!) ووایه تاسو دالله اودرسول فرمانبرداري وکړئ، که بیا هم دا خلک مخ وګرځوي؛ نو یقین وکړئ چې الله تعالیٰ داسې منکرین نه خوښوي.

حضرات ګرامي! دا دربیع الآخر میاشت ده، ۱۷ ربیع الثاني حضرت سید قطب رباني محبوب سبحاني شیخ عبدالقادر جیلاني دوفات ورځ ده، په دې میاشت کې دیوولسمې ورځې بدعتي ددوی په نوم باندې لمانځل کیږي، حالانکې عبدالقادر جیلاني ﷺ ډېر لوی مؤحد اودتوحید علم برداروؤ، هغه حنبلي مسلکه و، دهغوی تعلیم وتبلیغ توحید و، مګر افسوس چې مونږ خلکو دتوحید وسنت والا لاره پرېښوده اودبدعاتو اورسوماتو والا لاره مو خپله کړه اوداډېره دتباهي لاره ده، پورتنۍ آیت کې داتباع خداوندي اواتباع نبوي (ﷺ) حکم دی، ددې نه دعلاوه شیانو ډېرېښودو حکم دی، ددې آیت نه مخکې دمحبت واطاعت الهي حکم دی اودالله تعالیٰ محبت دحضور ﷺ اطاعت کې پټ پروت دی ویې فرمایل: کوم خلک چې دالله دمحبت دعویدار دي، هغوی له پاره زما اتباع لازمه ده، که هغوی زما اتباع نه کوي نو بیا هغوی په خپلو دعوؤ کې دروغژن دي؛ ځکه چې دمحبت دټولو نه لوی کار دالله تعالیٰ رضا اودهغۀ دناراضګۍ نه ځان ساتل دي اوداخبره دحضور ﷺ داطاعت نه بغیر نه کیږي.

دحضور ﷺ اطاعت اوپه ده ایمان راوړل ضروري دي ؛ځکه چې پیغمبر پخپله نۀ راځي، بلکې هغه دالله له لوري رالیږل شوی وي،لهذا دهغه دحکم تعمیل بعینه دالله تعالیٰ دحکم تعمیل دی،نبي کریم ﷺ وفرمایل: زما ټول اُمت به جنت ته داخلیږي مګر چا چې انکار وکړو. خلکو پوښتنه وکړه چې انکار کوونکي څوک دي؟ حضور ﷺ وفرمایل: چا چې زما خبره ومنله اوزما اطاعت یې وکړو هغه به جنت ته داخلیږي اوچاچې نافرماني وکړه هغۀ انکار وکړ. دویم ځای کې ارشاد رباني عز اسمه دی:

وَمَن يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيماً. (پ۲۲ آیت ۷۱)

ترجمه: چاچې دالله تعالیٰ اودهغه درسول اطاعت وکړ؛ نو هغه ډېرې لویې کامیابی نه ورسیده.

دحضور ﷺ طریقه پرېښودل ډېره لویه تباهي ده:

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ارشاد رباني دی "وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا" (پ۵سورة النساء آیت ۱۱۵)

اوځوک چې مخالفت کوي درسول الله ﷺ له دي وروسته چې زما حق واضحه شوی دی اود مسلمانانو لاره پریږدي اوبله لاره اختیاره کړي؛ نو مونږ به دوی ددوی اختیار شوي لاري پاندي پریږدو اودوی به جهنم ته داخل کړو اوهغه دوزخ ډېر بدځای دی

حضرت شاه عبدالقادر جیلاني رحمه الله فرمایي چې دحضور ﷺ ارشاد دی چې الله تعالی لاس دمسلمانانو په جماعت(ډله) دی چاچې دپلار نیکۍ لاره ونیوله هغه جهنم ته پریوت اوچاچې اجماع اُمت واله لاره اختیار کړه هغه الله تعالی مرضي ده اوځوک چې منکر وي هغه دوزخي دی ،موضح القرآن بحواله تفسیرکشف الرحمن، زمونږ په ډېر دور کې خو هر طرفته ټیري دي کفروطغیان بدعات و رسومات شرکیه هر طرفته غلبه اوعروج دی.اتباع شریعت داده چې انسان هر یو کار دامر خداوندي تابع وي اوهره لمحه دالله اودرسول اطاعت اوفرمانبرداري کې ټیریږي اودعبادت حقیقت هم دادی چې دامر خداوندي پابندي اوالله اودرسول فرمانبرداري په کې وي. هر هغه کار چې دالله اودرسول درضا له پاره دشریعت موافق وشي عین عبادت اوسراسر بندګي ده

هغه ایمان په کوم چې جنت ته داخلیدل وي:

قَالَ أَبُو أَيُّوبَ الأَنْصَارِيُّ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ دُلَّنِي عَلَى أَمْرٍ أَعْمَلُهُ يُدْنِينِي مِنَ الْجَنَّةِ وَيُبَاعِدُنِي مِنَ النَّارِ قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكْ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤَتِّيَ الزَّكَوٰةَ وَتَصِلَ ذَاتَ رَحِمِكَ فَلَمَّا أَدْبَرَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم إِنْ تَمَسَّكَ بِمَا أُمِرَ بِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ...(معارف السنة)

حضرت ابوایوب انصاري رضي الله عنه روایت کوي چې یو کس دحضور ﷺ خدمت کې حاضر شو اوعرض یې وکړ چې یا رسول الله! ما ته یو داسې عمل وښیئ چې ما جنت ته نږدې کړي اود دوزخ نه مې لرې کړي، حضور ﷺ وفرمایل چې دالله تعالی عبادت کوه، هغه سره ځوک شریک مه ګڼه. لمونځ قائم کړه، زکات ورکوه اوصله رحمي کوه،بیا چې کله داکس ولاړ حضور ﷺ وفرمایل که داکس په دي امورو مضبوطي سره عمل وکړي ؛نو جنت ته به ځي

صحابهٔ کرام رضي الله عنهم نه ددنیا غوښتونکي وو اونه دحکومت، د دوی درڼه مراد دالله تعالی رضا اوداخرت طلب ؤ. دجنت شوق اوددوزخ ویره. ددې په جواب کې حضور ﷺ دتولو نه اول وفرمایل چې شرک نه پرهیز کوه دالله تعالی عبادت خالص دده درضا له پاره کوه، هیڅ قسمه دنیاوي غرض نه ؤ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په دین کې نوې خبرې پیدا کول:

جناب نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوم کس چې زمونږ په دین کې نوې خبره پیدا کړي چې دهغې ددین سره هیڅ قسمه تعلق نۀ وي نو هغه خبره مردوده ده (بخاري و مسلم، مشکوة) یعني دې خبرې هیڅ قسمه اعتبار نشته اودنوې خبرې نه مراد داده چې هغه خبره دشریعت دیو دلیل نه هم ثابته نه وي اوداسې خبرې په دین کې دننه کولوته دشریعت اصطلاح کې بدعت وایي اوډېره لویه ګناه ده؛ ځکه چې کوم کس داسې کار کوي داداسې ده چې دحق تعالیٰ مقابله کوي؛ ځکه چې شریعت خو دالله تعالیٰ رالیږل شوی دی، په دې کې دکمي اوزیاتي کولو چا ته هم حق نشته. چا چې په شریعت کې یوه داسې خبره داخله کړه چې دین نه خارجه وي؛ نو ده شریعت ناکافي وګانه، اول خو دالوی جرم دی چې دحق تعالیٰ تجویز شوی شریعت یې ناکافي وګانه، بیا یې نورې خبرې چې داخلې کړې نودخپله خانه یو نوی شریعت جوړ کړ. دادویم جرم شو. نو حاصل دا شو چې بدعتي دالله تعالیٰ مقابله کوي اودهغه دیرابروالي دعوه کوي، لهٰذا سخت ګمراه دی اګرچې په ظاهره خان مطیع وفرمانبردار ظاهروي، او دعبادت رنګ یې اچولی دی یعني دبدعت مرتکب ګڼي اودالله تعالیٰ قُرب ګڼي، له دې وجې داسې کس ته توبه هم نه نصیب کیږي؛ ځکه چې توبه خو ګناهګار کوي اوبدعتي خان نه ګناهګار نۀ وایي. بلکې هغه خان تابعدار ګڼي بیا هغه توبه ولې وکړي، نو داګناه انتهایي خطرناکه ده، حق تعالیٰ دې پناه راکړي اوپه سیده لاره تلو توفیق دې راکړي آمین!

بدعت نه علاوه چې څومره ګناهونه دي دهغو مرتکب خان ګناهګار، ذلیل اونافرمانه ګڼي اوداندامت داسې خیز دی چې دې سره دتوبې توفیق ملاویږي، دې وجې نه مسلمانانونه دبدعاتو اورسوماتو نه پرهیز کول پکار دي اګرچې بدعاتو کې په ظاهره چمک دمک اوکشش وي، مګر دینه بچ کیدل پکار دي.

یوه عبرت ناکه واقعه:

دیو صاحب کشف بزرګ واقعه ده چې هغه په یو قبرستان باندې تیریده، هغۀ دوه کسان په عذاب کې مبتلا ولیدل بس هغوی له پاره یې دمغفرت دعا وکړه بیا چې خپل ځای ته ولاړ اوواپسې کې په دغه لاره باندې راتلو نو ویې کتل چې دغه دعا دیو کس له پاره قبوله شوې وه دهغه عذاب بند شوی ؤ اوددویم کس عذاب بند شوی نه ؤ، دحق تعالیٰ نه یې پوښتنه وکړه چې یا الله! څۀ وجه ده چې زما دعا دیو کس په حق کې قبوله شوې ده اودبل په حق کې نه؟ الهام ورته وشو چې داکس بدعتي دی، په یو حدیث کې دي چې دالله تعالیٰ غوسه په دې کسانو باندې زیاته وي. په هغو کې یو کس هغه دی چې په اسلام کې دجاهلیت طریقه اختیاروي (بخاري) یعني کوم رسمونه چې درسول الله ﷺ دنبي کیدو نه مخکې عربو کې رائج

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وژ دغه رنګ بدعات کولو والا اوهرقسمه واهیات کولو والا اودغیرقومونو طریقو اختیارولووالا باندې دالله تعالیٰ سخته غوسه وي اوظاهره ده چې دحق تعالی د وړې غوسې تاب هم ځوک نۀ شي راوړلی، نوسخته غوسه به ځوک برداشت کړي؟ په دې زمانه کې ډېر زیات رسمونه خپاره شوي دي، په دې کې دیوولسمې رسم هم دی چې هغه خلک دلالچ اوطمع په وجه دعبادت په رنګ کې اداکوي، ددې ټولو نه ډېر زیات ځان ساتل پکار دي اوددې په جاري کیدوکې چې دخلکو کوم منافع دي دالله تعالیٰ درضا له پاره داټول پریښودل پکار دي وچانځر چې په حق تعالیٰ باندې وي، الله تعالیٰ پخپله دهغه حاجت روایي کوي

حدیث: حضور ﷺ فرمایي چې: کوم کس ځوک نیکي طرفته وغواړي: نو دۀ ته ددې خلکو په نیکو اعمالوکې برابر ثواب ملاویږي چې ددۀ په وینا باندې یو نیک عمل وکړي اوددې خلکو په نیکیو کې به هیڅ قسمه کمی نۀ راځي اوځوک چې دګمراهي لاره ونیسي: نو په دۀ باندې ددې خلکو داعمالو وبال هم دی چې دده په وینا اوخبرو باندې بد عمل کوي اوخپله به ددې خلکو په ګناهونو کې کمی نه کیږي،یعنې دنیک عمل چې کوم ثواب کوونکي ته ملاویږي همدومره ثواب به هدایت کوونکي ته هم ملاویږي، همدغه راز دګمراهي اوګناه وبال چې ځومره کوونکي ته ملاویږي همدومره به دګناه ښودونکي ته هم ملاویږي.له دې وجې داسې رسمونو ته رواج ورکول نه دي پکارچې دهغو خپله کولو باندې هم ګناه اوکوم خلک چې دده په وینا داسې عمل کوي دهغوی وبال هم دده په سر وي،هو! نیک کار پخپله هم کوه اونورو ته هم رغبت ورکوه دخپلو کولو ثواب خوبه ملاویږي دنورو خلکو درغبت ورکولوبه هم ډېر ثواب ملاویږي

دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقت آمیزه وعظ:

حضرت عرباض بن ساریه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې: یوه ورځ موږ ته رسول الله ﷺ لمونځ کولو.بیا رسول الله ﷺ زموږ طرفته متوجه شواومونږ ته یې داسې نصیحت وکړ چې هغه اثر اوکړ(ډېرې ښې طریقې سره یې وعظ وکړ چې مؤثر ؤ ،سترګې یې وڅرولې اوپه زړونو باندې ویره راغله)بیا یو کس عرض وکړ یا رسول الله (ﷺ)دا نصیحت ځوداسې دی، لکه چې ځوک رخصتیدونکی نصحت کوي، په دې حالت کې خومره پورې چې کیدای شوه ښې طریقې سره نصیحت کوي چې الله پوهیږي اوس ملاویدل کیږي اوکۀ نۀ،دې صاحب ته داخیال وشو چې شاید حضور ﷺ عنقریب تشریف وړوي اودې وجې نه داسې نصیحت کوي؛ نو نورې هم چې ځومره مفیدې خبرې وي هغه هم معلومې شي؛ ځکه بیا خو ددې مقصد دحاصلیدو امید نشته،نو ځکه دې صاحب وویل چې: مونږ ته نور وصیت هم وکړه (چې ستاسونه پس په دواړو جهانو کې پکار راشي ځکه چې بیا داسې ویونکی چېرته ملاویږي)حضور ﷺ وفرمایل چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زهٔ تاسو ته دالله تعالیٰ نه دویریدو وصیت کوم اوحکم کوم (چې دتولو نیکیو اوفلاح دارین بنیاد دی،اوبل حکم داطاعت کولو دخلفاوو (یعنې په تاسو باندې مسلمان حاکم اوبادشاه اطاعت کول فرض دي ترخو چې شریعت باندې حکم کوي،اگرچې هغه حبشي غلام وي اوددې کارونو داهتمام وصیت ځکه کوم چې کوم کس زما نه پس په تاسو کې ژوندی وي نو هغه اختلافات به وګوري (یعنې دخلکو حالات به بدل شي، نوي نوي خبرې به پیدا شي اوفتنې به شروع شي انو په داسې وخت کې دتقوی اواتحاد انتهايي ضرورت دی چې کله دخدای تعالیٰ ویره وي نو ناحقه باندې عمل کولو نه به بچ کیږی اوداتحاد له وجې به دمسلمانانو مینځ کې بې اتفاقي نه راځي اوکله چې دبادشاه مخالفت کیږي نودمسلمانانو خپل مینځ کې اتفاق نه پاتې کیږي، داتحاد صورت دادی چې دنیک او صالح، حاکم اطاعت دې وکړل شي، اوس دتقوی لاره داچې تاسو زما اودخلفاء راشدینودطریقې اولارې تابعداري کوئ او داطریقه ښه مضبوطه ونیسئ اودین کې دنویو خبرو نه ځان وساتئ ځکه هره یوه نوي خبره په دین کې پیدا کول بدعت دي اوهر بدعت ګمراهي ده. (احمد ،ابوداؤد ،ترمذي،ابن ماجه،مشکوة،بحوالهٔ بهشتي زیور)

په دې حدیث کې دبدعاتونه دبچ کیدو تاکید خومره په اهتمام سره شوی دی اودصحابهٔ کرامو (رضی الله عنهم) اودخلفاء راشدینوداتباع تاکید شوی دی، لهذا مسلمانانو هریوکار که ددین وي یا ددنیا دبدعاتو اورسوماتو نه به احتراز کوئ، دمخلوق دخوشحالولولو له پاره الله تعالیٰ مهٔ ناراضه کوئ،که الله تعالیٰ راضي وي نو هرڅهٔ سم دي اوکهٔ الله تعالیٰ ناراضه وي نو بیا خاندان اهل وعیال دځه کاردي.

امام احمد رحمه الله په ښهٔ سند سره داذکر کړي دي چې جناب رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې یو قوم یو بدعت جاري کوي همدغه رنګ دیو سنت دجاري ساتلو توفیق ختمیږي بدعت کهٔ خومره غټ وي خو دسنت حیثیت نهٔ شي لرلی، رسول مکرم ﷺ یوحدیث کې وفرمایل چې یو کس دیو بدعتي تعظیم وکړي نوهغهٔ داسلام نړولوکې مدد وکړ، ځکه چې بدعتي دالله تعالیٰ دوښمن دی اودالله ددوښمن تعظیم کول دالله تعالیٰ عذاب ته دعوت ورکول دي.

حدیث: حضور ﷺ فرمایي کوم کس زما سنت باندې په داسې وخت کې عمل کوي چې زما اُمت کې هر طرفته فساد (بدعات ورسومات)خپاره وي؛ نو دې کس ته به دسلو شهیدانو ثواب ورکول کیږي،حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي لهذا مسلمانانو لره پکار دي چې داسې عمده عمل نه هر ګز وروسته نه شي ،دې له پاره چې دې ثواب عظیم نه محرومه پاتې نهٔ شي اوچونکې په دې دور کې دسنتو سخت مخالفت کیږي، داثواب ضرور حاصلول پکار دي، دې له پاره پخپله هم په سنتو باندې عمل وکړئ اونورو ته هم ترغیب ورکړئ، مګر جنګ شر نه

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خان سائل پکار دي چېرته چې دفتني احتمال وي هلته دي خپله عمل کوئ اونورو ته څه مه وايئ او چېرته چې فتنه نه وي هلته دي نورو ته هم ښه ترغيب ورکوئ (بهشتي زيور شپږمه برخه)

دشرک مذمت:

شرک يو داسې ګناه ده چې هغه نه بښل کيږي، ديو آيت مفهوم دی "بيشکه الله تعالیٰ به شرک نه معاف کوي، دي نه علاوه چاته چې غواړي معافي به ورته وکړي" دي وجې نه مسلمانانو دشرک نه خان وساتئ! ځن موږ ته شرک رادننه شوی دی، خالق مو پريښی دی اودمخلوق عبادت مو شروع کړی دی، حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په (بهشتي زيور اوله برخه) کې دکفر اوشرک ديوځو خبرو اوکارونو نشاندهي کړې ده چې هغه دادي کفر خوښول. دکفر خبرې ښې ګڼل، بل بنده سره دکفر خبرې کول اوپه خپل ايمان باندې پښيمانه کيدل. که مسلمان نه واى نو دا فلاني خبره به نه وه، داولاد وغيره په مرګ باندې داسې ويل چې بس الله يوازې زما بچي وژني، په توله دنيا کې يوازې زما بچي و ژ، الله لره داسې کول نه ښه پکار. داسې ظلم څوک نۀ کوي څنګه چې تا وکړو، دالله او دنبي ﷺ يو حکم نه منل اويا ددوی په حکمونو کې عيبونه راويستل، ديو بزرګ يا ديو پير په اړه دا عقيده سائل چې زمونږ دحال هر وخت دوی ته پته وي، نجومي پنډت يا په چا چې جنات وي هغوی نه دغيبو خبرې معلومول اوهغوی باندې فال ويستل اودا رينبتيا ګڼل، ديو بزرګ دخبرې نه فال ويستل اويا دا يقيني ګڼل، چاته دلرې نه آواز کول اوداعقيده سائل چې آواز ورته ورسيد، څوک دنفع اونقصان مختار ګڼل، چا نه مُرادونه غوښتل، اولاد غوښتل، دچاپه نوم روژه سائل، چاته سجده کول، دچاپه نوم ځناور پريښودل يا دچاپه نوم منت غوښتل، دچا دقبر يا کور طواف کول. دالله تعالیٰ په مقابله کې دچاخبره يا رسم مقدم سائل، دچا مخې ته تيتيدل يا دتصوير پشان دريدل، په توپ باندې چپلی خيژول، دچاپه نوم باندې ځاروی ذبح کول، دبچي دژوندي پاتې کيدو له پاره دهغۀ نال نار ته سجده لګول، ديو خای دکعبې برابر تعظيم کول، دچا په نوم باندې دماشوم غوږ اوپوزه سوري کول، دچا په نوم پيسه په خپل مټ باندې ترل، په مړی کې نار اچول. چونتي سائل، بدهي اچول، فقير جوړول دچا نوم علي بخش، حسين بخش، عبدالنبي اوداسې نور. کينبودل، په يو ځناور باندې دبزرګ نوم لګول اوبيا دهغه ادب کول، دتمام جهان کاروبار دستورو په تاثير باندې ګڼل، دښۀ اوبد تاريخ پوښتنه اوبدفالي نيول، يو تاريخ يا يوه مياشت منحوسه ګڼل، ديو بزرګ نوم دوظيفه په طور وردکول، داسې ويل کۀ الله اورسول وغواړي نو فلاني کار به وشي، دچا په نوم يا سر قسم خورل، تصوير سائل، خصوصاً ديو بزرګ تصوير سائل اودهغه تعظيم کول.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دبدعتونو، بدو رسمونو اویدو خبرو بیان:

په قبرونوباندې جوش سره میلې کول،ډیوې بلول،دزنانه وژ هلته تګ اوخادر پرې اچول،پاخه قبرونه جوړول، دبزرګانو راضي کولو له پاره دقبرونو حد نه زیات تعظیم کول، قبر ښکلول،خاورې په خان لګول،دقبر طواف اوسجده کول،قبرونوطرفته لمونځ کول،په قبرمټایې،وریژې یا ګلګلي وغیره اچول،تعزیه جنده وغیره لګول،حلوا پرې اچول یا دې ته سلام کول.دمحرم په میاشت کې پان نه خوړل. مهندې نه لګول، نارینه له نه تللې، درېیمه اوځلوینټې لازمي ګڼل،باوجود دضرورت دزنانه دویمه نکاح معیوبه ګڼل،نکاح ختنه (سنت) وغیره کې کهٔ وسعت نه وي خاندانې رسمونه خصوصاً قرض اخیستل رقص وسرود پکې کول،هولي ،دهندوانو رسم،د دیوالي رسمونه داسلام ځای بندي کول،یایوازې په سر باندې لاس کیښودل اوتیتیدل،باجي سورونولګول،په نسب باندې فخر کول،یا یوبزرګ سره نسبت دنجات لاره ګڼل.په واده کې رسمونه اوخرافات اودهندوانورسمونه کول،دواده زلمي ته خلاف شریعت لباس اچول ،ویډیو جوړول،تصویرونه ویستل،آتش بازي کول، دخپل وس نه زیات مهر مقرررول،په غم کې سینه وهل اوبه چیغوچیغو ژړل،په مخصوصو تاریخونو کې بیا غم تازه کول،سالګره کول،په کور کې تصویرونه لګول،دپرې نرۍ جامې اغوستل،دښځو له پاره دنارینه وو په مجمع کې تلل،خصوصاً تعزیه کښل اوبه میلو کې تلل،دنارینه ووشکل وصورت اختیارول،خدایي شپه کول،ماشوم ته کمې ژړا له پاره افیون ورکول، دغه رنګ دپرې خبرې بدې اوبدعت دي.

بعض غټ ګناهونه چې په هغو دپر سخت وعید راغلی دی:

الله سره شرک کول،ناحقه وینه تویول،مور وپلار ته تکلیف رسول،دیتیمانو مال خوړل،لکه څنګه چې اکثر زنانه دخاوندتمام مال وجائیداد باندې قبضه وکړي اودماشومانو حصه هم یوسي،زنانه وو ته په میراث کې دوراثت حصه نه ورکول،یوې زنانه باندې په شک دزنا تهمت لګول،ظلم کول،عیب جویي کول،دالله درحمت نه ناامیده کیدل،وعده نه پوره کول،امانت کې خیانت کول،لمونځ،روژه،حج او زکات پریښودل،قرآن کریم ویل اوهیرول.دروغ ویل،په دروغو قسم خوړل،دالله نه پرته په بل چا قسم خوړل،یا داسې قسم خوړل چې دمرګ په وخت کې کلمه هم ورته نصیب نه شي،ایمان باندې خاتمه ونه شي،دالله تعالی نه پرته بل چا ته سجده کول،بغیر له څهٔ عذر پرته لمونځ قضاء کول،یو مسلمان ته کافر یا بې ایمان یا دالله وهلی،دالله قهرزده یا دوښمن ویل،دچا ګیله شکوه اوریدل،غلا کول، قلنګ اخیستل،دغلې په ګرانوالي خوشحالیدل، مصنوعي ګراني راوستل،یو شی اخیستل اوبیا قصداً کم ورکول،غیرمحرمه سره تنهایي کې کیناستل،جواري کول،دکافرو طور

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

طرفي اورسمونه خوښول،خوراک ته بد ویل،ګواګاني کتل،باجي اوسرود اوریدل،دقدرت بلوځود نصیحت نه کول،دچا مسخره کول اوشرمنده کول،دچاعیبونه بیانول

دګناه له وجې دځینې دنیوي نقصاناتو بیان:

بهشتي زیوراوله برخه، صحیح علم نه محرومه پاتې کیدل،روزي کمیدل،دالله تعالی یاد هیریدل،دبنده نه ویریدل، خاص کر نیکان اکثر کارونو کې مشکل کې واقع کیدل،زړه صفا نه پاتې کیدل،په زړه اونور بدن کې کمزوري پیداکیدل،دطاعت نه محرومه پاتې کیدل،عمر ختمیدل،دتوبې توفیق نه کیدل،څو ورځې دګناه بدي په زړه کې پاتې کیدل،دالله په حضورکې ذلیله کیدل،نور مخلوق ته دده نقصان رسیدل اوددې وجې په ده باندې لعنت ویل،په عمل کې فرق راتلل اودرسول الله ﷺ دطرفنه په ده لعنت راتیریل،دفرشتو ددعا نه محرومه پاتې کیدل،پیداوار کې کمی راتلل،شرم اوغیرت ختمیدل،دالله تعالی لویوالی دزړه نه ختمیدل،نعمتونه شوکیدل،دبلاګانونزول اودشیطان مقرر کیدل،دزړه پریشاني،دمرګ وخت کې کلمه نه نصیب کیدل،دالله تعالیٰ درحمت نه مایوسه کیدل اودې وجې نه له توبې پرته مرګ راتلل.

دعبادت دځینې دنیوي ګټو بیان:

بهشتي زیوراوله برخه، روزي اورزق زیاتیدل،هر قسمه برکات نازلیدل،تکلیف اوپریشاني ختمیدل،تکلیف په آسانه ختمیدل،دخوند زندګي شروع کیدل،باران کیدل،هرقسمه بلا ختمیدل،دالله مددګاري اومهرباني،فرشتو ته حکم ملاویدل چې ددې بنده زړهٔ مضبوط ګرځي،ریښتنی عزت ملاویدل، مرتبه اوچتیدل،دټولوخلکو زړونو کې دی محبوب کیدل.قرآن کریم ددده په حق کې اوریدل،دمال په نقصان سره بدله ملاویدل،ورځ په ورځ نعمت کې ترقي ملاویدل.مال زیاتیدل،په زړهٔ کې راحت اوتسلي ملاویدل،آینده نسل ته نفع رسیدل.په اولاد کې غیبي زیري اوریدل،غربت ختمیدل،په لږ شي کې زیات برکت کیدل،دالله تعالی خوښ ختمیدل

حضرت محبوب سبحاني سید عبدالقادر جیلاني:

حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله خپلې مور دعلم دحصول له پاره بغدادته دیوې قافلې سره ولیږه. مور یې هم ولیه وه (۸۰) دیناره چې دې ته په میراث کې رسیدلي وو دهغو نه یې ۴۰ دیناره زوی ته دضرورياتوپوره کولو له پاره ورکړل اودرخصتیدو په وخت کې یې ورته نصیحت وکړ چې بچیه همیشه ریښتیا وایه،دروغ مهٔ وایه،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خکه چې رسول الله ﷺ فرمايي چې:

"اَلصِّدقُ يَنجِي وَالكَذِبَ يهلِك" ريښتيا انسان بچ کوي او دروغ انسان هلاکوي.

دا نصيحت فرمانبردار به بچي په غور سره واوريده او قافلي سره بغداد طرفته روان شو، په لاره کې ډاکوان راغلل او دقافلي لوټ کول يې شروع کړل، دوی نه يې پوښتنه وکړه هلکه! ستا خومره روپۍ دي، ويې فرمايل: ۴۰ ديناره، ډاکوانو پرې يقين ونه کړ خکه چې باقي اهل قافله به غلط بياني کوي ويې نيولو اوخپل سردار ته يې بوتلو سردار هم درڅم باره کې پوښتنه وکړه نو هغه ته يې همدغه رنګ صفا صفا حال وويايه، سردار ترې پوښتنه وکړه چې هغه دينار کوم خای دي هغۀ دتيلي نه راووېستل اوبنکاره يې کړل ملګري احمد ورته وويل چې دا خو داسې خای کې پرتې وې چې دتلاشي وخت کې هم نۀ ملاويدې، دوی جواب ورکړ چې ماته مور ويلي ؤ چې يو وخت کې به هم دروغ نۀ وايې دقافلي دسخت زړې سردار په زړه دومره غټ اثر وشو چې دزړه دنيا يې بدله شوه دسترګو نه يې اوښکي جاري شوې او ويې ويل چې مور دالله اودنبي خومره فرمان اوارشادات اوريدلي دي خو نافرماني مو کړې اودې ماشوم يو فرمان واوريدو اوعمل يې پرې وکړ، دده دزړۀ نرموالی زيات شو اوتوبه يې وويسته،ده سره باقي ډاکوانو هم توبه وويسته.

یک زمانه صحبت با اولیاء بهتر از صد ساله طاعت بے ریا (رومی رحمه الله)

دي ډاکوانو تول لوټ شوی مال واپس کړو،دحضرت محبوب سبحاني ﷺ وعظ به په توحيد اواتباع شريعت باندې و،ددوی يو وعظ دادی:

اِتَّبِعُوا وَلَا تَبتَدِعُوا وَاَطِيعُوا وَلَا تَعصُوا وَاصبِرُوا وَلَا تَجزَعُوا وَتَوَكَّلُوا وَلَا تَيأَسُوا وَاجمَعُوا عَلَى ذِكرِ اللهِ وَلَا تَفَرَّقُوا وَتَكَلَّمُوا بِالتَّوبَةِ عَنِ الذُّلُوبِ وَلَا تَلَطَّخُوا عَن بَابِ مَولَاكُم فَلَا تَبرَحُوا.

ترجمه: دالله اودرسول اطاعت وکړئ بدعات مۀ کوئ،اطاعت وکړئ ،نافرماني مه کوئ، صبر وکړئ،بې صبري مه کوئ،دپراخي انتظار کوئ ناامیده کیږئ مه، دالله تعالیٰ ذکر له پاره جمع کیږئ او بې اتفاقي مۀ اختیاروئ، د ګناهونو نه توبه اوباسئ، د ګناهونو له ګندګۍ نه خانونه پاک کړئ ناپاکه مۀ جوړیږئ،اودخپل آقا اوالله تعالیٰ نه ووېریږئ اومخ ترې مۀ اړوئ.

يو ځل يې وفرمايل: که ددنيا تول مال راکړل شي نو زۀ به يې فقراء ومساکينو باندې وخوړم کاش! چې نن دې مالدارو دحضرت شيخ په دې عزم باندې غور کړی وای اودخپل مال نه يې دغريبو مسکينانو برخې ويستلې،ددوی په مال کې به هم برکت و.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د نومورې یې څو ملفوظات:

حضرت غوث همداني محبوب رباني حضرت شیخ جیلاني فرمايي دالله تعالی ښه تقوی اختیار کړه،دخپل نفس مرسته مه کوه،هر قسمه غذاګاني خوره مګر دزهد په لاس نه درغبت په لاس ،ستاسو زړونه خومره سخت شوي دي،تاسو امانت هیر کړو تاسونه شفقت اورحمت اوونو،دشریعت احکام تاسوسره امانت وو ، تاسوهغه پریښودل،افسوس که تاسو دامانت حفاظت ضروري ونه ګڼلو نو عنقریب ستاسو په سترګو کې به اوبهٔ راشي الله تعالی به دخپل رحمت دروازه په تاسو بنده کړي،خپل سرونه دالله نه پرته دبل چا مخې ته مه ټیټوئ،دهر خلک داسې دي چې لمونځ، روژه، زکات اوحج دخلکو له پاره کوي دخالق له پاره يې نه کوي دونیا زیاته برخه دمخلوق مخلوق جوړه شوې ده،تاسو ټول مړه زړه یئ اوژوندې نفس یئ،دژوندې خواهش والا یئ،ددنیا طلبګار یئ،دزړهٔ زندګي داده چې زړه دمخلوق دخیال نه روغې اوباطني طور باندې الله تعالی سره وابسته شي،دلته دصورت اعتبار شته دزړهٔ زندګي دحق تعالی دحکم په تعمیل باندې پابند پاتې کیدو اوپه مصیبتونو باندې صبر کولو سره حاصلیږي. دبنده دزړه آبادي اسلام دی، ته دنفس، دنیا اوخواهشاتو بنده یې، ستا یوازې اقوال دي افعال نه، اوکهٔ افعال دي نو په هغو کې توحید اواخلاص نشته. (غنیة الطالبین)

بدعت اصل کې مخلوق پرستې ده اوپه دې کې تکلفات وي، فضول خرچي وي، نام ونمود وي اوګرانې وي، ددې مقابله کې سنت وي چې آسان اوارزان وي، په دې کې بناوټ . خان ښودنه نه وي. فضول خرچي نه وي، په ظاهره خو کشش نه وي، خو هر انسان پرې په آسانه باندې عمل کولی شي اوپه بدعت باندې هر انسان عمل نه شي کولی، دسنت حیثیت عالمګیره وي اوبدعت علاقائي وي،دیوې علاقې بدعت بیا شان وي اودبلې علاقې بل شان،ددې مقابله کې سنت دی چې په تمام عالم کې یو شان وي،په سنت باندې عمل کولو سره روح ته اطمینان ،سکون ، قوت اوتازګي ملاویږي اوپه بدعت باندې عمل کولونه پس هر پریشاني اوفکر وي، دې وجې نه مسلمانانو! سنت ژوندې کړئ خوشحاله به یئ، ګني حشر کې به دحضور ﷺ مخې ته شرمندګي اوملامتیا وي، مګر اصل خبره داده څنګه چې مولاز زومي ﷺ فرمايي هر بنده دحق خبرې اوریدو تاب نه لري فرمايي:

برسماع راست هر کس چیز نے طعمه هر مرغکے انجیر نیست

حق خبره هر یو بنده نه شي اوریدای څنګه چې اینځر دهري مرغي. خوراک نهٔ شي جوړیدای. بدعات اوشرکیات پریږده اودیو الله تعالی عبادت اختیار کړه فرمايي:

بنده بګسل باش آزاد اے پسر چند باشی بند سیم وبند زر

دغلامي قید مات کړه آزاد جوړ شه ای زویه تر څو به دسرو او سپینو زرو غلام یې.

هرکه راجامه زعشق چاک شد او ز حرص وعیب کل پاک شد

دچا جامه چې په عشق خداوندي باندې وشلیده هغه دحرص او هوس نه مکمل پاک شو.

بالله امولږ تمام مسلمانانو ته دسردار دوعالم ﷺ دپیغمبرۍ محبت اوفرمانبرداري توفیق راکړي. آمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ربیع الثاني دمیاشتې دریمه خطبه

عدل واحسان

دهجرت په (۱۰)اودنبوت په (۱۴) کال حضور ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ اوتشریف آوړي یې وکړه،دادربیع الاول میاشت وه، تشریف راوړو سره حضور ﷺ دمسجد نبوي بنیاد کیښودد ،بیالونه یې دخامو خښتو وړ اوپه چت یې دکجورو پټې واچولې، دمسجد ځای ددوو یتیمو ماشومانو ملکیت و چې په هغه کې یو ځو دکجورو ونې وې اوځاروې به هم دلته راغوندیدل. حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې دا ځای دچا ملکیت دی؟ معاذبن عفراء عرض وکړ چې زما رشته دار دوه یتیمان ماشومان ددې مالکان دي اوهم زما په لاس باندې پرورش کوي. زه به هغوی رضا کړم،تاسو ﷺ نبه په شوق باندې مسجد جوړ کړئ، حضور ﷺ وفرمایل نه! اول به ددې قیمت ادا کوم بیا به پرې مسجد جوړوم، بغیر قیمت یې نه قبلوم، چنانچې حضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ به دغه وخت کې دمسجد قیمت ادا کړ اودحضور ﷺ په حکم باندې دکجورو ونې کټ کړای شوې. دمسرکینو قبرونه هوار کړای شو اودمسجد دتعمیر کار شروع شو. حضور ﷺ به دې وخت کې څه ډول دانصاف فیصله وکړه، دماشومانودولي داجازت باوجود یې هم دقیمت بغیر کار شروع نه کړ،دادحضور ﷺ عدل وانصاف ؤ،به دویم نمبر کې دنبي پاک ﷺ دمساوات یې مثاله سبق دی چې دمسجد تعمیر شروع شو ،نوخپله هم سرورکائنات ﷺ دتعمیر به کار کې مصروف ؤ اومهاجرین وانصار به ډېر شوق او اهتمام‌سره په دې کار کې لګیا وو. ددې مناسبت په اعتبار سره مورډدې خطبې عنوان عدل وانصاف کیښود،حضور ﷺ چونکې امام کائنات و، ددوی ﷺ هر عمل زمونږ له پاره اسوۀ حسنه ده. له دې وجې نه دقیامت پورې دتمامو حاکمانوله پاره سبق دی چې هغوی عدل وانصاف قائم کړي. دخپلو ماتحتو خیال وساتنې اومساوات قائم کړئ، ظلم نه کوئ دغریبو اومسکینانوخبرګیري وکړئ.په دې وجه به ملک برقرار وي.ګنې کوم ځای کې چې دا محاسن اوخوبې نظرانداز کړای شي هغه ملک تباه وبرباد کیږي، هغه محلي، کلي اوعلاقې به برباد او ویران شي له تیټ روتیه بنده نه واخله تر یو بادشاه و وزیراعظم پورې تمام حاکمان په څه نا څه درجه کې دي، مثلاً خاوند دکور له پاره دښخې له پاره،مشر وررکشر وررله پاره،مور دبچیو له پاره دمحلې مشر دکلي مشر دعلاقې مشر بیا په هره محمکه کې یو نه یو مشر وي. لهذا کومه معاشره چې کله په عدل وانصاف باندې عمل پیرا وي؛ نوپه ټول ملک باندې به رحمتونه نازلیږي،امن وامان به وي، تحفظ به وي،برکت اوخیریه وي اوګراني به ختمه شي. دابنکلي اصول دي که په دې باندې عمل وکړو؛ نو مونږ مسلمانان یو مثالي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

معاشره جوړولی شو. ګني نن چې مونږ مسلمانان تباه حال یو ،ددې غټه وجه داده چې مونږ دخپل نبي پاک ﷺ اسوه حسنه پریښې ده اودیهودونصاري ،روس، امریکه،چین ،فرانسې،برطانیې اودبې دینه خلکو اصولو باندې روان یو، دې وجې نه مونږه پریشان یو. قرآن وحدیث کې مونږ ته دعدل وانصاف اومساوات حکم راکړی دی، مګر هغه مساوات نه. دکومو دعوه چې روس اوچین کوي، هغه خو مساوات نه، بلکې ظلم دی. دیوې پارټۍ حکومت دی چې هلته نۀ د ژبې آزادي اونۀ دافکارو آزادي .نۀ کاروبارآزادي اونۀ دعبادت،نۀ دتلو راتلو آزادي اونۀ په زور باندې دحکومت کولو آزادي چې کله اظهار رایه نشته؛ نودا څنګه مساوات دی؟ چېرته چې یې هریو بنده جبري ملازم جوړ کړی دی. کوم انقلاب چې په لکونو او کروړونو خلکو په قتل عام باندې راغی اوهرقسمه آزادي ختمه شوه. نو دې ته کوم عقل مند مساوات ویلی شي؟ دعدل وانصاف باره کې ارشاد رباني دی:

إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَائِ ذِي الْقُرْبٰى.... الخ (پ۱۴ سورۀ نحل آیت نمبر ۹۰)

ترجمه بیشکه الله تعالیٰ دعدل ، احسان او خپلوانو ته دورکړې حکم کوي اودبنکاره بدي نه دیج کیدو حکم کوي، ددې له پاره چې تاسو نصیحت قبول کړئ!

یعني په هر یو کار کې عدل کوه،دعدل نه مراد اعتدال هم دی یعني په عقائدو، معاملاتو اواعمال ظاهره وباطنه کې اعتدال ساته اونیکي کوه احسان کوه،احسان اونیکي کې نږدې بنده حق زیات دی، اودبدي نه ځان بچ کړه،بې حیایي سره نیکي هم ضائع کیږي،په دویم ځای کې ارشاد دی چې زمونږ دپیغمبر اطاعت کوئ الله رب العزت فرمائي:

"وَمَن يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُولَ فَأُولٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ... الخ" (پ۵آیت ۲۹)

ترجمه اوځوک چې دالله اودرسول خبره ومني نو داسې کسان به هم دهغه کسانو سره وي چې په چا باندې الله انعام کړی دی یعني انبیاء، صدیقین، شهداء اوصلحاء اوداحضرات ډېر ښۀ ملګري دي

نبي ﷺ دایمان دټولو نه په اعلیٰ مرتبه باندې دی، ددې نه پس صدیقین دي، بیا شهداء اوبیا عام مومنین نیک وصالح.اطاعت هله کیږي کله چې دالله ورسول ﷺ اطاعت وشي، دالله تعالیٰ احکامات دحضور ﷺ په طریقه باندې وشي،کۀ دحضور ﷺ دطریقې خلاف وکړل شي.که څه هم هغه دنیکي جذبه وي بیا به هم قبول نۀ وي، نن سبا ډېرې رفاهي اداري کولاو دي. مګر رقم یې دسودکاري وي، نو په دې کې چې څومره کارونه درفاهي وشي هغه دثواب په ځای دعذاب سبب جوړیږي، مثلاً نن سبا بیمه پالیسي،بچت پالیسي،انعامي باند وغیره په رفاهي نوم باندې دي. لیکن کار دسنت نبوي ﷺ خلاف دی، دې وجې نه ددې کار دالله

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تعالیٰ په حضور کې هیڅ قسمه قیمت نشته، دالله په در کې دیو کار دقبلیدو معیار سنت نبوي ﷺ دی، کهٔ په دې باندې پوره راغلې بهتر ګڼي غلط دی

قسمت سے مل گئی ہے قیادت حضورؐ کی — اللہ کا کرم ہے عنایت حضورؐ کی
دو لفظ ہیں خلاصہ عرفان و آگہی — وحدانیت خدا کی رسالت حضورؐ کی (زکی کیفی)

غلام اوماتحت سره دښه سلوک حکم:

عَنْ اَبِي ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم اِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللّٰهُ تَحْتَ اَيْدِيْكُمْ فَمَنْ جَعَلَ اللّٰهُ اَخَاهُ تَحْتَ يَدَيْهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا يُكَلِّفُهُ مِنَ الْعَمَلِ مَا يَغْلِبُهُ فَاِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ. (متفق علیه)

ترجمه: حضرت ابوذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې حضور ﷺ وفرمایل:غلام دستاسو ورور دی،دین اوخلقت په اعتبار سره،هم ستاسو پشان دی، که الله تعالیٰ دوی (ستاسو)آزمائش له پاره،ستاسو ماتحت جوړ کړي (یوکس چې دیو غلام مالک جوړ شي،نو ده لره پکار دي چې څه دی خوري هغه دي په هغهٔ هم خوري اوخهٔ چې پخپله اوغوندي هغه دي هغهٔ ته هم وراغوندي، ده نه دې داسې کار نهٔ اخلي کوم چې ددهٔ دوس نه بهر وي اوکهٔ داسې کار تري اخلي چې دهغهٔ دوس نه بهر وي نو بیا دې ورسره خپله هم مرسته وکړي. (بخاري ومسلم بحوالهٔ مشکوة)

امام نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي چې په دې حدیث کې مالک ته دا حکم چې غلام باندې هغه څهٔ وخوري کوم چې دی خپله خوري اوهغه څهٔ دې ورته واغوندي کوم چې دی په خپله اغوندي دوجوب په اعتبار سره نه، بلکې داستحباب په طور دی، مالک باندې دمملوک دومره حیثیت باندې نفقه واجب ده څومره چې عرف عام اودستور مطابق ده،که دمالک دخوراک اولباس نه بهٔ وي یا کمزوري، خو مالک په خپل خوراک کې تنګي دزهد اوقتويٰ په بنیاد باندې کوي نو مملوک په حق کې داجائز نهٔ ده،دحدیث مبارکه دآخري جملې مطلب دادی چې کوم کار دغلام له پاره مشکل په نظر راځي اوهغه ددې په کولو کې تکلیف محسوس کړي نو دې کار په تکمیل کې دغلام سره مدد وکړه ،که پخپله ورسره مرسته کوي یا بل څوک مدد له پاره متعین کوي، دبعضې بزرګانو په باره کې منقول دي چې هغوی به په میچن اوړه کولو کې دخپلو وینځو مرسته کوله داسې چې هغوی سره به یو ځای ناست وؤ اومیچن به یې کوله.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دغلام اومانحت خوراک بندول ګناه ده:

وَعَنِ عَبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ جَاءَتْهُ قَصرَمَانٌ لَه فَقَالَ لَه أَعطَيتَ الرَّقِيقَ قُوتَهم قَالَ لَا قَالَ فَانطَلِق فَأَعطِهِم فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ كَفٰى بِالرَّجُلِ إِثماً أَن يَحبِسَ عَمَّن يملِكُ قُوتَه وَفِي رِوَايَةٍ كَفٰى بِالمَرءِ إِثماً أَن يضَيِّعَ مَن يقُوتُ. (رواه مسلم)

ترجمه اودحضرت عبدالله بن عمر (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) باره کې منقول دي چې يوه ورځ ده لره د دوی يو کارکوونکی راغی، ده ترې پوښتنه وکړه چې آيا تا غلامانو اوويښو ته ددوی خوراک ورکړی دی؟ هغه وويل نه!، عبدالله بن عمر (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) وفرمايل فوراً واپس شه اودوی ته خپل خوراک ورکړه؛ ځکه ما درسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې دبنده دګناه له پاره دا کافي ده چې دی خپل مملوک ته خوراک ورنه کړي، يو روايت کې دا الفاظ راغلي دي چې حضور ﷺ وفرمايل، دبنده دګناه له پاره دا کافي ده چې دکوم بنده رزق دده په لاس کې دی، يعني دخپل اهل وعيال (غلام اوويښځه) اودی دهغوی روزي ضائع کړي.

غلام له پاره دوچند اجر:

وَعَنِ عَبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِنَّ العَبدَ إِذَا نَصَحَ لِسَيِّدِهِ وَأَحسَنَ عِبَادَةَ اللهِ فَلَه أَجرُه مَرَّتَينِ. (متفق عليه)

ترجمه حضرت عبدالله بن عمر (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل چې کله يو غلام دخپل آقا خيرخواهي کوي (يعني دده ذرې نه خدمت کوي) اوبيا دالله تعالىٰ عبادت هم بې طريقې سره کوي؛ نودۀ ته به دوچند اجر ملاويږي. (بخاري ومسلم)

تشريح: دۀ ته دوچند اجر ملاويدو صورت دادی چې يو ثواب خو دآقا په خدمت باندې اوبه ثواب دالله تعالىٰ په عبادت باندې ملاويږي، ددی نه معلومه شوه چې دخپل آقا خدمت کول هم عبادت دی، بلکې حقيقت کې داهم عبادت دی ځکه چې دالله تعالىٰ دحکم فرمانبرداري ده اودغه رنګ دالله تعالىٰ حکم هم داسې دی چې دخپل آقا اومولىٰ خدمت و خيرخواهي وکړئ دې وجې نه کوم غلام چې دخپل آقا خدمت کوي په حقيقت کې هغه دخپل پروردګار دحکم فرمانبرداري کوي. لکه څنګه چې مور و پلار په خدمت کولو سره ده ته ثواب ملاويږي؛ ځکه چې دمور و پلار خدمت کول دالله تعالىٰ دحکم فرمانبرداري ده، سبحان الله! څومره ښۀ اصول دي چې حاکم ومحکوم په مينځ کې محبت باندې عمل وشي نو فيکترو، کارخانو، اودفترونو کې به هم تالونه ختم شي، کۀ سرمايه دار دفيکتريانو مالکان ملازمانو ته خپل حق ورکړي؛ نو به دنيا کې به يوه مثالي معاشره قائمه شي چې روسي اشتراکي ومغربي سرمايه داري دواړه نظامونه به تباه شي؛ ځکه چې دواړه نظامونه دمالک ومزدور په مينځ کې جګړه پيدا کوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دامارت اوقضاء بیان:

اسلام ددنیا یو متحد مذهب هم دی اودټولو نه طاقتورهم دی،اسلام چې ځرنګه دانسانیت عامه دیني، مذهبي،اواخلاقي،اخروي،دفلاحي وکامیابي دټولو نه آخري اومکمل قانون هدایت دی، دغه راز هغه یو داسې لافاني سیاسي طاقت هم دی چې دانساناتو عامې فائدې اوعامه بهتري اوعام تنظیم له پاره حکومت وسیاست نه خپل تعلق کلم کلا ظاهروي دا یو ناقابل تردید حقیقت دي چې اسلام یوازې یو مذهب هم نۀ بلکې دمذهب په حیثیت سره نور هم ځۀ دي، ددې دحکومت، سیاست اوسلطنت سره هغه تعلق دی چې ددې کائنات ټولو نه لوی نه لوی حقیقت سره ګیدای شي، دې ته محض یو داسې نظام نه شي ویل کیدای چې یوازې دباطن داصلاح فرائض ادا کوي، دا یو داسې دیني نظام هم ګڼل پکار دي چې دخداترس اوخدا شناس روح دقوت نه دنیا مادي نظام باندې عالمګیر غلبې دعوه لري. همدا وجه ده چې دقرآن کریم اچې اسلامي تصوراتواونظریاتوسرچشمه ده، اواحادیث اچې دقرآني هدایاتو شارح اوترجمان دی، ډېره لویه حصه داسلام اوحکومت وسیاست تعلق ثابتوي. کله په تاریخي انداز کې .کله دتعلیماتو ـیه انداز اوکله دالله تعالیٰ د انعاماتو د ظاهرولو په صورت کې مونږ باندې دا واضحه کیږي چې داسلام اوحکومت په مینځ کې تعلق نشته بلکې داسلام دبنیادي عقیدې و تصور مطابق چونکې دا ځمکه دالله تعالیٰ ملکیت دی اوپه دې ځمکه حکومت دالله حق دی، دې وجې نه داسلام یو بنیادي مقصد داهم دی چې په دې ځمکه دالله حکومت قائم شي اودهغۀ نازل شوی قانون نافذ شي،

مونږ ګې چې کوم کوږ فکر والا خلک دي هغوی د ''مذهب وسیاست'' په مینځ کې دتفریق دیوال قائموي او اسلام دسیاست وحکومت نه بالکل بې تعلقه وبې واسطه کول غواړي، هغوی په اصل کې د مسلمان مخالفه عناصرو اودخراب دماغوسازش ښکار شوي دي چې پخپله خوښې تر ننه پورې حکومت د''مذهب''نه آزاد کړی نۀ دی، لیکن دمسلمانانو سیاسي پرواز اوهمه ګیر پیش قدمي ختمولو له پاره مذهب اوسیاست اوحکومت مستقل بحثونه پیدا کوي اود مسلمانانو په فکر وعمل کې ددین اودنیا دعلیحدګۍ زهر خوردي، (مظاهرحق،اسلامي سیاست پاک صاف سیاست دی اوهغه ددین تابع دی، نن سبا ډېر خلک داسلام نوم استعمالوي اوسیاست کوي، دوی سیاست اصل اواسلام اودین یې تابع ګرځولی دی. حالانکې معامله خوددې برعکس ده چې سیاست ددین تابع دی، اصل دین دی، دې بارۀ کې علامه اقبال فرمایي:

جلال بادشاهی ہو کہ جمہوری تماشہ ہو جدا ہو دیں سیاست سے تو رہ جاتی ہے چنگیزی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضور ﷺ داسې حاکم ډ چې پخپله به هم دملګرو په کار کې شریک و ،داسې نه و چې یوازې به یې حکم ورکاو .دا یو مثال دی دښ سبا دیو حاکم له پاره چې هغوی دې درسول الله ﷺ په اسوهٔ حسنه باندې عمل وکړي،دغه رنګ محبت اوتعلق زیاتیږي. ګني خالي حکم ورکول فساد اوجګړه پیدا کوي

دحضرت محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) عدل ،انصاف او مساوات:

حضور ﷺ یو ځل د سفر په دوران کې په یو منزل باندې دیره واچوله دخوراک انتظام شروع شو .دچلې ذبح کولو مشوره وشوه صحابهٔ کرامو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) کې هر یو په خپله ذمه څه نا څه کار واخیست،یو دچلې ذبح کولو ذمه داري واخیسته بل یې دصفا کولو ذمه داري واخیسته دریم دپخلو څلورم صحابي خبره کوله چې نبي مکرم ﷺ وفرمایل دپخلو له پاره به زهٔ دځنګل نه خشاک راوړم، صحابهٔ کرامو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) هر په ادب واحترام سره وویل چې ای دالله نبي ﷺ زمونږ مور پلار دې په تاسو باندې قربان شي. تاسو تکلیف مهٔ کوئ،حضور ﷺ وفرمایل: ماته ښهٔ پته ده چې دستاسو خلکو زما په حال باندې ښهٔ عنایت دی. لیکن ماته دامناسبه نهٔ ښکاري چې زهٔ په تاسو کې په فرق باندې کینم. دوست هغه دی چې ددوستانو شریک کار وي دانهٔ شي کیدای چې تاسو دې کار کوئ اوزهٔ دې تاسو ته هسې ناست یم. ماته ددوستي دحق ادا کولو موقعه راکړئ،چنانچې حضور ﷺ دځنګل نه لرګي راوړل اوجمع کول یې شروع کړل اواکثر اوقات به هغوی دخپلو ملګرو سره برابر شریک ډ دمسجد نبوي تعمیر چې کیده نوحضور ﷺ هم دمزدوري په صف کې شامل و. خاوره به یې کسته اودومره غټ کانې به یې اوچتول چې وجود مبارک به یې ټیټ شو،عقیدت مند صحابهٔ کرام (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) به عرض وکړو چې زمونږ مور پلار دې په تاسو قربان وي، تاسو ﷺ پریږدئ مونږ به پخپله اوچت کړو. ده به فرمایل دهره نبه ده،لیکن لږ وخت پس به بیا هم دومره وزن والا بل کانې اوچت کړې و اودملګرو صف کې به شامل خدمت و،کله چې به صحابهٔ کرامو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) دستري والي ختمولو له پاره رجز ویلو نو حضورپرنور ﷺ به هم دوی سره آواز ملاوړلو،یو ځل دحضور ﷺ دچپل تسمه وشلیده نو حضور ﷺ پخپله ګنډله.یو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړ چې: زهٔ به یې وګنډم، حضور ﷺ وفرمایل چې دا شخصیت پرستي زما نه ده خوښه.

غزوه بدر په موقعه باندې وسپرېدو له پاره څاروي کم وو ،دري دري کسان به نمبر په نمبر په اوښه باندې کیناستل،حضور ﷺ هم خان سره دوه ملګري واخیستل هغوی ورته وویل: ای دالله نبي ﷺ مونږ به پیاده ځو اوتاسو په اوښ کینئ حضور ﷺ وفرمایل: تاسو نه زما نه زیات پیاده تلی شئ اونهٔ زهٔ ستاسو نه دثواب کم محتاجه یم.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وه آئے ہیں جہاں میں رحمۃ للعٰلمین ہوکر — پناہ بیکساں بن کر شفیع المذنبین ہو کر
خرد کیا کرسکے گی ان کی رفعتوں کا اندازہ — فلک بھی رہ گیاجن کے لئے فرش زمین ہوکر

(زکی کیفی)

د لرمي اومعافي حکایت:

(۱)د خلیفه راشد حضرت عمر بن عبدالعزیز په اړه نقل شوي دي چې هغه یو کس غوسه کړی و هغهٔ ته یې داسې وویل کهٔ چېرته تا زهٔ غوسه کړي نه وی نو ما به تاله سزا درکوله په دې قول کې "وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ" طرفته اشاره ده.

(۲) یو ځل دوی یو مدهوشه کس وکتو اراده یې وکړه چې گرفتار یې کړم اودنشي سزا ورته ورکړم، هغه کس دوی ته کنځل وکړل، دوي پریښود، یوکس تري پوښتنه وکړه چې څهٔ وجه ده، امیر المؤمنین چې هغه تاسو ته کنځل وکړل اوتاسو پریښود، ویې فرمایل چې: دهٔ په کنځلو ما ته غوسه راغله نوکهٔ زهٔ دهٔ ته سزا ورکوم نو زما ذاتي غوسه به هم پکې شامله وي اومانه دا خوښه نهٔ ده چې یو مسلمان ته دخپلې ذاتي غوسې په وجه سزا ورکړم.

(۳)، وایي چې میمون بن مهران رحمۃ اللہ علیہ یوه وینځه وه هغې ترکاري ګرمولې پښه یې وښویده اوترکاري ټوله دمیمون بن مهران په څټ کې پریوته، میمون غوښتل چې دي ته سزا ورکړي وینځې عرض وکړ: آقا! دالله په قول "وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ" باندې عمل وکړئ، حضرت وویل: ډېر ښه ما غوسه وزغمله .وینځې وویل اوس دې کلیماتو "وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ" باندې هم عمل وکړئ، ویې فرمایل: ډېر ښهٔ ما معاف کړې، وینځې وویل: دالله تعالی په دې قول: "وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ" باندې هم عمل وکړئ! آقا وویل: ډېر ښهٔ ماتهٔ آزاده هم کړې، سبحان الله! زمونږه اکابرین څومره خدا ترس اوبامروته اودانسانیت همدرد وؤ، افسوس! چې نن زمونږ په سکولونو کې کالجونو اویونیورسټو کې دې دینه اوګمراه خلکو واقعات بیانیږي، مګر داکابرو بزرګان دین کارنامې برائ بام لوستل کیږي چې دهغو په وجه نوجوانان ددین لرې کیږي اوددې پوښتنه به دهغه کسانو نه کیږي کوم چې د اقتدار خاوندان دي.

بدترین خلک:

حضوراکرم ﷺ فرمایې چې: زه تاسو ته دبدترینو خلکو نشاندهي ونهٔ کړم صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم عرض وکړو چې ضرور یې وکړئ، ویې فرمایل: کوم کس خان ته خوراک کوي اوخپله فائده بنده کړي اوپه خپل غلام باندې کوړې واړوي بیا یې وویل چې ددې نه درته هم بدترین کس وښایم؟ صحابه عرض وکړو ضرور وښایئ ویې فرمایل چې کوم کس یو خطا نهٔ

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

معاف کولې اومعذرت نۀ قبلوي اودچا جرم نۀ بښي، ويې فرمايل ددې نه هم درته زيات
ښه ترين انسان ونۀ ښايم؟ صحابه وو عرض وکړو ضرور وښايئ، ويې فرمايل کوم کس نه چې
وچا دخير اميد نۀ وي اودشر نه ئې څوک محفوظ نۀ وي.

دجلدبازۍ اوصبر نتيجه:

فقيه ابواللیث فرمايي چې: دغوسې په وخت کې حتی الوسع صبر نه کار واخله اودجلدبازي نه
خان وساته اودصبر نتيجه د دري شيانو په صورت کې ظاهريږي اودجلد بازي په صورت کې
خوږ وي خرڼګه چې يو شاعر وايي چې دحلم ذائقه ابتداء ترخه وي مګر آخره کې دشاتو نه هم
زيات خوږ وي (تنبيه الغافلين) شيطان دانسان ازلي دوښمن دی، هر وخت په دې کوښښ کې
وي چې انسان ګمراه کړي، مګر ايمان وعمل والا انسان باندې ددۀ تسلط نۀ کيږي. شيطان
خپله هم دالله تعالیٰ نه لرې دی اوانسان هم دالله تعالیٰ نه لرې کول غواړي. شيطان دجنت نه
لرې دی اودوزخ ته نژدې دی، الله تعالیٰ خپل محبوب اودهغۀ اُمت ته دشيطان نه پناه
غوښتو حکم کړی دی چې ددوزخ نه لرې اوجنت ته نژدې شي اودجزا اوسزا ورکونکي ذات
طرفته متوجه شي. داسې ده چې الله فرمايي زما بنده! شيطان زما نه لرې دی اوته ماته نژدې
يې. دې وجې نه دخپل ځان حفاظت پخپله کوه، چې شيطان ته ستا طرفته لاره ملاؤ نۀ شي
.دواجباتو ادائيګي اوممنوعاتو نه اجتناب په ښې طريقې سره کوه،تقدير خداوندي چې ستا
به مال جان اولاد وعيال باندې جاري شي، ته پرې رضامندي اختيار کړه، که بنده ددې
کارونودوام وکړي اوهميشه پابند وي اودا هميشه خپله غاړه کې اميل کړي، نو ده ته به
شيطان دفتنو وسوسو،دنفس دخطراتو اودقبر دعذاب نه نجات حاصل شي ، دقيامت
شدت نه اوددوزخ دعذاب نه به بچ وي اودالله په قُرب کې جنت الماوي کې به دپيغمبرانو
صديقينو شهداؤ اوصالحينو سره وي اوداخلک به دده بنۀ ملګري وي،هغه به هر حال کې
دالله په نعمتونو کې ګرځي.الله تعالیٰ فرمايي: "إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ" زما په
خاص بنده ګانو به ستا قابو نه وي. (القرآن سورۀ الحجر ۴۲پ۱۵)
کله چې بنده دالله تعالیٰ دبندګي نشاني وي نو کمزور اوحقير ،ذليل شيطان نه په ده باندې
تسلط کولی شي. نه په جلوت کې نه په خلوت کې اونه دده دارادې په وخت دګناه په زور دده
په ژبه باندې قبضه کولی شي اونۀ دده په اعضاؤ باندې چې دمعصيت له وجې به دی هلاک
اوتباه شي. بلکې په داسې وخت کې به دی غيبي آواز اوري چې مونږه دخواهش اونفس

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پریښودونکو خلکو اوبه حق لاره تلونکو خلکو داسې مدد کو ؤ، ددې بنده په حق کې دعالم بالا فرشتې په خپل مینځو کې جګړې کوې اوبه عالم ملائک کې دی دیزرګ په نوم باندې مشهور وې.الله تعالیٰ به عرش عظیم باندې استواء کولو په وخت دخپل کلام قدیم سره کوم چې قاري دتلاوت شروع کیدو په وخت کې دهر شیطان نه حفاظت له پاره وایي په یاد بنده باندې فخر سره دفرشتو مخکې قرآن مجید کې فرمایي.

"کَذٰلِکَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْءَ وَالْفَحْشَآءَ" (سورهٔ یوسف آیت ۲۴) دا خکه چې مونږ دده نه بدي اوبې حیائي لرې کړو، بې شکه هغه زمونږ په غوره بنده ګانو کې دی.

ددې وجه یوازې داده چې بنده په ظاهر اوباطن کې دالله تعالیٰ نه ویریږي، نو دشیطان مردود اودهغه ددعوت نه لرې تښتیدل پکار دي. چنانچې دده نه ویریدل دالله دطرفه دې فرمایي:

"اِنَّ الشَّیْطٰنَ لَکُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا اِنَّمَا یَدْعُوْا حِزْبَهٗ لِیَکُوْنُوْا مِنْ اَصْحٰبِ السَّعِیْرِ"

ترجمه: شیطان ستاسو یقیني دوښمن دی، تاسو یې دوښمن وګڼئ! هغه خو یوازې دې وچې نه تاسو خپل ګروپ ته راغواړي چې دوزخي چوړ شئ .هغهٔ دهر زیات خلک ګمراه کړي دي آیا تاسو دومره نهٔ پوهیږئ؟

غرض داچې دشیطان پیروکاري دهري بدبختي. اوتکلیف جړوه ده اودشیطان مخالفت خوښ نصیبي. آرام و راحت .هدایت اولازواله جنت دی.

عادل، سخي اوبهادر حاکم:

حسین خان داکبر بادشاه په دور کې په لویه عهده باندې و،دهر بهادر، منصف، سخي، او عادله بادشاه و، ویئي چې کومو ورخو کې لاهور کې مستقل حاکم اوخود مختاره، ددهٔ په دسترخوان باندې به هر قسمه نعمتونه اوخوراکونه وؤ اوددهٔ په دسترخوان باندې بلاتفریق هر مذهب اوملت واله بغیر دخهٔ تخصیص نه خپل پردې امیر غریب،هر انسان خوراک کولی شو .خپله به یې دخلکو لاسونه وینځل اوابه به یې پرې ځښلي اوویل به یې: "بخورید دوستان بخورید مال مال خدا جان جان خدارزق شما برخوان این خدا هان بخورید" باوجود ددې چې ویل به یې چې: حضور ﷺ دمزو خوراکونه نهٔ دي کړي نو زهٔ یې ځنګه وکړم؟ په پالنګ اوترمو بسترو به نهٔ ځملاست چې حضور ﷺ داسې آرام نهٔ دی کړی زهٔ ولې داسې آرام نه مزې واخلم؟ هزار مساجد یې تعمیر کړل،اکثر علماء مشائخ اوسادات به ددوی په مجلس کې وو، دې وجې نه سفر کې به په کټ باندې نهٔ ویدهٔ کیدو چې ددوی بې ادبي ونهٔ شي اکثر به یې نفلي روژې نیولې، په جماعت لمونځ کاو اوتهجد ترې کله هم نهٔ دي قضاء شوي، په لکونو جاګیر و. لیکن دیو اس نه سوا به یې هیڅ هم نهٔ ساتل،اوکهٔ داسې څوک مستحق به راغی نو هغه به یې هم هغوی ته ورکړ اوخپله به پیاده تلو اونوکر غلام سپاهیان ټول به په اسونوباندې تلل،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هم يې خوړلی و چې روپۍ به هم نۀ جمع کوم کله به چې يو روپۍ را غله او هر خو چې به يې مسلمان نه نۀ وه ورکړې په سينه کې به ورته لکه ځښې داسې محسوسيده. شجاعت او بهادري داسې چې کله به يې جنګ سامان واچولو نو دعايه يې وکړه، الهي شهادت به فتح خلکو به ورته ويل چې اول فتح ولي نۀ غواړې جواب به يې ورکړ چې ډير شوق دوستانو ديدار دموجوده نه زيات دی، سخي خو دومره ؤ کۀ دډنيا جهان دولت او سلطنت به ورته ملاؤ شو نو داسې به يې تقسيم کړ چې په همدغه ورځ به فرضداری ښکاره کيده، خو ورځ يې په شا باندې زخم ولګيده، شاهي جراح به مرهم زخم کې وردننه کړو چې معلومه شي چې زخم کوم خای پورې دی، هغه بهادر به دا درد ډير په آسانه زغملو، يې تکلفه به يې خندل اوخبرې به يې کولې، آخر کار ددغه زخم دوجې په خلورمه ورځ باندې وفات شو، کوم مرد سخي چې دعالم خزانې په مخلوق باندې وشيندلې دمرګ وخت کې ورسره دومره څه نه وو چې کفن دفن يې پرې وشي.

يا الٰهی تو همیں عالم قرآں کر دے　　پھر نئے سرے سے مسلماں کو مسلماں کر دے
وہ پیمبر جسے تاج رسل کہتے ہیں　　اس کی اُمت کو ذرا تابع فرماں کر دے

دحضرت صديق اکبر(رضی الله عنه) دخدمت جذبه:

يوه بوډی اومعذوره زنانه وه چې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به هره شپه دهغې خبر ګيرۍ کوله چې دمدينې منورې سره خواکې به اوسيده، مګر څه ورځو نه پس ده محسوس کړه چې زمانه مخکې يو بنده راځي اوددې کار کوي،نومورې سخت حيران و چې دامخلصه اوخدا ترسه انسان څوک کيدای شي؟ آخر يوه شپه ددې کتلو له پاره چې دا بنده څوک دی هلته ايسار شو، سبحان الله! ويې کتل چې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ؤ، حضرت عمرفاروق رضی الله عنه عرض وکړو چې واقعي ستاسو نه علاوه نورداسې څوک کيدای شي؟

حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه دخليفه منتخب کيدوپه دويمه ورځ باندې څه جامې اخيستې وې اوبازار ته روان ؤ. په لاره کې ورسره حضرت عمر فاروق اوحضرت عبيده بن جراح رضی الله عنهما ملاؤ شو، پوښتنه يې تري وکړه چې چرته ځې؟ويې فرمايل چې بازار ته ځم داجامې خرڅوم. دواړو عرض وکړو چې په تاسو خو دخلافت بوج دی، ويې فرمايل چې دبچيو پرورش خو لازمي دی کنه. دوی دواړو حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه ځان سره راوستو اوصحابه کرامو رضی الله عنهم سره يې مشوره وکړه چې دحضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه ماهانه وظيفه مقرره شي. ځرنګه چې دخلافت نه مخکې ددوی ځرچه وه هماغه رنګ مقرره شوه. دې نه علاوه دحج د سفر له پاره سواري مقرر شوه اودوه ځادرې چې کله يو زوړ شي نوبل استعمالولی شي. مسلمانانو! دغور مقام دی دتاجدار دوعالم (ﷺ) خليفه اودومره سادګي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

او فقیرانه زندګي! دا د نن سبا حکمرانانو له پاره یو لوی مثال دي ګڼي درعایا مال به یې خپل حق ګڼلو او یې دریغه به ئې استعمالو.

کیسه خالی بارش بهر رفعت یوم الحساب صفر چون خالی است زار قام عدد بالاتر است

مطلب: جیب خالي یعني دمال کمیدل دقیامت په ورځ دحساب داوچتوالي سبب دی ګڼي د زیات مال به زیات حساب ورکوې لکه چې صفر خالي دی دي وجي نه ټولوعددو نه اوچت درجه لري.

محاسبہ سے وہ صبح جزا کے ایمن ہے جو آپ روز وشب اپنا حساب لیتے ہیں

یا الٰه العٰلمین دصدیقي اسوهٔ حسنه مونږ ټولو ته توفیق راکړي. (آمین)

عدالت: عدالت دې ته ویل کیږي چې شهوت او غضب محکوم وساتي اعتدال اوتوازن قائم کړي عدالت دټولو فضائلو سخاوت، شجاعت اوعفت روح دی.

عدل دادی چې انسان کوم شی خپل ځان له پاره خوښ کړي هغه بل له پاره هم خوښ کړي وعده پوره کړي. حقوق ادا کړي. احکام الهي امور شرعیه دزړهٔ نه تسلیم کړي، عدل به هغه وخت کې قائم شي چې کله انسان پخپله په هغه باندې عمل وکړي اوکهٔ خپله بدعمله وي نو بل سړه به څهٔ انصاف وکړي، دیو دانا انسان قول دی: عدالت سراسر فضیلت دی اوظلم سراسر ذلت دی، کله چې په ځمکه باندې عدل وانصاف وي نو زمانه نوراني وي ،دخیر وبرکت ظهور وي. اوکله چې دظلم دوره وي نو دشر وفساد نه ځمکه ډکه شي، دحضور ﷺ ارشاد دی:

"عَدْلُ سَاعَةٍ خَيْرٌ مِّن عِبَادَةِ سَبْعِينَ سَنَةً" (الحدیث) دیو ساعت عدل داویا کاله عبادت نه بهتر دی.

ځکه چې دیو ساعت عدل اثر تمامې ځمکې ته رسیږي، دعبدالله بن مبارک رحمه الله قول دی: کله چېرته ماته معلومه شي چې زما دعا به قبلیږي نو هغه دعا به دبادشاه داصلاح کوم ځکه دډې نفع به عام مخلوق ته حاصله شي، الله دانصاف رواج کړه. آمین!

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ربیع الثاني میاشې څلورمه خطبه

دحضرت معاویه رضي الله عنه فضائل

به ۲۷ ربیع الثاني دحضرت معاویه رضي الله عنه دخلافت اغاز وشو. حضرت معاویه رضي الله عنه جلیل القدر مدبرسیاست دان، بهترین منتظم، ذي وقار، اودې وخت صحابي دي. کاتب وحي دي. دحضور ﷺ رشته دار دي، اوښې يې دي، حضرت معاویه رضي الله عنه دروم قریش خو سیاست ناکامه کړ اوداسلام کلمه يې لرو لرو علاقو ته ورسوله اوداسلام جنډه يې ودروله. دحضور ﷺ صحابي کیدو په وجه باندې دده ډېر لوی مقام دی، په قرآن کریم کې دصحابې رسول تعریف په کوم انداز باندې شوی دی فرمایي

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰهُمْ رُكَّعاً سُجَّداً يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَاناً. (القرآن پ ۲۶ سورة محمد آیت ۲۹)

ترجمه محمد (ﷺ) دالله تعالیٰ رسول دی اوکوم خلک چې دده صحبت یافته دی هغوی دکفارو مقابله کې سخت اوخپل مینځ کې مهربانه دي، ای مخاطبه ته به دوی وګورې چې کله به رکوع کوي اوکله به سجده کوي. دوی دالله فضل او رضاء غواړي

دویم ځای کې ارشاد فرمایي:

أُولٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوىٰ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ.

ترجمه دا صحابه کرام (رضي الله عنهم) هغه خلک دي چې دهغوی زړونه الله تعالی دتقویی له پاره خالص کړي دي خلکو له پاره مغفرت اولوی اجر دی.

دحضرت معاویه رضي الله عنه دماشوم والي نه دداسې خوش تدبیري، سلامت روي اوعفت ال پسندي خاص طور باندې شهرت ؤ، هغه اوږد قد والا سور سپین اوهیبت والا خوان ؤ. حضرت معاویه رضي الله عنه ډېر باسواده و، دفتح مکه په ورځ دخپل پلار ابوسفیان سره د ۲۵، کلو په عمر مسلمان شواوبیا دوفات نبوي ﷺ پورې دحضور ﷺ سره و. جنګ حنین اود طائف په محاصره کې هم شریک ؤ، ددې نه پس رسول الله ﷺ مکې ته تشریف آوري وکړه اوعمره ادا کولو نه پس مدیني منوري ته لاړ؛ نو امیر معاویه رضي الله عنه هم درسول الله ﷺ سره مدیني منوري ته ولاړ اوکاتب وحي مقرر شو، ددې نه علاوه دبهرنه راغلیو وفودو له پاره به خوراک څښاک انتظام هم دحضور ﷺ دطرفه امیر معاویه رضي الله عنه ته وسپارل شو، د حضور ﷺ دوفات نه پس چې کله حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دحضرت امیر معاویه رضي الله عنه درور یزید بن ابي سفیان رضي الله عنه ته یو لښکر ورکړ اوشام ته یې ولیږلو نو حضرت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

امیر معاویه رضی الله عنه ته یې هم یو لښکر ورکړ اوامیر یې مقرر کړو ،په فتوحات شام کې دوې اکثر جنګونو کې بطور مقدمة الجیش لوئې کارنامې انجام کړې اودخپل شجاعت اونرتوب سکه یې په زړونو باندې کینوله. عمرفاروق رضی الله عنه دی داردن علاقې (چې نن سبا انګریزي کې دجورډن په نامه یادیږي) مستقل حاکم جوړ کړ.طاعون عمواس چې په هغه کې لکونو خلک مړۍ شو حضرت ابوعبیده، یزید بن ابي سفیان اونور صحابه کرام رضی الله عنهم چې کله وفات شول، نو عمرفاروق رضی الله عنه دی دیزید بن ابي سفیان رضی الله عنه په خای ددمشق والي مقرر کړ. اُردن اونورې علاقې هم په دې حکومت کې شاملې شوې،عمرفاروق رضی الله عنه چې کله بیت المقدس ته لاړو نوحضرت امیر معاویه رضی الله عنه هم ددوی استقبال ته راغی اودحضرت عمر فاروق رضی الله عنه سره ؤ،فاروق اعظم رضی الله عنه په امیر معاویه رضی الله عنه باندې اعتراض وکړو چې تا شاهي شان وشوکت ولې اختیار کړی دی؟ او اوریدلې مې دي چې تا دربان هم مقرر کړی دی. حضرت امیر معاویه رضی الله عنه جواب ورکړ چې: دشام په سرحداتو باندې هر وخت دقیصر دفوج اجتماع اودحملې خطره وي، دقیصر جاسوسان په شام کې هر ځرفته خوارۀ شوي دي، قیصر اوعیسایان مرغوب ساتلو په وجه مې ظاهري شان وشوکت او دقیصر دجاسوسانو نه مې محفوظ پاتې کیدو له وجې دربان ضروري ګڼلې، عمرفاروق رضی الله عنه داجواب معقولي وګڼلو اوبیا یې ځۀ تعرض ونۀ کړ،دحضرت معاویه رضی الله عنه ددې نه مقصد داسلام سربلندي وه اوداعمل په اخلاص باندې مبني و،دې وجې نه عمرفاروق رضی الله عنه ځۀ تعرض ونۀ کړ،ګني دعمرفاروق رضی الله عنه پشان شخصیت به ضرور ګرفت کولۀ،حضرت عمرفاروق رضی الله عنه نه حضرت امیر معاویه رضی الله عنه په قسطنطنیه باندې دبحري حمله اجازه وغوښته ،خو عمرفاروق رضی الله عنه دمصلحت په وجه اجازه ورنۀ کړه،حضرت عثمان غني رضی الله عنه نه یې هم دهغوی په دور کې اجازه طلب کړه،هغه دبحري فوج تیارلو اجازه ورکړه اوټول ملک شام حاکم یې هم مقرر کړ. حضرت معاویه رضی الله عنه په ټول شام باندې قابض اومتیوازي شو اوپه ملک کې یې حکومت اسلامیه ښۀ مضبوط اومستحکم کړ اوهمیشه یې قیصرروم مرغوبه اوساته اوددې امر یې بیخي اجازه ورنۀ کړه چې عیسایان په اسلامي ممالکو باندې دحملې جرأت وکړي.

نن دمسلمان ممالکو حکمرانانولره پکار دي چې خپل ځان ددیني، روحاني او انتظامي امورو کې ځان دومره مضبوط کړي چې په خای ددې چې دکافر ممالکو نه وویریږي، کافر پخپله دمسلمان ممالکو نه مرغوبه شي.مګر افسوس! نن معامله ددې برعکس ده دمسلمانانو دننه دکافرو هتهیارو،تیکنالوجي اومشینري ویره ده، کۀ مسلمان په صحیح معنا مسلمان جوړ شي؛ نو دکافرو اسلحه به خپله دهغوی خلاف استعمالیږي اوهغوی به د مسلمانانو محتاجه پاتې شي.مګر افسوس! چې نن دامیر معاویه رضی الله عنه اقتداء کوونکي مسلمانان نشته،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بلکې ټن خوخان ته مسلمان ویونکي هم امیرمعاویه رضي الله عنه باندې اعتراضات کوي. العیاذبالله حضرت معاویه رضي الله عنه ته شاعر څه ښه خراج عقیدت پیش کړی دی

دین وملت کے لئے سب کچھ کیا اس نے نثار
اس نے بلند
خدمت دین عمر بھر بے شک رہا ان کا شعار
برچم اسلام دنیا میں کیا اس
عمر بھر دیتے رہے ان کو وظائف بے شمار
کاتب وحی رسالت کا شرف بخشا انہیں
بر سر میدان جب آئی ان کی تیغ آبدار
اس قدر تھی الفت حسنین انکے قلب میں
جن کی جملہ خدمتیں بس ھی مقبول کردگار
روم و ایران کے علم سب ھو گئے پھر سرنگوں
کی دعا جن کے لئے ختم الرسل نے بار بار
صد ھزاروں رحمتیں ھوں انکے مرقد پر مدام
انور مسکین کیا ان کی منقبت لکھ سکے

حضرت معاویه رضي الله عنه په شام باندې شل کاله دعدل حکمراني وکړه. دډېر نه پس هغه دټول عالم اسلامي خليفه شو، شل کاله نور ژوندی پاتې ؤ. ددويمې دحکومت ټوله زمانه خلوېښت کاله ده.

دسيدنا معاويه رضي الله عنه فضائل:

حضرت امیر معاویه رضي الله عنه نه (۱۲۳) احادیث مروي دي چې هغه وروسته ابن عباس، ابن عمر، ابن زبیر، ابوالدرداء اونورو صحابه کرامو رضي الله عنهم اوابن المسیب وحمید بن عبدالرّحمن وغیره تابعین هم روایت کړي دي، د ده رضي الله عنه په فضائلو کې ډېر زیات روایات دي، حضوراکرم ﷺ یوه خصوصي دعا دحضرت معاویه رضي الله عنه له پاره فرمایلې وه.

"اللهمّ اجعله هادِياً وّمَهدِياً" (الحديث، ترمذي) اې الله! معاویه رضي الله عنه هدایت کونکی اوهدایت موندونکی کړې، په دویم حدیث کې دي، الهي! معاویه رضي الله عنه ته حساب کتاب وښایه اوعذاب نه یې بیج کړه، په خپله امیر معاویه رضي الله عنه فرمایي چې: زما له هغه وخت نه خلافت امید و کله چې نبي اکرم ﷺ ماته وفرمایل چې: کله ته بادشاهي؛ نو خلکو سره حسن سلوک کوه. دحضرت معاویه رضي الله عنه ددانایي اوحلم مثالونه مشهور دي، دقریشو یو خوان امیر معاویه رضي الله عنه ته راغی اوډېر زیات بد رد یې ورته وویل، امیر معاویه رضي الله عنه چې کله ددې خوان بدزباني واوریده ؛نو ورته یې وویل اې بچیه! ددې حرکت نه راواپس شه ځکه چې دبادشاه غوسه دماشوم پشان وي او مؤاخذه یې دزمري پشان وي، دشعبي قول دي چې عاقلان عرب ځلور دي:(۱) امیر معاویه رضي الله عنه (۲) عمروبن العاص رضي الله عنه (۳) مغیره بن شعبه رضي الله عنه (۴) زیاد.

معاویه رضي الله عنه حلم اوهوښیاري کې، عمروبن العاص رضي الله عنه په مشکل وخت کې ښه فیصله اوحل کې ، مغیره رضي الله عنه نه وار خطا کیدو کې له چې اوزیاد په هره لوبه او وړه خبره کې،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ورسره قاضیان هم څلور دي يعني ججمنټ (جائزه) اخستونکي حضرت عمر فاروق، حضرت علي، ابن مسعود اوزيد بن ثابت رضي الله عنهم، دحضرت جابر رضي الله عنه قول دی چې دحضرت عمر رضي الله عنه نه زيات په قرآن اوفقه باندې عالم اوطلحه بن عبيدالله رضي الله عنه نه زيات بې سواله ورکوونکي اودحضرت معاويه رضي الله عنه نه زيات حليم اوعاقل اودعمروبن العاص رضي الله عنه نه زيات خالص دوست مانه دي ليدلي.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه چا دحضرت معاويه رضي الله عنه باره کې پوښتنه وکړه، هغه وفرمايل چې: دده حلم دغوسي له پاره تريالۍ وۍ اوددده سخاوت به په ژبو باندې تالګوله. هغه زړه جورولو باندې ډېر ښه پوهيد اودا دده دحکومت داستحکام سبب جوړ شو. يوه ورځ امير معاويه رضي الله عنه خپله وفرمايل چې: دحضرت علي رضي الله عنه په مقابله کې چې ما ته کومه کاميابي ملاؤ شوه ددې څلور سببه دي:

اول: داچې ما به خپل راز پټ ساتلو اوحضرت علي رضي الله عنه به خپل راز په ټولوخلکو ظاهراو

دويم: داچې ما سره فرمانبردار فوج ؤ اوحضرت علي رضي الله عنه سره نافرمانه فوج. **دريم:** داچې ما په جنګ جمل کې مطلق برخه وانخيسته. **څلورم:** داچې زه په قريشو کې مقبول وم اوحضرت علي رضي الله عنه نه خلک ناراضه وؤ. (تاريخ اسلام شاه نجيب آبادي)

په قسطنطنيه حمله:

داسعادت هم دامير معاويه رضي الله عنه په نصيب کې ؤ چې داسلام دټولو نه لوړې بحري جنګ امير معاويه رضي الله عنه وکړ، دې وجې نه حضور ﷺ فرمايلي وو چې: "زما دامت هغه خلک چې هغوی دقيصر په ښار باندې حمله وکړي ښښل شوي دي" ددې سعادت حاصلولو له پاره حضرت عبدالله بن عمر، عبدالله بن زبير، عبدالله بن عباس، حسين بن علي اوحضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنهم ددې وعدهٔ مغفرت په شوق کې شريک لښکر شو، ددې حملې سپه سالار او جرنيل حضرت معاويه رضي الله عنه ؤ، يو عظيم الشان لښکر جوړ شو، دسفيان بن عوف په سپه سالاري قسطنطنيه طرفته روان شو، دسفيان بن عوف په ماتحتي کې خپل زوی يزيد چې دفوج افسر ؤ يې هم دفوج ديوې حصې سپه سالار جوړ کړ اوروان يې کړ په دې جهاد کې ډېر لوی لوی جانباز جانثار شهيدان شو، حضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنه هم شهيد شواوډنبار دقلعه لاندې دفن کړل شو، ددې حملې په وجه مسلمانانوته ډېره لويه کاميابي ملاؤ شوه، په مظاهر حق کې دي چې د الله رسول چې کومه دعا دحضرت معاويه رضي الله عنه له پاره کړې وه چې يا الله! معاويه رضي الله عنه هدايت کونکی اوهدايت موندونکی جوړ کړې اوددده په ذريعه خلکو ته هدايت نصيب کړې، په دې کې هيڅ شک نشته چې دحضور ﷺ دعامستجابه ده، دکوم يو کس باره کې چې رسول الله ﷺ دعا وکړې دهغې ډېره قبوليت کې هيڅ شک نشته، حضرت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

معاویه رضي الله عنه سره د حضور ﷺ څخه تبرکات محفوظ وو چې په هغو کې د حضور ﷺ یو خادر، یو تهبند او یو کُرته وه اوددې نه علاوه د حضور څخه ویښته مبارک او نوکان هم وو. د مرګ په وخت کې معاویه رضي الله عنه وصیت کړی وُ چې ما به د حضور ﷺ په کُرته کې کفن کوئ او د حضور ﷺ خادر کې به ما پښوئ. دهغه ﷺ تهبند نه ما ته پرتوګ جوړ کړئ او ویښته او نوکان یې څه زما په حلق کې کیږدئ 'وځه زما دسجدې په ځایونو باندې وچوئ' اوبه زما او د ارحم الرحمین په مینځ کې تخلیه وکړئ، دفن مې کړئ، اوما خپل رب ته وسپارئ. سبحان الله، کهٔ دعقیدت اومحبت خبره شي؛ نو دمعاویه رضي الله عنه د حضور ﷺ سره څومره محبت وُ. ددې اندازه دپورتنیو وصیتونو نه کیږي. ورسره هغه کتاب وحي وُ او د شرف اوعزت بغیر دپاکوالي نهٔ حاصلیږي. کهٔ د حضور ﷺ په دې بنده باندې یقین نهٔ وی نو دې کتاب وحي دا اهم کار به یې ورته نهٔ سپارلو، ددې نه معلومه شوه چې حضرت معاویه رضي الله عنه څومره اوامینُ وُ.

په (کنزالعمال) کې دي: حضور ﷺ د حضرت معاویه رضي الله عنه په حق کې دا دعا وفرمایله

اَللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ وَالْحِسَابَ وَقِهِ الْعَذَابَ. (کنزالعمال)

یا الله معاویه رضي الله عنه ته دکتاب الله علم ورکړه اوحساب کتاب ورته هم اوبنیه او د آخرت د عذاب نه یې هم بچ کړه!

د حضور ﷺ دوه دعاګانې چې دهغو تعلق ددنیا سره وُ دکتاب وحساب تعلیم هغه خو به ښه کې پوره شوې باقي د آخرت دعذاب نه د بچ کیدو دعا به هم انشاء الله پوره کیږي. (بحواله منهاج التبلیغ)

د حضرت معاویه رضي الله عنه باره کې د اکابرو اُمت رایه:

کوم کس باره کې چې اهل الله اوبزرګان دین ښهٔ رایه لري نو هغه به یقیناً ښهٔ وي. ځکه چې د مومن فراست د الله تعالیٰ عطیه ده، حضور ﷺ فرمایي: "اِتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللّٰهِ" (الحدیث)

د مومن د فراست نه بچ شئ. بیشکه هغه د الله په نور باندې ګوري، بیا د ایمان په اعتبار سره چې کامل ترین شخصیات خصوصاً صحابه او تابعین دچا باره کې ښه ګواهي ورکړي نو هغه سراپا خیر دی. دهغوی باره کې زبان درازي کول په حقیقت کې ایمان برباد ول دي. حضرت قتادة رضي الله عنه د حضرت معاویه رضي الله عنه باره کې فرمایي: "اَنَّ قَتَادَةَ لَوْ اَصْحَابُكُمْ فِي مِثْلِ مُعَاوِيَةَ فَقَالَ اَكْثَرُكُمْ هٰذَا الْمَهْدِيُّ" (حاشیه المظفي بحوالهٔ منهاج التبلیغ)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت قتاده رضي الله عنه فرمايي کهٔ دحضرت معاويه رضي الله عنه داعمالو ملاحظه وکړم نو په تاسو کي به اکثر ووايي چې دا مهدي دی،حضرت مجاهد رحمه الله فرمايي: "قَالَ لَو اَدرَکتُم مُعَاوِيَةَ لَقُلتُم هُذَا المَهدِي" "کهٔ دمعاويه رضي الله عنه زمانه مو کتلې وای نو ويل به مو چې دامهدي دی.

درئيس المفسرين حضرت ابن عباس رضي الله عنهما رايه:

قَالَ ابن عَبَاس مَا رَأَيتُ لِلمُلکِ اَعلِيٰ مِن مُعَاوِيَة (تطهير الجنان) ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: دبادشاهي له پاره ما دامير معاويه رضي الله عنه نه بهتر څوک نهٔ دي کتلي.

دسيد نا معاويه رضي الله عنه لمونځ:

حضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمايي چې: ما دحضور ﷺ دلمونځ سره دامير معاويه رضي الله عنه دلمونځ نه زيات مشابه دبل چا لمونځ نهٔ دی کتلي. (تطهير الجنان)

دروم پاچا ته دسيد نا معاويه رضي الله عنه اختار:

کومو ورځو کي چې دحضرت علي اوحضرت معاويه (رضي الله عنهما) په مينځ کې جنګ ؤ نو په دغه ورځو کي دروم بادشاه دمسلمانانو دکمزوري نه فائده اوچتول غوښتل چې کومه دابتداء نه ديهودو نصاريٰ طريقي رارروانه ده چې "ديوائه اينډ رول" وجنګوه اوحکومت کوه ددې اصولو لاندې يې حضرت معاويه رضي الله عنه ته پيغام وليږه چې ما اوريدلي دي چې ستاسو اودحضرت علي رضي الله عنه په مينځ کې جنګ شروع دی، کهٔ ستاسو غوښه وي: نو زه به ستاسو دطرفه په حضرت علي رضي الله عنه باندې لښکر کشي وکړم؟ د حضرت معاويه رضي الله عنه له فراست څخه قربان شم چې په دغه وخت کې يې دقرآن مطابق "اَشِدَّآءُ عَلَي الکُفَّارِ رُحَمَآءُ بَينَهم" فرمان رينبتيا ثابت کړو ،حضرت معاويه رضي الله عنه جواب ورولېږه چې: تهٔ زمونږ دخانه جنګي نه فائده اخلې، په خدای قسم که د خپلې ارادې نه واپس نهٔ شوې نو زهٔ او زما وروروحضرت علي رضي الله عنه به په تا باندې حمله وکړو ،دې قول مطابق چې زه به دحضرت علي رضي الله عنه يو ادنی سپاهي جوړ شم اودتولو نه اول به زهٔ په تا باندې حمله وکړم اودعامو ښارونو نه به دې وباسم اودالله دا پراخه ځمکه به په تا باندې تنګه کړم ته به سر پتولو له پاره تښتې، کله يې چې دحضرت امير معاويه رضي الله عنه دا جواب واوريدو نو دروم بادشاه خوف زده شو اودخپلې دې ارادې نه واپس شو.

حضرت شاه ولي الله فرمايي چې دابن عباس (رضي الله عنهما) قول دی چې: ما درسول الله ﷺ دصحابه کرامو نه زيات خوک بهتر قوم نهٔ دی ليدلی. (ماخذه شرح مولانا حکيم محمد اختر)

کفایت کتاب حمایت کراچی
https://t.me/kafayat2395

بو خل حضرت امیر معاویه رضی الله عنه کور کې آرام کولو چې یو کس راغی اودوی یې دخوب نه بیدار کړل . چې کله دخوب نه بیدار شو نو هغه کس پټ شو .دده په زړۍ کې راغلل چې دې وخت خو زما کور ته څوک داخلیدای نۀ شي چې دا څوک کیدای شي، ویې کتل چې یو کس ددروازې خوا کې مخ پټ کړی ولاړ دی، ده تري پوښتنه وکړه چې ته څوک یې؟ جواب یې ورکړ چې زما فاش نوم ابلیس بدبخته دی،معاویه رضی الله عنه ورته وفرمایل چې ابلیس تا زۀ ولې دخوب نه بیداره کړم ریښتیا ریښتیا راته وایه،ده وویل دلمونځ ختمیدو وخت دی ناسو لره پکار دي مسجد ته لاړ شئ ده رضی الله عنه ورته وویل چې هر ګز نۀ ستا دا غرض نۀ شي کیدای ته دخیر طرفته هیڅ کله رهنمائي نۀ شي کولی، زما کور ته دغل پشان راغلي دوایئ چې ستا پاسباني کوم اوخاص کر ستا پشان غل او راهزن دکوم مقصد له پاره دي په ما دومره شفقت وکړو ابلیس جواب ورکړو:

گفت ما اول فرشته بوده ایم راه طاعت را بجاں پیموده ایم

ابلیس وویل چې اول زۀ فرشته وم اودطاعت دا لاري ما په خپل خان باندې مکمل کړي دي.

پیشه اول کجا از دل رود مهر اول کے زدل زائل شود

اولنی پیشه مي دزړۀ نه وتلی شي؟ او اولنی محبت هم دچا دزړۀ نه وتلی شي.

نیکواں برا رهنمائی میکنم مر بداں را پیشوائی میکنم

زۀ نیکانو ته دنیکی لاره ښایم اوبدو ته دبدو لاره ښایم

گر ترا بیدار کردم بهر دین خوئے اصل من همیں است وهمیں

کۀ ناسو ما ددین له پاره بیدار کړئ نو دازمونږ دفطرت اصل مقتضاء ده.

گفت امیر اے راهزن حجت مگو مر ترا رہ نیست درمن رہ مجو

حضرت امیر معاویه رضی الله عنه وفرمایل ای ډاکو بحث راسره مۀ کوه تا ته به زما دننه دګمراهي لاره ملاؤ نۀ شي.زما دننه لاره مۀ ګوره ریښتیا ریښتیا وایه چې تا زۀ لمونځ له پاره ولې پاڅولم ستا کار خو ګمراه کول دي، ددې خبر په دعوت کې څۀ راز دی زر ووایه!

ابلیس وویل خبره داده کۀ ستاسو لمونځ فوت شوی وای نو تاسو به دالله په حضور کې ژړا ګاني کولې چې دهغو په وجه به ستاسو درجه نوره هم اوچته شوې وه اوزه به دحسد دلاسه سوزیدلي وم اوایره شوي به وم، دې وجې نه ما سوچ وکړو چې تاسو بیدار کړم چې تاسو لمونځ ادا کړئ

گر نماز فوت می شد آں زمان میزدی از درد دل آه و فغاں

کۀ ستاسو لمونځ فوت شوی وای نو تاسو به هغه وخت کې دزړۀ د درده ژړل.

آں تاسف آفغاں و آں نیاز در گزشتے از دو صد رکعت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اوستاسو هغه ژړا اوفریاد اوندامت اونیازمندي اوشکستګي به تاسو ته د دوه سوه رکعته نفلو هم زیات مقرب جوړ کړي وای، دې وجي نه ژه ستاسوقرب اعلیٰ دویري اوحسد دوجي دستاسو په بیدارولو باندې آماده شوم.

من ترا بیدار کردم از نهیب تا نسوزاند چناں آه عجیب

ما تاسو ددې ویرې له وجي بیدار کړئ چې دستاسو آه عجیب ماالونۀ سوزوي.

من حسودم از حسد کردم چنیں من عدوم و کارمن مکر است وکین

زۀ دانسان حاسد یم مادې حسد دوجي داسې وکړل اوزۀ دانسان دوښمن یم زما کار حسد اوکینه ده

گفت اکنوں راست گفتی صادقا از ایں آید ایں را لائقی

حضرت معاویه رضی الله عنه وفرمایل چې اوس تا صحیح خبره وکړه اوکوم حسد اودوښمني چې تا کړې ده ته ددې لائق یې.

فائده: ددې قیصې نه دا معلومیږي چې په خپلو ګناهونو اوکوتاهیو باندې ندامت اختیارولو په وجه شیطان ته څومره درد ملاویږي اودحق تعالیٰ رحمت داسې کس ته څنګه متوجه کیږي.حق تعالیٰ دې مونږ ته توفیق راکړي چې ندامت سره دالله په حضور کې وژاړو آمین!

دحضرت معاویه رضی الله عنه په زړۀ کې څومره خوف خدا ؤ! ددې حکایت نه تاسو اندازه کولی شئ کله چې په داسې جلیل القدر صحابي باندې شیطان حمله کوي اوڅومره خطرناکه حمله کوي نو زما اوستا څۀ خبره ده دې وجي نه مونږ له پکار دي چې خپل تعلق دبزرګانو اوعلماء ربانیین سره جوړ کړو. دې له پاره چې دشیطان دحملو اوډاکو نه ددې خلکو په صحبت اوبرکت سره بچ شو.

حضرت امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله فرمایي:

اَحِبُّ الصَّالِحِینَ وَلَستُ مِنهم لَعَلَّ اللهُ یرزُقُنِی الصَّلاحَ

زه دنیکانو او صالحینو سره محبت کوم اګر چې نیک اوصالحه نۀ یم، شاید الله تعالیٰ ماته دنیکۍ هدایت وکړي.

دحضرت امیر معاویه رضی الله عنه مختصر خدمات:

حضرت امیر معاویه رضی الله عنه مشهور مدبر اوصاحب سیاست بزرګ ؤ، ده داسلام دپاره شاندار خدمات وکړل.همده شام اوطرابلس فتح کړ، دې نه علاوه دشام سرحداتو باندې یې قبضه وکړه اوشام یې درومیانو د اثر نه محفوظ وساته.حضرت عثمان غني رضی الله عنه نه یې دهغه په دور کې دبحري بیړي جوړولو اجازه وغوښته اوتیاره یې کړه اودبحرروم مشهوره جزیره قبرص(سائپرس) یې فتح کړه، دا بحري بیړۍ دومره مضبوطه اوطاقتوره وه چې ددې په وجه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مسلمانان درومیانو دبحري حملې نه محفوظ شول،ددې فتوحاتو نه علاوه دې ډېر زیات
ېه اړه اوهوښیارهم و ، دې وجې نه تمام اندروني مسئلو نه به باخبره و ،
په دې بنا ، باندې ده ډېر رازونه ښکاره کیدو نه مخکې مخکې ناکامه کړې و ؤ ، صحابي و ،
کاتب وحي ؤ ، دده زړهٔ به دالله تعالی نه ډېر زیات ویریده اوداسلام دترقی او کامیابی له پاره
ېه ډېر بې تابه و ، مسلمانانو دسیاسي طاقت مضبوط ولو اومحفوظ کولو له پاره کوم سیاسي
اونه،ډېر اودور اندیښنې اوموقعه شناسۍ ثبوت ئې ورکړ،دغه دده به فضائلو کې سرفهرست
جوړیږي او لائق دي
شمالي افریقا یوه غټه حصه دخلافت راشده په دور کې فتح شوې وه. امیر معاویه رضی الله عنه
په دې کې نوره هم اضافه وکړه، ددې ځای بربرو یوه لویه هنګامه جوړه کړې وه. امیر
معاویه رضی الله عنه ددوی جړې وویستې اودمسلمانانو دحفاظت انتظام یې وکړ. شام اومصر
ېحرروم په وجه باندې درومیانو دحملې نه محفوظ نه ؤ. امیر باتدبیر ددې ملک په
سرحداتو باندې یې چونې،جوړې کړې اودځپلو بحري بیړیو په ذریعه یې رومیانو ته په بحر
روم کې شکست ورکړ اوپه بعضو اهمو جزیرو قبرص اوروډس اوارواد باندې قبضې نه
وړوسته یې هلته خپلې چونې، جوړې کړې چې په وجه یې مصر اوشام دواړه ډېر حده پورې
درومیانو دحملو نه محفوظ شول،جزیره کریټ اوسسلي باندې یې هم حمله وکړه. مګر دې
وخت کې فتح ملاؤ نه شوه بیا خپله اندروني ملک کې چې کومې پارټۍ وې خپل انقلابي کو
ښونو په ذریعه یې اسلامي مرکزیت یې تباه کول غوښتل هغه یې کنټرول کړل. ددې
فتوحاتونه علاوه دوی ډېر تعمیراتي کارونه وکړل دکومو چې ډېر ضرورت ؤ. ددې خبرې نه
انکار نشته چې دامیر معاویه رضی الله عنه په دور کې جبر وتشدد مثالونه ډېر ملاویږي، خو ددې
تشدد مثال دلته دهغه جراح پشان دی چې کوم د وجود نه خرابه غوښه دجراحي په وجه کټ
کوي: نو ددې جراحي په وجه فاسدې غوښې نه نور اندامونه محفوظ پاتې شي،لیکن
دهرسره ورسره دخراب اندام په وجه روغ اندامونه هم دردیږي، کوم خلک چې دغه دور باندې
دانصاف سره نظر واچوي نو بنده به خپله لامحاله ومني چې دغه دور کې حالاتو باندې قابو له
پاره داسې جبر وتشدد کول پکار و،کوم چې حضرت امیر معاویه رضی الله عنه اختیار کړ. دغه
وخت کې داسلام دخدمت تقاضا داوه چې دټولو نه لویه وه چې ځنګه هم داسلام سیاسي
طاقت کنټرول کول وي اواندروني اوبیروني خطرو نه محفوظه شي؛ نو معلومیږي داسې چې
دامیر معاویه رضی الله عنه مخې ته داځیز ؤ، حالانکې هغوی ډېر تکلیفونه هم تیر کړل، لیکن ددې
مقصد تکمیل له پاره یې ذره هم برابرغفلت هم ونه کړ، ددې اثر دا شو چې اسلام ځومره تیزې
سره غوړیدو اوځنګه چې دفتوحاتو لمن اوږدیده، په دې کې به کمې زیاتې کیدو اوسرسري
نظر باندې دا نه معلومیده چې دې وخت کې اسلام لاندې و، یا ددې په ترقي کې جمود راغلی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ؤ، حافظ ابن تیمیه رحمه الله په منهاج السنة جلد دوم کې فرمایي: خلافت چې کله د هر زیات کمزوری شو نو دملوکیت شکل یې اختیار کړ. حضرت معاویه رضي الله عنه نه بهتر رانغی، هغه بهشکه تمام سره قائم وساته اواسلام کې یو بادشاه هم دمعاویه رضي الله عنه نه بهتر ؤ، او ددوی سیرت دآئنده راتلونکي بادشاهانو نه هر ملوک اسلام کې دتولو نه بهتر ؤ، او ددوی سیرت دآئنده راتلونکي بادشاهانو نه هر پسندیده و،دبنو امیه دتولو نه زیات مخالف بنو هاشم وو، لیکن معاویه رضي الله عنه دخپل حلم اوبردباري په باعث خلافت باندې کیناستو نه وروسته دې خاندان سره څه جبروتشدد نه دی کړی، بلکې دعطیاتو اووظائفو په ذریعه یې دلجویي کوله.(مسلمانوں کا عروج وزوال مصنف مولاناسعید احمد اکبر آلله آبادي)

امام حسن رضي الله عنه ته دحضرت علي رضي الله عنه وصیت:

وفات نه مخکې حضرت علي رضي الله عنه حضرت حسن رضي الله عنه ته وصیت وکړ. چې زما دوفات نه فوراً پس دحضرت معاویه رضي الله عنه سره صلح وکړه اودهغهٔ دامیر المومنین کیدو نه ویره مه کوه ؛ځکه که چیرته تا هغه هم بیلودو نو بیابه اُمت کې لوی بګاړ وګوري اودهغې ترخې نتیجې به په ته تا هم زغمل وي، حضرت علي رضي الله عنه دا وصیت دتجربې په بنیاد کړی ؤ هغوی ته دا خبره معلومه شوې وه چې دخلافت دا کشتی په حفاظت سره کنارې ته درسولصلاحیت دامیر معاویه رضي الله عنه نه زیات بل چا کې نشته،دحضور ﷺ داپیشن ګویي هم وه چې زما زوی حضرت حسن رضي الله عنه به دأمت په دوه غټو ډلو کې صلح کوي،دا پیش ګویي به حضرت علي رضي الله عنه ته ضرور معلومه وي دې وجي ده دخپلو ډپرومنونکو خلکو مخکې ددې خبرې اظهار کړی ؤ چې زما نه وروسته زه خپل زوی دخلافت له پاره نامزد کوم، ځکه چې هغوی ته پته وه چې سبا به زما زوی په یو قیمت هم مسلمانانوکې جنګ کول مناسب ونه ګڼي اودرسول الله ﷺ دپیش ګویي مطابق صلح بین المسلمین به کوي، چنانچې حضرت حسن رضي الله عنه چې کله دخپل والد صاحب تدفین وکړ (هر خای کې چې وي) نو ابن ملجم یې قتل کړ اوبیا یې خپلو اشیاعو ته وفرمایل چې: زهٔ به په ده خبره باندې ستاسو بیعت اخلم چې تاسو به په صلح اوجنګ دواړو کې زما اتباع کوئ، وبې فرمایل چې: زما والد محترم به فرمایل چې حضرت معاویه رضي الله عنه نه په امیر المومنین کیدو کې کراهت مهٔ محسوسوه ځهٔ چرته تا حضرت معاویه خپله بیلودو نو بیا به وګوري چې هر طرفه به ستاسو په سر باندې دکوړو اوکانډو بارانونه وي.

(شرح نهج البلاغة جلد ۳،ص۸۳۲،ابن ابي الحديدوازالة الخفاء جلد۲ ص۳۸۳،البداية والنهايةجلد ۸،ص۱۳۱ ،بحوالهٔ رسالهٔ عجاله نافعه مصنفه مولانا غلام دستګیر نامي)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صحابه کرامو (رضی الله عنهم) ولې الله تعالی ولې وه، ددوی متعلق بدګویي کول یا لعن طعن ویل
یا ددوی خلاف فیصله کول زموږ له پاره هیڅ صورت کې هم جائز نه دي. بلکې دهغوی
تعریف اواتباع کول موږ له پاره ضروري دي، دحضرت امام ابوحنیفه (رحمه الله) نه چې یو خلک
پوښتنه وکړه چې حضرت علي (رضی الله عنه) په حقه ؤ اوکه حضرت معاویه (رضی الله عنه) نو ده جواب
ورکړ چې ابوحنیفه نه به دقیامت په ورځ دا پوښتنه نه کیږي، لهذا ژه ددوی متعلق خان په
تکلیف کې ولي واچوم.

هغه خلق چې بدګویي کې وخت ضائع کوي هغوی دي وخت په ذکر الهي کې تیر کړي چې په
آخرت کې به هم پکار راځي.

وګ ګلو نه حضور (ﷺ) اوحضرت علي (رضی الله عنه) هم منع کړي ده، د داسې خبرې عمل دهغه کې
د نفاق زیاتیدو نه پرته هیڅ هم نۀ دي اوهیڅ پرې هم نۀ حاصلیږي. الله له پاره یوه شے وویلے
ویلو نه منع شه! وما علینا الاالبلاغ

یا الله دصحابه کرامو (رضی الله عنهم) دبزرګان دین او
علماء ربانیین احترام اوادب راته نصیب کړه آمین

دصحابهٔ کرامو (رضوان الله عنهم) مقام:

دصحابه کرامو (رضی الله عنهم) مقام دومره اعلی اواوچت دی چې په هغوی باندې بدګومانۍ ویل ډیره
بده خبره ده، او داسې کول په الله اونبي باندې تنقید کول هم دي: ځکه چې قرآن و حدیث کې
ددوی دمخلص کیدو اعلان بار بار شوی دی، که په صحابه کرامو (رضی الله عنهم) باندې څه خبره
راځي نو هغه به په ټول دین باندې راځي، منافقینو دیوې منصوبې لاندې په صحابهٔ
کرامو (رضی الله عنهم) باندې تنقید وکړ، ددې خاطره چې کله خلک په صحابه کرامو بدګمانه شي نو
په دین باندې به څوک یقین وکړي ځکه چې هغوی اولین مخاطب اودحضور (ﷺ) براه راست
تربیت یافته وؤ اودهمدوی په ذریعه موږ ته دین راورسیده، کله چې صحابهٔ کرام غلط شول
نو معاذالله دین هم غلط شو.

یو محقق فرمایي چې دا یو مسلم حقیقت دی چې مؤرخینو که څومره غټ غټ کتابونه لیکلي
دي لیکن دهغوی دوچو لمدو روایاتو دومره درجه نشته چې په وجه یې صحابه کرام مجروح
وګڼل شي. سیدنا عثمان غني اوسیدنا امیر معاویه (رضی الله عنهما) خو خیر ډېر لوی شخصیات دي
یو ادنی صحابي هم دادرجه لري چې ددوی ثقاهت اوعدالت هزار طبري اوجرري اوپه لکونو
واقدي مجروحه کولی نه شي.

وہ لوگ تم نے ایک ہی شوخی میں کھو دئیے — پیدا کئے فلک نے جو تجھے خاک جہاں کر
ہزاروں سال نرگس اپنی بے نوری پہ روتی ہے — بڑی مشکل سے ہوتا ہے چمن میں دیدہ ور پیدا

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دربیع الثاني دمیاشتي پنځمه خطبه

دحدیثو مقام:

ربیع الثانی د ربیع الاول دمیاشتی دوارو زیاته دحضور ﷺ سیرت طیبه سره متعلق دی. حضور ﷺ وحی، حضور ﷺ دنیا ته تشریف راوړل، دحضور ﷺ ماشوموالی، حضور ﷺ حرا ته، حضور ﷺ تعلیم، اخلاق اوتربیت، دحضور ﷺ ختم نبوت، حضور ﷺ حدیث دانسان رحمت دی افسوس چې خینې خلک دهغوی په قول قرآن ته ضمې مګر حدیث مه رکه نه منې. حالانکې خنګه چې قرآن حضور ﷺ راوړی دی. همدغسې د حدیث هم حفظ کول دالله ﷻ خداوندي مطابق دحضورپرنور ﷺ فرمان وعمل دی چې دغه په خیر حجت دی. ددې مضمون زیاته برخه موږ دنصرة القرآن مصنف مولانا عبدالحمید محمدي صاحب دکتاب نه اخیستې ده. الله تعالی دې مولانا عبدالحمیداومولانا عبدالمجید صدیقي (رَحِمَهُمَاالله) ته په خپل جوار رحمت کې ځای ورکړي.

اطاعت رسول یعنې اطاعت حدیث ثبوت دقرآن پاک نه:

هسې خو ټول قرآن دحضور ﷺ دحدیث په حجیت باندې ګواه دی، مګر خینې ایاتونه خاص کر ددې باره کې ارشاد رباني دی.

يٰٓاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَطِيْعُوااللّٰهَ وَاَطِيْعُوالرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْااَعْمَالَكُمْ...((القرآن سورة محمد پ۲۶،آیت ۳۳)

ترجمه اې دایمان والاوو دالله تعالی اطاعت وکړئ اودرسول اطاعت هم وکړئ اوخپل اعمال مه برباديوئ

په دویم ځای کې ارشاد باري تعالی دی:

يٰٓاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْااِنْ تَنْصُرُوااللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ..((القرآن سورة محمد پ۲۶،آیت ۷)

ترجمه اې دایمان والاوو که تاسو دالله مدد وکړئ؛ نو هغه به ستاسو مدد وکړي اوستاسو قدمونه به مضبوط کړي

په دې دوارو ایاتونو کې دحضور ﷺ داطاعت حکم دی اوحدیث،دفرمان وعمل رسول نوم دی. که دحضور ﷺ داحادیثو نه انکار وشي؛ نو داطاعت رسول قرآني حکم نافرماني اوانکاربه وشي. دقرآن انکار کفر دی، نن سبا فتنه انکار حدیث په ډېر زور کې ده اودشریعت اسلامیه حقیقي اوفطري پابندو نه ځان خلاصولو والا ددې ګمراه فتنې پورې پورې مرسته کوي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ضور ﷺ به بارگاه کې څنګه نذرانه عقیدت وړاندې کوي

چې غم دیوار امت را که باشد چوں تو پشتی باں چې باک از موج بحر آں را که باشد نوح
کشتی باں (سعدي)

مَا إِنْ مَدَحتُ مُحَمَّدًا بِمَقَالَتِي بَل إِن مَدَحتُ مَقَالَتِي بِمُحَمَّدٍ؟

(حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه)

محمد ہیںو ورر ہمسائے خلق و عالم ہیں معزز،مقدس ہیں،مکرم ہیں،معظم ہیں
فروغ مزن ہستی میں نور عرش اعظم ہیں حبیب حق ہیں ممدوح ملک ہیں فخرآدم ہیں
بلی کے رنگ سے رنگ گل ہستی کی زینت ہے انھی کی بو سے عطر آگیں بنی آدم کی طینت ہے

باطلې فرقې:

اسلام په مقابله کې یهود، نصارا، مشرکین، منافقین، دهریین، ملاحده، زنادقه، مرتدین بلې نیچرې قادیانې، چکرالوي فرقو هر قسمه فتنې خوري کړې، چا داسلام په پاکیزه ولو کې دالحاد زندقه جراثیم داخلاوددې دورانلو ناکامه کوشش یې وکړ. چا دتعلیمي صلاح اوترقي په بهانه باندې خپل باطل عقائد ترویج وکړ، چاله کوره دنبوت اعلان وکړ اوخان له پاره یې پیسې راجمع کولو یو صورت راوویست، څوک دصحابه کرامورَضِيَ اللهُ عَنهُم اَجمَعِين پسې بدرد وایي اودخپلو نظریاتو پرچار کوي، چا په بنکاره دقرآن قرآن رټ لګولې دي اوپه حقیقت کې یې دقرآن تکذیب کولو کوشش وکړ دافتنه انکار حدیث ده العیاذبالله په دې کې دپرو فرقو داسلام زور برداشت نه کړ اودنامرادي په مرګ مړه شول یا دعالم نزع (زنکدن)کې عنقریب مړه کیدو والا دي. ددې مړه شویو فتنو په کندراتوباندې پرویزبانو غلام احمد پرویز اودهغه پارټي دیوې نوې فتنې بنیاد کیښودو په ظاهره دې کې انکار حدیث دي. خو درحقیقت ددې بنیاد" انکار قرآن" باندې دي، ځکه چې په "قرآني یثیت" کې یې جا اختلاف وکړ اوداسلامي محکماتو انکار یې وکړ، داخلک دقرآن اواسلام فقه تعبیر کوم چې رسول الله ﷺ نه صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنهُم اَجمَعِين تابعین علمایې عربیت فقهاء اومحدثینو عملي تواترپا احادیث صحیحه ددینې اوعلمي شهادتونو (اسناد) په بناء باندې مورږ ته راورسیدو دانه منې هغوی یوازې "خپله خبره " اوخپل خواهشاتو ته دقرآن اواسلام نوم ورکوي اوباقي نور تولو ته دملا اسلام، دملا مطلب عجمي اسلام وایي اوخپلې دې دعوې باندې یو مضبوط دلیل وړاندې کولو ضرورت یې هم محسوس نه کړ، دوی څو کتابونه ولیکل اودکراچۍ نه یې د"طلوع اسلام" په نوم باندې یوه رساله هم جاري کړه، ددې باطلو فرقو یو څو خرافات په لاندې ډول دي:

کفایت کتب خانه ثیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

۱، دین "قیام صلوٰة" حکم ورکړی و به مذهب کې هر شی "دلمونځ کولو برابر دي" (طلوع جون ۱۹۵۰ء، ۴۲ پرویز)

۲، "مرکز ملت ته په دې کې جزئیات لمونځ کې دتغیر تبدل حق وي"

یو پرویزي عبدالله اختر طلوع اسلام اګست ۱۹۵۰، ص۲۸ کې ویلي دي زما دعوه خو یوازې دومره ده چې فرض یوازې دوه لمونځونه دي چې دهغه اوقات هم دوه دي اورکعات هم دوه دي باقي ټول نوافل

فکر "افرنجی" بآں ام الکتاب نیست جز خفاش پیش آفتاب

دې نه زیات ددوی خیالات واوري بیا دنن مسلمان په دوه لمونځونو خنګه نه دي مسلمان (هوني طبع اګست ۱۹۵۰، ص۲۱ پرویز غلام احمد وایي مذهب کې لمونځ ، روژه، صدقه، خیرات ددې خوشامدانه (یعني دمنافقانه زندګي خوشامدانه (مسلک) مظاهرین جوړ شي. پرویز جنوري او فروري ۱۹۵۰، ص۱۰۸ قرباني متعلق وایي داختر په ورځ باندې دولس بجو پوري ۱۰ کروړه روپیو سرمایه ضائع شي اودالس کروړه هر کال ضائع کیږي داختر په ورځ سهار نه دولس بجو پورې څومره سرمایه په نالو کې توې شي اداره طلوع ستمبر ۱۹۵۰، ص ۱ پرویز حدیث ته محض تاریخ یا تاریخ دین وایي (نه چې دین یې وګڼئ) وایي العرض: دحدیث صحیح مقام "دیني تاریخ" اوداسې نوردي ددې نه تاریخي فائدې حاصلیدای شي، خودین کې دحجت په دول نه شي وړاندې کیدای اسلم جیراپوري طبع ص۷۳، نومبر ۱۹۵۰، دحدیثو پیروي دقرآن په روی سره منع ده اسلم جیراپوري جولائي ط ۱۹۵۰ء ص۷۵ اسلم جیراپوري پرویزي وایي په خلاف ددې نه په حدیث زموږ ایمان اونه په دې موږ ته دایمان راوړو حکم دی، اسلم جیراپوري ط ص۱۷ دسمبر ۱۹۵۰ء ددې پرویزیانو عقیده خپله هم دقرآن خلاف ده له دې وجې چې قرآن کې بار بار اطاعت رسول اتباع نبي او اسوه حسنه نبویه باندې دعمل حکم شوی دی، معلومه شوه چې خنګه قرآن حق او ریښتیا دی، همدغه راز حدیث هم حق او ریښتیا دی، منکرین حدیث دا شی دجدید اسلام بانی ګڼي، حالانکې ددوی نظریات دین پورې بیکاره نخري کوي.

دقرآن پاک نه داطاعت رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِيْلًا (القرآن، سورة النساء پ۵ آیت ۵۹)

ترجمه: اې ایمان والاوو تاسو دالله تعالی خبره ومنی اودرسول الله ﷺ خبره هم ومنی اوبه تاسو کې چې کوم اهل حکومت دي ددوی هم بیا که تاسو په یوه خبره خپل مینځ کې اختلاف

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وکړئ: نو داکار الله اورسول ته پریږدئ، که تاسو په الله او یوم اخرت باندې ایمان راوړی واکارونه ټول بهتر دي اوددې انجام بهترین دی.

دویم ځای کې ارشاد فرمایي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ (القرآن،سورة النسآء پ۵آیت ۶۵)

ترجمه قسم مې دی ستا په رب چې داخلک به ایماندار نه وي کله چې دا خبره نه وي ددوی په مینځ کې کومه جګړه وشي په دې کې داخلک په حضور ﷺ باندې صفایي وکړي اوبیا په صفایي باندې به خپلو زړونو کې تنګي محسوس نه کړي اودزړه نه یې تسلیم کړي.

مَّن يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ. (القرآن،سورةالنسآء پ۵آیت ۸۰)

ترجمه چاچې درسول ﷺ اطاعت وکړ هغه دالله تعالی اطاعت وکړ.

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿٣٢﴾ (سورة ال عمران پ۳آیت ۳۱، ۳۲)

ترجمه تاسو وفرمایئ چې: که تاسو دالله تعالی سره محبت کوئ؛ نو تاسو به زما اتباع ضرور کوئ. الله تعالی به تاسو سره محبت وکړي اوستاسو به ټول ګناهونه معاف کړي اوالله تعالی به معاف کوونکی اوعنایت کوونکی دی اوتاسو داهم وفرمایئ چې: تاسو اطاعت کوئ دالله اودهغه درسول ﷺ که په دې هم خلک اعراض وکړي؛ نو دا واورئ چې الله تعالی دکافرانو سره محبت نه کوي.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا (سورة الاحزاب ۲۱)

ترجمه: دهغه کس له پاره چې دالله اودرسول نه ویریږي اوکثرت سره ذکر الهي کوي، درسول الله ﷺ یوه عمده نمونه موجود ده.

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا (سورة الاحزاب پ۲۱آیت ۳۶)

ترجمه: دیو ایماندار سړی اوایماندار ښځې له پاره دا ګنجائش نشته چې دالله اودرسول دیو کار حکم وکړي بیا دوی (مومنین) ته په دې کار کې اختیار (باقي)دی اوکوم کس چې دالله اودرسول خبره ونه منې، هغه په ښکاره ګمراهي کې پریوت.

وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ

(پ۲۸سورة حشرآیت ۷)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه اورسول الله ﷺ چې څه درکوي اخلئ يئ اودکوم شی نه مو چې منع کوي له هغه ځان ساتئ اوالله تعالی نه ويريږی، بيشکه هغه په مخالفت باندې سخت سزا ورکوونکی دی.

درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احاديث:

عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ الله صلى الله عليه وسلم قَالَ كُلُّ اُمَّتِي يدخُلُونَ الجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى قَالُوا يا رَسُوْلَ الله وَمَنْ يَابٰى قَالَ مَنْ اَطَاعَنِي دَخَلَ الجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ اَبٰى. (بخاري)

ترجمه حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما به ټول امت جنت ته ځي. پرته له انکار کوونکو نه، صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! دا به څوک وي چې ستاسو انکار کوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې زما اطاعت وکړي هغه جنت ته داخل شو اوڅوک چې نافرماني وکړي هغه زما انکار وکړ.

عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ الله عَلَيه وسلم قَالَ فُضِّلتُ عَلَى الاَنبِيآءِ بِسِتٍّ اُعطِيتُ جَوَامِعَ الكَلِمِ وَنُصِرتُ بِالرُّعبِ وَاُحِلَّت لِي الغَنَآئِمُ وَجُعِلَت لِي الاَرضِ مَسجِداً وَّطَهوراً. (مسلم، بخاري)

ترجمه: حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ماته په تيرو شپږو انبياوو عليهِمُ السَّلام باندې شپږ فضيلتونه راکړل شوي دي: ماته مختصر کلمات معاني کثيره حامل دي، په دښمن باندې رعب راوست اوزما مدد وکړل شو، ما له پاره مال غنيمت حلال کړل شو. تولې ځمکه ماله پاره مسجد اوپاک جوړه شوې ده، تول مخلوق لوري ته يې زړ رالېږلی يم. دانبياوو سلسله زما په ذات باندې ختمه شوې ده.

عَنْ اَبِي اُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صلى الله عليه وسلم فِي خُطبَةِ يومَ حَجَّةِ الوَدَاعِ اَيها النَّاسُ اِنَّه لَا نَبِي بَعدِي وَلَا اُمَّةَ بَعدَكُم فَاعبُدُوا رَبَّكُم وَصَلُّوا خَمسَكُم وَصُومُوا شَهرَكُم وَاَدُّوا زَكٰوةَ اَموَالِكُم طَيِّبَةً بِهَا اَنفُسُكُم وَاَطِيعُوا اُولَاةَ اُمُورِكُم تَدخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُم. (مسند احمد)

ترجمه: حضرت ابو امامه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ دحجةالوداع په موقعه باندې وفرمايل: خلکو! زما نه وروسته بل نبي نشته اوستاسو نه وروسته بل امت نشته، دخپل رب عبادت کوئ اوپنځه لمونځونه کوئ اودرمضان روژې نيسئ اودخپل مال نه زکات په خوشالي خوشالي ورکوئ اودخپلو حاکمانو اطاعت کوئ؛ نو دخپل پروردګار جنت ته به داخل شئ.

په يو بل حديث کې دالفاظ هم دي چې دخپل رب دکور حج کوئ.

عَنِ عَبدِ الله بنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صلى الله عليه وسلم لَا يُؤمِنُ اَحَدُكُم حَتّٰى يَكُونَ هَوَاهُ تَبعاً لِمَا جِئتُ بِهٖ. (الحديث شرح السنة)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو کې څوک ایماندار نه شي جوړېدای تردي چې دده خواهشات د دین تابع شي کوم چې ما راوړي دي. یعنې خواهشات نفسانیه ختمول اتباع نبوت ده.

عَنْ اَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَلَدِهٖ وَوَالِدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ. (بخاري،مسلم)

ترجمه حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو کې یو کس هم ترهغه وخته کامل مومن نه شي جوړېدای تر څو چې زه هغه ته زه د اولاد والدینو اودخپل خان او مال نه زیات محبوب شوی نه یم.

محکمات:

محکمات قرآن او مسلمات دین حق دین اسلام باره کې هر مسلمان نه دا توقع بجا طورباندې کیدای شي چې په دې کې به دده دوه رایې نه وي اوهغه به یوه داسې خبره کومه چې دقرآن او سنت خلاف وي، هرګز قبول نه کړي، قبلول څه چې اوریدل به هم مناسب ونه ګڼي، خوځه زماني نه داکیږي چې دمسلمانانو دځینو طبقو دغفلت اواساني له وجې ځینې عیارخلکو ته دا امید پیدا شوی دی چې "قرآني محکمات" خلاف هم مسلمان اوریدای شي اوهغه ښه ګُلم ګُلا پوره زوروشور سره "دیني مسلمات" اوصریح قرآني احکامو خلاف خبرې اترې کوي اوداتوقع ساتي چې مسلمان به دده همنوا جوړ شي یا کم نه کم دتذبذب ښکار به شي اودغه رنګ ده ته به په اسلام غټ ګوزار ورکولو کې کامیابي ملاو شي. (نصرت القرآن)

دمسلمانانو بې حسي:

دې عیار خلکو نه خو ګیله کول فضول دي، ځکه چې ددوی کار اغواء ګمراهي اووسوسه اچول دي. هغوی که په اسلام مخامخ باندې وار نه شي کولې نو دلستونې مار ترې جوړ شي اودټک ورکولو ناکامه کوشش کوي اوقرآني ایتونو کې چې کله دوی ته دخپل باطل خواهشاتو څه ځای نه ملاویږي؛ نو له خان نه باطله تاویلاتو ساه واخلي اودحق اوصداقت اواز پرې کوي اوانتهایي جرات سره داخبره هم کوي چې مونږ خو خلک یوازې اویوازې قرآن لوړې ته راغلاړو اوزمونږ کار دعوة الی القرآن دی، حقیقت دادی چې داخلک دقرآن نوم اخلي اوددقرآن تکذیب کوي اودا ګڼي چې د قرآن قرآن ویلو سره به مسلمان دوکه وخوري اودوی به محب قرآن او داعي قرآن ومني اودغه رنګ دده خودساخته تاویلاتو باندې به عمل وکړي حالانکې ددوی ګمراهي ددې یوې خبرې نه ښکاره کیږي چې هغوی درسول الله ﷺ اقوال اواعمال چې دقرآن عزیز علمي اوعملي هر لحاظ سره یو مکمل اومعیاري تفسیر دی، دقرآن

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نه په بې دخله کولو باندې اخته دي اوکوم احاديث چې مضبوط "عملي شهادتونو" يا "عملي تواتر" نه صحيح ثابت شوي دي هغه په مختلفو طريقو باندې غلط ثابتول غواړي اوخپل اخرت خرابوي که ريښتيا دوی دقرآن پاک دلداده دي! نورسول الله ﷺ اوصحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين چې کوم دعمل بالقرآن معيار قائم کړی وو اودکوم ائمه علم جم غفير سره چې "اصول روايت اودراية" اوثقه راويانو ريښتيني علمي شهادتونه په بنا باندې مستند اولائق وثوق اوقابل اعتماددي هغوی ته ولې دروغ وايي؟ اودحضور ﷺ سراج منير اوتابناکه زندګي ولې مشعل راه نه جوړوي چې دقرآن پاک عملي تفسير دی، ايا دحضور ﷺ لمونځ، دوی روژه، دوی حج، دوی زکات، دوی قرباني، دوی ټول عقائد حقه اواعمال پاکيزه اوارشادات عاليه صحيح اوريښتيني شهادتونو اودلاکونو مسلمانانو دعملي تواتر په ذريعه دنبيا ګوټ ګوټ ته ولې نه دي رسيدلي؟ يقينا رسيدلي دي! ايا ددې عيارو دوسو اندازي نه "چې داحاديثو مجموعه" موضوع ده اوقابل التفات نه ده، دحضور ﷺ تابناکه زندګي باندې تفصيلي انوارو باندې دټيارو پردې اچول کيدای شي؟ اوداحاديث مبارکه مصدقه مجموعوته ددروغو ويلو حق چا ته رسيدای شي؟ نه، هر ګز نه! دحضور ﷺ دزندګي دا روښانه تفصيلات دومره واضحه دي چې يو عقل مند انسان دې ته دروغ يا په دې کې دتردد تذبذب معمولي شان ګنجائش هم نه شي پيداکولی. (نصرت القرآن)

دقرآن اوحديث دحفاظت غيبي انتظامات:

اسلام چونکې اخري مکمل دين دی له دې وجې چيرته چې الله رب العزت دقرآن کريم دحفاظت ذمه خپله اخيستي ده هلته دخپل اخري نبي ﷺ داحاديثو ددې داقوالو افعالو دحفاظت ذمه داري هم پخپله اخيستي ده، دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين په زړو کې بې ده بې پناه محبت پيدا کړ، هغوی به د حضور ﷺ دهرقول اوعمل حفاظت به بې دأسې کاوو چې دده سترګو په اشاره به چليدل دده په خوښه به چليدل اوددې دهر قول اوعمل هم دوحي الهي په ذريعه وو داسې وه چې وحي غير متلو وه، يعني يوه وحي متلو ده چې دقرآن پاک په صورت کې ده يوه وحي غير متلو ده چې دقرآن کريم په صورت کې دی قرآن کريم متن دی اواحاديث مبارکه ددې شرح ده، حديث دقرآن تفسير دی، حديث دقرآن بيان و اوضاحت دی، قرآن کريم خبره اجمال سره شوی ده چې لمونځ اداکړئ، زکات ورکړئ، حج اداکړئ، روژې ونيسئ، قرآن کريم ولولئ، باقي جمله تفصيلات چې زکات په چا واجب دی، څومره ورکړئ چاته بې ورکړئ، همدغه راز دلمانځه فرائض، واجبات، شرائط اوارکان، همدغه راز دحج تفصيلي احکام چې په چا واجب دی ددې فرائض او واجبات څه دي داټول تفصيلات په احاديث مبارکه کې دي، الله رب العزت څنګه چې دانسان دجسماني تربيت انتظام فرمايلی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دی، مور پلاربې په ده باندې مهربانه کړل، خوراک يې پيدا اکړ، همدغه راز روحاني تربيت له پاره يې انبياء کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام راولېږل ددې له پاره چې هغوی دالله احکامات عملا ښکاره کړي دي له پاره دنبي قول اوعمل دواړه امت له پاره اسوه حسنه ده، څه چې قرآن پاک کې دي، حضور ﷺ عمل وکړ اوهغه يې خلکو ته وښودل اوقرآن پاک چې څنګه رسول الله ﷺ وښودو اوله دې وروسته صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين او تابعينو رَحِمَهُمُ الله، همدغه راز له دې وروسته اکابرو اوبزرګانو هغه دغه رنګ حق دې اوريښتيا دې اوددې مطلب هم دادی پرويز اودهغه ملګري که لمونځ، روژه، زکات، حج اوداسې نورو.....نه مطلب بل اخلي؛ نو هغوی دحضور ﷺ دفرمان اوعمل هم خلاف دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين اوتابعينو اوتبع تابعينو ائمه کرامو دقول اوعمل هم خلاف هغه به رد کيږي.

څنګه چې قرآن پاک وليکل شو اول په سينو کې محفوظ کړل شو، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين ته قرآن پاک ياد و يه عمل کې هم اوپه ذهن کې هم دعربو حافظې هم انتهايي قوي وې هغوی به داسونو پورې نسل نامې يادې ساتلې؛ نو هغوی چې دحضور ﷺ له پاره جان اومال قربانولو؛ نوده اقوالو اوافعالو نه يې څنګه محفوظ نه ساتل غرض داچې قرآن هم محفوظ اوحديث هم محفوظ قرآن پاک اول صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين په سينو کې محفوظه کړ په هغه يې عمل وکړ، بيايې دکتابت په صورت کې هم محفوظه کړ، قرآن سره يې بې انتها محبت و دهغه اندازه هم نه شي کيدای، همدغه راز حديث هم اول عملا محفوظ کړل شو اوخينو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين دشروع نه کتابت وکړ اوحضور ﷺ څينو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين ته دليکلو اجازه هم ورکړه اوحکم يې هم وکړ اوبيا الله تعالى احاديث مبارکه دقرآن په څير تر قيامته محفوظ ساتل غوښتل صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين هم وليکلو او وروسته تابعينو هم وليکلو اوپه دې کې دېر زيات داحتياط نه کار اخيستل شوی دی وروسته بيا دحديثو دحفاظت له پاره فن اسماء الرجال مرتب شو چې په هغه کې په زرګونو پورې دراويانو حالات داول نه واخله تر اخره پورې ريکارډ شول اوپه حديث کې پوره داحتياط خيال وساتل شو چې صحيح حديث کوم يو دی؛ نو داحاديث پوره نه پوره ذخيره دړې سره محفوظ ترين طريقې باندې موجوده ده که چيرته يو څو موضوع احاديث دي؛ نو دهغه يې هم نشاندهي کړې ده.

محدثين دېر زيات متقيان اوپارسا خلک وو، تاج الدين سبکي رحمه الله ذمحدث منذري په باره کې ليکي چې ده په ذريعه باندې به درحمت خداوندي اميد ساتل کيږي اوده دعا په ذريعه دالله تعالى رضا حاصليدای شي، حافظ دمياطي رحمه الله دحافظ منذري رحمه الله دپرهيزګاری اواحتياط يوه چشم ديد واقعه ذکر کړې ده چې يو ځل هغه دحمام نه راووت هغه دګرمي دشدت له وجې تلی نه شو؛ نو ديو دوکان خواکې ځملاست، حافظ دمياطي رحمه الله فرمايي چې:

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دوکان بند و ماعرض وکړ چې محترم المقام زه تاسو دده دوکان په چیوتره باندې کینوم، نو حافظ منذري ﷺ دومره کمزوري اوښکوشي به حالت کې هم جواب راکړ چې دمالک داجازي نه پرته داځکه کیدای شي دده به حدیث کې دتوجو دا عالم و چې ددرس ګاه کاملیه نه به سوا دجمعې لمونځ نه بل ځه نه نه ووت، حتی چې علامه سبکي ﷺ فرمايي: دده یو زوی چې لوی محدث اوفاضل عالم و، دهغه انتقال وشو؛ نو حافظ منذري ﷺ دکاملیه دننه جنازه وکړه اویوازي دروازې پورې جنازې سره راغې اوله هغه خای نه يې رخصت کړو اودا هم ووېل چې ځه زویه ما ته الله تعالی ته وسپارلې

په دین کې دسنتو مقام:

علم قرآن که په دین کې دزړه حیثیت لري؛ نو علم حدیث دشا رګ، دا دشا رګ داسلامي علومو دټولو اعضاوو اوجوارحو ته وینه رسوي اوهر آن دې له پاره ژوند تازه سامان مهیا کوي. مسلمانانوداغاز نه واخله تر دې وخته په دې څوارلس سوه کاله تاریخ کې دقرآن پاک وروسته دټولو نه زیات اهمیت سره دا علم حدیث سینې سره ولګاوو اوخپل ټول صلاحیتونو اوعقیدت اخلاص سره ددې داسې خدمت وکړو چې ددنیا یو قوم دخپلو روایاتو دحفاظت داسې مثال نه شي وړاندې کولی اوپه هر بیودور کې مسلمانانو دا ګټلې ده چې:

" کلام خدا هے کلام محمد ﷺ "

اودا چې دشریعت اسلامیه دوه سرچشمې دي قرآن کریم اوسنت نبویه مطهره، مطرف بن عبد بن الشخیر نه چا پوښتنه وکړه چې تاسو خلک موږ ته قرآن نه پرته څه هم مه بیانوئ ده ﷺ وفرمایل. دالله تعالی په ذات باندې قسم موږ دقرآن کریم په بدله کې هیڅ شي نه وړاندې کوو. البته موږ دهغه ذات ګرامي تشریحات وړاندې کوو چې زموږ ټولو نه زیات قرآن دان و (یعني رسول الله ﷺ)

دمنکرین حدیث باره کې دحضور ﷺ پیش ګویي:

حضور ﷺ په ابتداء کې ویلي و چې د حدیث انکار کوونکي به هم راځي چې دامت دخلکو ایمان به بربادوي، دحضور ﷺ پیش ګویي پوره شوه اودحدیث منکرین خلکو وکتل. مسند احمد، ابوداود، ترمذي، ابن ماجه، بیهقي کې دي سید الانبیاء محمد مصطفی ﷺ ارشاد فرمایي:

لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ مُتَّكِئًا عَلَى أَرِيكَتِهِ يَأْتِيهِ الْأَمْرُ مِنْ أَمْرِي مِمَّا أَمَرْتُ بِهِ أَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ فَيَقُولُ لَا أَدْرِي مَا وَجَدْنَا فِي كِتَابِ اللهِ اتَّبَعْنَاهُ. (مشکوٰة)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه وې فرمايل زه په تاسو کې يو کس هم په دې کولو باندې ونه ګورم (يعنې داسې دې نه وي) چې هغه خپل مسهري (يعنې دارام کرسي) باندې پې ډډه لګولي وي اوکله چې ده مخې نه زما داحکاماتو يو حکم يا يو انکار راشي اوهغه ووايي چې ماته پته نشته موږ خو چې څه قرآن مجيد کې مونو هغه به منو

منکرين حديث په خان باندې خوشنما ليبل لګوي اوخان ته اهل قرآن وايي. حالانکې په حقيقت کې هغه دقرآن هم منکر دي هغه مغرب زده دي اوداسلام داحکاماتو نه ازادي غواړي اوددنيا غلام جوړيدل غواړي مسلمانانو ته ددې فتنې نه بچ کيدل اومقابله کول پکار دي، په يو بل حديث کې سردار دوعالم ﷺ فرمايي: ددې خلکو خبرې خو به ډېرې ښايسته وي، خوکرتوت به يې ډېر ګنده وي هغوی به قرآن مجيد وايي، خو قرآن به يې مړې نه لاندې نه تيريږي. ددين نه به داسې وخې لکه دکمان نه چې غشي وخي، ددې روايت په اخره کې ارشاد فرمايي خلکو ته به قرآن لوري ته دعوت ورکوي، حالانکې قرآن سره به يې هيڅ قسمه واسطه نه وي (ابوداود)

دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن دحضور ﷺ سره دومره محبت و چې دهغه هره يوه خبره به دخپل خان نه ورته عزيزه وه، خُپلې صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن به يوازې ديوې خبرې معلومولو له پاره ډېره زمانه تيرولې.

حضرت نواس بن سمعان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمايي چې: ماته دګناه اوثواب حقيقت معلومول و دې له پاره ما يو کال دلته قيام وکړ سوا ددې خبرې دمعلومولو نه زما هيڅ مقصد نه وو له دې وروسته ما دحضور ﷺ نه معلومات وکړل؛ نو ده وفرمايل چې: نيکي دښو اخلاقو نوم دی اوګناه هغه ده چې ستا په زړه کې پرته وي اوته هغه دخلکو مخکې بيانول نه خوښوي. دې پاکيزه نفوسو ته دحضور ﷺ دصحبت اوانوار نبوت حاصلولو بې انتهاء خواهش و.

دحضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ رهائش دعوالي علاقې کې و چې دمدينې منورې په لږه فاصله باندې و له دې وجې روزانه حاضري مشکله وه، دده دا معمول جوړ کړی و چې يو ورځ به خپله دحضور ﷺ خدمت کې حاضريده اويوه ورځ به يې خپل ګاونډي حضرت عتبان بن مالک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ راليږه. فرمايي چې: په کومه ورځ به زه راتلم؛ نو دهغې ورځې دوحې حال به مې خپل ملګري ته ويل اوبه کومه ورځ چې به هغه حاضريده؛ نو ماته به يې حالات ويل.

حضرت ابن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپله واقعه خپله ذکر کوي چې کله به ماته پته ولګيده چې فلاني صحابي سره دحضور ﷺ حديث دی؛ نو زه به هغه پسې تلم اوچې دا به راته معلومه شوه چې هغه دغرمې ارام کوي؛ نو خپل خادر به مې خان ته تکيه کړ اوپه دروازه به يې پروت وم هواګانو به خاوري اوشګې راوړې اوزما په خوله کې به يې اچولې اوزه به په دې حال کې

کفایت کتب خانه ثبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پروت وم حتی چې دغه صاحب به راوونو راوتو سره به يې چې وکتل چې عبدالله بن عباس رضي الله عنه په دروازه انتظار کوي؛ نو حيرت سره به يې وويل چې اې دنبي اکرم ﷺ دتره زوی رضي الله عنه خُنګه دي تشريف راوړ؟ حضرت ابن عباس رضي الله عنه به جواب ورکړ چې ما اوريدلي دي چې ته دحضور ﷺ يو حديث بيانوې زه دهغه اوريدو له پاره راغلي يم، دي کس به جواب ورکړ چې دچا په خوله دي پيغام ولې نه رالیږلو؟ زه به خپله حاضر شوی وم، حضرت ابن عباس رضي الله عنه به جواب ورکړ زه تا ته دحاضريدو زيات حقدار يم، يا الله زموږ په زړونو کې دحديث دادب او اتباع واچوه آمين

دحديث باره کې محنت او احتياط:

حضرت امام بخاري رحمه الله فرمايي چې: ما دشپږو لاکو حديثو نه دبخاري شريف انتخاب وکړ چې په هغه کې اووه زره دوه سوه پنځه اويا (۷۲۷۵)احاديث دي اوهر يو حديث ليکلو په وخت کې به مې غسل وکړ اودوه رکعته نفل به مې وکړل اوحديث به مې وليکه.

امام مسلم رحمه الله د ۱۴ کاله په عمر کې حديث لوستل شروع کړل په دې کې تراخيره مشغوله و خپله وايي چې: ما په دري لاکه حديثو کې چاڼ وکړ اومسلم شريف مې تصنيف کړ چې په هغه دولس زره (۱۲۰۰۰)حديثه دي.

ابوداود رحمه الله فرمايي چې: ما پنځه لاکه احاديث واوريدل اودهغه نه مې انتخاب وکړ اوسنن ابي داود مې تصنيف کړ چې په هغه کې څلور زره اته سوه (۴۸۰۰)حديثه دي ،ددې نه اندازه وکړئ چې دا علم حديث چې نن هم په پوره زور اوشور سره باقي دی، هغوی څومره محنت اوجانفشاني سره باقي ساتلی و. (فضائل اعمال)

شعبي رحمه الله يو مشهور محدث دی دکوفي اوسيدونکی و يو شاګرد ته يې يو ځل يو حديث واورا و اووېې فرمايل خه! په کوردرته مفت ملاو شو،ګني ددې له پاره هم به دې مدينې منورې ته سفر کاو.

سعيد بن مسيب فرمايي چې: زه يويو حديث پسې په شپوشپو او ورځو پيدل ګرځيدلی يم. الله تعالی دې دپاکيزه اومقدسه هستيو ادب رانصيب کړي. آمين

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جمادی الاول دمیاشتې اوله خطبه

دعلم فضائل:

۴جمادی الاولی باندې حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله وفات شو یو عظیم، جید عالم اوبزرګ و. ددې مناسبت په اعتبار سره ددې خطبې موضوع دعلم فضائل کیښودل شوه. ددې نه پرته جمادی الاولی کې په تاریخ ۸جمادی الاولی باندې غزوه موته راغله چې په هغه کې پر جلیل القدر صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین شهیدان شول. په ۱۲ جمادی الاولی باندې د حضرت زین العابدین وفات شو چې دخاندان رسول چشم، چراغ اودزاهدانو اوعابدانو سردار و. ۲۹ جمادی الاولی باندې حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه وفات شو چې دالله تعالی نوره وه اودالقب ورته نبي کریم ﷺ ورکړی و. په هرحال یو جید عالم فقیه اوبزرګ حضرت قاسم الخیرات مولانانانوتوي رحمه الله دانتقال له وجې ددې خطبې نوم دعلم فضائل کیښودو. دعلم نه مراد علم دین دی له دې وجې چې هغه اصل علم دی، ګني دنیاوي علم هیڅ علم نه دی. بلکې باقي فنونو په خیر داهم یو هنر اوفن دی، افسوس چې مسلمان علم دین نه زده کوي هغه ناول، ډائجسټ اوفحاشي باندې مبني لټریچر لولي، وي سي آر، تي وي اوفلم ډرامې ګوري. مګر افسوس چې هغه ددین ضروري علم نه زده کوي حالانکې ددین ضروري علم زده کول په هر مسلمان سړي اوښځې باندې فرض دي سوداګریاندې فرض دی چې هغه دتجارت مسائل زده کړي، ملازم باندې فرض دي چې هغه دملازمت مسائل زده کړي. زمیندار باندې فرض دي چې هغه دزمینداري مسائل زده کړي، همدغه راز په ښځې باندې فرض دي چې هغه دکور مسائل زده کړي، حلال اوحرام وپیژني بیا ددې علم دین دزده کولو فوائد او فضائل بیشمیره دي چې په قرآن اوحدیث کې موجود دي دټولو نه اول قرآن مجید ته ګورئ چې هغه دعلم باره کې څه وایي: الله تعالی فرمایي:

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ (القرآن پ۲۳آیت ۹)

ترجمه: کوم کس چې دشپې په اوقاتو کې سجده اوقیام کوي یعني دمونځ په حالت کې عبادت کوي اودآخرت نه یریږي اودخپل پروردګار درحمت امید کوي.تاسو ﷺ ورته اووایئ آیا علم والە اوجهل والە برابر کیدای شي؟

هغه خلک نصیحت بیاموندونکي دي کوم چې عقل سلیم والا وي،ایمان والواودبي ایمانه کسانو حالات ذکر شوي دي ایمان والا هغه دي کوم چې دالله په حضورکې تیښتېږي اودآخرت نه ویریږي اودالله تعالیٰ درحمت امیدوار هم وي بیا یې وفرمایل چې اهل علم اوبې علمه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

برابر کیدای نه شي يعني اهل علمو ته فضيلت اوبرتري په اعتبار دمرتبې په بې علمه جاهلانو
دي. صاحب مظاهر حق فرمايي علم څه شي دي؟ هغه عظيم وصف دی چې انسان ته نه
باندي ده. صاحب مظاهر حق فرمايي علم څه شي دي؟ هغه عظيم وصف دی چې انسان ته نه
بوازي دشرافت اونهذيب سرمايه ورکوي، عزت وعظمت دولت ورکوي، اخلاق وعادات کې
رڼا پيدا کوي اوانسانيت انتهايي اوچتوالي ته رسوي، بلکې انساني ژوند ته دعرفان الهي
مقدسه رڼا ورکوي ذهن اوفکر ته دصحيح عقيدې معراج ورکوي اوزه اودماغ دخدا پرستي
اواطاعت ګذاري په نيغه لاره باندې ګامزن کوي

اسلام چې انسان له پاره دترقي اوعظمت په لاره باندې دټولو نه لويه درنا مُناره ده، هغه
داوصف عظيم انساني برادري له پاره ضروري ګڼي اوددې دحصول ديني اودنيا وي ترقي
اوکامیابي له پاره پوړی جوړوي، داخيره ذهن کې کينول پکار دي چې اسلام هر هغه علم نه
دقدر په نظر باندې ګوري چې اسلامي عقيده اوعمل سره مزاحم کيدو نه بغير دانساني
معراج ضامن وي. اسلام دیو علم حصول نه هم منع والی نه کوي، ليکن ددا سي علم نه هغه
دبيزاری اظهار هم کوي کوم چې ذهن وفکر ګمراهي طرفته يوسي، يا يو انسان الله اورسول ته
قريب وګوري اوهغه په کفر والحاد باندې ولګوي، علم دين دشريعت په نظرکې بنيادي
اوضروري حيثيت لري ديني ضروري علم په هر مسلمان باندې حاصلول فرض دي چنانچې
ارشاد رباني دی:

"طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ وَمُسْلِمَةٍ" (الحديث)

علم حاصلول په هر مسلمان نارينه اوزنانه باندې فرض دی.

ظاهره ده چې اسلام دکومې زندګي تقاضا کوي اوانسان چې دعبادت په کوم معراج باندې
کتل غواړي هغه په علم دين باندې موقوف دی، علم دين په واسطه باندې انسان جوړيږي
اوبنده ځپل حقيقت وپيژني اودذات حق عرفان حاصل کړي، ورسره د عقيدې اوعمل ټولې
لاري ددې نه کولاويږي چې په هغې باندې بنده لاړ شي اودخپل پروردګار اطاعت
ګذار، درسول ﷺ فرمانبردار اوددين وشريعت پابند جوړ شي، دعلم دين هغه حصه کومه چې
په مقاصدو کې شامله ده ددې نه عقائد ،اعمال اواخلاق جوړيږي داهغه علم دی کوم چې
ضروري دی اوددې په حاصلولو باندې ددين وشريعت سيده لاره مخې ته راځي دي ټولو ته
علم معاملت ويل کيږي دغه رنګ يو علم ،علم مکاشفه هم دي دادراصل هغه نور وي چې په
علم ظاهر باندې عمل کولو سره په زړه کې پيدا کيږي چې دهغې په مقدسه رڼا باندې دهر شي
حقيقت بنکاره کيږي اودحق تعالیٰ ذاتاتو وصفات اواحوال معرفت پيدا کيږي، دې علم
مکاشفه ته علم حقيقت اوعلم وراثت ويل کيږي لکه دحضور ﷺ ارشاد دی چې دهغه مفهوم
دادی چې کوم بنده په علم باندې عمل کوي الله تعالیٰ دهغه شي علم ده ته نصيب کوي چې نه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پري خوک پوهيږي اونه ليکل کيږي، په هر حال علم ظاهر وباطن دواړه لازم دي اوپه دواړو کې ديدن وروح وپوست ومغز نسبت دی.

وعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْراً يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللّٰهُ يُعْطِي. (متفق عليه)

دعله دين څه شان دی' دهغه اندازه ددې حديث نه ولګوئ!

ترجمه حضرت معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت کوي چې سرکاردوعالم ﷺ وفرمايل چې کوم بنده له پاره الله تعالی دخير اراده کوي نو هغه ته الله تعالی' دين پوهه ورکوي اوزه علم تقسيمونکی يم اوعطاکونکی خو الله تعالی' دی. (بخاري،مسلم)

په دې حديث کې دعالم اوعلم فضيلت اظهار دی چې کوم بنده ته الله تعالی' دخير اراده وکړي نوهغه دعلم په لاره باندې ګامزن کړي اوظاهره داده چې دالله تعالی' يو لوی نعمت دی چې هغه يو کس ته ددين امور يعنې احکام شريعت اوطريقت دلارې پوهه ورکوي چې دهدايت اوراستي اودخير دتولو نه لويه لاره ده،دحديث دوديم جز مطلب دادی چې علم مبداء حقيقي خو دباري تعالی ذات دی زما کار خو يوازې دادي چې زه ديني مسائل اوشرعي احکام خلکو ته ورسوم اوحديث بيان کړم،بيا مخکې دالله تعالی' مرضي ده چې هغه څومره غواړي دتوفيق عمل راکړي اومالک ومختار هم الله تعالی' دي اختيار کل دهغهٔ دي تول دده محتاج دي.

علم دين لوستل صدقه جاريه ده:

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ اِنْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلٰثَةٍ إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْعِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهٖ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ. (رواه مسلم)

په دې حديث مبارک کې دري شيانو ته يې صدقه جاريه ويل شوي دي.

ترجمه حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې سرکار دوعالم ﷺ ارشاد وفرمايلو:کله چې انسان وفات شي نودهغهٔ داعمالو دثواب سلسله منقطعه شي مګر ددري شيانو دثواب سلسله باقي پاتي وي:

(۱) صدقهٔ جاريه (۲) علم چې دهغه نه نفع حاصله شي (۳) صالح اولاد چې دمرګ نه پس ده له پاره دعا کوي.

تشريح: داسې اعمال چې دهغو تعلق ددنيوي زندګي سره وي ددې اثرات دمرګ نه پس په دنيا کې ختم شي مثلاً روژه،لمونځ وغيره داسې اعمال دي چې دانسان په زندګي کې ادا کيدل، ددې ثواب باقي پاتي وي خکه دا ذخيره آخرت شي اودمرګ نه پس په دې باندې ثواب ملاويږي مګر ددې سلسله دمرګ نه پس جاري نه وي خکه په زندګي کې چې تر خو دا اعمال

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کیدل ددې ثواب به ملاویده، کله چې زندګي ختمه شوه دا اعمال هم ختم شواوکله چې دا اعمال ختم شو نو په دې دجزا وسزا مرتب کیدل هم ختم شو لیکن څهٔ اعمال داسې هم دي چې دهغو ثواب سلسله نهٔ یوازې په دنیا کې ملاویږي بلکې دمرګ نه پس هم باقي اوجاري وي داسې اعمالو باره کې په دې حدیث کې ارشاد دی چې درې اعمال داسې دي چې په ژوند باندې ختم هم شي اوبیاهم دثواب داسلسله جاري اوساري وي اومړ کیدونکی انسان برابر ددې نه نفع اونقصان اوچتوي

لومړی صدقه جاریه:

یعني یو کس دالله په لاره کې خمکه وقف کړي یا یې کوهي یا تالاب جوړ کړ،یایې د مخلوق خدا دفائدې له پاره هسپتال، مسجد ،یوه دیني مدرسه اوبیودیني کتاب یې خان نه روستو پریښوده نو تر څو چې داشیان قائم وي اوخلک دې نه فائده اوچتوي. ده ته به برابر ثواب ملاویږي

دویم علم نافع:

یعني یو داسې عالم وفات شو چې دخپل علم نه یې خلکو ته فائده رسوله اوبیا یې خپل علم ومعارف دیو کتاب په ذریعه محفوظ کړو چې همیشه خلکو ته پاره فائده منذ اودرشد وهدایت سبب جوړ شویا یې یو داسې کس شاګرد جوړ کړ چې ددهٔ دصحیح علم وارث دی چې دهغه نه خلق فائده اوچتوي؛ نو داشیان داسې دي چې ژوند ختمیدو نه پس به ده له پاره سرمایه سعادت ثابته شي اوددې ثواب به ده ته برابر ملاویږي.

دریم صالح اولاد:

ظاهره ده چې یو انسان ته دټولو نه لوی سعادت او افتخار دده صالح اولاد وي، دي وجې نه چې صالح اولاد نه یوازې دمورپلار له پاره په دنیا کې دسکون وراحت سبب جوړیږي، بلکې دده دمرګ نه پس هم ده له پاره وسیلهٔ نجات اوذریعهٔ فلاح هم جوړیږي اوهغه داسې چې نیک اولاډ هلک دوالدینو په قبرونو باندې خې اوهلته فاتحه دشریعت مطابق لولي دمغفرت دعا کوي قرآن کریم لولي اودوی ته یې بښي اوددوی له طرفه خیرات اوصدقات کوي ظاهره ده چې داټول شیان دمړده له پاره دثواب باعث جوړیږي چې په هغو باندې هغه دآخرت په ژندګي کې کامیابیږي مسلمانانو! خپل اولاد ته علم دین وښیئ دې له پاره چې تاسو ته صدقهٔ جاریه اوذریعه نجات وګرځي، ګني داکتر اوانجنئیر به جوړ شي اویوازې دنیا به ګټي نوتاسو له پاره دنیا کې هم وبال جان اوپه آخرت کې هم وبال جان جوړیږي اوتانه به ددې پوښتنه کیږي

(مظاهر حق)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تنبیه الغافلین کې دي چې فقیه ابواللیث سمرقندي رحمه الله فرمایي هغه راوي دی دکثیر بن قیس رحمه الله نه چې دحضرت ابودرداء رضي الله عنه په خدمت کې ددمشق جامعه مسجد کې ناست وم چې په دی یو کس راغی اوویې ویل ای ابودرداء رضي الله عنه زهٔ دمدینې منورې نه ستاسو حضور کې یو حدیث اوریدو ته راغلی یم ماته معلومه ده چې هغه حدیث بلا واسطه خپله د حضور ﷺ نقل کوي، حضرت ابودرداء رضي الله عنه ورته وویل چې یوازې دامقصد دی که د تجارت په غرض هم راغلی یې؟ هغه کس وویل چې نه زه یوازې ددې مقصد له پاره راغلی یم. حضرت ابودرداء رضي الله عنه وفرمایل چې ما دسرورکائنات فخرموجودات حضرت محمد ﷺ نه اوریدلي دي چې فرمایل یې چې کوم کس دطلب علم له پاره یوه لاره باندې خې نوالله تعالی دې کس له پاره دجنتونو دلارونه یوه لاره آسانوي اوفرښتې په طالب علم باندې خوښالیږي اوخپلې وزرې ورته غوړوي اوعالم له پاره دځمکې او آسمان تمام مخلوق استغفار کوي اوماهیان په اوبو کې استغفار کوي اودعالم فضیلت په عابد باندې داسې دی لکه دځوارلسمې سپوږمۍ فضیلت په تمامو ستورو باندې اوعلماء دانبیاوو وارثان دي اوانبیاء علیهم السلام ځهٔ درهم ودنانیر نه دي پریښي، بلکې دانبیاوو میراث خو علم دی. بس چاچې همدا حاصل کړ هغهٔ دېره لویه حصه وصول کړه.

دعلم حاصلولو برکتونه:

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه دحضورﷺ دا روایت نقل کوي چې چا ته دا خوښه وي چې داسې خلک وګوري چې الله تعالیٰ ددوزخ نه آزاد کړي دي نوهغه دي علم زده کوونکو خلکو ته وګوري. په هغه ذات قسم دچا په لاس کې چې دمحمد ﷺ روح دی کوم طالب علم چې دعالم په دروازه باندې چکر لګوي الله تعالیٰ دده دهر قدم په بدله باندې اوهر حرف په بدله باندې دیوکال عبادت لیکي اودهر قدم په بدله باندې په جنت کې یو بنار جوړوي هغه په ځمکه باندې خې نو ځمکه دهغهٔ له پاره استغفار کوي، دده سحر اومانښام دستغفار په حالت کې وي. فرشتې دده له پاره ګواهي ورکوي اووایي داخلک دي چې هغوی ته الله تعالیٰ داور نه خلاصون ورکړی دی. (تنبیه الغافلین)

سالم بن ابي الجعد رحمه الله وایي زه خپل آقا په درې سوه درهمه واخیستم اوآزاد یې کړم ما سوچ وکړ چې اوس ځهٔ مشغله اختیار کړم بالآخر ما په ټولو پیشو مشغولتیاګانو باندې علم ته ترجیح ورکړه لږ وخت تیر شوي وُ چې خلیفهٔ وقت ما ته ملاقات ته راغی اوماهغهٔ ته دملاقات اجازه ورنه کړه.

صالح المري رحمه الله فرمایي چې زهٔ امیرالمومنین ته ورغلم هغه زهٔ په خپل مسند باندې کینولم ما ورته وویل حسن صحیح فرمایلي و، امیر المومنین وویل چې: حسن ځه فرمایلي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

و؟ صالح ﷺ، وویل چې علمه دانسان په شرافت کې اضافه کوي اویو غلام دآزادو خلکو مقام ته رسوي ګنې کهٔ دا علمه نهٔ وی نو دصالح مري ﷺ به څهٔ حیثیت وي چې دامیر المومنین په مسند به کښ ښه

حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې علمه حاصل کړه اګر چې چین پوري لاړ شې،

دعلم طلبول په هر مسلمان باندی فرض دی. حضرت ابوهریره رضی الله عنه دحضوراقدس ﷺ ارشاد نقل کوی چې په دین کې بصیرت حاصلول نه زیات بل عبادت نشته اویو فقیه په شیطان باندی زرو عابدانو نه زیات درومند دی

دهر یو شي بوه ښه اوددین ښه فقه ده په یو روایت کې دي چې اهل بصره کې خپل مینځو مذاکره وشوه. خینو وئیل چې علمه دمال نه افضل دی اوخینو ویل مال دعلم نه افضل دی بالآخر ابن عباس رضی الله عنه پسې یې کسان ولیږل اوفیصله یې وغوښته نو هغه وفرمایل چې علم افضل دی قاصد وویل که خلکو دلیل وغوښت: نو څهٔ دلیل به ورکوم؟ هغه وفرمایل ورته ووایه

اول دا چې علم دانبیاوو میراث دی اومال دفرعونیانو میراث دی،

دویم داچې علم دستا حفاظت کوي اومال به ته حفاظت کوې

دریم داچې الله تعالیٰ دعلم دولت خپل محبوب بنده ګانو ته ورکوي اومال خپلو محبوب بنده ګانو ته هم ورکوي اوغیر محبوب ته هم. بلکې چا سره چې محبت نهٔ وي هغهٔ ته دهر زیات مال ورکوي. ځرنګه چې قرآن کریم کې ارشادباري تعالیٰ دی چې دهغه ترجمه داده: که چیرته داخبره نهٔ وي چې ټول خلک په یوه طریقه باندې شي نو کوم خلک چې دالله تعالیٰ سره کفر کوي دهغوی له پاره دهغوی دکورونو چتونه به موږ دسپینو زرو کړو اوپوړی هم په کومو چې هغوی خیږي اوکوزیږي

څلورم داچې علم په خرچ کولو باندې نه کمیږي اومال کمیږي،

پنځم داچې مالداره مړ شي نودهغهٔ تذکره هم ختمه شي اوعالم چې مړ شي نو دهغهٔ تذکره باقي پاتي وي

شپږم داچې مال والا مړ شي اوصاحب علم ژوندي پاتي وي. اووم داچې صاحب مال نه به دیوې یوې روپۍ پوښتنه کیږي چې کوم ځای نه دې وګټله اوپه کوم ځای کې دي ولګوله اوصاحب علم ته به په یو یو حدیث باندې جنت کې درجه ملاویږي.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي چې یو کس دکوره وخي نو دهغهٔ په ذمه باندې دتهامه غر برابر دګناهونو انبار وي اوبیا کله چې هغه دعلم یوه خبره اوري اوالله تعالیٰ ویره محسوسوي اودګناهونو توبه کوي نو دغه یې دهغه ټول کیږي کوم ته چې پاتې خي چې په دهٔ باندې هیڅ نه

https://t.me/kafayat2395

ګناه باقي نۀ وي لهذا کله هم دعلماوو دمجلس نه جدا مۀ کینه ځکه چې الله تعالی په دځمکې په مخ دعلماوو دمجلس ځخه بله ښۀ ټکړه نه ده پیدا کړې

حضرت ابو هریره رضی الله عنه یو خل بازار ته تشریف یوړو اوخلکوته یې وویل چې تاسو دلته مشغوله یئ اوپه مسجد کې درسول الله ﷺ میراث تقسیمیږي

خلکو بازار پریښود اومسجد ته لاړل، کله چې واپس راغلل نو ویې ویل ابوهریره: موږ خو ځۀ میراث تقسیمیدل ونۀ کتل، ده وفرمایل چې ځۀ مو وکتل؟ خلکو وویل چې ځه خلک مو وکتل چې دالله په ذکر اودقرآن کریم په تلاوت کې مشغول وۀ ابوهریره وفرمایل چې حضور ﷺ میراث خو همدادی دی.

لو جان بیچ کر بھی علم و ہنر ملے جس سے ملے جہان ملے ، جس قدر ملے

دچا قول دی که چیرته تاسو خپل اولاد له پاره فقط اولاد پریښودو نو پوهه شه چې هغوی دې دستي اوګمراهئي په قید کې بند کړل لیکن که خالي علم اونیک عمل دې ورته وښود: نو داسې ده چې دوي دتولو قیدونو نه آزاد کړل په یو حدیث کې دي " لَمُوتُ العَالِمِ اَفضَلُ مِن عِبَادَةِ الجَاهِلِ " دعالم خوب دجاهل دعبادت نه بهتر دی.

ہو اگر علم نصیب تو تعلیم بھی کر دولت جو ملے تو اس کو تقسیم بھی کر

اللہ عطا کرے جو عظمت تجھ کو جو اہل ہیں اس کے ان کی تعظیم بھی کر

حضرت علي رضی الله عنه فرمایي: "چاچې ماته دیو حرف تعلیم هم راکړهغه زه خپل غلام جوړ کړم" زمونږ اکابرو به خرنګه دعلم اوخلاق زده کولو له پاره محنت اومشقت کولو ددې اندازه ددې خبرې نه ولګوئ چې عبدالرحمن بن قاسم فرمایي: ما شل کاله پورې دامام مالک رحمه الله خدمت وکړو په دې کې اتلس کاله کې مااخلاق وآداب زده کړل اوپه دوه کاله کې مي دعلم تحصیل وکړو.

عالم بې عمله دګده پشان دی چې آسمان ته خو خیژي مګر په ځمکه باندې مُرداري خوري دنارل اوفحش لتړیږي لیکلو والو! دقوم په بچو باندې رحم وکړئ هغوی ته په ګوره کې زهر مۀ ورکوئ. ځکه چې ماشومان هر یو رنګ فوراً قبلوي ساده نوجوانانو اخلاق خرابیږي مګر اخبار اومیګزین لیکلو والا دخپلې پیسې پیدا کولو له پاره لیکي اوچاپ کوي، یاد ساتئ دا دجهنم خشاک تیاروي دعارضي دولت په خاطر خپل آخرت تباه کوئ، کوم بنده چې دفحش لتړیږو مطالعه کوي دهغې نه بهتر ده چې بیخي مطالعه ونه کړي، یوازې دتفریح په نوم باندې مطالعه زهنې عیاشي ده، ددې نه پرته هیڅ هم نۀ ده.

دیو اوښیار بنده قول دی هر قسمه کتابونو نه خو مختلف قسم معلومات راجمع شي مګر مزاج خراب شي خیالات ګنده شي په حق خبره باندې زړۀ نه ټینګیږي دعمل طاقت ختمیږي

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

العلم حجاب الاکبر دپې ډیرې دداسې پې سرو ښځو واقفیت په نسبت باندې ویل شوي دي
اویې مُرشده خلکو ک یونه لوستل خطرناک دي،نقصان دهـ دي

حکایت:

یوعالم فاضل د روزګار دنه شتو له وجې پریشانه و اوښار په ښار په یې چکرې لګولې، یوه ورځ یو ښار ته لاړ چې دهغه دروازې ښندې وې هلته یو ډېر عمر والا بزرګ موجود ؤ.دهغهٔ نه یې پوښتنه وکړه چې دښار دروازې ولې ښندې دي؟هغه وویل دبادشاه باز الوتی دی دې وجې نه یې دروازې ښندې کړې دي چې چېرته ونه وځي.دې عالم وویل چې با زخو دالوتو شی دی ددروازې ښندولو څهٔ فائده بیا یې وویل چې افسوس داسې کس یې بادشاه جوړ کړی دی چې ذري برابر عقل هم پکې نشته چې یو الوتونکي شي له پاره ئې دروازې ولې ښندې کړې دي آخر کار دې عالم وویل سبحان الله دا دالله شان دی چې چا ته یې بادشاهي ورکړې ده اوبیوقوفي هم اومونږه دعلم وهنرباوجود روزي پسې سرګردانه ګرځو، دې هوښیار معمر کس وویل چې آیا تهٔ په دې باندې راضي ئې چې ستا دا علم وهنر دې بادشاه ته ورکړل شي اوده دا بادشاهي اوبیوقوفي تاته درکړل شي؟عالم وویل چې دا منظوره نهٔ ده چې بادشاهي او ورسره دي بیوقوفي هم وي اوعلم وهنر دې مانه واخیستل شي،دعلم رنا نه دجهالت کندي ته پریوتل منظوره نهٔ دي.دې دانا کس وویل چې: دولت علم اودولت دنیا ډېر کم یو ځای کیږي،جناب نبي کریم ﷺ ارشاد ګرامي ده چې "علم دالله نور دی اوهغه ګنهګار ته نهٔ ملاویږي."

حکایت:

په ابتدایي زمانه کې به خلکو څومره خپل اولاد دتحصیل علم له پاره وقف کولو اوخپله به یې هم دالله په لاره کې ددعوت وتبلیغ کار کولو ددې اندازه ددې حکایت نه ولګوئ!
حضرت ربیعة الرائي هغه بزرګ عالم دی چې دهغه شاګردان حضرت امام مالک اوحضرت حسن بصري(رَحِمَهُمَا الله) پشان باکماله شخصیات دي،دده والد صاحب په فوج کې ملازم (مجاهد في سبیل الله) ؤ کله چې پوره اوویشت کاله پس راغې نو مسجد ته لاړو اوویې کتل چې یو خوبصورته ځوان د قرآن کریم درس ورکوي. دده درس یې چې واوریدو په زړه کې یې تمنا راغله چې کاش! زما هم داسې یو زوی وای اودقرآن کریم یې داسې خدمت کولی،کور ته چې راغې: نو ښځې ته یې وویل چې: هغه دیرش زره اشرفي کوم ځای دي؟ ښځې ورته ووې بالکل محفوظي دي په دې کې ددوی زوی (ربیعة الرائي) راغې؛ نو ښځې ورته ووې چې ستا دیرش زره اشرفي راغلې چې ما ددې بچي په تعلیم باندې خرچ کړي دي، پلار یې چې وکتل، حیران شو چې په مسجد کې درس ورکولو والا دده زوی و اوزما کور والا ددې بچي په تعلیم باندې هغه رقم خرچ کړي دي، هغه خپلې ښځې ته مبارک باد ورکړ.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ښاغلی: اندازه وکړئ چې پلار اوویشت کاله په جهاد کې مصروفه و اوکور ته نه و راغلی ښځې چې ته علم دین ښودلو بیا کله چې پلار واپس راځي؛ نو سیده مسجد ته ځي دمسلمانانو محبت اندازه ددې ځای نه ولګوئ افسوس! نن مسلمان وایي که بچی مدرسي ته ولیږم؛ نو هغه باندې به لوږه راځي رزق به دکوم ځای نه پیدا کوو؟ حالانکې په تجربه سره داخبره کتل شوې ده چې دکومو خوانانو ددنیا ډګري وي هغه یې په لاس کې نیولي وي اوددفترونو چکرې لګوي په یوبه در باندې ځي اوسفارشي کوي، بیا هم روزګار نه ملاویږي، ددې مقابله کې یو قرآن لوستونکی که یو ځنګل کې هم ناست دی؛ نو الله تعالی په عزت سره ده ته رزق رسوي مونږ ددې نه ځوک نه منع کوو چې بچی سکول اوکالج ته مه لیږه، بیشکه ویې لیږه، خو ده ته دین تربیت ورکړه اودیني علم ورته وښایه، بیا به انشاء الله هغه ستاسو له پاره دډین اوددنیا کامیابیو ذریعه جوړیږي

بعالم علم شو به علم وکمال — که مال است بے سود بهر مآل
اگر علم سیکھا ہے دکھلاؤ حلم — نہیں حلم گر تو ہے تلوار علم
جب میں کہتا ہوں کہ یا اللہ میرا حال دیکھ — حکم ہوتا ہے کہ اپنا مال نامۂ اعمال دیکھ

دقاسم العلوم والخیرات حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله مختصر حالات:

زبان پر بار خدایا یہ کس کا نام آیا — کہ میرے نطق نے بوسے میری زبان کے لئے

(بحوالۂ معارف نانوتوي رحمه الله مؤلفہ مولانا محمد اقبال قریشی مدظلہ)

حضرت نانوتوي رحمه الله دحضرت سیدالطائفه حاجي امدادالله صاحب مهاجر مکي (رحمه الله مریدو، په۱۸۵۷م جنګ ازادۍ کې تهانه بهون اوشاملي په محاذ باندې انګریزانو خلاف جنګیده.

اتباع سنت:

۱۸۵۷م جنګ ازادۍ کې دحکومت له طرفه سرکاري ګرفتاریاني شروع شوې؛ نو دوی یوازې دري ورځو پورې پټ و له دې وروسته دخلکو په اصرار باندې یې انکار وکړ چې دري ورځو نه زیات پټ پاتې کیدل دسنتو خلاف دي، ځکه چې حضور ﷺ په غارثور کې یوازې دري ورځې مقیم و.

کرامت:

دحج په دوران کې ځوک حافظ نه و درمضان المبارک میاشت وه ده به روزانه یوه پاره حفظ کوله اوماخسوتن به یې تراویح کې لوسته او رورو به یې یادوو چا ته پته ونه لګیده چې قرآن پاک حفظ کوي دا ده رحمه الله کرامت و.

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت حاجي صاحب رحمه الله فرمايي چې کوم بنده دا فقير (حضرت حاجي صاحب رحمه الله) سره عقيدت اومحبت ساتي هغه ته پکار دي چې مولوي محمد قاسم اومولوي رشيد احمد صاحب چې ظاهر اوباطني کمالاتو جامع دي زما له طرفه، بلکې زمانه هم زيات ښه شمارکړي. اګر چې معامله برعکس ده، زه دهغوی اوهغوی زما په ځای دي دهغوی صحبت غنيمت وګڼي، ځکه چې ددوی په ځير شخصيات په دې زمانه کې نايابه دي (دا ددوی د پيروۍ مرشد په زړه کې دخپل مريد له پاره احترام دی).

په نرمي سره نصيحت:

دقاسم نانوتوي رحمه الله واقعه ده چې يو خان صاحب دمولانا صاحب ډېر ښه ملګری و، مګر دهغه لباس خلاف شريعت و اودجمعې په ورځ به مولانا صاحب ته راتلو اوغسل به يې کاو جامې به يې بدلولې اودجمعې لمونځ به يې کاو، داندازې نه يې معلوميدله چې پوخ سړی و په هيڅ صورت يې نه منله يوه ورځ ورته نانوتوي رحمه الله وفرمايل چې صاحبه! داخل جمعې ته راځې؛ نو دوه جوړې خان سره راوړه چې زه هم ستا دوضعې والا لباس واچوم، هغه کس بې حده متاثره شو اوويې ويل چې: خدای دې نه کړي چې تاسو به زما خبيث دوضعې والا لباس واچوئ، تاسو ماته يوه جوړه راکړئ چې زه ستاسو دوضعې والا لباس واچوم اوهميشه له پاره يې دهغه لباس نه توبه وکړه، الله تعالى په نرمي کې دجذب خاصه کيښودې ده. (الافاضات اليوميه) (بحواله معارف نانوتوي رحمه الله)

اهل الله ته دنيا په عزت ملاويږي:

فرمايي حضرت محمد قاسم نانوتوي رحمه الله يو فرمان رايادشوچې دنيا مور ته هم ملاويږي اوامراء ته هم ملاويږي، مګر فرق يوازې دادی چې مور ته په عزت سره ملاويږي اوهغوی ته په ذلت سره ملاويږي، مګر ددې استفتاء حاصل دخپل عزت حفاظت دی نه دامراء سپکاوی، ځکه دچا سپکاوی کول د ډېره بده خبره ده. (الافاضات اليوميه)

حضرت نانوتوي رحمه الله ته ديوې غريبې مدرسې طالب علم دعوت ورکړ اوده ته يې وفرمايل چې: په يو شرط باندې منظور دی چې خپله مه پخوه دکورونو نه چې کومه ډوډۍ تاسو ته راځي هغه په مور باندې هم وخوره هغه داددعوت منظور کړ دا دی شان مسکنت اوغربت وانکساري اوعاجزي چې دومره لوی شخصيت اودومره خان فنا کول.

نن سبا لوی بزرګان اوعلماء موجود دي، مګر په دې کې د ډېر داسې دي چې خپله د ډېر لوی عالم وي، خودخپل اولاد داصلاح نه غافله وي اودهغوی اولاد خپله دهغوی له پاره دبدنامي سبب جوړيږي.

کفايت کتب خانه ثبلی گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

دزوی اصلاح:

وایي دحضرت مولانا قاسم نانوتوي ﷺ سره دجامو بکس نه و، بو ځل یو کس مولانا صاحب ته دیوبند تحفه راولیږله، ده دغه توپی تقسیمول شروع کړل، زوی یې دمور په واسطې یوه توپی وغوښته. خپله یې ونه ویل، ویې فرمایل ته به هم داسې توپی په سروي داسې دماغ خراب ده اوس به ته هم داتکلفات کوې وګوره زه تاته څنګه توپی په سروم څه په دې تلاش کې یې چې دوزی دجامو پچی ولیده؛ نو دخولې نه یې دغوسې اواز ووت چې دا بندل اودې کې تاسو جامې ږدئ. جامې یې تولې بهرووشتې اوناراضګي یې پرې ښکاره کړه. کله چې زموږ دمتبعینو داحال وې؛ نو دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین به څه حال و. (دستور سهارنپور بحواله معارف نانوتوي ﷺ)

ﷲ موږ ته هم دعلم دین حاصلولو اوپه دې باندې دعمل کولو توفیق رانصیب کړې. آمین

علم نوردی:

علم یو کامل اومکمل نور دی چې په هغه سره راښه په سهي لاره باندې راځي. تول عمر یې په جهالت کې ډغري وهلي وي، علم یو لویه سرئي باندې قابض دی کوم کس چې ددې په پناه کې راغی؛ نو علم به دده داسې حفاظت کوي، لکه دغر په سر باندې پناه اخیستونکی چې دهلاکتونو اومصیبتونو نه محفوظه وي اوهغه په هر قسمه سختو لارو باندې یې خوف وخطر ګرځي، شیخ الاسلام برهان الدین ﷺ فرمایي چې: دعالم مرتبه په تولو مرتبو کې اوچته ده، له دې پرته دتول جهان بلندي اورتبې دعلماووکرامو مخې ته هیڅ دي، ځکه دعالم رفعت اوبلندي دمرګ وروسته هم قائم اودائم وي، بلکې دجنت په درجو کې به اضافه هم کیږي،دلویو لویو لښکرونواوملکونو بادشاهان هم دعلماوو رتبه نه شي حاصلولی، عالم دخپلو اعمال صالحه اوحسناتو په ذریعه باندې دیو ګنهګار دنجات ذریعه یقیني کیدای شي اودعالم شفاعت دهغه له پاره دمغفرت اوبخښش سبب جوړیدای شي مرګ اوژوند دواړو کې پکار راتلونکی شی علم دی.

حیاة القلب علم فاغتنمه　　وموت القلب جهل فاجتنبه

دژوند زندګي علم ده؛ نودا غنیمت وګنه اودژوند مرګ جهالت دی؛ نوله دې پرهیز وکړه. (فضائل علم)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جمادی الاولی دمیاشتې دویمه خطبه

دصحابه کرامورضي الله عنهم اجمعين جا نثاري:

(۸،جمادی الاولی (۸) هجري کې غزوه موته پیښه شوه، صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن چې دحضور ﷺ تربیت یافته وو دخپل خان نه خو چنده زیات فوجیانوسره وجنګیدل اوخپل قیمتي ځانونه یې قربان کړل، زمونږ له پاره سبق دی چې دصحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن سره زندګي دخپل خان له پاره نمونه جوړه کړو، ځنګه چې صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن سره دالله تعالی مدد شامل حال و، همدغه راز به مونږ سره هم شامل حال وي بیا مونږ ته دښمنانو سبا دکفري طاقتونو ته دتېټیدو هیڅ ضرورت نشته ، بلکې هغوی به دمسلمانانو مخې ته تېټیږي، دمجاهدینو فضیلت څه دی؟ الله رب العزت قرآن پاک کې فرمایي:

اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝ یُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِیْهَا نَعِیْمٌ مُّقِیْمٌ ۝ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِیْمٌ ۝ (سورۃ التوبۃ)

په دې ایت کې دهجرت اوجهاد في سبیل الله اودمجاهدینو فضائل بیانیږي.

ترجمه: هغه کسان چې ایمان یې راوړی، هجرت اوجهاد یې کړی دالله تعالی په لار کې (دین دترقي له پاره) په خپلو مالونو اوپه خپلوځانونوسره، دالله تعالی په وړاندې ددوی ډېرلوړ درجې دي اوهمدغه کسان کامیاب دي او زیری کوي په دوی رب ددوی په رحمت اورضامندي سره له خپله لوري اوددوی له پاره جنتونه دي، داسې جنتونه چې همیشه نعمتونه به په کې وي (دائم بلا انقطاع) اوحال دا چې همیشه به وي دوی په دې جنتونوکې.

تشریح: ددنیا کټلو په خاطراکثر خلک کور پریږدي، مګر دا خلک ددین دسربلندي په خاطر ملک اووطن پریږدي، بیا دالله په لاره کې جهاد کوي کفار، مشرکین اومرتدینو سره جنګیږي خپل مال اوجان دالله په لاره کې قربانوي، وېې فرمایل: دالله په نزد دوی له پاره ډېر لوی اجر دی. مالک الملک سره به لویه منصب اودرجه ملاو شي، ځومره لوی سعادت دی، نن سبا خلک دیو معمولي حاکم دخوشالولو له پاره ځومره کوشش کوي بیا فرمایي چې دا مهاجر اومجاهد کامیاب دی، یعني اصل کامیابي داده چې الله تعالی دوی ته درحمت بشارت اوردي اودخپلې رضامندي تمغه اومیډال ورکوي، ده خپل کور اوسکون قربان کړ له دې وجې به الله تعالی ده ته داخرت ابدي اودائمي ارام په بهترینو محلاتو اوباغونو کې ورکړي، ددنیا کامیابي اوداخرت کامیابي دارومدار دمال اوجان په قربانولو کې دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

څرخ ترغیب کې دي دشریعت اصطلاح کې جهاد دمسلمانانو اجتماعي جدوجهد ته ویل کیږي چې دانسانانو دفلاح وبهبود له پاره دخدای تعالی درالیږل شوي قوانینو په دنیا کې ټولو له پاره وشي اوپه دې کې چې دکوم شي هم قربانولو نوبت راشي هغه دې هم دریفه قربان شي. تر دې چې دې له پاره خپل ټول مال، دولت اوخان قربانولو نوبت راشي؛ نوپه هرډول خوشالیو اوشوق کې به یې قربان کړي، همداوجه ده چې جهاد سره تعلق لرونکي کارونو کې څومره ثواب دی دومره په بله نیکي کې نشته، ظاهره ده چې یو مقصد حاصلولو له پاره دکوشش اوجدوجهد ډېر درجات وي ضروري نه ده چې دهر جدوجهد په اخر کې دښه کیدو ضرورت راشي، خوداسلام سپاهي اوداالله غازي په اخر کې دي حد ته تیار وي له دې وجې دده هر جدوجهد اوهر قدم جانثاري په لاره کې وي، له دې وجې دهر قدم قیمت ددې جذبې په لحاظ سره مقرریږي، که څه هم په ټول عمر کې دیو غشي لګیدو نوبت هم رانه شي، دډنیا هر حکومت خپل فوج خدماتو ته چې کوم درجه اواهمیت ورکوي عام خدمت ګاران ملک ته هغه درجه نه ورکوي اګر چې هر یوخدمت په خپل خپل ځای ځان ته جدا اهمیت لري، مګر غه رازپه اسلام کې کومه درجه چې دغازي ده دبل چا نشته.

دالله په لاره کې د جهاد کولو فضیلت:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: مُؤْمِنٌ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ ثُمَّ مُؤْمِنٌ فِي شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ اللَّهَ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ. (بخاري، مسلم)

په دې حدیث کې اولویت یې جهاد ته ورکړی دی په بل صورت کې یې خاموشي اوعزلت بیان کړی دی

ترجمه حضرت ابوسعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې: یو کس دنبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شواوپوښتنه یې وکړه چې دټولو نه افضل بنده څوک دی؟ ویې فرمایل: هغه مومن چې په خپل مال اوجان سره دالله په لاره کې جهاد کوي، پوښتنه یې وکړه چې بیا څوک؟ ارشاد یې وفرمایه بیا هغه مومن دی چې په یو غار کې پاتې شي اودالله تعالی عبادت کوي اوخلک یې دخپل شر اوفساد نه بچ کړي وي.

تشریح: له ټولو نه دلوړیو مرتبې والا هغه انسان دی کوم چې داسلام دتحفظ له پاره خپله سینه دیوال کړي وي اوداسلام اواهل اسلام له پاره یې دخپل ځان نذرانه پیش کړې وي اوله دې اړوسته هغه بنده هم دالله محبوب دی، اګر چې دنورو پکار نه راځي، خونورو له پاره دتکلیف باعث نه جوړیږي اودخپل پروردګار په عبادت کې مشغول وي، داهم ډېره غټه خبره ده چې بنده دخپل شر نه نور خلک محفوظ وساتي، ګني ډېر حاجیان لمونځ ګذاره اوعالمان

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دنورو له پاره د شر سوچ کوي، د اسلام اصول خومره زرين او اعلى دي، اسلام څومره ريښتينى اونبكلى مذهب دى، دفطرت دين دى له دې وجې چې دالله تعالى جوړ كړى دى اودالله هر مخلوق حسن و اعلى وي، قاضي سليمان پوري رحمه الله فرمايي چې دايت قرآني ترجمه ده تخليق حسن و اعلى وي، قاضي سليمان پوري رحمه الله فرمايي چې دايت قرآني ترجمه ده خومره شيان چې په څمكه دى موږ هغه د څمكې زينت جوړ كړي دي، دې له پاره چې دانسانانو امتحان واخلو چې په دې كې كوم كوم ښه اعمالو والا دي، قاضي صاحب فرمايي دهر شى د څمكې له پاره زينت اوجمال كښل د اسلام نظر معلوم كړل، په څمكې باندې خوشين والى د څمكې له پاره د خپل خوشنمايي زينت دى اوآسمان لوري ته اوچتيدونكې ونې دهغو سوري نه د ډك ښاخونه خپل طور باندې د څمكې حسن جوړيږي، شوخ رنګه ګلونه، خوندوري ميوې، عجيب اوغريب شكلونووالا پانې، مختلف تاثيراتو والا غرونه، دغرونو په سرونو باندې سپينې سپينې خيمې اودرونكي واوري اوپه ميدانونوباندې نرمه نرمه شګه اوابشارونه، غار، مرغزاراوځنګل وادي، عجيب اوغريب آبادي اوويراني په خپل خپل حالت، په خپل خپل وضع اوخپل خپل محل وقوع په لحاظ سره ټول كره ارضي باندې حسن زياتونكي اوجمال ته ترقي وركونكي دي، داټول د څمكې سنګار دى، داټول د څمكې زينت اوزيور دى، ددې خوبصورتي ښودونكى دين اسلام دى چې د حسن اوجمال دين دى.

پورتنې ايت كې د صفت رباني د حسن اوجمال د بيان وروسته يو تقابل هم موجود دى اوهغه د بنده حسن عمل دى.

هغه قدرت رباني كوم چې انسان خپله صاحب الجمال پيدا كړ، چې هغه هر شي ته حسن و زينت خزانه وركړه د هغه داحق نه دى چې هغه انسان نه د احسن اعمالو توقع وكړي. هو ضرور دى كه يو بنده قصر سلطاني ته د ننه كيږي، هلته د بيش بها شيانو نظاره كوي، د هغه خاى اعلى زيبائش اوآرائش ته ګوري؛ نو دې كس نه د ده قوت ضمير نه دا اميد كيداى شي چې د هلته لاړ شي؛ نو نقصان به نه كوي، نه به شيان ورانوي نه به خس اوخاشاک خوروي د هغه توقع د چې انسان سره د ه، داوري الهي، ګاه عالم كې شوې د ه، كله چې انسان بهترين جمال والا د ى اوچې كوم كون اومكان كې هغه اوسيږي هغه هم سر نه پښو پورې حسن اوجمال دى؛ نو بيا دانسان احسن اعمال نه وراندې كول اوددنياوي حسنه اخروي حسنه طالب نه كيدل د ه د عقل اوفهم نه د هر زيات بعيد دي.

ټول مخلوق د خپل جوړښت په اعتبار سره شائسته كيدل::

هر شى الله تعالى په خپل خلقت اوجوړښت كې د هر خوشنما اونبكلى جوړ كړى دى، په زرګونو قسمه مرغان دي، په زرګونو قسمه ګلونه دي، په زرګونو قسمه ونې دي په زرګونو قسمه خناور دي په څمكه باندې خُوُ په خيټه باندې تلونكي، په پښو باندې تلونكي، په سينه

كفايت كتب خانه ټيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

کې دننه اوسیدونکي،خپل خپل رنګ خپله خپله وضع،خپل خپل خواص،خپل خپل آواز،خپلو خپلو افعالو کې دومره حسین وجمیل خوش منظره اوزیبا واقع شوي دي دسترګو انتخاب نه ترجیح ورکول بهتر دي (رحمة للعالمین جلد سوم)

جنګ موته:

منافقین مدینه یهودان خیبر،مشرکین مکه،دري واړه دشمنان اوسه پوري داسلام او مسلمانانو خلاف سازشونو کې مصروف عمل ؤ، اګر چې د)۸(هجري زمانه داسې وه چې اسلام اواهل اسلام انتهائي مضبوط شوي وؤ اودمخکې نه اندروني اوبیروني خطرات ډېر حده پورې ختم شوي وؤ اسلام خپله یو لوی طاقت جوړ شوی ؤ، فتنه اوفساد ډېر حده پورې بې دمه شوي و ؤ، مګر دي دریواړو دشمنانواوس دبیرون ممالک روم وایران سرداران دمسلمانانو خلاف راوچتول، حضوراکرم ﷺ هم دبادشاهانو په نوم تبلیغي خطونه ولیږل اوددې خطونه ښهٔ نتیجه راوووته، مګر خپلې بیرون ممالک نور هم زیات مخالف شو، مسلمانانو له پاره لازمي شوه چې دبیروني طاقتونو دشر نه بچ کیدو له پاره تدابیر اوحکمت اختیار کړي، ځکه چې حالات داسې و کهٔ چېرته بیرون ملک په مسلمانانو باندې حمله وکړي نو دري واړه طاقتونه یهود،مشرکین مکه،اومنافقین مدینه هم به دوی سره ملاویدل، حضور ﷺ چې کوم خطونه دبادشاهانو په نوم باندې ولیږل په دې کې یو خط دحاکم بصره په نوم باندې دعمیرازري رضی الله عنه په لاس باندې ولیږل شو،دحضور ﷺ داسفیر اوس ایله دشام سرحداتو ته قریب مقام موته ته رسیدلی ؤ چې دهغه ځای فرمان روا شرجیل بن عمرغساني چې دقیصر روم دطرفه ددې علاقې ګورنر ؤ هغهٔ ته چې دا معلومه شوه چې داد حضور ﷺ قاصد دی هغه یې ګرفتار اوشهید کړ، کله چې ددې سفیر دشهادت خبر راورسیدو نو مسلمانان ډېر زیات خفه شو،حضوراکرم ﷺ ددې غساني سرکشه دسرکوبي له پاره یو لښکر په حرق علاقه باندې جمع کړو چنانچې دري زره جانباز داسلامي لښکر راجمع شو.

داسلامي فوج دري کمانډران:

ددې فوج دسپه سالاري له پاره حضور ﷺ دتولو نه اول حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه مقرر کړ، دې نه پس یې وفرمایل: که دی شهید شي نو بیا به حضرت جعفر رضی الله عنه بن ابي طالب سپه سالار وي اوکه هغه هم شهید شي نو عبدالله بن رواحه رضی الله عنه به سالار اعظم وي کهٔ دي هم شهید شو نو بیا دي مسلمانان په خپل مینځ کې په مشوره باندې سپه سالار مقرر کړي سبحان الله! څومره خوش قسمته دي هغه خلک کوموته چې حضورپرنور ﷺ عهدي ورکولې،ددې فوج دلیږلو وخت کې حضور ﷺ خپله هم ډېر ځای پورې ورسره ولاړ،حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه دا فوج روان کړو اومقام معان ته راروان ؤ دې مقام ته چې راورسیدو نو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دانتیلي جنس په ذریعه اطلاع ملاؤ شوه چې شرجیل بن عمر دمسلمانانو خلاف یولوی فوج
دهر قسمه اسلحې سره برابر راروان دي اودیو لک فوج نه زیات لښکر سره قیصر روم خپله
موته نه لږ لرې وادي بلقا، کې موجود دی، داسې وه چې دمسلمانانو درې زره فوج مقابلې له
دروم دوه لکه فوج راغلی ؤ، دا خبر یې چې واوریدو نو مسلمانانو مشوره وکړه چې اوس څه
وکړو حضرت عبدالله بن رواحه ډېر جرأت مندانه کلمات وویل
تاسو دشهادت په کوشش باندې راتوني یئ کفارو سره مونږه په شمار باندې نۀ جنګیږو،
بلکې مونږه ددین حق په ذریعه باندې جنګیږو چې له وجې یې الله تعالیٰ مونږ ته عزت اوشرف
راکړی دی. مقام موته اولښکر هرقل طرفته پیش قدمي کوئ اودخپل لښکر میمنه اومیسره
صحیح کړئ اوبیا جنګیږئ ددې نتیجه به ددې دوؤ نیګیو نه خالي نۀ وي یا خو به مونږ ته
فتح ملاؤ شي اویا به دشهادت مرګ رانصیب شي
دحضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه دابهادرانه کلمات چې یې واوریدل نو حضرت زید بن
حارثه رضی الله عنه په یو لاس کې نیزه اوپه بل لاس کې جنډه واخیسته اواودریدو په دې وخت کې
مسلمانانو کې دشهادت جذبې څپې وهلې ،اسلامي لښکر معان نه مخکې شو اودمشارف
نومي کلي خوا کې ددشمن کثیر جماعت په نظر راغی،مګر محل وقوع په اعتبار سره
مسلمانانو هلته مقابله کول مناسب ونۀ ګڼل، هغه ځای نه چې ووتل نو مقام موته ته یې پیش
قدمي جاري وساتله دي له پاره چې جنګ کولو له پاره یو ښۀ مقام په لاس راشي بالآخر
دوواړو لښکرو په مقام موته باندې مقابله وشوه، یو طرفته دکفر لښکر عظیم و اودویم
طرفته غازیان اسلام یوازې درې زره فوج و ،په دې لښکر کې داسلام عظیم جنرال حضرت
خالد بن ولید رضی الله عنه هم موجود ؤ اوده ته داسلامي لښکر دطرفه په اول ځل باندې دخپلو
کمالاتو ښودلو موقعه ملاؤ شوې وه.
دقیصر روم اوداسلام دا لومړی جنګ ؤ،دې جنګ ته دمسلمانانو اودعیسایانو لومړی جنګ
هم ویل کیږي اګر دشام په سرحداتو باندې نور هم وارۀ وارۀ جنګونه شوي وؤ.مګر قابل ذکر
جنګونو کې دا اولنی جنګ ؤ چې مسلمانانو دملک شام په حدودو کې وکړ. (تاریخ اسلام شاه
نجیب آبادي)
حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه داسلام جنډه په لاس کې نیولې وه اودلښکر په مینځ کې روان ؤ
نبی طرف حضرت قطبه بن قتاده رضی الله عنه عذري ته سپارل شوی ؤ اوګس(چپ) طرف
عبائیه رضی الله عنه بن مالک انصاري ته سپارل شوی، زید بن حارثه رضی الله عنه کفار قتلول اوډېر
مخکې لاړ،کفارو دخلورو طرفه دی ګیر کړ تر دې چې شهید شو،دده دشهادت سره حضرت
جعفر رضی الله عنه بن ابي طالب رامخکې شو اوجنډه یې لاس کې واخیسته،حضرت جعفر رضی الله عنه
ډېر کفار قتل کړل اخریې اس زخمي شو اولاندې راپریوت اوپیاده ددشمنانو سره جنګیدا

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دښمنانو دی هم په خپله ګیره کې راوست، دده نبی لاس له بدن نه کټ شو، مګر ده په نبي لاس باندې جنډه ونیوله تردې چې په دې حال کې شهید شو، دده له شهادت نه وروسته حضرت عبدالله بن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنډه لاس کې واخیسته. لږ وخت وروسته دی هم شهید شو اوداسلام جنډه لاندې پریوته، په مسلمانانو کې د پریشانۍ آثار زیات شو.

حضرت ثابت بن اقرم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخکې راغی اوداسلام جنډه یې په لاس کې واخیسته اوپه اوچت آواز سره یې وویل

مسلمانانو! دیو کس په امیر کیدو باندې اتفاق وکړئ، داسلامي فوج له طرفه یو آواز اوچت شو "رَضِينَا بِكَ" (مونږ خلک ستا په امامت باندې راضي یو) ثابت بن اقرم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب ورکړو "مَا أَنَا بِفَاعِلٍ فَاقْدِمُوا عَلِيٍّ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ" ویې فرمایل: زه به دا کار ونه کړی شم. تاسو په خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې اتفاق وکړئ، دلښکر له لوري فوراً آواز راغی چې مونږ ته د خالد بن ولید سپه سالاري منظوره ده.

حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دسپه سالارپه حیثیت:

حضرت خالدبن ولید باندې اتفاق نه پس هغه فوراً رامخکې شو اودثابت بن اقرم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له لاس نه یې جنډه واخیسته اوپه رومي لښکر یې دزمري پشان حمله وکړه اوسه پورې رومي لښکر غالب اومسلمانان مغلوبه ښکاره کیدل، خپني مسلمانانوچې داحالات وکتل نو حوصلې یې کمزورې شوې وې، خو خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې جنډه ځنګه په لاس کې واخیسته مسلمانانوته یې آواز وکړ، له نو ي سره یې په جنګ آماده کړل اوتازه دم شول

بیایې په رومیانو پرلپسې حملې وکړې اوبې حاله یې کړل، یوازې دانه چې حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په پوره زړورتوب جنګیده، بلکې داسلامي فوج قومنده یې هم په دې ډېر ښه شان سره رسوله. کله به یې چپ طرف والا مخکې کول او کله دښي طرف والا او کله به یې هغوی وروسته کړل اوپه خپله به جنګیده اوددوښمن لښکر یې دهر طرف نه واهه، حضرت خالدبن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دبجلی (برېښنا) پشان میدان جنګ کې ګرځیده اوخپل لښکر ته یې مدد پخپله رساؤ. غرض دا چې حضرت خالد بن ولید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سهار نه واخله تر مابنامه پورې خپل دري زره فوج وجنګاؤ. کله چې مابنام شو ؛نو د رومیانو حوصلې کمزورې شوې اود جنګ له میدانه وتښتېدل. مسلمانانو څه حده پورې تعاقب وکړ؛ خو بیا یې پرېښودل، مال غنیمت هم دمسلمانانولاس ته راغی، په دې جنګ کې ۱۲ مسلمانان شهیدان شول اودکفارو دمقتولینو صحیح تعداد معلوم نه شو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت خالد بن ولید ته دسیف الله تمغه او میدال:

دحضرت خالد بن ولید دجنګي قابلیت ټولو اعتراف وکړ؛ خو ترټولو لوی اعتراف داؤ، چې دالله اودرسول ﷺ له طرفه ورته د سیف الله لقب ورکړل شو. په کومه ورځ چې میدان موته کي مسلمانان په سوونو میله فاصله باندې دوښمن سره جنګیدل حضورپرنور ﷺ ته الله دوحي په ذریعه ټول حالات وښودل، حضور ﷺ تمام صحابهٔ کرام راجمع کړل اوویې فرمایل چې مسلمانان درومیانو سره وجنګیدل اوپه دغه جنګ کي حضرت زید رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهید شو، الله تعالیٰ وبانیه، ددې نه پس حضرت جعفربن ابي طالب جنډه واخیسته دجنګ دوران کې دوښمنانوګیره کي واخیست اوهغه هم شهید شو، الله تعالیٰ هغه هم وبانیه ، دې نه پس عبدالله بن رواحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اسلامي جنډه لاس کي واخیسته هغه هم شهید شو ،الله تعالیٰ هغه هم وبانیه. داټول کسان جنت ته اوچت شوي دي اوپه زرین تخت باندې ناست دي، ددې درینه پس جنډه سیف من سیوف الله یعني حضرت خالد بن ولید په لاس کي واخیسته او دجنګ پریوتی حالت یې کنټرول کړ، سیف من سیوف الله مطلب دې: دالله تعالیٰ دتورونه یوه توره، په دې ورځ خالد بن ولید دسیف الله په لقب باندې موصوف شو ،دحضرت جعفر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دکور افرادو ته چې دهغه دشهادت خبر ورسېده؛ نو ویې ژړل، حضور ﷺ په خپل کور کي خوراک تیار کړ اوحضرت جعفر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کره یې ورولېږه، کله چې حضرت خالدبن ولید خپل فاتح فوج راستون کړ اومدینې منوري ته قریب شو؛نو حضور ﷺ داستقبال له پاره ډېر بهر راووت، حضرت خالدبن ولید ته یې دسیف الله خوشخبري واوروله،یوصحابي په خوب کي ولیدل چې حضرت جعفر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په جنت کي دوه لاسونو سره الوځي، ددې ورځې نه دده لقب جعفر طیار مشهورشو.

په یو روایت کي دي چې خپله حضور ﷺ وفرمایل چې: حضرت جعفر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته الله تعالیٰ دوه وزري ورکړي دي چې په هغو باندې جنت کي یو خوا بل خوا الوځي، ددې ورځ نه دی په ذوالجناحین اوطیارلقب سره موسوم شو. (تاریخ اسلام شاه نجیب آبادي)

په دي جهاد کې یو څو درسه دي:

لومړی دا چې مسلمانانو ته دحضور ﷺ دحکم مخکې خپل سر تیټول پکار دي،اعتراضات کول داسلام احکاماتو کې نقطې لټول دمسلمانانو دایماني تقاضا خلاف دي،ورسره مسلمانانو ته دخپل حاکم اسلامي اطاعت کول پکار دي.،که هغه په کتاب وسنت باندې عمل کوي اوکه دقرآن وسنت خلاف کار کوي نو نوده خلاف آواز اوچتول دادتولو نه لوی جهاد دي.

دویم داچې مسلمانانو ته په خان کې دجهاد جذبه پیدا کول پکار دي،شوق شهادت پکار دی، په خای ددې چې دبزدلي په مرګ مري نو دشهادت دعزت مرګ حاصلول پکار دي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درېم داچې صحابهٔ کرامو (رضي الله عنهم) شهادت قبول کړ، مګر ژوند کې يې دنبي ﷺ او داسلام جنډه ونه غورځوله. بيا حضرت جعفر بن ابي طالب دبهادري څومره لوی ثبوت ورکړ، چې بنې لاس يې کټ شو او پريوت نو په ګس لاس يې داسلام جنډه اوچته کړه، چې کله ګس لاس هم کټ شو نو جنډه يې په سينه باندې قابو کړې وه تر دې چې شهيد شو

افسوس، نن مسلمانان دهيټلر، آئزن هاور، نپولين، مسوليني بهادري ذکر کوي مګر دخپل اسلام دتاريخ نه ناواقفه دي، بيا داسلام دعظيم جرنيل بهادري اوحکمت عملي وګورئ چې ورکوتی شان جماعت يې دلوی جماعت سره وجنګاؤ اوبالآخريې هغوی پسپا کړل. ددې خلقو اعزاز ځنګه وشو چې آقاء دوجهان په خوله مبارکه ورته دجنت زيرې ملاؤ شو. اصل خبره داده چې ددې خلکو دالله اودهغهٔ درسول په ارشاداتو باندې کامل يقين ؤ. دې وجې نه چې دوی ددين دخاطره مال وجان قربان کړې وو. دالله تعالیٰ مدد دوی سره شامل حال و. که چېرته مونږ هم ددين اسلام له پاره خپل جان ومال قربان کړو نومونږ سره به هم دالله تعالیٰ مدد شامل حال وي

بني آدم باندې شيطاني حمله:

الله رب العزت فرمايي:

"إِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ" بېشکه شيطان دانسان ښکاره دوښمن دی.

شيطان انسان وېروي، وسوسې وراچوي اودنيکي اوفرمانبرداري نه يې منع کوي، دشيطان حمله به انسان باندې څنګه وي؟ يو حديث کې دي حضرت سبره (رضي الله عنه) بن فاکهه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ ارشاد فرمايي چې: شيطان داولاد آدم داسلام په لاره کې ناست وددې له پاره چې خلګ دوکه کړي، اووېې ويل: تاسو اسلام قبلوئ اودخپل نيکه دين پرېږدئ، مګر اولاد آدم دده خبره ونهٔ منله اواسلام يې قبول کړ اوددوی وښېل شول، بيا هغه دهجرت په لاره کې کيناست اووېې ويل چې: تاسو هجرت کوئ، خپل کور، مال واسباب پرېږدئ، مګر دې خلکو خلاف ورزي وکړه اوهجرت يې وکړ، بيا دجهاد په لاره کې کيناست اوخلکو ته يې وويل چې: تاسو جهاد کوئ خپل جان مال په مشقت کې اچوئ، که تهٔ جنګ وکړې اومړ شې نو ستا ښځې سره به بل خوک واده وکړي اومال حال به دې ختم شي، مګر اولاد آدم دده په دوکه کې رانغی اوجهاد يې وکړ،

رسول الله ﷺ فرمايي چا چې داتول هر څه وکړل اومړ شو ؛ نو په الله تعالیٰ باندې لازمه ده چې هغه دا بنده جنت ته داخل کړي اوکه هغه چېرته په اوبو کې دوب شي اومړ شي نو بيا هم په الله باندې لازمه ده چې هغوی دې جنت ته داخل کړي اوکهٔ يو ځناور پرې حمله وکړي اومړ يې کړي بيا هم په الله باندې دا لازمه ده چې هغوی دې جنت ته داخل کړي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه: شیطان دانولي حربي وکړي وکوي يې اودخداى محبوب بنده داتمام شيان ناکامه کړي دي اوک کموي يې. ليکن دداسې انسانانو هم په دنيا کې کمی نشته چې دشيطان په ويرې کې راځي اودبو خو لمحو دآرام اودبو څوروپيو په عوض باندې ذلت اودآخرت رسوايي اوعذاب اخلي. (شرح ترغيب وترهيب)

حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کې سل درجې دي اومنزلونه دي چې الله تعالى دخپلې لارې دمجاهدينو له پاره تيار کړي دي، هرو دوؤ درجو په مينځ کې دځمکې اوآسمان دفاصلې برابر فاصله ده.

دحضرت ابو موسې اشعري رضي الله عنه زوی ابوبکر وايي چې ما دخپل پلار نه بيان کولو وخت کې اوريدلي و. چې کله هغه ددوښمن مخې ته (يعني په يو ميدان جنګ کې) و- چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت دتورو دسورپو لاندې دی، دايې چې واوريدل نويو کس پاڅيده اوويې ويل ابو موسى تا خپله دا درسول الله ﷺ نه اوريدلي دي؟ ابو موسې اشعري رضي الله عنه جواب ورکړ هو. دا کس خپلو ملګرو ته ورغی او ويې ويل: زما تاسو ټولو ته سلام نيام يې مات کړ اوتوره يې راووسته اود دوښمن طرفته ورغی اوتوره يې چلوله تر دې چې شهيد شو.

ترجمه: الله اکبر! څومره قوت ايماني ده! فرمان رسول ﷺ يې واوريده اوخپل سر يې قربان کړ.

جينا انهی کا جينا مرنا انهی کا مرنا　　اک بانکپن سے جينا اک بانکپن سے مرنا

(رضی الله عنهم ورضوا عنه) الله تعالى ددوی نه راضي شو اودوی دالله تعالى نه.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دالله دلارې دمجاهد مثال دداسې عبادت ګذاردی (چې په مينځ کې بنديدونه بغير) مسلسل روژه نيسي اولمونځ کوي (يعني ده ته دومره ثواب ملاويږي) تر دې چې ده ته اجروثواب يا مال غنيمت ملاؤ شي اوکور ته واپس شي يا يې الله تعالى کار تمام کړي اوجنت ته يې داخل کړي.

ترجمه: امام ابن حبان دخپل استاد عمربن سعيد بن سنان رحمه الله متعلق چانه يې چې داحديث نقل کړی بيان فرمايي چې: دهغه معمول تر دې کاله داسې وُ چې توله ورځ به يې روژه نيوله او توله شپه به يې نفل کول اودې سره مسلسل به جهاد کې وُ يا په سرحدا تو باندې. (شرح ترغيب) دشهادت دمرګ متعلق دالله تعالى ارشاد دی:

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه د ایمان والاووکې خُینې داسې دي چې دوی دالله سره دکوم شي وعده کړي وه ،هغه یې ریښتیا ثابته کړه، بیا په دوی کې بعضي داسې دي چې خپل نذرپې پوره کړ اوبعضې هغه دي چې دشهادت خواهش من دي (الاحزاب ۲۴)

په یو حدیث کې دي چې الله تعالیٰ به دشهیدانوْ له روحونو نه پوښتنه کوي چې آیا ستاسو نور څۀ خواهش شته؟ هغوی به عرض وکړي چې موږ دجنت میوي خورو اوجنت کې چې چېرته غواړو هلته تللی شو ،مونږ دنور څۀ خواهش کیدای شي،الله تعالیٰ به تري دري خله دا پوښتنه وکړي نو بیا به هغه روحونه عرض وکړي چې ای زمونږه پروردګاره! مونږ داغواړوچې زمونږ دا روحونه دې بدنونوکې دوباره واچول شي اودنیا ته مو واپس ولیږئ دې له پاره چې مونږ یو خل بیا ستا په لاره کې شهیدان شو.

الله تعالیٰ به وفرمایي چې دا فیصله خو ما دېره مخکې کړې ده چې که شهید وي یا بل څوک دوباره دنیا ته نۀ شي تللی،په یو بل حدیث کې دي چې جنت ته داخلیدو نه پس یو بنده به هم ددنیا خواهش نۀ کوي ،یوازې شهید به دغه بزرګي په وجه باندې کومه چې دۀ ته حاصله ده خواهش به کوي چې دي دنیا ته واپس شي اولس خله دالله په لاره کې قتل کړل شي. (بخاري و مسلم)

الٰہ العٰلمینه! تمام مسلمانانو ته خپله لاره کې دجان ومال قربانولو توفیق ورنصیب کړه آمین یا رب العٰلمین.

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دجمادی الاولی دمیاشتې دریمه خطبه:

انساني سعادت

(۱۲) جمادی الاولی دحضرت زین العابدین رحمۃ اللہ علیہ دولادت ورځ ده، حضرت زین العابدین رحمۃ اللہ علیہ دحضرت امام حسین رضی اللہ عنہ زوی دی، میدان کربلا کې دحضرت حسین رضی اللہ عنہ دشهادت وخت کې وروکی اوبیمار و، دده نوم علي دی، دماشوم والي نه بهادر، حاضر جواب اوسعید و، له دې وجې د جمادی الاولی میاشتې ددریمې خطبې عنوان "انساني سعادت" کیښودل شو. انسان الله تعالیٰ اشرف المخلوقات پیدا کړی دی، خو که دی راه سعادت اواطاعت پریږدي شقاوت اوبدبختي شروع کړي، نو بیا ارذل المخلوقات نه هم زیات بدتر دی. ارشاد رب العالمین دی:

" فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ. خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ إِلَّا مَاشَاءَ رَبُّكَ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ " (پ۱۲ آیت ۱۰۷)

دنېک بختو اوبدبختو خلکو انجام اونتیجه په دې آیت کې بیان شوی ده.

ترجمه: کوم خلک چې شقي دي بدبخته دي نو دوی به په دوزخ کې داسې حال کې وي چې په هغه کې به ددوی چیغې اوکریکې وي اوهمیشه همیشه به په دې کې وي تر څو چې څمکه او آسمان قائم وي، هو! که خدای ته یې راویستل منظور وي نو هغه بېله خبره ده.

څکه چې ستاسو رب څه کول غواړي نو هغه پوره طور باندې کولی شي اوپاتې شو هغه خلک کوم چې نېک بخت وي نو هغه به جنت کې وي اودلته به داخلیدو نه پس همیشه همیشه دلته اوسیږي، کله پورې چې څمکه اوآسمان قائم وي، هو! که الله تعالیٰ دې راوباسي نو دا جدا خبره ده هغه نهٔ ختمیدونکې عطیه به وي.

ددې آیت نه مخکینې آیت کې یې ویلي دي چې دقیامت په ورځ به دوه ګروپه وي، یو جماعت به داهل سعادت وي اوبل دویم جماعت به داهل شقاوت والا وي، حضرت علي رضی اللہ عنہ بن ابي طالب وفرمایل چې: موږ بقیع قبرستان ته یوې جنازې ته لاړو؛ نو رسول الله ﷺ هم امسا په لاس کې نیولې وه او ولاړ و، حضور ﷺ تشریف راوړ اوکیناست، په امسا یې څمکه کنیسله او ویې فرمایل: هیڅ یو بنده داسې نه دی چې په جنت یا دوزخ کې یې مخکې نه دده ځای لیکلی نه وي یا یې دده سعادت یا شقاوت لیکلی نه وي، دایې چې واوریدل نو یو کس عرض وکړ یارسول الله! ﷺ؛ نو بیا په خپل مقدر باندې باور ولې ونه کړم اوعمل پرینږدم؟ ویې فرمایل: نه! عمل کوه هر یو انسان ته دخپل مقدر کې لیکل شوي عمل توفیق ورکول کیږي شقاوت والو ته دشقاوت دعمل مطابق توفیق ملاویږي، اهل سعادت والو ته دسعادت دعمل

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

توفيق ورکول کيږي،ددې نه پس حضور ﷺ دا آيت (فَأَمَّا مَن أَعطَىٰ وَاتَّقَىٰ وَصَدَّقَ بِالحُسنَىٰ... الآية) تلاوت کړ(بغوي بخاري ومسلم،بحواله تفسير مظهري جلد ۲)، دبدبختو متعلق يې وفرمايل چې په دوزخ کې به ددوی چيغې او آوازونه وي "زَفِيرٌ وشَهِيقٌ" ضحاک وايي چې د خرد آواز ابتدائي حالت ته "زفير" وائي اودآواز آخري حالت ته "شهيق" وايي،داسې ده چې دوزخيان به په دوزخ کې دخرو په شان آواز باسي (العياذبالله) مخکې فرمايي چې په دوزخ کې به اوسيږي. کله پورې چې ځمکه او آسمان قائم وي

ضحاک رحمه الله، وويل چې آسمان اوځمکې نه جنت اودوزخ مراد دي،کوم شی چې دسر دپاسه وي هغه سماء (آسمان) دي اوکوم شی چې لاندې دی هغه ارض (ځمکه) ده. يعنې لازمي به دقدمو لاندې څه وي اودسر دپاسه به هم لازماً څهٔ وي طبراني اوابن مردويه رَحِمَهُمَا الله، دحضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل. که دوزخيانو ته ووېل شي چې تاسو به دوزخ کې دومره زمانه يې ځومره چې دتيرو(کانو) تعداد دی. هغوی چې دا واوري نو خوشحاله به شي اوکه اهل جنت ته ووېل شي چې تاسو به دومره زمانه په جنت کې يې ځومره چې دکانو تعداد دی؛ نو هغوی چې داواوري خفه به شي. مګر داسې نه ده دا دوزخيان اوجنتيان به هميشه دغلته وي،طبراني دالکبير نه اوحاکم دحضرت معاذبن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ کله حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ديمن حاکم کړاووېې ليږه،حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله ورسيده، نو تقرير يې وکړ، خلکو! زه دالله تعالىٰ درسول قاصد يم. زه تاسو ته دې اطلاع له پاره راليږل شوی يم چې واپس تګ به الله تعالىٰ ته وي،جنت ته يا دوزخ ته، هلته به دائمي قيام وي،بغير دمرګه زندګي به وي، بغيردبل خوا تلو زندګي به وي اوپه داسې وجودونو کې به وي چې هغو ته کله هم مرګ نه راځي.

بخاري اومسلم کې دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې سرکار دوعالم ﷺ وفرمايل چې جنتيان به جنت ته اودوزخيان به دوزخ ته لاړشي بيا به يو آواز کوونکی ددواړو ډلو په مينځ کې آواز کوي،اې دوزخ والو آئنده به مرګ نه راځي اواې اهل جنت والو آئنده به مرګ نه راځي. هر بنده چې په کوم حالت کې دی هميشه به په دې حالت کې وي،بخاري دحضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت سره ليکلي دي چې حضوراکرم ﷺ وفرمايل: وبه ويل شي چې اې اهل جنت! ستاسو له پاره،به دوام وي مرګ نشته اواې اهل دوزخ! په دوزخ کې ستاسو له پاره،دوام دی مرګ نشته. دحضرت ابن مسعود اوابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ،درواېت مطلب دادی چې په جهنم باندې يو داسې وخت راروان دی چې په دې کې به يو اهل ايمان هم نه وي،بغوي بحوالهٔ مظهري، کفار به هميشه په جهنم کې وي، ليکن کله چې دوی دشفلي اوچتيدونکي اور نه اوچت کړل شي اوپه سري کړو اوبو کې اچول کيږي نو دجحيم نه به راووېستل شي اوپه

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حمیم کې به واچول شي اوداسې به همیشه له پاره کیږي، جحیم اور ته وایي اوحمیم ګرمو اوبو ته وایي، علامه بغوي رحمه الله، دآیت "یَطُوفُونَ بَیْنَهَا وَبَیْنَ حَمِیمٍ اٰنٍ" په تفسیر کې لیکلې دي چې هغه به دجحیم اوحمیم په مینځ کې چکرلګوي، داور دشدت دوجې نه به فریاد کوي نو ګرمې اوبه چې دسره کړي شوي اوسپنې پښان یا دسره کړي شوي تیلو پشان به وي ده ته به ورنږدې شي، په دویم ځای کې ارشاد باري تعالیٰ دی:

"وَاِنْ یَسْتَغِیثُوا یُغَاثُوا بِمَآءٍ کَالْمُهْلِ یَشْوِي الْوُجُوهَ" یا داور اود زمهریرپه مینځ کې (سخت ترین یخوالي) په عذاب کې به چکرې لګوي. شیخین دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت کوي چې دوزخ ځپل رب ته شکایت کوي چې ای زما ربه! زما یوه حصه د اور دشدت له وجې بله حصه خوري؛ نو الله تعالیٰ دي ته په یو کال کې دوه خله دساه اخیستو اجازت ورکړي، یو ځل دګرمې په موسم کې اویوخل دیخني په موسم کې، کوم خلک چې دګرمې په موسم کې سخته ګرمي محسوسوي هغه ددوزخ دساه له وجې نه اوکوم خلک چې په یخني کې سخته یخني محسوسوي هغه ددوزخ دساه اخیستو په وجه وي، حضرت انس رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ځینو خلکو ته به دګناهونو په سبب باندې ددوزخ غاړه نصیب شي، بیا به یې الله تعالیٰ په خپل رحمت سره جنت ته داخل کړي، خلک به دوي ته جهنمیان وایي (بخاري) دحضرت مغیره بن شعبه رضي الله عنه نه روایت دی چې هغه خلک به دالله تعالیٰ نه دعا کوي چې دجهنمي دانوم زمونږ نه لرې کړه (طبراني) دحضرت جابر رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې: زمادامت ځینې خلکو ته به دخپلو ګناهونو په سبب باندې عذاب ملاویږي اوخومره موده چې الله تعالیٰ غواړي دوی به په دوزخ کې وي، په دوزخ کې به مشرکین دوی ته پیغور ورکوي چې ستاسو ایمان راوړلو تاسو ته هیڅ قسمه فائده ورنه کړه (زمونږ پشان تاسو هم دوزخ کې یئ) په دې باندې به الله تعالیٰ هر مؤحد (اهل توحید) ددوزخ نه وباسي هلته به باقي نه وي، ددې نه پس رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ: "رُبَمَا یَوَدُّالَّذِینَ کَفَرُوا لَوْکَانُوا مُسْلِمِینَ" (یعني کافرچې کله دا منظر وګوري نو آه به وکړي اووایي به چې کاش مونږ هم مسلمانان وای).

اهل سعادت به په جنت کې وي:

حضوراکرم ﷺ وفرمایل: اهل جنت به په خپل عشق کې وي چې اچانک (ناڅاپه) به په دوی یو نور رابنکاره شي، هغوی به سر اوچت کړي اوابه ګوري نو الله تعالیٰ به دوی ته رابنکاره شي اوخطاب به وفرمایي چې اهل جنت! په تاسو دې سلام وي الله تعالیٰ به دوی طرفته ګوري اودوی به الله تعالیٰ طرفته ګوري، دالله تعالیٰ دیدار په وخت کې به دوی ټول نعمت طرفته

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ګوري هغه نه ،سر دي چې حجاب به شي اوددوی جمک اوبرکت به داهل جنت په ځنونو کې
به شي ،ابن ماجه بحوالهٔ مظهري،

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله، په خپل مکتوب نمبر ۱۰۰ جلد دریم، کې دیعقوب دیوسف
سره ددلاونې دحضرت تشریح کوي چې دالله تعالی په اسماوو کې دکومې مبدأ تعین چې
مرکز ظهور، کې وی ددې اسم ظهور،دبو وجود دننه،ددې کس جنت وی اوددې اسم تجلي په
وو نهرونو ،شاندار محلات،اوحورو غلمان به شکل باندې به وی،حضوراکرم ﷺ فرمایي
چې دجنت خاوره پاکیزه ده اواوبه یې خوږې دی، هلته میدان دی اودهغه یوټې دلته
دی ،یعني سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر دجنت وني دی. حضرت مجدد الف
ثاني رحمه الله فرمایي چې کله به دا وني اونهرونه چمکدار روښانه زجاجي شکل ،دعینکو
ویشې پشان،شکل به اختیاروي اودالله تعالی دپې کیفه دیدار دحصول ذریعه به
شي ،دهمدې په ذریعه به دالله تعالی دیدار نصیب شي،مګر دا روښیت به دهر کیفیت نه پاک
وي بیا به خپل اصلي شکل (شجري یا نهري شکل طرفته راواړوي، اومومن به بیا ددې
شجري اونهري شکل کې،تفریح کوي اوداسې به همیشه همیشه کیږي
یعني دالله تعالی دیدارووصال یو داسې عطیه خداوندي ده چې دهغې سلسله کله ختمیدو
والا نه ده. هسې خو دجنت هریو نعمت لازواله دی، لیکن دالله تعالی وجوداصلي اوحقیقي
دی اودنورو شیانو وجود ظلي دی، دالله دوجود سره پیوسته (بلکې بعینه بذات خود الله دی
باقي هر شی فاني اوهلاکیدونکي اومعدوم الاصل دي،لکه څنګه چې په سوال غوښتل شوې
جمې خپلې نه وي دمالک وي، الله چې اهل جنت ته خپل بې کیفه وصل ورکړي اوبې حجابه
دیدار بکاره کړي. هغه اصل حقیقي اوغیر منقطع عطیه ده ، باقي نور نعمتونه داصل ذات
مقابله کې ذیلي،ظلي،اواصلاً به معدومه وي (والله اعلم)

حضرت زین العابدین رحمه الله :

حضرت زین العابدین داهل سعادت څخه دی چې دهغه اتباع وشي اوداهل سعادت دکیدو
کوشش وکړل شي الله رب العزت چې اهل سعادت بزرګان دین اواهل الله ته کوم مقام ورکوي
دهغه په مقابله کې ددنیا جاه وعزت هیڅ حیثیت نه لري، دحضرت زین العابدین رحمه الله، دمقام
اومرتبې اندازه ددې واقعې نه ولګوئ چې مولانا زکریا صاحب فضائل حج کې لیکلي دي،
(یې چې هشام بن عبدالملک شهزاده ؤ خپله اوسه پوري بادشاه نه و ،حج ته ولاړ اودطواف
دوران کې یې دحجر اسودښکلولو اراده وکړه اوداتهایې کوشش باوجود درش له وچې یې
ښکل نه کړ،په دې کې زین العابدین علي بن الامام حسین رضي الله عنه طواف کاو ، اوحجر اسودته
راورسیده. نو یو دم ټوله مجمع ودریده اوددې دلاړې نه یو خوا بل خوا شو ،هغه په اطمینان

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سره بنکل کړ اولاړو چادهشام نه پوښتنه وکړه چې دا څوک و؟ (چې دهغهٔ اعزاز دشهزاده نه هم زیات ؤ، هشام وویل چې ماته پته نشته،علماء لیکې چې قصداً ده ددې خبرې نه انکار وکړ؛خکه چې هغه سره کوم ملګري دشام نه راغلي وؤ چمرته دهغوی په زړهٔ کې دزین العابدین ﷺ وقعت پیدا نهٔ شي اوښو امیه به داهل بیتو مقام او وقعت برداشت کولی نه شو،فرزدق چې دعربو مشهور شاعر ؤ هغه هم هلته ولاړ ؤ هغهٔ وویل دازهٔ پیژنم بیا هغهٔ یو څو اشعار وویل چې دهغو ترجمه داده:

۱: دالله په بنده ګانو کې دټولو نه ښهٔ خلکو اولاددی دا متقي پاک اوصفا دی.

۲: داهغه کس دی چې دهغه قدم ټوله مکه پیژني،داهغه کس دی چې بیت الله یې هم پیژني اوحل وحرم هم.

۳: داهغه کس دی چې که دحجر اسود ښکولو ته ورشي اوددهلاسونه یې اوپیژندل نو قریبه ده چې حجر اسود تري لاسونه ونیسي په دې صورت کې دلاسونو خصوصیت دی چې په طرف باندې لاسونه کینبودل کیږي،.ددې مطلب موافق رکن الحطیم نه مجازاً رکن کعبه به مرادوي اوکیدای شي چې دا ترجمه وکړل شي چې کله دا کس طواف کوي اوحطیم طرفته لاړ شي نو قریبه ده چې دحطیم والا دده لاسونه وپیژني اوښکولو له پاره یې ونیسي،ددې مطلب موافق رکن الحطیم په خپل ظاهر به وي اودلاسونو پیژندلو خصوصیت دوجود دعطاکولو دکثرت په طرف اشاره ده.

۴: داهغه کس دی چې ده کله (لا) نه دي ویلي، دلا معنا ده نه، یعني کله یې هم غوښتونکي ته انکار نه دی کړي سوا دکلمه طیبه دلا نه چې په هغې کې ویلي دي،ددې مجبوري ده اودا په هر التحیات کې ویل کیږي کهٔ چرته دامجبوري نهٔ وی،نوددوی دژبې نه به لا کله هم نهٔ وتې.

۵: قبیله قریش چې په سخا کې ډېره مشهوره ده چې کله دوی ته ګوري نو بې اختیاره وایي چې ددوی په اخلاقو باندې دکرم انتهاء ده، یعني ددوی نه زیات کریم نشته.

۶: اوکله چې داهل تقوې شمار کیږي نو داخلک به هغوی کې هم مقتداء وي اوکله چې دا پوښتنهٔ وشي چې ددنیادټولو نه بهترین هستی څوک دي؟ نو ددې خلکو طرف ته به ګوتې اوچتیږي

۷: او هشام! که ته دده نه جاهله یې نو واوره! داد فاطمه (رضی الله عنها) اولاد ده اوددې په نیکه حضور ﷺ باندې نبوت ختم شو، تا دا وویل چې دا څوک دی په دې باندې څهٔ عیب نهٔ راولې،تا چې دچا دپیژندګلو نه انکار وکړ هغه عرب اوعجم دواړه پیژني.

۸:داهغه کس دی چې دشرم له وجې خپلې سترګې تیتې ساتي اوټوله دنیا دده دهیبت نه سرتیټ ساتي هیڅ یو کس ددوی درعب له وجې خبره نهٔ شي کولی تر څو چې دوي خنده

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ښتنې سره پښه نه شي، درنضيد قصيده ددې شرح ده په دې کې يې ليکلې دي چې هشام په
مجلس کې راغلی او فرزدق شاعر يې قيدی کړ
په حذف کې دزين العابدين عبادت اوسخا دومره خوره وه چې ددې واقعاتو اختصار هم
مشکل دی په يو شوارو ز کې به يې زر رکعته نفل کول اوکله چې به يې اودس کاؤ نو دمخ
ژړنې به يې زيږېده اوکله به چې لمونځ ته ودريده نو رنګ به پرې لګيده چا تري ددې پوښتنه
وکړه، نو ويې فرمايل چې تا ته پته نشته چې کوم ذات ته ولاړيم. يو خل په سجده باندې ډ په
کور کې يې اور ولګيده، خلکو چيغې کړې ای درسول الله ﷺ زويه اور لګيدلی دی. مګر
ده په اطمينان سره ولاړ ؤ. کله چې فارغ شو نو اور مړ شوی و. چا تري پوښتنه وکړه چې دا
څه وې نو ويې فرمايل چې ددې نه سخت اور(جهنم) دی اور نه غافله کړی وم. دده دشپې
دامعمول ؤ چې په کورونو به ګرځيده اودخلکو حالات به يې معلومول اواعانت به يې کاو
دوهړې داسې کورنۍ وې چې دهغوی ګذاره به دده په مدد باندې کيدله اودوی ته داپته هم نه
وه چې داکس څوک دی کله چې دی وفات شونو پته ولګيده چې په مدينه کې سل کوره داسې
دی چې دهغوی خرچې به ده پوره کولې، په داسې حال کې چې فرزدق څه ووايي صحيح دي
چې حضرت امام مالک رحمه الله فرمايي چې په خاندان نبوت کې دزين العابدين پشان بل شخصيت
نه ؤ په خپله زمانه کې يحيي بن سعيد رحمه الله وايي چې: په هاشمي خاندان کې دځومره کسانو
چې ما زمانه بيامونده کړې ده .په دې کې نومورې افضل ترين شخص و.سعيد بن
مسيب رحمه الله وايي چې ددې نه زيات متقي ما څوک نه ؤ ليدلی په دې حالاتو کې چې کله
دوي حج له تشريف يوړ اوداحرام ترلو وخت راغی نو مخ يې زيړ شواوليبک يې ونه ويلی شو،
خلکوترې پوښتنه وکړه ليبک نه وايې؟ نو ويې فرمايل چې: زه ويريږم چرته جواب کې راته
ليبک ونه ويل شي مګرکله چې خلکو اصرار وکړ چې احرام وخت کې ليبک ويل ضروري
دي نو ده ليبک وويل اوبيهوشه شو اوسورلی نه راپريوت اوحج ختمېد و پوري دا صورت و،
بزرګانو وړونو داوؤ هغه خلک چې ددوی زندګي قابل رشک وه، اصل سعادت ددوی مقدر
دی. ددوي اتباع کول پکار دي په دې کې ددنيا اوآخرت کاميابي ده اوداصل زندګي ده
نيو بزرګ ارشاد دی چې انسان دخپل نفس دقيد نه دالله په ذريعه باندې خلاصيدای
شي.ددې بزرګ داهم ارشاد دی چې دالله سره راحت ونيسه دغير سره نه، چاچې دالله سره
راحت ونيو هغه نجات ومونده اوچا چې دغير سره ونيو هغه هلاک شو،الله سره راحت نيول
ډير چې زړه دهغه سره معطره کيدل اودالله سره راحت نه نيول دزړه غفلت دی.
دحضوراقدس ﷺ ارشاد دی چې کله ديو بنده نظر دزنانه په حسن باندې پريوځي اوهغه
فوراً دهغې نه نظر لرې کړي نو حق تعالی به دهٔ دداسې عبادت توفيق ورکړي چې دهغه لذت
به ده نه محسوسيږي (مشکوة،بحواله فضائل حج)

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضرت زين العابدين نصيحت:

دده ارشاد دی چې خُپلې خلک دالله تعالیٰ عبادت دهغه ډیرې نه کوي دا غلامانو عبادت دی چې دډنډي په زور سره دا کار کوي اوخپلې خلک دانعاماتو په واسطه باندې کوي. دادسوداګرو عبادت دی چې په هر کار کې يې دګټې سوچ دی يوداحرارو عبادت دی چې دهغه په شکر کې عبادت وشي ستاسو عبادت داحرارو دی چې دهغه په شکر کې عبادت وکړئ.دده زوی حضرت باقر فرمايي چې: ما ته زما پلار زين العابدين(رحمه الله) وصيت وکړ چې پنځهٔ قسمه خلکو ته مه نژدې کيږه،که څه هم په لاره روان وي نو هم يې مهٔ ملګرې کيږه.

(۱) يو فاسق سړی چې دډوډۍ نوالې په بدله کې به دې خرڅ کړي، بلکې دډوډۍ نولږی نه کې باندې به دې هم خرڅ کړي، ماتړي پوښتنه وکړه چې دډوډۍ نوالې نه کم نه څه مراد دي. ډيې فرمايل محض په دې اُميد چې يوه نواله به چا نه ملاؤ شي اوبيا ددهٔ اُميد هم پوره نهٔ شو.

(۲) بخيل ته مهٔ نژدې کيږه ځکه چې سخت حاجت وخت کې به درنه مخ واړوي.

(۳) دروغ ويونکي کس نه لرې اوسيږه ځکه داکس په منزله دبالو(سراب) دی چې دلرې ځای نه اوبه ښکاري اوچې قريب شې نو اوبهٔ درته نوري لرې وښايي.

(۴) دبيوقوفه احمق نه لرې اوسيږه هغه به دنفع رسولواراده کوي اونقصان به درته ورسوي دې وجې نه ويل شوي دي چې هوښيار دشمن دناپوهه دشمن نه بهتر دی.

(۵) هغه کس نه لرې اوسيږه چې خپلو رشته دارو سره قطع رحمي کوي؛ ځکه چې ما داسې کس قرآن پاک کې بار بار ملعون کتلی دی.

دحضرت زين العابدين په زوی باندې دخوف الهي اثر:

دحضرت زين العابدين(رحمه الله) زوی حضرت باقرمحمدبن علي چې کله حج ته ولاړ اوپه بيت الله شريف يې نظر پريوت نو دومره په زوره يې وژړل چې چيغې يې وهلې،خلکو وويل چې دهرچا نظر ديخوا پريوت.تاسو چيغې مهٔ وهئ،ويې فرمايل چې شايد الله تعالیٰ ته زما په چيغو باندې رحم راشي اوسبا ته دقيامت په ورځ پرې زهٔ کامياب شم، دې نه پس يې طواف وکړ اوبياځای مقام ابراهيم کې نوافل وکړل نو دسجدې خای داوښکو دوجې نه لوند شو،ده يو ملګرې ته وويل چې ماته سخت خفګان دی اوزما زړهٔ په سخت فکر کې مشغول دی،ملګرې تړې پوښتنه وکړه چې تاسو ته څهٔ خفګان دی؟وې فرمايل چې: په کوم زړه کې خالص دالله دين داخل شي نوهغه دازړه دالله نه ماسوا خالي کړي اودنيا ددې شيانو نه علاوه څهٔ شي دې داهغه سواری ده په کومه چې ته راغلی يې،داجامه ده کومه چې دې اچولې ده،همدا بنځه ده کومه چې ملاؤ شوه.داخوراک دی کوم چې دې وخوړو. (روض)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

انساني سعادت:

حضرت امام غزالي رحمه الله په کیمیائے سعادت کې فرمایي (مترجم مولانا سعید الرحمان علوي) ای گرانه! په دې خبره خان پوهه کړه چې الله تعالی انسان عبث نه دی پیدا کړی. بلکې دوه ډولونه مقصد ډېر اعلی دی اوده له پاره خطرات هم ډېر دي. دې وجي نه کهٔ انسان ازلي نهٔ دی نو ابدي خو بهرحال دی

یعني کهٔ همیشه نه وي نو همیشه له پاره ده ته اوسیدل دي اواگر چې وجود دخاوري پشان ناچیزه شي نه جوړ دی. لیکن ددې دروح حقیقت خو رباني دی اوډېر باعزته دی اوداانسان اصل اگر چې چرند درند اوشیطانانودصفاتوسره ملاؤ دی اوپه دې کې میلان دی لیکن کله چې مشقت (عبادت) دپتې نه تیریږي نو دتقصیراتو نه پاک شي اوداالله تعالی په بارګاه کې قُرب حاصل کړي اوپه دې کې ددې صلاحیت پیدا شي داسفل السافلین نه اعلی علیین پورې ټول لاندې والي پورته والي تعلق هم دې سره دی. کهٔ چرته دي دچرند او درند پشان په خواهش اوغوسه کې گیر شي نوداسې ده چې په اسفل السافلین کې پریوت اوکله چې ده دخواهش ناجائزه اوغوسې نه خلاصې بیامونده نو نو دملائکو درجې ته ورسیدواوپه اعلی علیین کې یې مقام حاصل کړ،مقصد دا چې غوسه او خواهش دواړه دده په لاس کې قیدیان وي اودی دې دواړو له پاره په منزله دبادشاه وي،بیا چې کله ده ته دبادشاهي درجه حاصله شي نوهغه دالله تعالی دبندګي اوعبادت قابل شي اودبندګي جوګه کیدل دادفرشتو صفت دی اودې سره انسان دکمال مرتبې ته رسیږي،کله چې انسان ته دالله تعالي دجمال محبت مزه ورنصیب شي، نو ددهغ ددیدار نه یوه لمحه هم صبر نهٔ شي کولی، ددهٔ دلازواله جمال دیدار دده جنت شي هغه دده په نزد باندې محض هیچ شي.

حضرت امام غزالي رحمه الله، فرمایي چې الله تعالی جهان په دوه قسمه باندې پیدا کړ یو عالم اجسام اوبل عالم ارواح.عالم اجسام دبنده ګانو دروح مقام اومستقر دی دې له پاره چې دې نه آخرت تونبه حاصله کړي اودهر یو کس دقیام موده یې مقرره کړه چې دهغې انتها اجل دی.کمیدو زیاتیدو په دې کې هیڅ قسمه دخل نشته،اجل چې راشي نو روح دبدن نه جدا کړي اودقیامت ورځ چې دحساب اومکافاتو ورځ ده، په دې ورځ به بیا روح ته انساني قالب عطا کړي اوټول به اوچت کړي اوبه دریږي اوهر یو به خپل خپل کردار په عمل نامو کې وګوري خهٔ چې دهٔ په دنیا کې کړي دي هغه به ورته وریاد کړل شي.دعبادت اوګناه مقدار به په داسې تله تلل کیږي چې دهغې به قابل اولائق وي هغه تله به ددنیا دتلې پشان نهٔ وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پل صراط:

بیا به تولو ته په پل صراط باندې دتلو حکم وشي،هغه به دویښته نه زیات نرۍ اودتورۍ نه زیات تېره وي، کوم یو بنده چې هم په ددې دنیا کې صراط مستقیم یعنې شریعت مطهره باندې ځې هغه به په پل صراط باندې په آسانتیا سره ځي اوچاچې په دې دنیا کې سیده لاره اختیار نه کړه هغه به په پل صراط نه شي تلی،بلکې دوزخ کې به پرېوځي اوتمام خلک به په دې ځای باندې درول کیږي اوداعمالو پوښتنه به تري کیږي دریښتیني ایماندارو نه به ددوی دریښتینوالي حقیقت معلومولیږي اومنافق وریاکار ته به خجالت اوشرمندګي اوچتول وي اوپه فضیحت اورسوایي کې به مبتلا کیږي،یو جماعت ته به بې حسابه جنت ته داخلیدل ملاؤ شي اودچا حساب به په آسانتیا باندې اودچا به په مشکل باندې اوشي پاتې شو ګناهګارو نه هغه به دوزخ ته وویشتل شي اودوی ته به کله هم خلاصون نۀ ملاویږي، فرمانبردار مسلمان به جنت ته داخل کړي شي اوګناهګار مسلمان به دوزخ ته وسپارل شي، انبیاء اوصلحاء چې په دې کې دچا شفاعت کوي هغوی به جنت ته داخل کړي شي اوګناهګارمسلمان به دوزخ ته وسپارل شي،فرشتې به دوي دوزخ ته یوسي اوددوی دګناهونو مطابق به دوی ته سزا اوعذاب برداشت کول وي،بیا به دوي هم جنت ته تګ نصیب شي. (کیمیائے سعادت)

پاتې شوه دا خبره چې اعمال به ځنګه تلل کیږي زمونږ اعمال خو ختم شو کله چې ددې وجود پاتې نۀ شو نو قیامت په ورځ به ځنګه تلل کیږي ؟ نو صاحبانو! نن دسائنس ترقي دا اشکال ختم کړ، ځکه چې جدید سائنس په ترقي باندې داخبره ثابته شوه چې کوم آوازونه دحضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دزمانې نه واخله تر نن پورې ویل شویدي هغه په فضا کې موجود دي. هغه نیولي شوي هم دي اودهغو دصفا کیدو کوشش هم جاري دی،

نوغرض داچې زمونږ داعمالو تعلق خواه دویلو سره وي یا دکولو سره وي هغه موجود دي اوددې وزن به دقیامت په ورځ وي. باقي نن سبا دور کې دهوا تناسب،دنمي تناسب،ګرمي یخني تبه وغیره دهریوځیز دتللو آلات تیار شویدي نو آیا قادر مطلق ذات داسې نۀ شي کولی چې زمونږ اعمال وتلي،پاتې شو پل صراط چې دومره نرۍ نوددومره باریک اونري شي وجود ځنګه،مګرنن دایتم ایجاد دا اشکال هم ختم کړ دیوې ستنې په سوکه باندې زرګونو لاکهونو ایتم راتلی شي دهریوایتم مرکز وي دهغې وجود وي اوکله چې دیو خاص تیکنیک (طریقه)باندې داماتیږي نو دې نه دیې پناه قوت اخراج کیږي نو آیا قادر مطلق یو داسې پُل نۀ شي جوړولي،ببشکه هغه په هر شي باندې قادر دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

انبیاء کرام علیهم السلام :

چونکې الله تعالي دا خبره مقرره کړې ده چې دبندهګانو ځینې اعمال به ددوی دشقاوت وبدبختي سبب وي اوځینې به دسعادت اونیک بختي، لیکن بنده دانهٔ شي پیژندلی چې کوم سعادتمندي سبب دی اوکوم دبدبختي،نوالله تعالي په خپل فضل وکرم سره انبیاء علیهم السلام پیدا کړل،مبعوث کړل، اوحکم یې ورته وکړ چې کوموخلکو له پاره ازل کې دکمال سعادت حکم شوی دی هغوی ددې راز نه خبردارکړئ، الله تعالي انبیاء کرامهٔ ته پیغام حق ورکړ اومخلوق طرفته یې راولیږل دې له پاره چې دسعادت اوشقاوت والهلاره دوی ته وښایي دې له پاره چې څوک داخبره ونهٔ کړي چې ما ته علم نهٔ وُ اوپه دهٔ باندې دالله حجت تمام شي،بیا دتمام پیغمبرانو نه پس الله تعالي زمونږ رسول ﷺ راولیږه چې خاتم النبیین اوسید الاولین والآخرین دی. ده ته الله تعالي داسې درجه ورکړه چې دهغې دپاسه بله اوچته درجه محال ده.دې وجي نه چې دوی یې خاتم النبیین جوړ کړل چې دوي ﷺ نه پس به بل پیغمبر نهٔ وي اوتمام جن وانس ته یې درسول الله ﷺ داتباع اواطاعت حکم ورکړ دې له پاره چې څوک ددوی دحلقه اطاعت نه بهر پاتې نه شي اوحضور ﷺ یې دتمام انبیاوو سردار اوافسر جوړ کړ اودتمام انبیاء کرامو دیارانو اودوستانو نه یې بهتر دنبي کریم ﷺ اصحاب او احباب رضوان الله علیهم اجمعین بهتر اوافضل جوړ کړل. (کیمائے سعادت)

الٰهی بس ہوں میں خطاوار تیرا　　مجھے بخش دے نام غفار تیرا
الٰهی بتا چےوز سرکار تیری　　کہاں جاوے اب بندہ ناچار تیرا

(حاجی امدادالله مهاجر مکي ﷺ)

یہ دنیائے فانی ہے محبوب تجھ کو　　ہوئی واہ کیا چےز مرغوب تجھ کو
نہیں عقل اتنی بھی مجذوب تجھ کو　　سمجھ لینا اب چاہئے خوب تجھ کو
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے　　یہ عبرت کی جا ہے تماشہ نہیں ہے

(حضرت مجذوب ﷺ)

یا اله العالمین ! مونږ په اهل سعادت کې شمار کړه.آمین یا رب العالمین

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جمادی الاولی دمیاشتې څلورمه خطبه

دانسان بدبختي

دډې نه مخکې خطبې (دجمادی الاولی ددریمې خطبې) موضوع انساني سعادت وه،اوس ددې څلورمې خطبې موضوع انساني بدبختي ده،الله رب العزت انسانانوته عقل ورکړ اودحیوانانو نه يې ممتاز کړل اودوی ته يې دهدایت اودګمراهي دواړه لارې وښودلې اواختیارات يې ورکړل له دوی دهدایت لاره اختیاروي نو اهل سعادت کې به شمارل کیږي اوددنیا وآخرت کامیابي به حاصلوي اوکه دبدي لاره اختیاروي نو په بدبخته خلکو کې به شمارل کیږي یعني په بدبخته خلکو کې به ددوي شمار اوحشرکیږي.چې هغې نه به ددواړو جهانو ناکامي اونامرادي وي.ارشاد رب العالمین دی:

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ۝ اَلَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ۝ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ هُزُوًا ۝ (پ۱۶ سورۃ کھف آیت ۱۰۳تا۱۰۶)

ترجمه: اې پیغمبره دوی ته ووایه چې مونږ تاسو ته داسې کسان وښایو چې داعمالو په اعتبار سره بالکل په خساره کې دي،داهغۀ خلک دي چې په دنیا کې ددوی کړي محنت ضائع لاړ اودوی دخپل جهالت په بنیاد باندې دا ګمان کوي چې دوي ښۀ کار کوي،داهغه خلک دي چې درب آیتونه یعني (آسماني کتابونو)اوددې دملاویدو (قیامت)انکار کوي، (دې وجې نه ددوي ټول کارونه تباه شو)نو دقیامت په ورځ به مونږ ددوی اعمال ذره برابر هم ونۀ تلو، بلکې ددوی سزا به هغه وي یعني دوزخ ،ددې وجې نه چې دوی کفر کړی ؤ (اوداچې)زما آیتونو اوپیغمبرانو پورې به يې مسخري کولې.

تشریح: حضرت ابن عباس اوحضرت سعد بن ابي وقاص (رضی اللہ عنہ) وفرمایل چې: په دې آیت کې دټولو نه زیات خساره واله نه مراد عیسایان اویهودیان دي چې خپل ځان په حق باندې ګڼي،حالانکې ددوی شریعت منسوخ شوی دی،دځینې علماوو په نزد باندې ددې نه مراد هغه تارک الدنیا راهبان اوخانقاه نشین مراد دي چې په خپل خیال کې دآخرت طالب اوددنیا دلذتونو نه مخ اړونکي دي حالانکې هغوی دشریعت اسلامیه منکر دي، ددوی داکوشش به ټول سراب اوناکاره ثابتیږي.حضرت علي (رضی اللہ عنہ) فرمایي ددې نه مراد حروریه یعني خارجي مرادددي داهغه اولني فرقه دي چاچې دصحابۀ کرام (رضی اللہ عنہم) ددوستانو خلاف بغاوت وکړ اوبغاوت يې حق وګڼه،دحضرت علي (رضی اللہ عنہ) مقصد دادی چې آیت نه مراد بدعتي اونفساني

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ملاتیات لرونکي خلک مراد دي چې دهغو کړوه اومؤسس خارجیان وؤ پس معتزله روافض اوداهل سنت تمام مخالف په دي حکم کې داخل شو صاحب مظهري فرمایي ددې نه مراد کفار دي چې قیامت قائمیدونکي اونور جسماني زندګي ملاویدونه منکر دي اودنیاوي فائده ددوي درزندګۍ مقصد ؤ، ددي فائدو لاري چې کومو طریقو سره وابسته په نظر راتلې په دي لاره باندې به تلل اوداخیال به یې کولؤ چې ددې دنیا نه پرته بله زندګي نشته "أُولَٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ" دا هغه خلک دي چې هغوی دخپل رب آیات اوداللہ تعالي سره ملاویدو انکار وکړ. یعني دمرګ نه پس دوباره ژوندي کیدو نه منکر وؤ په آیت کې په پټه په هغه خلکوهم بد ویل شوي دي کوم خلک چې دحشرونشر خوقائله دي مګر اعمال دنیوي ته په اعمال اخروي باندې ترجیح ورکوي همیشه ټوله زندګي دنیا راټولوکې لګوي دآخرت تصور یې هم نه وي.رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایه هوښیار اوسمجدار هغه انسان دی چې خپل نفس دخپل حکم تابع وګرځوي اومرګ نه وروسته زندګي له پاره کار وکړي اوبې عقله هغه انسان دی چې دنفس لاندې زندګي تیروي اوپه الله باندې یې ددروغو آرزو ترلې وي یعني دالله دقهاریت اوعذاب ورکولودطرفه غافله وي اوځۀ چې یې زړۀ وغوښتل هغه یې وکړل اودا خیال یې وکړ چې الله رحیم دی، کریم دی هغه به مې یقیناً معاف کوي،فرمایي چې ددې خلکو ټوله منډه تروړه ضائع لاړه مګر په دوکه کې پاتې شوځکه چې شرط ایمان نه ؤ،یعني هغه کارونه چې ددنیا ګټلو په چکر کې یې وکړل یا دثواب حاصلولوپه نیت یې وکړل ټول ضائع شوداسې خلکو له پاره وزن نۀ قائمیدو مطلب دادی چې ددوی داعمالو به قدروقیمت نۀ وي.

دحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایي چې: ځینې طاقتور افرادبه دقیامت په ورځ باندې دمیزان په تله کې کیښودل شي، لیکن دهغوی وزن به د جوارودانې برابرهم نۀ وي.فرشتې به داسې اویازره کسانوته دیکه ورکړي اوجهنم ته به یې وغورځوي

دحضرت ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول بغوي رَحِمَهُ اللهُ نقل کړی دی چې: د قیامت په ورځ به خلک خپل اعمال راوړي چې دهغوی په نظر کې به دومره لوی وي لکه دتهامه غر،لیکن دتول نه پس به ددې هیڅ وزن نۀ وي کفار خو به سیده جهنم ته واچول شي.

ځینې مسلمانان به هم لوی اعمال راوړي مګر دخلکو حقوق به پرې ،ې اوپه. محشر کې به خلک دده نه نیکۍ یوسي اوهغه به تش لاس پاتې ش، دي وجې نه نن دخپل ځان له پاره دخلکو مال لوټ کول یا ظلم کول دآخرت په اعتبار سره ډېره دخسارې خبره ده.انسان ته پکار دي چې دالله تعالي د رضا له پاره خپل جسم جان ومال ولګوي، مال یوازې دي له پاره دی چې دالله درضا له پاره خرچ شي ستا پکار به یوازې هغه مال راځي، کوم چې دالله تعالي په خزانه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کې جمع شي چې دهغه په بینک کې نه دجمع کولو خطره شته اونهٔ دبینک فیل کیدو احتمال اوداسې ضرورت وخت کې به پکار راشي کوم وخت کې چې انسان انتهائي محتاجه وي خپله دسبحانه وتعالی ارشاد حضور ﷺ نقل کړی، چې ای بنده ته خپله خزانه ماته راولیږه نهٔ خو دي ته داور لګیدو ویره ده نه دغلا اونه دسمندرد وړو اوپه داسې وخت کې به یې پوره پوره درکوم کوم وخت کې چې ته یې حده محتاجه یې

زکات نه ورکول بدبختي ده:

عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَا مَنَعَ قَوْمٌ الزَّكٰوةَ إِلَّا ابْتَلَاهُمُ بِالسِّنِينَ.
(طبراني، ترغيب وكنز)

زکات نه ورکوونکو خلکو باره کې رسول اکرم ﷺ فرمایي چې کوم قوم هم زکات نه ورکوي په هغوی الله تعالي قحط مسلط کوي،نن په موږ باندې قحط مسلط دی،ګراني مسلط ده،بیروزګاري ده،په زرګوړ قانونه جوړیږي چې ګراني ختمه شي بیروزګاري ختمه شي،په لکهونوتدبیرونه وکړي خوچې کوم شی دمالک الملک دطرفه مسلط وي نوهغه یوازی دهغه په لرې کولو باندې لرې کیږي ورسره یې دقحط اوبې روزګارئي اومهنګائي وجه هم وښودله کهٔ ددې مرض علاج ونهٔ کړل شي نوپه زرګونواو لاکهؤ قانونه به ضائع شي.کله پوري چې مالداره زکات ورنهٔ کړي قحط ګراني،بې روزګاري نهٔ ختمیږي

دبدبختي نورعملونه:

حضرت ابن عمر(رضي الله عنه) فرمایي چې یوځل حضوراکرم ﷺ وفرمایل چې اي دمهاجرینو تولیه! پنځهٔ شیان داسې دي کهٔ په دې کې مبتلا شئ اوزه دالله نه پناه غواړم چې تاسو به دې کې مبتلاشئ(نو لوي آفاتو کې به ګیر شئ)

(۱) کوم قوم کې چې فحاشي اوبدکاري ښه په ازاده شروع شي؛ نو په دې قوم کې الله تعالی داسې بیماري پیدا کړي چې دې نه مخکې یې چا نوم هم نه وي اوریدلی.

(۲) کوم خلق چې په ناپ تول کې کمی شروع کړي په دوی به مشقت، قحط اوظالم بادشاه مسلط کیږي.

(۳) کوم خلق چې زکات نه ورکوي په هغوی به بارانونه بند کړي شي، کهٔ ځناور نهٔ وي نو یوه قطره باران به هم نهٔ کیده(ځناور دالله مخلوق دی یې قصوره دي ددوي دوجې لږ شان باران کیږي).

(۴) کوم خلک چې دخپلې معاهدې خلاف ورزي کوي په هغوی به نور قومونه مسلط کیږي چې ددوی مال ومتاع به لوټ کړي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

۵ کوم خلک چې دالله دقانون خلاف حکم جاری کړي په دوی کې به خانه جنګي وي ،فضائل صدقات حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا نورالله مرقده،

من موږ نه دې عیبونوباندې زور نظر پکار دی چې په دې کې کوم عیب دی چې موږ یې مبتلا نۀ یو او ورسره دې یښه هم نظر کول پکار دي چې کوم آفات ښودل شوی دی په دی کې کوم یو به موږ باندې نازل نۀ دی حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایي چې حضور اقدس ﷺ وفرمایل چې پنځۀ شیان دپنځو په بدله کې دي چا تري پوښتنه وکړه یا رسول الله: دډي څه مطلب دی؟ حضور ﷺ وفرمایل کوم قوم چې دمعاهدو خلاف ورزي کوي په هغوی دشمن غلبه کیږي اوځوک چې دالله دقانون خلاف حکم چلوي په هغوی کې به مړي ډیر کیږي اوکوم خلک چې زکات نۀ ورکوي په هغوی به باران بند شي اوکوم خلک چې ناپ تول کې کمی کوي هغوی به پیداوار کمیږي اوقحط به پرې هم مسلط کیږي په دې حدیث کې دالله دحکم خلاف ورزي باندې کثرت اموات ذکر دی اوپه مخکینې حدیث کې کثرت خانه جنګي ارشاد وه دواړه جدا جدا هم کیدای شي اوخانه جنګۍ نه کثرت اموات خو نن دسترګو وړاندې دی

یو حدیث مبارک کې دي چې کله زکات اداکول تاوان وګڼل شي نو دغه وخت کې سره ویرې،زلزلې،ځمکه کې ځښیدل،دشکلونومسخ کیدل،آسمان نه کانې اوربدل داسې مصیبتونه به یو په بل پسې نازلیږي لکه چې دتسبیحو تار وشلیږي اوددې دانې یوبل پسې راپریوځي

یو حدیث کې دحضرت عمر رضی الله عنه روایت دحضور ﷺ ارشاد بیانوي چې کوم مال په خنګل کې یا په سمندر کې ضائع کیږي دغه دزکات نه ورکولو دوجې نه ضائع کیږي یعني دآخرت سزا خو ددې نه علاوه ده، په دنیا کې ددې وبال داوي چې هغه مال ضائع کیږي

حیرانونکي واقعه:

به فضائل صدقات کې دي چې حضرت عباده بن الصامت فرمایي چې: حضور ﷺ به مکه کې دحطیم دسوري لاندې ناست و چې یو کس راغی اوعرض یې وکړ یا رسول الله ﷺ! دفلاني کورنۍ سامان دسمندر په غاړه باندې پروت دی،هغه هلاک شو(دسمندر به موجونوباندې تباه شو)حضور ﷺ وفرمایل چې: کوم مال په بروبحر(وچې،سمندرمطلب داچې ټوله دنیاکې)ددې نه بغیرنۀ ضائع کیږي چې ددې زکات اداشوی نه وي،دخپلو مالونود زکات ادا کولو په ذریعه حفاظت وکړئ اودخپلو بیمارانو دصدقې په ذریعه باندې علاج کوئ اوناڅاپي مصیبتونه په دعاګانوباندې ختمۍ دعاهغه مصیبتونه ختموي کوم چې رانازل شویدي اوهغه بندوي کوم چې لا راغلي نۀ دي اوحضور ﷺ به داهم ویل چې: الله تعالی دکوم قوم دزیات والي اوډبقاء اراده وکړي نو په دوی کې عفت اوپاکدامني اوسماحت یعني نرمي اوسخا پیدا کوي اودکوم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

قوم چې دفنا اراده کوي نو په هغوی کې خیانت پیدا کوي.ددې نه پس حضور ﷺ دا آیتونه تلاوت کړ. "حَتّٰى إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ" دمال دزیاتوالي نه پس دعذاب ذکر دا آیت شریفه دسورت انعام په پنځمه رکوع کې دی.چې دهغه شروع د"فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ...الخ" نه دی اوپورتنۍ دوه آیتونو کې دعبرت اونصیحت حاصلولو له پاره داولني اُمتونو دهلاکت یو دستور ارشاد فرمایلی دی چې مونږه اولنې اُمتونو طرفته هم کوم چې ستاسو نه مخکې وۍ پیغمبران مو ورته لیږلي وۍ.(کله چې هغوی دپیغمبرانو خبره ونه منله،نوبیا مونږ په مصیبت اوبیماري کې ګیر کړل.(یعني بیماریو اومصیبتونو کې مو مبتلا کړل،دې له پاره چې هغوی عاجزي وکړي، کله چې (مونږ دطرفه سزا) دوي ته اورسیده نو دوي عاجزي ولي ونه کړه.(چې په دوي باندې رحم شوی وی اوقصوریې معاف شوی وای.لیکن ددوي زړونه خو سخت شوي وۍ هغوی به نصیحت څه قبول کړی وا اوشیطان به هغه اعمال چې دوی دمخکې نه کول نور هم ددوي نظر کې آراسته کړل.(چې دهغې دوجې نه دوی په هغه اعمالو کې کوم چې دوي بنډ ګنډل ګیر شو)بیا کله چې دې خلکو هغه شیان هیر کړل(اودې طرفته یې کتل هم نه،(دکومو چې دخپل پیغمبرانو دطرفه دوی ته نصیحت کیده نو مونږ په دوي باندې (دعیش وعشرت)تمامي دروازې خلاصې کړې تر دې چې کوم شیان دوی ته (عیش وراحت له پاره ملاؤ وۍ تکبر شروع کړو)چې په هغې سره ددوی ګمراهي نوره هم زیاته شوه.نومونږ دوی په (عذاب کې داسې) دفعتاً ګیر کړل.چې دوی ته ګمان هم نه ؤبیا دظالمانو خلکو جړې هم ووتې. دا آیت شریفه دډېر عبرت والا آیت دی چې دالله تعالي دنافرمانیو باوجود که دڅا دسختي په ځای دعیش وعشرت سامان ،ې نو دادخطري خبره وه.

په یو حدیث مبارکه کې دي چې درسول الله ﷺ ارشاد دی چې کله ته وګورې چې یو بنده په خپلو ګناهونوباندې تینګ ولاړ دی اوپه ده باندې ددنیا فراخي ده نو دادالله دطرفه یوه موقعه ده.بیا رسول اکرم ﷺ دا آیت "فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا...الخ" تلاوت کړ.

حضرت ابوحازم رضی اللہ عنہ نقل کړي دي چې کله ته دا وګورې چې دالله تعالي نافرماني کوې اودهغۀ نعمتونه په تاباندې مسلسل کیږي نودې نه ویریږه اوهغه نعمت کوم چې دالله تعالي ځُرب نصیب نۀ کړي هغه مصیبت دی، ګراني،بې روزګاري،دمال حرص اوهوس ددې وجې نه دي چې خلک زکات نۀ ادا کوي،صدقه نۀ ورکوي،دې وجې نه بې برکتي ده، په ټوله دنیا کې بیروزګاري اوګراني ده دې وجې نه چې قانون قدرت نه انحراف کیږي.کفارو نه خو شکایت نشته خکه چې هغه کافر دي مګر دمسلمانانودابتري دا حال دی نن هم ډېر ګریجویشن ،ایم ایس سي،پي ایچ ډي،ایم بي بي ایس ډګري اخیستي اوبیروزګاره ناست دي اوددفترونو چکري لګوي.ددې وجه داده چې دالله په لاره کې یې خرچ کول پریښي دي،دالله په لاره کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هرڅ کولوکې به برکت اواضافه وي اوپه آخرت کې به اجروثواب هم جدا ملاویږي دي نه
علاوه دهماکې .دمسلمانانوخانه جنګي .عصبیت .لسانیت .دبیماریو کثرت .حادثاتوکې
اضافه .دزلزلوراتګ .ددشمن اوکفارو رغب اودبدبه .ددعاګانو نه قبلیدل .دامور ته دخپلو
بدو اعمالو سزا ملاویږي حضور ﷺ ددنیاوي آفاتو اومصیبتونو نه ډیر کیدو خومره ښه
اصول ښودلی کۀ مور داخپل کړو اوپه دې باندې عمل وکړو نودنیا ته به دمصیبتونو نه
خلاصی ملاؤ شي

دحضور پاک ﷺ دفرمان مطابق فحاشي وعریاني اوبدکاري عام کیدو په وجه باندې به
بیماري عامي شي او نوې نوې بیماري به پیدا شي. لهذا وګورئ څومره لوی ریسرچ شروع
دی لیاړتیې قائمیږي دآپریشن نوې نوې طریقې ایجادیږي لیزر شعاګاني ایجاد شوي .هر
ځای کې میډیکل کالجونه جوړ شو .هسپتالونه قائم شو .ډسپنسرۍ قائمیږي مګر بیماري
زیاتیږي کیدو په ځای زیاتیږي کینسر .سرطان .ایډز پشان لاعلاجه او مهلک بیماري ظاهریږي
شوي دایډز بیماري په یورپ کې عامه شوه دهغې وجه داده چې هلته لواطت عام شو او دا
صراحتاً دقانون الهي چې قانون فطرت دی دهغه مخالفت په وجه ظاهریږي. دې وجې نه
مسلمانانو خواه حاکم وي یا محکوم کۀ په بیماریو باندې قابو غواړئ نو دفحاشي عرياني
اوبدکاري دخاتمې فکر به کوئ .وي سي آر .ټیلي ویژن لعنت عام شوی دی نو بیماري هم
عامي شوي. دې پردګي رواج عام شو نو بیماري هم عامي شوې

دناپ تول دکمي دوجې قحط مشقت اودبادشاه ظلم مسلط کیږي اوس غور وکړئ هر بنده
تقریباً په خپلو فرائضو کې کوتاهي کوي خواه ملازم وي یا سوداګر خواه مزدور وي .خواه
سرمایه کار یا جاګیر دار .داتول دناپ تول کمی دی .چې په وجه یې مالي پریشاني راغلې ده
اردظالم حکومت تسلط وي کۀ مور غواړو چې زمونږ حاکم رشوت خور نه وي انصاف اوعدل
کوونکی وي قحط بیروزګاري دې ختمه شي نو ناپ تول کې کمي پریږدئ خپل خپل فرائض
پوره کړئ

په معاهدو اووعدو خلاف ورزي سره دنورو قومونو تسلط راځي نن په مسلمانانوباندې
چیرته یهودیان مسلط دي .چیرته روس اوامریکه مسلط ده چرته دهندوانو ویره ده نوداتول
دې وجې نه دي چې مور دمعاهدو اووعدوخیال نۀ ساتو .دنظام اسلامي په ځای چې کله کفر و
سوشلزم کمیونزم .کیپټل ازم مغربي براند جمهوریت چې مسلمانانو خوښ کړ اوقانون اسلام
چې ضابطۀ حیات دی هغه یې ترک کړ. دې وجې نه زمونږ دنته خانه جنګي عصبیت،
صوبائیت. لسانیت په شکل کې پوره په عروج کې دی،دې وجې نه کۀ مسلمانان اتفاق
واتحاد غواړي نو په قوانین اسلام باندې به عمل کول وي ګني په لاکهونو تدبیرونه اوکړه
ټول بې کاره دي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحرامي ګټي زکاتات ورکولو هیڅ فاده نشته:

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې کوم بنده طيب (حلال مال) زکات ورنه کړي نو هغهٔ نه خبيث جوړوي او کوم بنده چې حرام مال نه زکات ورکوي نو هغه نه پاکوي.

فاده: ځومره سخت ويرونکی وعيد دی چې کوم مال په ډېره سختي سره دحلال وحرام تميز ساتلو سره ګټل شوی ؤ هغه په لږ شان بخل باندې چې ددې زکات ادا نه کړل شو ټول مال د الله په حضور کې خبيث جوړ شو په يو حديث کې وارد شويدی چې کوم بنده په حرامه طريقه باندې مال وګټي اوبيا هغه صدقه کړي ددې هيڅ ثواب نشته. (فضائل صدقات)

دحضرت اسمآء رضي الله عنها نه روايت دی چې زه اوزما ترور دحضور اقدس ﷺ په خدمت کې حاضر شو اوپه خپلولاسونو کې مو دسرو زرو بنګړي وؤ حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې ددې زکات ورکوئ؟ ماعرض وکړ چې نه حضور ﷺ وفرمايل: ددينه نه ويريږئ چې الله تعالي تاسو ته داور بنګړي واچوي، ددې زکات ورکوئ، زنانه وؤ ته ددې پوره خيال ساتل پکاردي چې کوم سره زر نن ددې دوجود زينت جوړ دي سبا به دزکات نهٔ ورکولو په وجه باندې سور اوږي اودبدن عذاب به وي.

دالله په لاره کې دښهٔ اوعمده شي خرچ کول پکاردي:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ (سورة بقرة آيت ۲۶۷)

دانفاق في سبيل الله ترغيب، دپوره آيت ترجمه ده: اې ايمان والو، دخپلې ګټې نه عمده مال دالله په لاره کې خرچ کوئ (نيکو کارونو کې عمده مال خرچ کوئ) په هغه شي کې کوم چې مونږ تاسو له پاره دځمکې نا توکولي دي (ميوه وغيره) اودردي مال اراده مهٔ کوئ ، (کهٔ تاته څوک خراب شی په حق واجب يا په تحفه کې درکړي نو) ته هيڅ کله هغه نه اخلي مګر داچې سترګي پټې کړې اووايي خلي په دي خان پوهه کړه چې الله تعالي دچا محتاجه نهٔ دي، چې داسې ردي مال باندې خوشاله شي، هغه دتعريف لائق دي. يو حديث کې دي چې خلک دبازار نه ارزان مال واخلي اوبيا يې صدقه کوي چې په هغه باندې دا آيت رانازل شو.

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چې: دا آيت دفرض زکآت متعلق رانازل شوی دی، کله به چې خلکو کجوري شوکولي نو بنه مال به ئې يو طرفته کړ اوردي مال به يې بل طرفته، کله به چې زکات اخستونکي خلک ورغلل نو ردي مال به يې ورته پيش کړ، حضرت علي رضي الله عنه دحضوراقدس ﷺ ارشاد نقل کوي چې مساکينو باندې دهغه مال نه مهٔ خوره کوم چې خپله نهٔ خوري په يو حديث کې دي چې غوښه کې بوی پيدا شو. حضرت عائشه رضي الله عنها اراده وکړه چې دا چا ته دالله په نوم باندې ورکړم. حضور ﷺ وفرمايل: آيا دهغه شي صدقه کوي کوم چې خپله نهٔ خوری؟ مطلب داچې کله هم دالله په نوم باندې ورکړه کوي نو بنهٔ مال ورکوه. کهٔ عمده

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مال نه وي نو بيا کمزوري مال وکړه خکه چې نه ورکولو نه بهتره ده چې کمزوري مال ورکړي کنه بنده داخپل وکړي چې کوم مال ورکوي دا الله تعالي نه ورکوي نو خومره ګناهګاره وي ادبي ده چې دکوم پاک ذات مال دی اوجا چې درکړي دی دهغه نه حضور کې کمزوري معلومه پيښ کوي اوخپله خان له پاره عمده اوبهتر مال جمع کوي ددی مثال دهغه خادمه اونوکر دی کوم چې مالک له پاره سوزبدلي دوډۍ اوپوی داره سرکاري کړي اوخان له پاره خورمه اوبرياني پخه کړي خپله غوږ وکړه چې داسې نوکر سره بيا څه کول پکار دي ستا خو ژوند آقا ګانو نه دهر شي خبر نه وي اودي علیم وخبير ذات نه دهر شي خبر وي. بلکې دنږه وخت لپاره نه هم خبردار وي په داسې حالت کې دده مال نه دده له پاره کمزوري شي لټر خومره شيک حرامي ده اوکه بنده داخپل وکړي چې څه خرچ کيږي هغه دخپلې نفعې له پاره دی. ددی په انتهايي سخت وخت کې دي بنده ته ملاويږي نو خومره دکم عقلتوب خبره ده چې بنده د خپل خان له پاره کمزوري اوبوسيده شی جمع کړي اودبل له پاره ښه شی پريږدي

اهل علم باندې خرچ کول زيات بهتر دي:

متقي پرهيزګار اهل علم باندې خرچي کول پکار دي. ددې وجه داده چې متقي بنده به په دې صفه باندې خپله تقوي کې طاعت اواعانت حاصلوي اوداسې شوه چې خرچ کوونکی دده په تقوی کې معين دی اوددې په عبادت کې به شريک وي. اهل علم باندې خرچه وکړئ خکه چې په هغوی باندې خرچ کولو سره دهغوی دعلومو حاصلولو اوخورولو شمولیت کيږي اوعلم په تمام عبادتونو کې اشرف اواعلی عبادت دی اوځومره چې په علمي مشغله کې نيت ښه وي دومره به دا عبادت بهتر ږيږي

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله مشهور محدث اوبزرګ تير شوی دی. هغه به خپله ورکړه د علماو سره مخصوص ساتله چاعرض وکړ کنه په غير عالمو باندې هم تاسو کرم وکړئ نو ځومره ښه به وي. ده وفرمايل چې زه دنبوت ددرجې نه پس دعلم ددرجې برابربله درجه نه وينم

دبدبختي لوی سبب مال دی:

دحضوراکرم ﷺ ارشاد دی چې. دهر اُمت له پاره يوه فتنه وي اوزما داُمت فتنه مال دی

تشریح: دمال دفتنې نه اوددې دزهرونه خپل خان محفوظ ساتل دهر اهم شی دی اوکه دامار دچا سره وي نو دي نه کنه خان له تریاق جوړ کړي شي نو خپل خان له پاره هم مفيد دي اونورو لپاره هم ګنور دي. ګني دازهر به خپل خان هم هلاک کړي اوبل ته به هم نقصان ورسوي دي وجې نه دحضورپاک ﷺ ارشاددی چې دامال سرسبز اوشاداب اوخوږدی کنه دي په حق باندې دشرعي ضابطواوطريقوموافق خرچ کړل شي نو پکار راتلونکی مددګار شی دی اوکوم چې بغير حقه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حاصل شي هغه داسي دی لکه چي بنده ته جوع البقر چي بنده خوري خو خیټه نه مړیږي

اصلي شی نیک عمل اوذکر دی :

حضرت سلیمان علیه السلام یو خل لښکر سره روان و، مرغانو په دوی باندې سیوری کړی و اوجن وانس نبي اوګس طرفته و ؤ. یو عابد باندې تیرېدل هغ عرض وکړ چې الله تعالی ډېر لوی سلطنت تاسو ته درکړي دي اچې جن وانس چرند پرند باندې ستاسو حکومت دی،حضرت سلیمان علیه السلام وفرمایل چې دمسلمانانو په عمل نامه کې یو خل سبحان الله بالحمده سلیمان ه دحکومت نه زیات افضل دي، دي وجي نه چې دا سلطنت به ډېر زر ختم شي اود سبحان الله ثواب به همیشه همیشه له پاره باقي پاتې دي

دحضور اقدس ﷺ ارشاد دی چې دکوم بنده منتهاء مقصد دنیا شي دهغهٔ دالله جل شانهٔ سره هیڅ واسطه نشته اوالله تعالي دی په خلورو شیانو مبتلا کوي یوداسي غم چې کله هم نه ختمیږي،چې هر وخت په دآمدني په فکر کې مبتلا وي. دویم داسي شغل چې دهغه نه یو وخت کې هم فراغت نهٔ وي.دریم داسي فکر چې کله به هم دی مستغني جوړ نهٔ کړي اچې خومره آمدني زیاتیږي دومره به دي خرچ زیات وي اوآمدني به درته کمه معلومیږي.خلورم داسي اوږده اوږده آمیدونه چې کله هم پوره کیږي نه. لمونځ په پابندي سره باجماعته ادا کول سعادتمندي ده اولمونځ پریښودل شقاوت اوبدبختي ده،دالله رب العزت دارشاد مفهوم دادی چې بېشکه کامیابي حاصله کړه هغه سړي چاچي لمونځ په خشوع سره ادا کړ.لمونځ قائملو والا ته یې هدایت یافته هم وویل. لمونځ قائمول دادي چې دآدابو اوشرائطو رعایت ساتلو سره پابندی اوهتمام سره یې ادا کړي.فلاح حاصلولو نه مراد داده چې ددین اودنیا کامیابي اوبهبود حاصل شي.

امام راغب اصفهاني رحمه الله یې چې: ددین فلاح ددې خوبیانو حاصلول دي چې هغو سره دنیاوي زندګي بهتره جوړه شي اوهغه بقاء غناء اوعزت دی اوآخروي فلاح څلور شیان دي

(۱): هغه بقاء ودوام چې هېڅکله یې فنا نه وي. (۲): هغه دولت وغنا چې په هغه کې دفقر وېره نه وي. (۳): هغه عزت چې په هغه کې هیڅ قسمه ذلت نه وي. (۴): هغه علم چې په هغه کې دجهل دخل نهٔ وي.اوکله چې فلاح عام وویل شو نو په دې کې ددین اودنیا دواړو کامیابي راغله.نو دلمونځ او ذکر کول ،زکات ادا کول لغو نه اعراض، دخپلې شرمګاه ډګناه نه حفاظت،دامانت خیال ساتل،دحق ګواهي ورکول دي سره به ددین اودنیا کامیابي حاصلیږي.الله تعالي دي مونږ تولو ته دعمل کولو توفیق راکړي. آمین.

کسی نے اپنے بے پایاں کرم سے — مجھے خود کر دیا روح المعانی
قید سے شیطان کے یا رب چیڑا — اور شرور نفس سے مجھ کو بچا
تمہارا ہوں تمہارا غیر سے مجھ کو کیا مطلب — محبت آپ سے سر کار ہے لیکن ابھی کم ہے
مجھے اپنا بنایئں گے مجھے جلوہ دکھائیں گے — میں اس قابل نہیں لیکن یقین مجھ کو یہ نام ہے

(مولانا محمد احمد پرتاب گڑھی)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جمادی الاولی دمیاشتې پنځمه خطبه

فضائل ومناقب دحضرت خالد بن ولید رضی الله عنه

۲۱ جمادی الاولی دحضرت خالد بن ولید رضی الله عنه دوفات ورځ ده داسلام تاریخ دداسې عظیم انسانانودقربانیو نه ډک دی چاچې په خپلو وینو ددې باغ آبیاري وکړه.خپنو خلکو دشهادت عظیمه مرتبه حاصله کړه اوخپنو دشهادت په تمنا بیشمیره جهادونوکې برخه واخیسته. دې له پاره چې دشهادت دمرګ نه سرفرازه شي په دې کې حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه هم ډ چې ډېر بهادر جرنیل و.لیکن دحضوراقدس ﷺ دخولې مبارکې نه ده ته د سیف من سیوف الله لقب ملاؤ ؤ.الله تعالي دخپل محبوب دخولې لاج وساته اوحضرت خالدبن ولید دډېرې تمنا باوجودهم دکفارو دلاسه شهید نه شو.ځکه چې کفارو ته ددې وینا موقعه ملاؤ نه شي چې دالله توره خو مور ماته کړه،په دې خطبه کې به دحضرت خالدبن ولیدسیف الله بهادرانه اوسرفروشانه کارنامې بیانیږي، دې له پاره چې مور کې هم جذبهٔ جهاد اوجذبهٔ قرباني پیدا شي کوم چې دمسلمان شان دی اوجهاد دمسلمان وقار اونشان دی.مجاهد چې مړ شي نو شهید دی ژوندي چې پاتې شي نو غازي دی په هر حال کې کامیاب دی.یقیناً حضرت خالدبن ولید رضی الله عنه ته به دشهادت مرتبه الله تعالي دقیامت په ورځ ورکوي. بلکې ددې نه هم زیاته ،ځکه چې دهغه نیت اوتمناوه اودمومن په نیت باندې دالله تعالی فیصلې وي.دمومن کامل جان ومال دواړه دالله تعالي عطاکړه ده اودې وجې نه به هغه مسلمان کامیاب وي کوم چې دالله په حکم باندې لبیک ووایي،دمال خرچ کولووخت راشي نو مال خرچ کوي دوخت خرچ کولو حکم راشي نووخت خرچ کوي دملک ووطن پریښودو وخت راشي نو هجرت کوي اودځان قربانولو حکم راشي نو ځان قربانوي،الله تعالي فرمائي چې دمسلمان جان ومال مور دجنت په بدله کې اخیستې دي،فرمایي:

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ○ (پ ۱۱ سورة توبه آیت ۱۱۱)

ترجمه بیشکه الله تعالي دمسلمانانو نه ددوی ځانونه اومالونه ددې خبري په عوض کې اخیستي دي چې دوی ته به جنت ورکوي،هغه خلک دالله په لاره کې جنګیږي چې په هغه کې قتل کوي اوقتل کیږي په دې باندې ریښتیني وعده شویده تورات کې هم اوانجیل کې هم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اوپه قرآن کې هم اوداخبره مسلمه ده چې الله تعالي نه پرته څوک زيات وعده پوره کوونکې نشته،نو تاسو په دې خبله بيعه باندې کومه چې تاسو دالله تعالي سره کړې ده خوشحالي وکړئ اودالويه کاميابي ده

تشريح: محمد بن کعب قرظي(رحکه الله) وايي چې په مکه کې ليلة العقبه کې اوياانصارو دحضور ﷺ په لاس مبارکه باندې بيعت وکړ،په دې وخت کې عبدالله بن راوحه رضي الله عنه ويره عظيمه خبره وکړه چې يا رسول الله ﷺ! څنګه تاسو وايئ هغه رنګ موږ نه دالله اودهغه درسول له پاره عهد واخلئ،جناب رسول الله ﷺ وفرمايل چې په دې خبره باندې بيعت اوعهد وکړئ چې دالله شريک به بل څوک نۀ جوړوئ اوزما مرسته به کوئ جان ومال سره، خلکو عرض وکړ چې حضور ﷺ! ددې صله به موږ ته څۀ ملاويږي؟ويې فرمايل جنت نو جانثارو وويل دادېره ښۀ معامله اوبيع ده، موږ به په دې باندې قائم يو،په دې وخت کې دا آيت رانازل شو اوقيامت پوري فيصله وشوه چې داسې کوونکو ته به جنت ملاويږي،دادالله څومره لوی انعام دی چې جان ومال درکړي هم دې ذات دي اوبيا دې ذات له پاره قربانولوباندې څومره لوی اجر دی،بېشکه هغه رحمان، رحيم، کريم اوجواد ذات دی،دامال وجان اګر چې دالله تعالي ورکړه ده، مګر دا دالله په لاره کې خرچ کولو باندې حيات جاوداني اوسعادت ابدي حاصليږي، داخبره يې دخريدوفروخت په انداز کې بيان کړه دې له پاره چې ايمان والا جان ومال خپل ونه ګڼي، بلکې داخرځ کړي شويدي،حقيقت دادی چې داسودا دېره ارزانه اوګټوره ده:

یه مال وجان کهاں اور حیات جاودانی کهاں
فانی مال کهاں اور اس کا جمال باکمال کهاں
قیمت خود هر دو عالم گفته نرخ بالا کن که ازرانی هنوز

بيا يې وفرمايل: ای مسلمانانو! ښه خوشاله شئ،خوشالي وکړئ،دې وجې نه چې زوال پذير حقيرتاسو ورکړ اولازوال اعلي نعمت موحاصل کړ،ددې نه زياته دفائدې سودا نوره څۀ کيدای شي؟

حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: الله تعالی تاسره اخيستل اوخرڅول وکړل اوددواړو سوداګانو فائده تاته ده.حضرت قتادة رضي الله عنه وفرمايل چې: الله تعالي قيمت ورکړ اوډېر ښه قيمت يې ورکړ. حضرت حسن بصري رحمه الله وفرمايل: واورئ دګټور تجارت پيغام چې په هغه الله هر مومن سره اخيستل اوخرڅول وکړل اوبنده ته يې فائده ورسوله.

داهم دحضرت حسن بصري رحمه الله قول دی چې: الله تعالی تا ته دنيا درکړه اوس ته لږه دنيا ورکړه اوجنت واخله حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه ته دا سپېڅلی ښۀ پوره کړه.

کفایت المستفتی کتاب البیوع
https://t.me/kafayat2395

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایی چې موږ یوځل د حضور ﷺ سره سفر کې یوځای پراو واچاوه
د حضور ﷺ په خیمه کې آرام فرماؤ (اوزه بهر وم) خلک به د حضور ﷺ د خیمې مخې ته
ځمکه ډیل راتیریدل کوم بنده چې به هم تیر شو نو حضور ﷺ به یو پوښتنه کوله چې داکس څوک
دی؟ اومابه عرض کولو چې فلانی دی (نو دهغه نوم به یې چې واوریده،نو فرمایل به یې چې
دا به بنده دی،داسلسله هم دغه رنګ جاري وه، کله چې خالد بن ولید رضی الله عنه خیمې مخې ته
ورسیږ نو حضوراکرم ﷺ پوښتنه وکړه چې دا څوک دی؟ ماعرض وکړ چې خالد بن ولید
رضی الله عنه دی،حضور ﷺ وفرمایل: دالله ښه بنده دی،دالله تعالی دتورو نه یوه توره ده (ترمذي
جوزه: ظاهره ده چې دا خبره نبي کریم (ﷺ)دوحي په ذریعه وکړه؛ نوحضرت خالدبن ولید
رضی الله عنه څومره نیک بخت انسان دی چې زبان نبوت نه ورته ډښه کیدو سرتیفیکیټ ملاؤ شو
حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه دشروع نه بهادرجنګیالی و، کله چې مسلمان شوی نه و؛
نومسلمانانوته په اُحد جنګ کې سخت نقصان ورکوونکی دی.داُحد په جنګ کې دی د
کافرانو اومشرکینو دمیمنه برخې افسر ؤ،ده دخپلو سلوسوارو ملګرو سره یو میل سفروکړ
وغږله شا راوتو اومسلمانانو باندې یې ناڅاپه حمله وکړه اودجنګ نقشه یې بدله کړه .اول
مسلمانانوفتح اوس دظاهري شکست صورت اختیار کړی ، مګر وروسته بیا دا عظیم
جرنیل خپله مسلمان شو

دحضرت خالد بن ولید رضی الله عنه داسلام منل:

دحدیبیه په سفر کې مقام غضبان کې دشپې ماسخوتن نه پس دحضراقدس ﷺ تلاوت قرآن
یې چې واوریده نو خالدبن ولید زړۀ نرم شو، په دغه وخت کې یې په زړۀ داسلام محبت راسخ
شو.حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه چې اوسه پورې یې اسلام نه و راوړی خپله اراده یې
داسلام ظاهره کړه؛ نوحضرت خالد بن ولید رضی الله عنه فوراً داسلام راوړلو آمادګي ظاهره کړه،
دې نه پس دواړه دوستان خپل دریم دوست عثمان بن طلحه رضی الله عنه ته ورغلل اودخپلې ارادې
نه یې هغه خبر کړ. هغه هم فوراً تیارشو، دقریشو دادرې واړه سرداران دمکې مکرمې نه
مدینې منورې ته دحضور ﷺ په خدمت اقدس کې داسلام راوړلو له پاره روان شول
اومسلمانان شو اوپه خپله تېره شوې زندګي ډېر زیات پریشانه وو،حضور ﷺ وفرمایل:
اسلام راوړلو سره سابقه ټول ګناهونه اوغلطي معاف کیږي؛نو دې واړو ته په دې خبره ډېره
زیاته خوشالي ملاؤ شوه

آستانِ حق پہ جب اپنا جبین گھستا تھا — جےومتا تھا نیز اقبال پیشانی تیری (اقبال)

پھر پیش نظر گنبد خضرا ھے حرم ھے — پھر نام خدا روضۂ محبت میں قدم ھیں
پھر شکر خدا سامنے محراب نبی ھے — پھر سر ھے مرا اور تیرا نقش قدم ھے

(حضرت مفتی محمد شفیع ؒ)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ذ مرتدینو خلاف جهاد:

دحضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ په دور کې طلیحه اسدي مدعي نبوت خلاف چې کوې اسلامي لښکرې روانیې شوې، حضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ ددې سپه سالار وټاکل شو. دطلیحه لښکرو ته یې شکست ورکړ. دغه رنګ دروغژنه نبیه سجاح لښکر ته هم خالد بن ولید شکست ورکړ. دې نه وروسته مسیلمه کذاب مدعي نبوت خلاف هم حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ حضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ کماندر جوړ کړ اوویې لیږه. دمسیلمه کذاب دفوجیانوتعداد ۴۰ زره وؤ اودحضرت خالد رضی اللہ عنہ بن ولید لښکر اسلام کې تعداد۱۳ زره ؤ. مسیلمه کذاب ناخاپه حمله وکړه مسلمانانو ډېر په صبر واستقلال سره داحمله پسې کړه اودمسیلمه کذاب په فوجیانو یې داوډې زمري پشان حمله وکړه. نو دمسیلمه کذاب فوجیان وویریدل او وتښتیدل. دحضرت حمزه رضی اللہ عنہ قاتل وحشي رضی اللہ عنہ چې مسلمان شوی ؤ اوهغه هم په دې لښکر اسلام کې شامل و هغۀ خپله حربه (مخصوص نیزه) باندې مسیلمه وواهه چې دمسیلمه ډبل زغره وه هغه یې وشلوله اونیزه دهغۀ د خیتې نه بل خوا ووته. په دې جنګ کې ددشمنانو اویا زره فوجیان هلاک شول (څکه چې ورروسته نور هم په لښکر کفار کې شامل شوي وؤ) اوزر مسلمانان شهیدان شول. په مسلمانانوکې دزغمیانوتعداد۱۲ هرزیات وؤپه شهیدانو کې حافظ قرآن ډېر زیات وؤ. ۳۶۰ انصار او ۳۶۰ تابعین په دې جنګ کې شهیدان شول. حضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ دبنوحنیفه قبیلې مسیلمه کذاب سره په خلورمه برخه اموال واملاک باندې صلح وکړه اوپرې یې بنول. دمعاهدې نه لږه وخت پس یو صحابي مسیلمه بن وقش رضی اللہ عنہ دحضرت ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ یوخط راوړ چې په هغه کې یې لیکلي ؤ چې که تا په بنوحنیفه باندې غلبه بیامونده نوددوی بالغ نوجوانان قتل کړه اوددوی زنانه اوماشومان قیدیان کړه لیکن دوی حکم رارسیدو نه مخکې صلح نامه لیکل شوې وه. دې وجې نه ددې حکم تعمیل ونه شومسلمانانو سره دوعدې اوعهدو وفا یو مثال دی، حضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ دبنو حنیفه یو وفد دحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ په خدمت کې روان کړ اوورسره یې یو خط هم ولیږه چې په هغه کې دفتح اسلام اومسلمانانوحالات اودبنو حنیفه دوباره اسلام کې داخلیدوحالات قلمبند ؤ. حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ ددې وفد ډېر زیات اکرام وکړ اومحبت سره یې دوی رخصت کړل.

جنګ ذات السلاسل:

جنګ ذات السلاسل کې دحضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ مقابله دیو ایراني ګورنر هرمز سره وه. دهرمز دبهادري چرچه په تمام عرب عراق وهندوستان باندې خوره وه، څکه چې (۱۰۰)

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جنګي بيړه واخيسته اودهند وستان دسرحداتو پوري به يې حملې کولې، حضرت خالد رضي الله عنه
اول داتمام حجت له پاره هرمز ته داسلام دعوت ورکړ، هرمز دا اطلاع دايران دربار ته ورکړه
اوخپله دمسلمانانو خلاف جنګ ته راوووت ،دمسلمانانومشري حضرت خالد رضي الله عنه کوله،
حضرت خالد رضي الله عنه خپل فوج په دريو برخو تقسيم کړ، يوه برخه يې عدي بن حاتم رضي الله عنه
په سپارله، د دويمې برخې مشري يې قعقاع رضي الله عنه بن عمروته وسپارله اوددريمې برخې
مشري يې خپل لاس کې واخيسته، دري واړو سپه سالارانو په ښي طرف باندې ديوې ورخې
مسافت وکړ اوحفير مقام ته ورسيدل اولښکرايران ته راورسيدل اودري واړه کمانډران په
خپلو باندې ملاؤ شواودايراني فوج خلاف مسلمانانو خيمې ووهلې، دمسلمانانو له طرفه
حضرت خالد رضي الله عنه خپله ميدان ته راووت اوهرمز ته يې مقابلې له پاره آواز وکړ. هرمز
مقابلې ته راووت دواړه اسونو نه کوز شو او پياده شو، حضرت خالد رضي الله عنه وار اوکړ. هرمز
په طرف شو اووار خالي لاړ دې نه پس هرمز وار وکړ خالد رضي الله عنه بن وليد په طرف شو
اوهرمز ليچې يې ونيولې اوتوره يې تړې واخيسته، هرمز خالد رضي الله عنه پورې ووينښت
وکښتې شروع شوه حضرت خالد رضي الله عنه بن وليد هرمز دشا نه ونيواودومره زور سره يې
خملې ته وويشت چې دوباره دپاسيدو حرکت يې ونه کړو، په سينه ورته کينا ست سر يې تړې
قلم کړ او وې غورځاو، ايرانيانوچې خپل سردار داسې ولېده نو په مسلمانانو يې ناخاپه
حمله وکړه، دې طرفنه حضرت قعقاع رضي الله عنه ميدان ته راغې اودګهسان جنګ شروع شو په
لړوخت کې ايرانيانو فوجيان وتښتيدل اوډېر مړه هم شو، هرمز په لباس اواسلحه باندې
حضرت خالد رضي الله عنه قبضه وکړه خالي دهغۀ دتاج قيمت يولک ديناره ؤ، په دې معرکه کې
ايرانيانو دفوج يوې برخې خپل خانونه په زنځيرونوباندې ترلې وؤ چې ميدان نه ونه تښتي
اودعربو په بهادري سره مقابله وکړې، مګر آخر کار مجبوري نه دهغوی زنځيرونه مات کړي
شو اوميدان نه وتښتيدل. ددې جنګ نوم دې وجې نه ذات السلاسل کيښودل شو، په دې
جنګ کې ايرانيانو ديرش زره لاشونه پريښودل او وتښتيدل، ډېر دتښتيدو په وخت کې نهر
کې ډبريوتل اومړۀ شول. ددې جنګ نه پس ددې صوبې خلک بغير دڅۀ اذيت وتکليف نه په
جزيه ورکولو باندې آماده شو، هلته اسلامي اهل کار مقرر شول، ايراني عوامو چې کله
اسلامي رعايا خان جوړکړو نو داسې يې محسوسه کړه چې لکه دجهنم نه راووتل اوجنت ته
راداخل شو. خکه چې غير مسلمه حکمرانانو به په دوی باندې ظلم کاؤ.

جنګ ليس:

مقام ليس ايران کې يو ځل بيا حالات خراب شواوپه دې عيسايي عرب هم دايرانيانوحمايت
نه راغلل اوپه جنګ کې شريک شول، دکفارو ډېر لوی لشکر جرار وؤ. حضرت خالد رضي الله عنه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بن ولید دمخکې نه بوازې ځان ته پیش قدمي کړې وه اومقابل کس یې طلب کړ، نو دکفارو دطرفه مقابلې ته مالک بن قیس راووت دسترګو په رپ کې خالد رضی اللہ عنہ قتل کړ، دې نه پس عام جنګ شروع شو اواویا زره کفار قتل شول

فتح حیره:

جنګ لیس نه پس خالد رضی اللہ عنہ دایران مشهور بنار حیره محاصره کړه، لیکن هلته عبدالمسیح دوه لکه خراج ادا کول قبول کړل. دې وجې نه جنګ ونه شو. دغه رنګ دفرات دریائ دجله پورې تمام ایراني علاقه دخالد رضی اللہ عنہ په لاسوباندې فتح شوه.

دحضرت خالد رضی اللہ عنہ پیغام :

دحیره نه خالد رضی اللہ عنہ نورو ایراني سردارانوته داسې پیغام ورولیږه: (بحوالهٔ تاریخ اسلام شاه نجیب آبادي)

امابعد: ټول تعریفونه الله لره دي، کوم چې ستاسو په نظام کې خلل واچوؤ اوستاسو سازش یې سست کړ. کهٔ موږ په دې ملک باندې حمله نه وای کړې نوستاسو له پاره بده وه اوس بهتره داده چې تاسو زموږ فرمانبرداري وکړئ (اسلام قبول کړئ یا جزیه باندې صلح وکړئ) موږ به ستاسو علاقې پریږدو اویل خوا به لاړشوکهٔ تاسو زموږ تابعدار جوړ نه شوئ نوبیابه ستاسو داسې خلکو سره واسطه راشي چې مرګ به داسې دوست ساتي لکه څنګه چې تاسو ژوند محبوب ساتئ. دغه منشور عام کوم چې مودعراق سردارانو ته لیږلی دی، دغه دا مضمون و ټول تعریفونه الله لره دي کوم چې ستاسو شیخي تس نس کړه (غرور یې درته په خاورو سره خوري کړ) اوستاسواتفاق یې مات کړ اوستاسوشان وشوکت یې ختم کړو، تاسو اسلام قبول کړئ دي له پاره چې سلامت پاتې شئ، یا زموږ په حفاظت کې راشئ اوڅمیان جوړ شئ اوجزیه اداکوئ. ګني ما داسې قوم په تاسو باندې راوستی دی چې مرګ داسې محبوب ساتي لکه تاسو چې شراب محبوب ساتئ

دانبار فتح یاجنګ ذات العیون:

انبار کې هم ایراني فوج سره زبردست جنګ وشو. دحضرت خالد رضی اللہ عنہ اواسلامي لښکر دمقابلې له پاره شیرزاد ایراني سردار دانبار دقلعې مخې ته دخاورو بند هم لګولی ؤ، خالد رضی اللہ عنہ چې کله انبار محاصره کړ، نومحصورینو ناڅاپه دغشو باران وکړ داسلامي لښکر په زرګونو کسانو دسترګې ټې په غشو باندې زخمي اوړندې کړې، لیکن لښکر اسلام اودهغوی شیردل کماندر حوصله کمزورې نهٔ شوه اودغشو باران ددوی پیش قدمي ونهٔ دروله. آخر کار دنبار قلعې پورې ورسیدل اودوینو دریاب یې وبیوو ایرانیانو لویه مقابله

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وکړه بالآخر شکست یې وخوړ، دعین التمر حاکم مهران بن بهرام باندې د حضرت خالد رضی الله عنه دومره هیبت راخور شو چې هغه قلعه پریښوده او وتښتیده

بالالي عراق:

د حضرت خالد رضی الله عنه په سپه سالاري د مسلمانانو فتوحاتو ذکر هرقل روم ته هم وشو ژ. جنګ فراض د عراق بالائي علاقه دامقام د دریائے فرات په غاړه دی، دلته د دریاب په بله غاړه د روم فوج ډ، رومي افواجو پیغام ورولیږه چې یا تاسو دریائے فرات باندې راشئ یا موږ به درنلو موقعه راکړئ دي له پاره چې موږ اوتاسوکې فیصله کن جنګ وشي. حضرت خالد رضی الله عنه جواب ورولیږه چې تاسو دي طرفته راشئ چنانچې رومي لښکر دریاب عبور کړ اوداسلامي لښکر مقابل ودریدل، اسلامي افواج مسلسل جنګونو دوجي انتهایي ستړي وژ. رومي افواج بالکل تازه وژ، د تعداد په اعتبار سره هم رومیان لس چنده زیات وژ جنګ شروع شو میدان کارزار گرم ژ، بالآخر رومیانو شکست وخوړ هغوی یولک لاشونه پریښودل اود مسلمانانو نه وتښتیدل. اندازه ولګوئ چې یو لک لاشونه میدان کې پریږدي نو ټول تعداد به څومره وي مګر مسلمانان دالله په توکل باندې راغلي وژ کله چې دکفر فوجونو دومره السلحه باندې یقین کړی ژ اوراغلي وژ په دي کمه موده کې حضرت خالد رضی الله عنه په لسګونو جنګونه وکړل اودخپل تعداد نه څو چنده زیات فوجي تعداد سره یې مقابلې وشوې. مګر دوی ته فتح نصیب شوه. په یومقام کې هم دوی ته شکست نه دی شوی. دایران په مغرور دښمن قوم باندې د حضرت خالد رضی الله عنه قوت بازو زور اودبدبه کیناسته. په دې لړه موده کې دوی چې کوم فتوحات وکړل دهغو مثال په تاریخ کې په مشکل ملاویږي په دې کې چې چیرته د خالد رضی الله عنه شجاعت، همت، حوصله اود جانثار اسلامي فوج بهادري اوقرباني معلومیږي هلته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه انتخاب تربیت اوهدایاتو ته به هم سلام کول وي خکه چې د خالد رضی الله عنه کارنامو او فتوحاتو د ننه کوم روح دی هغه صدیقي رضی الله عنه دی

دیرموک جنګ:

ایران باندې فتح حاصلولو نه پس حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه د لښکر اسلام رخ شام و روم طرفته کړ. د اسلامي فوځ یې ځلور برخې جوړې کړې اوځلور کمانډران یې جور کړل (۱) حضرت عکرمه بن ابي جهل (۲) حضرت عمروبن العاص (۳) یزید بن ابي سفیان (۴) حضرت ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنهم په دې ځلورو باندې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه حضرت خالد رضی الله عنه سپه سالار اوکمانډر انچیف جور کړ، ځکه دوی په نظر کې دده نه بهتر اوتجربه کار سپه سالار نه و. یوه وجه خو داوه چې حضرت خالد رضی الله عنه ایراني فوجونو ته مسلسل شکستونه ورکړل اود ده ایراني علاقه یې قبضه کړه اود حضرت خالد رضی الله عنه لویه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کارنامه دموته په جنګ کې بهترین قیادت اوبهادري وه اوپه دې وخت کې حضوراکرم ﷺ
دسیف الله لقب ورکړی ؤ

دحضرت خالد رضی اللہ عنہ په سرکردګي کې دلته دومره لکونو فوجیانو سره دمسلمانانو مقابله وه دمسلمانانو تعداد ډلویښت زرو نه شپږ ځلویښتو پورې ؤ.بالآخر جنګ شروع شو دمسلمانانوپه زړه کې دتعداد کم والي هیڅ فکر نۀ وؤ.ددوی قائد اوسپه سالار هم بهادر و. اودامیرالمؤمنین حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ په څۀ وایې هغوی یو نوجوان جنګوړ په دې جنګ کې مسلمانو میرمنۍ هم برخه واخیسته،ابوسفیان هم رجز ویل اوحضرت عکرمه رضی اللہ عنہ په اوچت آواز باندې اعلان وکو چې څوک زما په لاس باندې دمرګ بیعت کوي په دې وخت حضرت ضرارابن ازور اونورو ځلور سوؤ کسانو بیعت وکړ چې یا خو به موږ شهیدان شو اویا به دفاتحانو په صفت دمیدان نه راواپس شو،دې نه پس دا دسته په دوښمن وړې زمري پشان حمله آوره شوه.حضرت مقداد رضی اللہ عنہ په اوچت آواز باندې سورت انفال تلاوت کاؤ اوغازیان اسلام کې یې دشهادت جذبه راوچتوله،حضرت خالد رضی اللہ عنہ ، ابوعبیده رضی اللہ عنہ بن الجراح.شرحبیل رضی اللہ عنہ بن حسنه،یزید رضی اللہ عنہ بن ابي سفیان، عکرمه رضی اللہ عنہ بن ابي جهل.قعقاع رضی اللہ عنہ بن عمرو هغه کارنامې وښودلې چې آسمان به تر ته ورځې پورې نۀ وې لیدلې،دسهار نه واخله تر مابنام پورې توره، نیزه، غشي اوسنان پوره په تیزي اوګرمي سره وچلیدل،دماسپښین اومازیګر لمونځ غازیان اسلام په میدان جنګ کې په اشاره سره وکړ.ورځ ختمه شوه لیکن جنګ ختم نۀ شولهذا رومیان دټولې ورځې دتکلیف دوجي افسرده اوشرمنده و ؤ. دې وجي نه دمسلمانانو مخه یې نۀ شوه کولې اوشاباندې تلل اودامن کوه ته ورسیدل لیکن مسلمانان وریسې مخکې تلل حتي چې شاته ځۀ په دریاب کې ډوب شو اوڅۀ خندق ته پریوتل اومرۀ شو یو لکه دیرش زره رومیان مرۀ شول اوباقي وتښتیدل.په دې تښتیدونکو کسانو کې سوارۀ زیات وؤ.تقریباً پیاده کسان ټول مرۀ شول جنګ ټوله شپه او ورځ جاري ؤ.په بله ورځ دمسلمانانو دفتح په صورت کې ختم شو اورومي فوجیانو نه میدان مکمل خالي په نظر راغی،دروميانو کمانډر انچیف تذارق دهرقل وروره مرشو اونورهم ډېر سرداران مرۀ شول،دمسلمانانو دیرش زره نوجوانانوته شهادت نصیب شو.کله چې یرموک کې یې شکست وخوړ عیسائي فوجیان حمص کې هرقل شاه روم ته ورسیدل نوهغه چې دخپلو خو لکو زره پوش فوج شکست دیو موتي خلکومقابل واوریده نوهغه بدحواسه شواوفوراً حمص نه بل طرفته لاړ،حضرت خالد رضی اللہ عنہ دسلو نه زیات جنګونه وکړل اوپه یو کې ئې هم شکست ونۀ خوړو،حضرت خالد رضی اللہ عنہ صاحب الرائې اصحابو کې ؤ.مال دار خو دومره وؤ چې یو کال به ټول قریش راجمع شو اودخانه کعبې غلاف به ئې جوړوؤ اویو کال به حضرت خالد رضی اللہ عنہ بن ولید په یوازې تن غلاف کعبه جوړاؤ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وخروج نه جنګجو بهادر اوشهسوار ډ اوفن ګڼلے کې هم ماهر ډ.دحضرت عمرین خطاب رضي الله عنه همخولی ډ.خالد وايي چې دصلح حدیبیه په موقعه باندې ما کوشش وکړ چې حضور ﷺ کله لمونځ کوي نو نقصان ورته ورسوم لیکن پرې وس ونه رسیدونو ما اندازه اوکړه چې دحضور ﷺ محافظ خپله الله دی اوزۀ به دحضور ﷺ هیڅ هم ونه کړای شے دغه یوه زړۀ کې داسلام صداقت ظاهر شو دصلح حدیبیه نه پس دخالد بن ولید زړۀ ډیر اسلام طرفته مائل شواودخالد رضي الله عنه دزړه بیاتیا والهام په ذریعه باندې دخالد رضي الله عنه اسلام ته رغبت ښکاره شو حضور ﷺ دده دزړه نه وفرمایل چې خالد په زړه باندې اسلام اثر کړی دی. مګر اوسه پورې هغه ظاهر کړی نه دی.داپیغام دهغوی دروروخالد ته ورساؤ آخر کار خالد رضي الله عنه .عمروبن العاص اوعثمان بن طلحه رضي الله عنهم دریواړو مدیني طرفته رُخ وکړ دي له پاره چې اسلام راوړونې دلته نبي کریم ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وفرمایل چې دمکې جګر ګوشي راروان دي صحابه کرام رضي الله عنهم ډیر په ډاډ وو چې وګوري چې داڅوک دي.حضرت خالد رضي الله عنه بن ولید اودهغۀ دوستان مدینې ته راورسیدل نودحضور ﷺ په لاس مبارک یې ایمان راوړ اوکلمه یې وویله.حضور ﷺ ډیر دمخکینې کوتاهو دمعاف کیدو زیږي ورکړی اودوی یې حده خوشاله شول

اوداډکفر طرفته جنګیدونکي جانبازاوس داسلام خادمان جوړ شواوده مسلمانانو دخوفه یې دخپلې بهادري کمالات وښودل.دحضرت خالد رضي الله عنه دشهادت تمنا وه مګر په خپله بستره ورته مرګ راغی. فرمایل به یې چې: ما دسلو نه زیات جنګونو کې برخه واخیسته.په هر جنګ کې مي خواهش داؤ چې شهید شمه اوپه ډهرو مشکل جنګونو کې مي خان سخت نه سخت ځایونو کې واچاؤ مګر شهادت شاید زما مقدر نۀ ؤ، زما دوجود داسې یوه برخه نشته چې هلته دتوپ، نیزې یا غشي زخم نۀ وي لګیدلی.حضرت عمر رضي الله عنه دده په مرګ باندې وویل چې خالد رضي الله عنه مرګ سره مسلمانانوته غټ نقصان ورسیده.دحضرت خالد رضي الله عنه چې کله جنازه اوچته شوه نو عمرفاروق رضي الله عنه پشان شخصیت هم ډیر حضرت خالد رضي الله عنه خوږه مخلص و ددې اندازه دې نه ولګوئ چې همیشه به امیر الجیش وؤ مګر کله چې امیر المؤمنین عمر فاروق رضي الله عنه په دور خلافت کې دسپه سالارئ نه معزول شو نو بیا به هم دیو عام سپاهي په طور باندې ښۀ په بهادري سره جنګیده.حضرت عمرفاروق رضي الله عنه هم ډهر دور اندیشه شخصیت ودهغوی دا مقصد ؤ چې هسې نۀ خلق دا وګڼي چې داسلام فتوحات دیو شخصیت په بناء دي ځکه یې معزول کړ داتول فتوحات یوازې اویوازې دالله په مدد اونصرت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سره دي ګڼي نن هم داسې کم ظرفه خلق شته چې اکثر داوايي چې په هغه زمانه کې داسلام فتوحات ځکه زيات وو چې هغوی سره بهترين کمانډران اوجرنيلان وو، ورسره خالد بن ولید رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ داهم ښکاره کړه چې ديو عام سپاهي په حيثيت باندې اوجنګيدو ددې له پاره چې دومره جنګيدل دالله درضا اوخوشنوديي له پاره وي نه دنامونمود له پاره اونه دشهرت له پاره او ورسره دايې هم وښودله چې مسلمان دخپل امير فرمانبرداري څنګه کوي حضرت عمرفاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حضرت خالدبن وليد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يکدم دسپه سالارييې نه نه و لېرې کړې، بلکې آهسته آهسته دهغوی په خوشالي اورضا يې لېرې کړ.

دحضرت ذوالنون مصري رَحِمَہُ اللّٰہُ نه سوال وشو چې ديو کس باره کې به څنګه معلومه شي چې دا دالله تعالی په نيکانو اوبرګزيده کسانو کې دی، ده رَحِمَہُ اللّٰہُ وفرمايل څلورو خبرو سره:

(۱): دراحت وارام پرواه ونه کړي.

(۲): لږ ډېر چې ورسره څه هم وي ورکوي (يعنې کامل متوکل وي).

(۳): دمرتبې تېښتوالی به قبلوي (يعنې تکبر نه کوي)

(۴): تعريف اومذمت ده له پاره يو شان وي.

کاش! نن هم دحضرت خالدبن وليد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په څېر اتباع کوونکي جرنيلان په مسلمانانوکې وای اودمسلمانانوختم شوی عظمت واپس راولي داسې جرنيل چې مخلص وي اوخيرخواه وي بيا بيت المقدس ازاد شي، بيا ديهودو نصارا روس اوهنود دغلامي نه ازادي وي، اله العلمين حب صحابه و اتباع صحابه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ راته نصيب کړي. آمين.

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دجمادي ثاني دمياشتي اوله خطبه

اخلاص اوعبادت

دې خطبې موضوع يا عنوان اخلاص اوعبادت دی. له دې وجې چې په دې جمادي ثاني په خلورم تاریخ دیوقول مطابق حضرت امام شافعي رحمه الله وفات شوی. له دې پرته په ۹ جمادي ثاني دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه وفات شوی، په ۱۱ جمادي ثاني دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه وفات شوی، په ۱۴ جمادي ثاني دحضرت امام غزالي رحمه الله وفات شوی په ۲۱جمادي ثاني باندې اول خليفه سيدنا ابوبکرصديق رضي الله عنه وفات شوی اودحضرت عمرفاروق اعظم دخلافت ابتداء وشوه. په ۲۹جمادي ثاني حضرت امام قرطبي رحمه الله وفات شوی. ټاسو په دې مياشت کې په دې موضوګانو باندې بيان کولی شی. په هرحال په دې مياشت کې دټولو نه اول امام شافعي رحمه الله چې پوره نوم يې محمد بن ادريس و دده انتقال وشو. امام شافعي رحمه الله يو لوی محدث اوفقيه و اوداټول داخلاص اورياض اوعبادت الهي برکت و. له دې وجې ددې بيان عنوان مو اخلاص اوعبادت کيښودو. اخلاص اواطاعت خداونديې باندې الله تعالی دواړه جهانونو کې کاميابي ورکوي، ايمان نه وروسته عبادت کې ټولو نه اول داخلاص درجه ده ځومره چې اخلاص وي اوبيا عبادت وي هغومره به انسان مراتب روحاني اوايماني کې ترقي کوي. عبادت کې داخلاص متعلق ارشاد رباني دی:

وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ. (ب ۳۰ سورة بينه آيت ۵)

ترجمه حالانکې دې خلکو ته په مخکينو کتابونو کې هم دا حکم و چې دالله تعالی داسې عبادت کوی عبادت خاص دالله تعالی له پاره کوی (اديان باطله اوشرکيه) نه خان وساتی اولمانځه پابندي کوی. زکات ورکوی اوداطريقه ده (ددې سهي مضامينو (مذکوره) ټولدل شوی. يعني دالله تعالی عبادت کوی چې په دې کې دشرک اثر نه وي، پوره اخلاص سره عبادت وي. دريا کاريي اونوم ټبنوي ګرد هم نه وي، حنفاء يعني يوطرف ته شی ديوې باطلې اوغلطې طريقې لوري ته ميلان نه وي. چې دهغه اصول په جهل اوخيالات فاسده باندې مبني وي. حنيف دحضرت ابراهيم عليه السلام لقب هم و، ځکه چې ابراهيم عليه السلام رئيس الموحدين هم و. دټولو خداپرسته فرقو امام و، يهودو اونصارا ټول دملت ابراهيمي دعوه کوي، اولني مذاهبو کې هم لمونځ اوزکات و؛ نو ويې فرمايل: اوس دحضور عليه السلام اتباع کې لمونځ اوزکات ولې نه کوی دين قيم دادی له دې نه اختلاف کول تفرقه بازي ده اوادين به انشاء الله يوه ورځ په پوره دنيا باندې خوريږی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت محمود بن لبید رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته ستاسو باره کې دنورلو نه زیاته خطره دشرک اصغر ده. صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن عرض وکړو یارسول الله ﷺ شرک اصغرڅه دي. وېې فرمایل ریا. (احمد بروایت فقیه ابو اللیث رَحِمَہُ اللّٰہُ)

عمل اوعبادت کې اخلاص:

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ډېر روژه دار داسې دي چې هغوی ته پرته دولګې تندي نه پرته هیڅ نه ملاویږي اوډېر شب بیدار داسې دي چې هغوی ته دستړي والي اوپاسیدو نه پرته هیڅ نه ملاویږي.

دیو بزرګ اودانا قول دی چې دریاکاربي اوشهرت په غرض دعمل کوونکي مثال داسې دی لکه چې دچانکړو نه ډکه تیلې بازار ته یوسي خلک دا خیال کوي چې دا سړی خو ډېر مال دبازار نه اخلي، مګر حقیقت کې ده سره دوزن وړلو نه پرته هیڅ نشته.

دحضرت امام شافعي رَحِمَہُ اللّٰہُ ډېرعبادت:

دبزرګان دین حالات له دي وجې لیکل کیږي چې مونږ کې هم دعمل کولوجذبه پیدا شي، حضرت امام شافعي رَحِمَہُ اللّٰہُ شپه په دري برخو کې تقسیم کړې وه، په یوه برخه کې علمي مشغله تدریس اوداسې نور..... به وو، په دویمه برخه کې عبادت لمونځ اوداسې نور..... له پاره خاص وه اوپه دریمه برخه کې به یې ارام کاو.

زمونږ بزرګان مخلص اوعبادت ګذار وو، له دي وجې ددوی وختونو کې هم برکت وو چې په دې مختصره زندګي کې هغوی دومره وسیع دیني کار وکړ چې یو لوی جماعت هم ونه کړي، په روایت دحضرت ربیع رَحِمَہُ اللّٰہُ حضرت امام شافعي رَحِمَہُ اللّٰہُ به په رمضان المبارک کې اوه ختمه کول اوهغه هم په لمانځه کې.

حضرت حسین ترابي رَحِمَہُ اللّٰہُ وایي چې: ځو شپې مونږ امام شافعي رَحِمَہُ اللّٰہُ سره تیرې کړې هغه به دشپې یوه برخه کې لمونځ کاو، کله به یې پنځوس ایتونه په یو رکعت کې ویل اوکله سل ایتونه په یو رکعت کې اوایت رحمت ته به چې راورسید؛ نو خپل خان اوټولو مسلمانانو له پاره به یې دعاګانې غوښتې اوکله چې به یې ایات عذاب ویلې؛ نودمغفرت اوخلاصې دعاګانې به یې ویلې.

حضرت عبدالله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمایي چې: کوم بنده قرآن کریم تلاوت کوي داسې ده چې لکه نبوت خپلې مخې ته نیسي، مګر په ده باندې وحي نه رانازلیږي. (یعنې هغه نبي نه شي جوړیدای، اوچا چې قرآن ولوست اوبیا یې یو نعمت دې نه زیات دچا سره وګانه؛ نوداسې ده چې ده یې قدري اوتحقیر وکړ دهغه شي کوم چې الله سره عظمت والا و اوکوم شی چې الله تعالی سره یې قدره و هغه یې بنه وګانه. قرآن والاوو ته پاره پکار دي چې جاهل خلکو سره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

واحي سلوک نه کوي اواهل غوسه سره دغوسې سلوک نه کوي، بلکې دعفو اودرګذر والا معامله وکړي

حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ فرمايي چې: حامل قرآن ته پکار دي چې کله خلک وځېږي اوده شي: نو دی دي خپل قدر وپېژني (يعني دشپې دي پورته کيږي اوعبادت دي کوي، عامو ورځو کې چې خلک روژې نه ساتي دی دي روژې نيسي، خلک چې خوشالي مناوهي: نو دی دي دفکر اوغم احساس قائموي (يعني دخداى اوداخرت ويره دي کوي، خلک چې مکراوفريب کوي؛ نو دی دي اطاعت اوفرمانبرداري اختياروي، دحامل قرآن لايقي داده چې هغه دي دالله له ويرې ژړيدونکی وي داخرت غم والا دي وي تحمل اوسکون والا وي. بردباره اونرم خويه وي دامناسبه نه ده چې هغه سنګ دله غافله اوتندخيو اوچغو والا وي (تنبيه الغافلين)

داخبره نقل ده چې حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دلسوکلونو له عمره کله هم په مړه خيټه ډوډی نه ده خوړلې. خکه چې غذا وجود درنوي. زړه سختوي، ديني بصيرت ختموي. خوب زياتوي اوالله تعالى په عبادت کې بنديز پيدا کوي، غور وکړي چې په دکه خيټه کې څومره نقصانات دي اوبدر ضرورت خوړلو کې څومره فائدې دي. مونږ کې اکثر خلکو خوراک خپاک دژوند مقصد ګرځولی دی، حالانکې داشيان دضرورت دي دژوند دمقصد نه دي د ژوند مقصد اطاعت خداوندي اوداخرت تياری ده.

حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ کله هم قسم نه دی خوړلی، نه دروغژن نه ريښتيني، يعني دالله نوم دډيلې پاره نه دي چې قسمونه پرې وخوړل شي، لکه څنګه چې ځينې خلک دقسمونوخوړلو خپل مزاج جوړ کړی دی، په کاروبار کې اکثر ددروغو قسمونه خوړل کيږي.

دحضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ احتياط:

يو ځل يو کس دحضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه دمسئلې پوښتنه وکړه، حضرت رَحِمَهُ اللهُ لږه خاموشي اختياره کړه. هغه کس وويل: تاسو جواب ولې نه راکوی امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وفرمايل چې: ما سوچ کاوو چې بهترې په جواب ورکولو کې ده که په خاموشي کې يعني داسوچ يې کاوو چې بې مقصده خبره مې له خولې نه ونه وځي، خکه چې فضول وينا هم دانسان له پاره وبال دی.

حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وفرمايل چې: يو بزرګ بل بزرګ ته خط وليکله چې کله تا ته علم ملاو شو: نو دا دګناهونو په په تيارو باندې مه توروه، ګني دپل صراط په تيريدو کې به حيرت زده کړي اواهل علم (باعمل) به دعلم دنور نه ورتير شي.

حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې: دکوم بنده په زړه کې دنيا وي اوهغه دالله دمحبت دعوه کوي: نو هغه دروغژن دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضرت امام شافعي رحمه الله سخاوت:

دحضرت حميد رحمه الله نه روايت دي چې يو خل امام شافعي رحمه الله يمن ته هم تشريف يووړو، تجارت وغيره له پاره، دهغه خای نه يې لس زره درهمه راوړل اومکي معظمې ته راغی اول مکي نه يې بهر يوه خيمه ولګوله اوتول درهم يې ترمانبامه تقسيم کړل.

يو خل په سواری باندي ناست و اوچيرته روان و چې چابک تري ځمکې ته پريوت يو کس يو خل راواخيست اوده ته يې ورکړ؛ نو امام شافعي رحمه الله سمدلاسه پنځوس ديناره بطور انعام دغه کس ته ورکړل.

دامام شافعي رحمه الله سخاوت ډير زيات مشهور و اودا دده رحمه الله دزهد دليل دی، ځکه چې دنيا محبت لرونکی دولت بندوي او زاهد، عابد سړی خپله خان دنيا نه ليرې کوي اوخپل زړه صفا کوي. ځکه چې دنيا دده په نظر کې سپکه اوبې قدره شی دی اوکله چې دده زړه کې دنيا حقارت نه وي بنده دالله والا نه شي جوړيدای له دې وجې دحضوراقدس صلی الله عليه وسلم ارشاد دی:

"حُبُّ الدُّنيا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ" (الحديث) ددنيا محبت دهرې ګناه جړوه ده.

زيات خوف:

امام شافعي رحمه الله باندې شدت خوف خدا دومره غالبه وه چې يو خل سفيان بن عيينه ده ته يو خل دويړې والا حديث واورو دې اوريدو سره امام شافعي رحمه الله بيهوشه شو، خلکو سفيان بن عيينه ته وويل چې: تا خو امام شافعي نه روح واخيست، ويې فرمايل: که داريښتيا وي؛ نو بيا دا زمانه افضله ده.

تشريح: له دې وجې چې دحديث اثر دانسان په زړه داسې وي دا ددې خبرې دليل دی چې دالله ويره په زړونو کې موجود ده اوداديمان کاملې ننباني دي، عبدالله بن محمد نه روايت دي چې ما په بغداد کې په نهر باندې اودس کاو، په دغه وخت کې امام شافعي رحمه الله تشريف راوړو؛ نو ويې فرمايل: اې نوجوان! ښې طريقې سره اودس کوه ددې له پاره چې اخرت کې تا ته اجر ملاو شي اوالله تعالى محبوب جوړ شي، زه داودس نه فارغ شوم اوده پسې شاته روان شوم ويې فرمايل څه وايې، ماورته وويل: الله تعالى چې کوم علم تاسو ته درکړی دی ددې نه لږ ماته هم وښايه. امام شافعي رحمه الله وفرمايل: کوم بنده چې ريښتيا وايي هغه به کامياب وي اوخوک چې ددين په معامله کې ويريږي هغه به سلامتي کې وي اوپه چا کې چې دادرې خصلتونه وي دهغه به دين کامل وي:

(۱). کوم کس چې نورو ته دنيکي ترغيب ورکوي اوخپله هم په دې باندې عمل کوي.

(۲). کوم کس چې خپله هم ګناهونو نه بچ دي اونور خلک هم بچ کوي.

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

۳. کوم کس کوم چې دحدوداللہ حفاظت کوي (یعني دشرعي حدودو پابندي کوي) چې دډنیا نه بې رغبته اوداخرت طلبګار وي اوداللہ په نږدې رینښتینې وي هغه به نه هلاکیږي

وېې فرمایل کوم کس چې خودبینې کې مبتلا وي هغه ته به علم څه فاېده نه ورکوي اوخوک چې په علم باندې عمل کوي په هغه به اسرار الهي کولاو شي.

حضرت امام غزالي رحمه الله فرمایي چې: دامام شافعي رحمه الله اخلاص په دې درجه و چې فرمایل به یې زه غواړم چې خلک زما نه علم زده کړي، خوزما نوم په کې نه وي اندازه ولګوی چې شهرت او ریاکارۍ نه یې خومره نفرت چې پرته دخدای درضا نه یې بل خوا نظر نه و.

په یوبل روایت کې دي چې امام شافعي رحمه الله به فرمایل چې: علمي تکرار اوبحث زه له دې وجې کوم چې له دې وجې زما ګناهونه معاف شي، صحیح او حق خبره ظاهره شي که زما دژبې نه وي یا دبل دژبې نه اوکوم کس چې زما حق خبره قبلوي؛ نودهغه هیبت زما په زړه باندې خوریږي اوخوک چې بلاوجې بحث کوي هغه زما په سترګو کې حقیر کیږي.

حضرت امام حمد بن حنبل رحمه الله فرمایي چې: زه دخلویښتو کلونو نه امام شافعي رحمه الله ته دعا غواړم. یوه ورځ ترې زوی پوښتنه وکړه اباجان! امام شافعي رحمه الله څوک دی؟ چې هغه له پاره ډیر دومره دعاګاني غواړی. وېې فرمایل: زویه! دامام شافعي رحمه الله زړه دمخلوق خدا له پاره دشفقت نه ډک و اوکله پورې چې خلک علم او حدیث لیکي دوی به یادوي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د دري لاکه احادیثو حافظ و اودامام شافعي رحمه الله شاګرد و دچا چې شاګرد داسې وي: نو داستاذ به کوم مقام وي.

محمد بن حکیم رحمه الله وایي چې: امام شافعي رحمه الله کله دمور خیټې ته راغی؛ نوددې مور بې بې په خوب کې ولیدل چې مشتري ستوری ددې دخیټې نه ووت اوتکړې تکړې شو بیا دهغه اجزا، په هو یو ښار کې پریوتل یو معبر ورته تعبیر ورکړ اووېې ویل چې: تا نه به یو زبردست عالم پیدا کیږي

په خوب کې دحضور صلی الله علیه وسلم زیارت:

امام شافعي رحمه الله فرمایي چې: خوب کې راته دحضور صلی الله علیه وسلم دیدار نصیب شوحضورپاک صلی الله علیه وسلم ته پوښتنه وکړه چې ته څوک یې؟ ماعرض وکړ چې ستاسو دښاندان نه یم. حضور صلی الله علیه وسلم فرمایل نږدې راشه. زه ورنږدې شوم، حضور صلی الله علیه وسلم خپل لعاب (لاړې) راواخیستې اوزما په خوله اوشوندو یې خپله ولګولې او وېې فرمایل: څه الله دې ستا په ذات باندې برکت واچوي، دامام فرمایي چې: ماشوم والي کې ماحضور صلی الله علیه وسلم خوب کې وجیه صورت کې ولید چې مکه مکرمه کې یې لمونځ وکړ اودلمانځه وروسته یې خلکو ته مخ مبارکه را واړو اوخلکو ته یې تعلیم ورکاوو زه هم ورنږدې شوم اوورته مې وویل چې: ماته هم لمونځ وښایه ده صلی الله علیه وسلم دخپل

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لسټونې نه يوه تله راوويسته اووې فرمايل چې دا ستاده، امام شافعي رحمه الله فرمايي چې ته به دعلم امام يې اوپه سنتو باندې دلته يو معبر و هغه ته مې خوب ووايه، معبر وويل چې زه به دعالم وي اودميزان تعبير دادی چې ته به به قائم يې خکه چې دمسجد حرام امام دټولو نه لوی عالم وي اوفرمايي چې: زه ختم قرآن وروسته مسجد دشيانو حقيقت ته واقعتا رسيږي امام شافعي رحمه الله فرمايي چې: زه ختم قرآن وروسته مسجد ته داخل شوم اودعلماوو مجلس کې کيناستم اواحاديث اومسائل به مې ياددول. زمونږ کور په شعب حنيف مکه کې و زه دومره غريب وم چې کاغذ مې نه شو اخيستی ما به هډوکي راواخيستل او ليکل به مې پرې کول. په شروع کې يې علم فقه دمسلم بن خالد نه زده کړه، په دې دوران ده ته معلومه شوه چې دې وخت کې مالک بن انس رحمه الله دمسلمانانو اقا اوامام دی. امام شافعي رحمه الله فرمايي چې: زما په زړه کې دا خبره کيناسته، ماته لرې تلل پکار دي. ما دير کس نه موطا واخيسته اوزباني مې ياده کړه.

تشريح: الله تعالی چې چا نه ددين کار اخلي دهغوی تربيت دابتداء نه خپله کوي دموطا امام مالک په خير غټ کتاب دومره زرزباني ياددول دخدای تعالی دخاص عنايت نه پرته ممکن نه دي معلومیږي چې الله تعالی خاص بې پناه مضبوطه حافظه ورکړې وه دا هم دالله تعالی خاص کرم دی. حضرت امام شافعي رحمه الله فرمايي چې: زه کله دامام مالک رحمه الله په حضور کې دعلم حديث حاصلولو له پاره حاضر شوم؛ نو ماته يې وفرمايل محمد! خدای نه ويريږه، گناهونو نه پرهيز وکړه عنقريب ستا دشان ظهور به وي ماعرض وکړ ډېره ښه ده ستاسو خبره سره ستر گو قبوله ده

بيايې وفرمايل چې الله تعالی يو نقد نعمت کيښودی دی، داپه گناهونو باندې خراب نه کړي. بيايې ارشاد وفرمايه چې سبا راځي؛ نو خان سره يو کس راوله چې دموطا قرأت کوي ماعرض وکړ چې زه به يې زباني قرأت کوم بيا په سبا ورځ باندې چې زه حاضر شوم اوقرأت مې شروع کړ؛ نوکله چې به مې دهغه دبوج ختمولو له پاره دبندولو اراده وکړه؛ نو هغه ته زما قرأت خوښ راغی او فرمايل به يې: بچيه! مخکې نور هم ووايه تردې چې په يو څو ورځو کې ما دموطا قرأت مکمل کړ. له دې وروسته دامام مالک تروفاته په مدينه منوره کې مقيم وم.

ادب واحترم:

دحضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله زوی صالح بن احمد وايي چې: يوه ورځ امام شافعي رحمه الله زما دپلار پوښتنې ته راغی والد صاحب مې دغه وخت کې ناروغ و، صالح وايي چې: والد صاحب مې دخپل خای نه پورته شو اوپه ستر گو يې ښکل کړ اوپه خپل خای يې کيناولو اوخپله يې مخې ته کيناست اوتر څه وخته يې ترې سوالات کول، کله چې امام شافعي رحمه الله روان شو؛ نووالد صاحب مې دسواری واګي ونيوو اوورسره پياده روان شو، يحيى بن حسين ته ددې

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خبر ورسيد: نو هغه ويې وويل: سبحان الله! ته دناروغې په حالت کې ولې هغه سره لاړې؛ نو والدصاحب مې عرض وکړ چې ابوزکريا! که تا دبل طرف والا واګې نيولې واى؛ نو تاته به هم څه فائده حاصله شوې وه، کوم کس ته چې دفقهي خواهش دي هغه به ددې خپر لکى ضرور بويوي.

فائده: رينتيا علم دين پرته داستاد دادب اواحترام نه پرته نه حاصليږي داستاذ ادب اواحترام کول دا لازمي دي پرته دادب نه علم دين نه حاصليږي اوعلم دين راځي هم په دې چې دیو عالم باعمل شاګردى اودهغه په مخکې ځان خاورې کړي يوازې خان نه کتابونوپلو باندې علم نه راځي لکه څنګه چې ننى سبا خلک دماركيټ نه مختلف قسم کتابونه واخلي مطالعه وکړي اوبيا خان ته مجتهد اومحقق وايي اودينې معاملاتو کې لاس وهي ياد ساتى داسې خلک خپله هم ګمراه وي اودنورو خلکو دګمراهي سبب هم جوړيږي، له دې وجې ډيرو خلکو ددين په نوم باندې بددينې شروع کړې ده، غلط لټريچر يې وليکلو خپله يې هم باقاعده علم دين نه دى حاصل کړى، بلکه دهر قسمه لوند اواوچ لټريچر مطالعه يې وکړه بيا خپله منکر اومجتهد جوړ شو چا دنبوت دعوه وکړه اوڅوک منکر حديث شول، چاپه صحابه کراموټ رضي الله عنهم اجمعين باندې لعن طعن وکړ اوچا دعلماء رباښيين خلاف زهر خواره کړل . جماعتونه يې جوړکړل اوائمه ضلال اوګمراه جوړشول، خَسِرَالدُّنيا وَالآخِرَة.

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي چې: زه دهر فرض لمانځه وروسته حضرت امام شافعي رحمه الله په حق کې دعا خيرکوم چې اې الله! زمااوزما دوالدينواودمحمدبن ادريس شافعي رحمه الله مغفرت وکړې.

امام شافعي رحمه الله فرمايي: چاچې عزت نفس اوزيات کشائشو سره علم حاصل کړ هغه کامياب نه دي. خوچاچې تنګدستي اوذلت نفس اودعلماوو دخدمت سره علم زده کړ هغه کامياب دي.

امام شافعي رحمه الله فرمايي: قوت ګفتګو پيدا کولوله پاره خاموشي مددګار شى دى اود استنباط قوت حاصلول له پاره فکر نه کار واخله اودايې هم وفرمايل: چاچې خپل وروڼه په پټه باندې نصيحت وکړ هغه ده سره داخلاص معامله وکړه اودى يې بنائسته کړ، خو کوم کس چې بنه په ښکاره باندې نصيحت کوي هغه دى بدنام کړ اوله ده سره يې خيانت وکړ.

حضرت قرني رحمه الله فرمايي چې: ما دامام شافعي رحمه الله نه زيات سخي څوک نه دى پيدا کړى، يوځل زه داختر په شپه هغه سره په يوه مسئله کې مصروف وم حتى چې دهغه تر کوره يوځل زه داختر په شپه هغه سره په يوه مسئله کې مصروف وم حتى چې دهغه تر کوره لاړسيدو؛ دا وخت يو غلام ده ته يوه تيلى راوړه اوامام رحمه الله ته يې عرض وکړ چې اقا سلام کاو اوبيا يې تاسو ته دا تيلى تحفه راليږلې، دا تاسوقبوله کړى، امام رحمه الله له هغه نه هغه تيلى واخيسته اورخصت يې کړ هم دا وخت يو کس راغى اوامام رحمه الله ته يې وويل: اې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ابو عبدالله! مونږ کره اوس یو ماشوم شوی دی اوهیڅ مې هم په لاس کې نشته امام ﷺ هغه
تیلی دغه کس ته ورکړه اوخپله خالي لاس کورته دننه شو.
حضرت ربیع ﷺ فرمایي چې مادامام شافعي ﷺ دوفات نه څو ورځې مخکې خوب ولیدو
چې دادم علیه السلام وفات شوی دی اوخلکو جنازه راخیستې ده سهار وختي ما دعلماوو
کرامونه پوښتنه وکړه، هغوی وفرمایل دې خوب کې دیو لوی عالم دوفات طرف ته اشاره ده،
ځکه الله تعالی حضرت ادم علیه السلام ته علم اسماء، ورکړي وو، څو ورځې لا تیرې شوې نه وې
چې امام شافعي ﷺ وفات شو، دیو قول مطابق مصر کې په ورځ دجمعې تاریخ ۲۰۴ په
۵۴ کاله عمر کې درجب میاشت په اخره کې وفات شو.
حضرت قرني ﷺ فرمایي چې: زهٔ دامام شافعي ﷺ دناروغي په هغو ورځو کې حاضر شوم
چې په هغه کې دی وفات شوی و، ماپوښتنه وکړه نن سهار موخنګه تیر شو، هغه ﷺ
وفرمایل: زه ددنیا نه تشریف وړو والا یم، ددوستانو نه جدا کیدو والا یم، دمرګ پیاله
څښونکی یم اوخپل بد اعمالي سره ملاویدو والا یم اوخپل خدای ته رسیدو والا یم، اوس
ماته معلومه نه ده چې زما روح جنت طرف ته منتقل کیدو والا دی چې زه ورته مبارکباد
ورکړم یا دوزخ طرف ته چې زه یې تعزیت وکړم، بیا په هغه باندې ژړا غالبه شوه اویو څو
اشعار یې وویل چې په هغه کې یې خپله بیچارګي دالله ویره اوامید بیان کړل.
امام احمد بن حنبل ﷺ فرمایي چې: ما امام شافعي ﷺ په خوب کې ولید، ماورته عرض
وکړ چې الله تعالي درسره څه معامله وکړه؟ نوهغه ﷺ وفرمایل چې: دمغفرت معامله یې
راسره وکړه اویو تاج یې زما په سر باندې کیښودو اویوه بڼځه یې راته راکړه اوراته وویل
شول چې دادډې خبرو بدله ده په کومو به چې تا تکبر نه کاو کوم چې مونږ تاته درکړي وو
اوتازمونږ په نعمتونوباندې تکبر ونه کړ. (مظاهرحق جلد ۵)

فائده: که مونږ مسلمانان دین حاصلول غواړو چې دهغه له وجې ددنیا اواخرت کامیابي وي؛
نومونږ ته ددې مقدسه هستیانو لاره اختیارول پکار دي. داخلک مونږ له پاره دلاري رڼا ده،
دیهودو نصاراوو خلک به آئینډیل جوړول پریښودل وي، اهل الله اوعلماء ربانیین به خپل
مقتدا جوړول وي، ددوی په اقتدا اواتباع کې سره به ایمان کاملیدل وي او ایمان مو کامل
شو؛ نو په قیامت کې به مو مزې اوراحت وي، فرمایي رحمت دوعالم ﷺ:

دکامل ایمان والا به جنت ته بې حسابه ځي:

عن أسماء بنت يزيد، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: يحشر الناس في صعيد واحد يوم القيامة، فينادي منادٍ فيقول: أين الذين كانت تتجافى جنوبهم عن المضاجع، فيقومون وهم قليل، يدخلون الجنة بغير حساب، ثم يؤمر بسائر الناس إلى الحساب. (شعب الايمان للبيهقي)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

داهل جنت اوصاف دادي

ترجمه حضرت اسماء بنت يزيد روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دقيامت په ورځ به ټول خلک يو ميدان ته راجمع كيږي، بيا به يو آواز كوونكى اواز وكړي كوم دي هغه خلک دچاچې به ډډي دبسترو نه جدا وي (يعني دشپې به يې عبادت كاوو) بس لږ كسان به د اهل اسلام نه پورته شي اوپرته دحساب كتاب به جنت ته داخل شي. له دې نه وروسته به حكم وشي چې دباقي خلكو دي حساب وكړل شي

فائده: ددې حديث نه معلومه شوه چې دكامل الايمان خلک به پرته دحساب اوكتاب جنت ته داخل شي په دوى به هيڅ قسمه سختي نه وي اونه به دوى به خه مواخذه وي هغوى به دخپل رب په يې پناه عنايتونو اورحمتونوكې وي، دغه خلک به ډېر كم وي. ددې مطلب دادى چې په دې دنيا باندې به اهل ايمان داهل كفر نه كم وي اويا ډېرو خلكو په مقابله كې به نيكان خلک كم وي دقرآن كريم نه هم ثابته ده چې اهل حق اونيكوكار خلک به اقليت كې وي اواهل باطل اوبدكارخلک به اكثريت كې وي، لكه څنګه چې يې يو ځاى كې ايمان والاوو قلت بيان كړى دى.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَا هُمْ (سورة ص: ۲۴)

ترجمه مګر چې كوم خلک ايمان لري او نيک كار كوي اوداسې خلک ډېر كم دي.

دويم ځاى كې يې وفرمايل: وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ (سورة سبا: ۱۳)

يعني زما شكر ګذار بندیګان كم دي.

ترجمه او زما په بندیګانو كې (داطاعت اوعبادت په ذريعه زما شكر كوونكي كم دي.

ددې نه معلومه شوه چې داهل حق اواهل ايمان والاوو كموالى له دې وجې دى چې دوى په مختلف سياسي، سماجي، معاشرتي مصائبو اودردونو كې مبتلا دي اوقسما قسم ظلم زغمل دوى له پاره داسې خبره نه ده چې له هغه به هغوى دتنګدلي اومايوسي بچكار وي. بلكې حقيقت كې دخداى له طرفه دوى له پاره يو اعزاز اوسعادت دى اواخر ددې صله دوى ته په ابدي راحتونو اونعمتونو په صورت كې ملاويدو والا ده، دخداى داخاص بندیګان يعني ايمان وعمل كمال لرونكي كسان دحساب اوكتاب نه پرته جنت ته به ځكه ځي چې دوى په دنيا كې دهدايت لاره خپله كړې وه دخداى اودهغه درسول احكاماتو يې فرمانبرداري وكړه، ددين په لاره باندې استقامت اواستقلال سره لاړل، دخداى درضا وخوشنوديې له پاره داطاعت اوبندګۍ مشقت يې برداشت كړ. ددنيا لذتونه اوراحتونه يې پريښودل اوهمدغه راز دوى دصبر مقام اختيار كړ؛ نوبياخو دوى دالله په حضور كې دسعادتونواو د ډېرو زياتو راحتونو مستحق كيدل دي. له دې وجې چې هغه رب دى تربيت والا مهربان دى، دده په حضور كې

كفايت كتب خانه ټيلى ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

انصاف دی هغه به ضرور نیکوکاروته ددوی دعمل بدله ورکوي، په دنیا کې یې ځنګه ځنګه مهربانیو سره وپالل

مولانا ازاد ﷺ فرمایي: دربوبیت یوه ناقصه نمونه مونږه په دې پرورش کې کتلی شوچې دهغې جوش دموږپه فطرت کې دننه کړی ی دی کله چې ماشوم پیدا شي نو دغونپې یوه حرکت کوونکې تکړه وي اودزندګی اوغټ والي چې خومره قوتونه وي ټول په توله دتربیت اوپرورش محتاجه وي داپرورش اومحبت وشفقت،حفاظت ونګهداشت اوبخښش واعانت یوه طویله سلسله ده اودادي وخته پوري جاري پکار ده تر څو چې ماشوم دخپل وجود اوذهن حد بلوغ ته نه وي رسیدلی.بیا دپرورش ضرورتونه یو دوه نه بیشمیره دي، ددې نوعیت همیشه بدلیږي اوضروري ده چې دهر عمر اوهر حالت مطابق دمحبت جوش،دنګراني نظر،اودزندګي سروسامان ملاویږي، حکمت الهي دمور په محبت کې دربوبیت داتول خت و خال پیدا کړی دی، دادمور ربوبیت دی چې دپیدائش دورځې نه واخله بلوغه پورې بچی پالي.سمبالوي یې اوهروخت اوهرحالت مطابق دده دضروریاتواودپرورش سروسامان مهیا کوي.کله چې دبچي معده دپیو نه پرته دبل شي جوګه نۀ وه نوده ته به یې یوازې پې ورکولې اوکله چې ورته دپیو نه زیات طاقتور شي ضرورت شو نو هغه یې ورکې،کله چې دبچي په پښو کې دقدم قوت نه و؛نو مور به په غیږ کې ګرځولو اوکله چې قدم جوګه شو؛ نودګوتې نه یې ونیو اوبه آرام آرام یې پرې قدم واخیسته، نو داخبره چې دهر ضرورت مطابق ورته سامان مهیا کیده اودنګراني اوحفاظت یو مسلسل اهتمام جاري و،هغه صورت حال دکوم نه چې دربوبیت مفهوم متصور کیدای شي. (ترجمان القرآن)

رحمت خداوندي:

حضرت سعید بن المسیب رحمه الله هدایت کوي چې حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمایي چې: ما درسول الله ﷺ نه دا ارشاد اوریدلی دی چې: الله تعالی درحمت سل برخې پیدا کړې په دې کې یې نهه نوي ځان سره وساتلې اویوه برخه یې په ځمکه باندې نازل کړه، دمخلوق په یو بل باندې شفقت ومحبت داددي یوې برخې کمال دی حتی چې اسپه دخپل بچي نه پښه اوچتوي چې هسې نۀ دۀ ته تکلیف ونه رسیږي، دتنبیه الغافلین مؤلف فرمایي چې: حسن بصري رحمه الله دحضور ﷺ نه نقل کوي چې: دالله تعالی سل رحمتونه دي چې په هغو کې یې یو رحمت په اهل دنیا باندې نازل کړ چې داتول یې راګیر کړي دي تر څو چې دنیا قائمه وي اودقیامت په ورځ به دا رحمت دنورو نهه نوي رحمتونو سره ملاؤ کړي اوپوره داسل رحمتونه دخپل اولیاء اواطاعت ګذار بنده ګانو له پاره خاص کړي. (تنبیه الغافلین)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عارفين دالله تعالي خبري واوري اوزړونه يې شادو آباد شي،لکه خنګه چې باران سره باغونه،ګلونه اودهغو ديخوالي نه تازګي وي داسې و لکه چې بيمار ډ،علاج کوونکی راغی،داغ و درد فرقت کې ډ محبوب راغی،دزړۀ غوټې خلاص شوې،تږي ته اوبه ملاو شوې،په مړي کې روح راغی اودچاتعلق چې خدای سره صحيح نۀ دی هغوی چې کله اوري نو زړونو کې يې نور حسرت زياتيږي.

چين لے مجھ سے اے جلوۂ خوش روئے دوست
ميں کوئی محفل نہ ديکھوں اب تيری محفل کے بعد
فہم خاطر تيز کردن نيست راہ
جز شکستہ مے نگيرد فضل شاہ (روميؒ)

اخلاص څنګه پيدا کيږي

انسان دوه دوښمنان دي اول نفس دويم شيطان، ددواړو مکروفريب يې انتها دی،د دواړو دوښمنانو دمکروفريب نه ځان داهل الله په صحبت اوتلاوت باندې وساتل اوپه امر بالمعروف ونهي عن المنکرباندې عمل پيرا شئ،صحبت صالح ترا صالح کند. صحبت طالح ترا طالح کند .يعني دنيک بنده صحبت به دې نيک جوړ کړي اودبد سړي مجلس به دې بد جوړ کړي دکلام الله لوستل دهرې فتنې اوشر نه يقيني حفاظت دی،دامر بالمعروف ونهي عن المنکر باره کې يوآيت دی چې دهغه ترجمه داده:

اوپه تاسو کې يو جماعت داسې هم پکار دی چې دنيکي طرفته مو رابولي اودښه کار کولو حکم کوي اوبد کارونو نه مو منع کړي، دا نجات موندونکي کسان دي (پ۴رکوع۲)

په يو حديث مبارکه کې دي چې الله تعالی دخاص خلکو په بد اعمالو باندې عام خلک په عذاب کې نۀ مبتلا کوي تر څو چې دعامو خلکو داحالت جوړ شوی نۀ وي چې خپل مخې ته بدي خپرې وګوري اودبدي دمنع کولودطاقت باوجود يې هم منع نۀ کړي،کله چې هغوی داسې شروع کړي نو بيا عام وخاص ټولو باندې يو شان عذاب راځي (مشکوۃ شريف)

کله چې نور نيکي طرفته راوغواړي نو الله تعالي به مونږه ته داولی نيکی توفيق راکړي، دغه رنګ کله چې نوردبدي نه منع کړو نومونږ به الله بطرق الاولی بدي نه محفوظ وساتي اودغه رنګ داخلاص دعوت ورکوو . انشاء الله اخلاص به پيدا کيږي

****

کفایت کتب خانہ ثیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دجمادی الثاني دمیاشتې دویمه خطبه

سلامتي اوکامیابي

جمادی الثاني په نهم ۹، تاریخ (۳۵) هجري باندې دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه وفات شو. حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه جلیل القدر صحابي دی، دحق دتلاش له پاره یې لوی سفرونه وکړل اودیر تکلیفونه یې برداشت کړل. بالآخر دولت اسلام باندې مشرف شو چې دسلامتي اوکامیابي لاره ده اودسلامتي اوکامیابي ضمانت دی. له دې وجې دوي بیان موضوع "سلامتي اوکامیابي" تجویز کړل شوه. اسلام ددین حق دستورحیات سلامتي وکامیابي والا لاره ده دي نه علاوه بول مذاهب او ادیان دناکامي په لاره دي. دافسوس خبره ده. هغه خلک چې هغوی سره ددنیا دسلامتي نسخه موجوده ده اوپه دنیا کې ټن دانسته پریږدي اوذلیله کیږي اودر په در تکري خوري، در په در تیتیږي، در در نه غواړي، حالانکې په اسلام باندې عمل کولو سره ددنیا و آخرت دکامیابي ضمانت دی، ارشاد رباني دی:

"أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ"

(سورة ال عمران آیت ۸۳ پ۳) (اصل لاره دین دي)

ترجمه آیا دین خداوندي نه پرته یوه بله طریقه غواړي، حالانکې الله تعالی طرفته تیت شوي دي اوځمکه چې په ځمکو اوآسمانونوکې دي خوشحالي سره اوبې اختیاري سره اوټول به دالله طرفته تلوونکي وي

دویم ځای کې ارشاد باري تعالی دی:

"وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ" (پ۳سورة ال عمران آیت ۸۵)

ترجمه اوځوک چې داسلام نه سوا بل دین خوښوي نوهغه به ده نه هرګز قبول نه شي اودی به آخرت کې تباه کاروکي وي

تشریح په اولني آیت کې یې وفرمایل چې دین اسلام نه پرته بل دین دالله په در کې قابل قبول نه دی. کله چې آسماني سابقه ادیان معتبر نه دي نو انساني خودساخته مذاهب به څنګه قابل قبول وي په دنیا کې هم داسې خلک کوم چې دین حق اسلام پریږدي اونوزمذاهب اختیار کړي هغوی به خساره اونقصان کې وي دالله تعالی اطاعت دکائنات هر یوشی کوي په خوشالي یا په نه خوشالي. مګر انسان ته قدرت یواختیار ورکړی دی چې هغه کومه لاره غواړي اختیار دي کړي. هغه سره به دهغه مطابق معامله کیږي اودخدای منکر، ظالم،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ملاحد. دهري، نيچري اومشركين دانه ګڼي چې مور څه کوو پوښتنه کوونکی څوک نشته.
وېل فرمايل: داسې نه ده، بلکې هر يوانسان به زمور لوري ته واپس راځي اوده ته به جزا او
سزا ملاويږي. دانسان سعادت دادی چې چې هغه اسلام پيداکړي اوتسليم يې کړي اوعمل
پرې وکړي اوبدبختي داده چې اسلام موجودوي اودی بل لوري ته لاړشي. حضرت سلمان
فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحق په تلاش کې و، الله تعالى داسلام توفيق ورکړ، دادمذهب اسلام د
حقانيت دليل دی اوحضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لويې مرتبې دايمان او اخروي حاصلې کړې.

دحضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت:

وعن أبي هريرة قال: كنا جلوسا عند النبي صلى الله عليه وسلم إذ نزلت سورة الجمعة فلما نزلت [وآخرين منهم لما يلحقوا بهم] قالوا: من هؤلاء يا رسول الله؟ قال: وفينا سلمان الفارسي قال: فوضع النبي صلى الله عليه وسلم يده على سلمان ثم قال: "لو كان الإيمان عند الثريا لتناله رجال من هؤلاء". (متفق عليه) (مشكاة)

دا حديث مبارک دسلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په فضيلت باندې مشتمل دی.

ترجمه حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې مورخلک دنبي کريم ﷺ سره ناست وو چې سورة الجمعة رانازل شوکله چې دا ايت راغی "وَآخَرِينَ مِنهم لَمَّا يلحَقُوا بِهِم" ترجمه. اوپه دې کې څه نور خلک هغه دي چې اوسه پورې دوی سره لا نه دي ملاو (يعني اهل اسلام سره) حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې: دا وخت په مورکې سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم موجود و، نبي کريم ﷺ خپل لاس مبارک په سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې کينبوده اووې فرمايل که ايمان په ثريا ستوري باندې هم وي؛ نوبيشکه په دوی کې داسې خلک هم دي چې دهغه خای نه به يې حاصل کړي و

تشريح: يعني صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين چې اهل عرب نه پرته وو دهغوی ذکر يې وفرمايه چې څومره خلک دليرې ليرې نه دين اسلام کې داخليږي، په دې کې تابعينو طرف ته اشاره ده اوتابعين هماغه کوم چې اهل عرب نه دي، دتابعينو اکثر کسان دعجمو نه وو اوډېر لوی ذهين اوفطين اوددين حق تلاش کوونکي به وي اوقرباني ورکوونکي وو. اګر چې ايمان ثريا اواوچت ستوري ثريا په خای هم وي؛ نوهغه به دهغه خای نه هم حاصل کړي

ډېرو اهل تحقيقو دافرمان دی چې ددې حديث مصداق حضرت امام اعظم ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ دی چې هغه ډېر لوی ذهين اوفطين فقيه اومحدث ومحقق بزرګ و، هغه دقرآن اوحديث نه په ډېره پوره باندې استنباط وکړ چې دنورو خلکو هلته رسيدل هم نشته

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ایی سعادت بزور بازو نیشت

دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه وطن ایران و ،دحضوراکرم ﷺ آزاد کرده غلام ؤ حضور ﷺ
دیو یهودي نه اخستي ؤ. حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د لویې پایې صحابي و ،ویل کیږي
چې دفارس مشهور نسل "رام هرمز" نه دی چې مذهباً مجوسیان وؤ اوداېلق اسونو عبادت
کوونکي وو ،حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه دشروع نه ددین حق په تلاش کې ولګیده اول یې
خپل پلرنی مذهب پرېښوده اوعیسایي مذهب یې قبول کړ اودعیسائیت مذهبي کتابونو علم
یې حاصل کړ .دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه دېلار اوقریبي رشته دارو دده عیسایي
جوړېدل خوښ نه شو ،چنانچې دې تولو دۀ ته سختي سزاګاني ورکړې، مګر ده هر یو اذیت
برداشت کړ اوعیسائیت یې پرې نښوده بیا ده خپل ملک پرېښوده اوشام ته راغی اودلته
دعربونه راغلیو خلکو ته په لاس باندې ورغی ،هغوی مدینې ته راوستو اودیو یهودي په لاس
یې خرڅ کړ .ویل کیږي چې په دې ورځو کې سلمان فارسي رضي الله عنه دلسو کسانو په لاس خرڅ
شو اوددې تولو په غلامي کې پاتې شو تر دې چې رسول الله ﷺ دمکې نه مدینې منورې نه
هجرت وکړ، نودی په خدمت اقدس کې حاضر شو اواسلام یې قبول کړ، حضور ﷺ وفرمایل
چې سلمان فارسي رضي الله عنه هغه خوش نصیبه جنتیانو کې دیی دچاچې جنت اشتیاق ښه
اومنتظر دی .سبحان الله! څومره سعادت دی چې خلک خو دجنت مشتاق دي اوخپله جنت دده
مشتاق دی

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ته الله تعالي دېرلوی عمر ورکړ، ځینې وایي چې دوفات په
وخت کې دده عمر درې نیم سوه کاله ؤ اوځینې وایي چې دیونیم سل کاله عمر کې وفات شو
اوزیات صحیح قول هم دادی،هغوی دا دومره اوږد عمر ددین حق په لاره کې تیر کړ،تردې
چې آخر کې نبي اکرم ﷺ په خدمت اقدس کې حاضر شواوګوهر مقصود ته ورسیده،حضرت
سلمان فارسي رضي الله عنه دېوډاوالي باوجود محنت مزدوري کوله اوخپل رزق به یې ګانه
اودخپل محنت دګټې اکثره برخه به یې دالله تعالي په لاره کې ورکوله .دحضرت
ابوهریره رضي الله عنه روایت دی چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل چې: الله تعالی خصوصي طور
باندې ماته دځلورو کسانو سره دمحبت ساتلو حکم کړی دی اودایې هم وفرمایل چې الله
تعالی هم دوی سره محبت کوي،صحابۀ کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ چې: حضور ﷺ! هغه
ځلور کسان څوک دي؟چې مونږ هم هغوی سره محبت وساتو ،وې فرمایل یو خو علي رضي الله عنه
دی .دااالفاظ حضور ﷺ دري ځله مکرر وویل ،دې له پاره چې خلک پوه شي چې په دې ځلورو
کې دتولو نه افضل علي رضي الله عنه دی یا اشاره دي خبري ته وه چې څومره محبت دي نورو سره
سره کوئ دهغو مجموعي برابر محبت به علي رضي الله عنه سره ساتئ، دویم ابوذر رضي الله عنه دریم
مقداد رضي الله عنه اوځلورم حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه دی.په یو حدیث کې دي چې رسول الله

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ﷺ فرمایي چې سلمان رضی اللہ عنہ زمونږه څخه دی یعنې اهل بیت د ی دایې دي وجې نه وفرمایل چې کثرت رفت وآمد به یې ؤ حضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ زمونږ له پاره مشغل راه دی، ددین له پاره درد وتکلیف برداشت کول، قرباني ورکول،سفر کول اووطن پریښودل حضوراکرم ﷺ سره محبت کول اوددوی ﷺ په ارشاداتو باندې عمل کول دیو څو داسې اعمالوذکر کیږي چې سلامتي اوکامیابي ورکوونکي دي.

جنت ته داخلونکي عملونه:

رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه دوه مسلمانان کوم چې دالله درضا له پاره یوبل سره محبت کوي هغه چې کله ملاویږي اومصافحه کوي اوپه ما باندې درود شریف وایي نوجدا کیدو نه مخکې مخکې ددوارډو گناهونه معاف وي. رسول اکرم ﷺ وفرمایل: دالله تعالیٰ په لاره کې چې دچا قدمونه گردآلوده شو ؛نوخدای تعالی پرې دجهنم اور حراموي.

حضرت رسول اکرم ﷺ ارشاد فرمایي چې: کوم کس زوال آفتاب نه وروسته خلور رکعته لمونځ کوي اونې طریقي سره رکوع اوسجده کوي؛ نو ده سره اویا زره فرشتې لمونځ کوي اودشپې پورې دده له پاره استغفارکوي.

حضور ﷺ وفرمایل: کوم کس چې دسهار لمونځ وکړي اوپه جای نماز باندې ناست وي تر دې چې داشراق لمونځ وکړي اودخیر نه پرته بله خبره ونۀ کړي؛ نو الله تعالی یې گناهونه معاف کوي. خواه دسمندر دخڅ برابر ولې نۀ وي اودحسن بن علي رضی اللہ عنہ روایت دی دده څرمن به اور مسه کولی هم نۀ شي اوحضرت عائشه صدیقه رضی اللہ عنہا فرمایي چې: دی دگناهونونه داسې راوځي لکه چې نن دمور دخپټې نه پیدا شوی وي. نبي کریم ﷺ وفرمایل په روایت دابن عباس رضی اللہ عنہ سره چې: کوم بنده دخپل مسلمان ورورډضرورت له پاره ځي نو خدای تعالی ددې بنده اودجهنم په مینځ کې اووه خندقونه حائل کړي اودیو خندق فاصله دومره ده لکه دځمکې اوآسمان په مینځ کې.

دحضوراقدس ﷺ ارشاد گرامي دی چې: یو خای دوډی خورلو کې شفا ده

حضوراکرم ﷺ وفرمایل چې: کله بنده په رکوع کې یو ځل سبحان ربي العظیم ووایي نوالله تعالی دده دریمه برخه وجود دجهنم داور نه خلاصوي اوکله چې دري ځله ووایي نوخدای تعالی یې پوره وجود دجهنم داور نه خلاصوي.

علماء فرمایي چې ریښتیني زړۀ اواخلاص وتوبه سره چې دي نه پس گناه ونۀ کړي نودۀ له پاره دا انعام دی حضور ﷺ فرمایي: کوم بنده چې خوراک وکړي اولوښی صفاکړي نودغه لوښی دده له پاره استغفار کوي چې ای الله ده ته د دوزخ نه آزادي ورکړه خرنګه چې ده زۀ شیطان نه آزاد کړم ،ځکه چې شیطان داسې لوښی غواړي، نبي کریم ﷺ فرمایي چې: کوم بنده په

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

رکیبي کي خوراک وکړي اوبیا یې وخت اوګوتې هم وخت، نو الله تعالی یې دنیا وآخرت کې آسوده حال اوخوشحال ساتي

حضوراکرم ﷺ فرمایي چې الله تعالي ته دا خبره دتولو نه زیاته محبوبه ده چې هغه بنده مومن دخپلې بښخې او بچیوسره یو خای په دوډۍ خوړلو وویني چې هغوی تول یو خای خوراک کوي، خکه چې کله تول په دسترخوان باندې یو خای ناست وي نو الله تعالی ورته درحمت په نظرباندې ګوري اوجدا کیدو نه مخکې دوی وبښي

اسلام دفرمانبرداري اوتسلیمولو نوم دی، یعني ایمان نه وروسته اسلام دالله تعالی دکامل اطاعت اوفرمانبرداري نوم دی په نورو الفاظو کې موږ داویلی شوچې داسلام مختصر تعریف ایمان اوعمل صالح دی، مطلب داچې فلاح انسانیت اوارتقاء انسانیت دارومدار په دوو شیانو باندې دی: (۱) صحیح علم (۲) صحیح عمل. دادواړه شیان یوازې انسان ته په وحي الهي باندې میسره کیدای شي قرآن پاک اواحادیث نبویه کې دایمان وعمل صالح تفصیلات بیان شوي دي. ایمان نه پس عقائد داهل سنت والجماعت پشان وي اودحضور ﷺ دطریقې مطابق اعمال به دالله تعالي په حضور کې قابل قبول وي خو چې نیت ددینداري وي کنه بدعات اوخلاف سنت وي نو مردود دي.

ورسره کلمه ویلو نه وروسته اعمال حسنه نه کول اویوازې کلمه ویونکي ته دجنت حق دار ویل غلطه خبره ده. خکه چې په یوحدیث کې راغلي چې دکلمې قائله ته به دجنت داخل ملاویږي ددې نه مراد یوازې لوستل نه دي. بلکې دایمان دزړه نه قائله کیدل مراد دي. بیاکه په عمل کې کمزوري ده نو اول به د خپلو بدعملو سزا خوړلو نه پس جنت ته داخلیږي، هوکه الله تعالی ده بغیر دسزا نه جنت ته داخل کړي نو دادهغه خپل فضل دي. اودهغهٔ نه څوک پوښتنه کولوواله نشته مګر ضابطه هغه ده چې بدعمله ته به دبدعملي سزا ملاویږي.

ایمان، اخلاص اوصالح نیت:

(۱) کوم کس چې په خلوص دل سره دکلمه لااله الاالله محمدرسول الله اعتراف وکړي نو دا جنت ته داخلیدل لازم شو په ده باندې داور عذاب حرام شي. (بخاري ومسلم)

(۲) لااله الاالله دجنت دتالي (قفل) کنجي (کیلي) ده. لیکن هرې یوې کنجي له پاره دغاښونو کیدل ضروري دي کنه په کنجي کې غاښونه نه وي نو تاله نه شي خلاصیدای. دغه راز که کلمهٔ توحید سره اعمال صالحه نه وي نو دجنت تاله خلاصیدل هم مشکل دي. (بخاري في ترجمة الباب)

(۳) حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه یې چې کله یمن ته لیږه، نوهغوی سرکار دوعالم ﷺ نه دوصیت درخواست وکړ. سرکاردوعالم ﷺ اوفرمایل: خپل دین خالص کړه که په زړه کې اخلاص پیدا شو، نولږ شان عمل به هم ته له پاره کافي شي. (حاکم)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

الله تعالی سره نیک ګمان:

حدیث قدسي کې الله تعالی فرمایي چې: ای ابن آدمه! کُه خطاګاني دومره وي چې خمکه ډکه کړي لیکن په دې ګناهونو کې شرک نه وي نو تاسره به ستا دخطاګانو برابر مغفرت واخلم اوتا سره به ملاقات وکړم (ترمذي)

د کارد وعالم ﷺ دوفات نه دري ورځي مخکې وصیت وکړ ګورئ تاسو کې چاته مرګ رانشي مګر داسې حالت کې چې ستاسو دالله تعالی نه ښه ګمان وي (مسلم)

حدیث مبارک کې دي چې قیامت کې به یو بنده ته ارشاد اوشي چې اور ته داخل شه هغه به دوزخ غاړې ته چې ورسیږي نو یو خوا بل خوا به ګوري اووایي به په خدای قسم! زما دالله نه ښه والي ګمان او ارشاد به وشي دیخوا یې راولئ زهٔ دبنده دګمان نژدې یم (بیهقي)

اتباع سنت:

دحضور ﷺ ارشاد ګرامي دی چې: دفساد په وخت کې زما په سنتو باندې تینګ ولاړ انسان ته به دسلو شهیدانو برابر ثواب ملاویږي.

تشریح: یعني داسې زمانه کې کومه کې چې خلک دنبي علیه السلام دسنتو نه لاپرواهي کوي یا په سنت باندې عمل کولو پسې خلک ټوکې کوي کُه په داسې نازک وخت کې یو کس ددې ټوکو پروا ونهٔ کړي او سنت باندې عمل کوي نوداسې کس ته به دائواب ملاویږي. (بحوالهٔ مفتاح الجنة مؤلفه سبحان الهند مولانا احمد سعید صاحب دهلوي)

تعلیم وتعلم:

دحضوراکرم ﷺ ارشاد ګرامي دی چې: چا ته الله تعالي دنیکي اراده وکړي نوده ته ددین پوهه ورکوي (بخاري ومسلم)

په دویم حدیث کې فخر موجودات (ﷺ) فرمایي چې: چا دیو مومن تکلیف لرې کړ؛ نودقیامت په ورځ به الله تعالی ددهٔ سختي اوتکلیفات لرې کړي، چاچې دیومومن عیب پټ کړ؛ نوالله تعالی به په دنیا وآخرت کې دده عیب پټ کړي چاچې په یو تنګدست باندې آسانتیاوکړه نوالله تعالی به په دنیا وآخرت کې په ده باندې آسانتیاوکړي.

کله پورې چې دیو مسلمان ورور په مدد کې لګیا وي؛ نوالله تعالی به ستا په مدد کې لګیا وي ځوک چې دعلم دتلاش له پاره په یوه لاره باندې ولاړ؛ نوالله تعالی به ده له پاره دجنت لاره آسانه کړي طالب علم له پاره فرشتې خپلې وزرې غوړوي، دآسمان اودځمکې تمام مخلوق دطالب علم له پاره دعا کوي تر دې چې میږي په سوړو کې اوکبان ماهیان په اوبو کې طالب علم له پاره دعا کوي دعالم فضیلت په عابد (جاهل) باندې داسې دي لکه دشپږمې په ستورو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

باندې انبیاء کرامو په خپل میراث کې روپۍ پیسه نه ده پریښې دهغوی میراث خو داعلم دئ
چاچې علم حاصل کړ هغه ډېرې لویې برخې مالک شو (ابوداؤد)

دحضوراکرم ﷺ ارشاد دی دسهار په وخت کې یو بنده دیو ایت درزده کولولپاره ورځې
نودسل رکعتونونه زیات ثواب دی اوکه څوک دعلم یو باب زده کړي، که هغه په دغه وخت
کې عمل کې وي اوکه نه وي دزرو رکعتو نه بهتر دي (ابن ماجه)

اودس اودهغه متعلقات:

دسلامتي اوکامیابي په اعمالو کې یو اودس هم دی. دحضوراقدس ﷺ ارشاد دی داودس
کوونکي ټول ګناهونه داودس دخاڅکو سره ختمیږي (مسلم)

مطلب دادی چې صغیره اوکبیره ټول ګناهونه داودس کولو سره معاف شي په یو بل حدیث کې
ارشاد دی چې ایا زه تاسو ته دیو داسې عمل لاره ونه ښیم چې دهغه په کولو سره ګناهونه
معاف شي اودرجات هم لوړ شي. صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِیْن عرض وکړ چې ښکه
دداسې عمل ضرورت دی، وې فرمایل دتکلیف په وخت کې کامل اودس وکړه، مسجد ته
کثرت سره تګ اودیو لمانځه نه وروسته دبل لمانځه انتظار کول دا د امور رباط نه دي
(مسلم)

فائده: درباط نه مراد سرحد اسلام باندې جنګ کول اودارالاسلام له هغوی نه بچ کول داسې
چې ددې کارونو ثواب دجهاد په څیر دی دتکلیف په موقعه باندې کامل اودس کولو مطلب
دادی چې دسختې یخنې وغیره په موقع باندې کامل اودس کول اوسستي نه کول.

حضوراکرم ﷺ حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه چې ته څه عمل کوې، ما ستا دپښو
اپیزار، اواز په جنت کې واوریده چې ته زما نه مخکې مخکې روان وې، بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض
وکړ دوه کارونه زما معمول دي یو همیشه په اودس کې اوسیدل،کله چې دا مات شي
نوسمدلاسه بل کول اودوه رکعته نفل کول (ابن خزیمه)

په اودس کې پاتې کیدل اودتحیة المسجد نفل کول دجنت دداخلیدو موجب دي

دحضوراکرم ﷺ ارشاد دی چې مسواک پاکول کوي اوپروردګار خوشالوي (نسائي)
او وې فرمایل څلور شیان دانبیاء علیهم السلام سنت دي:
(۱) حیاکول (۲) نکاح کول (۳) عطر لګول (۴) مسواک وهل (ترمذي)
په یوحدیث کې دي دوه رکعته لمونځ چې دهغه په اوداسه کې مسواک وهل شوی دي دا دیا
رکعتو نه بهتر دي په کومو کې چې مسواک نه وي وهل شوی (ابونعیم)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په يو حديث کې دي کوم کس چې ښې طريقې سره اودس وکړي اوداوداسه وروسته اسمان طرف ته مخ کړي اوديا کلمات ووايي "أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ" او داوداسه وروسته يې ووايي،نوداسې کس له پاره دجنت اته واړه دروازې خلاصې شي په کومه دروازه چې غواړي داخل دي شي (ترمذي)

په يو حديث کې دي چې چا سورت کهف ووېلې؛ نو ده له پاره به قيامت کې يو نور دي اودهغه مقدار به دلوستونکي دخای نه واخله تر مکې معظمې پورې دي جاچې ئې ټوله سورت کهف ولوستل؛ نو هغه به دډجال دفتنې نه محفوظه پاتې دي (طبراني)

يوحديث مبارک کې دي چې يو تړې ته دالله له پاره اوبه ورکول، اودس اودغسل په ټولښتو کې اوبه اچول ددوزخ نه دخلاصون ذريعه ده

حضور ﷺ فرمايي چې: خلکو ته داڅان اودلومړي صف ثواب معلوم نه دی که معلوم شو نو دې دحاصلولولوله پاره به خلک قرعه اندازي شروع کړي اوکه دلمانځه ثواب خلکو ته معلوم شي؛ نولمانځه ته به په منډو باندې ځي اوکه دسهار اوماسخوتن دلمانځه ثواب خلکو ته معلوم شي؛ نو په سينو به خلک مسجد ته راځي (بخاري و مسلم)

تشريح: مطلب داچې هر انسان دې داڅان او لومړي صف کې د دريدو کوشش کوي. تر دې چې خلکو کې دجګړې کولو اثار پيدا شي؛ نو خلک دې قرعه اندازي کوي اويه قرعه کې چې څوک نوم راشي هغه دې مستحق وګڼل شي، دسينې په ذريعه تلل کنايه ده دمحنت اوکوشش سره مسجد ته تللو څخه.

په يو حديث مبارک کې دي چې څوک ښې طريقې سره اودس وکړي اومسجد ته لاړ شي اودهغه دتلو مقصد يوازې لمونځ کول وي؛ نو دابنده چې يويو قدم پدې: نو يوه ګناه به ورسره معاف کيږي اويه يويو قدم به يې يوه درجه لوړيږي، کله چې دابنده لمونځ کوي: نويه ده باندې دالله فرښتې رحمت راليږي ترکله چې دی دلمانځه په ځای باندې ناست وي: نوفرښتو په ده باندې درحمت سلسله جاري ساتلې وي، دبل لمانځه په انتظار کې که کيني: نويه دې وخت کې هم ده ته دلمانځه ثواب ملاويږي ترهغه چې په مسجد کې يې خوک تنګ کړي نه وي تر هغه پورې فرښتې ده له پاره مغفرت کوي (بخاري ومسلم ومالک)

په يو حديث کې دي چې دجماعت له پاره راتلونکې کس هر يو قدم يوه نيکي واجوي اويوه ګناه ختموي

په يو حديث کې دي چې سهار اومابنام مسجدونو طرف ته تلو والا له پاره الله تعالى دسهار اومابنام ميلمستيا سامان تياروي (بخاري ومسلم)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سید الاستغفار:

په دو حدیث کې د حضور ﷺ ارشاد دی چې کوم بنده ما ښام دا استغفار وایي بیا که په هغې شپه ده نه مرګ راشي، نو داکس په جنت کې خوک کې سهار ووایي، نو بیا دورځې مرګ راشي نو جنت به یې خې. سید الاستغفار دادی

اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي وَأَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ (بخاري)

فائده: دا اعمال مذکوره د سعادت، سلامتي او کامیابي ضمانت دی که مسلمان لږ کوشش وکړي. نو دې اعمالو کول مشکل نه دي بلکې فائده هم خپله ده دبل چا نه ده افسوس مه کوه چې ته یې نه پرې دې لوی تکالیف برداشت کوو، ذلت اوچتوو، مګر بیا هم پریشانه یو دې نه یې. اعمالو به کولو سره به سکون او اطمینان او خیر او برکت عزت او سلامتي او کامیابي دي

حکایت:

یو نیک بنده الله تعالی سره وعده وکړه چې دالله نه پرته به بل چاته فریاد نه کوم؛ نوهغه کس حج ته ولاړ اتفاقا کوهي ته پریوت. دوه کسان په لاره تیریدل دیې ویل داکوهي خو په لاره کې دی راځه چې بند یې کړو. په یې خبریې سره خلک په دې کې پریوتی شي، کوهي کې پریوتې انسان وایي راځه چې دې دواړو ته فریاد وکړم، خو سمدلاسه ورته الله سره شوې وعده رایاده شوه. لږ وخت وروسته یو لیوه راغې اودې یې دلاسه ونیوو اوبهر یې وویست. دې وروست یې یو غبیې اواز واوریده چې کوم بنده په مشکلاتو کې موږ ته فریاد کوي زموږ نه پرته په بل چا باندې یقین نه کوي موږ سره مناجات کوي موږ هغه دضائع کیدو نه بچ کوو. مرثة البساتین

اذا لم یکن بینی وبینک مرسل فریح الصبا منی الیک رسول

معنی کله چې زما اوستا په مینځ کې هیڅ واسطه نه وي؛ نو دسهار هوا قاصده جوړه شي مراد یې دادي چې غبیې دقدرت دطرفه اسباب جوړ شي

شو اخلاقو سره اصلاح:

حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله یو دې لوی محدث اوفقیه بزرګ و، دده رحمه الله په امت باندې دې لوی احسان دی. ده رحمه الله قرآن او حدیث ډقانون په شکل کې مدون کړل، حضرت ابوحنیفه رحمه الله حق ګویه اوبې پروا مجاهد و. وایي چې دامام ابوحنیفه رحمه الله یو ګاونډی دنشې عادي و، هره ورځ به یې موچیتوب کاوو اومانبام به یې نشه کوله اوتوله شپه به یې شوروشغب کاوو اویو شعر به یې خاص طور باندې ویلی چې مطلب یې دادی:

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خلکو زه موبیلودم اوخومره شان والا نوجوان مو دلاسو لاړو چې هغه به دخطراتو په ورځو کې د حرمت حفاظت کاو" ددې کس دټولې شپې دشور نه به ګاونديان ډېر تنګ وو. خاص کر حضرت امام ابوحنیفه ﷺ چې دهغه په عبادت کې به خلل پریوت. ددې کس ددې هرکتونو نه یو ګاونډی ډېر زیات تنګ راغی اوپه تهانه کې یې پرې رپورټ وکړ چې داکس دشپې خلک یې آرامه کوي پولیس دی ګرفتار کړ، دشپې چې کله امام ابوحنیفه ﷺ دده اواز واوریده. خلکو نه یې دده باره کې پوښتنه وکړه، خلکو ورته وویل هغه تهانه کې ګرفتار دی. حضرت ابوحنیفه ﷺ سمدلاسه تهاني ته لاړ دتهاني افسر چې امام ابوحنیفه ﷺ ولیدو نو ډېر اعزاز یې وکړ اودراتلو وجه یې تري معلومه کړه حضرت امام ابوحنیفه ﷺ دغیبي ګاونډي دازادولو متعلق خبره وکړه، هغه ازاد شو اوده ﷺ له خان سره راوست. ټوپونه یې وویل چې ایا ته موږ ضائع کړلې، یعنې هغه شعر یې ورته یاد کړ په دې دا شپې ډېر زیات خرمنده شو اونشه یې پریښوده اودامام صاحب ددرس په حلقه کې مستقل شامل شو اوخه زمانه وروسته خپله یو لوی عالم جوړ شو.

فائده: داخاموشه تبلیغ دی دعمل تبلیغ دکردار تبلیغ دوران شویو خلکو دبدلولوپه طریقه اخلاق عالیه دي چې زموږ په بزرګانو کې موجود و.

الله تعالی دي موږ ټولو ته ددې پاکیزه هستیوداتباع توفیق راکړي. آمین.

حضرت خواجه معصوم سرهندي ﷺ فرمایي: اتباع سنت کې کوشش وکړئ دبدعت نه واهل بدعت نه لیرې پاتې کیږئ، دصلحاوو اوفقراوو صحبت لازم ونیسئ. کوم ځای کې چې خلاف شرع کار وګورئ دهغه ځای نه ځان ساتئ.

باعاشقان نشین وهمه عاشقی گزین باهر که نیست عاشق هرگز مشو قرین

او صادق عاشق هغه دی چې دحضور ﷺ په متابعت باندې ټینګ ولاړ وي

په یو مکتوب کې فرمایي چې: اې ورورہ! دناجنس اومخالفې طریقې دصحبت نه لیرې اوسیږه اودبدعتي دمجلس نه ځان ساته، دیحی معاذ رازي (قدس سره) مقوله ده چې درې اصنافو نه ځان وساته: (۱): علماء غافلین. (۲): قراء مداهنین.

(۳): متصوفه جاهلین (یعنې جاهل صوفیانو نه) حضرت خواجه معصوم سرهندي ﷺ دحضرت مجدد الف ثاني ﷺ زوی دی.

جهانیاں همه گر منع کنند ازعشق من آن کنم که خداوندگار فرماید (حافظ)

ددنیا والا ټول په ټوله ما دعشق نه منع کوي، خوزه به هغه کوم، کوم چې الله تعالی فرمایي

یا الٰہی تو ہمیں عامل قرآن کر دے پھر نئے سرے سے مسلمان کو مسلمان کردے

وہ پیغمبر جسے سرتاج رسل کہتے ہیں اس کی امت کو ذرا تابع فرماں کردے

آمین برحمتک یا رب العالمین

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لارښونې:

رسول الله ﷺ فرمايي هوښيار دی هغه انسان کوم چې خپل ځان کم تر وګڼي اوهغه کار کوي کوم چې له مرګ نه وروسته پکار راشي، کم عقل دی هغه انسان کوم چې دخپل نفس منې اوبه خدای باندې امید ونه تړي

قناعت هغه خزانه ده چې کله هم نه خالي کیږي

مشوره هم امانت ده. دروغژنه صلاح ورکول خیانت دی

یو مومن دبل له پاره داینې په ځیر دی. که یو مسلمان ورور کې څه عیب وګوري؛ نوهغه ورته ووایه

خپل مینځ کې محبت اوهمدردي مثال ددیوال دمثال دی، چې دهغه یوه خښته بله مضبوطوي

سلام کول غریب ته خوراک ورکول دشپې په پټه لمونځ کول.داسلام ښې نشانې دي حکمت ودانائي خپل ورک شوی شی وګڼئ، کوم ځای کې چې ملاشي وایې خله په خدا ملاویدل نیکه خبره کول اوبده خبره لیږي کول.دلاري نه ګمراه کس په سهي لار باندې راوستل کم نظره ته لاره ښودل.دلاري نه کاڼي، ازغي، هډوکي لیږي کول.چاته داوبو وړل راویستل داټول کارونه دصدقې په ځیر دي.

دجهالت نه زیاته بل څه تنګي نشته.عقل نه زیات بل دولت نشته.

خپل وروڼه طعنه مه ورکوه، داسې نه وي چې ته هم په دې جال کې ګیر شې.

دټولو عملونو نه بهتر لمونځ په خپل وخت باندې کول، بیا د مور و پلار اطاعت، دټولو ګناهونونه زیات شرک دی اودمور پلار نافرماني بیا دروغژنه ګواهي اودروغ ویل. (مهر نبوت)

اې الله مور ټولو ته عمل نصیب کړه. (آمین)

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جمادی الثاني دمیاشتې دریمه خطبه

صداقت اسلام

۱۴ جمادی الثانی ۱۵۰۵ هجري کې حجة الاسلام حضرت امام غزالي رحمه الله وفات شوی ده نه حجة الاسلام څکه وایي چې دی د اسلام د حقانیت اوصداقت دلیل دی. الله تعالی ډیر ډیر پناه علمي اوعملي صلاحیتونه ورکړي وو. ډیر لوی فیلسوف وو. مګر وروسته یې علم باطن حقیقي تصوف کې مصروفه شو اوفلسفې ته یې خیرباد وویل اوبه حقیقي علم باطن کې ډیر ژور واقفیت حاصل کړ اودوخت ډیرلوی جید اوبزرګ عالم دین اوداسلام ډیر لوی داعي وو. الله تعالی چې چاته هدایت کوي دهغه سینه اسلام له پاره خلاصه کړي اوخوک چې ګمراه کول غواړي دهغه سینه اسلام له پاره تنګه کړي. دغه راز حدیث نبوي (ﷺ) دی چې الله تعالی چا سره د خیر نیښګنې معامله کول غواړي نو هغه ته ديني پوهه ورکړي. دې وجې نه مسلمانولره پکار دي چې دحضرت امام غزالي رحمه الله کتابونه ولولي اوددوی د تعلیماتو اوتبلیغاتو اشاعت وکړي. تبلیغ وکړي. انشاء الله دامراض روحاني وباطني علاج به وشي روح ته ډیره به یې منور وي. انشاء الله دهدایت لاره به ورته نصیب وي.

حضرت امام غزالي رحمه الله هغه هستي ده چې دهغوی تعریف مسلم اوغیرمسلم دواړه کوي. دحضرت امام غزالي رحمه الله دکتابونو ترجمې په جرمني، انګریزي. اونورو ډیروژبو کې شوي دي. یو انګریز وایي چې زه اسلام له دي وجې حق ګڼم چې دامام غزالي رحمه الله پشان شخصیت مسلمان دی. که په اسلام کې ذره برابر غلطي اوکمزوري وای نو داسې کس به مسلمان نه وُ. بهر حال مونږ مسلمانانولره ددې هستیانو قدر کول پکار دي. دخپلو اسلافو اطاعت کول پکار دي. هغوی مونږ له پاره دنور مناري دي. مشعل راه دي. مونږ دې خپلې خطبې لړ د صداقت اسلام نوم ورکړ. واقعي امام غزالي رحمه الله د صداقت اسلام دلیل اوښکاره ده اوزیاتره ددوی دکتابونو احیاء العلوم اوکیمیاء سعادت نه استفاده شوېده. الله تعالی دې په امام غزالي رحمه الله باندې بې پناه رحمتونه رانازل کړي اوددوی دفیوضات دې مونږ ټولو مسلمانانو ته دحاصلولو توفیق راکړي. (آمین)

ارشاد رب العزت دی:

فَمَن يُرِدِ اللهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ. (پ۸ سورة الانعام آیت ۱۲۵)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه کوم بنده ته چې الله تعالي هدايت ورکول غواړي دهغه سينه داسلام له پاره خلاصه کړي اوچاته چې ګمراهي ورکول غواړي دهغهٔ سينه داسلام له پاره تنګه کړي،داسې لکه چې په آسمان باندې خيژي

تشريح: کله چې الله تعالي هدايت ورکوي نو په زړه کې داسلام محبت پيدا شي،ددين والو سره محبت پيدا شي اودالله تعالى داحکاماتو اودرسول الله ﷺ دسنتو سره محبت پيدا شي.کله چې ګمراهي دچاپه مقدر کې راځي نودهغه په زړه کې اسلام له پاره شکوک وشبهات پيدا کيږي بزرګان دين.علماء ربانيين.اودين والو نه نفرت پيدا شي.دبې دينه اوګمراه خلکو صحبت ورته ښهٔ ښکاره شي اودالله تعالى احکامات اودحضورپرنور ﷺ سنتو نه نفرت پيدا شي :نو پوهه شه چې بدبختي په دې انسان باندې راروانه ده.الله تعالي دي زمونږ په زړونو کې داسلام اواهل اسلام محبت پيدا کړي، دبې دينه دصحبت نه محفوظه وساتي.اواسلام دادی چې بنده دالله تعالي فرمانبرداري وکړي نافرماني نه بچ شي چاچې دابيامونده ، هغهٔ هر څه بيامونده. چاچې دا ونه موندل هغه که ټوله دنيا بيامونده بيايې هم هېڅ ونه موندل.اسلام چې کله دانسان په زړه کې راځي: نودهغه په عمل کې هم راځي ،دالله صفات په بنده کې پيدا کيږي.په انسان کې حوصله. عفو،درګذر ،جذبه ،عدل وانصاف سخاوت وکرم پشان صفات پيدا کيږي

خدايي عقيده:

په تعارف اسلام کې دي.دکائنات يو خدای دی چې ددې مالک وخالق دی، ددې خدای د وجود دټولونه لوی دليل په خپله داکائنات دي چې زمونږ مخې ته دي، کائنات دخپل پوره وجود سره آواز کوي چې يو عظيم خدای دی چې هغه دا جوړ کړي دي اوهغه يې په خپل پې پناه طاقت سره چلوي.مونږ مجبوره يو چې کائنات ومنو اودې وجې نه مونږ مجبوره يو چې خدای ومنو :ځکه چې کائنات منل تر هغه وخته پوري بې کاره دي تر څو چې ددې خالق اومالک ونه منل شي.کائنات دومره حيرت انګيز دي چې دادیو جوړونکي نه بغيره شي جوړيدای اوددې نظام دومره عجيب دی چې ديو چلونکي نه بغير نه شي چليدای،حقيقت دادی چې په خدای منلو باندې انسان دومره مجبوره دی،خرنګه په خپل ځان يا کائنات منلو باندې مجبوره دی. تاسو د سائيکل په پايه باندې يو چانکر کيدئ اوبيا پيډل تيزې سره ټاؤ کړئ چانکر به دهر لرې پريوځي حالانکه دسائيکل رفتار به په مشکل باندې ۲۵ کلومېټره في ګنټه په رفتار سره وي.زمونږ داځکه په کومه چې مونږ اوسيږو هغه هم ديويې لويې پايې پشان ده.ځکه دخپل محورنه زرکلومېټره في ګنټه په رفتار سره روانه ده،دارفتار دسوارۍ واله جهاز درفتارنه تيز دی.مونږ په دې تيز رفتاره ځمکه باندې ګرځو راګرځو کوردونه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ن زمونږ هغه حال نه دی کوم چې په روانه پایه باندې دچانکر
جزه ده،ویل کیږي چې په خمکه باندې زمونږ دقانم پاتې کیدو وجه
که په ډېر لوی قوت راسره راکاږي اودپورته نه دهوا دباؤ کوم چې مونږ
ي دوه طرفه عمل مونږ په خمکه باندې ټینګ ساتلي یو اوهمدا وجه ده
پشان نړ پریږو مګر دا جواب یوازې داوایي چې زمونږ ګېر چاپیره یو
ه،په خمکه دومره لویه پیمانه باندې درانښکلو قوت اودهغې دخلورو
یله هوا پلن غلاف راچاپیره دی، یوازې دمعاملې حیرت ناکې زیاتوي
جه کې هغه نه کموي،(یعنې دې نه خو نور هم دالته قدرت معلومیږي
هر شی معجزه ده،بنده په خاورو کې یوه ډډه شان دانه اچوي بیا هغه
،ګوري چې دخمکې نه یوه سپینه مولی راروانه ده هغه بله دانه اچوي
یوه خوږه ګازره راروانه ده، دغه رنګ بیشمیره شیان پیدا کیږي،یوه
نه امرود بوټې راخیږي،دیوې دانې اچولو سره آم،دیوې دانې اچولو
فوت اودیوې دانې نه دچنار بیا په دې کې دهریو صورت جدا ذائقه
:هریوخاصیت جدا،هم یوه خاوره ده اوناقابل لحاظ وړې وړې دانې
نه شي کیدای،حیرت ناکه معجزه یو کائنات زمونږ نه ګېر چاپیره
ې هلته ټول انسانان ملاؤ شي نو یوه ذره هم نه تخلیق کولی نوهلته
قسم شیان پیدا کیږي،د دنیا هر شی دایتم نه جوړ دی
نزیه دایتمونومجموعه ده، مګر څنګه عجیبه معجزه ده چې یو ځای
ـ لمر پشان روښانه کره ترینه جوړه شي اوبل ځای کې چې راجمع شي
ې شي،ډریم ځای کې دا ایتم راجمع شي نو دپاکوهواګانوچپې ترې
ګې دا ایتم زرخیزه ځمکې په صورت کې رانښکاره شي. دغه رنګ په
ن دي چې دهغو ترکیب دایتم نه شوی دی، مګر دټولو نوعیت او
سې قسم یو معجزاتي کائنات دخپلو بیشمیره سرګرمو سره دانسان
دي،کائناتي انتظام لاندې بې حسابه مقدار کې قیمتي رزق پیدا
کوؤ چې خپل لاس اوخوله وچلوؤ نو خیټې ته یې واچوو. بیا دې نه
ر خوراک خودکاره فطري نظام لاندې زمونږ دننه غذا تحلیل کیدل
ني.هوکې،اونه کانو،اوویښتواونورو ډېرو شیانوصورت اختیار
،جوړه شي،دخمکې اوآسمان بیشمیره ګردشونو نه پس حیرت انګیز
ه تیل ویل کیږي،انسان یوازې داکوی چې داراوباسي اوپه خپلو
اوبیا دا اوبه شکل واله تیل دانساني تهذیب پوره نظام حیرت انګیز

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

طور باندې جاري ساتي. دغه رنګ د کائنات نظام لاندې هغه ټول شیان بیشمیره تعداد او مقدارکې پیدا کړل شو چې په هغو باندې انسان معمولي عمل کوي اودې نه پس صورت نه منتقل شي. دا واقعات ددې خبرې ډیوټ له پاره کافي نه دي چې ددې جوړونکي اوچلوونکي یو دی

د کائنات هر یو شی په خپل کار اوخدمت کې لګیا وي اوداټول فساد اوفتنه شر اومصیبت دانسان دخپل کرتونو اوبدعملوپه وجه باندې ظاهریږي، خکه مسلسل په دوه قسمه منظم کې اخته وي یو دخپل محور اودویم دلمر نه ګیر چاپیره مدار باندې، مګرهغه هیڅ قسم فساد نه پیدا کوي او دیوې عظیم الشانه کارخانې په صورت کې کار کوي ،مګر لوګي نه کوي. په سمندر کې په زرګونو ځناور مري خو هغوی اوبهٔ نه خرابوي، د کائنات نظام دکهربونو کلونو نه روان دی. مګر دهغو منصوبه دومره کامله ده چې دوباره په هغو دنظر ثاني ضرورت نه راځي. بیشمیره سیارې اوستوري په کائنات کې روان دي ؛خو لیکن دهغوی په رفتارکې فرق نه راځي. کله مخکې وروسته کیږي نه، داد تمامو معجزونه لویه معجزه اودتمام کرشمو نه لویه کرشمه ده چې هرلمحه په دنیا کې پیش کیږي، آیا ددې نه پس دڅه ډیوټ ضرورت شته چې دومره لوی کائنات چلولوله پاره دیوعظیم خدای طاقت تسلیمول دي، چانه چې خدای ملاؤ شو هغه ته هر څهٔ ملاؤ شو. دخدای دملاویدو نه پس دبل چا ضرورت نشته. خکه کله چې بنده ته خدای ملاؤ شي نو دانسان توجه مکمل خدای طرفته شي، ده له پاره خدای یوه داسې نهٔ ختمدونکي خزانه جوړه شي چې ده له پاره یکې هر څهٔ ملاویږي کوم چې بنده له پاره په دنیا وآخرت کې پکار وي. خدای تعالي دټولو حکمتونو خزانه ده، دي وجې نه خدای تعالی ملاویدل دبنده شخصیت دنوراني رښاګانو نه منوره کړي، الله تعالی دتمامو طاقتونو سرچشمه ده، دي وجې نه دخدای تعالی ملاویدل بنده دومره طاقتورجوړ کړي چې یو سیلاب یې غرقولي نه شي اویوطوفان دده ونه نه شي ویستی.

رسالت:

مولانا وحید خان صاحب کتاب (تعارف اسلام) کې دي چې کفارو دحضور ﷺ نه دوه دپیغمبرۍ ثبوت وغوښت؛ نوحضور ﷺ په خاموشي سره ددوی سوال واوریده اوله دې وروسته یې دسورت آل عمران ایتونه تلاوت کړل

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ. (آیت ۱۹۰ پ۴)

دحضور ﷺ دا آیت لوستل اوپه نورو الفاظو کې دا ویل چې: زمادنبوت ثبوت داټول کائنات دي چې ستاسو خلورو طرفو ته خور دي دخمکې او اسمان پوره نظام په خاموشه ژبه باندې درسالت اوپیغام رسالت تصدیق کوي. دی اخري اودائمي پیغمبر و، له دې وجې قرآن کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عالمي نظام په رښا کې نشان ډهي وکړل شوه چې داثابتوي چې دی دالله تعالی اخري پیغمبر دی او اوس د دنیا فلاح وبهبود اوکامیابي دحضور ﷺ په اتباع کې ده

کائناتو کې دېر داسې شیان چې په هغو کې نه نقص شته نه خلا. بلکې هغه دمربوط اومضبوط نظام لاندې چلیږي، په کائنات کې مور دقوس قزح مشاهده کوو. مګرهغه خپل خالق نه بنایي حرکت درندګي رښا ده، تخلیق مختلف قسم طاقتونه دي حتی چې قساقسم ځناورو په شکل کې مختلف ویونکي ژبې هم دي، داصورت حال اواز کوي چې خوک ویونکي وي چې دی چا پیدا کړی دی؟ دغه له پاره یې پیدا کړی دی؟ دده مقصد څه دی؟ اوداویونکی پیغمبر دی، همدغه راز دکائنات هر یو شی روان دی، خمکه مسلسل سفر کوي. نظام شمسي په ګردش کې دی، بیا کهکشاں زمور نظام شمسي اونورستوري څن سري واخلي اوهر لمحه روان وي دکائنات قافله خپل ټول اجزاء څان سره یومنزل طرف ته وړي. خو څوک هم دخپل منزل باره کې اعلان نه کوي، کائنات هیڅ هم نه وایي چې هغه دکوم څې نه کوم ځای ته لاړ اوبالاخر دده انجام څه کیدو والا دی؟ په دې قافله کې انسان هم دی اوهغه مسلسل دیو نامعلومه سفر منزل پوره کوي. که چیرته دی دخپل منزل نه پیژني: نو دا سفر به ټول دتیارو اونقصان سفر جوړ شي، ددې صورت حال تقاضا داده چې دلته دې خوک ویونکي وي چې ووایي اوانسان دمعاملي دحقیقت نه باخبره کړي، بیا سوال دا پیدا کیږي چې انسان ته ډېر بیشمیره معاملات راځي؛ نوپه هغیوکې هغه څه وکړي کومه طریقه اختیار کړي کومه دانسان له پاره راه عمل دی دکائناتو هر شی اوبه، اور، خاوره، لمر، سپوږمی. سمندر دیو نظام لاندې مربوط اوپابند دي، مګرانسان ته اختیار دی چې هغه کومه لاره اختیار کړي داحق لاره انبیاء علیهم‌السلام اورسول ښیي، چې خصوصي رهنما دی، انسان ته خپله زندګي بامقصده اوبامعنا جوړولوله پاره دپیغمبر ضرورت دی اود پیغمبر تعلیمات وایي چې دوی واقعي دالله له طرفه رالیږل شوي دي، پیغمبر ویلي دي چې ددې کائناتو خالق اومالک یو الله دی اوهغه دخپل ېې پناه قوت سره دانظام چلوي داداسې ده لکه زمور وجود مور ګورو او وروسوچ کوو ګرځو نیسو منصوبې جوړوو داقوتونه محدود طور باندې زمور دننه دي، مګر دالله په ذات کې داټول کمالات دصفات کامل په طور باندې موجود دي، پیغمبر داهم ویلي دي چې داکائنات بې مقصده نه دي، بلکې ددې یو انجام دی همدغه راز دانسانانو به هم یو انجام وي هغه به قیامت وي چیرته چې به دجزاء اوسزا نظام وي، بنده ته چې په ظاهره کومه ازادي حاصله ده هغه یوازې امتحان له پاره یوې خاصې مودې له پاره ده،له دې نه وروسته به دانظام مات شي اونوی زیات کامل اوابدي نظام به جوړ شي هلته به الله تعالی خپلو طاقتونوسره ظاهریږي چې ددې امتحان دمصلحت له وجې دغیب په پرده کې دی دنن په دنیا کې هر یو ته دفائدې اوچتولو موقعه ده، مګر اخرت کې به فائده فرمانبرداروته وي چې هغوی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بغیر لیدو ددې اطاعت کړی و. دپیغمبر داخبره هم بالکل حقیقت ده له دې وجې چې هغه
خدای کوم چې انسان دلیدو اوریدواوپوهې والا جوړ کړ، څومره عجیبه خبره به وي چې
انسان داسې پیدا شي اومړ شي اووده خدای دده مخې ته ظاهر نه شي چې هغه دې وویني
اووپیژني بیا موجوده کائنات دومره باحکمته دي چې په یو صورت هم داخبره قابل تصور نه
ده چې ددې به یو انجام نه وي داسې یوه ورځ رانشي چې هغه کې ظلم ظلم اوانصاف انصاف
نښکاره نه شي. بیا انسان فطرتا دیوې سهارې محتاج دی؛ نواصل سهاره دالله تعالی ذات
دی. باقي ټولې سهارې عارضي اوفاني دي،داخبره پیغمبر کړې ده چې اصلي سهاره دالله
تعالی ذات دی چې یوازې ورکونکی دی اخیستونکی نه دی چې دهغه خزانې لامحدوده دي،
ګني په دنیا کې خو دیو مفاد دبل په نقصان باندې دي ، مګر خدای تعالی هغه ذات دی چې
ورکوي اونقصان نه ورکوي. له دې پرته داده چې انسان څومره هم قوانین ددنیا دنظام چلولو
له پاره مګردهغه نه بېخ کیدای شي ددغه قانون دماتولو لارې موجودې دي، داخو یوازې دالله
تعالی ذات دی چې هر وخت کې، هر یو سره موجود وي هغه ده ته ګوري له دې وجې کله چې
دخدای یقین درته پیدا شي؛ نوبنده به غلط کار نه کوي، دنیا کې سهې نظام چلولو له پاره
قرباني ورکول وي.کله دبل درایې مقابل خپله رایه پرېښودل وي،کله به خپل کریډټ دبل
دراضي کولو له پاره هغه ته پرېښودل وي.کله دخپل مفاد په مقابله دنورومفاد ته ترجیح
ورکول وي. کله خپل ګټې شوی مال به بل ته ورکول وي،که قرباني نه وي؛ نو دنیا به تباه
اوبربادشي. اوس دقرباني له پاره چې کومه سهې نتیجه اوبدله ملاویږي په دې سره معاشره
کې دظلم جړې کټ کیږي اوصالحه ماحول پیدا کیږي، بیا چې حضوراکرم ﷺ کوم دین
راوړ. هغه تر قیامته پورې دی. حضور ﷺ اخري نبي دی، دده دین یې په ټولو دینونوباندې
غلب کړ. دحضور ﷺ منونکي خلک یې په کمه موده کې په ټوله دنیا باندې خواره کړل اوتر
دحضوراقدس ﷺ دراتلو خوارلس سوه کاله وشول اوترننه پورې دین کې څه تبدیلي رانغله،
هغه په خپل خالص شکل کې موجود دی ځوک یې هم نه شي ختمولی، مغلوب یې نه کړ
دادحضور ﷺ ددین دحق اواخري کیدو دلیل دی.

اخرت:

اخرت کې چې انسان ته کومه بدله ملاویږي هغه دانسان ددنیا داعمالوردعمل دی، مثلا:
اخرت کې اعمال په خپل اصلي صورت کې جزا اوسزاجوړ شي اومخې ته به راشي، مثلا: سره
زر. دمال زکات یې نه دی ورکړی؛ نوهغه به انګار جوړ شي، دبې لمازه خلکو به سرونه وچقول
شي. زکات ورکونکو خلکو ته به بدله په څو چنده زیاته ملاو شي چې دنعمتونو په شکل کې
به وي. دجزا اوسزا معامله نبي کریم ﷺ دمعراج په شپه باندې عالم مثال کې ولیده،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مگر هغه به اخرت کې حقیقت جوړیږي اومخې ته به راځي، نبي کریم ﷺ وکتل چې دبې لمانځه خلکو سره ونه چغول کیږي. مال دالله په لاره کې نه ورکونکي خلک دخنداورو په څیر ګیا خوري. خیانت کونکي خلک په خپل سر باندې ناقابل برداشت بوج اوچتوي اوراوړي، دژبې حفاظت نه کونکي خلکو ژبې په قینچیانو باندې کټ کیږي، فتنه خورونکي انسان به دغوایي په شکل باندې یو وړوکی سوري کې په زور دننه کوي، غیبت بدرد ویونکي خلک به خپل وجود نه غوښې پخپله کټ کوي اوخوري به دیتیمانو مال خورونکي انسان به انګار خوري، دسودخورونکي انسان خپته به دمارانو اولړمانانو ډکه وي. بدکار سړي اوښځې سهي غوښه پریږده اوبدوداره غوښه خوري، همدغه راز نبي کرم ﷺ دجنتیانو متعلق انعامات اوحوري اودهغوی محلات ولیدل. نبي کرم ﷺ فرمایي چې جنت والا به خوري اوڅښي. مګر هغوی به نه لاړې توکې اونه به متیازي کوي اونه ډک قضاء حاجت کوي. خلکو تري پوښتنه وکړه چې دخوراک به څه کیږي؟ ویې فرمایل: ګرمې اوخوله به وخې چې دمشکو په څیر به خوشبوداره وي .دوی ته به حمد اوتسبیح دغه رنګ الهام کیږي څرنګه چې تاسو ساه اخلئ

تریح: معلومه شوه چې جنت یوه داسې دنیا ده چې هلته ایرې اوګند هم دخوشبو په صورت کې خارجیږي. بداعمال، بغض، حسد، تکبر، ظلم، بخل داټول هیرې دي کوم خلک چې دې نه پاک نه وي هغوی به جنت ته نه داخلیږي. جنت دالله تعالی هغو بنده ګانو له پاره دی چې دنفرت په وخت کې محبت وکړي.

دانتقام په موقعه باندې معافي وکړي.

دحسد اوبغض په موقعه باندې دخیرخواهي ثبوت ورکړي.

دتکبر په وخت کې دخاکساري مظاهره وکړي.

دظلم په موقعه باندې انصاف وکړي.

دا داسې شوه چې دی خپل کثافت اوهیري دخوشبو په صورت کې ظاهروي اوهمدا خصوصیاتو والا خلک به جنت کې دهره کیږي.

شیطاني طریقه داده چې کله یو ناخوشګوار صورت مخې ته راشي: نو بې خوفه کیدل اوجوابي کارروایي کول هغه دنفرت جواب په نفرت سره ورکړي دغوسې په مقابله کې غوسه وکړي اواعلی صفات دادي چې بنده دالله تعالی نه وویریږي دنفرت په مقابله کې محبت وکړي. حضور ﷺ فرمایي: ماته زما رب حکم وکړ چې کوم زما نه جدا شوی دی. زه دهغوی سره جوړ پیدا کړم څوک چې ما محرومه کړي زه هغوی ته ورکړم څوک چې په ما ظلم وکړي زه هغوی معاف کړم. دغه راز مختلف احکامات دي چې دهغو نه معلومیږي چې دمومن ته

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مطلوب داده چې هغه دخلکو دسلوک نه بالاتر هغوی سره معامله وکړي دمنفي سلوک په جواب باندې مثبت سلوک وکړي.

په یو حدیث مبارک کې دی "فَإِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ تُرَدُّ عَلَيْكُمْ" (مصنف ابن ابي شيبة)

یعنې دبنده خپل اعمال دي چې په اخرت کې به ده ته واپس کیږي په دنیاکې به دبنده اخلاق اواعمال اخرت کې دمادي نتائجو صورت اختیاروي، کله چې زمونږ اعمال مادي صورت اختیاروي: نو دا به دوه صورته شي یو جنت اوبل دوزخ.

عبادت:

زاهد خلك شب زنده دار دي داخلك په نرمو اوګرمو بسترو باندې خوب په ځای دشپې پورته کیږي اوپه یاد الهي کې مصروفه وي، یعنې هغوی په زبان حال سره داوایي:

والناس فی سدف الظلام ونحن فی ضوء النهار

خلك دشپې په تیارو کې په اطرافو وي او مونږ دشپې په رڼا کې ساه اخلو..

حضرت فضیل بن عیاض ﷺ اول ډاکو و، بیا الله تعالی دتوبې اواخلاص په نعمت باندې سرفرازه کړ. نتیجه داشوه چې دپیشې رخ یې بدل شو، که اول یې دخلکو مال لوټ کاوو؛ نو اوس دمعرفت الهي خزانه لوټ کوي، دابوعلی رازي ﷺ قول دی چې زه دده په صحبت کې دیرش کاله وم. ماکله دی په تبسم اوخندا باندې نه دی لیدلی، ځکه چې په طبیعت باندې به یې دغم غلبه وه. یوځل ده وخاندل کله چې دی لخت جګر علی وفات شو، ماترې پوښتنه وکړه چې تاسو ولې وخاندل. ده جواب راکړ، چې کله زما اقا اومولی ته زما دزوی مرګ خوښ دی؛ نو زه ولې ونه خاندم. ددنیا متعلق دهغه نقطهٔ نظر داوو. "لَوْ أَنَّ بِهٰذَا فِيرِهَا عُرِضَتْ عَلَيَّ وَلَا أَن يُحَاسَبَ بِهَا لَكُنتُ أَتَقَذَّرُهَا كَمَا يَتَقَذَّرُ أَحَدُكُمُ الجِيفَةَ" که دنیا دټولو دلچسپو سره ماته پیښه شي اوپه دې باندې دځه محاسبې ویره هم نه وي؛ نو بیا به هم زه داسې ناپاکه وګڼم، لکه څنګه چې تاسو مرداره ګڼئ.

حضرت بایزید بسطامي ﷺ فرمایي چې ما ته معراج روحاني حاصل شوالله تعالی زیارت مې وکړ. الله تعالی وفرمایل ابویزید! ته دخپل انانیت دقید نه هغه وخت کې وتلی شې کله چې زما دمحبوب پیروی وکړې اوهغه خاوره په کومه چې دهغه نقش پروت دی خپل خان له پاره غټه سرمایه وګڼې.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت شقیق بلخي رحمه الله :

وايي چې دده پيشه تجارت وه، يو خل قحط شو چې دهغه نه دی ډېر پريشانه و، سوچ يې کړو چې رزق دفراخ والي له پاره څه تدبير وکړي. په دې وخت کې ګوري چې يو غلام په مزو چرچو کې اخته دی او خوشالي نه ګډيده، له هغه يې پوښتنه وکړه دقحط اوپريشاني په وخو کې داسې مستي ولې؛ ايا تاته دخوراک څښاک فکر نشته، هغه وويل جناب نه زما دمالک يو کلی دی چې هغه موږ دواړه احتياج نه خلاص کړي يو، دی هم متاثره شوپه زړه کې وويل چې ښه مولا و اقا سره ددې قول کائنات شادابي اورنګيني نه ده اوکه ستا تعلق ددې نه هم کم دی خومره چې ددې غلام دخپل اقا سره دی؛ نوبيا په دې باندې دپريشاني اواضطراب څه معنی (تعليمات غزالي رحمه الله)

حضرت جنيد رحمه الله :

فرمايي دتصوف بنياد دکتاب اوسنت په تصريحاتوباندې دی، لهذا چې کوم بنده ددې نعمتونو نه محرومه دی هغه تصوف بوی هم نه محسوس کوي، کرامت يې دفضيلت معيار نه ګڼه دده دبزرګي شهرت يې چې واوريدو؛ نوده ته راغی اوترڅه وخته يې دده حرکات اوسکنات په غورکتل. اخر يوه ورځ يې اجازت طلب کړ، حضرت جنيد بغدادي رحمه الله ترې پوښتنه وکړه؛ دومره زر ولې ځي، ده ووېل: زه په دې نيت باندې راغلی وم چې تاسو به ډېر لوی ولي الله يئ اوتاسو سره به لوی لوی کرامات وي، ما خويو کرامت هم ونه ليد چې دهغه نه ستاسو دولايت اندازه وشي. جنيد مسکي شو، هغه وويل: ايا تا په دې دوران کې ليدلي دي چې ما فرائض پريښي وي. هغه وويل: نه، ده ترې بيا پوښتنه وکړه، تا ليدلي چې ما چيرته سنت پريښودل. ده وويل: نه. بيا يې ترې پوښتنه وکړه، ايا زه دې په مستحباتويا اداب ترک کولو باندې ليدلی يم. ده وويل: نه، نو حضرت جنيد بغدادي رحمه الله وفرمايل چې داخو اصل کرامت دی

طهارت:

دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دی "بني الدين علي النظافة" (الحديث) ددين بنياد پاکيزګي ده.

دوې حديث دی "الطهور نصف الايمان" پاکيزګي نيم ايمان دی.

دلمنځه چاپي (کونجي) پاکيزګي ده ظاهري اوباطني دواړه پاکيزګي ضروري ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضور اکرم ﷺ چې څه وفرمایل پاکیزګي نیم ایمان دی؛ نو ددې مطلب هر ګز دا نه شي کېدای چې اوبو سره اعضاء روح وینځل پکار دي اوپاکول پکار دي، مګر زړه اوباطن بلدستور غلاظتونو اوعفونتونو نه الوده شي اوددې دپاکیزګي اوصفايي هیڅ اهتمام نه دي پکار، بلکې دباطن زړه صفايي پکار ده، خودنن دور کې صفايي دې ته وايي چې خلک رعونت اوتکبر. تزئین وآرائش ظاهري ښکلا اوښاوټ دین ګڼي. دوي دنياوي په خير جوړ ساز ناست وي. لکه چې بس دا حاصل حیات وي، دظاهر خو ښکلا ده، مګر دزړه حال دادی چې اخلاقي رذیله نه ډک دی.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې "اِنَّ الْوُضُوءَ الصَّالِحَ يَطْرُدُ عَنْكَ الشَّيطَانُ" په ترجمه اواهتمام سره شوی اودس تاسو دشیطان نه لیرې ساتي.

لمونځ:

حضور ﷺ وفرمایل چې پنځه وخته لمونځ داسې دي لکه چې ستا دکور مخې ته یو نهر بهیږي اوپه دې کې ۲۴ ځلې زیاتې اوبه وي اوپه ورځ کې پنځه وخته په دې لامبې؛ نو ایا ستا په وجود به خیري پاتې شي، صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ چې بالکل نه، حضور ﷺ وفرمایل چې دلمونځ دغه حال دی ځنګه چې په اوبو سره خیري لیرې کیږي همدغه رنګ په دې سره دګناهونو داغونه اونشانات ختمیږي. په یو بل حدیث کې دي فرمايي حضور اکرم ﷺ اې ابوهریره؛ خپل بال بچ ته دلمانځه تلقین کوه چې ددې په برکت سره الله تعالی دداسې اطرافو نه درزق بندوبست کوي چې ستا په وهم اوګمان کې به هم نه وي.

دالله تعالي په لاره کې خرچ کول:

شاه اسماعیل شهید رحمه الله په خصائل حمیده کې یو داهم و چې دګلې اوباران په ورځ به بهر کیناست یا به په میدان کې ولاړ و که چاته به څه حاجت و؛ نو دهغوی حاجت به يې پوره کاوو، که څوک به مظلوم و؛ نو هغه دادرسي به يې کوله اوضعیفوته به يې صدقه ورکوله اودهغوی ښو حالاتو له پاره به يې پوره کوشش کاوو اودواپس کیدو په وخت به يې دشکرانې لمونځ کاوو اوالحمد لله به يې ویل چې نن ورځ زما دمخلوق خدا په ښیګړه اووسعت ورکولو کې تیره شوه خلکو به ویل اې دواړو اوباران ورځ (یعنې کله چې په یخني کې واوره اوباران وریږي) نومالدار خلک به دکور نه بهر نه راوتل په داسې ورځو کې به مالدار کیناستل هم نه بلکې په تکلیف کې به مبتلا وو. ددې څه باعث وو یې فرمایل: په داسې ورځو کې غربا،

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

او کمزوري خلک د هر زیات تنګدسته وي، که په داسې ورځو کې دیو کس هم دخدمت موقعه ملاو شي؛ نو دهغه دعا قبولیت ته نزدې وي

مکرم جنس هے یاد دستگیری نیم جانوں کی خریدا کریں جتنی دعائیں ناتوانوں کی

حکایت:

ډیلوی تعمیرات کول بالکل فضول اوبې فائدې دي انسان ته پکار دي چې بقدر ضرورت کور جوړ کړي. ګني هسې به یې هم پریږدي اوپه زړه کې به یې په زرګونو حسرتونه. ارمانونه به پاتې شي. ددې واقعې نه عبرت حاصل کړئ، وایي چې امیر المومنین مهدي یو ډیوی محل تعمیر کړ. خلیفه وویل چې: څوک دي هم ددې دنظاري نه منع نه شي. کتونکي به یا دوست وي یا دښمن که دوست وي، خو خوشاله به شي اوکه دشمن وي؛ نوتکلیف به ورنه ورسیږي په غم کې به اخته شي اوپه زړه به یې بوج شي اودهر بنده داکوشش وي چې دښمن یې په غم کې اخته وي. که په دې محل کې څوک غیب راوباسي؛ نو موږ به یې حل کړو اوداهم موږ نه پاره فائده مند ده. یو فقیر وویل په دې کې دوه نقصانه اودوه خامي دي:

(۱) یو داچې تاسو به په دې کې همیشه نه اوسیږئ.

(۲) دویم داچې دامحل به همیشه نه وي.

خلیفه ددې خبرې نه دومره متاثره شو چې دا محل یې دفقیرانواوغریبانو له پاره وقف کړ

هوئے قصر فنا سے عالی بے نشان لاکھوں تیری عبرت کو منعم ایک باق قصر گردوں ہے

کہہ رہا ہے باغ میں ہر ایک گل زبان حال سے مبتلائے خار غم رہتا ہے جو زردار ہے

یا اله العٰلمینه! زموږ ټولو زړونو کې داسلام محبت اوپه دې باندې دعمل کولو توفیق راکړې (آمین)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جمادي ثاني دمياشتي څلورمه خطبه

عشق اوحب رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دځينو تاريخونو په اعتبار سره ۲۲جمادي الثاني اودځينو په نزد ۲۱جمادي الثاني ۱۳هجري کې حضرت امير المومنين خليفة المسلمين سيدنا ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفات شوی و اوله دې وروسته دحضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخلافت اغاز وشو.

حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سهي معنا کې محب رسول ﷺ و دده محبت دحضور ﷺ سره خنګه و. دحضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حالات اوسيرت مورِ مطالعه کړو اوبيا داخپل محبت دحضوراقدس ﷺ سره وګورو چې ايا مونږ په سهي معنا کې عاشقان اومحبان يو، که يوازې دعويداريو. له دې وجې ددې خطبې موضوع مورِ حب رسول کينبوده، الله دې تولو مسلمانانوته دحضرت صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اقتداء اواتباع کولو سره په سهي معنا کې محبت رسول ﷺ نصيب وګرځوي. آمين

قرآن مجيد فرقان حميد سهي محب رسول هغه چا ته ويلې دي کوم چې دحضور ﷺ داخلاقو، اعمالو اوارشادات پيروي اواتباع کوي، له دې پرته دعوه دمحبت ده محبت نه دی، ويې فرمايل: قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (پ۹آيت ۱۵۸سورة اعراف)

په دې ايت کريمه کې دحضور ﷺ دعالمي نبوت اواتباع ذکر شوی دی.

ترجمه: تاسو ﷺ ووايئ چې: اې «دنياجهان» خلکو! زه تاسوتولو ته دالله له طرفه راليږل شوی (پيغمبر) يم، چې دهغه بادشاهي په ځمکه اواسمانونو کې ده له هغه پرته دعبادت لائق څوک نشته هم هغه زندګي ورکوي اوهم هغه مرګ ورکوي، داسې الله باندې ايمان راوړه اوددې نه پرته، نبي امي باندې (هم) چې خپله الله باندې اوددې په احکاماتو باندې ايمان لري اودهغه نبي اتباع وکړئ ددې له پاره چې تاسو په راه راست باندې راشئ.

تشريح: په ايت کې يې دنبي کريم ﷺ دعالي شان متعلق بيان وفرمايه چې حضوراقدس دتول عالم نبي دی، يعني نبوت په ده باندې ختم شو اودا اعزازهغه خداى تعالى ورکړ چې دهغه بادشاهي په توله ځمکه اواسمانونو باندې ده، له دې وجې ددې خداى په بادشاهي باندې ايمان راوړه.توحيد پرست جوړ شه مشرک مه جوړيږه.

:عبادت لائق هغه دی هغه حاجت روا دی مشکل کشا اوفرياد رسي دی.

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

برکت اودلت دهغه په لاس کې دی نفع اونقصان دهغه په لاس کې دی
عزت اوذلت دهغه په لاس کې دی صحت اونارغې دهغه په لاس کې دی

عزتي اوزوند دهغه دي خدای خاص بنده ګان جوړ شو اودهغه درسول ﷺ نبي امي چې کومه طریقه ژوند دي وجې ښودلې ده دهغه مطابق عمل وکړو. یعنې دالله تعالی حکم ومنو اطاعت درسول ﷺ فرمانبرداري یې وکړو. مګر دحضوراقدس ﷺ بنودل شوي طریقې مطابق که دهغه طریقه فرمانبرداري نه کوو، ګمراه به شو، ځکه چې هغه نبي امي خپله په الله باندې ایمان لري اودهغه حکم پریښوده. ګمراه به شو، ځکه چې هغه نبي امي خپله په الله باندې ایمان لري اودهغه عبادت کوي اوفرمانبرداري یې کوي، اګر که ته اوزه داسې په الله باندې ایمان راوړو اود حضوراقدس ﷺ سنت اوطریقه باندې عمل کوو؛ نوهدایت به بیاپیدا کړو، ګمراه به شو

مینه دار سعدی که راه صفا — تواں یافت جز دریے مصطفیٰ ﷺ
خلاف پیمبر ﷺ کسے رہ گزید — که هر گز بمنزل نه خواهد رسید
رگ رگ میں محبت ہو رسول عربی کی — جنت کے خزائن کی بھی بیع سلم ہے
وہ رحمت عالم شہ اسو و احمر — وہ سید کونین ہے آقائے امم ہے
وہ عالم توحید کا مظہر ہے کہ جس میں — مشرق ہے نہ مغرب ہے عرب ہے نہ عجم ہے
دل نعت رسول عربی کہنے کو بے چین — عالم ہے تحیرکا زبان ہے نہ قلم ہے

(از کلام مفتی اعظم حضرت مفتی محمد شفیع ﷺ صاحب)

په دې موجوده دور کې دسرورکونین ﷺ دسنتو نه کله مخ اړول کیږي اومسلمانان دخپل دین تعلیمات پریږدي اودغیرو طریقې خپلې کړي، ددې خبرې شدید ضرورت دی چې مسلمانانو ته بار بار اسلامي تعلیمات اودسرورکونین ﷺ سنتونوطرف ته دعوت ورکړي، ځکه چې دمسلمانانو دنیوي اواخروي هر قسمه اصلاح اوفلاح اتباع سنت کې مضمره ده.

محمد ، حامد ، حمد خدا بس — خدا مدح ، آفرین مصطفیٰ بس

اَللّٰھُمَّ صل علیٰ سیدنا محمد وآله واصحابه وبارک وسلم.

خالق کائنات الله تبارک وتعالی قول بني نوع انساني دحصول شرف انسانیت اوتکمیل عبدیت له پاره اوخپل قول احسانات اوانعامات نه مشرف اوبهره اندوز کیدو له پاره چې کله داسې خیرالبشر نبي الرحمة ﷺ یې یو مثال جوړ کړ اومبعوث یې کړ؛ نوایمان راوړو والا باندې ادا شکر اومتنان له پاره خنګه چې حضور ﷺ باندې درود او سلام لیګل واجب شوي دي. همدغه راز یې په هره شعبه زندګي کې دحضور ﷺ داطاعت اواتباع هم مکلف جوړ کړو، په تصریحات قرآني کې بالکل واضح دي ځکه چې هم حضور ﷺ سره څومره قُرب حاصلوي هغه به هومره الله جل شانه ته قریب کیږي اومحبوب بنده به جوړ شي، داسې ده چې اتباع سنت روح عبادت دی اوحاصل بندګي ده اودبنده کوم فعل چې دسنتو خلاف وي هغه عبادت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نه دی. بلکې ښکاره ګمراهي ده، درسول الله ﷺ تول مکارم اخلاق، انداز اطاعت اوعبادت اوحالات جلوت اوخلوت اوتول اعمال اواقوال اوتعلقات اومعاملات زندګي دهرقوم اودهرې طبقې اودهر جماعت اودهر فرد له پاره هره زمانه اودهر وخت کې بهترین مثال اونمونه ده. له دې وجې الله جل شانه فرمايي

"لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ اسوة حسنة لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللهَ" (پ ۲۱ آیت ۲۱ سورة الاحزاب)

بیشکې ستاسو له پاره دحضور ﷺ زندګي بهترینه نمونه ده.

درسول ﷺ شاعر حضرت حسان بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي:

وأحسنُ منكَ لم ترَ قطُّ عيني وَ أجْمَلُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

خلقتَ مبرأً منْ كلّ عيبٍ كأنكَ قدْ خلقتَ كما تشاءُ

له تانه ښکلی کله هم نه دی لیدلی سترګو زما، اوله تانه ښکلی کله هم نه دی زېږولی ښځو پیدا کړل شوی یې ته پاک له هرډول عیبونو. بېشکه ته چې پیدا کړل شوی داسې لکه چې ستا خوښه وي

فراست صدیقي:

دمسجد نبوي ﷺ په منبر باندې حضوراقدس ﷺ دا اخري خطبه وفرمایله: حضرت ابوسعیدخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې: رسول اکرم ﷺ خپل مرض وفات کې یوه ورځ دخپلې حجرې نه راووت مسجد نبوي ته یې تشریف راوړ چیرته چې موږ مخکې ناست وو، دغه وخت کې حضور ﷺ په خپل سر مبارکه باندې کپړه تړلې وه (څنګه چې دسردرد والا مریض سرتړي) بیا حضور ﷺ منبر طرف ته لاړ اویه هغه باندې ودریدل، حضور ﷺ سره موږ هم مخکې شو اومخې ته کینастو، دې وخت کې حضور ﷺ دحمداوثنا وروسته وفرمایل: قسم مې دی په هغه ذات باندې دچا په قبضه کې زما روح دی زه په دې وخت کې په خپل منبر باندې ولاړ یم اودحوض کوثر نظاره کوم، بیایې وفرمایل چې: یو انسان دی اودهغه مخې ته ددنیا فاني زندګي کینبودل شوې اوبیا دفاني دنیا سپرلی ورته وړاندې کیږي، خوددنیا فاني نعمتونو باندې داخرت نعمتونو ته ترجیح ورکړه.

حضرت ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې: ددې ارشاد دراز نه پرته دابوبکرصدیق نه څوک هم پوه نه شول. کله چې یې زبان رسالت نه دالفاظ واوریدل؛ نو حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دسترګونه اوښکې روانې شوې اوبه ژړا شو بیا یې وویل: (نه) یا رسول الله ﷺ (نه) داسې غمناکه خبره مه کوی. موږ به خپل پلاران خپلې میاندې، خپل ځانونه اوخپل مالونه به تاسو باندې صدقه کړو. حضرت ابوسعیدخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې: له دې وروسته نبي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اکرم ﷺ منبر نه را خوز شو او تشریف یې یوړو اوبیا کله هم په منبر کینه ناست (یعنې په دې وخ) باندې دده په منبر باندې اخیري ناسته وه.

خبره: دا د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دفهم او درک کمال و چې د حضور ﷺ په دې ارشاد باندې سمدلاسه پوه شوچې اوس زمونږ او د حضور اقدس ﷺ په مینځ کې اوس د جدایې وخت راغلی دی اوهغه مونږ سره دیو څو ورځو میلمه دی، هغه خو داحقیقت یا د حضور ﷺ دسختې نارغې له وجې پیژندلی و او یا د حضوراقدس ﷺ په ارشاداتو باندې ژور نظر اچولو باندې پوه شوی و چې د دنیا دعزت اوپر بهاره نعمتونو نه مخ اړول او داخرت ابدي حقیقتونه په رضا اورغبت سره اختیارول هغه صفت دی چې یوازې دالله نیک اومقرب ترین بنده ګانو مقام تسلیم اورضا اوقرب ظاهروي دلته دهغه پوهیدل چې د دې دنیا نعمتونه د سیدالانبیاء ﷺ شایان شان نه دي، لهذا دده ذهن دې طرف ته لاړ چې د حضور ﷺ دیو بنده په ذریعه باندې دراصل خپل ذات طرف ته اشاره کوي چې دنیا حیات اوبقاء یې پریښودل اومرګ اوبقاء حق اختیارولو فیصله یې وکړه، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ به فرمایل چې حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مونږ تولو کې زیات دانا اوزیرک و. هغه داپته نه پوه و. چې کوم بنده ته اختیار ورکول کیږي هغه خپله حضوراکرم ﷺ دی. دادی حقیقي محبت اوتعلق چې خپل ځان دخپل مور پلار ځان خپل مال په حضوراکرم ﷺ باندې قربانولولو پاره صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تیار و، مونږ مسلمانان هم خپل ګریوان کې وګورو چې ایا مونږ هم دنبي پاک ﷺ په سنتو باندې جان مال قرباني ورکولو ته تیار یو؛ نودخوشالي خبره ده. ګني زمونږ ایمان ناقصه دی دخپل ایمان دقوي اومضبوط کولو ضرورت دی. خالي میلاد کول. دمیلاد جلوسونه ویستل، خوراک تیارول اوخوړل، محافل نعت قائمول اوفضول خرچي کول. شمعي اوډیوې بلول اوکانفرنسونه کول دا دنبي محبت نه دی. بلکې دحضوراقدس ﷺ اسوه حسنه باندې عمل کول دحضور ﷺ په ارشاداتو اوسنتو باندې ځان قربانول اودبې دیني مقابله کول، په خپل مسلمانیدو باندې خوشالیدل اوپه دې باندې فخر کول اودیهودو نصاراوو طورطریقو نه نفرت کول محبت رسول ﷺ دی، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ جلوس اومیلاد نه وو ویستلی، څه چراغان یې نه وو کړي، کانفرنسونه اوجلسې یې نه وې کړې. دنعتونومحفل یې نه وو قائم کړي، بلکه حقیقي محبت اواطاعت اوفرمانبرارۍ یې ښودلې وه.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ أمت ته په ډېر نازک حالت کې سهاره ورکړه:

دحضوراکرم ﷺ له وفاته وروسته قریبه وه چې په اُمت کې ډېر لوی اختلاف پیدا شوی وای. خینې صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن خو درسول الله ﷺ وفات هم نه تسلیماوو، بیادحضوراکرم ﷺ دتدفین مسئله؛ نوداحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په ډېرې ښې طریقې باندې پوره کړه. بیا له دې وروسته دارتداد مسئلو سر پورته کړ؛ نوحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ددې خلاف جهاد وکړ اوددې مسئلو سرکوبې یې وکړه.

حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا فرمایي چې: کله رسول الله ﷺ وفات شو اودحضور ﷺ دتدفین پاره کې اختلاف پیدا شو؛ نوحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمایل: مادې پاره کې خپله درسول الله ﷺ نه یوه خبره اوریدلې وه، حضور ﷺ فرمایلي وه، چې الله تعالی دهرنبي روح هغه خای کې دفن کوي کوم خای کې چې دهغه نبي خواهش وي، لهذا نبي اکرم ﷺ هغه خای کې دفن کول پکار دي کوم خای کې چې هغه په بستره باندې و اوکوم خای کې چې دده وفات شو

تشریح: صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن کې اختلاف راغې، یعنې دځینې حضراتو دا وینا وه چې دحضور ﷺ تدفین په بقیع قبرستان کې پکار دی اوځینو ویل چې: په مسجد نبوي کې دفن کول زیات مناسب دي، بلکې دځینو حضراتو رایه داوه چې حضوراکرم ﷺ تدفین په بیت المقدس کې پکار دی. ځکه چې داکثر انبیاوو عَلَیْہِمُ السَّلام قبرونه هلته دي، یا دځینو خو دسره دفن کولو باره کې اختلاف وو، چې ایا حضوراقدس ﷺ دفن کړو اوکه نه.

حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمایل په کوم خای کې چې الله تعالی دحضوراکرم ﷺ روح قبض کړ دغه خای پاک اوطاهر دی. صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن پوه شول چې ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ څه فرمایي هغه سهي دي اوهمدغه راز حجره عائشه چیرته چې دحضوراکرم ﷺ روح قبض شوی و هم هلته دفن کړای شو.

فائده: حجره عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا کې دحضوراکرم ﷺ قبر جوړ دی داددې خبرې دلیل دی چې ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ربښتینی اوسهي عاشق رسول و اودده لور عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا ام المومنین هم دحضور ﷺ جانشاره اووفاداره بي بي وه، له دې وجې الله تعالی هم دهمیشه له پاره یو خای کړل تر قیامته پورې به دعائشې صدیقې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا دحجرې هم ذکر کیږي اودحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دمزار دملګري کیدو به هم ذکر کیږي، مخالفین اوروافض به خومره پورې دوی جدا کوي اوتر خو پورې به تیرا بازي کوي اوخپل ایمانونه به ضائع کوي. الله تعالی دې مسلمانان ددې فتنې نه محفوظ وساتي. (آمین)

کفایت کتب خانه ٹبلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ـ حواله دمظاهر حق شرح مسلم کې دي پوهیدل پکار دي چې صحابه کرامو رضي الله عنهم
نبیانو پسې بد ویل حرام دي اواکبر فواحش (سخت لوی ګناهونه) دي. زمونږ اودجمهورو
علماوو مسلک دادی چې څوک هم صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین ته بد رد ووایي هغوی ته
ډې سزا ورکړل شي اوځینې مالکیه وایي چې قتل دي کړل شي اوزمونږ ځینې علماو صراحت
کړی دی چې څوک شیخین یعنې حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه اوحضرت عمر فاروق
رضي الله عنه ته بدرد وایي واجب قتل دي (خو داکار اسلامي حکومت کولی شي دخپل خان نه نه
ځي کولی)

علامه زین ابن نجیم رحمه الله داهم لیکلي دي چې شیخین (حضرت ابوبکرصدیق
صاحب اشباه اوحضرت عمرفاروق رضي الله عنهما ته بد ویل یا لعنت کول کفر دی. همدغه راز په مناقب کردري
کې هم دي ددې دواړو خصوصیت دادی چې ددوی دمناقبو متعلق چې کوم احادیث خصوصي
طور باندې حضوراکرم صلی الله علیه وسلم نه منقول دي هغه دبل صحابي متعلق منقول نه دي. یا له دې وجې
چې ددې کسانو په خلافت باندې دامت اجماع وه ددوی قیادت اوسیرابي په یو صورت کې
هم نه شوه چیلنج کیدای برخلاف دحضرت عثمان، حضرت علي اوحضرت امیر معاویه
رضي الله عنهم اوداسې نور خلفاء ددوی په خلافت دچا دومره اجماع نه وه، بلکې په دې کې دهر
یو په زمانه کې دبغاوت اودخروج عمل ظاهر شوي وو، حضرت شاه عبدالعزیز محدث
دهلوي رحمه الله لیکلي دي چې په دې کې هیڅ شک نشته چې دفرقه امامیه خلک دحضرت
ابوبکرصدیق رضي الله عنه دخلافت منکر دي اودفقهي په کتابونوکې لیکلي دي چې کوم کس
دخلافت صدیقي نه انکار وکړي هغه داجماع قطعي منکر دی اوداجماع قطعي منکر کافر
دی. همدغه راز په فتاوا عالمګیري کې هم دي. (بحواله مظاهر حق جلد ۵ ص ۲۳۰)

په قرآن کې د صدیق اکبر رضي الله عنه د فضیلت بیان:

ارشاد باري تعالي دي:

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا. (پ ۱۰ سورهٔ توبه آیت ۴۰)

دغارثور واقعه یې په دې ایت کې بیان کړه.

ترجمه: تاسو خلک به درسول الله صلی الله علیه وسلم مدد نه کوی، حالانکې الله تعالی په هغه وخت کې مدد
کړی دی کوم وخت کې چې دوی کافرانو جلاوطن کړي وو. چې په دوه کسانو کې یو نبي اکرم
صلی الله علیه وسلم او حضور صلی الله علیه وسلم خپل ملګري ته فرمایل چې ته مه خفه کیږه، یقیناً الله تعالی موږ سره دی.

فائده: الله تعالی چې په خپل مقدس کلام کې دکومې هستئ ذکر دخپل رسول صلی الله علیه وسلم دملګري
(ښکار) په حیثیت باندې کوي هغه ته بدرد ویلو والا انجام به څه وي ددې اندازه خپله لګول

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پکار دي. قرآن کريم حضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته صاحب فضيلت ويل دي:

وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ. (سورة نور پ ۱۸ ايت ۲۲)

ترجمه اوکوم خلك چې په تاسو کې (ديني) بزرګي او (دنيوي) وسعت والا دي، چې دکومې هستي متعلق اشاره ده هغه دابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذات مبارک دی، لکه څنګه چې معلوم مفسرين اوعلماء اسلام وضاحت کړی دی پس ددوی "فضل" انکار کول د قرآن کريم ښکاره رد کول دي

لوی پرهيزګار:

قرآن کريم کې حضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته لوی پرهيزګار وويل شول، ارشاد باري تعالی دی

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ۝ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى ۝ وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى ۝ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى ۝ وَلَسَوْفَ يَرْضَى ۝ (سورة الليل)

داکثر مفسرينو په نزد باندې دايت شان نزول صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی.

ترجمه اودې (دوزخ) نه به داسې کس لرې ساتل کيږي چې ډېر پرهيزګار وي چې خپل مال يوازې په دې غرض باندې ورکوي چې (ګناهونو) نه پاک شي اوسوا دخپل عاليشان پروردګار درضانه ده په ذمه دچا احسان نه و چې دهغه بدله ورکول مقصود و اوداينده ډ عنقريب خوشاله شي (يعنې په اخرت کې نه ورته داسې داسې نعمتونه ملاويږي.

فائده: دا ايت مذکوره بالا هم دحضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان کې دی مفسرين فرمايي چې ددې ايتونو شان نزول دحضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه ده چې دی محض دالله تعالی درضا له پاره خپل ډېرمال خرچ کړ اوحضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوداسې نور.... غلامان چې واخيستل او ازاد يې کړل، کوم بنده ته چې الله تعالی ډېر پرهيزګار ووايي هغه درحمت رضوان مستحق دی (مظاهرحق)

يقينا هغه شخصيت کوم چې قرآن کريم کې ډېرسخي وويلي وي دهغه دخوش نصيبي او سعادتمندۍ اندازه کول هم نامکنه دي اوبدبخته دي هغه خلک چې په داسې پاکيزه خلکو باندې هم زبان درازي کوي اوخپل اخرت خرابوي.

ابن عساکر رَحِمَهُ اللهُ دا روايت نقل کړی دی

"إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ حُبُّ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ إِيمَانٌ وَبُغْضُهُمَا كُفْرٌ (مرقاة المفاتيح/ ۶۰۹ مناقب علي رضي الله عنه/ رووى ابن عساكر عن جابر)

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ابوبکراوعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا سره محبت ساتل ايمان دی اوله دوی سره بغض ساتل کفر دی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل په امت نبو کې دوولو نه زیات کوم بنده چې زمامرسته وکړه اوزما په خدمت اوخوشالي کې دوولو نه زیات خپل وخت اومال ولګاوو هغه ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی، که چیرته ما خوک خپل خلن دوست اوخلیل جوړاوو؛ نوما به ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوست جوړ کړی و. هو اسلامي خوت اومحبت په خپل خای (هېراوچت) دی په مسجد نبوي کې دحضرت ابوبکرصدیق دکړکیو یا روشندان نه سوا بله کړکی یا روشندان پرې نه ښودل شي اوپه یو روایت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمایل: که ما دالله تعالی نه سوا بل څوک دوست جوړولی: نو یقیت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به مي دوست جوړولو. (بخاري و مسلم)

تشریح: مطلب داچې په کوم اخلاص اومحبت سره ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما خدمت وکړ، په اخلاص اوقرباني سره زما ذات باندې یا زما رضا اوخوشنودیې له پاره دډېرې کوم مال یې دریغه خرچ کړ دا د هغه داسې امتیازي صفت دی چې زما دټولو صحبه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن اوپوره اُمت کې دټولو نه لوی مقام ورکوي، بیا دی فرمایي که چیرته ما نه پرته د روا وای چې ما په مخلوق کې څوک په دې صفت سره خپل محرم راز واسرارجوړاوو؛ نو یقیت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به مي داسې دوست جوړاوو، خکه چې هغه ددوستي ددې صفت اهلیت اواستعداد لري. خو په دې درجه وصف کې زما تعلق یوازې دخدای تعالی سره دی چې دهغه محبت په ظاهره هم په ما باندې حکمران دی اوپه باطن هم اوهغه زما محرم و سرار دی. هو دظاهر زړه محبت تعلق چې زما دمسلمانانوسره دی په هغه کې دحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډېر اوچت مقام دی.

دویمه معنا خُلّة، خَلَّة نه ماخوذ ده، په دې صورت کې دحدیث مطلب دادی چې حضرت محمد ﷺ فرمایي که چیرته څوک خپل دوست جوړوالی؛ نو چې هغه ته ډېره ضرورتونو اوحاجتونو وخت کې رجوع وکړم اودخپلو معاملاتو اومهماتو کې په هغوی باندې اعتبار وکړم؛ نو یقینا ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به مي داسې دوست جوړاوو. خوبه داسې امورومعاملاتو کې زما ټوله رجوع یوازې الله تعالی ته ده اوپه ټول احوالو اومهماتو کې زما واحد سهاره اوملجا دالله ذات دی، هو اسلامي اخوت اومحبت کې چې کوم ظاهري وفلبي تعلق پوره اُمت سره دی په دې کې دابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقام ډېر اوچت دی

له دې وروسته یې وفرمایل: دابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دکړکی اوروشندان نه پرته باقي ټولې کړکۍ اوروشندان دې بند کړل شي. ددې مطلب دادی چې په ابتدا کې مسجد نبوي سره کوم کوروونه چې پیوسته وو. دهغو کړکۍ دمسجد طرف ته خلاصې وې چې په هغو باندې به مسجد ته تلل راتلل یا ددوی په کورونو کې مسجد شریف طرف ته داسې روشندانونه خلاص وو چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دهغه نه به د مسجد دننه نظاره کیده او ددې کورونو خلکو به ددې روشندانونو په ذریعه باندې

کل چې حضور ﷺ مسجد ته تشریف راوړی دی او که نه

حضور ﷺ چې مرض وفات کې کومه اخري خطبه ولوستله په هغه کې یې وفرمایل چې مسجد طرف ته کومې کړکۍ اوروشندانونه دي هغه دي بند کړل شي، یوازې دابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ کړکۍ اوروشندان دې خلاص وي، ددې حکم په بنا باندې دحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ فضیلت واضحه کول مقصود و، خوپه دې خبرې سره یوه اشاره داهم وه چې زما له وروسته ددې اُمت قیادت اوامامت کبرا یعنې خلافت له پاره دې حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ دې منتخب کړل شي اوپه دې مسئله کې هیڅ قسمه گفتگو اختلاف اونزاع دروازه دې خلاصه پاتې نه شي، منقول دي چې له دې حکم وروسته ځینو خلقو په دې کې څه کلام وکړ: نوحضور ﷺ وفرمایل چې: داخبره ما دخپل خانه نه ده کړې، بلکې دالله تعالی په حکم مې کړې ده اودا ارشاد دهغه زمانې دی کله چې حضور ﷺ په مرض وفات کې و اودانتقال نه دوه یا دري ورځې مخکې ده دا حکم صادره کړی و، په یو حدیث کې حضور ﷺ فرمایې: ابوبکر رضی اللہ عنہ زما دغار رفیق اومونس دی.

دحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ فضیلت:

حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ فرمایې چې: رسول الله ﷺ وفرمایل: داسې څوک نشته چې هغوی مونږ ته څه راکړي وي، یایې زمونږ امداد کړی وي اومونږ دهغه (پوره په پوره یا دهغه نه زیات بدله نه وي ورکړې، سوا دابوبکر رضی اللہ عنہ نه، داحقیقت دی چې ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ چې کوم دعطا او ورکړې سلوک کړي دي دهغه کامله بدله به الله تعالی دقیامت په ورځ باندې ورکوي. دیو کس مال ماته دومره فائده نه ده راکړې څومره چې دابوبکر رضی اللہ عنہ مال ماته رسولې ده، که چیرته ما څوک خپل جاني اوقریبي دوست جوړاوو؛ نو هغه به مې ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ جوړاوو، یاد ساتئ! ستاسو صاحب یعنې رسول الله ﷺ دالله خلیل دی اچې هغه دالله تعالی نه سوا بل څوک حقیقي دوست نه ګڼي).

تشریح: په دې حدیث کې یدلفظ استعمال دی چې مال اودولت اوجان او آل اولاد تولو ته شامل دی اوپه دې کې هیڅ شبه نشته چې دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ درضا له پاره حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ خپل تول مال دالله په لاره اودحضور ﷺ په خدمت کې وقف کړی وو، ددې دتولو نه لوی دلیل دادی چې کله په یوه موقعه کې حضور ﷺ خپلو صحابه کرامو رضوان اللہ علیہم اجمعین ته دالله تعالی په لاره کې دامداد اوتعاون له پاره وویلې؛ نو هر یو بنده د خپل حیثیت او استطاعت مطابق څه چې مناسب ګڼل حاضریې کړل اوحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وخپل کور ټول سامان راوړو اوورانديږي کړ. دخپل ځان اواهل اوعيال دپاره ضرورت والا سامان يې هم کور کې پرې نه ښود. تر دې چې دکور ټول سامان يې ورانديږي کړ؛ نو دبدن جامې يې هم پرې نه ښودې؛ نود بدن پټولو له پاره يې يو ځادر داسې وجود نه راټول کړ اوزغې يې په کې پيوسته کړل اوهغه سره يې وجود پټ شو. په رياض الصالحين کې دا روايت دی چې کله حضوراکرم ﷺ وفرمايل: دچا مال ماته دومره فائده نه ده رسولي څومره چې دابوبکرصديق رضي الله عنه مال رسولې ده. کله چې دا الفاظ ابوبکرصديق رضي الله عنه واوربدل: نو په ژړا شو. وويې فرمايل: اې دالله نبي ﷺ نه مال زما دی اونه جان ما سره چې څه هم دې ټول دستاسو ملکيت دي، په موافقات کې دي چې حضور ﷺ به دابوبکرصديق رضي الله عنه دمال نه داسې خرچ کاوو. څنګه چې دخپل مال نه تيوازې اوخرچ کوي. حضرت عروة ﷺ روايت دی چې کله حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه اسلام قبول کړ؛ نو دغه وخت کې ده سره څلويښت زره درهم وو اودا ټول ده دحضور ﷺ په زمانه کې دالله تعالی په لاره کې خرچ کړل. حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها نه روايت دي چې يوه ورځ حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه دنبي اکرم ﷺ په خدمت کې حاضر شو؛ نوحضور ﷺ دوته وفرمايل:

فَقَالَ اَنْتَ عَتِيْقُ اللّٰهِ مِنَ النَّارِ فَيَوْمَئِذٍ سُمِّيَ عَتِيْقاً. (ترمذي)

صديق ته دعتيق لقب ملاو شو.

ترجمه ته ددوزخ له اور نه ازاد يې دالله له طرفه په دغه ورځ دده نوم عتيق شو

دعتيق يوه معنا ازادېدل دي، يعني دوزخ نه ابوبکر رضي الله عنه ازاد دی

دويمه معنا دعتيق حسن اوجمال شرافت اونجابت اوصاحب خير دی اوداټولې خوبۍ

حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه په ذات کې موجودې وې، له دې وجې ده ته عتيق ويل کيږي

حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغه خلکو کې دټولو نه اولنی کس به زه خپله يمه چې دخمکې نه به راوزي. (يعني دقيامت په ورځ به ټول خلک دخپلو خپلوقبرونو نه ميدان حشر ته راځي؛ نودټولو نه اول به زما قبر شليږي اودخپل قبر نه اول پاسيدونکی به زه يم) زما نه وروسته به ابوبکر رضي الله عنه اوله هغه نه وروسته عمر رضي الله عنه دې. بيا به زه دبقيع قبرستان مدفونو ته راشم اودوی به قبرونونه پاسولی شي اوما سره به جمع کړل شي اوبيا به زه داهل مکه انتظار کوم دې له پاره چې ما داهل حرمين يعني مکه اومدينه والاوو په مينځ کې حشر ته اورسولی شم. (ترمذي،بحواله مظاهر حق شرح مشکاة)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دمحمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غلامانو کې به ټولو نه اول حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنت ته داخلیږي:

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یوه ورځ حضوراکرم ﷺ وفرمایل: جبرائیل امین عَلَيْهِ السَّلَام ماته راغی اوزما لاس یې په خپل لاس کې واخیست اوبیا هغه دجنت دروازه وښوده چې په هغه سره به زما دأمت خلک جنت ته داخلیږي، حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا اشاره وکتله اوعرض یې وکړ، یارسول الله ﷺ! زما په زړه کې خواهش دی چې کاش به دغه وخت کې زه تاسو سره وم؛ نوماته به هم دجنت دروازه کتل نصیب شوي و، حضور ﷺ وفرمایل ابوبکرخبردار شه چې زما په اُمت کې دټولو نه اول کس جنت ته داخلیږي هغه به دی یې (ابوداود، بحواله مظاهرحق)

فائده: په حدیث کې دي چې ماته دجنت دروازه وښودل شوه؛ نوداټوله دمعراج واقعه ده چې هغه حضور ﷺ په دې موقعه باندې ذکر کړې ده یا دیو بل وخت واقعه ده کله چې ده باندې دجنت سیل وکړای شو

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخې ته دحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تذکره وشوه؛ نوحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ژړا شو اووېې فرمایل: زما ارزو اوتمنا ده چې کاش! زما دټول عمر نیکۍ په عوض کې دحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه نیکۍ ملاو شي، یوه هغه نیکي کومه چې په غار کې ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سوري بندولې اویوه تري خلاصه پاتې شوه اومار تک ورکړ اوده اُف قدره ونه کړل. دویمه نیکي هغه چې کله مانعین زکات انکار وکړ اوحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې: دې خلکو درسول الله ﷺ په دور کې رسی هم په زکات کې ورکوله اواوس یې نه ورکوي؛ نو زه به ددوی خلاف جهاد کوم، په اولنۍ نیکي کې قرباني ده چې دهغه په دنیا کې مثال نه ملاویږي، په دویمه کې دفتنې ارتداد بیخ کندي شو خکه چې فتنه ارتداد یو خطرناک شی دی، حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددین په اصلي صورت کې حفاظت وکړ

الٰه العٰلمینه! دټولو مسلمانانو دصدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ محبت اواطاعت نصیب کړه. (امین یارب العٰلمین)

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د خلافت لومړنی خطبه:

حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ خلافت باندې کیناستو سره دلومړی خطبې ارشاد وفرمایه (صدارتي تقریر)

اے خلکو! زه ستاسو حاکم جوړ شوی یم، خو تاسو نه بهتر نه یم. که زه نیک کار کوم؛ نو په هغه کې ماسره مرسته کوی اوکه زه بدکار کوم؛ نو زما مخ نیوی کوی. ریښتیا امانت دي اودروغ خیانت دي ستاسو کمزوری کس زما مخي ته قوي دی، تر څو چې هغه ته دهغه حق ورنه کړم اوستاسو قوي بنده زما مخي ته کمزوری دی تر څو چې زه دده نه دده دهغې حق وانخلم. کوم قوم چې دالله په لاره کې جهاد پریږدي الله تعالی په هغه باندې خواري اوذلت مسلط کوي اوکه په دې قوم کې بې حیایي خوریږي؛ نو الله تعالی په دوی باندې بلاګانې اوعذابونه عام کوي، تاسو زما اطاعت وکړی، تر څو چې زه دالله اودهغه درسول اطاعت کوم. خو که ما نه داسې کار وشي چې دهغه نه دالله اودهغه درسول نافرماني ښکاره کیږي؛ نو په تاسو زما اطاعت واجب نه دی، اوس لمونځ له پاره ودریږی الله دې په تاسو رحم وکړي.

آں عتیق اللہ امام المتقین بود قلب خاشع سلطان دین

پروانے کو ہے چراغ بلبل کا پھول بس صدیق کے لئے ہے خدا کا رسول بس

(اقبال)

لامع النور، ساطع الآثار ثانی اثنین اذهما فی الغار

ایک صادق تھا دوسرا صدیق ماہ انوار و کوکب زهار

(عبدالعزیز خالد)

اله العلمینه! حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ
محبت او اطاعت ټولو مسلمانانوته نصیب کړه. آمین!

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دجمادي الثاني دمياشتې پنځمه خطبه

حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اوداسلام شان اوشوکت:

۲۲، جمادي الثاني ۲۲، اګست دحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفات اودفاروق اعظم حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دخلافت شروع. حضرت عمردجاه اودبدبې والا و، دده دخلافت دور داسلام دشان اوشوکت دور و، ددې مناسبت له وجې ددې خطبې عنوان داسلام شان اوشوکت کیښودل شو. حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پیکرعزم اوجلال و، داسلام دفتوحاتو دروازې یې خلاصې کړې اوهر طرف ته دانصاف عام کیدل شول، په هره هره شعبه کې په هر قدم باندې یې ګلستان جوړ کړ. موږ مسلمانانوته هم په اسوه فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې عمل کول پکار دي، ددنیا اواخرت کامیابي حاصلول پکار دي.

اے عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اے پیکر عزم وجلال بے پناہ
ھے جہاں بانوں میں اونچے سب سے تیری بارگاہ

دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عهد خلافت داسلامي نظام دعدل بهترینه نمونه ده، حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دکافرانو له پاره لوڅه (بربنده) توره وه اودمسلمانانوله پاره رحیم اوشفیق و، لکه څنګه چې دالله تعالی ارشاد دی:

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ. (پ۲۶سورة فتح آیت ۲۶)

ترجمه محمد ﷺ دالله تعالی رسول دی اوکوم خلک چې دالله تعالی صحبت یافته دي هغوی دکافرانو متعلق تیز دي اوپه خپل مینځو کې مهربان دي، اې مخاطب ته به هغوی ته ګورې چې کله رکوع کوي کله سجده دالله تعالی په فضل اورضامندي کې کوشش کوي، ددې سجدې اثار ددوی په مخونو باندې ښکاره دي.

تشریح: حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دحضور ﷺ رفیق اوجانثاردی، لوی جلیل القدر صحابي دی، په کافرانو باندې سخت دی، له دې وجې حضور ﷺ فاروق لقب ورکړی و، دحق اوباطل په مینځ کې حق فیصله کونکی و اود مسلمانانودفلاح وبهبود له پاره به سرګرم و اوپه مسلمانانوباندې رحیم اوشفیق و، دشپې به دالله په حضور کې سر په سجده و اودمسلمانانو دحفاظت له پاره به یې خپله پیره (چوکیداري) کوله، داتول یوازې اویوازې دالله تعالی دراضي کولو له پاره و

وہ شہنشاہ شہیداں وہ امام عاشقاں — سالکان منزل حیرت کا میر کارواں

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خود کو شمشیر برهنه جو رسالت کی کهے
وہ پناہ گاہ یتیماں وہ خلیف بے کساں

وہ وزیر اهل زمین میں سے رسول پاک کا
جهک کے دیتے ہیں سلامی جس کو اهل آسمان

مصر و ایران و عراق و شام کا فرمانروا
دشمن اهل جفا اهل وفا کا پاسباں

تخریج: حضرت عمر رضی اللہ عنہ کې هغه صلاحیت او استعداد کوم چې په یو نبي کې موجود وي موجود و. مګر حضور اکرم ﷺ اخري نبي دی له ده (ﷺ) نه وروسته بل نبي نشته. که چیرته و: نو عمربن خطاب رضی اللہ عنہ به و. مګر کله چې عمر رضی اللہ عنہ هم نبي نه شو: نو بیا بل څوک څنګه کیدای شي.

حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ چې کله حضرت عمر رضی اللہ عنہ خپل جانشین مقرر کړ: نو له هغه نه یې داخلف یعني عهدنامه واخیسته، دا د ابوبکرین قحافه عهد دی چې له دې نه دتلو اواخرت ته ددا خلیدو په وخت کې وکړ. چې په دې وخت کې چې کافر هم ایمان راوړي اوکافر(ملحد) ته هم یقین راځي چې ما دخپل ځان نه وروسته په تاسو عمرین خطاب رضی اللہ عنہ خلیفه مقرر کړ، دده خبره واوري اواطاعت یې وکړئ، ما په دې کې الله تعالی اودهغه رسول ﷺ، دهغه دین خپل ذات اوستاسوتولو خیرښیګړه په کې پیش نظر ساتلې ده. که هغه عدل اوانصاف وکړي؛ نودهغه نه زما امید اودهغه متعلق زما علم دغه دی چې ما خو ښیګړه غوښتې ده. خودغیبو علم ماته نشته اوظلم والا به ډېر زر معلومه کړي چې دی به واپس چیرته خي. کوم وخت کې چې ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ حضرت عمر رضی اللہ عنہ یې خپل خلیفه مقرر کړ او امیر المومنین یې جوړ کړ؛ نوځینې خلکو حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ ته وویلې تاسو خو دومره سکت مزاجه سړی امیر جوړوئ خدای ته به څه جواب ورکوئ. حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ وفرمایل چې: الله تعالی ته به عرض وکړم:

اې الله! ماستا دټولو نه زیات عبادت اوبندګي کوونکی کس نګهبان جوړ کړی

حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ فرمایي چې: دحضرت عمر رضی اللہ عنہ لومړنی تقریر داوو چې هغه په دغه شپه باندې وکړ، کله چې حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ یې دفن کړ. دانه: دحمد اوثناء وروسته یې وفرمایل: الله تعالی خپله لاره واضحه کړې ده، چې خپل نبي راولیږي اومورږ له پاره دهر قسم تقویت والا سامان مهیا کړي، اوس زمورږ دکار نوعیت واضحه دی چې مورږ دالله نه مدد طلب کړو اودهغه دپیغمبر حق اتباع وکړي، داهم دالله کرم دی چې هغه زه اوامت دیوبل له پاره ازمائش جوړ کړی دی، داهم دخوشالي خبره ده چې الله تعالی زه په خپل فضل اوکرم باندې زما ددواړو ملګرو محمد ﷺ اوحضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ نه وروسته تاسو کې قائم پاتې کړم، دلغزشونو اوګمراهیو نه دالله پناه غواړم، زهٔ هر ګز نه شم

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

برداشت کولی چې زما په وجه دالله نیک بنده ګانو ته تکلیف ورسیږي اودالله تعالی دښمنانو ته مدد ورسیږي

سلیمان بن حنظله رضی الله عنه هم فاروق اعظم رضی الله عنه سره دا الفاظ منسوبه کړي دي:

اي خدایه! ما په غفلت کې مه پریده اوماته دزړه اونظر مدد راکړه.

اي الله موږ په خپل حفاظت باندې سرفرازه کړي اوپه خپلو احکاموباندې دعمل کولوتوفیق راکړه

دفاروق اعظم رضی الله عنه ویناوې:

دحساب دورځې نه مخکې خپل حساب وکړه اوددې نه مخکې چې ستا اعمال وتلل شي خپل ځان وتله. که نن ورځ ته خپل احتساب وکړې؛ نو سبا دقیامت په ورځ باندې به دې حساب اسان وي

عنترة الشیباني وایي چې حضرت عمر رضی الله عنه خپل زوی ته نصیحت کړی و زویه! چې دالله نه ویریږې نو هغه به ستا حفاظت کوي. الله ته قرض ورکړه یعنې دالله په لاره کې خرچ کړه؛ نوالله به ددې جزا درکړي. شکر ګذاره اوسیږه. الله به نوره ډېره درکړي.

حضرت بدیل وایي چې فاروق اعظم رضی الله عنه وفرمایل: که بنده خپله ځان له پاره دتهمت لاره خلاصه کړي؛ نوهغه ته تهمت لګولو والا باندې بدرد نه دي ویل پکار دخپل مسلمان ورور خبرې ته حتي الامکان غلطه معنا مه ورکوه، که دیو کس دبدي بدله په نیکي سره ورکړي ده؛ نو داعین اطاعت خداوندي دی، مخلص دوستان تلاش کړه داسې دوست چې په خوشالي کې دخوشالي سبب اودغم اوتکلیف په وخت کې سهاره جوړ شي.

داحادیثو په رڼا کې فضیلت فاروقي:

حضرت ابوهریره رضی الله عنه راویت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: لومړني اُمتونو کې هم ځینې خلک داسې وو چې هغوی ته به الهام کیده اوزما په اُمت کې هغه شخصیت عمر رضی الله عنه دی.

په بخاري شریف کې داسې دي چې: تاسو نه مخکې بني اسرائیلو کې ځینې کسان داسې وو اګرچې نبیان نه وو. خوهغوی به دکلام الهي مخاطب وو اواُمت محمدیه کې دا درجه حضرت عمر رضی الله عنه ته حاصله ده.

یوځل نبي کریم ﷺ ارشاد وفرمایل: اي عمره! په خدای چې شیطان تا وویني؛ نو لاره بدلوي.

سالم دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه نقل کوي چې یوځل حضرت عمر رضی الله عنه دحضوراکرم ﷺ نه دعمرې اجازه وغوښته؛ نوحضور ﷺ ورته اجازه ورکړه او ویې فرمایل: زما وروره! موږ هم په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ هیر مې نه کړئ.

په یو روایت کې دي چې حضوراقدس ﷺ وفرمایل: عمر بن خطاب داهل جنت ډیوه ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ابوذر رضي الله عنه دحضوراکرم ﷺ ارشاد نقل کړی دی چې کله هغه څه وایي؛ نوحق وایي

حضرت انس بن مالک روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ددین په معاملاتو کې په پوره اُمت دتولو نه زیات سخت گیر حضرت عمر رضي الله عنه دی

حضرت علي رضي الله عنه نه روایت دي چې حضوراکرم ﷺ ارشاد دی. عمر رضي الله عنه مه ناراضه کوئ په دې کې محتاط اوسیږئ، ځکه چې دعمر ناراضگي دالله تعالی غضب ته دعوت ورکوي

دعقبه بن عامر رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که زما نه وروسته نبي و؛ نو هغه به عمر رضي الله عنه و.

حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ وفرمایل: ما دحضرت جبرایل علیه السلام نه پوښتنه وکړه چې اسمانونوباندې دحضرت عمر رضي الله عنه ذکر خیر څنگه کیږي. جبرایل علیه السلام وفرمایل: دالله رسول ﷺ! چې زه ستاسو په خدمت کې دومره حاضر شوی یم څومره چې دحضرت نوح علیه السلام عمر و (یعنې نهه نیم سوه کاله)؛ نوبیا به هم یوازې په دې کې دحضرت عمر رضي الله عنه یو وصف بیان نه شم کړای اوعمر رضي الله عنه خپله دابوبکر رضي الله عنه یو وصف دی. ددې مضمون یو روایت دی چې حضرت جبرایل علیه السلام وفرمایل چې دحضرت عمر رضي الله عنه دصفاتو بیانولو له پاره دحضرت نوح علیه السلام عمر هم ناکافي دی.

د نبوت په خوبونو کې دفاروق اعظم رضي الله عنه فضیلت:

حضرت سالم رحمه الله دخپل پلار نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه ویده وم چې په دې کې دشیدو (پیو) یوه پیاله راغله، مادومره وڅښلې چې شیدې زما دخولې دډوارې لورپو ته وښهیدې. ماپاتې شیدې دحضرت عمر رضي الله عنه له پاره پریښودې، خلکو وویل چې: ددې څه تعبیر دی؟ ویې فرمایل: علم یعنې دحضرت عمر رضي الله عنه علم ډېر زیات دی (بخاري. مسلم)

محمد بن منکدر روایت کړي دي چې جابر رضي الله عنه فرمایي چې: حضوراقدس ﷺ وفرمایل: زه جنت ته داخل شوم؛ نو ما یو محل (قصر) ولیده چې دهغه دننه نه اوازونه راتلل، ماپوښتنه وکړه: نو وویل شول چې: دا محل دحضرت عمر رضي الله عنه دی، زما زړه وغوښتل چې زه دې محل ته وردننه شم. مگر ماته دعمر رضي الله عنه غیرت رایاد شو، په دې باندې حضرت عمر رضي الله عنه په ژړا شو. حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل: اې دالله نبي! په تاسو باندې به هم ماته حسیت راته. (مسلم. في فضائل عمر رضي الله عنه)

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عظمت فاروقي:

حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي چې حضور ﷺ وفرمايل: خلک به اهل جنت اواوچت مقام اومنازل والا داسې گوري، لکه اهل دنيا چې اسمان باندې ستوري گوري ابوبکر او عمر رضي الله عنهما دجنت کې داوچت اوعالي مقام والا دي اودوی ددې رتبې مستحق دي علامه شبلي نعماني فرمايي: ددوی په شخصيت کې سکندر، ارسطو، حضرت عيسى عليه السلام . سليمان عليه السلام ، تيمورنوشيروان، امام ابوحنيفه رحمه الله اوبراهيم بن ادهم رحمه الله شخصيتونه به يو خای راجمع شوي وو

دبهرپوره عقيدې راهنمايي بهترين صلاحيتونو نه مالامال دخپل وخت دوه عظيم مملکتونه فتح کوونکی اوخلافت داسې اداري ته (چې هغې ديارلس صدۍ (پيړۍ) پورې داسلامي اتحاد مضبوط جوړ په حيثيت باندې کار وکړ، قائمونکی عمر رضي الله عنه دعربو په تاريخ کې په دويم نمبر باندې راځي

دغير مسلمو خراج عقيدت:

طب کے حبنی ولیی: په اسلام کې عمر رضي الله عنه لومړی خليفه و چې هغه قتل کړل شو. له دې وروسته راتلونکي دواړو جانشينو همدغه انجام شو

حضرت عمر رضي الله عنه تر اخره پورې سادګي اوکفايت شعاري اوپاکيزګي خپله کړې وه. هغه ته به خداى، محمد ﷺ او خپل نفس دومره کلک يقين و چې تولې زندګي دهغه په استقلال کې ذره برابرفرق رانغى. په ژوند کې داقتدار نشي کله هم دهغه کردار ته نقصان ونه رسوا دمرګ په دروازه هم دده کردار دغه رنګ بې داغه و، دحضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه په دور کې هغه قاضي القضاة و، مګر دهغه اثر دهغه دعهدې نه دمخه زيات و، حضرت عمر رضي الله عنه دا اعزاز هم حاصل دى چې ده دقرآن راجمع کول تجويز هم وړاندې کړى و، خکه چې دجنګونو له وجې حفاظ قرآن کريم کمېدل، عمر رضي الله عنه ته دپيغمبر په کونسل کې دمخه لوى اهميت حاصل و، هغه په شرابو پابندي لګولو کې هم لوى کردار ادا کړ، ددې حقيقت نه انکار نه شي کيداى چې دحضرت عمر رضي الله عنه داسلام متعلق علم بهترين و، هغه دانصاف غوښتنې دمخې نې پيژندى، هغه خپله نظريه انصاف بيان کړې وه اوفرمايلي يې و: په خداى قسم! تاسو کې کمزورترين زما په نزد باندې طاقتورترين دي، تر څوچې هغه ته زه حقوق ورنه کړم اوطاقتورترين کمزورترين دي ترخو چې هغه نه زه حقوق حاصل نه کړم، هغه دانصاف دې نظريې ته عملي جامه واچوله، شام فتح شو؛ نو دهغه خای حکمران اسلام قبول کړ اوحج کولو له پاره مکې معظمې ته راغى، دکعبې ګير چاپيره طواف کولو دوران ديو بدوبانديچې دهغه په احرام باندې پښه راغله هغه دغوسې نه بدوبانديچې، ته څپيړه ورکړه، خليفه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پاڼه ویجي ته هم دهغسي څېړي ورکولوحکم ورکړ. سرتهامس ارنول لیکي چې دوروولي منطقي نتیجه (سماجي) مساوات هم دی، ځنګه چې دخدای په حضور کې ټول مسلمانان برابر دي همدغه راز هغوی په خپل مینځ کې هم برابر دي، په مومنینو کې هغه افضل اوبرتر دی. کوم چې داعمالو په بنیاد باندې افضل ثابت شي، ټول دادم علیه السلام اولاد دي اوادم علیه السلام دخاورې نه پیدا و، دقانون مخې ته ټول برابر پوره سیاسي اوسول نظام بنیاد دي. حضرت عمر رضی الله عنه حضرت موسی اشعري رضی الله عنه ته ویلي و داټول برابر ګڼه. داخبره عمرفاروق رضی الله عنه دانصاف په بنیاد باندې ویلې وه ددې له پاره چې طاقتور دانصاف په لاره کې رکاوټ جوړ نه شي، (چې اې وان ګریون بام) لیکي: بېشکه عمر رضی الله عنه دابوبکر رضی الله عنه په خیر دخپل وخت عظیم حکمران و، (فورس ګاډ فرانې وایي: دپیغمبر ملګرو هم دده دطریقو تقلید وکړ اوپه دې طریقو باندې عمل پیرا شول اوهمدغه راز ابوبکر، عمر، عثمان اوعلي رضی الله عنهم اجمعین حکمراني وکړه دعمر رضی الله عنه په دور کې بالخصوص روحاني اومادي اعتبار سره په متوازن اوصحتمند مسلمان معاشره قیام عمل کې راغله همدغه راز دیو عظیم مسلمان ریاست بنیاد کیښودل شو. (بحوالهٔ قومي ډانجسټ فاروق اعظم نمبر.

حق:

حق سره دعمر رضی الله عنه محبت اودباطل سره د رضی الله عنه دښمني ضرب المثل وه. له دې وجې به دفاروق اعظم په لقب سره مشهور و، په ترجمان وحي ډېر سره یې ډېرنې کیدو زیری پیداکړی و. دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دور کې چې کومه سلسله دشام اوفارس دجنګ اوجهاد شروع شوې وه، هغې ته په خلافت فاروقي کې نوره هم هم ترقي او وسعت ملاو شو او داسلامي فتوحاتو سلسله داولې نه هم زیاته شوه، تر دې چې په مصر اوشام کې درومي شهنشاهیت ډیوه مړه شوه اودفارس شهنشاهیت ددنیا دجغرافیې نه ختم شو

دایات قیامت اثرات:

ددې عروج واقبال باوجود هم دالله تعالی نه دومره ویریده چې پوره زندګي دالله دیوې اودهغه درضا طلبي اوخوف اخرت یوه نمونه وه. خشوع خضوع سره به یې تولې شپه لمونځونه کول اوکله چې به سهار کیده: نوکور والا به یې پاڅول اودا ایت به یې ویلې:

"وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا" (الآیة پ ۱۶ آیت ۱۳۲ سورة طٰہٰ)

ترجمه خپل کور والاوو ته دلمانځه حکم وکړه اوخپله هم په دې باندې ټینګ ودریږه! اوپه لمانځه کې به یې عموما داسي ایتونه ویل چې په هغو کې به دقیامت ذکر و اویا دخدای تعالی دعظمت اوجلال بیان و اودهغو نه به دومره متاثره و چې په ژړا ژړا به یې سلګۍ شروع

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شوي. دامام حسن رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ بيان دی چې يو خل عمرفاروق رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ لمونځ کاو کله چې دې
ايت ته راورسيد

إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ (۷) مَالَهُ مِنْ دَافِعٍ (۸) (سورة الطور)

ترجمه بېشکه ستا درب عذاب واقع کيدونکی دی اودهغه څوک دفع کولو والا نشته

داخرت له ويرې بې هوشه شو:

يو خل يې دسورة تکوير تلاوت کاو، کله چې دې ايت ته راورسيد:

وَإِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ. (سورة تکوير: ۱۰)

ترجمه کله چې عمل نامې خلاصې شي؛ نوبيهوشه به پريوت اوځو ورځو پورې به دا سې حال کې و. خلک به يې عيادت له پاره راتلل.

همدغه راز يو خل دا ايت:

وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا. (سورة فرقان: ۱۳)

ترجمه اوکله چې جهنميان په زنځيرونوکې وترل شي اوپه يو تنګ ځای کې واچول شي؛ نوهغوی به مرګ ته اواز کوي.

په ده به دومره خشوع خضوع طاري شي چې که يو کس ددوی حالت وګوري؛ نوپه دغه حالت کې به تري روح ووځي.

داخرت فکر:

يو خل يې يو صحابي ته وويل: ايا تاته داخوښه ده موږ چې رسول الله ﷺ سره اسلام راوړو، هجرت مو وکړ. جهاد مو وکړ اونورمو هم ډېر نيک اعمال وکړل ددې په بدله کې يوازې موږ دوزخ نه بچ شواوعذاب اوثواب به دواړه برابرشي.

هغه وويل په خدای قسم چې موږ درسول الله ﷺ نه وروسته هم جهاد وکړ، روژه مو وساتله، لمونځ مو وکړ نور مو هم ډېرنيک کارونه وکړل اوزموږ په لاس باندې ډېرو خلکو اسلام راوړو موږته ددې اعمالو نه ډېر توقعات دي.

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ وفرمايل: په هغه ذات مې دې قسم وي دکوم ذات په لاس کې چې زما روح دی. ماته خوداغنيمت معلوميږي چې ددې په بدله کې دعذاب الهي نه بچ شو اونيکې اوبدي مو برابر شي

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډېر لوی عادل اومنصف و هغه به هر لمانځه نه وروسته ترڅه وخته
پورې مسجد کې ناست و اوهرېنده به هغه سره ګلتګواوفریاد کولی شو. هغه به خان دهر فرد
مخې ته جواب ده ګاڼه اوهرېنده په دوی باندې اعتراض یاسوال کولی شو
ژوند یې دومره ساده و چې حیرانه شوی به وې، یوه ورځ دماسپښین په وخت کې خوب پرې
غالبه شو: نو دیوې ونې لاندې په خمکه بغیر دچتایې نه ځملاست. اتفاقا دقیصر روم سفیر
راغی اوپه دارالامارە کې یې پیدا نه کړ؛ نو په پوښتنه پوښتنه هغه خای ته راورسیده کوم
خای کې چې دی ویده و. یې اختیاره یې له خولې نه ووتل زما اقا ظلم کوي اوددې وجې نه
بغیر دپهرې نه ویده کیدای نه شي، ته عدل اوانصاف کوې، ځکه په اطمینان سره ویده
کیدای شې چې دیو محافظ هم درته ضرورت نشته. درعایا پروري له پاره هغوی په کاروانې
لارو باندې خای په خای سرکاري ستورونه دمسافرو دفوري خدمت له پاره لګولي وو. دغه
خای کې ځناور به یې هم نه هیرول، فرمایل به یې: دوی په خولې مه وهی اومه پرې دطاقت نه
زیات بوج اچوئ.
ډېر زیات انصاف پسنده و اوخپلې کوتاهي به یې پخپله قبلوله، بلکې یوه ورځ یې دضرورت
نه زیات لامبلي و اوجامې یې اچولې وې اودجمعې لمانځه له پاره راغی. دحضرت عباس
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور سره چې کله تیرید؛ نو دهغه دکوتونه په ده باندې ګنده اویه راتوې شوې
(حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) دوه چرګوتې ذبح کړې و اودهغه وینه یې ناوه کې توې کړه،
دتکلیف نه دیچ کیدو له پاره حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ناوه وویسته، خوکله چې حضرت عباس
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې: دا ناوه حضوراکرم ﷺ په خپل لاس مبارکه باندې نصب کړې وه؛
نوحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قسم ورکړ چې زما په اوګه باندې وخیژه اودا ناوه دوباره خپل خای
کې نصب کړه.

عدل ھی احسان بهتر نظام کائنات ھے اسی معیار پر ھر واردات ھست و بود
معجزات رحمة للعالمینی کا شهود آفتاب عدل ھے فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کا وجود

(حفیظ جالندهري)

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مخ باندې به همیشه متانت اوسنجیدګي وه. کله کله به مسکي
کیدو چاپه قهقهه باندې نه ولیدلی، خود اعتمادي اوعزت نفس په کې دانتها درجې و. چې
ضرورت به یې محسوس کړ؛ نو دلاس نه به یې هم کار اخیست، ددې نه پرته دنورو خبره به یې
په ډېر غور باندې اوریده اودهغوی دجزئیاتو به یې هم جائزه اخیسته، ددې له پاره که یوه
خبرې ردکول وې: نوچې دلائلو سره رد شي، په جذباتي حالاتو کې هم دده رایه ډېره مضبوطه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اودرست وه. دسې دشان سره دا خبره مناسبه نه ده چې هر وخت به دحُسن اودلبرۍ نازبرداري اوتعريف کې تيره کړي. دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوره نوم عمر بن الخطاب اوابوحفص يې کنيت و

دبعثت نبوي نه مخکې اګر چې دين ابراهيمي نيست اونابود شوي و اودبيت الله شريف درودیوار دبت پرستي مظهر جوړ شوی و. خودحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خاندان دډيرو ابراهيمي نه نا اشنا نه وو. زيدبن عمروبن طفيل «دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دتره زوی لومړنی کس و چې هغه ته زمانه جاهليت کې دکفر په تيارو کې دتوحيد رڼا په نظر راغله اواواز يې وکړ:

"اللّٰهُمَّ إِنِّي أُشْهِدُكَ انِي علي دين ابراهيم" خدايه! زه تا ګواه کوم چې زه دابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په مذهب يم

هغه به دبتانو په نوم ذبيحه هم نه خوړه اودجينکيو ژوندی خښولو هم خلاف و.

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دهغه ورور و دهغه غوږونو ته دا اواز رسيدلی و اودهغه فطرت سليمه دده په راه حق باندې اچولی و، ځينې روايتو کې دي چې هغه به دنيکيو کارونو ته مائل اودالله درضا متلاشي و.

هغه هم څه ښه وخت و چې حضوراکرم ﷺ دعا غوښتې وه چې: يا الله! عمر بن الخطاب يا عمر بن هشام کې يو کس مسلمان کړه دادعا دحضرت عمربن الخطاب په حق کې قبوله شوه اوهغه عمر چې کوم ددارارقم طرف ته «العياذ بالله» دحضور قتل کولو پسې راغلی و، نن هغه خپله دمسلمانيدو والا و. بنکار کولو ته تللی و، خپله بنکار شو، کفر کمزوری کيده اواسلام زور کيده

دحضوراکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتباع:

دحضور ﷺ داتباع جذبه څومره وه دهغه اندازه ددې خبرې نه لګول کيږي چې يو خل حضور ﷺ ته رينمي قبا راغله هغه ده لږ وخت استعمال کړه، بيا يې طبيعت ونه منله اوزړې وويسته اوهغه يې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته بطور تحفه ورولېږله لږ وخت وروسته حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه قبا راوړه اوژړل يې حضوراقدس ﷺ بارګاه ته يې تشريف راوړو اوويې ويل: اې دالله رسوله! کوم شی چې تاسو خپله خوښ نه کړ؛ نوزه يې څنګه استعمالولی شم؟ دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اواز په مړی کې اينښتی و، له سترګونه يې اوښکې جاري وې حضوراکرم ﷺ ورته وفرمايل: ما اغوستلو له پاره نه ده درليږلې، بلکې ددې له پاره چې داته خرڅه کړې اوقيمت يې په خپل ميوازې کې راولي، دايې چې واوريدل؛ نوحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اطمينان راغی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مراد مصطفی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ:

ابتداء داسلام کې مسلمانان مظلومان اوکمزوري وو، حضوراکرم ﷺ ته له هر طرف نه تکلیفونه رسول کیدل. مسلمانان یې بسه وو اوپه کافرانو کې دوه قدروړ مضبوط سړیاران وو. یوابوجهل اوبل حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ، حضوراکرم ﷺ دعا وغوښته

اَللّٰھُمَّ اَعِزَّ الْاِسْلَامَ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ اَوْ بِعُمَرَ بْنِ هِشَامٍ. (الحدیث، ترمذي)

ترجمه اې الله! اسلام ته عزت اوغلبه ورکړه دعمربن خطاب په ذریعه یا دعمربن هشام په ذریعه ومحبوب خدا دعا وه چې قبوله شوه اوحضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې دقتل په اراده باندې راتلو خپله مسلمان شو، حضوردعا ابراهیمي نتیجه وه اوعمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دحبیب خدا دعا نتیجه وه. حضور ﷺ محبوب خدا مراد ابراهیم و، حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مراد رسول الله ﷺ و

سودے کے لئے بازا گئے هم هاته اس کے بکے جس کے خریدار گئے هم

یو لاکه ځلیریشت زره صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن راغلل اومریدان جوړ شول. حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ راغی مطلوب جوړ کړل شو. مراد رسول الله ﷺ جوړ شو اوراغی. مسلمانان د حال کمزوري وو، له دي وجې لمونځ به يې پټه کاوو، حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې خنګه اسلام راوړ؛ نو اعلان يې وکړ چې مونږ به په ښکاره به بیت الله شریف کې دکفر مخې ته دتوحید جنډا پورته کوو.

حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ توره په لاس راغی اوجناب رسول الله ﷺ په جماعت سره لمونځ ورکې. مشرکین پریشانه وو، مګر دفاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مخې ته دچا جرات نه و.

فاروقي ارشادات:

* قوي هغه دی کوم چې دنن کار وي هغه سبا ته پرې نه ږدي.
* کله چې یو اهل علم دنیا طرف ته مائله شي؛ نوهغه ددین په معامله کې قابل اعتبار نه دی. ځکه چې کله بنده دیوشي خواهش کوي؛ نوهر وخت دهغه په فکر کې اخته وي
* تاسو خلکو نه ولې غلامان جوړ کړي دي، حالانکې ددوی میانډو دوی ازاد پیدا کړي دي.
* جج اوقاضي ته پکار دي چې دمقدماتو فیصلې زر کوي، ځکه چیرته مدعي دتاخیر له وجې خپله دعوه واپس وانخلي. * دعالم دغلطي اثر په عالم باندې پریوځي
* کله چې یو بنده په غوسه کې ونه ګوري، دهغه په اخلاقو باندې اعتماد مه کوه.
* دیو کس په دینداریې هغه وخت کې اعتماد وکړه، کله چې هغه دطمعې په وخت کې ازمینست کړي شي.
* پوهه په کمه وینا کې ده، دبدن صحت په کم خوراک کې دی، عبادت په لږاوده کیدوکې دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

* عافیت عامو خلکو سره په ملاویدو کې دی.
* ایمان والا دخدای اودرسول مخالفینو سره دوستي نه کوي، اګر چې موروپلار یې وي
* دنیا عزت په مال سره دی اوداخرت عزت په نیکو اعمالو سره.

دفاروق اعظم رضی الله عنه یو څو عظیمي اونمایاني کارنامې:
دمدینې په کوڅو به یې خپله پیره کوله.دې کسه اومظلومانو فریاد به یې اوریدل.
دده په مکتوب مبارک سره ددریابې نیل جاري کیدل.
خوریدونکی اور په خادر باندې مړ کول.
په سینګرومیله لیرې دمسلمانانو لښکریه یاساریه الی الجبل باندې فتح اوکامیابي سره مخ کول
په څمکه پښه وهل اوزلزله دریدل. فتوحات اسلامي وسیع کول.
دبادشاه کیدو باوجود فقیري اومسکیني اختیارول.
عدل وانصاف عام کول. دقرآن پاک دجمع کولو سبب جوړیدل.

یو عیسایي محقق وایي: که چیرته یو بل عمر رضی الله عنه په مخ دځمکې وای؛ نو پوره دنیا کې به دالله منګر نه و.

اخري دعا اوتمنا:

۲۳هجري کې کرمان، عبستان اواصفهان علاقې فتحې شوې، داسې وه چې سلطنت اسلامي حدودمصرنه واخله تر بلوچستان پورې وسیع شو، هم په دې کال باندې ده ضي الله عنه اخري حج وکړ. دحج له راتګ وروسته یې په لاره کې یو مقام باندې دمه کوله ډېر چانکېږي راجمع کړل اوپه هغه یې خادر خور کړ اوځملاست اسمان ته یې لاس پورته کړ اودعا یې وغوښته:

خدایه! اوس زما عمر زیات شوی دی، زما قوت کمزوری شوی دی اوزما رعایا هرطرف نه خواره شوي دي. اوس ما په داسې حال کې پورته کړه چې زما اعمال برباد نه وي اوزما عمر داعتدال دپیمانې اوښتی نه وي. (انسانیت موت کے دروازے پر)

اخر وخت کې یې خپل زوی عبدالله راوغوښت اوویې فرمایل چې: عائشې صدیقې رضی الله عنها ته لاړ شه او ورته ووایه چې عمر رضی الله عنه دحضوراکرم ﷺ اودابوبکرصدیق رضی الله عنه سره یو ځای دفن کیدو خواهش لري، که اجازه وي؛ نو حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها وفرمایل: زما خپله خواهش دغه ځای و. خو خپل ځان باندې دعمرخواهش ته ترجیح ورکوم اواجازه درکوم. کله چې عمر رضی الله عنه ته خبورسید؛ نو ډېر زیات خوشاله شو، له وفات نه لږ مخکې یې زوی ته وویل چې زماله پاره قیمتي کفن راکوه، که دالله په حضورکې ښه وم؛ نو ددې نه به ښه لباس ماته ملاو شي اوکه ښه نه وم: نوبهترین کفن بې فایدې دی؛ نور وصیتونه یې هم وکړل او داجل فرشته راغله او روح یې له دې فاني دنیا نه رخصت شو، حضرت عمر رضی الله عنه ترقیامته خپل محبوب سره ځملاست یاالله! موږتولوته محبت واتباع فاروقي نصیب کړه. (آمین)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حکایت:

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دور خلافت کې یو ځل دزکات یو اوښ یې درکه شو؛ نودی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځپله دهغه تلاش پسې راوروت اودماسپښین سخته ګرمي کې یې پیدا کړ اودګرمي له وجې خوله خوله شوی و. حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله په دې حال کې ولید؛ نو ورته یې وویل اې د الله دنبي خلیفه! په دې وخت کې ته دا اوښ دکوم ځای نه راولې هغه وفرمایل دا ورک شوی و، پیدا مې کړ، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې: حضرت یو غلام به دې ورپسې لیګلی و، په دې دومره ګرمي کې تاسو ولې تکلیف وکړ، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې خبره خو دې سهي ده، که دا اوښ نه وای پیدا شوی؛ نو قیامت په ورځ به الله تعالی له ما نه مواخذه کوله زما دغلام نه.

سادګي:

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دور کې چې کله دېره ترقي وه اوشاه فارس او روم هم ویریدل؛ نو دغه وخت کې به عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځنګل ته تلو اوخښتي به یې جوړولې اوخرځولې به یې اوپه دغو پسو به یې دکور خرچه کوله.

یو ځل یې خطبه کې وویل: خلکو! زه دومره غریب وم چې دخلکو اوبه به مې راوړې اوددې په عوض کې به خلکو ما ته چوواري راکولې اوپه هغه به مې ګوزاره کوله اودې وروسته به له منبره راکوزشو، خلک په تعجب کې شول اوپوښتنه یې وکړه چې په منبر ددې ویلو څه ضرورت و. ده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل چې: زما په طبیعت کې لږ غرور راغلی و، له دې وجې مې په منبر وویل اودا ددې علاج و. (بستان الاولیاء)

دعا:

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به دعا غوښته:

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِي شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ واجعل موتي فِي بَلَدِ حَبِيبِكَ.

ترجمه: اې الله! ماته ستا په لاره کې شهادت راکړه اووګرځوه مرګ ماته دخپل حبیب په ښار مدینه کې

دادعا قبوله شوه اوابولؤلؤ فیروز آتش پرست غلام په دوه سره خنجر باندې حمله وکړه، مګر قیامت پورې یونوم پاتې شو اوبهترینه اسوه یې پریښوده، اتباع فاروقي کې ددواړو جهانو کامیابي ده. الله تعالی دې موږ ته نصیب کړي. (آمین)

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درجب المرجب دمیاشتې اوله خطبه

فضائل، صبر و تحمل اوشان د حضرت علي کرم الله وجهه بیان:

په ۹ رجب المرجب غزوه تبوک له پاره حضور ﷺ روان شو، دغزوه تبوک نه ورسته حضور ﷺ صدیق اکبر رضي الله عنه دحج امیرجوړ کړ.
۱۲ رجب باندې ۱۲ انصارو دحضور اکرم ﷺ په لاس باندې بیعت وکړ دې ته بیعت اول واې.
۵ نبوي دمدینې دهجرت نه مخکې مسلمانانو حبشي ته هجرت وکړ.
په ۱۳ رجب باندې حضرت علي رضي الله عنه ولادت باسعادت وشو.
په ۱۲ رجب باندې حضرت اشرف علي تهانوي رحمه الله وفات شوی.
۱۸ رجب باندې حضرت جعفر صادق رحمه الله وفات شوی.
نصف رجب ۲ هجري باندې دتحویل قبله حکم راغې.
په ۲۱ رجب باندې حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله وفات شوی.
په ۲۲ رجب او ۲۷ په شپه باندې معراج النبي ﷺ واقعه.
۲۷ رجب باندې سلطان صلاح الدین ایوبي رحمه الله په بیت المقدس باندې قبضه وکړه.
په ۲۵ رجب باندې امام مسلم صاحب مسلم وفات شوی.
رجب په میاشت کې ۱۲ هجري کې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه بیت المقدس ته روان شو اوعیسایانو پرته دڅه مزاحمت نه چاپیاني حواله کړي.
درجب په میاشت کې مسلمانانو حبشه ته هجرت وکړ اوهم په دې کال باندې رمضان المبارک په میاشت کې سورة النجم نازل شو، تول جن اوانس تردې چې مشرکین هم په سجده باندې پریوتل
درجب په میاشت کې دشاه حبشه وفات اوحضور ﷺ بې غائبانه جنازه وکړه.
په شب معراج کې پنځه لمونځونه فرض شو.
خطیبان اوائمه مساجد په رجب کې په دې موضوعاتو باندې بیان کولی شي.
په ۱۳ رجب المرجب باندې دحضرت علي رضي الله عنه ولادت باسعادت وشو، حضرت علي رضي الله عنه ډېر لوی جلیل القدرصحابي اودحضوراکرم ﷺ انتهایي نزدې خپلوان اوډېر بهادر، عالم، فقیه اودصبر اوتحمل والا و دده رضي الله عنه پوره دور خلافت امتحاناتو اوازمائشونو اوتکالیفو والا دور و اکثرجنګونه به و، مګر دحضرت علي رضي الله عنه رویه اومعامله په دې حالاتو کې دأمت له پاره مشعل راه اونمونه وه، له دې وجې ددې موضوع عنوان مو صبراوتحمل کیښودو او زیاتر به دحضرت علي رضي الله عنه حالات بیانیږي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په ۹ رجب المرجب رسول الله ﷺ غزوه تبوک ته روان شوا ودا ډېر دقرباني اومشقت والا غزا وه. له دې وجې مختصر به ددې غزا باره کې ذکر وشي له پاره ددې چې موږ ته دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعين دقربانيو معلومات وشي اوزموږ په زړونو کې هم دالله درضا په خاطر دين له پاره دقرباني جذبه پيدا شي.

دحضرت علي رضي الله عنه اسوه حسنه هم دعوت ورکوي، چې موږ به په دنيا کې خپله زندګي دالله تعالى اورسول په اطاعت کې تيروو اوخپله زندګي به بامقصده جوړو. خپله هم ددين خدمت وکړو اونورو له پاره هم ښه نمونه پرېږدو، له پاره ددې چې دمرګ وروسته موږ ته دصدقې جاريې په طور باندې ثواب ملاويږي.

یاد داری که وقت زادن تو — همه خندان بودند وتو گریان
آنچنان زی که بعد مردن — تو همه گریان شوند وتو خندان

شاعر وايي چې: دنيا کې نيکي اوخوبي کوه، وايي چې کله ته پيدا شوی وی خلکو خوشالياني کولې. خندل يې او تا ژړل، اوس دنيا کې څه وکړه چې دمرګ وخت کې دې خلک ژاړي اوته په خوشالي خوشالي دمرګ استقبال کوې، يعني ته دمرګ وخت کې خوشاله يې. ځکه چې مرګ دمومن له پاره تحفه ده، مومن کامل له پاره دنيا جيل خانه ده اوخپل محبوب خدا سره ملاقات له پاره روکاوټ دی.

حضرت علي کرم الله وجهه:

حضرت علي رضي الله عنه په ماشومانوکې له ټولو نه اول اسلام راوړونکی دی. ده د ابتدا نه کله هم بت ته سجده نه ده کړې، تاريخ اسلام شاه نجيب ابادي کې دی، حضوراکرم ﷺ چې کله مکې نه مدينې ته هجرت کاوو؛ نوحضرت علي رضي الله عنه يې له دې وجې مکه معظمه کې پرېښود. چې له رسول الله ﷺ سره ټول دخلکو امانتونه ول، هغه امانتونه خپلو حقدارو ته ورسپاري. دحضوراکرم ﷺ ددې حکم دتعميل نه وروسته دی خپله هم مدينې منورې ته لاړ. سوا دغزوه تبوک نه په نور په ټولو غزاګانو کې شامل شوی و، غزوه تبوک ته چې کله ځلل: نو حضوراکرم ﷺ دمدينې عامل يعني خپل نائب جوړ کړ، په غزوه احد کې دحضرت علي رضي الله عنه په وجود باندې شپارس زخمونه راغلل، غزوه خيبرکې حضوراکرم ﷺ جنډا دعلي کرم الله وجهه په لاس کې ورکړې وه اوله مخکې يې ورته ويلي و چې خيبر به الله تعالى ستاسو په لاس باندې فتح کوي، ده رضي الله عنه خيبر دروازه په خپله ملا باندې پورته کړې وه. کله چې هم دا دروازه چا اوچتوله؛ نو ډېر افراد به پرې راجمع شو اودا دروازه به يې دخپل ځای نه وخوځوله. دادحضرت علي رضي الله عنه دزور دليل هم و اوکرامت هم

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډېر لوی جید عالم، بهادر او قاضي هم و، ده ته به چې کله چا ابو تراب ويلو؛ نو دی به خوشاليده، ځکه چې دا لقب حضور اکرم ﷺ ورکړی و اوددې نوم وجد نسبه داوه چې بوه ورځ دی له کور نه راووت مسجد ته راغی اوهم هلته ځملاست، حضور اکرم ﷺ مسجد ته تشریف راوړو اوحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې پاسو! نو وجود نه يې ورته خاورې پاکولې اوفرمايل به يې پورته شه ابوتراب (يعني دخاورو پلاره).

دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضائل:

حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې: دغزوه تبوک په موقعه باندې کله حضوراکرم ﷺ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته په مدينه کې دپاتې کيدو حکم وکړ؛ نوحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل يارسول الله ﷺ! تاسو ما په ښځو اوماشومانو باندې خليفه کوئ اوخې. حضور ﷺ وفرمايل چې: ته به دې خوشاله نه يې چې زه دې داسې پريږدم، څنګه چې حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام پريښی و، هو! داخبره ضرور ده چې زما نه وروسته نبي نشته، دجنګ خيبر په موقعه باندې حضوراکرم ﷺ وفرمايل چې: سبا به زه جنډا يو داسې کس ته حواله کوم چې دهغه په لاس به قلعه فتح کيږي اوچا چې الله اودهغه نبي خوشاله وي. په سبا ورځ باندې ټول صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين منتظر وو، چې چې وګورو چې هغه خوش قسمته څوک دی چې هغه ته به دا سعادت ملاويږي، حضور اکرم ﷺ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوغوښت اوجنډا يې لاس کې ورکړه اوکومه قلعه چې بالکل نه فتح کيده، الله تعالى دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس باندې سمدلاسه فتح کړه.

يو ځل حضوراکرم ﷺ وفرمايل چې: دچا زه دوست يم دهغه علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوست دی، بيايې وفرمايل پروردګاره! څوک چې علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره محبت ساتي ته هم له هغه سره محبت وساته اوڅوک چې علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره دښمني ساتي يا الله! ته هم ورسره دښمني وساته.

يو ځل حضور اقدس ﷺ وفرمايل چې: ځلور کسان داسې دي چې دهغوی سره محبت ساتلو ما ته حکم شوی دی. خلکو ورته عرض وکړ چې دهغو کسانو نومونه وښايه؟ ويې فرمايل: علي. مقداد. ابوذر. سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ، عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې کله نبي اکرم ﷺ دمدينې دهجرت نه وروسته دانصار اومهاجرينو په مينځ کې مواخاة قائم کړل؛ نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پاتې شو اوپه ژړا حضوراکرم ﷺ ته راغی عرض يې وکړ چې تاسو دهر چا مواخاة قائم کړل اوزه دې يواژې پريښودم، حضوراکرم ﷺ وفرمايل: اې علي! ته زما وروړ يې په دنيا کې هم اوبه اخرت کې هم.

يوځل نبي اکرم ﷺ وفرمايل چې: زه دعلم ښار يم اوعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دهغه دروازه ده.

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمايل علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مورډ ټولو کې زيات معامله فهم دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت عائشې صدیقې رضي الله عنها مخې ته د علي رضي الله عنه ذکر راغې؛ نو ويې فرمايل چې
اوس د حضرت علي رضي الله عنه نه زيات سنت نبي ﷺ باندې څوک زيات واقف نه دي پاتې
د حضرت علي رضي الله عنه ساده مزاج او دلويو علومو حامل و.
د حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه نه روايت دي چې يو خل نبي اکرم ﷺ حضرت علي
رضي الله عنه ته وفرمايل دوه بنده ګان د هر بدبخته دي
۱. احمر چا چې د حضرت صالح عليه السلام د اوښې نوکان کټ کړي
۲. هغه کس څوک چې ستا په سر باندې توره کيدي اوستا سر له تنې جدا کړي
د حضرت علي رضي الله عنه پوره دور دازمينبتونو اومتحانونو و.

د حضرت علي رضي الله عنه قضايا فيصلې:

حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل: د خداى تعالى شکر دى چې دديې په کار کې زما دښمن هم زما نه فتوا غواړي (يعنې هغه ته زما په ديني معاملو باندې اعتماد دى) حضرت علي رضي الله عنه چې کله بصرې ته تشريف يووړ؛ نو ابن الکوع او قيس بن عبده دده په حضور کې عرض وکړ چې: خپلې خلک وايي حضور ﷺ تاسو سره وعده کړې وه چې زما نه وروسته به ته خليفه يې په دې معامله کې دوى نه څوک زيات مضبوط دي، موږ تاسونه پوښتنه کوو چې څه معامله وه داخبره چې علي رضي الله عنه واوريده؛ نو ويې ويل چې: بالکل غلطه ده رسول الله ﷺ ما سره څه وعده کړې وي، که ما سره يې داسې څه وعده کړې وي: نو ما به حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه بالکل په منبر نه وو پريښي. مه هغوى په خپل لاس باندې قتل کړي و، که يو کس هم زما مرسته نه کوله. مګر اصل خبره داسې ده چې کله د حضور ﷺ ناروغي اوپډه شوه؛ نو موذن راغې او حضور ﷺ يې د لمانځنه له پرته وغوښت حضور ﷺ وفرمايل چې: ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ووايئ چې جمعت ته مخکې شي. خو عائشې صديقې رضي الله عنها وويل چې: ابوبکر صديق رضي الله عنه په زړه نرۍ دى هغه نه شي ودانګې کيداى. بل چا ته حکم وکړئ چې لمونځ ورکړي؛ نو حضور اکرم ﷺ ته غوسه راغله اوويې فرمايل چې: تاسو د يوسف عليه السلام د زمانې ښځې يئ ابوبکر صديق رضي الله عنه ته حکم دى چې لمونځ ورکړي. په کومه ورځ چې حضور اکرم ﷺ وفات شو؛ نو په دغه ورځ موږ سوچ وکړ چې کوم کس زموږ له پاره حضور اکرم ﷺ منتخب کړى دى، موږ به په دنيوي معامله کې هغه ولي قبول نه کړو. له دې وجې موږ ابوبکر صديق رضي الله عنه خليفه په ډاډ قبول کړ. ځکه چې لمونځ اصل دين دى او حضور ﷺ د دين امير او د دنيا قائم ساتلو والا دى. موږ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لائق د خلافت وګڼلو اوده په لاس مو بيعت وکړ اوله دې وجې چې هم اختلاف ونه کړ او نه چاپل ته د نقصان رسولو کوشش وکړ، نه يو بنده دا بوبکر صديق رضي الله عنه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نه ویژاره دی. لهذا ما هم دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه حق ادا کړ ما دهغه اطاعت وکړ،
دهغه په لښکر کې شامل شوم او وجنګیدم اوهغه چې به څه ما ته راکول ما به اخیستل کوم،
خای کې به يې چې ما ته دجنګید و حکم کاوو، زه به جنګیدم اودهغه په حکم به مې حد
لګوو اوکله چې هغه وفات شو؛ نو هغه حضرت عمر رضی الله عنه خپل خلیفه جوړ کړ،
دحضرت عمر رضی الله عنه سره هم داسې پیښ راغلم خنګه چې دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه
سره وم. کله چې حضرت عمر رضی الله عنه وفات شو؛ نوماپه زړه کې سوچ وکړ چې زما پیښ
قدمې اسلامي قرابت داري اودنورو خصوصیاتوله وجې به عمر رضی الله عنه زما دخلافت اعلان
کوي، خوهغه وویږید چې چیرته داسې کس انتخاب نه کړم چې دهغه انجام ښه نه وي. هغه
دخپل نفس سره خپل اولادهم دخلافت نه محرومه کړل، که حضرت عمر رضی الله عنه دبخښنې
اوعطا په لاره باندې تللو؛ نودخپل زوی نه يې څوک زیات مستحق نه و، عرض دا چې
انتخاب اوس دقریشو لاس ته راغلی چې په هغو کې یو زه هم وم، کله چې يې خلک راجمع
کړل؛ نو زما داخیال و چې زما نه به تجاوزنه کوي، عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه دټولو نه
وعدې واخیستې چې څوک هم خلیفه مقررشو؛ نودهغه به اطاعت کوو، بیا هغه دعثمان غني
رضی الله عنه لاس ونیوو، ماچې غور وکړ؛ نومانه چې کومه وعده اخیستل شوې وه هغه دبل له
پاره وه. لهذا ما دعثمان غني رضی الله عنه په لاس باندې بیعت وکړ اوهغه سره مې هم داسې
سلوک وکړل خنګه به مې چې دحضرت ابوبکرصدیق اوحضرت عمر رضی الله عنهما سره کړل.
کله چې دی هم وفات شو؛ نوماسوچ وکړ چې هغه کسان کوم چې نبي اکرم ﷺ زمونږ له پاره
امامان منتخب کړي وو اوهغه هم لاړل دچا له پاره چې مانه بیعتونه اخیستل کیدل، اهل
حرمین (مکه ومدینه) بصري اوکوفه والاوو زما په لاس بیعت وکړ، اوس دخلافت په دې
مسئله کې هغه کس زما مدمقابل ده دچا چې نه ورایت داري زما شان ده نه علمیت اونه سبقت
اسلام. حالانکې زه مستحق خلافت وم

دحضرت علي رضی الله عنه په زړه کې دحضرت ابوبکر اوحضرت عمر رضی الله عنهما محبت:

یو کس دحضرت علي رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چې: تاسو په یوه خطبه کې فرمایلي و چې یا
الله! مونږ ته دخلفاء راشدینو په څیر صلاحیت راکړه؛ نوستاسو په نزد خلفاء راشدین څوک
وو. دایې چې واوریدل؛ نو دحضرت علي رضی الله عنه په سترګو کې اوښکې راغلې اوبیا
فرمایل: هغه زما دوست ابوبکر اوعمر رضی الله عنهما دي، دواړه امام الهدا اوشیخ الاسلام وو،
قریشو درسول الله ﷺ نه وروسته ددوی پیروی وکړې اوچاچې ددوی پیروی وکړه هغوی
نجات پیدا کړ اوڅوک چې ددوی په لاره باندې لاړل هغه دالله جماعت دی، له دې نه اندازه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت علي رضي الله عنه دروغو نه سخت نفرت و. يو خل هغه رضي الله عنه څه ويل چې يو
کس ده ته درو غژن ويلې، علي رضي الله عنه ورته بددعا وکړه. هغه کس له دمجلس نه پاسيدلی
هم نه و. چې نظر يې ختم شو
يو خل يو کس فرياد وکړ چې: فلانی بنده وايي چې هغه په خوب کې زما له مور سره جماع
وکړه د رضي الله عنه وفرمايل چې: داخوب بيانونکي انسان په سخته ګرمي کې ودروه اوسوري
ته يې کوړې ورکړه.

دحضرت علي رضي الله عنه اقوال حکميه:

علي رضي الله عنه وفرمايل چې: خلکو قبول عمل کې سخت اهتمام کوئ. ځکه چې يو عمل پرته
دتقوا او خلوصه قابل قبول نه دی.
اې عالم قرآن عامل قرآن هم جوړ شه.
عالم هغه دی چې څه يې وويل اوپه هغه يې عمل وکړ اوپه خپل علم اوعمل کې يې موافقت
پيدا کړ
يو زمانه داسې راتلو والا ده چې دعالمانو په علم اوعمل کې به سخت اختلاف وي. هغه
خلک به حلقه جوړوي اوکيني به اوپه يو بل باندې به فخرونه کوي حتی چې يوکس به راشي
اودوی سره به کيني اودوی به يې دخان نه جداخای کې کيناوي يادساتئ چې چې اعمال حلقه
اومجلس سره تعلق نه ساتي. بلکې ذات الهي سره حسن خلق دانسان جوهر عقل اودهغه
مددګار اوادب دانسان ميراث دی وحشت دغرور نه هم بدتر شی دی په غوښتو باندې چا ته
څه ورکول بخښش دی اوپرته دغوښتو چاته څه ورکول سخاوت دی، په عبادت کې ستي
پيدا کيدل په معيشت کې تنګي پيدا کيدل دي حضرت امام حسن رضي الله عنه ته په اخري خل
ده نصيحت وکړ چې: دټولو نه لويه تونګري عقل دی اودټولو نه زياته مفلسي حماقت دی
سخت ترين وحشت غروردی اودټولو نه لوی کرم حسن خلق دی دکم عقله اواحمق دمجلس نه
پرهيز وکړه هغه خو غواړي چې تاته فائده ورسوي، خونقصان رسوي ددروغژن نه پرهيز وکړه
ځکه چې هغه نزدې لري اولرې نزدې ښکاره کوي.
بخيل نه هم پرهيز کوه. ځکه چې هغه به هغه شی ستا وشوکوي دکوم چې تاته دډير ضرورت
وي. فاجر سره مه کينه ځکه چې هغه به تا ديو څو روپيو په عوض کې خرڅ کړي
دحضرت علي رضي الله عنه هريو قول اوفرمان انمول دی اوچې په دې باندې عمل وشي؛ نو
دواړو جهانو کاميابي ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پنځه خبري يادي ساتئ يو کس نه سوا دګناه نه اودبوشی نه نه دي پريدل پکار، دخدای تعالی نه سوا چانه هم امید نه دي ساتل پکار. کوم کس چې يو شی نه پيژني؛ نودهغه په زده کولو کې دي شرم نه کوي. ديوعالم نه چې کله ديوي خبري پوښتنه وشي اوهغه ته معلومه نه وي، نوبلادريغ دي وايي الله پري ښه پوهيږي.

صبر اوايمان کې هغه نسبت دی کوم چې دسر اووجود په مينځ کې اوکله چې صبر ختم شو، نو پوهه شه چې ايمان لاړ اوکله چې سرلاړ؛ نو وجود به څنګه پاتې شي.

فقيه هغه انسان ته ويل پکار دي کوم چې خلک دالله تعالی نه نا اميده نه کړي اودګناهونو رخصت ورنه کړي اودخدای دويږي نه بې خوفه نه کړي، دقرآن شريف نه اعراض وکړي اوبل طرف ته دي مائله نه کړي. يوه زمانه داسې راتلو والا ده چې مومن به دادنا غلام نه هم زيان ذليل وي (تاريخ اسلام شاه نجيب آبادي)

حضرت علي رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ په هغو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن کې دی چې په ابتداء کې بې اسلام راوړو اودحضوراکرم ﷺ يې په هر مقام کې مرسته وکړه داسې قدسي صفات الله تعالي دانسانانو متعلق فرمايي:

لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ جَاهَدُوْا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَأُولٰئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۸۸) أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ (۸۹)

ترجمه: ليکن رسول الله ﷺ اودهغه سره ايمان راوړونکو خلکوپه خپلو ځانونو اومالونو جهاد وکړ هم دوی له پاره خير دی اودوی له پاره کاميابي ده، تيارشوي دي دوی له پاره باغونه چې بهيږي به دهغه لاندې نهرونه. هميشه به اوسيږي په دې کې اودا ډېره لويه کاميابي ده.

حضرت علي رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ هم په هغو خلکو کې شامل دی چا چې حضور اکرم ﷺ سره يوځای جهاد وکړ دحضوراکرم ﷺ يې په هر اعتبار سره مرسته وکړه، اطاعت اوفرمانبرداري يې وکړه اولويه کاميابي يې حاصله کړه. الله تعالی دې مورږ تولو مسلمانانو ته په اسوه علي رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ باندې دعمل کولو توفيق ورکړي آمين

په ترمذي شريف کې دي:

"عَنْ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم اَخَذَ بِيَدِ حَسَنٍ وَحُسَيْنٍ فَقَالَ مَنْ اَحَبَّنِيْ وَاَحَبَّ هٰذَيْنِ وَاَبَاهُمَا وَاُمَّهُمَا كَانَ مَعِيْ فِيْ دَرَجَتِيْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ"

حضرت علي بن ابي طالب روايت کوي چې حضوراکرم ﷺ دحسن اوحسين رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا لاس ونيوو اووې فرمايل چې څوک ما سره اودې دواړو سره اوددوی مور پلار سره محبت ساتي هغه به دقيامت په ورځ باندې ماسره جنت کې وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جنګ صفین نه وروسته خارجي ګروه چې په ظاهره يې ديني رنګ ښکاره کاوو د اسلام خلاف يو سازشي ګروه وو هم سازشي ګروه سازش وکړ چې دې وخت کې د اسلام اهم شخصيات دري دي: (۱): حضرت علي رضي الله عنه (۲): حضرت معاويه رضي الله عنه (۳): حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه

لهذا دا دري واړه دې قتل شي، د حضرت علي رضي الله عنه د قتل له پاره عبدالرحمن بن ملجم تيار شو، د هر لوی بدبخته اوبهادر هم و، هم په دې اراده باندې دمکې نه کوفې ته راغی اوبه يوې ښځې قطام بنت شجنه باندې عاشق شو هغې ورته دا شرط ولګاو که حضرت علي رضي الله عنه قتل کړې؛ نو زه به تاسره واده وکړم، په روايتونوکې راځي چې حضرت علي رضي الله عنه ته د راتلونکې حادثې متعلق احساس پيدا شوی و، عبدالرحمن بن ملجم ته به يې چې کله کتل؛ نو محسوسوله به يې چې دده لاسونه په وينو باندې سره کيدو والا دي. دابن سعد په يو روايت کې دي چې فرمايل به يې: زما دې دالله په ذات باندې قسم وي چې ماته به رسول اکرم ﷺ فرمايل چې: زما مرګ به دقتل نه وي، عبدالرحمن بن ملجم دوه خله بيعت ته راغی. مګر ده رضي الله عنه به واپس کړ. په دريم ځل چې راغی؛ نو ويې ويل: دتولو نه زيات بدبخته انسان کوم شی يې بندوي الله داشی ضرور رنګ کيدو والا دی. (طبقات ابن سعد،کله کله به چې خپلو ملګرونه خفه شو؛ نو دابه يې ويل چې: دتولو نه زيات بدبخته انسان څوک دراتلو اوزما دقتلولو نه بندوي خدايه! زه دده نه بيزاره شوی يم اودی زما نه ستړی شوی دی ماته دده نه راحت راکړه اوده ته مانه راحت ورکړه. (طبقات ابن سعد ص۳۴ج۳، انسانيت موت کے دروازے پر)

کوم وخت چې خلکو عرض وکړ يا اميرالمومنين مورې ته دهغه نوم وښايه مورې به اوس دهغه فيصله وکړو. ويې فرمايل: تاسو به داسې کس قتلوی چا چې زه اوسه پورې نه يم قتل کړی. دوی ځينې ملګرو ته هم ددې خارجي سازش پته لګيدلې وه، دبنومراد يوکس حاضر شو اوعرض يې وکړ امير المومنين! خبردار وسيږئ دلته څه کسان ستاسو دمرګ اراده لري (الامامة والسياسة،داهم واضحه شوې وه چې څوک دقتل اراده لري، اشعث يوه ورځ ابن ملجم ته وويل چې: توره وښايه هغه توره وښوده، اشعث ورته وويل: ستا توره خو بالکل تيره ده دا خودجنګ ورځې هم نه دي دا ولې دي تيره کړې ده، ابن ملجم وويل: زه کلي کې اوښ ذبح کول غواړم. اشعث پوه شو اوپه خپله ځجره باندې سور شو اوحضرت علي رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شو او ويې ويل: تاسو دابن ملجم دجرأت اوشجاعت نه واقف ئ، علي رضي الله عنه وفرمايل: ليکن اوسه پورې هغه زه نه يم قتل کړی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دشهادت سهار:

اقدام قتل دجمعې په ورځ باندې دسهار دلمانځه په وخت کې وشو، تولې شپه ابن ملجم داشعث بن قیس کندي په مسجد کې هغه سره خبرې کولې هغه په کوفه کې شبیب بن بعیره نومې یو خارجي خپل شریک کار جور کړی و. دواړو تورې راواخیستې لاړل اودهغې دروازې مخې ته کیناستل ورته معلومه شوې وې چې درخصتي وخت راغې، فراست المومنین ته خوب ورنغی شاید ورته معلومه شوې وې چې سهار وخت کې زه حاضر شوم! نو ویې فرمایل چې تولې شپه ویښ وم لږ وخت مې وشو چې په ناسته باندې ویده شوم په خوب کې دنبي اکرم ﷺ دیدار وشو هغه ته مې وویل: ای دالله نبي! ستا دامت نه ماته ډېر لوی تکلیف ورسید. رسول اکرم ﷺ وفرمایل: دعا وکړه چې خدای دې تږې خلاص کړي، ما دعا وکړه چې یا الله! ماته ددوی نه ښه ملګري راکړه اودوی ته زما نه بدتر ملګري نصیب کړه (ابن سعد) موذن دلمانځه له پاره اذان وکړ، حضرت علي رضی اللہ عنہ په مشکل باندې دا اشعار وویل اومسجد ته لاړ چې ترجمه یې داده: مرګ له پاره مې ملاو وتړله خکه چې مرګ به ضرور تا سره ملاقات کوي. مرګ نه مه ویریږه که هغه تاته حاضر شي.

دی رضی اللہ عنہ چې کله مخکې لاړ: نو دوه تورې پرقید ونکې مخې ته راغلل اویو اواز یورته شو حکومت دخدای دی ستا نه دی علي! دشبیب توره په طاق باندې ورغله اوابن ملجم توره یورته ټاوول شروع کړل اویه مجمع باندې داسې روان و چې ممکنه وه چې تښتیدو کې کامیاب شوی و. خومغیره بن نوفل چې دخپل وخت مضبوط پهلوان و، غټه کپړه یې پرې وروا چوله اوخمکې ته یې راوویشت (الکامل)

دقاتل اومقتول مینځ کې خبرې:

امیرالمومنین خپل کور ته راورسول شو. ده رضی اللہ عنہ قاتل طلب کړ، کله چې دهغه مخې ته راغې: نوویې فرمایل چې: دخدای دښمنه! زما په تا احسانات نه و؟ هغه وویل: هوا بیا دې دا حرکت ولې وکړ؟ هغه وویل ما داتوره ځلوینست ورځو پوري تیره کړې وه اودخدای تعالی نه مې دادعا کړې وه چې په دې باندې خپل بدترین بنده قتل کړه، حضرت علي رضی اللہ عنہ وفرمایل ته دالله بدترین بنده یې اوته به اوس په دې باندې قتل کیږې. (طبري بحوالۀ انسانیت موت کے دروازے پر، یعنی ته به اوس په دې توره په قصاص کې قتل کیږې له دې وجې چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په ترین یې، امیرالمومنین حضرت حسن رضی الله عنه ته وفرمایل چې داقیدي دی دده خاطر تواضع وکړئ، ښه خوراک ورکړئ، نرمه بستره ورکړئ، که ژوندی پاتې شوم؛ نو دخپلې وینې په ډولو نه زیات دعویدار زه یم، قصاص اخلم که معاف کوم اوکه مړ شوم؛ نو دی هم زما نه وروسته قتل کړئ. دالله په حضور کې به ترې زه پوښتنه کوم، اې بني عبدالمطلب داسې نه ده چې اوس تاسو دمسلمانانوخونریزې شروع کړئ اوداوایې چې امیر المومنین قتل شو. خبردار زما دقاتل نه سوا دبل چا قتل ونه کړئ، اې حسنه! که دده دګوزار نه وفات شم؛ نو دی داسې ووهه دده غوږونه پوزه مه کټ کوه. ځکه چې ما دنبي اکرم ﷺ نه اوریدلي دي. خبردار غوږ مه کټ کوئ اګر که هغه دسپي ولې نه وي

په دویم روایت کې دي چې ویې فرمایل: اګر که تاسو په قصاص باندې زور راوړئ؛ خوبیا پکار دي چې په یو ګوزار باندې هغه قتل کړئ، خټکه یې چې زه وهلې یم، خو که معاف یې کړئ؛ نو داتقوا تهډیره قریبه ده، ګوریئ زیاتی ونه کړئ، الله تعالی زیاتی کوونکی بنده نه خوښوي. سبحان الله! څومره کریمانه شان دی څه عجیبه حوصله اوصبر دی

وصیت:

بیایې خپل بچیان حسن اوحسین رضی الله عنهما راوغوښتل اوویې فرمایل چې تاسو دواړو ته دتقوا الهي وصیت کوم اوددې دنیا پسې مه ځئ که دا تاسو پسې شاته راځي اوکوم شی په کې یې خایه شو؛ نوهغه پسې مه خفه کیږئ، همیشه له پاره حق قائم کړئ. یتیمانوباندې رحم کوئ. د یې کسو مدد کوئ، داخرت له پاره عمل کوئ، دظالم دښمن جوړ شئ. دمظلومه مرسته کوئ. کتاب الله باندې عمل کوئ، دخدای باره کې ملامت کوونکي خلکو پرواه مه کوئ. بیا خپل دریم زوی محمد بن الحنفیه ته یې وفرمایل: ته هم په دې باندې عمل کوه او دخپلو وروڼو عظیم حق ادا کړه، بیایې حسن اوحسین رضی الله عنهما ته وفرمایل زه تاسو ته دده باره کې وصیت کوم، ځکه چې دا ستاسو وروڼ دی، ستاسو دپلار زوی دی اوتاسو پوهیږئ. چې ستاسو پلار ده سره محبت کوي.

بیا یې خپل ټول اولاد مخاطب کړ اوویې ویل: دخدای نه ویریږئ، دالله اطاعت وکړئ کوم شی چې ستاسو په لاس کې نه دی دهغه غم مه کوئ، دالله په عبادت باندې ټینګ ودریږئ. چست اوچالاک اوسیږئ. سست مه جوړیږئ، ذلت مه قبلوئ، خدایه! مونږ ټول په حق باندې راجمع کړې اوددنیا درغبت نه مو وساتې، زمونږ اودوی له پاره ددنیا نه بهتر کړې، همدغه راز نور وصیتونه یې هم وکړل اوله دې وروسته کلمه وویله اوهمیشه له پاره یې سترګې بندې کړې، دده دشهادت په وخ داسې سترګه نه وه چې هغه به ژړیدلې نه وي بالکل هماغه منظر و کوم چې دحضوراکرم ﷺ دوفات و. صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین وایي چې مونږ عائشې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صدیقي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ورغلو؛ نو هغې دغم نه زوړنده اوداوښکو نه ډکه پرته وه. خلکو چې دا حالت ولید؛ نو واپس راغلل

جهاں والے ستم کو گو تسلیم کرتے ہیں
مگر یہ رسم اتنی عام کیوں ہے ہم نہیں سمجھے
عشق کو حسن کی تزئین کا سامان بنا
زندگانی کسی شوخ کا ارمان بنا
مصلحت کا یہ تقاضا ہے کہ خاموش رہو
جو سخن نکلا زبان سے وہی طوفان بنا

دحضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دقبر پته نشته:

دحضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دشهادت نه پس حضرت حسن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دوصیت مطابق ابن ملجم په یو وار سره بطور قصاص قتل کړ،دې نه پس جنازه حضرت حسن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وکړه، د خپلې روایاتو مطابق دکوفې مسجد کې اود خپلې روایاتو مطابق کوفې نه لس میله فاصله باندې دفن کړل شوديعض روایاتو مطابق حضرت حسن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دده قبر خفیه طور باندې بل ځای ته منتقل کړو خاص ددې وجې نه چې چرته خارجیان ددوي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دقبر بې حرمتي ونه کړي دیو بل روایت مطابق دده تابوت مدیني منوري ته یوړل شوچې دحضوراکرم ﷺ خوا کې بې دفن کړي دلاري په میښ کې هغه اوښ په کوم چې دده جنازه پرته وه هغه وتښتیده اوبیادهغې ځای پته ونه لګیده.دیو روایت مطابق هغه اوښ په طے علاقه کې ملاؤ شوخلکو ونیوو اودهغه تدفین بې هلته وکړ،غرض داچې تر نن ورځ پورې ددومره عظیم الشان شخصیت دقبر پته چاته هم ونهٔ لګیده. همدغه وجه معلومیږي چې دخارجیانو له ویرې داسې ځای کې دفن شو چې عامو خلکو ته بې ځیګ معلومات نشته، په دې کې دا یو حکمت الهي هم معلومیږي چې وروسته خلکو حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته دخدایي مرتبې ورکولو نه هم دریځ ونه کړ ،که خلکو ته دده دقبر صحیح پته لګیدلې وی نو وروسته به دا دشرک یوه غټه منډیې لګیدلې وه لکه چې نن سبا مورږ په خپلو سترګو باندې ګوروچې دبزرګانو قبرونه مونږ خلکو قبله اوښت جوړ کړي دي اوپه نوم مسلمانان یو اوپه عمل کې دمشرکین مکه نه کم نهٔ یو ، دچا چې زړه غواړي سالانه عرسونوکې دبزرګانو په قبرونوباندې جمع کیږي، دمسلم نما خلکو اعمال په قبرونو باندې خپله وګورئ ،تاریخ اسلام شاه نجیب آبادي رحمۃ اللہ علیہ

دحضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عدل:

یو خل داختر په ورځ باندې کور ته ولاړ ؛نودخپلې لور په غاړه کې بې دسرو هار ولیده، دلور نه بې پوښتنه وکړه چې داهار درته کوم ځای کې ملاوشوی دی؟ لورپه ویره باندې جواب ورکړ چې اباجان داختر له پاره مې دبیت المال دنګران نه غوښتی دی،یعني عاریتاً مې داختر له پاره اچولی دی

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخزانچي نه پوښتنه وکړه؛ نوهغه همدا وويل چې ما نه يې يوازې داختر له پاره اخيستې دي، حضرت اميرالمؤمنين وفرمائيل که ماته په صحيح طريقې باندې معلوم شوي وي چې دادبيت المال نه پټ شوی دی نونن به لومړی ورځ وه چې دامير المؤمنين ډلور لاس به کښ کيده.

فائده: زمونږ دحاکمانولپاره داډېر عبرت آميز ځيز دی چې هغوی قانون په هر يو باندې نافذ کړي خواه خپل وي يا پردي. دملک نظام هغه وخت کې صحيح طورباندې چليږي کله چې انصاف وي اودقانون نظام په ټولو باندې برابر وي.حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به نن سبا واله پښتون سياست بالکل غلط ګانه، چې په هغه کې هر قسمه دوکه. فريب اومنافقت وي.هغه بالکل ډاسې قسم چالاکي وپالیسي نه مکمل مبرا وؤ زمونږه ليډرانو سردارانو وډېره ګانو له هم پکار دي چې هغوی په اسوه علوي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې عمل وکړي. دي له پاره چې معاشره صاف ستره اودمنافقت نه خالي وي.حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حق پسند ؤ اوپه حق به يې عمل کاؤ همدغه وجه وه چې هغه دحضرت ابوبکرصديق،حضرت عمر اوحضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُم خلافت قبول کړ اوپه هر اعتبار سره يې پوره پوره مرسته وکړه اواتحاد بين المسلمين يې برقرار وساته. نن هم مسلمانانو ته پکار دي چې اتحاد بين المسلمين باندې عمل وکړي نن مسلمانانولره پکار دي چې حق باندې عمل وکړي اوپه مسلمانانوکې تفرقه بازي اوانتشار نه خوروي عاجزي اوتواضع اختيار کړي، دتکبر اوانانيت نه لرې پاتې شي. دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دزندګي نه هم دا سبق ملاويږي، علماوو لره پکار دي چې دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دسادګۍ اوانکساري نه سبق حاصل کړي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ددومره لوړې مرتبې سره سره مسجد ته ته اوپه خاوره باندې به پروت و، نن علماوؤ مشائخ ته وګورئ چې خومره تکلفاتو اودتکبردسامان سره ګرځي اودخلکو زړونو کې دآخرت په ځای ددنيا محبت پيدا کوي. ورسره علماوؤ لره پکار دي چې حق ګو جوړ شي اوددنيادارو اوحاکمانو درباري اوچنده خور جوړ نه شي.غرض دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دتمامو کارونو نه دنيمې ورځې پښتون دا روښانه ده چې هغوی کومه خبره حق اوريښتيا ګڼله دهغې حق اوريښتيا ويلو کې دمصلحت اوپالیسي په وجه تامل نه کول ضروري نه ګانه، دهغه مخ دزړه تصوير او ظاهر يې دباطن آئينه وه هغه يوه برېنده توره وه اوحق ته حق ويلو باندې به يې کله هم سرپه نه کوله

"کسے را نه شد ايں سعادت به کعبه ولادت،بمسجد شهادت".

الله تعالي دي تمام مسلمانانو ته اسوه علوي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې د عمل کولو توفيق ورکړي آمين

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حاضر جوابي:

يو کس حضرت علي رضي الله عنه نه سوال وکړ که يو کس په يو کور کې بند کړل شي او دکور دروازې هم وتړل شي نو رزق به څنګه وررسيږي؟

دوه رضي الله عنه وفرمايل له کوم طرفه چې ده ته مرګ راځي.

يو ځل يو کافر عين دمازيګر دلمونځ تيارېدو وخت کې پوښتنه وکړه چې: کوم کوم ځناور هګۍ اچوي او کوم کوم بچې راوړي؟ دهغوی مقصد داوؤ چې ددې ټولو به تفصيل بيانوئ او دې کې به دمازيګر وخت تريښه ختم شي. علي رضي الله عنه جواب ورکړ چې: دکومو ځناورو غوږونه بهر دي هغوی بچې راوړي اودکومو چې دننه دي هغوی هګۍ اچوي.

خصوصي امتيازات:

دحضرت علي رضي الله عنه ولادت عين خانه کعبه کې وشو. دی رضي الله عنه د حضوراکرم ﷺ د سګې تره زوی ؤ. پنځه کاله پس حضوراکرم ﷺ خپله دده رضي الله عنه تربيت کړی دی.علي رضي الله عنه دلس کاله په عمر کې اسلام قبول کړ دوالدينو دناراضګئي اوخلکو دمخالفت په سبب حضور ﷺ سره ځنګل ته ته اوعبادت به يې کاؤ. دحضوراکرم ﷺ دزوم توب شرف ده رضي الله عنه ته حاصل شو. (مخزن اخلاق)

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درجب دمیاشتې دویمه خطبه:

درجب (نذر) اودشرک مذمت

رجب په میاشت کې دېر خلک دحضرت امام جعفر صادق (رحمه الله) دنذر رسم کوي داقطعي رک وبدعت دی. دارسومات ددښمنان اسلام سازش دی په داسې رسوماتو سره دوی سلمانان داصل عمل نه اروي اودشریعت مطهره چې کومه صحیح اوسیده لاره ده حضوراکرم ﷺ دسنتونو نه یې لرې کول غواړي، داسې تمام رسومات بدعت اوشرک دي وګمراهي ده یوه دځان نه خبره اوکیسه په نښو کې دکوندو(نذر) باره کې مشهوره ده هغه الکل دروغ اوافتراء ده اوپه امام جعفر صادق باندې سراسر بهتان دی،تمام اهل سنت والجماعت مکتب فکر دیوبند اومسلک علماء بریلوي په دې باندې متفق دي چې کوندو(نذر) رواج دحضوراکرم ﷺ یا دخلفاء راشدینو(رضوان الله علیهم اجمعین) په مبارک دور کې هرګز نه ؤ. په حدیث شریف کې دي چې په دین کې هر یو نوی پیدا کړل شوی شیزبدعت دی اوبدعت ګمراهي ده اوګمراهي جهنم دی، دنذر واله کتاب کوم چې په زنانه وؤ کې دالله اودرسول حکم ګنډل کیږي اوویل کیږي هغه قطعي طور باندې دروغ اوافتراء باندې مبني دی،په حواله د رجب دمیاشتې نذر،علماء اهل سنت ددې سوال په جواب کې چې نذرنیاز شرعي حیثیت څه دی؟ فرمایلي دي: حضرت سیدالسادات جعفر صادق علیه الرحمة والرضوان فانواده نبوت چشم وچراغ دی اکابرین اسلام کې دده لوی مقام دی، تمام مسلمانان صحابهٔ کرام اواهل بیت اطهار سره خلوص دل سره محبت اوعقیدت ساتي اود دوی سره محبت اوعقیدت اواتباع دډنیا اوآخرت دنجات اوخلاصي سبب ګڼي،په دې مسئله کې تحقیق دادی چې په (۲۲) رجب نه دموصوف ولادت دی اونه وفات، درجب میاشت حقیقت کې دمعراج النبي (ﷺ) میاشت ده.دامام الانبیاء دعظمت اوشان واله میاشت ده اوددې نسبت ختمولو اوبدعت (نذر) سره منسوب کول یو ناپاکه سازش دی، کهٔ حضرت سره داسې عقیدت اومحبت وي نو خوراک دې تیار شي اوپه مسکینانواوفقیرانو دې تقسیم شي.قرآن کریم تلاوت دې ورته ایصال ثواب کړل شي لیکن کوندې په یو خاص انداز اوشرائطو دکول اوخوراک ورکول په اسلام کې یو نوی شی پیدا کول دي. په دین کې دیو شي کمول اوزیاتول دنبي اکرم ﷺ منصب دی چې هغوی دالله تعالي په حکم باندې کوي، دنذر نیاز،په کتابونو کې چې کومه عجیبه واقعه تحریر ده داقطعي طور باندې دروغ اوبې اصله ده، همدغه راز دحضرت امام جعفر صادق طرفته داوعده چې په (۲۲) رجب باندې نذر نیاز کوئ زما په توسل سره مراد غواړئ کهٔ مراد مو پوره نهٔ شو؛ نو قیامت په ورځ ستاسو لاس اوزما

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لمن دابالکل دروغ دي اوغلط نسبت دی حضرت جعفرصادق رحمه الله، باندې بېشکه بهتان اوتهمت دی. مسلمانانو سره دالله پاک کتاب قرآن مجید موجود دی چې په هغه کې هیڅ قسمه تغیر، تبدیل اوتحریف نشته اودحضور ﷺ سنت مبارکه هم محفوظ دي.دحضور ﷺ په اُمت باندې عظیم احسان دي تمام اُمت تر قیامته دحضور ﷺ داحسان بدله نه شي پوره کولی اودحضور ﷺ خپل اُمت سره دومره مینه ده چې دخپل مور پلار به هم داولاد سره نه وي. ''اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ'' الآیة

دحضوراکرم ﷺ شان دقیامت په ورځ چې تمام انبیاء مرسلین نفسي نفسي آواز کوي حضوراکرم ﷺ به اُمتي اُمتي آواز کوي، ده دخپل اُمت د مشکلاتو لرې کولولو پاره دداسې قسم نذرونیازطریقه نه ده تجویز کړې. چې نبي نهٔ ده تجویز کړې نوولي یې څنګه تجویز کړي. الله تعالي قرآن مجید کې فرمایي: ''وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗ اِلَّا هُوَ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ''(الانعام پ۷آیت۱۷) نفع اوضرر یوازې اویوازې دالله تعالي په لاس کې دي.

ترجمه: که تاسو ته الله تعالي څهٔ تکلیف ورسوي نودهغه نه بغیر یې څوک رد کولی نه شي اوکه تاته فائده رسوي نوهغه په هر شي باندې قادر دی.

الله تعالي چې څه غواړي هغه کوي هغه مالک ومختار قادر وقدیردی.

(۱) الله تعالي دحکم نه پرته څوک هم دچا تکلیف نهٔ شي لرې کولی.حاجت روایي نه شي کولی.دغیر الله نذر کول شرک دی.

(۲) څرنګه چې ددې کوونکی ګنهګاراوبدعتي دی دغه راز شرکت کولو والا هم بدعتي اوګنهګار دی.

(۳) حضرت سیدالسادات جعفرصادق رحمه الله، خود لوېي درجي بزرګ دی، یو ادنی ترین مسلمان هم دڅان نه داسې خبرې نهٔ شي کولې.الله تعالي په دربار عالیه کې بنده دخپل طبیعت مطابق ګرځیدو مجال نه دی.

(۴) هر یو مسلمان په پنځهٔ وخته لمونځ کې: ''اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ''وایي، واضحه مطلب یې دادی چې: مونږ یوازې ستا عبادت کوؤ اویوازې ستا نه مدد غواړو د کوندو (نذرونیاز)، عمل سره لمونځ باطل شواودالله په حضورکې چې باربار اقرار کوي په هغې کې دروغژن شو.په (۲۲) رجب باندې ۲۰هجري کې امیرالمؤمنین امام المتقین خال المسلمین مکرم کاتب وحي رسول الله ﷺ خاص معتمد اوعصاءاسلام حضرت معاویه بن ابي سفیان رضی الله عنه داسلام اومسلمانانوپنځوس کاله پوري خدمت کولو نه پس وفات شو.روانض چې څرنګه دامیرالمؤمنین عمرفاروق رضی الله عنه د شهادت په خوشحالي کې مجوسي قاتل ابو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لوڼو فیروز ته باباشجاع وايي اوختر لمانځي دغه راز هغوی دامیرمعاویه رضی الله عنه په رحلت باندې په ۲۲ رجب باندې خوشحالي لمانځي. ليکن پرده پوشي له پاره يې يوخان نه روايت جوړ کړی. دحضرت جعفربن محمد طرف ته يې منسوب کړی دی. دي له پاره چې راز ښکاره نه ځي اودښمنان معاویه رضی الله عنه په پټه باندې يوبل سره کيني اوخپل مينځو کې شيرينې وخوري اودغه راز خپله خوشحالي په يو بل باندې ظاهره کړي. دهغوی دتقیه سازي اوطريقه کار له پاره دحضرت جعفرصادق دنيازپه دعوت کې دېر ساده لوح مسلمانان هم دخپلې بې علمي له وجې نه شريک شي لهذا داخلاف شرع اوبې اصل کار دمخالفين اسلام اودوښمنان دصحابۂ کرام رضی الله عنهم ايجاد دی چې دشمالي هند داوده، دعلاقې نه شروع شواودلکهنؤ اورام پورنواباتو روافضو ته مخه اوترڅې ورکړه اوداسې قسم بدعات يې عام کړل اوپوره برخليک يې واخيسته (حواله ماه رجب کے کونڈے)

غیرالله نه دسوال کولوسبب:

حضرت جيلاني محبوب سبحاني شيخ عبدالقادر جيلاني رحمۃ الله عليه فرمايي دمخلوقاتو اوغيرالله نه يوازې هغه خلک سوال کوي دچاچې يقين اوايمان کمزوری وي. چې په هغوی کې صبر وتوکل بالکل نشته اوڅوک چې دتوحيد الهي پيژندګلو بالکل نه لري اوددې برعکس يوازې هغه خلک دغيرالله مخې ته سوال کولو نه محفوظه وي کوم چې دتوحيد باري تعالي پيژندګلولري چې دهغوی طريقه توکل علی الله ده اوکوم خلک چې ذکر وفکر منلو سره حقيقت اوصداقت بصيرت لري اوپه ايماني غوښتنې ددې شي شرم وحيا ساتي چې خدای ﷻ وقيوم کيدو سره دی بل چا نه سوال کوي. (فتوح الغيب) په يو بل ځای کې فرمايي احکام خداوندي نه تجاوز مهٔ کوه ځکه چې دهغه احکام په انسان باندې طوعاً وکرهاً (طبيعت باوجود يا خلاف) نافذ کيږي داحکم الحاکمين په موجودګي کې ديو کار حاکم مه جوړيږه، ستاحاکم کتاب الله اوسنت رسول دي که چيرته ستا په زړهٔ کې يو خيال اووسوسه تيره شي يا دالهام کيفيت دي نو داد قرآن اوحديث په معيار باندې وتله، که قرآن وحديث کې ددې حرمت وممانعت موجود و. مثلاً زنا ،سودخوري، غصب، ظلم ودوښمني، کذب وفريب اونور اعمال فسق وفجور نوداسې خبري دخپل زړهٔ اودماغو نه لري کړئ اوپه دې باندې عمل مهٔ کوئ.

که هے ذات واحد عبادت کے لائق　　زبان اور دل کی شہادت کے لائق
اسی کے ہیں فرمان اطاعت کے لائق　　اسی کی ہے سرکار خدمت کے لائق
(مولانا حالي رحمۃ الله عليه)

حقيقت دادی چې دتوحيد دعويدار نن په شرک کې مبتلا دی، چطرته په زيارتونو باندې سجدې کوي چيرته نذرانې، نيازڅادري اچول، په زيارتونو باندې سرود اورقصونه کوي، په

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بعضي زيارتونو باندي منشيات خځيږي اوس ووائي چې آيا دا اسلام اومسلماني ده؟ داسې خلک به دقيامت په ورځ باندې الله تعالي ته څه جواب وركوي؟په اسلام كې دتولو نه اول اوبنيادي شى دتوحيدعقيدهٔ ده، كهٔ عقيده صحيح نهٔ وي نو چې څومره اعمال وكړي خواه نيت دي ددين وي نو بيا هم قبول نهٔ دي اوكهٔ عقيده صحيح ده اوعمل كمزورى د ى نودا انسان به بښل كيږي، دي وجې نه قرآن كريم كې الله تعالي فرمايي چې دمشرک بښنه به نهٔ كيږي ،دي نه علاوه الله تعالى چې څوک غواړي بښي يې اويو بل ځاى كې فرمايي: بېشكه الله تعالى سره شرک كول دتولو نه لوى ظلم دى، (هر خلک انبياوو، امامانو، فرشتو اونبۍپيريانو ته مشكل وخت كې آواز كوي اودوى نه مراد غواړي اودوى نه منتوونه غواړي اوندرونيز كوي اوبلاء و مصيبت ختميدو له پاره خپل بچي دهغوى طرفته منسوبوي، خوک دخپل بچي نوم عبدالنبي ږدي اوخوک علي بخش، حسين بخش اوخوک پير بخش اوخوک سالار بخش او خوک دچا په نوم باندې ځاروي ذبح كوي اوخوک ورته مشكل وخت كې آوازونه كوي،خوک په خپلو خبرو كې دچا په نوم قسم خوري، غرض داچې چې هندو بده مت اونورو كافرانو چې څهٔ دخپلو ټاتانو سره كول هغه ټول دا دروغژن مسلمانان دانبياوو. اولياوو. امامانو، شهيدانوٓ، فرښتو اوخاپيريانو سره كوي اودعوي دمسلماني كوي سبحان الله! داخلو اوداوعوي، الله تعالىٰ صحيح فرمايلي دي : ''وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُم بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ'' (پ۱۳آيت ۱۰۶سورة يوسف)

او اكثر خلک مسلمانان دي مگر شرک كوي شاه عبدالقادرجيلاني رحمه الله فرمايي يعني په خولهٔ باندې ټول وايي چې خالق ومالک زمونږه الله دي اوبيا نورو پسې ځي.

فائده: يعني اكثر خلک چې د ايمان دعوى لري هغوى په شرک كې گرفتار دي بياكهٔ پوښه بنده دوى پوهوي چې تاسو دعوي دايمان لرئ اوكارونه دشرک كوئ،نوداداوږه لاري ولې گډوئ؟ نو هغوى جواب وركوي چې مونږ خو شرک نهٔ كوؤ بلكې خپل عقيدت انبياء،اولياء په حضورکې ښكاره كوي مشرک خو هغه وخت وي كله چې دوي انبياء اولياء پيران دخداى برابر وګڼي مونږ خو يې داسې نهٔ پيژنو خوالله تعالىٰ بنديګان يې ګڼو .اوالله مخلوق اوا تيوازي الله تعالىٰ وركړي دي اودهغهٔ په مرضي باندې عالم كې تيوازي كوي اوددوى آواز عين دالله تعالي آواز دى اوددوى نه مدد غوښتل عين الله نه مدد غوښتل دي اودغه خلک دالله نيازبين دي څهٔ چې كوي هغه يې كوي اودالله په حضورکې مونږ له پاره سفارشيان اووكيلان دي اوددوى په ملاويدو سره خداى ملاويږي اودوى ته په آوازكولوباندې خداى ځُرب ملاويږي اوخومره چې مونږ دوى منو هغومره الله ته نږدې كيږو اوداسې قسم خرافات خبرې كوي. دخداى اورسول كلام يې پريښوده اودخان نه پكې عقل استعمالوي اوددروغو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کیږي چې روان وي او دغلط رسمونو سند نیسي او کهٔ دالله او درسول دکلام تحقیق یې کولی
نو بیا څوي به وژ چې دپیغمبر خدا مخکې به کافرو هم داسې خبرې کولې
الله تعالي دډوی یوه هم ونهٔ منله اوپه دوی یې دناراضګۍ اظهار وکړ اودروغژن یې ورته
وویل سورۂ یونس کې یې فرمایي:

"وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ" (سورۂ یونس پ ۱۱ آیت ۱۸)

ترجمه دالله نه پرته هغه چاته سجده کوي چې نه فائده ورکولی شي اونهٔ نقصان اوداوایي چې
واخلک زمونږ سفارشیان دي دالله په بارګاه کې، ووایه چې تاسو الله له هغو خبرو نه خبروئ
چې هغه ته په آسمانونو اوځمکه کې معلومې نه دي، هغه پاک دی دهغه څه نه چې دوی
ورسره شریکان جوړوي

فائده: یعنې کومو ته چې خلک آواز کوي هغوی ته الله تعالي قدرت نه دی ورکړي. نهٔ دفائدې
ورکولو اونهٔ د نقصان اوچې دا وایي چې دازمونږ سفارشیان دي دالله په حضور؛ نوداخبره خو
الله تعالي نهٔ ده کړې آیا تاسو دالله نه زیات خبردار یئ چې هغه نه هغه خبردار نه دی. ددې آیت
نه معلومه شوه چې تمام آسمانونو اوځمکو کې داسې څوک سفارشي نشته چې هغهٔ ته آواز
وکړل شي چې څهٔ فائده یا نقصان وروسیږي؛ نوانبیاوو اوالیاوو سفارش دالله تعالیٰ په
اختیار کې دی هغهٔ ته په آواز کولو نهٔ کولو هیڅ هم نهٔ کیږي اودې نه داهم معلومه شوه چې
څوک دوی سفارشي وګڼي هغه هم نرالا شي

په احادیثوکې دشرک مذمت:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: قَالَ اللهُ: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلاً أَشْرَكَ فِيهِ مَعِيَ تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ وَأَنَا مِنْهُ بَرِيءٌ. (مسلم،مشکوۃ باب الریاء)

په دې حدیث کې شرک اکبر اوشرک اصغر(ریا)، مذمت بیان شوی دی. حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کړې دي چې حضور ﷺ وفرمایل چې: الله فرمایي: زه دهر بې پرواه یمه څوک شریکانو په شریکولو سره اوخوک چې په یو عمل کې ما سره بل څوک شریک کړي نوزه هغه اودهغهٔ شریک پریږدم اوزه دهغه نه بري یم (شرک نه).

تشریح: څرنګه چې دبادشاه تاج یو چمیار ته په سرول دبادشاه توهین دی، دغه راز شرک کول دالله تعالي توهین دی اوځرنګه چې نور خلک شیان په خپلو مینځو کې تقسیموي زهٔ داسې نهٔ کوم څکه چې زهٔ بې پرواه یم. بلکې چې کوم کار زما له پاره اوشي اوپه هغه کې بل هم شریک کړل شي نو زهٔ خپله برخه هم نهٔ اخلم بلکې ټول پریږدم اودهغه نه بیزاره شم.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عَن مَعَاذِ بنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: لَا تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئاً وَإِن قُتِلتَ أَو حُرِّقتَ. (رواه احمد)

حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې: ما ته رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایه: الله سره شرک مهٔ کوه که څه هم تهٔ قتل کړل شي یا وسوزول شې، یعني دتوحید په مسئله کې کله مصائب راشي نو که کوریا اولادپرینبودل وي یادي جنات وغیره تنګوي نوپه هرحال کې دتوحید لمن مهٔ پریږده. مشکوة باب الکبائر کې دي دحضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یو کس عرض وکړ: یا رسول الله! کومه یوه ګناه دالله په حضورکې ډیره غته ده، وې فرمایل چې: ته الله سره څوک شریک جوړ کړې اوآواز ورته وکړې حالانکې هغه ته پیدا کړی یې.

تشریح: الله هر ځای کې حاضر وناظر دی اوهر څه دهغه په اختیار کې دي کله چې یوکس غیرته آواز کوي نوپه دي هغه پوهیږي اوداشرک دی بیا داچې الله مونږه پیدا کړي یو اوچاچې پیدا کړي نو باید هماغه ته آواز وکړل شي دتوحید په برکت سره ګناهونه معاف کیږي اودشرک په نحوست سره نیکي ختمیږیو توحید سره دانسان روح پاک وصاف شي اوشرک سره روح ناپاکه کله چې دالله تعالی ګرفت وشي نو څوک دې هم نهٔ شي خلاصولي اوکهٔ ټول مخلوق څوک وهل غواړي نو دالله دحکم نه بغیر یو ویښته یې هم نهٔ شي ضایع کولی. فاسق مؤحد زر ځله له متقي مشرک څخه بهتر دی.

دغیبو علم الله سره دی:

علم غیب خاصه خداوندي ده ارشادرباني دی:

وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الغَيبِ لَا يَعلَمُهَا إِلَّا هُوَ. (پ۷سورة انعام).

ترجمه: دهغهٔ سره دغیبو ؔ جیاني دي، له هغه پرته هیڅوک نه پوهیږي

فائده: یعني څرنګه چې الله تعالي بنده ګانو ته داشیاء معلومولوڅهٔ قوتونه ورکړي دي لکه کتلو له پاره سترګې، اوریدولو له پاره غوږونه، بویولولو له پاره پوزه، ځنبلو له پاره ژبه، نیولو له پاره لاس. پوهیدو له پاره عقل دااستعدادونه دانسان په اختیار کې دي چې دخپل خواهش مطابق دې نه کار واخلي نوداستعدادونه چاپیاني دي دچاپه لاس کې چې چاپې وي نو تاله دهغهٔ اختیار کې وي. دغه راز دظاهري شیانو معلومول دانسان په اختیار کې دي اودغیب دشیانو معلومولونه انسان عاجز دی، دادالله تعالي په اختیار وقدرت کې دي چې دغیب ځیزونه الله ته معلوم دي الله تعالي داقدرت یو نبي یا فرشتي یا جناتو ته نهٔ دی ورکړی چې هغه دغیبو شیان پخپله پیدا کړي. بلکې الله تعالي پخپله مرضي باندې چاته چې څومره غواړي دغیبو خبر ورکوي مګر دخپلې ارادې موافق نهٔ دهغهٔ دخواهش مطابق. حضوراکرم ﷺ

کفایت کتاب ہاؤس
https://t.me/kafayat2395

نه دوهرو غیبوخبرونو معلومولوخواهش وشومگر هغه معلوم نه شوییا کله چې الله تعالي اراده وکړه فوراً یې ورته اطلاع ورکړه، لکه په حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها باندې منافقینو تهمت ولګاوُ نوحضوراکرم ﷺ ته معلوم نه وُ اودوی پریشان وُ بیا الله تعالي وغیبو نه علم ورکړ چې دا تهمت دی، دبې بې عائشه رضي الله عنها لمن پاکه ده اوس کهٔ یو بنده وغیب دانې دعوی وکړي یا یو کس یونبي یا ولي یا فرشته جن یا نجومي یا رمّال یا جفار غیب دان ګڼي نوهغه مشرک شو.

په قبرونو باندې سجده کول منع دي:

حضوراکرم ﷺ وفرمایل چې: دخدای لعنت دي وي په یهودونصاري باندې دلعنت بددعا حضوراکرم ﷺ خکه وکړه چې چېرته ددوی دانبیاوو قبرونه وُ دوی به په هغو باندې سجده کوله اودهغوی نه به یې مرادونه غوښتل، کله چې دانبیاووپه قبرونو باندې سجده حرامه ده مرادونه غوښتل تربینه منع دي؛ نوداولیاء الله قبرونو ته سجده کول اومرادونه غوښتل به څنګه جائزوي دي وجې نه نبي علیه السلام دعا وغوښتله چې: "خدایه زما قبر نه سجده ګاه مهٔ جوړوه چې خلک دهغه عبادت کوي" ابن عباس رضي الله عنه فرمایي: دحضرت نوح علیه السلام قوم چې به دکومو بُتانو عبادت کا وُ، هغه ټول نیک بنده ګان وُ کله چې هغوی وفات شو نو خلک دهغوی په قبرونوباندې کیناستل بیا یې دهغوی دشکلونو بُتان جوړ کړل. بیا چې کله په دوی باندې یوه زمانه تیره شوه نو بیایې عبادت شروع کړ اوله دې وخت نه دبت پرستي ابتداء وشوه

مسلمانانولره خپله عقیده دقرآن وحدیث مطابق جوړول پکار دي، محض په بې بنیاده اوبې سنده خبروباندې یقین نه دی پکار چې فلاني بزرګ نه داسې شوي دي فلاني پیر داسې کړي دي. افسوس! په داسې مسلمانانوچې قرآن وحدیث یې پریښوده اوپه وهمي کیسو یې یقین وکړ. په دې باندې داولیاء کرامو دکراماتو نه انکار نه دی، بلکې داولیاء کرامت حق دی اودا کرامات حق تعالی شانه ظاهروي اولیاء په خپل قدرت اواختیار باندې نهٔ شي ظاهرولی چې کرامات وکتل شي اوپه خدای باندې زیات یقین وشي نهٔ په بُتانو باندې.

خیرخواهي:

دمسلمان په حیث زمونږ ټولو دا فرض دي چې دمسلمانانو دشرک نه دبچ کیدو فکر وکړو، دې لپاره چې دهغوی ایمان ضائع نهٔ شي، نرمي اومحبت سره یې پوه کړو قوي امید دي چې انشاء الله هغوی به توبه وکړي، خرنګه چې ستا مخکې ستا دوست زهر خوري نوته هغه منع کوي دغه راز شرک دزهر نه م زیات خطرناک دی، که تاسو دمسلمانانو ددې ګمراهو نه دبچ کیدو کوشش وکړئ نوتاسو ته به دخپل لمونځ اوروژې نه هم زیات ثواب ملاوُ شي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضور اکرم ﷺ فرمائي. "مَن دَلَّ عَلٰي خَيرٍ فَلَه اَجرُ مِثل فَاعِلِه"
حضور اکرم ﷺ فرمايي. کوم بنده چې بل ته دنيکي رهبري وکړي؛ نو هغه ته به ددې نيک کار کوونکي برابر ثواب ملاويږي.

دشريعت مطابق دفاتحې طريقه:

دشريعت مطابق دفاتحې دا طريقه ده چې خوراک تيار کړل شي اوپه غريبو باندې تقسيم شي اودالله تعالي په حضور کې دقبوليت دعا وشي اودهغې ثواب چې کوم بزرګ يا رشته دار يا ولي ته غواړې وبښه،دخوراک ثواب په مخصوص ختم باندې ورکولو باندې موقوف نه دی خوراک سره اوبه وغيره کيښودل اولږ لږ شيان جمع کول اوکيښودل داغلط دي،خُينې خلک پان افيون هم ايږدي چې په مړي کې به ددې خيزونو استعمال کوؤ.دمسلمانانو فرض دي چې په هره معامله کې دالله اودرسول حکم ځان ته معلوم کړي خپل ناقص عقل ته دخل ورنه کړل شي؛ ځکه که يوازې زمونږ عقل کافی وای نوالله تعالي به خپل پيغمبر ﷺ دحلال وحرام له پاره نه راليږه

حضرت بوعلي قلندر رحمۃ اللہ علیہ اواحترام شريعت:

حضرت بوعلي قلندر رحمۃ اللہ علیہ، دحضرت شمس الدين تبريزي رحمۃ اللہ علیہ، مريد اوخليفه ؤ اوډېر خدارسيده مجذوب ؤ دجذب حالت طاري کيدوباوجود په تول عمر کې يو خل داسې اتفاق وشو چې بريتونه يې لږ شان غټ شوي وؤ چا ته دکټ کولو جرأت نه ؤ مګر مولانا ضياء الدين سنامي رحمۃ اللہ علیہ، دا خلاف شريعت کار برداشت نه کړای شو ،قينچي يې راواخيسته اورامخکې شو اوبريت يې ورته برابر کړل،شاه بوعلي قلندر هميشه په دې عمل ددوی قدر کاؤ.گورئ دمجذوب کيدو باوجود شريعت دحدودو نه يې تجاوز نه دی کړی،بزرګي په داسې پابندي سره ملاويږي اوخوراک داسې خاص کول چې دحضرت عباس فاتحه په شيرمال اوکباب سره کول اودشاه عبدالحق رحمۃ اللہ علیہ، فاتحه په خاص حلوا سره کول، دې نه پرته په بل څۀ باندې نه کول دامحض کم عقلتوب دی اودغه راز دتاريخ قيدلګول چې دفلاني بزرګ فاتحه چې په کومه ورځ ده په هم دې ورځ دې وي په بله ورځ دې نه وي،داهم بې اصله اوبې.بنيادې خبره ده، دتاريخ اوخوراک خاص والی يوازې هندوستانيانو راويستې دي،په شريعت اسلام کې ددې څه اصل نشته

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دغیب خبر معلومول:

ټولو مې اوپدلت نه دواده تاریخ معلومول یا دسفر له پاره یا بنګله جوړولو له پاره دنیک وبد وخت معلومول هرګز صحیح نهٔ دي داصفا شرک دی؛ ځکه چې دغیب خبرې نبي ته معلومې نه دي نو دبل بنده څه حیثیت دی.

حضور اکرم ﷺ فرمایي: ''مَنْ اَتٰی کَاهِناً فَصَدَّقَهٗ فَقَدْ بَرِئَ مِمَّا اُنْزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ'' (ترمذي)
پیغمبر خدا وفرمایل چې: څوک دغیب خبرې ښودونکي ته ورغی بیایې دهغه خبره صحیح وګڼله نوهغه په نبي اکرم ﷺ باندې له رانازل شوي کلام (قران) څخه بري دی

یوڅومشرکانه رسومات:

په سر باندې دشامدار چونتۍ کیښودل اونیزې درول داټول مشرکانه رسومات دي منت منل اوپه قبرونو باندې خادرونه غوړول،ډیوې بلول،دپیرانو له پاره ذبح کول.دامام ضامن پیسه په مټ باندې ترل،په چوک کې صدقه کول،دیو پیر شیریني منل، ،دغوا غوښه نهٔ پخول. دحضرت عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضري،دبي بي فاطمه صحنک (ورکوټي خاورینې رکیبې کې خوراک کیښودل)دشیخ عبدالقادر جیلاني رَحِمَهُ اللّٰهُ پوولسمه،دشاه مدار مالیده. د بوعلي قلندر سه مني.دشاه عبدالحق په دې نیت باندې توښه کول چې یا حضرت! تاسو زمونږ دا فلاني کار وکړئ دا حرام دي اوانتهائي بد اوصفاشرک دی اوکهٔ منت نهٔ وي پوازي ددوی روح ته ثواب رسول وي نوبیا صحیح ده، مګر په اولني نیت سره کول صحیح نه دي،پوپیر وغیره له پاره دځاروي ذبح کول جائز نهٔ دي،قرآن کریم کې ارشاد دي:

''حُرِّمَتْ عَلَیْکُمُ الْمَیْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِیْرِ وَمَا اُهِلَّ لِغَیْرِ اللّٰهِ بِهٖ'' (پ۲سورة مائده آیت ۳)
ترجمه په تاسو باندې حرام شوي دي مردار ځاروي، وینه اودخنزیر غوښه اوهغه ځناور هم چې په هغو باندې دالله تعالي نه پرته دبل چا نوم اخیستل شوی وي.

فائده: په نوم دوه طریقو سره آواز کیږي: یو خو دذبح کولو نه مخکې نوم کیښودل دي چې داچلې دحضرت جیلاني رَحِمَهُ اللّٰهُ دي یا دفلاني دی.دویم: دذبح کولو په وخت کې نوم کیښودل نوعموماً خو خلک دذبح کولو په وخت کې الله اکبر وائي مګر دذبح کولو په وخت کې دالله نه پرته په یو بل نوم باندې ثبې مشهور کړي کله چې داول نه نیت خراب دی؛ نوالله اکبر ویلو سره څهٔ کیږي دعلماوو صحیح مذهب دادی چې دداسې ځاروي غوښه خوړل ناجائز دي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نذر تعریف:

نذرونیاز منل دالله له پاره خاص دي،یعني داسي ویل چې: یا الله که خپل کرم باندې ته دابیمار ښه کړې، نوزۀ به لس فقیرانو ته ډوډۍ ورکړم یا به روژې ونیسم نو داصحیح ده ؛ مګر له الله نه سوا بل چا له پاره نظر منل یعني داسي ویل چې ای فلان بزرګه! کۀ ته مې ښه کړې: نو زۀ به ستا په نوم چېلی ذبح کړم نودا شرک دی،دغیرالله نظرمنل شرک دی داسي موقعو له پاره شریعت صدقه ساتلې ده په حدیث کې دي:

''عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم: اَلصَّدَقَةُ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ عَنْ مِيْتَةِ السُّوْءِ'' (الرمذي)

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: صدقه دپروردګار غضب ختموي اودمړي خطاګاني هم ختموي.

په ابن ماجه کې داسي دي: ''وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يُطْفِئُ النَّارَ الْمَاءُ''

صدقه خطاګاني داسي ختموي څرنګه چې اوبه اور ختموي.

سجده کول یوازې دالله له پاره دي:

یوځل حضرت معاذ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ شام ته تلو،هغه هلته خلکو ته اوکتل چې خپل مذهبي پیشواګانوته سجدې کولې کله چې واپس راغې نوده هم رسول الله ﷺ ته سجده وکړه. حضوراکرم ﷺ وفرمایل: معاذ! داڅه دي؟ عرض یې وکړ رسول الله؛ماهل شام والا خپلو پیشوا ګانو ته دغه رنګ په سجده باندې وکتل کله چې هغوی خپلو پیشواګانوته سجده کوي نو تاسو دهغوی نه زیات مستحق یئ،حضوراکرم ﷺ وفرمایل چې: ګوره! که غیرالله ته سجده جائز وای نو ما به ښځو ته حکم کړی وُ چې خپلو خاوندانوته سجده وکړئ؛ ځکه دهغوی دخاوندانو دبرتري دا تقاضا ده لیکن په اسلام کې داسي نشته،دغه راز یوه بله واقعه ده حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله ایمان راوړ؛ نورسول الله ﷺ یې دمدیني منورې په یوه کوڅه کې څنګه ولیده نو په سجده ورته پریوت،حضور ﷺ وفرمایل سلمان!ماته کله سجده مۀ کوه سجده یوازې الله ته ده چې حي ذات دی (ژوندي ذات دی)

(پ۲۴ سورۀ حم السجده آیت۳۷)

قرآن کریم کې دي:''لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلّٰهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ '' الله تعالی فرمایي: تاسو مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته، بلکې یوازې خدای ته چاچې دا شیان پیدا کړل اګر کۀ تاسو ته ددې عبادت منظور وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فائده: د سجدې لائق هغه ذات دی دچا چې پیدا کولو قدرت وي چې دخپل ځان پیدا کولو چا نه محتاجه وي هغهٔ ته سجده جائزنهٔ ده ددې آیت نه معلومه شوه چې داولیاء الله په قبرونو باندې تعزیه او سجده کول حرام دي.

الله تعالی دې زمونږ تولوعقائد دقرآن وحدیث مطابق جوړ کړي اوبدو اوشرکیه عقائدو نه مو دې وساتي. برحمتک یا رب العٰلمین. (تقویة الایمان)

دهدایت نسخه:

حضرت امام مالک رحمه الله نه روایت دی چې حضوراکرم ﷺ ارشاد فرمایلی دی چې زهٔ په تاسو کې دوه شیان پرېږدم کله پورې چې تاسو دا ټینګ نیولي وي کله به هم ګمراه نه ښی. دالله کتاب اوزما سنت.

حضرت حسن رضی الله عنه فرمان نبوي نقل کوي چې په سنت باندې لږشان عمل دبدعت دلوی عمل نه بهتر دي اوهر بدعت ګمراهي ده اوهره ګمراهي انسان دوزخ ته وړي. په یو بل روایت کې دي چې حضور ﷺ فداه ابي وامي فرمایي چې زما په اُمت کې دوه قسمه خلکو ته به زما شفاعت نه نصیب کیږي. ظالم، امام (حاکم) او، دین کې غلو کولو واله چې دنبي ﷺ سنت اوجماعت صحابه رضی الله عنه د طریقو نه تجاوز کوي.

اهل سنت والجماعت:

حضوراکرم ﷺ فرمایي چې: بني اسرائیل چې یو اویا فرقو تقسیم شوي وؤ اوزما په اُمت کې به دوه اویا فرقي جوړیږي په دي کې به یوازې یوهو فرقه جنت ته ځي عرض وکړي شو یا رسول الله ! دغه به کومه فرقه وي، وې فرمایل: اهل سنت اوجماعت صحابه په طریقو باندې عمل کولو واله یعني (اهل سنت والجماعت) په یو حدیث کې دي چې دفساد اُمت په وخت کې زما سنت خپله سینه سره لګولو واله اوخپلولو والهته به دسلو شهیدانو ثواب ملاویږي په یو حدیث کې دي چې دهر یو شي له پاره آفت وي اوددین آفت بدعتونه اوخواهشات دي. (تنبیه الغافلین، الله تعالی دې مونږ ته په صحیح دین دعمل کولو توفیق راکړي.

و آخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درجب المرجب دمياشتې دريمه خطبه:

دمعراج شريف بيان

بسم الله الرَّحمٰن الرَّحِيم

سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهٗ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ. (پ۱۵سورة بني اسرائيل آيت۱)

په دې آيت کريمه کې دواقعه معراج ذکر دی اودالله تعالي دالله تعالي دقدرت عظيم مظهر ښودلی دی. ځکه چې دنيا دې نه عاجزه ده چې خودرسايي وکړي.

ترجمه: هغه ذات پاک دی چې خپل بنده يې مسجد حرام نه مسجد اقصيٰ ته بوتلو چې دهغه گيرچاپيره مونږ برکت اچولی دی، دې له پاره چې مونږ دوی ته خپلې نشانياني وښايو. بېشکه رب اوريدونکی اوکتونکی دی.

شب معراج عروج تو از افلاک گزشت بمقامے کی رسيدی نه رسد سيچ نبی ﷺ

قريب موسیٰ اور هيقرب محمد اور هے طورسينا اور هے عرش معلّٰی اور هے

(جامي رحمه الله)

زشرح سينه اش جامی الم نشرح لک برخوان زمعراجش چے می پرسی که سبحان الذی اسریٰ

معراج:

دمعراج ماخذ عروج دی، چې معنا يې اوچتوالی دی، چونکې نبي اکرم ﷺ يې آسمانونوته غوښتی ؤ .دې وجې نه دې ته معراج وايي.

انبياء عليهم السلام اوسير ملکوت:

ځومره انبياء کرام چې دنيا ته راغلي دي هغوی ته سير ملکوتي ورکړل شوی دی، په دې وخت کې دشرائط روئيت (دکتلو شرطونه)تمام مادي پردې ددوی دسترګو نه لرې کړل شي دنياوي داوريدواسباب ددوی نه منسوخ کړل شي دمکان وزمان تول قيوداتوفرضي بيړې ددوی ډينبو نه لرې کړل شي.دځمکې اوآسمان مخفي مناظر يې حجابانه ددوی مخې ته راشي اوهغوی ددې نه پس جنتي حله (لباس) واچوي اودفرښتو روحاني جلوس سره بارګاه الهي کې پيش کړل شي.اودخپلې رُتبې اوردجي په اعتبار سره مناسب مقام باندې ودريږي اوفيض رباني نه معموره شي: اودريائ نور کې ډوب شي تردې چې بعض مقربان خاص ته دا درجه ورکړي کيږي چې هغه دقدس حريم خلوت ګاه کې باريابي وکړي اودقاب قوسين دواړو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کمانونو دفاصلي نه هم په کمه فاصله باندې نږدې شي اوبیا دهغه ځای نه دخپل منصب فرمان
خاص واخلي اوبه دي اوبو اوخاورو واله ځای ته واپس راشي (سیرة النبي مولانا شبلي نعماني)
نولو انبیاء کرامو ته معراج روحاني شوی دی اوحضوراکرم ﷺ ته معراج جسماني شوی
دی اودایوازي اویوازي دحضوراکرم ﷺ خصوصیت دی.

حضرت ابراهیم علیه السلام اوسیر ملکوتي:

حضرت ابراهیم علیه السلام ته هم الله تعالي دعجائبات قدرت نمونې وښودلي، ارشاد ربباني دی.
"وَكَذٰلِكَ نُرِيٓ إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ"
ترجمه اودغه راز مورِ ابراهیم علیه السلام ته دآسمانونو اوځمکو عجائبات وښودل
حضرت موسي علیه السلام ته عجائبات قدرت په کوه طور باندې وښودل شو دوی له یاره هغه
معراج دی، دغه رازهر یو نبي ته عجائبات قدرت په مختلفو طریقو باندې وښودل شو اودغه
رمعنوی معراج شو کله چې نمبر زمونږ دآقا اومولی محبوب دوعالم ﷺ راغی نوځنګه چې
ردوی باقي معجزات دانبیاوو دمعجزاتو نه اعلی اوارفع وؤ دغه راز معراج یې هم اعلی
اوارفع ؤ

کهاں وہ رتبہ کہاں عقل نارسا اپنی　　کہاں وہ نور خدا اور کہاں یہ دیدہ زار
چراغ عقل گل اس کے نور کے آگے　　زباں کا منہ نہیں جو مدح میں کرے گفتار
(مولانا نانوتوي رحمه الله)

کهاں بلندی طور اور کهاں تری معراج　　کہیں ہوئے ہیں زمین وآسمان بھی ہموار

په هرحال هر یو نبي دخپلې رتبې مطابق سیر ملکوتي وکړ، دجهان غیب مشاهده یې وکړه.
اسلام داځنه دومره عام کړې ده.حضور ﷺ و فرمایل: "الصلوٰة معراج المؤمنین" داایمان
والو معراج لمونځ دی، یعني لمونځ نه به عروج روحاني حاصلیږي

معراج نبوي (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ):

دحضوراکرم ﷺ شان چونکي دټولو انبیاء کرامو علیهم السلام نه ارفع اواوچت دی، دې وجې نه
بارګاه الهي کې دوی ته هغه ځای پورې رسایي ملاؤ شوه ترکومه ځایه چې دفرزند آدم قدم نه
رسیدلی اوهغه نظاره یې وکړه کومه چې تر اوسه پورې نورو مقربان بارګاه الهي دحد نظر نه
بهر وه

آیت سبحن الذي وضاحت:

په دې شبه کې معراج کیدل اوهغه هم دشپې په لږه برخه کې مکي معظمي نه بیت المقدس
پورې اوبیا دهغه ځای نه آسمانونو ته تګ اوفرشتو اوانبیاوو سره ملاقات کیدل امامت انبیاء

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سیر آسماني ومشاهدات جنت ودوزخ اونور مشاهدات غیبي داټول شیان په عقل کې نه راځي. دې وجې نه الله تعالي واقعه معراج آیت لفظ سبحان سره شروع کړ چې دهغه معنا دې هغه ذات پاک دی یعني کوم شی چې ستا له پاره محال ناممکن دی،الله ددې نه پاک دی اوهغه له پاره دا څهٔ مشکل ومحال نهٔ دي هغه دهر شي خالق ومالک دی،هغه په لفظ کُن سره هر څه کولی شي.کوم چې دمني دقطري نه بنکلي شکل واله انسان جوړولی شي. کوم چې دآسمانونو اوځمکې پیدا کوونکی دی هغه چې څهٔ غواړي کولی شي،کوم شی چې تا له پاره ناممکن اومشکل دی هغهٔ له پاره ناممکنه اومشکل نهٔ دی (انه علي کُل شئ قدیر).

صاحب قصیده برده اومعراج شریف:

سریت من حرم لیلاً الی حرم کما سری البدر فی داجٍ من الظلم

ترجمه: حضورﷺ بېشکه په یوه شېه کې دحرم شریف مکي معظمي نه حرم محترم مسجد اقصي ته باوجود دځلوېښتو ورځو فاصلې سفر دی داسي تېز اوباکماله نورانیت اوارتفاع سره یې تشریف یوړو لکه چې دبدر دتیارو په پرده کې نهایت درخشاني سره لاړ.

وبت ترقی الی ان نلت منزله من قاب قوسین لم تدرک ولم ترم

اوحضوراکرمﷺ هغه شېه په ترقي کې داسي تېره کړه چې دی مقام ته قاب قوسین نه ورسیده چې دهغه نور مقربان سوچ هم نه شي کولی.

وقدمتک جمیع الانبیاء بها والرسل تقدیم مخدوم علی خدم

اوحضوراکرمﷺ په بیت المقدس کې تماموانبیاوو خپل امام جوړ کړ ،څنګه چې خادم مخدوم مخکې کوي.

وانت تخرق السبع الطبائق بهم فیموکب کنت فیه صاحب العلم

اوحضورﷺ تهه در تهه داووه آسمانونو سفر پوره کړ اودفرښتو دلښکرسردار ؤ.

حتی اذا لم تدع شاء المستبق من الدنو ولا مرقا لمستنم

تر دې چې حضوراکرمﷺ مخکې شو چې څوک دومره نه ؤ مخکې شوي اونه دومره مقام قُرب ته څوک رسیدلي دي.

خفضت کل مکان بالافاضة اذا نودیت بالرفع مثل المفرد العلم

دی په خپل مقام عالي باندې دټولو مرتبې تېټې کړې کله چې دوئ ته (ادنو، وویل شو، چې قریب شه

تفوز بوصل ای مستتر عن العیون وسرای مکتتم

دې له پاره چې حضورﷺ ته هغه وصل حاصل شي چې هلته څه هم پټ نه وي اودوی ته هغه مشاهدات وشي چې بل چا ته نه دي شوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د معراج واقعه:

الغرض، کله چې د اسلام په مینو باندې مکه معظمه کې مشکلات او امتحانات ختم شول او هجرت نه وروسته دیو بل دور شروع کیدو والا و؛ نو هغه شپه راغله او هغه مبارک او بابرکته ساعت راغی چې په هغه کې حضور اقدس ﷺ ته سیر ملکوتي کیدونکی و. چې په هغه کې د الله تعالی له طرفه خاص احکام او نفاذ اوجراء په عمل کې راتلل، رضوان جنت نه حکم وشو چې نن مهمان سرایه غیب په نوي سازو برګ باندې اراسته کړه چې شاهد عالم به نن میلمه په حیثیت باندې راځي، روح الامین ته فرمان ورسیده چې هغه سواري چې دبجلی په زیاته تیزګام او درنا نه زیاته تیزه ځي اوچې دخطه لاهوت دمسافرو له پاره مخصوص ده حرم کعبه ته دې حاضره شي، کارکنان ارض او سماء ته حکم و، شو چې دمملکت آب او خاص ټول مادي قوانین لږ وخت له پاره معطله شي اوزمان ومکان، سفر واقامت، کتل او اوریدل، خطاب اوهجوم دې چیک کړل شي، ټولې پابندي دې اوچتې کړل شي.

واقعه معراج با ندې نوې اوزاړه اعتراضات:

په واقعه معراج باندې چې کوم زاړه اعتراضات شوي یا کیدای شو. د دنن دور سائنس هغه ټول اعتراضات ختم کړل مثلاً: اسمان نشته؛ نو معراج څنګه وشو؟ خو اسمان نه موجودیدو ته دلیل نشته پرته له دې چې چا نه دی لیدلی؛ نو د کائنات بیشمیره شیان په سمندرونو کې، غرونو کې، جزیرو کې، ځنګلونو کې، حیوانات حشرات، جمادات داسې دي چې هغه چا نه دي لیدلي. مګر هغه موجود دي، د هر شیان اول معلوم نه و، لکه خورد بین په ذریعه باندې جراثیمو وجود معلومیدل، دخلیو اوسیلز دریافت وغیره دا ټول معلوم نه و، مګر اوس ټول مني دا ټول دریافت اول فلاسفه دروغ ګڼل، مګر اوس بې ټول مني، دغه راز دا اعتراض و چې په پورته فضا کې کره ناریه موجوده ده هلته نه به څوک ځنګه تیریږي، ورسره بنده په خلا کې خو ساه نه شي اخستی. ځکه چې هلته هوا نشته، مګر اوس په سپوږمۍ اومریخ، وزهره باندې دخلاي ستیشنونو قیام دخلابازو په خلا کې قیام داټول شیان ناممکن و، اوس حل شو، ګله چې انسان دا کار کولی شي؛ نو ایا الله تعالی بې نه شي کولی؟ اول به بې ویل چې: دبراق پشان سواري چیرته ملاویدای شي؛ مګر اوس دراکټ رفتار چې داوازدرفتار نه هم زیات تیز دی اودراکټ نه هم زیات تیز خلاییې شټل وغیره تیار شوي دي اوپه خلا کې سیارو باندې ځي راځي؛ نو ایا الله خالق جهان داټول نه شي کولی، نن درنا رفتار ناپ شوی دی چې رنا په یو سیکنډ کې یولاکه شپږ اتیا زره میله سفر کوي؛ نو کله چې ستوري اوسیارې په دومره فاصله باندې دي: نو خمکه اواسمان به په خومره فاصله باندې وي، ځینې اسمان باندې موجودو سیارو رنا ګانې په خو سوه نورې کالونو فاصله باندې موږ ته رارسیږي، نورې کال نه مراد

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سیر آسمانی ومشاهدات جنت ودوزخ اونور مشاهدات غیبي داټول شیان په عقل کې نه راځي. دې وجې نه الله تعالي واقعه معراج آیت لفظ سبحان سره شروع کړ چې دهغه معنا ده هغه ذات پاک دی یعني کوم شی چې ستا له پاره محال ناممکن دی، الله ددې نه پاک دی اوهغه له پاره دا څهٔ مشکل ومحال نهٔ دې هغه دهر شي خالق ومالک دی، هغه په لفظ کُن سره هر څه کولی شي کوم چې دمني دقطري نه ښکلي شکل واله انسان جوړولی شي. کوم چې دآسمانونو اوځمکې پیدا کوونکی دی هغه چې څهٔ غواړي کولی شي، کوم شی چې تا له پاره ناممکن اومشکل دی هغهٔ له پاره ناممکنه اومشکل نهٔ دی (انه علي کُل شئ قدیر).

صاحب قصیده برده اومعراج شریف:

سریت من حرم لیلاً الی حرم کما سری البدر فی دراج من الظلم

ترجمه: حضور ﷺ بېشکه په یوه شپه کې دحرم شریف مکي معظمي نه حرم محترم مسجد اقصي ته باوجود دځلوېښتو ورځو فاصلې سفر دی داسې تېز اوباکماله نورانیت اوارتفاع سره یې تشریف یوړو لکه چې دبدر دتیارو په پرده کې نهایت درخشاني سره لاړ.

وبت ترقی الی ان نلت منزله من قاب قوسین لم تدرک ولم ترم

اوحضوراکرم ﷺ هغه شپه په ترقي کې داسې تېره کړه چې دی مقام ته قاب قوسینو نه ورسیده چې دهغه نور مقربان سوچ هم نه شي کولی.

وقدمتک جمیع الانبیاء بها والرسل تقدیم مخدوم علی خدم

اوحضوراکرم ﷺ په بیت المقدس کې تمامو انبیاوو خپل امام جوړ کړ، ځنګه چې خادم مخدوم مخکې کوي.

وانت تخرق السبع الطبائق بهم فیموکب کنت فیه صاحب العلم

اوحضور ﷺ ته در ته داووه آسمانونو سفر پوره کړ اودفرښتو دلښکرسردار ؤ.

حتی اذا لم تدع شاء المستبق من الدنو ولا مرقا لمستنم

تر دې چې حضوراکرم ﷺ مخکې شو چې څوک دومره نه ؤ مخکې شوي اونه دومره مقام قُرب ته څوک رسیدلي دي.

خفضت کل مکان بالاضافة اذا نودیت بالرفع مثل المفرد العلم

دی په خپل مقام عالي باندې داټولو مرتبې ټیټې کړې کله چې دوی ته (ادنو وویل شو، چې قریب شه.

تفوز بوصل ای مستتر عن العیون وسرای مکتتم

دې له پاره چې حضور ﷺ ته هغه وصل حاصل شي چې هلته څه هم پټ نه وي اودوی ته هغه مشاهدات وشي چې بل چا ته نه دي شوي.

خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دمعراج واقعه:

الغرض، کله چې داسلام په مینو باندې مکه معظمه کې مشکلات وامتحانات ختم شول اودهجرت نه وروسته دیو بل دور شروع کیدو والا و؛ نوهغه شپه راغله اوهغه مبارک اوبابرکته ساعت راغی چې په هغه کې حضوراقدس ﷺ ته سیر ملکوتي کیدونکی و، چې په هغه کې دالله تعالی له طرفه خاص احکام اونفاذ اواجراء په عمل کې راتلل. رضوان جنت نه حکم وشوچې نن مهمان سرایه غیب په نوي سازو برګ باندې اراسته کړه چې شاهد عالم به نن میلمه په حیثیت باندې راځي، روح الامین ته فرمان ورسیده چې هغه سواري چې دبجلی نه زیاته تیزګام اودرنا نه زیاته تیزه ځي اوچې دخطه لاهوت دمسافرو له پاره مخصوص ده حرم کعبه ته دې حاضره شي، کارکنان ارض او سماء ته حکم و، شو چې دمملکت آب اوخاص ټول مادي قوانین لږ وخت له پاره معطله شي اوزمان ومکان، سفرواقامت.کنل اواوریدل. ټخاطب اوهجوم دي چیک کړل شي، ټولې پابندي دي اوچتې کړل شي.

واقعه معراج باندې نوي اوزاړه اعتراضات:

په واقعه معراج باندې چې کوم زاړه اعتراضات شوي یا کیدای شو، ددنن دور سائنس هغه ټول اعتراضات ختم کړل مثلاً: اسمان نشته؛ نو معراج څنګه وشو؟ خوداسمان نه موجودیدو ده دلیل نشته پرته له دې چې چا نه دی لیدلی؛ نودکائنات بیشمیره شیان په سمندرونو کې، غرونوکې. جزیرو کې. ځنګلونو کې، حیوانات حشرات، جمادات داسې دي چې هغه چا نه دي لیدلي. مګر هغه موجود دي، دېر شیان اول معلوم نه و، لکه خورد بین په ذریعه باندې جراثیموجود معلومیدل، دخلیو اوسیلز دریافت وغیره دااول معلوم نه و، مګر اوس ټول مني دآتمې دریافت اول فلاسفه دروغ ګڼل، مګر اوس یې ټول مني، دغه راز دا اعتراض و چې په پورته فضا کې کره ناریه موجوده ده هلته نه به څوک څنګه تیریږي، ورسره بنده په خلا کې خو ساه نه شي اخستی. ځکه چې هلته هوا نشته، مګر اوس په سپوږمۍ. اومریخ، وزهره باندې دخلاي ستیشنونو قیام دخلابازو په خلا کې قیام داټول شین ناممکن و، اوس حل شو، کله چې انسان دا کار کولی شي؛ نو ایا الله تعالی یې نه شي کولی؟ اول به یې ویل چې دبراق ښان سواري چیرته ملاویدای شي؛ مګر اوس دراکټ رفتار چې داوازدرفتار نه هم زیات تیز دی اودراکټ نه هم زیات تیز خلایې شټل وغیره تیار شوي دي اوپه خلا کې سیارو باندې ځي راځي: نو ایا الله خالق جهان داټول نه شي کولی، نن درنا رفتار ناپ شوی دی چې رنا په یو سیکنډ کې یولاکه شپږ اتیا زره میله سفر کوي؛ نوکله چې ستوري اوسیاري په دومره فاصله باندې دي: نو ځمکه اواسمان به په څومره فاصله باندې وي، ځینې اسمان باندې موجودو سیارو رنا ګانې په څو سوه نوري کالونو فاصله باندې موږ ته رارسیږي، نوري کال نه مراد

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دلمر رنا ده کومه چې په ټول کال کې مکمل کیږي، اندازه وکړئ کومه رنا چې په یو سیکنډ کې یو لاک شپږ اتیا زره میله سفر مکمل کوي؛ نوهغه به په کال کې څومره فاصله مکمل کوي؛ نو کله چې دومره اچتوالي باندې سیارې دي؛ نو اسمان به څومره اوچت وي، بیا ستاسو لیږل شوی خلاباز په خلا کې په هفتو هفتو اوسیږي په سمندر کې اب بازآکسیجن ولګوي اوپه ګنټو ګنټو اوبو کې دننه پروت وي؛ نوخلاق عالم دخپل محبوب له پاره دانه شي کولی؟ الغرض! دریدوبې څپو موندل، براډکاسټینګ نظام، ټیلیفون ویژن ایجاد، ټیلي فون، وائرلیس. ټیلیکس ایجاد، دآئیټم ایجاد، حیاتیاتي جنین دریافت اوډ پر داسې شیان چې په اوله زمانه کې ناممکن وو، هغه یوازې ممکن نه، بلکې وجود کې راغلي دي، قربان شم په اقا نامدار محبوب دوعالم ﷺ باندې چې هغوی دوحې په ذریعه داسې محیر العقول شیان وښودل چې دې نه مخکې عقل کوتاه کې نه وو راغلي، مګر هغه ټول په وجود کې راغلي دي، په دې کې یوواقعه معراج هم ده چې بالکل حق ده، ریښتینې ده، بې انتها سلامونه دي وي په هغه مقدسو هستیانو صحابه کرامو(رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم اَجمَعِین) چې هغوی داټول ارشادات. مشاهدات نبوي (ﷺ)، باندې بغیر ددلیل طلب کولو ایمان راوړ اګرچې نن ټول ناممکنه شیان ممکن شوي دي، قربان شم دحضوراکرم ﷺ په ترقي اواعزاز خدایي باندې چې سائنس دانانو کوم شیان په لویو لویوسائلو، دولت ودماغ سوزي وکړي اوخه تیاروي الله تعالی خپل محبوب ته هغه هر څه په خپل قدرت کامله باندې ورکړل، مثلادي سائنس دانانوپر لوی دولت خرچ کړ اوسپوږمۍ ته ورسېدل، مګر الله تعالی دحضوراکرم ﷺ دګوتي په یوه اشاره داسپوږمۍ دوه ټکړې کړه، هغوی خلا ته تلو له پاره څومره محنتونه وکړل څومره مصیبتونه یې اوچت کړل؛ نوبیا ورسیدل هغه هم دسپوږمۍ سره خوا کې یو څو سیارو باندې اوالله تعالی خپل محبوب ته بغیر څه وسائلو اومادیاتو اوبغیر دغه خرچ کولو نه داسمانونونه هم پورته عرش معلی سدرة المنتهی سیل وکړ، داسائنسدانان ترقیام قیامته هلته نه شي رسیدای، اصل ترقي خو داسلام اواهل اسلام له پاره ده دامادي ترقیات هیڅ حیثیت نه لري؛ دوی راکټ اوجهاز جوړ کړ، الله تعالی حضرت سلیمان عَلَیهِ السَّلَام ته داسې تخت ورکړ، چې په هغې کې نه دپټرولو اچولو ضرورت اونه دانجن خرابیدو خطره نه دپټیدو خطره نه د موسم دخرابیدو خطره اونه دنورغټیدو ضرورت، ایا دنن سبا دور په جهازکې داسهولتونه وي؟ الله تعالی دحضرت داود عَلَیهِ السَّلَام په لاس باندې اوسپنه ویلي کړه، دوی څومره په مصیبت باندې اوسپنه ویلي کوي. الله تعالی دحضوراقدس ﷺ په یوه اشاره باندې سپوږمۍ دوه ټکړې کړه اودوی څومره په مشکلوباندې سپوږمۍ ته ورسیدل، الله تعالی حضوراکرم ﷺ ته دشپې په لږه حصه کې اووه واړه آسمانونوجنت اودوزخ سیل وکړ اودوی قیامت پورې اسمان ته هم نه شي رسیدای ،(اِنَّه عَلٰی کُلِّ شَیءٍ قَدِیر) الله تعالی دی موږ ټولو مسلمانانوته د یورپ، روس

https://t.me/kafayat2395

اوچاتنا په طرف نظرکولو په ځای خپل ذات عالي طرف ته دکتو توفيق راکړي افسوس! موږ مسلمانان ذهني احساس کمتري کې مبتلايو، حالانکې ددنيا داسازوسامان هيڅ حيثيت نه لري اصل شی دايمان دولت دی، چې دهغه موږ سره قدر نشته، نن داهل زمانه دعوه ده چې موږ حيرت انګيز دوايانې تيار کړې دي، دنارغ دتشخيص له پاره يې حيرت انګيز مشينان تيار کړي دي، ايکسريز التراساوند، برقي چپي، ليزر رڼاګاني، ورسره جديد ليبارټري، حيران کن سامان اودعلاج حيران کن طريقې، مګر اسلام په ترقي باندې قربان شم دکومۍشيانو علاج چې داخلک په غټوغټو اپريشنونو په ذريعه باندې کوي حضوراکرم ﷺ فرمايي چې سورت فاتحه دهر يو مرض علاج دی، سورة فاتحه ووايه اوشفا حاصله کړه، صلوة حاجت وکړه اومسائل حل کړه، شفاحاصله کړه دعا وکړه اوتقدير بدل کړه، خکه دعا تقدير بدلوي، ددعاپه ذريعه باندې مسائل حل کړه، صدقه وکړه اوبلامصيبتونه ختم کړه، اوس مسلمانانو! ووايئ چې دا اصل ترقي ده که مادیات اصل ترقي ده، اصل ترقي په اسلام کې ده، قرآن کريم کې ده، دين کې ده اواطاعت کې ده، دحضوراکرم ﷺ په محبت اواطاعت کې ده، کله چې دين وي؛ نو دالله تعالى داحکامو به اطاعت وي، دحضوراکرم ﷺ په سنتونو باندې به عمل وي؛ نوناروغي به هم ختمې شي، مصائب به هم ختم شي، روزي به هم بابرکته وي. ګراني به هم ختمه شي، تاسو ته به داوږدو اوږدو پريشانيو اوناروغيو بارولو ضرورت هم نه وي.

دمدينې منورې په ځای مکه معظمه کې د واقعه معراج پيش کيدو حکمت:

په مدينه منوره کې دحضور ﷺ مخالفت دومره زيات نه و، ځومره چې په مکه مکرمه کې و، معراج په مکه مکرمه کې وشو دي له پاره چې دښمن اعتراضات کوي اويار دوست حمايت کوي. په اعتراضاتو سره ديو شي نه پردي لري کيږي، له دي وجې کله چې دمعراج شپه راغله؛ نو سهار حضوراقدس ﷺ خلک ته وويل؛ نودښمنانوقسماً قسم اعتراضات وکړل اودامعجزه دوی له پاره نوره هم دتکليف سبب جوړ شو اودمنونکو له پاره نوره هم دهدايت ذريعه جوړه شوه. دايمان والاوو په ايمان کې نوره هم اضافه وشوه، دويمه نکته داوه چې په ډيره شپه کې داسماني عجائباتومشاهده کول ناممکن و اودبيت المقدس دا لاره ډېرو خلکو ليدلې کتلې وه؛ نوکوم وخت کې چې منکرو بيت المقدس باره کې سوالات وکړل اونبي عليه السلام بيت المقدس کتلى هم نه و، کله چې مخالفينو سوالات وکړل مثلاً: که تاسو بيت المقدس نه تللي ئ بيا بيت المقدس نه اسمانونو ته تللي ئ؛ نو دا ووايئ چې دبيت المقدس نشانات پورې اوصحن کرکې وغيره څومره اوځنګه دي؟ حضوراقدس ﷺ بذريعه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مشاهده داتول وویل؛ نودا ویل به دلیل شي چې داتول ویل کله ریښتیا دي اودي نه علاوه
نورهم چې څه وایي ریښتیا دي، واقعه معراج سره اسماني فرښتې دحضوراقدس ﷺ
دزیارت نه مشرف کول داهم ددې حکمتونو نه یو حکمت و.

بخاري شریف اوخصائل کبری مصنفه حضرت جلال الدین سیوطي مطابق دواقعې تفصیل:

جناب نبي کریم ﷺ دخانه کعبې په حطیم کې داسې ویده شوی و چې سترګې یې ویدې وې
اوزړه مبارک یې ویښ و. حضرت جبرئیل علیه السلام راغی اودی یې راپورته کړ اوده سینه
مبارکه یې وشلوله زړه مبارک یې په آب زمزم باندې وویښه اودلکونوانواراتو نه یې ډک کړ.

نکته:

کله چې دحضور ﷺ په څیر پاک اومطهر ذات زړه مبارک وویښل شي؛ نوزمونږه زړونه به هم
بغیر دغیرالله نه پاکولو نه بغیر هدایت نه ورکوي، لع دې وجې نه زړه دشرک نه پاکول پکار
دي. نکته داچې دحضوراکرم ﷺ زړه مبارک یې دري ځله وویښه، دغه راز حکم شوی دی
چې اودس کې هم اندامونه دري دري ځله وینځه،ددې نه وروسته سمدلاسه اقدس ﷺ په
خدمت کې سواري پیش کړل شوه چې هغې ته براق وایي "براق" دبرق نه ده چې معنا یې
بجلی ده. هغه دبجلی په څیر تیز رفتاره وه، چیرته چې به نظر پریوت هلته به یې قدم رسیده،
کله چې حضوراقدس ﷺ په بُراق باندې کیناست؛ نو براق دخوشحالی نه په توپونو شو.

دالله تعالی په لاره کې دخرچ کوونکي بدله:

دي نه لږ وخت وروسته حضوراقدس ﷺ وکتل چې څه خلک کر کرونده کوي دلته یې گوډ
وکړو دانه یې واچوله. اوبه یې ورکړې اوفصل سمدلاسه غټ شو اوکټ شواودغلې ډېرې
ولګیدل. حضوراکرم ﷺ پوښتنه وکړه اې جبریل امین! داخوش بخته خلک څوک دي چې
هغوی ته دومره زر ډېره بدله ملاویږي؟حضرت جبریل امین وفرمایل حضرت! دا دالله په لاره
کې صدقه کوونکي خلک دي چې هغوی ته دومره زر داسې ډېره لویه بدله ملاویږي اودابه
اخرت کې هم داسې زیاته ملاویږي.

دبې نمازه خلکو انجام:

لږ مخکې چې لاړل؛ نوحضور ﷺ وکتل چې یو قوم دی چې پرمخ پراته دي او سرونه یې په
ډبر وزني کانې سره ویشتل کیږي، بیا هغه سر صحیح پیدا کیږي او بیا هغه وَویشتل شي؛

کفایت کتب خانه تیلی گراؤنڈ پشاور
https://t.me/kafayat2395

حضور ﷺ پوښتنه وکړه جبریل امین داځوک دي؟ چې هغوی ته داسې سخته سزا ورکول کیږي. حضرت جبریل علیه السلام وفرمایل. دا بې نمازه دي

د زکات نه ورکوونکو خلکو سزا:

حضور ﷺ چې لږ مخکې ولاړ؛ نو ویې کتل چې څه خلک د ښکل وانښه. ازغي. کانې او انګار خوري؛ مګر خیټه یې نه ډکیږي. حضور ﷺ پوښتنه وکړه ای جبریل! داځوک دي؟ عرض یې وکړ حضور ﷺ! دا زکات نه ورکوونکي خلک وو. دوی ته به قیامت پورې دا سزا ملاویږي

د بدکارو انجام:

مخکې چې لاړل؛ نو ویې کتل چې دځه خلکو مخې ته ډېره ښه غوښه پرته ده. مګر هغوی پخه غوښه پریږدي او کچه بدبودار غوښه خوري. حضور ﷺ پوښتنه وکړه جبریل! داځوک دي؟ هغه عرض وکړ حضرت! دا هغه خلک دي چې حلال نکاح به یې پریښوده او په حرام کاري اوبدکاري به اخته وو. دوی سره ښځې هم وې، مګر دوی به بدکاري کوله اوس به قیامته پورې دوی ته دا سزا ملاویږي، دغه راز بدکاره ښځه ته به هم دا سزا ملاویږي

د خائن سزا:

لږ مخکې چې لاړل؛ نو حضور اقدس ﷺ وکتل چې یو کس دی، انتهایي کمزوری او هغه سره یو لوی دلرګیو ګډوډ دی. چې هغه یې اوچتول غواړي مګر اوچتولی یې نه شي. کله چې دډي بنده پرې وس رانغی؛ نو په خای ددې چې دا لرګي لږ کم کړي هغه یې نور هم زیات کړي اوبیا یې داوچتولو کوشش کوي، مګر دوزن له وڅې یې نه شي اوچتولی، خو ددې باوجود په خپل وزن کې نوره هم اضافه کوي. حضور اکرم ﷺ پوښتنه وکړ جبریل! داځوک دي؟ عرض شو حضرت! داخیانت کوونکی کس دی چې لږ امانت یې اوچتولی نه شو اودنورو یې هم تمنا کوله. اخر کار دده مرګ بغیر دتوبې نه وشو، اوس به دوی ته دا سزا تر قیامته پورې ملاویږي

د بې عمله واعظ، مقرراو لیډر سزا:

حضور ﷺ چې لږ مخکې لاړ؛ نو ویې کتل چې دلکومرې په چرو باندې شلول کیږي بیا هغه سمې شي: نوبیا شلول کیږي، حضور اکرم ﷺ پوښتنه وکړه ای جبریل! داځوک دي؟ چې په دې اذیت ناکه سزا کې مبتلا دي، عرض وشو حضرت! دادامت بې عمله واعظان مقرران اولیډران اومبلغین دي چې فتنه اوفساد ته یې خوراوو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د سود خورو سزا:

کله چې د حضور ﷺ سواري لږه مخکې لاړه، نو یوه ډله یې ولیده چې دهغوی خیټې د برج په څیر اوچتې اوشیشې په څیر صفا وې اوپه هغې کې ماران اولړمان وو، په دې کې به چې یو کس پاڅیدل غوښتل؛ نو دبوج له وجې به لاندې راپریوت لږ ساعت وروسته یو خوفناکه اس راشې اوددوی دا خیټې دپښو لاندې سره ومویې چې له وجې یې دا خلک چیغې وهې، پوښتنه وشوه جبریل! داڅوک دي؟ عرض و شو حضرت! داسود خورونکي خلک دي چې تر قیامته به په دې عذاب کې وي، دامنظریې چې ولیده؛ نو رسول الله ﷺ د هر زیات افسوس وکړ اومخکې لاړو، چې لږ مخکې لاړو؛ نو څه کسان یې وکتل چې دهغوی خولې د اونبانو په څیر وې اوفرښتې ددوی دا خولې شلوې اودننه په کې انګار وروانې دغه انګار سمدلاسه خې اودمتیازو په لاره واپس راوخې چې په دې سره دوی ته سخت تکلیف وي اوهغوی چیغې وهې. حضور ﷺ پوښتنه وکړه داڅوک دي؟ جبریل امین وفرمایل: دا دیتیمانومال خورونکي دي چې په اصل کې انګار خوري، ارشاد دی چې کله زه مخکې لاړم؛ نو څې بنځې دتیونو اوپښو نه سرچپه راڅرپدلېدې اوداور په کورو وهل کېدې، نبي کریم پوښتنه وکړه دا څوک دي؟ عرض و شو: دادامت بدکاره بنځې دي چې حرام بچې به یې زېږول اوقتلول به یې، دوی ته به داسزا ورکول کیږي، لږ مخکې یې وکتل چې څو کسانو یو کس نیولی دي اودهغه ډډو غوښه هم په دغه کس خوري او ورته وایي دا اوخوره اوپه زبردستي یې پرې خوري، حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې داڅوک دي؟ عرض وشوچې دخپلو مسلمانو وروڼو غیبت یې کړی دی اوده ته به داسزا ملاویږي، مسلمانانو! داتولې سزاګانې حضوراکرم ﷺ په خپله وکتلې، مور نه دي کتلې حضور ﷺ ویناوې دی اومور نابینا، له دې وجې نابینا ته پکار دي چې دبینا خبره ومني، ګني تول عمر به تباه اوربرباد وي، له دې وجې که مور ځان دهلاکت اوربرادي نه بچ کوو؛ نومور ته به دحضور ﷺ خبره منل پکار وي، ګني تباهي اوبربادي به وي. اعاذنا الله منها.

د دنیا دوکه:

داتول واقعات حضوراکرم ﷺ وکتل؛ نو مخکې بیت المقدس طرف ته لاړو؛ نوګوري چې یوه بنځه دزرق برق لباس اوسره زریې اچولې دي اوده مخې ته راغله، مګر حضور ﷺ ورته څه توجه ورنه کړه. حضرت جبریل علیه السلام عرض وکړ یارسول الله! دابنځه دنیا وه چې تاسو ته یې دوکه درکول غوښتل که تاسو ددې خبره اوریدلې وې اودې طرف ته مو توجه ورکړې وه؛ نودستاسوبه ټول اُمت ګمراه شوی و، حضرت جبریل علیه السلام داخبره بس کړه چې یوه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بدصورته بنخه راغله حضور ﷺ پوښتنه وکړه داخوک ده؟ ويې فرمايل: دابنخه هم دنيا وه، مګر اوس په خپل اصل شکل کې راغلې وه داسې دا دالله تعالى خاص بنده ګانو ته دوکه ورکوي کله چې دې نه بنده مخ واړوي؛ نو بيا دا په خپل اصلي شکل کې راځي، دې له پاره چې دخلکو نفرت نور هم سوا کړي، له دې وروسته يو بوډا راغى اوحضور ﷺ ته يې دښې طرف نه اواز وکړ چې زما خبره واورئ حضور ﷺ دده طرف ته هم ونه کتل، بيابل کس دچپ طرف نه راغى حضورپاک ﷺ هغه طرف ته هم توجه ونه کړه جبريل امين وفرمايل: اى دالله نبي! دابوډا چې دښې طرف نه راغى داد يهوديانو ددين روح و اوداکوم چې دګس(چپ) طرف نه راغى؛ نو دا دنصراراو ددين روح و، که تاسو دوى طرف ته توجه وکړې واى؛ نوستاسو اُمت به يهود ونصارى کيدل، مګر الحمدلله! خداى تعالى تاسو محفوظ وساتلئ.

دې غيبي معائنې نه وروسته دحضوراکرم ﷺ سواري مخکې لاړه؛ نوحضوراکرم ﷺ يو زبردست کس وليده چې دحضور ﷺ طرف ته داور شغلې راولي، حضرت جبريل امين عرض وکړوچې تاسو اعوذبالله وواياى اوده طرف ته يې وولئ دحضور ﷺ پوکي وهلو سره شغلې ختمې شوې اولعين غائب شو، حضرت جبرئيل امين وفرمايل: حضرت! داشيطان لعين و چې ستاسو خيالات يې پريشانه کول غوښتل، دغلته يې سرزمين يثرب هم وکتله چېرته چې به دوى هجرت کوې، بياحضور ﷺ ددفتر فرعون نه ديوې مسلماني خادمې دقبر خوشبو محسوس کړه مدين ښار يې وکوت، دحضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام کوه طور اودحضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام د پيدائش ځاى يې وليده، جنت يې وليده، دهغه اواز يې واورېده، دوزخ يې وليده او دهغه اواز يې واورېده.

دغيبت کوونکو خلکو شونډې يې په قينچيانو باندې کټ وکتلې همدا سزايې ددروغژن مخبر هم وليده چې دبادشاهانو په ذريعه به يې په عواموباندې ظلم کاو، دشراب خورو خوله توره اوسترګې شنې پيپ يې دخولې نه جاري و، ددروغژنو ګواهانو سزاګاني يې وکتلې چې ددوى خولې دخنزير دژبې شاطرف ته رابنکل شوې وې، بيادوى وکتل چې نوحه کوونکې بنځو ته داور کوږې ورکول کيدې په دې تکليف سره هغوى دسپيو پ ځير شور جوړ کړى وو اوهمدا سزا دهغو بنځو هم ده کومې چې خاوندان تنګوي، دسندروويلو والا خوله توره وه اوپه سينو يې طبقونه وو، درال جامې يې اچولې وې، ملائکو دوى ته داور ګرزونه لګول، دوالدينو نافرمان په اور کې سوځيدل، فربښتې لګيا وې اوقاتلان يې په چرو ذبح کول،ددوى دحلق نه يې انتها توره سقا بدبوداره وينه وتله، مغروره کسان دوو کانو چې دغر برابر و په هغو کې رابنکل کيدل.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بیت المقدس ته راتګ او امامت:

دې مناظرو کتلو نه وروسته حضور اکرم ﷺ بیت المقدس ته ورسیده په مسجد کې ټول انبیاء موجود وو، حضرت جبریل علیه السلام په صخره بیت المقدس باندې اذان وکړ، داسمان نه فرښتې په قطارونو کې رانازلیدې، اوس به امامت څوک کوي؟ حضرت جبریل امین علیه السلام دحضور اکرم ﷺ لاس مبارک ونیوو اوامامت له پاره یې مخکې کړ.

یا من تفوق امره فوق الخلائق فی العلٰی حتٰی لقد اثنی علیک اللّٰہ فی قرآنه

ای هغه بزرګ اولې هستی! چې دپوره کائنات نه یې په اوچتوالي کې فوقیت یورو حتی چې الله تعالی خپله قرآن کې یې تعریف وکړ.

په اسمانونو باندې عروج:

عرج النبی الی السمآء، بلغ العلٰی بکماله،

دانبیاوو دامامت نه وروسته حضور ﷺ ترقي اسمانونوطرف ته وشو، بیا دحضور په خدمت کې دوه پیالې ورلاندې شوې، په یوه کې شیدې اوپه بلې کې شراب و. حضور ﷺ شیدې قبولې کړې اوشراب یې رد کړې، حضرت جبریل علیه السلام وفرمایل: لقد اصبت تاسو درست وکړل که خدا نخواسته تاسو شراب ځښلی وای؛ نو ستاسو ټول اُمت به په شرابو کې اخته و. جبریل امین حضور ﷺ روان کړ اواسمانونوطرف ته لاړل، پورې یوه دسروزرو وه اوبله دچاندي (سپینو) ددغې پورې وسهې کیفیت الله پیژني، دهغې درفتار څه صورت و، مګر دنن سبا دور کې دبجلي لفټونه راغلي دي چې خپله په بجلي باندې مخکې ځي، له دې وجې په پورې باندې پورته تګ څه محال نه و. بیا الله تعالی په خپل قدرت خصوصیه باندې دا پورې راوستي وې. له دې وجې الله چې څه غواړي کولی یې شي، «انه علٰی کُلِّ شئ قدیر». بیشکه هغه په هر شي باندې قدرت لري.

حضرت جبریل علیه السلام حضوراقدس ځان سره واخیست اواولني اسمان ته. چې دهغه نوم "باب الحفیظ" دی - ورسیدل، ددې اسمان دداروغه نګران فرشتې نوم اسماعیل دی چې داویا زره فرښتو افسر دی اوپه دې اویا زره فرشتو کې دهرې یوې لاندې بیا اویا زره فرشتې دي کله چې حضرت جبریل علیه السلام دروازه کولاو کړه نو پوښتنه وشوه چې څوک؟ جواب یې ورکړو جبرائیل پوښتنه یې وکړه چې تاسو سره څوک دي؟ جواب یې ورکړ نبي آخرالزمان محمد ﷺ ذی. الله غوښتی دی، مرحبا مرحبا سره ټولو فرشتو استقبال وکړ، حضور ﷺ فرمایې کله چې زه اولني اسمان ته ورسیدم؛ نو یو دراز قد بنده مې ولید دهغه نبي طرفته یوه دروازه وه چې دهغې نه (جاری ده) ټولې خوشبوګانې راتلې، کرکس طرفته دویمه دروازه وه چې دهغې نه

https://t.me/kafayat2395

بدبي راتله اولږ باريک سپين رنګ کې جراثيم اووازه واړه مچان و. کله چې به دې بزرګ نبي طرفته کتل؛ نو خوشالیده به اوکله چې به يې ګس طرف ته کتل؛ نو په ژړا به شو.

حضور ﷺ پوښتنه وکړه اې جبريل! دا بزرګ څوک دی اومچان څه ځيزونه دي؟ عرض يې وکړ چې دا حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام دی اودا نبي طرفته سپين جراثيم دمسلمانانونروحونه دي اوګس طرفته تور جراثيم دکفارو روحونه دي، نبي طرف ته خوشبوداره دجنت دروازه ده اوګس طرف ته بدبوداره دجهنم دروازه ده، حضرت ادم اهل جنت ته چې ګوري؛ نو خوشاليږي اوګس طرف ته اهل جهنم ته چې ګوري؛ نو خفه کيږي، حضور ﷺ مخکې ورځي اوحضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام ته سلام کوي، حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام په جواب کې مرحبا بالنبي الصالح والابن الصالح يعنې صالح نبي اوصالح بچي ته سلام و مرحبا حضور ﷺ اولنې آسمان باندې عجائبات وليدل

دويم اسمان طرف ته عروج:

دويم اسمان طرف ته چې ورسيدو اودروازه يې کولاو کړه؛ نو پوښتنه وشو چې څوک يې؟ وې فرمايل جبريل! پوښتنه وشوه درسره څوک دي؟ وې فرمايل محمد ﷺ الله تعالى غوښتی دی. فرشتو دروازه کولاو کړه اومرحبا مرحباسره يې استقبال وکړ، په دويم اسمان باندې حضرت يحى عَلَيْهِ السَّلَام اوحضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام مرحبا بالاخ الصالح و النبي الصالح سره استقبال وکړ. بيا په دريم اسمان يې حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو وې فرمايل زما دورورېوسف عَلَيْهِ السَّلَام شکل داسې دی لکه دځورلسمې سپوږمۍ اوددې په مقابله کښه دټول جهان ښکلا داسې ده، لکه دسپوږمۍ مخې ته ستوري، په څلورم اسمان باندې حضرت ادريس عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاو شو، په پنځم اسمان باندې حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو، دده ګير چاپيره يو خودبني اسرائيلو کسان ناست وو، چې ده ورته نصيحت کاوو. په شپږم اسمان باندې حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو، بيا ووم اسمان ته ورسيدو. وې فرمايل ووم اسمان دومره نوراني دی چې سترګو ورته نه شو کتلى. هلته يو بزرګ دسروزرو په کرسي باندې ناست و دهغه ګرد چاپيره څه خلک سره سپين اوڅه خلق سپين تور ناست وو. حضور ﷺ يې چې کله وليد؛ نو هيرن مخ والا کسان پاسيدل اودرې ولو کې يې درې خله غسل وکړو په هر ځل غسل باندې به ددوی تورواللی کميدو، په دريم ځل باندې ددوی تور مخونه مکمل سپين اورونباته شو، حضور ﷺ پوښتنه وکړ داکوم يو مکان دی. دابزرګ څوک دی داخلک څوک دي، عرض وکړای شو دامکان بيت المعمور دی. اسماني کعبه ده دابزرګ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دی، سپين رنګ والا خلک نيکان دي اوتور رنګ والا خلک ګنهګاران دي، کله چې يې اولنې ځل کې غسل وکړ؛ نودهغه نهر نوم

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

رحمت الهي و، ددويم نوم مغفرت الهي و اوددريم نوم طهور دى، ګنهګار خلکو په دې نهر کې غسل وکړ اوپاک شول.

اسماني کعبه بيت المعمور:

بيت المعمور اسماني کعبه ده ددې شان دادى چې هره ورځ اويا زره فرشتي زيارت ته راځي کومو چې نن زيارت وکړ تر قيامته بې دوباره نمبر نه راځي، حضور اکرم ﷺ چې کله دا وکتل؛ نو حضرت ابراهيم عليه السلام ته يې سلام وکړ، حضرت ابراهيم عليه السلام په مبارکبادو سره استقبال وکړ، له دې وروسته حضوراقدس ﷺ بيت المعمور ته داخل شو، يوې فرښتې اذان وکړ. حضور ﷺ هلته هم دفرشتو امامت وکړ، دالله تعالى له طرفه ده ته دري القابات ملاو شو. سيد المرسلين، امام المتقين، قائد العرالمجلين، له دې وروسته حضور ﷺ فرماي چې: زما مخې ته تول انبياء او اُمتونه تير شول له چا سره ځلوينښت کسان وو چا سره لس اوچاسره يو اودوه هم وو، دټولو نه زيات زما اُمت جنت ته تللو والا وو، حضوراکرم ﷺ چې کله دخپل امت کثرت ولىد؛ نو خوشاله شو.

سدرة المنتهى:

له دې وروسته حضور ﷺ سدرة المنتهى طرف ته لاړ، هغه يوه ونه ده چې دهغې خانبونه دسرو زرو دي ميوه دزمردولکه چې لوى لوى منګي وي، ملائکو دا ونه پټه کړې وه، يکدم ددې وني نه رنړا شوه حضرت جبريل امين دويرې نه داسې بې حاله شو لکه چې زړه بوريا ددې وني په خانبونو، پانړو، باندې فرشتي دسروزرو مولحانو په شکل کې ناستې وې، کله چې په زرګونو فرشتو په يو وخت کې تسبيح وويلې؛ نوحضور ﷺ فرمايي چې: په ما باندې هيبت اويره خوره شوه دسدرة المنتهى نه وروسته کله چې پرده شهنشاهي په نظر راغله؛ نو دې وخت کې حضرت جبريل امين وروسته شو، حضور ﷺ وفرمايل: اې جبريل! زما نه ولې وروسته کيږې؟ حضرت شيخ سعدي رحمه الله فرمايي:

چون در دوستى مخلصم يا فتى غنائم ز صحبت چرا تا فتى

ماچې کله تهٔ په دوستئي کې مخلص اولىدې نو اوس روستو ولې تختې. حضرت جبرئيل امين جواب ورکړو.

اگر يکسر از موئے برتر پرم فروغ تجلى بسوزد پرم

که ددې مقام نه يو ويښته برابر هم مخکې لاړ شم؛ نودالله تجلي به زما ويښته ووزړي وسوځوي. له دې وروسته ده اويا زره پردې طى کړلې چې په هغو کې هره يوه پرده دپنځو سوو کاله په مسافت وه. له دې وروسته يو زمدري تخت راښکاره شو، چې دهغه نوم رف رف و؛ چې دهغه رنا دلمر درنا نه زياته وه. [illegible] کينا ستل اوبيا خداى خبر څومره

https://t.me/kafayat2395

منزلونه طی کول نه وروسته دی عرش الهي ته قریب ورسید، حضور ﷺ فرمایي: دعرش الهي
دانوارانو طاقت دبیان نه بهر دي، هلته درسیدو وروسته حضوراقدس ﷺ په سجده کې
پریوت ارشاد وشو اي محمده! ما له پاره دې څه تحفه راوړې ده، عرض وشو: التحیات لله
والصلوات والطیبات. تول بدني، مالي، زباني عبادتونه خاص تاسو لره دي.

دا نعامات الهیه باران:

ارشاد باري تعالی وشو: وغواړه څه غواړې، عرض یې کړ اتخذت ابراهیم خلیلا اي الله! تا
حضرت ابراهیم علیه السلام ته مرتبه خلت ورکړی ده، جواب ملاو شو، اتخذتک خلیلا وحبیبا: اي
محمده! تاسو ما خلیل هم جوړ کړئ اوحبیب هم، عرض یې وکړ تاسو موسی علیه السلام ته شرف
کلام هم ورکړی، الله تعالی وفرمایل: کلمته فوق الطور وکلمناک علی بساط النور: موسی
علیه السلام سره مې په طور باندې کلام کړی و اوتا سره مې په عرش باندې، غرض وشو چې
تاسو حضرت داود علیه السلام ته نبوت هم ورکړی و اوداوسپنې نرمولو کمال هم. وې فرمایل:
دهغه له پاره مې وسپنه نرمه کړه اوتا له پاره مې سخت زړونه نرم کړل، حضور ﷺ عرض وکړ.
تاسو حضرت سلیمان علیه السلام ته یو عظیم ملک ورکړو، جنات یې تابع کړل، هوا یې تابع کړه
اوهر شی مو ورته تابع کړ، ارشاد وشوستا ذکر ما څمکې نه اسمانه پورې اوچت کړ اوتاسوته
مې دخپل عرش دخزانو نه لویه خزانه سورة فاتحه اودسورة بقره ابتدایي ایتونه، آیت الکرسي
اودسورة بقري اخري خاتمه درکړه.

عرض یې وکړ الهي! تاسو حضرت عیسی علیه السلام ته انجیل ورکړ اوهغه ته مو درندو اړجذام
اودمړیو ژوندي کول ورکړل، ارشاد وشو ته مې رحمة للعالمین جوړ کړې، حق تعالی په دې
مقام کې نوري خبرې هم وکړې.

په امت باندې دا نعامات خداوندي باران:

اي نبي! مور ستاسو دأمت گناهونه وکتل اوسوادبخلو نور څه مې مناسب ونه ګڼل، حضور
ﷺ عرض وکړ. یا الله! زمادامت حساب کتاب دقیامت په ورځ دي ماته وسپارل شي دې له
پاره چې نور خلک زما دأمت عیبونو باندې پوهه نه شي، وې فرمایل: اي نبي مور دخپلو
بنده ګانو اودستاسو أمت ګناهونه تاسو ته هم نه بښکاره کوو داول أمت قومونو به ګناه وکړه؛
نو په هغوی به عذاب راغی، مګر ستاسو په أمت دستاسو په برکت به عذاب نه راځي،
ستاسو دأمت پټ ګناهونه به معاف کړم، اي نبي! زه دخپلو بنده ګانو درزق ضامن یم، مګر
خلک زما په ضمانت باندې اعتبار نه کوي دناحقه رزق په غم کې مبتلا وي، اي نبي! زه ستا
دامت نه دوه ورځي یو ځای عبادت نه غواړمه، مګر هغوی زما نه تول کال روزي په یوه ورځ
باندې غواړي. خپله روزي هغه چا ته هم نه ورکوي، مګر زما عبادت نورو ته ورکوي،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نعمتونه زما خوري اوشکریه دبل ادا کوي، زه دخپلوبنده ګانو شکوه فرشتو ته هم نه کوم اوهغوی شپه ورځ هر ځای کې زما شکوه شکایت کوي، حضوراکرم ﷺ دالله تعالي نه پوښتنه وکړه، ایا تاسو به پرې اوس عذاب رانازلوی؟ الله تعالی وفرمایل تر څو چې دوی شرک نه کوي ددوی به هر څه معاف شي، اې نبي! تر څو چې تاسو جنت ته نه یې تللي، یو نبي به هم نه ځي اوستا دامت نه مخکې به یو امت هم جنت ته نه ځي، حضور ﷺ فرمایي: په دې وخت کې زما غوږو له دقلم دلیکلو اواز راغی بیا حکم وشو چې ستا اُمت ته معراج روحاني له پاره مورِ پنځوس لمونځونه فرض کړل، تاسو به هم کوئ اوامت به یې هم کوي، بیا ارشاد وشو .السلام علیک ایها النبي ورحمة الله وبرکاته: حضوراکرم ﷺ جواب ورکړ، السلام علینا وعل عبادالله الصالحین: حضور ﷺ پنځوس لمونځونه اوډېر برکتونه ځان سره راواخیستل اوواپس یې تشریف راوړ، کله چې یې په شپږم اسمان باندې حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو، ده ﷺ دپنځوس لمونځونو فرضیت بیان کړ، حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل حضور! زما په اُمت باندې دوه لمونځونه فرض و، هغوی هغه هم ادانه کړل ستاسو اُمت به پنځوس لمونځونه څنګه ادا کړي، تاسو باري تعالی ته درخواست وکړئ چې دا کم کړي. حضور ﷺ دوباره حاضر شو سجده یې وکړه اودرخواست یې وکړ چې په هغه سره پنځۀ لمونځونه کم شول. بیایې چې حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات وشو؛ نوهغه ورته بیا وویل چې دې کې نور هم کم کړه حضوراکرم ﷺ باربارراغلو اوبالآخر لمونځونه پنځو ته راورسیدل. موسی عَلَيْهِ السَّلَام نور هم دکمولو مشوره ورکړه، خو حضوراکرم ﷺ وفرمایل چې الله ته نور تلو باندې ماته شرم راځي. الله تعالی وفرمایل په دې پنځۀ لمونځونو کولو سره به اُمت ته دپنځوس لمونځونو ثواب ملاویږي، حضوراقدس ﷺ دمحبت په انتهایي مقام باندې و. له دې وجې یې په اول ځل باندې دلمونځونو کمیدو څۀ ونه ویل، بیا به چې کله واپس کیدو؛ نو هغه تجلي به نه وه، بلکې هغه به تري لري کیده اوحضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام ته به چې راتلو؛ نو شریعت ته به قریب کیدو، له دې وجې دلمونځونو کمیدو درخواست له پاره به دوباره تلو، ورسره ده ته به بار بار دیدار کیدو، دې بهانې سره یې ده بار بار وغوښتل، ددې نه وروسته ده ﷺ دجنت اودوزخ سیل وکړ.

دجنت خوبصورتي اوشان:

حضور ﷺ فرمایي چې: دجنت چاردیواري دسروزروده دجنت دروازه دخلوبینت زره مسافت باندې پلنه ده، په جنت کې دموتیانو خیمې دي. دځمکې خاوره خالص دمشکو ده فرمایي چې په جنت کې مې دموتیانو یوه قُبه وکتله، چې دهغه دننه نه دجنت ځلور نهرونه بهي، شراب. شهد اوداوبه جاري وو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضور ﷺ فرمایی چې: ما په جنت کې دسرویاقوتو محل وکتو چې دهغه نه لاندې جاري نهر باندې یوې حور مخ وینځو پوښتنه یې تري وکړه دادچا محل دی عرض یې وکړ دادعمرین الخطاب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دی، ویې فرمایل چې دعمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غیرت اوحیا یاد راغله ځکه زه په دې محل کې داخل نه شوم، دجنت دعجاباتو نه وروسته ما ددوزخ نظاره هم وکړه. العیاذ باللہ، دخپر برابرلوم اوداوښ برابر مار و، داوسپنې چرنده چې دغرونوبرابروي په دې کې به خلک چقول کیږي. له دې وروسته حضور ﷺ بیت المقدس طرف ته نزول وکړ. براق باندې کیناست اومکې معظمې طرف ته روان شو. روحا مقام باندې یوه قافله ملاو شوه بیا په لاره کې یله قافله ملاو شوه داتوول واقعات یې وکتل اودصبح صادق په وخت کې حضور ﷺ مکه معظمه کې دام هانې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا کور ته یې تشریف راوړ اوام هانې ته یې توله ماجرا بیان کړه ام هانې عرض وکړ حضور ﷺ قریشو ته ددې واقعې ذکر مه کوه هغوی به تاسو ته دروغژن وایي.

واقعه معراج نه دقریشواومشرکینوانکار، دحضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تصدیق:

سحر چې کله حضور ﷺ کفارو او مشرکینو ته دمعراج واقعه بیان کړه؛ نو هغوی تري انکار وکړ ابوجهل په خاشالي باندې حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته راغې په دې امید سره چې هغه به هم انکار وکړي: نوخبره به جوړه شي، مگرکله چې ده ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ذکر وکړ: نو حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمایل که زما محبوب حضرت محمد ﷺ داخبره کوي: نو زه یې تصدیق کوم چې هغه ریښتیا وایي، قریشو مختلف قسم سوالات وکړل چې بیت المقدس نقشه بیان کړئ، مناري پکې څومره وي؟ برج څومره وو؟ محرابونه څومره وو؟ ممبر څنګه وو؟ حضور ﷺ دعا وکړه الله تعالی تولې پردې لیرې کړې اوبیت المقدس مخې ته راغی. حضور ﷺ هر څه بیان کړل اودایې هم وویل چې: دشپې دادا قافلې راروانې وي، هغه قافلې راغلې: نو قریش هم لاجوابه شو.

مسلمانانو حضور ﷺ هر څه په خپلو سترګو ولیدل. له دې وجې زموږ کامیابي په دې کې ده چې دحضور ﷺ تصدیق وکړو بدواعمالو نه بچ شو اونیک عمل وکړو، ګني موږ به تباه اوبرباد شو. حق تعالی سبحانه وتعالی واقعه معراج په لفظ سبحان سره وفرمایلو چې دهغه معنی ده پاک یعنې هغه ذهر عجزونامکن نه پاک دی ذهرې کمزورې نه پاک دی هرڅه کولی ئې. حضرت جبریل امین په ورځ کې لس ځله راتللی شي؛ نوهغه حضوراکرم ﷺ اسمان ته نه ئې بوتللی. بیا یې وفرمایل سمیع بصیرچې هغه اوریدو والا اوپوهې والا دی چې داخلک

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

داواقعه واوري؛ نوځه اشکالات به پیش کوي، بصیر ګوري چې څوک تصدیق کوي، څوک دروغژن وایي.

دعبدیت انعام:

تفسیر کبیر کې دي چې شب معراج کې حضوراکرم ﷺ ته ارشاد وفرمایلو چې اي نبي! تاسو ته ځه لقب سرکړي شي، حضور ﷺ عرض وکړ، ماته دي درسرکار دطرفه عبد لقب اوخطاب راکړل شي، تماما کمالات بشري لفظ عبد دننه موجود دي، له دې وجې سورة نجم سورة بني اسرائیل کې لفظ عبد ذکر فرمایلو سره لفظ عبد وایي چې معراج جسماني اوشوروحاني دي نه علاوه دي ځکه عبد جسم اوروح دواړو له پاره ویل کیږي نه یوازې دجسم اوروح له پاره

حضرت چلے معراج کو بلغ العلٰی بکماله
سب جگه میں اجالا ہوا کشف الدجٰی بجماله
آپ کے خصائل نیک تھے حسنت جمیع خصاله
حورو ملائک سب یوں کہیں صلوا علیه وآله

دمعراج تحفې:

لمونځ، سورة بقره خواتیم دي، مونږ ټولو ته دې الله تعالی دعمل کولو توفیق راکړي اودحضور ﷺ دژوند هره شعبه کې اطاعت توفیق رانصیب کړي. آمین یارب العلمین.

تیرے پاک نام پہ اے خدا	میرا تن فدا ، میرا من فدا
میری روح فدا میری جان فدا	میرا باپ فدا اور میری ماں فدا
تیری بندگی میری آرزو	اللہ جلّ جلالہ
تو جلال ہے تو جمال ہے	تو کمال ہے لازوال ہے
نہ ہی تیرا اہل وعیال ہے	نہ ہی تیری کوئی مثال ہے
نہ نگاہ کرم پھیرے کھبو کھبو	اللہ جل جلالہ
میری شان تو ، میری آن تو	میری جان تو ایمان تو
میرے بالا وھم و گمان تو	میری خاموشی ، اعلان تو
میرامیں بھی تومیرا تو بھی تو	اللہ جل جلالہ

(مولانا حکیم عبدالله)

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د رجب المرجب دمیاشتې څلورمه خطبه

معراج اولمونځ:

درجب په میاشت ۲۷ تاریخ باندې حضوراکرم ﷺ ته معراج نصیب شو اولمونځونه چې له مخکې نه هم کیدل، خوپه دې شپه پنځه لمونځونه فرض شو.

په ۱۲ رجب باندې مجدد ملت حضرت اشرف علي تهانوي رحمه الله وفات شوی.

په ۲۱رجب باندې امیر المومنین حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله ته شهادت نصیب شو

په ۲۷رجب باندې سلطان صلاح الدین ایوبي په بیت المقدس باندې قبضه وکړه اودرجب په میاشت کې خلیفة المسلمین حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په ۲۱هجري کې دمدینې منورې نه بیت المقدس طرف ته سفر وکړ اوعیسایانو پرته دجنګ نه چاجبایي ده ته حواله کړې دلمونځ دبیان نه مخکې مختصر شان ددې محسنین امت مختصر شان حالات بیان کړو. خکه چې دمسلمانانو یو لوی تاریخ ده سره وابسته دی.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه په کوم شان سره بیت المقدس ته لاړ حضرت ابوعبیده رضي الله عنه دشام علاقې فتح کولې، له دې وروسته بیت المقدس طرف ته روان شو. عیسایانو جواب توره اوډال غوخولې وو اودمسلمانانو جذبې ایمان مخې ته تیټې شوې وو اودوی ته سوا ددې نه بل چاره نه وه چې مسلمانانو سره صلح وکړي بل څه چې ورته په نظر رانغلل؛ نو حضرت ابوعبیده بن الجراح رضي الله عنه ته یې وویل چې: موږ بیت المقدس مسلمانانو ته حواله کوو، په دې شرط چې دصلح معاهدې له پاره خلیفه حضرت عمر رضي الله عنه خپله تشریف راوړي، حضرت ابوعبیده بن الجراح رضي الله عنه داصورت حال حضرت عمر رضي الله عنه ته ولیکل اوحضرت عمر رضي الله عنه دصحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین په مشوره باندې فلسطین طرف ته روان شو.

دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه فلسطین ته سفر:

دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه سادګي دنن سبا دحکمرانانوسترګو خلاصولو له پاره کافي ده. نن زموږ حکمرانان دظاهري شان اوشوکت تصنع وبناوټ ډېر زیات کوي، مګر دننه نه ډډ دي. ددوی روح بې جانه دی ایمان کمزوری دی زړه مړ دی اوداحساس کمتریې ښکار دي، ګورئ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه بیت المقدس فتح کول ته ځي، هغه سره دسفر دسامان یوه نیله ده یواوښ، یوغلام اودلرګي یوه پیاله ده، خپل قائمقام یې عثمان غني رضي الله عنه جوړ کړ دحضرت عمر رضي الله عنه په دې سفر کې ډېره لویه سادګي اوجفاکشي اوعبرت دی اوردمسلمانانو له پاره درس دی. دوران سفر په کله غلام داوښ واګي نیوو اوعمرفاروق

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به سور و اوکله به عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واګي نيولې و اوغلام به سور و، دادهغه عظيم الشان شخصيت اودخليفه اسلام سفر و، چې دهغوی لوجيانودقيصروکسرا معلان اوتخت وتاج دخپلو اسونو په پښو کې رانسکلي وو، دتلو دارادې نه مخکې ده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددمشق اوبيت المقدس اسلامي افواجوسردارانو ته اطلاع ورکړې وه، دتولو نه اول يزيد بن ابي سفيان دده وروسته ابوعبيده بن جراح رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوددې وروسته حضرت خالدبن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ استقبال وکړ، عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسردارانو په خوبصورته شان اوشوکت والا لباس کې وليدل؛ نو په غوسه شواوويې فرمايل چې: تاسو خلکو په دوه کاله کې دعجمو عادات خپل کړل دی سړدارانو ورته اطمينان ورکړ چې زمونږ دننه هم هغه رنګ جفاکشي موجوده ده؛ نودې وروسته مطمئن شو.

يو خل يې يوکس وليږه چې کب (ماهي) راوړي هغه کس په تيزی په اوښه باندې لاړ اوماهي يې راوړو دتيزی له دوجې يې اوښه په تيزو باندې بوتله چې دهغې له وجې اوښه په خولو کې ډوبه وه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله اوښه وليده؛ نو ويې دا ماهي به نه خورمه، ځکه چې زما له وجې يو بې زبانه په تکليف کې واقع شو، دده په دسترخوان باندې به کله هم دوه قسمه خوراکه نه و. ساده عام مسلمانانوپه څير به يې خوراک کاوو، حضرت فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به شليدلي جامي اچولې، يوخل وکتل شول چې دده په قميص اوخادر کې څورلس پيوندونه وو. غريبو اومسکينانوله پاره به ده په خپله اوګه باندې بوری اوچتولې که چا به وويل چې دابوج زه اوچتوم؛ نو ده به فرمايل چې: قيامت په ورځ به زما بوج ته اوچت کړې، دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين جماعت کامل الايمان والا وو اوحضرت فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جليل القدر صحابي دی.

دصحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِين دجماعت متعلق ارشاد باري تعالى دی:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ. (سورة الانفال: ۷۴)

ترجمه: اوکوم خلک چې اول مسلمان شو اوهغوی هجرت وکړ «دحضور ﷺ په زمانه کې» اوالله په لاره کې يې جهاد وکړ اوکومو خلکو چې «دمهاجرين» خپل خان سره ايسار کړل اوددوی مدد يې وکړ داخلک دايمان پوره حق ادا کوونکي دي، دوی له پاره (آخرت کې لوی) مغفرت او(جنت کې) لويه معززه روزي ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دحق ګويي وصف:

عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللّٰه جَعَلَ الحَقَّ عَلٰى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهِ. (مشكوة)

ترجمه حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل الله تعالى دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په ژبه باندې حق او صداقت جاري کړي و.

حضرت عمربن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللّٰهُ :

حضرت عمربن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللّٰهُ خليفه راشد دى، دده هم حكومت دخلفا راشدينو په څير وكړ، په يوه جمعه كې يې تقرير وكړ، اموي خلفاوو مورِ ته داسې جاګير اوجائيدادونه راكړي دي چې هغوى ته ددې دورکولو اومورِ ته ددې قبلولو هيڅ حق نه وو، زه داټول جاګير خپلو مالكان ته واپس كوم اواول دخپل ذات اوبيا خپل خاندان نه شروع كوم. ده به فرمايل ديو بادشاه مثال ديو بازار دى چې په هغه كې هغه څيزونه راوړل كيږي چې دكومو په بازار كې غوښتنه وي. كه بادشاه خپله نيک وي؛ نو رعايا به هم نيک وي اوكه نيک نه وي؛ نو رعايا به هم نيک نه وي

خوف بندوں کا نہیں خوف خدا رکھتے ہیں — پاس حریت و احساس وفا رکھتے ہیں
دل کو آمادۂ تسلیم و رضا رکھتے ہیں — جان کو مورد اندوہ و بلا رکھتے ہیں
ضوء ایمان کو سینوں میں دبا رکھا ہے — نور اسلام کو آنکھوں سے لگایا ہم نے
تیرے کعبے کو جبینوں سے بسایا ہم نے — تیرے قرآن کو سینوں سے لگایا ہم نے

حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پيشنګويي كړې وه چې زما په اولاد كې به يو كس وي چې په مخ باندې به يې داغ وي اوهغه به ځمكه دعدل اوانصاف نه ډكوي، حضرت عمربن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللّٰهُ اس په لته باندې وهلي و پلار به يې دمخ نه وينې پاكولې او ويل به يې: كه ته هغه (سعيد) يې؛ نو سعادتمند يې.

زيد بن اسلم دانس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت كوي چې دحضور ﷺ نه وروسته مورِ دعمر بن عبدالعزيز نه سوا څوک نه دي كتلي چې دهغه لمونځ دحضور ﷺ سره زيات مشابه وي، كله چې عمربن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللّٰهُ خليفه جوړ كړل شو؛ نوبيعت خلافت نه وروسته هغه چې كوم تقرير كړى و. هغه دا و. حمدوثنا نه وروسته خلكو! قرآن شريف نه وروسته بل كتاب نشته د حضور ﷺ نه وروسته بل نبي نشته. زه يو بل څيز شروع كوونكي نه يم، بلكې پوره كوونكي يم. زه مبتدع نه يم، بلكه متبع يم، زه تاسو نه په يوحال كې هم بهتر نه يم، خو زمابوج تاسو نه

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زیات دی. کوم کس چې ظالم بادشاه نه وتښتي هغه ظالم نه شي کیدای، یاد ساتئ چې احکام الهي کې دمخلوق اطاعت جائز نه دی.

کله چې دی خپل کورته بیعت خلافت اودسلیمان دوفات نه وروسته داخل شو؛ نوددې ګیره داوښکو نه ډکه وه، دده ښځې له ده نه پوښتنه وکړه چې ولې خیریت خو دی؟ ده جواب ورکړ چې خیریت چیرته دی، زما په غاړه کې یې دامت محمدي ﷺ بوج واچوو، دبرښنو، وګي، ناروغ، مظلوم، مسافر، قیدي، ماشوم، بوډا، کم حیثیت، عیالدار، وغیره دټولو بوج زما په غاړه کې واچول شوددې ویرې نه ژاړم چې هسې نه قیامت په ورځ ما نه پوښتنه وي اوزه جواب ورنه کړای شم.

دخلیفه کیدو نه وروسته دده خپلې ښځې فاطمه بنت عبدالمالک ته وویلي چې: ته خپل زیورات په بیت المال کې داخل کړه، ګني زه به ستانه جدا شم، ځکه ماته دا په یو صورت هم قبول نه ده چې ته اوستا زیورات اوزه په یو کور کې اوسیږو دهغه ښځې سمدلاسه ټول زیورات سره دیو قیمتي موتي وویستل چې عبدالمالک خپل لور ته ورکړي وو ټولو مسلمانانوته یې بیت المال ته ولیږل. (تاریخ اسلام شاه نجیب آبادي رحمۃ اللہ علیہ)

سلطان صلاح الدین ایوبي رحمۃ اللہ علیہ :

صلاح الدین ایوبي هغه بهادر مسلمان بادشاه دی چې هغه بیت المقدس دعیسایانونه ازاد کړی و، مولانا ابوالحسن علي ندوي رحمۃ اللہ علیہ لیکي: په پنځمه صدی (پیړۍ) هجري اویوولسمه صدی عیسوي په اخره کې هغه حالات اواسباب رامخې ته شول چې دیورپ صلیبي فوجیانو دشام اوفلسطین رُخ وکړو اوفوجیان دسیلاب اوطوفان په څیر خواره شول، صلیبیانو دبیت المقدس داخله په وخت باندې دفتح په نشه کې مست وو اومجبوره مسلمانانو سره یې چې کوم سلوک وکړ دهغه ذکر یو ذمه دار مسیحي مورخ په دې الفاظو باندې کوي:

بیت المقدس کې فاتحانه داخله باندې صلیبي (عیسایي) سپاهیانو داسې قتل عام وکړ چې بیانوي چې ددې صلیبیانو اسونه کوم چې دمسجد عمر رضی اللہ عنہ کې سواره شودکونډو کونډو په وینو کې ډوب وو ماشومان یې دپښو نه ونیول اودیوالونوته یې وهل هغوی به یې تاو کړل اوقلعي نه به یې بهر ویشتل، ددې عیسایانو مقابله اخر نورالدین زنګي وکړه.

دصلاح الدین ایوبي قیادت:

دنورالدین نه وروسته دده تربیت یافته صلاح الدین ایوبي دصلیبي دنیا خلاف دعالم اسلام قیادت وکړ، بالآخر صلیبیانو ته یې داسې شکست ورکړ چې دهغوی ملا ماته شوه، لین پول داسې نقشه کشي کوي، یو یو مسلمان دیرش دیرش عیسایان چې هغوی خپله نیولي و دخیمو په پرو کې یې ترلي وو اوروان کړي یې وو، مات شوي صلیبونواوکټ شوي

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پښولسونوکي دسړيو ډېرې داسې ښکاره کيدو لکه چې کانو له پاسه کانې پراته وي اوکټ ځوي سرونه داسې پراته وو، لکه چې دخربوزوباغ کې خوري وري خوربوزې پرتې وي، په زمانوزمانوداميدان کوم کې چې ډيرش زره مړي شوي وو خلکو ته يادوو. سلطان صلاح الدين ايوبي دوباره بيت المقدس په قبضه کې واخيست اودهغه خواهش تکميل يې وکړ د کوم چې مسلمانانودنهه نوي ۹۰ کالو نه کاوو. دسلطان ملګري اومعتمد قاضي شدادليکي هر طرف ته ددغا اوتهليل اوتکبيرشوراوچت وو، بيت المقدس کې نهه نوي کاله وروسته ډجمعې لمونځ وشو. قبه صخره باندې چې کوم صليب ولاړ و هغه راکوزکړای شو. يو عجيبه منظر و داسلام فتح اودالله تعالى مدد صفا په نظر راتلو.

بيت المقدس اوحطين ذلت آميز شکست نه وروسته په يورپ کې دغم اوغوسې اور لګيدلى و اوټول يورپ دشام په ورکوټي شان ملک باندې راغوته شو ددې ټولو مقابله کې تن تنها سلطان صلاح الدين ايوبي و اودهغوى اعزاء اويو خو ملګري چې دټول عالم اسلام دطرفه يې مدافعت کاوو. اخر کار پنځهٔ کاله مسلسل خونړيزه جنګونو نه پس ۱۱۹۳ء رمله کې چې دوارو فوجونه دستومانتيا دلاسه يې حاله وو صلح وشوه، دمسلمانانو مفتوحه علاقې اوقلعې بدستور دمسلمانانو سره پاتې شوې په ساحل باندې دعکه يو ورکوټي شان ريياست عيسايانو په قبضه کې وو اوټول ملک دصلاح الدين ايوبي تسلط لاندې و. سلطان صلاح الدين ايوبي چې کوم کار په خپله ذمه باندې اخيستى و، بلکې الله تعالى دده په لاس باندې مکمل کول غوښتل مکمل شو، لين پول ليکي: جنګ مقدس خاتمې ته ورسيد، دپنځو کالو مسلسل جنګونه اختتام ته ورسيدل، جولائي ۱۱۸۷ء کې حطين باندې مسلمانانوسره فتح نه مخکې ددرياييې اُردن په مغرب باندې يو انډ خمکه هم نه وه، ستمبر ۱۱۹۲ء کې کله چې رمله کې صلح وشوه؛ نوصور نه واخله تر يافا پورې ساحل باندې سوا دخمکې ديوې نرۍ پټۍ نه ټوله دمسلمانانو قبضه کې وه، سلطان صلاح الدين ايوبي داعلى تنظيمي صلاحيتونو اوقائدانه خصوصياتو مالک و، هغه په يوازې سپه سالار اوفاتح، بلکې محبوب قائد اوهر دلعزيز سپاهي هم و. هغه په صدوپس منتشر اوخوراسلامي رياستونه اوطاقتونه اوجدا اوخپل مينځو کې مخالف مسلمان قومونه اوقبائل يې جهاد دجذبې لاندې جمع کړل، دېره زمانه وروسته دهغوى په قيادت کې عالم اسلام يو منظم اوپُر خلوص جنګ وکړ چې دهغه مقصد داسلام حفاظت اوجهاد في سبيل الله نه سوا هيڅ نه و، لين پول صحيح ليکلي دي:

په دريم جنګ کې دمسيحي دنيا مجموعي طاقت مقابلې له پاره راغلي وو، مګر دصلاح الدين طاقت يې تس نه مس نه کړو. دصلاح الدين سپاهيان دمياشتودسخت محنت اوکوشش اودکلونو مخدوشه اوخطرناک خدمت نه وروسته يې حده ستړي شوي وو، مګر دچا په ژبه باندې حرف شکايت نه وو کله طلب کولو باندې حاضر کيدواوکله اوپه يو نيک

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کار کې خپل ځانونه قربانولو نه چا هم انکار نه کاوو ، مخکې لیکې:
کرد ترکماني، عرب، مصري ټول مسلمانان اودسلطان خادمان وو اوپه طلب کولو باندې دخادمانوپه څیر به سلطان ته حاضریدل باوجود ددې چې ددوی نسل اوقوم جدا و اوباوجوددقومي ناچاقواوقبائلي غروروتفاخر سلطان دوی داسې شیر اوشکر کړی وو چې ټول لښکر به یو وجود په نظر راتلو.
صلاح الدین نه وروسته عالم اسلام ته بیا داسې مخلص قائد اورهنما نصیب نه شو چې داسلام دپې غرضه خدمت له پاره پې تابه وي چې دهغوی مقصد دجهادفي سبیل الله نه سوا بل هیڅ نه و اوچې په هغه باندې عالم اسلام ته اعتمادا ودهغه ذذات سره داسې تعلق و ځنګ چې صلاح الدین سره و (انسانی دنیا پر مسلمانوں کے عروج وزوال کا اثر) ددې کمزورې په وجه باندې فتنه تاتار شروع شوه اومسلمانان پې مغلوبه کړل، مګر همدغه تاتاریانو دمصري مسلمانانونه شکست وخوړو اودغه تاتاریان مسلمانان شول اوداسلام خادمان جوړ شول. خدای دې وکړي چې نن هم مسلمانانو ته دصلاح الدین ایوبي په څیر پې باکه اونور جرنیل نصیب شي چې دمسلمانانوخواره اوتوتي شوي قوتونه راجمع کړي، بیت المقدس آزاد کړي دمسلمانانوتیرشوی عظمت بحال کړي چې دهغه مقصد اعلاء کلمة الله وي، انشاء الله که مسلمانان ځان کې جذبه دجهاد بیدار کړي قرباني ورکولوله پاره تیار شي؛ نوبیا به دالله تعالی مدد اونصرت ددوی شامل حال شي، ځنګه چې نن افغانستان روس سپر پاورمقابله دیو غریب وکمزورقوم مجاهدینو وکړه اوروس پې واپس روس طرف ته واپس کړو روس دخپل پوره قوت سره ذلیله اورسواشواوپه تبنیتدوباندې مجبوره شو، همدغه راز که مسلمان قوم پوره په دین باندې عمل پیرا وي؛ نوامریکه روس اونورکافر اقوام به شکست وخوري دالله په ځمکه باندې به دالله جندا ولاړه وي.

تمهیں سے اے مجاهد ! دین کا ثبات هے — شهید کی جو موت هے وه قوم کی حیات هے
مرے شهید هو، مارے اگر غازی هو! — یه راه وه هے که جس میں هر طرح سرفرازی هو

دلمونځ بیان:

مونځ په هر مسلمان سړي اوښځي باندې فرض دی ارشاد باري تعالی دی:
اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ۭ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاۗءِ وَالْمُنْكَرِ (سورة العنکبوت: ۴۵)
ترجمه: کوم کتاب چې په تاسو باندې وحي شو، تاسو دا تلاوت کوئ اودلمانځه پابندي وساتئ. بیشکه لمونځ (دخپلې وضعې په اعتبارسره) بې حیایي اوناشائسته کارونونه بندوي.
په دې ایت کې الله رب العزت خپل پاک رسول ﷺ ته دوه حکمه کړي دي، یو دقرآن کریم تلاوت اودویم حکم لمونځ قائمول په حقیقت کې دلمونځ په اسلام کې ډېر لوی عمل دی.

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لمونځ ته په عربي کې صلوة ويل کيږي، دهغه معنا ده دعا کول تعظيم کول، اور لګول، په اور کې تلل. اور باندې کومې لرګي سيده کول اوپه شريعت کې ديو مخصوص عبادت نوم دی، په لغت کې صلوة چې کومه معنا ده هغه په صلوة شرعي کې موجوده ده، لمونځ کې دعا کول، وخدای تعظيم کول. دعشق الهي اور لګول، دلمونځ ګذاره دګناهونو سوځيدل. دلمونځ ګذاره کاوه اخلاق درست کيدل، داټول شيان په لمونځ کې موجود دي، په لمونځ کې بنده دخپل خان له پاره اوټول جهان له پاره دهدايت دعا غواړي.

حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت کوي چې يو انصاري حضور ﷺ پسې به لمونځ کولو او ورسره غلا به يې هم کوله. چاحضوراکرم ﷺ ته دا حال بيان کړ،

حضوراکرم ﷺ وفرمايل چې: عنقريب دا لمونځ به دې دګناهونونه بندکړي، واقعي څو ورځو نه وروسته دې کس دغلا نه توبه کړه.

دلمونځ خصوصي فضيلت دادی چې باقي داسلام فرائض په ځمکه باندې فرض شواولمونځ دمعراج په شپه باندې اسمانونوباندې فرض شو، الله تعالى خپل خان ته وبللو اوداخصوصي تحفه يې ورکړه. دمعراج په شپه باندې حضوراکرم ﷺ ديو لاکه څليريشت زره انبياء عليهم السلام امامت وکړ. معلومه شوه چې لمونځ لوی عبادت دی، چې دهغه دامامت له پاره دی منتخب کړ. که دلمونځ نه لوی بل عبادت وای؛ نو دهغه انتخاب به شوی و، اسماني کعبه چې دهغه نوم بيت المعمور دی دملائکو قبله ده هلته چې هم ورسيد؛ نولمونځ يې وکړ، لمونځ دمعراج په شپه باندې فرض شواوپنځوس لمونځونو حکم وشو بيا بار بار دربار خداوندي ته تلو سره کم شو په اخره کې پنځهٔ پاتې شو، پنځهٔ ځلوينښت لمونځونه معاف شو هر بار دالله ديدار اوهمکلامي وشوه، داپنځه ځله تلو باندې معافي وشوه که الله تعالى غوښتل؛ نو په يو ځل يې هم معاف کولى شو، لمونځونو کمولو له پاره پنځهٔ ځله حاضري سره ديدارالهي اوشرف همکلامي نصيب شوه، همدغه راز څوک چې پنځه ځله په جماعت سره لمونځ کوي هغه ته هم روحاني ديدارالهي اوهمکلامي نصيب کيږي، حديث شريف کې دي چې کله بنده لمونځ له پاره نيت وترې؛ نو رب العٰلمين مخې ته تشريف راوړي کله چې يو بنده لمونځ نه خپل سوچ اوتصورلرې کړي؛ نو الله تعالي فرمايي بنده؛ موږ ستا مخې ته يو ته موږ نه ګورې ايا بل شيز زموږ نه زيات خوبصورته دی اوتاته ښه په نظر راغلو چې موږ دې پريښودو اوهغه طرف ته متوجې شوی.

دلمونځ فضيلت:

جناب نبي کريم ﷺ فرمايي: دپنځه لمونځونو مثال دنهر پشان دی چې دچا دکور مخې ته بهيږي اوهغه په هغه کې پنځه ځله غسل کوي؛ نودهغه په وجود باندې به څه خيری باقي نه

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وي، دغه کوم يو بنده چې پنځه واړه لمونځونه پابندي سره کوي دهغه ګناهونه به هم باقي نه وي پاتې (بخاري) داسې ده چې دهغه روح به هم صفا شي دهر قسمه ګناهونو خيرې اوګندګي به صفا شي.

لمونځ سره اسانې:

دنيا زندګي ختميدو نه وروسته په انسان باندې پنځه مرحلې او منزلونه دمشکلاتو راځي.

اول: مرګ. دويم: قبر. دريم: دحشر ميدان.

څلورم: پل صراط. پنځم: دجنت دروازه بنديدل.

الله تعالى دې پنځو مصيبتونو ختمولو له پاره پنځه لمونځونه فرض کړي دي.

زواجر ابن مکي کې دي:

"مَنْ حَافَظَ عَلَى الصَّلَوٰتِ اَكْرَمَ اللهُ بِخَمْسِ يَرْفَعُ عَنْهُ ضِيقَ الْمَوْتِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَيُعْطِيهِ اللهُ بِيَمِينِهِ وَيَمُرُّ عَلَى الصِّرَاطِ كَالْبَرْقِ وَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ" (زواجر ابن مکي)

حضور اکرم ﷺ فرمايي: کوم بنده چې دپنځو لمونځونو حفاظت وکړي الله تعالى به ده پنځه انعامات نصيب کړي.

اول خو داچې دده تنکي به لرې کړل شي **دويم** داچې عذاب قبر به تري لرې کړي.

دريم داچې قيامت په ورځ به نامه اعمال ده ته په ښي لاس باندې ملاويږي.

څلورم داچې پل صراط باندې به داسې تير شي لکه بجلي.

پنځم داچې بغير دحساب نه به دې جنت ته داخل شي.

نزهة المجالس کې دي: هره ورځ دماسپښين په وخت کې ددوزخ اور تيزول کيږي په دې جوش وخروش کې جهنم نه اواز راوځي.

"قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (۱) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (۲). (سورة المومنون)

ترجمه: بيشکه کامياب شو هغه ايمان والا کوم چې خپل لمونځونه خشوع خضوع سره کوي

دوزخ خپله خوله باندې اقرار کوي چې لمونځ کوونکي دې زمادننه نه راځي هغه دې بالکل زما نه لرې اوسيږي.

دلمونځ پريښودو ويال:

ارشاد باري تعالى دى: فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ (۴) الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (۵) (سورة الماعون)

ترجمه: «وروسته ثابته شوه» داسې لمونځ ګذارو له پاره لويه خرابي ده چې خپل لمونځونه هيروي (يعنې پريږدي).

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فائده: کوم بنده چې لمونځ پريږدي هغه ددين نور احکام هم پريږدي، ځکه چې لمونځ ددين ستن دی، کله چې يو بنده دخدای حق نه اداکوي، هغه به دبنده حق څنګه ادا کړي.

علامه شعراني رحمه الله فرمايي چې: غور سره واوره مصيبت او بلا دهري محلې اوعلاقې نه ليرې کړل شي. چيرته چې خلک لمونځ کوي اوکوم ځای کې چې لمونځ ګذار نه وي. هلته مصيبت اونکاليف راځي. ننۍ دمصيبتونو، ناروغيو، ځانې جنګي، طوفان اوزلزلو وجه هم داده چې خلکو لمونځونه پريښي دي.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه دحضوراکرم ﷺ ارشاد نقل کوي چې يو خل حضوراکرم ﷺ مور ته وفرمايل: دعا وکړئ چې اې الله! مورږ بدبخته اومحرومه مه کړې. صحابه کرامو رضي الله عنهم لبجمعين عرض وکړ، اې دالله نبي! بدبخته اومحرومه څوک دي، وېې فرمايل: دلمونځ پريښودونکي چې ددوی هيڅ حصه اسلام کې نشته.

يو حديث مبارکه کې دي چې دقيامت په ورځ به لسو کسانو ته خصوصي عذاب ملاويږي. په دې کې يو لمونځ پريښودونکي هم دی، دقيامت په ورځ به دده لاسونه بند وي اوفرشتې به يې په خوله اوشا باندې وهي، جنت به وايي زما ستا سره هيڅ تعلق نشته، نه ته ما له پاره يې اونه زه ستا له پاره يم، دوزخ به وايي ماته راشه ته ما له پاره يې اوزه ستا له پاره يم.

ابن حجر په زواجر کې يوه دردناکه واقعه ليکلې ده چې ديوې ښځې انتقال وشو دهغې ورور دهغې په تدفين کې شامل و، اتفاقا دتدفين په وخت کې يوه تيلی قبر ته پريوته دغه وخت کې داوچتولو خيال رانغی. وروسته ورته رايادە شوه؛ نوپټ شان لاړ اوقبر يې خلاص کړ. چې دننه يې وکتل؛ نو په هغه کې داور شغلي وي په ژړا خپلې مور ته لاړو اوحال يې ورته بيان کړو اوپوښتنه يې وکړه چې دا ولې دهغه مور وويلي چې: دې به په لمونځ کې سستي کوله.

مسلمانانو! دېره دغور خبره ده ننۍ مورږ تول کور بې نمازه دی اوددې هيڅ فکر نشته چې زمورږ انجام به څه وي که په يو کور کې بې نمازه وي؛ نو ددې فکر کول پکار دي اوکوشش کول پکار دي چې په کور کې يو هم بې نمازي نه وي، ګڼي دهغه دبې نمازيې وبال به په ده باندې راځي. له دې وجې په دنيا کې وبال په تولو راتللی شي.

جمله عالم زين غلط کردند راه که عدم ترسند وآن آمد پناه (مثنوي)

تمام عالم دي وجې نه لاره غلطه کړه چې هغه دعدم نه يريږي اوهغه پناه دي.

اے خالق هر بلند و پستی شش چيز عطا کن بکن زهستی

علم و عمل و فراخ دستی ايمان و امان و تندرستی

آمين برحمتک يا ربنا ورب العٰلمين

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

د رجب المرجب دمیاشتې پنځمه خطبه

دلمانځه فضیلت اوحقیقت

دلمانځه فرضیت:

ارشاد رب العالمین دي: وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ. (سورة الروم:۳۱)

ترجمه: اودلمانځه پابندي کوئ اومشرکینو سره مه کیږئ.

په بل ځای کې ارشاد باري تعالي دي:

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ (سورة البقرة:۴۳)

ترجمه: اوقائم کړئ تاسو خلک لمونځ په حیثیت دمسلمان اوزکات ورکړئ اوعاجزي وکړئ عاجزي کوونکو سره.

لمونځ دښه اورب په مینځ کې داسې تعلق دی چې د هغه مثال په بل تعلق کې نه ملاویږي. داوجه ده چې چا ته دلمونځ حقیقت اولذت معلوم شو، هغه ته ددې نه پرته قرارنه راځي اوهغه مشکل نه مشکل حالاتو کې داعظیم عبادت نه پریږدي اوکوم سکون اواطمینان چې دلمونځ ته حاصلیږي هغه دبل شي نه نه شي حاصلیدای.

لمونځ ددین ستن ده، دایمان محافظ دی، دنجات ذریعه ده، دقیامت په ورځ به تولو نه اول د لمانځه باره کې پوښتنه کیږي، زړه اوروح له پاره تقوا اوپاکیزګي حاصلول نهایت ضروري دی دکائنات هر یو شی دالله تعالی په بندګي کې مصروفه دی اوهغه یوه لمحه هم ددې نه غافله نه وي الله تعالی انسان ته خپل خلافت سپارلی، له دې وجې هر وخت سجده رکوع اوقیام حالت کې پاتې کیدو حکم نه دی کړی، بلکې یوازې پنځه وخته داسې عبادت ورکړل شوی دی چې جامع العبادات دی په دې کې تول عبادات راځي والله رب العزت چې ورته دا وختونه ټاکلي دي په دې کې هم حکمت اومصلحتونه دي اوددې چې کوم تعداد درکعتونو مقرر شوي دي هغه هم دمصلحت اوحکمت نه خالي نه دي اوددې چې کوم شرائط ښودل شوي دي هغه کې هم بیشمیره فوائدوثمرات پراته دي، له دې وجې دلمانځه معامله کې که دچا خپل ذاتي اجتهاد یا په دې کې ردوبدل یا ترمیم اواضافه کول غلط اوګمراهي ده، لمونځ چې څنګه حضور ﷺ بیان فرمایلی دي. هم هغه رنګ دي، که یو بنده ددې مخصوص هیئت اوشکل پریږدي اوددې معنا بل څه اخلي چې دې نه مراد یوازې دسپلن یا دوخت پابندي ده څنګه چې نیچریان اوپرویزیان اوملحد خلک وایي، داسراسر غلط اودقرآن وحدیث انکاردی، مولانا ابوالحسن علي ندوي رحمه الله ليکي: لمونځ دراصل ددې فطرت انساني اوتقاضايې بشري دتسکين او

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تکميل دی کوم چې مونږ په ضعف واحتياج ،مجبوري ودرماندګي، دعا ومناجات اودهغه خدايې بزرګ وبرترې پناه کې دراتلو اودهغه په در باندې دسر کښنودواوپاتې کيدو والا جذبې ته ويلی شو چې طاقتور بې نيازه اوسخي وداتا دی، رحم کوونکی اومهربانه دی، حفاظت کوونکي اوورکوونکی دی، پوهه اوخبردار دی، اوريدونکی اوورکوونکی دی، په حقيقت کې شکرواحسان مندي، وفاشعاري اوحب الهي، عبوديت اوتذلل اوخشوع خضوع و تواضع دجذبې تسکين دی چې دانسان مقصد اودتولو نه لوی جوهر دی په دې باره کې مومن رماهي پښان دی چې دهغه زندګي داوبو سره وابسته ده، که دی په زبردستي باندې وويستل شي بيا به هم دې داوبو له پاره بې قراره اومحتاجه وي اوموقعه ملاويدو سره به په اوبو باندې ورروان وي، درسول اکرم ﷺ دا ارشاد دی حقيقت طرف ته اشاره ده وفرمايل جُعِلَت قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلوٰة (نسائي)

زما دسترګو يخوالي په لمونځ کې کيښودل شوی دی، بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وفرمايل چې

يابلال! اَقِمِ الصَّلوٰةَ وَاَرِحْنَا بِهَا. اې بلال! دلمونځ تياري وکړه اوددې په ذريعه مونږ آرام راکړه .

لمونځ نه مخکې دطهارت مسواک نمبر راځي، له دې وجې اول به ددې فوائد وفضائل ذکر کړي.له هغه وروسته به دمونځ بيان.

يا رب چمن نظم کو گلزار ارم کر اے ابر کرم خشک زراعت په کرم کر
تو نور کا مبدا هے توجه کوئی دم کر گم نام کو اعجاز بيانون مين رقم کر

داوداسه فضائل:

دحضراکرم ﷺ ارشاددی: په قيامت کې به زما دامت علامه داوي چې دهغوی تندي اوداودس ځايونه به له نور نه پرقيپري کوم کس چې خپل نور زياتوي زياتولي شي. (بخاري و مسلم)

تشريح: يعني اودس کولو په وخت کې چې اوبه کوم کوم ځای ته رسيږي، هغه برخه به قيامت په درخ باندې روښانه وي، لهذا کوم بنده چې دا نور زياتول غواړي هغه دي بنه احتياط سره اودس کوي دفرائضو واجباتو سنن اومستحباتو دي پوره رعايت کوي.

په يو بل حديث کې سرتاج انبياء محبوب خدا ﷺ فرمايي چې: اودس کولو په وخت کې داودس کوونکی تولې صغيره ګناهونه داوبو سره اوځاځي. (مسلم)

اوپه يو بل حديث مبارک کې دي چې حضراکرم ﷺ فرمايي: کوم کس چې پوره اودس وکړي اوداودس نه وروسته لمونځ کوي اولمونځ ښې طريقې سره اداکړي؛ نولمونځ نه وروسته داسې شي. لکه چې اوس دمور دخيټې نه پيدا شو. (مسلم شريف)

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

یو خل حضور اکرم ﷺ د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه پوښتنه وکړه چې ته څه عمل کوې ما د معراج په شپه باندې ستا د چپلو اواز په جنت کې واوریدلې و چې ته زما نه هم مخکې مخکې تلې؟ بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمایل چې دوه کارونه زما په عمل کې دي، اول خو داچې هر وخت اودس کې اوسیږم، دویم داچې کله اودس مات شي؛ نوسمدلاسه دویم اودس کوم اوکله چې اودس وکړم؛ نو بیا دوه رکعته نفل وکړم. (ابن خزیمه) اودس کې پاتې کیدل اوتحیة الوضوء کول جنت ته د داخلیدو سبب دي.

دمسواک فضیلت:

دحضور اکرم ﷺ ارشاد دی مسواک خوله پاکوي او الله تعالی درضا سبب جوړیږي. (نسائي) په یو بل حدیث کې روایت دي خُلور شیان دانبیاء علیہم السلام سنت دي:

(۱): حیا کول. (۲): عطر لګول. (۳): نکاح کول. (۴): مسواک وهل. (ترمذي)

یو بل حدیث مبارک کې دي چې دوه رکعته دکوم په اودس کې چې مسواک شوی وي د اسې اویا رکعتونو نه بهتر دي کوم کې چې مسواک نه وي شوي. (ابونعیم)

دمسلم شریف یو روایت دی چې حضور ﷺ وفرمایل: کوم بنده ښې طریقې سره اودس کوي او داودس نه وروسته دا کلمات طیبات وایي:

"أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ"

(کلمهٔ شهادت وایي)؛ نو د اسې کس له پاره دجنت اته واړه دروازې خلاصې کړل شي. (مسلم)

په یو بل حدیث مبارک کې ارشاد دی کوم کس چې اودس پوره کولو نه وروسته اسمان طرف ته وګوري او دا کلمات ووایي:

"أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ"

نو ده باندې دجنت اته واړه دروازې خلاصې کړل شي، کومې دروازې نه چې غواړي داخل دې شي. (ترمذي)

په یو بل حدیث مبارکه کې ارشاد دی دالله درضا له پاره یو تړي ته اوبه ورکول د اودس اوغسل په لوښو کې اوبه اچول د دوزخ نه خلاصی ورکوي.

داذان اقامت اواولنې صف فضیلت:

جناب رسول کریم ﷺ ارشاد دی چې خلکو ته داذان اواولنې صف ثواب نه دی معلوم که معلوم شو؛ نو ددې حاصلولو له پاره به دوی قرعه اندازي کوي اوکه په جماعت لمونځ کولو ثواب خلکو ته معلوم شو؛ نوخلک به لمونځ ته منډې وهي اوکه دسهار اوماسخوتن لمونځ ثواب خلکو ته معلوم شو؛ نو خلک به په سینو باندې مساجدو ته راځي. (بخاري و مسلم)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تشريح: مطلب داچې داذان کولو اواولنې صف کې داودريدو ثواب خلکو ته معلوم شي؛ نو خلکو کې به دثواب حاصلولولو په اره دجګړې خطره پيدا شي اوقرعه اندازي به شروع کړي. په قرعه اندازيې کې چې دچانوم راوخي هغه به حقدار ګنل کيږي په سينه باندې تلل دا کنايه ده دانتهايي کوشش اومحنت سره مسجد ته تلل.

يو حديث مبارک کې دي چې امام ضامن دی اومؤذن امانت دار دی الهي دامامانو صحيح رهنمايي وکړي اومؤذنينو مغفرت وکړي.

يو بل حديث مبارک کې دي چې: دالله تعالى بهترين بنده ګان هغه دي چې دلمر ګرمائش اودسپوږمۍ اوستورو ګردش ته ګوري دې له پاره چې دلمونځ وخت تر ې فوت نه شي (حاکم)

مطلب دادی چې دلمونځ دوختونو دومره خيال ساتي چې لمونځ فوت نه شي

يو بل حديث مبارک کې دي چې: دقيامت په ورځ به دري بنده ګان دمشک په ټيلو باندې ناست وي. دميدان حشر خلک به ددوی په اعلی مرتبه باندې رشک کوي

(۱) هغه غلام کوم چې دخپل اقا خدمت هم وکړي اودمولا حقيقي حق يې هم ادا کړ

(۲) هغه بنده چاچې امامت وکړ اودهغه مقتديان دده نه خوشاله وو.

(۳) هغه مؤذن کوم چې دالله رضا له پاره پنځه وخته اذان کوي. (ترمذي)

په يو حديث کې دي چې کوم کس اذان واوريدو اوپه ما باندې يې درود ووياو اودالله نه يې ما له پاره دوسيلې اومقام محمود دعا وکړه؛ نوپه هغه زما شفاعت حلال شو. (مسلم شريف)

يو کس دحضور ﷺ په خدمت اقدس کې عرض وکړ يارسول الله! موذن خو زمونږ نه په اجر کې ډير مخکې لاړ، ويې فرمايل: څه چې موذن وايي هغه ته هم وايه اوکله چې اذان ختم شي، ته دخداى نه دعا کوه داذان نه وروسته چې کومه دعا کيږي هغه قبليږي. (ابوداود)

دمسجدونو فضيلت:

په يو حديث کې دي چاچې کوهي وکنست اويوترې بنده ترې خپله تنده ماته کړي: نودا کنستلو والا دډبرلوی اجر مستحق دی اوچاچې مسجد جوړ کړ؛ نوددغه مسجد پشان کور به دهغه په جنت کې جوړ کړل شي، که مسجد څومره ورکوتی وي. (ابن خزيمه)

په ابوداود کې حديث نبوي ﷺ دی چې په مسجد کې جارو وهل، مسجد پاک ساتل، مسجد ګند اوچتول، په مسجد کې خوشبو لګول بالخصوص دجمعې په ورځ باندې داتول اعمال وافعال واجب جنت دي. (ابوداؤد، ابن ماجه وغيره)

په يو حديث کې ارشاد دی مسجد ته دجماعت له پاره تلو والا هر يو قدم يوه نيکي واجبوي اويوه ګناه ختموي. (ابن حبان)

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په یو بل حدیث مبارک کې دي چاچې پوره پوره اودس وکړ اوفرض لمانځه له پاره کور نه
ووت اومسجد ته لاړ اوامام سره یې لمونځ وکړ؛ نودهغه ټول ګناه صغیره معاف شو. (ابن خزیمه)
دترمذي په یو حدیث کې ارشاد نبوي ﷺ دی چاچې داودس حفاظت وکړ اودهر تکلیف
اومشقت په وخت کې کامل اودس وکړي بیا مسجد ته لاړ دیو لمونځ نه وروسته دبل لمونځ
انتظار یې وکړ؛ نو داکس دګناهونو نه داسې پاک شي لکه چې څوک دمور دخیتې نه پیدا
شي داکس به خیر سره ژوندي وي اوخیر سره به یې خاتمه کیږي. (ترمذي)

دلمانځه فضائل:

دمسلم شریف یو حدیث مبارک کې دي پنځه وخته لمونځونه خپلې درمانې برخې والا
خطاګانې ختموي (یعنې یو لمونځ کولو نه وروسته بل ولمونځ پورې چې څومره ګناهونه شوي
وي معاف کیږي) اودیوې جمعې نه بلې جمعې پورې درمیانې برخې کې څومره ګناهونه وي
هغه به معاف کیږي (یعنې دجمعې لمونځ کولو سره اووه ورځې ګناهونه معاف کیږي په دې
شرط چې کبیره ګناه نه وي).

اوپه یو حدیث مبارک کې دحضور ﷺ ارشاد دی دهر لمونځ په وخت کې یوه فرشته اواز
کوي. اې خلکو! پاسئ کوم اور چې تاسو لګولي دی هغه په لمونځ باندې سوړ کړئ.
مطلب دادی چې کوم اور دجهنم تاسو په خپلو ګناهونو باندې لګولی دی هغه په لمونځ باندې
سوړ کړئ.

یو ځل نبي کریم ﷺ صحابه کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِیْن مخې ته یواوچ ښاخ زورسره اوخوځاوو
دکومې پانې چې پرې پرتې وې هغه اودوړیدې، بیا یې وفرمایل چې لمونځ کولوسره
ګناهونه داسې رجیږي څنګه چې دې ښاخ نه اورجیدې، دې وروسته یې دا آیت بطور استدلال
تلاوت کړ

"وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَیِ النَّهَارِ وَزُلَفاً مِّنَ اللَّیْلِ اِنَّ الْحَسَنَاتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّئَاتِ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِیْن" (پ ۱۲ سورة هود آیت ۱۱۴)

ربیعه بن کعب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حضور ﷺ ته داودس له پاره اوبه راوړې؛ نوحضور ﷺ وفرمایل
وغواړه څه غواړې. څه حاجت دي وي؛ نو ووایه. هغه عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! هم یو
حاجت دی چې جنت کې تاسو سره یم. وبې فرمایل کثرت سره سجدې کوه داخواهش به دې
پوره شي. (مسلم ،طبراني)

مطلب دادی کثرت سره نوافل کوه اوکثرت نوافل سره دالله تعالی قُرب حاصلیږي، دویم
داچې فرائضو کې کوم کمي اوکوتاهي وشي هغه به قیامت په ورځ نوافلو سره پوره کیږي. په
یو حدیث کې ارشاد دی چې دسهار اومازیګر په وخت کې فرشتې بدلیږي کله چې دافرشتې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ددې خای نه څې: نو دالله رب العزت په حضور کې ګواهي ورکوي او عرض کوي چې الهي موږ سنا بنده دلمونځ کولو حالت کې پریښودو. (بخاري)

په یو حدیث مبارک کې ارشاد دی الله تعالی پنځهٔ لمونځونه فرض کړي دي، کوم بنده چې دا پنځه لمونځونه سهي اودس سره په خشوع خضوع کې ادا کړل؛ نو په الله تعالی باندې داحق دی چې دا بنده وبښي اوچاچې په دې لمونځونو کې کوتاهي وکړه؛ نو په الله باندې دده بخښل اونجات ذمه نشته، خوښه یې ده عذاب ورکوي که بخښي. (مؤطا امام مالک)

په یو حدیث کې ارشاد دی کوم کس چې دسهار لمونځ وکړي اوپه خپل خای باندې ناست و اوسو اد کلمات خیر نه یې بل څه دخولې نه ونه ویستل بیا لمر راختو نه وروسته یې دوه رکعته اشراق وکړل؛ نو دده به ټول ګناهونه معاف کړل شي، اګرکه دسمندر دزګ برابر وي. (احمد)

یو خل سرکاردوعالم ﷺ لمونځ ورکاو، کله چې دی سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ وویلې؛ نو یو صحابي په جواب کې وویل: رَبَّنَا لَکَ الحَمْدُ حَمْداً کَثِیراً طَیِباً مُبَارَکاً فِیهِ؛ نوحضور ﷺ چې کله لمونځ نه فارغ شو؛ نوپوښتنه یې وکړه چې دا الفاظ کوم یو کس وویل؟ ما وکتل چې درې فرښتې دې ثواب لیکلو له پاره په منډو شوي دهرې یوې خواهش داوو چې زه اول ددې کلماتو ثواب ولیکم. (مؤطا، بخاري)

په یو حدیث مبارک کې ارشاد دی لمونځ کې دصفونو پوره کول دلمونځ پوره کول دي. (بخاري و مسلم)

چاچې دلمونځ صفونه ملاو کړل الله تعالی به دوی ملاو کړي. (ابوداؤد)

کوم خلک چې صفونه ملاوهي (سیده کوي) الله تعالی په دوی باندې رحمت نازلوي اودخدای فرښتې په دوی باندې درود وایي. (ابن حبان)

دسنتو او نوافلو فضیلت:

په یو حدیث کې ارشاد دی دسهار دوه سنته ددنیا و مافیها نه بهتردي. (مسلم)

دماسپښین فرضو نه مخکې چې څوک څلور رکعته سنت کوي؛ نوپه ده باندې به ددوزخ اور حرام کړل شي. (ابوداؤد. ترمذي)

دماسپښین درکعتونوثواب داسې دی، لکه دتهجد دلمونځ ثواب. (بخاري ومسلم)

یو حدیث کې دي ارشادنبوي ﷺ دی چې دسهار دوه رکعته سنت ماته ددنیا ومافیها نه زیات محبوب دي. (بخاري، مسلم)

دمازیګر فرضو نه مخکې څلور رکعته کوونکي والا کور به په جنت کې جوړیږي. (ابویعلي)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په یو حدیث کې ارشاد دی چې کوم بنده دمانښام لمونځ نه وروسته شپږ رکعته نفل (اوابین) وکړي نوده ته به ددولسو کالو عبادت ثواب ملاویږي په شرط ددې چې مینځ کې بې ځه لغو اوفضول خبره نه وي کړي. (ابن خزیمه)

دوتر لمونځ فائده دسرو اوښانو نه هم زیاته ده. (ابوداؤد)

یو حدیث مبارک کې ارشاد دی نبي اکرم ﷺ فرمایي چې: کوم کسان اودس حالت کې ځملي هغوی سره یوه فرشته وي کله چې داباوضو بنده دخوب نه بیدارشي؛ نو دا فرشته ده له پاره مغفرت طلب کوي. (ابن حبان)

اودس چې وکړي اواوده شي اوکله چې هم خوب نه پاسي اوکومه دعا الله تعالی نه وکړي هغه قبلیږي. (ابوداؤد)

کوم خلک چې دشپې خپلې بسترې عبادت له وجې خالي پریږدي هغه به بلا حسابه جنت ته داخلیږي. (اصحاب السنن) کوم بنده چې دشپې نه دلمونځ نیت سره اوده شي بیا که دشپې سترګې خلاصې نه شي اودلمونځ موقعه هم ملاو نه شي؛ نودې پر ثواب لیکل کیږي اودا اوده کیدل په ده دالله تعالی احسان دی. (ابن حبان)

مطلب دادی چې دلمونځ ثواب خو دنیت دوجې نه لیکل کیږي اودا اوده کیدل دالله تعالی دطرفه احسان دی.

په یو حدیث کې ارشاد دی چې کوم کس دسهار اومانښام لمونځ نه وروسته اووه ځله اللهمّ أجرني مِنَ النّار وویل؛ نوپه شپه ورځ کې کوم وخت چې هم وفات شو؛ نوجنت ته به ځي. (نسائي)

په یو حدیث کې دي هر لمونځ نه وروسته آیت الکرسي ویونکی که دبل لمونځ وخت کیدو نه مخکې وفات شي؛ نوجنت ته به ځي.

په بل حدیث مبارک کې راځي چې دانسان په بدن کې دري سوه اوشپیته جوړه دي، دهریو جوړ صدقه ورکول لازم دي چاعرض وکړ دادچاطاقت دی چې دومره صدقه به کوي، ویې فرمایل: هر یو نیک کار کول صدقه ده اودچاشت دوه رکعته دی ټولوصدقاتوله پاره کافي کیږي. (احمد)

په یو حدیث قدسي کې دي چې اې ابن آدم ته دورځې په ابتدا کې ځلور رکعته لمونځ کوه زه به مانښام پوري ستا دکفالت ذمه دار یم. (احمد، ابویعلي)

په یو حدیث کې دي چې سهار اومانښام قُلْ هوَ اللّٰه اَحَد، قُلْ اَعُوذُ بِرَبِّ الفَلَق، قُلْ اَعُوذُ بِرَبِّ النَّاس. ویل هر ضرورت له پاره مفید دي. (ابوداؤد)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په یو حدیث کې دي چې کوم کس سُبحانَ اللهِ وَبِحَمدِهٖ: سهار اوماښام سل خله وایي؛ نو په قیامت کې به دده هومره ثواب مالک څوک نه وي، اګر که وي؛ نو یوازې هغه بنده کوم چې سل خله دا وایي.

د حضور اقدس ﷺ په خدمت کې یو کس حاضر شو اوعرض یې وکړ یارسول الله ﷺ! زه شپه لړم ما ته د هر زیات تکلیف رسولی، سرکاردوعالم ﷺ وفرمایل چې اَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ. دي ولې نه ویلو، بیا به تاته لړم نه هیڅ قسمه نقصان نه رسیږي. (ترمذي. مسلم)

یو حدیث مبارک کې دي چې په بستره ځملاستو په وخت کې چا داکلمات اَستَغفِرُ اللهَ الَّذِي لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَالحَيُّ القَيُّومُ وَاَتُوبُ اِلَيهِ وویلو؛ نوددې به ټول ګناهونه معاف شي، خواه هغه ګناه د سمندر وزګ برابر وي، اویا داونو دپاڼو برابر وي، یا دشګې دزرو برابریا ددې ګناهونو تعداد دنیا په مثل وي. (یعني ابتداء نه واخله تر قیامت پورې چې څومره ورځې وي. (ترمذي

په یو حدیث مبارک کې دي چې داوده کیدو په وخت کې کوم کس سورة فاتحه اوسورة اخلاص ووایي هغه کس به مرګ نه سوا هر یو افت نه محفوظه وي. (ترمذي)

په یو حدیث کې دي چې دهر لمونځ وروسته ۳۳ځله سبحان الله ۳۳ځله الحمدلله او ۳۳ځله الله اکبر وویل شي اوپه اخره کې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحدَهٗ لَا شَرِيكَ لَهٗ لَهُ المُلكُ وَلَهُ الحَمدُ يُحيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ وواېي چاچې دا وظیفه وکړه دهغه به ټول ګناهونه معاف شي اګرچې څومره د بر وي. (مسلم)

حکایات:

د حضرت عیسی عَلَيهِ السَّلَام په دور کې یوه نیکه ښځه وه تنور کې یې اور ولګلوو اود لمانځه نیت یې وتاړ په دې کې شیطان دیوې ښځې په شکل راغی اودې ته یې مختلف قسمه وسوسې ذهن کې واچولې؛ خودې ورته هډو توجو ونه کړه، بالآخر ماشوم یې ورته ونیوو اوپه تنور کې یې واچاو؛ خوبیا یې هم څه توجو ورنه کړه دې کې ددې ښځې خاوند دبهر نه راغی چې ماشوم دانګار سره لوبې کوي اوانګار ورته الله تعالی سره عقیق جوړ کړی دی. ددې واقعې حضرت عیسی عَلَيهِ السَّلَام ته خبر وشو هغه دابنځه وغوښته اوپوښتنه یې ترې وکړ چې ته څه عمل کوې هغې وویل چې زه همیشه اودس کې یم اوکله چې مات شې؛ نو نوی اودس کوم اودوه رکعته نفل پرې وکړم اودمخلوق خدا خدمت کوم اودهغه په تکالیفو باندې صبر کوم.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټوله شپه لمونځ کول:

حضرت قطب الاقطاب مولانازکریا ﷺ لیکي (په حواله دفضائل اعمال) یو کس دحضرت عائشې صدیقې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړه چې دحضور ﷺ یوه عجیبه خبره چې تاسو کتلې وي مونږ ته واوروئ. حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمایل چې: دحضور ﷺ کومه یوه خبره عجیبه نه وه. هره یوه عجیبه وه یوه شپه یې تشریف راوړو اوما سره ځملاست بیایې وفرمایل: بس پریږده زه خو دخپل رب عبادت کوم اودلمونځ له پاره پاسیدو اوپه ژړا شوتر دې چې اوښکې مبارکه سینې ته راورسیدې بیا یې رکوع وکړه په دې کې یې هم ژړل اوبیا سجدې ته لاړو هغه کې یې هم ژړل بیا سجدې نه پاسیدو، بیا یې هم ژړل تر دې چې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دسهار لمونځ له پاره اواز وکړ، ماتړي پوښتنه وکړه یارسول الله ﷺ تاسو دومره وژړل، حالانکې تاسو خو معصومه یئ مخکې وروسته ګناهونه ټول معاف دي (اګر که وي هم) الله تعالی دمغفرت وعده کړیده؛ نوحضور ﷺ وفرمایل: ایا زه دالله تعالی شکر ګذار بنده جوړ نه شم؟ مابه داسې ولې نه کول، حالانکې په دې دا ایت نن رانازل شوی دی:

"إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُوْلِي الأَلْبَابِ" (آل عمران آخري رکوع)

داپه ډېرو روایاتو کې دي چې حضور ﷺ به دشپې داسې اوږد لمونځ کاوو چې په لاړه ولاړه به یې پښې میږې شوي. خلکو عرض وکړ یارسول الله! تاسو دومره مشقت وچتوئ، حالانکې تاسو خو بښل شوي یئ.

حضور ﷺ وفرمایل چې: ایا زه دالله تعالی شکر ګذار بنده جوړ نه شم؟

دحضرت ابوبکر، حضرت ابن زبیر او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دلمونځونو حالات:

مجاهد رَحِمَهُ اللهُ دحضرت ابوبکرصدیق اوحضرت عبدالله بن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا حال نقل کوي چې کله به هغوی لمونځ له پاره ودریدل؛ نوداسې به ښکاره کیده لکه چې لرګي ولاړ وي، یعني بالکل به حرکت نه کیدو.

علماء فرمایي چې ابن زبیر دحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه لمونځ زده کړی و اوهغه دحضور اکرم ﷺ نه یعني خنګه چې به حضوراکرم ﷺ لمونځ کاوو هم هغه رنګ به ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کاوو اوهمدغه رنګ به عبدالله بن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم کاوو.

ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې: دابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لمونځ داسې و، لکه چې لرګی دې خښ کړی وي. یو کس وایي چې ابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په چې کله سجده کوله؛ نو داسې اوږده اوښې دمه به وه چې مرغی پرې کینې: نو یته به ورته ونه لګیږي، خینې اوقات به یې رکوع دومره اوږده

کفایت کتب خانه تیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ګوله چې تولې شپې به په رکوع کې تیره شوه. ځینې اوقات به سجده دومره اوږده شوه چې تولې شپې به په سجده پروت و. کله چې حضرت ابن زبیر رضی الله عنه سره جګړه وه؛ نو یوه ګوله د مسجد دیوال باندې ولګیده چې هغه سره یوه ټکړه راغله اودابن زبیر رضی الله عنه دحلق اوګیرې په مینځ کې ولګیده دې سره ده نه رکوع کمه کړه اونه سجده.

بو خل یې لمونځ کاوو دزوی نوم یې هاشم و خوا کې ورسره ملاست و دچت نه مار پرې راښویږت هغه چغې کړې تول خلک راوچلیدل یو شور اوغوغا شوه. خو ابن زبیر رضی الله عنه نبه یه اطمینان سره لمونځ وکړ. سلام یې چې واړوو؛ نو پوښتنه یې وکړه چې دشور شان اواز و را ولې. ښځې ورته وویل: الله دې په تا باندې رحم وکړي ماشوم به اوس مړ و اوتاته پته هم نشته. ښځې ته وایې تباه شي که لمونځ کې مې توجو یو خوا بل خوا تللې وای؛ نو بیا لمونځ لمونځ نه پاتې کیدو. (هدایه وغیره)

حضرت عمر رضی الله عنه چې په اخر وخت کې په خنجر باندې ووهل شو چې بیا دې نه وفات هم شو؛ نوهر وخت به ترې وینه بهیده اواکثر به ترې غفلت هم وشو اوبیا به یې هم په دې حالت کې لمونځ کاوو اوفرمایل به یې چې. اسلام کې دهغه هیڅ حصه نشته کوم بنده چې لمونځ پریږدي

حضرت عثمان رضی الله عنه توله شپه به وښې و اوپه یو رکعت کې به یې پوره قرآن مجید ختماوو

حضرت علي رضی الله عنه عادت شریفه دا وو چې کله به دلمونځ وخت راغی؛ نو په وجود باندې به یې ږچ راغی اومخ به یې زیړ شو. چا ترې پوښتنه وکړه چې دا څه وجه ده ویې فرمایل دامانت وخت دی. کوم چې الله تعالی په خپله اسمان اوغرونو باندې نازل کړې؛ نوهغوی ددې تحمل نه عاجزه شو اومایې ذمه داري واخیسته.

خلف بن ایوب رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې مچی دې تنګوي نه هغه وفرمایل فاسق خلک چې حکومت کوړې خوري اوحرکت نه کوي اوپه هغه باندې فخر کوي اوپه خپل صبر باندې تکبر کوي چې دومره کوړې مې وخوړې، خوځیږي قدر ته نه‌زه دخپل رب مخې ته ولاړ یم اودیوې مچی له وجې حرکت وکړم.

مسلم بن یسار رحمه الله به چې کله لمونځ له پاره اودریدو؛ نوخپل کور والاووته به یې ویل چې بیګنه تاسو خبرې کوئ ما ته ستاسو دخبرو پته هم نه لګیږي، یوځل یې دبصرې جامع مسجد کې لمونځ کولوچې دمسجد یوه برخه پریوته، خلک دهغه دویرې نه په منډه راجمع شو. شوروشغف جوړ شو. مګر ده ته پته هم ونه لګیده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حاتم اصم رحمه الله نه چا دهغه دلمونځ دکيفيت باره کې پوښتنه وکړه؛ نو ويې ويل چې کله دلمونځ وخت شي اودس وکړم اودخپل لمونځ کولو ځای ته لاړ شم اوکينم چې دبدن ټولو حصو کې مې سکون پيدا شي بيالمونځ له پاره پاسم دا سې چې بيت الله دخپلو سترګو مخې ته محسوسوم اوپل صراط دپښو لاندې، جنت ښي طرف ته اوجهنم ګس طرف ته اودمرګ فرشته شاته تصور کوم اوداګڼم چې دامې اخري لمونځ دی دې وروسته پوره خشوع خضوع سره لمونځ وکړم اودې وروسته دأميد اويږي مينځ کې يم پته نشته قبول شوی به وي اوکه نه (فضائل اعمال)

دلمونځ فلسفه:

لمونځ کولو سره وجود پاک وي، جامې پاکې صفا وي دماغ اوروح صفا وي، دعاګانې قبليږي، دنيک بنده ګانو له وجې چې مسجد کې موجود وي لمونځونه قبليږي، دفرشتو مجلس نصيب کيږي، ځکه چې مسجد ته فرشتې حاضريږي، مسجد کې په جماعت سره لمونځ کولو سره مسلمانانوکې اتفاق واتحاد وي، په لمونځ کې امير اوغريب يو شان ولاړ وي؛ نومساوات پيدا کيږي، لمونځ کولو سره دمسلمانانوشان وشوکت اظهار وي، مسجد ته ذعلم وبزرګي والا خلک راځي چې دهغوی نه فيض حاصلولوموقعه ملاويږي، باجماعت لمونځ کولو سره نظم وضبط پيدا کيږي، ځنګه چې فوجيان بګل وهلو سره راجمع کيږي دغه رنګ لمونځ ګذار چې ځنګه داذان الفاظ واوري؛ نو راجمع کيږي، مونځ عصبيت و جاهليت اوفخر ختموي، ځکه چې په يو صف کې مختلف ژبو والا، علاقو والا اوحيثيتونو والا خلک ولاړ وي اوپه دې کې فرق اوانتشار نه وي.

لمونځ داسلام شعار اودمسلمانانونشاني ده، دلمانځه له وجې آفات اومصائب لرې کيږي، لمونځ سره په روزي کې برکت وي، لمونځ له وجې انسان غلط رسم ورواج پريږدي، ځکه چې ده ته سهې شي عبادت له پاره مسجد کې ملاو شي، مونځ جامع العبادات دی، ځکه چې ځينې فرشته همېشه ولاړې وي اوعبادت کوي. دغه رنګ دنورو مخلوقاتو هم عبادت په يو طريقه دی په لمونځ کې قيام هم دی رکوع هم ده ذکر اوتلاوت هم دی ټول عبادتونه پکې موجود دي. له دې وجې لمونځ جامع العبادات دی.

اله العالمينه! ټولو مسلمانانو ته په جمعه دلمونځ کولو توفيق ورکړه. آمين

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمين

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

دشعبان المعظم دمیاشتې اوله خطبه

حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله اودهغه دیني خدمات

شعبان میاشت ډېره ډېر او برکت میاشت ده داسې ده چې دادرمضان له پاره استقبالي میاشت ده. ددې میاشتې په (۳) تاریخ ۵هجري کې غزوه نبي مصطلق پیښه شوه اوپه (۴) تاریخ باندې حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله وفات شو(۲)شعبان المعظم باندې حضوراکرم ﷺ حضرت عبدالرحمن بن عوف دومة الجندل ته دتبلیغ په غرض باندې ولیږه. په (۱۴) شعبان اودپنځلسم په شپه باندې لیلة البراءت ده، (شب براء ت) په نصف شعبان باندې حضرت امام حسن بن علي بن ابي طالب رضي الله عنه ولادت باسعادت وشو (۲۲) شعبان کې حضرت امام محمد رحمه الله بن حسن شیباني وفات شو، دټولونه اول به دشعبان میاشتې فضیلت بیانیږي.

دشعبان میاشتې فضیلت:

دمیاشت د رمضان دمیاشتې مقدمه اواستقباليه ده، ددې میاشتې په پنځلسم باندې لیلة البراء ت ده ،دبرکت اورحمت واله میاشت ده.په دې شپه باندې عبادت کول پکار دي.اوپه پنځلسم تاریخ باندې روژه نیول مستحب دي.نصف شعبان نه پس روژه نیول بهتر نۀ دي.

حضوراکرم ﷺ ارشاد دی چې: دشعبان دمیاشتیې حساب درمضان له پاره ساتئ دې وجې نه چې کله درمضان حساب صحیح معلوم وي؛ نودرمضان په تاریخ کې به اختلاف نه وي حضوراکرم ﷺ به چې دشعبان میاشتې ځومره خیال ساته، دومره به یې دبل څه نه ساته (یعني دمیاشتې کتو به یې خصوصي اهتمام کاؤ،بعضې خلک په دې میاشت کې غلط رسم ورواج کوي. خصوصیت سره حلوا پخوي اوغلط روایات وایي چې: دحضور ﷺ غایښ مبارک شهید شوی ؤ، نوحضور ﷺ حلوا پخ کړې وه.

ځینې خلک په دې میاشت کې دحضرت حمزه رضي الله عنه فاتحه کوي.داهم غلطه ده.ځینې خلک وایي چې په شب براء ت کې دمړو ارواح کورونو ته راځي اوهغوی تقاضا کوي چې دوی له پاره څه خوراک تیار شي.داهم غلطه ده.ځینې خلک دمسورو دال تیارول ضروري ګڼي اودې پر خلک په کې آتش بازي کوي،په مساجدو اوقبرونو باندې ډیوې بلوي،داهم منع ده.فضول خرچي او دشریعت خلاف رسم اوبدعت دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لوی فقیه امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله :

حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله، د پر لوی محدث اوبزرګ ؤ،داولیااوو باره کې الله رب العزت فرمایي:

اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۭ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝

ترجمه: یاد ساتئ دالله په دوستانو باندې نه ځه سخته واقعه راتلونکې ده اونه به هغوی دخپل مطلوب په فوت کیدو باندې، غمژن وي، هغوی (دالله دوستان دي)چې ایمان یې راوړی اود ګناهونونه پرهیز کوي،دوي له پاره په دنیاوي زندګي کې هم (دالله له طرفه دوپرې اوغم نه د بچ کیدو،خوشخبري ده اودالله په خبرو (یعني وعدو کې)ځه فرق نه راځي، دالویه کامیابي ده.

عَنْ اَبِي هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صلى الله عَلَيه وسلم انَّ الله تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ مَن عَادىٰ لِي وَلِيًا فَقَدْ اٰذَنْتُه بِالْحَربِ. الحديث (بخاري شريف)

دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ فرمایلي دي چې: الله تعالی فرمایي: څوک چې زما ولي سره دوښمني کوي؛ نوزما هغه سره اعلان جنګ دی.

دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نوم نعمان اوابوحنیفه یې کنیت و، حضرت امام اعظم لوی فقیه او په فضل وکمال کې یې لویه درجه لرله.دحضرت امام اعظم رحمه الله ذات بابرکات اودهغه علمي، فقهي او محدثانه فیض وکارنامې به تر قیامته پورې جاري وساري وي. له ده نه پس راتلونکي ټول فقهاء دده بالواسطه یا بلاواسطه شاګردان وؤ داسې ده چې هغوی دده روحاني اولاد ده اودی چونکې ولي کامل و دې وجي نه اولیاء کرام هم دده نه فائده حاصله کړه اوددې رحمه الله تعریف یې کړی دی.

حضرت سید العارفین علي هجویري رحمه الله خپل خوب بیانوي چې زه په دمشق کې دحضرت بلال رضي الله عنه دقبر سره ویده وم، په خوب کې مې دحضور ﷺ زیارت وکړ اوومې کتل چې رسول الله ﷺ یو بزرګ کس اوچت کړی دی،ما تعجب وکړ چې دا څوک دی؟ حضور ﷺ وفرمایل چې: دا امام ابوحنیفه رحمه الله دی چې ستاسو امام دی،حضرت علي هجویري رحمه الله فرمایي چې: ماته معلومه شوه چې امام ابوحنیفه رحمه الله په سنتو تلو واله انسان دی چې خپله رسول الله ﷺ اوچت کړی دی،رینستیني خوب چونکې دنبوت برخه ده اوبیا خوب هم چې دریښتیني انسان وي نو بیا خوب هم رینستینی وي،ددې نه دا معلومه شوه چې دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دحضور ﷺ په نزد باندې لوی مقام دی اودحضور ﷺ قُرب ورته حاصل دی.

حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله قانون اسلامي باضابطه طور باندې مدون کړ اوباقي ائمه په دې کې دده اقتدا کوونکي دي اصل کې تدوین قرآني کولو سره امام بوحنیفه رحمه الله ددې خلکو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خدلي بندي کړي کوم چې وايي چې اسلامي قانون مرتب شکل کې نه دی . الله رب العزت ددي غيبي انتظامات وکړل اوداسې مردان حق يې پيدا کړل چې هغوی خپلې زندګۍ ددين اسلام له پاره خدمت وقف کړي

احب الصالحين ولست منهم لعل الله يرزقني صلاحاً

يعني دالله له نيک بنده ګانو سره محبت ساتم اګرچې خپله نيک نه يم. شايد ماته هم نيکي نصيب شي

قيامت پورې راتلونکو خلکو له پاره دامام اعظم ابوحنيفه(رحمه الله)، زندګي يومثال دی چې موږ هم خپله زندګي داسلام دخدمت له پاره وقف کړو شايد الله موږ ته هم ددې خلکو ټولنه نصيب کړي حضرت امام ابوحنيفه(رحمه الله) دوخت آمرانو سره ټکر وواهه اګر چې دهغه وخت حاکمان هم ددې وخت ديزرګانو نه کم نه وۀ مګر تيټ نۀ شو.ځن ديني اواسلامي جماعتونو له پاره حضرت امام ابوحنيفه(رحمه الله) يو مثال دی چې هغوی دخپل موقف حقه نه انحراف ونه کړ افسوس ځن دين لوی لوی دعويدارددنياوي اغراضو . مقاصداوسياسي مصالحو په بناء باندې دخپل موقف حقه نه دستبرداره شي

داستان عهد گل رازنظيری می شنو عندليب آشفته تری گويد اين افسانه را

من از بيگانگان هرگز نه نالم بامن هر آنچے کرد آن آشنان کرد

حضرت امام اعظم(رحمه الله)، ذاتي مفادات اواغراض باندې ملي اوقومي مفاداتوته ترجيح ورکړه اوپره زمانه تيريدو باوجودهم ددوی نوم نيک مشهور دی، دهغه مشن جاري وساري دی حضرت امام اعظم ابوحنيفه(رحمه الله) دحالاتو مطالعه کولونه دانسان په زړۀ کې ددين خدمت کولو جذبه وشوق پيدا شي، کاش! دنن سباځوانان چې دمغربي جمهوريت اوسوشلزم وغيره طرف ته مخ دي دحضرت امام ابوحنيفه(رحمه الله) حالات اومشن يې مخې ته اينبی وی؛ نو داسې نۀ غږي په به يې نه وهلي

امام ابوحنيفه(رحمه الله)، په ظاهره يوشخص ۀ. مګر دکار په بناء باندې ديو اُمت برابر ۀ. ځرنګه چې الله تعالی دحضرت ابراهيم عليه السلام متعلق فرمايلي دي إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتاً.

ملک را بګذار ومالک رابګير تاکه صدها ملک يابی اے فقير (اختر)

دملک حاصليدو فکر پريده مالک(خدای) حاصل کړه،دي له پاره چې تاته سلګونه ملکونه نصيب شي

يا رب وہ ہستياں کس ديس بستياں ہيں که جن کے ديکھنے کو آنکھيں ترستياں ہيں

فقه خپله زندګي ددين دخدمت له پاره وقف کړي وه، همدا هغه اخلاص ۀ چې فقه حنفي فقهٔ محمدي وشرعي ده. دعباسيانو په دور کې پنځهٔ نيم سوه کاله په عدالتونو کې جاري اونافذه وه.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چشمه آفتاب را چې گناه گر نه بيند بروز شپره چشم

حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله ددين دخدمت له پاره دوخت آمرانو سره ډغري ووهلې اودهغوی مخې ته تيټ نه شو اوبالآخره يې جام شهادت نصيب شو. اوخپلې شاته يې يو لوی جماعت د مجاهدينو اوسرفروشان اسلام تيارکړ، چې دنيا موجوده وي نو دا مشن به جاري وساري وي.

خدا رحمت کند ايں عاشقانِ پاک طينت را کردند خوش رسمے خباک وخون غلطيدن

اصل علم:

حضرت امام زفر رحمه الله دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل کوي فرمايي: اصل علم هغه دی چې انسان دګناهونونه بچ کړي، که داسې نه وي نو دا علم ددې عالم له پاره وبال دی.

اصل ولي:

حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چې: اصل اولياء الله علماء و فقهاء دي؛ ځکه چې دوی ته دالله تعالی معرفت دنورو نه زيات دی.

تواضع وانکساري:

ابوجعفر راوي دی چې حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله وفرمايل چې زه دپنځوس کالو نه په هر يو لمونځ کې استغفار کوم چې ما دامر بالمعروف ونهي عن المنکر حق ادا نه کړ.

اندازه وکړئ دکومو خلکو چې ټوله زندګي دتقوی په اعلی معيار باندې تېره شوه چې دهغوی دژوند مقصد دالله درضا له پاره داسلام خدمت دی، ددوی چې کله دا حال دی نونن دې مورږ هم خپل ځان ته وګورو چې مونږ څومره ددين دعوت ورکوؤ. اودمنکراتو اوفواحشو چې کوم سيلاب راغلی دهغو دبندولو څومره تدبير کوؤ.

اے کہ تیری نمود ہے غازہ روئے حیات جلوہ فشاں ہے ہر طرف آپ کی سب تجلیات

خطيب بغدادي ليکي چې امام صاحب په خوب کې وليدل چې دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم قبر راکاږي اودحضور صلی الله علیه وسلم جسد اطهر خپل زړه اوسيني سره لګوي.ددې خوب دتعبير له پاره دخپل وخت لوی معبر امام ابن سيرين ته ې کس وروليږه. امام ابن سيرين دري ځله دخوب ليدونکي دنوم پوښتنه وکړه، مګر قاصد خاموشه پاتې شو. حضرت ابن سيرين رحمه الله وفرمايل: "صاحب هٰذا الرويا ينشر علماً لم يسبقة اليه احد" ويې فرمايل: چې خوب ليدونکی کس به دعلم داسې اشاعت کوي چې داسې به مخکې چا نه وي کړی، دې نه پس امام ابوحنيفه رحمه الله علم فقه ته متوجه شو. دي نه معلومه شوه چې دامام ابوحنيفه رحمه الله پوره پوره نسبت اوتعلق دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم سره ؤ.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت ابن حجر مکي رحمه الله فرمايي چې امام بوحنيفه رحمه الله دحضور ﷺ داشاري نه پس علم فقه کې مشغول شو

میری مشاطگی کوکیا ضرورت حسن معنی کی قدرت خودبخود کرتی ہے لالہ کی حنا

الخيرات الحسان کې دي چې ابو معافي الفضل بن خالد رحمه الله فرمايي چې ما په خوب کې وحضور اقدس ﷺ زيارت وکړ اوعرض مي وکړ: يارسول الله ﷺ! دابوحنيفه رحمه الله دعلم باره کې تاسو څه فرمايئ؟ ارشاد يې وفرمايه: دايو داسې علم دی چې خلکو ورته محتاج دي.

حنفي مذهب زيات دسنتومطابق دی:

حضرت حکيم الامت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل چې: حنفي مذهب هغه عمده طريقه ده چې دنورو طريقو نه زيات سنت نبويه معروفه مطابق ده. (فيوض الحرمين)

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله فرمايي چې: د فقه سلسله کې امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله داسې دی لکه دکور څښتن اونور ائمه دده عيال دي.کثرت علم اوکمال تقوی باوجود نور امامان دامام صاحب په مقابله کې طفل مکتب معلوميږي. (دفتردوم مکتوبات)

ائمه اربعه کې امام ابوحنيفه رحمه الله ته شرف حاصل دی چې هغه تابعي دی اوده ته د حضور اقدس ﷺ دشاګردي شرف په يوه واسطه باندې حاصل دی.حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله مخامخ شپږو صحابه کرامو رضي الله تعالى عنهم نه روايات اورېدلي دي.

دابوحنيفه رحمه الله عظمت:

حضرت علي هجويري رحمه الله فرمايي چې په دي ائمه وو کې دامام اهل سنت والجماعت مقتدا اوپيشوا اودعلماؤ عزت امام ابوحنيفه رحمه الله دی، دی په مجاهدې اوعباداتو کې انتهايي ثابت قدم.عظيم المرتبت اودېر لوی شان والا عالم منل شوی دی، دی ابتدا نه عزلت ګزيني اوګوشه نشيني اختيار کړې وه اودمخلوق نه ډېر لري اوجدا اوسيده، په دې عمل سره دده تمنا اوخواهش داو چې خپل زړه دحب جاه و رياست نه بالکل پاک وصاف وساتي اوحقوق تعالى جد مجده اطاعت اوبندګي کې ځان ډوب کړي،خو يوه شپه يې خوب وليده چې دحضور ﷺ دقبر مبارک نه دهغه مبارک هډوکي راجمع کوي اوپه دې کې ځينې خوښوي،په دې خوب دومره وېره اوهيبت خپور شو چې ډېر په تکليف حالت کې بيدار شو.اودحضرت محمد بن سيرين رحمه الله يو دوست ته لاړو اوددې خوب تعبير پوښتنه يې تري وکړه، هغه ددې خوب تعبير داسې بيان کړ چې خوب ډېر زيات مبارک دی.دحضور ﷺ علوم به حاصلوي اودسنت احياء اوحفاظت به کوي اوډېر لوی مقام به حاصلوي، بلکې روايات سنت کې به نقد وتنقيح کوي اودتيوازي به هم مجاز وي اوصحيح به دسقيم نه جدا کوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ده ﷺ په دویم ځل باندې عالم خواب کې دحضور ﷺ په زیارت باندې مشرف شونو وې کتل چې حضورﷺ فرمایې: ای ابوحنیفه(رحمه الله)! ته الله تعالی زما دسنتو زیاتولو له پاره پیدا کړی یې، گوشه نشینې پریږده. چنانچې ده ددې نه پس ددین متین خدمت شروع کړ اولوی لوی مشائخ مثلاً: ابراهیم بن ادهم، حضرت فضیل بن عیاض، حضرت داؤد طائي، اودحضرت بشر حافي(رحمهم الله) استاذ جوړ شو، له دې پرته علماوو کې دده دتقوی اوپرهیزګاري دهرواقعات مشهور شو. (تاریخ تقلیداور مسلک امام اعظمﷺ

تقلید اودهغه ضرورت:

دتقلید معنا منل اواتباع ده. دخپل ځان نه دزیات پوهه بنده منل دالله رب العزت تقلیداتباع بالکل کامل ومکمل طریقه باندې حضوراقدس ﷺ وکړه. بیا الله تعالی دتمام کائنات جن وانس ته حکم وکړ چې هغوی دې زما دمحبوب سرورکائنات ﷺ اتباع اوتقلید وکړي. دحضور ﷺ مکمل اتباع اوتقلید صحابه کرامو(رضی الله عنهم) وکړ، نوحضور ﷺ وفرمایل راتلونکي خلک دې دصحابه کرامو(رضی الله عنهم)، چې هدایت یافته اودهدایت ستوري دي. تقلید اواتباع وکړي. تابعینو دصحابه کرامو(رضی الله عنهم) اتباع اوتقلید وکړ اودغه راز تر تنه پورې دتقلید واطاعت داسلسله راروانه ده، ظاهره ده چې نه موږ نبي اکرم ﷺ لیدلی دی، نه صحابه کرام اونه تابعین اوتبع تابعین، بلکې ددوی دتقلید کوونکو خلکو خبره مو منلې ده نو داسې شوه چې موږ براه راست دحضور ﷺ اودالله تعالی خبره ومنله اوس که څوک په عقل پوندانسان دا وایي چې زه خو تقلید نه منم نو براه راست خو ده ته نبي اکرم ﷺ اوصحابه کرام نه شي راتلی. ظاهره ده دی به دچا خبره خو مني اودا تقلید دی چې دخپل ځان نه زیات پوهه عالم و متقي انسان خبره ومني اوپه یوه لاره روان شي، همدا تقلید بنده ګي اواطاعت دی. که صحابه کرام(رضی الله عنهم) وایي چې موږ دخدای خبره نه منو تر څو چې موږ خدای نه وې لیدلی. تبع تابعین به وایي چې موږ درسول الله ﷺ خبره نه منو تر څو چې یې موږ ته په خپله نه وي ویلې: نو دابه تقلید واطاعت ؤ که کفر نو ظاهره ده چې دا به انکار و، دې وجې نه کوم خلک چې دتقلید انکار کوي هغوی لره پکار دي چې هر کس و ناکس دې خپله دمجتهد اومحدث جوړیدو کوشش نۀ کوي، دې سره بې دیني اوګمراهي خوریږي. بنده آزاد شي په دې کې بې ادبي راشي. دې وجې نه هغوی دګمراهي کندې ته پریوځي، محدثین کرام اوعلماء ربانیین زموږ نه زیات متقیان اوپرهیزګاروو، موږ نه زیات په قرآن وحدیث پوهیدو والا وؤ اوتوله زندګي یې دالله اورسول خبرې ښودلې. دې وجې نه مونږ لره پکار دي چې موږ به دې کې دیو خبره ومنو شتر بې مهار دخان نه نه جوړوؤ ګني هر طرفته به دندې وي. ځلور واړه امامان امام ابوحنیفه. امام مالک. امام شافعي او امام احمد بن حنبل(رحمهم الله) په حقه دې

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په دوی کې دهر یو تقلید حق دی، امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله، اوامام احمد بن حنبل رحمه الله، ددې شاګردانو شاګردان دي دي وجي نه چې امام شافعي رحمه الله، چونکې مشر دی، تابعي دی، خوک په فقه حنفي باندې عمل کوي هغه ددې وجي نه کوي چې زمونږ دامام صاحب مسلک په ټولو قرآن وحدیث ته قریب دی، باقي په زړه کې ادب دټولو امامانو کوڅ په دې کې دهر یو ادبي دحدیث په روی سره تباهي اوبربادي ګڼو باقي چې کوم خلک تقلید بالکل نه کوي اوحضرت امام ابوحنیفه په حق کې ګستاخي کوي هغه دډېرې لویې ګناه ارتکاب کوي اوډېرلوی کفر اوبې دینې کې لاړ شي اوایمان هم ضائع کوي

دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله وصیتونه:

حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله، چې خپل شاګرد امام ابویوسف رحمه الله، ته کوم وصیتونه کړي و ؤ. هغو کې یو خو دادي: دبادشاهانو دنژدې والي کوشش مه کوه. دبادشاه دوستانو سره هم زیات تعلق مه ساته. بادشاه چې درته کله یو کار وسپاري نو ښه اطمینان شرعي کوه هغې نه پس کار کوه. دعوامو نه طمع مه ساته. دعوامومخکې مه خانده. بازارونوته ډېر مه ځه اوکوم چې بلوغت ته نژدې هلکان وي هغوی سره خبرې مه کوه. خکه دفتنې وېره ده هو! وړو ماشومانوسره کینه اوپه سر ورته لاس رانبکه. په لاروکې مه کینه که کیني نو په مسجد کې کینه اوپه بازارونو اومساجدوکې خوراک مه کوه. ساده لباس اچوه. اول علم حاصل کړه. دې نه پس حلال مال جمع کړه اوهغې نه پس واده اوکړه. اوددالله نه ویره اودامانت اوټولوعواموخیر خواهي په خان باندې لازمه ونیسه اوداسې رویه مه اختیاروه چې په کومه کې دخلکو ذلت وي. دخلقو عزت کوه اوخلقو سره ډېره ناسته پاسته مه کوه. که ته لس کاله هم بغیر دخوراک خنباک نه پاتې شې؛ نو بیا هم دعلم نه مخ مه اړوه؛ خکه که تا دعلم نه اعراض وکړ؛ نو ستا رزق به تنګ شي؛ خکه چې دالله جل شانه ارشاد دی: "وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا" اوچاچې زما درزق نه روګرداني وکړه دهغه رزق به تنګ شي اوپه عوامو کې اوبازاري خلکو کې چې څوک تاسره جګړه کوي، ته هغوی سره جګړه مه کوه، که داسې کوي نو ستا عزت به کمیږي اودخق خبرې بیانولو وخت کې دچادرتېې پرواه مه کوه اګرچې بادشاه ولې نه وي، "وَكُنْ لله في سِرِّكَ كما انت في عَلَانِيَتِكَ" په تنهایي کې هم دالله سره داسې تعلق وساته څرنګه چې دخلکو مخکې دالله سره تعلق ساتې. "واياك ان تكثر الضحك فانه يميت القلب" اوزیاتې خندا نه خان وساته خکه چې دا زړه مړ کوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت امام اعظم زهد اوریاضت::

په تاریخ ابن خلکان کې دي چې امام ابوحنیفه رحمه الله عالم ،عابد،زاهد،صاحب ورع وتقوی،کثیر الخشوع،دائم التضرع،خوش صورته،خوش سیرته،ډېر کریم اودمسلمانانو ورونو مددګار،درمیانه قد،غنم رنګه،خوش تقریر اوشیرین ژباڼه و،اسد بن عمرو راوي دی چې امام ابوحنیفه رحمه الله خلوینښت کاله دماسخوتن اودس سره دسهار لمونځ کړی دی اوعموماً دشپې به یې یو رکعت کې ټول قرآن لوسته ،دماسپښین نه پس به یې لږ شان آرام کاو اوفرمایل به یې چې دسنت نبوي په اتباع کې قیلوله «دماسپښین آرام»کوم،په رمضان المبارک کې به یې یو قرآن دورځې ختماؤ اویو ځل دشپې «امام ابوحنیفه رحمه الله» کے حیرت انګیز واقعات)

طحطاوي کې له مسعر بن کدام څخه روایت دی وایي چې زه یوه شپه مسجد ته لاړم ګورم چې یوکس لمونځ کوي ماته دهغه قرآن لوستل ډېر خوښ شو،هغه چې کله دقرآن اوومه برخه ولوسته نو زما خیال داؤ چې اوس به رکوع وکړي مګر هغه رکوع ونه کړه اودقرآن دریمه برخه یې ولوسته ما خیال وکړ، چې شاید اوس رکوع وکړي مګر رکوع یې ونه کړه اونیم قرآن یې ولوسته اودغه راز یې دقرآن تلاوت جاري وساته حتی چې یو رکعت کې یې مکمل قرآن ختم کړ،دلمونځ نه چې کله دواړه فارغه شو نو ماښې طریقې سره ولیده هغه امام ابوحنیفه رحمه الله ؤ،په رمضان المبارک کې یې شپیتهٔ ځله دقرآن ختملو معمول ؤ اوپه ژوند کې یې پنځه پنځوس حجونه وکړل په کوم مکان کې چې دامام صاحب وفات وشو په دغه ځای کې امام صاحب اووهٔ ځله ختمونه کړي وو.

مسعر بن کدام نه خطیب ابومحمد الحارثي اوابوعبدالله بن خسرو روایت کړی چې دامام صاحب دې حده عبادت اوریاضت نه زه متاثره شوم؛ نو ما د ابوحنیفه رحمه الله په خدمت کې داوسیدو فیصله وکړه.

اودهغوی په مسجد کې مې باقاعده اومستقل قیام اختیار کړ اودخپل مُدت په دورانیه کې ما کله امام صاحب دورځې بې روڼې اودشپې بغیر دقیام اللیل ځخه نه دی لیدلی، البته دماسپښین به یې لږ شان (داتباع سنت په بناء باندې) آرام کاو اوعموماً دا د دوی معمول ؤ.(امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله کے حیرت انګیزواقعات) ابوالمؤید چې کله دامام اعظم ریاضت اومجاهده ولیده نوبې اختیار یې چیغه کړه:

نَهَارُ اَبِی حَنِیفَةَ لِلاِفَادَة وَلَیلُ اَبِی حَنِیفَةَ لِلعِبَادَة

دامام صاحب ورځ به په درس وتدریس اوعامة الناس په خدمت اوافاده له پاره وقف وه اوشپه یې دخپل خالق دعبادت له پاره وقف وه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله تقوی او دمجوسي اسلام:

لیکر کیږي امام رازي رحمه الله، لیکي چې دامام ابوحنیفه رحمه الله، په یو مجوسي باندې فرضه وه یوه ورځ امام صاحب دقرضې مطالبې له پاره دهغه کورته ولاړ، کله چې امام صاحب دمجوسي کور ته ورسیده، نو اتفاقاً دامام صاحب چپلو ته ګند ولګیده. امام صاحب دګند ګولو په غرض باندې چپله وخندله چې ورسره ګند دمجوسي دیوال ته ولګیده. امام صاحب ډېر زیات پریشانه شو که چیرته ګندګي تري لرې کوي، نو دیوال خرابیږي امام صاحب دوډي پریشاني حل له پاره دروازه وتکوله یوه ویښه راووته امام صاحب ورته وویل چې مالک ته دي ووایه چې ابوحنیفه بهر ولاړ دی، مجوسي په وهره وهره راووت چې امام صاحب دقرضې مطالبه کوي، کله چې راووت، نوامام صاحب ورته وویل چې دا ګند به څنګه لرې کوئ چې دیوال دي هم خراب نه شي، مجوسي دامام صاحب ددې احتیاط اوتقوی نه دومره متاثره شو چې فوراً یې اسلام قبول کړ.

مشاجرات صحابه رضي الله عنهم او دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک:

یو ځل یو کس دامام ابوحنیفه رحمه الله، په خدمت کې حاضر شواوعرض یې وکړ حضرت ته معلومه ده چې حضرت علي رضي الله عنه اوحضرت امیر معاویه رضي الله عنه په مینځ کې دجګړو پاره کې څه وایي ویې فرمایل: دقیامت په ورځ به چې دکومو سوالاتو باره کې پوښتنه کیږي هغه سره دهغې فکر دی، دداسي قسم واقعاتوباره کې به دقیامت په ورځ پوښتنه نه کیږي لهذا دې مسئلو کې دپریوتو ضرورت نه شته. امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله، نه پوښتنه وشوه چې دحضرت علقمه رحمه الله، اواسود رحمه الله، کې څوک افضل دي؟ ده رحمه الله، وفرمایل په خدای زما حیثیت خو دیوازي دومره دی چې دې دواړو بزرګانو عزت اواحترام وکړم اودوی له پاره د استغفار دعا وکړم آخر ماته څه شوي دي اوزما څهٔ حیثیت دی چې زه یو ته په بل باندې فضیلت ورکړم (دواړه بزرګان مشهور تابعیان دي).

دغیبت نه ځان ساتنه:

غیبت نن سبا یو فیشن جوړ شوی دی عوام خوخه چې دعلماوو اوخواصومجلسونه هم دې نه خالي نه وي. بل حقیر کول خپل ځان بهتر ثابتول دازمودږ مزاج جوړ شوی دی. حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله، ته ددې نه سخت نفرت او وحشت ؤ، ځکه چې داډېره لویه ګناه ده دکوم بنده چې غیبت کوي هغه ته خپلې نیکۍ ورکوي. امام صاحب به همیشه ددې نه ځان لرې ساته اودخدای تعالی به یې شکریه اداکوله چې الله تعالی دي دګناه عظیمه نه زما ژبه محفوظه وساتي. امام سفیان ثوري رحمه الله، ته چا وویل چې ما کله امام ابوحنیفه رحمه الله، دچا په غیبت باندې نه دی لیدلی. هغوی وویل: هوا امام ابوحنیفه رحمه الله، داسې بیوقوفه نه دی چې په مفتو کې چاته خپلې نیکۍ ورکړي.

علي بن الحسین المؤذن وویل چې: یو ځل امام ابوحنیفه رحمه الله، مناجاتو ته ډېرزیات عاجزي اوانکساري سره داسې فریاد کاوه ای الله چې خوک ذره برابرهم نیکي وکړي تاسو دهغه پوره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پوره جزا ورکوئ اوچاچي ذره برابرهم بدي درسره کړي وي، دهغې سزا ورکوي خپل بنده ضعيف نعمان دجهنم داورنه بچ کړي اودهري ځمتي وړي بدئ نه ورته خلاصي ورکړي اوپه خپل رحمت اووسعت کي ورته پناه ورکړي

سقوط العالم، سقوط العالم:

يوځل په يوه محله باندي تبريده وبي کتلّ چې يوماشوم په ختو کې لوبې کوي،امام صاحب ورته وفرمايل احتياط کوه چيرته ونه ښويږي،ماشوم هم پوه ؤ، وبي ويل که زه وښويدم نو هيڅ فرق به رانه شي اوکه تاسو وښويدئ نو يو جهان به وښويږي دماشوم دپوهې خبره به يې هر وخت ياده وه. يو ځل تري يو کس پوښتنه وکړه حضرت! بيت الله باندي چې کله دعازم بيت الله نظر پريوخي نو کومه دعا وکړي ځکه چې حضوراکرم ﷺ فرمايلي دي چې په بيت الله باندي اول نظر پريوتو سره کومه دعا وشي نو هغه ضرور قبليږي حضرت اوفرمايل چې دخپل مستجاب الدعوات کيدو دعا وکړه ځکه چې دي نه پس کومه دعاکوي نو قبليږي به.

دکفر فتوئ ورکولو کې احتياط:

نن سبا ددين ډېر داسې دعويدار دي چې دکفر مشين يې لګولی دی.دحضرت امام صاحب مسلک ؤ. که په يو بنده کې نهه نوي وجوهات دکفر موجود وي اويو دمسلماني نو دمسلماني والا به اعتبار کيږي. امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله کے حيرت انګيز واقعات

مدعي نبوت نه دليل غوښتل کفر دی:

حضور ﷺ چونکې آخري نبي دی،دوی نه پس هر يو مدعي نبوت دروغژن دی،امام صاحب په دورکې يو کس دنبوت دعوه وکړه. خلکو ونيوه،هغه وويل ماته لږ مهلت راکړئ چې زه دخپل نبوت دلائل اوعلامات ووايم.خلک خاموشه شو؛نوحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله وفرمايل چې: دحضور ﷺ نه پس مدعي نبوت نه دليل غوښتل کفر دی.

حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله آمرانه قوتونو سره ډغره ووهله اوقيدوبند تکليفونه يې برداشت کړل.خو سر يې تيټ نه کړ حتی چې دی رحمه الله په کورو باندي ووهل شواودسجدې په حالت کې تري الله روح قبض کړ، په جيل کې وفات شو.

کليوں کو سينے کا لهو دے کر چلا هوں صديوں مجهے گلشن کی فضا ياد کرے گی

الله تعالی دې داهل الله اواولياء الله ادب اواتباع رانصيب کړي...(آمين)

دحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله حق پرستي اوحق ګويي په بوډاوالي کې انتهاء ته رسيدلي وه اوقوت ملکي ورته حاصل شوی ؤ خوراک ځښاک ته به يې توجه نه وه، يوازې په عبادت کې به مشغوله ؤ که کله به دخوراک ځښاک ضرورت محسوسيده نومسافرو اومسکينانوسره به کيناسته اوخوړله به يې.دغه راز سنت ابراهيمي به يې ژوندي کول

،ددوي عبادت ضرب المثل جوړ شوی ؤ (بستان اولياءالله تعالی دې ددې امام حق محبت رانصيب کړي...(آمين)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين

کفایت کتب خانه مینی کراچی پاکستان
https://t.me/kafayat2395

د شعبان المعظم د میاشتې دویمه خطبه:

دشب براء ت فضیلت

دشعبان میاشت مقدسه میاشت ده، چې په هغې کې دلیلة البراء ت شپه ده. قرآن کریم کې الله تعالی ددې شپې ذکر داسې کوي فرمایي:

"حٰمٓ (۱) وَالْكِتَابِ الْمُبِيْنِ (۲) إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ (۳) فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيْمٍ (۴) أَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ (۵)" (پ۲۵سورة دخان آیت ۱تا۵)

ترجمه حم قسم مې دي وي په هغه واضح کتاب کوم چې مونږ د لوح محفوظ نه آسمان دنیا ته یو برکت والا شپه رانازل کړی دی، مونږ آګاه کوونکي وُو، په دې شپه دهرې معاملې زمونږ لوري حکم وشي او مکمل شي، بیشکه مونږ پیغمبران لېږونکي یو.

تشریح: په دې آیت کې دفضیلت واله شپې نه مراد دشعبان پنځلسمه شپه ده چې هغې ته لیلة البراء ت وایي (عکرمه بروایة ابن جریر). ددې آیت نه ددې شپې بابرکته کیدل معلوم شو (۱) ددې سپېړمې ته په ډېر اهتمام سره کتل پکار دي په پنځلسمه شپه باندې عبادت کول پکار دي او په پنځلسمه ورځ باندې روژه نیول مستحب دي. دنصف شعبان نه پس روژه نیول خلاف اولی دي. دي له پاره چې رمضان له پاره ضعف او کمزوري رانه شي، د شک په ورځ روژه نیول منع دي.

دحضور اکرم ﷺ ارشاد دی چې: دشعبان دمیاشتي حساب ساتئ درمضان له پاره ځکه چې کله دشعبان تاریخ صحیح وي نو رمضان کې به اختلاف نه وي.

په یو بل حدیث کې دي چې حضور اقدس ﷺ به ځومره دشعبان دمیاشتي خیال ساته دومره به یې دبلې میاشتې خیال نه ساته. (ابوداؤد)

دشب براء ت فضیلت:

دنبي کریم (ﷺ) ارشادمقدس دی چې: دشعبان په پنځلسمه شپه باندې عبادت ته بیدار اوسېږئ. ددې میاشتې په مینځ کې روژه ونیسئ ځکه چې الله تعالي ددې شپې په غروب آفتاب په وخت کې آسمان دنیا ته نزول کوي اوفرمایي چې څوک شته دمغفرت اوبښنې طلبګار چې زه یې وبښم، څوک دروزي طلبګار شته چې زه روزي ورکړم، څوک مصیبت زده شته چې زه ورته عافیت ورکړم (کله چې هغه دعافیت دعا وغواړي) صبح صادق پورې داسې اعلان رحمت کیږي. (ابن ماجه)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت عائشه صديقه (رضي الله عنها) فرمايي چې: ما په دې شپه باندې حضور اقدس (ﷺ) نه د دې دعاغوښتل اوريدلي و:

"اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِعَفْوِكَ مِنْ عِتَابِكَ وَاَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْكَ جَلَّ وَجْهُكَ لَا اُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ" (بيهقي)

دحضور اکرم ﷺ دعاګاني هم ډېرې جامع دي، يوه داهم ده.

ترجمه: اي الله زه ستا دعتاب نه ستاپه عافيت پناه غواړم اوستا دناراضګي نه ستا په رضامندي پناه غواړم اوزه ستا نه دپناه غوښتونکی يم، ستا شان واضحه دی، زه ستا دتعريف حق نه شم ادا کولی، ته خپله تعريف پخپله کولی شي. حضرت عائشه صديقه (رضي الله عنها) فرمايي چې سهار تري ما ددې دعا په اړه پوښتنه وکړه؛ نو ويې فرمايل: اي عائشې! دادعازده کړه اونوروته يې هم ورزده کړه اوداپه سجده کې باربار وايه.

په يو بل حديث کې دي حضور ﷺ فرمايي چې: په دې کال څومره پيدا کيدونکي دي هغوی په دې شپه وليکل شي اوکوم چې به په دې کال کې مري هغوی هم. دغه راز د رزق وغيره متعلق هم فيصلې ليکل کيږي. (بيهقي)

تشريح: اګر چې دانسانانومرګ ژوند، صحت بيماري، عزت اوذلت، دروزي تنګي او وسعت دمخکې نه لوح محفوظ کې ليکل شوي دي، مګر په دې شپه باندې دا ليکل فرښتو ته حواله کيږي.

قادر قدرت تو داری برکمال انت ربی انت حسبی ذوالجلال (مثنوي)

اي قادر مطلق ذاته! ته په هر کمال باندې قادر يې، ته زما رب يې زماله پاره کافي يې، دلوی شان والا يې.

اے خدا قربان احسانت شوم فيض تو چون ابر ريزان برسرم

دستاسو انعامات خزانې اودستاسوفيض وکرم دباران پشان زمونږ په سرونو باندې وريږي.

از عدم داری بهشتی ارتقاء زاں سپس ايمان ونور اهتداء

تاسو دعدم نه مونږ ته روانه ارتقاء راکړه اوبيا مو راته د هدايت نور هم راکړ.

اے الله احسان تو اندر شمار می نتانم بازبان صد هزار

اي الله! دستاسو انعامات اواحسانات دومره بې شمېره دي چې يو لاک ژبې وي؛ نوبيا هم مونږ ددې شمار نه شو کولی.

ياکريم العفو ستار العيوب انتقام از مالکش اندر ذنوب

اې ښه ښونکيه! په عيبونو پرده اچوونکيه! زمونږ دګناهونو له وجې مونږ مه نيسه

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

محروم خلک:

پيغمبر(ﷺ) ارشاد فرمايي چې په دې مبارکه شپه کې دخپني محرومه اوبدقسمته خلکو ښنه نه کيږي، په دې کې يو مشرک دي، دويم کينه ساتونکی انسان،ناحق قتل کوونکی، خپلوي پرې کوونکی،اومتکبره کوم چې پای ځې دښنګرو لاندې ساتي،دمور پلار نافرمان، شراب څښونکی،علماء فرمايي چې په دې شپه خو صغيره ګناهونه معاف شي، مګر کبيره ګناهونه له توبې پرته نه معاف کيږي. ديو حديث شريف مفهوم دی چې په دې شپه باندې الله تعالی دبيشميره خلکو مغفرت کوي.

دشب براء ت وجه تسميه:

دبراء ة معنا خلاصون ده، دې شپې ته شب براء ت ځکه وايي چې: الله تعالی په دې شپه کې بيشميره خلکو ته له جهنم نه براء ت اوخلاصون ورکوي،مګر څينې خلک داد بارات شپه ګڼي چې دخوشالۍ اودهوم دهام اودډيوې بلولو شپه،دخوراک څښاک اودآتش بازي شپه ده.دابالکل غلطه خبره ده چې شب براء ت کې قبرستان ته تلل دنوروختونوپه نسبت زيات افضل دی.دې وجې نه دشپې قبرستان ته تلل دخپل ځان له پاره اودمسلمانانولە پاره دمغفرت دعاکول اوخپل مرګ ياد کړئ اودآخرت دتياری فکر وکړئ.(تتمه عالمګيری)

مګر څينې مقامات قبرستان کې رش وي په قبرستان کې يې څراغونه بل کړي وي اوقوالي پکې کيږي اوخوراک څښاک پکې کيږي،داټول ممنوعات دي.دحضوراقدس ﷺ نه يوازې دومره ثابته ده چې جنت البقيع قبرستان ته يې تشريف وړی ؤ اوداهل قبرستان له پاره يې دعا کړې وه

دشعبان دمياشتې رسومات:

حضرت تهانوي (قدس سره) ليکي: څينې خلک وايي کله چې: دحضوراکرم ﷺ غابنونه مبارک شهيدان شوی وؤ نودوی(ﷺ) حلوا خوړلې وه.دابالکل موضوع اوغلطه کيسه ده، دې عقيده ساتل بالکل غلط دي، بلکې عقلاً هم ناممکنه دي ځکه چې داواقعه خو په شوال کې شوې وه په شعبان کې نه.

(۲) څينې خلک وايي: حضرت امير حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې ورځو کې شهيدشوی ؤ دا دهغوی فاتحه ده. داهم محض بې اصله خبره ده اوال خو دتاريخ دتعين ضرورت نشته.دويم داچې داواقعه خپله غلطه ده.ددوي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت هم په شوال کې شوی ؤ شعبان کې نه.

(۳) دخپني خلکو داعقيده ده چې دمړو ارواح کورونوته راځي اوداګوري چې زموږ له پاره چا څه تيار کړې دي. که نه. ظاهره ده چې داسې مخفي معامله بغير ددليل نقلي نه نه شي کيدای اوهغه دلته نشته

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(۴) ځینې خلک وایي څوک چې په شب براء ت نه مخکې مړ شي او کله پورې چې دۀ له پاره دشب براء ت فاتحه خوانې نه وي شوې هغه په مړو کې شمار نه دی. په حدیثو کې دي کله چې بنده مړ شي نو مرګ فوراً پس دخان پشان خلکو کې ملاؤ شي دا نه وي چې دشب براء ت پورې زوړند پاتې وي.

(۵) دحلوا رسم داسې دی چې ګنې بغیر ددې نه شب براء ت هیڅ شته نه، په دې پابندي کې اکثر فساد عقیده وي چې دامۇکد اوضروري ګڼي فساد عمل هم وشي. دفرائضو واجباتو نه زیات ددې اهتمام کوي. ددې نه علاوه بله خرابي دادې چې ثواب وغیره یې مقصد نه وي.

خیال یې داوي که دا خل مې ونه کړه نو خلک به وایي چې نادار یې اوغربت راګیر کړی دی، دې الزام لرې کولو له پاره چې څه هم وي کوي یې، په داسې نیت باندې کول اسراف اوتفاخر دی چې دهغه ذکر مخکې بار بار شوی دي. اوکله کله داسې هم وي چې دې له پاره قرض په سود باندې اخیستل کیږي اودا جدا ګناه ده.

(۶) کوم خلک چې دمدد مستحق دي هغوی ته څوک هیڅ هم نه ورکوي اوکه وي هم ډیر کمزوری خوراک تیار شي نو هغوی ته ورکړل شي. اکثر مالداره خلک ددې وجې نه چې دوی مړو کره رالیږلي دي اوکه مړو یې ور ونه لیږو نودوی به څۀ سوچ کوي، غرض داچې دې کې هم ریا اوتفاخر دی.

(۷) یوه خرابي داهم ده چې ځینې خلک دشب برات د بیدارۍ له پاره دفرائضو پشان خلک راجمع کوي. داسې جمع کولوسره شبګیر خو آسانه شي، مګر نفلي عبادت له پاره داسې اهتمام سره خلک راجمع کول دادشریعت خلاف دي. البته اتفاقاً که څه خلک راجمع شو؛ نوبیا یې کې څه قباحت نشته. ځینې خلکو یې دلونې بدلولواوکورلیو کولو اوخپله دې شپه کې ډیوې بلول عادت جوړ کړی دی. دارسم مکمل دکفارونقل دی. اود حدیث تشبه له وجې حرام دی اوبدعت شنیعه کې هغه رسم دی کوم چې بلادهند کې خلکو رائج کړی دي. یعنې څراغونه لګول، لهو لعب کول، تفاخر کول اوآتش بازي کې لهولعب سره جمع کیدل دا ټول داسې شیان دي چې په یو معتبر کتاب کې یې هم ثبوت نشته، په دې باره کې موضوع اوضعیف حدیث هم نشته، نه دبلاد هند نه پرته بل ځای کې یې رواج شته، حتی چې ظن غالب دادی چې دهندوانو درسم هولي نه دا اخذ شوي دي. ځکه چې په هندوستان کې ټول رسمونه دکفر باقي دي اومسلمانانوسره دکفارو میل جول اودکفارو دنسل وینځې اوښځې ساتلو سره دا رسمونه خوارۀ شوي دي علي بن ابراهیم ویلي دي چې دوشني لومړی بدعت دبرامکه نه شروع شو. هغه خلک آتش پرست وو. چې کله مسلمانان شو نو په مسلمانانوکې یې هغه شیان داخل کړل او هغه یې دخپل خان نه اسلامي طریقه وګڼله. اوددې نه دهغوی غرض یوازې آتش پرستي وه اودمسلمانانوسره به یې دي اور طرفته سجده کوله یعنې مسجد کې دصف په مخه کې به

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ډیوې دي نو آتش پرستي نه هم ورسري کیده. اوبیا هم دا کار جاهل امامانو صلوة غائب وغیره پشان دعوامو جمع کول اودریاست و وجاهت حاصلولو یو جال خورکړ اوکیسه خوانو دامجلسونه په ذکر سره ډک کړل، ددې نه معلومه شوه چې روشني اوآتش بازي واله رسم قبیح او دې ځایه اسراف له وجې سخت حرام دی. اوکوم بنده چې درسوم شرکیه ارتکاب وکړي دهغه متعلق په حدیث کې "مَن تَشَبَّهَ بِقَومٍ فَهُوَ مِنهُم" سخته اندیښنه ده چې دې مشرکینو سره به ددوی حشر وي چاچې دا رسوم شرکیه جاري کړي وې. آیا اوس به هم خلک ددې څرافاتو نه قلار نهٔ شي؟ الله تعالي دي ټول رسوم شرکیه اوبدعتونه ختم کړي او اسلامي سنت دې جاري کړي. (باره مهینوں کے فضائل)

آتش بازي یو نقصان دادی چې دې نه هرکال اور لګیدو نه ډیر خلک هلاک شي اوددې ګناه په هغو خلکو ده کوم چې دا اور لګوي. اوکوم خلک چې اولاد ته ددې کارله پاره پیسې ورکوي نو هغه هم په دې ګناه کې شامل دي. ورسره دشپې زوردار ه دهماکوسره دعوامو خوبونه خراب شي. داهم لویه ګناه ده. دې نه علاوه ځینې خلک په لاوډسپیکر باندې شیبنه کوي په دې کې څو ګټې خرابې دي. یو خو داچې نوافلوله پاره خلک راجمع کول غلط دي دویم داچې فضول خرچي کول هم غلط دي. دریم داچې قرآن پاک زور سره تلاوت کیږي اوهغه خلک دخپلو مصروفیاتو اوضروریاتو له وجې نه شي اوریدی دې سره دقرآن پاک بې ادبي کیږي اودامنع ده. ځینې خلک خو وینې وي خو ټوله شپه مسجد کې ددننا خبرې کوي. داهم ګناه ده ځینې خلک په داسې موقعوباندې رسالې اوکتابونه چاپ کوي اوتقسیموي. په هغو کې دفضائلو متعلق موضوعي اودخان نه شیان لیکل شوي وي، په دې رسالو کې عجیب قسم نوافل اودهغو فضائل درج وي چې په یو مستند کتاب کې هم نه وي. داکتابونه خلک وګوري اوبیا دې پشان عبادت کوي. دې نه پس هغوی مطمئن شي چې اوس موږ ته ټول کال عبادت کولوڅه ضرورت دی دومره دومره ثوابونه مو خو وګټل اوګناهونه هم راته معاف شو اوس به آئنده کال دې شپه باندې عبادت وکړو. دټول کال عبادت څهٔ ضرورت دی؟ داهم غلطه ده که داسې وی نو رسول الله ﷺ اوصحابهٔ کرام رضی الله عنهم ټول عمر ولې عبادت کاوه اعاذنا الله. دې وجې نه مسلمانانوله پکار دي چې هغوی دشپې ساده طریقې سره عبادت کوي تلاوت دې کوي، ذکر دې کوي، درود دې وایي. استغفار دې وایي، دې نه پرته څه مخصوص نوافل نشته. داټولې دخان نه جوړې شوي خبرې دي، ساده طریقې سره سنت باندې عمل وکړئ بدعاتو اوخرافاتو نه ځان وساتئ.

حقیقت خرافات میں کھو گئی اُمت روایات میں کھو گئی
هرگز بمنزل نه رسی اے اعرابی که این ره که تو روی بترکستان است

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خلاف پیمبر ﷺ کسے رہ گزید که هر گز بمنزل نخواهد رسید

مولانا رومي رحمه الله فرمايي چې: دتمام بُتانو اصل نفس دی. هره ساه فکر دی اوپه هر فکر کې په زرګوڅ فرعونیان له ملګرو سره ډوب شول. یعني دنفس ډېر لوی مکروفریب دی. د کاڼي بُت ماتول ډېر آسان دي. مګر نفس معمولي ګڼل ډېره لویه نادانې اوجهالت دی.

اول خو نفس انسان نیکي ته نه پریږدي اوکله چې نیکي وکړي نو شیطان اونفس دغه نیکي هم تباه کولو کوشش کوي په بدعاتو اوخرافاتو کې یې مبتلا کوي. بیاداچې نیکي نه زیات دګناه نه ډېچ کیدو کوشش پکار دی. ځکه چې لږه شان بدي نیکي تباه کوي. لکه چې ځنګه یو انسان دوه کیلو پی وڅښي اوښهٔ خوراک هم اوخوري مګر لږ شان زهر هم وخوري نو ده له پاره ښهٔ خوراکونه هم دمرګ سبب جوړ شي. دي وجې نه نیکي لږه دي ولي نهٔ وي خو چې دسنتو موافق اودالله تعالي دحکم مطابق وي. ګڼي نیکي برباد ګناه لازم مصداق به ترې جوړ شي.

شب براء ت باره کې دحدیث الفاظ:

عَنْ اَبِي بَكْرِ نِ الصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم: قُومُوا لَيْلَةَ النِصفِ مِن شَعبَانِ فَاِنَّه لَيلَةٌ مُبارَكة فَاِنَّ الله يقُولُ فِيها هل مِن مُستَغفِرٍ فَاغفِرلَه... الخ

حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رایې کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دشعبان پنځلسمه په عبادت سره قائمه وساتئ؛ ځکه چې هغه بابرکته ده الله تعالی په دي شپه فرمایي چې: شته ځوک دمغفرت طلبګار چې زه یې وبښم؟ په یو حدیث مبارکه کې دي چې حضور ﷺ په دي شپه کې سجدي نه سر اوچت کړ اودادعا یې وغوښته "اللّٰهمَّ ارزُقنِي قَلباً نَقِياً مِنَ الشِركِ بَرِيا لَا كَافِراً شَقِياً"

اې الله ماته پاک او صفا زړهٔ راکړه چې په هغه کې شرک نهٔ وي اوکافر اوبدبخت نه وي. په یو حدیث کې دي چې په دې مبارکه شپه کې الله دبني کلب دچېلو دوینټو برابردخلکو مغفرت کوي.

ضروري خبره:

په دې بابرکته شپه باندې عبادت وکړئ، بې پروا کېناستل پکار نه دي، بلکې دالله اطاعت او بندګي کې مشغولیدل پکار دي، خپله ژبه دالله تعالی په ذکر باندې لمده ساتل پکار دي. دست بکار دل بیار مصداق جوړیدل پکار دي او په زړه کې دالله ویره پکار ده، هر وخت مرګ یاد وي. خپل ځان ډېر لوی سړي ګڼل نه دي پکار. ددنیا دفنا کیدوهر وخت یاد وي. دصحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اودبزرګانوحالات لوستل پکار دي. دې له پاره چې خپله کمزوري په نظر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

راشي. ديزرګانو خو واقعي ليکل کيږي دي له پاره چې مونږ کې هم دنيکي ترغيب پيدا شي اودبدو اعمالو نه بچ کيدو فکر وي

حکايات:

حضرت ابوزرعه رازي رحمه الله، فرمايي چې امام احمد بن حنبل رحمه الله، ته لس لکه احاديث ياد وو هغوی نه پوښتنه و شوه چې تاسو ته څنګه معلومه شوه؟ نو ويې ويل ما دډي ابوابو نه احاديث حاصل کړيدي

حضرت نوح بن حبيب رحمه الله، فرمايي چې ما په (١٩٨) هجري کې حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله، په مسجد خيف کې وليده ،هغوی مينار سره تکيه لګولې وه اوناست ؤ اواصحاب حديث به دوی ته راتلل اودوی به دفقهي اوحديث تعليم ورکاؤ اوحضرت عبدالله فرمايي چې زما پلار به شپه ورځ کې درې سوه رکعاته لمونځ کاوه.

ابن جان ثقات په بيان کې ليکلي دي چې امام حمد بن حنبل رحمه الله، حافظ حديث ؤ. متقي ؤ پرهيزګار و. په عبادت باندې هميشه والی کوونکی ؤ.ددوی په وجه باندې الله تعالې دامت محمدي فريادرسي وکړه ځکه چې په مصيبت اومحنت کې ثابت قدم پاتې شو اوخپل ځان ې دالله په لاره کې فدا کړ، حتی چې دقتل په اراده باندې دوی ته کوږې ولګول شوې اوالله تعالی دکفر نه بچ کړ. اودی يې داسې علامه جوړه کړه چې دهغې اقتداپکار ده اوداسې پناه ګاه يې جوړه کړه چې په هغې کې فنا اخيستل پکار دي.

ابوالحسن ابن زاعوني رحمه الله، فرمايي چې کله شريف ابوجعفراين ابوموسيٰ حضرت احمد بن حنبل رحمه الله، په خوا کې دفن کړل شو، نوددوی رحمه الله، قبر خلاص شو.نو ويې کتل چې ددوی کفن مکمل سلامت ؤ.خراب شوی نه ؤ.اوددوی رحمه الله، طرف هم بدل شوی نه ؤ اوداواقعه دامام احمد بن حنبل رحمه الله، دوفات نه دوه سوه اوديرش کاله پس راغله

حضرت مطر وراق رحمه الله، فرمايي چې حابر بن زيد يوکس دبصري اوسيدونکی و.کله چې حضرت حسن بصري رحمه الله، ظاهر شو نومعلومه شوه چې يو کس داسې و لکه چې دآخرت معائنه يې وکړه اودستر ګو ليدلې خبري اوروي.

حضرت عمربن عبدالعزيز امام ؤ. فقيه اومجتهد و. سنت رسول الله باندې پوه اودډېر لوی شان والا ؤ.جري اومضبوط زړه والا ؤ.حجت ؤ. حافظ و.دالله تعالی مطيع عابد و اودډغه طرف ته رجوع کوونکی ،اوتوبه کوونکی ؤ.

معاويه بن صالح رحمه الله، فرمايي چې ماته سعيد بن سويد رحمه الله، خبرراکړ چې عمربن عبدالعزيز رحمه الله، دجمعې لمونځ ورکړ اوبيا کيناست ددوي دقميص په ګريبان کې پيوند

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لګیدلی ؤ، ده ته وویل شو چې الله تعالی دې ډېر زیات مال درکړی دی، که تاسو لباس جوړولی نو ښه به وه.

فائده: حضرت عمر بن عبدالعزیز(رحمه الله) دنیا پریښې وه او زهد یې اختیار کړی ؤ. آخرت د زندګي ته یې دډنیا په زندګي ترجیح ورکړې وه، ځمکه یې له عدل وانصاف نه ډکه کړې وه. ظلم یې ختم کړ. حضرت مالک بن دینار(رحمه الله) فرمایي چې خلک ماته زاهد وایي په حقیقت کې زاهد خو عمر بن عبدالعزیز دی، هغه ته دنیا راغله بیا یې پریښوده.

حضرت یحی قطان(رحمه الله) فرمایي چې حضرت اعمش داسلام علامه وه اوحضرت جرمي(رحمه الله) فرمایي چې حضرت اعمش(رحمه الله) خپل شاته خان نه زیات دالله عبادت ګذار پرې نه ښوده او حضرت وکیع(رحمه الله) وفرمایل حضرت اعمش(رحمه الله) څخه اویا کاله تکبیر اولی نه دی فوت شوی.

حضرت ابوغسان مطرف وایي چې ما ته ابوحازم خبر راکړ ویې فرمایل: کله چې بنده دخپل خان اوالله تعالي په مینځ کې تعلقات ښه کړي؛ نوالله تعالی یې تعلق دبنده ګانو سره هم ښه کړي اوکله چې بنده دخان اوالله تر مینځه تعلق خراب کړي ؛نو الله ددۀ اودبنده ګانو په مینځ کې تعلقات هم خراب کړي.دیو الله تعالی راضي کول دتمام مخلوق دراضي کولو نه بهتر دي.

منقول دي چې دیو بزرګ یو څوان شاګرد ؤ، ده به دهغه ډېر زیات تعظیم کاؤ اودنورونه به یې ورته فضیلت ورکاؤ.نورومُریدانو یې وویل چې تاسو دده تعظیم کوئ حالانکه هغه څوان دی اومور بوډاګان یو،دې مُرشد یو څو مرغي راوغوښتې اوهریو مُرید ته یې یوه مرغي اوچاړه لاس کې ورکړه چې دابه داسې ځای کې ذبح کوئ چې هلته مو هیڅ څوک هم ونه ګوري اودې څوان ته یې هم یوه مرغي اوچاړه ورکړه تولومرغي ذبح کړې وې اودې څوان نه وه ذبح کړې. ژوندی یې واپس راوړه،شیخ پوښتنه وکړه چې تا دنورو ملګرو موافق ولې ذبح نه کړه، ده وویل چې ما داسې ځای پیدا نه کړ چې هلته ماته څوک نۀ ګوري، بلکې هر ځای کې به الله تعالي ماته کتل. تولو مُریدانو دده دمُراقبې تعریف وکړ اوتول دده دفضیلت معترف شول.

عبدالله بن دینار(رحمه الله) فرمایي چې زه حضرت عمر(رضي الله عنه) سره مکي معظمې دتلو په اراده راووتم په آخره شپه کې یو ځای کې کوز شو ،دده(رضي الله عنه) ملاقات دیو شپونکي سره وشو،ده ورته وفرمایل چې په دې چمبلیو کې یوه چمبلی په ماباندې خرڅه کړه. شپونکي وویل چې ماته خودډې اجازه نشته؛ ځکه چې زه خو غلام یم اودامال خو زما دآقا دی،عمر(رضي الله عنه) وفرمایل چې: ستا آقا خوتا نه وینې. هغه ته ووایه چې یوه چمبلی لیوه خورلې ده، غلام وویل چې ددې دنیا عارضي اومجازي آقا مخې ته خوبه دروغ ووایم مګر سبا به دقیامت په ورځ حقیقي مالک وآقا مخې ته څه بهانه کوم. دغلام داخبره چې عمرفاروق(رضي الله عنه) واوریده نو په ژړا شو اوغلام یې خپل آقا ته بوته اوپه قیمت یې تري واخیست او آزاد یې کړ اووې فرمایل: چې ستا

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ايماندار ي تاته آزادي درکړه اوزما اُميد دی چې دقيامت په ورځ به هم الله تعالی تاته دډوزخ ن آزادي درکړي

حضرت صفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې يوي زنانه ام المؤمنين عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ت، ته ڪايت وکړ چې زما زړه سخت دی ځهٔ تدبير راته وښايه چې نرم شي. عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ورته وفرمايل چې مرګ يادوه زړهٔ به دې نرم شي، هغې همداسې وکړل زړه يې نرم شو بيا رعائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دشکر گذاري له پاره راغله

حضرت بي بي شعوانه رَحِمَهَا اللهُ به دعا کې داسې فرمايل چې يا الله! زما تاسره ملاويدو ته ډېر زيات شوق دی اوستا دبدلي ورکولومې ډېره لويه توقع ده. نوته هغه کريم يې چې ستا په حضورکې دتوقع کوونکو خلکو اُميد نهٔ ماتيږي اونهٔ دمشتاقو شوق ستا په درکې بې کاره کيږي الهي که اوس زما مرګ وي اوبيوعمل ماتاته نزدي نهٔ کړي نودخپلو بيماروپه ذريعه ډګاهونو اقرار کوم ،که ته مې معاف کړي نوستانه بهتر بل څوک دی چې داسې وکړي اوکه عذاب راکوي نو ستا نه بل زيات عادل څوک دی؟ الهي! ماچې دخپل نفس له پاره نظر وکړ نوپه هغه مې ظلم وکړ اوس دې متعلق ستاسو حسن ظن دی، که ته ددې مطلب پوره نهٔ کړي نوددې خرابي اوتباهي ده. الهي تول عمر دې په ما باندې احسان وکړ .دا احسان دمرګ نه پس مه ختموه اوکوم بنده چې زما په ژوند زما محسن ؤ زما دهغه نه اُميد دی چې دمرګ نه پس به هم په ما باندې رايصال ثواب وغيره په ذريعه،احسان کوي الهي! تول عمر دې په ما باندې فضل وکړ دمرګ نه پس څنګه ستا حسن سلوک نه مايوسه شم. الهي! که زما ګناهونو زه ويرولې يم نوکوم محبت چې زما تا سره دی هغه ماته اطمينان راکړی دی، زما معامله داسې وکړه څنګه چې ستا شان سره مناسبه وي اوخپل فضل باربار وکړه په هغه بنده باندې چې کوم جهل کې مغروره دی الهي! که تاته زما ذلت منظور و ، نو ماته به دې هدايت نه کولو اوکهٔ ستا ذلت اوفضيحت مقصود ؤ نو بيا دې راباندې پرده ولې اچوله .چې دکوم سبب په وجه دې ماته هدايت کړی دی، هغه نه ما فيض ياب کړه اوپه کوم سبب چې دې پرده پوشي کړې ده هغه هميشه جاري وساته الهي! ماته دا اُميد وتوقع نهٔ ده چې کوم مطلب ته پاره ما زندګي تيره کړيده ته به يې نامنظوره کړي اومابه لري کړي الهي! که ماګناه نه و اى کړې؛ نوستا عذاب نه به ولي ويريدم، که ستا کرم مې نه پيژانده نودثواب توقع به مې ولي کوله.

حضرت سري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما جرجاني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ستوان وکتل چې خشک يې خوړل، ماترې پوښتنه وکړه چې داسې ولي کوې؟ هغوی وويل چې: ما دلقمې اوستوانو خوړو وخت اندازه کړی دی چې لقمه خوړلو کې اوياخله سبحان الله ويلو وخت کم وي، دې وجې نه ما دخلويښت کالو نه ډوډۍ خوړل پريښي دي

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فائده: ددغو بزرګانو پشان موږ نه شو جوړیدای، په هر حال که دخپلې کمزورۍ اوګناه احساس موږ ته وشي اوفرائض په ځای کړو اودالله تعالی نعمتونه استعمال کړو اوشکر یې اداکړو اوشته رزق باندې قناعت وکړو؛ نواُمید دی چې الله به مو وبښي. اوکه موږ ګناه هم ونه ګنو. اوموږ ته ندامت هم نه وي،بلکې بې دیني اوګمراهي صحیح لاره وګڼو نوبیاخطره ده چې موږ به دنیا کې هم بربادیو اوبه آخرت کې به هم خساره کې یو.

الله تعالی دې موږ کې دصحیح دین پوهه پیدا کړي.

فسبحان من ابدی جمیل جماله علی عبده لطفا وجود جواده

واخفی المساوی والعیوب تکرما وحلما تعالی ساتر لعباده

پاک دی هغه ذات چې خپل عمده جمال ښکاره کوي اوپه خپل بنده باندې مهرباني سره هغه دکریم بخښش دی اودخپل بنده عیبونه اوګناه دخپل کرم له وجې نه پټ ساتي.اوهغه ډېر لوی حلیم ،بردبار اودبنده ګانو دګناهونوپرده پوش دی.

یا رب العٰلمین همیشه خپل محبت رانصیب کړه اودخپل حبیب ﷺ محبت اواطاعت رانصیب کړه.....(آمین)

دل میں تیری یاد لب پہ نام ہو عمر بھر اب یہی بس کام ہو

مجھ گدا کو بھی بحق شاہ دیں بخش یارب دولت صدق و یقین

بھر حق سید خیر البشر خاتمہ کر دے میرا ایمان پر

جس گھڑی نکلے بدن سے میرے جان کلمہ توحید ہو ورد زبان

سینکڑوں کو تو کرے گا جنتی ایک یہ نا اہل بھی ان میں سہی

(حضرت مجذوب رحمۃ اللہ علیہ)

دستگیری کر میری جس کا توشہ ہے عمل صدق سے در پر تیرے آتا ہے مفلس یا جلیل

آمین یا رب العٰلمین

وآخر دعوانا ان الحمد للہ رب العٰلمین

****

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دشعبان دمياشتې دريمه خطبه:

دزکات فضائل او کتې

شعبان مياشت کې دشب براء ت په ورځ باندې په ۱۹۴۰م کال قرارداد پاکستان منظورشو. چې په نتيجه کې يې الله تعالى مسلمانانوته يو آزاد مملکت ورکړ. دې له پاره چې هغوى په دې ملک کې دالله تبارک وتعالى قانون نافذ کړي اويوه مثالي معاشره قائمه کړي. ددې متعلق به هم خبره کيږي، دې نه علاوه دلمونځ بيان دشب معراج په حواله سره شوى دى نواوس دشب براء ت په مناسبت سره دزکات بيان دى، ځکه چې لمونځ نه پس دزکات نمبر راځي. دزکات حکم په بنده ګانوباندې دالله تعالى انعام دى چې خپله يې مال ورکړ اوبه خپل ورکړل شوي مال کې يې څه حصه هم خپله لار کې دخرچ کولوحکم کوي، دې له پاره چې ددې بدله په دنيا وآخرت کې نوره هم زياته ورکړي.

زکات ډېره لويه فريضه ده چې ددې ادا کول اطاعت خداوندى دى، دې نه علاوه ددنيا وآخرت بېشميره ګټې هم په کې دي داځه تاوان يا تېکس نه دى، بلکې نعمت خداوندي دى.

دزکات فرضيت:

ارشادباري تعالى دى:

"وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضاً حَسَناً" (پ۲۹سورة مزمل آيت۲۰)

ترجمه اود لمونځ پابندي ساته اوزکات ورکوه اوالله تعالى ته بنې طريقي سره قرض ورکوه.

په يو بل خاى ارشاد باري تعالى دى:

"وَمَالَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ" (پ۲۷سورة حديد آيت۱۰)

ترجمه تاسو باندې څه شوي دي چې تاسو دالله په لاره کې خرچ نه کوئ، حالانکې څمکه اوآسمان په آخره کې الله تعالى لره دي.

په يو بل خاى کې ارشاد باري تعالى دى:

"يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ" (پ۲سورة بقره آيت۲۶۷)

ترجمه اې ايمان والو په نيکو کارونو کې دخپلې ګټې څخه عمده شى خرچ کوئ اودهغه څه څخه چې ما تاسو له پاره دځمکې نه ټوکولي دي.

کفايت کتب خانه ټيلى ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

تشریح: دالله تعالي خومره احسان دی چې لاس پښې دهغه ورکړه ده، بیا یې هم وفرمایل چې کوم کار ته په خپل لاس باندې کوې دهغه نه خرچ کوه اودهغه نه هم کوم چې دځکې نه راوباسو . حقیقت کې کهوګورئ نو یوه پاڼه هم دالله دحکم نه بغیر حرکت نه شي کولی. دزکات انکارکوونکو خلکو خلاف دجهاد حکم دی، تر څو چې توبه ونه کړي، په سورت توبه کې دیو آیت مفهوم دی. که دامنکرین زکات توبه وباسي اولمونځ قائم کړي اوزکات اداکړي بیاهغوی ستا ددین وروڼه دي. اصل رشته دایمان رشته ده؛ ځکه چې داهمیشه له پاره ده باقي ټولې رشتې اوتعلقات فاني اوعارضي دي.

غنیمت ھے صحت علالت سے پہلے — فراغت مشاغل کی کثرت سے پہلے
جوانی بڑھاپے کی زحمت سے پہلے — اقامت مسافر کی رحلت سے پہلے
فقیری سے پہلے غنیمت ھے دولت — جو کرنا ھے کرلو کہ تھوڑی ھے مہلت
منت منہ کہ خدمت سلطاں ھمی کنم — منت شناس ازو کہ بخدمت بداشت

(رومي رحمه الله)

دالله تعالى په بنده باندې داسې انعامات واحسانات دي چې پکار خو داسې وه چې بنده هر وخت په سجده باندې پروت وی ،بیایې هم شکر نه ادا کیږي اویو ځان څه چې لکونوخانونه وي اویویو کړل شي اوقربان کړل شي نو بیا به هم حق ادانۀ شي، ددې باوجود هم دالله تعالى په بنده ګانوباندې څومره خاص کرم دی چې حکم بالکل معمولي اوآسان جوړوي اودهغه دپاسه هم مزید دورکولو وعدې کوي.ددې نه پس چې هم انسان دالله حکم ونه منې؛ نو څومره غټه بدبختي ده.

زکات ته وګورئ. مال دالله دی اوبیا هم په هغه کې وایي چې: لږ شان ځلوېښتمه برخه پکې زماپه نوم باندې خرچ کړئ. زه به نور مزید مال هم درکړم اوپه آخرت کې به بې پناه اجر هم درکړم

جان دی دی ھوئی اس کی تھی — حق تو یہ ھے کہ حق ادا نہ ھوا

الله تعالى په خپل قدرت سره انسان ته وجود ورکړ داسې خوبصورته وجود چې دټول جهان خلک راجمع شي ؛ نو دانسان دیو اندام پشان اندام به جوړ نۀ کړي، بیا الله تعالى انسان ته دځمکې دخزانو اوددې دسیلواوسرچشمونه فائده اوچتولو طاقت ورکړ ،الله تعالى ځمکه نرمه اوهمواره جوړه کړه اوپه زمکه دموجوده خزانو اوخام معدنیاتو یې دانسان په زړه کې دحاصلولو شوق پیدا کړ . دیو آیت مفهوم دی: چې بېشکه مونږ بنې آدم ته عزت ورکړ یعنې تمام مخلوقاتو کې انسان ته برتري ورکړه، خوبصورته شکل مو ورکړ، عقل اوفهم مو ورکړ اومونږ انسان په اوچې اولمده دوارو باندې سور کړو یعنې بر وبحر دوارو مو دانسان په

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خدمت کې ولګول، اومونږ ده ته نفیس شیان ورکړل، یعني دانسان غذا دباقي ځناورو نه بهتره وه اونفیس وعمده ده اومونږ ده ته په خپلو وېرو مخلوقاتوباندې فضیلت ورکړ.
سورت واقعه کې ارشاد باري تعالی دی: ښه داځوولایئ چې تاسو څه کرونده کوئ؛ نو هغه تاسواتوکوئ که موږ یې رازرغونو؟ که موږوغواړو؛ نوهغه به چوره چوره کړو؛ نوتاسوبه ورته حیران دریاني پاتې شئ، چې اوس خومونږوته تاوان کې راغلو، بلکې «داځل خو» بلکل تش نورپاتې شو. ښه! «دې» اوبوته خو وګورئ چې تاسو یې څښئ- ایا داتاسو دوریځو نه راوروئ که ددې ورونکې هومونږ یو؟ که موږ وغواړو؛ نوداوبه ترخې کړو؛ نوتاسو ولې شکرنه کوئ؟ ښه! هم اور وګورئ کوم چې تاسوبلوئ- ایا ددې ونه تاسوپیدا کړې ده، یا«ددې» پیداکوونکي موږیو؟ داخو موږ دنصیحت یوذریعه اوحاجتمندو کسانو ته فایده مند شی جوړ کړی دی (سورة الواقعة: له ۶۳ تر ۷۳ پورې)

دزکات نه ورکولو نقصان:

په یو ایت کې دالله تعالی ارشاد دی چې: دالله په لاره کې خرچ کوئ اوخپل ځان پخپله په هلاکت کې مه اچوئ اوښه کارونه کوئ، یقینا الله تعالی ښه کارکوونکي خلک خوښوي. (سورة بقره)

یعني خرچ کولو سره به برکت وي. مال کې به اضافه وي، په دنیا کې ښه غور سره وګوره کوم یوشی چې هم خرچ کیږي په هغه کې به اضافه والی راځي، کم والی به په کې نه کیږي، لکه اوبه. هوا. غنم همدغه راز دکومو ځناورو چې قرباني کیږي هغه به زیاتیږي، لکه چلئ، غواګاني اوداسې نور..... ددې نه پرته دکومو ځناورو چې قرباني نه کیږي هغه به کمیږي، حالانکې هغه قرباني کیږي هم نه اوکټ کیږي هم نه، کومې اوبه چې بهیږي اوروانې وي هغه به صاف اوشفاف وي. ځکه چې هغه خرچ کیږي اوکومې چې ولاړې وي اوخرچ کیږي نه هغه بدبوداړې شي.

دصحابه کرامورضي الله عنهم اجمعین ایثار:

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِين خپل جان مال سپې معناسره دالله په لاره کې خرچ کړو. له دې وجې دنیا اواخرت په اعتبار سره کامیاب شول، ددې یو مثال وګورئ چې جنګ بدر نه مخکې حضوراکرم ﷺ ته دقریشو دحملې خبرورسید، حضور ﷺ مهاجرینو سره مشوره وکړه: نوهغوی دپوره حمایت اومرستې یقین ورکړ، حضوراکرم ﷺ دري ځله مشوره وکړه اودري واړه ځله مهاجرینو مضبوط جواب ورکړ. مګر دحضور ﷺ دخبرې اشاره انصارو طرف ته وه. له دې وجې دوی دحضور ﷺ سره په دې خبره باندې بیعت کړی و، چې هغوی به مدینه منوره کې دننه دستاسوهرقسمه مرسته اوحمایت کوي اواوس خو خبره دبهر وتلو وه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اچانک دانصارو دطرفه حضرت سعد بن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پورته شو اورامخکې شو اوویې فرمایل چې: حضور ﷺ شاید زمونږ دانصارو رایه اخیستل غواړي، زه یقین ورکوم چې تاسو څه فرمایئ هغه به مونږ کوو، تاسو چې چیرته غواړئ، مونږ بوځي، چاسره مو چې غواړئ جوړو کړئ اوکوم خای مو چې ماتول غواړئ، مات کړئ اوزمونږ مال چې څنګه غواړئ واخلئ کوم چې تاسو واخلئ، هغه به مونږ ته دتولو نه زیات عزیز وي، کوم چې مونږ سره پاتې شي دالله په ذات مې دي قسم وي که تاسو مونږ خان سره "برک غمدان" پورې هم بوځئ؛ نومونږ به ستاسو مرسته کوو اوپه خدای مې دي قسم وي که تاسو مونږ ته سمندرته دکوزیدو حکم هم وکړئ؛ نومونږ به سمندر ته هم کوز شو. دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن په زړونو کې دالله په لاره کې دخرچ کولو جذبه څومره زیات وه دهغه اندازه ددې خبرې نه ولګوئ.

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې یوکس دحضوراکرم ﷺ په خدمت کې حاضر شواوعرض یې وکړ یارسول الله ﷺ! چې ماته سخته ولګه اوتنده ده، حضوراکرم ﷺ دخپل کور نه معلومات وکړل، خولته خو هیڅ پیدانه شول، بیا حضوراکرم ﷺ وفرمایل چې څوک دي چې ددې میلمه میزباني به وکړي، دایې چې وویل؛ نو حضرت ابوطلحه انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پورته شو اوعرض یې وکړ یارسول الله ﷺ! زه حاضر یم، له دې وروسته هغه دامیلمه کور ته بوتلو اووې ویل چې دا درسول الله ﷺ میلمه دی کور کې چې څه هم وي وراندې یې کړه، کور کې لږ شان خوراک و، دهغه له پاره یې دا طریقه وکړه چې ماسخوتن شي؛ نو ماشومان به په څه طریقه باندې ویده کړو اودمیلمه مخې ته به خوراک کیږدو اوډیوه سهي کولو په غرض به ډیوه په بنده کړو، بنځې همداسي وکړل اودوارو بنځې اوخاوند اوبچیو په ولړه شپه تیره کړه، سهار چې کله حضوراقدس ﷺ سره ملاوشو؛ نو وې فرمایل چې: صاحبه الله تعالی درنه ډېر زیات خوشاله دی اودا ایت رانازل شو: "وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْكَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ" (سورة حشر ۵۹آیت ۹)

ترجمه: اوپه خپل خان باندې نورو ته ترجیح ورکوي، اګرهغه خپله ولړې سره وي، که چیرته زمونږ معاشره کې هم داسې جذبه پیدا شي؛ نودلته به څوک سوال غوښتونکي به په نظر رانشي. مګر افسوس چې یوطرف ته دمالدارو سپې هم کُنج اوملائي خوري، بل طرف ته د غریبوبچي سره روتي هم خیټې ډکولو له پاره نه مومي، ددې نتیجه دا راوڅې چې غلا، ډاکه، لاري شوکول په معاشره کې عام شوي دي اودغریب اوامیرپه مینځ کې جنګ شروع دی.

حضرت شاه ولي الله دهلوي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: پوهیدل پکاردي چې زکات کې دوه اهم مصالح دي، اولنی مصلحت تهذیب نفس دی، ځکه چې دنفس اوحرص اوبخل لازم وملزوم دی، حرص دبدترینو اخلاقو نه دی چې انسان په سخت هلاکت کې اچوي، څوک چې حریص وي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مرګه پورې به دهغه زړه په مال اودولت کې انښتی وي اوددې له وجې به عذاب کې مبتلا وي، که دزکات مشق ده کړي وي؛ نو نوحرص به دده ختم شوي وي، چې اخر به ده ته فایده رسوي، انابت اورجوع الی الله نه وروسته معاد کې اخلاق دټولو نه اعلی سخاوت دی. ځنګه چې رجوع الی الله اوانابت اوعبودیت دعا اوعاجزي سره انسان ته عالم جبروت سره مناسبت اوقُرب حاصلیږي دغه اعلی اوکم سخاوت دنیاوي صورتونه اوشکلونه ماتوي. له دې وجې چې هغه دبهیمت ضد دی اوددې اصل دادی چې ملکوتي (فرشتووالا صفات،غالب وي اوبهیمانه صفات په دې سره لاندې شي، بلکه ددې په رنګ کې رنګ شي اوپه هغه باندې هم ددې حکم اطلاق وشي کوم چې په ملکوتي صفاتو باندې کیږي، ددې لاره داده چې مال (ضرورت باوجود دالله په لاره کې تقسیم شي، ظالم معاف کړل شي اوپه مصیبتونو باندې صبر وکړل شي اوددنیامشکلات اوتکالیف داخرت دیقین له وجې اسان اوخوشګوار شي. نبي کریم ﷺ ددې ټولو شیانو حکم ورکړی دی اوددې حدود نبي مقررکړي دي، په دې کې مال خرچ کول هم دي چې ددې برو حدودوقیودوسره وابسته دي اوددې اهمیت دومره دی چې (ایمان اولمونځ سره قرآن کې باربارددې ذکر دی، الله تعالی داهل نار(اور) باره کې فرمایي:

قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ (۴۳) وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ (۴۴) وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ (۴۵)

(سورة المدثر)

ترجمه: هغوی به وایي چې نه به مونږ لمونځونه کول اونه به مو مسکینانوته خوراک ورکاوو اودمشغلي والا کسانو سره به مونږ هم په مشغله کې اخته وو.

ددویم مصلحت تعلق دښار سره دی، له دې وجې چې دلته ضعفاء اواهل حاجت راجمع کیږي، که ددوی داعانت اوهمدردي داسنت نه وي؛ نو ټول به هلاک شي، ددې نه پرته دښار نظام په مال باندې قائم وي اوددې ښارونو حفاظت کوونکي اوذمه دار اودهغه ځای مدبرین اومنتظمین دخپل دې مشغولیاتواوذمه دارو له وجې څه باقاعده ذریعه معاش نه شي اختیارولی، ددوی دمعیشت انحصار په دې باندې وي، مشترکه چاندي اواخراجات نه ټولو له پاره ممن دي اونه اسان له دې وجې رعیت نه ددې مصالحو له پاره رقم وصولول مناسب (دستور دی (ارکان اربعه)

بند؛ حلقه بگوش از بنوازی برود لطف کن لطف که بیگانه شود حلقه بگواش (سعدي)

ظفر آدی نه اس کو جانئے گا هو وہ کتنا ہی صاحب و فهم و ذکا

جسے عیش میں یاد خدا نه رہا جسے طیش میں خوف خدا نه رہا

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دزکات معنا:

دزکات لغوي معنا طهارت او پاکیزګي اوزیاتیدل دي، شریعت کې دي ته وایي چې: کله دمال یو متعین مقدار مقرر شي! نوبوه مخصوصه برخه دالله په لاره کې ورکول، زکات ادا کولوسره باقي مانده مال پاک شي، په دې کې دالله تعالی له طرفه برکت اواضافه وشي اواخروي اجر اوبدله هم ملاویږي، زکات سره په بنده کې بُخل ختم شي اوالفت اومحبت په کې پیدا کیږي، ځنګه چې په سابقه امتونو کې لمونځ فرض و، همدغه راز زکات هم امت محمدي ﷺ په خیر نورو امتونو کې فرض و، قرآن مجید کې ۳۲کرته دلمونځ سره دزکات ذکر راغلی دی، قرآن پاک کې خداوند قدوس زکات ادا کونکو ته دنیاوي اواخروي اجر اوثواب اوسعادت اونیک بختي دلکش اوریښتیني وعدوسره سرفراز فرمایلي دي اوددې ادائیګي نه کوونکي خلکوته یې دسخت عذاب خبر ورکړی دی چې خدای ګواه دی چې داهل ایمانو زړونه ددې تصور نه هم ویریږي، څومره بدبخته دي هغه خلک چې ددې اهم فریضې دادیګي نه ځان ساتي اودې عذابونو برداشت کولو ته تیار دي. (العیاذ باالله)

دخرچ کولو فضیلت:

عن ابي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال: قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لو كان لي مثل أحد ذهباً لسرني ان لا يمر علي ثلاث ليال وعندي منه شيء الا شيء ارصده لدين. (بخاري)

ترجمه: حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: که له ماسره داُحد غر برابر سونا (سره زر) وي؛ نوماته دا مناسبه نه ده چې درې شپې پرې تیري شي اوهغه توله سونا، یا ددې څه برخه علاوه بقدر اداء قرض به ما سره موجوده وي.

تشریح: مطلب دادی که له ما سره داحد غر برابر هم سونا وي؛ نو ماله پاره ټولو نه خوښه خبره داوه چې په درې ورځو کې دننه مې دا په خلکو کې تقسیم کړي وي، په دې کې به ما خان سره هیڅ هم نه وي پریښي، هودومره به مې ضرور خان سره ساتل چې په هغه سره مې خپل قرض ادا کړي وي. ځکه قرض ادا کول دصدقې نه مخکې دي.

دې ارشاد سره چیرته چې درسول الله ﷺ انتهایي سخاوت اوفیاضي مخې ته راځي، هلته دا خبره هم معلومیږي چې کوم خلک دخپل مال وزر خیرات وباسي دخدای په لاره کې خرچ کوي اودخپل آسائش ذرائع هم خان ته مهیا کوي. مثلاً: عالیشان بلډنګ جوړوي، بنګلي جوړوي، یا داسې نور قسم دزندګي آسائشونو له پاره بې تحاشه مال خرچ کوي، مګر ددوی په ذمه باندې دنورو خلکو حقوق وي، هغه خو ددوی حقوق ادا به څه کوي چې بالکل هغوی طرف ته هډو توجو هم نه ورکوي؛ نودابنه خبره نه ده. بلکې شرعا انتهایي غلطه خبره ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شریعت او اخلاق نه، بلکې انساني عقل و دانش او همدردیې په بنیاد باندې هم داخیره مناسبه نه ده چې یو بنده دې د حرص ګوداګی جوړ شي او خپلې خزانې ډکوي بې جا مسوازي او د مال وزر انبار بې لګولی وي او د سوني اوجاندیې خزانې بې جمع کړي وي. مګر یو بل بنده ده د مسترګو وړاندې دیوې ډوډۍ هم محتاجه وي او دده د خزانې خوله هم کولاو نه شي، یو غریب دلوړې تندې دلاسه ساه ورکوي، مګر دده په زړه کې دومره ترس نه وي چې دې غریب ته یوه لقمه ورکړي او مرګ نه یې بچ کړي، چې هاو ادنې سبا په دې دور کې چیرته چې سوشلزم والا مساوات او انساني درورولي او همدردیې نعرې هر وخت وهي، څوک نه ګوري چې مال وزر خپل ادنا شان خواهش له پاره د خپلو خزانو خولې کولاوي، د خپل خان له پاره د سرو سپینو بخت لګوي او که دلوړې تندې دلاسه بې حاله غریب دده مخې ته لاس ونیسي؛ نو دده په تندې باندې کرلې رانښکاره شي او دده د خولې نه د نفرت او حقارت الفاظ وخي، د غه شقي القلب انسان دانه ګوري، که معامله برعکس وي؛ نو دده جذبات واحساسات به څه و؟

لهذا د دې مال دولت په جنګ کې یوازې موجوده مسلمانانو له پاره نه، بلکې پوره انساني برادرۍ له پاره دا ارشاد یو دعوت عمل او مینارہ نور دی. (مظاهر حق)

حکایت:

شیخ سعدي رحمه الله، یوه واقعه په بوستان کې لیکلې ده چې دیو کنجوس (بخیل) زوی د پر زیات سخي و. د پلار د وفات کیدو نه پس ټول مال دده لاس ته ورغی هغه ښه په خلاص مت خرچ کول شروع کړل. یو سوالګر به هم دده د دروازې نه خالي لاس نۀ ته اونه به یې یو ضرورت مند مایوسه کاو. د هغۀ دا بې دریغه خرچ چې یو دوست ولیده نو ورته یې وویل چې: دامناسبه نه ده چې کوم مال په کال شپږ میاشتو کې پیدا کیږي هغه ته په یوه ورځ کې لوټ کړي. آیا تا هغه نصیحت نه دی اوریدلی کوم چې یوې زنانه خپلې لورته کړی دی؟ هغې ویلې وُ چې لوري، چې کوم شی تاته په خوشحالي کې مهیا دي هغه د تکلیف له پاره هم وساته تا لره پکار دي چې خپل منګي داوبونه ډک وساتي ځګه کوم نهر چې کلي کې دی هغه سر و کال نه بهیږي برخوردار ته په خپل مال سره فقیران مالداره کولی نه شي، البته داویره شته چې ته خپله فقیر شې. د سخي خوان چې دا خبره واوریده نو په خفګان یې دا خبره وکړه، اې نادان ناصحه! د کوم مال چې ته ما ته د حفاظت نصیحت کوي د دې باره ماته زما پلار ویلي وُ چې هغه دا د خپل پلار نه حاصل کړی وُ. ظاهره ده چې هغه دا مال په خبسته خبسته جمع کړی وُ لیکن بالآخر دبل له پاره یې پریښوده. بالکل دا معامله ما سره وشوه، زه به یې هم خپلو بچو ته حواله کوم نو چې حقیقي صورت حال دادی؛ نو ولې یې خپل حقدارو ته نه حواله کوم، په داسې کولو سره به کم از کم دافائده خو وي چې په آخرت کې به ماته د دې اجر ملاویږي محفوظ ساتلو سره به د حسرت نه پرته بل څه په لاس نه راځي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سخي له پاره دفرښتو دعا:

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايي کوي چې رسول الله (ﷺ) وفرمايل: دسهار په وخت کې دوه فرښتي راکوزيږي. په هغو کې يوه فرښته سخي له پاره دا دعا کوي "اللهمَّ اعط منفقاً خلفاً" اې الله! خرچ کوونکوته بدله ورکړه. (آمين) يعني کوم بنده چې په جائز ځای کې مال خرچ کوي هغه ته دهره لويه بدله ورکړي. په دي طور باندې يا خو په دنيا کې ده ته دخرچ شوي مال نه زيات مال ورکړه يا په آخرت کې اجروثواب ورکړه. اودويمه فرښته (بخيل له پاره دابددعا کوي) اللهمَّ اعط ممسکا تلفا. اې الله! بخيل ته تلف (نقصان) ورکړې. يعني کوم بنده چې مال ودولت جمع کوي اوپه جائز ځای کې يې نه خرچ کوي، بلکې يې محله يې خرچ کوي نودهغه مال تلف اوضائع کړي؛ نودهغه مال تلف اوضائع شي.

دسخاوت حکم:

حضرت اسماء وايي چې: رسول کريم (ﷺ) وفرمايل: کوم ځای کې چې د مال خرچ کولوباندې الله راضي کيږي هلته خپل مال خرچ کړه اودامه شماره چې ځومره خرچ کړم اوځه خرچ کړم. ګني الله به هم ستا متعلق شمارل شروع کړي (يعني دې وجې نه به الله تعالى ستا په مال کې برکت ختم کړي اوستا رزق به کم کړي اودسې به دا ډيو محدود اومعدود شي پشان کړي يا دا چې الله تعالى به ستا دمال وزر باره کې دقيامت په ورځ تا نه ددې شيانو پوښتنه کوي. اوکوم مال چې ستا دضرورت نه زيات وي هغه دحاجتمندونه مه منع کوه. ګني الله تعالى به ستا په حق کې خپل زائد (عطا وبخشش) بند کړي. ورسره ستانه چې څه هم کيږي دالله تعالى په لاره کې خرچ کوه.

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درسول الله (ﷺ) نه روايت کوي چې: کله يو بنده خپل مال (دالله تعالى پوازې پاک مال خوښوي) څُخه څه صدقه وکړي؛ نوالله تعالى يې په نبي لاس باندې اخلي که څه هم هغه دکجوري په اندازه وي نو دالله تعالى په لاس کې زياتيږي اوداسې زياتيږي چې دغربرابرشي. څرنګه چې تاسو کې يوکس دخپل غوا يا دچېلى. دبچې پرورش کوئ

دالله په لاره کې دمال خرچ کولوبرکت:

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې: رسول الله (ﷺ) وفرمايل: چې: يو بنده په خلاص ميدان کې روان وُ چې هغه دوريځې نه يو آواز واوريده چې دفلاني باغ خروب کړه چنانچې وريځ دخپل ځای نه يو مخصوص مقام ته لاړه او ووريده. هلته يو تالاب وُ دا باران په دې تالاب کې جمع شو دابنده دې باران پسې تلو آخر چې هغه مقام ته راورسيده يو بنده ولاړ وُ چې په دې اوبو سره خپل پټې خروب کوي، دې بنده تري پوښتنه وکړه چې ستاسو څُه نوم

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دی؟ هغه نوم یې ور وښوده کوم چې یې دوریځې نه اوریدلی و ، هغه بنده پوښتنه وکړه چې تا زما دنوم پوښتنه ولې وکړه، هغه ورته وویل چې ماستا نوم د وریځې نه واوریده ستا داسې کوم یو عمل دی؟ هغه وویل زه دخپل پیداوار یوه برخه صدقه کوم اوپه یوه برخه باندې دخپلو مال بچ پرړس کوم اویوه برخه دوباره په دې پتې کې لګوم

د زکات نه ادا کوونکو خلکو سزا:

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت کوي چې حضوراکرم (ﷺ) وفرمایل: چې چاته الله تعالی مال ورکړی دی اودخدای په لاره کې یې ورنه کړي؛ نو دامال به دقیامت په ورځ باندې دمار په شکل کې چې دوه ژبې به یې وي ددې انسان په څنګ کې واچول شي. هغه مار به دا انسان په خپلو دواړو ژامو کې ونیسي او وایي به چې: زه ستا مال یم، زه ستا مال یم زه ستا خزانه یم. بیا نبي (ﷺ) دا آیت تلاوت کړ: "وَلَا یَحْسَبَنَّ الَّذِینَ یَبْخَلُونَ...الخ".

دحضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه یو روایت دی چې: رسول الله (ﷺ) وفرمایل: کله چې دمال غنیمت مال دلوټو مال جوړ شي اوامانت مال غنیمت جوړ شي، زکات تاوان اوجرمانه جوړه شي اوعلم دغیردین له پاره زده کړل شي،خاوند دخپلې ښځې فرمانبرداري شروع کړي،دوست نژدې کړي،پلار لرې کړي،په مسجدونو کې آوازونه اوچت شي،دقبیلې سرداري دټولو نه زیات فاسقه انسان په لاس کې راشي اودقوم سردار هغه وي کوم چې دټولو نه زیات رزیله وي.دبنده عزت یوازې دهغه دشر نه بچ کیده له پاره وشي.سندرې اوسرود عام شي شرابونه څښل شروع شي اودآخري زمانې خلک په اوله زمانه خلکو باندې لعن طعن وکړي: نو دې وخت کې انتظاراوکړ دسیلی،دزلزلو،په ځمکه دخښیدو،مسخ کیدو،دآفاتو یو بل پسې پرله پسې راتلواودخدای دنشانوداسې ظهور وي لکه چې یوه لړۍ وشلیږي اوپرله پسې دانې ترې راپریوځي (ارکان اربعه)

د سود مذمت:

سود حرام دی اوسود خورو سره دالله تعالی اعلان جنګ دی، دالله تعالی ارشاد دی: الله تعالی سود خنثوي اوصدقات زیاتوي. الله تعالی څوک کفر کوونکی بنده دوست کوي نه، سودي کاروبار کوونکي بنده باندې دنیا وآخرت کې بربادي ده.

دحضوراکرم (ﷺ) فرمان دی کله چې په یو قوم کې دسود رواج عام شي نوهغه قوم په قحط کې مبتلا کیږي اوکله چې په یو قوم رشوت عام شي نوهغوی په رعب کې گرفتاره شي اودایې هم وفرمایل چې الله لعنت والیږي سود ورکوونکي،اخستونکي اولیکونکي باندې اوصدقه نه ورکونکي باندې دایې هم ارشاد وفرمایه چې: کله الله تعالی یو قوم تباه کول غواړي نوپه هغوی کې سود عام کړي. نظام زکات پریښودو سره مسلم حکومتونه برباد شول .اسلامي

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ممالکو کې سخت انتشار جوړ شو ،مسلمانان دشریعت دبرکتونو نه محرومه شو اود دې سزا ده چې دوی د ظالمانه سرمایه داري،پرفریبه سوشلزم اوانتها پسندانه اوغیر متوازن کمیونزم مزه څکي.

پاکستان:

پاکستان د جنګ ازادی په بنیادباندې حاصل شو اوانګریزانو نه آزادي حاصلولوله پاره مسلمانانوعظیمې قربانی ورکړې،مګرانګریز تلو سره خپل اثرات پرینبودل اودانګریز غلام اونام نهادمسلمان حکمران داسلامي نظام عدل قائمولو په خای باندې تورقوانین پرینبودل.دانګریز نقال جوړشو،شراب عام شو،سینما اوتهیټر خای په خای باندې جوړشو،دبدکاریو ادې چوړې شوې اوبدکارو ته لائسنسونه جاري شو،نظام زکات په خای باندې سودي نظام بینکونوکې داخل کړل شو،قادیانان اودوښمنان صحابه رضی الله عنهم بې په نه سیتونو باندې کینول،دشعائر اسلام توهین وشو.دعلماوو اوبزرګان دین اهانت وشو، نتیجه دا را ووته چې نن موږ ذلیل شو،که چیرته داملک بیخ کول وي اوداسلامي ممالکوله پاره یوه نمونه جوړول وي؛ نو دقرآن قانون به نافذ کول وي اودې له پاره به قرباني ورکول وي. عیش وآرام به قربانول وي.خرنګه چې ماهی داوبو له پاره بې تابه وي دغه راز آخرت دپار بې قراره به مقصدګرځول وي.دې وجې نه چې مال دزګ پشان دې اوکنکرو اوټیکرو پشان بې وخته دي. که چیرته موږ د دین حقه دنفاذ له پاره قرباني ورنه کړه؛ نودالله په حضور کې به غټ مجرمان شو.لیکن اسلامي قانون نافذ کولوله پاره به موږ ته دحضور ﷺ طریقه خپلول پکار وي. مکي زندګي کې نبي کریم ﷺ دخلکو په زړونو باندې محنت وکړ اومدني زندګي کې بې باقاعده نظام حکومت جوړ کړ، اسلامي قوانینو دنفاذ له پاره اول به خپل خان داسلام دعمل له پاره تیارول پکار وي، دقول وعمل تضاد به ختمول وي. اوخپل خان به مثال جوړول وي اسلامي قانون سره به ملک نه بیروزګاري اوګراني ختمه شي، تحفظ به ملاؤ شي اوظلم به ختم شي.غلا ډاکه،لارشوکول به ختم شي،بیمارياني به ختمې شي،سکون امن اوعافیت به راشي ،تعصب به ختم شي. یوه مثالي معاشره به قائمه شي،دغیر قومونورعب اوتسلط به ختم شي.آسمان او ځمکه باندې به دبرکتونو دروازې خلاصې شي.

چے باید مرد را طبع بلند و مشربے نابے دل گرم زګاه پاک بینی جان بے تابے
اندر کے پیش تو گنتم غم دل ترسیدم که تو آرزده شوی ورنه سخن بسیار است

الله تعالی دې موږ ته د صحیح مسلمان جوړیدو توفیق راکړي..(آمین یارب العٰلمین)

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شعبان المعظم دمیاشتې څلورمه خطبه:

توحید باري تعالی

توحید باري تعالی بنیادي اواساسي عقیده ده چې دهغې نه پرته یو عمل به قابل قبول نه وي. نه لمونځ، نه حج، نه زکات اونه روژه،غرض داچې د هر عمل دقبولیت له پاره بنیادي شرط د توحید عقیده صحیح کیدل دي. دالله تعالی ذات اول هم آخر هم، کله چې هم څوک نه ؤ :نو الله ؤ اوکله چې هم څوک نه وي؛ نو الله تعالی به وي،هغه په خپل قدرت سره کائنات ته وجود ورکې، دهغه په حکم باندې هر یو کار کیږي بیمارانو ته شفا ملاویږي نودهغه په حکم سره اولاد ورکوونکي عزت اوذلت ورکوونکي دنفع اونقصان مالک،دمرګ اوژوند مالک دهغه په مخکې هر صورت کې لاس غوړول پکار دي.دژبو داختلاف باوجود دهرچا اوري اودبیقراره دعا قبلوي، هغه دسوال کوونکي سوال نه رد وي، هغه د اطاعت لائق دی، لکه څنګه چې بې خپله ارشاد فرمایلی دی:

"یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَۙ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً ۪ وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ"

(پ۱بقره آیت۲۱تا۲۲)

ترجمه: اې خلکو! دخپل رب عبادت وکړئ چاچې پیدا کړي یئ اوهغه خلک هم کوم چې تاسو نه مخکې.تېر شوي دي، دي له پاره چې ته ددوزخ نه بچ شې، هغه (داسې پاک ذات دی،چې هغه جوړه کړه تاسو له پاره ځمکه فرش اوآسمان چت، او له آسمانه یې باران په تاسو نازل کړ اوبیایې تاسو له پاره میوه راوویسته،نوالله سره شریک مه ګرځوئ اوتاسو ښه پوهیږئ دالله کرم اورحمت دکائنات ذري ذري ته حاوي اوشامل دی.

تو دل میں تو آتا ھے سمجھ میں نہیں آتا بس جان گیا میں تیری پہچان یہی ھے

الله اسم ذات دی دفارسیانو پشان خدا اوانګریزانو پشان ګاډ (God) نه دی.چې نورو له پاره هم وویل شي، په تاج العروس کې دالله تعالی تعریف داسې بیان شوی دی."علم لذات الواجب الوجود المستجمع لجمیع الصفات الکمال"یعنې الله دهغه ذات نوم دی چې واجب الوجود دی اودتماموصفات کمال جامع دی چې په هغه کې تمام کمالات دصفات موجود وي هیڅ قسمه عیب نقص اوکمزوري پکې نه وي.دالله تعالی ذات متعلق حضور(ﷺ) ارشاد دی :"ماعرفناک حق معرفتک"یعنې اې الله! ستا دذات چې کوم دپیژندګلو حق دی، مونږ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ونهٔ پیژانده دالله پشان بل شی نشته هغه بې مثاله دی ''لیس کمثله شیٔ ولم یکن له کفواً احد'' دهغهٔ هیڅ څوک همسر نشته

حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ فرمایلي: ''العجزعن درک الادراک ادراک'' دالله ذات عظیم دی چې دهغه دذات ادراک نه کول دالله دذات ادراک (موندل)دي. الله زمونږ په نزد باندې هرشي ته قریب دی ''نحن اقرب الیه من حبل الورید'' وېې فرمایل چې: زه شا رګ نه هم زیات قریب یم الله مونږ ته نژدې دومره دی چې مونږ ته نهٔ ښکاري لکه سترګه خپل ځان ته اوهرزیات قریب شی ځوک نه شي لیدلی،دکتلو له پاره فاصله پکار ده. همداسې هم په سترګوباندې دالله کنل محال دي،په لمر باندې هم لږشان نظر اچول کیږي،بیا دلمرونو په خالق به ځنګه نظر واچول شي. البته ځنګه چې دلمر درنا نه دلمر پته لګیږي،دغه راز زمونږ اودلمر په مینځ کې چې کله پرده راشي نودلمر وجود غائب شي دغه راز کله چې زمونږ اودالله په مینځ کې پردې ختمې شي؛ نودالله تعالی علامې ونشانیاني رابنکاره شي.

جدھر دیکھتا ہوں، جہاں دیکھتا ہوں تجھی کو اے جان جہاں دیکھتا ہوں

''وَفِي الأَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوقِنِيْنَ وَفِيْ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ''. (القرآن)

اوپه خمکه منونکو له پاره«دقدرت»نشاني دي اوخپله ستادننه هم نشاني دي آیا ته بې بیا هم نه وینې،خپل اصلیت اوانجام ته دسوچ اودخپل ګردوپیش داسې شیان چې دانسان جوړ نه دي.سترګې چې خلاصې کړئ او ګورئ نو دالله شان پوهه کې راشي.اواسلام په دې غوروفکر سره دالله پیژندګلوکوي.حضرت علي رضی اللہ عنہ فرمایي: ''مَنْ عَرَفَ نفسه عرف ربه'' دالله دمعرفت لاره داده چې چاخپل ځان وپیژانده هغوی پروردګار وپیژانده.یعنې انسان په خپل پیدائش کې غوروکړي چې څومره ګنده قطره چې یو معمولي شان جراثیم دی چې بغیر دخوردبین نه یه نظر هم نهٔ راځي په دې سره الله تعالی ځنګه دمورپه خیټه کې وینه ټینګه کړي ده. بیایې دغوښې ټکړه جوړه کړه.بیا په هډوکي باندې دغوښې جال خور شو، بیا الله تعالی په خپل قدرت کامله سره غوږ،پوزه،سر،ژبه،لاس،پښه،زړه،ځیګر،معده،قوت فهم داوریدوقوت،ویلو قوت وغیره ټول په خپل قدرت سره جوړ کړل،بیا یې دمور په خیټه کې دخوراک انتظام وکړ بیا یې په دنیا کې د مور دتیو پی،دبچي دپرورش له پاره جاري کړلې،بیا یې دانسان دننه جسماني اوروحاني طور باندې یې پناه صلاحیتونه کیښودل، دالله بنده ګان دي دالله دبنده ګانو سره دالله داحکاماتو مطابق سلوک کوي.نودالله په خزانه کې نه دآسائش بدن دسامان کمی دی اونه دآسائش روح، رزق ټول عمر په آسانتیاسره ملاویدای شي.خومره آسانتیا سره چې دوه کاله دامیر وغریب ته ملاویږي.انفس آفاق کې دالله تعالی بیشمیره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ښانيانې پرتې دي. چاچې دانشانيانې وکتلې او ولوستلې اوبيا يې هم الله ونه مانه اوپوره زوند يې په تذبذب. شکونو او بې يقينۍ عالم کې تېر کړ. هغه دټولو نه لويه بيوقوفي اوجهالت ثبوت ورکړ. مبارک دي هغه خلک چا چې داعارضي ژوند دالله تعالى دقانون لاندې تېر کړ اوابدي زندګي يې حاصله کړه دعلوم وفنون دي وسعتونو اوتهذيب وتمدن دې تيزې ډګر انسان خداشناس جوړ کړ. کرور بار دالله پناه دانسان کمال خوښ دخپل مالک پېژندنه اوده تابعداري کې ده.

ذھونڈھنے والا ستاروں کی گذرگاھوں کا — اپنے افکار کی دنیا میں سفر نہ کرسکا
اپنی حکمت کے خم وپیچ میں الجھا ایسا — آج تک فیصلہ نفع وضرر کر نہ سکا
جس نے سورج کے شعاعوں کو گرفتار کیا — زندگی کی شب تاریک سحر کر نہ سکا

دالله تعالى نښې:

مولانا عبدالقيوم ندوي دالله دقرآن نښې بيانوي، دسائنس ترقي سره دا حقيقت رابنکاره کړي چې دکائناتو په دې نظام کې څومره هم آهنګي حکمت اودانائي اوباريکي ده. اودا پوره کارخانه ديو ناګهاني واقعې يا اتفاقي حادثې په سبب باندې هرګز وجود کې نه شي راتلى ددې څوک خالق،صانع،فاطر اوجوړونکى ضرورشته، روس ته دالله دطرفه دا مهلت ورکړل شوى دى اويه هغوى دحجت دا اتمام شوي دى چې دسائنس دا ايجادات به دډوى سترګې خلاصې کړي اوهغوى به دجهالت اوبې يقينې دتيارو نه راووځي اودعلم ويقين په رڼا کې به راشي که نن هم روس په انکار باندې ټينګ ولاړ ؤ اودجهالت اوبې يقينې پردې لرې نه شوې؛ نوددوى دجهالت اوهټ دهرمي اوخدا شناسئې نه يو طرف پوهه دنيا به تري دبيزارې اظهار وکړي اوبل طرف ته خومره عجيبه ده چې دوى سره داقوام بائده،عاد، ثمود پشان سلوک وکړل شي اودالله دپاکړ مخې ته ددوى ټول طاقتونه پيچ پاتې شي، هيڅ شک نشته چې دسائنس ايجادات دډبر حيران کن دي، مګر بنده چې د خپل وجود په ترکيب اوساخت باندې غور وکړي اوخپل خان دغور اوفکر موضوع جوړه کړي؛ نو دسائنس ايجادات به هيڅ په نظر راشي دانسان دحافظې قوت واخلې په دې لړ شان دماغو کې چې دهغې حجم په وجود کې يو څوسنتي ميټرونه پرته هيڅ نه دى آخر څه قسمه فيته پکې کيښودل شوي ده چې په هغې باندې په زرګونو نه. بلکې په لکونو شيانو نومونه اوشکلونه اوآوازونه ريکارډ کيږي اوډډحيرت خبره داده چې په زرګونولکونوشکلونه آزاونه ګډوډيږي نه، بنده ته چې کله ټيل اوشمه مخې ته راوړل شي: نو په کتو سره فوراً هغه شناخت کولى شي دبنده جسماني ساخت اودغوي تشکيل. دسائنس دايجاداتونه هزارګنا حيرت انګيز دي دبنده برتري ددې نه ثابته ده چې هغه شيان ايجاد کوي کله چې دايجاداتو دحيرت انګيزي داحال دي نوددې مؤجد نورهم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حیرت انګیز پکاردی. داسلسله نوره هم مخې ته بوځي دایجاد وتخلیق واله سلسله دانسان په ذات باندې نه خټیږي انسان راکټ اوسیارې جوړې کړي؛ مګر له څه شي یې جوړ کړي؟ هغه شیان. مټیریئل .مواد خو انسان نه دي پیدا کړي، داخو الله تعالی پیدا کړي ؤ دده مسئلې دترتیب آغاز دالله تعالی دپیداکړي شویو شیانو اوقوتونو نه کیږي کوم انسان چې دالله تعالی جوړ کړي شوي قوتونه،توانایي،اوخام مال نه کار واخیسته دایې خواره کړل اوجوړ بنت یې ورکړ اومنظم اومرتب اوایجاد یې کړل؛ نودغه انسان خو هم دالله تعالی مخلوق دی. هغه ذات خومره عظیم پُرجلال باجبروت اوعلی کل شیئ قدیر وي چې هغه دانسان تخلیق وکړ. هغه انسان چې دهغه ایجادات په لمر سپوږمۍ باندې خپله لمن اچوي حسن کمال اودتخلیق شروع کولو سرچشمه اومرکز دالله تعالي ذات دی چې هغه احسن الخالقین اوخیر الرازقین دی.دهغه حکمراني ده دهغه لوی والی دی اودهغه په حکم باندې چلیدل دي اودهغه فرمان مخې ته خپل سر ټیټول دانسان اولین فریضه ده چاچې الله ونه مانه اویا یې ومانه خو دهغه په احکامو باندې ولاړ نه، که څه هم هغه داوود براعظم بادشاه وي اودهغه ایجاد په لمر سپوږمۍ سینه شلوي نو داسې خدا ناشناس اونافرمانه بنده دهیڅ قسمه اعزازاوشرف مستحق نه دی،حقیقي شرف اوعزت خو ایمان بالله اوبالرسالت سره خاص دی. ځکه چې چېرته ایمان نه وي هلته تیارې اوجهالت وي چېرته چې عمل نه وي هلته فساد وي.دسائنس دې حیرت انګیز ترقو باوجود نن په دنیا کې دفساد اوجهالت دور دوره ده.موږ دالله په فضل سره دایمان تقاضو اودعمل تقاضو باندې پوهیږو، الله اورسول منو اوپه آخرت باندې یقین لرو اواسلام اویوازې داسلام نظام حق باندې پوهیږو.زموږ فرض دي چې ددنیا اوراني په جوړولو سره،فساد په صلحې اودوستۍ سره،اوجهالت په علم ویقین سره بدلولو کوشش وکړو.اودالله تعالی رالیږل شوي نور قرآن په ذریعه باندې تیاره دنیا روښانه کړو.

اندازبیاں گرچے بہت شوخ نہیں　　شاید کہ اتر جائے میرے دل میں میری بات
یا وسعت افلاک میں تکبیر مسلسل　　یا خاک کے آغوش میں راتوں کو مناجات

قرآن کریم قدم قدم باندې خلکو ته دغوروفکر اوتدبرعقل وفهم نه دکار اخیستو باره کې تلقین کوي. په دنیاوي معاملاتو کې هم اوپه اخروي حالاتو کې هم ددې بار بار دعوت وفکر مسلمانانو کې چې چېرته لوی لوی صوفي وصافي مجاهد ،جرنیل،فاتح،حکمران عالم،عابد پیدا کړي دي هلته یې لوی لوی سائنسدانان اوفلاسفه،مهندس،اوهیئت دان اوانجنیر او ډاکټر طبقات الارض ماهرعالم دغورنو پوهه دان،دنباتاتوفاضل،دجماداتو محقق حیواناتو باندې غورکوونکي دانسان دنفس نباض،دهواګانو ماهردسمندرونو اودهغو دمخلوقاتو عالم هم پیدا کړل بیا چا په ځمکه کې پټو رازونوتلاش کولو کې وخت تېر کړ اودعلم طبقات

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

الارض بنیاد یې کینبودہ چادغرونوتحقیق،دکانو ساخت،رنګ،خواص وغیره ټې جانچ پرتال کې عمرتیرکړ اوهغه دعلم الجبال مؤجداوباني شوچادونو بوټو جړو خواص وافعال معلوملوکې ژوند تیر کړ،اوهغه دعلم نباتات دایجاد سبب جوړ شو. چادخناوروتحقیق خیل یلمې مرکز وګرځاوایه دې کې یې ټوله زندګي تیره کړه اوعلم الحیوانات ته یې باقاعده وفن مرتبه ورکړه.غرض داچې خمکه یې وکنستله،دغرونوسینې یې وشلولې. د سمندرونو پیځ ته لاړل.دخنګلونو یوه یوه ونه یې وکتله،دسپوږمی لمر اوستورو یو یو ګردش او حرکت یې ناپ کې،ګرمي، یخني، تري او هوا،اوبۀ، اور،خاوره،اوکوم خای ته هم چې د انسان رسایي وه،هریو یې دخپل غوروفکر نشانه جوړه کړه بیا ددې نه چې خومره فائدې حاصلیدې حاصلې شوې او نوع انساني دفائدې له پاره چې خومره سبق ملاویده ملاؤ شو اوداالله مخلوق ته فائده رسولو کې یې ذره برابر کمی نه دی کړی،دغه راز دخالق حقیقي اوداالله تعارف یې وهغوی مخلوق سره وکړ،سینې دایمانونونه ډکې شوې اودماغ دعقل اوعلمونونه روښانه شو "وَبِنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا" (پ۴سورۃ ال عمران) اې زمونږ ربه! تاسو په دې کې یو شی هم بې کاره نه دې جوړ کړې.

نن هغه مسلمانان چې یوازې مسجد ته حاضري داسلام اوایمان دټولو نه لویه مرتبه ګڼي اوتسبیح ووظائف خپله آخري کارنامه ګڼي د اسلافو دنمونوسره هیڅ قسمه مناسبت نه لري ، کائنات اوهغو په کارنامو باندې غور نۀ کول قرآن کریم باندې ظلم دی اوخپله خان باندې هم ظلم دی په خپل قوم باندې ظلم دی اوپه ټول کائنات باندې ظلم دی.(الله کی قرآنی نشانیاں) عجائبات عالم باندې غوروفکر،دالله په صفاتو باندې غوروفکر اودخپلې زندګي په هره یوه معامله باندې غوروفکرکول ډېر لوی شی دی؛ مګر دې سره اصلاح نفس اوتربیت نفس هم ډېر ضروري دی،ددې له پاره دمساجدوحاضري،د الله ذکر اوقرآن کریم تلاوت کیدل هم ضروري دي اګر که مسلمان په سائنس کې پرمختګ وکړي نو داډېره لویه خبره ده ؛مګر هغوی دکافر ټوټونو مخې ته داحساس کمتري ښکار نه وي، خپل معاشرت اوتهذیب پریږدي اودغیرو تهذیب وتمدن نقالي شروع کړي؛ نودهغه لباس اوچال چلن سره محبت شروع کړي نوداسې مسلمانان به ذلیل وخوار وي، صحابه کرام (رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) خو څه سائنسدانان نۀ وۀ،ناخوانده وۀ لیکن دلیک لوست واله دنیا ددوی غلامه جوړه شوه.ددولت وحشمت حکومت ددوی په پښو کې راغې دي وجې نه چې هغوی به ایمان پاخه وۀ،که مونږ په صحیح معنا باندې مسلمان شو،نوانشاء الله دا غیر مسلمه سائنسدان به هم مسلمان شي مګر افسوس چې نن مسلمان دایمان وعمل لاره پریښې ده اویوازې ددنیا په لاټن باندې د کافرو سره مقابله کې اخته دي اویقیناً دا خام خیالي ده، که د دنیا وآخرت کامیابي غواړې نو ایمان به اول دخپل عمل وکردارنه مضبوط جوړول وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د مسلمانانو ایجادات:

«د قرآني نشاناتو په حواله، کله چې مورږ قرآني رښا باندې کائناتو کې غور وکړو، نو په مورږ «مسلمانانو» کې داسې هم پیدا شو چې هغوی دنیا ته کاغذ ورکړی ؤ. حالانکې دې نه مخکې دنیا دکاغذ سره آشنا نه وه. نن چې په دنیا کې کوم کتاب او کومه رساله او اخبار راوخپرېږي، هغه زمورږ «مسلمانانو» ابتدایي احسان نه غافله کیدای نه شي.» (تفسیر طنطاوي)

توپ او توپک هم زمورږ «مسلمانانو» ایجاد دی. «التمدن»

اسلامي جرجي زیدان ص(۲۰۰) کې ایجاد سهراهم د مسلمان په سر ده. خلیفه هارون الرشید عباسي خپل دوست شاه فرانس «شارلمین» ته یوه ګړۍ په تحفه کې لیږلې وه چې په هغې کې په کله یوه بجه شوه نو یوسور کس به پکې راښکاره شو. او دغه راز چې کومه ګنټه به کیده، نو هغومره سواره به پکې راښکاره کیدل. دې ایجاد سره هغه وخت کې پوره یورپ حیران و. ابوالندا نومې یو سائنسدان جرثقیل ایجاد کړی ؤ چې هغه سره به غرق شده جهاز راووت. همدوی قطب نما ایجاد کړه چې هغې سره جهاز راتې فن آسان شو. د دورعباسي یوبل سائنسدان ابوالقاسم اندلسي د هوایي جهاز مؤجد ګڼل کیږي. هغه په خپل ایجاد کرده هوایي جهاز کې سفر هم کړی ؤ، مګر پوره کامیابي ورته نه ده ملاؤ شوې، دغه راز د هوایي ډاک سهرا د یعقوب بن قیس وزیر سلطنت په سر ده. داټول ایجادات د قرآني غوروفکر نتیجه وه چې هغه ته یې ترقي ورکړې او اهل مغرب خپله کړه. «مقدمهٔ تفسیرجوهري ص۱۳۱»

د یادنما مؤجد هم مسلمان ؤ. د جامع مسجد دمشق په مناره باندې یو داسې آله لګیدلې وه چې خپله به یې د هوا رُخ بنوده، کوم خوا چې به هوا وه هغه خوا به تاویده.

د طبل قولنج شیر ما دیلمي یوه داسې آله ایجاد کړې وه چې د هغې غږولو سره به د ختې درد ختمیده. دا د مسلمانانو په ډاکټري کې د اعلی مهارت ثبوت ورکوي.

آبدوز مکان نن سبا د آبدوز کشتی نه زیات حیران کن دی، مګر د دې مؤجد هم مسلمان دی حکیم علي ګیلاني د هغه اکبري نامور سائنسدان دی، ده د خپل کور په صحن کې یو لوی حوض (تالاب) جوړ کړی ؤ چې په هغه کې یې یوه کمره داسې جوړه کړې وه چې هغه به هر طرف نه په اوبو کې اوبه او اوبه اوبو کې لاړ روانه وه خو داسې صنعت یې کېښودی ؤ چې اوبه به پکې نه تللې. دا اکبر هم کتلې وه او جهانګیر هم، جهانګیر په خپل تزک کې د دې تذکره کړې ده. «ص۱۳۲»

فیلسوف سدیدالدین یوه داسې پیاله جوړه کړې وه چې د هغې په مینځ کې یوه قبه وه په هغې به یوه مرغی ناسته وه. په پیالې کې به اوبه اچول کیدې د هغې په زور سره به مرغی حرکت کاوه او هر خوش آوازې سره به یې سندره ویله. «تاریخ اسلام کامل»

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مصنوعي سپوږمي:

عطا نومي يو کس يوه سپوږمي ايجاد کړې وه چې ديو کوهي نه به راوتله دومره به اوچته ځوه چې ددوؤ ميلونو مسافت په لاره به ښکاريده په هغې کې دومره رڼا وه چې دنړۍ يلاوخلکو به په آساني سره دشپې کارونه کولی شو اومسافرو به خپل سفرونه پوره کول.

عجيب مشين:

مشهور حکيم اوفيلسوف ابوالنصرفارابي يو داسې مشين ايجاد کړی ؤ چې کله يې هغه خليفه په دربار کې وغږاؤ نوتمام حاضرين په خنداخندا باندې بيخوده شول اوکله چې يې په بل ځای کې وغږاؤ نو ټول خلق په ژړا ژړا باندې بيخوده شول ، لږ وخت پس يې ورته ترتيب بدل کړ اوبيا يې وغږاوه نوټول خلک ويده شول اوپه دې حال کې فارابي ددربار نه بهر روت.(المقريزي ج۲ ،ص۲۲۱)

ددې خواقعاتوذکر کولو نه مقصد داؤ چې زموږ اسلافو په قرآن باندې ايمان راوړ، نو پوره پوره عمل يې پرې وکړ اوفائده يې تري حاصله کړه اوداالله اودهغه يې مثاله کاريګري يې په غور سره مطالعه کړه اودعوامو دنفع له پاره يې لوی لوی يادګارونه پرېښودل چې هغه موږ هېر کړل اوپه حقيقي معناوو کې مفلسه تش لاسې شو.

يورپ اوامريکې داعظيم ميراث خپل کړ اودعظيم الشان طاقتونو مالکان شوچې اوس دهغوی مخې ته موږ دسوال کاسې نيولې وي اوبيا تري هم مقصد نه شو پوره کولی.شايد داقبال اشاره دې طرف ته ده.

حکومت کا نہیں رونا کہ وہ اک عارضی شے تھی نہیں دنیا کے آئین مسلم سے کوئی چارہ
مگر وہ علم کے موتی کتابیں اپنے آبا کی
جو دیکھیں ان کو یورپ میں تو دل ہوتا ہے سیپارہ

ژ په دعوي سره دا خبره کوم چې يورپ اوامريکه ،جرمني،فرانس،اټلي،سويدن ،روس ،چائنا،اوددنيا دهرمؤجد اوهرمفکر دهر يوايجاد سهره يوازې دمسلمان په سر ده چې صدقه دهغه جناب رسالت مآب بل فيضان قرآن مجيد دی پس اوس هم که مسلمان خپل ميراث حاصلول غواړي نوهغوی دې قرآن کريم باندې غور وکړي اودالله کاريګري اومخلوقاتو کې تعقل وتدبر دې په کار راوړي. دې سره چې يو طرف ته دالله تعالیی پيژندګلوي کيږي نو بل طرف ته دعلم وحکمت اودانايي وبينائي نوي دروازې به خلاصې شي چې په هغو سره دنيا عروج به هم په لسو کې راپريوځي اودآخرت مرتبې به هم دپاسه سوری وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د الله تعالی توحید:

دمشرکینو تردید کوم چې قرآن کریم کړ دی، دوي به ویل چې فرښتې دخدای لونه دي. الله وفرمایل: "أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ"

ترجمه: خپل خان له پاره زوی اود الله له پاره لونه داځنګه خراب تقسیم دی!

بنځه خپل خاوند ته دښې اجازه نه ورکوي، خاوند خپلې بنځې ته دبل خاوند کولو اجازه نه ورکوي. یو بادشاه خپل رعیت ته دبل بادشاه منلو اجازه نه ورکوي، بیا به الله تعالی خپل مخلوق ته دبل خدای منلو اجازه ورکړي.

دې نه به بله زیاته دبې عقلۍ ګنده اوناپاکه فیصله کومه یوه وي. خلکو! دیو واحد الله دهستی یقین کول دهر یو انسان له پاره فرض دي ځکه چې دکائنات وجود انسان مجبوروي دصانع اوخالق په منلو باندې.

هیچ چیزے خود بخود چیزے نشد هیچ آهن خود بخود تیغے نشد

یعنې یو شی هم پخپله نۀ پیدا کیږي، لکه څنګه چې یوه اوسپنه پخپله توره نه جوړیږي دغه اوسپنه خودبخود ځمکه کې نه جوړیږي تر څو چې چې څوک جوړه نه کړي. افسوس دی! دالله تعالی په منکرو دهریانو باندې چې دهغوی په نزد باندې انساني مصنوعات خودبخود د اربعه عناصرو په ملاویدوسره نۀ جوړیږي، مګر قدرتي مصنوعات مخلوقات خوبخود عناصراربعه ملاویدو سره بغیر دصانع نه څنګه جوړ شي.

دنیم په ترخه ونه باندې خوړه میوه څوک پیدا کوي. په اوسپنه کې مقناطیسي کشش چاپیدا کړ. دغه راز په زرګڼو شیانوساخت په لکونو وني بوټي اوګلونه چا پیدا کړل اوبیا داسې ساخت سره چې انساني عقل ورته حیران دی اوانسان داسې یوه پاڼه هم نه شي جوړولی.

حکایت:

دحضرت امام بوحنیفه رحمه الله یودهري سره مناظره راغله، دمناظرې موضوع داوه چې د عالم څوک خالق شته اوکۀ نه؟ دمناظرې چې کوم وخت مقرر ۀ ټول خلک هغه وخت کې موجود ۀ خلیفه وقت هم موجود ۀ اودهري مناظر هم راغلی ۀ، مګر امام ابوحنیفه رحمه الله په مقرره وخت باندې رانه غی، بلکې ناوخته راغی، په هرحال دهري ته موقعه ملاۀ شوه او امام صاحب نه یې پوښتنه وکړه چې ولې ناوخته راغلې؟ امام صاحب وفرمایل چې: نن ماسره یوه عجیبه واقعه وشوه کله چې زه دریاب غاړې ته راغلم نو سواري واله یوه کشتی هم نه وه بیا چې مې وکتل نو یوه ونه خودبخود راغله اوخپله کټ شوه بیا تر بدوه تختې تیارې شوې، بیا دې تختو نه په خپله کشتی تیاره شوه بیا هغې خپله مسافر دیو طرف ته بل طرف ته وړول اوهریو نه به یې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ګرابه هم اخیسته، دهري چې داواوریدل نو به زوره زوره يې وویل. وګورئ خلکو ستاسو امام دروغ وايي آيا داسې هم کیدای شي چې کله خوک ونه ګوري نو خودبخود داسې کیدای شي؟ امام صاحب وفرمایل: کله چې یوه ورځ شان کښتی خودبخود نه شي جوړیدای ترڅو چې یو جوړونکی نه وي؛ نو دا وایئ چې دادومره عظیم کائنات څمکه، آسمانونه، دنې اویوتي دپیدا کوونکي اوخالق نه پرته ځنګه په خپله وجود کې راغلل؟، ددوی داجواب يې چې واوریده نو دهري لاجوابه اوحیران شو اواسلام يې راوړو.

حیرت انګیز قدرت:

والله تعالی شان قدرت مظاهر د انساني عقل دپیاموندلو نه هم بهر دي اوکوم چې بیاموندې شوهغه هم حیران کن دي، د جدید سائنسي تحقیق مطابق انساني وجود دیو کروړ ارب خلیاتو نه جوړ شوی دی انساني دماغ (۲۵) ارب نیوټرون نه جوړ شوي دي، چې دټولې دنیا دټیلیفون نظام نه وسیع دی دانسان په سینه کې چې کوم زړه حرکت کوي هغه دري لاکه ټن وینه پمپ کوي انساني سترګه رنا قبلولو له پاره یو کهرب ریشې لري. سبحانه ما اعظم شانه: انساني وجود کې جګر دیو کیمیکل فیکټری کار کوي. جګر دګلوکوز اجزاء چې دنیو تحلیل شوه نشاسته اوشکر نه حاصلیږي یو قسم کاربوهائیډریټ چې هغې نه ګلوکوزکوجن وایي کې تبدیل کړي اوذخیره کوي اوکله چې هم انساني وجود ته دګلوکوزو ضرورت وي جګر ګلوکوزکوجن ګلوکوزو ته تبدیل کړي اودوینې دنالوپه ذریعه باندې ټول وجود ته مهیا کوي.

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او توحید:

حضرت امام حمد بن حنبل رحمه الله نه دتوحید باري تعالي باره کې پوښتنه وشوه، نو ویې فرمایل چې ما یوه ورځ سپین ګنبد وکوت چې په هغې کې سوړه هم نه وه. دروازه هم نه وه، هغه ته دته خوک تللی هم نه شو اونه تري خوک بهر راتلی شو، زمامخې ته هغه ګنبد خودبخود رڼلیده اودهغې نه یو خوبصورته اوخوش لحانه دمرغه بچی راوووت چې په دې ګنبد(انډه) کې يې دخپل دوښمن پیژندګلوي کړې وه چې تپوس یا شکړي لیدو سره دمور وزروکې بنډل يې پیژندل. ددښمن پنجه اودمور شفقت يې پیژانده، دمور آواز يې پیژانده، دخپل خوراک هرشی يې پیژندل. سره له دې چې له دې مخکې ورته چا نه و ښودلي، اوس اووایه چې د ګنبد (انډې) دننه دې بچي ته دا تعلیم چا ورکړ، همدغه خالق اودجهان جوړوونکی دی. (تبارک الله احسن الخالقین)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عجیب انجنیر:

دحضرت سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام بادشاهي هم دالله تعالی دشانو نه یوه عجیبه نشاني وه دهغه بادشاهي انس وجن . چرند پرند ،غرونه سرابي ،دریاب وسمندر ،اوددي تولو مخلوقاتو باندي وه. دهغه تخت دنن سبا راکتونو او جهازونوتخه زیات حیران کن و، خکه چي هغه بغیر دتیلوبغیر دمشینري اوبغیر دځهٔ خرابي نه به دهوا په چپو ته، چپرته به چي سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام تلل غوښتل هلته به ته، دحضرت سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام انجنیر هم عجیب ؤ، هغه هدهد و، چي په خمکه به يي منبوکه ولګوله نو ویل به يي چي خمکه کي اوبه ځومره لري دي، ځومره قدآدم اوځومره فرسخه دي. کله به چي هغه ته داوبو دتحقیق باره کي ویل کیدل نو اول به هغه په هوا شو اوبیا به تیزي سره په ځمکه راغوته شو، چپرته به چي اوبه وي هغوی به خپله منبوکه په هغه ځای باندي لګوله، جناتوبه زرزر هغه ځای وکنیسته اواوبه به په کې راوتوتي،جنان حوض.تالاب وګرنګونه به يي جوړول ، مشکیزي اولوښي به دکول شروع شول ځناورو .انسانان او جنات تولو به اوبه وڅښلي بیا به روان شو.

هوایي ډاګي:

دحضرت سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام ډاګ به هم هدهد راوور چنانچي دبلقیس دبادشاهي خبرهم ده راوړې ؤ اوحضرت سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام ته پیغام هم ده راوړې ؤاوبیا وروسته دغه ملکه مسلمانه شوه .سبحان الله الله تعالی خپلو مقبولو بنده ګانو ته ځومره حیرانوونکي د قدرت نشاني ورکړي وي چي دنیا ځومره ترقي هم وکړي دغه مقام ته نه شي رسیدای.

الله تعالی بغیر داسبابواومواد دوی ته هغه معجزات اوقوتونه ورکړل چي دنیا ددې نه عاجزه وه.

دیو بزرګ نه چا پوښتنه وکړ چي: تاسو الله تعالی څنګه وپیژانده؟ ویي فرمایل: دتورې میښې نه چي هغې ګیا وخوړله اوسپینې پې يي ورکړې، په دي توره میښه کي پې چا پیدا کړي الله پیدا کړي.

دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه چا پوښتنه وکړه چي: الله تعالی دي څنګه وپیژانده؟ ویي فرمایل چي: ما خپل رب په مضبوطوارادو دلویو عاقلانو دمنصوبو ماتیدو باندي وپیژانده چي ضرور ددې نه بالاتر یو داسي طاقت موجود دی چي ټول يي مخي ته عاجز دي.

ددنیا دلویولویو عقل مندودتدبیرونو ماتیدو نه دا معلومه شوه چي ددې دپاسه بل طاقت موجود دی چي ټول لاندې کوي دغه زبردست خدای دی.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

****

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شعبان المعظم دمیاشتې پنځمه خطبه:

دقدرت مظاهر

دې نه مخکې دتوحید بیان وُ اوس به دمظاهر قدرت بیان وي، الله تعالی یکتا، واحد او لاشریک دی، هغه دهرشي خالق ومالک دی داقرآن کریم کې ارشاد باري تعالی دی.

"اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ۝ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللّٰهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ۝" (پ۲۴سورة زمر آیت ۶۲)

ترجمه: الله تعالی دهرشي پیدا کوونکی او نګهبان دی اودده په اختیارکې دځمکو اوآسمانونو چابیانې، (کیلیانې) دي اوهغه خوک چې الله نهٔ منې، هغه په خساره کې دي.

دځمکې اوآسمان پیدائش "خَلَقَ اللّٰهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ" (پ۲۰سورة عنکوت آیت ۴۴)

ترجمه: الله تعالی ځمکه اوآسمانونه مناسب طور باندې پیدا کړي دي، ایمان والو له پاره دې کې لوی دلیل دی.

تشریح: دځمکې اوآسمان پیدائش اوبه دې دننه چې کوم شیان دي ددې پیدائش بیا ددې خواص اثرات اوافعال مزاج اونورو خصوصیاتو کې چې موږ ځومره ژور نظراچوؤ زموږ سینه به ددې دخالق دعظمت اودهغهٔ دعظیم الشان صفات اوقارنه وکه شي، په دې شرط چې موږ غفلت ونه کړو اوبه دې تولو خبرو باندې صفا اوشفاف دماغو سره ژور نظر واچوؤ.

وَفِي كُلِّ شَيْءٍ لَهُ آيَةٌ تَدُلُّ عَلَىٰ أَنَّهُ وَاحِدٌ.

به کائناتو کې دهر یوشي خپله نشاني ده او دا وایي چې هغه ذات یو دی.

هر گیا هے که از زمن روید وحده لاشریک له گوید

دګیاهړو کې چې په ځمکه باندې راتوکیږي هغه هم وایي چې: الله وحده لاشریک دی.

انساناتو نه خطاب باري تعالی دی:

"يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ۖ وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰ أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِن بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا" (پ۱۷آیت۵سورة حج)

ترجمه اې خلکو، که چېرته تاسوته (دقیامت یقین نهٔ راځي اوتاسو، دوباره ژوندي کیدو باره کې شک وشبه کې یې (نوداستاسو نادانې ده لږ په خپل حالت باندې نظر واچوئ چې تاته خنګه وجود درکړل شوی دی، موږ ته دخاورې نه پیدا کړی یې، یعني ځمکې ته مو حکم وکړ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې ستا دنه ځومره تخم اچول شوی دی دهغه برابرمقدار اوسیزه اودومره مقدار نه میوه، ترکاري، اوغله وټوکوه، هغه میوه، ترکاري، اوغله ستا غذاجوړه شوه اودغذاگانو نه وینه جوړه شوه اودویني نه نطفه،بیا دنطفې نه دویني یوه قطره بیا(ددې ویني،دقطرې نه دغوښې بوټی چې پوره پوره اندام ترینه جوړیږي اوکله غیر مکمل بوټی (سلسله توالد اوتناسل جاري کړه اوداسلسله تناسل موږ ددې وجې نه کیښودې،دې له پاره چې زه ستاسو مخې ته دخپل قدرت یوه نشاني ظاهره کړم اوتاسو ته ووایم چې ستاسو اصلیت اوحقیقت څه دی،اومونږ چې کومه مضغه غوښه غواړو نامکمله یې راوغورځو اوکومه چې غواړو دیو متعین مدت پورې یې ستاسودمیندو په خپټو کې ساتو، بیا تاسو دبچې شان ځیتې نه راوباسو،بیا ستاسو دوجود تربیت اونګرانې کوؤ،دې له پاره چې تاسو مضبوطې ځوانۍ ته ورسیږئ اوپه تاسو کې ځینې داسې دي چې په وړوکوالي کې وفات شي.اوځینې په کې داسې وي چې ارذل العمرته ورسیږي دې له پاره چې هغه دپوهې نه بیخې په څه پوه نه شي ،لکه چې بې شعوره دنیا ته راغلی وؤ اوبې شعوره دنیانه لاړل،دتربیت اونګرانې کیفیت دادی چې څرنګه یې دمورپه خیټه کې درجې پوره کولې دغه راز په دنیا کې دمور دوه سینې ورته جاري کړو.

انساني فضیلت:

"اَلَم تَرَوا اَنَّ اللهَ سَخَّرَلَكُم مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الاَرضِ وَاَسبَغَ عَلَيكُم نِعَمَه ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً"

(پ۲۱سورۃ لقمان آیت۲۰)

ترجمه: آیا تاسو نه ګورئ چې الله تعالی ستاسو له پاره هغه څه چې په آسمانونو او ځمکو کې دي تابع کړل اوخپل ظاهري اوباطني نعمتونه يې په تاسو باندې مکمل کړل.

تشریح: یعني اې نادانو! آیا تاسو نه ګورئ چې په ځمکه اوآسمانونوکې څه هم دي، الله تعالی ټول ستاسو تابعدارکړي دي اوخپل ظاهري وباطني نعمتونه يې په تا باندې کاملې طریقې سره نازل کړل. مثلاً: ستا اندامونه اوداندامونوخپل مینځو کې تناسب اودخوراک ځښاک بیشمیره شیان، قوت وفهم وادراک وغیره بیا دباران راتلل،دهوا چلیدل،دلمر سپوږمۍ پرېقبدل،ددوی راختل اوکوزیدل، دستورو پرېقا، دځنګلونوخشکي ونمي،ددریاوبونو روانې اوطوفانونه، دغرونو اوچتوالی،دځمکې ټیټوالی،دوحشیانو اومرګو پیدا کیدل اومړ کیدل غرض داچې دکائنات یوداسې شی نه دی چې ستاسوخدمت له پاره نه وي حاضر اوپه دنیاکې یو داسې انقلاب نه رابنکاره کیږي چې ستاسو وجودیا روح ته فائده نه رسوي اوډېرې تبدیلي تاته دعبرت سبق ښایي اوعقل ښایي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

الله تعالی انسانان په خپل قدرت باندې پیدا کړي دي اوبه دوی کې یې دقدرت عجیبې کرشمې ښکاره کړي بیا الله تعالی آسمان زمونږ له پاره چت اوخښکه مونږ له پاره فرش جوړه کړه اودآسمان نه یې اوبه وښیولې،بیایې ددې نه زمونږ له پاره میوه جات راوویستل اونبکلي باغانونه یې ولګول. که تمام انسانیت یو خای شي؛ نو یوه پانه هم نه شي جوړولی. خمکه یې زمونږ داوسیدو قابله جوړه کړه، خای په خای یې نهرونه او ویالي وبهولې،خمکه دټینګښت له پاره یې غرونه ولګول،ددوڈریابونواو سمندرونو مینځ کې لري لري پورې یې خشکي قائمه کړه، دې له پاره چې خلک پکې استوګنه کوي، چېرته دوه خوږې اوترخې اوبه یوخای یوخای دې خوږو په ترخو اودترخو په خوږو باندې هیڅ قسمه اثر نه وي په وچه اولمده کې یې دستورویه ډریمه لاري جوړې کړې. او وریخې راوستونکې یخې هواګانې ،دموسم بهار روح، دخپل باران رحمت نه مخکې راولیږلې، الله تعالی مونږ ته سترګې راکړې. پوزه. ژبه. اوزړه یې راکړ. دې له پاره چې حق خبره واورو وګورو سوچ پرې وکړو اویقین هم دورخې اوشپې بدلیدو کې انسان له پاره نښې اوعبرت دی، کله ورځ وړه او شپه غټه اوکله شپه وړه اوورځ غټه وي جهازونه یې په اوبو باندې وچلول، وچې خمکې یې سرسبزه او شادابه کړې. الله تعالی هرشی جوړه جوړه پیدا کړل دآسمان مقابل خمکه،دلمر مقابل سپوږمی. دنهر مقابل ماده داټول دالله دقدرت کرشمې دي چې ددې جوړو په واسطې یې دنیا آباده کړه دهغه خوښه ده چاته غواړي نارینه اولاد اوچا ته غواړي زنانه اولاد ورکوي اوڅوک چې غواړي شنوه،بې اولاده، یې کړي. دانسانانولە پاره یې بحري جهاز (کشتی) تابع کړي،دڅاروویه پاڼاګانو باندې خلک سواري اوسفرکوي اوپه دې باندې وزن اچوي، جهازونه یې تابع کړل په ځکونو ټه وزن اوچتوي. سمندرونه شلوي اوسفر کوي، دهوایه مدد باندې جهازونه الوځي.

داټول الله تعالی مسخر کړي دي ګني مونږ دومره طاقتورنه وؤ چې دامونږ تابع کړي وای دڅاروروڅرمنو نه انسان لباس جوړوي اودوړیو وغیره نه کوټ اوجرسي تیاروي دځینې خاروروغوښې یې حلالې کړې، داټول دالله نعمتونه دي،شنۀ شنه پتې یې پیدا کړل.ګلونه اومیوه جات یې پیدا کړل، په سمندرونو اودریابونو کې یې دانسان دخوړاک له پاره ماهیان پیدا کړل. دڅاروینه په خپله کې یې سوته پیدا کړه اوبه رګو کې یې انسان له پاره صفا اوشفافي پی. راوستلې چې یې حده مزیداري اوطاقتوري دي،شپه یې دآرام له پاره پیدا کړه چې مکمل خاموشي شي.سکون شي انسان په خوږ خوب باندې ویدۀ شي اوستړی والی یې ختم شي اوسهار تروتازه پاسخي، دشپې چې مونږ ځملو نو فریښتي زمونږه حفاظت کوي چې چرته مار لړم وغیره نقصان راته ونه رسوي اوخوب چې دمرګ مشابه دی دهغه نه دوباره زندګي ورکوي. الله دخمکې دننه دانه اوګیڼې پیدا کوي اودهغې نه پتې اوغټې وني پیدا کوي. دمړي هګۍ نه ژوندي بچي پیدا کوي اودژوندی چرګې اومرغانو نه یې روحه هګۍ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

(انډه) پیدا کوي، دلمر او سپوږمۍ په ذریعه باندې حساب کیږي په کالونو او میاشتو باندې فصل (کښت) پخیږي. د سپوږمۍ په ذریعه باندې میوو کې خوږوالی پیدا کیږي. دځمکې نه یې وني پیدا کړې اوبه دي ونو باندې یې خوږې اوترشې میوې پیدا کړې، نه په ځمکه کې خوږوالی شته ونه اوبه په ونه کې، دامحض دالله په قدرت باندې پیدا کیږي، هغه الله موږ هر آن هرساعت ګوري، دالله عبادت دکائنات ذره ذره کوي، دا وچ اوشنهٔ شیان الله ته سجدې کوي پوازې له ده ځخه مدد طلب کړئ، همدته لاس لپه کړئ اوهمده ته سر تیټ کړئ.

دکائناتو هر یوشی الله تعالی دیو خاص مقصد له پاره پیدا کړي دي، هیڅ یو شی پکې بې کاره اوبې مقصده نه دي، په هر شي کې دالله تعالی دقدرت نشاني دي، په دي نشانو سره انسان په آسانتیا سره حقیقت ته رسیږي، خوشرط دادی چې هغه دخدای نه غافله نه وي اوآثار کائنات ته دځاورو پشان ونهٔ ګوري، بلکې غوروفکر سره مشاهده وکړي.بیا چې کله هغه دکائناتو مشاهده کوي نو حقیقت سمدلاسه ورته څرګندیږي چې دادپښو نه سره پورې یو حکیمانه نظام دی اودا خبره سراسردحکمت خلاف ده چې په کوم مخلوق کې الله تعالی اخلاق حسنه کیښودي وي هغوی ته بې دتیوازي پوره اختیارات ورکړي وي، هغوی ته بې عقل وتمیز ورکړی وي، دهغوی نه دژندګي داعمالوپوښتنه نه وي اوده ته په نیکي باندې جزا اوبه بدي باندې سزا ملاؤ نهٔ شي. دغه رازبه نظام کائنات باندې غور وفکر کولو سره ده ته دآخرت یقین پیدا شي اودی دالله دسزاګانو نه وویریږي دغه راز دا مشاهده اومطالعه بې په دي خبره باندې مطمئن کړي چې حضرت محمد ﷺ دي کائنات د ابتداء اوانتهاء متعلق کوم نقطه نظر پیش کوي اودژوند چې کومه لاره ښیي هغه حقه اوقطعي ده الله باندې یقین له پاره داکافي ده چې ځمکې نه آسمان پورې دا کائنات یو مکمل نظام دی.اودا پوره نظام دبو زبردست قانون لاندې جلیږي چې په هغه کې هر طرف ته یو همه ګیر اقتدار اوبه عجیب حکمت اوبې خطا علم آچار په نظر راځي.دایه دي خبره هم دلالت کوي چې ددي نظام یو فرمانروا دی، ځکه چې علم عالم نه بغیر،حکمت دحکیم نه بغیر،دغه مخلوق دخالق نه بغیر نه شي موجودیدلی.

د الله تعالی یو عجیبه شان دا هم اوګورئ چې یوه زمکه ده خو ددي ټکړي دخپلو رنګونو، خاصیتونو او د مزو په لحاظ سره جدا جدا دی، یوه زمکه ده او یو اوبه دی خو په دې سره قسم قسم غلې او میوې پیدا کیږي، یوه وونه ده او ددې میوې د بلې میوې سره په نوعیت کښې د یوشان کیدو باوجود په شکل، جسامت، او نورو خصوصیاتو په لحاظ سره مختلف دی. یوه جړه ده ددې دوه تنې دی خود هر یو خصوصیت د بلې نه جدا دی، ددې نه معلومه شوه چې په دنیا کښې څه دی خپل خپل رنګونه او خاصیتونه ئې دی، یو شان والې چې د کوم ذات دې هغه صرف د خدائې ذات دې.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هر انسان ته دهغه په ژوند کښې څه مقامات داسې ضرور پیښیږي چې هلته مجبورا دا منلې کیږي چې یو داسې ذات چې هغه په سترګو نه ښکاري خو هغه دا کارونه پوره کوي. د ډیر ښه ټینګښت سړی خاص د خوشحالۍ په حالت کښې هارتې فیل کیږي د زړه دوره ورته اوشي د کمزورۍ نه کمزوری خلق خصوصا ماشومان د ریل سره ایکسیډنټ کیدلو او د کور د چت نه راغورزیدو سره بچ شي، دغسې خپل ځان ډیرو موقعو کښې د هلاکت د خایونو نه بچ شي یا د حفاظت په حالت کښې هلاکت اوشي نو دا ددې خبرې ښکاره ثبوت دي چې یو زبردست ذات موجود دي چې هغه الله دي. (قرآني نښې)

بهر حال قرآن حکیم خلقو ته دا سبق ورکړي دي چې تاسو د کائنات نه افضل او اشرف یئ او دا زمکه او دا آسمان. دا شپه او ورځ، دا سپوږمئ او نمر، او د کائنات هر یو څیز صرف او صرف ستا د پاره پیدا کړې شوې دي. ته د کائناتو د هیڅ یو څیز د پاره نه ني پیدا شوې، ته صرف د یو لوئې هستئ د پاره پیدا کړې شوې ني، چې هغه ستا او د ټولې کائنات خالق او مالک الله تعالی دي. او دهغه د غلامئ او عبدیت او تشریح د پاره الله تعالی د انبیاء کرامو او کتابونو او صحیفو سلسله جاري اوفرمائیله، چې ددې ابتداء ابوالانسان حضرت آدم علیه السلام نه اوشوه. او ددې انتهاء په سرکار مدینه، سرکار انبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندې ختمه شوه. چې هغه قرآن کریم د باقی دنیا د پاره هدایت نامه راوړله، تاریخ ګواه دي چې د ۲۳ کالو په کمه موده کښې ټې ایمان راوړونکی د چرته نه چرته اورسول.

یہ اِی کا تھا کرشمہ کہ عرب کے راہزن ۔۔۔ فاش کرنے لگے جبریلِ امیں کے اسرار
یہ اِی کا تھا کرشمہ کہ عرب کے بیچے ۔۔۔ کھیلنے جاتے تھے ایران کو کسریٰ میں شکار

مسلمانانو قرآن حکیم او ددې عظیم الشان تعلیمات صرف د اُخروی نجات ذریعه او وسیله اونه ګڼله. بلکه په صحیح معانو کښې د آخرت نه ختمیدونکي د همیشه خوشحالو سره سره دنیاوی خزانې اود دنیاوی دولتونو نه هم خپل خانونه بنه مالا مال کړل.

انساني ماحول او آسمان او زمکه

ګله چې مونږ په خپل ماحول باندې نظر اچوو، نو جمادات، نباتات، حیوانات، انسان، زمکه، آسمان، نمر، سپوږمئ، ستوری، هواګانې، اوبه، اور، یخنی، ګرمی، اوچه، لمده، نور او سپین، او د ګڼې بې شمیره خیزونه په نظر راځي، مونږ ګورو چې دا ټول خیزونه دکوم خاص مقصد د پاره پیدا شوی دی، د رومبئ ورځې نه تر اوسه پورې په صحیح طریقه خپلو مقاصدو کې لګیا دی، اوپه خپلو حواله شوی کارونو کښې مصروفه دا ټول خیزونه مونږ ته ښکاره دا ښائی چې څوک عجیبه او ناآشنا، ډیر زبردست، طاقتور، دټولو خرابیانو او دټولو عیبونو نه پاکه یوه داسې هستی ضرور شته چې هغه ددې ټولو خیزونو نه ټیک ټیک کار

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اخلی. چه دوی نه د زړه برابر هم په خه خیز کې فرق نه راځی، نه په نمر راختلو کښې ناوخته کیږی. نه په سپوږمئ راختلو کښې څه فرق راځی.

غرض دا چې قرآن حکیم ځانې په ځای خپلو لوستونکو ته دا تلقین کوی چې زمکه، آسمان، سپوږمئ. نمر. هوا. باران، نباتات. جمادات. حیوانات، انسان، خوب، ویخه، پیدائش، مرګ. د زمکې خواص، ددې مختلف پیداوار. موسم. یخنی، گرمی، رنړا، تیاره، حیوانان او دهغې انواع او اقسام. او ددې خواص او افعال. د هواګانو خواص او افعال. سمندرونه او د سمندرونو مخلوق، جهاز او ددې روانیدل، باران، او ددې اثرات، او خواص او افعال، د زمکې طبقات. او ددې خواص او افعال، انسانی اندامونه او ددې خواص او افعال. غرض داچې په کائنات کې څه هم دی په ده ډې تولو کښې غور او فکر او ددې په هر اړخ باندې غور او سوچ کول او ددې علتونه او سببونه او فوائد او برکات معلومول، ددې نه د پوره پوره فائده اخستلو قرآن تعلیم او تلقین کړې دی، ددې تول غور او فکر حاصل او نتیجه سائنس دی، او ددې سائنس په وجه نن ترقی یافته قومونه او ملکونه یورپ او امریکه د کوم ځائ نه کوم ځائ ته اورسیدلې. او مسلمانان کوم چې ددې اولین او اصل مخاطبین او وارثان دی، د قرآن نه لرې کیدو سره نن د غیر قومونو څنګه غلامان دی، البته په قرآنی او غیر قرآنی غور او فکر کښې صرف دافرق دی چې قرآن کریم دا تول کائنات د انسان غلام ګرځوی او پخپله انسان د الله غلام اوتابعدار ګرځوی. اوپه غیرقرآنی طریقه غوراوفکرسره انسان پخپله غلام جوړیږی چې ددې تباه کونکی نتیجې او اثرات نن د دنیا په وړاندې دی، او د ناګاساکی او هیروشیما په شان جاپانی بنارونو په یو سیکنډ کښې تباهی او بربادی مضبوط او ثبوت او دلیل دی، چه ددې په تصور سره وینښته اودریږی (غونی زیګ زیګ شی) البته د قرآن کریم دعوت فکر که یو طرف ته انسان ته د کائناتو د هر شی نه د خدمت اخستلو تلقین کوی نو بل طرف ته ئې د الله تعالی په مخکښې تیتوی او د عالم ملکوت تاج ورته په سروی. (قرآنی نشانې)

د شهدو مچئ

الله تعالی فرمائې چې د شهدو مچئ ته مونږ حکم کړې دی چې دوی په غرونو، وونو، او بناخونو کښې خپل ګیښونه (کورونه) جوړکړی او د هر قسمه میوو نه رس اوخکی او د خپل رب په خوداو شوو لارو باندې روان اوسی. ددې مچو دننه نه رنګارنګ شهد راوځی چې په دې کې خلقو دپاره شفا ده. د غور او فکر کونکو خلقو دپاره د شهدو په مچئ او په شهدو کې هم د خدائې د ربوبیت او دهغه د قدرت او حکمت بې شماره نښې موجود دی. شهد ډیره ښه غذا هم ده او بهترینه دوائی هم ده. په دې کښې د میوو او ګلونو ګلوکوز په خپل بهترین شکل کښې موجود دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بیا د شهدو خاصه داده چې دا نه خرابیږي او په کومو ځیزونو کښې چې ملاؤ کړي شی هغه هم تر ډیرو ورځو پورې د خرابیدو نه بچ کوی، یقینا په دې کښې د غور اوفکر کونکو دپاره د الله د قدرت لوئې نښې دی د اخلاق جلالی په شرح ص۲۲۴ کې دی چې د جمشید بادشاه د اولاد د حکومت سلسله تر ډیرو کلونو پورې په زمکه کې قائم وه او خلق ترې خوشحاله وو. هغوی دشهدو دمچو د نظام په شان دربار مرتب کړې وو، وزیر، مشیر، مصاحب، جرنیل، فوج، سپاهی، پیاده، قاضی، جج، غرض داچه دټول حکومت نظام ټې ددې معمولی او بې حقیقته مخلوق نه اخستې وو.

د مچو ملکه (بادشاه)

دمچو د ملکې (بادشاه) عمر پنځه کاله وی دا په عمر کښې صرف یوځل جوړه کیږی او په یوه ورځ کښې دوه زره انډې اچوی، په یوه میاشت کښې دتنه د ګبین ټولې خانې ډکوی. چې دهغې خانو تعداد پنځوس، شپیته زره وی، ددې کار صرف انډې اچول وی.باقی کار خادمانې مچۍ پوره کوی.

نر مچۍ

ددې بدن غټ او خورب وی، ددې هیڅ کار نه وی. ددې تعداد په یو ګبین کې دوه زره نه تر اته زره پورې وی، ددې په الوتلو سره ډیر آواز پیدا کیږی، دا د مۍ جون په میاشتو کښې ډیرې راوخی او په یخنیۍ او باران کښې نه راوخی.

ماده مچۍ

دې ته خادمانې مچۍ هم وائی دا په بدن نرۍ او اوږدو خپو والا وی. ددې په بدن باندې ویښته وی اورنګ ټې تور وی، دا ټول کارونه کوی، ددې مچو یوسل اوه اویا (۱۷۷)، اقسام دی، دوی په سترګو باندې دري ډرې ډرې سترې وی چې ددې متعلق د اکثرو ماهرینو خیال دې چې دا د خوردبین کار ورکوی او ددې په ذریعه لرې او نزدې هر څیز وینی، دا ګلابی رنګ او ددې نه زیات شین (نیلا) رنګ خوښوی، ډیر تیز حس والا دی، د راتلونکی موسم دمصیبتونو پته ډیر زر لګوی، او مخکې نه ددې انتظام کوی، شهد د چینو نه زیات صفا او اخلاط لرې صفا کونکې او ددې خرابیاتې ختمونکې، معدې ته قوت ورکوی، نفس ته خوشالی ورکوی، روح ته طاقت ورکوی، بیمارئ لرې کوی، او تکلیفونه د بدن د ویخ نه راوباسی او لرې کوی.شهد یقیناً د الله پاک ډیر لوئې نعمت دې، او بې شکه چې ددې وجود او دا لوئې او بې شمیره فائدې د الله تعالی په حکمت او قدرت او رحمت باندې دلالت کوی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مونږ انسان ئې د خاورې نه پیدا کړی یو، بیا ئې مونږته دا طاقت راکړې دې چې مونږ زمکې خپله تابع کړځو، سمندرونه اوشلوو، غرونه ختم کړو، بجلی، ریډیو، وائرلس، هوائی جهاز، ایټم بم، هائیډروجن بم، او راکټ جوړ کړو. چې د دماغو د ترقئ نتیجه ښکاره شی او د خدائې حکومت او خدائ سره ملاقات کولو سره د روح د ترقئ مظهر جوړ شو.

سمندر

دومره لوئې سمندر چې هغه ددومره لوئې زمکې نه خو چنده زیات وی او چې دهغې ژور والی د ګزونو او فوټونو نه بلکه په میلونو وی، په دې باندې د یو کمزوری انسان قابو راتلل په دې باندې منډې وهل، اوپه دې کښې غوپې وهل، په دې کې لامبو وهل، او ددې د مخلوقاتو پته لګول. ددې عجائبات حاصلول، ددې پیداوار خپل قابو کې راوستل، د زمکې او آسمان هرځیز د تابع کولو فکر کول چې ددې راز د سائنس موجوده ترقیاتو نه ورځ په ورځ ښکاره کیږی. د الله تعالی د قدرتونو او ددې د اعلی مرتبو نه پرده لرې کوی خو خلق غور نه کوی.

اس دور میں سے اور ہے جام اور جم اور ساقی نے بنا کی روش لطف وستم اور

نظام شمسی

که نمر راونه خیجئ نو دالله تعالی نه بغیر ئې بل څوک راخیجولې شی، که نمر راوخیجی او غروب نه شی نو څوک ئې غروب کولې شی؟ د سپوږمئ په راختلو، ډوبیدلو، کمیدلو او زیاتیدلو باندې څوک قابو لری؟

آیا دا انسان قابو کولې شی؟ آیا بل مخلوق ئې کولې شی؟ نا بالکل نه، هیڅوک ئې نه شی قابو کولې، نو بیا هغه ذات چې دا قابو کوی هغه یقیناً الله تعالی دې.

ځناور او سورلی

ځناور په قابو کې ساتل، د یو کم عمره ماشوم بغیر د رسئ او زنځیر نه یو لوئې هاتهی چلول، اوښان د پرې نه نیول او روانول، دالله تعالی د قدرت لویه ښنبه ده، بیا قرآن اوښ، اس، هاتهی، کشتی وغیره سورلو باندې بسنّ نه کړل بلکه وې فرمائیل چې په دې سلسله کې به نورې ښنبې درته اوښائی.

سمندری جهاز، هوائی جهاز، ریل، موټر...دا ټول مخې ته کړئ او د الله تعالی په قدرت او دهغه په طاقت او رحمت باندې غور اوکړئ نو مونږته په دې کښې ډیر عبرت ملاویږی.

عقل او پوهه

په بعضې ځنارو کې پیدائشی عقل وی، مثلاً طاوس چې مار اوخوری نو ډیر تږې شی خو اوبه نه څکی چې بدن ته ئې نقصان اونه رسیږی.

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لومبړه

د ولړې په وخت خپې خورې کړې اوده شې چې ځناور دې لره مړ اوګڼرې اوکله چې ځناور ورته نږدې راشې نو حمله پرې کوې او خورې ئې.

ولنین (یوقسم د اوبو ځناور)

کله چې مارغه ښکار کول غواړې نو یو مڼې (کب) راونیسې مړ ئې کړې او بیا ئې په اوبو کښې اوغورزوې، نږدې چې کب د اوبو په سر شې، او پخپله ورته پټ شې، بیا کله چې مارغه دا کب ښکار کوي نو دا د اوبو ځناور په مارغه باندې حمله کوي او خورې ئې.

غټ مکړمچه

کله چې ددې په غاښونو کښې چینجی اوشې او تکلیف ورته رسوی نو دا اوچې ته راشې خوله خوره کړې او خملی مارغان دا ګټرې چې دا مړ دې هغوی راځې او دا چینجی تړې خوري کله چې ددې خوله پاکه شې نو خپله خوله بنده کړې او مارغان پکې ګیر کړي.

میږې

میږې چې روان وي نو په لاره کې یو بل سره ملاویږي، میږې په ګرمئ کې دانې (غله) جمع کوي او په یخنئ کې کم راوخې، دا همت نه بائیلي، دځان نه دیرش حصې زیات وزن اوچتوي. اوچت ځائې کې کور جوړوي چې د سیلاب اثر ورته نه راځي، دانې ماتوي چې خرابیږي نه. کله چې دانې لمدې شي نو اوچوي ئې.

جولاګې

ددې د مینځ نه یو قسم ټینګ شان لوند والې راوخې چې دهغې نه جاله جوړوي او په دې کې د خپلې خوښې ښکار مچ په آسانئ سره ګیروي.

چرکه

چرګه هګئ اچوي بیا هګئ په خاص محنت او حکمت سره سولوي او ګرموي،بیا د هګو نه بچی راوباسي. بیا بچی ګرموي او مړوي، اوکله چې دا بچی پخپله د خوراک ځکاک قابل شی نو بیا ئې پریږدي، دا ټولې خبرې د الله تعالی د قدرت ښیې دی.

دایتمی ذراتو تقسیم

په سورة یونس کښې الله تعالی فرمائی چې دالله د علم نه په آسمان اوزمکه کې هیڅ یو ذره برابر هم غائب نه ده او نه یو ورکې څیز هم، په یو عنصر کې چې دټولو نه وړه زره کیدل ممکن

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وی هغې ته ایتم وائی. او نورلسمې صدئ پورې غالب خیال دا وو چې ایتم نه شی تقسیمیدې، او په تیرو څو کلونو کې د طبعیات ماهرینو تحقیق کولو سره دا نتیجه اخستې ده چې ایتم په دې اجزاء باندې مشتمل وی: پروټون، نیوټرون، الیکټرون، خو قرآن پاک څوارلس سوه کاله مخکې خودلی وو چې ذره د ایتم نه وړه اصغر کلمه موجود ده چې هغه ددې تقسیم ښکاره کوی.

د علق تشریح

الله تعالی فرمائي چې مونږ انسانان د علق ټینګې وینې نه پیدا کړی، د جدید تحقیق مطابق د انسان په منوی ماده کې وړې وړې حیوانچې وی او هر حیوانچه په خپل شکل او شباهت کې د علق دود (چینجی) سره مشابه وی، دا چینجې صرف په سترګو نه ښکاری بلکه په مائیکرو سکوپ (خوردبین) سره کتلې کیږی. سبحان الله وبحمده، سائنس چې ترقی کولو سره نن چرته رسیدلې دې په قرآن کې دمخکې نه دا هرڅه موجود دی.

ملخ

یو مولخ په یو کال کې یو لاک انډې اچوی، دا په یو خاص وخت کې راوځی، کله چې په غرونو کې ددوی د اوسیدو ګنجائش نه وی نو میدانونو ته راځی، دا یو ځل خوراک ځکاک کولو سره تر یو کال پورې بغیر غذا او بغیر د اوبو نه ژوندې پاتې کیدې شی، ددې په ګرځیدو او تلو راتلو کې هم یو نظام او ترتیب موندلې کیږی.

دا ټول د الله تعالی د قدرت ننبې دی ددې په وئیلو او اوریدلو سره زمونږ ایمان مضبوط کیدل پکار دی. زمونږ تعلق الله تعالی سره ژور کیدل پکار دی، او مونږ له پکار دی چې د الله تعالی په اطاعت او بندګئ کې لګیا شو چې هغه زمونږ نه راضی شی او هغه مونږ ته د دنیا او آخرت کامیابئ رانصیب کړی. ددې مضمون زیاته حصه د مولانا عبدالقیوم ندوی رحمه الله د کتاب (د الله تعالی قرآنی ننبې) نه اخستې شوې ده.

الله تعالی دې مصنف ته جزاء خیر ورکړی. (آمین)

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د رمضان المبارک دمیاشتې اوله خطبه

درحمت میاشت

درمضان المبارک میاشت سراسر د خیر اوبرکت میاشت ده، درحمت او مغفرت والا میاشت ده، خاص واقعات په دې میاشت کې مخې ته راغلي دي

په دریم رمضان المبارک باندې حضرت فاطمة الزهرا (رضی الله عنها) وفات شوه.

په لسم رمضان المبارک باندې محمد بن قاسم درحمت فرښته جوړه شوه، سنده باندې يې حملهوکړه اود راجه داهر اودهغه دلښکرمقابله يې وکړه اوملتان پورې يې داسلام جنډاوچته کړه.

په یولسم رمضان المبارک باندې پیغمبر (ﷺ)، فتح مکه له پاره روان شو اوپه شلم رمضان المبارک باندې مکه معظمه فتح شوه، دري سوه اوشپیته (۳۶۰) بُتان دالله په کور کې کیښودل شوي وو. راوغورځول شول اومات کړل شول اودالله کور دالله داطاعت او بنده ګۍ له پاره صفا شو

په لسم یا یولسم رمضان المبارک باندې دحضرت خدیجة الکبرا (رضی الله عنها) انتقال وشو.

په پنځلسم رمضان المبارک باندې دشهید کربلا حضرت حسین (رضی الله عنه) ولادت وشواوپه اولسم رمضان المبارک باندې دحق اوباطل په مینځ کې فیصله کن معرکه وشوه، کفارو مشرکین ته شکست وشو اوالله تعالی دمسلمانانو دفرشتو په ذریعه سره مدد وفرمایلو.

په یویشتم رمضان المبارک باندې دامادرسول حضرت علي کرم الله وجهه شهید کړای شوادددي سرغنه خوارج و اوداداسلام اومسلمانانومینځ کې سخت سازش و، یاد ساتئ چې داټول واقعات درمضان المبارک هم یو کال کې نه دي واقع شوي، یوازې رمضان المبارک دمیاشت له وجې مو را یوخائ کړي دي له پاره که امام یا خطیب په دې موضوع باندې بیان کول غواړي: نوچې کولی شي

ددې میاشتې خاص مقدس عبادتونه دادي دتلاوت قرآن کثرت خکه چې قرآن کریم په دې میاشت کې نازل شوی دی اوحضرت جبرایل امین سره به حضوراکرم (ﷺ) به دور کولو اوقرآن کریم به یې ډیرزیات تلاوت کولو، همدغه رازصحابه اوتابعین اویزرګان دین به هم خاص طور باندې دقرآن کریم تلاوت کولو، ورسره به دې میاشت کې لیلة القدرراځي، چې په هغه کې عبادت کول دزرومیاشتو دعبادت نه زیات افضل دي، بیا په دې میاشت کې داعتکاف عبادت راځي. حضور (ﷺ) به خپله هم په دې میاشت کې اعتکاف کاووا وصحابه کرامو ته به یې هم ددې ترغیب ورکاوو اخري جمعة الوداع هم ډیر لوی فضیلت حامل ده اولني صفونوکې ولاړه کول پکار دي اخري رمضان کې صدقهٔ فطر ورکول هم ډیر لوی فضیلت

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کار دی او اخري شپه داختر چې هغه ته لیلة الجائزهم ویل کیږي په دې شپه عبادت کول هم ډیر لوی ثواب دی

بهر حال دامقدسه میاشت ده داسلام داهم ترین اوباعظمته رکن روژه پوره کیدو ذریعه اود مسلمانانو له پاره رضاء الهي اوثُرب خداوندي حاصلیدو موقع ده، دې میاشتي ته دنزول قرآن دابتداء شرف حاصل دی، ددې میاشتي سهي قدر کول پکاردي، ددې دحقوقوداداییږي کوشش پکار دی. دالله تعالی دا بې بها خزانه لوټ کول پکار دی.

فهم وخاطر تیز کردن نیست راه ‌ ‌ ‌ جز شکسته می نگیرد فضل شاه

درمضان میاشت درحمتونو، برکتونو، خیر، برکت، مغفرت اودوزخ نه دخلاص والي اوسلامتي حاصلولو اوداالله راضي کولوميا شت ده، الله رب العزت فرمايي:

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ (پ٢آیت ١٨٥)

ترجمه د رمضان میاشت خو هماغه ده چې قران په کې نازل شوی د خلکو لپاره لار ښود، د هدایت څرګندې ننبې او د حق او باطل بېلونکی (کتاب)؛ نو تاسونه چې څوک دا میاشت بیاموصي. هغه دې روژه ونیسي او څوک چې ناروغ یا په سفر وي؛ نو په ده له نورو ورځونه شمیر پوره کول دي، الله خو تاسوته اساني غواړي، سختي، خو درته نه غواړي، دا ددې له پاره چې تاسو هماغه شمیر پوره کړئ (په قضا سره) او الله په لویي یادکړئ چې هدایت یې درته کړی او شکر و باسئ

د روژې فرضیت:

ارشاد باري تعالی دی: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (آیت ١٨٣پ٣)

ترجمه: اي مؤمنانو پر تاسو باندې روژه داسې فرض شوي ده، لکه چې له تاسونه پرمخکښو فرض شوي وه، ددې له پاره چې ځان ساتنه وکړئ.

د رمضان دمیاشتي فضیلت:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِحَتْ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَفِي رِوَايَةٍ فُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينِ وَفِي رِوَايَةٍ فُتِحَتْ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ. (متفق عليه)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درمضان مياشت خومره درحمت اوبرکت مياشت ده وګوري، حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل چې: "کله رمضان مياشت شروع کيږي: نو اسمان دروازې کولاو شي اوددوزخ دروازې بندي شي، ديو بل روايت الفاظ دادي چې درحمت دروازې کولاو شي" (بخاري ومسلم)

تشريح: اسمان دروازې به کولاو شي ددې مطلب دادی چې ددې مياشتې شروع کيدوسره دبارې تعالى رحمت پرله پسې راوبريږي اودبنده ګانو نيک اعمال پرته دڅه مانع اوروکولوڅخه نه نصيب کيږي، دجنت ددروازو کولاويدو دا مطلب دی چې بنده ګانو ته دنيک اعمالو کولو توفيق ملاويږي چې جنت ته دتلوذريعه ده، ددوزخ دروازې بندي شي ددې مطلب دادی چې روژه دار عموما داسې کارونونه بيخ کيږي چې دوزخ ته دتلو باعث وي، روژه دار چې کله کيره ګناهونو نه بچ کيږي؛ نوصغيره ګناهونه دروزې په برکت سره بښل کيږي، شياطين چې د انسانانو جرړه وي هغه به زنځيرونو کې بند کړل کيږي اوهغه قوت ترينه سلب کړل شي د کومو له وجې چې دوی بنده دهوکه کولوباندې قادره وي، دروژې په وجې دانسان قوت حيوانيه مغلوبه شي چې دغيض وغضب اودشهوت جرړه ده، همدغه راز ګناهونوله پاسه وګناهونوباعث وي، ددې برخلاف قوت عقليه غالب اوقوي شي چې دطاعات اونيکي باعث وي. همدغه وجه ده چې دنورو مياشتوپه نسبت رمضان کې ګناه کمه وي اوعبادات او طاعات په کې زيات وي.

وَعَنْ أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَاناً وَّاحتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِهِ وَمَن قَامَ رَمَضَانَ إِيمَاناً وَّاحتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِهِ وَمَن قَامَ لَيلَةَ القَدرِ إِيمَاناً وَّاحتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِهِ. (متفقٌ عليه)

حضرت هريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم بنده چې ايمان سره يعنې شريعت يې سهې وګانې اودفرضيت رمضان عقيده يې وه)اودثواب دطلب په خاطريعنې دبو خوف يا ريا په خاطر نه، بلکې خالصتا يې دالله درضا له پاره درمضان روژه ونيوله؛ نودهغه به هغه ګناهونه معاف شي کوم چې هغه مخکې کړي دي، ورسره کوم انسان چې ايمان سره اوطلب ثواب سره په رمضان کې قيام وکړ؛ نودهغه به هغه ګناهونه معاف شي کوم چې هغه مخکې کړي وو، همدغه رازکوم کس چې په ليلة القدر په شپه باندې ايمان سره يعنې شب قدر حقيقت ايمان اواعتقاد لرلو،اودثواب دطلب له پاره ودريد؛ نو دهغه به هغه ګناهونه معاف شي کوم چې هغه مخکې کړي وو.(بخاري ومسلم) دګناهونودمعاف کيدومطلب صغيره ګناهونه دي چې معاف کيږي، کبيره ګناهونه توبې سره معاف کيږي.

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اس وقت الٰہ دھیان ھے اور ان کادھیان ھے یہ وقت دل کو ائینہ کرنے کا وقت ھے
اے عظیم از ماگتا بان عظیم ناتوانی عفو کن اندر جریم (رومی)

رمضان پې دروژې سره ولې خاص کړ:

مفکر اسلام مولانا ابولحسن علي ندوي مد فیوضه ارکان اربعه کې لیکي الله تعالی روژې په رمضان کې فرض کړې اوداداوارې پې دیو بل سره لازم اوملزوم ګڼلې دي اوحقیقت دادی چې ددې دوارو برکتونو اوسعادتونوپوخای کیدل دلوی حکمت اواهمیت حامل دي اوددې دتولو نه غټه وجه داده چې رمضان هم هغه میاشت ده چې په هغه کې قرآن نازل شو اوانسانیت ورکه شوې لارې ته صبح صادق نصیب شو، عین دا مناسب وه چې څنګه طلوع صبح صادق دروژې داغازسره مربوط کړل شوی دی، همدغه راز داتوله میاشت دې دروژو سره مخصوص کړل شي. خاص طور باندې دغه وخت کوم چې دخپل رحمت اوروحانیت اونسبت باطني په لحاظ سره هم دامیاشت دټولومیاشتو نه افضله وه اوبالکل ددې مستحق هم وه چې ددې ورځې په روژو سره اوشپې په عبادت سره اراسته کړل شي.

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په خپل مکتوب کې لیکي ددې میاشتې دقرآن کریم سره ډیر خاص نسبت دی اوددې مناسبت له وجې قرآن کریم په دې میاشت کې رانازل شوداميا شت دهر قسمه خیراوبرکت جامع ده بنده ته چې په ټول کال کې خومره مجموعي طورېرکتونه حاصلیږي هغه ددې میاشتې مخې ته داسي دي لکه دسمندر مقابله کې یوه قطره په دې میاشت کې دجمعیت باطني حصول دټول کال دجمعیت باطني له پاره کافي دي اوددې ورځو نانتشار ټول کال ورځو په خپل لاس کې اخلي قابل دمبارک باد دي هغه خلک چانه چې دا میاشت راضي لاړه اوناکام اوبدنصیب دي هغه چې دایې ناراضه کړه اوهر قسمه خیر اوبرکت نه محرومه شول.

ہر دم وہ ہم کو دیکھتے رہے غفلت کے مانے جانے کدھر دیکھتے رہے
آئینہ میں وہ حسن نظر دیکھتے رہے دزدیدہ میرا درد جگر دیکھتے رہے
حفاظت جس سفینہ کی انہیں منظور ھوتی ھے
کنارے تك اسے خود لا کے طوفان چھوڑ دیتے

په یو بل مکتوب کې مجددالف ثاني رحمه الله فرمایي: که په دې میاشت کې چاته دنیک اعمالو توفیق ملاو شي؛ نوباقي ټول کال به ورته داتوفیق شامل حال وي اوکه دا میاشت بې دلې؛ فکراوتردد اوانتشار سره تیره شي؛ نوپوره کال په دې حال کې دتیریدو اندیښنه ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دعباداتو عالمي موسم اواعمال صالحه جشن عام

عبادات، ذکر، زهداوتقوا دي تولو شيانو رمضان يو داسي عالمي موسم اوجشن عام زمانه جوړه کړيده چې په هغه کې دمشرق اومغرب تول مسلمانان عالم جاهل،امير فقير که هست اوعالي حوصلي والا هرقسم خلک يو بل سره شريک و، رفيق همدم اودمساز په نظر راځي. دارمضان په يو وخت کې دي جلوه په هر ښار اوکلي باندې وي، دامير محل او دغريب جونپړي په دواړو کې ددې جلوه په نظرراځي، ددې نتيجه داده چې په دې کې نه يوکس خودسړی اوخودارايي کولی شي اونه دروژې دورځې دانتخاب له پاره څه انتشاراوجګړه پيدا کيږي. هر هغه کس چا ته چې الله تعالی دوه سترګې ورکړي دي دعالم اسلام په وسيع اوعريض رقبه کې هر ځای دهغه دجلال اوجمال مشاهده پخپله کولی شي. داسي معلوميږي چې په توله اسلامي معاشره باندې نورانيت اوسکينه يو وسيع ځادر راځور وي کوم خلک چې په روژه کې سست اوکام چوړه وي هغوی هم عامة المسلمين نه دجداکيدوبرې روژه نيوو باندې مجبوره وي اوکه څه له وجې روژه نه نيسي؛ نوپه پټه اوشرم سره يې خوري. سوا دبو خو ملحده اوفساقوچې هغوی ته اعلانيه خوړلو کې هم څه عارنه وي هغه ناروغان چې هغوی شرعا معذوره دي دايوه اجتماعي اوعالمي روژه ده، چې دهغه نه خودبخود يو داسي ـ زګار اوخوشګوار فضاجوړيږي چې په هغه کې روژه اسانه معلوميږي، زړونه نرم شي اوخلک په بياتونو اوطاعتونو همدردي اوغم خواري مختلفو کارونو ته متوجې شي (ارکان اربعه)

رمضان مبياشت کې الله تعالی حضرت جبرايل امين ته حکم کوي چې ځمکې ته لاړ شه اودشيطانانوغټ غټ مشران قيدکړه اويه ځټ کې ورته پرې واچوه اوورغوځار يې کړه چې هغوی دحضرت محمد ﷺ دأمت روژه دار تنګ نه کړي.

به يو روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې حق تعالی شانه درمضان په هره شپه کې درې ځله دا اعلان کوي چې شته ځوک سوال کوونکی چې زه دهغه سوال قبول کړم شته ځوک دمغفرت طلبګار چې هغه معاف کړم.

الله رب العزت افطار په وخت کې داسي لس لاکهه کسانو ته دجهنم نه خلاصی ورکوي کوم چې دعذاب مستحق شوي وي اوکله چې دجمعې شپه يا ورځ وي؛ نوهره هره لمحه لس لاکهه کسان ازادوي اوکله چې درمضان اخري ورځ وي؛ نوشروع رمضان نه واخله ترتنه پوري چې څومره ازاد شوي وي دهغه برابرازادوي (تنبيه الغافلين)

کله چې به رمضان المبارک راتلو؛ نو حضرت عمر رضي الله عنه فرمايل: څومره ښه مياشت ده چې مونږ پاکوي تول رمضان سراسرخيرخواهي ده، که دورځې روژه وي يادشپې قيام په دې مبارک مياشت کې خرچ کول په جهادکې دخرچ کولوبرابر دي (تنبيه الغافلين)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

رمضان المبارک دالله میاشت ده:

جناب رسول کریم ﷺ فرمایي چې رجب زما دامت ده اوبه باقي میاشتو باندې دهغه فضیلت داسې دی. لکه څنګه چې زما دأمت فضیلت په نورو أمتونو باندې اوشعبان زما میاشت ده اودهغه فضیلت په نورو میاشتو داسې دی، لکه چې زما فضیلت په نورو انبیاوو باندې اورمضان دالله میاشت ده اودهغه فضیلت په نورو میاشتو باندې داسې دی، لکه چې دالله فضیلت په خپل مخلوق باندې.

حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چې: رسول اکرم ﷺ وفرمایل: دابن ادم دهریو عمل خوچنده زیاتول کیږي اونیکي لس چنده نه اووهٔ سوه چنده پورې زیاتیږي، الله رب العزت فرمایي چې: سوا دروژې نه بیشکه روژه خاص ما له پاره ده اوزه به خپله دهغه بدله ورکوم روژه دار خاص زما له خاطره خوراك څښاك اونفساني خواهشات پریدي روژه دار له پاره دوه خوشالیاني دي یو دافطار په وخت کې اویو دخپل رب سره دملاقات په وخت کې اوبیشکه دروژه دار دخولې بوی دالله تعالی په نزد باندې دمشك نه ښه اوپاکیزه دي.

حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه دحضورا قدس ﷺ نه روایت کوي چې په جنت کې یوه دروازه ده چې دهغه نوم ریان دی په دې دروازه به یوازې روژه دار داخلیږي، هغوی به کله ترې کیږي نه په دې مقدسه میاشت کې دمسلمانانوتربیت کیږي چې هغوی صبر کول زده کړي دهغه مشق وکړي. غمخواري وکړي دخپلې خپتې اوژبې حفاظت وکړي اوخپل ځان دګناهونه محفوظ وساتي دبزرګان دین ټوله زندګي دالله په اطاعت اومخلوق سره په همدردۍ اوغمخوارۍ کې تیره شوه.

حضرت ابراهیم بن ادهم یوه شپه غیرابادمسجد ته لاړ دهغه دروازه نه وه څه ګوري چې دروازه دریشان سختي یخني حالت کې پراته دی دوی دسهاره پورې په دروازه کې ولاړ و دوی ترې پوښتنه وکړه چې تا داسې ولې وکړل ابراهیم بن ادهم وفرمایل چې: ماداخیال وکړ چې دروازه کې ولاړ یم: نو نو په تاسو به هوانه لګیږي.

حضرت شفیق رحمه الله نه یو کس پوښتنه وکړه چې: خلک تا ملامت کوي، ځکه چې ته دخلکو دمحنت ګټي نه رزق خوري راشه چې زه درته څه درکړم ده وفرمایل: که په ته تا کې پنځه عیبونه نه وي: نو ما به داسې کړې و یو خو دا چې ستا خزانه به کمه شي، دویم داچې کیدای شي چې غل بې زما نه یوسي. دریم داچې پښیمانه شي، څلورم داچې ما کې څه عیب وګوري اوپنځم داچې چې مال واپس راکړه، پنځمه داچې څه عجیبه به وي چې ستا اجل راشي اوزه به سروسامان پاتې شم. خو زما یو خدای دی اوهغه ددې ټولو عیبونو نه پاک دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت حسن بصري رحمه الله دري نصيحتونه:

حضرت حسن بصري رحمه الله دري عجيبه نصيحتونه کړي دي:

اول: خلکو! که تاسو غواړئ چې دخپل خان متعلق وروسته حالت يعنې مرګ نه وروسته کيفيت معلوم کړئ؛ نو دخان نه مخکې خلکو حالت وګورء دهغوی چې کوم ښه يا بد ذکر دی هغه به ستا هم وي

دويم: خلکو! کوم بنده چې مخلوق خپل پيروکارو ګڼي اوداخيال وکړي چې زه ليډر يا پيشوا يم؛ نو دده عقل زائل شو اودی به داحمق په لقب سره پيژندل کيږي.

دريم: خلکو! انسان که په کوم يو حال باندې وي، خو دنيا نه جدا کيدو په وخت کې د دې ځيانو ارمان کوي اول داچې افسوس؛ مال مې دطبيعت مطابق جمع نه کړو. دويم داچې افسوس چې فلاني ارمان مې پوره نه شوپه زړه کې مې پاتې شو، دريم داچې افسوس چيرته چې زه خم دهغه ځای تياری اودلاړی تونښه نشته خالي لاس روان يم

ہاتھ خالی جائیں گے دامن ہمارے جائیں گے
تیرے بندے تیرے گھرکس کے سہارے جائیں گے
وقت کے جو قدردان ہیں وقت کو کھوتے نہیں
بالیقین وہ دین و دنیا میں پکارے جائیں گے

دې ايت ترجمه: کوم بنده چې دالله نه ويريږي الله تعالی ده له پاره تکليفونو نه دوتلاړه راوباسي اوده ته دداسې ځای نه رزق رسوي چيرته چې دده ګمان هم نه وي اوکوم کس چې په الله باندې توکل وکړي؛ نو الله تعالی دده دکارونوپوره کيدو له پاره کافي دی، الله تعالی چې خنګه غواړي خپل کار پوره کوي الله تعالی دهر يوشي يوه اندازه په خپل علم کې مقرره کړی ده.

مسلمانانو! دډنيا زندګي ډيره مختصره ده که په اسلام باندې قائم پاتې شوی اوودې منله چې لګ شان تکليف دې برداشت کړ بيا به هم مرګ سره دداسې عيش اوسکون بيامونده کړي چې دې ځای ټول تکليفونه به هير کړي اوکه دغه تکليف يا لالچ په بنياد يو بنده داسلام نه واوښت؛ نومرګ سره به داسې مصيبت مخه وکړي چې دډنيا ټول عيشونه به هير کړي، بيابه دې مصيبت نه کله هم خلاصي نه وي؛ نوچاته چې لګ شان عقل هم وي؛ نوهغه به ټولې دنيابادشاهي په بدل هم اسلام پرې نه ږدي، اې الله! موږ او وروڼو ته هدايت نصيب کړه اوزموږ اوددوی عقلونه درست کړه. (حيات المسلمين)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د روژې انفرادي خصوصیت:

په روژه کې یو خاص خبره داده چې په بل یو عبادت کې نشته هغه داچې دروژه کیدو اوله کیدو سوا دالله نه چاته پته نه لګیږي له دې وجې روژه به هغه کس نیسي خوک چې دالله سره محبت یا یره لري اوکه في الحال لګ کمي هم وي؛ نودتجربې نه ثابته ده چې دمحبت اوعظمت کار کولو سره زړه کې دالله محبت اوعظمت پیدا کیږي، هغه به دین کې خورمه مضبوط وي اوپه روژه ساتلو سره ددین دمضبوطوالي خاصیت ثابت شو.

حضرت ابوأمامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ما عرض وکړ یا رسول الله! ما ته دیولوی عمل حکم وکړئ، ویې فرمایل: روژه ونیسه؛ ځکه چې هیڅ یو عمل ددې برابر نه دی، ما دوباره عرض وکړ یارسول الله! ماته دیو لوی عمل حکم وکړئ، ویې فرمایل: روژه ونیسه؛ ځکه چې یو عمل ددې په مثل نشته، ماپه دریم ځل باندې بیا عرض وکړ یا رسول الله! ماته دیو لوی عمل حکم وکړئ، ویې فرمایل: روژه ونیسه، ځکه چې یوعمل ددې په مثل نشته (نسائي وابن خزیمه)

فائده: ځنګه چې روژه ګناهونونه بچ کوي کوم چې باطني ناروغي ده همدغه راز ظاهري ناروغي هم بچ کوي. ځکه چې زیاترناروغي دزیات خوراک نه پیدا کیږي په روژې سره به دې کې کمي وي؛ نو داسې ناروغي به هم نه راځي.

روژه دبدن زکات دی:

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې سرکار مدینه ﷺ به فرمایل چې: دهر شي زکات وي اودبدن زکات روژه ده. (ابن ماجه)

تشریح: یعني ځنګه چې په زکات دمال خیری وځي دغه په روژه سره دوجود خیري یعني ماده فاسده چې هغه سره ناروغي پیدا کیږي وځي، په یو بل حدیث کې حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوی دی چې وفرمایل رسول الله ﷺ روژه نیسئ تندرسته به یئ. (طبراني)

فائده: روژې سره چې ځنګه ظاهري اوباطني مضرتونه زائله کیږي همدغه رازدې سره ظاهري اوباطني خوشالي هم ملاویږي حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو اوږد حدیث نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل چې: روژه دار ته دوه خوشالي نصیب کیږي؛ یو خو چې کله افطاري کوي (یعني روژه ماتوي؛ نوپه خپل افطاریي باندې خوشاله وي حالانکې ظاهره ده)اودوبمه خوشالي کله چې خپل پروردګار سره ملاو شي (هغه وخت)به خپلې روژې سره خوشاله وي. (بخاری)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د تراویح فضیلت

رسول الله ﷺ وفرمایل چې الله تعالی درمضان روژې فرض کړې او ما د رمضان شب سنت کړې د تراویح قرآن له پاره، ستاسو له پاره فرض کړې «الله په حکم سره» سنت وګڼلی دسنت موکده کیدو له وجې، هغه هم ضروري دي کوم بنده چې دایمان اوثواب په نیت د رمضان روژې نیسي اودرمضان شب بیداري کوي هغه به خپلو ګناهونو نه داسې وخي، لکه چې په کومه ورځ دی خپلې مور پیدا کړی و «نسائي»

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې روژه وقرآن دواړه به دقیامت په ورځ باندې شفاعت (یعني بخښش سفارش کوي. روژه به وایي چې ما زما پروردګار! مادی دخوراک څښاک اونفساني خواهشاتو نه بند ساتلی و. پس دده به حق کې زما سفارش قبول کړئ اوقرآن به فرمایي: مادی دخوب نه بند ساتلی و. پس دده به حق کې زما سفارش قبول کړئ رسول الله ﷺ فرمایي چې: ددواړو به سفارش قبول کړل شي «احمد طبرانی وحاکم»

د روژې افطار کولو فضیلت

حضرت سلیمان رضی الله عنه په حدیث کې دي چې کوم کس دیو روژه دار روژه ماتې وکړي. یعني افطاري پرې وکړي؛ نودابه دده دګناهونو دبخښش او دوزخ نه دخلاصیدو ذریعه جوړه شي اوده ته به هم ددې روژه دار برابرثواب ملاویږي، همدغه راز به دده ثواب هم نه کمیږي. خلکو عرض وکړ یارسول الله ﷺ! موږ کې هر بنده ددې طاقت نه لري چې په هغه سره دروژه دار روژه ماته کړي «ددې پوښتنه کوونکي دروژې ماتولو مطلب دا وګڼه چې په مړه خیټه خوراک ورکول» حضور ﷺ وفرمایل چې: الله تعالی دا ثواب هغه کس ته هم ورکوي چې دې روژه په یوه چواړه باندې یا اوبو یا په لسئ باندې ماته کړي «ابن خزیمه»

د اعتکاف ثواب

درمضان په میاشت کې مسجد کې اعتکاف ته کیناستل خاص کر اخری لسو ورځو کې ډیر لوی ثواب لري.

حضرت بن حسین رضی الله عنه دخپل پلار نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم بنده چې په رمضان کې دلسو ورځو اعتکاف وکړي د دوه حجونو اوعمرو برابر ثواب یې دی.

حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دي چې حضور ﷺ وفرمایل: اعتکاف کولو والا دهر قسمه ګناهونو نه محفوظ وي اوده ته داسې ثواب ملاویږي، لکه چې څوک ټولې نیکۍ کوي «مشکاة از ابن ماجه»

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

داختر دورځې فضیلت:

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې حضور اکرم ﷺ وفرمایل چې: کله داختر ورځ وي، نو الله تعالی فرشتو ته فرمایي چې زما بنده ګانو زما قرض ادا کړ بیا دعا له پاره راوتی دی زما دې په خپل عزت او جلال اوپه شان باندې قسم وي چې زه به دوی هر یو غرض پوره کړم، بیا فرمایي بس لاړ شئ، ما تاسو معاف کړئ اوستاسو بدیي می په نیکي باندې بدلې کړې، پس فرمایي بس لاړ شئ، ما تاسو معاف کړئ اوستاسو بدیي می په نیکي باندې بدلې کړې، پس هغه بښل شوی راواپس شي. (مشکاة بیهقي، حیات المسلمین)

الغرض: رمضان المبارک ماشت دتلاوت قرآن موسم اونیکانو ومتقینو اوصالحینو له پاره دعبادت نه افضل وي دحضور اکرم ﷺ ارشاد ګرامي دي چې کوم بنده په شب قدر کې دایمان اواحتساب سره عبادت وکړي دهغه مخکینۍ ګناهونه به معاف شي.

الله تعالی دخپل حکمت اورحمت په بنا باندې داشپه درمضان په اخری لسو ورځو کې پټه وسائله دي له پاره چې مسلمان ددې په تلاش وجستجو کې وي ددوی طلب اوهمت زیات شي اوهغه دا اخري ټولې شپې په دې لالچ کې قیام اوعبادت اودعا اومناجات کې تیرې کړي.

بهرحال دامقدسه میاشت غنیمت ګڼل پکاردي، ددې یوه لمحه هم په غفلت کې نه دي تیروللې پکار.

جو مانګنے کا طریقه هے اس طرح مانګو در کریم سے بندے کو کیا نہیں ملتا

دقیامت په ورځ باندې روژه دارو با ندې خصوصي رحمت:

په یو روایت کې دي چې روژه دارو له پاره به دقیامت په ورځ باندې دعرش دسوری لاندې یو دسترخوان غوړیږي اوهغه خلک به په دې باندې خوراک کوي اوخلک به په حساب کتاب کې وي اونور خلک چې وره وګوري؛ نو وایي به چې دوی ناست دي اوخوراکونه کوي اومونږ په حساب کتاب کې ګیر یو؛ نو دوی ته به جواب ملاو شي چې دې خلکو به روژه نیوله اوتاسو به بې روژې وئ. (مجالس الابرار)

الله تعالی دې مونږ ټولو ته درمضان دمقدسې میاشتې دحقوق اداکولوتوفیق رانصیب کړې اودې میاشتې ته دې پوره خیراوبرکت اورحمتونه نصیب کړي.

آمین برحمتك یا رب العٰلمین

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

رمضان المبارک دمیاشتي دویمه خطبه

دروژې فضائل اوبرکات:

درمضان المبارک میاشت سراسرخیراوبرکت دی، ددې یو اهم عبادت روژه ده. روژه دعربي لفظ صوم ترجمه ده، دصوم لغوي معنا ده یو شي نه خان ساتل بندول، اوپه اصطلاح شریعت کې روژه دې ته وایي چې بنده دالله تعالی دخوشنودئي په خاطر صبح صادق څخه نه واخله غروب افتاب پورې خوراک څښاک اومباشرت نه بچ پاتې کیدل

دروژې دفرضیت متعلق قرآن پاک کې راځي:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ۝ (سورة بقره آیت ۱۸۳)

ترجمه: اي مؤمنانو پر تاسو باندې روژه داسې فرض شوې ده، لکه چې له تاسونه پرمخکښو فرض شوې وه، ددې له پاره چې ځان ساتنه وکړئ.

فائده: ځکه چې په روژه نیولوسره بنده په نظام الاوقات باندې تبدیلي کوي. نفس ددوی دمخالفو تقاضو نه بندوي. ولګه تنده برداشت کوي اودې سره دنفس شهوات کمیږي له دې وجې انسان کې تقوا پیدا کیږي اوتقوا دروح معراج دی، په تقوا سره انسان انسانیت راځي اومتقي پرهیزګارولو پاره دنیا واخرت کې لوی لوی بشر تونه دي، داویل چې روژي په مخکښو امتونو باندې هم فرض وې په دې کې همت افزایي ده چې داعبادت داسې دی چې پرازې پرازې په تاسو باندې فرض نه شوې، بلکې له مخکې نه فرض راروان دي اوتاسو نه مخکې خلکو هم دا فرض پوره کړي دي.

دروژې ثواب

په دې حدیث مبارک کې دروژې دفضیلت سره سره ضروري هدایات هم ورکړل شوي دي.

وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَمَلِ ابْنِ اٰدَمَ يُضَاعَفُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ اَمْثَالِهَا اِلٰى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ قَالَ اللهُ تَعَالٰى اِلَّا الصَّوْمَ فَاِنَّهٗ لِيْ وَاَنَا اَجْزِي بِهٖ يَدَعُ شَهْوَتَهٗ وَطَعَامَهٗ مِنْ اَجْلِيْ لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ عِنْدَ فِطْرِهٖ وَفَرْحَةٌ عِنْدَ لِقَآءِ رَبِّهٖ وَلَخُلُوْفُ فَمِ الصَّائِمِ اَطْيَبُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ رِيْحِ الْمِسْكِ وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ وَاِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ اَحَدِكُمْ فَلَا يَرْفُثْ وَلَا يَصْخَبْ فَاِنْ سَابَّهٗ اَحَدٌ وَقَاتَلَهٗ فَلْيَقُلْ اِنِّيْ امْرُؤٌ صَائِمٌ. (متفق علیه)

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راویت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایي دابن ادم هر یو عمل په دوچند کیږي اوهمد غه رنګ دنیکي اجر لسو نه واخله تر اووه سوه پورې زیاتیدای شي اوالله

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تعالی فرمایي مگر روژه زما له پاره ده اوزه به ددې اجر ورکوم (یعني دروژې چې کومه جزا د
هغه یوازې زه پیژنم اوهغه به روژه دار ته زه پخپله ورکوم، په دې کې به بله فرشته هم واسطه
نه وي ځکه، چې روژه دار خپل خوراک څښاک یوازې ماله پاره پریږدي (یعني هغه زما دحکم
بجا اوري، زما رضاوخوشنودیې له خاطره اوزما ثواب طلب له پاره روژه ساتي) روژه دار له
پاره دوه خوشالیاني دي یوه خوشالي دروژه ماتي په وخت کې اودویمه خوشالي ثواب
ملاویدوله وجې، (خپل پروردګار سره ډملاقات په وخت، یاد ساتئ! دروژه دار دخولې بدبې
دالله په نزد باندې دمشک دخوشبو نه زیات خوښ دي اوروژه دال دی (یعني ددې له وجې
انسان په دنیا کې دشیطان دشر اوپه اخرت کې داور نه محفوظه وي) لهذا تاسو کې چې یو
کس روژه دار وي؛ نو فحش خبرې دې نه کوي اونه دې بیهودګي سره خپل اواز اوچتوي اوکه
یو (نادان جاهله) ده ته بد ووایي ده سره دجګړې اوراده وکړي؛ نوده له پاره پکار دي "چې زه
روژه دار یم،، (بخاری ومسلم)

تشریح: دنیک عمل په صله کې اجر لس درجې دي چې نیکي به یوه وي، خواجر به یې لس چنده
وي بیا ددې وروسته نیک عمل کوونکي په صدق اوخلوص باندې انحصار وي چې دده په
ریاضت اوخلوص اومجاهده کې څومره پختګي اوکمال زیاتیږي، همدغه رازدده په ثواب کې
به هم اضافه کیږي. تر دې چې ځینې حالاتو کې دنیکي اجر اووه سوه چنده ته اورسیږي داسې
ده چې دا اخري درجه ده، خومقامات اوحالات داسې دي چې په هغه کې یوه نیکي ددې نه هم
زیاته اجراوثواب والا شي، چنانچې منقول دي چې مکه مکرمه کې یوه نیکي په یو لاک
باندې لیکل کیږي، همدغه رازځینې نیکي په کروړونو ته رسیږي.

ارشاد باري تعالی دی اِلَّا الصَّوم ،،مگر دروژې نه سوا ،،دروژې فضیلت اواهمیت طرفته اشاره
ده چې دروژې ثواب بې انتها اولامحدوده دی چې دهغه مقدارسوا دالله تعالی څوک هم نه پیژني.

دروژې بې انتها فضیلت ولې دی:

په حواله دمظاهر حق روژه اودهغه ثواب اوفضیلت دوه سببه دي:

اول : خو دا چې روژه دنورو خلکو دنظر نه پټه وي دنورو عباداتو برخلاف چې په هغه کې دا
صفت نشته نور چې څومره عبادات دي هغه څه نه څه طریقې سره دخلکو نظر ته مخامخ راځي
یوازې روژه داسې عبادت دی چې هغه دالله اوروژه دار نه سوا بل چاته په نظر نه راځي له دې
وجې روژه یوازې دالله له پاره وي اوپه دې کې ریا اونمائش ته څه دخل نشته، چنانچې الله
تعالی دخپل ارشاد:

،،فَاِنَّهٗ لِیْ،، په ذریعه باندې دې طرفته اشاره کوي چې روژه خاص ماله پاره ده، ځکه چې روژه
صورتاً څه وجود نه لري اونورعبادات صورتاً وجود لري.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مسئله: دويم داچي په روژه کې نفس کشي اودبدن مجاهده ده ورسره روژې په حالت کې انتهايي کرب وتکليف صورتونه ولګه تنده هم مخې ته راځي اوپه دي باندې صبر کول وي، حالانکې نورو عبادتونو کې نه دومره تکليف اومشقت وي اونه خپل خواهش وطبيعت باندې دومره زور چنانچې ارشاد باري تعالى ,,يدع شهوته،، په ذريعه باندې دي طرفته اشاره ده چې روژه خپل خواهش پريږدي يعنې دروژې په حالت کې چې کوم شيان ممنوع دي هغه ددې تولو په کناره کشي اختيار کړي، دلفظ شهوته نه وروسته لفظ طعامه ذکر راغئ؛ نو دا تخصيص بعدالتعميم په طور باندې دي يا بيا شهوت نه مراد خو جماع ده اودطعام نه جماع نه پرته نورشيان مراد دي چې روژه ماتوونکي دي.

دافطار په وخت کې روژه دار ته خوشالي دوو وجونه کيداى شي يوخو داچې همدا وخت وي چې روژه دار دالله دحکم نه خان فارغ ګڼي اويا داچې هغه خان دعبادت دتوفيق اونورانيت له وجې مطمئن اومسرور ګڼي اوظاهره ده چې دخوشالي سبب دى، ددې نه پرته دنيايي اوجسماني طور باندې هم خوشالي محسوسيږي چې دتولې ورځې د ولګې تندې نه وروسته ده ته خه دخوراك له پاره ملاويږي، دحديث داخري جملې معنا داده که يو بنده روژه دار ته بدرد روابي يا ده سره دجګړې اراده وکړي؛ نوهغه کس دي ورته انتقاما بدرد نه وايي اونه دې ورسره جګړه کوي. بلکې دې کس ته دې ووايي چې زه روژه دار يم داخبره خو دې يا په ژبه سره ووايي چې دښمن دخپل ناپاکه ارادونه منع شي، ځکه چې روژه دار کله خپل مقابل ته دا روابي چې زه روژه دار يم؛ نوددې دا مطلب شو چې روژه دار سره دانه بنائيږي چې زه تا سره جنګ وکړم اوکله چې زه خپله جنګ شر ته تيارنه يم؛ نو تا سره هم مناسبه نه ده چې داسې حالت کې ته ما سره جنګ شر وکړې، ځکه چې داداصولو اوموروت خلاف ده ظاهره ده چې دا رويه اواندازه به دښمن مجبوره کړي چې هغه دجنګ شر نه منع شي، يا ددې دا معنا ده چې زه روژه دار يم اوتاله پاره داسې کول مناسب نه دي، ځکه چې زه دالله تعالى په امان کې يم، يا ددې دا مطلب دى چې روژه دار خپله زړه کې ووايي چې زه خو روژه دار يم ما له پاره داسې حرکتونه کول مناسب نه دي چې چا سره جنګ شر وکړم.

د روژې خصوصيت:

حضرت شاه عبدالعزيز محدث دهلوي ﷺ ليکي روژه يو داسې عبادت دى چې نورو عبادتونو کې به يې غير الله سره شريکول اوپه دې کې به يې نه شوکولى دى، نه دا خبره معلومه شوه چې کوم بنده روژه نيسي هغه يوازې دالله درضا له پاره نيسي اوهغه يو قسم لطافت اوپاکيزګي حاصلوي، ځکه چې هغه دالله داوصافو اوخلک سره مشابهت اختياروي، لکه څنګه چې الله پاك دخوراك څښاك نه منزه دى، همدغه راز روژه دار هم خپل خان د

کفايت کتب خانه ټيلى ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

خواهشات نفساني نه پاك ساتي. له دي وجهٔ دروژې لويه مرتبه ده چې دنورو عباداتونشته اندازه ولګوئ چې مشرکين عرب به هم روژه يوازې له دې وجهٔ نيوله، مګر نن هم ځيني مسلمانان دغير الله بزرګانو له پاره روژه نيسي چې ښکاره شرک دی بدعت دی

د روژې اداب:

په سحري کې دومره نه دي خوړل پکار چې تولهٔ ورځ اګرمي اوډکار کوي اوپه خای ددې چې: شهوت زور مات کړي: نو ربه هم سوا شي. ځکه چې کله ښه نه ښه غذا ګاني خوري: نو ضروربه شهوت زور دي اوداصلاح مقصد به نه حاصليږي اودخپلې ژبې، غوږ، سترګو نه هم حفاظت کوي. په بدنګاهي اوغلط خای باندې نظر اچولو نه به هم حفاظت کوي، دروژې حقيقت دی نه خوراك نه څښاك اونه بنځې سره مشغولتيا، صبح صادق نه واخله غروب افتاب پورې عام معمول کې داشيان حلال و، مګر رمضان المبارك کې حرام کړل شوي؛ نوچې له مخکې کوم شيان حرام و دهغو به خه درجه وي، بيا داهم خيال کول پکار دی چې کوم شيان حلال و هغه خو مې پريښودل، مګر کوم چې حرام دي هغه ولې وکړم

تا بدانی هر کرا یزدان بخواند از همه کار جهان بیکار ماند

کوم کس چې الله خپل جوړ کړي؛ نوهغه دټولې دنيا دکارونو نه بې کاره کړي اوپه حقيقت کې انسان انسان جوړشي بيا دده هريو کاردالله دخوښې موافق جوړ شي دده دنيا هم دين جوړ شي

نیم جان بستاند وصد جان دهد انچې درهمت نیاید ان دهد

کمزوری اوضعيف بنده پوهيږي اوخلک خپل سرونه ورکوي، يعنې الله له پاره چې کله بنده خرچ کوي: نودهغه بدله کې ډير زيات ملاويږي هغه دومره ورکړه کوي چې زموږوهم اوګمان کې هم نه وي

خود که باید این چنین بازار را که بیك گل میخری گلزار را

داسې بازار چيرته ملاويږي چې ديو ګل په بدله پوره چمن واخلي، يعنې الله تعالى دقطرې په بدله کې پوره سمندر ورکوي.

درمضان په مياشت کې تهجد اسان شي، ځکه چې هسې هم انسان سحري (پيشمني) له پاره پورته کيږي؛ نو کم از کم دوه رکعته تهجد دې هم وکړي؛ نوځومره ثواب به وګټي الله والا بنده ګان خو ټول کال تهجد نه پريږدي هغوی خو ټول کال مجاهده اوریاضت کوي دوی له پاره خو هره شپه شب قدر ده

اے خواجه چے پرسی ز شب قدر نشانی هر شب شب قدر است اگر قدر بدانی

اې خواجه دشب قدر دنشانو څه تپوسونه کوي قدردانو له پاره خو هره شپه شب قدر دی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

روژه کې دوه شیان دي، یو خو ده نفس په مشقت کې اوچول دهغه دخواهش خلاف خوراک څښاک جماع وغیره پریښودل دویم عام معاصي اوګناهونه پریښودل هم دې سره تقوا حاصلیږي. که یو بنده دروژې باوجود هم ګناهونه نه شي پریښودی؛ نو دده روژه بې فائدې ده له دې وجې حضور اقدس ﷺ فرمایي کوم بنده چې په روژه کې دروغ پرې نه دي اوبیهوده خبرې پرې نه دي؛ نوخدای تعالی ته دده دروژې هیڅ ضرورت نشته، دانسان نفس دروژې باوجود ګناهونه ته رابلي له دې وجې نفس سره جهاد وکړه اوګناه پریږده.

فرمائی: "المجاهد من جاهد نفسه"، مجاهد حقیقي هغه دی چې دخپل نفس سره جهاد وکړي اوهغه دپښو لاندې کړي.

اے شهاں کشتیم ماخصم بروں ماند زو خصمے بد در اندروں (روی)

یعني خلکو! اګر چې موږ خو ظاهري دښمن هلاک کړ، خو یو دښمن چې ددې نه هم زیات بدتر اونقصان ده اوخطرناک دی هغه دننه پاتې شوی دی چې هغه ته نفس وایي.

حضرت تهانوي ﷺ فرمایي: خان پوهول پکار دي چې دنفس دمخالفت دري درجې دي:

(۱). ګناهونو کې مخالفت (۲): حظوظ کې مخالفت کول (۳) حقوق کې مخالفت کول

په معاصي کې خو مخالفت کول فرض اواجب دي اومخالفت في الحقوق معصیت دی اوپه حظوظ کې مخالفت تفصیل دی، بالکل پریښودل مذموم دي، اَلبته تقلیل بهتر دی بالکل پریښودل، ځکه چې بالکل پریښودلو کې تنګي ده، دټولو کارونو پریښودلو اندیښنه ده، بس وابالکل تنګوه مه بالکل وسعت وکړه اودرمیانه چال باندې ځه اوبالکل حظوظ (مزی) نه پریښودکې یو راز داهم دی چې دې کې خدای سره محبت وي، ځکه چې کله ګرمي اوبه ځښي نومړی ژبې نه به الحمد لله وځي اوکله چې ینبې اوبه ځښي؛ نو نفس ته به راحت ملاویږي؛ نو نفس نس نه به الحمد لله وځي، زموږ حضرت به فرمایل چې: هم دا راز دی سفر مع کې دلاړي توبنه وړل پکار دي ددې له پاره چې نفس نه تکلیف نه وي.

حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي ﷺ به له دې وجې دیخو اوبو اهتمام کاو، یو کس مرزا مظهر جان جانان ﷺ ته عرض وکړ چې یو بنده خالصه خوږه نه خوري، بلکې اوبه پکې ملاویږي اوخوري وبې فرمایل چې: هغه ناقصه دي کومه خالص تجلي چې دالله په خالص چې به خالصو کې ده هغه په دې اوبو کې چیرته ده راز په دې کې دادی چې کوم خالصه خوږه وخوړل شي هغه سره زړه خوشاله شي اودنس نس نه به الحمد لله وځي.

الحاصل لذات بالکل مه پریږده.

(دریم مخالف في الحقوق: په دې کې د نفس مخالف حرام مثلاً: دومره خوړل ضروري دي چې کمزوری نه وي اودومره اوده کیدل ضروري دي چې سستي نه وي زه خپلو ته وایم چې اته ګنټي خوب کوي، که نه وي؛ نو شپږ ګنټې خوب کوي ددې نه کم خوب سره په دماغو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

بوج او خُشکي راځي بيا ورو ورو ددي نه ليونتوب شي، بيا چې څومره کار کوي دهغه نه به هم پاتې شي. پس دمجاهدې تفصيل دادی.

قلة الطعام (کم خوړل) **قلة المنام** (کم خوب) **قلة الکلام** (کمې خبرې) **قلة الاختلاط مع الانام** (خلکو سره ميل جول ساتل) نن سبا دخلکو دا حال دی چې بيتکونو اودالانونوکې کيني؛ نو ديو بل غيبتونه کوي څوک اخبار ګوري، څوک شطرنج کوي، څوک تاش کوي افسوس داخلک د فراغت قدر نه کوي خپل وختونه ضائع کوي، ددې نه وروسته **قلة الطعام**، **قلة المنام** يعنې کم خوړل کم خوب کول ددې بالکل اجازت دی چې په مړه خيټه باندې خوره کم مړه خوره، خو بې حده نه يعنې په ډک نيت سره نه، ځکه ددې مرتبه دخيټې ډکولو نه ډير وروسته ده، يودې خيټه ډکول اويو دې نيت ډکول؛ نونيت ډکول نه دي پکار ددې هيڅ فائده نشته خوراک نه هضميږي، دويم تيم له پاره ولګه نه وي په طبيعت باندې بوج وي غذا ډيدن جز نه جوړيږي، ځيني خلک خو دومره وخوري چې دساه اخيستو ځای په کې نه وي.

لطيفه: مولانا فيض الحسن چې طبيب هم و ده ته يو کس راغی چې زما په خيټه کې درد دی يو نسخه وليکی مولانا دځنبلو يوه دوايي وليکله هغه وويل: حضرت! که دومره ګنجائش وي؛ نو ما به يوه لقمه نه خوړله، ديو بل بخيل حکايت دی چې هغه هم دښه خوراکونو په لالچ کې دومره وخوړله چې خيټه کې يې درد شوطبيب ته لاړو طبيب ورته وويل چې ګوته وردننه کړه اوبهر راوباسه، ويې ويل داسې عمده پلاو غوښه، زرده، زغفران ولې راوباسو، خوراک يوه لقمه نيمه چې کمه وخوري؛ نو ښه به وي، ځکه په دې کې فائده داده چې دويم تيم به درته ولګه ولګه اوخه چې وخوري؛ نو جزو بدن به جوړ شي، بهر حال مه په ډک خيټه خوره اوبه وګې پاتې کيږه، ځکه چې دنن سبا قوتونه ډير کمزوری دي. (وعظ روح الصيام)

د روژې مقصد:

دالله رضامندي. حصول تقوا دا دروژې مقصد دی، دهغه له پاره ضروري ده چې بنده کم وخوري اوکمې خبرې وکړي، کمو خلکو کې ميل جول وکړي اوخپله ژبه، سترګې، لاسونه، خيټه دګناهونو نه حفاظت وکړي، ځيني خلک دروژې پاس کولو له پاره لږو شطرنج يا تاش کوي، ځيني خلک سياسي خبرو کې اخته وي، ځيني خلک معاذالله په روژه کې هم تي وي او وي سي ار ته ناست وي يا په ټيپ باندې سندرې وغيره اوري، حالانکې دژره خوشالولو له پاره اوښه وخت تيرولو له پاره خو دقرآن کريم تلاوت ذکرالله وغيره دي، يا نوافل يا يو بنده اوده وي کم از کم ګناهونو نه خو بچ وي کنه.

اګر بيايد ملك الموت كه جانم ببرد　　تانه بينم رخ تو روح دميدن نه دهم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اګر که ملك الموت زما روح قبض کولو ته راغئ؛ نو زه چې خو پورې سنا سو تجلي ونه ګورم روح به نه ورکوم

هر ګز نه میرند انکه دلش زنده شد بعشق ثبت است بر جریده عالم دوام ما

دچا زړونه چې عشق الهي باندې ژوندي وي هغوی مري نه، بلکې باقي پاتې وي.

الله الله ؛ این چیے شیرین است نام شیر و شکر مے شود جانم تمام

الله الله خومره خوږ نوم دی زما تول روح شیروشکر شو.

نبي کریم ﷺ فرمایي چې: په رمضان کې کوم یو انسان دذکرالله په مجلس کې حاضر شي الله تعالی دده له پاره هر هر قدم باندې دیو کال عبادت ثواب لیکي اوقیامت په ورځ باندې هغه دعرش دسورې لاندې وي اوکوم بنده چې په رمضان کې دجماعت للمونځ پابندي کوي الله دهر رکعت په عوض کې ده ته دنور یو بنار ورکوي اوکوم کس چې دوالدینو سره حسن سلوك اوخدمت کوي الله تعالی به ده طرفته درحمت اومهربانې په نظر باندې ګوري اوزه دهغه ډمه دار یم. (نزهة المجالس)

دروژې درجې:

حضرت امام غزالي ﷺ فرمایي چې: دروژې دري درجې دي دعوامو روژه خو داده چې خپله اوشرمګاه دخواهشاتو نه بنده وساتل شي اودخواصو روژه داده چې دګناهونونه لاس پښې بندې کړي اودخواص الخواص روژه داده چې ماسوا الله نه بچ وي.

حضرت مکحول ﷺ فرمایي چې: په اهل جنت باندې به یوه پاکیزه هوا چلیږي، خلک به وایي اې ربه! دا خومره پاکیزه هوا ده دالله تعالی ارشاد دی چې دروژه دارو دخولې هوا به ددې هوا نه هم زیاته پاکیزه وي.

په یو روایت کې دي چې دقیامت په ورځ باندې درمضان میاشت به په یو ښه صورت کې راشي دخدای مخې ته به سجده وکړي اوورته به ویل شي چا چې ستا حق ادا کړی وي دهغه لاس ونیسه اوهغه به دخپل حق دار لاس ونیسي اودالله حضور ته به یې راولي اوتپوس به تري وشي چې ته څه غواړې هغه به عرض وکړي اې خدایه! ددې کس دوقارتاج راکړه چنانچې ده به دوقار تاج په سر کړل شي اوددې نه به څه زیات دده عزت افزائي وشي چې هغه یوازې الله ته معلومه ده.

اوحضرت نبي کریم ﷺ فرمایي چې: رمضان دپوره کال زړه دی کله چې هغه درست وي؛ نوتول کال به درست وي، یعني چاچې رمضان سهي تیر کړ؛ نو تول کال به یې سهي وي. (نزهة المجالس)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په یو بل حدیث کې دي کله چې قیامت وي؛ نو الله به رضوان فرشتې ته وفرمایي چې ما روژه دهغوی د قبرونو نه ولګې تندې حالت کې راویستې دي، ددوی په استقبال کې دجنت نه ددوی خواهش پوره کړئ؛ نو رضوان به اواز وکړي، اې دجنت غلمان اودنور بچیو والا طباق راوړئ، نو دوی ته دستورو نه هم زیات میوې اونهایت لذیزه خوراک راوړئ، بیا به ددوی دروژه دار نارینه اوزنانه میلمستیا وشي او دوی ته به وویل شي چې ښه په مړه خیټه خوراک وکړئ دهغو ورځو په بدل کې په کومو کې چې تاسو روژې نیولې دي. (نزهة المجالس)

حکایت

یو مجوسي خپل زوی په رمضان کې دیو مسلمان مخې ته په خوراک باندې ولیده؛ نو ویې واهه او ویې ویل چې: تا په رمضان کې حرمت مسلمین ولې باقي ونه ساتلو، بیا هم په دغه هفته کې دده انتقال وشو، دښار یو عالم هغه په خوب کې ولیده چې هغه په جنت کې دی، له هغه نه یې پوښتنه وکړه چې ایا ته مجوسی نه وې؟ هغه وویل ولې نه؛ خو کله چې زما مرګ قریب شو؛ نو الله تعالی زه درمضان داحترام دوجې نه زه مسلمان کړم. (نزهة المجالس)

عیون المجالس کې یې لیکلي دي چې دالله تعالی دقول ,,السائحون،، نه مراد روژه دار دي، ځکه چې ,,سائح،، سیاحت کوونکي ته وایي اوسیاحت کوونکي چې کله یو عمده ښار ته ګوري؛ نودهغه طرفته متوجې شي.

په یو حدیث کې نبي کریم ﷺ نه مروي دي چې مومن کله په رمضان میاشت کې بیدار شي؛ نوده ته فرشته وایي چې پاسه الله دي په تا باندې رحم وکړي، کله چې پاسې؛ نودهغه بستره دهغه له پاره دعا کوي چې اې الله ده له پاره په جنت کې اوچتې بسترې ورکړه، بیا چې کله جامې بدلوي؛ نو ده له پاره دعا کوي، اې الله ده ته په جنت کې جوړې ورکړه اوکله چې پیزار اچوي؛ نو هغه ده له پاره دعا کوي دی په پل صراط باندې ثابت قدم کړه، کله چې دی لوښې اوچتوي؛ نو ده له پاره دعاکوي چې اې الله ده ته دجنت ګلاس اوپیالې ورکړه اوکله چې اودس کوي؛ نو اوبه ده له پاره دعا کوي چې دی دګناهونو نه پاک وصاف کړه اواګر که دخدای مخې ته اودریږي؛ نوله پاره بیت الله دعا کوي،

اې الله دده لحد منوره کړه اوده قبر کشاده کړه اوالله تعالی دده طرفته نظر رحمت باندې ګوري اوفرمایي اې زما بنده! ستا له طرفه دادعا ده اوزمونږ له طرفه قبولیت، په رمضان کې خدای نه سوال کوونکي نامراده نه پاتې کیږي اونبي کریم ﷺ نه مروي دي چې دروژه دار اوده کیدل هم عبادت دي اوده ساګاني دده تسبیح دي اوده دعا مقبوله ده اوده ګناهونه به بښل کیږي اوده عمل دوچنده شي. (نزهة المجالس)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د سحري (پیشمني) فضیلت:

نبي کریم ﷺ فرمایي چې: الله کریم فرمایي چې هغه بنده ماته دټولو نه زیات محبوب دي کوم چې ډټولو نه مخکې افطار کوي (یعني کله چې دافطار ټیم وشي؛ نو تاخیر په کې نه کوي) او نبي اکرم ﷺ فرمایي دري شیان خدای ته خوښ دي زر افطار کول، سحري تاخیر سره کول اوپه للمونځ کې یو لاس په بلې باندې اچول.

نبي کریم ﷺ وفرمایل سحري خوري، ځکه چې په سحري خوړلو کې برکت دی اوحضور ﷺ وفرمایل چې: بیشکه خدای تعالی سحري خوړونکي باندې رحمت رالیږي اوویې فرمایل چې: ټول سحري برکت دی پس دامه پریږدی اګر که یو ګوټ اوبه ولې نه وي ورسره یې دا هم وفرمایل چې: الله سحري کولو والا باندې رحم کوي.

نبي کریم ﷺ وفرمایل: خلک به ښه پاتې شي تر خو چې دوی به وخت باندې افطاري کوي اوسحري په تاخیر سره وي یاد سائل پکار دي چې سحري صبح صادق پورې وخت دی اوصبح صادق نه وروسته خوراک څښاک کول حرام اوناجائزه دي.

دافطاري دعا داده: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ لَکَ صُمْتُ وَبِکَ اٰمَنْتُ وَعَلَیْکَ تَوَکَّلْتُ وَعَلٰی رِزْقِکَ اَفْطَرْتُ.

دا دعا لوسټل پکار دي.

نبي کریم ﷺ فرمایي چې: کله تاسو کې یو کس افطاري کوي؛ نوهغه لره په چوارہ یا په کجوره باندې افطاري کول پکار دي، ځکه چې په دې کې برکت دی اوکه دا نه وي؛ نو بیا اوبه ښې دي.

اول حکایت:

د سلطان ظفرل یو وزیر ابومنصور و چې ډیر زیات نیک سیرته و سهار للمونځ به یې چې وکړ؛ نو درود به یې ویلې اوبیا به یې اشراق وکړل اودربار شاهي ته به لاړ، یو خل بادشاه ته په وخت څه ضروري کار پیښ شو اودی یې په وخت طلب کړ خو ده څه توجو ورنه کړه، حاسدین اومخالفینو ته موقعه ملاو شوه، بادشاه یې غوسه کړ چې وګوره؛ ستاسو په فرمان باندې هم ده څه توجو ونه کړه، ابو منصور چې کله دمعمولاتو نه فارغه شو؛ نو دربار ته حاضر شو، په ډیرې سختې سره یې تري نه دناوخته راتلو پوښتنه وکړه، وزیر ورته وویل ګوره بادشاه؛ اول زه دالله بنده یم اوبیا دبادشاه ملازم یم، تر خو چې دالله دبندګۍ نه فارغه شوی نه یم تر هغه دستاسو خدمت نه شم کولی بادشاه چې داسې بې باکه جواب واوریدل؛ نو په ژړاشواوه یر تري خوشاله شو اوویې ویل چې بیشک اول دالله بندګي کوه بیا زما خدمت، ځکه چې په دې سره به زمونږ وران کارونه جوړیږي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دويم حكايت:

حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله خلافت اخيستونه وروسته حضرت حسن بصري رحمه الله ته خط وليكلو چې ما ته يو خدا رسيده بزرګ راوليږه چې وخت په وخت ماته نصيحت کوي په جواب کې حضرت وفرمايل چې تاسو خنګه کس غواړی هغه به تاسو ته راځي نه وکوم چې درشي دهغه به تاسو ته ضرورت نه وي، البته نصيحت باره کې دی چې څه ليکلي دي؛ نو خان پوه ګڼه کوم بنده چې دالله نه بريږی دهغه نه ټول بريږی اوکوم چې دالله نه شرميږي ټول دهغه نه شرميږي اوخوک چې په ګناهونو باندې جرأت کوي ټول په هغه باندې جرات مند شي اوخوک چې نن بې خوفه وي سبا به په خوف کې وي اوخوک چې نن دالله نه په ويره کې وي سبا به بې ويره او مطمئن وي اوخوک چې مغروره وي په دنيا واخرت کې به ذليله وي، دټولو نيکيو حاصل صبر کول دي اودصبر ثواب بې حسابه دی، په خپلو ټولو معاملاتو کې دالله نه پناه غواړی دی له پاره چې الله درکړي اوپه الله باندې توکل کوی؛ نو هغه به درکړه هم کوي اوخوک چې دسترګو حفاظت نه کوي؛ نو دهغه غمونه ډير وي اوخوک چې دژبې حفاظت نه کوي هغه خپل خان هلاکت کې اچوي اخر کې بې دا وفرمايل دايوخو کلمات درهبري دعمل له پاره کافي دي.

دريم حكايت:

يو امانتدارکس دخليفه عبدالرحمن په خدمت کې حاضر شو اوعرض يې وکړ چې ما ديو سرکاري ځمکې ټکړه اخيستې وه، کله چې مې دهغه کُدابي کوله؛ نو په هغه کې پنځوس زره اشرفي راوتلې ما خو صرف ځمکه اخيستې وه په دې کې دفن شوی مال مې نه و اخيستی، له دې وجې دامال دی دسرکار په خزانه کې جمع کړل شي، خليفه وويل: کله چې مورِ ځمکه خرڅه کړه؛ نودې کې مدفون مال هم مورِ خرڅ کړی دی لهذا داستاسو حق دی، خوددې امين اونيک بنده دا اصرارو چې دامال به بيت المال کې جمع کړئ بادشاه اوخليفه ددې بنده ددې امانت ګړی نه ډير زيات متاثره شوه اودامال يې دهغه په دې اصرار باندې بيت المال کې جمع کړ، ددې کس په دې ديانت داريې سره باقي رعايا هم ډير زيات متاثره شو چې داسې امانت اوديانت پکار دی.

الله رب العزت دې مورِ ته هم دداسې پاکيزه خلکو اتباع نصيب کړي، ددنيا حيثيت دې زمورِ په سترګو کې کم شي اوداخرت دې زيات شي رب العلمين راضي کولو کوشش وکړه رمضان دتربيت مياشت ده، راځئ په دې مقدسه مياشت کې روحاني و ايماني تربيت حاصلولوکړو اوروح پاک وصاف کړواودنيا نه ځمنده پاتې نه شو، بلکې الله تعالى راضي کړو.

الله دې دعمل توفيق راکړي اوداتوفيق دې هم رانصيب کړي چې مورِ خلک نيک اعمال کوونکي جوړ شواوقابل تقليد مسلمانان جوړ شو، دې له پاره چې دنيا واخرت مو جوړ شي اوداسې اعمالو نه پرهيز وکړو کوم چې مو ګمراهي اوتباهي اوبربادۍ طرفته وړي.

اله العلمين! مورِ ته دعمل صالح توفيق رانصيب کړه امين يارب العلمين.

و آخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العلمين

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درمضان المبارک دمیاشتې دریمه خطبه

روژه او تقوا

دروژې په مقاصدوکې اهم مقصد حصول تقوا ده، تقوا اوپرهیزګاري دټولو نیکیو جړه اوبنیاد ددی ارشاد باری تعالی دی:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝ (سورة بقره آیت ۱۸۳)

ترجمه: اې مؤمنانو پر تاسو باندې روژه داسې فرض شوې ده، لکه چې له تاسونه پرمخکښو فرض شوې وه. ددې له پاره چې ځان ساتنه وکړئ.

روژې سره تقوا اوپرهیزګاري حاصلیږي اودتقوا بدله جنت دی، ځنګه چې ارشادباري تعالی دی چې دهغه مقصد دادی چې خوف خدا اونفس دخواهشاتونه بندولو بدله جنت دی.

((وَاَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى)) (سورة النازعات: ۴۱ - ۴۰)

او څوک چې د خپل رب په مخ کې دربدلونه ډارشوی او ځان یې له هوسونو ساتلی وي: نو بې شکه جنت یې استوګنځی دی.

حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې حضوراکرم ﷺ وفرمایل: څوک دالله نه ویریږي قوت سره زندګي تیروي اودخدای په ملک کې بې خوفه ګرځي.

حکایت:

یوه ورځ حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام خپلې چیلې څرلې اوراوتو اوبو داسې میدان ته ورسید لیوان ډیر زیات وو دی ستړی او اودخوب غلبه وه، دا وخت کې پریشانه و چې کهه چیرته ګډوډ چیلو نګهباني کوم؛ نو خوب مې بې بسه کوي اوکه اوده کیږم؛ نو لیوان ګوي چیلې مانوي په دې خیال کې ده اسمان طرفته وکتل اودادعا یې وکړه: اَحَاطَهُ عِلْمُكَ وَنَفَذَتْ اِرَادَتُكَ وَسَبَقَ تَقْدِيْرُكَ (توحیدي کلمات دي) له دې وروسته یې سر کیښودو اواوده شو، کله چې بیدار شو: نو څه ګوري چې یولیوه په خپله اوګه باندې عصا ایښې وه اودګډو چیلو نګهباني یې کوله په دې باندې موسی عَلَيْهِ السَّلَام ته ډیر لوی تعجب وشو، الله تعالی هغه ته وحي راولیږله چې اې موسی! ته ما له پاره داسې شه ځنګه چې زه غواړم زه به تا له پاره داسې جوړ شم ځنګه چې ته غواړې

حکایت:

کتاب الفرج بعد الشدة، کې دي چې ملک مصر کې دیو راهب دمکاشفې ډیر لوی شهرت و یو مسلمان عالم سوچ وکړ چې دده قتلول پکار دي، داسې نه وي چې مسلمانان په فتنه کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

واچوي لهذا هغه خان سره دزهرو يوه چاړه واخيسته کله چې دهغه کور ته ورسيد؛ نو دروازه يې وټکوله له کوره اواز راغی اې دمسلمانانو عالمه! چاړه وغورځوه اوراددنه شه، هغه چاړه وغورځوله اوورننه شو، دي مسلمان عالم تري پوښتنه وکړه چې تا ته دا نورمکاشفه له کومه خای نه ملاو شويده. جواب يې ورکړ چې دنفس مخالفت باندې، بيا تري پوښتنه وکړه ستا نفس اسلام قبلول غواړي؟ هغه وويل: نه! دي عالم ورته وويل بيا حسب معمول دخپل نفس مخالفت وکړه اواسلام قبول کړه

حضرت نبي اکرم ﷺ ديو قوم خلاف جهاد ته راوتی و، ويې فرمايل چې: تاسو جهاد اصغر جهاد اکبر طرفته راغلي يئ چا تري پوښتنه وکړه چې جهاد اکبر څه شی دی؟ حضور ﷺ وفرمايل: نفس سره جهاد کول. (نزهة المجالس)

خپلې بزرګان فرمايي چې: خوک هميشه په عافيت کې اوسيدل غواړي؛ نو هغه ته پکار دي چې دالله تعالی نه ويريږي.

نبي کريم ﷺ فرمايي که ديو کور اويا کمري وي اوپه ټولو کې داوسپنې تالی لګيدلی وي اوپه دې کې دټولو نه دننه کمره کې يو بنده په تقوا اوخوف خداوندي کې مشغوله وي؛ نو بيا به هم الله تعالی ده ته دخپل عمل ځادر ورواچوي، حتی چې خلکو کې به دده شهرت وشي.

حضرت امام غزالي رحمه الله منهاج العابدين کې فرمايي: چې قرآن کريم کې لفظ تقوا په دري معناو سره راځي:

(۱): **تقوی عن الشرك** يعني شرك نه پرهيز کول.

(۲): **تقوی عن المعاصي** يعني ګناهونو نه پرهيز کول.

(۳): **تقوی عن البدعة** يعني بدعت نه ځان ساتل.

حکايت: حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ته يو ميلمه راغی؛ نو ميدان ته راووتل هغلته دوی هوسی اومرغی ولیدلې، يوې هوسی اومرغی طرفته يې اشاره وکړه هغه دواړه ددوی مخې ته راغللي، ميلمه وويل: سبحان الله! الله تعالی هوسی اومرغی ستاسو مسخر کړي دي، حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه وفرمايل: تاسوچيرته داسې بنده ليدلی دی چې هغه دالله اطاعت کړی وي اوبيا هم يو شی دهغه نافرماني کړی وي؟ حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه دوه سوه اوپنځوس (۲۵۰) کاله ژوندی و.

رمضان میاشتې سره دتقوا تعلق:

درمضان میاشت کې تقوا حاصلول اسان دي، ځکه چې په دې میاشت کې ماحول سازګار دې دعبادت بازار ګرم وي شیطانان قید وي حدیث پاک کې راځي:

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ وَمَرَدَةُ الْجِنِّ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ وَفُتِحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ وَيُنَادِي مُنَادٍ يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ وَلِلَّهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ.

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راويت كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل: كله چې درمضان مياشتې اوله شپه راځي؛ نو شيطانان اوسركشه جنات قيد كړل شي اوددوزخ دروازې بندې شي بيا دهغه يوه دروازه هم كولاو نه وي اودجنت دروازې كولاوي كړل شي اويوه دروازه هم بنده نه وي اواعلان كوونكي فرښته اعلان كوي چې اې دنيكيو طلبګاره! الله طرفته متوجه شه او اې دبدئي اراده كوونكيه! دبدی نه منع شه الله تعالى ډير خلک ددوزخ نه ازادوي يعني الله تعالى ددي مبارکې مياشت په وسيله سره ډير خلک ددوزخ داور نه بچ كوي. له دي وجې واهم كيداى شي چې ته هم په دې كې شامل يې، اودا اعلان درمضان په هره مياشت كې وي (ترمذي. ابن ماجه بحواله مظاهر حق)

تشريح: درمضان مياشت شروع كيدو سره شيطانان وترل شي له پاره ددې چې هغه روژه دارډوكه نه كړي اوددوى په زړونو كې وسوسې اوګنده خيالات وانه چوي، چنانچې ددې د ټولو نه لوى ثبوت دادى چې په رمضان المبارک اكثر ګناهګار دګناهونو نه بچ وي اودالله طرف نه متوجې وي، البته داسې بدبخت هم وي چې په دې مبارک مياشت كې هم دګناهونو اومعصيت نه هم منع كيږي نه؛ نو ددې وجه هغه اثرات وي چې درمضان نه مخكې ورځو كې شيطان ددوكه كولو له وجې بدطبيعتونو ده كې راسخ شوي وي، يعني چونكه دده طبيعت اوروجود دواړه دشيطان زير اثر پاتې شوي وي اوده دنفس دهغه عادي شوي وي، له دې وجې داسې خلک دخپل عادت نه مجبوره وي اويه رمضان المبارک كې ګناهونو نه نه بچ كيږي.

"الله طرفته متوجې شه،، ددې مطلب دى چې دخداى بندګۍ، دهغه عبادت اودهغه درضا اودخوشنوديې په كارونو كې مشغولتيا زياته كوه خكه چې داوخت داسې دى چې كه لږ شانتې هم نيك عمل وشي؛ نو دهغه به اجر ملاويږي اودمعمولي درجې نيكي اوسعادت اودنيك بختي په اوچته درجه به اورسيږي دغه "بدئ نه منع شه،،مطلب دادى چې دګناه اومعصيت لاره پرېږده دنيكي اوبهتريې والا لاره خپله كړه په خپلو شويو ګناهونوباندې تابه تائب شه اوالله طرفته توجو وكړه خكه چې دقبوليت دعا اومغفرت دا بهترين وخت دى.

كفايت كتب خانه ټيلى ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

د رمضان په میاشت کې شیطانا نا نوقید کیدل:

شیطانانو قید کیدو مطلب دیو حدیث په اعتبار سره داهم دی چې په دې مبارکه میاشت کې یوازې هغه شیطانان قید کیږي کوم چې سرکش وي، ملا علي قاري ﷺ فرمایي چې په رمضان کې واړه واړه شیطانان ازاد وي چې دهغه له وجې خلک دهوکه کوي اوپه رمضان کې هم دګناه دصادر کیدو سلسله جاري وي.

یو جواب دا هم ورکول کیږي چې ځینې ګناهونه داسې وي چې دشیطانانو دهوکې له وجې نښکاره کیږي اوځینې ګناهونه داسې وي چې دخپل له وجې دتقاضي له وجې صادریږي هغه په رمضان کې هم صادریږي.

دلیلة القدر فضیلت:

رمضان میاشت کې دالله تعالی یوه خاص شپه وي چې لیلة القدر ورته وایي اودثواب په اعتبار سره دزرومیاشتو نه بهتره وي (یعني په دې میاشت کې عمل کول دهغه زرو میاشتو نه بهتر وي کومې کې چې لیلة القدر نه وي) خوچنده زیات بهتر وي، لهذا کوم بنده چې دې میاشتې دخیر اوبرکت نه محروم شو. هغه دهر قسمه خیر نه محرومه شو یعني په داسې مقدسه شپه کې هم ده ته دعبادت توفیق ملاو نه شو؛ نو څومره غټه بدبختي ده که پوره شپه دعبادت توفیق ملاو نه شو؛ نو کم از کم دشپې اوله برخه یا په اخره برخه کې عبادت کول پکار دي اوپه دې شپه کې چې کله هم موقعه ملاوشي؛ نو عبادت کول پکار دي ځکه چې منقول دي چې کوم بنده کم از کم لیلة القدرباندې دماسخوتن للمونځ وکړي؛ نوده ته هم دلیلة القدر سعادت نصیب شو

لیلة القدر چونکه عظیم القدر دی له دې وجې دي ته لیلة القدر وایي، داکثر احادیثو نه داثابته ده چې دامقدسه شپه په رمضان المبارک کې راځي، خصوصا درمضان اخري عشره اوبالخصوص اوویشتمه (۲۷) شپه باندې لیلة القدر وي، چنانچې اکثر علماء اوویشتم (۲۷) شپه لیلة القدر ګڼي.

دلیلة القدر سعادت خاص طور دأمت محمدیه له پاره مخصوص شوې له پاره ددې چې ددې أمت خلک دخپل کم عمرونوسره زیات ثواب حاصل کړي، ددې متعلق یو روایت هم منقول دی چې دهغه حاصل دادی: کله چې حضور ﷺ ته دمخکینو أمتونو دزیات عمرونو باره کې معلومات وشول؛ نوحضور ﷺ دافسوس اظهار وکړ چې زما دأمت خلک ددې کمو عمرونو سره زیات ثواب نه شي حاصلولی؛ نوله دې وجې الله تعالی دحضور ﷺ په واسطه ټول امت ته لیلة القدر عظیم سعادت ورکړ چې دزرومیاشتو نه بهتره ده.

مرادیں بھی مانگو تو اللہ سے دعائیں بھی مانگو تو اللہ سے

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وهی ایك هے سب کا حاجت روا وهی ایك هے سب کا مشکل کشا

په یو بل روایت کې دي چې دابن ابي حاتم نه منقول دي هغه بیانوي چې یو خل نبي اکرم ﷺ د بني اسرائیلو دځلورو کسانو ذکر وکړ چې هغوی اتیا کاله الله تعالی عبادت کړی و اوده هغوی یوه لمحه هم دالله په نافرمانۍ کې نه وه تیره شوې اوهغه اشخاص داو

(۱): حضرت ایوب علیه السلام (۲): حضرت زکریا علیه السلام

(۳): حضرت حزقیل علیه السلام (۴): حضرت یوشع بن نون علیه السلام

دابې چې او وریدل: نو صحابه کرامو ډیر زیات تعجب وکړ اوتمنایې وکړه چې کاش زموږ هم دومره عمر وای چې دومره زمانه دالله به عبادت کې مشغوله وې، بیا حضرت جبریل علیه السلام حضور ﷺ ته تشریف راوړو اوویې ویل چې: ای محمد ﷺ! ستاسو اُمت ته ددې خلکو په اتیا اتیا کاله عبادت کولو باندې تعجب کیږي؛ نو واوری، الله تعالی خیر وفرمایلو چې هغه دحضوراکرم ﷺ مخې ته سورۃ انا انزلنٰه في لیلة القدر ولوست. چې دهغه په واسطې سره یې دا زیږی او اورولو چې لیلة القدر تاسو ته اوستاسو اُمت ته ورکړل شو. ددې نه بهتر دی دکوم شي له پاره چې تاسو اوستاسواُمت متمنا اومتعجب دې په عظیم سعادت باندې نبي مکرم حضرت محمد مصطفی ﷺ ډیر زیات خوشاله شو، په دې سورۃ کې یې وفرمایل لَیْلَةُ الْقَدْرِ خَیْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ چې لیلة القدر زرو میاشتو نه بهتر دي دزرو میاشتو دری کاله اوځلور میاشتې جوړیږي له دې وجې یې وفرمایل چې: لیلة القدر زرو میاشتو نه بهتره ده (مظاهرحق)

انعامات او درحمت باران:

په لیلة القدر کې دالله رب العزت درحمت خاص بجلي اسمان دنیا باندې غروب افتاب نه واخله تر سهاره پورې وي. په دې شپه کې ملائك اوارواح طیبه صلحاء او عابدین سره ملاقات له پاره راکوزیږي، په دې مقدسه شپه کې دقرآن کریم نزول شروع شو هم دا هغه شپه ده په کومه کې چې دملائکو پیدائش وشو، هم په دې شپه کې دحضرت ادم علیه السلام ماده راجمع کیدل شروع شو، هم په دې شپه کې جنت کې ونې لګیدل شروع شو. په دې شپه کې دعبادت ثواب دنورو شپو دعبادت نه څو چنده زیات دی اوهم داهغه شپه ده په کومه کې چې دخولې اوزړه نه وتې هره یوه دعا په بارګاه الهي کې شرف قبولیت حاصلوي

دشب قدر نشانۍ:

شریعت واضحه طور باندې یوه شپه متعین کړې نه ده چې لیلة القدر فلانی شپه ده داشپه پته وسائل شوه دهغه دا وجه ده چې که ددې شپې تعین شوی وای؛ نو بیا به دعباداتو اوطاعاتو نه میلان کم شوي و. بلکې یوازې به یې په دې شپه کې عبادت کاوو اوداګمان به یې کاوو

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې ما ټول کال عبادت وکړ اوزیات ثواب مې حاصل کړ. له دې وجې ددې شپې تعین ونه شو چې خلک هر وخت په عبادت اوطاعات کې مشغوله وي یواځې په دې شپه باندې اعتماد ونه کړي اوپه خدای کیني.

علماء کرام لیکي کوم بنده چې ټول کال شب بیداري وکړي؛ نو انشاء الله هغه ته به ضرور دشب قدر سعادت نصیب کیږي له دې وجې وویل شول چاچې دشپې قدر ونه پیژندو. یعنې شب بیداري یې ونه کړه هغه به د لیلة القدر عظمت او سعادت څنګه وپیژني.

طبري ﷺ یو جماعت نه نقل کړي دي چې په دې شپه کې ټولې ونې په بارګاه رب العزت کې په سجده وي، همدغه راز په دې شپه کې هر یو شي سجده کوي، خوسهې خبره داه چې ددې شیانوکتل شرط نه دي دټولو نه لوی علامت دادی چې په دې مقدس شپه کې عبادت خداوندي ذکرومناجات، خضوع خشوع اودحضورو اخلاص توفیق ملاو شي؛ نو پوهه شه چې داعظیم نعمت حاصل شو، حضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالیٰ عنها روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل شب قدر درمضان په اخري طاق شپو کې ګوري (بخاري)

درمضان اخري عشري طاق ورځې دادي: یو ویشتمه (۲۱)، درویشتمه (۲۳)، پنځه ویشتمه (۲۵)، اوویشتمه (۲۷)، یوکم دیرشمه (۲۹).

حضرت عائشې صدیقه رضی الله تعالیٰ عنها راویت کوي چې ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ که ما ته داشپه نصیب شي؛ نو زه په کې کومه دعا وکړمه حضور ﷺ وفرمایل ,,اللهمّ اِنّکَ عَفُوٌ تُحِبُّ العَفوَ فَاعفُ عَنّا،، (احمد وابن ماجه)

ای الله! ته معاف کوونکی یې اومعاف کول خوښوي، لهذا ته ما معاف کړې.

تشریح: علماء لیکي چې داعاددنیا واخرت دواړو دخیروښیګړې له پاره جامع دعا ده، ځکه چې دحق تعالی له طرفه بنده په معامله کې عفودرګذراومغفرت وبخشش هغه عظیم سعادت دی چې دخیر ښیګړې نقطه عروج دی یو روایت کې دي وفرمایل شو: چې بنده له طرفه حق تعالی په دربار کې هیڅ یوسوال دطلب عافیت وبخشش نه افضل نه دي. (مظاهر حق)

خدائے راست و مسلم بزرگواری وحلم که جرم بیند ونان برقرار میدارد

یعنې دالله شان بزرګواري اوحوصله وګورئ چې دبنده ګناه کتو باوجود رزق نه بندوي.

نبارد هوا تا نه ګوئ بیار زمین ناور تا نه ګوئ بیار

هوا ته چې کله دالله حکم نه وي ملاوشوی؛ نو باران نه شي ورولی اوځمکې ته چې کله حکم نه وي ملاوشوی هیڅ نه شي توکولی.

حضرت تهانوي ﷺ فرمایي اوبه تنده نه شي ماتولی هغه تنده ماتوي، ګني همدغه اوبه دمستسقي (دجلندر ناروغي والا) تنده ولې نه ماتوي، ښې طریقې سره ثابته شوه چې موثرحقیقي الله دی باقي ملاًمت، تجارت، زراعت زرائع دي الله تعالیٰ نه دغوختو به واسطه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

توکل په بهروسه باندې نوکري مه پريږده، بلکې دا زنبيل کيده اودالله نه وغواړه باقي کوم خلک چې دالله تعالى اطاعت کوي، هغوى ته دنيا ضرور ملاويږي خواه سره دلوښي دي يا بغير دلوښي اهل اسباب خو روزانه لوښي درې اواهل توکل ته بغير دلوښي ملاويږي که ته اهل الله ته وګورې اودا شبه دي راځي چې چې دوى سره خو دنيا نشته؛ نوخيره داده چې دنيا نه مقصد څه دي، مقصد دادى چې پريشاني نه وي اوداهل الله پريشاني نه وي دا مشاهده اوارشاد هم دى،،فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيٰوةً طَيِّبَةً،،موږ به دوى ته ډوخند زندګي ورکوى پس دوى نه به پريشاني نه وي که پيسه وي اوکه نه هر وخت اطمينان سره خوددە مزاج بل شان دي، يو خل بهلول قبر ته پښې کوزې کړې وي چاورته وويل حضرت؛ غنم دانه ډيره زياته ګرانه شوي دي، خلک ډير لوى تکليف کې دي، ويې فرمايل: هغه ته ووايه چاته چې تقسيمول وي. موږ ته خو چې څه کار نبودلى شوي دى هغه کول ضروري دي.

ډيو بل بزرګ نه خپله بهلول پوښتنه وکړه، چې مزاج دې څنګه دى؟ويې فرمايل چې: داڅه پوښتنه کوې؟ دهغه بنده دکوم چې هر خواهش دهغه دطبيعت مطابق وي، زموږ خو هغه شان دى چې هره خبره زموږ دطبيعت موافق وي، ده عرض وکړ چې حضرت! داخبره خو زما په فهم کې نه راځي هغه وفرمايل چې: داڅو ډيره اسان خبره ده چې په عالم کې څه کيږي هغه خو دالله خواهش خلاف نه کيږي، پس چا چې خپل خواهش دالله په خواهش کې فنا کړو؛ نوکومه خبره چې دالله دخواهش خلاف نه ده دغه رنګ زموږ هم دخواهش خلاف نه ده.

روح روژه:

د روژې مقصد دتقوا حاصليدل دي يعنې تاسو دروژې نه يو داسې پرهيز حاصلوى چې د ستاسو اومنکرات اوورزالت نفس دمېلانانو مينځ کې ديوال جوړ شي اوروژه يو کس هغوى انفرادي حيثيت کې ګناهونونه منع ساتي، پس هغه يو فرد ددې خبرو نه محفوظ ساتي چې هغه حيوان جوړ شي اودځنګل دقانون مطابق عمل کوي اومعاشره داسې محفوظه ساتي چې هغه داسې صالحه بنده ګان تياروي چې دنيکې کار کوونکى وي اوانسانانو سره دانسانانوپه خيرسلوک کوي،نه داچې دانسانانوسره ديو ضرررسان حيوانپه خير سلوک کوي. (روح اسلام)

د روژې فائدې:

(۱) دې کې يوډاڅه هم ده چې مسکينانوباندې درحم عادت جوړ کړي، ځکه چې روژه دار ګله وږى وي اوداخپل حالت په عامو حالاتو کې ياد ساتي؛ نو دايادا به دې په مسکينانو باندې درحم جوګه کوي، ځکه چې انسان کې درحم احساس په تکليف سره پيدا کيږي اوروژې نفس ته درحم اوکړم تربيت ورکولو عملي طريقه ده اوکله چې يو غنې کس لطف اوکړم يو وږى فقير له پاره حقيقي صورت اختيار کړي؛ نوداسې شوه چې دننه انسانيت ژوبې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دخپل نافذ کیدو قوت حاصل کړ، (یعنې دهمدردیې ملکه او استعداد یې حاصل کړ)، له دې وجې روایت بیان شوی دی ،,اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اَجْوَدَ النَّاسِ وَكَانَ اَجْوَدُ مَا يَكُوْنُ فِيْ رَمَضَانَ،، حضور ﷺ دسخاوت اوجود وکرم ذکر دی.

ترجمه: بیشکه رسول ﷺ به دنیا کې دټولو نه زیات سخي انسان دی اوپه رمضان کې به ده ﷺ حد الامکان دټولو نه زیات سخي و رمضان دیو سیزن وګټلو میاشت ده داسې ده چې دعبادت اونیکي موسم دی.

۲، دروژي فائده داده چې دمالدارو اوفقراو په مینځ کې مساوات قائم شي پس داپه سهي معنا سره دعدل اومساوات نظام دی، ځکه چې امیر غریب په دی حکم کې برابر دی اوپه سهي معنا سره مساوات هغه وخت کې وي کله چې خلکو کې دفرق اوتفاوت احساس نه وي، خپل مینځ کې همدردي اوغمخواري وي ورسره کله چې بنده وړې وي؛ نوهغه ته دنورو وړیو اوغریبانانوودر وي.

۳، ورسره دروژي په حکمتونو کې یو داهم دی چې هغه دعادت زوروغلبه کمزوري کوي، ځکه چې خینې بنده ګانو کې دعادت زور حد نه اوښتی وي، پس داسې خلکو ته خوراک خپل مقرره وخت نه وروسته ملاوشي؛ نو دولږې غلبه پرې داسې غالبه شي چې په ده کې بد اخلاقي راشي اوخینې اوقات قهوه چای سګریټ وغیره سره نشي کولو سره ده باندې ددې دخوراک غلبه دومره غالبه او زوراوره شي، پس داسې خلک دخپلو عادتونو غلامان جوړ شي، مګردروژي په برکت سره ده ته په دې عملیاتو باندې قابو نصیب شي.

یو جرمن پروفیسر جیهاروت یو کتاب اراده مضبوط جوړولو باره کې لیکلې دي اوپه دې کې ده روژه بنیاد ګرځولی دی، لیکي چې: دروج په جسم باندې حکمراني مضبوط جوړلو له پاره روژه یو موثره کارکن دی، ځکه چې په دې سره دخپل نفس دلګام مالک جوړ شي اوزندګي تیروي نه دخپل مادي میلاناتو اثیر روژه دصحت له پاره هم ډیره مفید ده اوډیرې ناروغي ددې په برکت سره ختمې شي، دروژي په برکت سره انسان کې دسخا ملکه پیدا کیږي، په یو حدیث کې دي که خلکو ته دامعلومه شي چې رمضان څه شی دی؛ نو زما امت به داتمناکوي چې ټول کال دې رمضان وي. (فضائل اعمال)

صحابه کرام او روژې

فضائل اعمال کې دمسلم شریف حوالې سره دي چې صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن دیو غزوه په سفرکې یو مقام ته راکوز شول انتهایي سخته ګرمي وه اودغربت ه وچې ټولو سره کیږې هم نه وې چې دګرمي نه ځانونه بچ کړي ډیرو خلکو خان دلمر نه په لاس باندې بچ کولو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په دی حالت کې هم دیر زیات روژه دار و چې هغوی اودریدی نه شواوپریوتل، دصحابه کرامو یو جماعت به همیشه ټول کال په روژې سره و.

دحضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو اوږد حدیث کې دي حضور ﷺ فرمایي چې په رمضان شریف کې دڅلورو شیانو خیال ساتي:

(۱): دکلمې طیبه کثرت. (۲): داستغفار کثرت.

(۳): دجنت طلب کول. (۴): اوداور نه پناه غوښتل.

تراویح سنت موکده دي اوټول ائمه ددې په سنت کیدو باندې متفق دي ماثبت بالسنّة ځینې وفقهي کتابونو کې منقول دي که دیو بنار خلک تراویح کول پریږدي؛ نوهغوی سره دې حاکم اسلامي قتال وکړي.

درمضان معمولات:

دقرآن شریف په رنا کې په دې میاشت کې دښخوشیانو کثرت کول درمضان المبارك خصوصي معمولاتو کې دي:

(۱): دقرآن شریف تلاوت زیات کول. ځکه چې قرآن خپله نازل کیدل رمضان کې شروع شو اوخپله به حضوراقدس ﷺ دجبریل امین سره رمضان کې دور کولوپیا ټول اسماني کتابونه هم دې میاشت کې رانازل شو.

(۲): دویم کثرت والا شی دکوم ذکر چې حدیث مبارك کې راغې هغه دکلمه طیبه کثرت دی، داکلمه توحید ده قرآن کریم کې مختلف نومونوسره یې ذکر راغلی دی کلمه طیبه، قول ثابت،کلمه تقوا مقالید السموت والارض «دځمکو اواسمانونوچابیاني» امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په احیا کې ذکر کړې دي چې داعروة الوثقی ده، دعوة الحق دی ثمن الجنة دي حضرت قتادة تابعي نقل کوي چې حضوراقدس ﷺ ته چا عرض وکړ یا رسول الله! دا مالداره خلک به «دولت په واسطه باندې ټول ثوابونه یوسي حضور ﷺ ورته وفرمایل: که چیرته څوك سامان یو دبل دپاسه کیدي؛ نوایا دې به اسمان ته اوخیژي؛ زه به تاته داسې یو څیز وښایم چې دهغه جړې به په ځمکه وي اوخابنونه به یې اسمان کې وي هر للمونځ نه وروسته دا کلمات "لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ" داکلمات مختصر مگر دثواب اندازه یې وکړې لس لس خله وایې ددې جړې په ځمکه کې اوخابنونه یې په اسمان کې.

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحضوراقدس ﷺ نه نقل کوي چې کوم بنده د شپې یا دورځې "لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" دزړه نه داکلمات وایي؛ نودهغه به ټول ګناهونه وویخل شي.

په یو بل حدیث کې حضور ﷺ فرمایي چې کلمه طیبه په نیکو کې افضل ترین شی دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

۳، دکوم چې دکثرت ذکر دی هغه استغفار دی یعنې په خپلو ګناهونوباندې ملامته کیدل اوتوبه وېستل. یو ځل دنبي اکرم ﷺ په قبر اطهر باندې یو اعرابي راغلی اووېې ویل. یارسول الله! څه چې تاسو وفرمایل موږ واوریدل تاسو دخدای نه زده کړل اومونږ دتاسو نه اومونږ چې تاسو نه څه زده کړل هغه کې یو ایت دا هم دی چې دهغه ترجمه داده اګر که هغه خلک په خپلو نفسونوباندې ظلم وکړي اوتاسو ته راشي اووبا خدای تعالی ته استغفار وکړي اورسول هم دوی له پاره استغفار وکړي؛ نو الله تعالی ډېر ښه توبه قبلونکی اومهربان هم دی یارسول الله! ما په خپل نفس باندې ظلم کړی اوتاسو ته حاضر شوی یم داویل و چې دقبر نه واز راغلو چې خدای تعالی ته وښیلې اودحضور ﷺ ارشاد دی چې کوم بنده استغفار لازم کړي. خدای تعالی به ده ته دهر غم نه خوشالي اودهر تنګي نه فراخي ورکړي اوده ته به ددا سې طرفنه رزق ورکړي دکومې چې دده ګمان به هم نه وي (ابوداؤد، ابن ماجه)

حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دي چې حضور ﷺ وفرمایل چې: په زړونو کې یو قسم زنګ لګي اودګناهونونه دهغه صفا کیدل استغفار دي. (ترغیب)

نمبر(٤) ددوزخ بیان:

کوم شي نه چې رمضان المبارک کې دټولو نه زیاته پناه غوښتل کیږي هغه دوزخ دی.

حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمایي چې: حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام یوځل بارګاه رسالت ته داسې وخت کې تشریف راغلی چې هغه وخت کې توقع نه وه اورنګ یې بدلوو، حضور ﷺ ترې پوښتنه وکړه؛ نوعرض یې وکړه چې حضور ﷺ ماداسې وخت کې تشریف راوړو کوم وخت کې چې الله تعالی جهنم ته دیوکې ورکولو حکم وکړ اوچاته چې دایقین وي چې جهنم برحق دی اوداچې دالله عذاب ډېر لوی دی دهغه سترګې نه دې ښیندیل پکار ترڅوچې دی دجهنم داور نه محفوظه شوی نه وي یه دې باندې حضوراقدس ﷺ وفرمایل جبرئیل! لږ دجهنم تذکره وکړی، عرض یې وکړه ډېر ښه، الله تعالی چې کله جهنم جوړ کړ؛ نو زر کاله یې ګرماوو. کله چې مکمل سور شو، بیا زر کاله په کې اور لګیدلی و، حتی چې سپین شو، بیا زرکاله بلیدونکی چې تور شو. اوس هغه توردی دهغه ګیراو اوانګاري کله هم نه مړ کیږي دهغه ذات قسم چا چې تاسو پر حقه نبي رالیږلی یې کهه د ستنې سوري برابر هم جهنم دمخلوق له پاره کولاو شي؛ نوټول به دده دحرارت له وجې ایره شي، دهغه ذات مې دې قسم وي کوم ذات چې تاسو برحقه نبي رالیږلی یې که ددوزخیانو دکپړو نه یوه کپړه راووېستل شي اویه هوا کې زوړنده شي؛ نو ټول مخلوق به دهغه دبدبویې اوحرارت نه ختم شي، دهغه په ذات مې دې قسم وي کوم ذات چې تاسو برحقه نبي رالیږلی یې اګر هغه زنځیردکوم ذکر چې الله تعالی په قرآن کې کړي دي که هغه دیو موتي برابر په یو غر باندې کیښودل شي؛ نو دغه غر به ویلې کړي اوهغه به اوومې ځمکې پورې اورسیږي په هغه ذات مې دې قسم دې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کوم ذات چې تاسو برحقه نبي رالیږلی یې که یو بنده ته په مغرب باندې عذاب ورکول کیږي؛ نو هغه په شدت سره به دمشرق والا بنده وسوځي، ددې ګرمي ډیره سخته ده ددې زوروالی ایږي پوري دی ددی زیورات اوسپنې دي ددې مشروب ګرمې اوبه اوپیپ دي ددې کپړې اوار نکړي دي. (تنبیه الغافلین مترجم مولانا عبدالمجید انور)

نمبر(۵) دجنت اودهغه د نعمتونوبیان:

دکوم شي چې رمضان المبارک کې دکثرت سره کولو حکم راغلی دی هغه دجنت سوال دی دجنت مختصره معنا داده چې هرهغه خوشالي چې وکتل شي، سوچ وکړل شي اوخیال کې راتللی شي ددې نه هم زیاته ده.

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمایي چې: حضوراکرم ﷺ وفرمایل: جنت داسې دی چې دهغه دمحلاتو یوه خښته اوسروزروده اوبله ډاندیي اودهغه سیمنټ دکستوري دي اوخټه دزغفران اودهغه سنګریزې دیاقوت اومونیانو دي کوم کس چې دي ته داخل شو همیشه به دی کې وي کله به تنګ نه شي اونه به ده ته مرګ راشي، نه به کپړې خرابیږي اونه به خواني خښیږي اوویې فرمایل: جنت کې به داسې نعمتونه وي چې کومې سترګې به نه وي لیدلي اونه به یو غوږ اوریدلي وي اونه به دچا خیال کې راغلي وي که خوښه دی وي؛ نو دا ایت تلاوت کړه.. فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ.. په خدای چې دجنت یوه کوړه دکائنات اومافیها نه بهتره ده. الله تعالی دي موږ ته دعمل کولو توفیق راکړي. (آمین)

دجنت وسعت:

په ځینې روایاتو کې دي چې ادنا جنتي دزرو کالو په مسافت باندې به نعمتونه ګوري اوپه یو روایت کې دي چې ادنا جنتي ته کوم ځای ملاویږي هغه به ددنیا اوددنیا دوچندنه زیات وي، سورة حدید کې دجنت وسعت دځمکې اواسمان دوسعت برابربنودل شوي دي، دسورة زمر دیو ایت مفهوم دادی چې اهل جنت به جنت ته په عزت سره وردننه کړل شي دده استقبال له پاره نه مخکې نه دروازې کولاو وي اودجنت محافظ فرشتي به سلام کوي اوخوشاله زندګي زیږی به ورکوي چې تاسو خلک داسې ځای ته داخلیږي چې هغلته امن وامان اوسلامتي ده دلته به همیشه په سلامتیا سره اوسیږیي نه به ویره وي اونه به ګبراهټ، نه به خفګان وي اونه زړه تنګیدل اوستړي والي.

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایلو چې اولنی ګروه کوم چې به جنت ته داخلیږي دهغوی مخونه به دځورلسمې سپوږمۍ په څیر پرقیږي اوپه دویم نمبر چې کوم خلک داخلیږي دهغوی مخونه به دستورو په څیر پرقیږي. (الحدیث،احوال بعد الموت)

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درمضان المبارک دمیاشتې څلورمه خطبه

درمضان میاشت اودقران پاک سره تعلق:

درمضان المبارک راتلوسره مساجد اباد شي، په هر مسجد کې تقریبا قرآن اورول کیږي. دقرآن کریم تلاوت زیات شي. ځکه چې دحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روایت مطابق قرآن پاک ټول دلوح محفوظ نه اسمان دنیا بیت العزت ته درمضان المبارک په میاشت کې دلیلة القدر په شپه کې رانازل شو، بیا جبرئیل امین درویشت کاله زمانه کې لږ لږ راوړو، دقرآن پاک اورمضان ژور تعلق دی، له دې وجې ددې خطبې عنوان ,,درمضان میاشت اودقرآن پاک تعلق،، شو.

دالله رب العزت فرمان عالي دی: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ. (پ۲آیت نمبر۱۸۵)

رمضان هغه میاشت ده په کومه کې چې قرآن کریم رانازل شو چې دهغه یو صفت دادی چې دخلکو له پاره ذریعه هدایت دی روښانه صداقتونه لري اوحق دباطل نه جدا کوي.

دحضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دحضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام صحیفې دریم رمضان باندې اودیو روایت مطابق اول رمضان باندې نازل شوی اوتورات په موسی عَلَيْهِ السَّلَام باندې په (۶) رمضان باندې نازل شواانجیل په حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَام باندې ۱۳رمضان باندې نازل شواوزبور حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَام باندې (۱۸)رمضان باندې رانازل شواوقرآن پاک په حضرت محمد ﷺ باندې درمضان په اخرې شپو کې رانازل شو.

قران پاک څه شی دی:

صاحب مظاهر حق لیکي ,,قرآن مجید څه شی دی،،؟ دادټولو نه معزز اوعظیم کتاب دی چې دالله تعالی له طرفه دکاروان انسانیت دټولو نه اخرې اودټولونه عظیم رهنما رسول کریم ﷺ باندې رانازل شوچې دظلم اوجهل په تیاروکې درنا مناره، دکفر اوشرک په تابوت کې اخرې میخ اودټول انسانیت له پاره دخدای له طرفه رالیږل شوی اخرې اودټول نه جامع قانون دی اوچې کوم ,,حبل متین،، ویل کیږي.

دقرآن کریم عظمت اوبزرګي اوددې رفعت له پاره دومره کافي ده چې هغه دخداوند عالم، مالك ارض وسماء اوخالق لوح وقلم کلام دی، دټولو عیبونواونقصاناتو نه پاك اوبری دی، دفصاحت اوبلاغت هغه اخرې نقطه عروج چې لوی لوی عرب فصیح اوبلیغ ددې مخې ته طفل

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پکښې دعلوم اومعارف اوفکروداتش هغه همالیه غر چې ددنیا لوی لوی مفکر، فلسفي، دانشور اورباب فکراونظردي سره سر جنګوي.

قرآن مجید تلاوت او لوستل اوبل ته دښودلو ثواب د بیان محتاج نه دی، ټول علماء په دې باندې متفق دي چې هیڅ یو ذکر دتلاوت قرآن نه زیات اجراوثواب والا نه دي، خصوصا په للموښ کې ددې قرات ثواب اوددې فضیلت دومره زیات دی چې دلیکلو نه بهر دی دقرآن کریم تلاوت کولو سره دهر یو حرف بدله کې لس نیکي ملاویږي اوپه للمونځ کې تلاوت کولو سره دهر یو حرف په عوض کې پنځه دیشت نیکي ملاویږي دقرآن کریم تلاوت کول انسان الله نه نږدې کوي، زړه دالله دمعرفت نه اودذکرالله نه روښانه کوي اودقیامت په ورځ به دالله تعالی په بارګاه کې شفاعت کوي.

دتلاوت قرآن غټ مقصد دادی چې هغه تذکر اوتدبر یعني امور دین یادول اوداخرت طرفته توجه ورکولو باعث دي اوکثرت تلاوت سره احکام الهي یاد اومستحضر وي دي له پاره چې احکام الهي باندې عمل وشي اوعبرت حاصل شي، دتلاوت مقصد دانه دی چې یوازې اواز اوحروف ارایسته کړي شي او زړه دې دغفلت په تیارو کې پروت وي کوم کس چې تلاوت کوي اوعمل نه کوي؛ نوقرآن دداسي کس دښمن وي، له دې وجې حدیث شریف کې راځي:

خپې خلک داسي دي چې دوی قرآن وایي اوقرآن په دوی باندې لعنت وایي، ځکه چې قرآن یوازې دتلاوت کولو شی نه، بلکې دعمل شی دی هغه داسي شو، لکه چې دقرآن سپك والی کوي لهذا قرآن تلاوت کول اوعمل نه کول دده په حق کې به داخرت دخسران اوتاوان دلیل وي. دې خبره باندې هم ځان پوهول پکار دي چې تفکر تدبر اومعاني باندې پوهیدل په هغه وخت کې حاصلیږي کله چې په ارام، وقار، ترتیل اوحضورقلبي سره قرآن کریم تلاوت وشي.

کوم کس چې عربي ژبه باندې نه پوهیږي هغه ته هم پکار دي چې حضورقلبي سره تلاوت کوي اوپه زړه کې داخیال راوستل پکار دي چې دادالله کلام دی اودهغه دا احکام دي کوم چې په دنیا والو باندې نازل شوی دی، لهذا دی دې په عاجزي سره کینې اودقرآن کریم تلاوت دې کوي چې داسي وي، لکه چې دی قرآن کریم نه تلاوت کوي، بلکې داحکم الحاکمین کلام براه راست اوري. (مظاهرحق)

د تلاوت اداب:

قرآن کریم دالله تعالی براه راست اودبارګاه الوهیت نه رانازل شوپو الفاظو مجموعه ده ددې کلام نسبت چې کوم ذات طرفته دی هغه داحکمانو حاکم، دبادشاهانو بادشاه اودپوره کائنات بلاشرکت غیري مالك لهذا دده دتلاوت وخت کې هغه اداب ملحوظه ساتل پکار دي چې د کلام اوصاحب کلام دعظمت شان مطابق وي اداب تلاوت دادی:

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دټولو نه اول مسواك سره اودس كول پكار دى، بيا له دې وروسته دى اوچت اوصفا ځاى كې كيني خپل ځان دې ذليل اوكمزورى وګڼي اوحضورقلبي سره كيني چې داسې وي، لكه چې دالله په حضور كې ناست وي عرض اونياز اوالتجاكوي اوبيا دى اعوذبالله بسم الله كړي اوداتصوردې وكړي چې دالله تعالى كلام پرته دځه واسطي نه اورم، نن سبا خو دارسم اوطريقه روانه ده چې يوه ورځ كې يا تيز ويل يو كمال اوفخر ګڼل كيږي دااانتهايي دغفلت اوناداني والا خبره ده.

خواجه بندارد كه طاعت مى كند بے خبر كز معصيت جان مى كند

دقران پاك فضيلت:

وَعَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ حَسَدَ اِلاَّ فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ الْقُرْاٰنَ فَهُوَ يَقُومُ بِهٖ اٰنَاءَ اللَّيلِ وَ اٰنَاءَ النهارِ وَرَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ مَالاً فَهُوَ يُنْفِقُ مِنه اٰنَاءَ اللَّيلِ وَ اٰنَاءَ النهارِ. (متفق عليه)

دقرآن پاك ماهر قدردان اودسخي فضيلت په دې حديث مبارکه كې بيان شو ى دى چې په دوى دواړو باندې حسد جائزدى.

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راوي دى چې رسول كريم ﷺ وفرمايل: ،،يوازې ددوو بنده ګانوباره كې حسد كول جائز دي، يو هغه بنده كوم ته چې الله تعالى دقرآن كريم نعمت وركړى دى اوهغه بنده ځينې اوقات نه علاوه شپه ورځ اكثر برخه دقرآن كريم تلاوت كې مشغوله وي. دويم هغه بنده كوم ته چې الله تعالى مال وركړى وي اوهغه دامال دشپې اورځې خرچ كوي.(دالله په لاره كې خرچ كول مراد دي).

تشريح: په دې حديث مبارکه كې حشد نه مراد غبطه ده چې هغه ته رشك هم ويل كيږي اودې ته حسد مجازي هم ويل كيږي علماء فرمايي چې غبطه (رشك) كه دنياوي كارونوباره كې وي؛ نو مباح دي اوكه ديني كارونو باره كې وي؛ نو مستحب د ه مثلا:يو كس په مسجد جوړولو باندې وګوري اودده هم په زړه كې داخواهش راوچت شي چې كاش! ماسره هم دولت وى؛ نومابه هم داسې مسجد جوړ كړى وي دارشك غوره دى اوپه دې باندې ثواب هم ملاويږي، حضرت مرزامظهر جان جانان رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي كه چا سره داسې نعمت وي چې دالله دقرب ذريعه جوړيږي، لكه تلاوت قرآن، صدقه اواخرت اوددې نه علاوه نورې نيكي اوخوشالي؛ نو ددې نعمت حصول خوهش وآرزوكول غوره وي، باقي حسد كول دچا نه سوځيدل چې دچا سره نعمت وګورې اودى وايي چې داماسره ولې نه دى، دامتفقه طورباندې حرام دى، دقرآن نعمت الله چې چاته وركړى وي دهغه مطلب دادى چې الله ده ته دقرآن ويلو اوزده كولوموقعه

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ورکړي ده بیا دې دی په دې احکامو کې غور اوفکر وکړي اوددې په احکاماتو اومنعوعاتو کې دې باندې دې عمل وکړي په للمونځ کې چې قرآن کریم وایي دا خوش نصیبي ده.
کلام الله دمعبود کلام اودمحبوب اومطلوب فرموده الفاظ دي دعاشقانونه پوښتنه وکړئ چې دمحبوب خط، تقریر اوتحریرخومره معزز وي اوبیا چې کله عشق حقیقي وي بیا دالله دعاشقانونه پوښتنه وکړئ چې جمال حقیقي څه شی دی.

مسئله: دومره قرآن کریم یادول چې په هغه سره للمونځ کیږي هر بنده باندې فرض دي، زرکشی رحمۃ اللہ علیہ نه ملا علي قاري رحمۃ اللہ علیہ نقل کوي چې په کوم ښار یا کلی کې قرآن لوستونکی نه وي نوټول ګنهګاردي ددې جهالت وضلالت په دور کې چرته چې مسلمانانوکې نورو دینی کارونو کې ګمراهی خوریږی هغلته یو عام آواز داهم دی چې قرآن کریم حفظ کول فضول ګټل کیږي، ددې یادول دماغ سوزي اووخت ضائع کول فضول ګټل کیږي.دابددینی اوګمراهي ده کله چې قرآن کریم نه مخ واړول شي نوبیاتباهي ذلت اورسوایي ده.

وہ معزز تھے زمانے مسلمان ہو کر　　اور ہم خوار ہوئے تارک قران ہو کر
گر ہی خواہی مسلمان زیستن　　نیست ممکن جز بہ قران زیستن

ملا علي قاري رحمۃ اللہ علیہ، دیو حدیث نه نقل کوي چې کوم بنده کلام پاک حاصل کړي، هغه علوم نبوت په خپل تندي کې جمع کړل، ددې نه مراد دادی چې علوم نبوت حاصل کړي شي خکه چې اصل ددین علم دی.
حضرت علي رضی اللہ عنہ فرمایي چې دري شیان حافظه مضبوطوي:
(۱) مسواک (۲) روژه (۳) تلاوت کلام الله شریف.
جمع الفوائد کې طبرانی نقل کړی دي چې حضرت انس رضی اللہ عنہ دحضوراقدس ﷺ نه ارشاد نقل کړی دی چې کوم بنده خپله بچیو ته ناظره قرآن وښیي دهغه پخوانی او وروستنی ګناهونه معاف شي اوکوم بنده چې بل ته حفظ وکړي هغه به دځوارلسمي سپوږمی پشان اوچت شي بچي ته به وویل شي چې قرآن کریم لوستل شروع کړه کله چې بچی یو آیت ولولي دپلار به یوه درجه اوچته شي حتی چې دغه رنګ به ټول قرآن مجید پوره شي.دبچي په قرآن کریم ویلو سره دپلار دپاره ډیر لوی فضائل دي، دویمه خبره دا واورئ که چیرته تاسو ددوو بیسو په لاچې باندې بچي ددین نه محرومه کړل نوبیوازي دانهٔ ده چې تاسو دلازوال ثواب نه محرومه شوئ، بلکي دالله په حضور کې به جواب ده ییږ.

په دی سره ماشوم هم مصیبت کې اچوئ اوخپله خان هم.حدیث شریف کې دی: ,,کُلُّکُم رَاعٍ وَکُلُّکُم مَسؤُلٌ عَن رَعِیَّتِه،،(هر بنده ذمه دار دی)هر بنده نه به قیامت په ورځ دهغه د ماتحتو او لاس لاندې کسانو باره کې پوښتنه کیږی چې دوی ته یې څنګه دین ښودلی دی که تاسو خپل بچي ته ددینداري صلاحیت وښیئ نودخپل جواب ورکولونه به محفوظ یئ اوکله پوری چې

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هغه نیک اعمال کوي نو دعاواستغفار به ستا د پاره کوي ستا درجات دبلندي سبب به جوړ شي لیکن که ددنیا دلالچ دخاطره ددین نه دي محروم به کړ، نو دانهچې صرف ددي وبال به په تا وي بلکې ځومره چې هغه بدفعلي اوفسق وفجور کې مبتلا وي هغومره بدي به ستا په عمل نامه کې لیکل کیږي. دخدای له پاره په خپل حال باندې رحم وکړئ دنیا خو به هر حال کې تیریدو والہ ده اودمرګ نه دچا خلاصی نشته لهذا نن دعمل وخت دی داغنیمت وګنه دي نه علاوه کهٔ دقرآن والہ مخلص دی نو یو بنده هم دلوړې نه نه مري، بلکې دنیا ذلیله شي اوددې مخې ته ټیټه شي اوځومره ډګري ډډاکتري،انجنیري اخیستي دي همیشه دپاره دیې روزګاري ژرا کوي اودروزګار په تلاش کې سرګردانه ګرځي.

شرح احیاء کې دي په سخته ورځ باندې به حفاظ کرام دالله دسیوري لاندی انبیاء وبرګزیده خلکو سره وي.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې په کوم کور کې کلام مجید لوستل کیږي دهغوی اهل وعیال زیات شي په دې کې خیروبرکت زیات شي.ملائکه په دې کې نازلیږي اوشیطانان ددغه کور نه وځي،اوپه کوم کور کې چې تلاوت نه کیږي په هغی کې درزق تنګي اوبې برکتي وي. ملائکي ددغه کورنه وځي اوشیطانان وردننه شي.

صاحب احیاء دحضرت علی رضی الله عنه نه نقل کوي چې کوم کس په لمانځه ودریده اودکلام پاک تلاوت یې وکړ ده ته به به هر حرف باندې سل نیکی. ملاویږي اوکوم کس چې په ناسته باندې للمونځ وکړ هغه ته به پنځوس نیکی. ملاویږي اوچاچې بغیر دللمونځ نه اودس سره تلاوت وکړو دهغهٔ له پاره پنځهٔ ویشت نیکی. دي اوچاچې بغیر اودس نه اوکړو دهغهٔ دپاره لس نیکی. دي اوکوم بنده چې خپله نه وایي اولوستونکي ته یې غوږ کیښودو نو دهغهٔ دپاره هر حرف باندې یوه یوه نیکي ده. (فضائل قرآن)

عمروبن میمون رحمه الله شرح احیاء کې نقل کوي چې کوم بنده دسحر للمونځ وکړي اوقرآن کریم خلاص کړي اوسل آیتونو اندازه تلاوت وکړي؛ نوددنیا په اندازه باندې ثواب ملاویږي قرآن کریم ته کتل اوتلاوت کول دنظر دپاره بهتر دي.حضرت امام شافعی رحمه الله به دماسخوتن نه پس قرآن کریم خلاصولو اوسحر للمونځ وخت کې به یې بندولو (تولہ شپه به یې تلاوت کاو)

د قران پې ادبي مه کوئ:

قران کریم دسندري په طرز باندې ویل منع دی.حضرت حذیفه وایي چې حضور ﷺ وفرمایل چې قرآن کریم دعربو په آواز کې وایئ،دعشق بازو اودیهودونصارئ په طرز یې مهٔ وایئ،دیر نزدې یو قوم راتلو والہ دی چې دسندري اونوحې په طرز باندې قرآن پاک په طرزونو کې وایي دغه تلاوت به دوی له پاره ذره برابرهم ګټور نهٔ وي خپله به هم دغه خلک په فتنه کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پراته وي اوچاته چې داويل ښه ښکاري هغوی به هم فتنه کې پراته وي (العمال قرآن سولاړ (کې) ګڼي)

د قرآن کريم خپلوونکو ترڅنګ:

وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ. (رواه مسلم)

اوحضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل یقیناً الله تعالی دکلام الله په واسطې باندې ډیر قومونه اوچت کړل اوددې په واسطه یې ډیر قومونه وغورځول.

تشریح: مطلب دادی چې کوم کس یا قوم قرآن پاک وایي اوپه هغه باندې عمل کوي هغه قوم په دنیا وآخرت کې کامیابي بیامومنده اوکوم کس یا قوم چې دقرآن اودهغه دتعلیماتو نه مخ اړوي هغه قوم به پست اوذلیله وي په دې حدیث کې یې دقومونو دپستوالي اوکامیابي سبب بیولی دی کله پورې چې مسلمان قوم په قرآن باندې عمل کولو اوخپل دستور حیات یې جوړ کړی و نوهغه وخته پورې دمسلمانانوغلبه، رعب ودبدبه وه اودمال ودولت برکات وو او کله چې مسلمان قوم قرآن پریښود اود نورو قومونو نقالي یې شروع کړه سوشلزم، کمیونزم، سرمایه داري،اومغربی برانډونه خپل کړ؛نوذوال ښکارشواودیهودونصارئ غلامان جوړشول.

د مشغولیت قران برکات:

وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُوْلُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ عَنْ ذِكْرِيْ وَمَسْأَلَتِيْ أَعْطَيْتُهُ أَفْضَلَ مَا أُعْطِي السَّائِلِيْنَ وَفَضْلُ كَلَامِ اللهِ تَعَالٰى عَلٰى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللهِ عَلٰى خَلْقِهِ. (رواه الترمذى والدارمى)

قرآن پاک کې خپل وختونه صرف کولو واله ته یې الله تعالی له غوښتنې پرته ورکوي، مرادونه یې پوره کوي اومدد ورسره کوي داسې خلک سکون سره زندګی تیروي اوحضرت ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی یې مرادونه پوره کوي اومدد یې کوي، الله تعالی فرمایي چې کوم کس قرآن کریم زما ذکراوزما نه دغوښتو څخه بندګۍ وي نوزه هغه ته دهغه نه ښه ورکوم کوم چې غوښتونکی ته ورکوم اوتمام کلامونو کې کلام الله ته هغه مقام حاصل دی کوم چې الله تعالی ته په خپل مخلوق باندې حاصل دی لهٰذا قرآن کریم کې مشغوله بنده ته دنورو خیزونو دمشغولتیا واله نه زیات بزرګي اوبرتری حاصله ده (الترمذي. دارمی. بیهقی)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تشریح: دالله رب العزت دارشاد مطلب دادی چې کوم بنده قرآن یادولوکي، ددې معنا او مفهوم زده کولوکې اوقرآن کریم کې مذکوره احکامات وهدایات باندې عمل کولو کې او دامشغولیت دی داذکارو، اوراد اود عا نه منع کوي، یعنې بنده ددې مشغولیت له وجې نه ما یادوي اونه زما نه څه غواړي نوزه ده ته دغوښتونکو نه هم زیات ورکوم ځکه چې قرآن کې د داسې قسم مشغولیتا اودوییدلو مطلب دا دی چې هغه بنده خپل هر خواهش اوطلب الله ته وسپاري اوهم کلام پاك سره یې تعلق جوړ کړی وي لهذا ده ته به ددې عظیمې جلیې په وجه باندې اجر ورکول کیږي (مظاهر حق)

قران سره زړه پاکیږي:

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ رواي کوي چې رسول کریم (ﷺ) وفرمایل: یاد ساتئ زړه زنګ نیسي لکه څنګه چې اوبه رسیدو سره اوسپنه زنګ نیسي. عرض وشو یارسول الله ﷺ! ددې دصفا والي ذریعه څه ده؟ حضور ﷺ وفرمایل مرګ زیات یاد ساتئ اودقرآن کریم تلاوت کوئ.

فائده: مطلب دادی چې دګناه صادر کیدو دوجې نه اوپه نیکو کې غفلت کولو له وجې زړه زنګ نیسي او دزړه دصفایي یوه ذریعه وښودل شوه چې مرګ کثرت سره یاد ساته اودقرآن کریم تلاوت کولو کې مشغوله پاتې کیدو په وجه باندې هم زړه ته صفایي حاصلیږي.

نوافلو باندې دقران فضیلت:

ابوذر رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ فرمایي چې حضوراقدس (ﷺ) وفرمایل: ای ابوذره! که ته سهار وخت کې لږ شي اویو آیت دکلام الله زده کړې نودنوافلو دسلو رکعاتو نه بهتر دي اوکه یوباب دعلم زده کړې که څه هم دغه وخت کې معمول وي یا نه وي، دزرورکعاتو نه افضل دي (معمول به نه مراد دغه وخت کې پرې عمل وی یانه)

تشریح: نوافل کول ذاتي اوانفرادی عمل دی او بنودل اوزده کول اجتماعی عمل دی اودې سره ددین اشاعت کیږی اوددې اجتماعی فائده وي اوپه معاشره باندې ډیر ښه اثرات شیندي، دمعاشری اصلاح راولي، دې وجې نه حضور ﷺ فرمایي چې په عابد باندې دعالم فضیلت داسې دی لکه څنګه چې زما فضیلت په تاسو کې یو ادنی بنده باندې دی. یو بل ځای کې فرمایي چې: په شیطان باندې یو فقیه دزرو عابدانو نه زیات دروند دی. قرآن کریم زده کولوکې شرم کول اودا ویل چې اوس زما عمر ددې نه دی، اوس به څه زده کړم، یاد ساتئ داخبره دآخرت په اعتبار سره ډیره خطرناکه ده اودآخرت ذلت اوشرم ددنیا ذلت اوشرم نه ډیر زیات دی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دفتنو نه دبج کیدو ذریعه قران دی:

ابن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمایي چې حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام حضور ﷺ ته اطلاع ورکړه چې زیري فتنې به ظاهریږي، حضور ﷺ پوښتنه تري وکړه چې ددې نه دخلاصي به کوم صورت وي؟ هغه وفرمایل چې قرآن شریف.

فائده: کتاب الله باندې عمل کول دفتنو نه دبچ کیدو کفیل دی اوددې تلاوت هم دفتنو نه دبچ کیدو یو سبب دی. دحضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په روایت کې دي چې حضرت یحی عَلَیْہِ السَّلَام بني اسرائیلو ته وویل چې:

حق تعالی شانه تاسو ته دخپل کلام ویلو حکم کوي اوددې مثال داسې دی لکه چې یو بنده په یوه قلعه کې محفوظه وي او دده لوري ته یو دشمن متوجه وي چې کوم طرفنه هم هغه حمله کوي هغه طرف نه به دالله کلام دده حفاظت کوي اوقرآن به هغه کس دفع کړي.

نن هر طرفته مادیات،مال ودولت،حب جاه،حب مال فتنې،دعقائدو فتنې،دیني خرورل،دشرک وبدعات ورسومات رواج دی، ددې واحد لامل قرآن پاک پریښودل دي، که قرآن پاک خپل کړل شي نوهر قسمه فتنې، حوادث اوعذابونه به ختم شي.

رمضان میاشت کې دبدر جنګ

(۲)هجري کال، درمضان میاشت کې دجمعې په ورځ باندې دحق وباطل په مینځ کې یوه فیصله کن معرکه وشوه. یوطرف ته یو څو بې سروسامان دویم طرفته دکفارو لښکر حرار د توري ډال سره برابر، یوطرفته الله لره سرتیټونکي اوبل طرفته شیطاني تکبر واله سرمسته،یو طرفته خدای واله خالي خیټه.دویم طرفته په ډکه خیټه مغرور،مګر دنیا وکتل چې اسلحې واله رعب ودبدبې واله شکست وخوړ دخدای واله خلکو وګټله. الله تعالی وفرمایل: ﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾.(سوره ال عمران پ۴آیت نمبر ۱۲۳)

ترجمه: اوبې شکه الله تعالی په مقام بدر کې ستاسو مدد وکړ، حالانکې تاسو کمزوري وئ ، تاسو دالله نه و ویریږئ، دي له پاره چې شکر ګذار شئ.

فیامته پورې داخبره واضحه شوه چې کله مسلمانان دالله اودرسول اطاعت کوي نودوی سره بدالله تعالی پوره پوره مدد شامل حال وي چې کله دالله مدد شامل حال وي نو چې څومره هم مضبوط دوښمن وي دحق مخې ته نه شي ټینګیدای. دمسلمانانو دلښکر سازوسامان صرف دوه اسونه، شپیته اوښان او یو څو توري وي.داهم عجیب اتفاق دی چې داهل بدر تعداد هم دطالوت دلښکر برابر وو، هغوی دجالوت مقابلې ته راوتلي وو، ددوی ذکر دقرآن کریم په دویمه پاره کې راغلی دی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جنګ نه یو ورځ مخکې حضوراکرم ﷺ دمیدان جنګ ... ې چې و چې
میدان جنګ کې به دې خای کې فلانی کافر اودې خای کې فلانی کافر مري. جنګ شروع
کیدو نه مخکې حضوراکرم ﷺ ډیروخته پورې سجده کې دعاګاني وغوښتلې په هغو کې
یوه دعا داهم وه چې ای الله! ستانوم اخستونکي یو خو مسلمانان که نن مړه شول؛ نو په دنیا
کې به یو بنده ستا نوم اخیستو واله پاتې نه شي. معرکه شروع شوه نو دقریشو اویا سرداران
مړه شول، هغه خوارلس سرداران چې (دارالندوه) کې راټول شوي وو اودحضور ﷺ دقتل
مشوره کې شریك وو دهغو نه هم یوولس مردار شول اودرې چې بیځ شو هغوی وروسته
مسلمانان شول. قیدیانو سره حسن سلوك وشو. اګر چې په هغه وخت کې دجنګ قانون
دمظلومه مسلمانانوداانتقام جوش،نوروقبائلو باندې رُعب اچول ضرورت داتقاضه کوله چې
قیدیان قتل شي مګر دخدای تعالی نبي الرحمت تاوان واخیست اوقیدیان یې آزاد کړل
(رحمة للعٰلمین)

مولانامناظراحسن ګیلانی په نبي الخاتم کې لیکي: ,,لاره که صفا وی نوهغه وخت کې چې څه
ښودل وو کامل طوربانډي ښودل کیدای نه شو لیکن ګوري په لاره کې ازغن ګټ خنګل دی،
نبي اوګس مخکې او وروسته تري ازغي دي، هغوی قصداً دې کې دننه کیږی اواوخی تري
اووتل هم څومره په شاندار ه طریقه باندې،،

دیبابان دکجورو علاقې نه د زمیندارو دا تحریك اوچتیږي اوپه تمام عالم باندې یرغل کوي
چې دیهودیانو دسود لاندې ډوب پراته وو. ددوی په ځمکو کې پیدا کیږي خو چې څه هم
پیدا کیږي دیهودیانو کورونو ته روانیږي. ډیرې ورځې نه وې شوې چې ددې علاقې دوه
خاندانونو خانه جنګي کې نوجوانان اوسرداران مړه شوي وو، دوی سره دخپل انداز نه لږې
شوې څه نور خلک هم شریك دي، چې دهغوی تعداد دسلو نه زیات نه دی. ددوی دا حال دی
دویم طرفته ټول عرب یوکمان جوړ شوي دي اوداتحریك واله یې نشانه جوړ کړیدي اوهمیشه
دپاره یې دختمولوکوشش کوي. یهودیان دخپل مارکیټ ژوندې ساتلو له پاره دوی په جنګ
باندې اخته کوي چې دهغه سلسله دمدینی نه شروع شوې ده اودشام پورې رسیدلې ده.
دمشکلاتو اختتام په دی خای باندې نه کیږي، بلکې په آرام آرام دمخالفت دا اور زباتیږي
اودهغه وخت مضبوط طاقت روم دواړه طاقتونه په مدینه کې تباه کول غواړي،
دومیانواسونه غسان قبیلې سره خوا کې آوازونه کوي اودکسرئ چیراسیان مدینې منورې
ته خبر داری راوړي اودوی ویروي چې دمدینې دزمینداروسردار دې دربارشاهی کې
ګرفتاري له پاره حاضر کړل شي، دادهغوی دشهنشاه فرمان دی چې دیمن دګورنر باذان په
واسطه مدینې منورې ته راورسید.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

واده هغه وخت حالات دې کوم وخت کې چې مدینه کې ددماغو دتجربې دپاره نسل انساني ته دعوت ورکول کیږي. بیا څه کیږي چې دقیدار ټول حشمت لکه خنګه چې یسعیاه نبي وئیلی وز چې دمزدورانو په یو کال کې دننه دبوسوپشان سوزي. علو و کبریایي له وجې چې به دهغوی قدم په ځمکه نه لګیده، وشلیده او وران شو، کوم چې دټولو نه لوی و دټولونه دورډکي په لاس قتل شو ابوجهل چې دهغه دویم لقب اونوم ددې قوم فرعون و، دیوماشوم انصاري له لاسه قتل شو. عبدالله بن مسعود رضی الله عنه چې ترې کله سرقلم کړ؛ نودهغه دامشهوره فقره په تاریخ کې مشهوره شوه: دسردار څټ دی لږ لاندې ځخه یې کټ کړه چې دمقتولو په صف کې کله زما سر کیښودل کیږي چې اوچت ښکاري. «قریشو اویاسواره کسان قتل کړی شو اوداسي دقیدار غروروتکبر خاوروسره خاوري شو» هغه عرب چې دکمان نه غشي چوږ شو دهغې دګوت په کاني باندې پریوتی وو ځنګه چې ویل شوي و څوک چې په دې باندې پریوځي توتې توتې به شي، اوهمدغه رنګ توتې توتې شو اوداسي بدل شوچې کوم دوښمن دوست جوړشو چاباندې چې توره وچلول شوه هغه نه بلکې چاچې وچلوله هغوی مسلمانان شول اوداروغژن یې دورغژن ثابت کړل. «النبی الخاتم»

محمد بن قاسم:

محمد بن قاسم داسلام عظیم جرنیل اوکماندر و چې اوولس کاله عمر کې سند ته راغی اود اسلام جنوه یې اوچته کړه، انصاف یې قائم کې، دظلم خاتمه یې وکړه. محمد بن قاسم دحجاج بن یوسف وراره و اوحجاج بن یوسف هغه وخت کې سند ته ولیږه کله چې دیبل (کراچي)په بندرګاه باندې ډاکوانو دمسلمانانوجهازونه لوټ کړل چې په هغو کې عربي اوهغه یتیمې نجیلی هم وې چې دعرب سوداګرو په وفات کیدو سره سراندیب کې درشته دارو نه لرې دیتیمې زندګي تیرولې. عرب سوداګر حج ته تلل، دې نه علاوه دسرندیب دراجه لیږل شوي نعفې هم وې چې هغه خلیفه ولید بن عبدالملک ته لیږل کیدې. ډاکوانو ډیر زیات حجاج شهیدان کړل اوکومې نجیلی چې یتیمانې شوې وې هغه یې ګرفتاره کړې. تاریخی روایت دی چې دډې نجونو چې کله عزت لوټ کیده؛ نو په دغه وخت کې یوې نجیلی چیغه کړه: ای حجاج بن یوسف! کله چې حجاج ته دډې اطلاع ملاؤشوه نوهغه وویل: دادی زه اوس راغلم. دډې نه پس حجاج بن یوسف راجه داهر ته خط ولیکه چې یتیمې نجیلی فورا آزادې کړه اوراولیږه، مګر راجه داهر انکار وکړ، حجاج بن یوسف جرنیل محمد بن قاسم ولیږه محمد بن قاسم دلسبیله په لاره باندې سند ته راغی دسکندراعظم نه پس محمد بن قاسم اولنی اسلامي سپه سالار و چې په دې لاره باندې سند ته راوتنه شو. دیبل (کراچي)په مقام باندې راجه داهر فوجیان داسلامي فوج مقابلې ته راغلل، اسلامي لښکر داسي بهادري سره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وجنګيده چې محمد بن قاسم په ډيبل (کراچۍ) باندې اسلامي جنډه ولګوله. اوفتوحات يې کول حتى چې ملتان ته راورسيده بيايې دکشميرطرف اخيسته چې واپس وغوښتل شو. په دغه زمانه کې سنده ډيره وسيع علاقه وه. پنجاب هم په سنده کې شمارل کيده. تاريخ هندو پاک کې دي چې محمد بن قاسم دپاکستان اولنۍ فاتح اوحکمران دی چې دهغه جذبه جهاد اوعزم شهادت سره سرزمين سنده کې داسلام رڼا خوره شوه او وادي مهران کې داسلامي حکومت قايم شو. له پيړيو راهيسې خلک دراجاګانو، پنډتانواوجاګيردارو د ظلم ښکار و. محمد بن قاسم پشان رحمدله،انصاف پسند اوانسانيت نواز حاکم دحسن سلوک اوطرز حکومت نه خلک دومره خاشاله شول چې کله دسليمان په حکم باندې محمد بن قاسم ګرفتارشواوعراق ته وليږل شونودسنده عوامو په چغو چغو ژړل ځنګه چې علامه بلاذري ﷺ ليکلي دي چې اهل سنده محمد بن قاسم په غم کې اونيکې وبيولې اودهغه په ياد کې يې دهغه تصوير هم جوړ کړ. محمد بن قاسم به چې چيرته هم دفتحې جنډا وړله نو هلته به يې دحلاتو جائزه اخيسته. دفتري نظام يې صحيح کړ. غيرمسلمه يې اکثر په خپلو عهدو باندې قائم وساتل دهغوی خپل مينځي جګړو حل کولوله پاره دهغوی پنچائيتی نظام کې ترميمات وکړل دذميانو حقوق يې پايمال نه کړل اومذهبي آزادي کې يې هيڅ فرق رانه وست. عبادت خانې يې مسمار نه کړې اودهغو احترام يې باقي وساتلو اوعام معافي سره يې دعوامو زړونوکې ځان له پاره خصوصي ځای جوړ کړ. محمد بن قاسم ته حکومت جوړولوسره دافکر هم و چې داسلام دتبليغ سلسله جاري وساتل شي. دې دپاره چې نوي ځمکه باندې داسلام خوريدو موقعه ملاوشي اوخلک دکفر اوشرک مقابله کې داسلام خوبيانې وګوري اوداسلام ته داخل شي. لهٰذادې مقصد له پاره ټوله مفتوحه علاقه کې يې مساجد او مدارس قائم کړل اوداسلامي معاشرې دقيام کوشش يې وکړ. جاګيردارو او بااثره هندوانو ته يې تبليغي خطونه وليکل اودوی ته يې داسلام قبلولونه پس دخراج دمعافي يقين ورکړ ډيرو جاګيردارو او راجه ګانواسلام قبول کړ اومحمد بن قاسم دوی ته داسلام دتعليماتو دزده کړې دپاره استاذان مقرر کړل. محمد بن قاسم ډير حفاظ، قرآء اومحدثين سنده ته راوغوښتل چې دې سره په لږ وخت کې خلک داسلام نه واقف شول. موسیٰ بن يعقوب ثقفي چې محمد بن قاسم سره ډير لوی اونامتو محدث اوعالم و، دې بې په اسرورکې قاضي مقرر کړ چې دهغوی خاندان په صديو باندې أج کې دعلم وفضل مرکز و. داسلامي حکومت دقيام نه پس منصوره، ډيبل،خضدار اوملتان داسلامي علومو اواسلامي تهذيب وتمدن داسې مرکز و چې په پيړيو باندې به عرب علماء ورته راتلل اودعلم درباب به يې بيول، دې سره نه صرف دا چې مسلمانان زيات شو بلکې دسنده به خاوره باندې نامور علماء ومحدثين پيدا شول چې دهغوی اودهغوی دکتابونوتذکره په کتابونوکې ملاويږي. (تاريخ هندوپاک)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دمکې مکرمې فتحه:

مکه مکرمه هم په رمضان کې فتحه شوې وه اوالله تعالی وښودل چې حق به ظاهره باندې مغلوبه نشکاره کیږي. مګر بالآخر فتحه دحق کیږي، دمکې نه کمزورې مسلمانان وویستل شو؛ مګر یو وخت هغه راغی چې همدغه مسلمانان فاتح مکه جوړ شول اومکې ته داخل شو؛ مګر حضوراقدس ﷺ چې دعفوې (درګذر) کوم مثال قائم کړ، شاید هغه په تاریخ عالم کې ملاونه شي دالله کور یې دبوتانونه پاک کړ اوعاجزانه طورباندې یې دالله عظمت اولویي بیانوله اوداخل شو.

حضرت خدیجه رضی اللہ عنہا:

حضرت خدیجه رضی اللہ عنہا دحضوراقدس ﷺ لومړی نبځه وه دکومې چې رمضان المبارک کې انتقال وشو دې په زنانه وو کې دتولو نه اول اسلام قبول کړ او د حضور ﷺ په فرمان باندې یې دالله په لاره کې نبه مال خرچ کړ اوزنانه وو ته یې سبق ورکړ چې هغوی داسلام په صداقت باندې لبیک وایي اوخپل جان و مال دې دالله په لاره کې قربان کړي.

حضرت فاطمة الزهرٰی:

دحضرت فاطمة الزهرٰی رضی اللہ عنہا انتقال هم په رمضان المبارک کې وشو. حضرت فاطمة الزهرٰی رضی اللہ عنہا باوجود ددې چې دشاه کونین لور وه ؛ مګر په کورکې یې دغریبي زندګي وه. ساده زندګي وه، دکورکار به یې پخپله کاو. میچنه به یې کوله، مشکیزه به یې ډکوله. جارو به یې وهله اوقیامت پورې راتلونکو زنانه وو ته یې سبق ورکړ چې ددنیا دعشرت یوخوورخوزندګي په ځای دآخرت تیاري ته ترجیح ورکړي. ساده اوغریبي والۍ زندګي تیره کړې اودحضور ﷺ په تعلیماتو باندې جان ودل سره قربان وې. الله تعالی دې دنن سبا مسلمانان زنانه وو ته ددغې پاکیزه هستیوداتباع توفیق وُرکړي.

وہ دین جس نے اعداء کو اخوان بنایا — وحوش اور بهائم کو انسان بنایا
درونددن کو غم خوار دوراں بنایا — گڈریوں کو عالم کا سلطان بنایا
وہ دنیا میں گھر سب سے پہلا خدا کا — خلیل ایک معمار جس بناء کا
ازل میں مشیت نے تھا جس کو تاکا — کہ اس گھر سے ابلے گا چسمہ خدا کا
مفاسد کا زیر و زبر کرنے والا — قبائل کو شیر و شکر کرنے والا
اتر کر حرا سے سوئے قوم ایا — اور اک نسخہ کیمیا ساتھ لایا

(مسدس خالی)

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

درمضان المبارک دمیاشتې پنځمه خطبه :

د جمعة الوداع او عید الفطر فضائل

د اعتکاف فضائل:

درمضان شریف په عباداتو کې یو عبادت اعتکاف هم دی. اعتکاف داسې عبادت دی چې په دې کې بنده هر وخت په عبادت کې شمارل کیږي، که هغه ویده وي یا ویښ وي یاخوراک کوي ورسره دالله په کوربانډي به پروت وي اوکریم میزبان همیشه خپل کورته د راتلونکي بنده اکرام کوي.

بهر جی میں ہے کہ در پہ کسی کے پڑا رہو سرزیربار منت درباں کئے ہوئے

ارشاد باری تعالی دی: ,,وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ،، (پ۲آیت ۱۸۶البقرة)

ترجمه: او کله چې تانه زما بنده ګان زما باره کې پوښتنه وکړي؛ نوتاسو ﷺ زما دغه فرمایئ چې زه نژدې یم او دهر غوښتونکي دعا قبلوم، کله چې هغه زما حضورکې خواست کوي نوده لره پکاردي چې زما احکام ومني اوبه ما باندې یقین وساتي، دې دپاره چې دغه خلک کامیابي بیا مومي. په اعتکاف کې بنده مکمل سوالي جوړ شي اودخپل آقا ومالک په در باندې ناست وي داسې کریم دسوال کوونکي سوال نه رد کوي.

د رمضان المبارک په آخري عشره کې اعتکاف سنت موکده علی الکفایه دی، یعنې که یو کس یې هم ادا کړي نو دټولو دطرفه به حکم اداشي اوکه یو کس هم اعتکاف نه شو ټولې محله ګنهګاره ده. نبي کریم ﷺ به آخري عشره کې همیشه اعتکاف کاو، اعتکاف په داسې مسجد کې کول پکار دي کې چې پنځه وخته للمونځ په کې کیږي.

حضور ﷺ دزندګی آخري کال باندې خلاف معمول دوه ځله جبرئیل امین سره دقرآن کریم دور وکړ اوشل ورځې یې اعتکاف کې تیرې کړې، ځکه چې دالله رب العزت په بارګاه کې دحاضري وخت نژدې و اودشوق منزل مخې ته؛ بیا دعشق هغه ټولې بې تابي اودوصال محبوب کمال شوق څه بل شان به ولي نه وي، هغه چا رښتیا ویلې دي:

وعده وصل چون نزدیك شود آتش شوق تیز تر گردد

محبوب سره دملاقات وعده کله چې پوره کیدو واله وي نو آتش شوق نورهم زیاتیږي، د حضور ﷺ په دې عمل کې دأمت دپاره یو لطیف خبرداری دی چې هر انسان له پاره ضروري ده چې کله هغه دژوند آخري دور ته راورسیږي نودنیکی اوښیګړې کارونو کې نور هم تیز شي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اودالله تعالی اطاعت اوملاقات له پاره دهغه مخې ته پیشې دپاره داطاعت اونیکوکارۍ په ذریعه باندې پوره تیار وي. (مظاهرحق)

اعتکاف سراسر نیکي ده:

وَعَنِ ابنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الْمُعْتَكِفِ: هُوَ يَعْتَكِفُ الذُّنُوبَ وَيُجْرٰى لَهُ مِنَ الْحَسَنَاتِ كُلِّهَا. (رواه ابن ماجه)

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې اعتکاف کوونکی ګناهونو نه محفوظ وي او دده له پاره دنیکیو سلسله دتولو نیکي کوونکو پشان جاري وي (ابن ماجه) یعنې معتکف د اعتکاف له وجې عبادت، دجنازې للمونځ او داسې نورو ته نه ځي، مګر د ده له پاره نیکي لیکل کیږي.

داعتکاف فوائد وبرکات:

معتکف له پاره دتولو نه لویه فائده داده چې چې ده ته شب قدر هر حال کې ملاویږي، د معتکف زړه د دنیا دکارونو د غلاظت نه پاک وي اوهغه خپل خان الله ته سپارې، مسلسل عبادت اوالله کورکې وي الله نژدې والی ده ته دې زیات حاصلیږي او په ده رحمت نازلیږي داسې وي چې دی الله په قلعه اوپناه کې وي، د شیطان دمکروفریب نه بچ وي، دمعتکف مثال هغه سړی دی چې د بادشاه په دروازه باندې پریوځي اوخپل درخواست حاجت پیش کړي دغه معتکف هم زبان حال باندې دا وایي چې الله زما مولی! ستا په دروازه باندې ولاړ یم. دې ځای نه به هغه وخت پورې نه لرې کیږم تر څو چې دې زما ښښنه نه وي کړې اوزما مقصدونه دې پوره کړي نه وي اوزما دیني و دنیاوي تکلیفونه اودردونه دې لرې کړي نه وي. (مظاهر حق)

نکل جائے دم تیرے قدموں کے نیچے　　یہی دل کی حسرت یہی آرزو ہے

دجمعة الوداع فضائل:

دحضرت سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث کې دي چې ددې مقدسې میاشتې یونفل ثواب دنورو میاشتو دفرضو برابردی اوددې میاشتې فرض دنورو میاشتو داویا فرضوبرابردی. بزرګ فرمایي که یو بنده تولې زنده ګي نفل کوي نو دیو فرض دثواب مقابله نه شي کولی. بیا دعامو درځو نه دجمعې دورځې فضیلت وثواب زیات شي، بیا درمضان دمیاشتې اعمالوثواب ددې ځو اندازه نشته. په روایت دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضوراکرم ﷺ فرمایلي دي چې الله تعالی درځې پیدا کړلې، نوپه دې کې یې دجمعې د ورځې انتخاب وکړ اوخوښه یې کړه او زمامت نه یې په تولو ورځو باندې فضیلت ورکړاودی له پاره یې جمعه مقرره کړه، هر هغه عمل چې

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

انسان بې دجمعې په ورځ کوي. ددې په عوض کې ده له پاره اويا نيکی ليکلې کيږی بيا کوم کس چې دجمعې په شپه يا ورځ باندې وفات شي؛ نو الله تعالی دده مخکې او وروسته تول ګناهونه معاف کړي اودنيا نه ښېل شوی ووځي [طبراني کې دي چې جابر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت نقل کوي چې کوم بنده د جمعې په ورځ يا په شپه باندې وفات شي د قيامت په ورځ باندې دعذاب الهی نه محفوظ وي اوپه ده ب دشهيدانو مهر ولګول شي، اوس اندازه ولګوئ چې دجمعې په ورځ باندې نيکي اويا چنده زياتيږي عامه نيکی هم لس چنده زياتيږي بيا لس چنده نه اويا چنده زياته شي بيا رمضان کې دنوافلو ثواب دفرائضو برابرشي اوبيا يو فرض داويا فرضو برابرشي؛ نواوس د الله انعامات واحسانات د باران اندازه څوک لګولی شي

نزهة المجالس کې د عمده ابن ملقن په حواله د حضرت عمر رضي الله عنه روايت دی چې يو خل نبی کريم ﷺ ماته وفرمايل چې: ای عمرا دجمعې لمونځ په خان لازمول خطاګاني داسې صفاکوي لکه څنګه چې تاسو د خپلو کورونونه ګردصفا کوئ ای عمرا يوبنده داسې نشته چې هغه دجمعې ورځې له پاره غسل وکړي او دی ګناهونو نه داسې صفا نه شي لکه څنګه چې د مور د خيټې نه پيدا شي (يعني د جمعې لمونځ وکړي او توبه و استغفار وکړي؛ نوحقوق الله ورته معاف شي اوحقوق العباد په اداکولوسره معاف کيږی يا د ګناهونو نه ګناه صغيره مراد دي، بيا حضور ﷺ وفرمايل: ای عمرا يو بنده داسې نشته چې د جمعې لمونځ له پاره د خپل کور نه ووځي اوبياهم ده ديارہ دا ټول ګانې ګواهی ور کړي او ټوله خاوره ، چې دی د جمعې لمونځ له پاره پرې تللی دی، استغفار ونه کړي اويو داسې بنده نشته چې د جمعې لمونځ له پاره پاکې جامې واچوي اوجمعې لمونځ ته لاړ شي او بياهم ده ته الله تعالی نظر رحمت ونه کړي او دده تمام حاجتونه دينې او دنيايې پوره نه کړي. ای عمرا بېشکه الله تعالی د جمعې په ورځ باندې فرشتې دنيا طرفته راليږي، هغوی په دې ښار کې آذان پورې ګرځي راګرځي، بيا کله چې مؤذن آذان کوي نوهغوی مسجد طرفته منډې کړي اود مسجد په دروازه باندې داخل شي او ګوري چې آذان نه مخکې کوم کوم خلک مسجد ته راغلی وو ، بيا چې کله دوی داخلک په رکوع او سجده کې وګوري نو وايي چې ای الله! دوی معاف کړه، ددوی درخواست قبول کړه او د مسجد په دروازو باندې ودريږي اوداخل شوي خلک شماري اوهغوی سره مصافحه کوي او د دوی له پاره استغفار کوي، بيا کله چې خطيب منبر باندې کيني نو دوی د صفونو مينځ کې ودريږي اوخلکو طرفته ګوري، دوی دپاره استغفار کوي کوم خلک چې لمونځ شروع کړي؛ نو دوی هم دهغه سره شاملې شي، دې له پاره چې دجمعې برکات حاصل کړي بيا کله چې امام سلام وګرځوي اودعا غواړي نو فرشتې پرې آمين وايي، دملائکو له وجې د ټولو خلکو مغفرت وشي اوکله چې خلک واپس روانيږي بيا دوی د خلکو

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لمونځ ذکر و اذکار تسبیح واستغفار راتول کړي او آسمان ته یې یوسي. تر دې چې د عرش لاندې ودریږي او خدای تعالی ته عرض وکړي چې ای پروردیګاره، دا د فلاني ښار د خلکو د جمعې لمونځ دی. خدای تعالی ارشاد دی د دوی لمونځ جبرائیل علیه السلام ته یوسئ او ورته وایي چې د الله تعالی له لوري تاته حکم شوی دی چې دا لمونځ فلانی خزنه کې کیږده کوم ځای کې چې د دې جمعه کوونکو عمل نامې دي،

حضرت جبرئیل علیه السلام دا لمونځ مطلوبه خزانې ته یوسي اوهغلته یې وسپاري بیا دا لمونځ قیامته پورې خزانه کې موجود وي. (نزهة المجالس)

یو مبارک حدیث کې راغلي چې د جمعې د ورځې دسهار لمونځ په جماعت سره کولو نه بل افضل لمونځ نشته اوزما ګمان دادی چې کوم کس ښښل شوی نه وي هغه دې لمونځ کې نه شي ښامليدلی (طبرانی)

حضرت نبی کریم (ﷺ) نه مروي دي کوم کس چې د جمعې په ورځ باندې سورت کهف وایي. نوکوم ځای کې یې چې وایي هغه ځای نه واخله تر مکې پورې الله تعالی ده ته نور ورکوي اودویمې جمعې پورې دده مغفرت کوي او دده له پاره اویا فرشتې د رحمت دعا کوي اوذات الجنب برص جذام اوفتنه دجال نه به محفوظ وي او حضرت نبي اکرم (ﷺ) وفرمایل کوم کس چې د جمعې په ورځ باندې سورت کهف وایي هغه اته ورځو پورې فتنه دجال نه محفوظ وي. حضرت نبی اکرم (ﷺ) فرمایي چې زما اُمت ته د جمعې نه افضل اختر نشته،

د جمعې په ورځ باندې سپینې کپړې اچول ډیر بهتر دي؛ ځکه چې نبی اکرم (ﷺ) فرمایي چې تاسو سپینې کپړې واچوئ؛ ځکه چې هغه انتهائي ستره اوپاکیزه لباس دی اوپه دې کې خپل مړي کفن کوئ.

د جمعې د ورځې اوراد او وظائف

عابدان خلک د جمعې په ورځ باندې زرځله قُلْ هُوَاللهُ اَحَد (سورت اخلاص) وایي، د بیهقي په فضائل اعمال کې دي: حضرت نبي کریم (ﷺ) فرمایي چې: کوم کس زر ځله قُلْ هُوَاللهُ اَحَد (سورت اخلاص) وایي ترخو چې هغه خپل کورپه جنت کې ونه وینې وفات کیږي به نه.

د جمعې په ورځ باندې د مخصوص درود شریف فضیلت

حضرت نبي کریم (ﷺ) فرمایي کوم کس چې د جمعې په ورځ ما باندې اتیا ځله درود وایي، الله تعالی به یې د اتیا کالو ګناهونه معاف کړي، خلکوعرض وکړ یارسول الله! هغه کوم یو درود دی؟ وېې فرمایل

"اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَنَبِيِّكَ وَرَسُوْلِكَ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ..."

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جمعې پریښودو وعید:

حضرت نبی کریم (ﷺ) فرمایي: کوم کس چې د جمعې آذان واوري او را نه شي نوخدای تعالی دده په زړه باندې مهر لګوي اوده زړه د منافق پشان شي او حضرت نبی اکرم (ﷺ) فرمایي کوم کس چې دري جمعې له څه عذر پرته پریږدي، دې کس اسلام شاته وغورځاو.

د جمعې وجه تسمیه:

جمعه، د جمع نه ده، دې ته جمعه ځکه وایي چې په دې ورځ باندې د حضرت آدم علیه السلام تخلیق مکمل شوی و، ځینې حضرات فرمایي چې کله آدم علیه السلام د جنت نه راکوزشو؛ نو په دې ورځ باندې حضرت حوا سره جمع شوی و، ځینې وایي چې په دې ورځ باندې ټول خلک د عبادت اولمونځ له پاره راجمع کیږي، دی وجې نه دې ته یوم الجمعة وایي، جمعه اسلامي نوم دی، زمانه جاهلیت کې به دې ورځې ته عروبه ویل کیده.

جمعه په زمانه جاهلیت کې هم قابل عزت ورځ وه، مګر اسلام دې ته نورهم حقیقي عزت ورکړ، د الله په نزد باندې د جمعې لمونځ نه بل لوی عبادت نشته، دې وجې نه په بنده ګانو چې دالله دطرفه کوم‌بې انتها د نعمتونو باران کیږي، دکومو سلسله چې دانسان د پیدائش نه واخله تر مرګه پورې ده. بلکې د پیدائش نه مخکې اودمرګ نه پس هم انسان دالله تعالی دنعمتونو باندې سرفرازه وي ددې‌دشکر د ادا کولو له پاره یې په ورځ کې پنځهٔ وخته لمونځ فرض کړ او د جمعې په ورځ‌بنده ګانو باندې دېر زیات نعمتونه وریږي، دې وجې نه په دې ورځ باندې دیو خاص عبادت حکم وشو، بیا چې جماعت څومره زیات وي اوتعداد څومره دېر وي هغومره به زیات اجر و ثواب وي او دا هغه وخت ممکن دي چې دمحلو اودغه ځای خلک یوځای راجمع شي اولمونځ وکړي، چونکې داسې درنه اجتماع روزانه راجمع کیدل دتکلیف باعث و. دې وجې نه شریعت په هفته کې یوه ورځ ددې اجتماع اهتمام وکړ چې په دې کې دمختلفومحلو اوکلیو خلک راجمع شي اودا عبادت ادا کړي او چونکې دجمعې ورځ په تمامو ورځو کې غوره او اشرفه وه، دې وجې نه‌ددې ورځې تخصیص وشو اونورواُمتونو ته هم الله تعالی په دې ورځ باندې د عبادت کولو حکم کړی و، خو دې خلکو د خپلې سرکشی له وجې په دې کې اختلاف وکړ او د دوی دسرکشی دا نتیجه شوه چې هغوی ددې عظیم سعادت‌نه محرومه شو او ذا فضیلت وسعادت هم دهغه اُمت مرحومه په حصه کې راغی.

یهودانو د هفتې ورځ مقرر کړه، په دې خیال چې په دې ورځ باندې الله تعالی د ټول مخلوق د پیدائش نه فارغ شو. عیسایانو داتوار ورځ مقرر کړه په دې خیال چې دا د ابتدا ورځ ده، همدې وجې نه دا دواړه فرقې ددې ورځو دېر زیات اهتمام کوي، د ورځې ټول کارونه پریږدي او چرچ ته عبادت له پاره ځي، په عیسایي ممالکوکې همدې وجې نه د سرکاري

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دفاترو تعلیمي مراکزو عمومي رخصتي دي، په ځینو مسلمان ممالکوکي هم دامرغوبیت اوبدتصیبي موجوده ده چې هغوی هم عیسایي حکومتونو دا خالص طرزعمل بدل نه کړ اوپه خپلو ممالکو کې د جمعې دورځې پر ځای د اتوار په رخصتي باندې مجبوره دي. (افسوس صد افسوس، (مظاهرحق)

دجمعې پریښودونکي لپاره وعید:

عَنِ ابنِ مَسعُودٍ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَومٍ یَتَخَلَّفُونَ عَنِ الجُمعَۃِ لَقَد ھَمَمتُ اَن اٰمُرَ رِجَالاً یُصَلِّی بِالنَّاسِ ثُمَّ اُحَرِّقَ عَلٰی رِجَالٍ یَتَخَلَّفُونَ عَنِ الجُمعَۃِ بُیُوتَھُم.

حضرت ابن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روایت کوي چې سرتاج دو عالم ﷺ دهغو خلکو باره کې کوم چې دجمعې لمونځ نه وروسته پاتې کیږي (دجمعې لمونځ نه کوي، وفرمایل چې زړه مې غواړي چې دخان په ځای باندې یو کس دلمونځ له پاره مقرر کړم اوبیا لاړشم اوددې خلکو کورونه وسیزم (کوم چې له عذر پرته جمعه پریږدي).

عیدالفطر:

عیدالفطر د الله د انعاماتو نه دی اود روژه دارو له پاره یوه خوشحالي ده، خکه چې روژه دارو د الله حکم مکمل کړ، لمونځونه یې ادا کړل، روژې یې وساتلې، د نفس خواهشات یې قربان کړل، نو الله تعالی دا انعام ورکړ او ورسره یې د کامیابۍ اعلان هم وکړ، څرنګه چې سورت اعلی کې وفرمایل: ,,قَدْ اَفْلَحَ مَن تَزَکّٰی. وَذَکَرَ اسْمَ رَبِّہٖ فَصَلّٰی،، (سورة الاعلی پ ۳۰).

ترجمه: بیشکه کامیاب شو هغه کس کوم چې خپل نفس پاک کړ (گناهونو نه) او د خپل رب نوم یې واخیست . بیایې لمونځ وکړ، روژه ددې دري شیانو مصداق دی چې خواهش یې ضبط کړ اوروژه یې وساتله، لمونځونه یې وکړل، تراویح یې وکړې او الله یې یاد کړ.

دعیدالفطر وجه تسمیه:

دعید معنیٰ ده دوباره راتلونکی، واپس راتلل؛ نوچونکې د اختر په وجه باندې انسان باندې دالله تعالی احسانات وانعامات دوباره راځي، دې وجې نه دې ته عید وایي.

دویم دا چې ځینې وایي چې عید هر کال یوې نوی خاشحالي سره راځي دې وجې نه ورته عید وائي دفطرمعنی ده کولاویدل اودافطار معنیٰ ده کولاؤل نوچونکه روژه دار توله میاشت درمضان صبح صادق نه واخله غروب آفتاب پورې خپله خولهٔ دخوراک څښاک نه بنده ساتي او دعیدالفطر په وجه باندې بندش کولاویږي، چې د الله تعالی خاص انعام دی، دې وجې نه دې ته عیدالفطر وایي.

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د هرقوم یو اختر وي. د عیسایانواختر هغه ورځ ده کومه ورځ چې الله تعالی دآسمان نه اخوان نعمت نازل کړ. دې وجې نه د دوی یوم عید(اختر) دغه ورځ جوړه شوه، دغه راز یهودانوته چې په کومه ورځ باندې دفرعون نه نجات حاصل شو دغه ورځ ددوی اختر وګرځیده. دغه راز دآتش پرستو اختر نوروزاومهرجان وي او د مسلمانانو اخترونه د تولو نه افضل دي چې په دې کې د الله تعالی حکم اوفرمان پوره کیږي، عیدالفطر (کوچنی اختر) دروژو پوره کیدو په خوشحالي کې وي اوعیدالاضحیٰ دقربانی پوره کولوپه خوشحالي کې وي اوپه دواړوخوشحالیوکې دالله تعالی حکم دشکرانې په لمونځ اوپه صدقه وقرباني باندې اډاکیږي، نه دغیر مسلمو پشان چې هغوی د خپل اختر په خوشحالي کې شرابونه څښي، عیاشیاني کوی او دالله تعالی نافرمانی کوي، دهغه غضب ته دعوت ورکوي.

دعید یوه بله وجه تسمیه:

خینې بزرګان وایي چې عید ته عید دې وجې نه وایي چې ایمانداري اوفرمانبرداري دالله اطاعت درمضان په میاشت کې روژې ساتلونه پس دحضور ﷺ اطاعت سنت نوافل روژې دشوال میاشتې طرفته واپس کیږي، یعنې د شوال شپږ روژې هم نیسي، دې وجې نه ورته عید وائي. جلیس الناصحین کې دې چې د یوم فطر اکرام کوه د حدیث الفاظ دادي.

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وسلم: أَكْرِمُوا يَوْمَ الْفِطْرِ وَاحْذَرُوا مِنَ الْمَعَاصِي وَالْخَمْرِ.

(یعنې د اختر په ورځ باندې حدودونه تجاوز مه کوه) حضرت سعیدبن جبیر رضی الله عنه درسول الله ﷺ ارشادنقل کوي چې دیوم فطر (کوچني اختر ورځې) اکرام وکړئ او د معاصي اوضرنه ځان بچ کړئ (عموماً خلک فضول خرچي کوي اودامنوع ده) معارف الحدیث کې دي: د هریوقوم خپل خاص تهوار اوجشن وي خوراکونه تیاروي اود خپل حیثیت مطابق لباس اچوي اونورو طریقوسره اندروني خوشحالي کولو اظهار کوي دا داسې ده چې د انساني فطرت تقاضا ده. دې وجې نه دانسانانوییوه فرقه اوطبقه داسې نه ده چې دهغوی دخوشحالي اوجشن خاص ورځې نه وي، اسلام کې یې هم دوه ورځې د خوشحالي کینبودې. یو عیدالفطر اوبل عیدالاضحیٰ، بس دا د مسلمانانو اصل مذهبي وملي تهواردی. دې نه علاوه مسلمانان چې کوم تهوار کوي، دهغه څه اصل او بنیاد معلوم نه دې، بلکې اسلامي نقطه نظر سره دې کې اکثر خرافات دي، دمسلمانانو اجتماعي زندګي دې ځای نه شروع کیږي کله چې رسول الله ﷺ مدینې ته هجرت وکړ، دعیدالفطر او عیدالاضحیٰ دا دواړه تهوارونه دهماغه ځای نه شروع شو. (معارف الحدیث)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عيدالفطر:

عيد الفطر (کوچنی اختر) درمضان روژي پوره کيدونه پس په اول شوال باندې لمانځل کيږي. رمضان المبارک روحاني او ديني اعتبار سره دټول کال په ميا شتو کې مبارکه ميا شت ده. په همدې ميا شت کې قرآن کريم رانازليدل شروع شو، ددې تولې ميا شتې روژي په اُمت مسلمه باندې فرض کړل شوي دي، ددې ميا شتې په شپو کې مستقل باجماعت لمونځ اضافه شو اوهر قسمه نيکيو کې اضافي ترغيب وشو، الغرض داچې پوره ميا شت د مجاهدې اوخواهشاتو د قربانولو او د هر قسمه اطاعت اوعباداتو او روحاني برکتونو په لحاظ سره هغه ددې زيات مستحق دی چې دادأمت دجشن اوسيرت ورځ اتوهوارجوړ کړي. چنانچې همدا ورځ د عيد الفطرورځ مقررشوه. (معارف الحديث)

ابوداؤد کې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی:

عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عليه وسلم الْمَدِيْنَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُوْنَ فِيْهِمَا فَقَالَ مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ؟ قَالُوا كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم قَدْ اَبْدَلَكُمُ اللهُ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا يَوْمَ الْاَضْحٰى وَيَوْمَ الْفِطْرِ. (ابوداؤد)

په همدې حديث کې بې د لهو لعب نه منع کړې ، داسې لهو لعب چې په هغه کې اندېښنه د ناجائزو وي!

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ دمکی معظمې نه مدينې منورې ته هجرت وکړ، نو د اهل مدينه کافي خلک چې هغوی مخکې نه اسلام قبول کړی و دوه تهواره به ئې لمانځل چې په هغو کې به لوبې او تماشې کيدې، رسول الله ﷺ ددوی نه پوښتنه وکړه چې دادوه ورځې تاسو لمانځئ ددې څه حيثيت اوحقيقت دی؟ هغوی عرض وکړ چې مونږ به داسلام نه مخکې دا په جاهليت کې هم لمانځلې، رسول الله ﷺ وفرمايل: بس ددغو رواجونو په بدله کې الله تعالی تاسو ته بهتری د خوشحالی ورځې درکړې (اوس همدغه دستاسو مذهبی اوقومی تهرارونه شو، عيدالاضحی اوعيد الفطر) حضور ﷺ فرمايي مسلمانانو! قربانی دخپل آخرت سواری جوړه کړئ اوصدقه فطر د خپل آخرت توښه جوړه کړئ اوجنت ښکلی کړئ. د صدقه فطر ورکولونکی تولی روژې الله قبلوي، صدقه فطر اداکوونکي ته د هری هری دانې په بدله کې نيکي ملاويږی.

صدقه فطر:

حضور ﷺ وفرمايل: چې الله تعالی صدقه فطر ورکوونکی غنی پاکوي اوفقير ته نوره هم زياته ورکوي (دالله په لاره کې خرچ کولوسره برکت اورحمت وي) ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وفرمایل چې رسول الله ﷺ صدقه فطر فرض کړه او روژه بې ډبې فائدې او فحش کارونو نه پاکولوله پاره او مسکینانو ته خوراک ورکولو په غرض (صدقه فطر مال پاک وصاف کوي).

د اختر ونو د شپو فضیلت:

حضرت محمد ﷺ وفرمایل: کوم کس چې د اخترونو ځپه شپو دثواب غوښتلو له پاره بیدار پاتې شو. نو دده زړه به نه مري. کومه ورځ چې ټو زړونه مړه وي. (ترغیب) او حضوراقدس ﷺ وبې فرمایل د هر یو قوم اختر وي او زمونږ اختر دا دی.

د اختر د ورځې فضیلت:

حضوراکرم ﷺ وفرمایل کله چې د کوچني اختر ورځ وي؛ نوالله تعالی دفرشتومخکې په بنده ګانوباندې فخر کوي اوفرمایي: ای زما فرشتو! څه جزا ده د هغه بنده کوم چې خپل کارپوره کړی وي؟ هغوی به عرض وکړي ای پروردګاره! دده بدله داده چې پوره پوره ثواب ورته ملاوشي. الله فرمایي زمابنده ګانو اووینځو زما فریضه پوره کړې ده، بیا راوټل اوماته بې لبیک آواز وکړ، قسم دی زما په خپل عزت وجلال، په خپل کرم اوعالي شان، زه به ددوی دعا ضرور قبوله کړم، خپلو بنده ګانوته خطاب فرمایي چې بښل شوي ولاړ شئ! ماستاسو ګناهونه په نیکیو بدل کړل. حضوراکرم ﷺ فرمایي چې بنده ګان بښل شوي راپس کیږي (بیهقی).

نبی اکرم ﷺ وفرمایل، کله چې دکوچني اختر ورځ وي؛ نوفرشتې په لارو باندې کیني،بیا آواز کوي ای مسلمانانو! لاړ شئ رب کریم طرفته، کوم چې احسان کوي ښیګړی سره بیاپه دی باندې ډیر ثواب ورکوي یعني خپله دعبادت توفیق ورکوي بیاخپله ثواب ورکوي،په تحقیق سره تاسو ته یې دقیام لیل حکم کړی و، تاسو قیام وکړ او تاسو ته د روژې نیولو حکم وشو، تاسو روژې ونیولې او د خپل پروردګار اطاعت مو وکړ، بیا تاسو انعام حاصل کړ. کله چې لمونځ کوي نوآواز کیږي خبردار شئ ستاسو پروردګار تاسو معاف کړئ، خپلو کورونو ته کامیاب وکامران ولاړ شئ! دا ورځ،،یوم الجائزه،،ده او ددې ورځې نوم په آسمان کې،،یوم الجائزه،،(انعام ورځ) کیږي،،ودل شوه. (جمع الفوائد ،دمیاشتو فضائل او احکام)

د اختر مسنون شیان:

د کوچني اختر په ورځ دولس شیان مسنون دي:

دشریعت موافق ځان ښایسته کول، غسل کول، مسواک وهل، ښې جامې اغوستل، خوشبویي لګول. سهار وختي پاځیدل. عیدګاه ته وختي تلل، عیدګاه ته تلو نه مخکې څه خواړه خوړل، عیدګاه ته تلو نه مخکې صدقه فطر ورکول، د اخترلمونځ له پاره عیدګاه ته تلل، په کومه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لارځي، لارشي وايسي په بله لاره کول، پياده تلل او الله اکبر الله اکبرويل، تکبيرونه ويل يعني په لاره کې دالله د عظمت او تقدس اعتراف کول

د اختر د لمونځ طريقه:

وګوڅي اختر دلمونځ طريقه داده، اول دي نيت وکړي، نيت کوم ددوه رکعته واجب دکوڅني اختر لمونځ سره دشپږو تکبيرونو زياد ساتنې نيت په ژبه ويل شرط نه دی، په زړه کې خيال کول هم کافي دي، بيادي تکبيرتحريمه ووايي او لاسونه دي وترې او،سُبحانَكَ اللّٰهُمَّ..دي پوره ووايي، بيا دي الله اکبر ووايي اوهرځل دي غوږونو پورې لاس اوچت کړي. اولنې اودويم تکبير باندې دي لاس خوږند پريږدي، مګر دريم تکبير باندې دي لاس وترې او امام دي قرأت شروع کړي، مقتدي دي خاموشه ولاړ وي اوحسب دستور دي رکوع سجده کوي. بيا چې کله دويم رکعت کې امام قرأت وکړي؛ نو دري تکبيرونه دي داول رکعت پشان ووايي په دريم تکبير دې لاس نه ترې، بلکې خوږند دي ونيسي اوبه خلورم تکبير دي رکوع ته لاړ شي. داخترونو خطبه سنت ده او په حاضرينو پې اوريدل واجب دي، دي وخت کې خبرې اترې کول ياځه لوستل حرام دي.

يوبدعت:

عموماً خلک د اختر لمونځ نه پس خپلو مينځو کې غاړې ورکوي او دا ضروري ګڼي، دا بالکل بدعت دی ، هو؛ چې کوم خلک د بهر نه راغلي دي، که‌هغوی سره دملاقات له پاره يا دعامې ورځې په خبر معانقه وشي؛ نوخير دی (زمونږ علاقو کې معانقه ضروري تصور کيږي دا بدعت دی) که اختر د جمعې په ورځ باندې وي؛ نو ددواړو لمونځونه کول لازم دي، اول واجب او دويم فرض دی ځينې کم علمه خلک د جمعې په ورځ باندې د اختر راتګ نامبارکه ګڼي دا خيال بالکل باطل دی بلکې په دې کې به دوه عبادته راجمع شي، چا څه ښه ويلي دي يعني خواختر ونه راجمع شو دا خودخوشحالي خبره ده، نه‌د فکر وپريشانۍ.

عيد وعيد وعيد صرن مجتمعه وجه الحبيب ويوم العيد والجمعة

ترجمه: يو اختر دويم اختر اودريم اختر، د محبوب مخ، اختر او جمعه.

صدقه فطرصاحب نصاب باندې ځنګه چې دخپل طرفه واجبه ده، دغه رنګ دنابالغه بچيو له طرفه هم واجب ده؛ که څه هم هغوی څومره واړه وي.

د صدقه فطر نصاب:

کوم مسلمان چې دومره مالداره وي په هغه باندې زکات واجب وي يا زکات واجب نه وي، خو ضروري اسباب نه زيات دومره قيمتي مال واسباب وي څومره قيمت باندې چې زکات واجب

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وي که څه هم دا مال دتجارت وي يا نه وي ،اوکه پوره کال پرې تير شوي وي يا نه.

مسئله: چاچې صدقه فطر د اختر ورځې نه مخکې په رمضان المبارک کې ورکړه بيا هم اداشوه، اوس دوباره ورکول واجب نه دي، که چا د اختر په ورځ باندې صدقه فطر ور نه کړه ؛نومعاف نه شو. په بله ورځ باندې ورکول جائز دي.

د صدقه فطر مقصد:

صدقه فطر مقصد دروژه دار تزکيه نفس دی، يعنې انسان پاک وصاف شي، دهرقسمه گناهونونه او د مساکينو او غريبانو خدمت وشي او د هغوی حق اداشي. مال پاک وصاف شي اوکله چې دغريبانو اومسکينانواختر وي اوکله چې هم دوی ته بغير دغوښتلو نه ورکړل شي داختر په ورځ باندې هرقسمه گناهونو اوفضول خرچې نه بچ کيدل پکار دي، فضول خرچي نه دي کول پکار. د نظر حفاظت کول پکار دي، نن سبا زنانه زيب وزينت وکړي او په بازارونوکې بې پردې گرځي، خپله هم د سختې گناه ارتکاب کوي او نورهم په گناه کې مبتلا کوي. د اختر لمونځ په يو حالت کې هم پريښودل نه دي پکار، ځينې خلک سير و تفريح کوي، لمونځونه پريږدي، دفضيلت اوکرامت په ورځ باندې گناه کول نوره هم سخته ده، لکه چې څوک په مسجد کې گناه وکړي لکه ځنګه چې دفضيلت اوکرامت په ورځ باندې دنيکی ثواب زيات شي دغه رنګ دګناه وبال هم زياتيږي، دي وجې نه د اختر په ورځ باندې گناه نه احتراز کول پکار دي.

د يوې گناه لس نقصانات:

مجالس الابرارکې د تنبيه الغافلين په حواله سره ليکل شوي دي چې: د گناه لس نقصانات دي: (۱)خپل خالق ناراضه کول (۲) د الله دشمن ابليس خوشحالول (۳) د جنت نه لرې کيدل (۴)جهنم ته نژدې کيدل (۵) خپل ځان باندې ظلم کول (۶)خپل ځان چې الله پاک پيدا کړی دی خپله ناپاکه کول (۷)محافظو(فرشتو)ته تکليف ورکول (۸)نبي کريم ﷺ په قبر کې غمګين کول (۹) ځمکه او شپه ورځ په خپلې گناه باندې گواه کول (۱۰) د تمام عالم بدخواهي کول؛ ځکه چې دګناهونوکولو سره باران کميږي، نو کله چې دې وي گناه کوونکي دا حال وي؛ نو دغه کس به کوم حال وي چې قسما قسم گناهونه کوي.

حقيقي اختر د چا دی؟:

اختر دهغه چانه دی چې نوې جامې واچوي، بلکې اختر دهغه چا دی چې له و عيد(ويرې)نه پناه پاتې شو. اختر دهغه چا نه دی چې په خوښو ګانې بې استعمال کړي بلکې اختر د هغه چا دی چې توبه بې وويسته. اختر د هغه چا نه دی چې دنيا زيب وزينت بې وکړ، بلکې اختر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د هغه چا دی چاچې دآخرت توښه ځان سره کړه، اختر د هغه چانه دی چې په ښه سواریانو باندې سپور شي، بلکې اختر د هغه چادی چې ګناهونه پریږدي، اختر د هغه چانه‌دی چې په اعلی قالینونو باندې کښې، بلکې اختر د هغه چا دی کوم چې په پل صراط تیریدو فکر وکړي. اختر د هغه چا نه دی چې د اختر په ورځ هم سندري اوري او وي سي آر ګوري. بلکې اختر د هغه چا دی چې دقرآن کریم تلاوت وکړي اود الله جل شانه ذکر وکړي.

حکایت:

ځینې بزرګان په یوه داسې علاقه باندې تیریدل چې هغې کې خلکو د اختر په ورځ باندې لوبې تو کې کولې او په لهو لعب کې مبتلاوو، دوی وویل،که ددوی اختر مقبول وي،نو دوی له پاره لازم دي چې شکر ادا کړي اودا دشکرګذارو کارنه دی او که دوی اختر مقبول نه وي؛نو دوی له‌ه‌لازم دي چې دخدای تعالی څخه ویره وکړي او دا چې څه کوي دا د ویریدو والهکار نه دی.

کارکن کار بگذار از گفتار کاندریں راه کار باید کار

ساقیا بر خیز و درده جام را خاك برسرکن غم ایام را

الله تعالی دي مورږ تولو ته د اختر ورځ صحیح طریقې سره د ادا کولوتوفیق راکړي، دفضول خرچو نه دبچ کیدو توفیق دي رانصیب کړي. آمین یا رب العٰلمین!

داختر فلسفه او مقصد:

د اختر د تولو نه لویه فلسفه‌او مقصد د الله تعالی رضا حاصلول دي، دي نه علاوه داختر عام اجتماعي‌په ذریعه باندې مسلمانانو کې اتفاق واتحاد مظاهره کول دي، تول مسلمانان مختلف قومونه، ژبې، ثقافتونه او حیثیتونو واله خلک کله چې یوبل سره اوږه ملاؤ کړي اوپه یو ځای کې لمونځ کوي، خطبه اوري، د الله د عظمت او جلال ترانې وایي؛ نود الله رحمت په جوش کې راځي. دي وجې نه د مسلمانانو جلسه چې خیر دپاره وي په هغې باندې رحمتونه رانازلیږي. دعاګانې قبلیږي. د اختر په ورځ باندې مسلمانانو لره پکار دي چې کوم نفرتونه او نجښونه وي هغه ختم کړي او دیو بل په معامله کې زړه صفا وساتي، ایمان د داسې شي نوم دی چې کله د الله د وحدانیت اودهغه دصفاتو تعین وي نوباطل اعتقادات اواعمال ختم شي د الله صفات په بنده ګانو کې راځي الله رحیم دی رحم خوښوی اوکریم دی کرم خوښوي توآب دی. توبه خوښوي او د الله اراده اوخوښه هم داده چې دا صفات په بنده ګانو کې راځي.

..تَخَلَّقُوا بِأَخلَاقِ اللّٰهِ.. (الحدیث)

دالله اخلاق خپل کړئ. د اختر مورږ نه‌دا تقاضه ده اوهمدا مطالبې دي، مورږ تجدید عهد کوو اوتوبه کوو چې یا الله!چې مورږنه کوم ګناهونه اوتقصیرات شوي دي دهغو راته معافي وکړه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اومو چې ستا په خوښه دتلو کوشش کوو؛ نو مو ته د عمل کولو توفیق راکړه. آمین!

د کوچني اختر بیان مخکې مختصر ذکر شوی دی، دتفصیل ضرورت محسوس شو اوس تفصیلي بیانیږي. د الله تعالی ارشاد دی

"اُدعُوا رَبَّكُم تَضَرُّعاً وَّخُفيَةً إنه لا يُحِبُّ المُعتَدِينَ. وَلا تُفسِدُوا فِي الأَرضِ بَعدَ إصلاحِهَا وَادعُوهُ خَوفاً وَّطَمَعاً إنَّ رَحمَةَ اللهِ قَرِيبٌ مِنَ المُحسِنِينَ..." (پ۸ آیت ۵۵،۵۶)

خلکو! خپل رب ځځه په عاجزي او آرام سره دعا غواړئ، بېشکه الله تعالی حد نه تجاوز کوونکي نه خوښوي. اوپه ځمکه کې داصلاح نه پس فساد مه کوئ اودعذاب ویره اودرحمت امید ساته دالله تعالی عبادت کوئ، یقینا د الله رحمت نیکي اواخلاص کوونکوسره ډېرنژدې دی

تشریح: درمضان میاشت د الله نه دغوښتو میاشت ده، دالله نیک بنده ګان د الله نه غوښتنه کوي روژې نیسي، تراویح کوي، تهجد کوي، کلام پاک تلاوت کوي، صدقه و خیرات کوي، دعاګاني کوي او د الله نه معافیاني غواړي او د دوزخ نه پناه غواړي او آزادي حاصلوي درمضان په میاشت کې د الله رحمت دباران پشان رانازلیږي. اوس کوچنی اختر هم دالله دیاد او آواز ورځ ده. د حضورپاک ﷺ ارشاد دی چې: "د اختر لمونځ لپاره چې له کوره اوځئ نو په کوچني اختر کې په آرام اوځئ اختر کې لږ په زوره تکبیرات وایئ او الله یادوه، ځکه چې د اختر په ورځ فرښتې په لارو اوعیدګاوو کې دګواهی له پاره ناستې وي. دې نه پس فرمایي د اصلاح نه پس فساد مه کوئ، مطلب داچې رمضان میاشت کې دالله نعمتونه ښه لوټ کړئ اوس داختر په ورځ باندې ګناهونوکې مبتلاشئ اوخپلې نیکۍ برباد نه کړئ، بلکې دنیکیو چې کومه خزانه ده هغه محفوظه کړئ، ځرنګه چې مال ودولت حاصل کړی شي اوبیا دهغه ساتنه کیږي. دغه رنګ دنیکۍ حاصلیدو نه پس دهغو هم حفاظت وکړئ، ځرنګه چې دمال و دولت دشمن غل ډاکو وي دغه رنګ دنیکو دشمن شیطان اونفس دي داغل ډاکو اوراهزن دي چې دانسانانونیکۍ وهي.

اختر عبادت او دعا ده:

اختر دخوشالۍ عبادت دی، یعنې په خوشالۍ کې هم الله مه هیروئ یعنې خوشالۍ داسې تیره کړئ ځرنګه چې الله فرمایي په خوشالۍ کې فضول خرچي اواسراف مه کوئ، حد نه تجاوز مه کوئ، دنظر، لاسونو، پښو دګناهونونه پرهیز وکړئ، که نه، داخوشالي به هم وبال جان جوړ شي. الله تعالی دټولو کائناتو خالق ومالک دی، مشکل کشا دی، فریادرس دی. دې وچې نه خپل ټول حاجات وضروریات د الله په حضور کې عاجزي سره پیش کوه. دعا

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دنده دي تصنع اوریاکاري اوقافیه بندي نه وي. شریعت مطابق اختر تیروي. رسم ورواج پریږده، یعنی فساد فی الدین به وشي. هرعبادت کي د الله د رحمت امیدوار اوسیږه او دهغه وګرځ نه وویریږه.

داختر پیغام:

پوره دنیا کي مسلمانان اختر لمانځي، دا ددوی داتحاد واجتماع اظهار دی. د اسلام شان وشوکت ظاهریږي. دمحمود وایاز فرق ختمیږي. کله چي به لمونځ کي په یو صف کي امیر، غریب، تندرست او بیمار ولاړ وي؛ نو د الله رحمت ډېر ښه متوجه کیږي. د اختر پیغام دی چي مسلمانان دي د الله په حضور کي سر به سجده وي، خپله اصلاح وکړئ ګناهونو نه توبه وکړئ دي دپاره چي دوباره دهغوی دعظمت سکه کینې دوباره دالله مدد او نصرت ددوی شامل حال شي. داختر پیغام دی چي خپلو ګریوانونو کي وګورو چي مورږ رمضان میاشت خنګه تیره کړه؟ آیا زمورږ دنښه دهمدردي جذبه پیدا شوه ګناهونونه مو توبه وکړه، خپله زندګي مو د اسلام سانچي کي ددنښه کولوعزم وکړ. د اختر ورځ دپکنګ سیر و تفریح ورځ نه، بلکي دتجدید عهد ورځ ده. د الله د راضي کولو ورځ ده.

د کوتاهیو اوغفلتونو د تلافي ورځ ده. اختر لمانځلو کي غریبان، مسکینان، یتیمان او معذوره هم یاد وساتئ، ددوی خدمت وکړئ، ددوی په درد کي شریک شئ، د الله په حضور کي سجده شکر وکړئ او د مسلمانانو دکامیابي اوکامراني له پاره دعا وکړئ. نن د مسلمانانو ډېر تعداد دکفارو په غلامي کي ګیر دي. مصیبت کي ګرفتار دي، ددوی دآزادي له پاره دعا وکړئ او دوی سره مرسته وکړئ. داختر پیغام دادی چي مورږ خپلو مینځو کي بد نیتي ختمه کړو. کینه و بغض اوباسو، اتفاق واتحاد سره و اوسو. دیوبل دکوتاهیو نه درګذر وکړو. معافي وکړو. الله په رحم کوونکي باندې رحم کوي، معاف کوونکی معاف کوي، په حدیث کي دي: ټول مخلوق دالله کنبه ده تاسو کي بهتر هغه دی چي دالله مخلوق ګټې سره ښه سلوک کوي.

وعده وکړئ:

نن مورږ ټول یوخای داعهد کوو چي د حقوق الله اوحقوق العباد به خیال ساتو. صحیح مسلمانان به جوړیږو اتحاد سره به اوسیږو. دغریبانوبه خدمت کوو. هره یوه صغیره اوکبیره ګناه به پریږدو فضول خرچي نه به ځان بچ کوو. دقناعت اوکفایت شعاري واله زندګي به تیروو. حلاله روزي به خورو اوګټو. ظلم به نه کوو. امر بالمعروف ونهی عن المنکر باندې به عمل کوو، صبر به کوو.

عید ازادان شکوه ملك و دین عید محکومان هجوم مومنین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صدقة الفطر (سرسایه):

د رسول الله ﷺ ارشاد گرامي دی کوم روژه دار چې سرسایه نه ورکوي، د هغه روژې مقبولیت پورې نه شي رسیدای ورسره یې وفرمایل سرسایې سره دروژو دکوتاهیو تلافي کیږي اودضرورت منو کفالت وشي، صدقة الفطر سره دغریبانومدد وشي او دا دپر لوی عبادت دی. دي سره همدردي اوغمخواري پیدا کیږي. الفت اومحبت پیدا کیږي دمال محبت ختم شي د آخرت دتیاري توفیق ملاویږي. ددنیا دبې ثباتي اوفنا کیدو یقین پیدا شي. دنیا وآخرت کې د دې دپر زیات اجر وعوض دی.

د صدقې وخیرات فضائل:

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې الله تبارك وتعالی فرمایي ..ای ابن آدم! ته زما په لاره کې خرچ کړه زه به ستا لاره کې خرچ کړم،، (بخاری ومسلم) یعني د الله په لاره کې خرچ کولو سره به نورهم برکت وثروت راشي.

دارقطني کې دي چې په دي کې دا اضافه ده چې د الله نبی لاس مضبوط دی شپه ورځ په دی کې خرچ کولو سره کمی نه راځي.

په پټه او اخلاص د صدقې کولو فضیلت:

حدیث قدسي دی، حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روایت کوي چې: جناب رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې الله تعالی خمکه پیدا کړه؛ نو حرکت یې کاو، بیا پرې الله تعالی غرونه کیښودل نوبه خای ودریده. فرشتو ته دغرونو په درولوالي باندې تعجب وشو، عرض یې وکړ یا الهي! د دې غرونونه هم سخت شی شته؟ ویې فرمایل هو! دغرونو څخه زیاته سخته اوسپنه ده (چې اوسپني باندې غرونه کټ کیږي اوسورنګونه اولاري په کې جوړیږي) بیا فرشتو عرض وکړ یاالله! داوسپني څخه هم زیات سخت شی شته؟ الله تعالی وفرمایل: هو! اور د اوسپني نه زیات سخت دی. (خکه چې هغه اوسپنه هم داوبو پشان ویلې کوي اوانسان په خپله خوښه چې څه غواړي؛ نو جوړولی یې شي) بیا فرشتو عرض وکړ یاالله! داورنه هم زیات سخت شی شته؟ ویې فرمایل: هو! اوبه د اورنه هم سختې دي. (خکه چې اور خومره سخت وي نواوبه یې مړ کوي) بیا فرشتو وفرمایل: یا الله! د اوبو نه هم زیات سخت شی شته؟ الله تعالی وفرمایل: هو! د اوبو نه سخته ده (په دې سره له اوبو وکې وریځې یو خای نه بل خای ته وړي، دیو ملك نه بل ملك ته) بیا فرشتو عرض وکړ: یا الله! ددې نه هم زیات طاقتور شی شته؟ ویې فرمایل: هو! ددې نه هم زیات طاقتور شی د انسان له لوري زما په لاره کې په پټ لاس باندې صدقه ورکول دي چې په بنې لاس یې ورکوي او ګس لاس ترینه خبرنه شي. (ترمذي)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سبحان الله! د الله په لاره کې صدقه ورکولوطاقت څومره زیات دی. مګر شرط دادی چې خالص د الله درضا له پاره وشي، نه د ریا او ښودنې له پاره. بنده چې څومره ډیر کار پټ ورکړي هغومره به دده نفس مغلوبه ومقهوره وي اودې سره به دالله رضا او خوشنودي حاصلیږي.

د اختر په ورځ د الله د عظمت اظهار:

دکوچني اختر په ورځ باندې حکم دی چې کله عیدګاه ته ځئ نو په آرام آرام باندې تکبیرونه وایئ. تکبیرونه د الله د عظمت اظهار دی، چې الله تعالی دټول مخلوق نه لوی دی او موږ واړه یو. د الله د عظمت وبزرګۍ غوښتنه داده چې دهغه مخې ته خپل سرټیټ کړي، د الله تعالی څوک شریک نشته وحده لاشریك دی. ټول تعریفونه الله لره بنایي. دآسمان ستوري، دځمکې ذرات، د باران قطرې، د ونوپاڼې، د کائناتو هره ذره د ده د وحدت ګواهي ورکوي.

وفی کل شیٍ له اٰیة تدل علی انه واحدٌ

دکائناتو په هر یو شي کې د ې خبرې نشاني ده چې الله یو دی.

اختر او لهولعب:

افسوس، د اختر نه مخکې او وروسته مسلمانان هرقسمه خلاف شرع کارونه کوي. په بازارونو کې اختر نه مخکې ښه کافي خریداري کیږي، خصوصاً زنانه پې حجابه ګرځي، فضول خرچي کوي. د الله تعالی نعمت مال غلط اوناجائزشیانوباندې فضول ضائع کوي.

امام غزالی رحمه الله فرمایي چې په دی خبره باندې ځان نه پوه کړه چې الله تعالی انسان د لهو لعب. لوبو او تو قو له پاره نه دی پیدا کړی،بلکې د ده د زندګۍ مقصدډیر ارفع واعلی دی، که چیرته دی دخپل ژوند مقصد وپیژني او زندګۍ تیره کړي نواعلی علیین پورې رسیدای شي اوکه زندګي په غفلت کې تیره کړي: نو اسفل السافلین ته غورځیدای شي، د دې انسان د فائدې اوکامیابي له پاره الله تعالی یولاک پنځه ویشت زره انبیاء راالیږلي دي او څلورکتابونه اوصحیفې پې رانازلې کړیدي دي له پاره چې انسان ابدي سعادت حاصل کړي. د قرآن پاك په سورة لقمان کې ارشاد دی چې دهغه مفهوم دی چې کوم خلک لهولعب اختیاروی اویا بل چا نه دې دعوت ورکوي، دوی له پاره رسوا کوونکی عذاب دی. کومو خلکو چې رمضان المبارك میاشت کې روژې ونیولې. تلاوت قرآن پاك پې جاري وساته. ذکرواذکار کې مشغول پاتې شو. صدقه وخیرات پې وکړ. دده فرض دادې چې دی ددې اعمالوحفاظت وکړي، ګناه سره دا اعمال برباد نه کړي او کوم خلک چې ددې نیکو اعمالو نه محرومه پاتې شو؛ نو د هغوی اختر خو اختر نه دی، بلکې وعید اوعذاب دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دعقل مند اختر:

عقل مند هغه دی چې په عارضی خوشحالي يې نظر نه وي، بلکې دائمي او ابدي خوشحالي ته يې توجه وي. عارضي خوشالي باندې دائمي خوشحالي نه قربانوي. که بنده د الله تعالی عبادت ذکر واذکار او مناجات د مزې اوخوند پته چاته ولګيږي؛ نوهغه ددنيا تول عيش وعشرت پريږدي، تول دې له پاره فارغ شي، دخپلو اوقاتو دې قدر وکړي اوضائع دې نه کړي مور سره هرشی د الله تعالی امانت دي، سترګه دالله امانت دی، غوږ د الله امانت دی، لاس د الله امانت دی، مال واولاد، کور، صحت، غرض دا چې هرشی د الله امانت دی، د دې امانت باره کې به دقيامت په ورځ باندې پوښتنه کيږي چې دادې د الله دحکم مطابق استعمال کړل او که د خپلې خوښې مطابق؟

انسان او ځناورکې فرق دادی چې د هغوی به مواخذه نه کيږي او انسان به حساب ورکوي. د کائنات هر يو شی الله تعالی د انسان دفائدې له پاره پيدا کړی دی او انسان يې د خپل عبادت له پاره پيدا دی.

ځرنګه چې انسان د وجود د حفاظت دپاره دمضره شيانونه پرهيز کوي دغه رنګ گناه د انسانی روح له پاره زهر قاتل دی، ددې نه نورهم زيات پرهيزکول پکار دي. ځرنګه چې د دنيا عارضي خوشحالي له پاره محنت اومشقت کول وي، دغه رنګ دائمي او ابدي خوشحالي حاصلولو له پاره د محنت اوکوشش ضرورت دی.

اختر جامع العبادت دی:

اول: داختر عبادت د خپل ځان دننه څو عبادتونه کيښودي دي. مثلاً: داختر په شپه باندې دپاڅيدوثواب. د حضوراکرم ﷺ ارشاد گرامي دی: کوم بنده چې داخترونوپه شپه باندې دعبادت له پاره پاڅې د هغه زړه به په هغه ورځ باندې نه مري په کومه ورځ چې د خلکو زړونه مري. دقيامت ورځ ترې مراد ده. يعنې په دې ورځ باندې به دی ډېر خوشحاله وي. د شپې عبادت د اداولياء الله بنده ګانوخاصه او طريقه ده.

دوهم: د اختر دلمونځ نه مخکې د صدقه فطر ورکولو حکم دی، صدقه فطر ورکولوسره روژې مقبوله کيږي. صدقه فطرسره روژو ته دقبولښت وزرې ولګيږي، دا عبادت دکريم اوسني انسان دی؛ نو داهم د اختر په لمونځ کې راغی.

دريم: عيدګاه تلو نه مخکې غسل کول، صفا جامې اچول، خوشبولګول، مسواک وهل، عيدالفطرنه مخکې خوږ شی خوړل دا تول مستقل عبادتونه دي.

څلورم: عيدګاه کې اتفاق واتحاد سره په يو صف کې ولاړه سره لمونځ اداکول، په دې کې مساوات اسلام سبق دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

لمونځ اداکول. دا مستقل لوی عبادت دی، لمونځ نه پس خطبه اوربدل دا مستقل عبادت دی چې د جمعې پشان دی.

تکبیرونه ویل دا د شاکرینو عبادت دی اوقرآن وحدیث کې د ذکرالله بې حده فضائل بیان شوی دي اسلام دین فطرت دی، هر تعلیم بې سراسرخیر و رحمت دی د الله تعالی هر یو حکم او د حضور ﷺ هریو سنت کې موږ له پاره فائدي دي.

حضرت عمربن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمایل چې:

مانه داویل شوي دي چې حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام یا حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَام الله رب العزت ته عرض وکړ تاسو چې کله د خپل مخلوق نه خوشحاله یئ نوددې علامه څه وي؟ اوکله چې د خپل مخلوق نه ناراضه یې نوعلامه یې څه وي؟

الله رب العزت وفرمایل زما دخوښۍ نښه داده چې د مخلوق کرکروندې په وخت په هغوی باندې باران وکړم اوفصل کټ کولووخت کې باران بند کړم اودحکومت واګې د عقلمندو اوبوه خلکو لاس کې ورکړم اوبیت المال اومال غنیمت انتظام دسخي خلکو لاس کې ورکړم.

الله تعالی وفرمایل زما دناراضګۍ نښه داده چې دفصل کټ کولووخت کې باران وکړم او د فصل کرلو وخت کې باران بند کړم اودحکومت واګې دکم عقله خلکوته او بیت المال اومال غنیمت بخیله خلکو ته ورکړم. (بیهقی)

حضرت اسامه بن زید د نبي اکرم ﷺ نه روایت کوي چې دقیامت په ورځ به هره یوه ستړګه ژاړي. مګر هغه ستړګه کومه چې دالله له ویرې ژړیدلې وي یا هغه ستړګه کومه چې دالله په لاره کې چقول شوي وي اوهغه ستړګه کومه چې حرام شي کتو باندې بنده شوي وي اوهغه ستړګه کومه چې دالله په لاره کې تولې شپه وینه وي. الله تعالی دفرښتو په مخکې په دې بنده باندې فخر کوي چې وګورئ زما بنده زما اطاعت کې مشغوله دی، د ده وجود بستره پرېښوده. زما دویرې او زما دأمید رحمت په وجه باندې آوازکوي فرښتو! تاسو ګواه اوسیږئ ما دی معاف کړ. (رافتي)

صلح جوړي:

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي اکرم ﷺ نه روایت کوي چې بیشکه دوشنبه (پیر) او پانشنبه (جمعرات) باندې الله تعالی دهریو مسلمان مغفرت کوي، مګر هغه دوه کسان نه بښي کوم چې خپل مینځو کې یو بل نه ناراضه وي الله تعالی فرمایي دی پریږدئ تر څو پورې چې دوی صلح ونه کړي. (ابن ماجه)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

یعني څه دنیاوي معامله باندې که یو مسلمان بل مسلمان پریږدي ؛نو دهغه به مغفرت نه وي تر څو چې خپل مینځو کې روغه ونه کړي

د الله دیاد برکت:

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې الله تعالی فرمایي چې ای ابن آدم! که ته زما طرفته متوجه شې؛ نو زه به ستا زړه غني کړم او فقر و محتاجي به درنه لرې کړم اوستا عمل به کافي کړم، بیا به ته سحر هم غني یې اوماښام هم. که تا زما نه مخ واړاو ؛ نو زه به ستا زړه نه غنا لرې کړم اوفقر به په ته تا باندې مسلط کړم اوستا مشغله به خواري کړم، بیا به ته سحر هم محتاج یې او ماښام هم. (ابوالشیخ)

دکمزورو مرسته:

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې الله تعالی فرمایي کوم بنده چې زما یو کمزوري بنده سره داسې ښیګړه وکړه چې دهغه څوک کفالت اوسنبالوواله نه وي دداسې بنده دکفایت اوکفالت زه ذمه دار یم.

اختر یوم محاسبه:

راځئ چې مخاسبه وکړو چې مورِ څومره دنیکي کارونه وکړل څومره مو الله طرفته رجوع وکړه. آیا مورِ ګناهونونه توبه وویسته، آیا مورِ صدقه وخیرات وکړل،آیا مورِ غریبانو سره همدردي وکړه. آیا مورِ بدعات ورسومات پریښودل؟ دخورِ نبی اتباع مو وکړه؟ هرېنده دې سوچ وکړي، غوردې وکړي. که چېرته مونږ د الله حکم ومنو، د حضور پاک په سنتو باندې عمل وکړ؛ نوشکر دې اوباسو. که مونږ نافرماني کړې ده؛ نو صدق دل سره دې توبه اوباسو، دې له پاره چې د الله تعالی رحمت متوجه شي او د دنیا وآخرت کامیابي ملاو شي. یو ځل ورځې زندګي ده، غفلت کې یې تیرول نه دي پکار، معلومه نه ده چې آینده چاته رمضان نصیب کیږي او که نه؟ اومعلومه نه ده چې څومره خلک زمونږ نه مخکې قبرونوته لاړ شي. هغوی به یواځې الله مخی ته وي که اعمال نیک وي نوکامیاب ګني خساره ده.

ای الله! مونږ معاف کړه، خپله اتباع راته نصیب کړه، د خپل محبوب سنتونو باندې د عمل توفیق راکړه. (آمین)

شکر ہے تیرا میرے پروردگار عید پر بخشا ہے تو نے یہ وقار
اجائے گر قران وسنت کا نظام ہر نفس ہوجائے پھر تو شاد کام
دورہوجائیں سب گلے شکوے محبت کے چلتے رہے سلسلے

و آخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شوال المکرم لومړی خطبه:

د عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سیرت:

شوال المکرم د سعادت اوخیر واله میاشت ده، په دې میاشت کې دروژو ساتلو ډیر لوی فضیلت دی په دې مایشت کې ډیرخاص واقعات ومعاملات پیښ شوي دي. دآیت ربا یعني سود درحمت حکم رانازل شو. دابن الهمام وفات وشو. په (۷) شوال باندې دحضرت شاه عبدالعزیزمحدث دهلوي وفات وشو، شوال میاشت کې (۲) هجرې یا ۷ هجرې کې جنګ احد وشو. چې په هغه کې حضرت امیرحمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډیر په بې دردی سره شهید کړل شو (۱۱) شوال (۸) هجرې کې د حنین غزا وشوه. په شوال میاشت کې سرورکونین حضرت محمد ﷺ دتبلیغ په عرض باندې طائف ته تشریف یوړ. شوال المکرم کې حضور ﷺ حضرت سوده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره نکاح وکړه او حضرت عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره نکاح اورخصتی هم په دې میاشت کې وشوه او په شوال میاشت کې ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امیر حج جوړ کړی شو. دې خطبې موضوع به صدیقه کائنات عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سیرت مقدسه وي. دټولو نه اول به ددې میاشتی دروژو فضیلت بیانیږي.

د شوال المکرم د روژو فضیلت:

د شوال المکرم د شپږو روژو نیولو ډیرلوی فضیلت دی.

وَعَنْ اَبِي اَيُّوبَ الاَنْصَارِيِّ اَنَه حَدَّثَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ اَتبَعَهُ بِسِتًّا مِّنْ شَوَالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهرِ. (رواه مسلم)

حضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې هغوی خپل راوي (چې نوم یې عمروبن ثابت دی، ته دا حدیث بیان کړ چې رسول الله ﷺ وفرمایل کوم بنده چې درمضان روژې وساتی اوبیادې نه وروسته دشوال شپږروژې ونیسي؛ نودی به همیشه روژه ساتونکي پشان شي.

تشریح: یعني ده ته به دپوره زندګی روژو نیولو ثواب ملاوشي. د شوال په میاشت کې شپږ نفلي روژو نیولو فضیلت دنورو نفلي روژو نه ډیر زیات دی، چې هغو ته شش عید (داختر شپږ روژې) وایي. د ځینو خلکو داخیال دی چې کله دا روژی دشوال په ابتدا کې ونیول شي نوبیا به داثواب ملاویږي. ګني نه ملاویږي. نوداخیال غلط دی. بلکې که ټوله میاشت کې یې پوره کړي؛ نو بیا به هم ثواب ملاویږي. اوکه پر لپسې یې ونیسی یا جداجدا هرصورت کې به ثواب ملاویږي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د نفلي روژو ثواب

حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راويت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچې د الله په لاره كې يوه ورځ روژه ونيوله هغهٔ خان ددوزخ داورنه اويا كاله مسافت باندې لرې كړي.
(بخاري ومسلم)

حضرت ابوأمامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راويت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم بنده چې دالله په لاره يوه ورځ روژه ونيسي الله تعالى به ددې كس او دوزخ په مينځ كې يو خندق حائل كړي، چې دآسمان او ځمكې د درميانې فاصلې په مسافت به وي. (ترمذي)

فائده: خوش قسمته هغه خلک دي چې دالله د رضا له پاره نفلي روژې نيسي او لمونځونه كوي. خپل روحاني مدارج پوره كوي اوپه دنيا كې هم سكون وعافيت سره وي اوآخرت كې دظاهري مشقتونو په بدله كې ابدي مزى اوانعامات حاصلوي اوپه دنيا سهولت اوآرام طلب خلک چې ددې عباداتو نه غافله وي آخرت كې به پريشانه وي.

حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا:

حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أم المؤمنين يعني د تمام كائنات مور او د أمت محسنه ده، د حضور ﷺ نيازبينه بنځه ده، هغې سره محبت دعقيدت اوايمان نښه ده، دې سره بغض ساتل د ايمان ضائع كولونښه ده. الله رب العزت وفرمايل:

"اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ"، (پ٢١آيت ٦سوره احزاب)

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مؤمنانو سره د خپل نفس نه هم زيات تعلق ساتي. اودهغه بيبيانې ددوى ميندې دي.

تشريح: په مسلمان باندې د خپل خان نه هم زيات حق د نبي دى اوددوى اطاعت هر حال كې واجب دى. او ادب واحترام ددې نه هم زيات ضروري دى. دغه رنګ دازواج النبي ادب واحترام هم د خپلو ميندو پشان واجب ولازم دى. دحضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا شان عالي دادى چې لكه منافقينو په دې باندې تهمت ولګولو او څه ساده مسلمانان هم دمنافقينو د پروپيګنډې په جال كې راغلل؛ نو الله تعالى سورت نور كې څه آيتونه دحضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د عفت اوپاک لمنې له پاره بطور سند رانازل كړل. د حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عظيم المرتبت كيدو يو دليل داهم دى چې دحضور ﷺ آخرې لمحات ددوى سره تير شو او د حضور ﷺ آخرې آرام ګاه روضه اقدس له پاره هم دعائشه صديقه حجره منتخب شوه. د حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ولادت ونكاح ورخصتي دشوال په مياشت كې وشوه. داهم عجيب اتفاق دى. البته وفات يې درمضان په مياشت كې وشو. د حضرت عائشه علمي او فقهي مقام دومره اوچت و. چې ډير لوى لوى جليل القدرصحابه كرامو به هم د دې نه مسائل

كفايت كتب خانه ټيلى ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

او فتاوی معلومول زبردسته عالمه، زاهده او فقیه وه حافظه او ذهن یې هم ډیر تیز و د بېشمیره احادیثو حافظه وه اوډیر زیات احادیث د دې نه مروي دي

حضرت عائشه صدیقه دماشومواليې نه یوه پاکیزه کورنۍ کې لویه شوه او د خپل عظیم پلار په تربیت سره نوره هم په دې کې اضافه وشوه. د خوانۍ دور د سرور کائنات سره تیریشو او د جناب حضرت رسالت مآب ﷺ له وفات طیبه نه وروسته یې باقي زندګي یاد الهي او د دین خدمت کې تیره کړه.

حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه فرمایي:

"مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ ﷺ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْماً". (سنن ترمذي، ابن سعد حلية الاولياء)

کله به چې د محمد ﷺ ملګرو ته څه نوي مسئله مخې ته راغله؛ نو مونږ به د دې باره کې حضرت عائشه صدیقه نه پوښتنه کوله؛ نو هغوی سره به جواب موجود و

حضرت مسروق بن اجدع شاګرد رشید حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي چې ما لوی لوی صحابه کرام وکتل چې د حضرت عائشه نه یې دفرائضو د مسائلو باره کې پوښتنې کولې. (مجمع الزوائد ومنبع الفوائد)

حضرت امام زهري رحمه الله فرمایي تمام ازواج مطهرات بلکې تمام خواتینو که علم راجمع شي؛ نو د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها علم به تولو باندې افضل دی. (حلیل الصفدی)

ابن سعد لیکي: "حضرت عائشه صدیقه، عهدصدیقي، فاروقي، عثماني کې مستقل طور باندې منصب افتاء باندې ممتازه وه او د ژوند تر پایه ددې دا فیض جاري و". (طبقات ابن سعد، بحواله بینات ذوالقعده ۱۴۰۸ هجری)

عائشه رضي الله عنها باندې د روح الامین سلام:

حضرت ابوسلمه تابعي نه روایت دی چې اُم المؤمنین عائشه صدیقه رضي الله عنها وفرمایل چې یوه ورځ ماته حضور اقدس ﷺ وفرمایل عائشه! جبرئیل امین دلته زما مخې ته دی اوپه تاسو باندې سلام وایي. عائشه صدیقه د سلام په جواب کې وویل وعلیه السلام ورحمة الله، په جبریل دې هم سلامتي وي اورحمت دې پرې نازل وي. حضرت عائشه صدیقه فرمایي چې رسول الله ﷺ جبرئیل امین لیده او مانه لیده. (بخاری ومسلم بحواله مشکوة)

حضور صلی الله علیه وسلم په خوب کې عائشه صدیقه کتل:

حضرت عائشه صدیقه فرمایي چې یوه ورځ حضور ﷺ ماته وفرمایل چې دري شپې مسلسل ته ماته خوب کې راوړل شوې. چې دهغه صورت داو چې یوې فرښتې به انتهایي خوبصورته

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وریښمو باندې سنا تصویر راوړ اوماته به یې ویل چې داستا د کیدونکې ښځې تصویر دی اوکله به چې ما پرده اوچتوله نو هوبهو به ستاسې وَ، بیا به ما فرښتې ته ویل که واقعې دا خوب دالله د طرفه دی؛ نو خپله به دې ته تعبیر ورکوي (یعنی دا به خپل تکمیل ته رسوي او دې زنانه سره به زما د نکاح اسباب تیار وي) (مظاهرحق شرح مشکوٰة ج۵ص۷۹۸)

یوه روایت کې عائشه صدیقه بیانوي چې کله د الله تعالی له طرفه رسول الله ﷺ ته حکم وشو چې ما(عائشه)سره نکاح وکړي؛ نوحضرت جبرئیل امین زما تصویر په خپل تلې باندې حضورا قدس ﷺ ته په خوب کې راوړ

فائده: یادساتئ چې د شاه لرونکې تصویر ساتل د مجوري نه پرته په هر صورت کې حرام دي. لکه پاسپورټ. شناختي کارډ وغیره. او په حدیث کې چې دکوم تصویر ذکر راغلی دی هغه دخوب د حالت ذکر دی. د احکاماتو تعلق د بیداري سره دی.

د عائشه صدیقه سخاوت:

د حضرت شیخ الحدیث مولانامحمد زکریا نوراللہ مرقده کتاب، فضائل اعمال، کې دي چې حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا ته دوه بوجۍ د درهمو ډکې پیښ کړل شوې چې په هغو کې د دوه لکونه زیات درهم وو. حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا طباق وغوښت اوهغه یې ډکول اوتقسیمول یې شروع کړل اومانښام پورې یې مکمل ختمې کړې، یو درهم هم پاتې نه شو. خپله یې روژه وه. دافطار وخت کې یې وینځې ته وویل چې افطاري له پاره څه راوړه. هغې یوه ډوډۍ او دزیتون تیل راوړل اوعرض یې وکړ چې څومره به ښه و چې د یودرهم مو غوښه اخستې وه نن به مونږ روژه دغوښې سره ماته کړې وه. ویې فرمایل اوس دطعنو نه څه جوړیږي. که هغه وخت کې دي ویلي وای نو ما به راغوښتې وه

فائده: د حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا په حضورکې به داسې قسم نذرانې امیرمعاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اوحضرت عبدالله بن زبیر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پیش کولې. ځکه چې هغه زمانه د فتوحاتو دکثرت والا وه. په کورونوکې به دغلو پشان داشرفیو پنډونه پراته وو. او د دې باوجود به هم هغې زندګي انتهائی ساده تیروله. حتی چې دافطاري له پاره به یې هم نورو ورته ویل، دې سره دا خیال به هم نه و چې افطاري له پاره څه غوښه راغوښتل پکار دي. نن سبا حقیقي واقعات دومره لرې شو چې حقیقي واقعاتو کې هم شك او تردد وي. لیکن نن سبا دور کې چې د چا نظر په ساده زندګي باندې وي نو هغوی ته داسې قسم واقعات عجیبه نه ښکاري. خپله د عائشه صدیقه واقعات د دې قریب قریب دي. یوه ورځ روژه داره وه او کور کې د یوې ډوډۍ نه پرته بل هیڅ نه و. یو فقیر راغې او هغه سوال وکړ، خادمې ته یې وویل چې هغه ډوډۍ دي فقیر ته

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ورکړه؛ هغې ورته وویل چې افطاري له پاره کورکې هیڅ هم نشته. هغې ورته وفرمایل هیڅ پروا نشته دغه ډوډۍ فقیر ته ورکړه.

بو ځل یې یو مار مړ کړ په خوب کې ورته چا وویل چې تاسو یو مسلمان قتل کړې دې فرمایل که هغه مسلمان و؛ نو د حضور ﷺ ببییانو ته به نه راته، هغه وویل چې د پردې په حالت کې راغلی وو په دې و یریده اوسترګې یې خلاصې شوې او دولس زره درهم چې د یو بنده خون بها (دیت) و. صدقه کړل. (غالبا هغه مار به جن و)

عروه رضی الله عنه وایي چې ما یو ځل وکتل چې اویا زره درهم یې صدقه کړل اوپه خپله ګڼرته کې پیوند و. (فضائل اعمال)

د حضرت ابن زبیر رضی الله عنه حضرت عائشه صدیقه د صدقې نه منع کول:

حضرت عبدالله بن زبیر د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها خوریی و او هغه سره به یې ډیر زیات محبت کاو داسې وه چې هغې خپل خوریی لوی کړې و. د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ددې زیات تصدق له وجې نه پریشانه شو چې څه هم لاس ته راځي او خرچ کوي، یو ځل یې وویل چې دغاله لاس په خنګه بندوم. حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته هم دافقره ورسیده او په دې ډیره زیاته خفه شوه چې زما لاس بندول غواړي اوهغه سره یې د خبرو نه کول د نذریه طور باندې قسم وخوړ. حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دغاله په ناراضګۍ ډیر زیات خفه شو ډیرو خلکو ته یې سفارش وکړ، مګر هغې د خپل قسم عذر پیش کړ.

آخر کار چې حضرت زبیر رضی الله عنه ډیر زیات پریشانه شو؛ نو حضور اقدس ﷺ دې کله طرفه یې دوه کسان بطور سفارش خان سره بوتلل هغه دوه حضراتو دنته نه اجازت واخیست او ورغلل دی هم پټ ورسره ورغلی کله چې هغوی دواړه پردې پناه کیناستل اوحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها خبری وکړې نو دی زر د پردې نه راووت او خپلې خالې ته ورترغاړه ووت او ډیر زیات په ژړاشو اوخوشامدی یې وکړه هغوی دواړو هم سفارش کوو او د مسلمان سره ناجاقي متعلق یې د حضورپاک ﷺ احادیث بیانول او په احادیثو کې ددې د ممانعت چې څه راغلي وو هغه یې واورول چې له وجې یې حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها برداشت ونه کړای شو او په ژړا شوه. آخر کار یې معاف کړ، لیکن د خپل قسم دکفارې په وجه یې بار بار غلامان آزادول نردې چې خلویښت غلامان یې آزاد کړل او کله به چې هم ددې قسم ماتولوخیال راغی نو دومره به یې وژړل چې لوپټه به یې د اوښکو نه لمده شوه.

فائده: مونږ خلک سحر نه مانښام پورې خومره قسمونه په یوه ساه باندې خوروا وبیا دهغه خومره پرواه کوو؟ ددې جواب باندې خپله سوچ وکړئ! کومو خلکو چې الله سره وعده کولو نه پس فوراً پوره کوي نو دهغوی نه پوښتنه وکړئ چې وعده نه پوره کولو سره به زړه باندې څه

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تیریږي: نودي وجي نه کله چې به حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته دا واقعه رایادیده نو ډیر زیات به یې ژړل. (فضائل اعمال)

حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها دشپږوکالو په عمر دحضورقدس ﷺ په نکاح کې راغله اونکاح په مکه کې وترل شوه. اتلس کاله عمر څه وي چې په هغه کې دا دحضوراکرم ﷺ دومره زیات احادیث، اقوال اومسائل راجمع کوي اودومره نقل کوي چې دهغه بالکل حد نشته. حضرت مسروق فرمایي چې لوی لوی صحابهٔ کرام ما اوکتل چې دحضرت عائشه صدیقه نه دمسائلو پوښتنه کوي. عطاء فرمایي چې د نارینه وو نه ورته زیات مسائل معلوم وو اوعالمه وه ابوموسی فرمایي چې دکومو مسائلو به مورِ ته مشکلات مخې ته راتلل عائشه صدیقه سره به دهغو تحقیق ملاویده، دوه زوه اودوه سوه احادیث دحدیثو په کتابونوکې ددوی ملاویږي. خپله فرمایي چې ماشوموالي کې مکه معظمه کې می لوبې کولې چې دغه وخت کې حضوراکرم ﷺ باندې دا آیت ,,بَلِ السَّاعَةُ مَوعِدُهُم وَالسَّاعَةُ اَدهٰی وَاَمَرّ،، نازلیدو خبر راغې او بیا دهغه یادول د دین سره د خاص تعلق ثبوت دی، ګني اته کاله عمر څه وي. (فضائل اعمال)

د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نعتیه کلام:

مَتٰی یَبدُو فِی الدّاجِی البَهِیمِ جَبِینُهٗ یَلُحُ مِثلَ مِصبَاحِ الدُّجٰی المُتَوَقَّد

فَمَن کَانَ اَومَنَ قَد یَکُونُ کَاَحَد نِظَامُ لِحَقٍ اَو نَکَالُ لِمُلحِد

په توره تیاره کې ددوی تندی په نظر راځي نو داسې پرقیږي لکه روښانه ډیوه. څوک و او څوک د احمد په شان شي، دحق نظام قائمونکی او ملحدانو ته عبرت.

حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته خراج عقیدت:

تیری پاکیزگی پر نطق فطرت نے شہادت دی
تجھے عظمت عطا کی عافیت بخشی فضیلت دی
تیری اگر سحر ادا پر حرف اجاتا
خدا کا انتخابی فیصلہ مخدوش کہلاتا
خدائے لم یزل کا بارہا تجھ پر سلام آیا
مبارک ہیں وہ لب جن پر ادب سے تیرا نام آیا
رسول اللہ نے رکھا ہے صدیقہ لقب تیرا
فقط فرشی نہیں عرشی بھی کرتے ہیں ادب تیرا (مولانا عبدالمجید سوھدروی)

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت امام زهري رحمه الله فرمايي كه چېرته د حضور اقدس ﷺ د تمامو بيبيانو علم راجمع كړي شي نو د عائشې علم به افضل وي.

ابن عمر د حضرت نبي اكرم ﷺ نه روايت كوي چې ماته جبرئيل امين راغى او وې فرمايل چې تاسو سره الله تعالى د ابوبكر صديق د لور نكاح كړي ده، هغه سره د عائشه صديقه تصوير و د حضرت عائشه صديقه نكاح په آسمان كې شوې وه.

الزهر الفائح كې دي چې كله حضرت خديجه رضي الله عنها وفات شوه، نو حضرت نبي اكرم ﷺ سخت غمجن و حضور ﷺ ته جبرئيل امين د جنت نه يوه پرچه راوړه چې په هغې باندې د عائشه صديقه صورت منقوش و او وې ويل چې اى محمد! الله تعالى په تاسو باندې سلام وايي او فرمايي چې ما په آسمان كې ستاسو نكاح ديوې پېغلې نجيلې سره وكړه چې د هغې صورت دادى. تاسو هغې سره په خپله باندې نكاح وكړئ. بيا نبي اكرم ﷺ د نكاح پېغام وروښكى راو غوښت او د نكاح پېغام يې وروليږه، كله چې ابوبكر صديق او د هغوى كور والا په خوشحالي باندې راضى شو؛ نو حضور ﷺ وفرمايل چې خداى تعالى په آسمان باندې زما نكاح كړيده ابوبكر په خپله باندې تاسو نكاح وكړئ. (نزهة المجالس)

د عائشه رضي الله عنها فضيلت

ارشاد نبوى ﷺ دى خنګه چې تمام خوراكونو كې ثريد ته فضيلت حاصل دى. د غه راز عائشه نه په تمام زنانه وو باندې فضيلت حاصل دى. كتاب الحقائق كې دي حضور اكرم ﷺ فرمايي چې خداى تعالى په آسمان كې زما نكاح عائشه سره وكړه او فرشتې يې د نكاح ګواهي جوړې كړې او د دوزخ دروازې يې بندې او خلويښت ورځو پورې د جنت دروازې خلاصې شوې. د حضرت عيسى عليه السلام مور حضرت مريم باندې چې كله بهتان ولګيد؛ نو د هغې د پاك لمنې ګواهي يې. خبنوڼكي ماشوم حضرت عيسى عليه السلام وركړي وه. حضرت يوسف عليه السلام باندې چې كله زليخا الزام ولګاو؛ نو د غلته هم د پاك لمنې ګواهي يو كوچنى ماشوم وركړي وه. مګر قربان شم د سرور كائنات محبوبې نبخې باندې چې كله بهتان ولګيد، نو د برأت اوپاكوالي اعلان خپله الله تعالى وكړ. بدبخته هغه خلك دي چې اوس هم په حضرت عائشه صديقه باندې تبرابازي كوي. د قرآن په رښا كې دا خلك به منافقينو كې شامل دي. حضرت عائشه صديقه فرمايي چې ماته څو خصلتونه اوفضيلتونه داسې راكړل شوي دي چې زما نه پرته نورو زنانه وو ته نصيب شوي نه دي. زما نكاح په آسمانونو باندې وشوه، مايانديې چې كله تهمت ولګيد؛ نو زما د برأت اعلان الله تعالى وكړ، كله چې ما باندې تهمت ولګيد؛ نو حضرت عمر رضي الله عنه فرمايل يا رسول الله! خداى تعالى به تاسو ته كله هم بده نښه نه د ركوي دا منافقينو سازش دى. حضرت علي رضي الله عنه وفرمايل يارسول الله! كله چې ستاسو

كفايت كتب خانه ثيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

په پیژار باندې ګندګي لګیږي؛ نو الله تعالی درته اطلاع درکوي داځنګه ممکن ده چې ستاسو یې بې غلطه وي اوالله تعالی تاسو ته اطلاع درنه کړي دادمنافقینو پروپیګنده وه. شبلي ﷺ دسوره احزاب تفسیر کړی دی چې دحضرت زینب اوحضرت عائشه په مینځ کې یو ځل خبرې کیدې، زینب وفرمائیل چې زما نکاح په آسمان باندې شوې ده (یعنی اعلان یې د آسمان نه وشو) حضرت عائشه صدیقه وفرمایل چې زما برأت وعذرد آسمان نه وشو. اکثر وحی هغه وخت کې رانازل شوه کوم وخت چې حضوراقدس ﷺ دعائشه صدیقه په حجره کې و یو ځل حضرت عائشه روژه داره وه اوصرف یوه ډوډۍ دوی سره وه، یو سائل راغې نو حضرت عائشه دغه یوه ډوډۍ هم دې سائل ته ورکړه. عیون المجالس کې دي چې حضرت عائشه چې کله خیرات کولو؛نو درهم یې صفا کړل. یوځل ترې حضوراکرم ﷺ ددې وجه معلومه کړه؛ نوعرض یې وکړ چونکه خیرات د سائل د لاس نه مخکې دالله لاس ته ځي دې وجې نه زه غواړم چې زما مال پاک وصفا وي. حضوراکرم ﷺ حضرت عائشه ته دعا وکړه اوترې خوشحاله شو.

نکته:

ځرنګه چې حضوراقدس ﷺ دتمام کائنات نه اشرف وافضل دی، دغه راز دحضور ﷺ بیبیانې هم دتمامو زنانه وو نه افضلې دي چاچې حالت ایمان کې یو ځل هم دحضور ﷺ دیدار وکړ؛ نوهغه ته صحابي ویل کیږي او د یو ادنی صحابي مقابله دتمامې دنیا اولیاء .غوث،ابدال نه شي کولې؛ نوبیا (هغه بیبیانې چې حضور ﷺ ته ډیرې نژدې پاتې شوې) الله د الله، د هغوی د مقام اومرتبې اندازه څوک کولې شي. اُمت مسلمه باندې د دې بیبیانو ډیر لوی احسان دی ځکه چې د کور مسائل ددوی نه معلوم شواوپه ټولو کې زیاته برخه په دې کې دحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ده.

خصوصي امتیازات:

د حضور ﷺ وصال شریف د حضرت عائشه صدیقه په حجره کې شوی و او هغه روضه اقدس جوړه شوه. د حضور ﷺ په آخري وخت کې حضرت عائشه صدیقه ورته سهاره ورکړې وه. آخر وخت کې حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها به مسواك خولې کې نرمولو اوحضوراکرم ﷺ به خولې کې وهلو. دنن سبا مسلمان زنانه وو له پاره دحضرت عائشه صدیقه زندګي یو مثال دی، چې ځنګه هغوی دحضور ﷺ اطاعت وکړ، صدقه وخیرات به یې ځنګه کولو، روژې به یې ځنګه نیولې، داتباع سنت جذبه ځومره په سینه کې وه. د دیني مسائلو اوقرآن ځومره استحضار و دحضور ﷺ ارشاد ګرامي دی چې په داسې زنانه دې دالله خصوصي رحمت رانازل دي چې دشپې پاڅې اوتهجد وکړي اوخپل خاوند هم پاڅوي چې هغه هم لمونځ وکړي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضور اکرم ﷺ وفرمایل زنانه چې کله پنځه وخته لمونځ کوي او د رمضان روژې وساتي او د خپل عزت آبرو حفاظت وکړي او د خپل خاوند اطاعت وکړي؛ نو دا سې زنانه د جنت کومې دروازې نه چې غواړي داخله دې شي رسول الله ﷺ وفرمایل ای بیبیانو! یاد ساتئ چې په ناسو کې کومه نسکه ده هغه به دنیکانو خلکو نه مخکې جنت ته خي. حضرت اسماء رضی الله عنها روایت دی چې هغوی عرض وکړ یا رسول الله! زه د زنانه وو له طرفه قاصد جوړ کړی شوې یم چې نارینه حضرات د جمعې، جماعت، عیادت مریض او جنازه کې حاضرې حج او عمره وغیره ورځ په ورځ دواړو د حفاظت په وجه باندې مونږ نه مخکې دي حضور ﷺ ورته وفرمایل لاړه شه زنانه وو ته ووایه چې ستاسو د خپل خاوند خدمت کول دنارینه وو د ددې ټولو اعمالو برابر دي او رسول اکرم ﷺ وفرمایل چې زنانه کله حمل سره وي اوبیا یې ماشوم وشي. تر دې چې ماشوم دپیونه خلاص کړي تر دغه وخته پورې دا ثواب وفضیلت په اعتبار سره د اسې ده لکه چې د اسلام په لاره کې سرحداتو باندې وي (څرنګه چې یو مجاهد په داسې حالاتو کې وفات شي نو شهید ده، دغه راز که زنانه هم په دې حال باندې وفات شي نو شهیده ده)

ګناهګاري زنانه:

د حضور اکرم ﷺ ارشاد ګرامي دی: یوه زمانه به داسې راشي چې زنانه به داسې لباس اچوي چې دلباس اچولو باوجود به هم برینډه وي (یعنې تش په نوم باندې به لباس وي. جامه به داسې نري یا دفیشن له وجې داسې تنګه ګنډل شوې وي چې تمام بدن به په نظر راځي او په ناز و ادا باندې به قدم اخلي او وینښته به یې مصنوعي غټ پریښې وي اونمائش به کوي. لکه څنګه چې داوښ ټُب وي داسې زنانه به جنت ته نه خي، بلکې د جنت خوشبویي به هم ورته نه نصیب کیږي (کنزالعمال)

نن سبا زنانه یې پرده شوې دي انګریزي فیشن کوي، یې ځایه فضول خرچي کوي. ځان ښه آراسته او خوبصورته کړي بیا بازارونو کې ګرځي. یاد ساتئ دا ډیره لویه ګناه ده، که زنانه پردې نارینه ته ګوري؛ نو دا د نظر ګناه ده، که غیر مرد سره خبرې کوي نو دا د ژبې ګناه ده. که د زړه خوشحالولو له پاره د پردې بنده نه غزل وغیره واوري؛ نو دا د غوږ ګناه ده، که د هغه په سر یې لاس کیښود یا یې ورسره لاس ملاوکړ؛ نو دا د لاس ګناه ده که داسې مخلوط محفل ته لاړ شي چې نارینه وو سره اختلاط وي؛ نو دا د پښو اوتول وجود ګناه شوه اوزړه کې بدخیالي سره یو نارینه یادول دا د زړه ګناه ده، دیو خو ورځې زندګې له خاطره د آخرت همیشه زندګي مه تباه کوه. نن سبا زنانه یې هوده ناول لولي، تي وي، وي سي آر او سینما ګوري، دا ډیره لویه ګناه ده. افسوس د دې زمانه په سریو کې هم وضعداري، غیرت، مردانګي او رعب

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مکمل ختم شوی دي. افسوس! چې نن سبا د مخلوط تعلیم رواج هم عام شوی دی، مخلوط یونیورسټي، کالجونه ښو ونځي فائمیږي، غیرت، حیا او شرم لرې کیږي او په وجه یې ډیر مهلك اوخطرناك جرمونه زیاتیږي

نه هر زن زن است اونه هر مرد مرد خدا پنج انگشت یکسان نه کرد

ددې فتنې اوفساد په دور کې ډیرې داسې زنانه دي چې نیك، اطاعت شعار، پرده دار، پاکدامنه اوصاحب عفت دي، لمونځونه پابندي سره کوي. تلاوت کوي، شریعت مطهره باندې عمل کوي خدای دې وکړي زمونږ معاشره کې داسې زنانه وو تقلید وشي اونارینه وونه هم غیرت وروا چوي، همت ورکړي، چې هغوی خپلوکورونوکې نیکي خوره کړي اورواج ورکړي. بدي نه بیخ شي او خپل کور دشریعت پابند جوړ کړي.

زن خوب در سرائے مرد نکو همدریں عالم است دوزخ او

زن خوب وفرمان برو پارسا کند مرد درویش را بادشاہ

سونے چاندی کی چمک بس دیکھنے کی بات ہے چار دن کی چاندی اور پھر اندھیری رات ہے

بے پردہ کل جو آویں نظر چند بیبیاں اکبرزمین میں غیرت قومی سے گڑ گیا

پوچھا جو اُس نے اپ کا پردہ وہ کیا ہوا کہنے لگیں کہ عقل پر مردوں کی پڑ گیا

یا الله! سیرت عائشه باندې عمل کولوتوفیق رانصیب کړه. آمین

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شوال المکرم دویمه خطبه:

غزوه احد:

د اسلام تاریخ د اسلام له غازیانو ډک دی، غزوه احد د شوال د میاشتې شپږمه تاریخ باندې وشوه په دې جنګ کې د اسلام غازیانو ډیرې لویې بهادرانه کارنامې وکړې. ډیرو صحابه کرامو ته شهادت نصیب شو، خپله د سرکار دوعالم ﷺ مبارک غاښونه شهید ان شول. په دې جنګ کې حضرت امیر حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ډیر زیات بهادري سره وجنګید او آخرکار د شهادت په لویه مرتبه باندې فائز شو او دربار نبوت نه ورته سید الشهداء میدال نصیب شو. په دې خطبه کې به جنګ احد وضاحت سره بیانیږي، د کفارو سره د جهاد او قتال د حکم نه ورسته الله تعالی فرمایي:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ. (پ۲۶ سوره محمد آیت ۷)

ای ایمان والو! که تاسو د الله مدد کوئ؛ نو هغه به هم ستاسو مدد وکړي او ستاسو قدمونه به مضبوط کړي.

تشریح: د الله د مدد نه مراد د الله د دین نصرت اومدد دی، چې د خپل ذات د فائدې له پرته دی، سبحان الله! دالله تعالی شان کریمی وګورئ چې د دین له خاطره او اعلاء کلمة الله له خاطره جهاد کول یې د خپل مدد سره تعبیر کړ حالانکې که انسان د دین له خاطره جهاد کوي: نود دې فائده خپله ده ته ده، نه الله ته، او زمونږ دمدد محتاج هم نه دی. هغه سره خو د بیشمیره قو تونو خزاني دي او بیشمیره لښکري دي، چې هغه له الله تعالی نه پرته هیڅوک هم نه پیژني، لکه څنګه چې فرمایي: ﴿وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ﴾، (پ۲۹ سوره مدثر آیت ۳۱).

ترجمه اوستا د رب لښکرونه له هغه پرته څوک هم نه خبر نه دي. مګر الله زمونږ عزت وکړ او ویې فرمایل چې تاسو زما مدد وکړئ نوالله د دین مدد شرط دی، که مسلمان ټن غواړي چې په کفارو باندې غالب وي؛ نودوی ته به ددین له خاطره قربانۍ ورکول وي د الله د دین مدد دادی چې د دین اسلام په هر شعبه دین باندې عمل وکړل شي اوهغه نافذ کړل شي تجارت، معیشت، صنعت، حرفت، عدالت ،معاملات، معاشرت ، حدودوغیره په ټولوځایونوباندې دالله تعالی حکومت وي. ټن مسلمانانو خپل دین پریښی دی او دیهودو نصارئ په لاره باندې روان دي او دا غواړي چې د الله مدد مودږ سره وي. اې دا خیال است محال است وجنون. د صحابه کرامو دا جذبه ایماني وه چې دهغې له وجې نه هرقسمه ترقي دینی اودنیاوي ددوی قدم ښکلاوه، کله چې به دوی کې یو کس کلمه وویله اودا ﷺ دجنډې لاندې به راغې نو دلوی نه لوی طاقت به دوی دا سلام اودا سلام دخدمت نه نه شو منع کولی، مونږ خلک په

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترڅو کې د صحابه کرامو پشان د ترڅو خوبونه ګورو لیکن څه وخت کې لږ غور کول پکار دي چې دغه حضراتو څومره قربانی ورکړې او مونږ د دین له خاطره، د مذهب له خاطره څومره قربانی ورکړې؟ کامیابي همیشه دسعي او کوشش مطابق وي، مونږ دنن زمانې مسلمانان داغواړو چې آرام وعیش دي وي، بد دیني اوبد دیانتي کې دي دکافرو سره ځنګ په ځنګ ځو او اسلامي ترقي دي مومو سره وي، داځنګه کیدای شي؟

ترسم نرسی بکعبه اے اعرابی کیں راہ کہ تو میروی بترکستان است

ای باندیچې! زه ویږیږم چې ته به کعبې ته ونه رسیږې؛ ځکه چې ته په کومه لاره ځې دالار ترکستان ته تللې ده (فضائل اعمال)

دشهادت فضیلت:

وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یُکْلَمُ اَحَدٌ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَنْ یُّکْلَمُ فِیْ سَبِیْلِهٖ اِلَّا جَآءَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَجُرْحُهٗ یَشْعَبُ دَمًا اللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّیْحُ رِیْحُ الْمِسْکِ. (متفق علیه)

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: ,,کوم کس چې دخدای په لار کې (یعنی جهاد) کې زخمي شي او خدای تعالی دا کس ښه پیژني کوم چې زخمي شي نو دغه مجاهد به د قیامت په ورځ باندې دي حالت کې راشي، چې دده د زخمونو نه به وینه بهیږي او ددې وینې رنګ به دعامې وینې د رنګ پشان وي اود دې خوشبویي به دمشکو پشان وي،، (بخاری ومسلم)

وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْقَتْلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ یُکَفِّرُ کُلَّ شَیْءٍ اِلَّا الدَّیْنَ. (رواه مسلم)

حضرت عبدالله بن عمروبن العاص نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله په لاره کې شهید کیدل د حقوق العباد نه پرته تمام ګناهونه ختموي، علامه سیوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ لیکلي دي، چې بحري جهاد (په اوبو کې جنګ، شهیدان ددې حکم نه مستثنی دي یعنی ددوی په ذمه چې کوم حقوق العباد دي الله تعالی هغه هم معاف کوي. (مظاهر حق)

حضرت انس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: جنت ته داخلیدونکی یو بنده به هم دا خوښه نه کړي چې هغه دي دنیا ته واپس لاړ شي او د جنت د نعمتونو په عوض کې هغه د دنیا نعمت قبول کړي، مګر شهید به دا آرزو کوي چې هغه دنیا ته واپس لاړ شي اولس ځله د الله په لاره کې شهید شي؛ ځکه چې هغه دشهادت عظمت اوثواب نه خبرداروي. (بخاری ومسلم)

نقد جان نذر کرو سوچتے کیا ہو جوہر کام کرنے کا یہی ہے تمہیں کرنا ہے یہی

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د غزوه احد د صحابه کرامو جذبات

حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې، حضرت عمر رضي الله عنه په جنګ احد کې خپل وروز ته وويل چې، زما زغره واخله او خپل خان بچ کړه، هغه جواب ورکړ، چې زه هم سمنا پښان د شهيد کيدو آرزو من يم. دواړو زغره پريښوده.

حضرت عبدالله بن عمار خطمي فرمايي چې، ثابت بن دحداحه په جنګ احد کې مخې نه راغې او مسلمانانو خانته خانته دغم له وجې لاس په لاس باندې اچولی و، هغه اواز وکړ اې انصارو ډلې! زما طرفته راشی، زما طرفته راشی که محمد ﷺ شهيد وي؛ نوالله خو ژوندی دی اوهغه ته مرګ نه راځي تاسو خپل دين له پاره وجنګيږی، الله به تاسو غالبه کړي اوستاسو امداد به وکړي، دايې چې واوريدل؛ نوډانصاروخه کسان ده سره وډيدل هغه خان سره دغه مسلمانان يوول او جنګ يې شروع کړ، دمقابلې له پاره ډيوې خوا څخه يووړوکی جماعت راوووت. چې هغه کې خالد بن ولي، عمروبن عاص، عکرمه بن ابي جهل وچې تر اوسه مسلمانان شوي نه و، اوضرار بن خطاب. دې ډلې مسلمانانو سره جنګيدل شروع کړل حضرت ثابت رضي الله عنه باندې خالد بن وليد دنيزې وار وکړ اوپه يو وار سره يې تري نيزه اړيار وويسته اوهم هلته شهيد شو، اوده سره چې څومره انصار و هغه ټول شهيدان شول. ويل کيږي چې مسلمانانو کې دا اخري شهيدان و.

حضرت ابن نجيح رضي الله عنه دخپل پلار نه نقل کوي چې جنګ احد کې يومهاجر صحابي انصاري صحابي باندې تيريدوچې خپلو وينو کې لت پت و، هغه ته يې وويل اې فلان: تاته معلومه ده چې حضرت محمد ﷺ شهيد شوی دی؟ که حضور ﷺ شهيد شوی وی؛ نوهغه دخپل رسالت کار پوره کړی دی، تاسو خلک دخپل دين طرفته جنګيږی چې په هغه باندې ايت نازل شو:

وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۚ اَفَاۡئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ۚ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـًٔا ۗ وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ۝ (ال عمران)

محمد ﷺ رسول دی رسول الله ﷺ نه مخکې ډير رسولان تير شوي دي ايا داخيره ده که دحضور ﷺ وفات وشي يا شهيد کړل شي؛ نوتاسو خلک به پرمخ واپس کيږئ؟ کوم کس چې هم پر مخ واپس کيږي، هرګز به الله تعالی ته ذره نقصان هم ونه رسوي اوعنقريب الله پاک شکر ګوونکو ته بدله ورکوي.

دحضرت سعدبن ربيع بهادري

حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمايي چې غزوه احد کې حضور ﷺ زه دحضرت سعدبن ربيع په تلاش کې اوليږلم اوماته يې وفرمايل چې: که هغه وګورې؛ نو زما سلام پرې کوه اوداهم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ورته وويه چې حضور ﷺ وايي چې ستا څه حال دی؟ مايه مفتولينو کې چکر لګول شروع کړ. اخرمې هغه پيدا کړ. هغه اخري ساګاني اخيستې (۷۰) زخمونه و پرې، څه دنيزو اوځ دتورو. ماورته وويل اې سعد! رسول الله ﷺ دربانديې سلام کوي اوتپوس کوي چې ستا څه حال دی؟ هغه وويل چې په حضور اوپه تازما سلام وي، هغه ته عرض وکړه يارسول الله ﷺ ما خپل ځان په داسې حال کې بيامونده کوم چې ماته دجنت خوشبو راځي اوزما قوم انصارو ته وويه چې اوس هيڅ قسمه عذرستاسوالله په در کې قابل قبول نه وي. که يوکافرحضور ﷺ ته ورسيد اوزماسترګې ستا طرفته لګيدلې دي، راوي وايي چې په دې وخت کې دده روح پرواز وکړالله دې په هغه رحم وکړي.

دحضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بهادري:

حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې: په غزوه احدکې خلکو رسول الله ﷺ پرېښود. حضور ﷺ سره يوولس کسان دانصارو اوطلحه بن عبيدالله پاتې شول. رسول الله ﷺ په غر باندې دختو اراده کړې وه چې مشرکينوله هرطرفه ګير کړل حضور ﷺ وفرمايل: ايا څنه څوک دوی له پاره؟ حضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل يارسول الله! زه يم دوی له پاره، حضور ﷺ وفرمايل: اې طلحه! ته ماسره پاتې شه داسې لکه څنګه چې وزړي وي، له دې وروسته يو انصاري صحابي وويل يارسول الله داکار ماته وسپاری دغه انصاري دحضور ﷺ دطرفه جنګيدواوتول صحابه سره درسول الله ﷺ په غر باندې وختل اودغه صحابي شهيد شو، کفار بيا رسول الله ﷺ ته نزدې راغلل حضور ﷺ بيا وفرمايل: څنه څوک ددوی ددفع کولولپاره؟ حضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل: زه يم يارسول الله! حضور ﷺ ددې نه مخکينې خبره دوباره وکړه، يوانصاري صحابي وويل: يارسول الله ددې کارله پاره زه حاضريم، چنانچې هغه دکفارو سره مقابله کې شواودحضور ﷺ اصحاب په غر باندې ختل اودغه انصاري هم شهيد شو، کفارو بيا رسول الله ﷺ ته نزدې راورسيدل، حضور ﷺ به داسې الفاظ فرمايل اوحضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به خپل ځان پيش کولواو حضور ﷺ به منع کاو، يو نه يو انصاري به مخکې راتلو اوحضور ﷺ به اجازه ورکوله اوشهيد کيده به تردې پورې چې حضوراقدس ﷺ سره سواد حضرت طلحه نه څوک هم پاتې نه شول، کفارو دادواړه حضرات راګير کړل، حضور ﷺ وفرمايل ددوی دمقابلې له پاره څوک دي حضرت طلحه وويل: يارسول الله! زه يم چنانچې حضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يواځې دمخکينيو تولو صحابو برابروجنګيده په دواړو لاسونوبالدې زخمونه ولګيدل ددرد له لاسه يې آه وويل: حضور ﷺ وفرمايل که ددې په ځای يې بسم الله ويلې وای؛نو فرشتويه اوچت کړی و، خلکوبه تاته کتل اوفرشتو به ته اسمان طرفته وړی وی، له دې وروسته حضور ﷺ دخپلو ملګروته اورسيدوکوم چې له مخکې په غرباندې موجود وو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت حمزه رضي الله عنه شهادت

حضرت حمزه رضي الله عنه دنبوت په دويم کال باندې اسلام قبول کړی و، نبي کريم ﷺ وفرمايل چې والله په ذات مې دې قسم وي دچاپه قدرت کې چې زما روح دی دخدای سره به داسې سخت باندې لیکلې دې چې حمزه بن عبدالمطلب شیرخدا اوشیر رسول الله دی. حضورانور ﷺ وفرمايل زما دتولو نه بهترتره (چاچا) حمزه دی

حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې کله حضرت حمزه رضي الله عنه شهيد کړای شو ومثله شو، يعني لاس پښې اوپوزه غوړوونه تري کټ شول؛ نورسول الله ﷺ چې داسې حال کې وليد، نو ډيرغمجن اوخفه شواوپه ژړا شو اوويې فرمايل اې تره؛ خدای تعالی دې په تا سو رحم وکړي تاسو ډير دصلح رحمي اوخيرات کولو والا وی خدای په ذات مې دی قسم دې که ماته الله په کافرو باندې فتح راکړه؛ نو زه به ددوی اويا کسان مثله کوم؛ نوپه دغه وخت کې دا ايت رانازل شو:

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ.

کې نه چا ته سزا ورکوې؛ نود دې په مثل سزا ورکړه اوکه ته صبر وکړې؛ نو صبر کولوالا ته نه ښه دا بهتره ده

حضرت نبي ﷺ ددې آيت نازليدو نه وروسته وفرمايل بلکې زه به صبر کومه. کله چې حمزه رضي الله عنه بې دردی، سره جنګ احد کې شهيد کړل شو او حضور ﷺ دشهيدانو دکفن دفن انتظام کولو؛ نوهغوی وکتل چې حضرت صفيه رضي الله عنها د خپل ورور جسد کتلو ته راروانه ده. ده ﷺ ددوی زوی حضرت زبير رضي الله عنه ته وفرمايل چې موردي د کتو نه منع کړه، شايد چې برداشت ونه کړل شي؛ حضرت زبير رضي الله عنه خپلې والدې ته وويل چې حضور ﷺ منع فرمايلې ده. حضرت صفيه رضي الله عنها وويل چې ما اوريدلی دی چې زما دورور پوزه اوغوږونه کټ شوي دي، دا د الله په لاره کې څه غټه خبره نه ده، بلکې مونږ به دې راضی يو. الله دې ده ته اجر ورکړي. حضرت زبير چې دمور داخبره حضوراقدس ته وراندې کړه؛ نو هغوی ته يې د کتو اجازه ورکړه. حضرت صفيه دوه جامې دکفن له پاره راوړې وې. صحابه کرام فرمايي چې کله مور حضرت حمزه رضي الله عنه دفن کولو، نوهغوی سره خواګې د يو بل انصاري صحابي لاش هم پروت و چې دهغوی نوم حضرت سهيل و، په دې خبره مونږ ته شرم راغی چې حضرت حمزه دې په دوه جوړه کفن کې دفن شي او د حضرت سهيل دی يو کفن هم نه وي؛ نوفيصله دا وشوه چې يو کفن سره دې حضرت حمزه ته اوبل سره دې حضرت سهيل دفن کړل شي. دې کفنونوکې يو کفن غټ اوبل کوچنی و، قرعه اندازي پرې وشوه اتفاقي غټ کفن د انصاري

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صحابي او کوچنی د حضرت حمزه راووت چې دهغه دقد نه کوچنی و، که سر يې پټولې انو پښې ښکاره کيدې او که پښې يې پټولې؛ نو سر ښکاره کيده. حضور وفرمايل سر يې په کفن کې پټ کړئ او په پښو ورته اذخر واښه واچوئ دغه رنګ دحضور ﷺ ترې ته کوچنی کفن ورکړل شو او انصاري صحابي ته غټ کفن ورکړل شو. حضور ﷺ وفرمايل حضرت حمزه سيدالشهداء دی. حضرت حمزه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دې جنګ کې ډير بهادري سره وجنګيده دمشرکينو سرکړه طلحه يې قتل کړ اوبيا يې توره داسې وچلوله چې دمشرکينو صفونه يې تس نس کړل يوحبشي غلام چې کله د حضرت حمزه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ داتيزرفتاري سره پرمخ تګ ولید؛ نو دې ته يې (ګټ) شاته پټ شو او په حضرت حمزه يې خپل آزموده وار وکړ او دغه نيزه په يو وار سره د حضرت حمزه آرپار لاړه. په دې جنګ کې دقريشو دولس علمبردار د مسلمانانو دلاسه مُردار شو چې په هغو کې اته کسان حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قتل کړل دکفارو يو علمبردار چې به کله مړ شو؛ نو بل به جنډا اوچته کړه کله چې آخري علمبردار هم مړ شو: نو بيا چا کې د جنډې اوچتولو دم نه وو. د مسلمانانو دبهادرانه حملې سره دکفارو دړې زړه کسان بې حوصلې شوي وو، دماسپښين وخت کې د کفارو لښکر په تښتيدو وو او دقريشو ښځو کوموچې خپلو رزميه اشعارووسره دکفارو حوصلې زياتولې هغوی هم سازوسامان پريښود او وتښتيدې.

د جنګ روخ بدل شو:

دمشرکينو يقيني شکست چې کله مسلمانانو ولېده؛ نوهغه دسته کومه چې تيراندازه او په غر باندې حفاظت له پاره مقرره وه، هغوی هم د خپل ځای نه راکوز شو، د کافرو په تعاقب اودمال غنيمت په راټولولو کې مشغول شول حالانکې دغه دستې ته حضوراکرم ﷺ فرمايلي و چې فتح وي يا شکست په هرحال کې به تاسو د خپل ځای ځخه نه ښوئ. صحابه کرامو دا ګڼله چې دا حکم د فتح پورې دی. دا اجتهادي غلطي؛ مګر د حضور ﷺ نافرماني پکې وشوه اګر چې دا بالاراده اوقصدأنه وه، مګر بيا هم الله تعالى دوی ته ښودله چې دحضور ﷺ لږ شان مخالفت هم ځومره د نقصان باعث جوړيدای شي. الغرض ددې دستې امير حضرت عبدالله بن جبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ منع کړل چې دا غر به بالکل نه پريږدئ. خالد بن وليد چې د لښکرقريش دېوې دستې کمانډر و. ددې غره په اهميت باندې ښه پوه شو. هغوی ځان سره سل ملګري واخيستل اويومیل مزل يې وکړ او دغره له شا ځخه يې په مسلمانانوباندې يکدم حمله وکړه په دې ځای باندې حضرت جبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او د هغه ملګري وجنګيدل او شهيدان شول د مسلمانانو دا حالت چې يې وکوت؛ نو عکرمه بن ابي جهل اوابوسفيان دوباره منظم طريقې سره حمله وکړه مسلمانان هرطرفته دکفارو په ګيرو کې راغلل او هرطرفنه تورې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جلدۍ شروع شو. حضور ﷺ هم کفارو ګیر کړ او حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه چې د حضور ﷺ هم شکل و. شهید شو. ابن قمه مشرک داوچت خای نه آواز وکړ. ما معاذالله حضور ﷺ قتل کړ. په دې سره دمشرکینو حوصلې نورې هم مضبوطې شوې. مسلمانان نورهم پریشانه شو. کعب بن مالک رضی الله عنه چې حضور ﷺ ولیدو نو آواز یې وکړ مسلمانانو! خوشحاله شئ حضور ﷺ سلامت دی بیا حضور ﷺ په اوچت آوازیې ندې وفرمایل: إِنَّ عِبَادَاللهِ أَكَارَسُولُ اللهِ.... د الله بنده ګانو زما طرفته راشئ. زه دالله رسول یم. مسلمانان بیول درسول الله طرفته راغلل کفار هم دغه طرفته راهجکې شوا وهمدغه خای مرکزي میدان جنګ جوړ شو، یومشرک عبدالله بن شهاب د حضور ﷺ نژدې راغی او د اسې زیردست وار یې پرې وکړ چې د اوسپنې خولې یوه حصه د حضور ﷺ سترګو مبارکو لاندې مخ کې ویښته ټله، دا ابوعبیده بن جراح رضی الله عنه په خپلو لاسونو باندې راښکل نو د هغوی پرې دوه غاښونه ووتل کفارو په پوره زورسره په حضور ﷺ باندې حمله وکړه

د شمع رسالت پتنګان

جانثارو ملګرو د حضور ﷺ نه ګیر چاپیره حلقه جوړه کړه، حضرت ابو دجانه رضی الله عنه حضور ﷺ ته مخ کړ او خپله شاپیې ډال جوړ کړه چې کوم یو غشی راځي چې د دوی ټ پرې لګیږي او حضور ﷺ ته زیان ونه رسیږي، کله د حضور ﷺ طرفته یط شا کوله او کفارو ته یې مخ کولو. نو ممکنه وه چې غشی راتلو سره سرتیټولی او چپرته حضور ﷺ ته ونه لګیږي. د دوی شا د غشتو نه ډکه شوه او دوی هم د غه رنګ په خای ولاړ وو. حضرت سعدبن ابی وقاص، او حضرت ابوطلحه او حضرت عبدالرحمن بن عوف د حضور ﷺ د حفاظت له پاره د اوسپنې دیوال جوړ شوي وو او غشی او نیزې به یې چلولې او دشمنان به یې بندول، حضرت طلحه رضی الله عنه به د دشمن د ټورو ګزارونه په لاس باندې منع کول، تر دې چې د دوی لاس د ډیرو زخمونو له وجې شل شو. پنځه انصار په دغه وخت کې د دوی د حفاظت دوران شهیدان شو.

د حضور صلی الله علیه وسلم استقامت

د حضور ﷺ نه ګیر چاپیره سخت جنګ شروع و یو بدبخته د لرې نه کانی راګوزار کړ چې هغه سره د حضور ﷺ یو غاښ مبارک شهید شو او د ی ﷺ زخمی هم شو. مسلمانانو بهادري سره مقابله کوله. امیه بن خلف دیومشرک سردار په اس باندې سور شو او د حضور ﷺ د قتل اراده یې وکړه حضور ﷺ دیو صحابي نه نیزه واخیسته اوګزار یې پرې وکړ، دې سره نیزه دهغه دښتی په هډوکي کې خښه شوه اود درد له لاسه یې چیغې کړې او و تښتید، مشرکینو درپوري خندل چې د دومره معمولي زخم نه دومره چیغې وهي، هغه وویل چې که زما دا درد د مکې په ټولو خلکو باندې تقسیم شي؛ نو هم به برداشت ونه کړل شي، چنانچې هغه د دې زخم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نه دچیغوپه حالت کې مرشو همدا یوکس دی چې دحضور ﷺ د لاس مبارکه نه قتل شوی دی ابوسفیان چې کمانډور انچیف و ، په اوچت آواز سره وویل چې ،،افی القوم مُحمَّدٌ؟،، آیا تاسو کې محمد شته؟ حضور ﷺ وفرمایل ده ته جواب مه ورکوئ، بیایې وویل ابوبکر شته؟ په دې باندې هم خاموشی وه؛ نو ده دا وګڼله چې شاید دواړه وفات شوي دي په دې باندې حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په ګرځدار آواز سره جواب ورکړ ای دخدای دښمنه! دا ټول ژوندي دي. ته به رسوا يې دي نه پس ابوسفیان په غرور سره وویل ،،أعلُ هُبَل أعلُ هُبَل،،دهبل بلندي دهبل بلندي.

حضور ﷺ حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وفرمایل چې جواب ورکړه ،،اَللّٰهُ أعلى وَأجَل،،

ابوسفیان وویل ،،لَنَا عُزّیٰ وَلا عُزیٰ لَکُم،،زمونږه بت عزّیٰ دی ستاسوعُزّیٰ نشته، حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضور ﷺ په ارشاد باندې جواب ورکړ، اَللّٰهُ مَولٰنا وَلا مَولیٰ لَکُم (الله زمونږه ولي دی ستاسونشته) ابوسفیان ووبل داجنګ دجنګ بدر برابرشو، موږ دهغه بدله واخیسته د حضور ﷺ ارشاد سره حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جواب ورکړ ،،نه! برابر نه شوه،،ځکه چې زمونږ مقتولین جنت کې دي اوستاسو مقتولین دوزخ کې دي،،دې نه وروسته ابوسفیان خاموشه شو او بیې ویل چې آینده کال به زموږ اوستاسو مقابله په بدرکې وي. حضور ﷺ حکم وکړ چې وایه: ،،نِعمَ هُوَ بَیننَا وَبَینَکُم مَوعِدٌ،،دیر ښه دامونږ ته منظوره ده. دې نه وروسته ابوسفیان خپل لښکر سره واپس لاړ.

دیوې صحابیه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بهادري:

د انصارو د قبیلې یوه زنانه وه، دهغې پلار، خاوند او ورور دري واړه شهیدان شول. هغې دحضوراقدس ﷺ دشهادت افواه واوریده ؛ نو د مدینې منورې نه د حضور ﷺ خیریت معلومولو له پاره راروانه شوه په لاره کې ورته چا وویل چې پلار دې شهید شو، هغې وویل داراته ووایئ چې حضور ﷺ څنګه دی؟ بیا ورته چا وویل چې ورور دې شهید شو، هغې وویل: دا راته ووایئ چې حضور ﷺ څنګه دی؟ بیاورته چا وویل چې: خاوند دې وفات شو، هغې وویل ماسره دحضور ﷺ فکر دی. په دې کې حضور ﷺ هم قریب راورسیده چاورته وویل: هغه مخامخ حضور ﷺ راروان دی، کله چې دې د حضور ﷺ مخ مبارک ولید، نوویې ویل: تاسوچې کله سلامت یئ نو بیا هر غم او درد برداشت اومعمولي دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د جنګ احد نتائج

(۱) ويل کيږي چې د مخلص اوغير مخلص يار دوست پته په درد وتکليف کې ملاوشي. د سر د وفاداري ويونکي د مشکلاتو وخت کې وتښتي. په دې جنګ کې ډير زيات مسلمانان چې د مسلمانۍ لباس يې اچولی وو، ټول بنګاره شول چې مخلص حقيقي مسلمان څوک دي اومنافق دعويدارڅوک دي.

(۲) صحابه کرامو ته د دې جنګ له وجې ډيرزيات انعامات ملاو شول چانته مرتبه شهادت نصيب شواوڅوک زخميان شو او حضور ﷺ ډيرو صحابه وو کراموته القابات او تمغې ورکړي مثلاً: حضرت حمزه ته سيدالشهداء لقب ملاوشو

(۳) په مسلمانانو باندې داخبره الله تعالی بنکاره کړه چې تر څو دوی دالله اودرسول اطاعت کوي دالله مدد به يې شامل حال وي. گورئ په جنګ احد کې لږد حضوراقدس د فرمان خلاف ورزي کولوباندې فتح لږ وخت له پاره د شکست په صورت کې بدله شوه: نو کوم ځای کې چې شپه ورځ دالله تعالی نافرمانۍ کيږي؛ نو هغلته به دالله مدد څنګه رسي

(۴) دصحابه کرامو نه کامل الايمان او وفادار کيدو ثبوت واضح طوريباندې ملاو شوچې صحابه کرام وفادار اوجانثار دي، لهذا د دوي محبت واطاعت د نجات ذريعه ده. وگورئ دوی په دې جنګ کې څنګه د وفاداري ثبوت وښود، په لاسونو يې دتورو گزارونه وخوړل. شانه يې ډاله جوړ کړ، ديتنګانوپشان يې خانونه قربان کړل، تر قيامته پوري داخبره واضحه شوه چې دکاميابيدو له پاره به د صحابه کرامو په نقش قدم باندې تلل ضروري وي

سرمد گله می باید کرد　　يك کار ازين دو کار می باید کرد
ياتن برضائے دوست می باید کرد　　يا قطع نظر زياری باید کرد

چشم رحمت سے ادھر کو بھی نظر کیجئے گا　　اس امید پہ آیا یہ گنہگار بھی ھے
تیری رحمت کے دروازے ھر دم کھلے ھیں　　سوالی جھولیاں بھر رھے مرادیں پارھے

یااللہ زمونږه زړونه د صحابه کرامو د محبت نه ډک کړه! (آمین)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شوال المعظم دریمه خطبه:

دعوت وتبلیغ

شوال المکرم کې حضوراکرم ﷺ د دعوت وتبلیغ له پاره د مکې معظمې نه لرې طائف ته یې تشریف یوړ. د حضور ﷺ دغه زمانه د ډیرې بې کسۍ وه، چا به یې هم خبره نه اوریده، په مکه کې به هره ورځ دوی ته تکلیفونه ملاویدل. حضور ﷺ طائف ته تشریف یوړو چې شاید دغه خلک د دوی دعوت قبول کړي، دا سفر د ډیر لوی امتحان سفر و، دې وجې نه د دې خبطي نوم دعوت و تبلیغ کینبودل شو. د دعوت وتبلیغ په دین اسلام کې بنیادي حیثیت دی. دا د انبیاء ورسل منصب دی. د حضور ﷺ د ختم نبوت کیدو په وجه باندې اُمت محمدي ته داعظیم کار وسپارل شو. او د دې کار په وجه باندې چې کوم مدد اونصرت د الله له طرفه انبیاؤ سره و دغه مدد به دامت سره هم وي، بلکې د دې اُمت داخاصه اوامتیاز دی چې د دې نه مخکې اُمتونوکې داسې نه و، د الله طرفته راغوښتونکو خلکو ډیر لوی فضیلتونه راغلي دي. دټولو نه اول قرآن مجید کې وګورئ الله تعالی فرمایي:

,,وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِى مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ،،

او ددې نه بهترد چاخبره کیدای شي، چې خلک د الله طرفته راغواړي او هغوی (خپله هم)نیک کار وکړي او وایي چې زه د فرمانبردارو څخه یم ,,یعنې د الله بندګي اواطاعت فخرګڼي، دمتکبرینوپشان عار یې نه ګڼي،،

تشریح: په دې آیت کې صفا ویل شوي دي چې په دنیا کې کومې خبرې کیږي، که څه هم هغه ذکر وي. ښه خبره وي. ددې ټولو نه بهتر دالله طرفته غوښتل دي.همدې سره یې فرمایلي دي چې داعی خپله هم عمل کوونکی وي، داسې نه وي چې خپله خو نورو ته دعوت ورکوي، ښې خبرې کوي او خپله دهغې مخالفت کوي. د داسې تبلیغ خاطر اثر هم نه وي، بلکې اسرچیه خلک بدګمانه کوي. دریمه خبره داچې دمسلمان په خپله مسلماني باندې فخر وي احساس کمتري کې مبتلا نه وي، لکه څرنګه چې نن سبا مسلمان دیهود و نصارئ په عمل کولو باندې خو فخر کوي اوشریعت اسلامي باندې عمل کولوباندې شرم یاعارمحسوسوي اوعمل کوونکو ته هم په سپک نظرګوري او قسماقسم فقري له خولې نه باسي، ډېر خلک خپله خو عمل کوي؛ خوهغوی نورو ته دعوت نه ورکوي. حالانکې خپله عمل کولوسره نورو ته دعوت ورکول او دین طرفته رابلل هم ضروري دي، ګڼي د دې خلکو به هم مواخذه کیږي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په دعوت کې کوتاهي

حضرت حکیم الامت مجدد زمان شاه اشرف علی تهانوي نوراالله مرقده فرمایي .. هر انسان دي خپل حالت وګوري چې په شبه ورځ کې يې څومره منټونه دي خاص کارله پاره وقف کړي دي، مونږ خوعابدین هم یو،زاهدین هم یو،.علماء او طلباء هم. غرض دا چې په مختلف طریقو باندي د دین خدمت کیږي او د هغه اهتمام هم دی مګر دا وګورئ چې څومره وخت په ذکر و شغل او وظیفه باندي صرف کوئ اوکسب حلال باندي ،کوم چې تاسو ثواب په قصد باندي کوئ،مشغوله وي آیا په دې کې یوه حصه وخت په دې کې هم صرف دی چې نور خلک دالله تعالی طرفته متوجه کړو. اوس ووایئ چې څومره دا کار کوئ. غورکولو نه معلومیږي چې میاشتې په میاشتوباندې خالي ځي چې په هغې کې یو کس هم متوجه الی الله نه کړي شو یعني د دې نوبت هم نه دی راغلی چې کافرو ته دعوت ورکړو ضعیف الاسلام ته تقویت الاسلام ته ترغیب ورکړو او کوم چې متردد دي د چاچې داسلام نه د وتوخطره ده. هغوی ته په اسلام باندې ثابت قدم پاتې کیدو ترغیب ورکړو، دایې توجه یې خو داصولویه اعتبار سره ده اوس د فروع په اعتبار سره هم وګورئ؛ نو په دې کې په هم دا ګوتاهي په نظر راشي. یعني د امربالمعروف ونهی عن المنکر باب به بالکل مفقود ملاو شي امربالمعروف د ټیک کار ترغیب. د لمونځ ترغیب په چاچې لمونځ فرض دی، په چا چې بقدر نصاب زکات فرض دی هغوی ته دزکات ترغیب ورکول په چا چې حج فرض دی هغوی ته دحج ترغیب ورکول. د چې اخلاق باطني ښه نه وي، هغوی ته د تهذیب واخلاقو ترغیب ورکول. دا ټول دعوت الی الله په شعبو کې دي او د امربالمعروف اقسام دي یايې څوک نهی عن المنکرکړی وي په مبتلاء معصیت یې معصیت نه منع کړی وي. صغیره وي یا کبیره وي.

دمنع کولوځه معنا؟ که چیرته یو ځای کې طمع او ویره وي اودهغی تائید وتقریر کوي.چرته دوستانو دناراضه کیدو خطره وي چرته دطمع اوتوقع خیال وي چرته دمحسنانوداحسن اثر وي بهر حال په طمع کې انسان ډیر سست شي اوحالت ډیر پریوځی تردی چې انسان ذلت وپستی اختیارکړي چې داسې داسې موقعوته دانسان نظر لاړ شي چیرته چې دنوروهم وخیال هم نه شی تلی (دعوت وتبلیغ)

د تبلیغ اهمیت

امر بالمعراف ونهی عن المنکر په اسلام کې څومره اهمیت لري، دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ې ارشاد نه اندازه ولګوئ!

عن عائشة . قالت : دخل علي النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فعرفت في وجهه أن قد حضره شيء ، فتوضأ .

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وما كلم أحدا ، ثم خرج ، فلصقت بالحجرة أسمع ما يقول ، فقعد على المنبر ، فحمد الله وأثنى عليه ، ثم قال : « يا أيها الناس ، إن الله تبارك وتعالى يقول لكم : مروا بالمعروف ، وانهوا عن المنكر ، قبل أن تدعوني ، فلا أجيبكم ، وتسألوني فلا أعطيكم ، وتستنصروني فلا أنصركم » ، فما زاد عليهن حتى نزل.

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې: يوه ورځ حضوراکرم ﷺ کور ته تشريف راوړو او ددوی ﷺ په مخ مبارکه باندې ما يو خاص اثر نه معلومه کړه چې يوه اهمه معامله مخې ته راغلی ده حضور ﷺ چاسره هم خبره ونه کړه، بيا يې اودس وکړو او مسجد ته ولاړ، د حجرې ديوال سره په غور ما واوريدل چې څه ارشاد فرمايي: حضور ﷺ په منبرباندې تشريف فرما شو، د الله حمد و ثنا نه پس يې وفرمايل: ای خلکو! د الله ارشاد دی چې د نيکي حکم اوترغيب ورکوئ او دبدی نه منع کوئ، ګني هغه وخت به راشی چې تاسو به دعا غواړئ او هغه به نه قبليږي، سوال به کوئ او پوره کيږي به نه او مانه به مدد اونصرت غواړئ نو زه به مو هم مدد نه کوم، دا کلمات يې وفرما يل او منبر نه راکوز شو.

حضرت ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (چې يو جليل القدر صحابی دی) فرمايي چې: تاسو نيکيو طرفته بلنه کوئ او بدي نه منع کوئ، ګني تاسو باندې به الله تعالی داسې بادشاه مسلط کړي چې ستاسو د مشرانو عزت به نه کوي، په کشرانو به رحم نه کوي، که داسې وخت کې ستاسو نيکان خلک هم دعا کوي؛ نو قبليږي به نه، ته به مدد غواړې اومغفرت به نه کيږي.

تشريح: دعوت و تبليغ خومره عظيم الشان کار دی، له پورتنې حديثه معلومه شوه چې د مسلمانانوکاميابي اوکفارومخالفين اسلام خلاف غلبه هغه وخت کې وي کله چې داکار وشی کفار که په دولت وحشمت وسازوسامان اواسلحه باندې مقابلې ته راشي او ايمان واله ايمان وعمل دعوت واخلي او مقابلې ته راشي؛ نو د الله وعده ده چې غلبه به داايمان والو وي. دمادياتو او ايمان مقابله کې هيڅ حيثيت نشته، د معاشري نه به جرائم، غلا، ډاکه، زنا، لارشکول، کساد بازاري، سودخوري، رشوت خوري، قتل وغارت،وغيره دا جرائم به هغه وخت ختم شي کله چې معاشره کې دعوت وتبليغ جاري وساري و ګرځي. منشيات پوډر، عرياني وفحاشي وغيره به هغه وخت کې ختم شي کوم وخت کې چې دحضور ﷺ طريقه و دعوت اختيار کړل شي، ګني چې خومره قانونونه اومنصوبې جوړې کړي او د الله ويره نه وي؛ نوداټول قوانين او منصوبې به ناکامه شي. دعاګاني به هغه وخت کې قبليږي کله چې دا عظيم کار مقصد وګڼل شي او وکړل شي ، په رزق او روزي کې به هغه وخت برکت پيدا شي کله چې بدي ختمه شي او امربالمعراف او نهی عن المنکر وکړل شي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت شیخ مولانا زکریا رحمه الله فرمایی هر اسلامي انجمن، اسلامي سکولونه او هر اسلامي طاقت، بلکې هر مسلمان ته داګذارش دی چې دی وخت کې د دین انحطاط خورمره دی. د دین دپاسه صرف د کافرو نه، بلکې خپله د مسلمان له لوري هم حملې کیږي فرائض و واجبات باندې عمل د خاص نه بلکې اخص الخواص مسلمانانونه هم پاتې دی د لمونځ او روژې پریښودو به څه ذکر وي؟ کله چې په لکونو خلک په شرک وکفر کې مبتلا دي او غضب دا دی چې دا کفر او شرک نه ګڼي، د محرکاتو او فسق وفجور ګروپونه چې خورمره صفا او واضحه طریقې باندې پرمختګ کوي او د دین سره لاپرواهي، بلکې استخفاف او استهزا، یعني دین سپک ګڼل خندا ورپورې کول،خورمره چې عام کیږي هغه دیر فرد بشر نه پیدا نه ده. دې وجې نه خاص بلکې عام علماوو کې دخلک نه یکسویې او وحشت زیاتیږي، چې دهغه لازمي اثر دا کیږي چې دین اودینیات نه ورځ په ورځ اجنبیت کې اضافه کیږي، عوام خپل خان نه معذوره وایي چې دوی نه ویلو واله څوک هم نشته او علماء خپل خان معذوره ګڼي چې دوی څوک اوري نه، خو دخدای قدوس په درکې نه د عوامو عذر قابل قبول دی چې مورته چا ویلې نه و؛ ځکه چې د دیني امورو معلومول او تحقیق کول د هرنده خپل فرض دي. دقانون نه ناواقفیت عذر په یو حکومت کې هم معتبرنه دی، د احکم الحاکمین مخې ته دا کمزوری عذر څنګه چلیدای شي، دا خو عذرګناه بدتر از ګناه مصداق دی، او نه د علماو له پاره دا عذرمناسب دی چې زماڅوک اوري نه، د کومو اسلافو د نیابت چې تاسو دعویدار یئ هغوی د دین د تبلیغ له پاره څه نه دي برداشت کړي، د ویلو نه پس یې خپلې تبیلغي ذمه دارو احساس کړی او خلکو ته یې رسولی دی، د هرشخت نه سخت مزاحمت باوجود انتهایي شفقت سره د اسلام او احکام اسلام اشاعت کړی دی.

عام طورباندې خلکو تبلیغ د علماوو سره خاص کړی دی، حالانکې دا صحیح نه ده، بلکې د هر کس مخې ته چې منکر او بدي کیږي او هغه دهغې په بندولو باندې قادر وي دهغې د بندولو اسباب پیدا کولی شي، دده په ذمه دا واجب دي چې دا منع کړي اوفرض کړه که دا ومنل شي چې دا د علماوو کار دی، بیا هم کله چې هغه څه مجبوري یا کوتاهي له وجې د دي حق نه شي پوره کولی یا د دهغه پوره کیږی نه، نوضروري ده چې هر کس په ذمه باندې دافریضه لازم شي. په قرآن وحدیث کې چې خورمره اهتمام سره تبلیغ او امربالمعروف اونهی عن المنکر ارشاد شویدي هغه بالکل صفا او واضحه دي، داسې حالت کې صرف د علماوو ذمه یا دهغوی کوتاهي وبنودل شي، یو بنده بري الذمه کیدای نه شي، زما علی العموم درخواست دی چې هرینده له پاره تبلیغ کې څه نا څه حصه اخیستل پکار دي او څومره اندازه وخت چې هم دتبلیغ اوحفاظت کې خرچ کولی شي کول پکار دي.

هر وقت خوش که دست دهد مغتنم شمار کسے را وقوف نیست که انجام کار چیست

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

داهم معلومول پکار دي چې تبليغ له پاره امربالمعروف اونهی عن المنکر له پاره کامل اومکمل عالم دين کيدل ضروري نه دي، هر بنده چې يوه مسئله باندې پوهيږي هغه دي نورو ته ورسوي. کله چې د ده مخې ته يو ناجائز کار کيږي او دی دهغه په بندولو باندې قادر وي؛ نو په ده باندې يې بندول واجب دي. فضائل تبليغ،

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ رَأَىٰ مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ.

(رواه مسلم والترمذی)

دنبی کريم ﷺ ارشاد دی کوم بنده چې يو ناجائز کار په سترګو باندې وويني که په هغه يې قدرت وي نو په لاس دي بند کړي، که دومره قدرت يې نه وي؛ نو په ژبه دي بند کړي او که دومره قدرت يې هم نه وي؛ نو په زړه کې دي ورسره نفرت پيدا کړي او دا د ايمان کمزورې درجه ده په يو حديث کې دي چې کوم بنده په زړه کې هم دا بد وګڼي؛ نو هغه هم مومن دی؛ مګر د دي نه کمه درجه د ايمان نشته.

نن زمونږ نه هر طرفته بدي خوري دي زمونږ مخې ته خومره بدی کيږي، په کورونو کې خومره ګناهونه کيږي، خپلې ګناهونه خو داسې دي چې هغه ګناه هم نه ګڼل کيږي لکه عموماً په ښارپو کې بې پردګي، دنارينه وو پرېږه خرېل، په ودونوکې سندرې ويل، وي سي آر اوفلمونه جوړول، محفل رقص و سرورد قائمول، سنيما عام کول، ډير خلک دا ګناه هم نه ګڼي. په کور کې چې بې نمازه وی نو څوک هغی ته بد هم نه وايي، د هر بنده دافرض دي چې دا ګناهونه بند کړي. کوم چې صاحب اختيار دی هغه دي په لاس سره بند کړي اوکوم چې صاحب اختيار نه دي، هغوی دي په ژبه باندې ترغيب ورکړي يا دي سختي سره منع کړي او کوم چې د دې نه هم عاجزه دی کم ازکم خپله دې له دي ګناهونو ځان بچ کړي او دا ګناهونه دې بد وګڼي او د ګناه په مجلسونوکې دې هرګز شريک کيږی نه. حکومت که سلامي او د امن وامان واله معاشره غواړي؛ نو دوی لره پکار دي چې په سختي سره دي ګناهونه بندکړي. ګڼي په دوی باندې خپله ګناه او د عوامو ګناه ددوی دخپلی ذمه داري له وجې نه وي. لکه څنګه چې دمرګ نه پس ژوند خوشګواره کيدل او د جنت نعمتونو نه سرفراز کيدل دخدای اودهغه په رسول باندې ايمان راوړل او د هغه په لاره کې کوشش کولوباندې موقوف دي، دغه رنګ ددنيا وي ژوند خوشګواري او د دنيا دنعمتونونه فائده اوچتول هم په دې باندې موقوف دي چې مونږ په الله او دهغه په رسول باندې ايمان راوړواوخپل تمام کوششونه دهغه په لاره کې صرف کړو.

هنوز ان ابر رحمت درفشان است خم وخم خانه با مهر ونشان است
ماں باپ سے بھی ہوا ھے شفقت تیری افزوں ھے ترے غضب سے رحمت تیری

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جنت انعام کړ که دوزخ مین جاملا وه رحم ترا هے یه عدالت تیری

تولې دنیا ته ددین د رسیدو پیشکویې:

یو وخت یه داسې راشې چې د اسلام کلمه به هر خای ته ورسیږي او خلک به اسلام کې داخل شي. د الله بنده ګان به دا پیغام تولې دنیا ته ورسوي دا دحضور ﷺ پیشګویي ده چې په حدیث کې موجوده ده.

وَعَنِ الْمِقْدَادِ اَوَ اَنَّه سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا يَبْقٰى عَلٰى ظَهْرِ الْاَرْضِ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ اِلَّا اَدْخَلَهُ اللّٰهُ كَلِمَةَ الْاِسْلَامِ بِعِزِّ عَزِيْزٍ وَذِلِّ ذَلِيْلٍ الخ...(رواه احمد)

حضرت مقداد روایت کوي چې دی رسول الله ﷺ نه دا اوریدلی دي چې د خمکې له پاسه به یو کور که د خاورې وي یا د خیمې داسې به باقي پاتې نه شي چې په هغه کې به الله تعالی د اسلام کلمه وردننه نه کړي. که په عزت سره وي یا په ذلت سره (کوم خلک چې په صدق دل سره دا قبوله کړي هغوی ته به الله تعالی عزت وافتخار ورکړي او د کلمې اهل به وګرځوي شي او کوم خلک چې یې په خوشحالي باندې قبوله نه کړي هغوی به الله تعالی ذلیل کړي هغه خلک به د دې کلمې فرمانبرداري باندې مجبور وي (په دې طریقه باندې چې هغوی جزیه ورکوي او په اسلامي سلطنت کې اوسیږي) راوي وایي چې ما واوریدل او ومې ویل : بیا خو به ځلور واړو طرفو ته د الله دین وي،،.

فائده: خمکې نه مراد جزیرة العرب هم دی اوقرب قیامت ته به هر خای کې اسلام وي. خوش قسمته دي هغه خلک کوم چې دډین رسول ذریعه جوړه شوي وه اوجوړیږي. د کوم دین له پاره چې انبیاء کرامو مشقتونه برداشت کړل، قسما قسم مصیبتونو کې مبتلا شول ،، صحابه کرمو او زمونږ اسلافو په دې کې عمر تیر کړاو دهمدې په خاطر یې د الله لاره کې ځانونه قربان کړل د دې دین د بقا او ترویج له پاره لږ شان وخت نه ویستل هم بدنصیبي اوتاوان دی او هدغه فریضه ده چې په پریښودو باندې نن مونږ تباهي طرف ته روان یو. اول به داسلام مفهوم داګیل کیده چې خپل جان مال عزت وآبرو د اشاعت اسلام اواعلاء کلمة الله په لاره کې صرف کړواوکوم کس چې به په دې کې ذره برابر کوتاهی کوله نو هغه به کم عقله ګڼل کیده، خو افسوس! چې نن مونږ ته مسلمانان ویل کیږي؛ خو داسلام تولې نښې زمونږ دسترګو وړاندې ختمیږي بیا هم دهغو د اشاعت او بقاء کوشش نه کوو، غرض داچې اعلاء کلمة الله اواشاعت دین متین کوم چې دمسلمانانو مقصدزندګی دواصلی کار و او چې سره زمونږ د دواړو جهانو فلاح او کامیابي وترقی وابسته وه اوچې هغه مو پریښود؛ نونن مونږ ذلیل اوخوار یو اوس مونږ ته خپل مقصد اختیارول پکار دي او دعوت وتبلیغ کار خپل مقصدزندګي اوحقیقی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مشغله جوړول پکار دي، دی له پاره چې بیا رحمت خداوندي جوش کې راشي او موږ ته د دنیا وآخرت سرخروبي او شادابي نصیب شي (مسلمانوں کی موجودہ پستی کاواحدعلاج)

د مسلمانانو د غلبې شرطونه:

نن مسلمان وایي چې د نیا کې داسلام غلبه اوبول بالا دي اودمسلمانانو عزت وي دي وجی نه دقرآن چې کوم شرائط دي هغه ایمان وعمل صالح دی، سورت نور رکوع نمبر(۷) کې د الله ارشاد گرامي دی

تاسو کې چې کوم خلک ایمان راوړي اونیك عمل وکړي، هغوی سره الله تعالی وعده کړې چې دوی ته به خمکه کې حکومت ورکړل شي، ځنګه چې دوی نه مخکې خلکو ته ورکړل شوی و او کوم دین چې دوی له پاره خوښ کړل شو. هغه به ده له پاره قوت ورکړي اوله ویرې پس به ده ته امن ورکړل شي په دې شرط چې دوی زما بنده ګی وکړي او ماسره څوك شریك نه کړي.

په دې آیت کې صفا ویل شوي دي چې د اسلام اومسلمانانوغلبه او په دنیا کې سکون وامن قائمول او ویرې ختمیدل، ایمان او عمل صالح باندې موقوف دي او د ایمان وعمل صالح رواج دعوت وتبلیغ ذریعه ده؛ نوکومه چې ذریعه ده دترقي هغه پریږدي اودا توقع کوي چې دنیا کې د مسلمانانو عزت وي سکون اوتحفظ وی. ډیره لویه غلطي اودوکه ده. افسوس چې نن پادري عیسایي مشن له پاره شپه ورځ کار کوي. قادیاني، یهودي سوشلسټ، کمیونسټ، دهریان او رافضیان هریوخپل مذهب باطل ترویج وتبلیغ کې لګیدلي وي، مګر مسلمانان دې عظیم مشن نه غافل دي او کوم چې لږ خوش قسمته وي دا کار کوي هغوی له پاره هم بندیز ولاړیږي.

حضرت امام مالك ﷺ فرمایي: ددې امت محمدي آخره کې راتلونکي خلکو هر ګز اصلاح نه شي کیدای کله پوري چې هغه طریقه اختیار نه کړل شي کومې چې ابتداء کې اصلاح راوستې وه. کوم وخت چې نبي کریم ﷺ د حق دعوت اواز اوچت کړ هغه وخت یوازې و، څوك ددوی ملګري او هم خیال نه وو، ددنیا څه طاقت دوی ته حاصل نه و، د دوی ﷺ دقوم خودسري اوخود رایي انتها درجی ته رسیدلې وه، په دې کې څوك حق خبره اوریدلو اواطاعت کولوته تیارنه وو بالخصوص دکومې کلمه حق چې دوی ﷺ تبلیغ له پاره ولاړ و، د دې نه د تمام قوم زړونه متنفر اوبیزاره وو په دې حالاتو کې کوم یو طاقت و چې دهغه نه یو مفلس ونادار، بې یار و مددګارانسان ټول خلک خپل طرفته رابنکل او اوس غور وکړئ چې آخر هغه څه شی و د کوم څیز طرفته چې یې اُمت راوغوښت او کوم بنده چې داځیز بیاموندې کړوچې بیا همیشه هغه درسول الله ﷺ شو، دنیا ته پته ده چې هغه یو سبق و چې دحضور ﷺ منظورنظر و او مقصود اصلی و کوم چې حضور ﷺ د خلکومخې ته کیښود.,, له الله تعالی پرته دبل چا

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عبادت و نه کړو اوالله تعالی سره بل څوک شریک نه کړو اوبیل خوا ټول مقرر نه کړو (ال عمران ع۷) الله وحده لاشریک نه سوا دهرڅې عبادت او اطاعت وفرمانبرداري مخلصانه وښو او د اغیارو تړون او علاقې ماتې کړې یو نظام عمل یې مقرر کړ او وې ویل چې دی نه لري او بل طرفته مخ نه کول ،، (مسلمانوں کی موجودہ بےبسی کا واحد علاج)

حضرت انس رضی اللہ عنہ فرمایي چې حضوراکرم ﷺ وفرمایل آیا زه تاسو نه هغه څیز وښه چې نه خو انبیاء دي او نه شهداء، خو د قیامت په ورځ به دانبیاوو اوشهداوو په مرتبو باندې ناسته کوي؛ ځکه چې د الله له طرفه به داخلک دنور په منبرونوباندې وي او پرښه کیږي به

صحابه کرمو عرض وکړ چې یارسول الله دا خلک څوک دي؟ حضور ﷺ وفرمایل کوم خلک چې د الله بنده ګان د الله دوستان جوړ کړي او الله د خپلو بنده ګانو دوست جوړ کړي او په ځکه باندې امربالمعروف ونهی عن المنکر کوي او ګرځي، ماعرض وکړ چې د الله بنده ګان د الله محبوب جوړول داخوصحیح خبره ده، مګر دا خلک د الله بنده ګان د الله محبوب څنګه جوړوي؟ حضور ﷺ وفرمایل خلکو ته دهغه خبرو حکم ورکوي کومې چې الله خوښوي او هغه خبرو نه منع کوي کومې چې الله ته ناخوښه وي، کله چې خلک ددوی داخبره ومني؛ نوالله جل شانه دوی دوستان جوړ کړي

حضرت حذیفه رضی اللہ عنہ فرمایي چې نبی کریم ﷺ ته ما عرض وکړ یارسول الله امر بالمعروف ونهی عن المنکر به کله پریښودل کیږي؟ حالانکې دادواړه د ښو خلکو د اعمالوسردار دي، حضور ﷺ وفرمایل هغه وخت کله چې تاته هغه خبره محسوسه شي کومه چې نبي اسرائیلو ته محسوسه شوې وه ما پوښتنه وکړه یا رسول الله!نبي اسرائیلو ته کومه خبره محسوسه شوې وه؟ حضور ﷺ وفرمایل کله چې ستاسو نیکان خلک بدوخلکو سره حق ویلو کې نرمي وکړي او فقه ستاسو شریرو خلکوته ورسیږي اوحکومت کم عمره خلکو ته پاتې شي په داسې وخت کې به تاسو فتنې ګیر کړي، تاسوبه فتنو کې بار بارپریوځئ او فتنې به بار بارتاسو کې واقع کیږي (حیاۃ الصحابہ جلد ۷)

د هر امتي په بل اُمتي باندې حق دی:

دامت محمدي ﷺ هریوکس ددې خبرې ذمه دار دی چې هغه ډنیکي دعوت ورکړي اوبدۍ نه منع وکړي. د حضور ﷺ ارشاد ګرامي دی: دهغه کس مثال چې د الله په حدودو باندې قائم وي (د الله اطاعت او فرمانبرداري کوي) او د هغه کس کوم چې د الله تعالی حدودوکې پریوتو واله دی (نافرماني کوونکی دی) د هغه قوم پشان دی چې یو دبیړی په پورته حصه باندې ناست وي اوپه قرعه اندازي باندې ددې جهاز منزلونه مقرر شوي وي چې فلانی بنده

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

به په فلاني چت باندې کيني او فلاني بنده به په فلاني چت باندې کيني کله چې دا لاندينۍ حصې واله د اوبو دضرورت وخت کې پورته حصې ته راځي څه وخت پس دوی يو سوچ وکړي چې پورته حصې واله ولی بار بار تنګوو ولې په خپله حصه کې يو سوری نه کوو او اوبه دې ځای نه په آسانه راخلو؛ نوکه دې صورت کې پورته حصې واله دا لاندۍ حصې واله کم عقله خلک ددې حرکت نه بند نه کړي؛ نو څه وخت پس به جهاز ډوب شي او دواړه فريقه به هلاک شي او که دوی منع کړي؛ نو دواړه فريقه به ډوبيدو نه بچ شي.

فائده: دغه راز که نيک خلک بد خلک د لاس په ذريعه يا د ژبې په ذريعه يا کم ازکم د زړه په ذريعه بد و نه ګڼي او منع نه کړي؛ نو کومه سزا چې دګناهونه په وجه د الله له طرفه راځي په دې خلکو به هم راځي چې دبدي نه د بچ کيدو کوشش نه کوي؛ ځکه چې د هری ګناه خاصه داده چې په دې به يوه نه يوه سزا ملاويږي.

مولانا ابوالحسن علي ندوي رحمه الله فرمايي چې: د صحابه کرامو تاريخي کارنامې، ديني جذبې. د قوت ايماني داسې سرچشمې دي چې دهغو په وجه دا امت او د دعوت دين مراکز د دوی نه نور ايماني حاصلولی شي، دا د هغه اسلاف کراموجماعت و چاچې خپل لاسونه د رسول الله ﷺ په لاس کې ورکړل، دې حضراتو راتلونکې زندګي په موجوده زندګي باندې او غائب په موجود باندې اوهدايت ته په ګمراهي باندې فوقيت وترجيح ورکړه، د خلکو د دعوت وتبليغ له پاره انتهايي حريص وو، خلک يې د بنده ګانو له عبادت نه ايستل او د واحد لاشريک په عبادت باندې لګول د دې خلکو کارنامه ده. د مذاهب باطله د جارحانه قوانينو نه داسلام عدل قانون ته راوستل، د دنيا دتنګي نه د آخرت وسعت طرفته راوستل، د دنيا د خرافاتو نه وتل او د الله ملاقات طرفته راوستل، ددې حضراتو کارنامې دي. د اسلام خوروال او د اسلام تمام محاسنو اشاعت کول او هم ددې محاسنو د اشاعت له پاره دا حضرات د ځمکې مشرق ومغرب ددې په نرمو اوسختو حصو کې په تيټه او اوچت حصوکې خواره شول. خپل تمام لذتونه يې ددې کار له پاره پريښودل، خپل وطنونه او راحتونه يې پريښودل، خپل ځانونه اوخالص مالونه يې د الله په لاره کې قربان کړل، حتی چې دين خداوندي په دې وجه باندې دنياکې تيښګ شو لکه څنګه چې اوښ خپل څټ په ځمکه باندې کيږدي اوکيني زړونه الله طرفته مائله شو. او ايماني هوا لوی طاقت سره او رافت سره مبارکي او خوشګواري خورولو سره وچليده، د الله هدايت تمام عالم کې خور شو، انسانان د الله په دين کې ډلې ډلې داخل شول... (مقدمه حياة الصحابه)

اے خاصه خاصان رسل وقت دعا ہے امت پہ تیری اکے عجب وقت پڑا ہے
جو دین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے پردیس میں وہ اج غریب الغربا ہے

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضور اکرم ﷺ په آخري خطبه کې دادعا فرمایلې وه: اې الله! هغه کس شاد و اباد خوش وخرم وساتې چې زما خبره واوري هغه محفوظه کړي او نورو ته يې ورسوي.
یاالله! مونږه اوتمام مسلمانانوته د دې مصداق جوړيدو توفيق نصيب کړي. آمين

د دعوت و تبليغ فوائد:

مختلفو حديثونو کې د تبليغ دا فوائد بيان شوي دي چې تاوان نه دې کيدو مدار. ايمان او نيک عمل يو بل ته دنيکي کولواوبدي نه بنديدو وصيت کولوکې دی.
ترڅو چې امر بالمعروف و نهی عن المنکر وي؛ نو خيريت ايمان، عمل صالح، برکت، عزت، غلبه اوعزت وشوکت به وي، د دعوت کار کولوباندې د الله رحمت وي او دوی ته به هم همیشه همیشه ددې تمام عملونوثواب ملاويږي.
کوم خلک چې ددوی په وينا باندې عمل کوي؛ نو اوس دمسلمان د هلاکت او پريشاني فتنو مصيبتونو عذابونونه بچ کيدو له پاره او صحيح مسلمان جوړيدو له پاره بلکې تمام انعامات الهيه ترقي او غلبه راحت وآرام ددين ودنيا حاصلولوله پاره همداتدبير دی چې خټګه صحابه کرامو کې هر يو کس دنيکي حکم او بدي نه د بچ کيدو کار کولو. مونږ کې دې هم هريو مسلمان دا کار وکړي دکاندار اخيستونکو ته، ملازم پيشه اهل عمله دې زراعت پيشه اهل عمله ته صنعت وحرفت اوکورواله ته اودوستانو ته ملاويدو واله ته نوکرانو ته، ماتحتو ته، غرض دا چې چېرته او کله چې هم وي او کوم ځای پوری چې کيدای شي فکر سره يې پوهه وه اود ديندار جوړيدو کوشش پرې کوه. (دعوت وتبليغ)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمين

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شوال المکرم څلورمه خطبه:

د نکاح فضائل وفوائد او د ښځو حقونه

شوال المکرم کې دام المؤمنین حضرت عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نکاح و رخصتي وشوه، دې وجې نه د دې خطبې عنوان د نکاح فوائد وفضائل کینبودل شو. اسلام چې ښځې ته کوم عزت او عظمت ورکړی دی دهغه ذره برابرهم په بل مذهب کې نشته. دې وجې نه په دې خطبه کې به د ښځود حقونو باره کې هم مختصر شان ذکر کیږي.

دنکاح متعلق الله رب العزت فرمایي:

,,وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ...(پ۱۸سورهٔ لور آیت ۳۲)

اوپه تاسو کې چې کوم نارینه زنانه بې نکاح دي د هغوی نکاح وکړئ او ستاسوپه غلامانواو وینځو کې چې کوم د نکاح صلاحیت لري د هغوی هم نکاح کوئ، که هغوی مفلسه وي؛ نوالله تعالی به یې په خپل فضل باندې غنیان کړي او الله تعالی ډېر زیات فیاض او د تولو په حالت پوهیدونکی دی.

د فقهاووپه اصطلاح یعنې شریعت کې نکاح هغه خاص عقد و معاهدې ته وایي چې د نارینه او زنانه په مینځ کې وي اوچې په هغه سره ددواړو مینځ کې تعلق زوجیت پیدا شي.

د نکاح اهمیت:

مظاهر حق کې دي ,, نکاح د دوو کسانو یو سماچې ترون، یو شخصي ضرورت، یوطبعي خواهش او یوازې یوه ذاتي معامله نه ده، بلکې دا د انساني تولنې د وجود وبقاء یوه بنیادي ستنه هم ده،، او شرعي نقطه‌نظر سره یو خاص اهمیت وفضیلت حامله ده. د نکاح د اهمیت او ضرورت اندازه دې نه هم لګیږي چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د دور نه واخله تر شریعت محمدي پورې داسې شریعت نه دی تیر شوی چې د نکاح نه خالي پاتې شوی وي، دې وجې نه،علماء لیکي چې یو داسې عبادت نشته چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه واخله تر اوسه پورې جاري وي اوپه جنت کې هم باقي وي یوازې دنکاح او ایمان نه پرته ، چنانچې هر شریعت کې نارینه اوزنانه اجتماع یو خاص معاهدې لاندې شروع کیږي او بغیر د دې معاهدې نه یو مذهب او شریعت هم د نارینه او زنانه اجتماع جائز نه بولي، هوا دا ضرورده چې ددې معاهدې صورتونه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جدا جدا دي او د دي په شرائطو احکامو کي تغير وتبدل کيږي. چنانچې د دي متعلق شريعت هم کوم شرائط مقرر کړي دي. کوم احکام هم چې نافذ کړي دي او کوم قواعد وضوابط هم چې وضع کړي دي (هغه په احاديثو کې موجود دي) (مظاهرحق)

یہ خاک تو سرکار سے نسبت ہے ہمارا — اللہ ہمیں خاک کرے اپنی طلب میں
کچھ اور ہی ہے اب میرے دن رات کا عالم — ہر وقت اب ان سے مناجات کا عالم

د نکاح فوائد

د نکاح له ټولو نه عمومي فائده د نسل انساني بقاء ده او خپل مينځو کې توالد وتناسل جاري کيدل دي. په نکاح کې نوري مخصوصي فائدې هم دي چې ځينې يې پهلاندې ډول دي

۱. نکاح کولو نه جنسي هيجان کميږي. داجنسي هيجان د انسان د اخلاقي زندګي يو هلاکت خيز مرحله وي چې د خپل سکون له خاطره د مذاهب، اخلاقو، شرافت وانسانيت مخ ټولو نه هم ګريز نه کوي، مګر کله چې دوی ته د جائز ذرائع نه سکون ملاؤ شي؛ نو بيا دا په بند اعتدال کې اوظاهره ده چې جائز ذريعه يوازې نکاح ده.

۲. نکاح کولو سره خپل کور ودانيږي، د خانه داري آرام ملاويږي، کورنۍ زندګي کې سکون وآرام ملاويږي او کورنۍ زندګي کې سکون ذريعه نجات انساني فکر وعمل په هر يو ګوټ پورې باندې مرسته ورکوي.

۳. د نکاح په ذريعه باندې اولاد نسل زياتيږي چې په وجه يې انسان خپل ځان مضبوط او زبردست محسوسوي او په معاشره کې د خپلو حقونو له پاره خپل رعب و داب قائم ساتي

۴. د نکاح کولو په وجه باندې نفس د مجاهدې عادي شي؛ ځکه چې د کور اواهل وعيال د نګهداشت دپاره مسلسل جد و جهد کول غواړي، ددې مسلسل جدوجهد نتيجه داوي چې انسان دې عملي اولا پرواهي د زندګۍ نه لرې وي چې دوی له پاره دنيا وی طور باندې هم نفع بخش دي اوددې په وجه باندې هغه ديني زندګي يعني عبادات وطاعات کې هم چاق وچوبند وي.

۵. د نکاح په ذريعه باندې نيک اوصالح اولاد پيدا کيږي، ظاهره ده چې ديو انسان دزندګۍ د ټولو نه قيمتي سرمايه د هغه نيک اوصالح اولاد وي چې په وجه يې نه يوازې هغه دنيا کې د سکون، عزت ونيک نامي دولت حاصلولی شي، بلکې اخروي طور باندې هم فلاح وسعادت حصه دار جوړيدای شي. (مظاهرحق)

د نکاح حکمونه:

ځينې وختو کې نکاح فرض وي. ځينو وختو کې واجب او ځينو وختونو کې سنت موکده وي، ځينې وختونو کې پرکروه او ځينو وختونو کې حرامه وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د نکاح فرض کیدل:

نکاح هغه وخت کې فرض کیږي کله چې جنسي هیجان دومره غالب وي چې د نکاح نه کولو په صورت کې انسان بدکاري کې مبتلا کیدو یقین وي او دښځې په خرچې ونفقه باندې یې قدرت حاصل وي.

نکاح واجب کیدل:

که قدرت جسمانی اومالي وي او بدکاري کې د مبتلا کیدو یقین نه وي نونکاح واجب ده، جنسي شوق غلبه وي مګر بدکاري کې د مبتلاکیدو یقین نه وي.

سنت موکده نکاح:

د اعتدال په حالت کې نکاح کول سنت موکده ده، یعني جنسي شوق غلبه نه وي او جسماني او مالی قدرت وي، که دې صورت کې دېچو د افزائش نسل نیت وکړل شي؛ نو نکاح کولوباندې ثواب هم ملاویږي.

مکروه نکاح:

که په ښځه باندې د ظلم کولو ویره وي چې مزاج سخت دی؛ نونکاح کول مکروه دي؛ که په ښځه باندې دظلم کولویقین دی چې مزاج سخت دی اوقابل برداشت نه دی ؛ نونکاح کول حرام دي. (مظاهرحق)

نیک بخته ښځه بهترین متاع دی:

نیک سیرتي انسان له پاره ډیر لوی نعمت دی، هغه انسان له پاره د نیکي په کارونوکې مددګار ثابتیږي، خو که بدسیرته وي؛ نو بیا دې نه لوی وبال نشته.

د حضوراکرم ﷺ ارشاد ګرامي دی:

..عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلدُّنْيَا كُلُّهَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ.. (رواه مسلم. مشكوة)

حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې: رسول الله ﷺ وفرمایل: ټوله دنیا یو متاع دی او د دنیا بهترین متاع نیکه ښځه ده.

د نکاح فضیلت:

عَنْ عَلِيِّ بْنِ اَبِي طَالِبٍ اَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کوي چې حضرت نبي اکرم ﷺ وفرمايل چې نکاح زما سنت دی چاچې زما دامت نه روګرداني وکړه هغه زمونږه څخه نه دی

جليس الصالحين کې د نکاح اووه فالدې ذکر شوي دي

(۱): د اولاد کيدل چې والدينو له پاره دمغفرت غوښتنه کوي او کوم چې واړه ماشومان وفات شي هغوی به د قيامت په ورځ باندې والدينو له پاره دمغفرت سفارش کوي.

حضور ﷺ وفرمايل: «إِنَّ الطِّفْلَ يَأْخُذُ ثَوْبَ أَبَوَيْهِ وَيَهُزُّ إِلَى الْجَنَّةِ». د قيامت په ورځ به واړه ماشومان دخپلو والدينو لمنې ونيسي اوجنت ته به يې کش کوي.

(۲): شيطان نه حفاظت وي، ځکه چې په نکاح سره دشهوت زورماتيږي، بنده د ګناه نه بچ شي. په يو حديث کې دي چاچې نکاح وکړه هغه خپل نيم دين محفوظ کړ. او په يو بل حديث کې دي چاچې نکاح وکړه هغه د شيطان له شره ځان خلاص کړ.

(۳): نکاح سره سکون ملاويږي، زړه ته راحت ملاويږي، الله تعالى فرمايي: مونږ تاسو له پاره ښځې مقرر کړي دي، دې له پاره چې تاسو سکون حاصل کړئ، يعنې کله چې ستړي ستومانه کور ته راشئ؛ نوتاسو ته سکون وآرام ملاو شي.

(۴): د نيکې ښځې کورکې موجودګي د الله نعمت دی، حضوراکرم ﷺ فرمايي: يوه نيکه ښځه دزرو غير صالحه سړيو نه بهتره ده.

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي دايمان نه وروسته الله تعالى د صالحې ښځې نه بل لوی نعمت نه دی پيدا کړی.

(۵): نکاح مجاهده نفس ده، ځکه چې ددې دحقوقولحاظ او د بدخويي باندې صبر او اصلاح کوشش کول عدل بين الازواج لازمي اوضروری وي او حضوراکرم ﷺ فرمايي څه چې تاسو په خپل اهل باندې خرچ کوئ دهغه ثواب د صدقې پشان دی. او نفقه ورکوونکی نارينه به دغازي ثواب حاصلوي.

حضرت بشر حافي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ما باندې جنيد بغدادي رَحِمَهُ اللهُ ته فضيلت حاصل دی ځکه چې زه د خپل نفس له پاره مجاهده کوم او هغه د خپل اهل وعيال دحلال رزق دطلب له پاره هم کوشش کوي.

(۶): نکاح سره قرابت زياتيږي او د محبت نسبت غالب وي.

(۷): نکاح سره غنا حاصليږي لکه څنګه چې سورت نور کې الله تعالى فرمايي که چيرته هغه بغير واده نارينه اوزنانه غريب وي نو د نکاح په برکت سره به يې الله تعالى غني کړي.

نکاح کولو کې نيت داوی چې دګناهونه حفاظت او په سنت باندې عمل وي نه صرف نفس مغلوبه کول مقصود وي. حضور ﷺ فرمايي چې د نکاح اعلان وکړه او نکاح مسجد کې وکړه.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

افسوس! چې نن نکاح په هوټلو میرج هالونو کې وي اوبې پردګی وي، دنارینه وو زنانه وو مخلوط والی وي، ناوی په بیوټي پارلر کې اسنګاریږي، دا فضول خرچي ده او ګناه ده، په ډیرو ودونو کې فلمونه جوړیږي یعنې پوره فلم تیاریږي، دا ډیره لویه ګناه ده، دغه رنګ په ولیمې باندې بې حسابه پیسه خرچ کیږي، دا دالله نعمت د رزق ناقدري ده او عموماً خلک دانګریزانو نقالي کې په ولاړه خوراک کوي داغیر قومونوسره مشابهت اختیاروي او د حدیث له مخې چاسره چې مشابهت وي د قیامت په ورځ به حشر هم هغوی سره وي.

د خاوند په ښځې حقونه:

(۱): ښځو ته پکار دي چې د خپل خاوند د خواهش احترام وکړي.

(۲): د خاوند له اجازې پرته دې له کوره نه وځي او دهغه له اجازت پرته دې قیمتي شی چاته نه ورکوي، هو! د عام استعمال ښیان لکه لوښي، ستنه او داسې نور دعام استعمال شیان ورکولی شی.

(۳): دخاوند له اجازې پرته دې نفلي روژه نه نیسي.

(۴): د خپل خاوند غیبت او عیبونه دې نه ښکلره کوي.

(۵): خپل ځان دې د پردې پابند ساتي خپل ځان دې د نامحرمه د نظرنه بچ ساتي.

(۶): د خاوند دمال دې حفاظت وکړي که د دې د خاوند دمخکې ښځې نه څه اولاد وي؛ نوپه هغوی دی شفقت او رحم کوي.

(۷): د خپل حسن په وجه دې په خاوند فخر نه کوي او د هغه د بدصورتي له وجې دې هغه سپک نه ګڼي.

(۸): محتاج خاوند ته دې په سپک نظر نه ګوري.

(۹): غلط اوناجائزه فرمائشونه دې نه کوي ورسره د خاوند دحیثیت نه دې زیات فرمائشونه نه کوي.

(۱۰): په بیماري کې دې دهغه پوره خدمت وکړي.

(۱۱): د عبادت وختونوکې دې د خاوند مدد وکړي، مثلاً پاڅیدوکې اوبه وغیره ډکولوکې آسانې وي ګڼي خاوند لره پکار دي چې هغه دې تکلیف ورنه کړي.

(۱۲): خپل خاوند دې خیر ښیګړه کې یاد کړي.

(۱۳): که خاوند وفات شو؛ نوهغه له پاره دې د مغفرت دعا کوي.

(۱۴): د خاوند له وفات نه پس دې ځلورمیاشتی او لس ورځې غم ولمانځي، زینت او سنګار دې نه کوي او د خاوند له کوره دې نه وځي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ښځې په خاوند حقونه:

(۱): د ښځې چې خاوند سره کوم حق مهر دی، هغه دې ادا کړي
(۲): د ځپل وس مناسب دې خرچه ورکړي
(۳): روزمره ضروریات دې ورته ورکړي
(۴): که خپله عطر وغیره لګوي نو ښځې ته دې هم ورکړي
(۵): حسب توفیق د اوسیدولو پاره کور ورکړي
(۶): ښځې ته ضروري مسئلې لکه د روژې، لمونځ، حج، ماهواري او داسې نورې ښودې، که خپله ورته معلومې نه دي؛ نو دبل چا نه دې یادې کړي
(۷): ښځه دې بلاضرورت شرعي نه پریښانه کوي، ترش روی سره دې نه مخ‌ښ کیږي
(۸): که حیثیت یې، دې نو سره زر دې ورته واچوي
(۹): د ښځې مخکې دې دهغو مبرمنو ذکر نه کوي دکومو مهر چې دې نه زیات وي
(۱۰): که دوه ښځې دي؛ نو کومه چې غریبه وي دهغې دې اهانت نه کوي
(۱۱): د ښځې رشته دارو سره دې هغه سلوک کوي کوم چې د خپلو رشته دارو سره کوي
(۱۲): ښځې باندې چې خرچې وکړي؛ نو احسان دې پرې نه کوي، کنځل دې ورته نه کوي
(۱۳): چې کله سفر نه واپس راځي؛ نو خپل وس مناسب دې ښځې ته تحفه راوړي
(۱۴): ښځه چې کله وفات شي؛ نو د هغې دمرګ نه پس دې د هغې خپلو خپلوانو خاطر مدارت کړي او د حقوقو خیال دې ساتي.

کومې ښځې نکاح سره وکړل شي:

حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ,,یوې زنانه سره نکاح کوئ کې د څلورشیانو خیال ساتل پکاردي: (۱) مالداره کیدل (۲) د حسب ونسب واله کیدل (۳) خوبصورته کیدل (۴) دیندار زنانه کیدل. دیندار زنانه خپل مطلوب جوړ کړه اوخاک آلود دې شي ستا لاسونه،، (بخاری ومسلم بحوالهٔ مشکوٰة)

تشریح: د انسان فطري خواهش دا وي چې یوې داسې زنانه سره نکاح وکړي چې باحیثیته او باعزته او ښه خاندان وقبیلې فرد وي چې د ښځې له وجې د خپل اولاد نسب کې شرف واوچتوالی اوامتیاز حاصل کړي. حاصل دا چې عام طوریاندې خلک یوې زنانه سره نکاح کوي؛ نو څلور شیان ملحوظ ساتي چې یو بنده مالداره زنانه سره نکاح کول غواړي. خینې خلک دنیه نسب واله زنانه سره نکاح کول غواړي. خینې خلک دا خواهش کوي چې دده د ژوند ملګرې دې خوبصورته زنانه وي. او خینې خلک نیک او دیندار زنانه سره نکاح کول غواړي. لهذا دیندار بنده له پاره پکار دي چې نیکې زنانه سره نکاح وکړي؛ ځکه چې په دې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کې د دنیا او اخرت دواړو خیر دی د حدیث آخری الفاظ ستا لاسونه دې خاک آلود وي د لاس مطلب دادی چې دیندار ه زنانه خپل مطلوب و ګرځوی

په یو بل حدیث کې حضرت ابوهریره رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل کله چې تاته یو بنده د نکاح پیغام درولیږي او ته ددغه بنده د دینداري او اخلاقونه مطمئن ډې نو دهغه پیغام منظور کړئ او نکاح ورسره وکړئ که داسې ونه کړئ؛ نو په ځمکه به فتنه او لوی فساد خور شي (ترمذی،بحواله مشکوة)

تشریح: دا ارشاد ګرامي د زنانه وو د سرپرست او ولي له پاره یو خطاب او هغوی له پاره ضروري هدایات دي که یو دیندار ه سړی ستا لور خور ته د نکاح پیغام راولیږي؛ نوهغه قبول کړه او په نکاح یې ورکړئ. که داسې ونه کړئ؛ نو چې د نیک انسان پیغام نظرانداز ه کړئ او یومالداره اوباثروت انسان ته په انتظار یئ ، خرنګه چې د عاموخلکو عادت وي؛ نو د دې نتیجه به داوي چې اکثر زنانه بغیر خاوند ه پاتې شي او اکثر نارینه بغیر د واده پاتې شي. له دې وجه یوازې دانه چې بدکاري به عامه شي بلکې، د دې زنانه وو مشران به ډیر لوی عاروغیرت کې مبتلا وي، بیا چې کوم خلک دوی ته عار ورکوي؛ نو دوی به هغوی سره جنګونه کوي، بالآخر به ددې بدي او فحاشي او جګړې نه یو عالمګیرفتنه وفساد جوړ شي (مظاهرحق)

کومه نکاح بابرکته ده:

حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها د رسول کریم ﷺ نه روایت کوي: بلاشبه ډیر لوی برکت واله نکاح هغه ده چې دمحنت په لحاظ سره آسانه وي.

تشریح: یعني هغه نکاح چې په کومې کې د ښځې حق مهرکم وي او ښځه د ضرورت نه زیات پیزار و لباس رامخکې نه کړي او خاوند نه پریشانه کوي، بلکې خاوند له طرفه چې څه هم ملاوشي صبروشکر اوقناعت پرې کوي. دغه راز د جهیز رسم هم بد دی چې د هغه له وجې نه زنانه زړې شي او ددې وبال هم په مشرانو او والدینو باندې وي.

دواده رسومات وبدعات:

دا د مسلمانانو بدقسمتي ده چې د نکاح پشان پاکیزه معامله هم دغیر مسلمواوملکي رواجونونه محفوظه پاتې نه شوه، بلکې واقعه داسې ده چې د دې ملک غیر شرعي رسمونه څنګه کثرت اوشدت سره دمسلمانانو د ودونو نظام کې داخل شوي دي. دې دنکاح اسلامی نظام بالکل تباه کړی دی او اوس چې څومره رسمونه رائج دي یادې نه مخکې رائج وو د هغو تولو احاطه کول هم ناممکنه شوي دي؛ خکه په دې موقعه باندې ضروري معلومیږي چې ډیر څو رسمونواو بدعتونو ذکر وشي. حرام باجه اومزامیر ډهول وغیره استعمالول، سندرې او

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حرود ویل، د قوالي انتظام کول، سهره ټول، لغویات کول، د کورغیرمعمولي آرائش وزیبائش کول، لکه دیوالونوبانديې جامې ټول، اسونو باندې سواري کول. خپل جنج بلاضرورته ښار کې ګرځول، دواړه دزلمي په ښار مزارونو باندې ګرځیدل هلته څه نقدیت نظر کول بیا جنج کې شاملیدل او بیا ډهول باجې شروع کیدل، د سندرو واله نارینه او زنانه یوځای شاملیدل، آتش بازي باندې خپل مال تباه کول، اوپه جنج کې دنارینه وو مخې ته د زنانه وو راتګ، دا شیانوټول ډېر بد اوحرام دی. دغه رنګ دا ټول شیان حرام دي، د نکاح په شیانو کې پټ خپزونه ښکاره کول، دواړه زلمی د وریښمو په تخت باندې کینول، دزلمي پټکی په تار ناټ کول، بیا دغه تاریو ساحر اوجادوګر ته ورکول دي دپاره چې هغه په دې تار باندې داسې توتکه وکړي چې د ښځې او زلمي په مینځ کې د محبت سبب جوړ شي. د سرو زرو او سپینو په لوښو کې خوراک کول، دجنج او دزلمي درشته دارو حد نه زیات تعریف کول، او د دې په خو شامدي کې بې چاچاپلوسی کې داسې خبرې کول چې بالکل دروغ وي. د هلک له پاره ریښمي کپړه استعمالول او عامو اورځو کې هم ددې استعمالول حرام دي ، د زلمي د سرنه پګړۍ اوچتول او د ناوې په سربانديې کینودل. زلمي د ناوې نه اووه چکره لګول. دزلمي ګوتمه په پیوبانديې دناوې په ذریعه وینځل. د نجلۍ زنانه وو د زلمي ته لاس لګول او ده نه غوږ اولاسونه نیول اوفحش خبرې کوي، ناوې ته خواږه ورکول، دمصري ډولی. د ناوې په وجود باندې کینودل او خاوند ته ویل چې دابه په خوله باندې اوچتوي. او ناوې او زلمي چې کله خلوت ته کیني؛ نو نوري زنانه د دوی نه راتاویدل دا ټول شیان بدعت اوحرام دي، دې نه علاوه په ولاړه باندې خوراک کول اوتصویرانویستل، ډیوې بلول، استیج جوړول، سندرې ویل ،مظاهر حق)

د ښځو حقونه:

اسلام سراسر عدل وانصاف واله مذهب دی، سراسر د خیرورحمت واله مذهب دی او اسلام فطري مذهب دی. هغه د حقوقو ضامن دی، اسلام چې زنانه وو ته کوم مقام ورکړی دی بل مذهب داسې نه دي ورکړی، خوهر شي له پاره چې الله تعالی کوم نظام اوضابطه تیاره کړېده، که دا ضابطه او نظام لري کړل شي؛ نو دې نه د فائدې تصور نه شي کیدای، بلکې دې کې به شر، فتنه او فساد وي.

الله رب العزت پنځه واړه ګوتې برابرې نه دي پیدا کړي، که ځوک د مساواتو دعویدار او وایي چې سراسر نا انصافي ده، مونږ به ټول برابرکړو اوس وایه ددې انجام به څه وي.دغه رنګ تلو له پاره الله تعالی پښې راکړې دي، ځوک د انصاف دعویدارد اووایي چې همیشه په پښو باندې تللې نا انصافي ده؛ نو اوس دا وایئ چې دپښو په ځای به اوس په سر باندې ځو،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د دې به څه انجام وي، دغه رنګ څوک د جديد زماني واله ترقي يافته معکوس ته مغلوب ووايي چې خوراک مو هميشه په خوله کړی دی، باقي به په پوزه کوو ؛نو ددې به څه انجام وي دغه رنګ دزنانه اونارينه دوجود ساخت يوشان نه دی، دغه رنګ د دوی ذمه داری هم يو شان نه دي، که ذمه داري او فرائض يو شان وي؛ نو د وجود ساخت به هم يو شان وي، څرنګه چې ديو وجود د اندامونو کارونه بدل بدل دي، مګر دا خپل کار پرېږدي او جدا کار ترېنه واخلي. لکه لاس نه دپښو کار د پښو نه د لاس کار واخلي ،نو د وجود نظام به برباد شي، دغه نارينه زنانه له پاره جدا جدا فرائض وذمه داري دي، که دې کې رد وبدل وشي؛ نو ټول نظام به تباه وبرباد شي؛ ځکه چې دې کې قانون فطرت خلاف دی. الله تعالى دنارينه ذمه داري دالګولې وه چې ګټه به کوي اوپه کور واله باندې به خوري اول د وروراو پلار په حيثيت سره بيا دخاوند په حيثيت سره، مګر افسوس چې مغربي اويورپي خلکو په زنانه وو څومره ظلم کړی دی چې کومه ذمه داري د نارينه وه، هغه يې هم په زنانه باندې اچولې ده اوس په زنانه باندې څومره ظلم دی چې هغوی خپل فطري فرائضو کې لکه ماشومان پيدا کول اوبيا هغوی پالل اوبيا روزي هم ګټی؛ نو ډبل ذمه داري په زنانه باندې راغله، په نارينه باندې صرف يوه ذمه داري راغله حالانکه زنانه مخکې نه هم کمزوری ده او بيا په دې باندې دماشومانو دکيدو او ددوی پرورش کول ډير زيات دی، پکار خو داسې وه چې دوی سره آساني شوې وای، آلتا هغوی په تکليف کې اچول کيږي او بيا ددې خلاف فطرت طورطريقې نوم ترقي کيږودل شوه، د دې مساوات د دعويدارو دا قول چې مورِ زنانه دبرابری په سطح باندې راوړو ؛نودوی لره پکار دي چې بچي هم پخپله راوړي اُو بيا دې د دوی پرورش هم وکړي.

افسوس؛ چې نارينه وو د خپل نفس د تسکين له پاره بې لوپټې او بې پردې کړه. د هغې عزت او ناموس يې دا غدار کړ او د ځناورو پشان زندګي باندې يې ودرول، بيا يې دوی بې وسه اومجبوره کړې او داسې مقام باندې يې ودرولی اوخپله ترينه لرې شول، دا تحفه دبې پردګي او بې ديني وګمراهي ده، د مغربي تهذيب مقصد که زنانه ووباندې آساني وي؛ نو د ماشومانوپيدا کولونه دي هم فارغې کړي او خپله يې بچي پيدا کول، مګر د ظالمانو وس کې دا خبره نه ده؛ نوخپله نوکرې سروس وګټلو الټا په هغوی باندې واچول بلکې خپله لمنه يې خلاصه کړه چې زمور د کفالت ذمه داري دي ختمه کړل شي هغوی دې خپله ګټې او د تسکين حاصلولو له پاره دې استعمالوي ، يعني د شهوت اور دې سروي او بيا دې بې يار و مددګار پرېږدي. قربان شم په دې پاکيزه معاشره باندې کومه چې حضور ﷺ راوړې ده، چې نارينه بې قايو کړل اوذمه داري يې پرې وا چوله او ذمه داري نه منلو په وجه يې د سزا مستحق وګرځول. دې وجې نه زنانه وو لره پکار دي چې د مغرب په پرفريبه نعرو باندې دهوکه نه شي، بلکې د اسلام په پاکيزه طريقې دې عمل وکړي، هسې نه چې د دوی هم هغه حشر وي کوم چې دوړ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د میرمنو وي. د حضور اکرم ﷺ ارشاد گرامي دی چې کومه زنانه د بال بچ په کور باندې ناسته وي هغه به جنت کې ماسره وي. (کنزالعمال)

بوځل حضور اکرم ﷺ وفرمایل چې: د زنانه وو د کورکار کې مشغولتیا به انشاء الله دوی دمجاهدینو په صف کې ودروي. (کنزالعمال)

راتلونکې زمانه:

اسلام د عفت وپاکدامنې واله صفا او سُتره مذهب دی، پارکونه، پارکیټونو، بازارونو، او تفریحاتو کې فیشن واله لباس اچول او د زنانه وو شریکیدل، داځه د ترقي خبره نه ده، د بنځې عزت دادی چې خپل کور کې کینې، ملکه جوړه شي او د بچو خدمت وکړي، دې له پاره چې د بچو اسلامي تربیت وکړي، د مغرب د زنانه مثال صرف د یوې سپې ده، هغه په سړک باندې ودریږي او د موټرو شیشې صفا کوي، نارینه یې د خپل هوس نشانه جوړه کړي او بیا یې یې یار و مددګار پریږدي، آیادا ترقی ده؟

اسلام دې صنف نازک ته ډیر مناسب حق ورکړی دی، په یوه زمانه کې یورپ کې زنانه ته د انسان تسلیم کیدو حق هم نه و حاصل، هندوزم کې به زنانه د خاوند له وفات نه پس ژوندی سوخول کیده، دا ځومره لوی ظلم و. اسلام ورته لوی د عزت مقام ورکړی دی. برته د بنځې په حیثیت سره چېرته دخور په حیثیت سره چېرته د مور په حیثیت ورته مقام ورکړل شو. او د خپل حیثیت په اعتبار سره ددوی حقوق متعین شول، الله تعالی دې مسلمانو زنانه وو ته د اسلامي معاشرې خپلولو توفیق ورنصیب کړي. آمین

د پردې اهمیت:

حافظ ابن کثیر رحمه الله د دې آیت: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ په تفسیرکې وایي چې د جاهلیت په زمانه کې به زنانه بې پردې راوتلې، حق تعالی مسلمانانو زنانه وو ته حکم وکړ چې هغوی دې په بړه کې راوخي دې له پاره چې د هغوی د کافرو بنځو نه امتیاز وي. د زنانه وو اونارینه وو د جاهلیت دورکې بازارونواومجلسونوکې مخلوط راوتل و. قرآن کریم د جاهلیت دا ناپاک طرز معاشرت په سختې سره بندکړ؛ ځکه چې دې سره آزادو بنځوباندې د آوازکولو او چیرچار موقع ملاویده. اسلام چونکې سراسر د پاکې وطهارت، غیرت وعزت مذهب دی ددې نه بې منع وکړه، یورپ اودغه شان نورو ممالکوکې چې کله بې پردګي راغلې وه، د هغوی اخلاقي تباهی وبربادی راغلې وه. بې پردګي د جسمانی زیبائش لاړه خلاصه کړه، بیا هغې دبې حیایي صورت اختیار کړ. اوس یورپ د انسانانو ځمکه نه، بلکې د هغه خای هوټل کلبونه اوسیرګاهونه د شهوت پرستو خرو چراګاهونه جوړ شوي دي. وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شوال المكرم پنځمه خطبه:

د سود حرمت او د اسلام معاشي نظام

د شوال المكرم مياشت كې د سود د حرمت آيت رانازل شو ، دې وجې نه د دې خطبې نوم د سودحرمت دی او اسلامي نظام د خيروبرکت واله دی؛ نوپه آخره کې به د اسلامي نظام خوبيانې او محاسن ذکر کيږي، دې له پاره چې د دواړو نظامونو تقابل مخې ته راشي، الله رب العزت د انسان خالق ومالک اورب کريم دی، د هغه شفقت او رحم د مور نه هم زيات دی، دې وجې نه کوم شی چې هغه حرام کړی دی، هغه کې بالکل خير کيدای نه شي، انسانانو له پاره دې کې ترقيامته پورې خالص شر پروت دی او د هغه نه بچ کيدو او پرهيز کولوکې بهتری ده. افسوس؛ چې نن سبا ځينې نام نهاد محققين ومفکرين ومجتهدين د الله حرام کړل شويو شيانو له پاره د حلالولو چور د روازې تلاش کوي او مختلف قسم تاويلونه کوي. د الله حرام شوي شيانو کې اګر چې په ظاهره به فائده په نظر راځي ليکن انجام کار يې نقصان او خساره ده، لکه څنګه چې مار په نظر باندې ډير خوبصورته په نظرراځي، ليکن مګر لاس لګولوسره پته ولګيږي چې ځومره فائده مند دی ، د نن سبا نام نهاد انګريزويهودي ذهن لرونکو خلکو له پاره پکار دي چې د يو خو ورځو زندګي له خاطره د آخرت زندګي تباه وبرباد نه کړي. ارشاد باري تعالى دی:

.. الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَىٰ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ . يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ . إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ . يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ. فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ...(پ۳آیت۲۷۵تا۲۷۹سورۂ بقره)

کوم خلک چې سود خواره دي، هغوی به نه اوچتيږي، مګرهغوی به داسې پاڅی لکه چې پيريانو نيولې وي، دا سزا دوی ته دې وجې نه ده چې دوی به ويل چې بيع هم دسود پشان ده، حالانکې الله تعالى بيع حلال کړې ده او سود يې حرام کړ دی، بياچې کوم بنده ته د خپل رب له طرفه نصيحت رارسيدلی دی او هغه آننده له پاره منع شو؛ نوځه چې تير شو ، د هغه معامله دالله سره ده او څوک چې دوباره دا وکړي، دغه خلک دوزخيان دي. هغوی به په دغه اور کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

همیشه وي الله تعالی سود خنموي اوصدقات زیاتوي او الله ناخوښه ګڼي هرناشکره ګناهګار. البته چې کوموخلکوایمان راوړی دی اونیک عمل یې کړی دی او دلمونځ پابندی یې کړې ده او زکات یې ورکړی دی؛ نو د دوی د خپل رب سره ثواب محفوظ دی او نه به دوی ته ګډه قسمه وېره او خفګان وي. ای ایمان والو! د الله تعالی نه وویریږئ او کوم سود چې باقي څه شوی دی هغه پریږده که تاسو حقیقي ایماندارانه یئ بیاکه تاسو داسې نه کوئ؛ نو د الله تعالی له طرفه اعلان جنګ واورئ او که تاسو توبه وکړئ نوستاسو اصل مال ستاسو لپاره دی، نه تاسو به چازیاتی وکړئ او نه به په تاسو باندې زیاتی وشي (کشف الرحمٰن)

سود څه ته وایي:

سود ته په عربي کې ربا وایي د ربا معنا زیادت دی او شرعا د دې معنا هغه زیادت دی چې له عوض نه پرته حاصل شي، مثلاً: د لس توله چاندي په بدله کې دولس تولې چاندی واخلي نو دا دوه تولې چاندي داسې زیادت دی چې بغیر دعوض نه واخیستل شو او دې زیاتې ته ربا وایي (یَتَخَبَّطُهُ الشَّیطَانُ مطلب دی کوم حالت چې دپیریانو د چپې واله وي دغه به د قبرونو نه د اوچتیدو والە سود خورو وي، یعني بدحواسه او مجنون به وي. خینې مفسرینوفرمایلي دي چې دمرګي دمریض پشان به بې هوشه وي کله چې خلک قبرونو نه پاڅي اوخپل موقف طرفته ځي؛ نو سود خور به دمرګي مرض والە پشان پریوخی. دریم مطلب دادی کله به پریوخي اوکله به پاڅي، او چونکې سودخور د غریب نه زیات مال وصول کوي او دروپیوائر زیاتر په زړه او دماغ باندې وي، ځرنګه چې عام طورباندې کنټل کیږي چې د مال د نقصان زیاتر اثر یې د ماغو باندې وي، دې وجې نه د سود خور زړه او دماغ یه مکمل بې کاره شي د معراج په بیان کې حدیث کې راغلی دی، نبي کریم ﷺ په داسې خلکو باندې تیر شو چې دهغوی خیټې داسې پرسیدلې وې لکه یوکوراو په هغه کې ماران وي. حضور ﷺ تەوویل شو چې دا سودخواړه دي. حضور ﷺ داهم وکتل چې یو کس دوینې په نهر کې پروت دی کله چې هغه ځای ته راځي؛ نو خوله خلاصوي اویوفرشته په کناره باندې ولاړه وي او په خوله کې ورته کاني ورکوي یایې په کاني ولي او هغه بیا دغه نهر ته واپس ورځي. د حضرت ابن مسعود رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په روایت کې دي چې د سود دري اویا دروازې دي دتولو نه کمې درجې والە دروازه داده چې لکه دخپلی مورسره دبدفعلي مرتکب شوي وي. د حضرت جابر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دی چې نبی کریم ﷺ د سود خورونکې او سود په یل خورونکې او د سود ګواهي باندې لیکونکې باندې لعنت ویلی دی، د حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په روایت کې مرفوعاً راغلي دي. چې حضور ﷺ وفرمایل: ,,دسروزرو په بدله کې سره زر او دچاندی په بدله کې چاندي او د وربشوبدله کې اوربشي، جوارو بدله کې جوار او دکجورو بدله کې کجوري او

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دمالګې په بدله کې مالګه برابر او لاس په لاس پکار ده، که څه کمی بیشی وي؛ نو سود به وي (کشف الرحمن)

افسوس! نن سبا زمونږ په معاشره کې سود اخیستل عام شوي دي، کله د انعامي سکیم په نوم ، کله د پرافټ و فائدې په نوم ، کله د انعامي وبچت سکیم په نوم او کله د جوازي په صورت کې دبیمې او انشورنس په نوم باندې اوعام مسلمان په دې کې مبتلا دي ده ته لانه په ورکړه پکاره او د آخرت دعذاب نه ویره پکاره، د یو څو ورځو په بدله کې د همیشه اوابدي خساري سودا ولې کوي.

ہم بھی جرم مصلحت میں ہیں برابرکے شریک لوٹنے والوں کو ہم بھی پاسبان لکھتے ہیں

د سود رواج:

زمونږ په دور کې د سود مسئلې ته اهمیت حاصل کړی دی. دیورپ حریصانه طرز عمل او د اسیا د سوداګرو زرپرستي خپلې خلک دسود پتنګان کړي دي اوهغوی نه پوهیدل چې اسلام کوم شیان حرام کړي دي، په هغو کې څومره رازونه پټ پراته دي، هغوی د دولت ظاهري زیاتوالي ته ګوري او مائله کیږي ورته او دانه ګوري چې دې سود خوري له وجې نه دنیا کې کمیونزم اوسوشلزم ته ترقي ملاویږي او هغه ورځ لري نه ده چې یوه ورځ به دنیا کې انقلاب راشي چې تمام سرمایه کار به زیروزبر کړي. افسوس چې مسلمانانو ته په داسې وخت کې د سود خوري شوق راپیدا شو، کله چې سود خوره دنیا دسود خوري نه پریشانه شوه او هغه سود خوری دیو څو ورځو میلمه جوړ شو. الله تعالی دحلالو زر دروازي خلاصې کړي دي، په دې قناعت نه کول او په حرامو شیانو نظر ساتل د هوښیارانو کار نه دی. که د سود څه ظاهري نفع معلومه هم وي نوهغه دائمي او پایداره نه وي، بلکې هغه د ډیرو خرابیو او تباهیو جړه ده (کشف الرحمن)

سود د الله سره جنګ دی:

"که چیرته تا سود پرې نه بښود ؛نو یقین وکړه چې د الله له طرفه به اعلان جنګ واورئ "د الله او د رسول له طرفه د اعلان جنګ مطلب د رسول له طرفه جهاد او د الله له طرفه قیامت کې عذاب دی. حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمایي چې د قیامت په ورځ باندې به سود خورته وویل شي چې جنګ له پاره خپله اسلحه سنبال کړه. د حضرت عمروبن العاص رضی اللہ عنہ روایت دی چې نبي اکرم ﷺ وفرمایل: کله چې یو قوم کې سودخوري عامه شي؛ نودوی باندې به قحط واقع کیږي او کله چې یو قوم کې رشوت خوري زیاتیږي؛ نو دوی باندې به هیبت او رعب خوریږي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مطلب دا چې کله تاسو خلک د سود خورو څخه نه منع کېږئ او د بقايا مطالبه کوئ؛ نو پېغمبر ﷺ به تاسو سره جهاد کوي څرنګه چې نن هم يو بنده سود خوري؛ نو اسلامي حاکم ته حق دی چې ده باندې دتوبې مطالبه وکړي او دی به قيد کړي او که هغه توبه ونه کړي او مراجعت کوي؛ نو هغه خلاف او د هغه د حاميانو خلاف جهاد وکړئ. (کشف الرحمن)

الله تعالى سود ختموي:

آيت ..يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا..مطلب دادی چې سود سره د الله مدد او نصرت نشته. بلکې الله سود ختمولو پسې دی، اګرکه دنيا کې سودخور ته مالي نقصان هم نه وي؛ نوآخرت کې خو به يقيناً خالي لاس مجنون او پاګل به پاڅي او په دنيا کې هم دومره خو وي چې د سود خور مال کې برکت نه وي او د سود خور په طبيعت کې دې جرم سره ډيرې اخلاقي ناروغۍ پيدا کيږي. لالچ، حرص، بخل، بې رحمي، د طاعت توفيق سلب کيدل دا هغه ناروغۍ دي چې هر بنده ته په سود خور کې په نظر راځي. (کشف الرحمن)

صدقاتو کې برکات:

د سود مقابله کې زمونږ له طرفه صدقات وخيرات ته سرپرستي حاصله ده، الله تعالى صدقات کوونکو خلکو مال زياتوي او د هغو ثواب زياتوي. طبراني د ابو برزه اسلمي رضي الله عنه نه مرفوعاً روايت کړ دی چې ديوي ډوډۍ، تکړه د الله سره د احد غر برابرشي. او په حديث کې راځي چې صدقه ورکولو سره مال کې کمی نه راځي.

خلاصه دا چې د سود مال که څه هم په ظاهره زيات په نظر راځي، مګر حقيقتاً هغه کمېږي او صدقه ورکولو سره که څه هم په ظاهره مال کميدل په نظر راځي، مګر حقيقتاً هغه زياتيږي.

د قرآن پاک يو خاص فلسفه او نظريه ده دنيا د تعداد کمې بيشي باندې پوهيږي کوم خيز چې په تعداد کې زيات وي هغه زيات ګنډل کيږي او کوم شی چې په تعداد کې کم وي هغه کم ګنډل کيږي خو قرآن دايې چې د تعداد کمی بيشی قابل اعتبار نه دی، بلکې دا ګوره چې پاک دي يا ناپاک دي. حرام دي او که حلال. ﴿قُل لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ﴾، يعني ناپاک او پاک دواړه برابر کيدای نه شي، که څه هم د ناپاک زيادت او کثرت خومره خوش نما معلوميږي، دا هغه شی دی چې دهغه خاص انداز کې قرآن باربار اعلان کوي او دا هغه شی دی دکومو چې د دنيا مادي سترګې هميشه انکار کوي، مګرچاته چې الله تعالى صحيح او خاص فهم ورکړي؛ نو هغه يې ګوري او پوهيږي. دا مونږه په خپله الفاظو کې دانوارات وبرکات سلب کيدو باندې تعبير کوو او داوايي چې دحرام په ارتکاب سره دطاعت توفيق سلب کيږي، د عمل برکات او نور ختميږي او دا هغه شی دی چې بحث ومباحثه سره وېر کم

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په نظر راځي. البته ارباب سلوك او اصحاب ذوق ډير ښه په دې باندې پوهيږي. معنې تدريجي طورباندې ډيو شي کميدل دي، تر دې چې هغه شی مکمل ختم شي لکه څنګه چې سپوږمی په کميدو راشي؛ نوبالآخر بالکل ختمه شي د کوم شي د ختمولواو لرې کولو پسې چې خپله الله تعالی وي. هغه د زياتيدو سبب ګڼل کم عقل توب دی (تفسير کشف الرحمن

د اسلام معاشي نظام:

اسلام داسې دستور حيات دی چې هغه د زندګي په هره شعبه کې رهنمايي کړيده او داسې قواعد و ضوابط يې وښودل چې دهغو مطابق مونږ عمل وکړو. اسلامي نظام معيشت کې نه د جاګيرداري ګنجائش شته، نه د سرمايه کاري، نه دمغربی نظام ګنجائش شته او نه د اشتراکی نظام ګنجائش ، بلکې هغه د ټولو نه ارفع او اوچت دی. سرمايه دارانه نظام کې دولت راټول شي او ډير څو کسانو په لاس کې محدود شي او اشتراکي کميونزم کې آزادي ختمه شي او د دولت مالک يو حکومتي پارټي آله کار جوړ شي. هغه چې څنګه غواړي خپله من مانې به کوي دا يو ظالمانه نظام دی چې په هغه کې د عوامو د محنت مالک يو ظالم جوړ شي او د هغه خلا ف آواز اوچتول يو سنګين جرم جوړ شي. اسلام انسانانوته آزادي ورکړې ده. هغه انسان د انسان غلام نه دی جوړ کړی، بلکې صرف او صرف د يو خدای د طاعت پابند کړی. اسلام هر يو انسان ته په جائزه طريقه باندې د کاروبار کولواجازت ورکړی دی او دده جائز ګټه يې دده ملکيت ګرځولې ده. دا خومره ظلم دی چې ودې ګټي يو او مالک دې بل شي. روس او چين کې اشتراکي نظام دی ، څنګه چې اسلام جائزې طريقې سره مال ګټلو اجازت ورکوي دغلته هغه د دې خبرې هم پابند کوي چې مال به ناجائزې طريقې سره نه استعمالوي. اسلام دولت په ګردش کې ساتي. خولاسونو کې يې بند نه ساتي، لکه د زکات نظام په دې کې دولت په ګردش کې راځي او کمزورې وغريبانوته سهاره ملاويږي، بيا دا زکات څه تيکس نه دی، بلکې عبادت دی، يعنې په خوشحالي خوشحالي يې هر صاحب نصاب اداکوي او هر شي کې که سره زر وي ، چاندي وي يا پيدا وار يا معدنيات وي. عياشي او فضول خرچي قطعاً حرامه ده او په دې باندې پابندي ده.

دويمه طريقه د دولت نورو ته د منتقلو کيدو ذريعه وراثت دی، د وراثت په ذريعه دولت د نورو خلکو لاس ته راشي، کومې ذريعې چې د حرامو دي اسلام په هغو باندې پابندي لګوي مثلاً جواري، خيانت، رشوت، غصب، بيت المال کې غبن، غلا ډاکه، ناپ تول کې کمي، فحاشي وعريانې خورولوواله کاروبار، کلبونه او شراب واله کار و بار او نور نشه آور اشياؤ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خرید و فروخت. او د خرید و فروخت هغه تولې طریقې چې د انصاف او مفاد عامه خلاف وي دا هغه تولې طریقې دي کومو سره چې معاشي ناهمواري او نا انصافي پې او معاشره کې د خونخواري رجحان پیدا کیږي.

دریمه طریقه د فرض عبادت زکات نه علاوه هم د دولت دخرج کولو تاکید شوی دی. هغه د معاشري فلاح وبهبود او د مفادعامه کارونه دي اسلام د ذخیره اندازي نه سخت منع والی کوي او ذخیره اندوزي له پاره لویې سزاګانې او وعیدونه دي. اسلام وایي چې مزدور ته د هغه مزدوري د خولې وچیدو نه مخکې ورکړه. هغه مزدور او سرمایه کار جنګولو په خای باندې یوخای کوي. مزدور ته حکم دی چې هغه به صحیح کار کوي، که ده صحیح کار ونه کړي: نوخیانت به وي او ددې سزا به دنیا وآخرت کې ملاویږي. اسلام د سود هر صورت حرام کړی دی. ځکه چې سود سره فحاشي او نا انصافي پیداکیږي.

د اسلام د معاشی نظام طریقه کار:

داخبره دې معلومه وی چې الله تبارک وتعالی په خپل حکمت کاملله سره دنیا عالم اسباب جوړه کړیده او د دنیا او آخرت دواړو د بنیګړې انحصار ددې په کارولو باندې دی. چې یو ښه یې کوي. چنانچې اوس مونږ دمختلفو پیښو او دهغو د اسبابو وآدابو تشریح کوو.

الله وتبارک وتعالی فرمایلي دي ,,وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشاً،، (سورة النباء ۱۱،پ۳۰)

او مونږ ورځ دګټې وخت پیدا کړی ده) داسې ده چې دا یې داحسان په طور باندې ذکر کړي دي.

ورسره یې وفرمایل ,,وَجَعَلْنَا لَكُمْ مَعَايِشَ قَلِيلاً مَّا تَشْكُرُونَ،،(سورة الاعراف ۱۰،پ۸)

او مونږ تاسو له پاره د ګټولوذرائع پیدا کړي دي. تاسولږ شکر ګذار ښ(یعنې یو نعمت یې وښوداو له هغه یې د شکر ادا کولو مطالبه وکړه.

وې فرمایل ,,لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا فَضْلاً مِّن رَّبِّكُمْ،،(سورة بقرة آیت ۱۹۸،پ۲)

تاسو باندې هیڅ ګناه نشته چې تاسو دالله فضل تلاش کړئ) حدیث شریف کې دي چې نبي اکرم ﷺ وفرمایل ,,د حلال رزق طلب جهاد دی او الله تعالی پیښه ور بنده خوښوي. ,,دبخاري په افراد کې دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ,,د لاس د ګټې نه بهتره چا نه ده خورلې او د الله تعالی نبي حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام به د خپل لاس ګټه خورله،،

به یو بل حدیث کې دي چې حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام ترکان و ،،

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام زمیندار و ، نوح عَلَيْهِ السَّلَام ترکان و ادریس عَلَيْهِ السَّلَام درزي (خیاط) و ابراهیم اولوط علیهما السلام زمینداران وو صالح عَلَيْهِ السَّلَام سوداګر و داود عَلَيْهِ السَّلَام به زغرې جوړولې اوموسی وشعیب اومحمد صلوات الله علیهم شپانه وو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پاتې شو آثار. نوريان شوي دي چې حضرت لقمان عليه السلام خپل زوی ته نصيحت وکړ ..اې زويه! د حلالې ګټې په ذريعه مدد وغواړه، ځکه چې کوم يو بنده هم تنګدست شي هغه نه دري شيان ضرور رسيږي. د هغه دين کمزوری شي، عقل يې کم شي مروت يې ختم شي،او دډې تولو نه زيات داچې خلک يې سپک ګڼي

حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه پوښتنه وشوه چې تاسو د داسې بنده متعلق څه وايئ چې په خپل مسجد يا کورکې کيني او دا وايي چې زه به هيڅ کار نه کوم، تر دي چې زما رزق به ماته راورسيږي، امام احمد رحمه الله وفرمايل: دا بنده د علم نه ناواقفه دی، ده نبي اکرم ﷺ دا فرمان نه دی اوريدلی چې زما رزق الله تعالی زما د نيزې لاندې اينبی دی،، او کله چې يې د مرغانو ذکر وکړ، نو وې فرمايل: هغه خالي خيټه سحروخې اومانبام په وکه خيټه واپس شي،. د رسول الله ﷺ صحابه کرام وه په خندګلونو او سمندرونو کې تجارت له پاره سفرې کولې او خپل باغونوکې به يې کار کولو او هماغه نمونې دي.

حضرت ابوسليمان دارانی وويل: زموږ په نړۍ داعبادت نه دی چې پښې خورې کړې او کينې او بل ستا له پاره کار کوي او ستړی شي اول دې د خپلې دوه مړۍ ډوډۍ فکر وکړي او بيا دې عبادت طرفته توجه وکړي.

د معاشي ترڅې پنديزونه:

الله تعالی د سود معامله کې ډيره سختی کړې ده، لهذا سود کې اخته کيدونه و ويريږئ؛ سود دوه قسمه دی: ربا بالفضل يعنې خپل اصل رقم نه زيات اخيستل او ربا بالنسيئه يعنې سودي شيان د قرض سره تبادله

دي، تولو خبرو باندې ځان پوهول پکار دي او کومو صورتونو کې چې سود وي، هغو نه بچ کيدل پکاردي، علاوه ددې نه پيښګي رقم چې ورکولو سره د يوشي اخيستلو شرائط، اجاره، مضاربت «ډيو پيسه او د بل محنت» او شراکت وغيره اصول معلومول پکار دي؛ ځکه چې هريو ګټونکی انسان نه ددې شيانو واسطه پيښيږي.

د معاشي ترڅې پنديز نو معامله کې د ظلم، عدل او انصاف لحاظ ساتل:

د ظ لم نه مراد چې بل ته په کې ضرر او تکليف وي او دا ضرر په دوه قسمه دی: عام اوخاص اول احتکار «ذخيره اندوزي» دی اودامنع دی؛ ځکه چې دي سره قيمت زياتيږي او خلکو له پاره روزي حاصلول مشکل شي. د دې تعريف دادی چې يو کس دګرانۍ په ورځو کې ډيره زياته غله واخلي او د قيمت ختلو انتظار کوي، خو که دده د خپلې ځمکې غله وي او هغه جمع کړي؛ نودا احتکار نه دی دغه راز که د غلې د ارزانې په زمانه کې يې په دې خيال باندې غله اخيستي وي چې خلکوته د غلې په حصول کې هيڅ تکليف نه وي؛ نو دا هم احتکار نه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دی، لکه د اچې غله جات واخلي او د ګران خرڅولو په نیت یې جمع کړي دا احتکار او مکروه دی، ځکه چې غله د انسان بنیادي ضرورت دی.

دویم هغه چې د هغه نقصان اوضرر خاص دی لکه دیو شي د اسې صفتونه بیانول چې په هغه کې نه وي یا د هغه عیبونه پټول.

نبي ﷺ وفرمایل: ،،څوک چې دوکه کوي هغه زمونږ څخه نه دی،، په دې خبره خان پوهول پکار دي چې بیع او مصنوعاتو کې دوکه کول حرام دي.

امام احمد بن حنبل ﷺ نه پوښتنه وشوه، هغه وفرمایل: که ګاهک ته دا وواین چې تانکه لګول شوي جامې خوخولو باره کې پوښتنه وشوه، هغه سوداګر باید پکاردي چې وزن صحیح کوي او هغه وخته پورې تله نه پریږدي کله چې ورکولو وخت کې لږه زیاته نه شي او اخیستو وخت کې لږ کم نه وي اګرکه چاره فروش په مال کې لږه خیانت خاوره استعمال کړي؛ نوهغه مطفف (کم ورکوونکی او زیات اخیستونکی) دی، دغه راز غصاب که غوښه ورکولو وخت کې حد نه زیات هډوکي ورکړي؛ نو دی هم مطفف دی.

نیت او چتولو نه هم منع راغلې ده او هغه داسې چې خریدار ته دوکه ورکولو له پاره یو بنده داسې بولي کوي چې حقیقت کې خریدار نه وي.

د خاورو په ټیونو کې پې بندول او خاروی د کوتیو نو سره خوځول داهم منع دی.

معاش کې برکت:

معاش و روزي کې خیرو برکت عدل واحسان سره وي، الله تعالی د عدل واحسان حکم ورکړی دی او احسان بیع کې رعایت کول هم دي او د دستور نه زیاته ګټه نه اخیستل هم دي، یعني د ګني کو لو خو اجازت دی؛ ځکه چې تجارت خو کیږي د ګټې له پاره، مګر جائز ګټه پکار ده. که خریدار د څه مجبوري له وجې نه په زیاته ګټه ورکولو باندې راضي وي بیا خرڅوونکي ته پکاردي چې زیاته ګټه اخیستو نه پرهیز وکړي او دا هم احسان دی.

دي نه دا هم ده چې چې کله قیمت یا قرضه وصولوي ،نو نرمي دي کوي، څه حصه رقم پریښودو سره. مهلت ورکولو سره او د مقروض دآسانې مدنظر ساتلو سره هم د احسان درجه حاصلیږي. احسان داهم دی که ګاهک یو شی واپس کول غواړي؛ نواخیستونکی هغه شی واپس کړي؛ ځکه چې واپس کوي هغه چاته چې بیع کې نقصان وشي. ددې مذکوره کارونو فضیلت او داسې کولو والله له پاره ثواب اواجر تذکره احادیث مبارکه کې ده.

روزي کې د برکت شپږ اصول:

ظلوم کار د سوداګر د خپل دین سره محبت کول دي، چې دنیاوی کارونو کې خاص اوآخرت به کارونو کې عام وي. تجارت کې سوداګر لره د آخرت نه غافله کیدل نه دي پکار، بلکې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خپل دين ملحوظه سائل پکار دی او د دوی د خپل دين سره محبت به ددغې نمونې اصولو لحاظ سائلو سره ظاهر ي

اول تجارت کې ښه نيت. نيت دا کول پکار دي چې چانه سوال و نه کړي او خلکو نه طمع وکړي او دېچيو ضرورتونه پوره وي او د مسلمانانو خير خواهي دې ملحوظه وي

دوم داچې خپل تجارت کې د فرض کفايه ادا کولونيت وکړي؛ ځکه که صنعت وتجارت پرېښودل شي: نو معيشت به تباه شي هو دا ضروره چې خپلې صنعتونه اهم دي او خپلې داسې دي چې دهغو نه بغير ګذاره کيدای شي لهذا اهم صنعت کې مشغوله کيدل پکار دي چې د ده په صنعت وتجارت سره د مسلمانانو اهم ضروريات پوره شي. زيورات جوړ ولو. نقش ونګار کولو. مکانانو باندې اسراف کول او د تمام زيب وزينت صنعتونو نه دې پرهيز وکړي؛ ځکه چې هغه مکروه دی دا هم ګناه ده چې درزي (خياط) دنارينه له پاره وريښمين کوټ جوړ کړي. قصاب جوړپدل هم مکروه دي؛ ځکه چې دی سره د زړه سختي پيدا کيږي. نبکر لګوونکي اوچهار کولو واله دې هر ګز نه جوړيږي؛ ځکه چې دې کې هر وخت نجاست سره واسطه وي او دا حکم د چرنګ هم دی.

د قرآن تعليم ورکولو او لمونځ کولوباندې اجرت اخيستل هم جائز نه دي. قرآن ښودلو سره دې مال ودولت ګټل مقصود نه وي فقهاء کرام فرمايي اګر که د معلم قرآن مقصد الله راضي کول وي او څه ذريعه معاش يې نه وي؛ نو بيا قدرضرورت اجرت اخيستلی شي.

دريم: دا چې د دنيا بازار دې د آخرت د بازار نه غافله نه کړي او د آخرت بازار په مسجد کې دې پکاردە چې دورځې لومړی اودويمه حصه د آخرت دبازار له پاره وساتي اوپه دې باندې هميشه والی وکړي. سلف صالحينو کې چې کومو خلکو تجارت کاو. د ورځې لومړی او دويمه حصه به يې د آخرت له پاره پرېښي وي او دورځې مينځنی حصه د تجارت له پاره چنانچې کله چې ماسپښين او مازديګر آذان واوري؛ نو د فرض دادائيګي له پاره دې کاروبار پرېږدي.

څلورم: داچې بازار کې دې هم هميشه د الله ذکر کوي او تسبيح وتهليل کې دې مشغول وي

پنځم: داچې د بازار او تجارت دې سخت حرص نه لري داسې نه چې تولو نه اول دی بازار تلار شي او بيا تولونه وروسته راوخي.

شپږم: داچې صرف حرامو نه بچ کيدوباندې دې اکتفاء نه کوي. بلکې شکوک وشبهات موقعو نه دې هم بچ شي محض فتاوی باندې انحصار کول کافی نه دي، بلکې خپل زړه نه دې فتوی واخلي او کومه خبره چې زړه کې راشي هغې نه دې پرهيز وکړي (منهاج القاصدين)

يا رب العالمينه مسلمانانو ته د خپلو احکاماتو قدر او عمل ورنصيب کړه. (آمين)

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمين

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالقعدې میاشتې لومړی خطبه

دصبر، شکر او ذکر بیان:

د ذو القعدې په میاشت کې د حالاتو واقعات مخې ته راغلل تاسو په دې موضوعاتو پاندې
بیان کولی شئ غزوه خندق چې د قرآن کریم په احزاب سورت کې ذکر شوي ده. د ذو القعده
میاشت کې شوي ده ذو القعده (۵) هجري کې د پردې حکم باره کې آیت نازل شو او په همدې
کال باندې د زنا د حد حکم نازل شو د تیمم حکم نازل شو د صلوة خوف حکم نازل شو
د نبوت میاشتې اوکال،

په ۷ ذو القعده (۵) هجري حضرت نبي اکرم ﷺ د عمري په عرض سره صحابهٔ کرامو سره ولاړ
او دی ﷺ د حدیبیه په مقام بند کړل شو او د صلح حدیبیه واقعه راپیښه شوه. دې صلح ته په
قرآن پاک کې فتح مبین ویل شو ددې میاشتې په اته ویشتم تاریخ امام ابن تیمیه ﷺ
وفات وشو او په همدې میاشت کې سلطان عالمګیر هم وفات شو. چې د مغل بادشاهانو کې
ځدانترسه بادشاه و او په همدې اته ویشتم (۲۸) کې حضور ﷺ طائف د تبلیغي سفرنه
واپسي تشریف راوړ (۷) هجري کې حضور ﷺ صلح حدیبیه د عمري قضاء ادا کړه واپسي
کې حضرت میمونه رضی اللہ عنہا سره نکاح وشوه ذوالقعده میاشت کې رئیس المنافقین عبدالله
بن ابی مړشو ذوالقعده کې عظیم محدث امام ابوجعفرطحاوي رحمہ اللہ وفات شو

بهرحال د غزوه خندق. صلح حدیبیه. صلوة خوف. سفرتبلیغ نه واپسي. قضاء عمره او د
میمونه رضی اللہ عنہا سره نکاح ددې واقعاتو د صبر. شکر او ذکر سره ډېر نژدې تعلق دی. دې وجې
نه مو ردې خطبې عنوان صبر. شکر او ذکر کیښود دا ټول خصائل حمیده داسې دي که د یو
انسان په دې باندې عمل وشي؛ نو ده ته به ده دنیا وآخرت کامیابي ملاؤشي

ذوالقعده میاشت:

ځینې خلک ذوالقعده میاشت کې ودونه کول منحوس ګڼي او دې ته خالي میاشت وایي؛ نو
دا بالکل غلط دی یوه ورځ یا میاشت منحوسه ګڼل نه دي پکار. اسلام کې ددې ټولو باطلو
نظریاتو وتوهماتو ګنجائش نشته او ددې ټولو نفي و تردید شوی دی. حضور ﷺ واضحه
طورباندې ویلي دي چې بغیر د حکم الهی نه یو شی نه فائده ورکولی شي او نه نقصان
ورکولی شي دیو مکان. دکان. ځناور. زمان. چرند. پرند. سپوږمی. ستوري؛ ورځ
او شپه په یو شي کې هم نحوست نشته. که نحوست وي؛ نو دهغه تعلق د انسان د ځپلو
اعمالو سره دی که اعمال موافق سنت وشریعت دي؛ نو برکت دی که خلاف شریعت او سنت
دی نو سرانقصان وخساره به وي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د صبر فضیلت:

ارشاد رباني دی وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ۗ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ۝ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ۝ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ۝ (پ۲ آیت۱۵۵)

په دې آیت کې صابرینو ته زیری ورکړل شوی دی.

ترجمه: مونږ به خامخا تاسو ازمینبت کړو په ویره ولږه او د مال و جان او میوو په کمي سره. او تاسو زیري ورکړئ صبرکوونکو، هغو ته چې کله څه قسمه مصیبت ور ورسیږي؛ نوهغوی وایي چې مونږ د الله ملکیت یو او مونږ ټول دهغه طرفته رجوع کوونکي یو. دا هغه خلک دي کومو باندې چې د الله له طرفه خاص خاص عنایتونه وي اوعام رحمت به هم وي اوهمدا خلک لاره موندونکي (صحیح هدایت یافته) دي.

تشریح: حدیث کې راځي چې الله تعالی کوم بنده خوښ کړي او دوست یې کړي؛ نو دهغه طرفته بلاګاني دومره په تیزي سره راځي لکه خنګه چې اوبه زوري طرفته روانې دي.

حضوراکرم ﷺ به د کوچني تکلیف پر مهال هم (اناالله وانا اليه راجعون) ویل. یو ځل هوا سره ډیره مړه شوه؛ نوحضور ﷺ انالله وانا اليه راجعون وویل، حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها وفرمایل: یارسول الله! داهم څه مصیبت دی؟ وې فرمایل: عائشې! هر هغه کار چې په هغه باندې پریشاني او زړه ته درد ورسیږي هغه باندې (انا لله الخ) ویل پکار دي. نبي کریم ﷺ فرمایي کوم بنده چې د وبرې او مصیبت په وخت کې د چیغو او ژړلو په ځای باندې دا کلمات اووایي. نو الله تعالی په دنیا کې دې انسان ته نعم البدل ورکوي او آخرت کې د دې ثواب ده له پاره جمع کوي. حضرت امام شافعی رحمه الله نه منقول دي چې دې آیت کې خوف نه مراد د الله ویره ده او جوع نه مراد درمضان المبارک روژې دي او نقص من الاموال نه مراد زکات دی اونقص من الانفس نه مراد امراض او ناوروغي دي اونقص ثمرات نه مراد د اولاد مړه کیدل دي؛ ځکه چې دا د انسان دزړه میوه ده، ترمذي شریف د ابوموسیٰ اشعري رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل کړې دي چې کله د یو کس اولاد وفات شي؛ نوالله تعالی فرشتو ته فرمایي تاسو زما د بنده هلك قبض کړ، هغوی عرض وکړي هوا مونږ د هغه روح قبض کړ، ارشاد کیږي تاسو زما د بنده د زړه میوه قبض کړه، هغوی ووایي یا الهی همدغه رنګ ده بیا ارشاد وشي چې بیا زما بنده څه وویل فرشتې عرض کوي هغه ستاسو حمد وثنا بیان کړه او,إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، وې وویل. ارشاد وشي ده له پاره په جنت کې یو کور جوړ کړئ او بیت الحمد نوم ورته کیږدئ (تفسیر کشف الرحمٰن)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صابرینو باندې خدایي انعامونه:

صابرینو باندې به د الله له طرفه مختلف قسم خاص خاص عنایتونه کیږي چې په هغو کې ټول ځریدل وي او دا هغه خلک دي چې د هغوی صحیح اوحقیقي مقصد طرفته رهنمایي شوي ده ځینې حضرات فرمایي چې صابرینو باندې رحمت د پاسه رحمت او مهرباني د پاسه مهرباني نازلیږي دا خلک د پرلپسې مهربانیو مستحق دي یا هغه مطلب دی چې کوم مونږ بیان کړ چې عامو بنده ګانو باندې کومه مهرباني کیدو واله ده په هغه کې خو به دوی شریکیږي ضرور او هغه مهرباني او رحمت به دوی ته میسر وي، دی نه علاوه دې کسانو ته به نور رحمتونه او عنایتونه میسر وي: چې د دوی د شان او مرتبې په اعتبار سره به دوی باندې نازلیږي.

فہم وخاطر تیز کردن نیست راہ — جز شکستہ می نگیرد فضلِ شاہ
ظفر ادھی نہ اس کو جانئے گا — ہووے کتنا ھی صاحب فہم و ذکا
جسے عیش میں یاد خدا نہ رھی — جسے طیش میں خوف خدا نہ رھا

صبر کوونکو متعلق مرحوم اکبر اله آبادي وایي:

مصیبت میں بھی اب یاد خدا ان کو نہیں آتی — دعا منہ سے نہ نکلی پاکٹوں سے عرضیاں نکلیں

صابرینو له پاره بې حسابه اجر:

الله تعالی فرمایي: اِنَّمَا یُوَفَّی الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ.

بېشکه صابرینو ته به بې حسابه اجر ورکول کیږي. حضرت نبي کریم ﷺ فرمایي چې الله تعالی فرمایي: کله چې زما له بنده ګانو په یو بنده باندې مصیبت د هغه په بدن یا مال یا اولاد باندې راشي بیا هغه په صبرجمیل باندې د هغه استقبال وکړي؛ نو د قیامت په ورځ به ما ته شرم راځي چې هغه ته د اعمالو تله کیږدم او دهغه عمل نامه خلاصه کړم او ویې ګورم. (نزهة المجالس)

د شریعت په رنا کې د چاپه مرګ باندې ماتم کول حرام دي. حضرت نبي کریم ﷺ فرمایي چې: نوحه کول د جاهلیت یو عمل دی او نوحه کوونکي ښځه چې کله مړه شي خدای تعالی به هغې ته د اور لباس او د شغلو کُرته اچوي. (مرې اهل خاندان سره درې ورځو تعزیت کول مستحب دي، دې نه زیات نشته.

حضرت ایوب عَلَیْهِ السَّلَام باره کې الله تعالی فرمایي چې مونږ هغه صابره بیامونده کړ، هغه ځومره ښه بنده دی. هم زمونږ طرفته رجوع کوونکی دی. حقائق کې مذکور دي چې یو ځل الله تعالی حضرت ایوب عَلَیْهِ السَّلَام ته وحي وکړه چې ستا تکلیف باندې د صبرکولوثواب چې ما اویا انبیاوو ته ذکر کړ. نو هغوی کې هر یو دا خواهش و درخواست وکړ، چې کاش! په دې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تکليف کې دوی هم مبتلا وی. خو دا مرتبه ما تاسوته دې له پاره درکړې چې دنيا وآخرت کې خلک ستاسو تعريف وکړي حضرت ايوب عليه السلام صاحب اولاد ومال و بيا کله چې د الله آزمائش راغی: نو ټول مال واولاد ختم شو او خپله هم بيمارشو چې په وجود کې يې پيپ وشو اوهغه کې به چينجي گرځيدل دکلي نه وت او په يوه ويرانه کې به پروت و او صبروشکر سره يې وخت تيراو . د بنځې نه پرته به ورته څوک ورته نژدې نه راته روايت کې راځي چې دا تکليف دوی ته اووه کاله. اووه مياشتې او اووه ورځې و امام رازي رحمه الله فرمايي. چې حضرت ايوب عليه السلام په دې بيماري کې اتلس کاله پروت و او ابليس هم د ايوب عليه السلام په دې صبر باندې په چغو شو . په دې باندې ټول شيطانان دهغه نه گير چاپيره راتاو شو او تيوس يې تري وکړ چې په تاځه وشو؟ ويې ويل چې د ايوب د صبرنه عاجزه راغلم. هغوی تري تيوس وکړ. چې ستا هغه مکروفريب چې په هغه باندې به تا نورمخکيني خلک هلاکول هغه چيرته لاړ؟ ويې ويل هغه ټول د ايوب عليه السلام په مقابله کې ناکامه شو. الخ

کله چې الله تعالی ته د ايوب عليه السلام نارو غي لړي کول منظورشو؛ نوحضرت جبريل عليه السلام ته يې يو انار اوبيو سيب ورکړ. کله چې هغوی دغه وخوړل نو ټول چينجي تري پريوتل بيا هغوی ته حکم وشوچې خپله چپه پښه په خمکه ووهه! هغوی تعميل وکړ، نو د هغه ځای نه گرمې او يخې اوبه راووتلې يخې اوبه يې وڅښلې او گرمو اوبو سره يې ولامبل؛ نوخداى تعالی بالکل تندرست کړ

حضرت نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي چې د مريض فرياد کول تسبيح او د هغه چيغې وهل کلمه او د هغه ساه اخيستل صدقه ده او په خپله بستره ويده کيدل عبادت دی او ډډه باندې اوښتل داسې دي لکه چې هغه د الله په لاره کې د دشمن خلاف جنگيږي. (نزهة المجالس)

دا فضائل هغه وخت کې دي کله چې مريض صبر کوي او د الله طرفته يې رجوع وي لمونځ وغيره چې څنگه ممکن وي ادا دې کړي د زړه نه دې الله طرفته متوجه شي، گني دنيا کې به هم تکليف وي او آخرت کې به هم تکليف وي

د شکر بيان:

دويم صفت جميله شکر دی. مصيبت وتکليف کې صبر او خوشحالي او نعمت کې شکر کول ډېره لويه خوش قسمتي وسعادت دی. د شکر متعلق الله تعالی فرمايي که ته شکر وباسي، نو زه به نعمت نورهم زيات کړم او که شکر نه باسي؛ نو نعمت به درنه ختم کړم او سخته سزا به هم درکړم ارشاد باري تعالی دی:

وَاِذْتَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِيْ لَشَدِيْدٌ.

اوهغه وخت ياد کړه کله چې ستا رب ته خبردار کړې چې که ته شکر وباسي، نو ستا نعمتونه به

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نور هم زیات کړم او که ته ناشکري کوې، نو یقین وکړه زما عذاب ډیر سخت دی

دا خو اګر چې په ظاهره باندې بني اسرائیلو نه خطاب دی، خو قرآن پاک قیامت پورې د اتلونکو خلکو له پاره د هدایت کتاب دی. دې وچې نړۍ دې محمدۍ هر شکر ګزار او صبر شکر کوونکي بنده ته یو خل نبي اکرم ﷺ د صحابه کرامو د یو جماعت نه پوښتنه وکړه، چې څوک دي؟ هغوی عرض وکړ ایمان واله. حضور ﷺ ترې پوښتنه وکړ چې ستاسو د ایمان څه علامه ده؟ هغوی وویل حضور! تکلیف باندې صبر کول او الهي فیصلې باندې راضي پاتې کیدل نبي کریم فرمایل د کعبې په رب می دي قسم وي تاسو بېشکه جنتیان یئ

یو حدیث مبارکه کې راځي چې الله فرمایي چې خیر وشر ما پیدا کړل خوشخبري ده هغو خلکو له پاره چې ما خیر له پاره پیدا کړل او د چاد لاسونه چې خیر جاري کوه اوبه هی ده هغه چا له پاره کوم چې ما شر له پاره پیدا کړل او د هغوی د لاس نه شر جاري کوه! او ویې دي بربادي ده هغه چا له پاره چې زما د حکم نه مخ واړوي (نزهة المجالس)

حکایت:

یو خل حضرت عیسی علیه السلام په یو روند اوګوډ سړي باندې تیریږد. چې په برص کې مبتلا و فالج زده و او بیا یې هم د الله شکر اداکاو چې هغه زده نورو عارضو نه بچ ساتلی یه چې په هغو کې ډیر مخلوق مبتلا دي حضرت عیسی علیه السلام پوښتنه تري وکړه چې الله تعالی ته د کوم مصیبت څخه ساتلی یې. هغه عرض وکړ یا نبی الله! زه خو د هغه بنده نه بهتر یمد ګوم زیره کې چې معرفت خداوندي نه وي (بهجة الانوار)کې دي چې یو کس یو خل کهیر خوږ ل وغوښتل هغه اتفاقي تریخ وخوت هغه خپل غلام ته ورکړ غلام تول وخوړ. آقا پوښتنه تي وکړه. چې څنګه دي وخوړ؟ هغه وویل چې الله تعالی ماته ستاسو په واسطه څومره ښه نعمتونه راکړل ماته شرم راته چې کله ماته تریخ ملاو شو؛ نو ولی ونه خوړه په دی خبره باندې مالک غلام آزاد کړ دغه رازواقعه د محمود او د هغه غلام آیاز هم ده

حکایت:

د حضور ﷺ خدمت اقدس کې یو خل جبرئیل امین راغی او ویې ویل ای محمد! الله تعالی تاسو ته سلام کوي او ارشاد یې وفرمایلو چې ابوبکر ته ووایه چې اوس خو ته ښه شوې حضرت نبي اکرم ﷺ ته په دې خبره باندې تعجب وشو. بیا حضور اقدس ﷺ د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چې ابوبکر! تاته څه تکلیف وؤ؟ عرض یې وکړ یارسول الله! د اووه کالو نه مې په غاښ درد و. حضور ﷺ وفرمایل تا خو ماته بیخي ذکر نه کړی. عرض یې وکړ چې د دوست به مې درته څه شکایت کاو

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چې "شکر کول نیم ایمان دی"

کفایت کتب خانه ثیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په شکر باندې مختلف انعامات وې

شکر باندې مزید انعام. د اخلاقو په صورت کې. دعلمو په صورت کې او آخرت کې د انعام په صورت کې ملاویږي او دغه راز د مرګ په وخت کې ثابت قدمي صورت کې انعام ملاویږي د انعاماتو د شکر ابتداء دهغه ځای نه کیږي کله چې چې ته وګنې چې انعامات ورکوونکی کریم مولا دی نه د هغه څوک شریک نشته او نه په انعام ورکولوکې د هغه څوک مددګار؛ ځکه چې هر یو تنګي اوآساني د الله تعالی له طرفه په بنده ګانو باندې راځي. (قوت القلوب)

په ژبه شکر دادی چې یو بنده د الله تعالی حمدوثنا بیان کړي. دهغه انعام و اکرام بیان کړي. دهغه احسانات ظاهر کړي او د چامعلوک مخې ته د مالک حقیقی شکایت ونه کړي او نه د یو بنده مخې ته د معبود جلیل حق تعالی شکایت وکړي.

دسلف صالحین طریقه داوه چې چې کله به یې هم ملاقات کاو نو دیو بل د حال پوښتنه به یې کوله ؛ نوهغوی به د الله تعالی حمد وثنا او شکر بیان کړ. چنانچې ټولو به حمدوثناکې حصه اخیسته اودا خبره به اجتماعي ذکر الله جوړیدواو که چاته به معلومه شوه چې دابنده د خپل حقیقي مولا شکایت کوي؛ نو دا به یې بده ګڼله. او دهغه نه به یې پوښتنه قدر هم نه کوله چې تپوس کوونکی د شکایت باعث اوجهالت کې حصه دار جوړ نه شي.

او حقیقت دادی چې دداسې مولا کریم شکایت کول بدترین فعل دی چې لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ. (پ۲۵ آیت ۱۰)

دده مثل هیڅ یو شی نه دی ، دهغه په لاس کې دهر یو شي ملکیت دی) چنانچې په یوشي باندې د یې قدرته بنده مخکې د خدای شکایات کول د یو بد جرم دی.

إِذَا الْقُوتُ نَاتِي لَكَ وَالصِّحَّةُ وَالاَمْنُ وَاَصْبَحتَ اَخَا حُزنٍ فَلا فَارَقَكَ الْحُزنُ

کله چې تاسره خوراک، صحت اوامن موجود وي او غمګین حالت کې سحر کړې نوتا څخه دې ددې غم جدایي نه وي. (قوت القلوب)

کتاب الحقائق کې ذکر دي چې نبی اکرم ﷺ یوځل حضرت جبرئیل علیه السلام ته خواهش ظاهرکړ چې تاسو ماته د تبې صورت وښایئ، بیا یوه ورځ حضوراکرم ﷺ د ونې لاندې تشریف فرماشو. څه ګوري چې یو سوربنده زیږ خاښ لاس کې نیولی دی کله چې هغه ونې ته رانژدې شو؛نو ټولې ونې پانې وغورزځولې. حضور ﷺ پوښتنه وکړه جبرئیل دا سوربنده څوک دی؟ هغوي عرض وکړ حضورا دا تبه ده. حضور ﷺ وفرمایل چې کله ددې ونې سره دا کیفیت وي نو بیا دانسان سره به څه کوي. وېې فرمایل چې کله ونې ته رانژدې کیدو سره پانې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وغوښتي د غه رنګ د ستاسو د اُمت په خولې وتلو سره ټول ګناهونه ختمیږي دې وجې نه نبي اکرم ﷺ فرمايي چې د يوې ورځې تبه د انسان د کال کفاره ده.

معارف الحديث کې مولانا محمد منظور نعماني فرمايي: ,,په دې دنيا کې درد هم دی او غم هم او آرام او خوشحالي هم، يعنې هم او ګرمي هم، خوشګواري هم او ناخوشګواري هم. دا ټول د الله له طرفه دي او د هغه په حکم سره هره فيصله کيږي، دي وجې نه په الله باندې ايمان لرونکو خلکو دا حال کيدل پکار دي چې کله يو درد ومصيبت مخې ته راشي؛ نو هغه د د مايوسۍ او نااميدۍ ښکار نه وي، بلکې ايماني صبر وثبات سره دې د هغه استقبال کوي او په زړه کې دې دا يقين تازه کوي چې دا ټول هرڅه د الله له طرفه دي، چې زمونږ کريم او رحيم رب دی او هغه مونږ ته ددې درد ومصيبت نه خلاصی راکوي. دغه راز کله چې د ده حالات سازګار وي او دده هر يو خواهش پوره کيږي او د خوشحالي ټول سامان ورته ميسر وي؛ نو بيا دې هم دی دا د خپلو لاسونو او متو کمال نه ګڼي، بلکې په دې وخت کې دې دا يقين تازه کړي چې دا ټول محض د الله تعالى فضل دی او د هغه بخښش دی، او هغه چې کله غواړي خپل ورکړل شوی هر نعمت واپس هم اخيستلی شي، دې وجې نه په هر يو نعمت باندې د هغه شکريه ادا کول پکار دي.

دا سلام په خاصو تعليماتو کې دي او رسول الله ﷺ په مختلفو طريقو باندې ددې ترغيب وتعليم ورکړی دی چې په دې تعليم باندې د عمل کولوپه نتيجه خو داده چې بنده په هر يو صورت کې د الله تعالى سره وابسته وي او دويمه فائده داوي چې هغه کله د مصيبتونو او ناکاميونه شکست نه خوري او درنځ وغم تسلسل سره دده زړه نه کمزورى کيږي او مايوسي او زړه ماتي دده عملي قوتونه نه شي ختمولې.

"عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَا ابْنَ آدَمَ إِنِ صَبَرْتَ وَاحْتَسَبْتَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى لَمْ أَرْضَ لَكَ ثَوَاباً دُونَ الْجَنَّةِ". (ابن ماجه)

حضرت ابو اُمامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې: د الله تعالى ارشاد دی چې: ای د آدم زويه! که تا د غم په ابتدائي صبر وکړ او زما د رضا او ثواب نيت دې وکړ؛ نو زه به ستا له پاره له جنت پرته په بل نعمت راضي نه يمه، يعنې دصبر بدله جنت ده.

فقيه ابواللّيث سمرقندي رَحِمَهُ اللهُ په خپل سند سره روايت کوي چې انس بن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله ﷺ دا روايت نقل کوي چې الله تعالى د هغه بنده نه ډير خوشحاله وي چې دوډی وخوري او اوبه وڅښي او د الله تعالى شکريه ادا کړي.

حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم ﷺ نه روايت نقل کوي چې ځلورشيان چاته حاصل شو، هغه ته د دنيا وآخرت بنيګړه حاصله شوه، د الله تعالى ذکر کوونکې ژبه، شکرکوونکی زړه،

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صبر کوونکی بدن. او ایماندار ه نیکه ښځه
حضرت فقیه ﷺ فرمایي چې شکر دري شیانو سره کمال ته رسیږي یعنې مکمل کیږي، یو دا چې کله یو نعمت ملاو شي؛ نو د ورکوونکی الله تعالی، تصور دې وکړي او حمدوثنا دې وکړي دویم چې څه ملاو شي په هغه باندې راضي کیدل پکار دي
دریم داچې ترڅو د دې نعمت فائده حاصله وي او د هغه قوت په وجود کې وي؛ نو د منعم یعنې باري تعالی نافرماني دې نه کوي
عمروبن شعیب ﷺ خپل سند سره حضور ﷺ نه دا ارشاد نقل کوي چې کوم بنده کې دوه خصلته وي هغه د الله په حضور کې صابر اوشاکر لیکل کیږي یو دا چې ددین معامله کې ځان نه اوچتو خلکو ته وګوري او د هغوی په قدم د تلو کوشش وکړي.
دویم دا چې د دنیا په اعتبار سره د ځان نه کم خلکو ته ګوري او د الله حمدوثنا بیانوي.

د الله د ذکر بیان:

د الله یاد ډیر لوی نعمت دی. وفرمایل شو ترڅو چې د خمکې په مخ باندې یو کس هم الله الله کوونکی موجود وي قیامت به نه ٔ قائمیږي. ذکر په دوه قسمه دی یوپه ژبه ذکر یو په زړه سره ذکر د دواړو ډیر لوی فضیلت راغلی دی. بهرحال اصل شی قلبی ذکر دی د ذکر حد مقرر نه دی باقي د تمامو عبادتونوحد مقرردی ارشاد باری تعالی دی:

﴿يَاأَيُّهَاالَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوااللَّهَ ذِكراً كَثِيراً وَسَبِّحُوهُ بُكرَةً وَّأَصِيلاً﴾...

ترجمه ای ایمان والو! الله تعالی په کثرت سره یادوئ اوسحرمانبام دهغه پاکیزګي بیانوئ.

تشریح: حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي چې الله تعالی دهر یو فرض حد مقرر کړی دی لیکن ذکر له پارهیڅ یو حد نه دی مقرر. یعنې پاڅیدو، کیناستو، روانه، شپه وړځ، صحرا دریاب. غرض دهغه ذکر کول هر وخت کې مطلوب دي. ددې د پرینبودو څه عذر هم نشته سوا ددې نه چې بنده لیونی شي او ذکر کوونکی پاګل شي د الله تعالی چې خومره په مسلمانانوباندې احسانات دي په دې باندې غوروکړئ او د ذکر الهی کثرت کوه که ذکر لساني وي که ذکر قلبي وي او سحر مانبام د هغه تسبیح وتقدیس کوئ په دې جمله کې ټول طاعات داخل دي. بُکرةً د ورځې اولی برخې ته وایي او اصیل د مانبام برخې ته وایي.
(تفسیر کشف الرحمٰن)

د ذکر یوقسم. کائناتو کې غوروفکر د خدای تعالی صفات جبروت وملکوت او دهغه د قدرت د نشانو چې آسمان اوځمکه کې دي کې غوروفکر اواستغراق ته ذکر مخفي وایي. د ذکر قلبي یو قسم داهم دی چې الله تعالی بنده ګانو ته کوم احکامات ورکړي دي که دهغو تعلق د کولوسره وي یا دنه کولوسره، یعنې امر وي یا نهي. ددې د ادائیګي په وخت کې الله

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

تعالی یاد کړل شي دا هم ذکر بالقلب دی .. اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ.. هغه خلک کومو چې ایمان راوړ، د هغوی زړونو ته د الله په یاد سره سکون ملاویږي یعنې خُنګه چې د وجود غذا خوراک ځُنباک دی، د روح او زړه غذا د الله یاد دی. ځومره چې ذکر زیات کیږي هغومره به روح او زړه ته قوت زیات ملاویږي او ژوند به خوښګوار تیریږي

زندګانی نتوان گفت حیاتے که مراست زنده انست که بادوست وصالے دارد

حضرت ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل چې الله تعالی فرمایي چې کله زما بنده ما یادوي (یعنې زېې ا وزړه دواړو سره ذکر کوي)، نوزه دهغوی سره یم یعنې زه یې مددګار یم هغه ته توفیق ورکوم اوهغه باندې خپل رحمت ورعایت کوم.

اسم اعظم:

حضرت ابوسلیمان دارنې رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي چې ما د یو کامل شیخ نه پوښتنه وکړه چې اسم اعظم کوم یو دی؟ نوهغه وویل آیا ته خپل زړه پیژنې؟ ماورته وویل هو! هغوی وفرمایل چې کله ته وګورې چې ستا زړه د الله طرفته متوجه اونرم دی یعنې لرزیږي؛ نو دغه وخت کې د الله تعالی نه خپل حاجت غواړه دا اسم اعظم دی.

منقول دي چې حضرت ابوالربیع رَحِمَهُ اللّٰهُ ته چا وویل چې ما ته اسم اعظم وښایه؛ نوهغوی وویل چې داولیکه لَوْاَطَاعَ اللّٰهُ يُمِيْطِيْلَهُ. یعنې د الله تعالی فرمانبرداري وکړه هغه به ستا هر یو درخواست قبول کړي ددې نه د هغوی مراد داو چې د الله تعالی اطاعت او فرمانبرداري اسم اعظم دی. ځکه چې ددې په وجه باندې الله مهربانه شي او دعا قبلوي.

حضرت ابودرداء رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضرت نبي کریم ﷺ دا ارشاد نقل کوي چې آیا زه تاسو ته بهترین عمل ونه ښایم چې ستاسو د مالک په حضورکې ډیر پاکیزه دی، ستاسو درجات ډېر اوچتوي. تاسو له پاره د سروزرو او چاندي خرچ کولو نه هم زیات بهتر دی، بلکې هغه جهاد چې هغه کې ته دشمن مړ کړي یا تا مړ کړي، د هغه نه هم بهتر دی، وېې فرمایل چې هغه د الله ذکر دی (تنبیه الغافلین)

مالک بن دینار فرمایي کوم بنده چې د مخلوق په ځای باندې د خالق د یاد نه مانوسه نه وي د هغه عمل ناقص. زړه یې روند او عمر یې بې کاره دی.

د شیطان شکارګاه او اسلحه:

فقیه ابواللیث سمرقندي ابومحمد تابعي نه چې د حضرت انس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شاګرد و نقل کوي چې ابلیس الله تعالی ته وویل ای الله! تا د ابن آدم له پاره داسې ځایونه خاص کړي دي چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

هغوی ستا ذکر کوي نو زما ځای کوم ځای دی؟ وېې فرمایل: حمام، بیا یې وویل چې تاسو د هغوی له پاره د ذکر ځای مجلسونه مققر کړي دي زما د مجلس کوم ځای دی؟ وېې فرمایل بازار بیا یې وویل چې: تا دهغوی له پاره دقرآت او تلاوت ځایونه مقرر کړي دي؛ نو زما قرآت څه شی دی؟ وېې فرمایل اشعار،غلط اشعار،بیا یې وویل چې د هغوی له پاره مو کلام مقرر کړی دی زما له پاره څه دي؟ وېې فرمایل: دروغ بیا یې وویل د هغوی له پاره مو آذان مقرر کړی دی، زمونږ له پاره آذان څه شی دی؟ ارشاد وشوچې ساز و سرود. د سندرو سازوسامان وغیره. بیا یې وویل هغوی له پاره مو قاصد رسول مقرر کړی دی زمادپاره قاصدځوک دی؟ وېې فرمایل کاهن، بیایې وویل هغوی له پاره دي کتاب مقرر کړی دی زما له پاره کتاب څه شی دی؟ ارشاد وشوچې نقش ونګار؟ بیا یې وفرمایل چې هغوی له پاره دي د بنکار وسائل پیدا کړي دي ما له پاره جال څه شی دی؟ وېې فرمایل: زنانه، بیا یې وویل د هغوی له پاره دي خوراك مقرر کړی دی زما له پاره خوراك څه شی دی؟ ارشاد وشو په کوم خوراك چې زما نوم نه وي اخیستل شوی. بیا یې وویل د هغوی دي د ځښلو بندوبست کړی دی زما ځښلو به څه وي؟ارشاد وشو هر نشه لرونکی شی.

سارا جهان خلاف هو پروانه چاهئیے مدنظر تو مرضی جانا نه چاهئیے

اب اس نظر سے جانچ کے تو کر یه فیصله کیا کیا تو کرنا چاهئیے کیا کیا نه کرنا چاهئیے

الله تعالی دي مورږ اعمال صالحه سره مزین کړي. آمین یارب العٰلمین.

د الله د ویرې برکت:

په یو حدیث کې دي الله تعالی فرمایي چې زما دي خپل عزت وجلال باندي قسم وي؛زه به خپل بنده باندي دوه ویرې اودوه امنه جمع نه کړم کوم چې دنیا کې ما نه ویریده هغه به قیامت کې بې خوفه کړم او کوم چې دنیا کې مانه بې خوفه و هغه ته به قیامت کې امن نه ورکول کیږي. (ابن حبان)

حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي چې د الله دګرفت نه بې خوفه کیدل او د هغه د رحمت نه نا امیده کیدل دا په لویو ګناهونو کې شمار دي (زواجر)یا الله مونږ ته خیر نصیب کړي. آمین

و آخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالقعدې مياشتې دويمه خطبه:

دشرک، تکبر اوظلم بيان

ددې ذوالقعدې مياشت اولنۍ خطبې کې د صبر شکر ذکر بيان و اوس په دې خطبه دهغو د ضد شرک، تکبر او ظلم بيان به وي خنګه چې د صبروشکر وذکر باعث کاميابي ده دغسې د شرک وتکبروظلم باعث بربادي ده د ټولو نه اول به دشرک مذمت بيانيږي. شرک د ټولو نه لويه ګناه ده او د ټولونه لوی ظلم دی.

دمشرک ښښنه نه کيږي

ارشاد باري تعالی دی: ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا﴾... (پ۵ آيت ۴۸)

ترجمه: بيشکه الله شرک نه معاف کوي اوله دې پرته نور ګناهونه چې هغه يې وغواړي ښښي او چاچې شرک وکړ بيشکه هغه ډير لوی ظلم وکړ.

تشريح: يعنې شرک دومره لويه ګناه ده چې ددې به يو حالت کې هم ښښنه نه کيږي ددې نه پرته چې خومره لويه ګناه وي هغه د سزاسره يا بغير د سزانه قابل معافي ده دکائنات هرشی آسمان، ځمکه، سپوږمی ستوري، سيارې، اور، اوبه، خاوره او هوا ټول د الله په فرمانبرداري کې لګيدلي دي، يو انسان دی چې ډېرې نافرمانې کوي او مخلوق د الله سره شريک کړي. الله پرېښودل او انبياوو، فرشتو، امامانو او جنات پيران اوښاپيرې ته مشکل وخت کې آواز کول شرک دی.

قبرونو باندې تعظيل سجدې کول او نذرونياز کول شرک دی، اور، اوبه، هوا، سپوږمی، ستوري، بُتان وغيره ته سجده کول شرک دی. د الله نه پرته خوک مالک ومختار منل حاجت روا فرياد رس ګڼل خوک د نفع نقصان مرګ وژوند عزت وذلت مالک ګڼل دا شرک دی موحد باره کې شيخ سعدی رحمه الله فرمايي: که خه هم هغه ريزه ريزه کړل شي مګر د الله نه پرته بل چا څخه نه ويريږي او نه تيښيږي.

موحد که در پائے ريزی سرش وګر اره می نهی برسرش

اميدو هراسش بنا شد زکس همين است بنياد توحيد بس

حضرت يوسف عليه السلام په جيل کې خپلو ټولو ملګروته د توحيد دعوت ورکړ او د شرک نه د توبې او دبيزاري طرفته يې راو غوښتل. قرآن کريم کې راځي حضرت يوسف عليه السلام فرمايل ﴿يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾... (پ۱۲ آيت ۳۹ سورة يوسف)

کفايت کتب خانه ټيلی ګرام چينل
https://t.me/kafayat2395

ای زما دقید خانې ملګرو، آیا مختلف او جدا جدا خدایان بهتر دي که یو خدای او معبود بهتر دی چې د ټولو نه زبردست او یو دی

فائده معلومه شوه چې د توحید عقیده داسې بنیادي عقیده ده چې دهغې دعوت باید د ټولو اول هر حال کې ورکړل شي. که څه هم د مشکلاتو په حالاتو کې وي یا د آسانې حالت کې وي ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام د دعوت توحید له پاره مبعوث کړل شو او دا د هغوی یواځنی مقصد و وفرمایل شو چې د الله نه پرته تاسو چاته آوازونه کوئ هغوی په څمکه وآسمان کې د یوې ذرې مالکان هم نه دي او په دې کې یې ذره برابرحکم او تصرف هم نه چلیږي. قرآن کریم کې دي: ..قُلِ ادعُوا الَّذِينَ زَعَمتُم مِن دُونِ اللَّهِ لاَ يَملِكُونَ مِثقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلاَ فِي الاَرضِ وَمَا لَهُم فِيهِمَا مِن شِركٍ وَّمَا لَهُ مِنهُم ظَهِيرٍ..،(پ١٢ سورة سبا آیت ٢٢)

آسمان وځمکه کې د الله نه پرته د چا ذره برابر تصرف واختیار هم نشته.

تاسو ﷺ وفرمایئ چې څوک تاسو د الله نه پرته د خدایې شریك ګڼئ هغوی ته آواز کوئ هغوی ذره برابراختیار هم نه لري نه په آسمان کې او نه په ځمکه کې او نه ددی دواړو په تخلیق کې څوک شریك دي او نه په دې کې څوک د الله د کارونو مددګار دی. یعنې نه ایجاد عالم کې د چا دخل شته او نه موجودیدو نه پس د چا دخل شته، نه مستقل اختیار شته او نه نیابتي اختیار شته.

حضور اکرم ﷺ ته حکم وشو چې تاسو ﷺ دا اعلان وکړئ چې زه خپله بنده ومخلوق یم، زه د ځه نفع ونقصان مالك نه یم. نه زما په اختیار کې دي. قرآن پاك کې دي:

..قُل إِنِّي لاَ أَملِكُ لَكُم ضَرًّا وَّلاَ رَشَداً قُل إِنِّي لَن يُّجِيرَنِي مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ وَّلَن أَجِدَ مِن دُونِهِ مُلتَحَدًا..،(سورة جن پ٢٩ آیت ٢٠)

حضور ﷺ هر وخت کې الله طرفته دعوت ورکړ.

ای رسول! تاسو وواینئ چې بېشکه زه ستاسو د نقصان او فائدې اختیار نه لرم او ووایه چې ما یه د الله نه پرته څوك بچ نه کړي، او نه به چیرته د هغوی نه خلاصي بیامنده کړم.

د انسان دري حالتونه:

د انسان دري حالات دي: (١) کله چې هغه هیڅ هم نه و، خدای قدوس د عدم (نیشت) نه وجود ته راوړ. (٢) لطفه وه. مړه وه هغه یې ژوندی کړه. (٣) بیا الله تعالی د هغه پرورش وکړ عقل وعلم یې ورکړ اوس د انسان بیشمیره حاجات وضروریات دي هغه هر وخت د الله محتاج دی، له دې وجې نه ده لره پکار دي چې هغه صرف اوصرف د هغه عبادت وکړي د چاچې هر وخت محتاجه وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت ابراهیم علیه السلام چې کله کفارو اور ته وغورځاو؛ نو حضرت جبریل امین د الله په اجازت باندې راغبی اوپوښتنه یې ترې وکړه چې که څه حاجت وی؛ نو ووایئ حضرت ابراهیم علیه السلام وفرمایل چې حاجت شته خو تاسو نه نه صرف الله ته حضرت جبرئیل علیه السلام عرض وکړ چې بیا خپل حاجت الله ته بیان کړئ دې له پاره چې هغوی مدد وکړي ویې فرمایل هغه پټ او ښکاره دواړو باندې پوهیږي؛ نو حضرت ابراهیم علیه السلام عملاً درس ورکړ چې زه صرف د الله څخه حاجت غواړم؛ ځکه چې هغه هر خای کې حاضر وناظر دی. هغه د هرډول حال نه باخبره دی. لږې او نږدې څخه وآسمان کې یو شی هم ددوی نه پټ نه دی. که په غرونو کې وي یا خنګلونوکې یاسمندرونوکې، تیاره کې وي یا رڼا کې وي، هر خای کې د الله تعالی حکم جاري او نافذ دی

مرګ. ژوند . د رزق تنګي وفراخي د ده په قبضه کې دي. فتح او شکست د هغه په قبضه کې دی مرادونه او حاجتونه پوره کول، مصیبتونه لرې کول او مشکل حالاتو کې مرسته کول. دا ټول د ده په قبضه او قدرت کې دي. د یو نبي یا ولي په اختیار کې نه دي. دې وجې نه صرف د الله مدد پکار دی حضرت لقمان علیه السلام خپل زوی ته نصیحت وکړ قرآن پاک کې هم دهغه ذکر دی ..چې ای زویه! د الله سره شوک شریک مه ګڼه؛ ځکه چې دا ډېر لوی ظلم دی ..

حاصل دا چې مشرک څومره خومره عبادتونه او طاعتونه وکړي. څومره رفاهي اومفاد عامه کارونه وکړي د هغوی به هر ګز بښنه نه کیږي؛ ځکه چې الله خالص عمل قبلوي

عالم ارواح کې ټولو د وحدانیت اقرار وکړ:

..وعدهٔ الستُ..یعني کله چې الله تعالی ارواح پیدا کړل؛ نو ټولو روحونو نه یې وعده وغښته چې..الستُ بِرَبِّكُم..آیا زه ستاسو ټولوپروردګار نه یم. ټولو روحونو په یو آواز باندې آواز ورکړ ..قَالُوا بَلىٰ..بېشکه ته زمونږ رب یې. خو دنیا کې ډېر کم خلک عقیده توحید باندې قائم پاتې شو او اکثر خلکو د الله سره شرک وکړ، ځکه چې الله وفرمایل ..وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِاللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ.. (پ۱۳ته ۱۰۵سوره یوسف) او په دې کې اکثر په الله باندې ایمان نه لري . بلکې هغوی شرک کوي ټول پیغمبرانو توحید عقیدې د تبلیغ له پاره راغلل او تمام آسماني کتابونوکې عقیده توحید صحیح ساتلو له پاره تعلیم ورکړل شوی دی حضرت نبي کریم ﷺ ابن عباس رضی الله عنه په یو خاص انداز کې پوهه کړ ویې فرمایل: ..ای هلکه! الله یاد ساته هغه به تا یاد ساته الله یاد ساته الله به خپلې مخې ته پیدا مونده کړې او کله چې غواړې نو الله نه غواړه او کله چې مدد غواړې نو صرف د الله نه غواړه او یقین ساته که ټول مخلوق تاته نفع رسولو ته راجمع شي؛ نوځومره چې الله لیکلې ده د هغې نه زیاته نه شي در

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

رسولي د غه راز نقصان هم الله قلم او چت کړي ليکل او کاغذ وچ شو . . د حضرت انس رضي الله عنه حديث کي حضور اکرم ﷺ فرمايي چي هر يو کس ته پکار دي چي د خپل حاجت شيان الله نه غواړي تر دي چي مالکه به هم د الله نه غواړي او که د خپلې تسمه وشليږي؛ نو هغه به هم د الله تعالى نه غواړي. الله تعالى چي کومه روزي ليکلې ده، هغه به هر صورت کي ملا ويږي يو کس ته حضرت نبي کريم ﷺ کجوري ورکړي او ورته يې وفرمايل: که ته نه وی راغلی؛ نو دا کجوري به خو د بخود درتلي . . او مشائخ او بزرګ فرمايي که بنده د روزي نه وتښتي نو رزق به ورپسې داسې ورځي لکه څنګه چي تښتيدونکي بنده پسې مرګ ورځي او ترڅو چې د مرګ فرشته مخې ته راغلې نه وي، دي بنده نه رزق نه ختميږي. دي وخت کي د دنيا روزي ختمه شي او د آخرت روزي شروع شي. د دنيا د روزي آخري حصه د آخرت د روزي د آغاز سره ملا وي يو بزرګ نه چا د بدن د خوراک باره کي پوښتنه وکړه هغه وويل: پريږده! تاباندې دوجود څه لګيدلي ده چاچې اول پيدا کړی دی هغه به يې دوباره هم جوړوي. په دې چې څه مرض راشي؛ نوجوړونکي ته يې مخکې کړه. ګوري نه کله چې يو شی خراب شي؛ نو جوړوونکي ته وسپارل شي. چې هغه يې جوړ کړي. څوک چې عقيده توحيد باندې قائم پاتې وي او د شريعت اتباع وکړي د هغه کارساز به الله وي هرمشکل کې به د هغه مدد کوي. هغه سره به محبت کوي. خپله مکاشفه به ورته نصيب کړي. د هغه حفاظت به وکړي او هغه به ده له پاره کافي وي. هغه ته به خپله عطا نصيب کړي. دِه ته به د عين اليقين او چته مشاهده نصيب کړي او چاچې د عقيده توحيد نه مخ واړاو هغه مردود او پوند شو، د هغه زندګي تنګه شوه

د شرک اقسام:

(۱)، يو شرک خو دا دی چې د متعدد خدايانو عقيده وساتل شي لکه فرقه ثنويه، هغوی وايي چې يو خدای خالق خير دی اويوخالق شر دی. فاعل خير نور دی او فاعل شر ظلمت دی. مجوس وايي چې د خير خالق يزدان دی او د شر خالق اهرمن دی.

(۲)، عيسايانو د اقانيم ثلاثه عقيده لرله او ويل به يې چې خدای او حضرت عيسىٰ عليه السلام او دهغه مورحضرت مريم عليها السلام دا درې واړه خدايان دي، الله يو جوهرفرد دی او ددې درې نه مرکب دی درې واړه يو دي او يو دري واړه دی.

(۳)، د شرک يو قسم داهم دی چې د الله نه علاوه دبل چا عبادت وکړل شي، چې هغه به مو خدای سره ملاوکړي. څنګه چې د بُت پرستو عقيده ده چې الله ډير عظيم دی او مونږ ډير زيات ذليل و خوار يو لهذا د دومره لوی سرکار قُرب حاصلولو له پاره معزز مخلوق مثلاً: فرشتې، لمر، سپوږمی، ستوری، اور، اوبو وغيره عبادت کوي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

۴، شرک تقلید دادی چې کنلو باندې شرک کول په دې خیال باندې چې زمونږ آبا و اجداد به هم دا عبادت کاوو. مونږ به هم د دوی تقلید کوو. لکه د نن سبا اکثر اهل بدعت او قبر پرست همدا خبره کوي

۵، شرک اسباب یعنې اسباب موثر حقیقي ګڼل چې خوراک سره خپته مړیږي او اوبو سره تنده ماتیږي. جامې سره پرده راخي دواء سره آرام راخي. رڼا لمر څخه وي؛ نو دې خلکو دا اشیاء موثر حقیقي وګڼل او دخدای په ځای مادي پوري ونښتل او خپله ژندګي یې خوراک څښاک او بنه ژوند تیرول جوړ کړي دا هم شرک دی

۶، شرک اعراض یعنې ریاکاري ښودنې له پاره بنه نیک کارونه کول. د دې نه دالله رضا خوښودي مقصود نه وي. بلکې د خپل مرتبت جاه وعزت فکر کیږي. په حدیث کې دي ته شرک ویل شوي دي

د شرک نجام:

پورته ذکر شوي د شرک اقساموکې چې انسان په یو کې هم مبتلا وي او توبه و نه باسي او خپل حالت سم نه کړي؛ نو دده خاتمه به په کفر باندې وي او دده خلاصی به نه کیږي فاسدې عقیدې واله چې خومره هم د خیر کار وکړي آخرت په اعتبار سره بې فائدې. بلکې وبال دی قبرونو نه سجده ګاه جوړول. د دوی لوی والی او تعظیم کول. هغوی طرفته مخ کول او لمونځ کول. د بزرګانو د ټرب حاصلولو له پاره او د دوی نه مرادونه پوره کیدو له پاره د هغوی په نوم خیراتونه کول. متایاني تقسیمول. هلته تګ او خو ورخې هغه ځای باندې قیام کول چې دی سره به دابزرګ دده مرادونه پوره کړي دا واضحه شرک دی.

حضور ﷺ وفرمایل چې دخدای لعنت دي وي یهودو نصارئ باندې چې هغوی دانبیاوو قبرونه سجده ګاه جوړ کړل نن اکثر د بزرګانو قبرونه د شرک مرکزونه جوړ شوي دي

حضور اکرم ﷺ دعا وغوښتله ای الله! زما قبر سجده ګاه مه جوړوه. چې هغې ته سجدې کیږي ..خینې خلک قبرونوته لاړ شي داسې ویږي. تعظیم اوحرمت وعاجزي سره خې چې داسې مسجدونو کې هم نه کوي، قبرونو باندې ډیوې بلوي په قبرونو باندې چله شي کوي په هغو باندې خادرونه خوروي په هغو باندې منجوران کینوي اوپه قبرونوباندې ناسته دمسجد دناستې نه زیاته بهتره ګڼي. د قبرونو منتوته غواړي د هغو طواف کوي سجده کوي په دیوالونواودرونواوقبرونوباندې پراته کاڼي راخلي اوپه ځان اوپه سینه اوانګو یې مړي، په قبرونوباندې یې لاسونه ترلې وي او ولاړ وي او دقبرونوخاوره بطورتعظیم وړي، صاحب مزار ته آوازونه کوي اوهغه ته فریاد کوي، هغه نه مدد غواړي، روزي، تندرستي او اولاد تري غواړي. هغوی نه دمصیبتونو خنمیدو دعاګاني غواړي، دا ټول ناجائزاوشرک دي اوښکاره

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

گمراهي ده دي وجي نه چي دي کي يوکارهم نه دالله رسول کړی او نه صحابه کرامو او نه تابعينو او نه ائمه دين کړی دی او دا کيدای نه شي چي دا کار مشروع اودرست وي او دهغوی نه کول بلکي منع کول دا ددي خبري دليل دی چي داکارشرک وگمراهی ده.

قبرونوکي عرس کول:

مشرکين اهل کتابو به خپل پيغمبرانو اوبزرګانو په قبرونو باندي عرسونه کول او زيارتونه پاره به راجمع شو اوبې هوده خبرو کي به مشغول شول، حضوراکرم ﷺ خپل اُمت ددي خبرونه منع کړ د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دی چي حضور ﷺ فرمايي چي زما په قبر باندي عرس مه کوئ. بلکي په ما باندي درودشريف راليږئ، ،،ستاسودرودچې چېرته هم وي ماته رارسيږي..او دا خبره ښکاره ده چي د حضور ﷺ قبر اطهر دډنيا په مخ تولوقبرونونه بهتر او افضل دی کله چي په دي باندي عرس کولو نه ممانعت وشو؛ نو د نورو قبرونو باندي چې د هرچا وي بدرجه اولی منع دی (مجالس الابرار)

د اسلام معنا:

د اسلام مطلب سراسرعقيده توحيد دی يعني د الله دوحدانيت اقرارکول او اخلاص سره دهغه مطيع وفرمانبردارجوړيدل او کوم چي دالله پاک دطرفه احکامات راغلي دي په هغه باندي ايمان راوړل. قرآن پاک اسلام دشرک مقابله کې پيش کړ. الله فرمايي:

قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ. (پ۷آيت۱۵)

په دی آيت کي دتوحيد بيان دی.

حضوراکرم ﷺ ته حکم دی چي تاسو ﷺ ووايئ چي آيا زه د خدای نه پرته بل څوک خپل معبود او خدای جوړ کړم چې د آسمان وځمکې خالق دی او هغه په تولو باندي خوراک کوي، تاسو ﷺ وفرمايئ چې ماته خو داحکم ملاو دی چې زه د تولو نه اوله فرمانبرداري قبوله کړم او دا چې ته هرګز د مشرکانو ځخه مه کيږه.

خداوندي صفات:

فرض توحيد دادی چي انسان دزړه نه عقيده وساتي چې الله يو دی، اول دی، دده بل ثانی نشته په دي کي هيڅ شبه نشته. غائب او غير موجود نه دی،عالم دی جاهل نه دی، قادردی عاجزنه دی، ژوندی دی په هغه باندي مرګ نشته، قيوم دی غافل نه دی، صابر دی جلدبازنه دی. اوريدونکی اوليدونکی دی، بادشاه دی د هغه بادشاهي ته زوال نشته، د وخت نه پرته قديم دی د حد نه پرته آخر دی هيڅ حد نشته. باقي دی فنا پرې نشته، پاتې کيدل دده دائمي

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

صفت دی حادث نه دی. ابدالآبد دایمي دی. دده د دوام هیڅ انتها نشته. دده د کون اغاز نشته. دده وقدیم کیدو ابتداء نشته. دده دابدیت انجام نشته. هغه په خپل اولویت کې آخر دی او خپل آخریت کې اول دی. دده اسماء وانوارات وصفات نه مخلوق دي اونه دده نه جدا دي هغه دهر شي نه مخکې دی اوهرشي نه وروسته دی. هرشي نه اوچت دی. هغه په عرش باندې قرارنیولی او له کیف وتشبیه پرته یې قرارنیولی، هرشي باندې پوه دی، هرشي باندې قدرت لري، هرشي باندې یې احاطه‌ده، کوم چې دده مخې ته دي. الله تعالی داسماء وصفات قدرت وعظمت اوکلام ومشیت مالك دی دده انوارغیر مخلوق اوغیر حادث دي هغه خپل تمام اسماء صفات اوکلام وانوارارادت سره به همیشه قائم اوموجود وي ده باندې به کله هم فنا نه راځي. هغه صاحب ملك اوصاحب عزت وجبروت دی مخلوق وامرسلطان وغلبه هم هغه مالك دی خپل مخلوق وسلطنت چې خپل امر سره چې څه غواړي، څنګه غواړي حکم ورکوي دده له حکم نه پس څوك حکم نه شي ورکولی. د هغه دمشیت نه پس د بنده مشیت هیڅ حقیقت نه لري. که د یو شي باره کې وغواړی هغه به کیږي او صرف هغه به کیږی کوم چې هغه وغواړي بنده د هغه په رحمت سره دهغه د معصیت نه بچ وي او د هغه د محبت په سبب د هغه د محبت او اطاعت توفیق ملاویږي، په دې تولو کې هغه یو دی د هغه څوك شریك نشته، په دې کې یو شی هم د هغه مددګار نه دی، د عقلونو نه بالاتر، د فهم اوپوهې نه بالاتر هغه داسې دی لکه چې خپله یې خپل توصیف وتعریف کړی وي اود مخلوق دبیان کړی شوي وصف نه بالاتر دی (قوت القلوب)

میری ہستی ہے خودشاهد وجود ذات باری کی دلیل ایسی ہے یه جو عمربهر رد ہو نہیں سکتی

د توحید وقدرت دلائل:

قرآن پاك کې د توحید دلائل بیان دي. مثلاً فرمایي ,,آیا ته دا اوبه د بڼکی په رحم کې اچوې؟ آیا دې نه ته ماشوم پیدا کوي یا د دی اودستا پیدا کوونکی موږ یو؟ اوپه موږ باندې چا زیاتی یونه ورلو (یعني زموږ له حکم نه څوك تښتیدای نه شی)او مرګ موږ دي وجې نه مقرر کړی دی چې ته او ستا پشان خلک پرې بدل کړو (یعني تا مړ کړو او ستا نه پس نورخلک پیدا کړو)او مون ږ به تا دوباره په هغه صورت کې پیدا کوو چې نن یې ته په پیژنې، اوضرورته مخکې پیدا کولو باندې پوه شوی یې نو بیا ولې زموږ قدرت نه یادوې؟ آیا ته چې څه څمکه کې کرې هغه ته ګوري. نو آیا ددې تخم راتوکوونکی ته یې یا موږ؟ که موږ وغواړو نو کوم څه چې تا کرلي دي هغه به موږ یې دانه راوتوکوو ته وویږیږه او په خپل کوشش باندې ښیمانه شه اوبیا وایه چې په تحقیق سره موږ تاوانیان یو، بلکې موږ روزي نه بے نصیبه یو. آیا ته دغه اوبه ګوري؟ چې ته یې د تندې سرولولې په باره ځښې؟ آیا دا د سپینو وریځو نه تاسو

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

راویستي دي که موږ؟ که موږ وغواړو : نو اوبه به ترخې کړو په دې نعمت باندې د الله تعالی شکر ولې نه ادا کوئ آیا تاسو دا اور ګورئ کوم چې تاسو راوباسئ؟ آیا دغه ونه تاسو پیدا کړیده یا ددې پیدا کوونکي موږ یو؟ دغه اور موږ نصیحت جوړ کړی دی چې ته وګوره او ددوزخ اور یاد کړه او موږ دا اور دمسافرو اومقبول له پاره متاع جوړ کړی دی

مرد بینا کو فقط ارض وسماء کافی هے یهی نظاره پنے یاد خدا کافی هے

قرآن مجید کې د الله تعالی په وجود باندې هم ددې نه استدلال شوي دي دالله تعالی کاریګري ده چاچې هر یو شی ښه پوخ جوړ کړی دی د الله تعالی به کاریګري کې به تاسو تفاوت فرق محسوس نه شي بیا دوباره وګوره څه چوندی وینې؟

الله تعالی هر یو شی پیدا کړي دي. بیا یې د هغه یوه اندازه مقرر کړې ده د خدای تعالی په جوړښت کې ردوبدل نه وي .. د خدای تعالی په طریقو کې رد وبدل نه شي موندلی ..اوس صفا ظاهره ده کوم شی چې کامل،مرتب اومستمر النظام وي هغه به خود بخود نه وي پیدا شوی. بلکې یو صاحب قدرت اوصاحب اختیار به پیدا کړی وي

کیا هے جس نے اس عالم کو پیدا اس کوکیا کهئے خرد خاموش هے اودل یه کهت هے خداکهئے

نن چې سائنس ترقي کړې ده. جدید زمانه دایجاداتو په بهتات کې ده. د مشینرۍ دور په عروج باندې دی. روبوټونه تیارشو،د کمپیوټر ایجادشوی دی. دخلاګانو سفر شروع شوی دی سپوږمۍ اومریخ ته انسان ځان رسولی دی. د کائناتو په سلګونو رازونه ښکاره شوي دي. په سمندر کې ډېر حیرانوونکي شیان: پټرول او معدنیات موندل شوي دي. مګر قرآن پاک چې د توحید باري تعالی باره کې څه ویلي دي هغه هماغه شان دي،هیڅوا رد نه کړل. په هغه کې چا ترمیم واضافه ونه کړای شوه. اوس چې څوک دکائنات دامضبوط نظام ګوري او بیا هم وایي چې داهر څه خپله وجود کې راغلي دي دا دهغوی دعقل فتوردی. یوه سټنه خودبخود نه شي جوړیدای. دیو کوریوه خښته خودبخود نه شي جوړیدای؛ نود کائنات داعظیم نظام چې ډیر محکم اومضبوط دی او ترتیب وسلیقې سره چلیږي دا خودبود ځنګه چلیدای شی؛

لطیفه:

یو ډهري کمیونسټ به د الله په نظام باندې اعتراضونه کول چې د آم ونه دومره غټه ده او ددې میوه وړه ولې ده. د هیندواني بوټی کمزوری دی اود دې میوه غټه ده دا ترتیب غلط دی. ددې برعکس پکار دی دخدای شان و چې دې وخت کې دوه درې آمونه یې په ګنجې سر باندې راپریوتل نوبیا ورته خدای رایادشو چې واقعي خدای موجود دی. د هغه هر یو حکم مصلحت نه خالي نه دی. که د آم په ونه باندې د هیندواني برابر آمونه وی؛ نو نن زما خیرنه و. الله رب

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

العزت چې کوم شی په کوم انداز باندې جوړ کړی دی هماغسې بهتر دی او په دې کې دسړو څه نا څه مصلحت دی قانون اوتخلیق الهي کې نکته جینې کول بیکار نه دی

د تکبر مذمت

تکبر عزازیل راخوار کرد — به زندان لعنت گرفتار کرد
نه هر جائے مرکب تواں تاختن — که جاها سپرد باید انداختن
بکر ز دانا بود ناپسند — غریب اید این معنی از هوشمند

تکبر او لوی والی د الله تعالی شان دی. د څښتې جوړ یو انسان ته دا مناسبه نه ده چې هغه په خدایي کې مداخلت وکړي. الله تعالی فرمایي: إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ. بېشکه تکبر کوونکی بنده د الله خوښ نه وي.

بل ځای فرمایي: ..وَلاَ تَمْشِ فِي الأَرْضِ مَرَحاً إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولاً..
(پ۱۵سورہ بنی اسرائیل آیت ۳۶)

په دې آیت کې د تکبر مذمت بیان شوی دی

په ځمکه باندې تکبر سره مه ګرځه. ځکه چې نه ته ځمکه شلولی شې او نه دغره اوږدوالي ته رسېدای شې

حدیث قدسي کې راغلي دي ..اَلْعَظَمَةُ إِزَارِي وَالْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي فَمَنْ نَازَعَنِي قَصَمْتُهُ.. (بخاری وغیره)
الله تعالی فرمایي عظمت اوکبریاء زما خادر دی څوک چې یې ما نه دشوکولو کوشش کوي زه به یې څټ مات کړم یو حدیث مبارک کې راځي

..لاَيَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالَ حَبَّةٍ خَرْدَلٍ مِّن كِبْرٍ.. (مشکوٰۃ)

جنت ته به متکبره داخل نه شی

د حضور ﷺ ارشاد ګرامي ده د چا په زړه کې چې د دانې برابر هم تکبر وي هغه به جنت ته داخل نه شي د تکبر معنا ده غرور کول. یعني بل بنده سپک ګڼل اوخپل ځان ښه او اوچت ګڼل په یو حدیث مبارکه کې حضوراکرم ﷺ فرمایي چې تکبر دادی چې خدای له پاره سر تیټ نه کړي او ژبه د غیبت نه بنده نه کړي

تکبر بود عادتِ جاهلاں — تکبر نیاید ز صاحب دلاں

حضوراکرم ﷺ فرماي. د قیامت په ورځ به غرور کوونکی عاجز دمیړي پشان اوچتیږي، خلک به یې په پښو کې رابنکي. حضرت لقمان خپل زوی ته نصیحت وکړ: زویه! په ځمکه باندې تکبر سره مه ځه. څوک چې تکبر کوي الله تعالی هغه سره بغض ساتي، انسان چې حد نه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زهات تکبر وکړي هغه د شیطان نه هم مخکې لاړ شي، ځکه چې دخدایي دعوی یې وکړه لکه فرعون اونمرود الله تعالی یوپه ماشي سره هلاک کړ اوبل یې په اوبو سره غرق کړ (رعظ سعد)

د ظلم مذمت:

دریم هلاکونکی عمل ظلم دی ظالمانوته هدایت نه ملاویږي الله تعالی فرمایي

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ. بېشکه الله تعالی ظالمانوته هدایت نه نصیب کوي

حضور ﷺ فرمایي: اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. ظلم به دقیامت په ورځ دتیارو په شکل کې وي حضور ﷺ فرمایي چې د خپل مسلمان ورور مددکوئ که هغه ظالم وي یا مظلوم صحابه کراموعرض وکړ یارسول الله ! د ظالم مدد به څنګه کوو؟ ویې فرمایل هغه د ظلم نه منع کړه داد هغه مدد دی.

دحضور ﷺ ارشاد ګرامي دی: دری کسان به د ټولو نه اول دوزخ ته ځي:

(۱، مالداره ظالم چې زکات نه ورکوي. (۲، فقیر چې تکبر کوي. (۳) بادشاه چې دکفر حالت کې باقي پاتی کیدای شی د ظلم حالت کې نه شي پاتی کیدی. ظلم داسې ګناه ده چې دهغه سزا په دنیا کې ملاویږي. نن زمونږ معاشره د ظلم تکبر اوشرک نه ډکه ده، دې وجې نه بربادي ده که مونږ غواړو چې د الله مدد زمونږ شامل حال شي؛ نو دټولو نه اول دشرک نه به بچ کیدل وي بیا به تکبر اولوی والی پریږدو اوعاجزی او مسکیني به اختیارووو او ظلم به پریږدو؛ نود الله مدد اونصرت به زمونږ شامل حال وي

الله تعالی دې مونږ ټول د شرک تکبر او ظلم نه محفوظ وساتي. آمین برحمتك یارب العٰلمین.

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالقعده د میاشتې دریمه خطبه:

د سیدنا حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ د سیرت بیان

سیدنا ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام هغه جلیل القدر نبي دی چې د ماشوموالي نه یې د توحید آواز اوچت کړی و دوی عَلَیْهِ السَّلَام موَحد اعظم و د اعلاء کلمة الله له پاره یې سترې سترې قربانی ورکړې

ارشاد باري تعالی دی

﴿وَكَذٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلۡمُوقِنِينَ﴾. (پ۷آیت ۷۵)

سیدنا ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام باندې د عجائباتو مشاهده وکړل شوه او دغه راز موږ حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ته دځمکې او آسمان عجائبات ونبودل دي د پاره چې هغه یقین کونکو نه شي

﴿إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتاً لِلّٰهِ حَنِيفاً وَلَمۡ يَكُ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾. (سوره نحل،پ۱۴آخری رکوع)

بیشکه ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام مقتداو د الله تعالی فرمانبرداره و چې هغه د کفر په ایوانونوکې دتوحید آواز اوچت کړ او د کفروشرک په ایوانونوکې یې غوغا جوړه کړه لوی پنډتان مشرکان یې لاجوابه کړل بالآخر مشرکین او ماده پرستو ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام په اور کې واچاو . هغه له څه ځطري پرته اور ته ورکوز شو

بے خطر کود پڑا آتش نمرود میں عشق عقل ہے محو تماشائے لب بام ابھی

حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام چې کله پیدا شو . د نمرود بادشاه سکه چلیده او د هغه بادشاهي دومره لویه وه چې هغه په هغو ځلورو بادشاهانو کې راته چې الله تعالی تولې دنیا باندې بادشاهي ورکړې وه دي وجې نه هغه باطل ګمان کې مبتلا شو .غرورشاهي کې یې د خدایي دعوی وکړه حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام که څه هم د کفر و شرک په ځمکه باندې پیدا شو. چې هلته تول خلک د نمرود غلامي یعني کفروشرک کې مبتلا وو ؛مګر ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د ماحول سماج حکومت وسطوت پروا ونه کړه. د توحید آواز یې پورته کړ او بالآخر کامیاب وغالب شوکفر مغلوبه شو

د د نیا ځلور لوی بادشاهان:

په دنیا کې ځلور داسې بادشاهان تیر شوي دي، چې په توله دنیا باندې یې بادشاهي کړې ده. دوه مسلمانان وو اودوه کافران مسلمانانو کې یو حضرت سلیمان عَلَیْهِ السَّلَام اودویم سکندر ذوالقرنین دوه کافر دادي یو نمرود بن کنعان دویم بخت نصر. نمرود بادشاه ته به د ترکستان اوهندوستان دمشرق اومغرب هر طرفنه خراج اوتیکس راته. یو زر او اووه سوه (۷۰۰)کاله یې دکبر او غروربادشاهت وکړ. دیر لوی تخت یې و هر وخت به جادوګر او نجومیان ده نه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ګيرچاپيره وو يوه ورځ ټول جادوګران اونجومیان ډير پريشانه ناست وو دوی نه يې ډپريشانۍ پوښتنه وکړه. هغوی ورته وويل ستا دې خير وي خو په آسمان باندې يو عجيبه شان ستوری رابنکاره شوی دی نمرود پوښتنه وکړه. هغه ستوری څنګه دی؟ دوی وويل چې يو ماشوم په پيدا کيږي چې ستاسو د بادشاهی د تباهی سبب به وي او هغه ماشوم به دڅ ورځو کې د ننه د ننه د پلار ملا نه دمورخيټې ته راځي نمرود حکم وکړ چې څومره ښځې دې خپلو خاوندانو سره کوروالی بند کړي. دې حکم باندې عمل درآمد له پاره ډير لوی انتظام وشو؛ د نمرود ديو محافظ نوم آذر و هغه به ټوله شپه په يو لاس کې توره اوبله کې ډيوه اخيستې وه او د نمرودحفاظت به يې کاو. په کومه ورځ چې نمرود حکم وکړ په هماغه ورځ باندې دده ښځه راغله، نمرو ويده و، د آذر خواهش راوخت شو او د نمرود سرته يې خپلې ښځې سره همبستري وکړه، باقي ټول محافظان او نمرود ويده وو. د الله شان دی چې هم دې شپه باندې دپلار د ملا نه د مورخيټې ته حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام قرار ونيولو. نن هم د نيا کې فيملی پلاننګ کيږی. د کنټرول ډير لوی کوشش کيږي؛ مګر الله چې څوک پيدا کوي هغه پيدا کيږي. دخاندانې منصوبه بندی، ټول کوششونه دغه وخت کې بيکاره شي کله چې الله د بنده پوره کوشش باوجود چې اولاد ونه شي؛ نو بيا يې هم الله تعالی پيدا کوي.

لطيفه:

ديو خان صاحب ډيرزيات اولاد وو هغه ډير زيات کوشش وکړ چې اولادیې نه وي. دوايانې وغيره يې ډيرزيات استعمال کړل؛مګرد ډيروکوششونوباوجودهم ماشوم پيدا شو. هغه وويل چې ددې ماشوم نوم به زه زبردست خان ږدم ځکه چې زمونږ د مخالفت باوجودهم دی پيدا شو.

په دويمه ورځ باندې نمرود دخپلوکاهنانواونجوميانونه پوښتنه وکړه، خپل علم سره وواييئ چې هغه ماشوم پيدا شوی دی که نه؟ تولوورته وويل چې جناب؛ هغه ماشوم بيګا شپه د پلارد ملا نه دمورخيټې ته منتقل شوی دی. دې نه پس نمرود حکم وکړ چې څومره زنانه حاملې دي.دهغوی ماشوم کيدونه پس دې مړه کړل شي.دتولوزنانه وومامشومان قتل کړل شو.

دحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د مور وضع حمل چې کله نږدې شو؛ نو د نمرود له ويرې د بچې په محبت کې دکور نه په پټه يو غار ته لاړه او پټه شوه او هغلته حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پيدا شو. د ولادت په وخت کې غار کې رڼا شوه او د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مور په ژړا شوه ددې ويرې نه چې چاته اطلاع ملا و نه شي او نمرود دامو شوم مړ نه کړي آخرکار ماشوم يې کيړه کې ونغښت او کورطرفته په ژړا راروانه شوه دغه وخت کې جبرئيل امين راغې او ماشوم ته يې خوله کې ګوتې ورکړې د خدای په فضل باندې ديوې ګوتې نه پی. اود بلې نه شهد روان شو. حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام به د اځنبل اود ځمحتاج به نه و. هره هفته به دهغه مورغار ته تله او د هغه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حیرانونکي پرورش ته به تعجب کې وه او کله به چې ترې واپس راتله نو ډغبیو نه به یو کاني راتلو او دغار خوله به یې بندوله. دې سره به چا ته شك هم نه کیده چې دلته ماشوم دی کله چې به یې مور راتله نو دغار خولې نه به یې کاني لرې کاو او د ماشوم خیال به یې وساتلو اوبیا به روانه شوه ډغه رنګ اووه کاله تیر شو

له ماشوم والي د توحید دعوت:

تیرے دل کو میسر ہو مقامِ قرب کی لذت تجھے پھر من وسلوٰی کیوں نہ ہو نانِ جویں

الله تعالی چې کوم بنده غواړي خان طرفته یې رابلي ،ددې طریقې نوم جذب دی، او هدایت ورکوي هغه بنده ته کوم چې دالله طرفته رجوع وتوجه اختیاروي

ذرہ سایہ عنایت بہتر است ازهزاراں کوشش طاعت پرست (رومی)

دحق تعالی دعنایت د سیوري یوه ذره د اطاعت له زرګونو کوششونو نه غوره ده

جانِ قربت دیدہ رادوری مدہ یارب شب را روز مہجوری مدہ

ای الله! چاچې ستاسو شان وشوکت او نږدی والی وکوت او د قرب مزه یې وځکله هغه ته د لرې والي عذاب مه ورکوه او دنیمې شپې یې د خپل یاد دپاره اوجت کړه او وژړوه کوم بنده چې دې خپل دوست جوړ کړی وي هغه ته دهجر شپې ورځې مه ښیه یعنې فسق وفجور نه یې محفوظ وساته؛ ځکه چې ګناه بنده ستا نه لرې کوي ای محبوب حقیقي ست ذکر د ستا یادکې د روح غذاده او د زخمي زړه پتې ده (معارف مثنوی)

حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام یوه ورځ د خپلې مور نه پوښتنه وکړه یاأُمَتِ مَن رَبُّكِ موري ستا رب څوك دی؟

مورجواب ورکړ ستاپلار دی،هغه ما ته خوراك راکوي بیا حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وویل چې زما دپلاررب څوك دی؟ هغې وویل چې ستا دپلار رب ستوری دی پوښتنه یې وکړه د ستورو رب څوك دی؟ دا سوال یې چې واوریدو؛ نو موریې لاجوابه شوه او دا خبره یې خپل خاوند ته د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام داخبره یې چې واوریده پلار یې وویل چې دا ماشوم دښمن دی یوه شپه کله چې ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام کوچنی و ستوري یې د شپې وکتل؛ نو ویې ویل چې دا زما رب دی.کله چې هغه ډوب شو؛ نو ویې ویل چې زما د ډوبیدونکي شي سره محبت نشته

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ ۝ فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ ۝ فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَا أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ۝ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۝ (الانعام: ۷۶-۷۹)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام سلیم الفطرت و د شرکینو معبودان، ستوري او سپوږمۍ لمریې وکتلو او فیصله یې وکړه چې دا کله هم خدای نه شي جوړیدای

ترجمه کله چې د شپې تیاره راغوره شوه: نوهغه یو ستوری ولید وې ویل دا زما رب دی. کله چې هغه ډوب شو؛ نوده ووېل چې زه دډوبیدونکو شیانو سره محبت نه لرم بیا کله چې یې پرقید ونکې سپوږمۍ ولیدله نو ویې ویل چې دا زما رب دی بیا چې کله هغه هم ډوبه شوه؛ نو ویې ویل چې که چیرته زما پروردګارما ته هدایت نه وی کړی نو زه به هم ګمراه خلکو کې شامل شوی وم بیاکله چې لمر ولید نو ویې ویل چې دا زما رب دی دا د ټولونه لوی دی. بیا کله چې هغه هم ډوب شو؛نو ویې ویل ای قومه! بېشکه زه ستاسو د شرک نه بیزاره یم زه خپل مخ هغه ذات طرفته کوم کوم چې خمکه اوآسمانونه یې پیدا کړي دي او زه شرک کوونکو کې نه یم

د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام قوم به بُت پرستي کوله او ستوري به یې هم په عالم کې متصرف ګڼل دوی په دوه طریقوباندې مشرکان وو اعتقاد الوهیت،اصنام،ربوبیت کواکب دغه رنګ دحضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام په مناظروکې په دواړو باندې کلام دی دویم دا چې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله پوه شو: نو دغه وخت نه د توحید عارف او محقق و (بیان القرآن

د ستورو، سپوږمۍ او لمر باره کې د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام دا کلام په دري ورځو کې وشو

فائده: حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله کوچنی و : نو قوم ته یې چې وکتل هغوی دځمکې اوآسمان د خالق منونکي نه وو او خپل ټول حاجتونه به یې د لاس جوړ شوی بُتانو نه غوښتل او خپلې خلک په قوم کې داسې وو چې چابه ستورو او چابه سپوږمۍ اولمر ته سجده کوله دې کیفیت کتلو سره دوی د شرمندګۍ په غرض دوی ته وویل چې زه به هم په دې کې خپل رب جوړ کړم چنانچې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام دوی د لاجوابه کیدو له پاره یوستوری خدای جوړ کړو. کله چې ډوب شو :نوپوه شوچې د اپه یو حال باندې پاتې کیدونکی نه دی. اوبل څوک په دې باندې حاکم دی. او که دا مستقل رب وای نواعلی حال نه به ادنی حال ته ولې تلو؟بیا دې نه پس یې لمر سپوږمۍ کې هم نقص ولید؛ نودا هر څه یې پرېښودل او یو داسې خدای یې خالق جوړ کړچې ټول کائنات یې مني. او دغه حقیقي رب دی. او عقل سلیم په دې خبره باندې ګواه دی چې خپل رب دې داسې هستي ومنل شي چې دټولو کارونه جوړ کړي اوپه ټولو باندې قادر وي

هدایت ورکول د الله په قبضه کې دي

د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام پلارآذر خپل زوی ته وویل چې ای زویه! زما خدای خو نمرود دی. دهغه نه پرته بل خدای نشته. (رَحِمَهُ اللهُ عَلَيْهِ) حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام جواب ورکړ چې نمرود

کفایت مکتبہ https://t.me/kafayat2395

خنګه خدای کیدای شي؟ هغه خو خپله مخلوق دی، خدای خو هغه دی چې خمکه آسمانونه، ستوري، سپوږمی، او لمریې پیدا کړي دي

ای اباجان! زه تا اوستا قوم په ښکاره ګمراهي کې ګورم ..قوم وویل ای ابراهیم! ته توکي کوې یا رینستیا وایې؟ حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وویل دا بالکل حق دی

قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ الَّذِیْ فَطَرَهُنَّ ۫ وَ اَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ۵۶ وَ تَاللّٰهِ لَاَكِیْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِیْنَ ۵۷ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِیْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَیْهِ یَرْجِعُوْنَ ۵۸ (الانبیا: ۵۶-۵۸)

وې فرمایل: رب هغه دی چې د خمکه وآسمانونو خالق ومالك و اقادردی ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وفرمایل بلکې ستا رب حقیقی اکوم چې لائق عبادت دی،هغه دی کوم چې د خمکې او آسمانونو رب دی چاچې دا ټول پیدا کړل او زه په دې دعوی باندې دلیل لرم په خدای مې دې قسم وي چې ستاسو ابتان به مات کړم کله چې تاسو لاړشئ اکله چې هغوی لاړل ده په تبر باندې تکړې تکړې کړل، یوازې لوی بُت یې پرینبود. دې له پاره چې که خلک د ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام متعلق رجوع وکړي، د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام قوم په کال کې دوه ځله جشن او اختر کولو یوه ورځ د عرفې وه یوه ورځ داختر د میلې وه دابه ستاسو تفریح وي حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام میلې ته تلو نه عذر وکړ دایې وویل چې زه بیمار یم ..قَوْلُهٗ تَعَالٰى فَنَظَرَ نَظْرَةً فِی النُّجُوْمِ فَقَالَ اِنِّیْ سَقِیْمٌ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِیْنَ، ..(پ۲۳ سورة الصافات آیت ۷۲)

دې ځای کې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام توریه وکړه.

ترجمه: ستورو ته یې وکتل بیا یې وو یل: زه بیمار یم ، چونکې دې خلکو ستورو باندې عقیده ساتله دې وجې نه ستورو طرفته یې وکتل او ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام میله ته تلو نه عذر وکړ. ..بیماریم. .مطلب داهم کیدای شي چې ستاسو د بُت پرستی نه زما طبیعت خراب دی، دې نه تکلیف روحاني مراد دی. په داسې مشکل حالاتو کې که یو بنده داطریقه اختیار کړي چې د هغه مقصد بل ځه وي اوریدونکی بل څه فهم کړی نو دا جائز دی.

په باطلو معبودا نود توحید وارونه:

گواہی دے رہی ہے اس کی یکتائی پہ ذات اس کی
دوئی کے نقش سب جھوٹے ہیں سچا الك نام اس کا

کله چې ټول خلک میلې ته لاړل؛ نوحضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام تبر واخیست او بُت خانې ته لاړ، چې وې کتل نو ټولو ته مخې ته خوراك پروت و، مګردې بې روحه بُتانولاس قدر هم نه شو وروړی. حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام بُتانو ته مخاطب شو چې تاسو دا خوراك ولې نه خورئ او

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خبري ولي نه کوئ؟ دي نه پس حضرت ابراهيم دخپل لاس کمال بنکاره کړ او دبُتانو ماتول يې شروع کړل. د چا يې لاس د چا يې پوزه او د چا يې اوږې دوه تکړې کړې شيطان چونکې دا تول منظرکتلو فوراً خلکو واويلا شروع کړه دلته تاسو مبله کې اخته ئ او هغلته ستاسو تول بُتان توتې توتې پراته دي، لږلږ شئ خبر واخلئ هغه خلک تيز واپس راغلل او دا منظر يې وکتلو چې بُتان تول توتې توتې پراته دي. دېر زيات پريشانه شو. چې دا دکوم گستاخ گستاخي ده. مگر د شرک له وجې نه د عقل راونده شوي دي ددوئ عقل دا کار نه کولو چې کوم خدايان د خپل خان دفاع نه شي کولی هغه به د بل حاجت روائي څه وکړي

.. خپل مينځو کې خلکو داخبرې کولې.. ارشاد رباني دی

قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ (٦٠) قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَى أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ (٦١) قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ (٦٢) قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ (٦٣) فَرَجَعُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنْتُمُ الظَّالِمُونَ (٦٤) ثُمَّ نُكِسُوا عَلَى رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَؤُلَاءِ يَنْطِقُونَ (٦٥) قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ (٦٦) أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ (٦٧) قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ (٦٨) قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ (٦٩) وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ (٧٠)..

د حق وباطل مقابله کې آخر حق غالب شو او باطل مغلوب شو

ترجمه: (د بُتانو دا حالت يې چې وليد، ويې ويل چې مونږ يو خوان څه چې ابراهيم بلل کيږي د دې بُتانو متعلق ډېرې ذکر اوريدلی و. (يا دې خلکو وويل چې که داخبره وي؛ نو دې تولو کسانو مخکې يې حاضر کړئ. دې د پاره چې دا تول خلک په ده باندې گواه شي (غرض هغه تولو خلکو مخې ته راشي، دې خلکو وويل چې آيا تا زمونږ بُتانو سره داحرکت کړی دی ای ابراهيم! هغه جواب ورکړ چې نه؛ بلکې دې لوی (بت) کړي دي، ده نه پوښتنه وکړئ؛ که دې ويل کولای شي په دې باندې هغوی په زړه کې سوچ وکړ ويې ويل (خپل مينځ کې) وويل چې حقيقت کې تاسو خلک په ناحقه ئ (چې څوک دومره عاجزه وي هغه به خنګه معبود شي، بيا د شرمندګي نه يې سرونه ټيټ کړل (او دايې وويل چې) ای ابراهيم! تاته خو معلومه ده چې دابُتان خبرې نه شي کولی؛ نوابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ووِيل چې تاسو خدای پريښی دی او دداسې شي عبادت کوئ چې تاسو ته نه نفع درکولی شي او نه نقصان. اف دی په تاسو باندې (چې د حق د وضاحت باوجود په باطل باندې ټينګ ولاړ ئ) اوپه هغو باندې چې تاسو يې د خدای نه پرته عبادت کوئ آيا تاسو دومره نه پوهيږئ خپل مينځ کې دې خلکو وويل چې دی اور کې وسيزئ او د خپلو معبودانو بدله ورڅخه واخلئ که تاسو څه کوئ (کله چې هغوی متفق شو؛ نو هغه يې اور کې واچاو ؛ نودی وخت کې مونږ اور ته حکم وکړ، ای اوره! يخ اوبې ضرره شه

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

دابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام په حق کې او دې خلکو هغه سره بدې کول غوښتل موږ داخلک ساکه کړل حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام غټ بُت پرېښی و او نور یې هم د هغه په اوږه باندې اښی و دې دپاره چې کله خلک راشي او د معبودان باطله دا حالت وګوري او دا غټ بت صحیح وسالم وګوري: نوشاید عبرت حاصل کړي چې خدای خنګه کښدای شي چې خپل مسخ کې جنګ کوي او کله چې داغټ صحیح وسلامت وګوري: نوهغه نه به راشي او پوښتنه به تري وکړي کله چې هغه هم خبرې ونه کړي: نو شاید بُت پرستي پرېږدي او زماخبره ومني اوخدای پرستي شروع کړي

د مشرکینو بېرته راتګ او د بُتانو تباهي:

مشرکان چې کله له مېلې څخه بېرته راغلل او د خپلو خدایانوذلت یې ولید :نو ویې ویل کوم بنده چې دا حرکت کړی دی ډیرلوی ظالم دی. بیاځینې کسانوسوچ وکړ او ویې ویل چې دا کارد ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام کښدای شي. هغه زموږ د خدایانو بې عزتي کوي. هغه د خلکو مخې ته راولئ او سوال جواب او تحقیق تري وکړئ. ټول خلک راجمع کړل شواو نمرودهم و. د هغه ټول چاپلوس او وزیران راغلل د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام نه پوښتنې شروع شوې چې تا دا بُتان مات کړي دي؟ حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وفرمایل ددې بُتانو دامشر موجود دی ده نه پوښتنه وکړه که دی خبرې کولی شي؟ دې ټولو خلکو وویل چې هغه خو خبرې نه شي کولی حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وفرمایل چې افسوس' ستاسو په عقل باندې چې کوم بې روحه خبرې هم نه شي کولی د خپلې نفع او نقصان مالک هم نه دی. خپل ځان بې بچ نه کړ. هغه څنګه ستاسو خدایان کیدای شي؟ په دی کې خینو کسانو د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام خبره واوریده: نو ویې ویل چې د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام خبره خوصحیح ده واقعي موږ په غلطي باندې یو :مګر دډیرې زمانې نه اثرانداز شرک آساني سره نه شی لرې کیدای

د مشرکینو له لوري حق سره جنګ:

کله چې قوم نه څه جوړه نه شوه: نو نمرودته یې مشوره ورکړه چې داکس په اورکې سیزل پکاردي ټول قوم دې لرګي او خشاك راجمع کړي او اور دې ولګول شي. کله چې اور ښه ګرم شي: نوپه منجنیق باندې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وروليئ دې دپاره چې ټولو خلکو ته عبرت شي لهذا خلورو دیوالونو والە یو کندە جوړه شوه چې ډیر زیاته ژوره او اوږده وه لرګي پکې واچول شو او اور پرې ولګول شو اور دومره زورسره شغلي وهلی چې دري میله فاصله باندې کومې مرغې چې هواکې تللې نوهغه به پکې راپریوتلې او سوزیدلی کله چې د منجنیق په ذریعه باندې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وروښتل کیدلو نو الله تعالی له طرفه آواز وشوچې داسمانونودروازې دې خلاصېږل شي دې دپاره چې فرشتې دا نظاره وګوري چې زموږ د

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خليل څخه څنګه امتحان اخيستل کيږي او مشرکين څه کوي او مونږ د خپل خليل څنګه مرسته کوو . فرشتو چې کله دا منظر وليد ، نو برداشت يې نه کړای شو . ځلورسوه مشرکينو چې کله رسيوکې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وتړلو او اور ته يې ورويشتلونو فرشتو دالله تعالى نه د مرستې غوښتنه وکړه چې حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام دې يو لويه ډله خان سره بوخي حضرت جبرئيل امين راغې او ويې فرمايل چې ای ابراهيم! که ستاسو حکم وي، نو په يو وزر باندې به دې اوس دريای محيط کې واچوم حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې دا خبره الله تعالى فرمايلې ده او که تاسويې د خپل طرفنه کوئ؟ حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې خپل طرف نه يې کوم. مګرالله په اجازې سره حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې زما رب زما حال ښې طريقې سره پيژني هغه چې څنګه راضي وي زه هماغسې خوشحاله يم که هغه زما په سيزلو باندې راضي دې، نو زه پرې هم خوشحاله يم سبحان الله! څومره مضبوط توحيد دی اوځومره مضبوطه عقيده وه. دغه راز ميکائيل عَلَيْهِ السَّلَام راغې او عرض يې وکړ چې ای ابراهيم زه د باران فرشته يم که حکم وي نو چې باران ته حکم وکړم او وريږي چې دا اورمړ کړي حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته همدا جواب ورکړ هغه رسې کومو باندې چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اور ته اچول شوی هغه هم وسوزيدې مګرحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ژوندی اوسلامت پاتې شو اور پرې ګلزارشو. حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته اورکې جنتي لباس واچول شو. د ګل پشان انګار تري جوړ شو. د باغ پشان منظر جوړ شومطلب خوشبو،ګلونه،مرغۍ وغيره هر څه ورته مهيا شو حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام حيران شو او ويې ويل چې ای ابراهيم! دا معجزه دې ډيره عظيمه ده داسې معجزه چاته هم مخکې نه ده ورکړل شوې د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام صبروثبات هم عظيم و چې آخره پوری د الله نه پرته چاته يې هم نه کتل. چې کومې ونې ګيرچاپيره وې هغه پورته راغلې خانبونه يې تازه شو او ميوې يې ونيولې او د حضرت نه ګيرچاپيره د نرګس اوبنفشه ګلونه وو.

نمرودملعون چې کله يو مينار ته وخوت او ويې کتل چې دومره لوی اور په حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې هيڅ قسمه اثر نه کوي نود پورته نه يې پرې کاڼي ورول شروع کړل. د خدای په حکم باندې دغه کاڼي په خای باندې معلق پاتې شول وريڅ راغله اوباران ووريد ،دې سره اور مړ شو. هامان يوې اوچتې مُناری ته وخوت او آواز يې وکړ : يا ابراهيم ،،نعم ربك،، ستا رب څومره ښه رب دی؛ خو د نمرود له ويرې يې خپل خان مسلمان ظاهر نه کړ ، نمرود به دې نه پس دير زيات پريشانه و. نه يې چاسره خبری کولې او زړه کې به يې دا سوچ کولو چې حقيقت کې خو د ابراهيم رب بهتر دی. ولې زه مسلمان نه شم؟ مګر د سلطنت بربادې به مخې ته راتله د يو قول مطابق شيطان دی دوکه کړ هامان وزير ورته وويل چې دا څه کمال نه دی دا هر څه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ابراهیم دآتش پرستی په سبب حاصل کړل داسې شوه چې ابراهیم علیه السلام یې آتش پرست جوړ کړ بیا پکې بل وویل چې اور یوه فرشته ده چاته چې غواړي نو عذاب ورکوي او چاته چې غواړي نو نه یې ورکوي. د منلو په خای یې مختلف قسم خبرې شروع کړې. ریښتیا خبره ده "ختم الله علی قلوبهم.." الله تعالی ددوی په زړونو باندې مهرونه ولګول. ویل کیږي چې د نمرود لور په دغه وخت کې داتوله نظاره کتله اومسلمانه شوه. مسلسل څلویښت ورځو پورې حضرت ابراهیم علیه السلام په اور کې پروت و، حضرت ابراهیم علیه السلام به ویل چې دزندګی دټولو نه دآرام اوسکون ورځې زما د اور واله ورځې دي "مَن كَانَ لله كَانَ اللهُ له.." څوک چې دالله شی الله تعالی دهغه شي.

د الله دحکم نه بغیر اورسوزول نه شي کولی، نه چاړه کټ کول کولی شي، نه څوک مړ کول کولی شي، نه ژوندي کول کولی شي؛ نه څوک عزت ورکولی شي، نه څوک ذلیل کولی شي. څرنګه چې الله تعالی د ابراهیم علیه السلام مرسته وکړه دغه شان د حضور ﷺ جانثار صحابه کرامو هم الله تعالی په هره موقعه باندې مرسته وکړه ، دولت ایمان ډیر لوی دولت دی اوپه دې باندې استقامت کول او د هغه دتحفظ په خاطر قرباني ورکولوسره د الله مدد اونصرت دغه راز شامل حال وي.

الله دې مورږ ټولو ته د توحید له پاره د مړکیدو توفیق رانصیب کړي. آمین یارب العالمین.

اخری عرض گدا هے شاہ ـــــــے تادمِ اخر نه بهٹکوں راہ ســـــے

جس گھڑی نکلے بدن سے میرے جان کلمہ توحید ہو وردِ زبان (اختر)

(امین)

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

.....

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالقعده د میاشتې څلورمه خطبه

د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام له پاره داور کلزار کیدل

د شوال دمیاشتی نه د حج میاشتې شروع شي اوپه حج کې د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ، د حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام اود هغه دمور بي بي حضرت هاجره یادګارونه ډېر زیات دي، دې وجې نه د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام دماشومتوب نه وروسته دهغه مقابله د نمرود سره دهغې بیان دی الله تعالی فرمایي:

وَاِذِابْتَلٰٓی اِبْرَاهِیْمَ رَبُّهٗ بِکَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ،،(پ۱آیت۱۲۴)

او کله چې ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام دخپل رب له خوا په څو خبرو وازمایل شو؛ نو هغه یې پوره کړې دابتلاء اصل معنا ده دیومشکل کارتکلیف ورکول داد،،بلا،،نه ماخوذ دی عکرمه دحضرت ابن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه نقل کړي دي چې دکلماتونه مراد درې خصلتونه دي چې داتول شرائع اسلام یې چاهم دابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام نه پرته نه دي پوره کړي اوهم دې وجې نه دوی له پاره دجهنم داورنه خلاصی ولیکل شو په بل ځای کې الله تعالی په امتحان کې دکامیابیدوداسی تعبیر کړی دی **وَاِبْرَاهِیْمَ الَّذِیْ وَفّٰٓی**،،هغه ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام چې پوره یې کړه، اوطاؤس ویلي دي چې ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام الله تعالی په لسو شیانو کې آزمیښت کړی و چې هغه دلسوفطرتونومقتضي دي. پنځه خو په سر کې دي: بریت کټ کول غرغړه کول پوزه کې اوبه اچول،اودس اوغسل کې، مسواک کول په سر کې په مینځ لاره اړول. اوپنځه په باقي بدن کې دي: نوکونه کټ کول د تخرګ،ترخ، ویښتان ویستل د نامه لاندی ویښته صفا کول. سنتي (ختنه) کول اوبوسره استنجا کول

حسن رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایلي دي چې اووه شیان مراد دي چې هغوسره الله تعالی د ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام آزمیښت کړی ستوري سپوږمی لمر. دې شیانو ته حضرت ابراهیم ډېر په غورسره وکتل اومعلومه یې کړه چې پروردګار همیشه پاتي کیدونکی ذات دی. هغه ته زوال نشته.

اوخلورم یې د اورآزمیښت وکړ چې نمرود پکې واچاواوابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام صبر پرې وکړ. پنځم هجرت اوشپږم زوی ذبح کول او اووم سنت سره پیژندل. په دې ټولو حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام صبر وکړ. (تفسیر مظهری)

غرض داچې د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ډېر لوی لوی امتحانات واخیستل شو. دې نه پس یې انعام ورکړ ،،**وَاِبْرَاهِیْمَ الَّذِیْ وَفّٰٓی**،،چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام پوره کړ. الله تعالی خپلو خاصو بنده ګانو باندې امتحان کوي اوبیا هغوی ته لوی لوی انعامات ورکوي. په دې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

امتحاناتو کې دملك شام سفر هم و حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام چې کله خپل پلار ته دتوحید دعوت ورکړ؛ نو پلار یې څه وویل قرآن کریم کې دي ذکر دی

قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِیْ یَا اِبْرَاهِیْمُ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِیْ مَلِیًّا. قَالَ سَلٰمٌ عَلَیْكَ سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّیْ اِنَّهٗ كَانَ بِیْ حَفِیًّا.... (پ۱۶سورہ مریم آیت ۴۵)

وېلې ابراهیمه! ته نو زما له خدایانو اوښتی یې؟ که له دې کاره، ایسار نه شوې خامخا به دې په کانو سنګسار کړم او (څه) ډېره زمانه له ما نه بېل شه ابراهیم وویل (نیه نو، تاته دې سلام وي. زه به له خپل رب نه بښنه درته وغواړم. هغه پر ما ډېر مهربان دی

د شام لورته هجرت:

حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام خپله بي بي (ساره، ځان سره روانه کړه او شام طرف ته لاړل. په لاره کې یو سخت ظالم پاچا و. هغه به له مسافرو نه بخې اخیستې او که چا سره به خو ریږ وه نو بیا به یې څه نه ورته ویل . کله چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د پاچا مخې ته تیرید؛ نو هغه ترېو پوښتل چې دا زنانه څوک ده؟ اوس د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام لوی امتحان په سر راغی که وایي چې بښځه ده. نو تري نیسي یې او که وایي چې خور ده؛ نو دروغ کې راځي. حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام داسې انداز کې جواب ورکړ چې هغه تري څه نورځه فهم کړل اود حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام مقصد بل څه و. حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام جواب ورکړ چې دا زما خوره، مقصددا و چې دا زما اسلامي او مذهبي خور ده حقیقی خور نه، پاچا دا وګڼل چې دا یې حقیقی خوره . هغه ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام پرېښود په داسې حالاتو کې دځان بچ کولو دپاره داسې قسم حیله جائز ده. عربي کې دې ته - توریه - وایي. د ځینو رواياتو له مخې پاچا دابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام بي بي قبضه کړه اودلاس اوچتولو کوشش یې وکړ؛ نو د هغه لاسونه شل شو اودحضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام دبي بي عزت الله تعالی بچ کړ. الله تعالی دخپلو نیکو بنده ګانو حفاظت داسې کوي دحضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د بي بي حضرت ساره عزت چې پاچا لوټ کول وغوښتل ؛نو الله تعالی شل کړ اود حضرت ام المومنین عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا عزت چې کله منافقینو داغدار کول وغوښتل نو الله تعالی سورت نور رانازل کړ او تر قیامته پورې یې د عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا پاك لمنې واضحه کړه.

دابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام فلسطین کې استوګنه او دبرکتو نوظهور:

حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام په فلسطین کې سکونت اختیار کړ؛ نوحضرت جبریل امین تشریف راوړ او ویې فرمایل چې لږ ځمکې طرفته وګوری؛ کله چې هغه ځمکې طرفته وکتل نوپوه ویالې تري راووته. په نرمه ځمکه باندې ونې اومیوه لګیږي اوبغیر د محنت نه فصل تیارېږي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سبحان الله! خه شان دی دغه رنګ الله تعالی د نبي دفرمانبرداروهم مدد کوي چې دغيبونه ورته درزق سامان مهيا کوي افسوس دحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په خمکه باندی نن يهود قابض دي که مسلمان په صحيح معنا کې مسلمان وای؛ نودابده ورخ کتل به نه و، دې وجې نه ارشاد رباني دی:

"وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ"، بيشکه تاسو به غالب ئ، که رينبتني مؤمنان شئ. چونکه مورِ مسلمانان دیهود ونصارئ نقل کوو. دې وجې نه توله دنيا کې ذليل وخوار کيږو.

وہ معزز تھے زمانے میں مسلمان ہوکر اورہم خوار ہوئے تارک قرآن ہوکر

د بيت المقدس وډانول:

حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام فلسطين کې قيام وکړ اوملك يې آباد کړ اوپه ډير تعداد کې يې خلقو ته اسلامی احکامات اوښودل کله چې لږ خلکو ددوی خبرې ومنلې؛ نوهغوی مطالبه وکړه چې ای ابراهيم! مورِ ته يو مسجد اوقبله پکار ده، چې مورِ هغه طرفته متوجه شو او عبادت کوو.

دا ګفتګو د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دخپل قوم سره کيدله چې حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام راغی اوالله په حکم يې د جنت نه يو کانئ راوړ او د بيت المقدس په خای يې کيښود او ويې ويل ای ابراهيم! هٰذِهٖ قِبْلَتُكَ وَقِبْلَةُ الْاَنْبِيَاءِ مِنْ بَعْدِكَ.

حضرت جبرئيل امين وويل: دا ستا اوستا نه پس راتلونکی انبياوو قبله ده.

په يو حديث کې دي چې خلويښت زره انبياء حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دنسل نه دي. په دې کې دتولو نه اول حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام دی اودتولو نه آخر حضرت محمد ﷺ دی.

حضور ﷺ هم شروع کې دې قبلی طرفته لمونځ کاو. ددې کانې نوم صخرة الله دی، حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ډيره زمانه دلته پاتې شو، بيا دالله تعالی حکم وشوچې لاړ شه او نمرود زما د دين لور ته را وبوله. نمرود هغه مهال بابل کې اوسيد. نمرود ډير لوی متکبره اومغروره پاچا و. کله چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته د الله تعالی ديندعوت ورکړ؛ نوهغه ګستاخي سره آسمان طرفته غشي وويشتل دالله تعالی ددربارنه حکم وشو چې دې غشي باندی دکبانو وينه ولګوئ. کله چې غشي خمکې ته راغلل نو نوريې هم تکبر شروع کړ او ويې ويل (معاذالله)چې مادآسمان واله خدای مرکړ. قانون الهی دی چې هغه مجرمانوته مهلت ورکوي بيايې نيسي.

تو مشو مغرور بر حلم خدا دير گير وسخت گرد مر تو را

يعنې دالله په حوصله باندی مغروره کيږه مه، کله چې يو څوک نيسي نو سخت يې نيسي.

حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام شبه پوه کړ چې هيڅوک هم زما خپلوان نه شي وژلی او نه هغه مړ کيدو

کفایت کیلئے خاص لنک ٹیلیگرام https://t.me/kafayat2395

نکی دی . هغه په هر چاباندې قادر اومالک دی بیا هغه وویل ای ابراهیمه! ستا دخدای فوج څومره دی؟ حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام وویل ..وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ.. بیشکه ستا دخدای لښکر له هغه پرته بل چا ته معلوم نه دی

آخر نمرود شپیته لاکه فوج تیار کړ او ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ته یې وویل چې خپل خدای ته دې اووایه چې مقابلې له پاره خپل فوج راولي (معاذالله) الله تعالی ماشوم ته حکم وکړ چې د نمرود په فوج باندې یرغل وکړي، ماشوم حمله وکړه دنمرودتول فوځیان وتښتیدل د رښ له چې ډېر فوځ هلاک شو

د نمرود شرمناکه شکست:

آخر هغه وخت هم راغی کله چې الله تعالی د نمرود په اړه فیصله وکړه، الله تعالی ظالمانو ته مهلت ورکوی دې دپاره چې هغه توبه اوباسی مګر کله چې هغه توبه نه باسي. بلکې هغه ګناهونو طرفته مائله کیږي،نوبیا یې داسی ګرفت وي چې هیڅوک یې هم نه شي خلاصولی. نه فوج پکار راځي اونه طاقت وحکومت. نه مال ودولت اونه علم وهنرپکار راځي

الله تعالی چې کله نمرود ګرفتاره کړ؛ نو د فرښتو څه لوی فوج یې را و نه لیږه ،بلکې ادنی مخلوق سره یې مړ کړ او هغه ګوډ ماشی و. کله چې باقي ماشودنمرود په فوج باندې حمله وکړه؛ نودا ماشی پکې ګوډ اوناببینا و، ده د الله تعالی نه سوال وکړ چې یا الله! ماته هم خوراک راکړه زه معذوره یم. نوالله تعالی دده دعا واوریده اوده ته یې قوت ورکړ اوحکم یې ورته وکړ چې ته دنمرو دماغو ته کوز شه هغه دماغو ته کوز شواودماغو کې به یې چې کله حرکت کولونو نمرود ته به تکلیف و، هغه به خپلو درباریانو ته ویل چې ما په سر باندې روهئ ماته سکون ملاویږي کله به یې چې په سر باندې څپلی لګیدلې نو دماشی به څه وخت له پاره په آرام شواونمرود ته به لږ وخت دپاره سکون ملاوید ، څلویښت ورځو پورې داسی حالت و. دې نه پس وحی وشوه: ای ابراهیمه! نمرود ته زما داطاعت دعوت ورکړه. سیده لاره ور وښیه ،دې دپاره چې ده سره ښیګړه وشي. حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام بیا نمرود ته دعوت ورکړو..لااله الاالله ابراهیم رسول الله،.نمرود ووویل چې ددې ګواهي نور څوک ورکوي ؟حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل که چیرې ستاد کور هر یوشی ګواهي ورکړي؛ نوآیا ته به ایمان راوړې؟ نمرود اقرار وکړ، د کور هریو در و دیوال ګواهی وکړه؛ مګردنمرود په زړه باندې تورواللی راغلی و. ددې باوجود یې هم ایمان راونه وړ.ددې نه پس هغه نور معجزات هم وکتل. مګر شاید ایمان یې په نصیب کې نه و، څرنګه چې ابوجهل آخر وخت کې کله چې یې سر حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کټ کولو! نو یې ویل چې زما سر لږ اوچت قلم کړه دسردارسر دی چې د نوروخلکو نه اوچت په نظر راځي او دایې هم وویل چې معاذالله

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضور ﷺ دروغزن دی حضرت جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَام راغی اودا گواهي يې ... کړه چې دنمرود آخري وخت قریب دی کله چې ماشی دهغه دپوزې نه ووخي هغه وخت به دی مري آخر کار الله تعالی دومره مغروره اومتکبره انسان په یو کوچني ماشیي باندی مړ کړ. (انه علی کل شیء قدیر).

یو روایت کي دي چې نمرود یو کس ته دنده سپارلې وه چې هغه دی په سر باندی وهي آخر هغه ملازم دومره زور سره وواهه چې هماغلته مړشو، ماشی هم غټ شوی و، هغه هم راووت الله تعالی دي مور دخپل غضب نه وساتي د نمرود د هلاکت نه پس حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام واپس شام ته راغی

په لاره کي یوه داسی علاقه هم راغله چې د هغې متعلق حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل چې ددې علاقې خلک دبدکاري له وجې تباه شوي دي

دي نه پس یو بل امتحان هم د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام څخه واخیستل شو حکم وشو چې خپل اهل وعیال په شاړه څمکه کي بربرده حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام خپله بي بي هاجره اوبچی حضرت اسماعیل ذبیح الله په یواوبن سمې سواره کړل اوخپله هم په بل اوښ باندی کینا ست او بیت المقدس نه راوونل اوچرته چې حرمه کعبه ده. هغلته روان شول. کله چې راورسیدل. نو په داسي حال کي بیرته روان شو چې دسرګونه يې اوښکي رواني وي. بي بي پوښتنه ترې وکړه چې مور په دې ویرانه علاقه باندی بربرده ولې اوخپله چیرته خې؟ ویې فرمایل د الله حکم دی بي بي هم دنبي ښځه وه. ورته ویې ویل چې سمه ده بیا مې هیڅ بروا نشته الله تعالی دي تولو مسلمانانو ته داسي بیبیانې نصب کړي چې دالله په حکم باندی خان قربانوي لږ اوبه وي کله چې هغه هم خلصي شوي، نو حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام ته ډیره زیاته تنده ولګیده. بي بي هاجره یو خوا بل خوا منډي ووهلې او په دې هر ویریده چې چیرته زماماشوم ته لیوه نقصان ونه رسوي کله به په یو غر باندی خته اوکله به بل. چې هغه خای ته نن سبا (صفا) او (مروه) ویل کیږي چې هلته حاجیان اوس هم منډي وهي. دا د بي بیي هاجره سنت دي اودیو حاجي حج تر دغه وخته پورې نه قبلیږي چې تر خو هغه په صفا اومروه کې سعي ونه کړي

د آب زم زم جاري کیدل:

حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام دسختي تندي له وچې بې حاله و او په څمکه يې پوندې رابنکلې چې له املې يې الله تعالی په خای چینه جاري کړه. بي بي هاجره چې وکتل نو زم زم آواز يې وکړو یعني ای اوبه ودریږئ څکه چې داوبو هغه چشمه جاري وه یو روایت کي راځي چې بي بي هاجره دي اوبه ته زم زم نه وای ویلي: نودا اوبه به تولې مکه کي خوري شوي وي اتفاق ناسته ده. دقافلې واله وویل چې مور همیشه به ډیر ګران باندی تیر شوي یو؛ خو مور کله هم

کفایت کتب خانه باندی

https://t.me/kafayat2395

ولته اوبه نه وي لیدلي. الغرض دي خلکو یې هاجره نه ددې ځای داستوګنې اجازه وغوښته حضرت هاجره ورته اجازت ورکړ. تقریبا دا جرهم قبیله وه دا ټول برکت دالله دحکم پوره کولو و مسلمانانو دانبیاؤ عمل اسوه حسنه ده. مورله یاره فاطمه بوري دادرس دی که چیرته دالله په حکم باندی ځان قربان کړئ نوداسی آسانتیاوي به درته پیدا کوي

توبم گردن از حکم داور مپیچ که تو گردن نه پیچد زحکم تو بیچ

یعني د الله دحکم نه ته مخ مه اړوه . ستا دحکم نه به یو شی هم مخ نه اړوي

نمرود یوملک ماشومان ذبح کړل صرف له دې ویرې چې دې کې ابراهیم نه وي چې زما دحکومت دزوال سبب به وي. ددی باوجود الله تعالی حضرت ابراهیم علیه السلام پیدا کړو بیا یې حفاظت وکړو او دا یې وښودله

دحضرت ابراهیم علیه السلام دخولې نه چې اول کومه خبره ووته هغه داوه چې زما رب څوک دی؟ عرائس کې دي چې حضرت ابراهیم علیه السلام چې کوم غره کې مور پریښی و هغه کې یې صرف پنځلس ورځې تیرې کړې وې؛ مګر یوه ورځ دیوې میاشتی پشان اویوه میاشت دیو کال پشان بیا دغروب آفتاب نه پس هغوی وتل وغوښتل دحضرت ابراهیم علیه السلام دمور نوم توتا و هغه یې وویستله هغه چې کله چوپایانوته وکتل نو پوښتنه یې وکړه چې داڅه دي هغه ته وویل شو چې دا اوښ،غوا اواس دی. حضرت ابراهیم علیه السلام وفرمایل چې ددوی به ضرور رب اوخالق وي آسمان طرفته یې وکتل او ویې ویل: موریا دا شین ګنبد کوم چې اطراف عالم باندی خو ردی داڅه دی اودا وني اومخلوقات څه دي؟چې په هغه کې اوږد، تیت، شتمن او فقیر هر قسمه خلک شته داټول چا جوړ کړي دي؟آخر کا رنمرود ته داخبره ورسیده نوحضرت ابراهیم علیه السلام څخه یې پ،ښتنه وکړه چې ته دچا عبادت کوې؟ هغه جواب ورکړ چې درب العالمین. نمرود ورته وویل دهغه صفت بیان کړه! حضرت ابراهیم علیه السلام وفرمایل زما رب هغه دی کوم چې ژوندي کول او مړه کول کوي،نمرود وویلدا خو زه هم کوم.هغه دوه کسان را وغوښتل چې په هغوی باندی قصاص واجب وپه هغو کې یې یو قتل کړ او دویم یې پریښود. حضرت ابراهیم علیه السلام پوه شو چې نمرود انتهایي ګند ذهنه دی دمرګ اوحیات په مطلب نه پوهیږي لهذا خه ساده پوښتنه تري پکار ده حضرت ابراهیم علیه السلام وفرمایل چې زما رب د مشرق نه لمر راخیژوي اوپه مغرب باندې یې ډوبوي ته یې په مغرب باندې راوخیژوه اوپه مشرق باندې یې ډوب کړه! نمرود چې داواوریدل نو حیران شو. حضرت جبریل علیه السلام وویل ای باري تعالی! که نمرود دا ویلې وای چې لمر د مشرق نه زه راخیژوم ته دې خپل رب ته ووایه چې د مغرب نه یې راوخیژوي. الله تعالی وفرمایل چې زما دې په خپل عزت وجلال قسم وي چې دابه می هم کړي و. یو خل حضرت ابراهیم علیه السلام ته خپل پلار وویل: که ته مور سره زمونږ په اختر کې شامل شي نو تاته به زمونږ دین ډیره مزه درکړي، حضرت ابراهیم علیه السلام دوی

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

سره لاړ په نیمه لاره کې یې آسمان طرفته وکتل اووده چې کومه رایه وه هغه یې ورته بیان کړه. حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي چې علم نجوم دعلوم نبوت نه و خو بیا باطل شو. حضرت ابراهیم علیه السلام چې ستورو ته وکتل نو ویې ویل چې زه بیمار یم میلې ته نه شم تلی. ..بیمار یم..ددې مطلب دادی چې خوک مري هغه بیمار هم وي او د خینو قول دادی چې دې وخت کې دده تبه وه. الغرض کله چې ابراهیم علیه السلام اور ته واچول شو حضرت نبی علیه السلام نه روایت دی چې کله ابراهیم علیه السلام په اور کې اچولو دپاره وترل شو؛ نو ویې ویل: لاالٰه الاّ أنتَ سُبحانَكَ ربَّ العالمینَ لَكَ الحَمدُ وَلَكَ المُلكُ لاَ شَرِیكَ لَكَ. علائي رحمه الله بیان کوي چې کله یې دده اور ته اچول وغوښتل نو اول لس کسان راغلل اودی یې منجنیق کې کینا و دي نه پس سل کسان راغلل خو هغوی هم عاجز راغلل بیا دوی ته دوه سوه کسان راغلل هغه هم عاجزه راغلل. بیا ابراهیم علیه السلام وویل ماته معلومه شوه چې تاسو زما اور کې اچولو طاقت نه لرئ، هغوی وویل هو! ابراهیم علیه السلام ورته وویل چې دالله تعالی نوم واخلئ نوهغوی داستهزاء په طور باندې وویل: بسم الله الرحمن الرحیم اوحضرت ابراهیم علیه السلام یې اور کې واچولو

نکته:

که دخدای تعالی دا ارشاد نه وی چې ای اوره! ابراهیم علیه السلام باندې سلامتیا واله شه نو ابراهیم علیه السلام به دیخني له وجې مړ شوی و اوکه‌دا نه وای ویل شوي چې ابراهیم باندې، نو دا یخوالی به همیشه له پاره و. علایي بیان دی خدای تعالی حضرت جبریل علیه السلام ته یو جنتي قمیص ورکړ او را ویې لیږه، هغه ابراهیم علیه السلام ته ور واغوستل شو.

د ځلوبښتي اهمیت:

حضرت ابراهیم علیه السلام په اور کې ځلوبښت ورځې و. بریت کټ کول، نوکونه کټ کول، او دتخرګ ویښتانو ویستلو کې د نبي طرفنه ابتدا کول مسنون دي. او د ځلوبښت ورځو نه زیات تاخیر کول مکروه دي. دایې په روضه کې بیان کړي دی. دا عدد په متعدده ځایونوکې بیان شوی دی: د آدم علیه السلام خمیر په ځلوبښت ورځو کې تیار شو.

موسی علیه السلام سره دمناجات له پاره دځلوبښتو ورځو وعده شوي وه.

نبوت ځلوبښت کاله نه پس ملاویږي اوحکمت ځلوبښت ورځو نه پس ظاهریږي. اودنفاس ورځې عموماً ځلوبښت دي اونطفه ځلوبښت ورځو نه پس یو حالت نه بل حالت ته بدلیږي اوځمکه هر ځلوبښت ورځې پس بدلیږي او وجود دزمانې تیریدو سره لږ لږ بدلیږي؛ خو دهغه ظهور ځلوبښت ورځو نه پس کیږي. همدې وجې نه اولیاء الله ځلوبښت ورځې چله اختیار کړه اوپه انبیاوو کې هریونبي ته الله تعالی دځلوبښتو نارینه وو برابر طاقت او قوت ورکړی دی.

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

او حضور نبی کریم ﷺ ته الله تعالی د خلویښتو انبیاوو طاقت ورکړی دی او په دې اُمت کې خلویښت ابدال وي اوکله چې مومن مړ شي؛ نو خلویښت ورځو پورې د هغه دعبادت ځای زاړې او څوک چې شراب وخښي خلویښت ورځو پورې دهغه عبادت نه قبلیږي. او دشرابو حد و آزاد سړي له پاره خلویښت کوړې دی. او زهاته یعنې خلویښت ورځو پورې وي او دوه نفخو،شپیلی. وهلو،کې به خلویښت کاله فاصله وي دتمام مخلوق دختمیدو نه پس به خلویښت ورځې په دوی باندې باران کیږي. تر دې چې ددوی وجودونه به جم شي. ور به راشي ماشوم خلویښت ورځې پس خاندې او امام شافعی اوامام احمد په نزد باندی دجمعی لمونځ خلویښت کسانو نه بغیر نه کیږي اوحضرت یونس علیه‌السلام د ذکر الهی په بناء دماهي خیټه کې خلویښت ورځو پورې پروت و او د حضور اقدس ﷺ اصحاب چې کله خلویښتو ته ورسیدل نو ددوی کار ظاهر شو صاحب نزهة المجالس لیکي چې ما دواحدي په بسیط کې لیدلي دي چې الله تعالی ابراهیم علیه‌السلام ته وحي وکړه چې طهارت وکړئ نو هغوی غږغږه وکړه بیا ورته وحي وشوه چې طهارت وکړئ هغوی په پوزه کې اوبه واچولې بیا الله تعالی وحی رانازل کړه چې طهارت وکړئ هغه مسواك وکړ، الله تعالی بیا وحی رانازل کړه چې طهارت وکړئ هغه بریت کټ کړل،بیا الله تعالی وحی رانازل کړه هغه استنجاء وکړه بیا وحی وشوه چې طهارت وکړئ هغه په سر کې لاره وویسته،بیا الله تعالی وحی نازل کړه هغوی دنوم لاندې وینښته کټ کړل بیا الله تعالی وحی رانازل کړه هغه دتخرګ نه وینښته کټ کړل بیا الله دطرفه وحي رانازله کړه هغوی خپل کټ کړل،خدای تعالی وحي رانازله کړه هغوی خپل بدن ته وکتل چې اوس څه وکړم بیا یې یوسل شل(۱۲۰) کاله عمر کې ختنه (سنتي) وکړه او یو روایت کې راځي چې دغه وخت کې دده عمر اتیا کاله و دالله تعالی له طرفه حکم وشو چې خپله سنت و کړه دوی خپله سنت وکړو دوی ته ډیر درد ملاوشو. جبریل علیه‌السلام ورته وویل چې ای ابراهیمه! تاسو ډیره تیزي وکړه سنت کولو کې صبر به مو کړی و چې تاسو ته دسنت کیدو یوه آله راغلې وای حضرت ابراهیم علیه‌السلام وفرمایل چې دادالله تعالی حکم و، الله تعالی هم دغه وخت کې درد ختم کړ او د اسماعیل علیه‌السلام ختنه یې په ماشومواليکي وکړه. ختنه کول واجب دي البته حنفي باندی حرام دی اوختنه (سنت) کولو کې یو حکمت دادی چې دهر یو اندام یو عبادت وي اوشرمګاه عبادت سنتي ده اوخینې وایي چې دسنتي سبب دادی چې دحضرت ابراهیم علیه‌السلام اودقوم عمالقه په مینځ کې جنګ وشو نودحضرت ابراهیم علیه‌السلام دملګرو او د قوم عمالقه دمقتولینو فرق ونه شودهغه وخت نه ختنه کول داهل اسلام دپاره د شناخت علامه وګرځیده. وایي چې نمرود کله ابراهیم علیه‌السلام صحیح وسالم ولید نو ویې ویل ای ابراهیمه ته داورنه صحیح وسالم راوتی شي؟ حضرت ابراهیم علیه‌السلام وفرمایل: هو کله چې صحیح وسالم راووت نو نمرود وویل ستا رب ډیر ښه دی زه به دهغه په نوم خلورزره غواګانې ذبح

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کړم. حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام وفرمایل تر څو چې ته په الله باندی ایمان را نوړې تر هغې ستا هیڅ هم نه قبلیږي. مختصر داچې هغه کافر پاتی شو تر دی چې الله تعالی په یو ماشی باندې هلاک کړ او دیو قول مطابق راڅې چې ده حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام ته سجده کړې وه خدی تعالی وفرمایل که ده ماته سجده کړې وای نو مابه بښلی و(نزهة المجالس)

ددین دخاطره دوخت دحاکمانو سره جنګیدل سنت ابراهیمی دی کوم علماء چې په دی څوک چې په سنتو باندې عمل کوي دهغوی مدد به هم دغه رنګ وي ځنګه چې دحضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام مدد شوی و.

آئین جوانمرد حق گوئی وبے باکی الله کے شیروں کو آتی نہیں روباہی

افسوس! نن ډېر علماء، دانشوران او اهل علم ددنیا دمفادو له خاطره د وخت د پاچایانو درباریان جوړ شي اوهر وخت جی حضوري کې اخته وي. روح اسلام دادی چې تکلیفونه برداشت شي او ددین اسلام لمن ونیول شي: مګر دابه هغه وخت کې وي چې ددین اسلام محبت اوعقیده پوره په زړه کې پروته وي، د توحید عقیده پخه وي چې دالله ذات اوصفات کې څوک شریک جوړ نه کړي دنفع اونقصان مالك الله دی. عزت اوذلت دهغه لاس کې دي خالق ومالك هغه دی.

الله تعالی دي موږ ټولو ته په سنت ابراهیمي باندی دعمل کولو توفیق راکړي، که موږ په سنت ابراهیمي باندی عمل وکړو: نو دکافرویهودو قوتونه به غرق وتباه شي؛ خو شرط دادی چې موږ به دآزمائش وخت کې صابر وشاکر یو او ددین دسربلندی دپاره به قرباني ورکول وي. که ددین له خاطره ملك ومال پریښودل راڅې نو دا ډول قرباني به هم ورکوو ، بیا به دالله تعالی مدد اونصرت شامل حال وي اوددین اودنیا کامیابي به هم نصیب وي.

الله تعالی دي موږ ټولو ته دعمل کولو توفیق راکړي. آمین یارب العالمین.

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالقعدې د میاشتې پنځمه خطبه

حج، فضائل اوفوائد یې

دحج ترغیب:

قرآن کریم کې دالله رب العزت ارشاد دی "وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ...(الحج ع٤،پ١١٧ے ت٢٧)

او په خلکو کې د حج اعلان وکړه چې له هرې لرې لارې نه پلي او په هر (ډول) ډنګر اوښې سپاره درته راشي. تر څو هغوی خپلو ګټو ته راحاضر شي.

حدیث کې راځي چې کله ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام دبیت الله تعمیر نه فارغ شو؛ نودالله دبارګاه نه حکم وشوچې خلکوته دحج اعلان وکړه حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام عرض وکړیاالله! زما آوازبه څرنګه تر ټولو رسیږي؟ الله جل شانه وفرمایل چې آواز رسول زما کاردی. حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام اعلان وکړ چې هغه دځمکې اوآسمان مینځ کې هر شي واورید. نن سبا دټیلیکس. ټیلیفون په ذریعه دیو ملک نه بل ملک ته آواز رسیږي نوکله چې ددی ایجاداتو خالق ومالک آواز رسول غواړي؛ نو بیا دې کې څهٔ اشکال وي؟ بل حدیث کې دي چې دا آواز هر یو کس واورید دکوم کس په نصیب کې چې د حج سعادت لیکل شوی و هغه ددې آواز په خواب کې لبیک وویل.

دویم حدیث کې دي چې کوم بنده هم خواه اوسه پوری پیدا ویا په عالم ارواح کې وهغه وخت کې لبیک ویلي وي هغه به ضروریوحج کوي اوکوم بنده چې دوه ځله لبیک ویلي وي هغه به دوه ځله حج ته ځي اودغه راز چې چا ځومره ځله لبیک ویلي وي هغومره حجونه به ورته نصیب کیږي (درمنثور)

ایں سعادت بزور بازو نیست — تا نه بخشد خدائے بخشنده

شاید بزم ازل نے اک نگاہ ناز سے — عشق کو اس انجمن میں مسند آرا کر دیا

د مومن کار دالله حکم بغیر دځه حیلی اوعذرنه منل وي. لکه څنګه چې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د اسوچ ونه کړ چې څرنګه به دا آواز هر خای ته رسیږي. بلکې هغه دا وکتل چې دادالله حکم دی. زمورپه ذمه چې کوم یو کاردی مورِ به هغه کوو. کوم چې د الله تعالی کار دی هغه به هغه خپله کوي.

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حج مقصد به الهي رضا وي:

عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وسَلَّم مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ اُمُّهُ. (متفق عليه مشكوٰة)

دحضور ﷺ ارشاد دی چې کوم بنده دالله دپاره حج وکړي، داسې چې په هغه کې نه رفث يعني فحش خبرې وي اونه فسق وي هغه دحج نه داسې واپس کيږي لکه چې نن ورځ دمورد خپلې نه پيدا شو يعني کله چې ماشوم پيدا شي هغه دګناهونو نه معصوم وي چې په دې باندې څه ګناه څه لعزش څه غاړه بنديدل نه وي. په دې حديث کې يې وفرمايل چې د الله دپاره حج وکړي، څه غرض، شهرت، رياکاري يې مقصد نه وي

په يو حديث کې راغلي دي چې قيامت ته قريب به زما دامت مالداره خلک حج سيروسياحت په نيت باندې کوي داسې شوه چې لندن، فارس کې تفريح نه بلکې دحجاز تفريح يې وکړه. او زما دامت درميانه طبقه به دتجارت په غرض سره حج کوي چې تجارتي مال دې ځای نه هلته يوسي اود هغه ځای نه يې دلته راوړي اوعلماء به ريا وشهرت له وجې حج کوي (کنزالعمال) چې فلاني مولاناصاحب پنځه حجونه وکړل لس حجونه يې وکړل او غريبانان خلک به دسوال په غرض څې. نن سبا دحج اثرات دي وجې نه بنکاره کيږي چې نيت خالص نه دی، ځکه دهر حاجيان دغلط کار کولوپه وجه باندې بدنام دي

د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له لوري د يوې ډلې د نيت دصفايي تصديق:

په يو حديث مبارکه کې دي چې حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو خل صفا ومروه مينځ کې تشريف فرما و. يوه ډله خلک خپلو اوښانو باندې راغلل او دبيت الله شريف طواف يې وکړ او صفاومروه کې يې سعي وکړه. حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پوښتنه تري وکړه چې تاسو څوک ياست؟ هغوی عرض وکړ چې مونږ دعراق خلک يو. حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وپوښتل چې دلته څه لپاره راغلي ياست؟ هغوی وويل: د حج له پاره راغلي يو حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تري وپوښتل چې: څه بل غرض خو مو نه و؟ يعني دخپل ميراث دچا نه مطالبه يادقرض دار نه قرضه وصولول يا بل څه تجارتي غرض وي. هغوی وويل نه! بل څه غرض مو نشته. حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وفرمايل چې له سره خپل اعمال وکړئ يعني مخکيني تول اعمال مو معاف شول.

د مبرور حج بدله:

عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وَسَلَّم اَلْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ اِلَّا الْجَنَّةُ. (متفق عليه مشكوٰة)

دحضور ﷺ ارشاد دی چې د مبرور حج بدله له جنت پرته بل څه نه ده.

کفایت کتب خانه. تیلی پکړه پل څوکۍ
https://t.me/kafayat2395

د حضرت جابر رضي الله عنه حديث کې دي چې دحج نيکي خلکو ته خوراك ورکول، نرمه ګفتګو کول اوپه يو بل حديث کې دي چې دحج نيکي خلکو ته کثرت سلام کول دي (ترغيب)

دلير هم ګناهونه په کيوں کر هووين — که هے نام غفار و ستار تيرا
ترا خوان نعمت انعام عام سب پر — هے شاه وګدا هر نمک خوار تيرا

د عرفې د ورځې فضيلت:

يوحديث کې دي چې کله د عرفې ورځ وي؛ نو الله تعالى د ټولو نه لاندې آسمان طرفته راکوز شي اوفرشتو ته فخر سره وايي چې زما بنده ګانو ته وګورئ! ماته داسې حالت کې راغلي دی چې ويښته يې ټول خواره واره دي، په بدن اوکپړو يې دسفر دوړه ده د لبيك اللهم لبيك شور دی. دلرې لرې نه راغلي دي، تاسو ټول ګواه اوسيږئ چې ما د دوی ګناهونه معاف کړي دي. فرشتې وفرمايي يا الله! فلانی بنده ګناهونوطرفته منسوب دي (فلانی نارينه اوفلانی زنانه سره اوس څه وکړل شي)، د حق تعالى شانه ارشاد وشو چې مادديو ټولو مغفرت وکړ حضور ﷺ فرمايي چې ددې ورځې نه زيات په بله ورځ خلک دجهنم څخه نه آزاديږي (مشکوة)

په يو بل حديث کې دي چې حق تعالى شانه فرمايي زما دا پراګنده ويښتو واله بنده ګان ماته راغلي دي زما درحمت اميدوار دي (دې نه پس بنده ګانوته خطاب کوي) که چېرته ستاسوګناهونه د څخکې دشګو برابر وي اودباران دقطروبرابر وي يا دتمام کائنات د ونو دپانو برابر وي بيا به هم معاف کيږي، بښل شوي خپلو کورونوته واپس شئ. (کنزالعمال)

دې حجو نو واله به اور نه سيزي په شرط ددې چې اخلاص وي:

شفاء قاضي عياض کې يې يوه واقعه ليکلې ده چې يو ه ډله خلک سعدون خولاني ته راغلل اوهغوی ته يې داواقعه بيان کړه چې دکتامه قبيلې خلکو يوکس قتل کړی دی اوهغه يې اور کې سوزول غوښتل ټوله شپه يې اورپرې بل کړی وو خو اور پرې ذره برابرائر هم ونه کړ ، بدن يې هماغه رنګ سپين و. سعدون رحمه الله وفرمايل چې شايد دې بنده دې حجونه کړی وي. سعدون رحمه الله وفرمايل چې ما ته داحديث رارسيدلی دی چې چاپيو حج وکړهغه خپله فريضه اداکړه اوچاچې دويم حج وکړ هغه الله تعالى ته قرض ورکړواوکوم بنده چې دريم حج وکړي. دهغه بنده وجود او ويښتو باندې الله تعالى اور حرام کړي. يعني داسې حج چې په اخلاص سره شوی وي اومقبول وي.

پس از سی سال این معنی محقق شد بحاقانی — که یکدم با خدا بودن براز ملک سلیمانی

ديرش کاله پس حاقاني ته داخبره وشوچې يولحظه دالله ياد ملك سليماني نه غوره دی.

https://t.me/kafayat2395

د عرفی په ورځ د شیطان رسوایی:

په صوفیانو کې دیو صاحب کشف واقعه امام غزالی رحمه الله ذکر کړې ده چې هغه ته د عرفې په ورځ باندې شیطان په نظر راغی چې د هر زیات کمزوری دی، مخ یې مکمل زیړ شوی دی، دستر گو نه یې اوښکې جاري دي. ملا یې کړوبه وي ب زرګ پوښتنه تري وکړه چې ولې ژاړې؟ هغه وویل چې ژړا په دې راځی چې حاجیان د څه دنیاوي غرض نه پرته د الله تعالی بارګاه کې حاضریږي. ماته دا ویره اوغم دی چې هغه پاک ذات به دا خلک نامراده نه پرېږدي په دې غم کې ژاړم بزرګ وایي ما ورته وویل ته دومره کمزوری شوی ولې یې؟ هغه وویل چې داسونو د پښو د آواز نه چې تولې ورځ دالله په لاره کې حج وجهاد له روان وي کاش چې داسونه زما په لاره کې په لهو لعب او بدکاری کې ګرځیدلای؛ نو زه به څومره خوشال وم بزرګ ورته وویل چې ستا رنګ دومره ژېړ ولې دی؟ هغه وویل چې خلک یو بل ته د نیکې ترغیب ورکوي اوپه دې کار کې دیوبل مدد کوي که دوی په ګناه کې دیو بل مدد داسې کولی نو ماته به څومره خوشحالي وای بزرګ ورته وویل چې ملا دی ولې تیته ده؟ هغه وویل چې بنده هر وخت وایي چې یا الله خاتمه بالخیر راکړې داسی کس کوم ته چې روزانه د خپلې خاتمې فکر وي هغه به خپل نیک عمل باندې تکبر نه کوي. (فضائل حج حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا نور الله مرقده)

گر تو بسی طالب حق مرد را درد خواه و درد خواه درد خواه

که د مولا غوښتونکی یې نو د هغه درد طلب کړه، یعني عشق ومحبت خداوندي حاصل کړه

د حج فوائد وفضائل:

په یو حدیث کې دي. حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایي چې زه د حضور اقدس ﷺ خدمت کې د منی مسجد کې حاضر وم چې دوه کسان یو انصاري دویم ثقفي حاضر شول. د سلام نه پس یې عرض وکړ چې حضور موږ څه معلوماتو کولوله راغلی یو. حضور ﷺ (د وحی په ذریعه) ورته وفرمایل چې تاسو څه پوښتنه کوئ غواړئ نو کولی یې شئ او که تاسو غواړئ و زه به درته اووایم چې تاسو څه معلومات کول غواړئ؟ هغوی وویل چې تاسو وفرمایئ حضور ﷺ وفرمایل چې تاسو د حج متعلق معلومات کولو ته راغلي یئ چې د حج له پاره د کور ه د وتلو څه ثواب دی او د طواف نه پس دوه رکعته کولو څه فائده ده اوصفا ومروه کې د سعی کولو څه ثواب دی او په عرفات کې د پاتې کیدو اوشیطان په کانو ډوېشتو اوقرباني ولو او طواف زیارت څه ثواب دی. هغوی عرض وکړ چې په هغه ذات مو دي قسم وي کوم چې تاسو برحق نبي رالیږلي یئ موږ په ذهن کې همدا سوالونه وو، حضور ﷺ وفرمایل چې د حج ولو نه پس ستاسو سواري (اوښ یاموټر) چې یو قدم یا یوه پایه اوچتوي نو د هغې بدله کې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

یوه یوه نیکي لیکل کیږي اویوه ګناه معاف کیږي او د طواف نه پس دوه رکعته کولو ثواب دی لکه چې یو غلام دی آزاد کړو او د صفا مروه مینځ کې سعي کولوثواب د اوولس غلامانو آزادولوبرابر دی او میدان عرفات کې چې کله خلک راجمع شي نوحق تعالی شانه آسمان دنیا ته جلوه افروز شي اوفرښتو ته فخر سره وایي چې زما بنده ګان دلرې لرې نه خواره واره ویښتو سره زمادرحمت په امیدراغلي دي که ستاسو ګناهونه دشګو د ذرو برابر هم وي یا دباران دقطرو برابر هم وي یا دسمندر دخګ برابر هم وي بیا هم ما معاف کړل زما بنده ګانو خپلو کورونوته ته بښل شوي لاړ شئ ستاسو ټول ګناهونه معاف دي اوډې چې ناسوسفارش کوئ د هغوی هم معاف دي بیا حضوراکرم ﷺ وفرمائیل چې شیطان په هرکاني ویشتلو سره یوه غټه هلاکونکي ګناه معاف کیږي او د قرباني بدله دالله حضور کې تاسوله پاره ذخیره ده او د احرام خلاصولو وخت کې ویښته کټ کولوسره یوه نیکي اویوه ګناه معاف کیږي ددی ټولونه پس چې یو بنده طواف زیارت کوي نوداسی حال کې طواف کوي چې په هغه باندی هیڅ قسمه ګناه نه وي اویوه فرشته ورته د اوږو مینځ کې لاس کیږدي او وایي چې آئنده له سره اعمال کوه ستا مخکینې ټول ګناهونه معاف شوي دي (ترغیب. فضائل حج مولانازکریا)

خو ضروري داده چې حج به هغه حج مبرور وي. چې دحج ویلو مستحق وي ابوسلیمان بزرګ وایي چې ماته دا ویل شوي دي چې کوم بنده ناجائزه امورو سره حج کوي اولبیک وایي نو الله جل شانه ورته فرمایي لا لبیک ستا لبیک مقبول نه دی تر څو چې دی دا ناجائزه امور پرې نږدي. فضائل حج کې شیخ زکریا ﷺ نورالله مرقده لیکي چې یو بزرګ مکه معظمه کې اویا کاله اوسید او مسلسل یې حجونه او عمرې کولې،خو کله به چې هغه د حج یا دعمرې احرام ترلو او لبیک به یې ویلو نوجواب به ملاویدا لالبیک یو ځل ورسره یو ځوان یوځای احرام ترلو چې کله یې لبیک ویل نو دلالبیک جواب ځوان هم واورید ، ځوان ورته وویل:

کاکاجانه تاته خو دلالبیک آواز وشو هغه ورته وویل چې: زویه! داویا کالو نه زه دا آواز اورم ځوان ورته وویل چې بیا دومره مشقت ولي کوې؟ هغه ورته وویل چې زویه دډې نه سوا بله کومه یوه دروازه ده چې هغه ونیسم اودرب نه پرته زما خوک دي چې هغه ته لاړ شم زما خو کوشش کول دي. که الله یې قبلوي او که نه. د غلام حیثیت سره دامناسبه نه ده چې دآقا در بریږدي د یې ویلو سره مشر په ژړا شو تردي چې اوښکې یې سینې ته راورسیدې دې نه پس لبیک آواز وشو نوجوان ووېل چې ما آواز واوریده چګ موږ ستا آواز واورید او قبول مو کړ اومونږ همداسې کوو کوم خلک چې مونږ سره حسن ظن ساتي. نه د هغو چې د خپلو خواهشاتو اتباع کوي او امیدونه ساتي ، ځوان هم داجواب واورید اومشر هم، د جواب اوریدو سره دواړه په چغو شو (مسامحات)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د اخلاص اوصفا نیت واله حج قبول وي

علی بن موفق وایي چي زه دعرفي په شپه باندی دمنی مسجد کي ویده وم، نوخوب کي دوه فرشتی شین لباس واله آسمان نه راکوزي شوي، یوي بلبنه پوښتنه وکړه چي سړکال څومره خلکو حج وکړ؟ دویمې جواب ورکړ چي ماته خو معلومه نه ده .پوښتنه کوونکي خپله وویل چي شپږ لاکه خلکو حج وکړ، هغې بیا سوال وکړ چي تا ته معلومه ده چي دي کې د څومره کسانو حج قبول دی؟ هغې جواب ورکړ ماته خو معلومه نه ده. هغې خپله جواب ورکړ چي په دې کې صرف دشپږ کسانو حج قبول دی، دایې وویل اوآسمان طرفته واپس لاړې. ابن موفق وایي چي ددې خوب له ویرې زما سترګې خلاصې شوي، زه دېر زیات پریشانه شوم دخپل خان په فکر کې اخته شوم چې صرف دشپږ کسانو حج قبول شو. زه په دوی کې څنګه کیدای شم؟ دې نه پس دعرفات واپسي کې مجمع می کتله اوسخت فکر کې اوم چې دومره لویه مجمع اوپه دې کې صرف دشپږ کسانو حج قبول شو. مزدلفه کې هم په دې سوچ کې زما سترګې ورغلې نوبیا هم دغه فرشتې په نظر راغلې اوهماغه سوال وجواب کوم یې چې پورته کړي و دوباره یې وکړل، دې نه پس یوې فرشتې بلې ته وویل چې تا ته معلومه ده چې الله جل شانه په دې کې څه حکم فرمایلی دی دویمې وویل چې ماته خومعلومه نه ده نوهغې وویل دا فیصله شوې ده چې دې شپږو کې دهر یو دطرفه دیو لاک کسانو حج قبول کړی شوی دی لهذا ددی شپږو لاکو کسانو حج قبول شو. ابن موفق دا وایي چې بیا زما سترګې خلاصې شوې نو دومره خوشحاله شوم چې دبیان نه بهر ده.

کشاده دست کرم جب وہ بے نیاز کرے نیاز مند مقدر پہ اپنے کیوں نہ ناز کرے

دحاجي په سفارش باندې دځلورسوه کسانو بښنه:

عَنْ اَبِي مُوْسٰى رَفَعَهُ اِلَى النَّبِي صَلَّى اللّٰه عليه وسَلَّم قَالَ الحَاجُّ يُشَفَّعُ فِي اَرْبَعِ مِائَةٍ اَهْلِ بَيْتِهٖ اَوْ قَالَ مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ. (رواه البزار كذا في الترغيب)

دحضور اقدس ﷺ ارشاد دی چې دحاجی په سفارش باندې دځلور سوه کورنو حج قبلیږي یایې دا اوفرمائیل چې ددوی په کورنی کې دځلورسوه کسانو باره کې حج قبلیږي. راوي ته شك شو چې څه الفاظ یې فرمایلي وو.

دا څومره لوی انعام دی چې دحاجی برکت سره ځلورسوه کسانو مغفرت وشو.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عليه وسَلَّم "اِذَا لَقِيْتَ الحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَصَافِحْهُ وَمُرْهُ اَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ قَبْلَ اَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ فَاِنَّهُ مَغْفُوْرٌ لَهُ. (رواه احمد كذا في المشكوة)

حضوراقدس ﷺ ارشاد دی چې کله بر حاجی سره ملاقات وي نوهغه ته سلام وکړه او

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مصافحه ورسره وکړه او دې نه مخکې چې هغه خپل کور ته داخل شي خپل خان له پاره د مغفرت د عا ترې وغواړه ؛ ځکه چې هغه دګناهونو نه پاک وصاف راغلی دی. یو حدیث کې خپله حضور ﷺ دادعاده چې یا الله ته دحاجی هم مغفرت وکړه او د چاته‌چې حاجي دمغفرت دعا کوي دهغه هم مغفرت وکړه

این احمد جامی نهاں دارد گناہ بیکراں ازحق بخواہ اے کامران عفو گناہ بر گناہ (جامی)

دجامي بیشمیره ګناهونه دي زما مغفرت وکړه ای آقا دعاګاني قبولی کړه چې هره هره ګناه معاف شي

په یو حدیث کې دي چې حج وعمره کثرت غریبی ختموي. یو حدیث کې دي چې حج وکړه غني به شې. سفر وکړه صحتمن به شي. (کنز)

دسفر پرمهال د حاجي مرګ د حج وعمرې ثواب:

دحضوراقدس ﷺ ارشاد دی چې کوم کس حج له پاره ځي او په لاره کې وفات شي هغه ته قیامته پورې ثواب ولیکل شي او دغه رنګ کوم یو کس چې عمرې له پاره ځي اولاره کې وفات شي هغه ته قیامته پورې ثواب ولیکل شي. او کوم کس چې جهاد له پاره وځي او لاره کې مړ شي هغه ته‌تر قیامته پورې دمجاهد ثواب‌ولیکل شي.

د حج بدل ثواب:

دحج بدل مسائل اوشرائط دي دهغو له علماوو څخه تحقیق کول پکار دي. فضیلت یې دادی. د حضور اقدس ﷺ ارشاد دی چې حق تعالی شانه (حج بدل کې) دیو حج په بدله کې درې کسان جنت ته داخلوي: یو مړی چې دهغه له طرفه حج بدل کیږي. دویم حج کوونکی دریم هغه کس وارث وغیره چې دحج بدل له پاره روپۍ ورکوي

دحج په سفر کې د خرچ کولو ثواب اوبدله:

دحضوراقدس ﷺ ارشاد دی چې حج کې خرچ کول جهاد کې خرچ کولوپشان دي د یوې (روپۍ بدله اووه سوه روپۍ ده.

یو حدیث کې دي چې حج کې خرچ کول دالله په لاره کې خرچ کول دي چې دهغې ثواب اووه سوه درجې زیاتیږي. یو حدیث کې دي چې حج کې یو درهم دځلور کروړه درهمو برابر دی یعني یوه روپۍ د خلور کروړه روپیو برابر ده.

فائده: دي نه پس هم که مسلمان هغلته لاړ شي په خرچې کې بخل او کنجوسي کوي نو ځومره دخساري خبره ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د شتمنې او طاقت باوجود د حج نه کولو سزا:

آیت قرآني دی: ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ﴾ ترجمه: او د الله جل شانه (دخوشحالولو له پاره) په هغو خلکو باندې لازم دي چې دتګ وس او طاقت لري چې دبیت الله شریف حج وکړي او څوک چې منکر وي ، الله تعالی دتمام جهان نه غني دی (دهغه څه پرواه نه ده)

فائده: علماء کرام لیکي چې دحج ابتداء ددې آیت کریمه نه وشوه ، په دې آیت شریفه کې دپر زیات تاکیدونه راجمع شوي دي. اول داچې دالله لام دایجاب دپاره دی لکه څرنګه چې علامه عیني رحمه الله لیکلي دی دویم علی النّاس لفظ چې انتهایي لزوم باندی دلالت کوي یعنی دخلکو په څنګونو باندی داحق لازم دی. دریم دعَلَی النَّاس نه پس مَنِ استطاعَ ذکر کول چې په هغې کې دوه قسمه تاکیدات دی. اول بدل دویم داجمال نه پس تفصیل. څلورم حج نه کوونکی په مَن كَفَرَ سره تعبیر کول پنځم په هغې باندې دخپلې لاپرواهی او استغنا ذکر کول چې دډیرې غوسې علامه ده او د هغوی په رسوایي باندې دلالت کوي. شپږم دې سره دټول جهان نه داستغنا ذکر چې دهغې نه نور هم د غوسې اظهار کیږي.

د حضور ﷺ ارشاد دی چې کوم بنده سره دومره خرچه وي اود سواري انتظام وي چې بیت الله شریف ته لاړ شي اوحج وکړي؛ خوبیا هم حج نه کړي؛ نو هیڅ فرق نه پریوځي چې دابنده یهودي مري او که نصراني.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي چې زړه می غواړي چې ټولو بنارونو کې اعلان وکړم چې کوم بنده دوس طاقت باوجود حج ونه کړي په هغه باندې جزیه مقرر شي. دا مسلمان نه دی، مسلمان نه دی د مکې مکرمې دحاضري نه پس دمدینې منورې حاضري د ډیر لوی خیر اوبرکت سبب دی اومدینې منورې ته نه تلونکي کس ته حضوراکرم ﷺ جفا کار ویلي دي.

دې خطبې نه پس دمدینې منورې حاضري فضیلت وسعادت به بیانیږي. الله تعالی دې تمام مسلمانانوته دحج بیت الله سعادت ورنصیب کړي. د حضوراکرم ﷺ دروضې مطهرې زیارت دې نصیب کړي آمین

دونوں جہاں میں جو کچھ بھی ہے سب تیرے زیر نگین
جن و انس و حور و ملائکہ و کرسی چرخ و زمین

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالحجې د میاشتې لومړی خطبه

د قربانی د فضیلت بیان

ارشاد باري تعالی دی .. قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ .. (سورة انعام)

ووایه! بیشکه زما لمونځ زما قرباني او زما ژوندو او زما مرګ الله رب العالمین له پاره دي وادهر مسلمان مقصد زندګي پکارده چې ټول دالله دپاره دي

د ذوالحجې میاشت چې کله راشي نودحضرت ابراهیم واسماعیل علیهما السلام دقربانی یاد تازه کیږي حضرت ابراهیم علیه السلام دهر جلیل القدرپیغمبر و دې وجې نه دهغه لوی آزمائشونه وشو او هغه تولو امتحانونوکې کامیاب شو. سوره بقره ارشادباري تعالی دی:

.. وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ .. یاد کړه هغه وخت کله چې ازمیښت وکړ الله تعالی دحضرت ابراهیم علیه السلام په یو څو خبرو باندی نوهغه په کې کامیاب شو په دې کې دتولو نه لوی امتحان دخپل زوی قرباني کول و.

میری زیست کا سہارا میری زندگی کا حاصل
تیرے عاشقوں میں جینا تیرے عاشقوں میں مرنا

ابراهیم علیه السلام په خوب کې وکتل چې زوی ذبح کوي. د پیغمبر خوب هم رینښتینی وي. دې وجې نه قرباني له پاره تیار شو. حضرت اسماعیل علیه السلام داووه کالو و کله چې دقرباني حکم وشومګر دکمال خبره ده جانثاري، فرمانبرداری چې دومره کم عمري کې قرباني له پاره تیار شو دقرباني ځای ته تلو نه مخکې حضرت ابراهیم علیه السلام بي بي هاجره ته وفرمایل چې حضرت اسماعیل علیه السلام ښه صفا کړه او وبیې لامبوه .نن به دی دیوې هستی ځای ته بیایم او هغلته به میلمه وي. شیطان بي بي هاجره لمسوله چې ابراهیم علیه السلام حضرت اسماعیل دالله په حکم باندي ذبح کوي حضرت هاجره وفرمایل که دخدای له طرفه حکم وي نو زمونږ ځان دالله دپاره حاضر دی اومونږ ته هیڅ قسمه عذر نشته. اګرکه ابراهیم علیه السلام هغلته اسماعیل علیه السلام ذبح کړی او بیا ماکور کې ذبح کړي نوزه دې ته هم تیاره یم. دغه رنګ شیطان لعین حضرت اسماعیل علیه السلام هم لمساو .نوحضرت اسماعیل علیه السلام وفرمایل که الله تعالی زما ځان قبول کړي نو دا زما خوش قسمتي ده. دغه رنګ شیطان حضرت ابراهیم علیه السلام هم لمساو اوغوښتل یې چې هغه خپل زوی قرباني نه کړي، حضرت ابراهیم علیه السلام شیطان په چانګرو وویشت چېرته چې نن هم حاجیان شیطان په کانوولي. دایادګار ابراهیمي دی، قرباني هم یادګار ابراهیمي ده. مسلمانان هر کال ددې قرباني یاد تازه کوي اودې له پاره تیار وي.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د قربانی فضیلت:

د حضوراکرم ﷺ ارشاد دی چې د قرباني دځناور په بدن چې څومره ویښته وي د یو یو ویښته په بدله کې قرباني کوونکي ته نیکي ملاویږي

دویم حدیث دی چې الله تعالی ته دقرباني په ورځو کې دقرباني نه بل عمل زیات خوښ نه دی

دریم حدیث دی حضوراکرم ﷺ فرمایي چې دقربانی دځناروي وینه کله په ځمکه باندی پریوځي؛ نو په ځمکه لګیدو نه مخکې دالله په نزد قبوله وي او قرباني کوونکي کس ته دنجات ذریعه جوړه شي. ځلورم حدیث دحضورپاک ﷺ ارشاد ګرامي دی چې دقربانی څاروي نبه وساتئ اوښه یې غټ کړئ؛ځکه چې دا ځناور پل صراط باندې ستاسو سواري جوړیږي. پنځم حدیث دحضورپاک ﷺ ارشاد ګرامي دی چې قرباني وکړئ؛ ځکه چې دا ستاسو د پلار حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام سنت اویادګار دی

یہ فیضان نظر تھا یا کہ مکتب کی کرامت تھی سکھائے کس نے اسماعیل کو آداب فرزندی

(اقبال)

د اول حدیث وضاحت او تشریح:

دا د الله تعالی څومره غټ احسان وانعام دی چې په کوچني عمل باندی دومره نیکي ورکوي د یو ځناورپه وجود باندی څومره ویښته وي ځوک دموربچی یې چې شمارل ګواړي نه یې شي شمارلی. او لوی نه لوی سوداګر هم په دومره کم وخت کې دومره زیات دولت نه شي ګټلی او دانیکي دآخرت دولت دی. که نیکي وي نو قیامت په ورځ به پکار راځي او د جنت نعمتونه ملاویږي. لکه څنګه چې دنیا کې هرشی په دولت ملاویږي. آخرت کې به نیکو سره ملاویږي غټ نه غټ مالدار به هم که بغیر دعمل مړ شی نوآخرت کې به غربت کې وي اودلوی نه لوی غریب هم که نیکی وګټلې نوهغه به د آخرت په حساب سره مالداره وي. ځکه چې دآخرت مال اعمال صالحه ونیکی دي.

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری ہے

د دویم حدیث تشریح:

دهر عمل یو وخت وي لکه څنګه چې رمضان میاشت کې روژې، دحج ورځو کې حج، دلمونځ وخت کې لمونځ، دغه رنګ دقربانی ورځو کې قرباني یو لوی مقبول عمل دی. دریم حدیث تشریح ده چې دقربانی وینه تویدو نه مخکې دالله په در کې قبوله وي. دا دالله تعالی څومره لوی انعام دی چې انسان ته دهغه دنیکو اعمالو بدله وانعام څومره زر ملاویږي. اګر که آخرت کې نجات وشي نوله دې به لوی سعادت بل څه وي! ځکه چې حقیقت کې کامیاب هغه دی کوم

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې آخرت کې کامیاب شي اوددنیا زندګي عارضي او فنا کیدو والا ده نه ددې د کامیابی اعتبار نه دناکامی اعتبار . ددی ځای عزت هم فاني اوذلت هم فاني، عمر فاني، مال هم اواولاد مکان. پاچاپي فاني ده غرض آخرت اصل دے اودآخرت کامیابی هم اصل ده

لطف دنیا کے ہیں کے دن کے لئے کھو نہ جنت کے مزے ان کے لئے

دریم حدیث

چې دقربانی ځاروي ښه غټوی؛ځکه چې پل صراط باندی دا ستاسو سواري ده پل صراط به خومره مشکل مرحله وي قرآن پاک کې دي

وَإِن مِنكُمْ إِلاَّ وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حتماً مَقْضِياً. (پ١٦ آیت ٧١)

دآیت مفهوم دادی چې هر بنده به دپل صراط نه تیریږي کامیاب به تیزي سره تیریږي ناکام به بندیږي اوجهنم ته به پریوځي الله تعالی دي مورږ ټول دناکامی نه بچ کړي مرګ یقیني دی اومرګ نه پس چې څه کیدونکي دي . نن له سترګو پټ دي سبا چې کله سترګی خلاصې شي؛ نواوس چې د پردې شاته دي یعني آخرت اودهغه منازل،هغه ټول به په سترګو باندی په نظر راشي لهذا نن که په دنیا کې اوسیږو اودآخرت تیاری نه کوو؛ نوآخرت کې به پښیمانی وي اوانسان به په سرو سترګو ژاړي

پنځم حدیث چې قربانی کوئ دا ستاسو د پلارحضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام یادګار دی د واقعې تفصیل مختصرادی چې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام ملك شام نه مکې معظمې ته دخپلو بچیانو دملاقات له پاره راغی نو اتمه ذی الحجه باندی یې خوب ولید چې خپل نیازبین زوی حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام ذبح کوي. په دویمه شپه یې بیا دا خوب ولید، په دریمه شپه یې بیا دا خوب و لیدلو دایې هم ولیدل چې د زوي ذبح کولو وخت کې یو ګډ خوا کې ولاړ دی. د نبي خوب هم ریښتینی وي. حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام هم پوه شو چې زوی دالله په نوم باندی ذبح کولو حکم دی. فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ. کله چې بچی دمندو وهلو قابل شونوپه خوب کې یې ذبح کول ولیدل ارشاد ربانی دی. حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمایل: (قَالَ يَبُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي المَنَامِ إِنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَا ذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ)

ای بچیه! زه په خوب کې وینم چې تا ذبح کوم .زوی حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام جواب ورکړ ابا جان چې کوم حکم درته شوی دی فوراً یې پوره کړئ تاخیر مه کوئ انشاء الله ما به ثابت قدم وموجي چنانچې په لسم ذی الحجه حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام خپلې ښځې هاجری بی بی ته وویل چې حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام ښه طریقې سره ولامبوه دی دیو غټ شخصیت په حضور کې میلمه کوم ح ضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام ښه صفا کړل شو او قربانی له پاره بوتلل شو؛نوشیطان دیو بودا په شکل دحضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام موربی بی هاجره ته راغی او یې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ويل چې تا ته پته شته چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام کوم خوا بوخي؟ حضرت هاجره وفرمايل چېرته ميلمستيا باندې بيايي شيطان وويل هغه خو اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ذبح کولو ته بوځي

دشت غربت میں تمہیں کون پکاریگا فراز چل پڑو اپنے خود ہی جدھر دل کی صدا لے چلے

حضرت هاجره عَلَيْهَا السَّلام وويل: ته په غلطه يې چېرته پلار زوی ذبح کړی دی. بيا شيطان وويل چې هغه ته د الله حکم دی: نو هاجري يې يې وويل چې که د الله تعالى له طرفه ذبح کولوحکم وي؛ نو بيا يوازي اسماعيل نه چې زما حکم هم شوی وي؛ نو زه تري څه دريغ نه کوم اولاحول يې وويل. د دی خای نه چې مايوسه شو؛ نو شيطان حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ته لاړ او يې ويل تاته معلومه ده چې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام تا چېرته بوځي؟ حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې ميلمستيا له پاره. شيطان وويل نه! هغه تا دذبح کولوله پاره بوځي حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې آيا پلارهم چېرته زوی ذبح کړی دی؟ شيطان وويل چې هغه ته دخدای حکم دی. اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ووېل که هغه ته دخدای حکم وي نوبيا خو حاضر يم. بيا شيطان حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته لاړ او ويې ويل: ای ابراهيمه! کله هم پلار وی ذبح کوي؟ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ووېل د الله په حکم باندی مومن کامل هر څه کوي چنانچې شيطان مايوسه شو بالآخر دمنی په ميدان کې کوم خای چې حاجيان شيطان په کانو ولي نوشيطان حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په زبردستي باندی منع کړ؛ نو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دالله تعالى په حکم باندی په اووه کانو باندی ووېشت، لږ مخکې لاړ؛ نو شيطان بيا په زبردستي باندی منع کړو؛ نو د الله په حکم باندې يې بيا په کانو ووېشت. يو خل بيا يې په کانو باندې ووېشت، دغه رنګ دري خله په کانو ووېشتل شو. نن حاجيان دري خايه شيطان په کانو ولي دا د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يادګار دی الله تعالى ته د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام جذبه دومره خوښه راغله چې تر قيامته پوري يې دا يويادګار جوړ کړو، معلومه شوه چې بنده کله الله له پاره صدقه جاريه پريږدي؛ نو تر قيامته پوری يو يادګار جوړ شي اوهغه ته ثواب ملاوشي چنانچې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خپل نيازبين زوی يو لوی ميدان ته بوت اونيازبين زوی يې خملاو او رسی. سره يې وترلو، الله! الله! څه عجيب منظر به و.

کم ہوئیں عارف نہ دل کی رونقیں اس نگر کا راستہ چلتا رہا

جذبات کی لہریں جوش پہ ہیں پلچل پھیرے ارمانوں میں

ساحل کی لڑائی اب جا کر لڑنی ہوگی ارمانوں میں

پلار د بچي د ذبح کولو تياری کوي، چاره تېره کوي، حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام خپله راځي او وايي چې بابا جان ما بنه کلك وتره او چاره هم بنه تېره کړه او اپرمخ مې واچوه هسې نه چې

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

زما مخ وګوري . رحم دې راشي او ذبح ونه کړي شي سبحان الله! څه جذبه قرباني ده. حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام همدغه شان وکړل او چاړه يې ورته په څټ کيښوده او نبه په چغو يې آوازونه شروع کړل؛ مګر خدای تعالی ته نورځه منظور وو او قرباني غوښتل شوې وه ،دغه راز الله رب العزت انسان نه قرباني هرڅوک کې غواړي اخلي نه. بلکې هغه امتحانوي او د خپل طرفه ډېر څټ انعام ورکوي هر حال کې انسان ته قرباني ورکولوته مکمل تيار ه ولاړه پکار ده

سر دوستان سلامت که تو خنجر آزمائی

حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام وويل چې چاړه ولي کار نه کوي . چاړه په زبان حال سره وويل چې خليل وايي چې چرې وچليږه! رب جليل وايي چرې خبردار! چې يو وينښته هم کټ نه کړې د رب د حکم نه بغير يوه پاڼه هم حرکت نه شي کولی. چاړه به څه حرکت وکړي آواز راغی وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰاِبْرٰهِيْمُ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا.

ای ابراهیم! بيشکه تا د خپل خوب تعبير رينبتيا کړ يقيناً دا لوی امتحان و. چې په هغه کې ته پوره راغلې او خپله د محبت واطاعت دعوی دې پوره کړه.

الله تعالی دې مورږ ته هم خپل کامل ومکمل محبت واطاعت نصيب کړي . د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام قرباني قبليدونه پس الله تعالی يو ګډ راولېږه چې د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په ځای باندی ذبح کړل شو .دا دقرباني عمل ددې امتحان ابراهيم واسماعيل عَلَيْهِمَا السَّلَام يادګار دی. لهذا همدې جذبه ابراهيمي واسماعيلي سره قرباني کول پکار دي چې کله الله تعالی دخان قرباني وغواړي (جهاد وغيره کې) نومورږ به خپل ځان هم قربان کړو.

د قربانی فوائد:

ملکوتي صفات پيدا کيږي حيوانيت ختميږي. دغم خواري او نياز جذبه پيدا کيږي. د سنت ابراهيمي ياد تازه کيږي. د اسلامي کال ابتدامحرم هم د حسين رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قرباني ده. او اختتام يعني ذو الحجه هم په قرباني باندې ده.

غربت وساده ورنګين ہے داستان حرم نہايت اس کی حسين ابتدا اسماعيل

تول کال مورږ په خپله خوښه ځناور ذبح کوو اوس د اله تعالی حکم دی چې زما په خوشحالي يې ذبح کړه؛ دبدن شکر په لمونځ باندې وي،دمال شکرانه زکات دی، د قوت شکر جهاد دی، دغه راز د ځناورو شکرانه قرباني ده. قرباني وتکبيرات سره د غير حاجيانو دحاجيانوسره مناسبت راشي. قرباني سره دملت داتحاد مظاهره کيږي؛ ځکه چې تول مسلمانان دا عمل کوي د قرباني غوښه تقسيمولوسره محبت پيدا کيږي. صدقه ورکولو سره دغريبانانومدد کيږي. قرباني سره دکفر د عقيدې تردید کيږي، هغوی به د ځناورو عبادت کولو. قرباني سره اشاره دې خبرې ته ده چې کله د قرباني ځاروی ذبح کړئ نو خپل نفس دننه مخالف نفس هم ذبح

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کړه او داسې ده چې باطن حيوان نفس هم ذبح کړه.

مسئله په قرباني واجبه نه وي: نو بيا هم دومره بې پناه ثواب له وجې قرباني کول پکار دي او که مالداره وي نو نومناسبه ده چې چې خپلو رشتنه دارو له طرفه هم قرباني وکړي، لکه مور پلار ددوی له طرفه قرباني کول پکار دي چې روح ته يې ډېر زيات ثواب ورورسيږي.

دحضوراقدس ﷺ له طرفه دي هم قرباني وکړي، دده د بيبيانو له طرفه او د خپل پير ومرشدله طرفه دي هم وکړي که داسې نه وي: نو کم ازکم د خپل خان له طرفه خو دي وکړي

مسئله په چاباندې چې صدقه فطر واجب ده په هغه باندې د قرباني ورخو کې قرباني هم واجب ده او که چا سره دومره مال نه وي چې دهغه په موجوديت سره صدقه فطر واجبيږي؛ نو په هغه باندې قرباني واجب نه ده. خو بيا هم که و يې کړي؛ نو ډېرلوی ثواب دی

مسئله دذو الحجې د لسم تاريخ نه واخله تر دولسم تاريخ مابنام پورې قرباني کيږي اوس يې خپله خوښه ده چې په کومه ورځ باندې يې کوي؛ خو د قرباني غوره وخت د اختر لومړۍ ورځ ده بيا يوولسمه اوبيا دولسمه

مسئله د لسم تاريخ نه واخله دولسم تاريخ پورې کله چې يې زړه غواړي قرباني دي وکړي که د ورځې يې کوي يا دشپې؛ خو د شپې کول په دې وجه مکروه دي چې شايد دې بنده نه يو رګ داسې پاتې شي او کټ نه شي.

مسئله دقرباني وخت کې په ژبه باندې نيت کول او دعاويل ضروري نه دي. که په زړه کې يې دا نيت وکړ چې قرباني کوم او په ژبه يې هيڅ ونه ويل، صرف بسم الله الله اکبر ووايي؛ نو بيا هم قرباني صحيح ده؛ خو که دعا ياده وي او ويې وايي نو ډېره ښه خبره ده.

مسئله قرباني صرف د خپل طرف نه کول واجب دي د اولاد له طرف نه کول واجب نه دي، که اولاد نابالغه او مالداره وي؛ نو بيا هم دهغوی له طرفه کول واجب نه دي. نه د خپل مال او نه د هغه د مال نه

چېلی (سيږلی) چيلی (وزه)، ګډ، ګډه، غوا، غويی، مينه، سنډا، اوښ، اوښه ددې څناورو قرباني صحيح ده. ددې نه علاوه د بل څاروي قرباني صحيح نه ده.

مسئله: غوا، غويی، مينه، سنډا، اوښ او اوښه کې که څوک اووه کسان شريکيږي؛ نو صحيح ده خو شرط دادی چې د چا حصه د اوومې حصی نه کمه رانه شي او د ټولونښت د قربانی يا د عقيقې وي. يوازې د غوښې خوړلو نه وي. که د چا برخه د اوومې حصې نه کمه وي نو د هيڅا هم قرباني صحيح نه شوه

مسئله: چيلی د يوکال نه کمه نه ده پکار؛ خکه چې قرباني يې نه صحيح کيږي کله چې د پوره کال شي نو قرباني يې صحيح کيږي او غوا مينه چې د دوو کلونو شي؛ نو قرباني يې صحيح

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کيږي. اوښ دپنځو کلونو نه کم صحيح نه دی او که چې دکال نه کم وي خو دومره صحت مند وي چې دکال برابر بنکاره کيږي؛ نوبيا يې هم قرباني صحيح ده او که داسې نه وي نو دپوره کال کيدل ضروري دي.

مسئله: کوم خناور چې ړوند يا کوڼ وي، ديوي سترګې دريمه برخه بينايي يا د دي نه ډېره ختمه شوې وي. يا يو غوږ يا دريمې برخې نه زيات کټ شوی وي يا دريمه حصه لکی کټ شوې وي :نو د دي خاروي قرباني کول صحيح نه دي.

مسئله: د کوم خاروي چې پيدايشي غوږونه نه وي د هغه قرباني هم صحيح نه ده. خو که غوږونه وي او ډېر واړه واړه وي؛ نو بيا يې قرباني صحيح ده.

مسئله: د کوم خاروي چې پيدايشي بنکرونه نه وي ياوي خو کټ شوي نو ددي خاروي قرباني صحيح ده. البته که ډبخ نه بالکل وتلي وو ؛ نو بيا يې قرباني صحيح نه ده.

مسئله: د خصي ګډ او چيلي قرباني صحيح ده.

الله تعالى دې مونږ ټولو مسلمانانوته په خپله لاره کې د مال جان قربانولو توفيق راکړي آمين يارب العٰلمين!

عجيبه خوب:

په مختلفو کتابونوکې دحضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام واقعه داسې بيان شوې ده چې سيدنا حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام کله خپله بی بی هاجره اوخپل زوی حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام دالله تعالى په حکم باندی د مکې معظمې شاړه دښته کې پريښودل .کله چې به کال پوره کيده حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام به بې بې ساره نه اجازه غوښته او مکې معظمې ته به ملاقات ته راته. يو رواېت کې دي چې کله به ابراهيم خليل الله د ملك شام نه مکې معظمې ته سواری باندی تلو راتلو هغه سفر به ډېر زر مکمل کيده، د ميا شتو سفر به ورځو کې پوره کيده.

نظر پڑتی تھی حضرت کی جہاں سواری کا قدم پڑتا تھا واں پر

د مکی معظمی دقيام دوران د ذوی الحجی په اوومه شپه باندې حضرت ابراهيم خليل الله خوب وليد چې څوك ويونکی وايي ای ابراهيم! د الله تعالى ارشاد دی چې پاڅه! او خپل زوی زما په لاره کې قربان کړه! سهار يې غور وکر چې چېرته دا خوب د شيطان وسوسه نه وي بيا ده په دغه ورځ باندې څو اونبان دالله تعالى په لاره کې قربان کړل بيا يې په اتمه شپه باندی همدغه خوب دوباره وليد :نوپه دغه ورځ يې بيا اونبان قرباني کړل. په نهمه شپه يې بيا همدغه خوبوليد چې. ای ابراهيم !پاڅه! او خپل خوږ بچی زما په لاره کې قربان کړه.

(لِعِلْمِ الْحَكِيمِ لَا يَخْلُوا مِنَ الْحِكْمَةِ). (يعنې دالله تعالى په هر يو کار کې حکمت وي

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نکته:

وایي چې فرښتو په دربار خداوندي کې عرض وکړ. چې ای الله تعالی! دحضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام دخپل بچي سره دهر زبات محبت دی دي وجی نه خو هغه هر کال مکې مکرمې ته راځي الله تعالی عملاً داهر څه وښودل چې وګورئ د ابراهیم په زړه کې زما له پاره محبت د بچي نه هم زبات دی .هغه دبچي په محبت زما محبت باندې څنګه قربانوي دشپې يې خوب کې ولیدل چې دبچي ذبح کولو حکم کیږي

هو که بس تیار اته ښپهے خلیل　　اب رہی دلیل میں نہ کچھ بھی قال وقیل
ہو گئے یکسو خیالات خلیل　　یہ کہ ہے لاریب یہ حکم جلیل

د ذبح کولو تیاری:

په لسم ذی الحجه ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د الله تعالی د عبادت نه چې فارغ شو ؛نو خپلې بي بي ته يې وفرمایل چې اسماعیل بچي ته ښکلي کپړې واچوه او ويې لامبوه. سر ور غوړ کړه، سترګې ورتوري کړه او سر ور ګومنځ کړه. یو لوی ذات طرفته يې د میلمه په حیثیت بیایم، مهرمني يې حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام ښه تیارکړ او خوشبویي ورته ولګوله اوپه تندي يې ښکل کړ او حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام سره يې د الله په حضور کې وسپارلو. حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام د مخکې نه یوه چاړه او رسۍ په تخرګ کې پټ نیولي وو او د خپل نورعین لاس يې نیولی و او روان و . لته دوی روان وو هغلته دآسمان فرشتی دا عظیم امتحان کتلو دپاره روانې وي ، دلته شیطان لعین دخپل خای نه پاځید دي دپاره چې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام په دي امتحان کې کامیاب نه شي هغه د يوې ضعیفه زنانه په شکل يې هاجره ته دهوکه کولوله پاره راغی او ويې ویل چې وګوره ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام خونن خپل زوی ذبح کولو ته روان کړی دی حضرت هاجره يې بي وویل چې داڅنګه کیدای شي چې پلار زوی ذبح کړي؟ شیطان وویل چې هغه ته د الله دا حکم دی. حضرت هاجره جواب ورکوي:

حکم مولا ہے اگر اس کام کا　　ہاجرہ کو اس میں پھر کیا دغدغا
یہ کہاں قسمت میری میرے نصیب　　ہو میرا فرزند مولا کا حبیب
ایک اسماعیل کیا قربان سب　　مل گیا خلت کو جب یہ حکم رب
ہاجر کی جان قربان ہے　　اے لعین شاید کہ تو شیطان ہے

الله الله ،دحضرت هاجره يې بي دا جواب چې شیطان لعین واورید ؛ نو دماشوم په شکل باندې حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام ته لاړ او ويې ویل چې ای اسماعیله! تاته معلومه ده چې چېرته روان يې؟ حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام وفرمایل :هوا چېرته میلمه کیږم ابلیس ورته وویل نه پلار دي ذبح کولوله بوځي حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَام ورته وویل چې داهم کیدای

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

شي چې پلار بچی ذبح کړي؟ شيطان ورته وويل چې هغه ته د الله حکم دادی حضرت اسماعيل عليه السلام په جواب کې وويل

هے یه اسماعیل کی خوش قسمتی — جس سے حاصل هو رضائے ایزدی
مرضی مولا میں جو کام اگیا — ہوگیا بس اس کو سب کچھ عطا
جانِ اسماعیل هے اس پر نثار — تو لعین شاید ہے شیطان نابکار

اخري شيطاني حربه:

ددې خای نه چې هم شيطان مايوسه شو؛ نو د يو بودا په شکل باندې حضرت ابراهيم عليه السلام ته لاړ او ورته يې ووېل ای ابراهيم! چېرته روان يې؟ حضرت ابراهيم عليه السلام ورته وفرمايل چې د الله له طرفه يو حکم دی هغه پوره کولوته خم شيطان ووېل افسوس ای خليل! ستا پشان عقلمند بنده ..اضغاث احلام..محض په يو خوب باندی دومره لوی کار کوې. حضرت ابراهيم عليه السلام نورباطن سره وپېژاند چې دا خو هغه لعين دی چاچې په حضرت آدم عليه السلام باندی نافرماني وکړه ورته وې ويل لرې شه!

دور هو اے دشمن پروردگار — دور هو تو اے لعین نابکار
حکم ربی مجھ کو کرنے دے ادا — هو چکا هے مجه کو فرمانِ خدا
تیرے کهنے میں نه اؤں گا کبھی — جا کہیں چل دورهو اے دوزخی

دې نه پس مايوسه شو؛ نو حضرت ابراهيم عليه السلام يې په زبردستي باندې منع کړ، درې خله مخې ته راغی او ده درې خله په چانکرو باندې وويشت. شيطان ډېر لوی زور ولګاو؛ خوناکام شو.

د ذبح منظر:

کله چې حضرت ابراهيم عليه السلام مقام منی ته ورسيد؛ نو خپل لخت جګر حضرت اسماعيل عليه السلام ته يې وفرمايل: ،،يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ،، يعني:

اې زما بچورِيه ما په خوب کښې اوليدل چې زه تا ذبح کوم نو ستا څه رائې ده.

حضرت اسماعيل عليه السلام د اووه کلونو ماشوم فرمايي:

اې زما باباجانه! چې څنګه دې په خوب کښې ليدلی دی همدغسې اوکړه انشاء الله ته به ما صابر بيا مومي.

الله الله! خليل الله په رسی باندی د خپل نورعين پښې لاسونه وترل او په ځمکه يې ځملاو او چاړه يې ورته په مری کيښوده او بسم الله الله اکبر يې وويل او په تيزي سره يې رابنکل شروع کړل. خو د خوږ زوی مری باندی اثر قدرنه راځي، بيا پاڅی او چاړه تيزول شروع کړي بيا هم

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

چې کا ر نه کاو. آخر مجبور شو اوحضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د چارې څوکه د خپل فرزند په مړۍ زور سره ږدي او د ټول وجود زور لګوي، خو دمړۍ رګ قدر نه کټ کيږي، دا حالت چې يې ولېد: نو آسمان کې فرښتو آوازونه شروع کړل او د الله د رحمت ټولې دروازې خلاصې شوې. دلته درحمت خداوندي دربار شروع دی، هلته حضرت خليل الله عَلَيْهِ السَّلَام چاره تيزوي او د خپلو متو په زور باندی د خپل نيازبين زوی مړۍ کټ کول غواړي

رکھ کہ شہ رگ پہ چھری اے اتقیا زور سارے جسم کا بس دی دیا

مرضئ مولا میں ہے چون وچرا کس طرح پورا کیا حکم خدا

جناب خليل الله په ډېره غوسه باندې چرې ته کښل، چې ددوی دشا نه د الله اکبر آواز راغی، حضرت خليل الله چې اوکتل نو حضرت جبريل امين لاس کې دجنت ګډ نيولی دی او ولاړ دی اودوه خله يې الله اکبر الله اکبر وويل حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هم دخوشحالی نه الله اکبر ووي ل

الله تعالی وويل. «ولله الحمد» دا مجموعه يو تکبيرجوړ شواو دقبولېت دوخت يو يادګار جوړ شو. قيامته پوري مسلمانانودپاره دايو حکم دی چې دنهم ذي الحجی نه واخله تر ديارلسم ذي الحجی پوري دا تکبيرات وايي چې يو يادګار باقي پاتې وي.

حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام چې پو کومه رسی باندی خپل نيازبين زوی ترلی و، حضرت جبريل امين هغه خلاصه کړه اودوی ته يې وفرمايل چې دې وخت کې دالله تعالی نه کومه دعا غوښتل غواړې وغواړه دا د اجابت وخت دی، دوی د تماموموحدينو اومسلمينودپاره دعا وغوښتله. د قربانې دګډ په شکل کې قبوله شوه چې دايې قربان کړ او دراتلونکو نسلونو له پاره يو سنت وګرځيد او ترقيامته به داسنت جاری وي. او الله رب العزت وفرمايل سلامتي دې وي په حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې، مورږ داسې بدله ورکوو نيکي کوونکي خلکو ته او هغه زمورږپه بنده ګانوکې ډېر زيات ايماندار دی اوهغه به په خپلو نعمتونوباندی سرفرازه کوواو د هغه په نسل باندی به هم زمونږ لطف وکرم جاري وي. د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په آخري اولاد کې حضرت محمد ﷺ هم راځي الله تعالی دې مورږ ټولو ته دحضوراکرم ﷺ اطاعت وجذبه نصيب کړي (آمين)

بازار ازل یوں تو بہت گرم تھا لے دے کے محبت کے خریدار ہمیں تھے

زندگی تیری عطا تھی سو تیرے نام کی ہے ہم نے جیسے بھی بسر کی تیرا احسان جاناں

الله تعالی دې د عمل توفيق راکړي. آمين

وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمين

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالحجه دمياشتي دويمه خطبه:

د مدينې زيارت او فضائل

محمد بن عبيدالله العتبي ﷺ وايي چې زه مدينې منورې ته حاضر شوم نو قبر اطهر باندې مې حاضري وکړه او د حاضرې نه پس هلته يو طرفته کيناستم په دې کې يوکس په اوښ باندې سور باندې چې شکل وصورت کې حاضر شو او راتلو سره يې عرض وکړ ب خير الرسل اى رسولانو کې بهترين ذات! الله تعالى به تاسو باندې قران کريم کې نازل کړل

وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوا أَنفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا (النساء ٦٤)

ترجمه که چرې هغه خلک چې په خپلو ځانونو يې ظلم کړى تا ته راشي او د الله تعالى نه يې د خپلو ګناهونو معافي غوښتي اورسول الله ﷺ هم د هغوى له پاره معافي غوښتي: نوضرور به الله تعالى توبه قبوله کړي وه ..اى د الله رسول ﷺ زه ستاسو دربار کې يم او د الله جل شانه نه د خپلو ګناهونو مغفرت غواړم او په دې کې د ستاسو د شفاعت طلبګار يم دې نه پس هغه باندې چې په ډزرا شو اودا اشعار يې وويل

يا خير مَن دُفِنَت بِالقَاعِ أَعظَمُهُ ... فَطَابَ مَن طِيبِهِنَّ القَاعُ وَالأَكَمُ

نفسِي الفداءُ لِقَبرٍ أَنتَ سَاكِنُهُ ... فِيهِ العِفَافُ وَفِيهِ الجُودُ وَالكَرَمُ.

اى په ټولو هغوخلکو کې چې هډوکي يې په همواره ځمکه کې ښخ شوي دي بهترين ذاته ده په وجه يه ځمکه کې هم ښه والى راغلى دى زما خان دي قربان وي په هغه قبر باندې په کوم کې چې تاسو مقيم يئ. هغه کې پاک لمنې ده. سخا ده او کرم ده.

دې نه پس هغه استغفار کړاو لاړ عتبي ﷺ وايي چې زما لږ شان سترګې ورغلې: نو ما د نبى کريم ﷺ په خوب کې زيارت وکړ. ويل چې لاړ شه! اودې باندې چې ته ووايه چې زما په سفارش باندې الله تعالى دده مغفرت وکړ.

ذکره عساکر فی تاریخه. (فضائل حج حضرت شیخ الحدیث مولانا ذکریا)

د حج نه پس د حضوراقدس ﷺ ښار. مدينې منورې، ته تلل سراسر د خيروبرکت سبب او قرب محمد ﷺ دى او ذريعه شفاعت هم دى او نه تلل انتهايي بدبختي او محرومي ده کله چې ځوک د مدينې منورې سفر کوي؛ نو کثرت سره دې درود شريف وايي په لاره کې چې کوم يو ځاى يا يو مسجد داسې راشي چې هغه کې د حضور ﷺ يا د صحابهٔ کرامو ناسته يا لمونځ ثابت وي؛ نو دهغه دې زيارت کوي اوهلته دې نوافل کوي يا دې ذکر اوتلاوت کوي کله چې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

مدینې منورې ته نژدې ورشي؛ نو ډېر زیات ذوق اوشوق کې دې مستغرق شي. کثرت سره دې بار بار درود شریف وایي. که په سورلی باندې وې نو تیزې سره یې چلوئ حدیث شریف کې دي کله چې به حضور ﷺ واپسي کې تشریف راوړو او مدینه منوره به نژدې شوه؛ نو حضور ﷺ به سورلی تېزه کړه

وَاَبرَحَ مَا یَکُونُ الشَّوقُ یَوماً اِذَا دَنَتِ الخِیَامُ اِلَی الخِیَامِ

دتولو نه زیات شوق په هغه ورځ وي کله چې دعشاقو خیمې د معشوق د خیمو سره وي

کله چې د مدینې منورې په دیوالونو باندې نظر پریوځي؛ نوبهتره داده چې د سورلی نه کوز شي او پیاده په زړا روان وي

وَلَمَّا رَاَینَا رَسمَ مَن لَم یَدَع لَنَا فُؤَادَ لِعِرفَانِ الرُّسومِ وَلَا لُبّاً

نَزَلنَا مِنَ الاَکوارِ نَمشِی کَرَامَةً لِمَن بَانَ عَنهُ اَن نُلِمَّ بِهِ رَکباً

کله چې موږ د محبوب د ښار ښې ولسۍ جاچې دنبي پیژندګلو په واسطې موږ سره نه زړه پرېښود او نه عقل نو موږ ېې خپلو سورلو نه کوز شو او دهغه په اکرام کې پیاده راروان شوځکه چې دهغه د شان نه دا ډېره لرې خبره وه چې هغه ته سوارلې سره لاړ شو

د پخوا زمانې پاچایانو په زړه کې د مدنې منورې احترام

د پخوا زمانې دپاچایانو او حاکمانو متعلق دا لېکل شوی دي چې هغوی به د ذوالخلیفه نه اچې د مدینې منورې نه تقریباً شپږ میله لرې ده ښکته نلل او خپل هم دادی چې دې خای د پښو په خای په سر باندې لاړ شي نو بې هم دغې خې خې نه شي ادا کېدای

لو جُتکُم قاصِداً اَسعَی علی بَصَری لم اَقضِ حَقّاً وَاَیُّ الحقِ اَدَّیتُ

که زه ستاسو در ته د پښو په خای په سر هم راغلی وی؛ نو بیا به می هم حق نه و ادا کړی اوما ستاسو کوم یو حق ادا کړی چې دا به می دا ادا کولو

وَلَمّا رَاَینا مِن رُجُوعِ حَبِیبِنا اِعلاماً اَثَرنَ لَنا اَلَحنا

وَبِالتُّرَابِ فِیها اِذ کَحَلنا جُفُونَنَا شَفَینا فَلا باساً نَخافُ وَکَرباً

کله چې مدینه منوره کې د محبوب د منزل آثار رانبکاره شو؛ نو هغه محبت رازیات کړاو کله چې مې د هغه خای خاوري رانجه کړې؛ نو دتولو بیمارو نه شفا یاب شوم اوس نه څه مرض شته او نه تکلیف.

کله چې د مدینې قلعه ګانې راورسیږي نو درود شریف نه پس دې دا دعا ووایي:

اَللّٰهُمَّ هٰذا حَرَمُ نَبِیِّکَ فَاجعَلهُ لِی وِقَایَةً مِنَ النَّارِ وَاَمناً مِنَ العَذَابِ وَسُوءِ الحِسَابِ.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

ترجمه ای الله دا سنا دنبي حرم دی دا زماله اور څخه دبچ کیدو ذریعه جوړه کړه او دعذاب نه دبچ کیدو ذریعه جوړه کړه او د بد حساب څخه د بچ کیدو سبب جوړ کړه ..

دې نه پس ددې ښار دخیروبرکت حاصلولو دعا وکړئ او ددې د ادابو پوره کیدو دعا وکړئ او د څه نامناسبه حرکت کې د مبتلا کیدو نه د بچ کیدو دعا وکړئ، دهرې دعاګانې وکړئ او دې نه پس که غسل وشي نو غوره ده او خوشبو که وي هغه ولګوئ. مسجد نبوي ته داخلیدو نه مخکې صدقه ورکړئ کله چې مسجد نبوی ته داخلیږئ؛ نو خشوع خضوع سره داخلیږئ اوسه پوري دنه حاضریدو دې افسوس وي. د حضور ﷺ د زیارت د نه کیدو دې خفګان وي آخرت کې دزیارت تمنا او آرزو وي

اوځرنګه چې یو لوی دربار ته د داخلیدو وخت کې کوم رعب ودبدبه وي، هغه کیفیت دې وي، کله چې ګنبد خضراء په نظر راشي نو دعظمت وجلال اود حضوراقدس ﷺ د شان و بلندی دې استحضارکوي اودا سوچ دې کوي چې په دې روضه اقدس کې هغه ذات موجوددی چې دتولو مخلوقاتو نه افضل او د تولو انبیاوو سردار دی د فرښتو نه افضل دی، دقبر شریف ځای یې دتولو ځایونو نه افضل دی. کوم ځای چې دحضور ﷺ بدن مبارك سره ملاو دی هغه دکعبې نه افضل دی. دعرش نه هم افضل دی،ان چې د ځمکې آسمان دهر ځای نه افضل دی (لباب)

بهتره داده چې مسجد نبوی ته دباب جبریل نه داخل شي؛ ځکه چې د حضوراقدس ﷺ معمول داو چې ددې دروازې نه به دداخلید مسجد ته تلو نه پس د تولونه مخکې روضه اقدس ته دلاړ شي د اهغه حصه ده کومه چې منبر شریف او د قبر شریف مینځ کې ده. دې ته روضه دې وجې نه وایي چې حضور ﷺ به ارشاد فرمایلو چې زما د قبر او زما د منبر مینځ کې برخه د جنت دباغونو نه یو باغ دی

روضه مقدسه ته چې کله لاړ شي او مکروه وخت نه وي؛ نو تحیة المسجد کول پکار دي. تحیة المسجد نه فارغیدو نه پس د الله تعالی لاک لاک شکر ادا کول پکار دي، چې هغه موږته یې دا نعمت عظیمه راکړاو دې پاك رب نه د حج وزیارت د قبولیت دعا وکړئ. دې نه پس دې قبر شریف ته لاړ شي په دې حال کې چې زړه د تولو کدورتونو اورنجاستونو نه پاك وي اوتوله توجه دې پاك ذات طرفته وکړي. علماء کرام فرمایي کوم زړه کې چې ګندګي، لهو لعب او شهواني خواهشات وي. په هغه زړه باندې د هغه ځای اثرات نه پریوځي، بلکې داسې زړه واله د کومو زړونه چې په د نیا پراته وي او د آخرت د فکر نه بې تعلقه وي، د حضور ﷺ د غوسې او اعراض اندیښنه ده.

الله تعالی دې موږ خپله پناه کې وساتي لهذا هر یو بنده ته پکار دي چې څومره دې وخت کې د دنیا د محبت نه ځان ساتلی شي. و دې ساتي او د الله تعالی درحمت امید دې ساتي او د حضور ﷺ شان رحمة للعلمینی باندې دې نظر ساتي او د حضور ﷺ په وسیله باندې دې

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د الله حضور کې دمعافي طالب جوړ شي او حاضر دې شي
دقدم مبارکه له لوري دې حاضري وکړي او کله چې مخامخ ش؛ نو دري ځلورګزه فاصله باندې دې ودریږي. شا دې قبلې طرفته کړي او نظر دې تېټ ساتي او یو خوا بل خوا دې نه ګوري او خاموشه دې ادب سره ودریږي دا خیال دې کوي چې د پېغمبر ﷺ مخ مبارک اوس ماته مخامخ دی. حضور ﷺ نه زما د حاضري اطلاع ده. د حضور ﷺ لوړ شان باید په زړه کې وي ابن امیر الحاج مدخل کې لیکي چې ځومره هم آداب وتواضع اوعاجزي کولی شي ودې کړي ؛ ځکه چې د حضور ﷺ مبارک ذات دومره شفیع دی چې دهغه شفاعت مقبول دی چاچې دده د د اراده وکړه هغه کامیاب شو او ځوک چې دده در باندې حاضر شوی هغه نامراده شوی نه دی. چاچې د حضور ﷺ په وسیله سوال کړی دی هغه قبول شوی دی، ځومره زیات ادب چې کولی شي دریغ دې نه کوي او دا خیال دې کوي چې زه د نبي اکرم ﷺ مجلس کې حاضر یم؛ ځکه دأمت دحالاتو مشاهده کې او د هغوی اراده ومقصد په ظهور کې دې وخت حضور ﷺ په ژوند اومرګ کې هیڅ فرق نشته (مدخل اول) دې نه پس دې سلام ووایي په دې کې دسلفو مختلف معمولات وو.

یا لب پہ لاکھ لاکھ سخن اضطراب میں — واں ایک خامشی تیری سب کے جواب میں
بے زبانی ترجمان شوق حد ہو تو ہو — ورنہ پیش یار کام آتی ہیں تقریریں کہیں

..الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ.. دې وایي مګر سکون او شوق وذوق سره دې وایي. شور وشغب دې بالکل نه کوي، زور سره دې آوازونه نه کوي ملا علي قاري لیکلي دي، چې نه دې زبات جهر وي او نه زباته خاموشي. بلکې معتدل آواز دې وي. حضور قلبي او ځیلو بداعمالو له وچې نه دې شرم وحیانیولی وي الله تعالی فرمایي:

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ (۲۶ سورة الحجرات ۲)

ترجمه: ای ایمان والو! خپل آوازونه د حضور ﷺ د آواز نه مه اوچتوئ.

او حضور ﷺ باندې درود شریف نه پس دې دحضور ﷺ د وسیلې مغفرت دعا وکړي.

د حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ دیبښنې وجه:

ابن حجر شافعي لیکي چې حضور ﷺ سره توسل کول دسلفو صالحینو طریقه وه.
انبیاوو اولیاو دنبي اکرم ﷺ په واسطه باندې دعا غوښتې وه.
حاکم روایت نقل کړی دی اودې ته یې صحیح ویلی دي چې کله حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د ډاني خوړلو غلطي وشوه؛ نو دوی د الله تعالی نه د حضور ﷺ په واسطه باندې د مغفرت دعا وغوښته ؛ نوالله تعالی ترهو پوښتل: ای آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ! تا حضور اکرم ﷺ څنګه وپیژاند اوسه پورې خو ماله پیدا! ګړی هم نه دی؛ نو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې یا الله! کله چې تاڅه

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

پیدا کړم اوماکې دې روح واچاو نو ما د عرش په سنټو باندې لیکلي (لاالٰه الا الله محمدرسول الله) ولیدل؛ نوزه پوه شوم چې تاسو د خپل نوم سره دجنوه لیکلی دی هغه به په ټول مخلوق کې تاسو ته زیات محبوب وي حق تعالی شانه وفرمایل بیشکه په ټول مخلوق کې مانه ډیرلو نه زیات محبوب دی او کله چې تاسو دهغه په واسطې سره مغفرت طلب کړ؛ نوما ستا خطا معاف کړه (فضائل حج) دغه راز په روضه اطهر باندې د حضور ﷺ دصلوة وسلام نه پس صاحبین یعنې دحضور ﷺ دواړه ملګري حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه باندې دې هم سلام ورایې او که چا درته د سلام ویلی وي؛ نو دهغوی نه لوړي هم سلام اووایه؛ خو دا خیال به ساتې چې د زیارت په وخت کې په نه دیوالونو ته لاس لګوئ؛ځکه چې داګستاخي اوبې ادبي ده او نه به دیوالونو ښکلوي؛ ځکه چې دا دحجر اسود عمل دی نه دې دیوالونو پورې ټینلي او نه دې طواف کوي. دې وجې نه چې طواف دبیت الله شریف پورې خاص دی . د قبر طواف حرام دی ملاعلي قاري لیکي چې د جاهلانو دکار اتباع مه کوئ. که څه هغوی د صورت له مخې مشائخ ښکاري. نه دې قبر سره ټینټې وه نه دې ځمکه ښکلوي او نه دې قبر طرفته لمونځ کوي. په دې ثبت باندې چې د لته قبر دی که قبر طرفته یې مخ کړاو لمونځ یې وکړ؛ نو په دده کفر فتوی ده البته د حجري په شا طرف باندې دیوال مینځ کې دی وجې نه د قبر شریف اراده کولو نه بغیر لمونځ کول جائز دي (شرح لباب، فضائل حج)

د مدینې منورې په شان کې د حضرت امام غزالی رحمه الله عقیدت واحترام

حضرت امام غزالي رحمه الله ویلي دي چې کله ستا نظر په مدینه منوره باندې پریوځي؛ نو دا مضمون خپل ذهن کې کینوه چې دا هغه ښار دی چې الله تعالی د خپل نبي د سکونت له پاره انتخاب کړی و او دې طرفته یې هجرت وکړ . دا هغه ښار دی چې الله تعالی په کې د خپل شریعت مطهره فرائض رانازل کړل او حضور ﷺ خپل سنت جاري کړل دې ښار ته راغلیو دښمنانوسره یې جهاد وکړ ، همدې ښار کې دده ﷺ دین ته غلبه حاصله شوه تر دې چې دې ښار کې ددوی وصال وشو. ددوی ﷺ قبر جوړ شواو همدې ښار کې ددوی ﷺ ددوو وزیرانو قبرونه جوړ شول او په دې مبارک ښار کې خای په خای ددوی ﷺ مبارک قدمونه پریوتل او دا سوچ کوه چې کوم خای هم تاسو قدم ږدئ چې یووخت کې به دلته حضور ﷺ مبارک قدم اینبی وي. دې وجې نه هر یو قدم انتهایي سکون وآرام اخیستل پکار دي او د حضور ﷺ درفتا رچې کوم کیفیت په احادیثو کې راغلی دی دا تصور به وکړي چې دې سره دحضور اقدس ﷺ عظمت رفعت اوجلالت شان وعظمت مرتبت چې الله جل شانه دخپل نوم سره ددوی نوم کینودی دی دا په ذهن کې ساته او ددې نه ویریږه چې چېرته دبې ادبی د نحوست

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نه خپل نيك اعمال ضائع نه كړم (فضائل حج)

يو بانديچې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په روضه با ندې:

يو باندیچې د حضوراقدس ﷺ په روضه اطهر باندې ولاړ و او عرض يې وكړ يا الله تا د غلامانو د آزادولو حكم كړى دى. دا ستا محبوب دى او زه ستا غلام يم دخپل محبوب په روضه باندى ماغلام ته داور نه خلاصى راكړې. دغيب نه آواز راغى چې تا بوازى د خپل خان دخلاصې سوال وكړ. دټولو خلكو له پاره دې ولې آزادي ونه غوښته مونږ تاته د اورنه آزادي دركړه (مواهب)

حضرت اويس قرني د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په روضه با ندې:

حضرت اويس قرني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مشهور تابعى سيد التابعين، دده لقب دى دحضور ﷺ زمانه ده موندلې ده. خود مور د خدمت له وجې د حضور اقدس ﷺ خدمت كې حاضر نه شو د حضور ﷺ نه د دوى متعلق نقل شوي دي چې بهترين تابعي اويس قرني دى په يو رواېت كې ددوى متعلق راغلي دي كه دوى په يوه خبره باندى قسم وخوري نوپوره به شي په يو حديث كې ددوى متعلق راغلي دي چې په دوى باندى خان له پاره دعا وكړئ او استغفار وكړئ. ډېر لوى فضائل دهغوى متعلق راغلي دي كله چې ده حج وكړاو د مدينې منورې حاضرې كې مسجد نبوي ته داخل شو: نو چا ورته اشاره باندې وويل چې دا دحضوراقدس ﷺ روضه اطهر ده. كله چې يې دا واوريدل نو يې هوشه شو او لانډې راپريوت. كله چې بيا هوش كې راغى؛ نو يې ويل چې ما دې ښار نه بوخې دې ښار كې سكون نشته كوم كې حضوراقدس ﷺ مدفون وي (يعنى برداشت يې نه كړل)

اے صدر ايوان رسل ذ شمع جمع انبياء — خورشيد برج سلطنت جمشيد تخت كبريا
احكام تو حبل المتين حاجب ترا روح الامين — اے رحمة للعٰلمين هستى امام انبياء (جامى)

حضرت حاتم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضوراقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په روضه با ندې:

حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې حضرت حاتم اصم بلخي رَحِمَهُ اللّٰهُ، چې مشهور صوفي دى، وايي چې ديرش كاله هغوى په يوه چغه(چينه) كې چله ويستې وه او بې ضرورته خبره يې نه وه كړې كله چې د حضوراقدس ﷺ په روضه اطهر باندې حاضر شو؛ نودومره يې وويل چې: يا الله! مونږ د ستا دنيې په روضه باندې حاضر شوى يو مونږ نامراده واپس نه كړې. دغيب نه آواز راغى چې مونږ تاته دا زيارت دې وجې نه نصيب هم كړچې دا قبول كړو. خدا ستا او تا سره چې څومره حاضر شوي كسان دي د هغوى تولو مو مغفرت قبول كړ.

(زرقانى على المواهب بحواله فضائل حج)

كفايت كتب خانه ټيلى گرام چينل
https://t.me/kafayat2395

شیخ ابوالخیر اقطع د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ میلمه:

شیخ ابوالخیر اقطع ﷺ فرمایي چې زه یو خل مدیني منورې ته حاضر شوم. پنځه ورځې واسې تېرې شوې چې خوراک له پاره هیڅ څه پیدا نه شو ،دځه شي دځنبلو نوبت هم رانه غی، زه په قبر اطهر باندی حاضر شوم او حضرات شیخین او حضوراقدس ﷺ باندې مې سلام واچاوه او بیا مې عرض وکړ چې یارسول الله! ننن شپه به زه ستاسو میلمه یم، دا عرض مې وکړ او دمنبر شاته لاړم او خملاستم. خوب مې ولید چې حضوراقدس ﷺ تشریف فرما دی. نبي طرفته حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوچپ طرفته حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوحضرت علی کرم الله وجهه مخامخ ولاړ وو حضرت علی کرم الله وجهه زه وغوښتم او ویې فرمایل چې حضوراقدس ﷺ تشریف راوړی دی زه چې پاځیدم نو حضوراقدس ﷺ ماته یوه ډوډۍ راکړه مانیمه وخوړه اوکله چې مې سترګې وغړیدې نو نیمه زما لاس کې وه

(روض وفا بحواله فضائل حج)

وه گوشه نشین غار حرا وه مالک ملک ارض وسما

دسید احمد رفاعي قیصه:

سید احمد رفاعي مشهوربزرګ او اکابرو صوفیانوکې دی، دهغه قیصه مشهوره ده وایي چې کال ۵۵۵هجري کې د حج نه فارغ شوم ،نو زیارت له پاره حاضرشوم او قبر اطهر ته مخامخ ودریدم نودا اشعار می وویل

فِي حالَةِ البُعْدِ رُوحي كُنتُ أُرسِلُها تُقَبِّلُ الأَرضَ وَهِيَ نائِبَتي

وَهٰذِهِ دَولَةُ الاشباحِ قَد حَضَرَت فامدُد يَمِينَكَ لي تَحظى بِها شَفَتي

ترجمه: دلرې والي په صورت کې به ما خپل روح خدمت اقدس کې لیږه، هغه به زما نائب جوړ شو او آستانه مبارک به یې بوسکل کړه. اوس دوجود دحاضرې وخت راغی.خپل لاس مبارک راکړئ چې زما شوندې یې بوسکل کړي دې باندې قبر اطهر نه لاس راووت او هغوی بوسکل کړ ،الحاوی للسیوطی بحواله فضائل حج)

ویل کیږي چې دې وخت کې مسجد نبوي کې تقریبا د نوي زره(۹۰۰۰۰) خلکو مجمع وه او تولو د حضوراقدس ﷺ د لاس مبارک زیارت وکړ چې په هغوی کې دحضرت محبوب سبحاني قطب ربانی شیخ عبدالقادر جیلانی رَحِمَهُ اللهُ نوم هم ذکر کیږي. (النبیان)

اے سر بسرا پردہ یثرب بخواب خیز کہ شد مشرق ومغرب خراب

ستاسوجدایي سره یا رسول الله! زما روح وخې په ما باندی رحم وکړئ. ای د الله رسوله رحم وکړه تاسو رحمت عالمیانو محرومو نه به څنګه غفلت کوئ.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د مولانا جامی رحمۃ اللہ علیہ د دواړو جهانو سردار ته حیرانوونکی عقیدت

مولانا جامی رحمۃ اللہ علیہ د حضور اقدس ﷺ به تعریف کې یو نعت وایه چې دهغه دوه شعرونه پورته ذکر شو . دې نعت ویلو نه پس چې کله دوی حج ته تشریف یوړو . نو دوی اراده وکړه چې دانظم دروضه اقدس مخې ته ووایي. کله چې حج نه پس دوی د مدینې منورې دتلو اراده اوکړه نو امیر مکه ته حضور اقدس ﷺ زیارت خوب کې نصیب شو . حضور اکرم ﷺ ورته خوب کې وفرمایل چې داکس اجامي، مدینې منورې نه راپریږدي . امیر مکه منع کړ. مګر په هغه باندې جذب اوشوق دومره غالب و چې په پنه باندې مدنیې منورې نه لاړ . امیر مکه دوباره خوب ولید . حضور اقدس ﷺ ورته وفرمایل چې هغه راروان دی مه یې راپریږده امیر کسان ولیږل اوهغه یې لار کې ونیوو او واپس یې راوست ، په هغه یې سختي وکړه او جیل خانه کې واچاو په دریم ځل باندې بیا امیر مکه ته په خوب کې دحضور اقدس ﷺ زیارت نصیب شو چې دا څه مجرم نه دی؛ خو ده څه اشعار لیکلي دي او هغه زما د روضې خوا کې دویلو اراده لري. دی که داسې وشو نو زما دقبر نه به لاس راوخي چې دهغې نه به فتنه جوړه شي په دې باندې یې هغه ډیل نه راوویست اوهر زبات عزت یې وکړل شو. دا واقعه شیخ احدیت قطب الاقطاب مولانا محمد ذکریا رحمۃ اللہ علیہ خپله رساله فضائل درود شریف کې لیکلې ده هر زبات محبت نه ډک دی ضرور یې وګوري حضرت قاسم العلوم والخیرات مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمۃ اللہ علیہ چې دحضور اقدس ﷺ په حق کې کومه قصیده بهاریه لیکلې ده دهغې یو یو لفظ دسروزر په اوبودلیکلو دي دهغې یو څواشعارو نه خپل زړه د حضور ﷺ دعقیدت نه منوره کړئ اشعار دادي:

بجهائی ہے دل آتش کی بھی تپش یا رب — کرم میں آپ کو دشمن سے بھی نہیں انکار
پہنچ سکے شجر کے طور کو کہیں طوبیٰ — مقام یار کو کب پہنچے مسکنِ یار
فلک پہ عیسیٰ وادریس ہیں تو خیر ہی سہی — زمین پہ جلوہ نما ہیں احمد مختار

یا الله! زموږ زړونو ته صحیح او حقیقي محبت رسول ﷺ اتباع رانصیب کړه.
آمین یا رب العالمین.

ثبت خوباں کی گلیوں میں نہ کر تو عمر صرف اے دل
مدینے کی زیارت کو گیا ہوتا تو کیا ہوتا
ارے مجنوں، ہوا بدنام تو لیلیٰ کو دل دے کر
اگر میرے نبی کو دل دیا ہوتا تو کیا ہوتا (فراخ)

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالحجه د میاشتې دریمه خطبه:

د حضرت عثمان بن غفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت:

اعوذ باالله من الشيطان الرجيم.

بسم الله الرحمن الرحيم

{إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللهَ يَدُ اللهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ}

{لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ}

د لومړي ایت ترجمه: ،،بیشکه (ای محمد ﷺ)، کوم خلک چې ستاسو په لاس باندې بیعت کوي د الله تعالی لاس دهغوی په لاس باندې وي،،

د دویم ایت ترجمه: بیشکه الله تعالی دمومنانو نه راضي اوخوشحاله شو.

ددی آیت کریمه شان نزول دحضرت محمد ﷺ د حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د زیږدست محبت وتعلق دلیل دی. تفصیل دادی چې دشوال میاشت ۶هجری کې حضوراقدس ﷺ خوب ولید، چې د صحابه کرامو سره خانه کعبی ته داخلیږم. صحابه کرام او رسول الله ﷺ ته دخانه کعبې د طواف اوزیارت سخت شوق و، دې خوب سره نور هم زیات شو. دوی د عمرې قصد وکړ. د ذو القعدې میاشت ۶ هجری کې حضوراقدس ﷺ د خوارلس سوه صحابه کرامو سره دمدینې منورې نه مکې معظمې ته روان شو. دعمرې احرام یې وترلو او دقربانۍ اویا اوښان یې خان سره یوړل. د احرام ترلو او دقربانۍ اوښان خان سره بوتلل، ددې خبرې علامه وه چې دوی دجنګ په نیت باندې نه دي راوتلي، بلکې صرف بیت الله شریف زیارت ددوی مقصد دی. قریش مکه ته هم څه طریقې سره داځ حاصل نه و چې هغوی دکعبی دزیارت نه څوک منع کړي، کفار مکه سره فکر شو دوی داوګڼله چې حضوراکرم ﷺ ددومره لږ فوج سره مکې ته جنګ له راغی، جاسوسان یې روان کړل معلومات وشوچې جنګ ته نه دی راغلی؛ ځکه چې حضوراکرم ﷺ سره دقربانۍ ځاروي دي. مګربیا هم کفارو ته یقین نه راته او دوی وویل چې موږ یې د خانه کعبی زیارت ته هم نه پریږدو. رسول الله ﷺ اراده وکړه چې کفارو ته حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دسفیر په طور باندی وروليږي چې خبره ورسره وکړي. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړچې په تلو باندی ماته څه قسمه عذر نشته؛ خو په مکه کې زما دقبیلې بني عدی بن کعب څوک هم نشته چې ما خان سره خپل جماعت کې واخلي. لهذا زما تګ دخطرې سبب جوړیدای شي. زما نه بهتر عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی؛ ځکه چې دهغوی دقبیلې بنو امیه مضبوط مضبوط کسان شته. نبي اکرم ﷺ د حضرت عمر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا تجویز ډېر زهات خوښ کړ او حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې د سفیر په حیث مقرر کړ او ابوسفیان ته يې ور ولیږه. حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سرداران قریش سره ملاقات وکړ. هغوی وویل چې موږ تاته اجازه درکوو. دخانه کعبی طواف وکړه؛ مګر حضور ﷺ ته اجازه نه ورکوو.

د عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب:

حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب ورکړ چې د حضور ﷺ نه پرته زه طواف نه کوم، سبحان الله! څومره محبت و. دایې چې واوریدل نو قریش په غوسه شو او حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې ایسار کړ.

بیعت رضوان:

حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله قریشو ایسار کړ؛ نومسلمانانوکې دا خبر مشهور شو چې حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مکې والو شهید کړ.

د محبت شوندې:

ددې خبر اوریدو سره نبي اکرم ﷺ وفرمایل تر څو چې موږ د حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دقتل بدله نه وي اخستې ددې ځای څخه نه څو، دیوې ونې لاندې کیناست او قصاص عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له پاره يې د صحابه کرامو دجانثاري بیعت واخیست او دا بیعت بیعت رضوان سره مشهور شو. چې دهغه ذکر قرآن کریم کې داسې راغلی دی:

{لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ} (پاره ۲۶ سورة الفتح آیت ۱۸)

ترجمه:: کوم وخت کې چې ای نبي! مسلمانانو ستاسو په لاس باندې د ونې بیعت وکړ؛ نو الله تعالی په هغه باندې راضي او خوشحاله شو. مګر لږ وخت پس عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تشریف راوړو او هغوی هم ددوی په لاس باندې بیعت وکړ.

نکات:

۱. بیعت رضوان نه معلومه شوه چې حضوراکرم ﷺ ته علم غیب نه و. که واقعتاً دوی ته دعثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ژوند علم وی، نو صحابه کرامو نه به يې بیعت نه اخیست. معاذالله دهوکه ده اودانه شي کیدای چې هغوی به داسې کول.

۲. ددې واقعې نه دا هم معلومیږي چې حضرت محمد ﷺ د حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره څومره محبت و چې دهغه د قصاص له پارهیې څوارلس سوه صحابه کرام رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن شهادت ته تیار کړل.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

۳ د حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د خوارلس سوه صحابه کرامو جنتي کیدل واضحه شو او د صحابه کرامو معیار حق کیدل هم معلوم شو

یوځل ددوی په عهد خلافت کې سخت قحط راغی خلک د لوږې له لاسه مجبوره شو خپل مالونه او جایدادو نه یې په انتهایي ارزان قیمت باندې خرڅ کړل دده یې بي ورته وویل چې د فلاني باغ مالك خپل باغ ډېر ارزان خرڅوی بهتره ده چې تاسو یې واخلئ دده یې ښې واخستې او باغ طرفته لاړ. خو به لاره کې یې دقحط زده خلکو حالت ولید؛ نو به ژړا شو او هغه ټولې پیسې یې په هغوی کې تقسیم کړې او کور ته واپس راغی ښځې یې ورته وویل باغ دې واخیست؟ده وویل.. هو'.. ماستا له پاره جنت کې کور واخیست

د حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فیاضي او سخاوت

حضوراکرم ﷺ د غزوه تبوك له پاره د چندې جمع کولو غوښتنه وکړه. د ابن اسحاق بیان دی چې حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم اوچنده د پاتې ټولو افرادو د مشترکه چندې نه زیاته وه. رسالت مآب ﷺ ددې نه متاثره شو او د یې فرمایل چې: د نن نه پس عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څه هم کوي هغه ته به څوك ضرر رسوونکی نه وي

هجرت نبوي نه پس د صحابه کرامو دغربت داحال و چې د خپل ضرورت مطابق د خښاك اوبه هم میسرې نه وې. د اوبو او دولت په ټولو ذرائعو باندې دیهودیانو تسلط و او هغوی به اوبه ډېرې ګراني خوځولې. حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د یو یهودي نه رومه نومی کوهی په شل زره درهمو ګران قیمت باندې واخیست او مسلمانانوته یې وقف کړ. حضوراکرم ﷺ زیری ورکړی و چې خوك دا کوهی واخلي هغه جنتي د ی. نن هم دا تاریخی کوهی په خپل اصلي حالت کې د..بئر عثمان.. په نوم باندې موجود دی.

یوځل ډېر لوی قحط راغی. د حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ملکیت کې زر بوری غله پرته وه چې اهل مدینه یې په غټ قیمت اخیستو ته تیار وو،خو دوی هغه ټوله غله مفت تقسیم کړه او ویې فرمایل چې الله تعالی به ماته دیو درهم په بدله کې لس درهمه منافع راکړي. دیو مستند روایت مطابق حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تقریباً یو اتیا لا کهـ ۸۱۰۰۰۰۰، اشرفي دالله په لاره کې وشیندلې.

د حضوراکرم ﷺ په کور کې دځو ورځو نه لوږه چلیدله. مګر دا شرف اوعزت به هم اکثر اوقات حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته رسید چې دا اطلاع به ورته رسیدو سره هغوی دغنمو اوکجوروبوری پیش کولې. صحیح بخاري کې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې یوه ورځ حضوراکرم ﷺ داُحد په غر باندې وخوت او ده سره حضرت ابوبکرصدیق اوحضرت عمرفاروق اوحضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُم وو. غر وښورید انو ده په پښې سره اشاره وکړه

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

او وې فرمایل ،،ای احد! ودریږه په تا یو نبي بل صدیق اودوه شهیدان دي،، او یوسعادت حضرت عثمان غني رضي الله عنه ته داهم حاصل و چې حضور اقدس یو لاس د خپل خان له پاره اوبل یې د حضرت عثمان غني رضي الله عنه تصور کړ سیدنا عثمان غني رضي الله عنه د قبیله قریش یو محبوب شخصیت و، ده به ټوله شپه به عبادت کې تیروله نه ده مناسک حج وعبادات وغیره اومتاز مستند عالم اوحافظ قرآن و مسلمانانو کې د ټولو نه اول د حضور ﷺ په هدایت باندې حضرت عثمان غني رضي الله عنه حبشې ته هجرت کړی و دی د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت لوط علیه السلام نه پس لومړی کس دی چې داهل بیتو سره یې د فی سبیل الله هجرت شرف حاصل کړ ده دویم هجرت مدیني منورې طرفته و ، ده د ممنوع ورځو نه علاوه د روژې ناغه نه ده کړې ، الله ځکه دویږې یې داحال و چې یو خل یې په ناپوهي کې د غلاء غوږ تاو کړ په هغه دومره شرمنده شوچې غلام ته یې خپل غوږ پیش کړ ، یوازې دده په خاطر چې سبا آخرت کې زما محاسبه ونه شي دا هغه عظیم کردار او حیرت زده خدمات جلیله وو چې په وجه یې دی د رسالت مآب ﷺ او د صحابه کرامو او دعامو خلکو منظور نظر جوړ شو چنانچې د حضرت عثمان غني رضي الله عنه خلیفة المسلمین په مقدس اوعظیم منصب باندې ناسته عین منطقي عمل و حضرت عثمان غني، حضرت علي، حضرت عبدالرحمن بن عوف، حضرت طلحه، حضرت زبیر بن عوام او حضرت سعدبن وقاص رضوان الله علیهم اجمعین دعشره مبشره هغه شپږ بزرګ صحابه کرام دي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خپلې زندګۍ آخري لمحاتو کې خلافت له پاره منتخب کړي وو، دې جلیل القدر هستیانو دعامو خلکو په رایه باندې حضرت عثمان غني رضي الله عنه خلیفه مقرر کړ. د حضرت عثمان غني رضي الله عنه د خلافت بیعت دمحرم نه یوه ورځ مخکې د ذو القعده په آخري تاریخ باندې (۲۳) هجري چې د نومبر له ۷، سره سمون خوري د دوشنبې (پیر) په ورځ وشو. دده عمر دغه وخت کې (۷۰) کاله و دخلیفه دوم حضرت عمرفاروق رضي الله عنه د شهادت نه فوراً بعد په اسلامي سیمو کې هرطرفته د بغاوت اور ولګید، خو حضرت عثمان غني رضي الله عنه نه صرف ددې بغاوتونو مخه ونیوله، بلکې کوم خلافت عثماني چې د دولس کاله یې دوام وکړ د اسلامي تاریخ د فتوحاتو اوخوشحالیو زرین ترین باب دی. ده په دور خلافت کې د ایران مجوسي شهنشاه کسریٰ نام ونشان ختم شو او اسلامي مملکت سند او کابل نه د اوروپا سرحداتو او افریقا کې تیونس پورې خپور شو، مسلمانانو په اول خل باندې کشتۍ اوبیړۍ تیاره کړې او په بحیره روم باندې خواره شو دا تمام فتوحات صرف په لومړیو شپږو کالو کې حاصل شوي وو. دې نه د حضرت عثمان غني د سیاسي بصیرت اوپرجوشه ديني خدماتو اندازه کیږي. دا وه د ستر و فتحو او تیزو کامیابو حیرانونکې سلسله چې مثال یې په تاریخ کې نه ملاویږي. دا فتوحات دده د

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جلیل القدر والیانو په وساطت تکمیل پذیر شو عبدالله بن سعد، معاویه بن ابوسفیان، سعدبن ابی وقاص، یحی بن امیه، عبدالله. ولیدبن عقبه اوعبدالله بن عامر،رضوان الله علیهم اجمعین، دا فتوحات مسلمانانولـه پاره ددنیا دفراخی سبب جوړ شو ددې نه علاوه د ملکي پیداوار اومنافع وتجارت کې بې اندازې اضافه وشوه اسلامي سلطنت هر یو فرد خوشحال، امن وسکون اوبې فکری دولت نه ماموره وو دویم طرفته اندروني ملك کې عظیم اصطلاحات توسیع کولو کار شروع شو امیرالمؤمنین حضرت عثمان غني رضی الله عنه د مسجد نبوي او خانه کعبې کې د توسیع کولو لومړنی شرف حاصل کړ، د جده مشهور بندرگاه هم تعمیرشوه د بیت المال نه په اول خل باندې مؤذنینو له پاره وظائف مقررشو د پولیس محکمه قائم شوه د جمعې لمونځ له پاره د مناړې نه دیو بل آذان اضافه وشوه په خمکه باندې مالکانه حقوق پروانې جاري شوې چوپې قائمې شوې، دخاریو له پاره لوی لوی چراګاهونه قائم شو. کوهیان وویستل شو د دفترونو له پاره پراخه عمارتونه، سړکونه، پلونه او مسافر خانې جوړې شوې. د سیلاب د خطرې په سبب دمدینې منورې نژدې بندونه تعمیر کړل شواو نهر یې وویست او د سیلاب مخ یې بل طرفته واړاو. امیرالمؤمنین د قرآن کریم نسخه شائع کړه او په اُمت باندې یې عظیم احسان وکړ چې په وجه یې دیوې ځټې فتنې مخ ونیول شوه. په دې باندې دوی ته د،،جامع القرآن،، عظیم لقب ورکړل شو. د مصحف عثماني دهغو نسخو نه ځلور نسخې اوس هم په دنیا کې محفوظې دي: (١) حجره نبویه نسخه (٢) خزانه آثار نبویه استانبول (٣) کتاب خانه مصر (۴) کتاب خانه ماسکو.

ددې عظیم الشان اوبې مثاله ترقي او فتوحاتو په وجه د اسلام دښمنان د بغض وحسد په اور کې وسوزیدل او دې ځلکو د عثمان غني رضی الله عنه دعهد خلافت په آخرې ځلورو کلونو کې سازشونو او د فتنو یوه مکروه سلسله شروع کړه، دا دښمنان یهودان وو، چې د اسلام له پیله یې د رسالت مآب ﷺ او بیا د خلیفه اول او خلیفه ثاني په دور کې فتنې فسادونه خوړل عهد عثماني کې عبدالله بن سبا دیمن یو یهودي آوسبدونکی و. هغه اګر چې په ظاهره باندې اسلام قبول کړی و. خو دعبدالله بن ابی پشان دده ایمان هم په نفاق باندې مبني و هغه نه د نورو یهودانو پشان دا کلك یقین و چې د عمر فاروق رضی الله عنه دور خلافت ختم شوچې د هغه د شخصي رعب ودبدبې نه به ټول عالم ویریده او دا موجوده فرمان روا یو نرم دل اورحم دل شخصیت مالك دی. دې وجې نه مسلمانان ډېر په آسانه باندې د عثمان غني رضی الله عنه خلاف را وچتولی شي په اصل کې دا هغه فکر و، چې په نتیجه کې د حضرت عمر رضی الله عنه له شهادت نه فوراًپس اسلامي محرو ساتو کې بغاوتونه اوغوغا وفساد جوړ شو. لهذا عبدالله بن سبا د امیرالمؤمنین خلاف دعامه خلکو ګمراه کولو کوشش شروع کړ. هغه دبن امیه او د هاشم مینځ کې د اسلام نه مخکې عصبیت راوچت کړ، حجاز بصره شام کوفه مصر خدای خبر

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کوم کوم ځای کې يې فسادونه او بغاوتونه شروع کړل اول خو يې دا الزام ولګولو چې حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دبنی اُمیه اقتدار قائمولو له پاره منصوبې جوړولي د امیر معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ متعلق وویل شو چې دا د خلیفه وروردی دي وجې نه يې هغه د ټولو نه د لوبې صوبې شام والي مقرر کړی دی حالانکې هغه نبي اکرم ﷺ هم په خپل دور کې والي مقرر کړی و. بلکې د دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نږدې والیانو کې و، دې نه پس يې دا الزام ولګولو چې امیرالمؤمنین د بیت المال دولت په خپل رشته دارو او اقاربو باندې تقسیموي حالانکې هغه خو اجتماعاتو ته خطاب هم کړی او خلک يې هم مطمئن کړل، چې ژه د خپلو خپلوانو خدمت کوم خو د خپل مال ودولت نه يې کوم چې د مکې دور نه په مسلمانانو باندې مسلسل خرچ کیږي. امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله د اسلام نامتو فاتح. خالد بن ولید. سیف الله معزول کړ؛ نو نه خالد بن ولید احتجاج وکړو او نه خلکو. مګر کله چې حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمروبن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ معزول کړ چې هغه یو خل عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم معزول کړی و؛ نو دا اقدام هم په ډیره غټه سطح باندې د مخالفانه پروپیګنډې په حیث استعمال شو. چونکې د امیرالمؤمنین ټول اقدامات په صداقت او دیانت باندې مبني وو. دې وجې نه هغوی د اکابرو صحابه کرامو په شمول یو تحقیقاتي کمیسیون مقرر کړ، چې هغه د ملک په ګوټ ګوټ کې دورې وکړي او دعوامو د شکایاتو جائزه يې واخیستله. کمیسیون په خپل تحقیقي رپورټ کې ولیکل چې دعوامو د خپل خلیفه نه هیڅ قسمه شکایت نشته او نه يې د یو والي خلاف شکایت شته. دې نه پس هم امیرالمؤمنین دحج په موقعه باندې ټول ګورنران راوغوښتل او په ټول ملک کې يې آواز وکړ چې دچا هم زما دوالي نه شکایت وي هغه دې دې وخت کې حاضر شي او د خپل شکایت ازاله دې وکړي ظاهره ده چې دچا هم د یو والی، حاکم او خلیفه نه ګیله نه وه. دې وجې نه یهودي سازشونو چې یو خو مسلمانان دوکه کړي وو وهغوی سره يې منصوبه جوړه کړه چې د والیانو له ببرته تګ سره به د امیرالمؤمنین خلاف بغاوت کوو. یهودي سازش کامیاب شواو د کوفه. بصره اومصرنه زر کسان راغلل او د امیرالمؤمنین کور يې محاصره وکړ، تردې چې خلوینټت ورځو پورې يې دننه خوراک څښاک ته اجازه ورنه کړه. هغه اوبه هم چې د رسالت مآب ﷺ په دور کې د حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ذاتي سرمایه باندې اخیستل شوي وي او اهل مدینه ته به مفت ملاویدې او ترتنه پورې يې فیض جاري وساري و مظلوم خلیفه نه ونه رسیدې.

په هر حال عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت علي، حضرت طلحه، حضرت زبیر رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن او ازواج مطهرات ته پیغام ولیږه چې دې باغیانو ز ما له پاره هر شي باندې پابندي لګولي ده. که تاسو حضرات د اوبو انتظام وکړئ؛ نو ممنون مشکور به مو یمه. په دې آواز باندې د ټولو نه اول لبیک ویونکی حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ام المؤمنین ام حبیبه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وو.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت علي کرم الله وجهه د شپې په آخرۍ برخه کې باغيانو ته مخاطب شو چې ستاسو دا کار او طريقه د مسلمانانو سره نه، بلکې کفارو سره هم دا سلوک روا نه دی تاسو خوراک اوبه بندوئ. حالانکې روم او دفارس خلک هم خپل قبديان د خوراک او اوبو نه نه بندوي، دې نه پس ام المؤمنين ام حبيبه رضي الله عنها په قهر باندې سپره راغله محاصرينو هغه منع کړه اوقجرې نه يې په خوله باندې څپيړه ورکړه، ام المؤمنين وفرمايل چې زه د عثمان غني رضي الله عنه سره د امانتونو متعلق څه خبره کول غواړم ماپريږدئ يو گستاخ پکې آواز اوکړو چې دروغژنه ده اوبه توره سره يې رسي. کنۍ کړله دا پريوتو پريوتو کې بچ شوه او واپس لاړه. (۱۸، ذو الحجه ۳۵، هجري کې يو څو باغيان کور ته دننه شول او حضرت عثمان غني رضي الله عنه يې بې دردی سره شهيد کړ. د روايت مطابق د اميرالمؤمنين مبارک جسد يو څو صحابه کرامو چې په هغوی کې حضرت علي. حضرت طلحه. حضرت زبير. حضرت کعب بن مالک، حضرت زيد بن ثابت او حضرت حزام رضوان الله عليهم اجمعين شامل وو. پورته کړ او د جنت البقيع مشرقي طرف ،،حش کوکب،، کې يې دفن کړ

حضرت علي رضي الله عنه چې د شهادت خبر واورید: نو مسجد نبوی کې يې وفرمايل ،،څئ اوس ستاسو برخه کې همیشه له پاره هلاکت او تباهي ده،، حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه وفرمايل چې د قتل عثمان سره کومه د فتنو دروازه خلاصه شوه هغه به تر قيامته پورې بنده نه شي په (۱۸، ذو الحجه ۳۵، هجري د شپې په دريمه برخه کې خليفه راشد سيدنا عثمان غني رضي الله عنه نبی کريم ﷺ په خوب ولید چې فرمايل يې عثمان! نن روژه ماسره ماته کړه. حضرت عثمان غني رضي الله عنه پوه شوچې د شهادت مبارک اوارفع ساعت راورسيد چې دهغه بشارت نبي کريم ﷺ په خپل ژوند باندی ورکړی و، آخرکار (۱۸، ذو الحجه ۳۵،هجري کې ځلويښت ورځې محصور، وړی او تږی د قرآن کريم د تلاوت دوران کې شهيد شو. سبحان الله! څنګه مرګ دی، څنګه سعادت دی، چې دقرآن کريم د تلاوت دوران کې ورته مرګ راغی. دا د قرآن سره د محبت دليل دی. مشکل وخت کې د قرآن کريم تلاوت کولو کې موږ ته ډېره لويه رهبري ده. حضرت عثمان رضي الله عنه امام مظلوم دی مظلومانه شهيد شو. آخر وخته پورې يې دا امت اتحاد برقرار وساتلو. که غوښتل يې نو ملک شام ته هم تلی شو. مګر د نبي ښار پريښودل يې مناسب ونه ګڼل چې د محبت رسول دليل دی، که غوښتل يې نو فوجونه به يې راغوښتي وو؛ خپل حفاظت به يې فوجيانو باندې کړی و، مګر د خدای واله خلک يوازې د خدای حفاظت کافي ګڼي. د ده رضي الله عنه د قتل وخت کې حضرت علي رضي الله عنه موجود نه و. چې کله يې دا خبر واورېد، نو ويې ويل: ای خدايه! تا ته پته ده چې نه زه دده په قتل راضي وم او نه دې مائل وم. دی رضي الله عنه چې چاقتل کړ هغه ټول کسان ليونی شو. په اسلام کې لومړی فتنه قتل عثمان رضي الله عنه او آخرۍ فتنه خروج دجال ده.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضائل:

دی په ټول مخلوق کې په حیا باندی ممتاز و. د حضرت زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دی چې حضور ﷺ وفرمایل چې عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما مخې ته تېر شو؛ نوبیوې فرشتې ماته وویل چې ماته دده نه شرم راغې؛ خکه چې قوم به دی قتلوي. نبي اکرم ﷺ وفرمایل څرنګه چې عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د الله اودهغه د رسول نه حیا کوي، فرشتې هم د هغه نه حیا کوي. حضرت امام حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته چې د عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حیا ذکر وشو؛ نوهغه وفرمایل چې کله به عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لامبل غوښتل؛ نو دوازه به یې بنده کړه اوجامو ویستلو وخت کې به دومره شرمیدچې ملا به یې نه شوه نیغولی. په شکل اوشمائلو کې دی د حضرت محمد ﷺ سره ډېر زیات مشابه و. د عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پرته بل داسې کس په دنیا کې نه دی تېر شوی چې د هغه په نکاح کې د نبي دوه لونه پاتې شوې وي. ده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تبوک جنګ کې شپږ نیم سوه اونبان اوینځوس اسونه د الله په لاره کې پیش کړل.

د عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خاص کارنامې:

خلکو کې یې څو جاګیرونه مقرر کړل. (۲) چاراګاوې (څرخایونه) یې مقرر کړې. (۳) په مساجدوکې یې خوشبویاني بلول شروع کړې. (۴) په جمعه کې یې اول آذان شروع کړ. (۵) دمؤذنینوتنخواګانې یې مقرر کړې. (۶) مسجد کې یې خان له پاره جداځای جوړ کړ. (۷) د پولیس محکمه یې جوړه کړه. (۸) مسلمانان یې په یو قرأت باندې متفق کړل. (۹) د تکبیر آواز یې کم کړ. (۱۰) قرآن مجید یې په موجوده ترتیب باندې جمع کړ؛ خکه ده ته جامع القرآن ویل کیږي. (۱۱) خلکو کې دلهولعب عادت جوړ شوی و هغه یې ختم کړ. (۱۲) دده په دورخلافت کې پاتې شوې دروم قلعې فتح شوې.

(۲۲) هجري کې سابورفتح شو. خه مکانات یې واخیستل او حرم شریف کې یې داخل کړل.

(۲۷) هجري کې ارجان فتح شو. ۲۸هجري کې معاویه بن ابوسفیان رَضِيَ اللهُ عَنْهُما په قبرص باندی حمله وکړه او مقبوضات اسلام کې یې داخل کړ. په ۲۹هجری کې اصطخرقسادفتح شو. مسجد نبوي ته یې وسعت ورکړ. په ۳۰هجري کې یې جور، خراسان، نیشاپور، طوس، سرخس، مرو، اوطبیق فتح کړ. دې فتوحاتو نه مسلمانانوته کافي غنیمت په لاس ورغې.

الله تعالی دې موږ ټولو ته په اسوۀ عثماني باندې د عمل کولوتوفیق راکړي. (آمین)

دونوں ہیں مغفور اورمرحوم عثمان وحسین رضی اللہ عنہما

دونوں صابردونوں ہیں مظلوم عثمان وحسین رضی اللہ عنہما

وآخر دعوانا ان الحمد للہ ربّ العٰلمین

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالحجه د میاشتې څلورمه خطبه

عالي اخلاق

د ذو الحجې میاشت ډېره زېاته ډېروبرکت واله میاشت ده. په دې میاشت کې د ټول عالم مسلمانان یوځای د حج عظیم عبادت اداکوي چې د دې نه د اسلام د شان وشوکت اظهار کیږي د دې میاشتې په اتلسم تاریخ مظلوم خلیفه حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډېره بې دردي سره د یو یهودي سازش په ترڅ کې قتل شو حضرت عثمان غنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قوت وحکومت باوجود د احترام مدینة الرسول او د مسلمانانو قیام امن برقرارساتلو په خاطر خپل شهید کیدل برداشت کړل؛ مګر مدینه کې بې د مسلمانانوویني تویول منظورنه کړل حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سر نه پښوپوري دعالي اخلاقو حامل و چې هغه مسلمانانوکې اتحاد قائم ساتلو له پاره خپل شهادت مناسب وګانه دې نه علاوه د حضوراقدس ﷺ محبت نه ډک و ،خکه بې د خپل خان بچ کولو له پاره بې مدینه پرې نه ښوده. ددې وجې ددې خطبې عنوان اخلاق عالیه کیښودل شو . الله تعالی دې مورږ تولو ته اسوه عثماني باندې دعمل کولو توفیق راکړي که چېرته مورږ اخلاق عالیه یعنې افعال نبوي خپل کړو ؛نو دنیاوآخرت کې به کامیاب شو په دې اخلاق عالیه کې به د تولو نه اول داتفاق واتحاد فوائدوفضائل ذکر کیږي

اتفاق واتحاد:

اتفاق واتحاد کې قوت وبرکت دی اوپه بې اتفاقۍ کې سراسرنقصان اوخساره ده. دانګریزانو اصول دي «ډیوائډ اینډ رول» وجنګوه اوحکومت کوه، د دې فارمولې په بنیاد باندې انګریز په هندوستان کې پوره سل کاله حکومت وکړ. نن ټول عالم اسلام د بې اتفاقۍ ښکار دی. کاش! مسلمان غور کړې وی اوخپل مینځ کې بې اتحاد قائم کړی وای؛ نوکفارو ته به دسازش موقعه نه وه ملاؤ شوې د اتفاق واتحاد متعلق ارشادرباني دی:

{يٰاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُواصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا وَاتَّقُواللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ} (پاره ٤سورة النساء)

ترجمه: ای ایمان والو! خپله هم صبر کوئ او یو بل ته هم دصبرکولوتلقین کوئ او خپلو مینځو کې ملاویږئ او د الله نه ویریږئ؛ شاید تاسو کامیاب شئ!،،

{اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوااللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ} (پاره٢٦سورة الحجرات آیت ١٠)

ترجمه: بېشکه ټول مسلمانان خپلو کې ورونه دي؛ نوخپلو وروڼو کې صلح وکړئ او د الله تعالی نه و ویریږئ چې الله دربانديې رحم وکړي.

د شرافت معیار تقوي ده اوفخر وغیره هیڅ شی نه دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

{يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} (پاره ۲۶ سورة حجرات آیت ۱۳)

ترجمه: ای خلکو! بېشکه موږ تاسو د نر او ښځې نه پیدا کړي یئ او د ستاسونه موقبیلې او خاندانونه جوړ کړل. دې د پاره چې تاسو یوبل وپیژنئ تاسوکې دټولو نه بزرګ او قابل احترام هغه کس دی چې دټولو نه زیات پرهیزګاره وي. بېشکه الله پوه او خبردارد ی.

ټول مسلمانان دیو وجود پشان دي

دحضوراکرم ﷺ ارشاد دی: (قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسَلَّم: اَلْمُؤْمِنونَ كَنَفْسٍ وَاحِدٍ إِنِ اشْتَكَى عَيْنَهُ اِشْتَكَى كُلَّهُ) (الحدیث)

ترجمه رسول اکرم ﷺ وفرمایل چې ټول مسلمانان د یو فرد پشان دي. که دده په سترګه کې درد وي نو ټول وجود یې خوږیږي او که دده په سر درد وي؛ نو ټول وجود یې خوږیږي ،، او نبي اکرم ﷺ فرمایي:

((المؤمنُ لِلمُؤمِنِ كَالبُنيانِ يَشُدُّ بعضهُ بَعضاً ثُمَّ شبكَ بَينَ اصابعه)) (الحدیث)

ترجمه حضور ﷺ فرمایي مسلمانان دمسلمان دپاره دیوي ودانۍ پشان دی چې د هغه هرې یوې خښتې نه بلې ته مضبو ' ملاویږي. بیا حضوراکرم ﷺ د یو لاس ګوتې دبل لاس ګوتو کې ورکړې

دولت همه ز اتفاق خیزد بے دولتی از نفاق خیزد

پې اتفاق، پې برکتي:

یوځل حضوراکرم ﷺ نه څو صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې موږ خوراك کوو خوخیټه مونه مړیږي. حضوراکرم ﷺ ورته وفرمایل چې تاسو به جدا جدا خورئ؟ عرض یې وکړو هو! حضور ﷺ وفرمایل یوخای ډوډۍ خورئ او د خدای نوم پرې اخلئ دې سره برکت راځي او خیټه به مو هم مړیږي. بیا یې وفرمایل د الله لاس په جماعت باندې وي، کوم بنده چې د اهل جماعت (اهل اسلام) نه جدا شو دوزخ ته لاړ.

حضرت محمد ﷺ ته حکم وشو (وشاورهم في الأمر) دمشورې اهمیت ددې خبرې نه معلومیږي ترجمه: او خلکو نه مشوره اخله. دې وجې نه چې مشوره کې اتفاق ومحبت وي.

الله تعالی د صحابه کرامو ستاینه کوي اوفرمایي: (وَأَمْرُهُمْ شُورىٰ بَيْنَهُمْ) او ددې خلکو معاملات خپل مینځ کې مشوره باندی کیږي. یعنې دې خلکو کې انانیت او آمریت نه شته، بلکې اتفاق ومحبت دی.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په حدیث مبارکه کې اتفاق باندې نوصنه شوې ده فرمایي
((لاتدخلون الجنة حتى تؤمنوا ولن تؤمنوا حتى تحابوا)) (الحدیث)
ترجمه حضوراکرم ﷺ فرمایي تاسو جنت ته نه شئ داخلیدای برخوچې مو ایمان نه وي راوړی او هېڅکله مؤمنان کیدای نه شئ برخوچې خپل منځ کې محبت ونه کړئ

اسلام او اجتماعیت

اسلام مسلمانان همیشه یوخای کړي دي او دوی کې سې اجتماعیت پیدا کړی دی. مثلاً حکم دی چې لمونځ په جمعه ادا کوئ دې سره د علاقې او محلې خلک بو خا کیږي خپل مینځ کې محبت زیاتیږي او د یوبل د درد نه خبریږي او د یوبل نه به ډډین زده کولوموقعه ملاویږي بیا یې دجُمعی دلمونځ په جمعه سره حکم وکړ چې د یوښار خلک بو خای راجمع کیږي او د یوبل دمسائلو نه واقفیت حاصلوي د اختر لمونخونه کال کې دوه دې دیاره دي چې دښار نه ګیرچاپیره خلک یوخای راجمع شي او د مسلمانانوشان وشوکت اتفاق واتحاد مظاهره وشي د حج حکم وشو چې دټولې دنیا مسلمانان یوخای ته راټول شي او د مسلمانانو د شان وشوکت. اتفاق واتحاد او د الله تعالی دوحدانیت وعظمت اظهار وشي او د خپلې بندګۍ اوعبودیت اظهارکیږي او د دین دتبلیغ ودعوت تمامه دنیا کې اشاعت کیږي ډغه راز حکم وشوچې د خپل مسلمان ورور بیمار پرسي(عیادت) وکړئ او چې وفات شي؛ نو جنازه کې یې شامل شئ. تر دې چې غیرمسلموسره هم دښه سلوک حکم وشو او به هغوی هم ظلم مه کوئ دهغوی حقوق اداکړئ؛ په یو حدیث مبارکه کې ارشادګرامي دی جناب نبي کریم ﷺ وفرمایل:
«والله په نزد هغه بنده بنه دی چې دخپلو احبابوسره بنه وي اوګاونډیانو کې هغه بنده بنه دی چې دخپلو ګاونډیانوسره حسن سلوک کوي»

حکایت

د یوپاچا قیصه ده اوخیني وایي چې د اکبر پاچا قیصه ده، کله چې هغه ته پته ولګیده چې مرګ مې نژدې شو؛ نو خپل وارثان یې راجمع کړل بیا یې تارونه راوغوښتل او تولو ته یې ورکړل چې دا وشلوئ؛ نوتولو وشلول بیا یې دهغو تارونو څخه یوه مضبوطه رسی جوړه کړه او تولو ته یې ورکړه چې اوس یې وشلوئ؛ هیڅوا هم ونه شلوله. دې نه پس پاچا وویل وګوره په اتفاق کې څومره قوت دی کله چې تارونه جدا جدا وو؛ نو هرچا و شلول اوکله چې یوه مضبوطه رسی جوړه شوه ؛نوبیا هیڅاهم ونه شلول. دغه راز که تاسو متفق ومتحد یئ انو هیڅوک به مو کمزور او ختم نه کړي. خو که تاسو جداجداشوئ نو ستاسوقوت به کمزوری شي لهذا یو یو به شئ او ختم به شئ.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

"پهر پچهتائے کیا هوت جب چڑیا چگ گئی کهیت"

حضرت عثمان غني رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ کې مروت . احسان او نرمي پرته وه اودا خصوصيت ورته د سرکار دوعالم ﷺ نه ملاو شوی و د حضوراکرم ﷺ د عالي اخلاقو او مروت اندازه دې واقعي نه ولګوئ کله چې دحاتم طائي د قبيلې خلک ګرفتاريږي او نبي اکرم ﷺ ته پيش شو چې په هغو کې دحاتم طايي لور هم وه هغې دحضور ﷺ په در کې درخواست پيش کړو که مناسب ګڼئ نو آزاده مې کړئ او د عربودا قبيلې په مورِ باندې مه خندوئ. زه دخپل قوم د معززسړي لوريم. زما پلار به دخپل قوم مدد کاو قيديان به يې پريښودل د ويرو خلکو خيټې به يې مړولې. غريبانو ته به يې جامې ورکولې. د مسافرو سره به يې مرسته کوله . دهغه نوم حاتم طائي و حضور ﷺ چې د هغې خبرې واوريدې: نو ويې فرمايل چې دا تا کومې خبرې وکړې دا دمؤمنانوصفات دي. ستاد پلار ددې صفاتو له وجې مورِ په تا رحم وکړ. ته او ستاقوم موآزادکړ. ځکه چې الله تعالى ښه اخلاق خوښوي، دايې چې واوريدل نو يوصحابي وويل: اى د الله رسوله! آيا الله تعالى ښه اخلاق خوښوي؟ حضور ﷺ وفرمايل: والله، جنت ته به هغه څوک داخليږي چې ښه اخلاق اومعاملات لري.

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عظيم اخلاق:

داخبره نقل ده چې يو يهودي يوخل حضوراکرم ﷺ ته د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُم په خای باندې اَلسَّامُ عَلَيْكَ وويل چې ددې معنا ده چې تاته دې مرګ راشي (معاذالله) حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهَا چې د حضوراقدس ﷺ ښځه وه په غوسه يې يهودي ته وويل: "عليكم السّام واللعنة". يعني په تا دې مرګ اولعنت وي. حضوراکرم ﷺ حضرت عائشه صديقه رضي الله تعالى عنها ددې سخت کلامې نه منع کړه او ويې فرمايل چې: د الله تعالى يونوم "رفيق" دى، هغه رفق (نرمي) خوښوي يوروايت دى ويې فرمايل اى عائشه! نرمي اختيار کړه او د سخت ګويې نه ځان وساته حضور ﷺ به هميشه نرمي سره خبرې کولې. چاته به يې سخت اوستخ نه ويل.

حکايت:

حضوراکرم ﷺ باندې د يو يهودي قرض و، يوه ورځ هغه راغې او په ډېره سختي سره د قرض مطالبه وکړه. حضوراکرم ﷺ په نرمي سره جواب ورکړ، چې اوس به زر تاته ستاپيسه ورسيږي. خو يهودي غوسه شو او ويې ويل چې ستاسوخو ټول خاندان داسې دى. دايې چې واوريدل نو صحابه کرامو ته ډېره سخته غوسه ورغله. حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ وفرمايل که ماته د مجلس رسول د احترام خيال نه وى نو ما به اوس دا يهودى تکړې تکړې کړى و. حضوراقدس ﷺ صحابه کرام منع کړل او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ ته يې وفرمايل چې دى کې

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

خو قصور زما دی چې ما ورته په وخت پیسې نه دي اداکړې مګر تاسو ده ته خبرې کوئ اوس ته دده قرض ادا کړه چونکې ستا دالفاظو نه ده ته تکلیف رسیدلی دی، دي وچې نه لږې زېاتې ورکړه دا يې چې واوريدل؛ نو يهودي مسلمان شو او ويې ويل چې ما په خپل کتاب کې د نبي موعود همدا صفت کتلی دی چې هغه سره خومره هم سختی کېږي هغه به هغومره نرمي کوي نبی کریم ﷺ عاجزي ښودلي ده دتکبرنه يې منع کړې ده

اے دل تو دمے مطیع نہ شدی ۔۔۔ و زکردہ خویش پشیماں نہ شدی
صوفی شدی وشیخ شدی ودانشمند ۔۔۔ ایں جملہ شدی ولے مسلماں نہ شدی

د الله تعالی ددین له پاره هر لوی تکلیفونه برداش کول د انبیاوو خاصه ده حضرت نوح علیه السلام ددین له پاره هر لوی تکلیفونه برداش کړل حضرت نوح علیه السلام به چې کله هم خپل اُمت الله تعالی اتباع وفرمانبرداري طرفته راغونبتل؛ نو خلکو به په کانو باندې دومره وویشت چې هغه به په کانو کې پټ شو. دغه راز يې نهه نیم سوه کاله مشقت برداش کړ بالآخر د قوم د تباهي وخت راغی .دوی دخپلو بدواعمالو له وجې تباه شول. ای نیکبخته! عاجزي او صبر اختیار کړه گوره شیطان اتیازره کاله عبادت وکړ، تردې چې ځمکه باندی یوقدم ځای هم پاتې نه شوچې په هغه دې شیطان سجده نه وي لګولې؛ مګر د الله تعالی یو حکم يې ونه مانه اوتکبر يې وکړ. په دې باندې الله تعالی دخپل در نه هم ووېستلو او د اتیازره کالوعبادت يې ورته په مخ باندی ورووېشت او د قیامته پورې يې په ده باندې لعنت وویاه او د همیشه لهر پاره يې عذاب ورته تیارکړ او ددې له وجې دومره اثر په فرشتو باندې وشوچې حضوراکرم ﷺ فرمایې چې ماحضرت جبریل علیه السلام ولید چې د خانه کعبې پرده يې نیولې وه او ویل يې الهی! زما نوم مه بدلوه او زما وجودمه بدلوه! حضرت آدم علیه السلام نه خطا وشوه هغه د خطا اقرار وک . استغفار يې وکړ معاف شو اومرتبه يې نوره هم اوچته شوه او شیطان گناه وکړه. معافي يې ونه غوښته، نور هم مردود شو. انبیاء کرام علیهم السلام اگر چې معصوم وو، د هغوی څخه گناه نه وي، بلکې دگناه شکل وی اوپه دې کې هم څه رازونه اوحکمتونه وو په هغوی باندې لعن کول نه ذې پکار. مشهوره مقوله ده،،خطائے بزرگان گرفتن خطااست،،

د حضرت عثمان غني رضي الله عنه ثابت قدمي:

روایت دی چې کله حضرت عثمان غني رضي الله عنه اسلام قبول کړ؛ نو د هغه تره ابن العاص دی په رسۍ باندې وتاړه او دېره لویه سزاء يې ورکړه او ويې ویل چې تا دخپل پلارنیکه دین پریښی دی او نوی دین دې شروع کړی دی زه به تر هغې تاته سزا درکوم چې تانوی دین نه وي پریښی. حضرت عثمان غني رضي الله عنه وفرمایل چې خومره سزا راکوې را يې کړه خو دا دین نه پریږدم. کله چې دده تره دده دا اخلاص او استقلال ولید نوآزاد يې کړ.

کفایت کتب خانه ټیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

حضرت عثمان غنی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه مخلصینو کې دی چې قطعي جنتیان دي. او دی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ذوالنورین لقب هم ورکړل شو.

شرم و حیاء:

حیاء د ایمان شعبه ده او دانسان له پاره د ګناهونو نه د حفاظت ذریعه ده، نن زموږ د معاشرې نه شرم وحیا ختمیږي. فحاشي او عریاني خوریږي. تي وي، وي سي آر. بربنډ رقصونه عام کیږي. چې په وجه یې د معاشرې نظام تباه وبرباد او فسادعام کیږي. عدالتونه د مقدماتو نه ډک دي. دقوم غیرت ختمیږي. که معاشره پاکه اوصفاساتل غواړئ. عزتونه محفوظ ساتل غواړئ؛ نو شرم وحیا به خپلوئ. افسوس! نن زموږ اخباروناورڅپانې هم بربنډ تصویرونه چاپ کوي اوفحش ناولونه چاپ کوي. دڅوان نسل څخه شرم وحیا ختمیږي او دیوڅو ورڅو فاني دنیا له پاره دائمي او ابدي زندګي بربادوي. حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سر نه پښوپورې د شرم وحیا نمونه وه.

په دی آیت کې دخپل نظر دحفاظت تاکید دی الله تعالی فرمایي:

{قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ اَبْصَارِهِم وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُم ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُم...الخ} (پاره ۱۸سورة النورآیت۳۰)

ترجمه: ای محمده! ایمان والو ته ووایه چې خپل نظرونه تیټ ساتي او د خپلوشرمګاهونو حفاظت کوي دا ددوی له پاره ډېر زیات دپاکي سبب دی.،،

حدیث کې دي سرکار دو عالم ﷺ فرمایي:

{مَن نَظَرَ اِلٰى امرَاَةٍ اَجنَبِيَّةٍ صُبَّ فِى عَينَيهِ الانُكُ يَومَ القِيٰمَةِ} (الحدیث)

ترجمه: ،،څوک چې پردیو ښځو ته ګوري دقیامت په ورځ به هغه ته سترګو کې ویلې کړل شوې او سپنې سره سزاء ورکول کیږي.،،

یو حدیث دی: {اَلنَّظَرُ سَهمٌ مِن سِهَامِ اِبلِيس} (الحدیث)

پردیو ښځوته نظر دشیطان له غشیو څخه یو غشی دی. د سترګو حفاظت لازم دی؛ ځکه چې دا دګناهونو سرچینه ده. دي وجی نه الله تعالی د تولونه اول دسترګو دحفاظت حکم وکړ دي نه پس یې دشرمګاه دحفاظت حکم وکړ. ځینې خلک وایي چې عشق مجازي کې خوبصورته هلکانو او جینکو ته وکتل شي؛ نو هیڅ قسمه قباحت نشته او مشهوردي چې ،،نور اس کا ظهور اس کا جونه دلکھے تصوراس کا،، دا بالکل غلطه خبره ده، پردیو ښځوته کتل ډېره غټه ګناه ده دا تولې خبرې محض نفس پرستي ده او صریح دقرآن وحدیث خلاف ده.

دنظر په حفاظت سره الله تعالی د عبادت خوږوالی ورکوي په حدیث کې دي:

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

{مَامِنْ مُسْلِمٍ يَنْظُرُ إِلَى مَحَاسِنِ امْرَأَةٍ أَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهُ إِلَّا أَحْدَثَ اللهُ لَهُ عِبَادَةً} (الحدیث)

سبحان اللهٔ د حدیث مفهوم دادی چې چا پردیو ښځو باندې نظر پریوتوسره نظر تیت کړ نو الله تعالی به ده ته دعبادت خوږوالی ورنصیب کړي مطلب داچې په پردیو ښځوباندې نظر اچولوباندې کوم شیطاني لذت او شهوت چې زړه کې راځي ددی نه بهتر او حقیقی لذت د نظر تیتولو لذت دی .الله تعالی دې تولو ته نصیب کړی د نظر دحفاظت له پاره چې الله تعالی کوم انعام ساتلی دی هغه دیدارسبحاني دی او خپل نظر نه ساتونکي خلک د دیدار رحمن نه محروم دي. چې د تولو لذتونو نه افضل دی او کومه سزاچې دبدنظري ده هغه دتولونه زیاته سخته ده یعنې اوسپنه به ګرمه کړل شي او سترګو کې به يې ورکوي معاذالله په سترګوکې چې لږ شان خځله پریوخي؛ نو څومره تکلیف وي کومه اوسپنه چې دجهنم په اوربادې ګرمه شي او سترګوکې واچول شي دهغې به څومره تکلیف وي. الله اکبر؛ کوم خلک چې د نظر حفاظت نه کوي نو دا دزنا سبب کرخي اوکه ارتکاب د زنا ونه شي نو بیاهم شیطانی وسوسی په زړه کې پیدا کیږي او څومره مصیبتونه چې ددې وجې نه پیدا کیږي. خینې خلک وایي چې مونږ حسن ګورو ؛ نو د الله تعالی د قدرت نظاري پکې ګورو ؛ نود هغوی له پاره جواب دادی چې د الله دقدرت نظاري په هره ونه، ګل، سمندر،مرغی او هر قسمه شیانوکې کتل کیږي،یوازې په پردیوښځو اونارینه وو باندې څه موقوف ده. که خاص د الله په بنده ګانوکې يې ګورئ نو چېرته دالله ولیانو ته وګورئ دهغوی ځپلې دې سمې کړې، بیا دې د الله د قدرت نظاري وګوري.

ددویم حدیث مضمون دادی چې نظر دشیطان دزهریله غشونه یو غشی دی. کوم بنده چې ددې نه بچ شی هغه ته به عبادت کې خوند ملاوشي اوبه مناجاتو کې لذت او خوږوالی او په زړه کې صفاوالی پیدا شي. حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي چې د بدنظري نه ځان وساته؛ ځکه چې دا په زړه کې د شهوت تخم پیداکوي. دا سخته بلاده. حضرت ذوالنون مصري رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې سترګې بندول ښه پرده ده، کله چې سترګې بندې کړې اوبې فائدې کتلو نه بچ شي؛ نوتولو وسوسونه به دې زړه فارغ وي. ستاتول حالونه الله پیژني، الله ته د مخامخ کیدو ځخه وویریږه؛ هر شی الله دخپل کار له پاره مقرر کړي دي په دنیا کې سترګه د قرآن پاک دکتلو له پاره ده او په آخرت کې دالله تعالی ددیدارله پاره. او مومن له پاره دالله دديدار نه پرتها بل لوی نعمت نشته. څرنګه چې مولانارومي رَحِمَهُ اللهُ فرمایلي دي:

آدمی دید است باقی پوست است دید آن دیده که دید دوست است

د سترګو حفاظت کول ددې شرف حاصلولو له پاره ضروري دي اوښه سترګه هغه ده، چې د الله تعالی له پاره وژاړي او دهغه د دیدې څخه ویده نه شي؛ ګني دچا دا قول به ثابت شي العینُ

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

عَین المَعاصي. سترګه د ګناهونو چینه ده. لکه څنګه چې د اوبو چینې څخه ګیا راتو کیږي دغه راز د سترګې د چینې څخه ګناه پیدا کیږي او نبي اکرم ﷺ وفرمایل: "اَلنَّظَرُ سَهمٌ مِنْ سِهَامِ اِبْلِیْسَ" یعنې بدنظري د ګناه جړپه ده او ګومه سترګه چې د حیا له وجې نه ګناه نه بچ شي هغه به هر ګز جهنم ته نه ځي. شیخ نجم الدین په خپله رساله کبرئ کې لیکي چې سره زر او سپین زرو ته دلالچ په نظر ګتل حرام دي ای ایمان والو! د سترګو حفاظت وکړئ چاچې د سترګو حفاظت وکړ. هغه کامیاب شو. یو کس حضور ﷺ ته عرض وکړ یارسول الله! زه د خپلې ښځې نه مطمئن نه یم. حضور اکرم ﷺ ورته وفرمایل خپل نظر دي د پردیو ښځو نه بچ کړه. (الحدیث)

حکایت:

په یوه زمانه کې قحط و. یوه زنانه باغ ته لاړه چې انګور واخلي، باغبان چې کله یوازې وکتله نو بدفعلي اراده یې وکړه او ورته و یې ویل: که زما خواهش دې پوره کړ. غله. جامې او انګور به درکړم مېرمني ومنله، باغبان ورته وویل چې دروازې دې بندې کړې؟ هغې وویل هو! خوبه دروازه می بنده نه کړه. باغبان ورته وویل چې هغه کومه یوه دروازه ده؟ زنانه وویل چې هغه د الله رب العزت دروازه ده چې لکونه دروازې به بندې شي خودغه یوه دروازه نه بندیږي. باغبان چې واوریدل نوبوه چیغه یې وکړه او توبه یې وکړه او زنانه ته یې غله. جامې او انګور ورکړل او رخصت یې کړه. هاتفي آواز وشو چې مورِ دواړه وبښل او دواړو نه راضي شو. په یو حدیث کې دی چې جنت اعلی مقام به داسې خلکو ته ملاویږي د چاچې زړه کې دګناه خیال راشي مګرزما دعظمت خیال راشي او وشرمیږي. کله چې زلیخا حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَام دخپل نفس خواهش پوره کولو له پاره وغوښته نواول پاخېده او کوم بُت چې پروت و په هغه یې پرده واچوله حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَام وفرمایل زلیخا! ته دکاڼي په بُت باندې کپړه اچوې شرمیږې ترې آیا زه د خپل خالق لایزال نه ونه شرمیږم؟ تا خو خپل خدای باندې پرده واچوله او پته شوې: خو زه د خپل خدای څخه په څمکه آسمان شپه ورځ په یو ځای کې هم نه شم پټیدای په یو حدیث کې دي:

{مَنْ غَضَّ بَصَرَهُ عَنَّا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَیْهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَیْهِ النَّار} (الحدیث)

سرکاردوعالم ﷺ فرمایي کوم بنده چې خپلې سترګې بندې کړي، د هغه څه نه چې الله تعالی په ده باندې حرام کړي دي؛ نوالله تعالی به په ده باندې د جهنم اور حرام کړي.

په یو بل حدیث مبارکه کې دي:

{اَلحَیَاءُ خَیْرٌ کُلُّهُ اِذَالَم تَسْتَحِیِ فَاصْنَعْ مَاشِئْتَ} (الحدیث)

..حیاسراسر خیر دی کله چې تاکې حیا پاتې نه شي؛ نوبیا چې څه کوې هغه کوه..

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

په یو حدیث مبارکه کې دي چې کله یوبنده نامحرمه ته ګوري! نو الله تعالی فرمایي ای بنده!
زه ستا طرفته ګورم اوته کوم طرفته ګوري

په یو حدیث مبارکه کې دي چې رسول الله ﷺ د ناوړه کړې نجیلی نه هم زیات حیادار و.
حضرت عثمان غني رضي الله تعالی عنه فرمایي چې ما کله خپل ستر نه و لیدلی حضرت عمرفاروق رضي الله تعالی عنه فرمایي چې حیا سره کوم کار کیږي هغه به بهتر وي. حیاء انسان د خلاف شرع کارونو نه منع کوي.

نن زمونږ د معاشرې نه حیا ختمیږي، نه د مور و پلار څخه حیا شته او نه د خدای تعالی ویره، ریدیو، تیلي ویژن، وي سي آر او فحش ناولونه یې حیایي عام کوي. دې وجې نه مونږ په قسم قسم آفاتو کې مبتلایو. که د عیاشی اوفحاشی په دې تولو ذرائعو باندې پابندي ولګیږي؛ نو زمونږ معاشره هم مثالي معاشره جوړیدای شي. دې پردګي دا رواج معاشره کې یې پردګي عام کوي. خدای تعالی دې مسلمانانوته شرم وحیا نصیب کړي. که چیرته د الله او د هغه د رسول سره مو رینبتینی محبت وای؛ نو دهغوی د طریقی خلاف به نه تلو. خصوصاً کبیره ګناهونونه به ضروریج کیدو. زمونږ په زړونوکې دغیر الله محبت پروت دی. خپل روشن فکره خو د دین اسلام په احکاماتوباندی اعتراض کوي او خپل ایمان ضائع کوي، دوی لره پکار دي چې توبه وکړي. نن د توبې وخت دی، سبا به په قیامت کې ملامته یو او انسان به افسوس کوي چې کاش! ماتوبه کړې وای. بنده د مرګ وخت کې ملک الموت ته ګوري او ډېر په افسوس سره وایي چې ای ملک الموت! ماته یوه ورځ مهلت راکړه، دې له پاره چې توبه وکړم. هغه به ورته وایي چې دې نه مخکې تاته ډېر مهلتونه ملاوشوي دي. اوس د مهلت وخت نه دی. دغه وخت کې د انسان دپریشاني څه اندازه نه شي کیدای.

یاداوګرمونس جانت بود　　هردوعالم زیر فرمانت بود
یاد او سرمایهٔ ایمان بود　　هرګیا از یاد اوسلطان بود

د یوحدیث مبارکه مفهوم دی چې کله یو انسان خلوینښت کاله عمرته ورسیږي او توبه ونه کړي؛ نوشیطان لعین دده په مخ باندې لاس رابنکي او وایي چې هغه خولې نه قربان شم چې جهنم ته به ځي. کوم کس چې د الله تعالی په حضورکې زاری کوي، الله تعالی د هغه مدد کوي. الله تعالی دې توفیق رانصیب کړي. آمین برحمتك یا ارحم الراحمین.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

.....

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د ذوالحجې د میاشتې پنځمه خطبه

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه شهادت

(تاریخ شهادت: اول محرم ۲۴ هجری)

د شهادت فضیلت او مقام:

د شهادت د مرګ څومقام او مرتبه ده په دې آیت کې الله رب العزت فرمایي:

{وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ} (آیت ۱۵۴ سورة بقره پ۲)

شهادت ژوند دی د شهادت مرګ دهرلوی سعادت اونیکبختي ده او دا قسمت واله ته نصیب کیږي د اسلام تاریخ د ژوندي زړونو واله له کارنامو نه ډک دی، چا چې د اسلام بن په خپلو وینو خړوب کړ او ګلشن اسلام یې سرسبز او شاداب وساته.

حافظ شیرازي رحمه الله فرمایي:

بنا کردند خوش رسمے بخاك و خون غلطیدن
خدا رحمت کند ایں عاشقان پاک طینت را

مطلب داچې کومو خلکو په وینو کې خان ولامباو او شهادت ورته نصیب شو، هغو عاشقانو باندې دې رحمت وي.

مولانا محمد علي جوهر دکراچۍ په جیل کې دا شعر ویلي و:

رشك ایك خلق کو جوهر کی موت یه اس کی دین هے جسے وه دے

علامه اقبال څومره ښه فرمایلي دي:

شهادت هے مطلوب ومقصود مؤمن نه مال غنیمت نه کشور کشائی

او غالب څومره ښه فرمایلي دي:

جان دی دی هوئی اس کی تهی حق تو یه هے که حق ادانه هوا

د شهید چې کوم مرګ دی هغه د قوم له پاره ژوند دی، مرګ اصل کې زندګی ده، څرنګه چې مولانا حسرت موهاني فرمایلي دي:

عشق میں جان سے گذر جائیں اب بھی جی میں ہے کہ مرجائیں
جامه زیبی نه پوچھئے ان کی جو بگڑنے میں بھی سنورجائیں
شب وهی شب ہے دن ہی دن میں جو تیری یاد میں گذر جائیں

کفایت کتب خانه ثیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د آیت مفهوم:

{وَلَاتَقُولُوا.....الاية} يعني هغه خلک چې د الله تعالى په لاره کې قتل شوي دي مړه ورته مه وايئ. بلکې هغوی ژوندي دي، مګر تاسو نه پوهيږئ

تشریح: څرنګه چې د غنمو دانه په پټي کې کرل کيږي؛ نوهغه په ظاهره باندې ختمه شي خو عنقريب هغه د څو سوو دانو په شکل کې راوخيژي ددې دانې نه کومه چې مور په ظاهره باندې کرلې ده هغه به ظاهره کې ختمه هم شوه. خو هرعاقل وايي چې فناشوی شی خفه شو. مګر حقيقت کې نه ده ختمه شوې. دغه رازشهيد مرشو. مګر حقيقت کې اصلي زندګي الله ورکړه

شہید کی جوموت ہے وہ قوم کی حیات ہے

دغه راز درزی،خياط، کيږه په ظاهره باندې تکړې تکړې کړي. خو دغه تکړې تکړې چې کټ کړل شي؛ نو د انسان دوجود خوبصورتي جوړه شي. دغه راز لرګی چې تکړې تکړې شي په ظاهره خوتوټې توټې شي؛ مګر دې تکړو نه فرنيچر ،کټونه،کرسی،او دروازې جوړيږي همدغسې دشهيد وجود خوپه ظاهره باندې فنا شو. خو حقيقت کې اصلي زندګی ورته ملاو شوه بيا دا مال وجان زمونږ نه دي. د اداالله تعالى دي، د الله تعالى په حکم چې څوک ځان قربان کړي. هغه ته به مزيد ملاويږي د مال په بدله کې به د آخرت مزې ملاويږي او د ځان په بدله کې به هميشه اودائمي زندګی چې دخوشحاليو اومزو زندګي به وي د شهادت مرګ عظيم نعمت دی. دې وجې نه چې نبي کريم ﷺ وفرمايل

{لَوَدِدتُ اَن اُقتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ اُحيٰ ثُمَّ اُقتَلُ اُحيٰ ثُمَّ اُقتَلُ اُحيٰ ثُمَّ اُقتَلُ...الخ} (بخاری ومسلم)

حضور ﷺ فرمايي "زما خواهش دی چې د الله تعالى په لاره کې شهيد شم بيا ژوندی شم بيا شهيد شم بيا ژوندی شم اوبيا شهيد شم. يعني دې خله نبي کريم ﷺ د شهادت تمنا وکړه اګر چې الله تعالى حضور ﷺ ته دکافرو د لاسه مرګ ورنه کړ؛ ځکه چې هغوی داويل شوچې مور ددين علمبردار اوسنته ختمه کړه په ظاهره دا د شکست خبره وه".

مګرپوه خبره ياد ساتل پکار دي چې دانبياوو مرګ دشهادت دمرګ نه هم زيات غوره وي. دې وجې نه نبي کريم ﷺ فرمايي:

{اِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الاَرضِ اَن تَاكُلَ اَجسادَ الاَنبياءِ} (الحديث)

ترجمه: بېشکه الله تعالى په ځمکه حرام کړي دي چې هغه د انبياوو وجود وخوري. يعني د انبياوو وجود د مرګ نه پس صحيح وسالم پاتې وي؛ ځمکه هغه نه خوري، دغه راز د شهيدانو باره کې هم راځي چې ددوی وجود ځمکه نه خوري او ددې ثبوت په ډيروځايونوکې ملاوشوی دی چې ځينو ځايونوکې دشهيدانو قبرونه کنسټلو وخت کې وکتل شو چې صحيح

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

وسالم وو حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یوخل نهر کنسنلو اتفاقاً هغلته دصحابه کرامو قبرونه را ووتل ،نو وکتل شو چې د ټولوشهیدانو وجودونه صحیح وسالم پراته وو. د شهادت مرګ د خوشحالی شی دی د شهادت مرګ د مومن له پاره دخوشحالی مقام دی، څرنګه چې ایمان واله د الله په لاره کې مال خرچ کوي او خوشحالیږي د یوحدیث مبارکه مفهوم دی کله چې الله تعالی د شهید اکرام کوی نوهغه نه پوښتنه کوي چې ستانور څه خواهش دی؟ هغه جواب ورکوي چې زه دنیا ته واپس لاړشم او ستاپه لاره کې قتل شم الله تعالی ورته وفرمایي چې دا زما قانون دی چې یو خل خوک د دنیا نه راشي واپس نه شي تلی د شهادت مرګ چې کله ژوند دی نو بیا پرې د ژړا کول څه مطلب

ژوندي قومونه دشهیدانو ماتم نه کوي، بلکې خوشحالیږي. زموږ د حضور ﷺ اسوه موجوده چې د اُحد په جنګ کې کله د حضور ﷺ تره امیر حمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شهید کړل شو،نو حضور ﷺ نه ماتم وکړو او نه مرثیه. بلکې صبر یې وکړو او د صبر تلقین یې وکړ، دې وجې نه موږ ته د حضوراکرم ﷺ عمل نمونه ده. خُدګه چې ارشاد باري تعالی دی:

{لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ اسوةٌ حسنةٌ} (الآیة)

ستاسو له پاره د الله رسول یوه نمونه ده کوم چې دالله تعالی رسول وکړل هغه مثال دی اودي نه پرته ګمراهي ده. کله چې حضورنبی کریم ﷺ د حضرت امیرحمزه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ماتم ونه کړو توري کېږي یې وانه غوستې؛ نوبل چاته هم دا اجازه نشته چې ومانم وکړي بیا دشهادت نه پس هغوی کله برسې،کال پوري، هم ونه کړه په کومه ورځ چې هغه شهید شوی و آئنده کال چې بیا دغه ورځ راغله؛ نو حضوراقدس ﷺ څه هم نه و کړي. دې وجې نه کوم خلک چې په لسم محرم باندی د شهادت حسین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ماتم کوي، توري کېږي اغوندي، دغه خلک د حضوراقدس ﷺ د لارې نه جداشوي خلک دي. کامیابي د حضور ﷺ په لاره کې ده. دې نه پرته ګمراهی ده

خلاف پیمبر کسے رہ گزید کہ ہر گز بمنزل نخواہد رسید

د رسول الله ﷺ لار پرینښود و سره یو کس هم منزل مقصود ته نه شي رسیدای.

د حضرت عمرفاروق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شهادت:

ہادی حق کے فاروق اعظم آپ ہیں فخر محبوب ، فاروق اعظم آپ ہیں
آپ سے روشن ہوئی ہر سمت اُلفت کے چراغ مشعل راہ فاروق اعظم آپ ہیں
آپ ہی شمشیر دین متین دین توقیر دین دین حق کے رہنما فاروق اعظم آپ ہیں

(خالد شفیق)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لوړشان:

حضور اکرم ﷺ فرمایي: {لَوْكَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ} (الحدیث)

که ما نه پس څوک نبي وی، نو هغه به عمر بن خطاب وی. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مراد رسول دی. د اسلام عظیم جرنیل دی، حق وباطل کې فرق کوونکی او د کفر له پاره وېښتلی توره ده

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب:

د خلافت په ورځو کې حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب ولید، چې هغه حیاة الحیوان د صحیح مسلم نه داسې روایت کړی دی.

{أَنَّ عُمَرَ خَطَبَ النَّاسَ يَوْماً فَحَمِدَاللهَ وَأَثْنَى عَلَيهِ ثُمَّ قَالَ إِنِّي رَأَيتُ رُؤْيَا وَإِنِّي أَنَّ دِيكاً أَحمَرَ لَقَرَنِي لَقْرَتَانِ أَوْ لَقَرَتَيْنِ فَحَدَّثْتُهَا أَسْمَاءَ بِنتَ عُمَيسٍ فَحَدَّثَتْنِي بِأَنَّ يَقْتُلُنِي رَجُلٌ مِنَ الأَعَاجِمِ...}

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یوه ورځ بیان وکړ د الله تعالی حمدوثنا یې بیان کړه. بیا یې وفرمایل چې ما یوه شپه خوب ولید چې یو سور چرګ زما په وجود باندې دوه درې ټوڼګي ووهي. ما دا خوب اسماء بنت عمیس ته بیان کړ. هغې دده تعبیر داسې راکړ چې ستا قتل به د یو عجمي کس په لاس وي. د جمعې په خطبه کې یې دا خوب بیان کړ او د څارشنبې په ورځ د سهارد لمانځه پرمهال زخمي کړل شو. عجمي ایرانی غلام ابولؤلؤمجوسي د یهودو نصاری په سازش باندې دا کاروکړ. اسد الغابه کې دي چې د دوی داعادت و چې هریولمونځ نه مخکې به یې صفونه سیده کول. کله به چې صفونه سیده شو؛ نویبایه یې الله اکبر ویل اولمونځ به یې ورکولو. د څارشنبې په ورځ یې چې کله صفونه سیده کړل؛ نوالله اکبرویلو نه پس فیروز نومي یو کس کوم چې د ابولؤلؤ ایراني مجوسی په کنیت باندې مشهور و، د حضرت مغیره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غلام. یوه تیره توره باندې یې د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خیټه کې نوم لاندې وار وکړ او په تښتیدو کې یې په نوروصحابه کرامو هم وار وکړ او زخمیان یې کړل. بالآخر یو انصاري صحابي پرې د پاسه کمبل ور واچاوو په قبضه کې یې راوست. کله چې دې کافر ته یقین وشوچې زه ګیرشوم نوخپل ځان یې هم وواهه او مړشو، دې سره دا هم معلومه نه شوه چې سازش د چا و. د سوچ خبره ده چې صحابه کرامو په دې حال کې هم د جمعې لمونځ مات نه کړ او صفونه یې مضبوط وساتل.

یوعجیبه سازش:

اهم عجیبه طریقه ده چې مخالفین داسې قتل له پاره تیار وي چې مخالف ختم کړي او ورسره ځان هم ختم کړي چې نه ځه ثبوت پاتې شي او نه ځه دلیل.

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عظیم مقام:

حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د سخت تکلیف باوجود حضرت عبدالرحمن بن عوف رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته په خپل ځای دلمونځ کولوحکم وکړ او خپله یې هم زخمی حالت کې لمونځ وکړ سبحان الله! څه عظیم شان دی.

تدبر اور تحمل کاسبق دے کر مسلمان کو سکھایا رهنے کا چلن فاروق اعظم نے
سنو عدل وحکمت کاچمن فاروق اعظم نے نکھاراراستے کابانکپن فاروق اعظم نے
مصائب غمزدوں کے اپنی جان پرجھیل کرتائب مٹائے قوم کے رنج ومحن فاروق اعظم نے(تائب)

کله چې خلک د لمونځ نه فارغ شو ،نو ویې فرمایل

..یَاابْنَ عَبَّاسٍ انظر مَنْ قَتَلَنِي فَقَالَ غُلَامُ مُغِيرَةَ بن شُعبة فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ..

ای ابن عباس وګور چې زه چاقتل کړم؟ عبدالله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وویل چې: جناب! د مغیرة بن شعبه غلام چې مذهباً مجوسي دی دایې چې واوریدل نو ویې ویل یاالله! ستا ډیر لوی شکر دی چې زما مرګ دمسلمان له لاسه ونه شوځکه چې ده دا دعاغوښتې وه.

اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِي شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ وَاجْعَلْ مَوْتِي فِي بَلَدِ حَبِيبِكَ مُحَمَّدٍ.

ترجمه: "ای الله! ماته د شهادت مرګ راکړې او د خپل محبوب په ښار (مدینه منوره) کې یې را کړې. دا د عا د زړه نه وتلې وه ،ځکه قبوله شوه" د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ زخمونه ډیر زیات راغلي وو ځینې کسانو وویل چې دی به صحت یاب شي. ځینې کسانو وویل چې دی به وفات کیږي. په دې وخت کې ده باندې شربت وڅښل شو ،هغه شربت فورا د زخمونوپه لار باندی ببرته راووت. دې وخت کې د خلکو یقین شو چې زخم خطرناک دی او دده ژوند کیدل ناممکن دي دې کې یو خوان راغی او ویې ویل

"اَبْشِرْ يا امير المؤمنين بِبُشْرَى اللّٰهِ لَكَ مِن صُحْبَةِ رَسُولِ اللّٰهِ قَدِمتَ فِي الإسلامِ ثُمَّ وَلِيتَ فَعَدلتَ ثُمَّ شَهَادَةً..."

ترجمه مبارک دې وي تاسوته یا امیرالمؤمنین د ډیروبشارتونونه اول خوخدای د صحبت رسول الله شرف درکړ چې تاسوجلیل القدر صحابی ښې، بیا تاسو د اسلام راوړلو نه پس غټې غټې کارنامې وکړې، بیا تاسو ته خلافت په برخه شو، بیا تاسوعدل وانصاف قائم کړ، دې نه پس الله تعالی تاسوته شهادت نصیب کړ داټول لوی لوی مراتب دي.

عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې کله واوریدل ،نو ویې ویل چې دا د الله تعالی احسان دی. ددې باوجود هم چې قیامت کې برابري سره خلاص شم! نو دا لوی غنیمت دی. مسلمانانو! دغورخبره ده چې دومره لوی صحابي هم د الله درته تلو نه څومره ویریږي زمونږ او ستاسوبه څه حال وي.

کفایت کتب خانه ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

اخیر وخت کې د اتباع سنت جذبه:

کله چې هغه صحابي واپس شو {فَلَمَّا أَدْبَرَ إِذَا إِزَارُهُ يَمَسُّ الأَرْضَ قَالَ رُدُّوهُ عَلَيَّ فَقَالَ ابن اعي إرفَعْ ثَوْبَكَ فَإِنَّهُ أَتْقَى لِرَبِّكَ وَأَنْقَى...}

نوحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وکتل چې د هغه پرتوګ د ځمې سره لګیده وې فرمایل چې دا خوان ماته راولئ چې دوباره حاضرشو ،نو ورته و یې فرمایل چې صاحبه دا پرتوګ دې اوچت کړه، دا عمل الله تعالی ته زیات محبوب دی مسلمانانو غور وکړئ روح یې قبض کیږي. د خنکدن حالت دی او دې وخت کې هم خلاف شرع کار نه شي برداشت کولی

پیمبر کسے رہ گزید که هرګز بمنزل نه خواهد رسید

داسې وخت کې هم نصیحت نه بغیر خاموشه پاتې نه شو. مور به الله تعالی ته څه جواب ورکوو؟ خنګه خلاف شرع کار کوونکو سره تعلق ساتو او خپله هم خلاف شرع کارونه کوو

آخري تمنا:

کله چې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حالت ډېر نازک شو ،نوخپل زوی عبدالله یې عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته ور ولیږه: "قُلْ لَهَا يَقْرَءُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَلَا تَقُلْ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ"

یې بې عائشه ته د عمرسلام وایه ای عبدالله خبردار! امیرالمؤمنین ونه وایې نن زه امیرالمؤمنین نه. بلکې یومړی یم سبحان الله! څومره ادب دی د ام المؤمنین عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپلې خلک ورته بدرد وایې اویه مفتو کې خپل ایمان تاوانوي حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بې بې عائشه خدمت کې حاضر شو ،ګوري چې هغه هم دحضرت عمرپه غم کې ژاړي حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړ چې حضرت عمرسلام کوي اود سلام نه وروسته غوښتنه لري چې که چېرته ستاسو اجازه وي چې د حضورقدمونوکې ددفن کیدو ځای راکړئ؛ نوستاسوبه احسان وي؛ خکه چې حضرت عمر مراد رسول دی، په دنیا کې هم یو ځای وو اوآخرت کې هم یوځای به وی اوقبرکې هم دیوځای پاتې کیدو تمنا لري. عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمایل چې دا ځای خو ما دخپل ځان له پاره خوښ کړی و؛ خو د عمر وجود دخپل ځان نه زیات خوښوم او اجازه ورکوم چې بنه په خوښۍ دې دغه مبارک ځای کې دفن شي. کله چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې ځای نه اجازت واخیست او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته لاړو. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې اجازې صبري سره انتظارکولو. کله چې دحضرت عبدالله دواپس کیدو اطلاع راغله،نو وې فرمایل چې ماکینوئ!

{فَقَالَ مَا كَانَ الَّذِي كُنْتُ قَدْ أَوْلَيْتُ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ مَا كَانَ شَيْءٌ أَهَمَّ إِلَيَّ مِنْ ذَلِكَ فَإِنْ أَنَا قُبِضْتُ فَاحْمِلُونِي ثُمَّ سَلِّمْ فَقُلْ يَسْتَأْذِنُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ}

وې فرمایل: عبدالله څه خبر دی؟ هغه وویل چې بې بې عائشې اجازه راکړه . ده وویل الهي! ستا لوی شکر ماسره د دې خبرې ډېر لوی فکر و ،خو ای عبدالله! یوکار به بل هم کوې چې کله زه وفات شم: نوزما جنازه چې کله تیاره کړې نو بې بې عائشې ته زما جنازه ور وړه او ورته ووایه چې دعمرجنازه حاضره ده او ستاسونه اجازه غواړي که دغه وخت کې هم اجازه درکړې؛

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

نو زمانتد فین دغلته وکړه اوکه انکار یې وکړ؛ نوبیامې د مسلمانانوپه قبرستان کې دفن کړه؛ زمااندیښنه ده چې کیدای شي زما دخیال سانلو له وجې یې اجازه درکړې وي، دې وجې نه زما وفات نه پس دوباره اجازه اخیستل کمال تقوی ده

د ټول ژوند پشان په اخر وخت کې هم الله ته رجوع:

((عَنِ ابن عباس أَنَّ عُمَرَ قَالَ لابنِهِ عَبدُالله خُذرَأسِي فَوَضَعَهُ فِي التُّرابِ لَعَلَّ يَرحَمُنِي وَوَيلٌ وَوَيلٌ لأمِّي إن لَم يَرحَمنِي رَبِّي عَزَّوَجَلَّ فَإذَا أنَا مِتُّ فَلاتَضِفنِي عَنِّي وَاقصِدِ كَفِّي فَإنَّهُ...)).

ترجمه حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چې حضرت عمر حضرت عبدالله ته وویل چې زما سر دبالښت نه لرې کړه او په خمکه یې کیږده چې زه خپل سر په خمکه باندې خپل خدای ته اومړم شاید زما رب په ما باندې رحم وکړي کله چې زه مړ شم؛ نو زما سترګې بندې کړه زما کفن کې میانه روي وکړه زیاتې پکې مه کوه خکه که زه دخدای په نزد ښه راغلم نو ماته به ددې نه ښه کفن راکړل شي او که زه بد وګڼل شوم نوبیابه دا هم رانه واخیستل شي.

{فَقَالَ عُمَرُ وَاللهِ لَوأنَّ مَافِي الأرضِ مِن قِمئٍ لَاقتَدَيتُ بِهِ مِن هَولِ المُطلَعِ فَقَالَ ابنِ عَبَاس وَاللهِ لَا تَرَاهَا إلَّا مِقدَارَ مَا قَالَ اللهُ تَعَالَى وَإن مِنكُم...}

حضرت عمر رضي الله عنه قسم وخوړ چې که دنیا جهان مال ودولت ماسره و نو د قیامت د ویرې له وجې به مې اوس خیرات کړی و ، عبدالله بن عباس رضي الله عنه چې دا واوریدل؛ نو ویې فرمایل: دالله په ذات مې دې قسم وي چې زما دګمان دی چې تاسوخو به په ډیره آسانۍ باندې تیر شئ خکه چې تاسو امیرالمؤمنین یئ. سید المؤمنین یئ تاسو د الله تعالی په احکاماتو کې د انصاف فیصله کونکی یئ دا تقریرد ابن عباس رضي الله عنه عمرفاروق رضي الله عنه ته د هر خوښ راغی دسخت تکلیف وخت کې پاڅید او کیناست او ویې فرمایل: ای عبدالله دقیامت په ورځ به ته دا ګواهي د الله تعالی مخکې ورکړې؟ حضرت ابن عباس وفرمایل: بالکل؛ داګواهي به زه ورکړم. حضرت عمر رضي الله عنه ته اطمینان وشو د هرنصیحتونه یې وفرمایل او دې نه پس وفات شو. (انالله وانا الیه راجعون)

د حضرت عمر رضي الله عنه جنازه چې تیاره شوه ؛نو د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها حجرې مخې ته یې راوړه او په زوره یې آواز وکړ چې د عمرجنازه تیاره ده او ستاسونه دوباره اجازه غواړي که ستاسواجازه وي؛ نوحجره مبارکه کې یې دفن کړو، حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها ژاړي او وایي چې زه په خوشحالي عمرته خای ورکوم د حضور ﷺ خواکې یې دفن کړئ په مسلمانانوپه دې ورځ ډیره لویه صدمه وه .حال داو چې: صدیق اکبر باندې عشق ومحبت غالب واوحضرت عمر رضي الله عنه باندې خوف غالب و.طبقات کبرئ للشعرانی کې دي:

{فَلَمَّا مَاتَ إبنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ كَيفَ وَجَدتُ الأمِيرَ يَاأَمِيرَ المؤمنين...} (اکرام المواعظ)

(۲۷،ذو الحجه (۲۳)، هجري کې فاروق اعظم رضي الله عنه باندې حمله وشوه او اول محرم (۲۴) هجري کې دوی رضي الله عنه حقیقي خالق سره ملاو شو.

یا الله! زمونږ دننه فاروقي جذبه پیدا کړه. (آمین). (وآخر دعوانا ان الحمد لله ربّ العٰلمین)

کفایت کتب خانه ټیلی ګرام چینل
https://t.me/kafayat2395

کفایت کتب خانہ ٹیلی گرام چینل
https://t.me/kafayat2395

جاوید مکتبہ رشیدیہ
نزد بنگش بک ڈپو اندرون لاہری گیٹ پشاور
091-2580074